مظاهر حق

د مشکوٰة المصابیح پښتو شرحه

تالیف

علامه نواب محمد قطب الدین خان دهلوي رحمه الله

ترجمه او تشریح

مولانا عبدالله جاوید غازی پوری (فاضل دارالعلوم دیوبند)

پنځم جلد ۵

خانګړتیاوې

۱. حدیثونه د اعراب سره
۲. تحت لفظي ترجمه
۳. د حدیثونو تخریج
۴. د لغاتو حل

مباحث

کتاب البیوع
کتاب الفرائض والوصایا
کتاب النکاح

صداقت کتب
رګ بازار کندهار

Maktaba Tul Ishaat.com

www Maktaba Tul Ishaat .com

تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

مظاهر حق جدید

د مشکوه المصابیح پښتو شرحه

پنځم جلد

۵

تالیف

علامه نواب محمدقطب الدین خان دهلوي رحمة الله علیه

تزئین اوترتیب

مولاناعبدالله جاوید غازي پوري (فاضل دارالعلوم دیوبند)

ځانګړتیاوي

١: حدیثونه د اعراب سره.

٢: تحت لفظي ترجمه.

٣: د حدیثونو تخریج.

٤: د لغاتو حل .

مباحث

کتاب البیوع

کتاب الفرائض والوصایا

کتاب النکاح

صداقت کتبخانه

Maktaba Tul Ishaat.com

بسم الله الرحمن الرحیم

(د مشکٰوة المصابیح پښتو شرحه)

مظاهر حق

تالیف: نواب محمدقطب الدین خان دهلوي رحمه الله

ترتیب او تزئین: مولاناعبدالله جاوید غازي پوري (فاضل دیوبند)

خپرندوی: صداقت خپرندویه ټولنه

پښتو ژباړه: محمد رسول سعید

تصحیح کوونکي: بسم الله رحیمي، مولوي عبدالکریم کریمي، مولوي عبدالجبار

لومړی چاپ: ۱۳۹۲ش - ۲۰۱٤ ع.

پنځم چاپ :۱۳۹۹ل. / ۲۰۲۰م.

د خپرونو لړ: ۱۸۳

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

د تر لاسه کولو ځایونه:

صداقت خپرندویه ټولنه-کندهار

اوله ناحیه، نوی سړک- کریم اعتماد مارکېټ

Sadaqat.books@gmail.com / ۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷

کندهار: صداقت خپرندویه ټولنه- ارګ بازار- قلم او کتاب مارکېټ ۰۷۰۰۳۰۹۲۴۴ .

کابل: صداقت خپرندویه ټولنه،کوټه سنګي مینه یار مارکېټ او **اکسوس کتاب پلورنځی**. **هلمند** :تاج منور خپرندویه ټولنه. **هرات:** صداقت کتاب پلورنځی- کوچه ګدام. **جلال آباد:** مومند خپرندویه ټولنه.ننګرهار مارکېټ. **غزني:** نعماني کتاب پلورنځی. **پکتیکا:** مجاهد کتاب پلورنځی. **خوست:** اسلامي کتاب پلورنځی.

د دې کتاب ټول حقوق په خپرندوی اړه لري!

Maktaba Tul Ishaat.com

د مظاهر حق پنځم جلد فهرست

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
كتاب البيوع	۱۷	حلاله ګټه فرض ده	۴۹
(د رانيولو او پلورلو بيان)			
د پاكي روزۍ او حلال كسب بيان	۱۹	د قرآن كريم د ليكني مزدوري جائز ده	۵۰
د خپل لاس ګټه تر ټولو غوره ده	۲۳	كوم كسب غوره دى؟	۵۱
د حلال مال خوړلو فضيلت او	۲۴	د ښپدو د قيمت حكم	۵۱
يوه پيشګوئي	۲۶	د معاش ذريعه بېله سببه مه پرېږدئ	۵۲
د مشتبه شيانو څخه پرهيز	۲۷	د ابوبكر صديق ﷛ احتياط او تقوا	۵۳
د زناكونكې اجرت حرام دى	۳۰	د حرام مال پر خوړلو باندي وعيد	۵۵
د سپي د قيمت مسئله	۳۱	د حضرت عمر ﷛ تقوا او احتياط	۵۵
وينه خرخول حرام دي	۳۳	د حرام مال شيان پر عبادت اثر كوي	۵۶
د حرامو شيانو رانيول او پلورل ...	۳۴	**په معاملاتو كي د نرمۍ بيان**	۵۷
د يهوديانو يوه بدي	۳۶	د نرمي كونكي لپاره دعاء	۵۷
د پيشي د رانيولو او پلورلو مسئله	۳۶	تاسو د بل په معامله كي نرمي كوي الله	۵۹
د ويني كښلو مزدوري حلاله ده	۳۷	به ستاسو په معامله كي نرمي وكړي	
د اولاد ګټه خوړل جائز ده	۳۷	په رانيولو او پلورلو كي قسمونه	۶۰
د حرام مال حكم	۳۸	د دروا غو قسم اخيستونكي وعيد	۶۱
پر حرام مال خوړلو باندي وعيد	۴۰	د امانت دار كاروباري فضيلت	۶۱
د ښكمنو شيانو څخه ځان وساتئ	۴۱	د تجارت سره د صدقې حكم	۶۲
د نيكۍ او بدۍ پېژندنه	۴۲	د تاجرانو لپاره وعيد	۶۳
د پوره پرهېزګارۍ درجه	۴۴	**د خيار بيع بيان**	۶۴
د شرابو پر متعلقينو باندي لعنت	۴۵	د خيار مجلس مسئله	۶۵
د ويني كښلو مزدوري	۴۶	په رانيولو او پلورلو كي چم مه كوئ	۶۷
د غزلو د مزدورۍ څخه منع	۴۸	په كاروبار كي د فريقينو رضامندي	۶۸
د سندري ويونكو رانيول او پلورل	۴۸	د عقيد بيع وروسته د فسخ اختيار	۷۰

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	صفحه
د سود بیان	۷۰
پر سود اخیستونکي او ورکونکي لعنت	۷۸
د سود صورت	۷۸
د سرو او سپینو زرو حکم	۸۱
د هم جنسو شیانو تبادله	۸۲
د هم قدره شیانو تبادله	۸۲
د ښه او خرابو شیانو تبادله	۸۳
د یوه غلام په بدله کي دوه غلامه	۸۵
د هم جنسو شیانو په تفاوت سره راکړه او ورکړه جائز نه ده	۸۶
د سرو زرو مسئله	۸۶
د سود په اړه پیشگوئي	۸۷
د مختلف الجنس شیانو لاس په لاس راکړه ورکړه	۸۹
د وچو او تازه میوو مسئله	۹۰
د غوښو او حیوانانو تبادله	۹۰
د دوو حیوانانو تبادله	۹۱
د غیر مثلي شي پور اخیستل	۹۲
په پور کي د سود مسئله	۹۳
پر سود خوړلو باندي وعید	۹۴
د سود خوړونکي په ظاهري خوشحالۍ مه خطا کېږئ	۹۷
سود خوړونکي ته حقیقت عزت نه ..	۹۸
د نن بې ارامي او اقتصادي بدحالي د سود له کبله ده	۹۹

مضمون	صفحه
د سود په باره کي یوه شبهه	۱۰۱
پر سود خوړونکي باندي لعنت	۱۰۵
د سود تشریح	۱۰۶
د پوروړي تحفه مه قبلوئ	۱۰۸
د منعه سوو بیعو بیان	۱۱۱
د منع سوو بیعو بیان	۱۱۶
د بیع عرایا مسئله	۱۲۰
د اومو میوو د بیع ممانعت	۱۲۱
د میوو او درختو پیشگي خرڅول	۱۲۲
د ضائع سوي مبیع ذمه دار	۱۲۳
په منقوله شیانو کي د قبضې تر مخه بله بیع جائز نه ده	۱۲۳
د یو چا په معامله کي مه ورگډېږئ	۱۳۰
ښاري دي د صحرائي مال نه پلوري	۱۳۱
بېله صورت او منابذت بیع	۱۳۲
د بیع حصاة او بیع غرر منع	۱۳۴
د بیع حبل الحبلة منع	۱۳۵
د نر پر ماديې پرېښودو مزدوري	۱۳۵
د اوبو خرڅولو منع	۱۳۶
د ضرورت څخه زیاتي اوبه	۱۳۷
د چم کولو څخه ځان وساتئ	۱۳۸
د بیع ثنیا منع	۱۳۸
میوې او کښت د پختیا وروسته خرڅوئ	۱۳۹
پور په پور سره خرڅولو منع	۱۴۰
د بیعانې مسئله	۱۴۱

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	صفحه
د بیع مضطر منع	۱۴۱
د غیر موجود شي پلورل	۱۴۳
په یوه بیع کي دوې بیعي مه کوئ	۱۴۴
بیع د پور سره مه ګډوئ	۱۴۵
د قیمت په ادا کولو کي د سکې تبدیلي جائز ده	۱۴۶
د رسول الله ﷺ د یو بیعانې ذکر	۱۴۷
نیلام کول جائز دی	۱۴۹
د عیب لرونکي شي په چم سره خرڅولو باندي وعید	۱۵۰
د بیع مشروط بیان	۱۵۱
د مشروط بیع مسئله	۱۵۲
د حق ولاء مسئله	۱۵۴
د حق ولاء پلورل او هبه کول	۱۵۶
څوک چي د تاوان ذمه دار وي هغه د ګټي حقدار هم دی	۱۵۶
د بائع او مشتري د نزاع صورت	۱۵۷
د بیع اقاله مسئله	۱۵۹
یوه عبرتناکه واقعه	۱۶۰
د بیع سلم او رهن بیان	۱۶۱
د بیع سلم شرائط	۱۶۲
پور رانیول او ګروي جائز ده	۱۶۳
د انتفاع رهن مسئله	۱۶۵
ګرو سوی شی د مالک د ملکیت څخه نه وځي	۱۶۶

مضمون	صفحه
په شرعي حقوقو کي د پیمانې او وزن اعتبار	۱۶۷
په تللو او ناپ کي د کمي وعید	۱۶۷
د بیع سلم د مبیع د قبضې مخکي پلورلو منع	۱۶۸
د خوراکي توکو ذخیره کول	۱۶۹
احتکار کونکی ګناه کار دی	۱۶۹
د احتکار کونکي لپاره وعید	۱۷۰
حاکم دي خپل له طرفه نرخ نه ټاکي	۱۷۰
د غلي د ذخیره کونکي لپاره موعظت او عبرت	۱۷۲
د انظار او ډېوالي کېدو بیان	۱۷۴
د مفلس کېدونکي په اړه یو مسئله	۱۷۴
د مفلس سره د مرسته کولو حکم	۱۷۵
په پور کي د وخت ورکولو اجر	۱۷۶
په ښه توګه پور ادا کونکي	۱۷۸
پور ورکونکی غوښتنه کولای سي	۱۷۹
د توان سره سم پور نه ادا کول	۱۸۰
د پوروړو تنازعه ختمول جائز دي	۱۸۱
د پور په ادا کولو د تاخیر یو واقعه	۱۸۲
د پور د ادا کولو د نیت لرونکي الله جل جلاله مرسته کوي	۱۸۴
الله جل جلاله حقوق العباد نه معافوي	۱۸۴
د پوروړی د جنازې څخه د رسول الله ﷺ اجتناب	۱۸۵

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	صفحه
د ډېوالي حکم	۱۸۷
د پوروړی روح تر ادا کولو پوري معلق وي	۱۸۸
بېله عذره پور نه ادا کول	۱۹۰
د پوروړی د جنازې څخه انکار	۱۹۱
د پور په ادا کولو سره د مړ کېدونکي لپاره زيری	۱۹۲
د مفلسۍ په حالت کي پوروړی مړ کېدل ګناه ده	۱۹۲
په حرامو شيانو کي صلح ناجائز ده	۱۹۳
د رسول الله ﷺ ټوکر رانيول	۱۹۴
د پور په ادا کولو کي غير مشروط زياتوب جائز دی	۱۹۵
د پور په ادا کولو کي تلوار وکړئ	۱۹۶
پوروړي ته د وخت ورکول ثواب دي	۱۹۶
پور پر مېراث مخته دی	۱۹۷
په وار وار شهيد کېدل هم د پور کفاره نه کيږي	۱۹۸
د شراکت او وکالت بيان	۱۹۹
په عقود کي شرکت جائز دی	۲۰۳
د انصارو په مال کي د مهاجرينو شرکت	۲۰۴
په معاملاتو کي وکيل نيول جائز دي	۲۰۵
د امانت داره شريکانو الله ﷻ ساتونکی وي	۲۰۶
د خائن څخه د انتقام جذبه	۲۰۷

مضمون	صفحه
د نبي کريم ﷺ وکيل	۲۰۷
په مضاربت کي خير دی	۲۰۸
يوه واقعه	۲۰۹
يو څو مسئلې :	۲۰۹
د غصب او عاريت بيان	۲۱۵
د غصب کونکي سزا	۲۱۵
د يو حيوان شيدې د مالک د اجازې پرته لوښل نه دي پکار	۲۱۶
يوه واقعه	۲۱۷
د مسلمان مال لوټول حرام دي	۲۱۹
د حاجيانو د سامان غلا کونکي	۲۲۰
د حيوان په عاريت اخيستل جائز دي	۲۲۱
د مړې مځکي ابادونکی د هغه مالک دی	۲۲۲
د بل چا مال خوړل حلال نه دی	۲۲۳
د يو چا مال غلا کونکی د اسلامي ټولني فرد نه دی	۲۲۳
د يو چا مال په مخسرو او خندا کي مه خورئ	۲۲۴
خپل غلا سوی مال چي د چا سره پيدا کړی ځيني وا يې خلئ	۲۲۵
د چا څخه چي شی واخلئ بيرته يې ورکړئ	۲۲۶
د يو چا باغ ، حيوان وغيره ته تاوان رسول	۲۲۶

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	صفحه
د اضطرار په حالت کي د بل د حیوان شیدې څښل	۲۲۸
د بل د باغ میوه بېله اجازې خوړل	۲۲۹
مستعار شی د امانت په حکم کي دی	۲۲۹
د مستعار شي بیرته ورکول	۲۳۰
د درختو څخه د لوېدلو میوو اخیستلو حکم	۲۳۱
د مځکي غصب کولو سزا	۲۳۲
د شفعي بیان	۲۳۳
د شفع حق یوازي شریک ته حاصل دی که همسایه ته هم	۲۳۴
د شفع حق یوازي د مځکي او ځای سره مخصوص دی	۲۳۵
د مشترکه مځکي یا سرای د یوې برخي د پلورلو پر وخت دوهم شریک ته خبر ورکول ضروري دي	۲۳۶
همسایه ته د شفع د حق	۲۳۶
د همسایتوب حق	۲۳۶
د لاري په اړه یو هدایت	۲۳۷
د غیر منقوله جائیداد بېله ضرورته خرخول مناسب نه دي	۲۳۷
همسایه ته د شفع حق حاصل دی	۲۳۸
د شفع تعلق	۲۳۸
د بیري د درختي پر پرېکولو وعید	۲۳۹
په غیر منقول جائیداد کي شفع	۲۴۰
د مساقات او مزارعت بیان	۲۴۱
د خیبر د مځکي بند و بست	۲۴۱
د مخابرت منع	۲۴۳
په مزدورۍ د مځکي ورکولو ذکر	۲۴۳
د مزارعت یو منع صورت	۲۴۴
خپل مځکه بل ته د کښت لپاره په رعایت ورکول غوره ده	۲۴۵
خپل مځکه بېکاره مه پرېږدئ	۲۴۶
په کښت کي د بوختیا په وجه د جهاد پر پرېښودلو وعید	۲۴۶
د یو چا مځکه بېله اجازې مه کرئ	۲۴۷
د مزارعت ثبوت	۲۴۸
د اجارې بیان	۲۴۹
د اجارې جواز	۲۴۹
رسول الله ﷺ پسونه پیولي دي	۲۵۰
د مزدورۍ پر نه ورکولو وعید	۲۵۱
دم کونکی اجرت اخیستلای سي	۲۵۲
د غیر شرعي دم اجرت حرام دی	۲۵۵
د مزدور په مزدورۍ ورکولو کي زنډ مه کوئ	۲۵۶
د مزدورۍ په اړه د حضرت موسی عليه السلام ذکر	۲۵۷
د خاوند خدمت د ښځي مهر کیدای سي که یا ؟	۲۵۸
د دیني تعلیم د اجرت مسئله	۲۵۹

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	صفحه
د وراني ځمکي ابادول او اوبه کول	۲۶۰
د وراني ځمکي ابادونکی د هغه مالک دی	۲۶۲
د یو ځر ځای د ځان لپاره خاص کول منع دي	۲۶۳
د کښتو پر اوبو باندي یو جګړه او د رسول الله ﷺ فیصله	۲۶۴
کومي اوبه چي تر تاسو زیاتي وي هغه مه منع کوئ	۲۶۷
پر نا اباده ځمکي دیوال ګرځول	۲۶۹
د رسول الله ﷺ له خوا صحابه کرامو ته ځمکي ورکول	۲۷۰
د الله ﷻ دري نعمتونه	۲۷۳
یو مباح شی چي هر څوک تر مخه حاصل کړي د هغه سو	۲۷۴
په کوم قوم کي چي د کمزورو انسانانو حقوق محفوظ نه وي...	۲۷۴
په ویاله وغیره سره د کښت اوبول	۲۷۷
د خپل جائیداد په ذریعه چا ته تکلیف مه ورکوئ	۲۷۷
د اوبو، ما لګي او اور ورکولو څخه منع مه کوئ	۲۷۹
د بخښني بیان	۲۸۱
د حضرت عمر رضي الله عنه له خوا د خپل ځمکي وقف	۲۸۲
عمری جائز ده	۲۸۴
عمری د وارثانو ملکیت وي	۲۸۵
د حضرت جابر رضي الله عنه روایت او ...	۲۸۶
د عمری او رقبی څخه منع	۲۸۷
عمری او رقبی جائز ده	۲۸۸
د جواز عمری یو بل حدیث	۲۸۹
د خوشبوداره شي تحفه مه رد کوئ	۲۸۹
د یو شي ورکول او بیرته اخیستل	۲۹۱
د یو شي په ورکولو کي د اولاد په مینځ کي فرق مه کوئ	۲۹۱
تحفه بیرته اخیستل ښه کار نه دی	۲۹۳
په اوو ۷ صورتونو کي تحفه بېرته اخیستل جائز نه دي :	۲۹۴
د یو شي ورکول او بیرته اخیستل ښه کار نه دی	۲۹۵
د تحفې بدله تحفه	۲۹۶
د احسان کونکي لپاره د خیر دعاء	۲۹۸
د انسان شکر نه ادا کونکی د الله ﷻ شکر هم نه ادا کوي	۲۹۹
د نعمت د شکر اهمیت	۳۰۰
تحفې ورکول عداوت له منځه وړي	۳۰۱
د کم شي تحفه سپکه مه ګڼئ	۳۰۲
د ګلانو تحفه مه رد کوئ	۳۰۳
په اولاد کي د یوه سره ترجیحي سلوک کول مناسب نه دي	۳۰۳

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	صفحه
رسول الله ﷺ به د نوي ګل تحفه څرنګه قبلول	۳۰۴
د ورک سوي شي بيان	۳۰۵
د بې وارثه کوچني پورته کول...	۳۰۸
د لقطې په باره يو څو نوري مسئلې	۳۰۹
که يو څوک يو شی پيدا کړي نو	۳۱۰
د ورک سوي شي ښېله تشهيره اېښودل خيانت دی	۳۱۴
د حاجيانو ورک سوي شيان	۳۱۵
د غير اباد ځکي لقطه	۳۱۵
د ورک سوي شي استعمال او د مالک غوښتنه	۳۱۷
ورک سوی شی په بد نيت سره مه پورته کوئ	۳۱۸
کله چي ورک سوی شی پورته کړئ نو يو څوک شاهد کړئ	۳۱۹
د پيدا سوي شي هغه مقدار چي د اعلان ضرورت يې نسته	۳۲۰
د فرائضو(مېراث) بيان	۳۲۱
د وارثانو ترتيب :	۳۲۱
د عصباتو تفصيل	۳۲۶
د ذوي الارحام تفصيل	۳۲۶
د مېراث څخه محروم کونکي شيان	۳۲۷
د مړي ترکه د هغه د وارثانو حق دی	۳۲۹
د مړي ترکه اول ذوي الفروض....	۳۳۰
د مذهب اختلاف د ميراث څخه محرومتيا راولي	۳۳۱
ازاد کونکی د غلام وارث وي	۳۳۱
خوريی د ماما وارث وي	۳۳۲
کافر د مسلمان او مسلمان د کافر وارث کيدای نه سي	۳۳۳
د انا شپږمه برخه ده	۳۳۳
ژوندی پيدا کېدونکی ماشوم....	۳۳۴
د اسلام د ابتداء يو حکم	۳۳۵
خوريی د ماما ذي رحم وارث وي	۳۳۵
ښځه د چا ميراث تر لاسه کوي؟	۳۳۶
د ولد الزنا حکم	۳۳۸
د ازاد سوي غلام ميراث	۳۳۸
انبياء عليهم السلام د چا وارثان نه وي	۳۳۹
د چا چي هيڅوک وارث نه وي...	۳۴۰
د مړي د پور ادا کول	۳۴۰
د ميراث د آيت شان نزول	۳۴۲
د لور، ملسۍ او خور برخي	۳۴۵
د نيکه برخه	۳۴۶
د انا برخه	۳۴۷
د پلار په موجود کېدو کي انا ته د شپږمي برخي ورکولو يو واقعه	۳۴۹
ديت د مقتول وارثانو ته....	۳۴۹

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	صفحه
موالي د يو بل وارث نه وي	۳۵۰
ازاد سوی غلام د خپل بادار وارث دی که یا؟	۳۵۱
د ولاء مسئله	۳۵۲
د اسلام څخه مخکي ميراث ...	۳۵۳
د عمه او وراره وارث کېدل	۳۵۳
د فرضو زده کولو حکم	۳۵۴
د وصيت بيان	۳۵۵
د وصيت ليکلو حکم	۳۵۶
د مال په دريمه برخه کي وصيت	۳۵۶
د وارث په حق کي وصيت	۳۵۹
د بل چا لپاره په وصيت کولو سره وارثانو ته تاوان مه رسوئ	۳۶۱
د جائز وصيت کونکي لپاره زيری	۳۶۲
کافر ته د نيک عمل ثواب نه رسيږي	۳۶۳
د وارث حق خوړونکي لپاره وعيد	۳۶۴
کتاب النکاح (د نکاح بيان)	۳۶۵
د نکاح ارزښت	۳۶۵
د نکاح ګټي او تاوانونه	۳۶۶
د نکاح احکام	۳۶۸
د نکاح مستحبات	۳۶۹
ايجاب او قبول او ...	۳۶۹
ځوانانو ته د نکاح کولو حکم	۳۷۱
د نکاح نه کولو څخه منع	۳۷۱

مضمون	صفحه
د ديندارې ښځي سره نکاح کول	۳۷۳
نيک بخته ښځي	۳۷۴
د قريشو د ښځو فضيلت	۳۷۴
د ښځو فتنه ډېره تاواني ده	۳۷۵
د ښځو د فتني څخه ځان وساتئ	۳۷۶
په بني اسرائيلو کي د تباهۍ سبب	۳۷۷
نحوست په درو شيانو کي وي	۳۷۹
د نکاح لپاره د پيغلي ښځي ترجيح	۳۸۰
هغه درې کسان چي الله ﷻ يې خامخا مرسته کوي	۳۸۲
د ښځي د ولي لپاره هدايت	۳۸۲
د مينه ناکه ښځي سره نکاح کوئ	۳۸۴
د پيغلي سره نکاح کول غوره دي	۳۸۵
د نکاح يو خصوصيت	۳۸۶
د ازادو ښځو سره د نکاح فضيلت	۳۸۶
د ښه ښځي خصوصيت	۳۸۶
نکاح نيم دين دی	۳۸۸
بابرکته نکاح	۳۸۸
د نسبت کړل سوي ښځي ليدل او د عورت پټولو بيان	۳۸۹
د ښځي د لېدو مسئله	۳۸۹
د نکاح څخه مخکي يو وار ليدل	۳۸۹
د ښځي حال مه بيانوئ	۳۹۰
د نارينوو او ښځو لپاره لاربښووني	۳۹۱

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	صفحه
د پردې ښځې سره د خلوت منع	۳۹۳
علاج کونکی د ښځې بدن کتلای سي	۳۹۴
ناڅاپه نظر لوېدل	۳۹۵
د پردې ښځې په لېدو او بد خیال پیدا کېدو سره خپل ښځې ته ځئ	۳۹۵
د واده څخه وړاندې د ښځې لیدل	۳۹۶
ښځه دې په پرده کې اوسي	۳۹۸
پر پردې ښځې د ناڅاپه نظر لوېدو وروسته دوهم وار کتل ناجائز دي	۳۹۹
د مینځې د نکاح وروسته	۳۹۹
ورون شرمگاه ده	۴۰۰
بېله ضرورته په یوازې ځای کې ستر لوڅول ښه کار نه دی	۴۰۱
ښځه سړي ته کتلای سي که یا؟	۴۰۲
په یوازیوالي کې هم ستر پټ ساتئ	۴۰۳
د پردې ښځې سره یوازې مه اوسئ	۴۰۴
غلام د پردې سړي په ډول دی	۴۰۵
نر ښځې هم په کور کې مه پرېږدئ	۴۰۶
د لوڅ کېدو څخه منع	۴۰۸
د شرم او حیاء انتهائي درجه	۴۰۸
ښځې ته په نظر لوېدو سره	۴۰۹
منع شي ته پر کتلو باندې وعید	۴۰۹
د نکاح د ولي او د ښځې څخه د اجازې اخیستلو بیان	۴۱۰

مضمون	صفحه
د نکاح څخه مخکې د ښځې اجازه	۴۱۱
کونډه خپل ناخوښه نکاح رد کولای سي	۴۱۴
د رسول الله ﷺ سره د نکاح پر وخت د حضرت عائشې (رض) عمر	۴۱۴
د کم عمره انجلۍ نکاح	۴۱۵
بېله شاهدانو نکاح نه صحیح کېږئ	۴۱۷
د ښځې سکوت د هغې رضا ده	۴۱۷
د غلام نکاح د بادار د اجازې پرته	۴۱۸
بالغه د خپل نکاح په اړه خود مختار	۴۱۹
د بالغې نکاح ولي ته مستحب دي	۴۲۰
پر پلار د اولاد حقوق	۴۲۱
د انجلۍ پر بالغ کېدو د هغې نکاح	۴۲۲
د نکاح اعلان، خطبې او شرط بیان	۴۲۳
د واده مراسم او بدعتونه	۴۲۳
د نکاح پر وخت دریا وهل جائز ده	۴۲۴
د شوال په میاشت کې نکاح کول	۴۲۶
د مهر ادا کولو تاکید	۴۲۷
د بل منسوبې ښځې ته پیغام مه ...	۴۲۷
ښځه دې د خپل خواهش لپاره د بلې ښځې د طلاق سبب نه جوړېږي	۴۲۸
د شغار (موخې) منع	۴۲۹
د متعه منع	۴۳۰
د متعې په باره کې د شیعه ګانو	۴۳۱
د نکاح خطبه	۴۳۳

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	صفحه
د خطبې پرته نکاح بې برکته وي	۴۳۵
د نکاح اعلان کول مستحب دی	۴۳۶
په واده کي د سندرو اجازه	۴۳۷
په دوو نکاحو کي اوله نکاح صحیح	۴۳۹
متعه د اسلام په پیل کي جائزوه	۴۴۰
په واده کي د سندرو اجازه	۴۴۳
د هغه ښځو بیان چي نکاح ورسره حرامه وي	۴۴۴
د محرمات تفصیل او ...	۴۴۴
یو څو اړوند ضروري مسئلې	۴۷۶
د ښځي د عمه او خاله سره نکاح	۴۷۹
د رضاعت ذکر	۴۷۹
د رضعي وربرې سره نکاح حرامه ده	۴۸۱
د رضاعت مقدار	۴۸۲
د رضاعت د مدت وروسته	۴۸۴
د رضاعت د ثبوت لپاره شاهدي	۴۸۵
د دار الحرب د بندي ښځي سره نکاح	۴۸۶
هغه ښځي چي په یو وخت کي په نکاح کول منع دي	۴۸۷
د پلار د مايني سره نکاح کول	۴۸۸
د رضاعت حق ادا کول	۴۹۰
د رسول الله ﷺ د رضعي مور تعظیم	۴۹۱
تر ځلورو زیاتي ښځي ناجائز دي	۴۹۲
د دوو خویندو سره په یو وار نکاح	۴۹۳
په کافر ښځي او خاوند کي که یو اسلام قبول کړي نو ...	۴۹۳
محرمات څوک دي؟	۴۹۶
د خپلي ښځي د لور سره نکاح منع ده	۴۹۷
د کوروالي بیان	۴۹۸
د مباشرت په اړه د یهودو غلط خیال	۴۹۸
د عزل مسئله	۴۹۹
ښځي ته د راز خبرو ښوولو څخه منع	۵۰۷
په حیض کي د کوروالۍ منع	۵۰۹
د ښځي سره د شاله خوا کوروالي	۵۱۱
د غیله منع	۵۱۲
د عزل مشروط جواز	۵۱۳
مینزي ته د ازادۍ وروسته اختیار	۵۱۴
مینزه د ازادۍ وروسته	۵۱۴
مملوک ښځه او خاوند ازادول	۵۱۶
مینزي ته د نکاح اختیار	۵۱۷
د مهر بیان	۵۱۸
د مهر کم از کم مقدار	۵۱۹
د ازواج مطهراتو د مهر مقدار	۵۲۲
د ډېر مهر منع	۵۲۳
د مهر لږ برخه سمدستي ورکول	۵۲۵
د مهر مثل واجب کېدو یو صورت	۵۲۶
د ام حبیبې نکاح او مهر	۵۲۷
د اسلام قبلول د مهر قائم قام دی	۵۲۹

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	صفحه
د واده د ډوډۍ کولو بیان	۵۳۰
د ولیمې شرعي حیثیت او وخت	۵۳۰
د مېلمستیا ډولونه	۵۳۰
د ولیمې کولو حکم	۵۳۱
د رسول الله ﷺ تر ټولو لویه ولیمه	۵۳۲
د ښځي ازادول د هغې مهر کیدای سي که یا؟	۵۳۳
د حضرت صفیه (رض) ولیمه	۵۳۴
د حضرت ام سلمه (رض) ولیمه	۵۳۴
د ولیمې بلنه قبلول پکار ده	۵۳۵
په ولیمه کي یوازي شتمن خلک را بلل بد کار دی	۵۳۷
نابلل سوي کس ته خوراک ورکول.	۵۳۸
د حضرت صفیه (رض) ولیمه	۵۳۹
د دنیوي زیب او زینت څخه پرهېز	۵۴۰
بېله بلني مېلمستیا ته ورتلل	۵۴۱
که دوه کسان په یو وار بلنه ورکړي نو	۵۴۲
د نامه لپاره د ولیمي کولو وعید	۵۴۲
د فخر کونکو بلنه منع ده	۵۴۴
د فاسق بلنه مه قبلوئ	۵۴۵
د یو پرهېزګار د خوراک پلټنه مه کوئ	۵۴۵
د ښځو په منځ کي دوختو وېشل	۵۴۶
د رسول الله ﷺ ازواج مطهرات	۵۴۸
یوه ښځه خپل وار خپلي بني ته	۵۴۹
د ښځي په سفر بېولو لپاره قرعه	۵۵۰
یو څوک د خپل ټولو ښځو سره په یو ډول مینه کولو مجبور نه دی	۵۵۳
د ښځو په منځ کي پر انصاف نه کولو	۵۵۴
د نبي کریم ﷺ په نهه بي بیانو کي د یوې وار ټاکلی نه وو	۵۵۴
د ښځو د حقوقو بیان	۵۵۷
د ښځي کورړوالی په بده لهجه نه سي سمېدلای	۵۵۷
د ښځو سره ښه چلن کوئ	۵۵۹
کورړوالی هري ښځي ته په میراث کي ترلاسه دی	۵۶۰
د ښځي د وهلو منع	۵۶۱
د خپلي ښځي سره ښه چلن کوئ	۵۶۳
رسول الله ﷺ د عائشې (رض) خوښي او ناخوښي څرنګه پېژندل؟	۵۶۴
ښځي ته د کوروالی څخه انکار کول	۵۶۵
ښځه دي د خپلي بني سره بد چلن نه	۵۶۶
د ایلاء مطلب	۵۶۷
د رسول الله ﷺ د ایلاء واقعه	۵۶۹
د رسول ﷺ د خپلو بیبیانو سره چلن	۵۷۶
د خپلي کورنۍ سره ښه چلن کونکی	۵۷۷
فرمانبرداره ښځي ته د جنت زیری	۵۷۸
که چیري غیر الله ته سجده کول....	۵۷۹

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	صفحه
د خاوند د رضا اهمیت	۵۷۹
د خاوند اطاعت وکړئ	۵۸۰
خاوند ته تکلیف مه ورکوئ	۵۸۰
پر خاوند د ښځي حق	۵۸۱
خاوند خپله ښځه تادیبًا وهلای سي که یا ؟	۵۸۱
بدزبانه ښځي ته طلاق ورکړئ	۵۸۳
د ښځو د وهلو څخه منع	۵۸۳
د ښځي د خاوند پر خلاف پارولو منع	۵۸۵
د کمال ایمان دلیل	۵۸۶
د حضرت عائشي سره د رسول الله ﷺ یوه واقعه	۵۸۶
غیر الله ته سجده کول جائز نه دي	۵۸۸
نافرمانه ښځي ته سزا	۵۸۹
ښځه دي د خاوند د اجازې پرته نفل روژه نه نیسي	۵۹۰
په سخت حکم کي هم د خاوند	۵۹۱
د کومي ښځي خاوند چي ناراض وي	۵۹۳
د هغې لمونځ په پوره توګه نه قبلیږي	
د غوره ښځي پېژندنه	۵۹۴
د خلعي او طلاق بیان	۵۹۵
د ناخوښه خاوند څخه طلاق ...	۵۹۶
په حیض کي د طلاق څخه منع	۵۹۸

مضمون	صفحه
د کومو خلکو ورکړی طلاق واقع کیږي او د کومو خلکو نه واقع کیږي	۶۰۱
د اختیار مسئله	۶۰۱
یو شی پر ځان باندي حرامولو سره کفاره لازمیږي	۶۰۲
د بېله ضرورته طلاق غوښتونکي	۶۰۵
طلاق ښه شی نه دی	۶۰۵
د نکاح څخه مخکي د طلاق ورکولو	۶۰۶
د طلاق بت مسئله	۶۰۸
د نکاح او طلاق الفاظ په خندا او مخسرو کي هم ثابتیږي	۶۰۹
په زوره طلاق واقع کیږي که یا ؟	۶۱۰
د لیوني طلاق نه واقع کیږي	۶۱۱
درې مرفوع القلم کسان	۶۱۲
مینزي ته دوه طلاقه دي	۶۱۲
د خپل خاوند څخه د طلاق یا خلع غوښتونکو ښځو وعید	۶۱۳
د ښځو د ټول مال په عوض کي خلع	۶۱۴
په یو وار درې طلاقه ورکول	۶۱۴
د الله ﷻ په نزد طلاق بد شی دی	۶۱۶
د هغه ښځي بیان چي درې طلاقه ورکول سوي وي	۶۱۷
د حلالې صحیح کېدل ...	۶۱۸
پر محلل او محلل له باندي لعنت	۶۱۹

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د ایلاء مسئله	٦٢٠	د ولد الزنا نسب	٦٥٥
د ظهار حکم	٦٢١	هغه ځلور ښځي چي د هغو ځخه	٦٥٦
د ظهار کفاره	٦٢٤	لعان نه کیږي	
په کفاره ظهار کي د غلام نوعیت...	٦٢٧	رسول الله ﷺ تر خپل امکان پوري د	٦٥٧
کفاره ظهار	٦٢٧	لعان ځخه ځان ساتئ	
د ظهار د کفارې مسائل	٦٣٠	شیطان د خاوند او ښځي په مینځ کي	٦٥٨
د لعان بیان	٦٣٢	**د عدې بیان**	٦٦٠
د لعان یوه واقعه	٦٣٣	د عدت په ورځو کي پر خاوند نفقه	٦٦١
د لعان په صورت کي د خاوند او	٦٣٥	واجب ده که یا؟	
ښځي په مینځ کي د تفریق مسئله		د عدت په زمانه کي د ضرورت لپاره	٦٦٦
د لعان کونکو محاسبه په اخرت کي	٦٣٧	د کور ځخه وتل جائز دي که یا؟	
د لعان د آیت شان نزول	٦٣٨	د حاملې ښځي عدت	٦٦٧
د زنا تهمت د ځلورو شاهدانو	٦٤٠	د عدت په زمانه کي د سترګو تورول	٦٦٨
د الله جل جلاله ځخه هیڅوک غیرتمند نسته	٦٤٢	د عدت په زمانه کي د وړ کولو حکم	٦٦٩
د الله جل جلاله د غیرت تقاضا څه شی ده؟	٦٤٣	د ماتم (غم کولو) احکام او مسائل	٦٧٢
د کوچني د نسبت ځخه انکار مه کوئ	٦٤٣	په عدت کي نقل کېدل جائز نه دي	٦٧٤
د زنا په نتیجه کي د پیداکېدونکي	٦٤٤	په عدت کي سنګار کول نه دي پکار	٦٧٦
ماشوم نسب د زاني ځخه نه ثابتیږي		د مطلقه د عدت په اړه یو بحث	٦٧٧
د نسب په اثبات کي	٦٤٧	د مطلقې د عدت مسئله	٦٨٠
د خپل پلار ځخه انکار کونکي	٦٤٨	**د استبراء بیان**	٦٨٠
د خپل کوچني ځخه انکار کونکي	٦٥٠	د استبراء ځخه پرته جماع کول...	٦٨١
بدکاره ښځي ته طلاق ورکول	٦٥١	د غیر حائضې مینزي استبراء	٦٨٤
د نسب د اثبات په اړه یو هدایت	٦٥٢	د پیغلې مینزي لپاره استبراء	٦٨٥
غیرت په ځینو صورتو	٦٥٤		

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	صفحه
د نفقې او غلامانو او مينځو د حقوقو بيان	٦٨٦
د ښځې د نفقې احكام او مسائل	٦٨٦
د اولاد د نفقې احكام او مسائل	٦٨٩
د مور او پلار د نفقې احكام	٦٩٠
د ذوي الارحامو د نفقې احكام	٦٩٠
د مينزې او غلام د نفقې احكام	٦٩١
د ښځې او اولاد نفقه پر خاوند ده	٦٩٢
د الله ﷻ وركړى دولت بايد اول پر خپله كورنۍ مصرف كړل سي	٦٩٣
د غلام نفقه پر مالک واجب ده	٦٩٣
د غلام سره د ښه چلن حكم	٦٩٤
د غلام روژې منع كول گناه ده	٦٩٥
د خپل خادم او مزدور سره په خوراک كولو كي شرم مه كوئ	٦٩٦
غلام ته دوه چنده ثواب	٦٩٧
د غلام لپاره غوره خبره څه شي ده ؟	٦٩٧
د تښتېدلي غلام لمونځ نه قبلېږي	٦٩٨
پر غلام د زنا تهمت لگولو مسئله	٦٩٩
د غلام بېله خطا وهلو كفاره	٦٩٩
د اولاد پر گټه د پلار حق دى	٧٠٠
د مربي په حق كي د يتيم د مال حكم	٧٠١
د غلامانو د حق ادا كولو تاكيد	٧٠٢
د غلام سره د بد چلن كونكو وعيد	٧٠٣

مضمون	صفحه
د غلام سره ښه چلن كول	٧٠٣
كه غلام د خداى روى دركړي نو	٧٠٥
كم عمره كوچنى د مور څخه مه بېلوئ	٧٠٥
پر غلام باندي د احسان كولو اجر	٧٠٧
لمونځ كونكى غلام مه وهئ	٧٠٨
د مملوک د خطاوو معاف كولو حكم	٧٠٨
د مملوک په اړه يو هدايت	٧٠٠
د حيوانانو سره د ښه چلن كولو حكم	٧١٠
د يتيم د مال په اړه د الله ﷻ قول	٧١١
د پلار او زوى او دوو وروڼو په مينځ كي بېلوالى مه راولئ	٧١٣
بد خلک څوک دى؟	٧١٣
غلامان د اولاد او ورور په ډول وساتئ	٧١٤
د نابالغه كوچنيانو د بلوغ او په وړكتوب كي د هغوئ روژنه	٧١٥
د بلوغ عمر پنځلس كاله دى	٧١٧
د حضرت حمزه د لور روزنه	٧١٨
د يو ماشوم د روزني تر ټولو زياته حقداره مور ده	٧٢٠
د روزني وروسته كوچني ته اختيار وركول	٧٢١

Maktaba Tul Ishaat.com

بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيمِ

كِتَـــابُ البُيُوْعِ

(د رانيولو او پلورلو بيان)

د اسلام له نظره د انساني كائناتو د عملي دور دوه محوره دي اول حقوق الله چي عبادات ورته وايي او دوهم حقوق العباد چي معاملات ورته وايي، دغه دوه اصطلاحات دي چي د انسان د ژوند د نظام د ټولو اصولو، قواعدو او قوانينو بنياد دی، په دغه دواړو كي حقوق الله ته عموميت حاصل دی، ددې تعلق د كائنات انساني د هر فرد سره دی ځكه د كتاب مصنف مخكي دا بيان كړل او س ددغه ځای څخه د حقوق العباد يعني د معاملاتو بيان شروع كيږي چي د هغه تر ټولو اهم جز بيع ده.

د بيع معنی : د بيع معنی پلورل او خرڅول دي مگر كله ددې معنی د رانيولو هم وي ځكه د بيع زياړه په اصطلاحي توگه سره پر رانيولو او پلورلو باندي كيږي.

د فخر الاسلام وينا ده چي د شريعت په اصطلاح كي په خپل منځ كي په خوښی سره د مال په مال بدلولو ته بيع وايي.

د بيع شرعيت : د بيع يعني رانيولو او پلورلو شرعي كېدل د قرآن كريم ددغه آيت (واحل الله البيع وحرم الربوا) : الله تعالی بيع حلاله كړې ده او سود يې حرام كړی دی، او د رسول الله ﷺ د دغه حديث څخه چي وروسته به راسي ثابت دي.

دبيع ډولونه : په بيع يعني رانيولو او پلورلو كي په بنيادي توگه سره درې شيان دي اول عقد بيع يعني نفس معامله چي يو سړی يو شی پلوري او بل هغه رانيسي، دوهم مبيع يعني هغه شی كوم چي پلورل كيږي، او دريم ثمن يعني قيمت، ددغه درو شيان په اعتبار په فقهي توگه سره د بيع څو ډولونه دي ،د نفس معاملې او د هغه حكم (چي بيع صحيح ده كه يا) په اعتبار د بيع څلور ډولونه دي، ۱: نافذ، ۲: موقوف، ۳: فاسد، ۴: باطل.

بيع نافذ هغه بيع ته وايي چي په طرفينو كي مال وي (يعني د پلورنكي سره مبيع وي او د رانيونكي سره ثمن وي) او عاقدين يعني رانيونكی او پلورنكی دواړه عاقلان وي او هغوی دواړه بيع يا خو اصالةً وكړي يا وكالةً او دلالةً، په كومه بيع كي چي دغه درې شيان موجود سي نو هغه بيع بالكل صحيح او نافذ ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

۲: بیع موقوف هغه بیع ته وایي چي په هغه کي یو سړی د بل چا شی د هغه د اجازې یا ولایت څخه پرته وپلوري، د دغه بیع حکم دادی چي تر څوپوري د اصل مالک اجازه او رضا تر لاسه نه سي هغه به صحیح نه وي او د اجازې څخه وروسته صحیح کیږي.

۳: بیع فاسد هغه بیع ده چي باصله یعني د معاملې په اعتبار صحیح وي مگر بوصفه یعني د یو خاص وجه په وجه صحیح نه وي.

۴: بیع باطل هغه بیع ته وایي چي نه خو باصله صحیح وي او نه بوصفه، د بیع فاسد او بیع باطل تفصیل او د هغه مثالونه به انشاء الله تعالی په باب المنهی عنها من البیوع کي راسي.

د مبیع یعني پلورنکي شي په اعتبار د مبیع څلورو ډولونه دي،۲ : مقائضه، ۲: صرف، ۳: سلم، ۴: بیع مطلق.

۱: بیع مقائضه هغه دی چي مبیع هم مال وي او ثمن هم مال وي مثلاً یو سړی جامه ورکړي او بل سړی د هغه په بدله کي هغه ته غله ورکړي یعني دا د بیع هغه صورت دی چي په اصطلاح کي د مال تبادله ورته ویل کیږي.

۲: بیع صرف داده چي د نقدو تبادله په نقدو سره وکړل سي مثلاً یو سړی د روپۍ نوټ ورکړي او بل سړی د هغه په بدله کي د یوې روپۍ پیسې ورکړي یا یو سړی اشرفۍ ورکړي او بل سړی هغه په بدله کي هغه ته روپۍ ورکړي یعني روپۍ وته کول یا د روپۍ مېده کول د بیع صرف یو ډول دی.

۳: بیع سلم داده چي پلورنکی د رانیونکي څخه د یو شی قیمت تر مخه واخلي او دا فیصله وسي چي رانیونکی دغه شی د دومره وخت مثلاً یوې میاشتي وروسته اخلي.

۴: بیع مطلق داده چي د یو شی بیع د نقدو په عوض کي وکړل سي مثلاً پلورنکی یو من غنم ورکړي او رانیونکی د هغه د قیمت په توگه دیرش روپۍ ورکړي.

د ثمن یعني قیمت په اعتبار د بیع څلور ډولونه دي ۱-: مرابحه، ۲: تولیت، ۳: ودیعت، ۴: مساومت.

د مرابحت صورت دادی چي پلورنکی مبیع خپل رانیونکی ته په گټه اخیستلو سره خرڅ کړي، د تولیت صورت دادی چي پلورنکی مبیع د هغه قیمت څخه هم په کم خرڅ کړي یعني په قیمت کي هغه خپله رانیولی وي او د مساومت صورت دادی چي پلورنکی او رانیونکی په خپلو کي په خوښي سره د یو شی رانیول او پلورل وغواړي په کوم قیمت چي یې وکړي او په هغه کي د خرڅونکی د قیمت څه لحاظ نه وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ الْکَسْبِ وَطَلَبِ الحَلاَلِ

(د پاکي روزۍ او حلال کسب بيان)

د کسب او د حلال طلب مطلب دادی چي د خپل ژوند د ضروریاتو مثلا ډوډۍ، جامې وغیره د تر لاسه کولو لپاره ګټه کول او پاکه روزي او حلال کسب تر لاسه کول.

په دغه باب کي د کسب فضیلت ذکر سوی دیاو دا بیان سوی دی چي کوم کسب ښه دی او کوم خراب دی، د فقهي په کتابو کي دده تفصیل داسي دی چي تر ټولو غوره کسب جهاد دی او دهغه څخه وروسته تجارت بیا زراعت او بیا لاسي کار (مثلا کتابت او داسي نور)

کسب یعني ګټه کول فرض هم دي او مستحب هم همدارنګه مباح هم دي او حرام هم، دومره ګټه فرض ده چي ګټونکی او د هغه د کورنۍ د ژوند د اړتیاوو لپاره بس وي او که د هغه پر ذمه پور وي نو د هغه د ادا کولو لپاره بس سي تر دې زیات ګټل مستحب دي په شرط ددې چي په دې نیت سره زیات وګټي چي د خپل او خپل کورنۍ د اړتیاوو څخه څه پاته سي هغه به فقیرانو او مسکینانو او خپلو نورو قریبانو باندي خرڅ کړم همدارنګه د ژوند د اړتیاوو څخه زیات ګټل په هغه صورت کي مباح دي کله چي نیت د خپل شان او شوکت او د خپل وقار حفاظت وي البته محض د مال او دولت په جمع کولو سره د فخر او تکبر د اظهار لپاره زیات ګټل حرام دي که څه هم په حلاله ذریعه سره وي.

د ګټونکي لپاره ضروري دي چي هغه خپل ګټه پر خپل ځان باندي او خپل کورنۍ باندي داسي خرڅ کړي چي نه خو په اسراف کي اخته سي او نه په بخل او تنګۍ کي.

کوم څوک چي پر خپل روزۍ تر لاسه کولو باندي قادر وي نو پر هغه لازمه ده چي هغه وګټي او څرنګه چي کیدای سي په حلاله ذریعه سره د خپل او خپلي کورنۍ د عزتمند ژوند د ساتني لپاره د ژوند ضروریات تر لاسه کولو باندي پر نورو بوج نه سي، هو کوم څوک چي د یو مجبورۍ او عذر په وجه پر ګټي باندي قادر نه وي نو بیا د هغه لپاره ضروري دي چي هغه د نورو څخه په سوال کولو سره د خپل ژوند ساتنه وکړي که په دغه صورت کي یو سړی محض په دې وجه چي د نورو په مخکي لاس غزول د هغه غیرت نه خوښوي نو هغه د چا څخه سوال ونه کړي تر دې چي لوږه او مفلسي د هغه ژوند ختم کړي نو نه یوازي دا چي هغه د خپل مرګ خپله ذمه دار دی بلکه د یو ګناه کار په مرګ به مړ کیږي او کوم څوک چي په خپله ګټه سره د خپل نس

مړولو څخه عاجز وي نو د هغه د حال څخه پر خبر کسانو باندي فرض دي چي د هغه معذور سړي خبر واخلي په دې توګه چي د هغه نس موړ سي يا هغه خپله پر دغه انساني فريضې ادا کولو باندي قادر سي نو يو داسي چا ته د هغه د مرستي سفارش وکړي چي د هغه پر مرسته کولو قادر وي.

حضرت مولانا شاه عبدالعزيز دهلوي رحمه الله د دغه آيت کريمه په تفسير کي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُلُواْ مِن طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ:

ژباړه: اې مؤمنانو! تاسو يوازي هغه پاک او حلال رزق خورئ کوم چي موږ تاسو ته درکړی دی ليکلي دي: چي تر ټولو غوره کسب جهاد دی په شرط ددې چي د جهاد د ارادې پر وخت د غنيمت د مال تر لاسه کول په خپل زړه کي قطعا نه وي بلکه په نيت کي اخلاص وي، او ددې څخه وروسته د تجارت درجه ده په خاصه توګه هغه تجارت چي د يوه هيواد څخه بل هيواد ته يا د يوه ښار څخه بل ښار ته د مسلمانانو ضروريات وړی او راوړي، دا ډول تجارت کونکی که چيري د ګټي تر لاسه کولو سره د مسلمانانو خدمت او د هغوی د اړتياوو پوره کول هم په نيت کي ولري نو د هغه تجارت به د عبادت يو ډول جوړ سي، د تجارت څخه وروسته د زراعت درجه ده د زراعت کسب هم د دنيوي ګټي څخه پرته د اجر او ثواب لويه ذريعه جوړيږي کله چي په هغه کي د الله تعالی د مخلوق يعني انسانانو او حيوانانو د خوراک برابرولو نيت او د الله تعالی پر رحمت يعني باران او هواء باندي توکل او اعتماد وي.

ددغه درو کسبو څخه پرته نور کسبونه څه فضيلت نه لري البته د کتابت کسب غوره درجه لري ځکه چي په دغه کسب کي نه يوازي د علم خدمت کيږي بلکه ديني علوم، شرعي احکام، د انبياؤ او بزرګانو احوال هم په ياد کيږي، د پورتنيو کسبو څخه وروسته د هغه کسبو درجې دي چي د عالم د بقاء او د ټولني او تمدن د اصل اړتياوو سره ژور تعلق لري مثلا معماري، خښته وهل، چونه جوړل، غوړي او تېل را ايستل، پمبه خرڅول، تارونه اوبدل، جامې ګنډل، اوړه کول او داسي نور دغه کسبونه هم حسب موقع دي په دې توګه چي د هغه په وجه د شريعت خلاف کارونه نه کوي نو په دې کي څه کراهت نه سته پر خلاف د هغه کسبو چي په هغه کي چټلي، نجاست او جعل سازي او د چم او غلا کارونه وي لکه ښاخونه وهل، د پوست پخول، کفن پلورل، دلالي، غزلي ويل، نقالي، جره بازي (په مخکي زمانه کي دا يو مستقل کسب وو چي يو چم باز به پر عام سړک باندي يو سړی ودروی چي پر لاره باندي تلونکي سړي ته به يې داسي

Maktaba Tul Ishaat.com

دوكه وركړه چي هغه ته به هيڅ معلومات هم نه كيدى چي دا د چا كار دى هغه چي به پر دې حيران او پرېشان سو نو ټولو چمبازانو به پر هغه باندي په زوره خندل ، دې ته جره بازي وايي) ، دلالي او وكالت (چي په هغه كي د درواغو څخه كار اخيستل كيږي) امامت، اذان او د مسجد خدمت او د قرآن كريم د تلاوت او د تعليم معاوضه اخيستل او داسي نور ټول كسبونه مكروه دي . (شاه عبد العزيز رحمه الله) .

په مغني الطالب كي ليكلي دي چي د كسب او د كسب كونكي فضيلت په حديثو كي ډېر نقل سوى دى همدارنګه كوم څوك چي پر كسب باندي د قادر كېدو سربېره د سستى له كبله كسب نه كوي بلكه د خپل ټېم پاسى لپاره ګرځي او دنورو څخه سوال كوي نو د هغه په اړه لوى وعيد بيان سوى دى مګر كوم څوك چي د الله تعالى پر رزاق كېدو باندي په يقين كولو سره د چا په مخ كي لاس نه غزوي او نه په خپل ديني بوختياوو او عبادت كي د خلل لوېدو په وجه كسب وغيره كوي نو په دغه وعيد كي هغه داخل نه دى په شرط ددې چي د خپل مرستي لپاره نورو خلكو ته د هغه زړه متوجه وي او نه د چا د مرستي او خدمت توقع ولري .

كوم څوك چي دومره زر او مال ولري چي د هغه د ژوند د اړتياوو لپاره بس وي يا د بلي لاري څخه هغه ته د ضرورت په اندازه روپۍ تر لاسه كيږي (مطلب دا چي په كور كي ناست وي او هغه ته په جائز وسيلې سره د ضرورت په اندازه آمدني راځي نو د هغه لپاره غوره ده چي هغه په عبادت وغير كي بوخت سي او خپل وخت په كسب وغيره كي بوخت نه كړي، همدارنګه ددېني علم تعليم وركونكى مفتي، قاضي او داسي نورو خلكو لپاره هم دا حكم دى كه دغه خلك د ضرورت په اندازه آمدني ولري نو هغوى ته په خپلو كارو كي بوخت كېدل پكار دي په كسب وغيره كي بوخت كېدل پكار نه دي .

كوم څوك چي يو كسب مثلاً تجارت وغيره اختيار كړي نو پر هغه فرض ده چي هغه يوازي حلال او جائز مال وګټي د حرامو څخه بالكل پرهيز وكړي او په خپل كسب او هنر كي د شرعي احكامو رعايت په هر صورت كي وساتي او په خپل كسب كي د ټولو محنت او كوښښ سربېره د الله تعالى پر ذات توكل او اعتماد ولري چي رزق وركونكى يوازي الله تعالى دى او كسب محض د يو ظاهري وسيلې په درجه كي دى خپل كسب او هنر دي هيڅكله رزاق نه ګڼي ځكه چي دا شرك خفي دى ، د حرام كسب په ذريعه د حاصلېدونكي مال څخه دي پوره پرهيز كوي ځكه چي په دې اړه رسول الله ﷺ څخه دا وعيد منقول دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كوم څوك چي د حرام مال څخه صدقه او خيرات كوي نو د هغه صدقه نه قبليږي او حرام مال په ځان پسي

Maktaba Tul Ishaat.com

يعني د مالک د مرګ څخه وروسته د دې څخه پرته نور هيڅ نه وي چي هغه د خپل مالک لپاره داسي د لاري خرابه تو بنه جوړيږي چي هغه د دوږخ اور ته رسوي.

ځيني خلک د ډېر حرام مال څخه پرهېز خو کوي مګر په لږ اندازه کي احتياط نه کوي حالانکه د حرام مال د لږ څخه تر لږ مقدار څخه هم داسي پرهېز کول پکار دي لکه څرنګه چي د ډېر مقدار څخه پرهيز ضروري دی، په دې باره کي دا احساس کول پکار دي چي د حرام مال هغه لږ اندازه په ټول حلال مال کي په يو ځای کېدو سره ټول مال مشتبه ګرځوي او د مشتبه مال او مشتبه کسب په باره کي دا مسئله ده چي د هغه څخه پرهېز کول غوره دي.

که سړي ته يو څوک د تحفې يا بل شي په توګه داسي مال ورکړي چي د هغه د حرمت او حلت په باره کي شک وي نو پکار دي چي هغه شی يا هغه مال په ښه انداز او نرمۍ سره بېرته هغه کس ته ورکړي که چيري په بېرته ورکولو سره هغه ناراضه کيږي نو بيرته ورکول نه دي پکار دا حکم د هغه مشتبه حال د تحقيق کولو هم دی که هغه مشتبه مال ورکونکی نه خفه کيږي نو بيا د هغه مال تحقيق کول پکار دی او که هغه په تحقيق کولو سره خفه کيږي نو بيا د هغه تحقيق کول نه دی پکار ځکه چي مسلمان خفه کول حرام دي او د مشتبه مال تحقيق کول تقوا ده او په دې باره کي مسئله داده چي د تقوا لپاره حرام کار کول نه دی پکار مګر د کوم مال په باره کي چي بالکل تحقيق وي چي هغه حرام دی نو بيا د هغه بېرته ورکول په هر صورت ضروري دي که هم ورکونکی خفه کيږي البته که چيري د هغه مال په بېرته ورکولو کي د فتنې بېره وي نو بيا دي يې بيرته نه ورکوي بلکه د هغه په اخيستلو سره دي يې يو غريب ته ورکړي او که خپله غريب وي نو په خپل استعمال کي دي يې راولي.

په کوم بازار کي چي د حرام مال تجارت کيږي د هغه بازار څخه پرهيز کول پکار دي چي په هغه کي دي رانيول او پلورل نه کوي تر څو چي دا معلومه نه سي چي فلانی مال حرام دی يا مشتبه دی د دې تحقيق او تفتيش ضروري نه دی ځکه د حرمت او شبه نه معلېدو په صورت کي هر ځای او د هر شي تحقيق او تجسس محض وسوسه ده.

د غير مشروع کسب مزدوري هم حرامه ده مثلاً د نارينو لپاره د ريشم جامې اغوستل يا د خلکو لپاره د سرزور زيورات جوړول همدارنګه د غير مشروع څخه حاصليدونکې ګټه او مال هم حرام دی لکه محتکره (ذخيره سوې) غله خرڅول په ټولو تجارتو کي تر ټولو غوره تجارت د بزازۍ دی همدارنګه په ټولو کسبو کي تر ټولو غوره کسب مشک (ژی) جوړول او ګنډل دي، په رانيولو او پلورلو کي ناچله لوټ چلول قطعا جائز نه دی که چيري ناچله لوټ په لاس ورسي

Maktaba Tul Ishaat.com

نو هغه دي په ښاه وغیره کي په غور ځولو سره ضائع کړي.
همدرانګه د هر تجار او دوکاندار لپاره ضروري ده چي هغه په معاملاتو کي د مکر او چم څخه کار وانخلي پر هره خبره دي قسم نه اخلي که په یو شي کي یو عیب وي نو د رانیونکي څخه دي یې نه پټوي د خپلو شیانو تعریف او توصیف دي د حقیقت څخه زیات نه کوي یو شی دي پر داسي سړي نه خرڅوي چي هغه یې په حرام کار کي استعمالوي مثلا انګور دي پر شراب جوړونکي نه خرڅوي یا وسله وغیره دي پر غله وغیره باندي نه خرڅوي، په ناپ او تول کي دي کمي نه کوي په چم او دوکه ورکولو سره دي خپل لمن نه چټلوي هر وخت دي دا تصور کوي چي په ناجائزه طریقو او حرامو ذرائعو سره یوه روپۍ هم په جنت کي د داخلېدو څخه منع کوي پر لږ ګټه دي اکتفاء وکړي، د نورو تجارتونو او کاروبار په ذریعه دي د زیاتي ګټي حرص نه کوي بلکه پاته وختونه دي د آخرت په ښېګڼه کي صرف کړي ځکه چي یوازي ددغه فاني دنیا په عیش او راحت تر لاسه کولو کي ټول وخت لګول او د آخرت د همېشني ژوند د سعادتونو څخه بې پروا کېدل د عقل څخه ډېره لیري خبره ده.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د خپل لاس ګټه تر ټولو غوره ده

﴿۲۶۳۹﴾: عَنِ الْمِقْدَامِ ابْنِ مَعْدِيْكَرِبَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت مقدام بن معدیکرب ﷛ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

وَسَلَّمَ مَا اَكَلَ أَحَدٌ طَعَامًا قَطُّ خَيْرًا مِنْ اَنْ يَاْكُلَ مِنْ عَمَلِ يَدِهٖ وَاِنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ

هیڅ خوراک چا تر هغه خوراک غوره نه دئ خوړلی څوک چي یې په خپل لاس سره وګټي او وه یې خوري او د الله تعالی نبي

دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ كَانَ يَاْكُلُ مِنْ عَمَلِ يَدِهٖ. رواه البخاري.

داؤد علیه السلام به د خپل لاس ګټه خوړل. بخاري.

تخریج: البخاري في الصحیح (فتح الباري): ۳۰۳/۴، رقم: ۲۰۷۲.

تشریح حضرت داؤد ﷤ د الله تعالی یو جلیل القدر نبي وو او ددې سره سره الله تعالی ورته ددنیا سلطنت او پاچاهي هم ورکړې وه د هغه په اړه منقول دي چي هغه به په خپل حکومت کي د

Maktaba Tul Ishaat.com

خلکو څخه په خپل اړه پوښتنه کول کوم چا چي به نه پیژندی د هغه څخه به يې پوښتنه کول چي داؤد څرنګه دی ؟ په خلکو کي د هغه سیرت او عادت د کومي درجې دي او د هغه په باره کي ستا څه تاثر دی، یوه ورځ داسي وسوه چي الله تعالی یوه ملائکه د سړي په شکل کي هغه ته راولیږل نو ده د هغې څخه هم دا ډول پوښتني وکړي ، هغې ورته وویل چي داؤد علیه السلام خو ښه سړی دی مګر خبره داده چي هغه د بیت المال څخه روزي خوري ، ددې په اورېدو سره د حضرت داؤد علیه السلام په زړه او دماغ کي د برق په ډول پلوشه راغله ، سمدستي يې د خپل پروردګار څخه دعاء وغوښتل چي اې الله ! ما د بیت المال څخه مستغني کړې او ماته یو داسي هنر راکړې چي په هغه سره زه خپل روزي وګټم ، الله تعالی دده دعاء قبوله کړه او د زغري جوړولو هنر يې ورکړی ، نقل سوي دي چي الله تعالی د هغه په لاسونو کي داسي خاصیت ایښی وو چي اوسپنه به يې لاس ته په رسېدو سره د موم په ډول نرمه سوه چي د هغه څخه به يې زغره جوړول او په څلور زره درهمه به يې خرڅول، بلکه ځیني علماء دا لیکلي چي حضرت داؤد علیه السلام به هره ورځ یوه زغره جوړول او په شپږ زره درهمه به يې خرڅول او بیا هغه شپږ زره درهمه به يې داسي مصرف کول چي دوه زره به يې پر خپل ځان او خپلي کورنۍ باندي خرڅ کول او څلور زره به يې د بني اسرائیلو په فقیرانو او مسکینانو باندي د صدقې په توګه ویشل .

په هر حال رسول الله صلی الله علیه وسلم د پورتني ارشاد په ذریعه دا وفرمایل چي کسب یعني خپل روزي په خپله ګټل د انبیاؤ علیهم السلام سنت دی لکه څرنګه چي د حضرت داؤد علیه السلام د عمل څخه معلومه سوه ځکه تاسو هم د هغوی طریقه اختیار کړئ ، دلته رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلي روزۍ په خپل لاس ګټلو سره ترغیب ورکړی دی ځکه چي په دې کي لوی لوی فائدې دي مثلاً کوم څوک چي په خپل کسب سره ګټه کوي هغه نه یوازي دا چي خپل ځان ته ګټه کوي بلکه نورو ته هم د هغه کسب په ذریعه ګټه رسوي ، او بیا دا چي یو سړی په خپل کسب کي د بوختیا په وجه د خرابو خبرو او خرابو کارو څخه خوندي وي او په خپل لاس سره د کار کولو په وجه د نفس ماتېدل هم کیږي ځکه هغه د خپل نفس د سرکښۍ څخه خوندي کیږي او بیا تر ټولو لویه ګټه داده چي داسي سړی د هیچا محتاج نه وي د چا په مخکي د سوال لاس نه غزوي د چا په مخکي نه عاجزه کیږي او هغه یو عزتمند ژوند تېروي .

د حلال مال خوړلو فضیلت او د حرام مال څخه د ساتني اثر

﴿۲۶۴۰﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالي

طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا وَإِنَّ اللهَ أَمَرَ الْمُؤْمِنِينَ بِمَا أَمَرَ بِهِ الْمُرْسَلِينَ فَقَالَ يَا

پاک دی او پاک شيان قبلوي او الله تعالی و مؤمنانو ته هم د هغه شي حکم ورکړی دی چي د هغه حکم يې و خپلو رسولانو ته هم ورکړی دی لکه چي فرمايلي يې دي : اې

أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ وَقَالَ

رسولانو ! پاک شيان خورئ او نيک کارونه کوئ، بېله شکه زه ستاسو په کړنو خبر يېم او فرمايلي يې دي :

تعالی {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ} ثُمَّ ذَكَرَ الرَّجُلَ

اې ايمان لرونکو ! پاک حلال خوراکونه کوئ کوم چي موږ و تاسو ته درکړي دي بيا نبي کريم ﷺ د يوه سړي ذکر وکړ

يُطِيلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ يَا رَبِّ يَا رَبِّ وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ

چي اوږد سفر وکړي تار په تار سر دوړو وهلی (ددې سفر څخه د حج سفر مراد دی)، او اوږده کړي خپل لاسونه آسمان ته وايي اې زما ربه! اې زما ربه! اې زما ربه! (دی په داسي حال کي لاسونه پورته کړي چي) خوراک دده حرام وي،

وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لِذَلِكَ .

رواه مسلم .

څښاک دده حرام وي ، اغوستل دده حرام وي او پرورش يې په حرامو سوی وي نو څرنگه به دده دعاء قبوله سي . مسلم .

تخريج: مسلم في الصحيح ۲\۷۰۳، رقم: ۶۵ - ۱۰۶۵.

تشريح: په دغه ارشاد کي د حلال مال گټلو فضيلت او د هغه د حکم په بيانولو سره دې ته اشاره سوې ده چي الله تعالی خپله پاک دی او حلال رزق ته د هغه په پاک ذات کي په دې وجه نسبت حاصل دی چي حلال رزق هم د حرمت د نجاست څخه پاک وي نو د عبوديت تقاضا داده

Maktaba Tul Ishaat.com

چي بنده حلال رزق وخوري چي د هغه پاک او حلال رزق په وجه هغه بنده ته د الله تعالی قرب حاصل سي.

ددئ څخه وروسته رسول الله ﷺ دا ښوولي دي چي د حرام مال څخه د پرهېز کولو اثر د دعاء نه قبلېدل دي نو دا خبره رسول الله ﷺ د يو مثال په ذريعه څرګنده کړې ده چي يو سړی د حج يا نورو عباداتو لپاره اوږد سفر کوي، هغه مقدسو ځايو ته په رسيدو کي پوره مشقت او کوښښ کوي چيري چي غوښتونکې دعاء د قبوليت دروازې ته رسيږي تر دې چي هغه مقاماتو ته ورسيږي چي هلته په رسېدو سره په هغه حال کي د سوال لاس پورته کوي چي د سفر د مشقت او اوږدوالي په وجه د هغه وېښتان بېر وي ټول بدن يې د ګرد او غبار څخه ډک وي او د عاجزۍ او زارۍ پوره کيفيت پر هغه خپور وي، څرګنده ده چي په داسي صورت کي د هغه دعاء په ظاهره قبلېدل پکار دي ځکه چي اول خو هغه يو عبادت کونکی بنده دی بيا هغه مسافر هم دی او د مسافر په باره کي دا معلومه سوې ده چي د هغه دعاء د قبوليت دروازې ته رسيږي، دوهم دا چي په هغه ځای کي دعاء غواړي چيري چي د هري غوښتونکي دعاء لحاظ ساتل کيږي غرض دا چي د دعاء قبلېدو ټولو آثار موجود دي مګر ددغه سړي دعاء نه قبليږي ځکه چي پوهېدونکي پوهيږي چي هغه د حرام مال څخه پرهيز نه کوي يعني د هغه ټول محنت او مشقت او د هغه ټول عبادت او حالت د هغه دعا ځکه مؤثر نه وي چي هغه حرام مال خوري حرامي جامې اغوندي او په ګېډه کي د حرامو څخه پرهيز نه کوي ددې څخه معلومه سوه چي د دعاء قبوليت پر حلال رزق باندي موقوف دی ځکه ويل سوي دي چي د دعاء دوې دروازې دي يو اكل حلال او دوهم صدق مقال يعني حلال خوړل او رښتيا ويل.

يوه پيشګوئي

﴿۲۶۴۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَا يُبَالِي الْمَرْءُ مَا أَخَذَ مِنْهُ أَمِنَ الْحَلَالِ أَمْ مِنَ الْحَرَامِ. رواه البخاري.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: پر خلکو باندي به يوه زمانه راسي چي په مال کي چي څه شي په لاس ورسي هغه به د هغه شی پروا نه لري چي دا حلال دي يا حرام (بخاري)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۲۹۶۱۱، رقم: ۲۰۵۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

تشریح: د قیامت په نژدې زمانه کې چې د عامې گمراهۍ په وجه چې ډیرې خرابۍ پیدا سي نو هلته به یوه لویه خرابي دا هم پیدا سي چې خلک به د حلال او حرام مال په مینځ کې تمیز کول پرېږدي چا ته چې کوم مال په لاس ورسي او په کومه ذریعه سره حاصل سي هغه دې د کتلو څخه پرته چې دا حلال دی که حرام هضم کوي، ددې څخه څوک انکار کولای سي چې دغه پیشگویي په نن زمانه کې په پوره توگه ثابت ده نن داسې څومره خلک دي چې د حلال او حرام مال په مینځ کې فرق کوي هر سړی د مال او زر په تر لاسه کولو کې اخته دی مال حرام دی که حلال ددې هیڅ پروا نه کوي بس یوازې لاس ته راتلل پکار دي، یو چا څومره ښه ویلي دي شعر:

هر چه آمد بدهان شان خورند وآنچه آمد بزبان شان گفتند

دا د دغه زمانې عام حالت دی چې هیڅ ډوله او هیڅ طبقه ځیني محفوظ نه ده.

د مشتبه شیانو څخه هم پرهېز کول پکار دي

﴿۲۶۴۲﴾: وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت نعمان بن بشير رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

الْحَلَالُ بَيِّنٌ وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ وَبَيْنَهُمَا مُشَبَّهَاتٌ لَا يَعْلَمُهُنَّ كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ

حلال څرگند دی او حرام څرگند دی مگر د دې دواړو په مینځ کې مشابه شیان سته چې د هغه څخه ډېر خلک ناخبره دي

فَمَنِ اتَّقَى الشُّبُهَاتِ اسْتَبْرَأَ لِدِينِهِ وَعِرْضِهِ وَمَنْ وَقَعَ فِي الشُّبُهَاتِ وَقَعَ فِي

چا چې ځان وساتی د شبهې د شیانو څخه هغه خپل دین پاک کړ او خپل عزت یې وساتی او څوک چې د شبهې په شیانو کې اخته سو هغه اخته سو په

الْحَرَامِ كَالرَّاعِي يَرْعَى حَوْلَ الْحِمَى يُوشِكُ أَنْ يَرْتَعَ فِيهِ أَلَا وَإِنَّ لِكُلِّ مَلِكٍ

حرامو کې د هغه کیفیت د شپانه په شان دی چې په بیابان باندې خپل حیوانان څروي او هر وخت د دې بېره وي چې یو درېنده حمله پرې ونه کړي خبردار! دا چې د هر باچا

حِمًى أَلَا وَإِنَّ حِمَى اللهِ مَحَارِمُهُ أَلَا وَإِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً إِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ

یو حد ټاکل سوی دی او د خدای جل جلاله حد حرام شیان دي پوه سئ! د انسان په بدن کې یوه د

غوښو ټوټه ده ترڅو چي هغه ښه وي

الْجَسَدُ كُلُّهُ وَإِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ أَلَا وَهِيَ الْقَلْبُ. متفق عليه

نو ټوله بدن يې ښه وي او کله چي خرابه سي نو ټول بدن خراب سي چي هغه زړه دی. (بخاري او مسلم)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ١\١٢٦، رقم: ٥٢، ومسلم ٣\١٢١٩، رقم: ١٠٧- ١٥٩١.

تشريح: حلال هم ښکاره دي: ددې مطلب دادی چي ځيني شيان خو هغه دي چي د هغو حلال کېدل ټولو ته معلوم دي، په نېک کلام کي خبري، هغه مباح شيان چي د هغو کول يا هغو ته کتل صحيح دي لکه واده کول، ګرځېدل وغيره، همدارنګه حرام هم ظاهر دی ددې مطلب دادی چي ځيني شيان داسي دي چي د هغو حرام کېدل د نص په ذريعه بالکل په واضح توګه معلوم سوي دي لکه شراب، خنزير، مردار حيوان، جاري وينه، زنا، سود، درواغ، غيبت، چغلي، هلک او انجلۍ ته په بد نظر کتل او داسي نور، داسي ځيني نور شيان هم سته چي د هغو د حرمت يا حلت په باره کي د دلائلو د تعارض په وجه واضح حکم نه معلوميږي بلکه دا اشتباه کيږي چي دا حرام دي که حلال، داسي څو مره شيان دي چي د هغو د حلال کېدو فيصله کول د هر سړي د توان خبره نه ده د هغه نتيجه دا کيږي چي د داسي شيانو حقيقت ډېر خلک نه پيژني البته هغه علماء چي د اجتهاد پر مرتبه فائز وي يا د هغوی علم ډېر وسيع او ژور وي د داسي شيانو په باره کي دواړو خواوو ته دليلونه د يوې خوا دليل خپل قوت اجتهاد او بصيرت فکر او نظر په ذريعه په راجح ګرځولو سره يو واضح فيصله کوي، په هر حال د مشتبه شي په باره کي د علماؤ درې قولونه دي۱: داسي شيان دي نه حلال ګڼل کيږي نه حرام او نه مباح، دا قول تر ټولو زيات صحيح دي او پر دې باندي عمل کول پکار دي، ددې مطلب دادی چي د داسي شيانو څخه پرهېز کول پکار دي، ۲: داسي شيان حرام ګڼل پکار دي، ۳: داسي شيان مباح ګڼل پکار دي، اوس دغه درې سره قولونه په ذهن کي په ابنبودو سره د مشتبه مثال داسي وګڼئ چي يو سړي د يوې ښځي سره نکاح وکړل، يو بله ښځه راغله او وه يې ويل چي ما دغه دواړو ته خپل تی ورکړی دی په دغه صورت کي هغه منکوحه ښځه د هغه سړي په حق کي مشتبه سوه ځکه چي يوې خوا ته خو د ښځي بيان دی چي ما دواړو ته تی ورکړی دی ځکه نو دغه دواړو رضاعي ورور او خور سول او ظاهره ده چي د رضاعي ورور او خور په مېنځ کي نکاح نه صحيح کيږي نو ددغه دليل تقاضا داده چي دغه نکاح ته قطعا ناجائز وويل سي مګر بلي خوا ته د نکاح د جائز کېدو دا دليل دی

Maktaba Tul Ishaat.com

چي دا يوازي د يوې ښځي خبره ده چي پر هغه باندي يو شرعي شاهد نه سته پر هغه به څرنګه يقين وکړل سي چي دا ښځه صحيح وايي ، کيداى سي چي دا محض د بد نيتۍ په وجه دا خبره کوي چي د هغوى دواړو په مينځ کي بېلوالي راولي په دغه صورت کي به وويل سي چي نکاح جائز او صحيح ده ، ددليلونو ددغه اختلاف په وجه لامحاله دا حکم دى چي دا يو مشتبه مسئله ده د هغه سړي په حق کي به غوره دا وي چي دغه ښځه په خپل نکاح کي نه وساتي ځکه چي د مشتبه شي څخه پرهېز کول غوره دى ، د مشتبه شي دوهم مثال دادى چي د يو سړي سره يو څه روپۍ دى چي په هغه کي ځيني جائز ګټه ده او ځيني ناجائز ګټه نو په دغه صورت کي ټولي روپۍ د هغه سړي په حق کي مشتبه دي نو ددغه روپو څخه پرهېز کول پکار دي .

په حديث شريف کي حرامو شيانو ته د ممنوع سره تشبيه ورکړل سوې ده لکه څرنګه چي يو حاکم يو خاص وابښه د نورو لپاره منع ګرځوي چي د هغه په نتيجه کي د خلکو لپاره ضروري وي چي هغوى خپل څاروي د هغه منع وښو څخه ليري وساتي .

همدارنګه کوم شيان چي شريعت حرام کړي دي هغه دخلکو لپاره ممنوع دي نو د هغو څخه پرهېز کول واجب او ضروري دي او په مشتبه شيانو کي اخته کېدلو ته يې د ممنوع وابښو په غاړه د عامو څارويو د څړولو سره تشبيه ورکړې ده چي څرنګه د شپانه لپاره ضروري ده چي هغه خپل څاروي د منع سوو وابښو څخه ليري وساتي چي د هغه څاروي په منع وابښو کي داخل نه سي او که هغه خپل څاروي د منع وابښو پر څنډه څروي نو بيا به ددې احتمال وي چي د هغه څاروي به منع سوي وابښو کي ننوځي چي د هغه په نتيجه کي به هغه مجرم وګرځول سي ، همدارنګه انسان ته پکار ده چي د مشتبه شيانو څخه ليري اوسي چي په حرامو شيانو کي اخته نه سي ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ د پورته ذکر سوي تشبيه په وضاحت کولو سره وفرمايل چي پوه سئ د هر پاچا يوه داسي ممنوع سيمه وي چي په هغه کي څاروي څرول جرم ګڼل کيږي همدارنګه د الله تعالى ممنوعه سيمه حرام شيان دي چي په هغو کي اخته کېدل د خلکو لپاره منع ګرځول سوي دي (نو څوک چي په دغه منع سوي سيمه کي داخليږي يعني په حرامو شيانو کي اخته کيږي نو) هغه به د عذاب وړ وګرځول سي او بيا په دغه حرامو شيانو کي هم ځيني شيان خو داسي دي چي د هغه د کونکي بخښنه نه کيږي لکه شرک او ځيني شيان داسي دي چي د الله تعالى پر رضا موقوف دي که وغواړي نو وه به يې بخښي او که وغواړي نو نه به يې بخښي البته په ريښتوني زړه سره توبه او استغفار سره هر شی بخښل کيږي .

حضرت شيخ علي متقي رحمة الله عليه دلته ددغه ترتيب : مباح، مکروه، حرام او کفر قائمولو سره

Maktaba Tul Ishaat.com

لیکلي دي چي کله بنده د خپل معاشي، تمدني او ټولنیز ژوند په ټولو اړخونو کي پر دومره ضرورت باندي اکتفاء کوي چي په هغه سره د هغه وجود او د هغه عزت پاته سي نو هغه په خپل دین کي د هري خطرې څخه سلامت وي مګر کله چي د ضرورت د حد څخه د تېرېدو کوښښ کوي نو په مکروهاتو کي داخل سي تر دې چي حرص او هواء يې د مکروهاتو څخه د محرماتو په حد کي داخل کړي چي د هغه نتیجه دا سي چي د هغه اول قدم کفر ته ورسوي نعوذ باالله من ذالک،

د حدیث په پای کي په انساني بدن کي د غوښي د هغه ټوټې اهمیت بیان سوی دی چي زړه ورته ویل کیږي نو فرمایي چي کله هغه ټوټه خرابه سي یعني د انکار، شک او کفر په وجه پر هغه تیاره خپره سي نو د هغه په نتیجه کي د ګناه او معصیت په وجه ټول بدن خراب سي نو هر عاقل او بالغ لپاره ضروري ده چي هغه خپل زړه ته متوجه وي او هغه په نفساني خواهشاتو کي د بوخت کېدو څخه منع کړي چي هغه په زیات مخته کېدو سره د مشتبه شیانو په حد کي داخل نه سي ځکه چي زړه کوم وخت نفساني خواهشاتو ته روان سي نو بیا د الله تعالی پناه پر هغه ټولو حدو باندي په ټوپ وهلو سره د ظلمت آخري حد ته رسیږي.

په پای کي په دې هم پوه سئ چي دغه حدیث دې ته اشاره کوي چي د بدن غوره والی او خیر پر حلال رزق باندي موقوف دی ځکه چي په حلاله غذا سره د زړه صفائي تر لاسه کیږي او د زړه په صفائي سره ټول بدن په ښه حالت کي وي په دې توګه چي د هغه د هر اندام څخه ښه اعمال کیږي او د ټولو اندامو خرابۍ ته میلان ختم سي.

اوس په دې خبره هم پوه سئ چي د علماء پر دې خبره اتفاق دی چي دغه حدیث د علم او وسائل د وسیع خزانې حامل دی او په کومو حدیثو کي چي د اسلام شرائعو او احکامو دار او مدار وي هغه درې دي یو خو: انما الاعمال بالنیات، دوهم من حسن اسلام المرء ترکه ما لا یعنیه، او دریم دغه حدیث دی: الحلال بین... الخ.

د زناکوونکې اجرت حرام دی

﴿۲۶۴۳﴾: وَعَنْ رَّافِعِ بْنِ خَدِيْجٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَمَنُ الْكَلْبِ خَبِيْثٌ وَمَهْرُ الْبَغِيِّ خَبِيْثٌ وَكَسْبُ الْحَجَّامِ خَبِيْثٌ. رواه مسلم

د حضرت رافع بن خدیج رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د سپي قیمت حرام دي د زنا کاره مزدوري حرامه ده او د حجام (رګ خلاصونکي) اجرت حرام دی. (مسلم).

Maktaba Tul Ishaat.com

تخريج: مسلم في الصحيح ٣\١١٩٩، رقم: ٤١- ١٥٦٧.

تشريح: تر ټولو مخکې په دې پوه سئ چې د خبيث لغوي معنی د ناپاک او خراب ده مګر په فقهي توګه د دې هيڅ معنی نه سته، مجتهدين امامان او فقهاء حسب موقع او محل د دې معنی کله د حرام، کله د ناپاک او کله د مکروه وغيره اخلي.

امام شافعي رحمة الله عليه په (ثمن الکلب خبيث) کې د خبيث معنی د حرام اخلي او وايي چې د حديث څخه دا ثابتيږي چې د سپي د قيمت په توګه تر لاسه کېدونکی مال حرام دی ځکه د سپي رانيول او پلورل هم ناجائز دي سپی که تربيت يافته وي او که غير تربيت يافته وي، د امام ابو حنيفة رحمة الله عليه امام محمد رحمة الله عليه او نورو امامانو قول دادی چې د هغه سپيانو، شرموښانو او درندګانو رانيول او پلورل جائز دي چې د هغو څخه ګټه تر لاسه کيږي که هغه تربيت يافته وي او که غير تربيت يافته، دغه حضرات د ثمن الکلب خبيث په باره کې دا ويلي دي چې لفظ د خبيث پر محض حرمت باندې دلالت نه کوي چې د هغه واضح مثال د دغه حديث الفاظ (وکسب الحجام خبيث) دی که چيرې د لفظ خبيث څخه يوازې حرام مراد وي نو د دې مطلب به دا وي چې د ويني کښونکي مزدوري حرامه ده حالانکه په اتفاق سره د ټولو علماؤ په نزد هغه حرام نه ده، نو په ثمن الکلب خبيث کې د خبيث لفظ معنی د ناپاک ده او د دغه جملې مطلب دادی چې د سپي قيمت مکروه دی حرام نه دی.

په (کسب الحجام خبيث) کې د خبيث معنی د ناخوښه ده ځکه چې خپله د رسول الله ﷺ په باره کې ثابت دي چې د ويني کښونکی مزدوري يې ورکړې ده که چيرې دغه مزدوري حرامه وای نو رسول الله ﷺ به خپله ولې ورکولای نو د دې جملې مطلب به دا وي چې وينه کښونکي د خپل مزدوري په توګه چې کوم مال تر لاسه کيږي هغه ناخوښه يعني مکروه تنزيهي دی.

د سپي د قيمت مسئله

﴿۲۶۴۴﴾: وَعَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ وَمَهْرِ الْبَغِيِّ وَحُلْوَانِ الْكَاهِنِ. متفق عليه

د حضرت ابو مسعود انصاري رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ د سپي قيمت څخه د زناکاره او د کاهن د اجرت څخه منعه فرمايلې ده. (بخاري او مسلم) (کاهن) د راتلونکي حالاتو بيانولو والا. (نجومي): يعني فالګرته ويل کيږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

تخريج: البخاري في الصحيح ۴\۴۲۶، رقم: ۲۲۳۷، ومسلم ۳\۱۱۹۸، رقم: ۳۹\۱۵۶۷.

د لغاتو حل: البغي: هو ما تاخذه الزانية على الزنا (زنا كاره ښځه چي د زنا په بدل كي روپۍ اخلي). حُلْوان: اى يعطاه على الكهانة. (هغه چي د كهانت په بدل كي وركول كيږي).

تشريح: د سپي د رانيول او پلورل او د هغه د قيمت په توګه تر لاسه كېدونكى مال په باره كي تفصيلي بحث د دې ځخه مخكي سوى دى، په دغه حديث كي د سپي د قيمت د منع كېدو چي كوم حكم بيان سوى دى په دې باره كي حنفي علماء وايي چي دا حكم هغه وخت وو كله چي رسول الله ﷺ د سپيانو د وژلو حكم كړى وو او رسول الله ﷺ د سپيانو ځخه د ګټي اخيستلو ځخه هم منع كړې وه مګر بيا وروسته رسول الله ﷺ د دې اجازه وركړه چي د سپيانو ځخه ګټه واخيستل سي تر دې چي دا هم منقول دي چي يو سړي د ښكار سپى وژلى وو نو رسول الله ﷺ هغه ته حكم وركړى وو چي د سپي مالک ته څلوېښت درهمه وركړي، همدارنګه يو بل سړي د رمې د ساتني سپى وژلى وو نو رسول الله ﷺ هغه ته حكم وركړى چي مالک ته د هغه سپي په بدله كي يو پسه وركړي.

علامه طيبي رحمة الله عليه فرمايي چي د جمهورو علماؤ مذهب دا دى چي نه خو د سپي رانيول او پلورل جائز دي او نه د سپي وژونكي ته دا ضروري ده چي هغه ته د سپي قيمت وركړي كه سپى تربيت يافته وي او كه غير تربيت يافته وي، همدارنګه كه د هغه سپي ساتل جائز وي او كه ناجائز مګر امام ابو حنيفة رحمة الله عليه د هغه سپي رانيول او پلورل جائز ګرځولي دي چي د هغه ځخه ته تر لاسه كول مقصد وي مثلا د كور ساتنه كوي، يا د رمې ساتنه كوي او داسي نور، امام ابو حنيفة رحمة الله عليه د داسي سپي د وژونكي لپاره دا ضروري ګرځولې ده چي د هغه سپي مالک ته د هغه قيمت وركړي.

د بد كاري ښځي د هغه مال حكم چي هغه يې د خپل بد كارۍ په سبب تر لاسه كوي په تېر حديث كي بيان سوى دى.

كاهن هغه سړي ته وايي چي د راتلونكي زمانې خبري ښيي همدارنګه د حلوان لغوي معنى كه څه هم د خواږه شي ده مګر په اصطلاحي توګه حلوان هغه مزدورۍ ته وايي چي كاهن يې د راتلونكو خبرو ښودلو په بدله كي تر لاسه كوي كه هغه د شيريني او طعام وغيره په صورت كي وي يا د جامو، نقدو وغيره په شكل كي وي، د كاهن مزدورۍ ته د حلوان ويلو وجه داده چي ځرنګه شيريني خوړلو سره طبيعت ته خوشحالي محسوس كيږي همدارنګه كاهن د خپل مزدورۍ اخيستلو سره ډېره خوشحالي محسوس كوي ځكه چي هغه بېله مزدورۍ او

Maktaba Tul Ishaat.com

محنت څخه مال اخلي .

دا خبره خو معلومه ده چي څرنګه کاهن ته تلل او د هغه څخه د راتلونکو خبرو حال معلومول حرام دي همدارنګه د پټو خبرو معلومولو لپاره نجومي وغيره ته تلل او د هغه پر بنوولو خبرو باندي يقين کول حرام دي په دې باره کي د هيڅ عالم احتلاف نه سته ، ددې تفصيلي بحث به انشاء الله تعالى په باب السحر کي راسي .

وينه خرڅول حرام دي

﴿۲۶۴۵﴾: وَعَنْ اَبِيْ جُحَيْفَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ ثَمَنِ

د حضرت ابو جحيفه رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم منعه فرمايلې ده د قيمت

الدَّمِ وَثَمَنِ الْكَلْبِ وَكَسْبِ الْبَغِيِّ وَلَعَنَ آكِلَ الرِّبَا وَمُوكِلَهُ وَالْوَاشِمَةَ وَالْمُسْتَوْشِمَةَ وَالْمُصَوِّرَ . رواه البخاري

څخه د ويني د سپي د قيمت څخه د زناکاري ښځي د اجرت څخه او پر سود خور، پر بدن باندي د خالو وهونکي (که ځپله وي او که بل څوک وي) او پر عکسو جوړونکو باندي لعنت ويلی دی .(بخاري)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۴\ ۳۱۴، رقم: ۲۰۸۶،

تشريح: د ويني د قيمت څخه د منع کولو مطلب دادی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم د ويني د رانيولو او پلورلو څخه منع فرمايلې ده، وينه نجسه ده او د هغه رانيول او پلورل جائز نه دي او ظاهره ده چي د کوم شي رانيول او پلورل جائز نه وي نو د هغه قيمت هم ناجائز دی ، ځيني حضرات د ثمن الدم پر مزدوري محمول کړې دي په دغه صورت کي به د منع تعلق د مکروه تنزيهي سره وي ، د سپي قيمت او د بد کارۍ ښځي د مزدورۍ په باره کي په تېرو حديثو کي بيان سوی دی .

د خال وهلو صورت دادی چي د بدن پر يو اندام باندي يا پر ټول بدن باندي په ستن وهلو سره رانجه يا نيل وغيره لګوي چي په هغه سره د رانجو يا شين داغ لګيږي ، رسول الله صلى الله عليه وسلم پر خال وهونکي باندي لعنت ويلی دی ځکه چي دا د فاسقانو او غير مسلمانانو کار دی، او په دې طريقه سره د الله تعالى د ورکړل سوي بدن په اصل خلقت کي تغير او بد نمائي کيږي، که د يو مسلمان پر بدن باندي د خال وهلو داغ وي نو د هغه په باره کي په تعليق القرار کي ليکلي دي

Maktaba Tul Ishaat.com

چي هغه دي دغه داغ په يو تدبير سره ليري کړي او که د زخم پيدا کولو څخه پرته په يو تدبير سره هغه خرابېدل ممکن نه وي نو بيا دي يې پرېږدي او د هغه د خرابولو لپاره د زخم وغيره تکليف ورلو ضرورت نه سته البته پر دغه بد کار باندي پښيماني او توبه کول پکار دي د توبې څخه وروسته به ګناه کار نه وي.

رسول الله ﷺ پر مصور (عکس جوړونکي) باندي هم لعنت ويلی دی مګر د مصور څخه مراد د حيوان يا ساه لرونکي شيانو عکس جوړول مراد دی د ساه نه لرونکي شيانو مثلا درخته، غر او داسي نورو شيانو عکسونه جوړول او لګول صحيح دي.

خطابي رحمة الله عليه فرمايي چي د عکس دوه ډوله دي ۱: يو خو دادی چي پر کوم شي باندي عکس جوړېږي هغه شی د عکس يو ضمني شی وي او عکس مقصود بالذات وي مثلا کله چي عکس واخيستل سي يا پر کاغذ باندي جوړ کړل سي نو د هغه عکس د کاغذ حيثيت محض ضمني وي د اصل مقصد تعلق د عکس سره وي، دوهم ډول دادی چي پر کوم شي باندي عکس جوړ سوی وي هغه شی مقصد بالذات وي او عکس د هغه شي يو ضمني وصف وي مثلا پر لوښو، ديوالو، چتونو، غاليو او داسي نورو شيانو باندي جوړ سوي عکسونه، نو د دوهم ډول عکس رانيول او پلورل جائز دي مګر د دواړو ډولو جوړول ناجائز دي.

د حرام شيانو رانيول او پلورل هم حرام دي

﴿۲۶۴۶﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ عَامَ الْفَتْحِ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه د فتحي په کال چي وو هغه ﷺ په مکه کي دا واورېدل چي ويل يې:

وَهُوَ بِمَكَّةَ إِنَّ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ حَرَّمَ بَيْعَ الْخَمْرِ وَالْمَيْتَةِ وَالْخِنْزِيرِ وَالْأَصْنَامِ

خداي جل جلاله او د هغه رسول ﷺ حرام کړي دي شراب خرڅول، د مردارو خرڅول، خنزير خرڅول او بتان خرڅول،

فَقِيلَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَرَأَيْتَ شُحُومَ الْمَيْتَةِ فَإِنَّهَا يُطْلَى بِهَا السُّفُنُ وَيُدْهَنُ بِهَا

يو چا پوښتنه وکړه يا رسول الله! د مردار د وازګي په باره کي څه حکم دي؟ هغه په کښتو

الْجُلُودُ وَيَسْتَصْبِحُ بِهَا النَّاسُ فَقَالَ لَا هُوَ حَرَامٌ ثُمَّ قَالَ عِنْدَ ذٰلِكَ قَاتَلَ

Maktaba Tul Ishaat.com

موړل كيږي په دې باندي پوستونه غوړ كيږي او خلک په دې سره اوربلوي نبي ﷺ فرمایل: ددې څخه فائده اخيستل جائز نه دي بلكه حرام دي تردې وروسته نبي ﷺ وفرمايل:

اللّٰهُ الْيَهُودَ إِنَّ اللّٰهَ لَمَّا حَرَّمَ شُحُومَهَا اجْمَلُوهُ ثُمَّ بَاعُوهُ فَأَكَلُوا ثَمَنَهُ. متفق عليه

خدای تعالی دي پر یهودو باندي لعنت وکړي هر کله چي خداي تعالي د خنزير وازګه حرامه کړه نو هغوی به وازګه ویلي کول او خرڅول به يې او د هغې ګټه به يې خوړل. (بخاري او مسلم)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۴\ ۴۲۴، رقم: ۲۲۳۶، ومسلم ۳\ ۱۲۰۷، رقم: ۷۱- ۱۵۸۱.

تشريح عطاء رحمة الله عليه ليكلي دي چي د شرابو په پورتني حكم كي باجه هم داخل ده او د هغه رانیول او پلورل هم جائز نه دي او كه چيري يو څوک د يو چا باجه تلف كړي نو پر هغه باندي ضمان يعني مالک ته د هغه قيمت ادا كول واجب نه دي.

د امام شافعي رحمة الله عليه مذهب دادی چي د مردار حيوان د وازګو رانيول او پلورل جائز نه دي مګر د هغه د وازګو څخه ګټه اخيستل يعني د هغه د خوړلو او پر بدن باندي د موړلو څخه پرته په بل كار كي استعمال جائز دی لكه پر كښتۍ يې وموږي يا څراغ په بل كړي يا داسي نورو كارونه.

همدارنګه د امام شافعي رحمة الله عليه د مذهب سره سم كوم غوړي يا زيتون چي د نجاستِ لوېدو په وجه نجس سوي وي نو هغه په څراغ كي بلول يا د هغه څخه صابون جوړول جائز دي، د جمهورو مذهب دادی چي څرنګه د مردار شي رانيول او پلورل ناجائز دي همدارنګه د هغو څخه ګټه اخيستل يعني هغه په يو شي كي استعمالول هم ناجائز دي ځكه چي د مردار شي حرمت په طريقه د عموم ثابت دي البته پخ سوی پوست ددې څخه مستثنی دی ځكه چي د هغه جواز په خاصه توګه ثابت دی.

امام ابوحنيفة رحمة الله عليه او د هغه پيروانو علماؤ د نجس تيلو د رانيولو او پلورلو اجازه وركړې ده البته د هغوی په نزد نجس تېل په څراغ كي بلول په خاصه توګه په مسجد كي مكروه دي.

د حديث په پای كي د یهوديانو يو خاص عيب ته اشاره سوې ده هغه دا چي كله الله تعالی د هغوی لپاره د مردار حيوان وازګه حرامه كړه نو هغوی دا حيله اختيار كړه چي هغوی به د وازګي په ويلي كولو سره خرڅول او بيا د هغه د قيمت په توګه تر لاسه سوی مال به يې په خپل استعمال كي راوستی او دا به يې ويل چي الله تعالی خو د وازګي خوړلو څخه منع فرمايلې ده او موږ خو وازګه نه خورو بلكه د هغه د قيمت په توګه تر لاسه سوی مال خورو، يعني هغوی جاهلانو د وازګي په ويلي كولو سره دا ګڼل چي موږ د وازګي حقيقت بدل كړی دی چي د ويلي

کېږو څخه وروسته هغه وازګه نه ده څکه نو په دغه صورت کي د الله تعالی د حکم خلاف ورزي نه کیږي، رسول الله ﷺ د هغوی ددغه چم په وجه هغوی د الله تعالی د لعنت مستحق وګرځول ، ددې څخه دا خبره معلومه سوه چي داسي حیله اختیارول چي د هغه په سبب د حرام ارتکاب کیږي بالکل غلط دی ، او دا حدیث ددې دلیل هم دی چي د داسي شي قیمت د حکم په اعتبار د هغه شي تابع دی که هغه شی حرام وي نو د هغه قیمت به هم حرام وي او کوم شی چي حلال وي نو د هغه قیمت به هم حلال وي .

د یهودیانو یوه بدي

﴿۲۶۴۷﴾: وَعَنْ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَاتَلَ اللهُ الْيَهُودَ حُرِّمَتْ عَلَيْهِمُ الشُّحُومُ فَجَمَلُوهَا فَبَاعُوهَا . متفق عليه

د حضرت عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : خدای تعالي دي یهودیان تباه کړي په هغو باندي مرداره وازګه حرامه کړل سوه نو هغوی وازګه ویلي کړه او خرڅول به ئې . (بخاري او مسلم)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۴\ ۴۱۴، رقم: ۲۲۲۳، ومسلم ۳\ ۱۲۰۷، رقم: ۷۲- ۱۵۸۲.

د پیشي درانیولو او پلورلو مسئله

﴿۲۶۴۸﴾: وَعَنْ جَابِرٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهي عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ وَالسِّنَّوْرِ . رواه مسلم .

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د سپي او د پیشي د قیمت څخه منع فرمایلې ده . (مسلم)

تخريج: مسلم في الصحيح: ۳\ ۱۱۹۹، رقم: ۴۲- ۱۵۶۹.

د لغاتو حل: السنور: حیوان الیف، من خیر ماکله الفار (پیشي).

تشريح: علامه طیبي رحمه الله فرمایي چي د پیشي روپۍ په استعمال کي راوستل د نهي تنزیهي په توګه دي ، تقریبا ټولو علماؤ د پیشي رانیول، پلورل، هبه کول او عاریتا ورکولو ته جائز ویلي دي البته حضرت ابوهریره رضي الله عنه او په تابعینو کي ځیني حضرات ددغه حدیث د ظاهري معنی سره سم ددې د جواز قائل نه وه .

Maktaba Tul Ishaat.com

دويني كښلو مزدوري حلاله ده

﴿۲۶۴۹﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ حَجَمَ أَبُو طَيْبَةَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَ لَهُ بِصَاعٍ مِنْ تَمْرٍ وَأَمَرَ أَهْلَهُ أَنْ يُخَفِّفُوا مِنْ خَرَاجِهِ. متفق عليه .

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي ابو طيبه رضي الله عنه د رسول الله ﷺ رګ وواهه نو نبي کريم ﷺ د هغه لپاره د يوه صاع (يوه پيمانه) د خرماؤ ورکولو حکم وکړ او مالکانو ته يې وويل: چي د هغه څخه کم اجرت اخلي (بخاري او مسلم)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۴\ ۳۲۴، رقم: ۲۱۰۲، ومسلم ۳\ ۱۲۰۴، رقم: ۶۲- ۱۵۷۷

تشريح: د عربو دا عادت وو چي هغوی به خپل غلامان او مينزي په مختلفو کسبو کي لګول او د هغوی سره به يې دا فيصله کول چي د مزدورۍ په توګه تر لاسه سوي مال کي به دومره برخه زموږ وي او د پاته تاسو حقدار ياست، نو ابوطيبه چي د بني بياضه غلام وو د رسول الله ﷺ خدمت وکړ نو رسول الله ﷺ ډېر ځيني خوشحاله سو او د هغه مالکانو ته يې وويل چي تاسو خلک د ابو طيبه په ګټي کي چي کومه برخه اخلئ په هغه کي يو څه کمي وکړئ.

دا حديث ددې خبري دليل دی چي د ويني کښلو کسب يو حلال کسب دی او د هغه مزدورۍ اخيستل جائز دي او ددغه حديث څخه يو څو نور مسائل هم ثابتيږي اول دا چي علاج کول او علاج کونکي ته مزدوري ورکول مباح دي، دوهم دا چي د مالک لپاره جائز دي چي هغه په خپل غلام باندي کار وکړي او د هغه د ګټي څخه خپل برخه وټاکي، دريم دا چي صاحب حق او صاحب مطالبه ته سفارش کول جائز دي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د اولاد ګټه خوړل جائز ده

﴿۲۶۵۰﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَطْيَبَ مَا

د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم شی چي تاسو خورئ نو

أَكَلْتُمْ مِنْ كَسْبِكُمْ وَإِنَّ أَوْلَادَكُمْ مِنْ كَسْبِكُمْ . رواه الترمذي والنسائي

په هغه ټولو کي افضله هغه دي چي په خپل کسب سره يې وګټئ او وې خورئ او ستاسو اولاد

Maktaba Tul Ishaat.com

هم ستا سو د کسب څخه شمیرل کیږي (یعني د اولاد ګټه هم خوړل و تاسو ته جائز دي). (ترمذي

وابن ماجة و في رواية ابي داؤد والدارمي ان اطيب ما اكل الرجل من كسبه وان ولده من كسبه

، نسائي ابن ماجه) او د ابو داؤد او دارمي په روایت کي دا الفاظ هم سته: بهتر د هغه چي خوري یې سړی له کسبه یې وي او اولاد دده له کسبه دی.

تخریج: الترمذي في السنن ۳\ ۶۳۹، رقم: ۱۳۵۸، والنسائي ۷\ ۲۴۰، رقم: ۴۴۶۹ وابن ماجه في السنن ۲\ ۷۶۸، رقم: ۲۲۹۰، وابوداود في السنن ۳\ ۸۰۰، رقم: ۳۵۲۸، والدارمي ۲\ ۳۲۱، رقم: ۲۵۳۷.

تشریح: اولاد ته ګټه په دې اعتبار ویل سوي دي چي هغوی د مور او پلار د نکاح په نتیجه کي پیدا کیږي، یعني د دغه ارشاد په ذریعه دې ته اشاره سوې ده که چیري مور او پلار د ګټي وړ نه وي نو د هغوی لپاره د اولاد ګټه خوړل جائز دي مګر که چیري مور او پلار په خپل لاس سره د خپل رزق لاره خپل لټولای سي نو بیا د هغوی لپاره دا جائز نه ده چي پر خپل اولاد باندي بار جوړ سي البته د اولاد ګټه خوړل جائز دي، د حنفي علماؤ دا قول دی.

علامه طیبي رحمة الله علیه فرمایي که چیري مور او پلار محتاج وي نو د هغوی د ژوند د اړتیاوو برابرول پر زامنو باندي واجب دي مګر د امام شافعي رحمة الله علیه په مذهب کي د دغه وجوب شرط دادی چي هغوی د ګټي څخه معذور وي او د نورو علماؤ په نزد دا شرط نه سته.

د حرام مال حکم

﴿۲۶۵۱﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

قَالَ لَايَكْسِبُ عَبْدٌ مَالَ حَرَامٍ فَيتصدق مِنْهُ فَيُقْبَلَ مِنْهُ لا ينفق منه

کوم بنده چي حرام وګټي او صدقه یې کړي او هغه دده څخه قبوله کړل سي (هغه هیڅ کله نه قبلیږي) او هغه حرام مال څخه چي څوک خپل ځان یا اولاد باندي څه خرڅ کړي

فيبارك له فيه وَلَا يَتْرُكُه خَلْفَ ظَهْرِهِ إِلَّا كَانَ زَادَهُ إِلَى النَّارِ إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ

Maktaba Tul Ishaat.com

وروسته پرېږدي د هغه دپاره هغه د دوږخ توښه ده خداي تعالي

لَا يَمْحُو السَّيِّئَ بِالسَّيِّئِ وَلَكِنْ يَمْحُو السَّيِّئَ بِالْحَسَنِ إِنَّ الْخَبِيثَ لَا يَمْحُو الْخَبِيثَ. رواه احمد وكذا في شرح السنة.

بد په بد نه ليري کوي (ګناهونه حرام مال سره نه ليري کوي) بلکه بدي په نيکي سره ليري کوي (يعني په پاک مال سره ګناهونه ليري کوي) ناپاک مال ناپاکي نه ليري کوي. (احمد شرح السنة).

تخريج: احمد في المسند ۱\۳۸۷، شرح السنة ۸\۱۰، رقم: ۲۰۳۰.

تشريح: د مال او زر هوس انسان څومره ړوندوي چي هغه ددغه يو څو ورځي دنيا د جائز او ناجائز راحت له کبله د عافيت هيڅکله نه ختمېدونکی ژوند تباه کوي، هغه ددې فکر نه کوي چي د کوم مال او زر له کبله هغه خپل ژوند د عزت او آبرو په لوی نيلام ګاه کي دروي چي د هغه په نيتجه کي کله درواغ وايي کله مکر او چم څخه کار اخلي کله د نورو حق غصب کوي او کله د غريبانو ويني څښي تر دې چي د خپل دين او ايمان سودا کوي، خپل عزت د لاسه ورکوي او د انساني شرف تر ټول حد تېری کوي په پای کي د ټولو ذرائعو او حرامو طريقو سره ګټلی هغه مال او زر خپل د ګټونکي لپاره د مرګ څخه وروسته يو ه داسي توښه ذريعه جوړه سي چي هغه د جهنم اور ته ورسوي ځکه چي اول خو په حرامو سره د ګټلو او بيا د هغه ګټي څخه د فائدې اخيستلو ګناه پر هغه وي.

ددې څخه پرته د مرګ څخه وروسته چي کوم حرام مال او زر پاته سي هغه د يو بل پسې د وارثانو ملکيت سي چي د هغه څخه د ګټي اخيستلو په وجه هغوی ټول په ګناه او معصيت کي اخته وي او د هغه پای د هغه حرام مال په ذريعه تر قيامته پوري د صادرېدونکو ګناهونو تورو الی د هغه په عمل نامه کي داغداره کيږي.

ان الله لا يمحو السيئ ...الخ: دغه جمله مستانفه يعني يو ه بېله جمله ده چي په منزله د تعليل عدم قبول يعني د حرام مال د صدقې د نه قبلېدو د علت بيانولو لپاره استعمال سوې ده، ددغه جملې مطلب دادی چي د حرام مال څخه صدقه ورکول د ثواب ذريعه خو څه بلکه دا خپله يو ه ګناه ده او الله تعالی خراب اعمال د خرابو په ذريعه نه ليري کوي يعني که څوک غواړي چي خپل حرام مال څخه د الله تعالی په نامه په صدقه ورکولو سره په خپلو ګناهو کي د تخفيف سامان برابر کړي نو دا ناممکنه ده ځکه چي د حرام مال څخه صدقه ورکول خپله ګناه ده بلکه

Maktaba Tul Ishaat.com

ځيني علماء داسي وايي كه د حرام څخه صدقه او خيرات وركړي او بيا پر هغه باندي د ثواب اميد ولري نو هغه د كفر حد ته رسيږي او كه يو فقير او مسكين ته دا معلومه سي چي هغه ته صدقه وركونكى چي كوم مال وركوي هغه حرام مال دى او دده سربېره هغه د صدقه وركونكى لپاره دعاء كوي نو هغه هم د كفر حد ته رسيږي .

ولكن يمحو السيئ بالحسن : ددغه جملې تعلق هم د مخكنۍ جملې سره دى، مطلب دادى چي په گناهونو كي تخفيف يا د گناهونو بخښنه د نيكو او ښو اعمالو په ذريعه كيږي مثلاً د حلال مال څخه د الله تعالى په لاره كي مصرف كول هغه ته به د هغه ثواب هم تر لاسه كيږي او د هغه گناهونه به هم ختميږي ، لكه چي په دغه خبره سره دغه آيت كريمه ته اشاره ده : ان الحسنات يذهبن السيئات، بېله شكه نيكى بدى ختموي .

او دغه ټولي جملې په اصل كي د حديث د آخري عبارت (ان الخبيث) د تمهيد او مقدمې په توگه دي .

پر حرام مال خوړلو باندي وعيد

﴿٢٦٥٢﴾:وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يَدْخُلُ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ولاړه به نسي

الْجَنَّةَ لَحْمٌ نَبَتَ مِنَ السُّحْتِ وَكُلُّ لَحْمٍ نَبَتَ مِنَ السُّحتِ كَانَتِ النَّارُ أَوْلَى بِهِ

رواه أحمد والدارمي والبيهقي في شعب الإيمان

جنت ته هغه غوښه چي په حرامو سره پالل سوي وي او كومي غوښي چي په حرام مال سره پالل سوي وي هغه غوښه د دوږخ مستحقه ده .(احمد دارمي بيهقي په شعب الايمان كي) .

تخريج: احمد في المسند ٣\٣٢١، والدارمي ٢\٤٠٩، رقم: ٢٧٧٦، والبيهقي في شعب الايمان ٥\٥٦، رقم: ٥٧٦١.

تشريح: په حرام مال وده كونكى بدن په دوږخ كي داخليږي، دده څخه يا خو دا مراد دى چي داسي سړى په شروع كي د خلاصون تر لاسه كونكو خلكو سره به جنت ته نه داخليږي بلكه هغه چي څومره حرام مال خوړلى وي د هغه په اندازه سزا به خوري او بيا به په جنت كي داخل كړل سي، يا دا چي هغه سړى به د جنت په اعلى درجو كي داخل نه سي ، او يا دا مراد دى چي هغه خلك به په جنت كي نه داخليږي كوم چي د حرام مال په حرام گڼلو سره نه بلكه هغه حلال مال په

Maktaba Tul Ishaat.com

يقين كولو سره خوري ، يا دا چي ددغه مبارک ارشاد اصل مقصد د حرام مال خوړلو خرابي بيانول دي او ددې څخه مراد تهديد او سخت وعيد دی.
كوم څوک چي د حرام مال خوړلو څخه وروسته پرخپل دغه بد فعل باندي په پښيماني سره توبه وکړي يا الله تعالی هغه بېله توبې په خپل فضل او کرم سره و بخښي او هغه چي د کومو خلکو څخه په حرامه طريقه مال اخيستی وي هغوی راضي کړي يا هغه ته د يو چا شفاعت ترلاسه شي نو هغه سړی به د دغه وعيد څخه مستثنی وي .

د شكمنو شيانو څخه ځان وساتئ

﴿۲۶۵۳﴾: وَعَنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ حَفِظْتُ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت حسن بن علي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا خبره ياد کړې ده

وَسَلَّمَ دَعْ مَا يَرِيبُكَ إِلَى مَا لَا يَرِيبُكَ فَإِنَّ الصِّدْقَ طُمَأْنِينَةٌ وَإِنَّ الْكَذِبَ رِيبَةٌ . رواه احمد والترمذي والنسائي و روى الدارمي الفصل الاول .

كوم شی چي تا په شک کي اچوي هغه پرېږده او د هغه شی ولور ته متوجه سه چي تا په شک کي نه اچوي ځکه چي حق او صداقت د زړه د پاره اطمينان وربخښي .او باطل د شک او تردد موجب دي . (احمد ترمذي نسائي دارمي)

تخريج: احمد في المسند ۱\ ۲۰۰، والترمذي في السنن ۴\ ۵۷۶، رقم: ۲۵۱۸، والنسائي في ۸\ ۳۲۷، رقم: ۵۷۱۱، والدارمي ۲\ ۳۱۹، رقم: ۲۵۳۳.

تشريح: د ارشاد مطلب دادی چي په شبهاتو کي د لوېدو څخه ځان وساتئ او كوم شيان چي په شبهاتو کي اخته کونکي وي د هغو څخه ځان وساتئ د ځيني علماؤ په نزد دا مطلب دی چي د اقوالو او اعمالو د کوم شي د حلت او حرمت په باره کي چي ستا ضمير په شک کي وي نو د هغه په پرېښودو سره هغه شی اختيار کړه چي د هغه په باره کي ستا ضمير په شک کي نه وي ځکه چي د انسان ضمير غلطه رهنمائي نه کوي د يو شي په باره کي د ضمير په شک کي اخته کېدل د هغه شي د غلط او باطل کېدو علامه ده او د يو شي په باره کي د ضمير مطمئن کېدل د هغه شي د صحيح کېدو او حق کېدو علامه ده يعني د يو شي د صحيح کېدو او د هغه د حلال او حرام پيژندلو لپاره دا يوه قاعده ده مگر دا په ذهن کي کېښنول پکار دي چي دا خبره د هر چا لپاره حلاله نه وي بلکه دغه وصف يوازي د صالحينو بندګانو په نصيب وي چي د هغوی ذهن، فکر،

زړه او دماغ د تقوا او ايمان څخه جوړ وي.

د نيکۍ او بدۍ پيژندنه

﴿۲۶۵۴﴾: وَعَنْ وَابِصَةَ بْنِ مَعْبَدٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا

د حضرت وابصه بن معبد رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اې

وابصة جِئْتَ تَسْأَلُ عَنِ الْبِرِّ وَالْاِثْمِ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَجَمَعَ أَصابعه فضرب

وابصه ! ته و پوښتني کولو ته راغلي يې چي نيکي څه ده ؟ او ګناه څه ده ؟ ما عرض وکړ : بلې هو ! (په دې او رېدو سره) نبي کريم ﷺ خپلي ګوتي يو ځاي کړې او زما سينه يې په ووهل

صدره وقال اسْتَفْتِ نَفْسَكَ اسْتَفْتِ قَلْبَكَ ثَلَاثًا الْبِرُّ مَا اطْمَأَنَّتْ إِلَيْهِ قلبك

ويې فرمايل : د خپل نفس څخه پوښتنه وکړه د خپل زړه څخه پوښتنه وکړه درې واره يې دا الفاظ و فرمايل (بيا يې وفرمايل) نيکي داده چي د هغې سره ستا و نفس ته ارام (سکون قرار اطمينان) حاصل سي او ستا زړه ته اطمينان ورسي

وَالْإِثْمُ مَا حَاكَ فِي النَّفْسِ وَتَرَدَّدَ فِي الصَّدْرِ وَإِنْ أَفْتَاكَ النَّاسُ. رواه احمد والدارمي.

او ګناه هغه ده چي ستا په نفس کي خلل پيدا سي او ستا د زړه تردد (پرېشاني) پيدا سي که څه هم خلکو د هغې (د جواز) فتوی در کړې وي. (احمد دارمي)

تخريج: احمد في المسند ۴\۲۲۸. والدارمي ۲\۳۲۰، رقم: ۲۵۳۳.

تشريح: په دغه حديث شريف کي د نيکۍ او بدۍ او د ښه والي او بدوالي د پيژندو يو داسي واضحه علامه ښودل سوې ده چي هر صالح انسان يې په خپل هر قول او فعل سره جوړولای سي، پر کوم فعل او قول چي زړه مطمئن سي او زړه ته سکون محسوس سي نو پوهېدل پکار دي چي هغه قول يا عمل نيک او ښه دی او په کوم قول او عمل چي طبعيت کي شک او تردد محسوس سي نو پوهېدل پکار دي چي هغه قول يا فعل غلط او خراب دی.

د حديث خلاصه داده چي د هر قول او فعل په باره کي د خپل ضمير لارښوونه تر لاسه کړه د کوم شي سره چي رغبت پيدا کيږي او په زړه کي دا خلجان نه وي چي دا خراب دی نو پوه سه چي هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

نيكي ده او د كوم شي سره چي رغبت نه پيدا كيږي او په زړه كي تردد پيدا سي نو پوه سه چي هغه ګناه ده كه څه هم خلک د هغه شي په باره كي دا ونه وايي چي دا صحيح او ښه دی او يو مفتي د هغه د صحيح كېدو فتوا ورنه كړي نو د هغوی پر وينا عمل مه كوه مثلا د يو سړي په باره كي تا ته دا معلومه وي چي د هغه سره حلال مال هم سته او حرام مال هم او هغه سړی تا ته د خپل مال څخه يو څه دركول غواړي نو كه چيري ستا زړه پر دې مطمئن وي چي هغه تا ته كوم مال دركوي نو دا هغه مال دی كوم چي په حلاله طريقه ګټل سوی دی او ته يې واخلې او كه چيري ستا زړه مطمئن نه وي او تا ته دا ښره وي چي دا هغه مال نه وي كوم چي په حرامه طريقه ګټل سوی دی نو ته د هغه څخه هيڅ مه اخله كه څه هم هغه په خپله دا وايي چي ستا لپاره دغه مال اخستل جائز دي ځكه چي فتوا بېل شی دی او تقوا بېل شی دی پر تقوا باندي عمل كول پر فتوا باندي تر عمل كولو ډېر غوره دی .

د تېر حديث په تشريح كي دا خبره هم ښودل سوې ده چي د ضمير د صحيح لارښووني جوهر هر سړي ته په برخه نه وي اوس دلته هم پوه سئ چي په حديث كي د خپل زړه څخه د پوښتني كوم حكم سوی دی د هغه تعلق يوازي د صالحو خلكو سره دی چي د هغوی زړونه او نفساني خواهشات د چټلۍ څخه پاک وي او د تقوا او پرهېزګارۍ آخري حد ته رسيدلي وي ځكه چي د هغوی طبعيتونه او د هغوی زړونه يوازي ښېګڼي ته مائل وي او د بدۍ څخه بېزاره وي او خراب خلک په خپل نفساني خواهشاتو كي راګير وي او د نيكۍ او خير څخه يې بې اعتنائي اختيار كړې وي ، او ښكاره ده چي په دغه صورت كي هغوی ته د ضمير صحيح لارښوونه نه سي تر لاسه كيدای ، دا خبره هم په ذهن كي ساتل پكار دي چي د خپل زړه څخه د پوښتنه كولو دغه حكم په هغه صورت كي دی كله د يو شي په باره كي يو واضح شرعي فيصله نه وي كه چيري د يو شي په باره كي په قرآن كريم كي اختلاف وي نو واجب ده چي حديث ته رجوع وكړل سي حديث چي د كوم آيت مطابق فيصله وكړي په هغه آيت دي عمل وكړل سي كه چيري په حديثو كي هم تعارض وي نو بيا د علماؤ اقوالو ته رجوع كول واجب دي او كه د علماؤ په قولو كي هم اختلاف وي نو د دې څخه وروسته د خپل زړه لارښوونه تر لاسه كړه او په هغه اقوالو كي د هغه قول مطابق عمل وكړه كوم چي ستا زړه يې مني او پر هغه مطمئن سي .

په پای كي دا ښودل هم ضروري دي چي كله حضرت وابصه رضي الله عنه د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سو نو هغه د خپل حاضرېدو مقصد خپله بيان نه كړ بلكه دا نبوي معجزه وه چي رسول الله ﷺ د خپل مكاشفې له مخي د هغه د زړه خبره بيان كړه او رسول الله ﷺ د خپل ګوتو په پورته

Maktaba Tul Ishaat.com

كولو سره د هغه سينه ځكه ووهل چي د رسول الله ﷺ د مباركو لاسونو په وجه هغه ته د رسول الله ﷺ د كلام پوره پوهه تر لاسه سي ، دوهم د هغه زړه ته اشاره كول هم مقصد وو چي دلته زړه دی د هغه څخه پوښتنه وكړه .

د پوره پرهېزګارۍ درجه

﴿۲۶۵۵﴾: وَعَنْ عَطِيَّةَ السَّعْدِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَبْلُغُ الْعَبْدُ أَنْ يَكُونَ مِنَ الْمُتَّقِينَ حَتَّى يَدَعَ مَا لَا بَأْسَ بِهِ حَذَرًا لِمَا بِهِ الْبَأْسُ . رواه الترمذي وابن ماجة .

د حضرت عطيه سعدي رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : بنده تر هغه وخته پوري د پرهېزګارانو و درجې ته نسي رسېدلای تر څو چي هغه پرېنږدي هغه څه چي په هغه كي بدي نه وي لپاره ددې چي په دې طريقې سره د هغه شيانو څخه وساتل سي چي په هغه كي بدي ده . (ترمذي ابن ماجه)

تخريج: الترمذي في السنن ۴\ ۵۴۷، رقم: ۲۴۵۱، وابن ماجه في السنن ۲\ ۱۴۰۹، رقم: ۴۲۱۵.

تشريح: د شريعت له نګاه څخه متقي يعني پرهيزګار هغه څوک دی كوم چي خپل ځان د هغه شيانو څخه ليري وساتي چي د هغو اختيارول د الله تعالى د ناراضګۍ او د هغه د عذاب سبب وي، ځيني علماء وايي چي تقوا درې درجې لري: اول د شرک څخه پرهېز، ځكه چي كوم بنده د شرک څخه ځان وساتي نو هغه د دائمي عذاب څخه خلاصون تر لاسه كړي، په دغه آيت كريمه كي (الزمهم كلمة التقوى) او الله تعالى دغه مؤمنانو د پرهيزګارۍ پر خبره يعني پر توحيد باندي قائم وساتل، دوهم دا چي د هري ګناه څخه تر دې چي د كوچنيو ګناهو څخه هم پرهيز پكار دی ، د ځيني علماؤ په نزد د تقوا چي كومه مشهوره شرعي اصطلاح ده د هغه اطلاق پر دغه درجې باندي كيږي او په دغه آيت كريمه كي (ولو ان اهل القرى آمنوا واتقوا) كه چيري ددغه كليو خلكو ايمان راوړی وای او پرهيزګاران سوي وای ....الخ، هم دا درجه مراد ده، دريم په هر شي كي پوره احتياط كول تر دې چي د ځيني مباح شيانو څخه هم د احتياط په وجه ځان ساتل ، خپل زړه په غير الله كي نه لګول او د غير الله څخه خپل توجه ليري كول او الله تعالى ته متوجه كېدل ، لكه چي په دغه آيت كريمه كي (اتقوا الله حق تقاته) اې مؤمنانو ! د الله تعالى څخه و بيرېږئ لكه څرنګه چي د هغه څخه د بېرېدو حق دی، په پورتني حديث كي هم د تقوا دغه

كامله درجه مراد ده .

د حديث خلاصه داده چي هيڅ بنده تر هغه وخته پوري پوره متقي او پرهيزګار نه سي كيداى تر څو چي هغه د دغه بيري په وجه مباح شيان هم نه پرېږدي چي داسي نه دغه مباح شى د يو حرام يا مكروه يا مشتبه شي ته د رسيدو ذريعه جوړه سي مثلاً كه هغه واده نه وي كړى نو د شهوت په غلبه او حرام كار كي د اخته كېدو د بيري څخه دي په ماړه نس ډوډۍ نه خوري (ځكه چي كله نس ډک سي نو د شهوت غلبه هم زياته سي) همدارنګه خوشبويي وغيره دي نه لګوي او نه دي داسي مباح شي استعمالوي چي په هغه سره په جذباتو كي جوش پيدا كيږي، په هر حال د حرام، مكروه او مشتبه شيانو څخه د پرهيز وروسته د احتياط له مخي د مباح شيانو څخه هم پرهيز كول د پرهيزګارۍ كامله درجه ده ، حضرت عمر فاروق رضي الله عنه به فرمايل چي موږ په حرامو كي د اخته كېدو د بيري څخه د لس حلالو شيانو څخه نهه برخي پرې ايښى دى همدارنګه د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه په باره كي نقل سوي دي چي هغه به فرمايل موږ خلكو به په حرامو كي د اخته كېدو د بيري څخه د مباح شيانو څخه اويا برخي پرېښودلې .

د شرابو پر متعلقينو باندي لعنت

﴿۲۶۵۶﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ لَعَنَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْخَمْرِ عَشْرَةً

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله صلى الله عليه وسلم د شرابو په كاروبار كي په لسو كسانو لعنت ويلي دى

عَاصِرَهَا وَمُعْتَصِرَهَا وَشَارِبَهَا وَحَامِلَهَا وَالْمَحْمُولَةُ إِلَيْهِ وَسَاقِيَهَا وَبَائِعَهَا

۱- د شراب پر نيښتېرونكو ۲- د هغو دپاره چي نيښتېړل كيږي . ۳- په څيښونكو باندي ۴- په پورته كونكي باندي ۵- په هغه چا باندي چي و هغه ته شراب وړل كيږي او ورته پورته كيږي ۶- په ساقي (چښلو والاؤ) باندي ۷- په خرڅونكو باندي

وَآكِلَ ثَمَنِهَا وَالْمُشْتَرِي لَهَا وَالْمُشْتَرَاةُ لَهُ . رواه الترمذي وابن ماجة .

۸- د شرابو پر قيمت خوړونكو باندي ۹- په رانيونكو باندي ۱۰- او پر هغه چا باندي چي وهغه ته رانيول كيږي .(ترمذي ابن ماجه)

تخريج: الترمذي في السنن ۳\ ۵۸۹، رقم: ۱۲۹۵، وابن ماجه ۲\ ۱۱۲۲، رقم: ۳۳۸۱.

تشريح د نستېرونكي څخه مراد هغه سړى دى چي هغه د شراب جوړولو لپاره انګور نستېږي

Maktaba Tul Ishaat.com

که د ځان لپاره یې جوړوي او که د بل چا لپاره، په هر صورت هغه د لعنت مستحق دی ، د پلورنکي څخه مراد هغه سړی هم دی چي خپله د تجارت په توګه شراب پلوري او هغه سړی هم مراد دی چي د بل چا لپاره شراب پلوري او کوم څوک چي پر شراب جوړونکي باندي انګور پلوري او د هغه انګورو قیمت خوري نو هغه هم د دغه لعنت مستحق دی .

﴿۲۶۵۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَعَنَ اللّٰهُ الْخَمْرَ وَشَارِبَهَا وَسَاقِيَهَا وَبَائِعَهَا وَمُبْتَاعَهَا وَعَاصِرَهَا وَمُعْتَصِرَهَا وَحَامِلَهَا وَالْمَحْمُولَةَ إِلَيْهِ . رواه ابوداؤد وابن ماجة

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : خدای تعالی لعنت ویلی دی :۱- پر شرابو ۲- د هغه په څښونکو.۳- د هغه پر ساقي (څښونکي) ۴- د هغه پر خرڅونکي۵- د هغه پر رانیونکي ۶- د هغه پر جوړونکو ۷- او هغوی چي ور ته جوړیږي ۸- د هغه پر پور ته کونکو ۹- او پر هغه چا باندي چا ته چي پور ته کیږي او وړل کیږي .(ابوداؤد ابن ماجه)

تخریج: ابوداود في السنن ۴\ ۸۱، رقم: ۳۶۷۴، وابن ماجه في السنن ۲\ ۱۱۲۱، رقم: ۳۳۸۰.

تشریح: پر شرابو باندي الله تعالی ځکه لعنت ویلی دی چي شراب ام الخبائث یعني د ټولو خرابیو ریښه ده او دا احتمال هم دی چي دلته د شرابو څخه مراد هغه سړی وي کوم چي د شرابو ګټه خوري .

دویني کښلو مزدوري

﴿۲۶۵۸﴾: وَعَنْ مُحَيِّصَةَ أَنَّهُ اسْتَأْذَنَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي

د حضرت محیصه رضی الله عنه څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ څخه وینه کښونکي د اجرت

أُجْرَةِ الْحَجَّامِ فَنَهَاهُ فَلَمْ يَزَلْ يَسْتَأْذِنُهُ حَتَّى قَالَ أَعْلِفْهُ نَاضِحَكَ واطعمه وَرَقِيقَكَ. رواه مالك والترمذي وابوداؤد وابن ماجة .

اخیستلو اجازت طلب کړ (یعني پوښتنه یې وکړه چي د دې مزدوري اخیستل جائز ده) نبي کریم ﷺ هغه د دې څخه منعه کړي بیا یې د دویم وار لپاره اجازه وغوښتل تر دې پوري چي څو

Maktaba Tul Ishaat.com

واره يې پوښتنه وکړه نو نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : د دې مزدورۍ په خپل غلام يا په خپل اوښ وخوره . (مالک ترمذي ابو داؤد ابن ماجه)

تخريج: الامام مالک في الموطا ۲\ ۹۷۴، رقم: ۲۸، وابوداود ۳\ ۷۰۷، رقم: ۳۴۲۲، والترمذي في السنن ۳\ ۵۷۵، رقم: ۱۲۷۷، وابن ماجه في السنن ۲\ ۷۳۲، رقم: ۲۱۶۶.

د لغاتو حل: ناضِح: هو الجمل الذي يسقى به الماء (هغه اوښ چي اوبه په راکښل کيږي).

تشريح اکثرو صحابه کرامو به ډېر غلامان درلودل چي ځيني به يې د ويني کښلو پر کار لګول او بيا د هغوی ګټل سوی مال به يې په خپل استعمال کي راوستی ، يو صحابي حضرت محيصه ﷺ د رسول الله ﷺ څخه دا معلومول وغوښتل چي ايا د ويني کښلو مزدوري جائز ده که يا؟ او دا اجازه يې وغوښتل چي زما غلام د ويني کښلو مزدوري تر لاسه کوي د هغه څخه يو څه برخه زما ملکيت دی ځنګه؟ ايا زه هغه زما برخه استعمال کړم که ځنګه؟ رسول الله ﷺ د دې اجازه ور نه کړه، صحابه کرامو به د خپل ځينو غلامانو څخه د ويني کښلو د مزدورۍ څخه د خپل برخي په اخيستو سره خپل اړتياوي پوره کولې او هغه به يې خوښول، ځکه رسول الله ﷺ د دې اجازه ور نه کړه او محيصه ﷺ ته په دې باره کي ډېر مشکل محسوس سو او په دې اميد سره چي کيدای سي رسول الله ﷺ هغه ته اجازه ورکړې هغه په وار وار اجازه غوښتل نو رسول الله ﷺ هغه ته دومره اجازه ورکړه چي هغه دغه روپۍ د اوښانو په واښو او پر خپلو غلامانو او مينزو باندي مصرف کړي او همدارنګه رسول الله ﷺ يوې خوا ته خو اشاره وفرمايل چي د ويني کښلو څخه کومي روپۍ تر لاسه کيږئ هغه که څه هم جائز دي مګر د ويني کښلو ګټه دومره ده ځکه نو هغه د شريفانو لپاره استعمالول مکروه دي او د هغوی د شان خلاف کار دی ، او مينزي او غلامان د ازادو خلکو په مقابله کي دا شرف نه لري کوم چي د دغه کسب د سپکوالي خلاف وي ځکه د ويني کښلو روپۍ خوړل د هغوی د شان خلاف نه دي ، بلي خوا ته رسول الله ﷺ د دې په ذريعه د اولو العزمۍ او لوړ همتۍ ترغيب هم ورکړی دی چي شريفانو او باوقاره خلکو ته د خپل کسب او خپل لاس ګټي څخه خوړل پکار دي .

په هر حال د رسول الله ﷺ حضرت محيصه ﷺ ته اجازه نه ورکول د نهي تنزيهي په توګه دي ، د دې مطلب دا نه دی چي د ويني کښلو مزدوري حرامه ده که چيري دا حرامه وای نو رسول الله ﷺ به هغه د خپلو څارويو په واښو ، مينځو او غلامانو باندي د مصرف کولو اجازه هم نه ورکولای ځکه چي د بادار لپاره دا جائز نه ده چي هغه په خپلو حيوانانو ، مينځو او غلامانو باندي حرام مال وخوري، د حديث خلاصه داده چي د ويني کښلو ګټه خوړل مکروه تنزيهي ده .

Maktaba Tul Ishaat.com

د غزلو د مزدورۍ څخه منع

﴿۲۶۵۹﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ نَهٰي رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ وَكَسْبِ الزَّمَّارَةِ. رواه في شرح السنة.

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د سپي د قيمت څخه او د كسب د غزلچي د اجرت څخه منعه فرمايلي ده. (شرح السنة)

تخريج: شرح السنة ۸\ ۲۳، رقم: ۲۰۳۸.

د لغاتو حل: الزمارة: اى الزانية (زنا كوونكې).

تشريح: د ځينو علماؤ قول دی چي د زمارة څخه مراد هغه ښځه ده چي بدكاره وي همدارنګه د ځينو حضراتو وينا ده چي لفظ د زمارة مشتق دی د زمر څخه او ددې معنی ده د ستر ګو او ورزو په ذريعه اشاره كول او بدكاري ښځي خلك د خپل ستر ګو او ورزو په ښورولو سره په خپل جال كي راولي، ځكه په حديث شريف كي بدكاره ښځه په زمارة سره تعبير سوې ده.

د سندرې ويونكو درانيولو او پلورلو حكم

﴿۲۶۶۰﴾: وَعَنْ اَبِيْ اُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَبِيْعُوا

د حضرت ابو امامه رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: غزلچي مينزه مه خرڅوئ

الْقَيْنَاتِ وَلَا تَشْتَرُوْهُنَّ وَلَا تُعَلِّمُوْهُنَّ وَثَمَنُهُنَّ حَرَامٌ وَفِيْ مِثْلِ هٰذَا اُنْزِلَتْ

او مه يې اخلئ او نه مينزي ته غزلي ويل ښائي. ددې قيمت حرام دي او ددې په اړه دا ايت نازل سوي دي

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِيْ لَهْوَ الْحَدِيْثِ. رواه أحمد والترمذي وابن ماجه وقال الترمذي هذا حديث غريب وعلي بن يزيد الرواي يضعف في الحديث. وسنذكر حديث جابر: نهى عن أكل أهر في باب ما يحل أكله" إن شاء الله تعالى

و من الناس من يشتري لهو الحديث (او ځيني د خلكو څخه داسي دي چي د لوبو تو كو خبري را نيسي) (يعني غزلي او قصې) (احمد ترمذي ابن ماجه) او په ترمذي كي دا حديث غريب ګڼل

سوي دي . علي بن يزيد راوي ضعيف دي او د جابر ﷺ حديث به موږ ژر تر ژره انشاء الله په مايحل اكله كي بيان كړو .

تخريج: الامام احمد في المسند ۵\ ۲۶۴، والترمذي في السنن ۳\ ۵۷۹، رقم: ۱۲۸۲، وابن ماجه في السنن ۲ ۷۳۳، رقم: ۲۱۶۸.

تشريح ځيني علماء د حديث د ظاهري الفاظو سره سم وايي چي غزل ويونكي مينزي پلورل جائز نه دي، او پاته ټول علماء وايي چي د هغوی پلورل جائز دي، دغه حديث که څه هم ضعيف دی چي د هغه په وجه دا د يو مذهب دليل ګرځول مناسب نه دی مګر ددې سربېره د ځمنهن حرام تاويل دا کيږي چي ددغه حديث مطلب يوازي د هغو غزلو د مزدورۍ حرام کېدل دي يعني د هغوی په غزلو ويلو سره تر لاسه کېدونکی مال حرام دی لکه څرنګه چي پر شراب پلورنکي يا شراب جوړونكي باندي انګور پلورل حرام دي همدارنګه د غزل ويونكي مينزي هغه مزدوري چي هغوی ته د غزلو په وجه تر لاسه کيږي حرام مال دی چي هغه په يو حرامه ذريعه سره حاصليږي .

په آيت كريمه كي د لهو څخه مراد هغه غزلي او حرام آوازونه دي چي د الله تعالی د ذکر څخه سړی منع کوي او د ګناه او معصيت سبب جوړيږي، قصې، درواغ خبري، خرافات، پالتو د مسخرو خبري، موسيقي، او دا ډول نور ټول پالتو او لغو شيان هم په دغه حکم كي داخل دي .

ددغه آيت كريمه شان نزول دادی چي يو سړی چي نصرابن حارث نوميدی غزل ويونكي مينزي به يې ددې لپاره رانيولې چي د هغوی په ذريعه خلک د الله تعالی د لاري څخه ګمراه کړي ددغه کار په بدوالي كي دغه آيت كريمه نازل سو، ځيني علماء وايي چي نصرابن حارث د نجوميانو ليکل سوي يو څو کتابونه رانيولي وه چي د هغه د درواغو قصو په ويلو سره به يې قريشو ته اورولې او ويل به يې چي محمد ﷺ خو ستاسو په مخکي د عاد او ثمود د قوم قصې بيانوي او زه تاسو ته د رستم او اسفنديار او د پاچاهانو قصې اوروم نو الله تعالی ددغه آيت په ذريعه د هغه بدي بيان کړه .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث　(دريم فصل)

حلاله کته فرض ده

﴿۲۶۶۱﴾: عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

طَلَبُ كَسْبِ الْحَلَالِ فَرِيضَةٌ بَعْدَ الْفَرِيضَةِ " . رواه البيهقي في شعب الإيمان

د حضرت عبد الله بن مسعود ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د فرضو څخه وروسته د پاک رزق ګټل فرض ده . (يعني د هغو فرضو څخه وروسته چي خداى ﷻ مقرر کړي دي حلاله ګټه هم فرض ده) . (بيهقي)

تخريج : البيهقي في شعب الايمان ٦\٤٢٠، رقم: ٨٧٤١.

تشريح مطلب دادی چي د خپل ځان او خپل کورنۍ د ژوند د اړتياو د کفالت لپاره د خپل لاس په محنت سره ګټل فرض دي مګر الله تعالى چي کوم فرضونه ټاکلي دي لکه لمونځ، روژه او داسي نور نو اول د هغو درجه ده چي ددغه فرضونو څخه وروسته د حلالي روزۍ ګټل فرض دي.
په دې اړه فقهي مسئله داده چي ګټل پر هغه چا باندي فرض دي چي د هغه ځان او د هغه کورنۍ د ګټي لپاره محتاج وي ،
په حديث کي د کسب حلال يعني حلالي ګټي څخه مراد هغه روزي ده چي د هغه حلال کېدل يقيني وي ، يعني دلته د حلالي روزۍ اطلاق پر هغه مال باندي هم کيداى سي چي مشتبه وي ځکه چي په حديثو کي د مشتبه څخه د پرهيز کولو حکم محض د احتياط په توګه دى د فرض کېدو په توګه نه دى او دا خبره هم په ذهن کي راوستل پکار دي چي په دغه حديث کي حلالي روزۍ ګټلو ته فرض ويل سوي دي ددې مخاطب هر څوک بذاته نه دى ځکه چي داسي ډېر خلک دي چي د هغوى د ژوند داړتياو کفالت پر نورو واجب وي چي د هغه په وجه خپله هغه ته ګټل ضروري نه وي.

د قرآن کريم د ليکني مزدوري جائز ده

﴿٢٦٦٢﴾ : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ أُجْرَةِ كِتَابَةِ الْمُصْحَفِ فَقَالَ لاَ بَأْسَ إِنَّمَا هُمْ مُصَوِّرُوْنَ وَإِنَّهُمْ إِنَّمَا يَأْكُلُوْنَ مِنْ عَمَلِ أَيْدِيْهِمْ . رواه رزين

د حضرت ابن عباس ﷛ څخه روايت دى چي د هغه څخه د قرانکريم د ليکلو د مزدورۍ په اړه پوښتنه وسوه نو هغه ورته وويل په دې مزدورۍ کي څه پروا نسته ځکه چي دا خلک (کاتب نقاش) په خپل لاس سره ګټه خوري . (رزين)

تخريج : رواه رزين.

تشريح پوښتنه کونکي د قرآن کريم د ليکني مزدوري اخستل او د هغه خوړل يې يوه ليري

Maktaba Tul Ishaat.com

خبره ګټل ځکه د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه د دې حکم وپوښتی ، ابن عباس رضي الله عنه په جواب کي ورته وویل چي کاتب (لیکوال) خو پر کاغذ باندي د الفاظو نقش جوړوي یعني د هغوی کار خو یوازي کتابت او لیکل دي چي د هغه مزدوري تر لاسه کوي که هغوی د قرآن کریم لیکنه کوي او که د بل کتاب دا د هغوی کسب او هنر دی چي د هغوی لپاره د حلالي روزۍ ذریعه ده .

کوم کسب غوره دی؟

﴿۲۶۶۳﴾: وَعَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيْجٍ قَالَ قِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللهِ أَيُّ الْكَسْبِ أَطْيَبُ ؟ قَالَ عَمَلُ الرَّجُلِ بِيَدِهِ وَكُلُّ بَيْعٍ مَبْرُوْرٍ " . رواه أحمد

د حضرت رافع بن خدیج رضي الله عنه څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسوه چي کوم کسب بهتر دي نو نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل : د انسان د خپل لاس ګټه او هر جائز تجارت . (احمد)

تخريج: الامام احمد في المسند ۱۴\۱۴۱.

د شیدو د قیمت حکم

﴿۲۶۶۴﴾: وَعَنْ أَبِيْ بَكْرِ بْنِ أَبِيْ مَرْيَمَ قَالَ كَانَتْ لِمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِيْ كَرِبَ

د حضرت ابوبکر بن ابي مریم رضي الله عنه څخه روایت دئ چي د مقدام بن معدیکرب (صحابي) یوې

جَارِيَةٌ تَبِيْعُ اللَّبَنَ وَيَقْبِضُ الْمِقْدَامُ الثَّمَنَ فَقِيْلَ لَهُ سُبْحَانَ اللهِ أَتَبِيْعُ

مینزي به شیدې خرڅولې او مقدام به ور څخه د هغه قیمت اخیستي یوه ورځ مقدام ته وویل سوه سبحان الله ! مینزه شیدې خرڅوي

اللَّبَنَ وَتَقْبِضُ الثَّمَنَ فَقَالَ نَعَمْ وَمَا بَأْسٌ بِذٰلِكَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ

او ته یې قیمت ځیني اخلې.. مقدام ورته وویل چي هو ! په دې کي څه باک نسته ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَا يَنْفَعُ فِيْهِ إِلَّا الدِّيْنَارُ وَالدِّرْهَمُ. رواه احمد .

Maktaba Tul Ishaat.com

په خلکو کي به داسي زمانه راسي چي په هغه کي به د درهم او د دينار پرته بل به هيڅ شی فائده نه ورکوي. (احمد)

تخريج: الامام احمد في المسند ۴\۱۳۳.

تشريح لکه خلکو چي حضرت مقدام رضي الله عنه ته طعنه ورکړې وي چي ستا مينزه ستا د څارويو شېدې پلوري او ته د هغه شيدو ګټه خوري حالانکه د شېدو په باره کي غوره داده چي هغه پر فقيرانو او مسکينانو باندي د صدقې او خيرات په توګه وويشل سي يا خپلو قريبانو او دوستان ته ورکړل سي، شېدې پلورل او د هغه قيمت تر لاسه کول ستا د شان سره ورِ نه دی، ددې په جواب کي حضرت مقدام رضي الله عنه وويل چي په دې کي څه پروا نه سته ځکه چي دا يو داسي معامله نه ده چي په دې کي يو شرعي تاوان دی شېدې پلورل او د هغه ګټه خوړل حرام نه دي او نه مکروه دي او بيا زما دغه کار د حرص په وجه يا د مال او دولت په وجه نه دی بلکه زه د خپل ژوند د اړتياوو لپاره ددې محتاج يم، ددې څخه وروسته حضرت مقدام رضي الله عنه په راتلونکې زمانه کي مال او زر ته د خلکو د سخت ميلان په باره کي د رسول الله ﷺ دا پېشګويي بيان کړه چي يوه داسي زمانه به راسي چي په هغه کي به د خلکو ټوله توجه او د کوښښونو مرکز يوازي مال او زر جوړ سي خلک به د خپلو اړتياوو دائره پراخه کړي او د اسبابو کموالي او ګراني به يې په هر ډول پريشانيو کي اخته کړي. نقل سوي دي چي صحابه کرامو به خپل مينځ کي ويل چي د تجارت او محنت په ذريعه دومره مال او زر خامخا ګټئ چي په هغه سره د عزتمند ژوند ساتنه وکړل سي او په ياد ولرئ چي يو داسي زمانه هم راتلونکې ده چي په تاسو کي څوک محتاج او مفلس وي نو تر ټولو مخکي به خپل دين او ايمان وخوري.

د معاش ذريعه بېله سببه مه پرېږدئ

﴿۲۶۶۵﴾: وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ كُنْتُ أُجَهِّزُ إِلَى الشَّامِ أَوْ إِلَى مِصْرَ فَجَهَّزْتُ إِلَى

د حضرت نافع رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د شام او مصر ولور ته سامان لېږي وروسته مي د

الْعِرَاقِ فَأَتَيْتُ أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ عَائِشَةَ فَقُلْتُ لها يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ كنت اجهز

عراق لور ته د مال لېږلو اراده وکړه او د بي بي عائشې رضي الله عنها په خدمت کي د مشورې لپاره حاضر سوم عرض مي ورته وکړ چي اې د مؤمنانو مور! ما به مخکي د شام ولور ته مال لېږي

إِلَى الْعِرَاقِ فَقَالَتْ لاتفعل مَا لَكَ وَلِمَتْجَرِكَ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

او اوس مي اراده ده چي د عراق و خوا ته مال ولېږم هغې ورته وفرمايل : داسي مه کوه تا او تجارت ته څه پېښه ده ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا سبب الله لاحدكم رزقا من وجه فَلَا يَدَعْهُ حَتَّى يَتَغَيَّرَ لَهُ أَوْ يَتَنَكَّرَ لَهُ. رواه احمد وابن ماجة.

هر کله چي خدای ﷻ ستا د رزق چيري اسباب برابر کړي نو هغه مه پرېږده تر څو پوري چي په هغه کي بدلون را نسي يا وهغه ته نقصان و نه رسيږي .(احمد ابن ماجه)

تخريج: الامام احمد في المسند ٦\٢٤٦، وابن ماجه ٢\٧٢٧، رقم: ٢١٤٨.

تشريح: د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دادی چي د چا د رزق يو جائز ذريعه وي مثلا هغه د تجارت سامان يو ځای ته استوي چي د هغه په ګټه سره هغه ته رزق تر لاسه کيږي نو هغه دي بلا سبب نه پرېږدي مګر که چيري يو داسي شی پيښ سي چي د هغه په وجه د هغه ذريعې ختمول ضروري وي مثلا ګټه کول بند سي يا په اصل مال کي تاوان راسي نو په داسي صورت کي د هغه په پرېښودو کي څه پروا نه سته .

علامه طيبي رحمة الله عليه فرمايي چي په دغه حديث کي دې ته اشاره ده چي کوم څوک يو مباح شی تر لاسه کړي نو هغه ته پکار دي چي هغه د الله تعالی په نعمت ګڼلو سره پر هغه قائم اوسي او بېله يو قوي عذر څخه د هغه په پرېښودو سره د هغه غير طرف ته مائل نه سي .

د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه احتياط او تقوا

﴿٢٦٦٦﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ لِأَبِي بَكْرٍ غُلَامٌ يُخْرِجُ لَهُ الْخَرَاجَ فَكَانَ أَبُو

د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چي د حضرت ابو بکر رضي الله عنه يو غلام وو چي د خپلي ګټي

بَكْرٍ يَأْكُلُ مِنْ خَرَاجِهِ فَجَاءَ يَوْمًا بِشَيْءٍ فَأَكَلَ مِنْهُ أَبُو بَكْرٍ فَقَالَ لَهُ الْغُلَامُ

څخه به يې خپل مالک ته څه ورکوله او حضرت ابو بکر رضي الله عنه به هغه ګټه خوړله يوه ورځ هغه غلام يو شی راوړ او حضرت ابوبکر رضي الله عنه د هغه سره وخوړه غلام ورته عرض وکړ

أَتَدْرِي مَا هَذَا فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ وَمَا هُوَ قَالَ كُنْتُ تَكَهَّنْتُ لِإِنْسَانٍ فِي الْجَاهِلِيَّةِ

تاسو ته معلومه ده چي دا څه دي ؟ حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه ورڅخه پوښتنه وکړه چي څه شي

Maktaba Tul Ishaat.com

دي؟ نو غلام وویل: چې ما د جاهلیت په زمانه کې یوه سړي ته د غیب خبر ښودلی وو

وَمَا أُحْسِنُ الْكِهَانَةَ إِلَّا أَنِّي خَدَعْتُهُ فَلَقِيَنِي فَأَعْطَانِي بِذَلِكَ فَهَذَا الَّذِي أَكَلْتَ

حالانکه زه د هغه فن څخه خبر نه وم لیکن چم مې ور سره وکړ د هغه سړي زما سره ملاقات وسو او دا شي یې راکړ او دا هغه څه دي کوم چې یې تاسو خوړئ

مِنْهُ فَأَدْخَلَ أَبُو بَكْرٍ يَدَهُ فَقَاءَ كُلَّ شَيْءٍ فِي بَطْنِهِ. رواه البخاري.

بي بي عائشي رض وویل (په دې اوریدو سره) حضرت ابو بکر صدیق رضی الله عنه خپل حلق ته لاس د ننه کړ او هر څه چې یې په نس کې وه (خوړلي یې وه) بیر ته یې قی کړه. (بخاري)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ١٤٩١٧، رقم: ٣٨٤٢.

تشریح: دغه حدیث د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د دیني احتیاط او د هغه د تقوا واضح مثال دی چې هغه ته څرنګه معلومه سوه چې نس ته یې یو شی تللی دی چې په حرامه ذریعه سره تر لاسه سوی دی نو سمدستي یې په قی کولو سره هغه د باندي راوکښی بلکه هغه شی د کهانت او د هغه سره د چم کولو په وجه د سخت حرمت حامل وو ځکه هغه په قي کولو سره نه یوازي پر هغه شي اکتفاء وکړه بلکه د هر هغه شي را ایستل یې ضروري وګڼل کوم چې په نس کې د ننه وه ځکه چې هغه ته بیره وه چې د دغه شي یو جز به په نس کې د نورو شیانو سره ګډ نه سي.

د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د دغه فعل څخه امام شافعي رحمة الله علیه دا مسئله را ایستلې ده که یو څوک یو حرام شی وخوري او د هغه د حرمت د علم سربېره یې خوړلی وي یا په ناخبرۍ کې یې خوړلی وي او وروسته ورته معلومه سوې وي چې هغه شی حرام وو نو پر هغه لازم دي چې سمدستي په قی کولو سره هغه شی د نس څخه د باندي را وباسي.

امام غزالي رحمة الله علیه په منهاج العابدین کې لیکلي دي چې د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه دغه فعل د ورع یعني تقوا او پرهیزګارۍ څخه دی او هغه لیکلي دي چې د ورع حکم دا دی چې تاسو د یو چا څخه یو شی تر هغه وخته پوري مه اخلئ تر څو چې د هغه په باره کې پوره پلټنه ونه کړئ بیا د پلټني څخه وروسته دا یقین تر لاسه کړئ چې په هغه شي کې خو اشتباه نه سته که د هغه شي په باره کې پوره پلټنه او دا یقین حاصل نه سي نو هغه شی سمدستي بیرته ورکړئ.

Maktaba Tul Ishaat.com

د حرام مال پر خوړلو باندې وعید

﴿۲۶۶۷﴾: وَعَنْ اَبِيْ بَكْرٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ جَسَدٌ غُذِيَ بِالْحَرَامِ . رواه البيهقي في شعب الايمان

د حضرت ابو بکر رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل :کوم بدن چي په حرام مال سره روزنه کړي وي هغه به جنت ته نه داخلیږي.

تخريج: لم نجده في الشعب.

د حضرت عمر رضی اللہ عنہ تقوا او احتیاط

﴿۲۶۶۸﴾: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ أَنَّهُ قَالَ شَرِبَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ لَبَنًا وَأَعْجَبَهُ

د حضرت زید ابن اسلم رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي یو وار حضرت عمر بن خطاب رضی اللہ عنہ شیدې وڅښلې چي هغه ته ډیري ښه معلومي سوې،

وَقَالَ لِلَّذِيْ سَقَاهُ مِنْ أَيْنَ لَكَ هٰذَا اللَّبَنُ فَأَخْبَرَهُ أَنَّهُ وَرَدَ عَلَى مَاءٍ قَدْ سَمَّاهُ

نو هغه د هغه سړي څخه چي هغه شیدې یې په څښلې وې پوښتنه وکړه چي دا شیدې دې د کومه کړې ؟ نو هغه ورته وښودل چي هغه (یعني زه) د اوبو یوې چینې یا څاه ته تللی وم (د هغه چینې یا څاه نوم یې هم وښودی)

فَإِذَا نَعَمٌ مِنْ نَعَمِ الصَّدَقَةِ وَهُمْ يَسْقُوْنَ فَحَلَبُوْا لِيْ مِنْ أَلْبَانِهَا فَجَعَلْتُهُ فِيْ

نو هلته ما ولیدل چي د زکوۀ حیوانان اوبو څښلو ته راغلي وه او د هغه شپانه شیدې لوشلې او په خلکو یې څښلې نو هغه زما لپاره هم شیدې ولوشلې چي ما هغه په مشک کي واچولې او دا

سِقَائِيْ وَهُوَ هٰذَا فَأَدْخَلَ عُمَرُ يَدَهُ فَاسْتَقَاءَهُ . رواه البيهقي في شعب الإيمان

هغه شیدې دي، (د دې په اورېدو سره) حضرت عمر رضی اللہ عنہ په خپل ستوني کي لاس دننه کړ او قی یې وکړ او هغه شیدې یې د نس څخه را وایستلې (ځکه چي هغه د زکوۀ مال وو چي د هغوی لپاره جائز نه وو). بیهقي په شعب الایمان کي.

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۵\۶۰، رقم: ۵۷۷۱.

تشريح: حضرت سيد جمال الدين محدث رحمه الله عليه ليكلي دي چي دغه حديث د مشكوة شريف په اكثرو نسخو كي ذكر سوى نه دى موږ چي د مشكوة شريف په كومه نسخه كي د خپل استاذ څخه دغه حديثونه اوريدلي دي په هغو كي هم دغه حديث نه سته البته د هغه په حاشيه كي ليكل سوي دي ځكه نو مناسب ده چي دغه حديث د دغه باب څخه محذوف كړل سي.
په كومو نسخو كي چي دلته دغه حديث ذكر سوى نه دى په هغو كي اول حديث يعني د حضرت ابو بكر صديق رضي الله عنه د روايت څخه وروسته دغه عبارت: رواهما البيهقي كي ليكل سوى دى.

د حرام مال شيان پر عبادت اثر كوي

﴿۲۶۶۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ مَنِ اشْتَرَى ثَوْبًا بِعَشَرَةِ دَرَاهِمَ وَفِيهِ دِرْهَمٌ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دى څوك چي (مثلا) په لس درهمه سره كالي را نيسي او په هغه كي يو درهم

حَرَامٌ لَمْ يَقْبَلِ اللّٰهُ لَهُ صَلَاةً مَادَامَ عَلَيْهِ ثُمَّ أَدْخَلَ أُصْبُعَيْهِ فِي أُذُنَيْهِ قَالَ

د حرام مال وي نو خداي تعالى تر هغه وخته پوري د هغه كس لمونځ نه قبلوي تر څو پوري چي هغه كالي يې د بدن څخه نه وي كښلي د دې په ويلو سره ابن عمر خپل دواړې ګوتي په غوږو كي ننه ايستلې او وه يې ويل:

صُمَّتَا إِنْ لَمْ يَكُنِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعْتُهُ يَقُولُهُ. رواه احمد والبيهقي في شعب الايمان وقال اسناده ضعيف.

دا دواړه غوږونه دي كاڼه سي كه دا الفاظ ما د نبي كريم صلى الله عليه وسلم څخه نه وي اورېدلي. (احمد او بيهقي) په بيهقي كي راغلي چي دا حديث غريب دي.

تخريج: الامام احمد في المسند ۲\۹۸، والبيهقي في شعب الايمان ۵\۱۴۲، رقم: ۶۱۱۴.

تشريح: د حديث خلاصه داده كه د حرام مال لږ اندازه هم په بدن كي موجود وي نو د هغه څخه د عبادت نتيجه متاثره كيږي، دا خبره د مثال په توګه بيان سوې ده كه يو څوك يوه جامه په لس درهمه رانيسي او په هغه لسو درهمو كي يو درهم داسي وي چي هغه په حرامه ذريعه سره حاصل سوى وي نو هغه جامه تر څو چي پر بدن وي د هغه لمونځ نه قبليږي كه څه هم د هغه د ذمې څخه فرضيت ساقط كيږي مګر د هغه لمونځ به د دې وړ نه وي چي هغه په ثواب سره

Maktaba Tul Ishaat.com

ونازول سي لکه څرنګه چي يو سړی پر غصب سوي ملکه باندي لمونځ کوي نو که څه هم د هغه د ذمې څخه فرض ساقط کيږي مګر هغه ته د لمانځه پوره ثواب نه تر لاسه کيږي .

د روايت د آخري الفاظو مطلب دادی چي کومه خبره ما کړې ده هغه زما خبره نه ده بلکه د رسول الله ﷺ هغه ارشاد دی کوم چي ما په خپلو غوږو سره اوريدلی دی که ما دغه حديث په خپلو غوږو سره اورېدلی نه وای او زه غلطه خبره کوم نو الله تعالی دي وکړي چي زما دواړه غوږونه کاڼه سي .

==========

بَابُ الْمُسَاهَلَةِ فِي الْمُعَامَلَةِ

(په معاملاتو کي د نرمۍ بيان)

په راکړه ورکړه کي او د رانيولو او پلورلو په معاملو کي نرمي اختيارول د ټولنيز اړيکو د استحکام او په خپل مينځ کي د تعاون او همدردۍ له مخي ډېر ضروري دي ، په دغه باب کي د دغه موضوع سره اړوند حديثونه نقل کيږي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د نرمي کونکي لپاره د رسول الله ﷺ دعاء

﴿۲۶۷۰﴾: عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَحِمَ اللّٰهُ رَجُلًا سَمْحًا إِذَا بَاعَ وَإِذَا اشْتَرَى وَإِذَا اقْتَضَى . رواه البخاري .

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله جل جلاله دي پر هغه سړي رحم وکړي کوم چي نرمي کوي کله چي رانيول او خرڅول او غوښتنه کوي .(بخاري)

تخريج : البخاري في الصحيح (فتح الباري): ٦\ ٤٩٤، رقم: ٣٤٥١، ومسلم ٣\ ١١٩٤، رقم: ٢٦- ١٥٦٠.

تاسو د بل په معامله کي نرمي کوئ الله جل جلاله به ستاسو په معامله کي نرمي وکړي

﴿۲۶۷۱﴾: وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ رَجُلًا

د حضرت حذيفه رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : يو سړی وو

Maktaba Tul Ishaat.com

كَانَ فِيمَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ أَتَاهُ الْمَلَكُ لِيَقْبِضَ رُوحَهُ فَقِيلَ لَهُ هَلْ عَمِلْتَ مِنْ

ستاسو څخه په مخکنيو خلکو کي کوم وخت چي د مرګ ملکه هغه ته د روح د قبضولو لپاره راغله نو د هغه څخه يې پوښتنه وکړه چي ايا تا يو نيک کار کړي دي؟

خَيْرٍ قَالَ مَا أَعْلَمُ قِيلَ لَهُ انْظُرْ قَالَ مَا أَعْلَمُ شَيْئًا غَيْرَ أَنِّي كُنْتُ أُبَايِعُ النَّاسَ

نو هغه جواب ورکړ چي زما په ياد نه دي ملکي ورته وويل چي سوچ وکړه په ياد يې کړه نو هغه جواب ورکړ چي نور څه مي نه پياديږي خو دا خبره مي ياد ده چي په دنيا کي به مي د خلکو

فِي الدُّنْيَا وَأُجَازِيهِمْ فَأُنْظِرُ الْمُوسِرَ وَأَتَجَاوَزُ عَنِ الْمُعْسِرِ فَأَدْخَلَهُ اللهُ

سره په رانيولو او پلورلو کي د غوښتني په وخت کي مي ور سره احسان کوی يعني شتمن ته مي وخت ورکوي او اړ کس مي معافوي نو (د دې په برکت سره) جنت ته داخل کړل سو.

الْجَنَّةَ . متفق عليه وفي رواية لمسلم نحوه عن عقبة بن عامر وابي مسعود الانصاري فقال الله انا احق بذا منك تجاوزا عن عبدي .

(بخاري اومسلم) او د مسلم په يوه روايت کي راغلي دي چي خداي تعالي (د دغه بيان په اوږدو سره) وفرمايل: زه ستا څخه ډېر د معافولو حق لرم ملائکو! تاسو زما دا بنده معاف کړئ.

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ٦\ ٤٩٤، رقم: ٣٤٥١، ومسلم ٣\ ١١٩٤، رقم: ٢٦- ١٥٦٠.

تشريح: اتاه الملک: د دې څخه مراد دا دی چي خپله حضرت عزرائيل عليه السلام د هغه د روح قبض کولو ته راغلی وو يا دا چي د هغه ملائکو څخه يوه ملائکه راغلې وه کوم چي د حضرت عزرائيل عليه السلام مرستياليان او ماتحت دي، مګر اغلب خبره داده چي خپله حضرت عزرائيل عليه السلام به راغلی وي. ځکه د روح په قبض کولو کي صحيح خبره داده چي د روح قبض کولو کار حضرت عزرائيل عليه السلام سرته رسوي لکه څرنګه چي الله تعالی فرمايي:

قل يتوفکم ملک الموت الذي وکل بکم: ورته وو ايه چي تاسو ملک الموت حضرت عزرائيل عليه السلام وژنئ چي پر تاسو باندي د دغه کار لپاره ټاکل سوی دی.

کله چي حضرت عزرائيل عليه السلام روح قبض کړي نو کوم چي ښه روح وي هغه د رحمت ملائکي واخلي او کوم چي خراب روح وي نو هغه د عذاب د ملائکو په نګرانۍ کي راسي،

Maktaba Tul Ishaat.com

مگر دا خبره دي په ذهن کي وي چي ملک الموت که عزرائیل علیه السلام وي یا بله یوه ملائکه د روح قبض کولو یوازي یوه ظاهري ذریعه جوړیږي کنه نو په حقیقت کي خو روح قبض کونکی او د مرګ خپرونکی الله تعالی دی لکه څرنګه چي فرمایي: الله یتوفی الانفس حین موتها: هر نفس د هغه د مرګ پر وخت الله تعالی وژني.

فقیل له (نو د هغه څخه پوښتنه وسوه) په دې باره کي هم دوه احتماله دي یا خو د هغه څخه دغه پوښتنه الله تعالی خپله وکړه یا ملائکو ځیني وکړه او د پوښتنه کولو د وخت په اړه صحیح خبره داده چي د هغه سړي څخه دغه پوښتنه د روح قبض کولو څخه مخکي سوې وه لکه څرنګه چي د حدیث د لومړنیو الفاظو څخه فهمول کیږي مگر دا احتمال هم دی چي دغه سوال د روح قبض کولو څخه وروسته په قبر کي سوی وي لکه څرنګه چي د شیخ مظهر رحمة الله علیه قول دی، او علامه طیبي رحمة الله علیه یو احتمال دا هم بیان کړی دی چي په اصل کي دغه سوال په قیامت کي کیږي.

په هر حال د دغه حدیث څخه دا خبره معلومه سوه چي د مطالباتو په وصولی کي صاحب استطاعت ته مهلت ورکول او مفلس سړی معافول د ثواب کار دی.

په رانیولو او پلورلو کي ډېر قسمونه مه اخلئ

﴿۲۶۷۲﴾: وَعَنْ اَبِيْ قَتَادَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِيَّاكُمْ وَكَثْرَةَ الْحَلِفِ فِي الْبَيْعِ فَإِنَّهُ يُنَفِّقُ ثُمَّ يَمْحَقُ. رواه مسلم.

د حضرت ابو قتاده رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د اخیستلو او پلورلو په معاملاتو کي زیات قسمونه مه اخلي زیات قسمونه اخیستل رواج پیدا کوي او برکت ضائع کوي. (مسلم)

تخریج: مسلم في الصحیح ۳\۱۲۲۸، رقم: ۱۳۲- ۱۶۰۷.

تشریح: مطلب دادی که څه هم په تجارتي معاملاتو کي د زیاتو قسمونو په وجه په کاروبار کي پراخي راځي په دې توګه چي خلک پر قسم باندي په باور کولو سره زیات رانیولو ته مائل کیږي مگر زیات قسمونه په کاروبار کي خیر او برکت ختموي ځکه چي د چا زیات قسمونه اخستل عادت وي د هغه څخه د دروغو قسمونه هم صادریږي چي د هغه نتیجه دا سي چي یو خو په باطني توګه سره د هغه د تجارت څخه د خیر او برکت روح وځي دوهم دا چي د هغه اعتبار، باور او خلک د هغه سره په رانیولو او پلورل کي تامل کول شروع کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۲۶۷۳﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اَلْحَلِفُ مُنَفِّقَةٌ لِلسِّلْعَةِ مُمْحِقَةٌ لِلْبَرَكَةِ. متفق عليه.

د حضرت ابو هريره ﷺ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي چي په قسم سره سودا زر خرڅه سي خو برکت يې ځي. (بخاري او مسلم)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۴\۳۱۵، رقم: ۲۰۸۷، ومسلم ۳\۱۲۲۸، رقم ۱۳۱- ۱۶۰۶.

تشريح: د قسم څخه مراد د قسم زياتوب هم کېدای سي او د دروا غو قسم هم مراد کېدای سي، خلاصه داده که چيري يو څوک زيات قسمونه اخلي که څه هم هغه قسمونه رښتيا وي يا د دروا غو قسم اخلي نو د هغه په وجه په شروع کي د هغه په مال او اسبابو کي پراخي او زياتوب راځي مګر په پای کي دغه شی د هغه په مال او اسبابو کي د برکت ختمولو سبب جوړيږي، په دې توګه چي يا خو د هغه مال او اسباب ضائع سي يا هغه په داسي ځای کي مصرف سي چي د هغه څخه ګټه نه په دنيا کي تر لاسه سي او نه په آخرت کي د اجر او ثواب باعث وي.

د درواغو قسم اخيستونکي لپاره وعيد

﴿۲۶۷۴﴾: وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ

د حضرت ابوذر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: دري کسان دي چي د قيامت

اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ قَالَ أَبُو ذَرٍّ

په ورځ ورسره خدای تعالي خبري نه کوي نه به د هغوی لور ته ګوري او نه به هغوی د ګناهونو څخه پاک کړي او د هغوی لپاره دردناکه عذاب دي ابوذر ﷺ پوښتنه وکړه يا رسول الله ﷺ!

خَابُوا وَخَسِرُوا مَنْ هُمْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ الْمُسْبِلُ وَالْمَنَّانُ وَالْمُنَفِّقُ سِلْعَتَهُ بِالْحَلِفِ الْكَاذِبِ. رواه مسلم

هغه بدبخته او د نيکي څخه محرومه او زيان کاران ﷺول څوک دي دوی ؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: ۱- يو خو اوږدې پائڅې (يعني د بجلکو لاندي پر توګ اغوستونکي، ۲- احسان کونکي، ۳- هغه څوک چي په قسم خوړلو سره خپل مال خرڅوي. (مسلم).

Maktaba Tul Ishaat.com

تخریج: مسلم في الصحیح ۱۰۲/۱، رقم: ۱۷۱ و ۱۰۶.

د لغاتو حل: المُسبِل: ای ازاره عن کعبیه والمطول سروا له الی الارض کبرا واختیالا (هغه چي پایڅې یې تر بجلکو لاندي وي او یا اوږد پرتوګ جوړوي د تکبر له پاره).

تشریح: د پایڅو ځړونکي څخه مراد هغه سړی دی چي هغه د تکبر په وجه تر بجلکو لاندي **پرتوګ** زړوي، په دې کي هغه سړی هم داخل دی کوم چي تر بجلکو لاندي پوري قمیص اغوندي.

د احسان ښودونکي څخه مراد دادی چي د چا سره د ښه چلن په کولو سره مثلا یو چا ته د یو شي په ورکولو سره یا د یو چا سره د مرستي یو معامله کولو سره هغه پر ژبه راوړي، کوم څوک چي د چا سره د مرستي او همدردۍ یو معامله وکړي بیا پر هغه احسان اچوي نو هغه د ثواب څخه محروم کیږي.

په درواغو قسم اخیستلو سره د تجارت زیاتونکي څخه مراد هغه تجار دی چي د زیاتي ګټي تر لاسه کولو لپاهر یا د خپل تجارتي مال زیاتولو لپاره د دروا غو قسمونه اخلي، مثلا هغه یو شی په نیوي روپۍ رانیولی وي او د رانیونکي څخه د زیات قیمت تر لاسه کولو لپاره یا د هغه مالیت زیاتولو لپاره د دروا غو په قسم اخیستلو سره ووایي چي قسم په خدای د غه شی ما په سل روپۍ رانیولی دی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د امانت دار کاروباري فضیلت

﴿۲۶۷۵﴾: عَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلتَّاجِرُ

د حضرت ابوسعید ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: سوداګر

الصَّدُوْقُ الْأَمِيْنُ مَعَ النَّبِيِّيْنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَاءِ. رواه الترمذي والدارمي والدار قطني و رواه ابن ماجة عن ابن عمر وقال الترمذي هذا حديث غريب.

رښتیا ویونکی، امانت دار به د نبیانو شهیدانو او صدیقانو سره وي. (ترمذي دارمي دار قطني) ابن ماجه د ابن عمر ﷺ څخه روایت کړي چي ترمذي وویل دا حدیث غریب دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

تخريج: الترمذي في السنن ۳\۵۱۵، رقم: ۱۲۰۹، والدار قطني ۳\۷، رقم: ۱۸.

تشريح: د كاروباري څخه مراد هغه سړی دی چي تجاري كاروبار او اجاره داري كوي، او دا خبره هم په ذهن كي كښېنول پكار دي چي تر ټولو غوره كاروبار د كپړو تجارت دی او ددې څخه وروسته عطاري (عطر پلورل او جوړل).

د حديث شريف مطلب دادی چي كوم كاروباري سړي په رښتيا، ديانت داری او امانت په صفتو سره متصف وي نو د هغه ټول ژوند به د كماليه صفاتو څخه مزين وي او د هغه نتيجه به دا وي چي هغه به د حشر په ميدان كي د نبيانو، صديقينو او شهيدانو سره وي لكه څرنګه چي هلته د سختي پر وخت به د غه درې طبقې د الهي رحمت په سايه كي وي همدارنګه د غه سړی به هم د الله تعالی د رحمت په خاص پناه كي وي يا دا چي هغه ته به په جنت كي د هغوی د ملګرتيا شرف حاصل سي نو هغه ته به د انبياؤ ملګرتيا د هغوی د اطاعت او فرمانبرداری په وجه تر لاسه وي، د صديقينو سره د هغوی د خاص صفت يعني د صدق د موافقت په وجه به وي او د شهيدانو سره د ملګرتيا سعادت به هغه ته ځكه په برخه وي چي شهيدان به د هغه سړي د صدق او امانت شاهدي وركوي.

د تجارت سره د صدقې او خيرات حكم

﴿۲۶۷۶﴾: وَعَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي غَرَزَةَ قَالَ كُنَّا نُسَمَّى فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى

د حضرت قيس بن ابي غزوه رضي الله عنه څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ په زمانه كي به موږ خلكو

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السَّمَاسِرَةَ فَمَرَّ بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَمَّانَا

(تاجرانو) ته دلال ويل يوه ورځ نبي كريم ﷺ زموږ سره تير سو نو پر موږ يې داسي نوم

بِاسْمٍ هُوَ أَحْسَنُ مِنْهُ فَقَالَ يَا مَعْشَرَ التُّجَّارِ إِنَّ الْبَيْعَ يَحْضُرُهُ اللَّغْوُ

كښېښودي چي د مخكيني نوم څخه بهتره وو. نبي كريم ﷺ وفرمايل: اې د تاجرانو ډلی! په خرڅولو كي بې فائدې خبري او قسمونه پېښيږي

وَالْحَلْفُ فَشُوبُوهُ بِالصَّدَقَةِ. رواه ابوداؤد والترمذي والنسائي وابن ماجة.

تاسو د بيع سره خيرات يو ځاي كوئ (يعني صدقه خيرات وركوئ كوم چي د بې فائدې خبرو كفاره كيږي). (ابو داؤد ترمذي نسائي ابن ماجه)

Maktaba Tul Ishaat.com

تخریج: ابوداود في السنن ۳\ ۶۲۰، رقم: ۳۳۲۶، والترمذي ۳\ ۵۱۴، رقم: ۴، والنسائي ۷\ ۱۵، رقم: ۳۷۹۷، وابن ماجه في السنن ۲\ ۷۲۶، رقم: ۲۱۴۵.

د لغاتو حل: فشُوبوه: اى اخلطوا. (یو ځای کول)

تشریح: لفظ د سماسره په اصل کې د سمسار د جمع صیغه ده او ددغه لفظ معنی د دلال یا د یو شي د مالک ده، په مخکې زمانه کې به تجارت کونکو ته سمسار ویل کیدل بیا رسول الله ﷺ دغه خلکو ته تر دې غوره نوم یعني تجار چې د تاجر د جمع صیغه ده وضع کړل، ددغه نامه د غوره کېدو وجه داده چې الله تعالی په قرآن کریم کې د رانیولو او پلورلو کاروبار په مدحیه توګه سره د تجارت په لفظ ذکر کړی دی لکه چې د یو آیت دغه ټوټه ده: هل ادلكم على تجارة تنجيكم من عذاب اليم: ایا زه تاسو ته یو داسې تجارت وښیم چې تاسو ته د دردناک عذاب څخه خلاصون درکړي، په یو بل آیت کې دي: تجارة عن تراض: سوداګري په خپلو کې په خوښۍ سره، په یو بل آیت کې دي: تجارة لن تبور: تجارت کوئ په هلاکت کې مه لویږئ.

فشوبوه بالصدقة (تجارت د صدقې او خیرات سره یو ځای کوئ) ددې مطلب دادی چې په تجارتي ژوند کې په عامه توګه سره بې ګټې خبري او د درواغو او رښتیا قسمونه راځي او دغه دواړه شیان د الله تعالی د غضب او غصې باعث دي ځکه تاسو ددغه دواړو شیانو د کفارې په توګه خپل مال صدقه کوئ ځکه چې صدقه او خیرات د الله تعالی غضب او غصه لیرې کوي.

د تاجرانو لپاره وعید

﴿۲۶۷۷﴾: وَعَنْ عُبَيْدِ بْنِ رُفَاعَةَ عَنْ اَبِيْهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبید بن رفاعه رضی الله عنه د خپل پلار څخه او هغه د نبي کریم ﷺ څخه روایت کوي چې

قَالَ التُّجَّارُ يُحْشَرُوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فُجَّارًا إِلَّا مَنِ اتَّقَى وَبَرَّ وَصَدَقَ. رواه الترمذي وابن ماجة والدارمي و روى البيهقي في شعب الايمان عن البراء و قال الترمذي هذا حديث حسن صحيح.

رسول الله ﷺ وفرمایل: د تاجرانو حشر فاجرانو (دروغجنو او نافرمانو) خلکو سره وي خو (هغه تاجران نه) چا چې پرهېزګاري اختیار کړي وي نیکي یې وکړه او رښتیا یې

وویل. (ترمذي ابن ماجه دارمي بیهقي شعب الایمان) په شعب الایمان کي د براء څخه روایت کړي چي ترمذي کي راغلي چي دا حدیث حسن صحیح دي.

تخریج: الترمذي في السنن ۳\ ۵۱۵، رقم: ۱۲۱۰، وابن ماجه في السنن ۲\ ۷۲۶، رقم: ۲۱۴۵، والدارمي ۲\ ۳۲۲، رقم: ۲۵۳۸. لم نجده في الشعب.

وهذا الباب خال من الفصل الثالث

په دغه باب کي دریم فصل نه سته.

==========

بَابُ الْخِيَارِ (د خیار بیع بیان)

لفظ دخیار د اختیار څخه مشتق دی او معنی يې ده په دوو شیانو کي د یو بنه شي انتخابول، او د فقهي په اصطلاح کي د یو تجارتي معاملې فسخ کولو یا د هغه د باقي ساتلو هغه اختیار چي رانیونکي او تجارته حاصل وي.

په تجارتي معاملو کي د اختیار څو ډولونه دي چي د هغو تفصیلي احکام او فقهي اختلاف د فقهي په کتابو کي مذکور دي بیا هم دلته د هغه ډولونه او تعریفونه ذکر کول ضروري دي:

خیار شرط: په تجارتي معامله کي د فیصله کولو څخه وروسته تاجر یا رانیونکي دواړو د معاملې د ختمولو یا باقي ساتلو حق ته خیار شرط ویل کیږئ مثلا تجار یو شی خرڅ کړی او رانیونکي رانیوي مگر ددغه رانیولو او پلورلو څخه وروسته تجار را نیونکي دا وویل چي ما ته به یوه ورځ یا دوې ورځي او یا تر درو ورځو پوري دا اختیار وي چي بیع باقي وساتل سي یا ختم کړل سي، که په دغه موده کي بیع فسخ کړل سي او که ددغه وخت تر ختمېدو پوري بیع قائمه وي یا سکوت وکړي نو د وخت ختمېدو څخه وروسته به بیع پخه سي، دا خبره باید په ذهن کي وي چي د خیار شرط وخت د امام ابو حنیفة رحمة الله علیه په نزد تر درو ورځو پوري دی.

خیار عیب: د بیع کولو څخه وروسته په رانیول سوي شي کي د یو عیب معلومېدو وروسته د هغه شي د ساتلو یا بیرته ورکولو کوم اختیار چي رانیونکي ته حاصل وي هغه ته خیار عیب وایي مثلا تجار یو شی خرڅ کړي چي رانیونکي يې رانیسي اوس ددغه بیع څخه وروسته که رانیونکي ته معلومه سي چي ما کوم شی رانیولی دی په هغه کي دغه فلانی عیب دی نو هغه ته به اختیار وي که وغواړي هغه شي د ځان سره وساتي او که وغواړي نو پلورنکي ته يې بیرته

Maktaba Tul Ishaat.com

ورکړي او د هغه څخه خپل روپۍ تر لاسه کړي ، البته که چیري پلورنکي د هغه شي د پلورلو پر وخت رانیونکي ته دا ویلي وي چي په دغه شي کي یو عیب وي نو زه د هغه ذمه دار نه یم که ته یې اوس رانیسي او که یې نه رانیسي او ددې سربیره رانیونکي راضي سوی وي نو هر ډول عیب چي په رانیول سوي شي کي وي رانیونکي ته به د هغه د بېرته ورکولو اختیار نه وي.

خیار رویت: د یو شي د نه لېدلو په صورت د رانیولو څخه وروسته د هغه شي د ساتلو یا بیرته ورکولو چي کوم اختیار رانیونکي ته حاصل دی هغه ته خیار رؤیت ویل کیږي مثلا یو رانیونکي یو شی بېله لېدلو رانیسي نو دغه بیع به جائز وي مگر رانیونکي ته به دا اختیار حاصل وي چي هغه کله هغه شی ووینی چي د ځان سره یې وساتي او یا یې بیرته ورکړي.

خیار تعین : په څو شیانو کي د ځینو د ساتلو او د ځینو د بېرته ورکولو کوم اختیار چي رانیونکی ته حاصل وي هغه ته خیار تعین وایي، مثلا یو رانیونکي د یو تاجر څخه د کپړو یو څو تانه راوړي او په هغه کي د یوه د رانیولو خبره وکړي اوس هغه ته اختیار دی چي په هغه کي کوم یو تان خوښ کړي هغه واخلي او نور بېرته ورکړي.

ددغه ډولو څخه پرته په دغه باب کي د خیار یو بل ډول هم ذکر کیږي چي هغه ته خیار مجلس وایي ، ددې صورت دادی چي په یوه مجلس کي د تجار او رانیونکي په مینځ کي د رانیولو او پلورلو یو معامله کېدو څخه وروسته د هغه مجلس تر ختمېدو پوري تجار او رانیونکي دواړو ته دا اختیار حاصل دی چي په هغه کي هر یو معامله ختمولای سي ، د مجلس ختمېدو څخه وروسته دغه اختیار هیچا ته نه حاصلیږي، مگر د خیار په دغه ډول کي اختلاف دی د حضرت امام شافعي او ځیني نور علماء ددغه خیار قائل دي مگر امام ابوحنیفة او ځیني نور علماء ددې قائل نه دي ، دا حضرات وایي چي کله دبیع ایجاب او قبول وسي یعني معامله پوره سي نو اوس هیچا ته د هغه معاملې د فسخ کېدو اختیار نه سته او دا چي د معاملې پر وخت د خیار شرط فیصله سوې وي چي هغه ته خیار شرط وایي او د هغه وخت تر درو ورځو پوري دی تر درو ورځو وروسته د خیار شرط صورت هم ختمیږي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د خیار مجلس مسئله

﴿۲۶۷۸﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُتَبَايِعَانِ

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: اخيستونکي او پلورونکي

كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِالْخِيَارِ عَلَى صَاحِبِهِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا إِلَّا بَيْعَ الْخِيَارِ متفق

دواړو کي هر يو تر څو چي جلا سوي نه وي يو د بله سره اختيار لري (كه غواړي د را نيولو او خرڅولو معامله پاته وساتي خواه رد يې کړي يعني د هغه ځايه څخه د تللو وروسته خرڅول پوره کيږي او وروسته اختيار پاته نسي)خو د بيعي د اختيار څخه پرته چي په دې کي د جلا والي وروسته بيا هم اختيار پاته وي .(بخاري او مسلم)

عليه وفي رواية لمسلم إِذَا تَبَايَعَ الْمُتَبَايِعَانِ فَكُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِالْخِيَارِ مِنْ

او په مسلم کي دا الفاظ هم سته هر كله چي اخيستونکي او خرڅونکي د رانيولو او خرڅولو معامله وکړي نو په هغوی کي هر يو په خپله معامله کي اختيار لري

بَيْعِهِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا أَوْ يَكُونُ بَيْعُهُمَا عَنْ خِيَارٍ فاذا كان بَيْعُهُمَا عَنْ خِيَارٍ

تر څو پوري چي په هغوی کي يو د بله سره جلا نسي يا د هغوی بيعه (بيع الاخيار) نه وي په دې

فَقَدْ وَجَبَ وفي رواية الترمذي البيعان بالخيار مَالَمْ يَتَفَرَّقَا أَوْ يَخْتَارَا في

المتفق عليه او يقول احدهما لصاحبه اختر بدل او يختارا .

صورت کي اختيار واجب دي او ترمذي کي دي چي په دوی کي يو کس خپل ملګري ته دا ويلاي سي چي تا ته اختيار دي په ځاي کي د (يختارا) يعني دواړه اختيار لري .

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۴\۳۲۶، رقم: ۲۱۰۷، ومسلم ۳\ ۱۱۶۳، رقم: ۴۳-۱۵۳۱. والترمذي في السنن ۳\ ۵۴۷، رقم: ۱۲۴۵.

تشريح: د دغه حديث څخه په ظاهره د خيار مجلس جواز ثابتيږي مګر کوم حضرات چي د خيار مجلس قائل نه دي بلکه د بېلېدو څخه مراد د دواړو د تجارتي معاملې د خبرو پای ته رسيدو سره منقطع کېدل دي يعني تر څو پوري چي هغوی دواړه د هغه معاملې په اړه خبري کوي او ايجاب او قبول پوره سوی نه وي تر هغه وخته پوري په هغوی کي هر يوه ته دا اختيار وي كه هغوی غواړي نو معامله فسخ کړي او كه وغواړي نو باقي يې وساتي مګر كله چي ايجاب او قبول پوره سي يعني پلورنکی دا وواېي چي ما دغه شی پر تا باندي خرڅ کړ او رانيونکی

Maktaba Tul Ishaat.com

وو ایي چي ما دغه شی رانیوی نو اوس ددې څخه وروسته په هغوی کي یوه ته هم د معاملې د فسخ کولو اختیار نه سته ، دغه حضراتو د بېلېدو د معنی اخیستلو په اړه ددغه آیت کریمه څخه استدلال کړی دی : وان یتفرقا یغن الله کلا من سعته: که هغوی دواړه بېل سي نو الله تعالی به په خپل فضل سره په هغوی کي هر یو بې پروا کړي .

په دغه آیت کریمه کي د بېلېدو مطلب د مجلس څخه بېلېدل نه دي بلکه د ښځي او خاوند په مینځ کي د طلاق په ذریعه بېلوالی مراد دی .

﴿۲۶۷۹﴾: وَعَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت حکیم بن حزام رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل :

الْبَيِّعَانِ بِالْخِيَارِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا فَإِنْ صَدَقَا وَبَيَّنَا بُورِكَ لَهُمَا فِي بَيْعِهِمَا وَإِنْ كَتَمَا وَكَذَبَا مُحِقَتْ بَرَكَةُ بَيْعِهِمَا . متفق علیه

رانیونکي او خرڅونکي تر څو پوري چي یو دبله سره جلا نسي اختیار لري که دواړه خپل مینځ کي رښتیا وو ایي او د شی حقیقت څرګند کړي نو د هغوی په بیعي کي برکت اچول کیږي او که عیب پټ کړي او درواغ وو ایي نو په بیعه کي یې برکت نه پاته کیږي .(بخاري او مسلم).

تخریج: البخاري في الصحیح (فتح الباري): ۴\۳۰۹، رقم: ۲۰۷۹، ومسلم ۳\۱۱۶۴، رقم: ۴۷- ۱۵۳۲.

په رانیولو او پلورلو کي چم مه کوئ

﴿۲۶۸۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَجُلٌ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي أُخْدَعُ فِي الْبُيُوعِ فَقَالَ إِذَا بَايَعْتَ فَقُلْ لَا خِلَابَةَ فَكَانَ الرَّجُلُ يَقُولُهُ . متفق علیه

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چي یوه سړی نبي کریم ﷺ ته عرض وکړ په بیعي کي ما ته دوکه راکول کیږي رسول الله ﷺ وفرمایل : کله چي ته یو شی خرڅوې نو دا الفاظ وایه دوکه نسته (په دین کي) او هغه سړي به دا ویل .(بخاري او مسلم) .

تخریج: البخاري في الصحیح (فتح الباري): ۴\۳۳۷، رقم: ۲۱۱۷، ومسلم ۳\۱۱۶۵، رقم: ۴۸- ۱۵۳۳.

د لغاتو حل: خِلابة: ای غبن وخدیعة. (چم).

تشریح: فقل لا خلابة (ته وو ایه چي فریب او چم نه سته) ددغه قول په مطلب کي د علماؤ

Maktaba Tul Ishaat.com

مختلف قولونه دي چا دد يو مطلب بيان کړی او چا بل مطلب ، ددغه قولونو تفصيل په نورو شرحو کي مذکور دي دلته د اختصار په وجه يوازي هغه مطلب بيانيږي کوم چي د تورپشتي رحمة الله عليه پر قول مبني دی او علامه طيبي رحمة الله عليه هم خوښ کړی دی د تورپشتي رحمة الله عليه د قول سره سم ددې مطلب دادی چي رسول الله ﷺ هغه سړي ته حکم ورکړی وو چي کله ته د يو چا سره د رانيولو او پلورلو معامله کوې نو مخکي هغه خبر کړه چي ورور ه ! زه د رانيولو او پلورلو په معاملو زيات نه پوهېږم ته داسي شی مه خوښوه چي په هغه سره زه تاواني سم او زموږ په دين کي ددې هيڅ ځای نه سته چي يو څوک دي يو سړی په چم او فريب کي واچوي ځکه نو مهرباني وکړه دوکه او چم مه را سره کوه.

دا د هغه زمانې خبره ده کله چي په عامه توګه سره خلک ديندار، امانتدار او د پرهيزګارۍ خاوندان وه ، د الله تعالى د مخلوق سره د همدردۍ او خير جذبه زياته وه هر مسلمان به د بل مسلمان لپاره هغه څه خوښول کوم چي به يې د خپل ځان لپاره خوښول په خاصه توګه که چا به يو څوک خبر کړ چي زما سره داسي چلن مه کوه چي په هغه سره ما ته تاوان او تکليف رسيږي نو بيا به هغه ددې په خاصه توګه خيال کوی چي هغه ته تاوان ونه رسوم ځکه رسول الله ﷺ هغه ته ددغه خبري تعليم ورکړ که هغه په خپل باره کي داسي خبر ورکوي نو خلک به د هغه د خيرخواهۍ خامخا خيال ساتي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

په کاروبار کي د فريقينو رضامندي

﴿۲۶۸۱﴾: عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ

عمرو بن شعيب رضي الله عنه د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار ه څخه روايت کوئ چي رسول الله ﷺ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْبَيِّعَانِ بِالْخِيَارِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا إِلَّا أَنْ يَكُونَ صَفْقَةَ خِيَارٍ

وفرمايل: را نيونکي او خرڅونکي تر څو پوري چي جلا نسي دواړه اختيار لري که بيعه

وَلَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يُفَارِقَ صَاحِبَهُ خَشْيَةَ أَنْ يَسْتَقِيلَهُ . رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي.

Maktaba Tul Ishaat.com

اختياري وي او په دواړو كي يوه ته هم دا خبره جائز نه ده چي په معاملو كولو سره د هغه ځايه ئخه ولاړ سي په دې خيال چي د دويم سړی د بيعي د فسخه كولو اختيار پاته نسي .(ترمذي ابو داؤد نسائي)

تخريج: الترمذي في السنن ۳\۵۵۰، رقم: ۱۲۴۷، و ابوداود في السنن ۳\۷۳۶، رقم: ۳۴۵۶، والنسائي ۷\۲۵۱، رقم: ۴۴۸۳.

﴿۲۶۸۲﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَفْتَرِقَنَّ اثْنَانِ اِلَّا عَنْ تَرَاضٍ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه ئخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : رانيونكي او خرڅونكي دي تر هغه وخته پوري يو دبله نه جلاكيږي تر څو پوري چي دواړه په بيعي كي را ضي نسي .(ابوداؤد) .

تخريج: ابوداود في السنن ۳\۷۳۷، رقم: ۳۴۵۸.

تشريح: مطلب دادی چي دواړه رانيونكی او پلورنكی دي د يو تجارتي معاملې ئخه وروسته تر هغه وخته پوري د يو بل ئخه نه بېليږي تر څو چي د قيمت ادا كول او د رانيول سوي شی تر لاسه كول د دواړو تر منځ په رضا او رغبت ونه سي يا په عمل كي رانه سي، ځكه چي ددې ئخه پرته يو بل ته د تاوان رسيدو احتمال دی چي په شريعت كي منع دی ، يا ددې ئخه مراد دادی چي كله معامله و سي او دواړه كسان د هغه ځای ئخه د ولاړېدو اراده وكړي نو د دوهم كس ئخه دي دا پوښتنه وكړي چي ته راضي يې ، ددې ئخه وروسته كه هغه دوهم كس معامله فسخ كول غواړي نو فسخ دي يې كړي او كه هغه په معاملې سره راضي وي نو بيا دي سره بېل سي ، په دغه صورت كي دغه حديث د معنی په اعتبار د اول حديث موافق دی او دا خبره دي په ذهن كي وي چي دغه منع دنهي تنزيهي په توګه ده ځكه چي پر دې خبره د ټولو علماؤ اتفاق دی چي د يو بل د اجازې ئخه پرته بېلېدل جائز دي .

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د عقید بیع وروسته د فسخ اختیار

﴿۲۶۸۳﴾: عَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيَّرَ أَعْرَابِيًّا بَعْدَ الْبَيْعِ. رواه الترمذي وقال هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صحيح غَرِيبٌ.

د حضرت جابر رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ یوه صحرائي ته تر خرڅولو وروسته اختیار ورکړ. (ترمذي) او په ترمذي کي دا حدیث حسن صحیح غریب دي.

تخریج: سنن الترمذي ۳\۵۵۱، رقم: ۱۳۴۹.

=========

بَابُ الرِّبو (د سود بیان)

سود یو تهولنیز لعنت دی چي د هغه اقتصادي تاوانونو همېشه د غریبانو په وینو سره د سرمایه داری آبیاري (اوبه کول) کړې ده او د غریب د زېلي بدن څخه یې د سرمایه دار هوس ته غذا بخښلې ده، په دغه لعنت کي اخته کسانو ته الله تعالی داسي خبرداری ورکړی دی:

فَإِن لَّمْ تَفْعَلُواْ فَأْذَنُواْ بِحَرْبٍ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُولِهِ (البقرة)

ژباړه: که چیري تاسو پر دغه (د سود پرېښودو پر حکم) عمل نه کوئ نو د الله تعالی او د هغه د رسوله له طرفه د جګړې اعلان واورئ.

اسلام په تجارت او پور دواړو کي سود حرام کړی دی او داسي کول یې لویه ګناه ګرځولې ده، کوم مسلمان چي د سود د حرام کېدو قائل نه وي نو د اسلامي قانون دا فیصله ده چي هغه کافر دی. دغه لعنت ډېر پخوانی دی د اسلام څخه مخکي د جاهلیت په زمانه کي هم سود رواج وو د مکې په قریشو او د مدینې په یهودو کي هم سود عام رواج وو او په هغوی کي یوازي د شخصي اړتیاوو مثلا پور وغیره لپاره نه بلکه د تجارتي مقاصدو لپاره هم سود کیدی، همدارنګه د سود تاوان د همېشه څخه منل سوی دی او ددې کونکی هیڅکله د تاواني اثرانو څخه منکر نه دی البته یوه نوې خبره دا سوې ده چي د کله څخه د یورپ دلالان د دنیا پر اقتدار او تجارت باندي واکمن سوي دي هغوی د لویو سوداګرو او یهودیانو دغه خاص کاروبار ته

Maktaba Tul Ishaat.com

نوي نوي شكلونه او نوي نوي نومونه وركړي دي او ددې دائره يې دومره پراخه كړې ده چي هغه سود چي مخكي د انساني د ټولنيز ژوند يو عيب ګڼل كيدى نن د ټولني ، اقتصاد او تجارت د ملا تېر ګڼل كيږي او فكر لرونكو ته دا يقين سوى دى چي نن هيڅ يو تجارت يا صنعت يا يو بل ټولنيز نظام د سود څخه پرته پر مخ نه سي تللاى كه څه هم نن د يورپ څخه هغه خلك چي د تقليد محض او غصبيت څخه په لوړېدو سره په پراخ نظر د معاملاتو څارنه كوي او څوك چي د اقتصاد پراخ علم نه لري بلكه ددې پر عملي اړخونو ژور نظر هم لري په خپله د هغوى دا فيصله ده چي سود د ټولني او اقتصاد لپاره د ملا تېر نه دى بلكه يو داسي چينجى دى چي د ملا تېر ته ننوتلى دى او تر څو چي دا چينجى ونه كښل سي د دنيا په اقتصاد كي چي كوم اضطراب او پريشاني ده هغه نه ختميږي .

په دې كي شك نه سته چي نن په دنيا كي د سود كاروبار څومره پراخ سوى دى او ددنيا ددغه كونج څخه نيولې تر هغه كونج پوري په ټولو تجارتونو كي ددغه جال چي څومره فتنه خپره سوې ده د افرادو او اشخاصو څه حيثيت كه يوه پوره ډله يا طبقه بلكه يو پوره هيواد هم ددې څخه وتل غواړي نو هغه ته به ددې څخه پرته بل څه په لاس ور نه سي چي يا خو خپل تجارت د لاسه وركړي يا به تاوان زغمي ، دا وجه ده چي اوس عام مسلمان تجار بېل سو هغه ديندار او پرهيزګار مسلمان تاجر چي د هغه اعتقادي او عملي ژوند ډېر پاك او مثالي دى اوس هغوى هم دا سوچ پرې ايښى دى چي سود چي يو حرام شى دى او بدترينه سرمايه ده ددې څخه څرنګه خلاصون تر لاسه كړي ، د هغه نتيجه دا ده چي په دغه ديندار او مسلمان كي او د يو خاص دنيا داره سوداګر په مينځ كي هيڅ فرق نه معلوميږي .

نو د سود د خپرېدو مطلب دا نه دى چي مسلمان ددغه عامي مجبورۍ په مرسته اخيستلو سره د دومره لوى لعنت څخه بالكل بې پروا سي او د هغه په زړه كي د ذرې په اندازه پريشاني پيدا نه سي چي هغه په څومره حرام شي كي اخته دى ، نن چي د سود په باره كي تاويلونه كيږي يا هغه ته چي كوم نوي شكلونه وركول كيږي په ياد ولرئ ! دا ټول په هغه درجه حرام دي په كومه درجه كي چي خپله د سود حرمت دى ځكه د مسلمانانو فريضه ده چي هغوى خپل تجارتي معاملات په داسي طريقه صحيح كړي چي په هغه سره تر خپل وسه ددغه لعنت څخه خلاصون تر لاسه كړي ، كه په اوسني اقتصادي نظام كي تر دغه حده پوري تبديلي د هغه په وس كي نه وي نو كم از كم خپل ژوند او معاملات خو دي سم كړي چي د سود د لعنت څخه كه بالكل خلاصون تر لاسه نه كړي نو كم از كم په دې كي كمي خو به وسي او د مسلمان كېدو دغه ادنا

Maktaba Tul Ishaat.com

تقاضا په پوره کېدو سره هغه به تر خپل وس پورې د حرامو څخه د ځان ساتنې په فکر کې وي.
په هر حال په دغه باب کې د موضوع سره اړوند حدیثونه ذکر کیږي چې د هغه په ضمن کې د موقع سره سم د سود احکام او مسائل بیانیږي مگر دا خبره ضروري ده چې د هر څه څخه مخکې د دغه موضوع سره اړوند یو څو بنیادي خبري ښوول ضروري دي :

د ربا (سود) تعریف : د لغت په اعتبار د ربا معنی د زیاتوب او لوړوالي ده او د شریعت په اصطلاح کې داسې زیاتوب ته ربا وایي چې هغه د یو مالي معاوضې څخه پرته تر لاسه سي.

په ربا او سود کې فرق : په قرآن کریم کې چې کوم شی په لفظ د ربا سره حرام سوی دی د هغه ترجمه په پښتو ژبه کې په عامه توگه سره په سود کیږي چې د هغه په وجه خلک په غلط فهمۍ کې اخته دي او رواج سوی سود دواړه په عربي او پښتو کې د یوه شي دوه نومونه دي یعني کوم شي ته چې په عربي کې ربا ویل کیږي حالانکه داسې نه ده بلکه ربا د عام او وسیع مفهوم حامل دی او مروجه سود د ربا یو ډول دی، ځکه چې د مروجه سود معنی ده د روپو یو ټاکلې اندازه د یو ټاکلي وخت لپاره په پور ورکولو سره په ټاکلې سوې شرح سره گټه یا زیاتوب اخیستل بېله شکه د ربا په تعریف کې داخل دی مگر یوازې دغه یو صورت یعني پر پور باندې گټې او زیاتوب اخیستلو نوم ربا نه دی بلکه د ربا مفهوم تر دې هم وسیع دی ځکه چې رسول ﷺ د وحې په رڼا کې د ربا مفهوم ته په وسعت ورکولو سره د رانیولو او پلورلو د معاملاتو ځینې داسې صورتونه هم بیان کړي دي چې په هغو کې د شیانو په خپلو کې د ورکړې راکړې یا د هغوی د یو تر بله رانیولو او پلورلو کې کمې او زیاتوب کول هم ربا ده او په هغه کې د پور کاروبار کول هم ربا ده که څه هم په دغه پور کې پر اصل اندازه باندې زیاتوب نه وي بلکه برابر په برابر واخستل سي او ورکړل سي.

د ربا ډولونه او د هغو احکام : د ربا د پورتني وسیع مفهوم سره سم فقهاؤ چې د ربا کوم ډولونه ترتیب کړي دي په هغو کې په عامه توگه سره پنځه ډولونه بیانیږي.

۱: رباء قرض، ۲: رباء رهن، ۳: رباء شراکت، ۴: رباء نسیه، ۵: رباء فضل.

۱: رباء قرض: ددې مطلب دادی چې د پورړوي څخه د ټاکلي وخت څخه وروسته د خپل اصل مال څخه زیات اخیستل، ددې مثال د مروجه سود صورت دی یعني یو څوک یو چا ته د خپلو روپو ټاکل سوی مقدار تر یو ټاکلي وخت لپاره په دې شرط په پور ورکړي چې دوه مره روپۍ به د میاشتنۍ سود په حساب سره راکوې او اصل روپۍ به پر خپل حال پاته وي، د سود دغه صورت بالکل حرام دی او په دې کې د هیڅ شک او شبې گنجائش نه سته.

۲: رباء رهن: ددې مطلب دادی چې بېله یو مالي معاوضې هغه ګټه چې مرتهن ته د راهن څخه یا د مرهونه شي څخه تر لاسه سي ، ددې مثال دادی چې یو سړی (یعني راهن) خپل یو ملکیت مثلاً سرای بل سړي (یعني مرتهن) ته د امانت په توګه په اېښودو سره د هغه څخه یو څو روپۍ په پور واخلي او هغه مرتهن د هغه ګرو سوي شي څخه ګټه تر لاسه کړي مثلاً په هغه سرای کي اوسیږي یا په کرایه یې ورکړي یا دا چې د هغه ګرو سوي شي څخه ګټه نه تر لاسه کوي بلکه د راهن څخه یې تر لاسه کوي په دې توګه چې په پور ورکړي روپو باندي سود حاصل کړي ، د رهن دغه دواړه صورتونه حرام دي .

۳: رباء شراکت: ددې مطلب دادی چې په یو مشترک کاروبار کي یو شریک د بل شریک ګټه وتاکي او د ټولو تاوانو او ګټو خپل ځان مستحق وګرځوي، دا هم حرام دی .

۴: رباء نسیه: ددې مطلب دادی چې د دوو شیانو په تبادله کي یا دوو شیانو په رانیولو او پلورلو کي پور کول که په هغه پور کي پر اصل مال باندي زیاتوب واخیستل سي او که وانه خیستل سي ، مثلاً یو څوک یو چا ته یو من غنم ورکړي او بل سړی د هغه په بدله کي هغه ته یو من غنم ورکړي مګر یوه یا دوې ورځي یا یوه یا دوې میاشتي وروسته یې ورکړي دا دهغه صورت مثال دی چې په دوو شیانو کي تبادله وکړل سي که دغه تبادله لاس په لاس و نه سي بلکه د یوې خوا څخه په نقدو او د بلي خوا څخه په پور معامله وسي او په دغه پور کي پر اصل مال باندي زیاتوب او کمي ونه سي ، په کمۍ او زیاتوب سره د راکړي او ورکړي مثال دادی چې یو څوک به بل سړي ته یو من غنم ورکړي، د رباء نسیه دا هغه صورت دی چې د جاهلیت په زمانه کي هم رواج وو او اوس هم په مروجه سود کي موجود دی او په یوه اعتبار سره دا د رباء قرض په ډول کي هم داخل دی .

۵: رباء فضل : ددې مطلب دادی چې په دوو شیانو کي په کمي او زیاتوب سره لاس په لاس راکړه ورکړل کول، مثلاً یو سړی یو چا ته یو من غنم ورکړي او د هغه څخه د خپل یو من غنم په بدله کي یونیم من غنم واخلي ، د رباء دغه دواړه ډولونه یعني نسیه او فضل کي دوه بنیادي صورتونه دي او د ناخبرۍ په وجه په عامه توګه سره خلک په دې کي د سود پیدا کېدونکي حکم څخه ناخبره دي ځکه نو مناسب ده چې د هغه د احکامو بیانولو څخه مخکي یو څو خبري د مقدمې په توګه بیان کړل سي چې پر دغه احکامو باندي په پوهېدو کي تکلیف نه وي .

۱: د راکړي او ورکړي او تجارت معامله چې د کومو شیانو متعلق ده د هغو درې ډوله دي ۱: یا خو په وزن سره وي، ۲: یا په یو لوښي یعني ناپ سره وي، ۳: نه په وزن سره وي او نه په یو

Maktaba Tul Ishaat.com

لوښي سره ، د اول او دوهم ډول مثال غله ده چي غله يا خو په تللو سره خرڅيږي او يا په لوښي سره په اندازه کولو سره خرڅيږي، په پلورلو او رانيولو کي چي کوم شيان تلل کيږي هغه ته موزون وايي او کوم شيان چي په ناپ سره اندازه کيږي هغه ته مکيل وايي ، او مکيل د يو شي موزون يا مکيل کېدو صفت ته د فقهي په اصطلاح کي قدر ته وايي ، دغه لفظ د قدر هم په ذهن کي وساتئ.

۲: د هر شي يو حقيقت وي، د غنمو غنم کېدل، د سپينو زرو سپين زر کېدل او د کپړې کپړه کېدل ، دغه حقيقت ته جنس وايي ، دغه لفظ د جنس هم په ياد ولري.

۳: د کومو شيانو چي سودا کيږي هغه کله په قدر کي متحد او مشترک وي او په جنس کي مختلف وي مثلا غنم او نخود ، دغه دواړه شيان په قدر کي مشترک دي ځکه چي دواړه موزون دي يا مکيل دي مګر په جنس کي مختلف دي ځکه چي د يوه حقيقت غنم دی او د بل حقيقت نخود دي، او کله داسي هم کيږي چي د کومو دوو شيانو سودا کيږي د هغوی جنس متحد وي مګر په قدر کي يو ډول نه وي مثلا د ململ د ململ سره تبادله چي د دواړو جنس يو دی مګر دواړه موزون يا مکيل نه دي ، ځکه نو کله چي دغه دواړه قدر نه وي نو په قدر کي به يو ډول څرنګه وي ، يا د پسه په پسه سره تبادله چي د دواړو جنس يو دی مګر موزون او مکيل نه دی ځکه نه قدر دی او نه د قدر اتحاد او کله داسي هم کيږي چي د کومو دوو شيانو سودا کيږي د هغوی جنس هم يو وي او په قدر کي هم مشترک وي لکه د غنمو په غنمو سره تبادله چي د دواړو جنس هم يو دی او قدر هم يو دی ، او کله داسي کيږي چي د کومو دوو شيانو سودا کيږي په هغو کي نه جنس يو وي او نه قدر لکه روپۍ او ټوکر ، يا روپۍ او غله چي نه په هغو کي جنس يو دی او نه قدر يو دی ، نو يو تر بله سودا کېدونکي شيان پر څلور ډوله سول ۱: متحد القدر والجنس (يعني د دواړو قدر هم يو وي او جنس هم يو وي) ۲: متحد القدر غير متحد الجنس (يعني د دواړو قدر خو يو وي مګر جنس يو نه وي)، ۳: متحد الجنس غير متحد القدر (يعني د دواړو جنس يو وي مګر قدر بېل بېل وي)، ۴: غير متحد الجنس والقدر (يعني د دواړو جنس هم يو نه وي او قدر هم يو نه وي)،

په دغه شيانو باندي د پوهېدو وروسته د شيانو د سودا کولو او تجارت کي په هغه قاعده باندي پوه سئ که چيري دا په ذهن کي وي نو نه يوازي دا چي د دغه باب په احکامو او مسائلو باندي په پوهېدو کي به اساني وي بلکه په خپل اصلي ژوند کي به هم د رباء او سود د ګناه څخه ځان ساتل اسان وي، هغه قاعده داده چي کوم دوه شيان متحد القدر والجنس وي د هغوی يو

Maktaba Tul Ishaat.com

تر بل سودا او په تجارت کي په شرعي توګه سره دوه شيان ضروري دي يو خو دا چي هغه دوه شيان په وزن يا پيمانه کي برابر وي ، دوهم دا چي دواړه لاس په لاس وي، مثلا که يو څوک غنم په غنمو بدلول غواړي نو په هغه کي کمي او زياتوب صحيح نه دي يعني دا صحيح نه ده چي يو سړی يو سير غنم ورکړي او بل سړی پاو بالا يو سير غنم ورکړي بلکه دواړو ته يو سير غنم ورکول ضروري دي ، او دا هم صحيح نه ده چي يو خو يې په لاس ورکړي او بل يې سبا يا بله ورځ يا لږ وخت وروسته ورکړي، بلکه په يوه مجلس کي او په يوه وخت کي دواړو ته خپل حق اخيستل او ورکول لازم دي ، او کوم شيان چي متحد القدر او غير متحد الجنس وي يا متحد الجنس غير متحد القدر وي او د دواړو حکم يو وي هغه دا چي د هغوی په خپلو کي سودا کي کمي او زياتوب خو جائز دی مګر پور جائز نه دی مثلا غنم په نخود سره بدل غواړي چي د دواړو جنس بېل بېل دی مګر قدر يو دی ځکه نو ددغه دواړو په تبادله کي پور جائز نه دی .

همدارنګه يو پسه د بل پسه سره بدلول غواړي چي د هغه دواړو جنس يو دی مګر قدر يې يو نه دی ځکه چي قدر خو موزون يا مکيل کېدو ته وايي او پسه نه مکيل دی او نه موزون، نو په دې کي هم کمي او زياتوب جائز نه دی چي يو سړی يو پسه ورکړي او بل د هغه په بدله کي دوه پسونه ورکړي مګر د هغه په تبادلې کي هم پور جائز نه دی او کوم شيان چي نه متحد الجنس وي او نه متحد القدر وي په هغو کي کمي او زياتوب هم جائز دی او د نقد او پور فرق هم جائز دی مثلا د روپو او غلې په خپلو کي تجارت چي ددغه دواړو نه خو جنس يو دی او نه د دوی قدر يو دی نو که يو سړی د روپو په ورکولو سره غله رانيول غواړي نو په دغه صورت کي کمي او زياتوب هم جائز دی او که غواړي د يوې دوه‍ ی په بدله کي سير غله واخلي او که د يوې روپۍ په بدله کي دوه سيره غله واخيستل سي همدارنګه په دغه صورت کي پور هم جائز دی چي لاس په لاس سودا وکړل سي او که د پور په صورت کي وي ، اوس ددغه قاعدې خلاصه څلور قاعدې سولې :

۱. د متحد القدر او متحد الجنس شيانو په سودا کي برابري او لاس په لاس کېدل واجب دي .
۲. د متحد القدر او غير متحد الجنس شيانو په سودا کي نه برابري واجب ده او نه لاس په لاس کېدل واجب دي .
۳. د متحد الجنس او غير متحد القدر شيانو په سودا کي لاس په لاس کېدل واجب دي مګر برابري ضروري نه ده .
۴. د متحد القدر او غير متحد الجنس شيانو په سودا کي لاس په لاس کېدل ضروري دي مګر

Maktaba Tul Ishaat.com

برابري ضروري نه ده.

ددغه ټولو بنيادي خبرو په ذهن کي کښېښولو څخه وروسته اوس د سود هغه دواړه اقسام يعني د نسيه او فضل احکامو ته راسئ چي د هغو يادونه په پيل کي سوې وه.

که چيري سودا کول د داسي دوو شيانو وي چي په هغو کي اتحاد د جنس هم وي او اتحاد د قدر هم يعني هغه دواړه متحد الجنس هم وي او متحد القدر هم نو د امام ابوحنيفة رحمه الله په نزد په دغه سودا کي رباء نسيه هم حرامه ده او ربا فضل هم او دا خبره مخکي ښوول سوې ده چي د جنس څخه مراد د هغه شي حقيقت او د قدر څخه مراد د هغه شي مکيل يا موزون کېدل دي لکه څرنګه چي په سودا کي او په تجارتي معاملاتو کي شرعي معيار د کيل يا وزن دی، دلته دا خبره هم په ذهن کي راوستل پکار دي چي شارع کوم شي ته مکيل ويلي دي هغه به موزون نه وي که څه هم په عامه اصطلاح او رواج کي هغه موزون وي همدارنګه کوم شي ته چي يې موزون ويلي دي هغه به مکيل نه وي که څه هم په عامه اصطلاح او رواج کي هغه مکيل وي، مثلا غنم شارع په هغه شيانو کي شمېرلي دي چي د هغو پلورل او رانيول په پيمانه سره کيږي ځکه د غنمو په غنمو سره سودا د وزن په ذريعه وي ځکه چي د غنمو په غنمو سره سودا کول د وزن په ذريعه جائز نه دي همدارنګه سپينو زرو او سرو زرو ته شارع موزون ويلي دي ځکه نو د سپينو زرو په سپينو زرو او د سرو زرو په سروزرو سره سودا کول د کيل په ذريعه جائز نه دي، ددغه حکم وجه دا ده چي په يو معامله کي د شارع واضح حکم د عرف او رواج څخه ډېر قوي او غوره دی مګر د کومو شيانو په باره کي چي شارع نه مکيل ويلي دي او نه موزون نو د هغه شيانو په سودا کي د عام رواج اعتبار دی مګر دا خبره په ذهن کي ساتل پکار دي چي په حنفيه حضراتو کي امام ابويوسف رحمه الله په مطلقه توګه باندي د رواج اعتبار کړی دی د هغه په نزد ددغه شيانو سودا د وزن په ذريعه جائز ده کوم ته چي شريعت مکيل ويلي دي په شرط ددې چي په عام رواج کي د وزن په ذريعه د هغه سودا کيږي، کمال رحمه الله د امام ابويوسف رحمه الله قول ته ترجيح ورکړې ده او له همدې کبله هغه نقود مسکوکه (يعني د سپينو او سرو زرو سکه) مثلا اشرفۍ او داسي نورو په ذريعه د پور په توګه سودا کول يا د اوړو د وزن په ذريعه رانيول او پلورل جائز ګرځولي دي، او په کافي نامي کتاب کي هم دا ليکلي دي چي د حنفيه په نزد په دې باره کي د امام ابويوسف رحمه الله پر قول فتوا ده، ددې مطلب دادی که څه هم شارع غنمو ته مکيل ويلي دي مګر د هغه سودا د وزن په ذريعه ښېله شکه جائز ده ځکه چي نن سبا په عامه توګه سره د هغه سودا د وزن په ذريعه کيږي، په هر حال اتحاد جنس او اتحاد قدر والا شيانو د سودا په باره کي معلومه

Maktaba Tul Ishaat.com

سوه چي په دې کي رباء نسيه هم حرامه ده او رباء فضل هم، همدرانګه که چيري سودا د داسي دوو شيانو وي چي په هغه کي د جنس او قدر اتحاد نه وي مثلا هغه متحد الجنس خو وي مګر متحد القدر نه وي که چيري متحد الجنس نه وي نو د هغه په باره کي دا حکم دی چي د داسي شيانو په سودا کي رباء نسيه حرامه ده مګر رباء فضله حرامه نه ده نو که چيري د غنمو په غنمو سره يا د نخودو په نخودو سره يا د چونړ په چونړ سره يا د سرو زرو په سرو زرو سره يا د اوسپني په اوسپني سره سودا وکړل سي نو په دغه صورت کي فضل (يعني کموالی او زياتوب کول او لاس په لاس اخستل او ورکول) حرام دي او نسيه هم حرام دي ځکه چي دلته اتحاد قدر هم موجود دی او اتحاد جنس هم او که چيري د غنمو په نخود سره او د سرو زرو په سپينو زرو يا د اوسپني په مسو سره سودا وکړل سي نو په دغه صورت کي فضل حلال دی مګر نسيه حرام دی ځکه چي دلته يوازي اتحاد د قدر موجود دی په دې توګه چي د غنمو او نخودو سودا هم په کيل يا وزن سره کيږي او د اوسپني او مسو سودا هم په وزن سره کيږي او د سپينو زرو سودا هم په وزن سره کيږي مګر دلته اتحاد د جنس موجود نه دی ، که چيري د يوه ټوکر يوه ټوټه د هغه ټوکر د بلي ټوټې سره يا د آس په آس سره سودا وکړل سي نو په دغه صورت کي به فضل حلال وي او نسيه به حرامه وي ځکه چي دلته اتحاد د جنس موجود دی مګر اتحاد د قدر نه سته په دې توګه چي ټوکر نه مکيل دی او نه موزون او نه آس مکيل او موزون دی ، حال دا چي شرعي معيار مکيل يا موزون دی ګز وغيره شرعي معيار نه دی .

که چيري سودا کول د داسي دوو شيانو وي چي په هغو کي نه اتحاد دقدر وي او نه اتحاد د جنس نو په دې باره کي حکم دادی چي د داسي شيانو په سودا کي فضل او نسيه دواړه حلال دي مثلا که چيري د غنمو د سپينو زرو يا اوسپني سره سودا وکړل سي نو په دغه صورت کي فضل او نسيه دواړه جائز دي ځکه چي دلته نه اتحاد جنس سته او نه اتحاد قدر، په دې توګه چي غنم مکيل دي او سپين زر يا اوسپنه موزون دي .

همدارنګه د اوسپني د سرو زرو سره يا د سرو زرو د اوسپني سره سودا کولو کي هم فضل او نسيه دواړه جائز دي ځکه چي دلته هم نه اتحاد د جنس سته او نه اتحاد د قدر په دې توګه چي د سرو زرو د تللو ډبره بېله وي او د اوسپني د تللو ډبره بېله وي ، د غنمو په چونړ سره د سودا کولو هم دغه حکم دی ځکه چي په هغه کي هم دا صورت دی چي د غنمو د سودا کولو پيمانه بېله وي او د چونړ د تللو پيمانه بېله وي . (مګر دا د هغه سيمو صورت دی چيري چي د غنمو او چونړ رانيول او پلورل په وزن سره نه بلکه په پيمانه سره کيږي) .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

پر سود اخیستونکي او ورکونکي لعنت

﴿۲۶۸۴﴾: عَنْ جَابِرٍ قَالَ لَعَنَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آكِلَ الرِّبَا وَمُؤْكِلَهُ وَكَاتِبَهُ وَشَاهِدَيْهِ وَقَالَ هُمْ سَوَاءٌ. رواه مسلم.

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ پر سود خوړونکي باندې او پر سود اخیستونکي باندې د سود پر ورکونکي باندې د سود کاغذ لیکونکي باندې لعنت ویلې دې او فرمایلي یې دي چې هغوی ټول په (ګناه) کې برابر دي. مسلم.

تخریج: مسلم في الصحیح ۳\ ۱۲۱۹، رقم: ۱۰۶\ ۱۵۹۸.

تشریح: د سود د کاروبار پر منشي او د هغه پر شاهدانو باندې ځکه لعنت ویل سوی دی چې دوی په یو غیر شرعي کار کې مرسته کونکي دي، ددې څخه دا خبره واضحه سوه چې د سود منشي توب کول او د هغه شاهد جوړېدل حرام کار دی.

د سود صورت

﴿۲۶۸۵﴾: وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عباده بن صامت رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ وَالْفِضَّةُ بِالْفِضَّةِ وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ وَالتَّمْرُ

د سرو زرو په بدله کې سره زر او د سپینو زرو په بدله کې سپین زر او د غنمو په بدله کې غنم او د اوربشو په بدله کې اوربشې، د خرماؤ په بدله کې

بِالتَّمْرِ وَالْمِلْحُ بِالْمِلْحِ مِثْلًا بِمِثْلٍ سَوَاءً بِسَوَاءٍ يَدًا بِيَدٍ فَإِذَا اخْتَلَفَتْ هَذِهِ الْأَصْنَافُ فَبِيعُوا كَيْفَ شِئْتُمْ إِذَا كَانَ يَدًا بِيَدٍ. رواه مسلم.

خرما د مالګي په بدله کې مالګه برابر برابر لاس په لاس خرڅ کړئ او کله چې دا جنسونه مختلف وي نو څرنګه چې غواړې خرڅ یې کړئ خو په دې شرط چې معامله لاس په لاس وي. (مسلم)

تخریج: مسلم في الصحیح ۳\ ۱۲۱۱، رقم: ۸۱\ ۱۵۸۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

تشريح: دا هغه حديث دی چي د رباء مفهوم ته په وسعت کولو سره د رانيولو او پلورلو ځيني معاملې يې سود ګرځولي دي، ددغه حديث شريف مطلب دادی چي دلته کوم شپږ شيان ذکر سوي دي که چيري ددغه شيانو تبادله يا ددغه شيانو يو تر بله رانيول او پلورل وکړل سي نو دا ضروري ده چي برابر برابر به هم وي او لاس په لاس به هم وي، د برابر مفهوم دادی که يو څوک يو چا ته خپل غنم د تبادلې په توګه ورکړي نو د هغه شخه دي دومره غنم اخلي څومره چي يې خپله ورکړي دي، دلاس په لاس مطلب دادی چي په کوم مجلس کي معامله وسي په هغه مجلس کي دي دواړي ډلي خپل خپل حق د يو بل شخه د بېلېدو مخکي په خپل قبضه کي واخلي. دا نه ده پکار چي يو سړي نقد ورکړي او دوهم دا وعده وکړي چي زه به يې وروسته درکړم او که چيري ددغه حکم پر خلاف وي چي يا خو راکړه ورکړه برابر نه وي يا لاس په لاس نه وي نو په دغه صورت کي هغه معامله په سود کي داخله سي، اوس سوال دا پيدا کيږي چي په حديث کي د کومو شپږو شيانو ذکر سوی دی ايا د سود حکم ددغه شپږو شيانو سره مخصوص دی او که دغه شيان د مثال په توګه بيان سوي دي او نور هم داشي شيان په دغه حکم کي داخل دي که چيري نور شيان هم په دغه حکم کي داخل وي نو د هغو قاعده څه ده؟

د مجتهدينو امامانو فيصله داده چي په حديث کي د کومو شپږو شيانو ذکر سوی دی هغه يوازي د مثال په توګه دي او هغوی په خپل اجتهاد سره ځيني نور شيان مثلا اوسپنه، چونه او داسي نور جنسونه هم پر دغه شپږو شيانو باندي قياس کړي دي او په دې اړه د يوې قاعدې جوړولو لپاره هر يوه په خپل اجتهاد سره په دغه شپږو شيانو کي د سود علت بېل بېل متعين کړی دی چي تفصيل يې دادی:

د امام مالک رحمة الله عليه په نزد په دغه شپږو شيانو کي د سره زرو او سپين زرو د سود علت ثمينت دی (يعني د يو شي د قيمت کېدو صلاحيت دی) او په پاته څلورو شيانو کي د سود علت قوت مذخر (يعني محفوظ کېدونکې غذا ده)، په دغه اعتبار سره ددغه شپږو شيانو شخه پرته هم په کومو شيانو کي چي ثمنيت وي يا کوم شيان چي قوت مذخر وي په هغو ټولو کي سود حرام دی. نو د امام مالک رحمة الله عليه په مذهب کي په شنګياوو، ميوو او د خوراک په داسي شيانو کي چي تر ډېره وخته پوري ذخېره کيدلای نه سي دا هغه شيان دي چي د هغوی په تبادله او رانيولو پلورلو کي سود يعني په کمي او زياتوب سره اخيستل او ورکول جائز دي.

د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد په سرو زرو او سپينو زرو کي د سود علت ثمنيت دی مګر په پاته څلورو شيانو کي د سود علت محض قوت (يعني غذائيت) دی نو دده په مذهب کي په

Maktaba Tul Ishaat.com

شنګياوو، ميوو او داسي نورو شيانو كي د سود حكم جاري دى چي د دغه شيانو په تبادله كي برابر په برابر اخيستل او وركول خو جائز دي مګر په كمي او زياتوب سره پلورل او رانيول جائز نه دي، همدارنګه د امام شافعي رحمه الله په نزد اوسپنه، مس، چونا او داسي نور شيان هغه شيان دي چي د هغو په تبادله كي د سود حكم نه جاري كيږي مثلا د يوې پيمانې چونې په بدله كي دوې پيمانې چونه اخيستل صحيح دي همدارنګه د يوه سېر اوسپني په بدله كي د يوه سېر اوسپني اخيستل يا د يوه سېر مسو په بدله كي دوه سېره مس اخيستل جائز دي.

د امام ابو حنيفة رحمه الله په نزد په اصولي توګه سره د ربا علت قدر مع الجنس دى له همدې كبله په حنفي مذهب كي په سرو زرو او سپينو زرو كي د سود علت وزن دى ځكه چي نو د هر هغه شي په تبادله كي د سود حكم جاري دى كوم چي موزون وي يعني د وزن په ذريعه رانيول او پلورل كيږي لكه اوسپنه، مس او داسي نور، او په پاته څلورو شيانو كي د سود علت مكيل دى ځكه نو د هر هغه شي په تبادله كي د سود حكم جاري دى كوم چي مكيل (يعني د پيمانې په ذريعه اندازه كيږي) وي لكه چونه او داسي نور، دا خبره مخكي ښوول سوې ده چي شريعت د كوم شي د مكيل يا موزون كېدو حكم په صراحت سره بيان كړى دى په هغه كي تبديلي جائز نه ده مثلا سپين زر او سره زر شريعت په هغه شيانو كي شمېرلي دي كوم چي د وزن په ذريعه رانيول كيږي او پلورل كيږي ځكه نو دغه دواړه د موزون په حكم كي دي كه څه هم عام رواج ددې پر خلاف وي، همدارنګه غنم، اوربشي، خرما، مالګه او داسي نور شيان شريعت په هغه شيانو كي شمېرلي دي كوم چي د پيمانې په ذريعه رانيول كيږي او پلورل كيږي ځكه نو دغه شيان د مكيل په حكم كي دي كه څه هم عام رواج ددې پر خلاف وي، نو د سرو زرو او سپينو زرو په تبادله كي به د وزن او كيل اعتبار وي كه چيري سره زر د سرو زرو په بدله كي يا د سپينو زرو په بدله كي واخستل سي نو د وزن برابر كېدل ضروري دي او په وزن كي كموالي او زياتوب به قطعا جائز نه وي، همدارنګه د پاته څلورو شيانو په تبادله كي د كيل اعتبار دى كه څه هم د عام رواج مطابق ددغه شيانو تبادله د كيل په اعتبار سره كيږي مګر په شرعي توګه دغه شيانو د مكيل په حكم كي دي ځكه كه يو سړى يو چا ته د يو من غنمو په بدله كي يو من غنم وركړي نو دا تبادله جائز نه ده تر څو چي د دواړو له خوا د غنمو پيمانې برابري نه وي (دا خبره هم مخكي ښوول سوې ده چي په حنفيه حضراتو كي د امام ابويوسف رحمه الله په نزد مطلقا د هر شي په مكيل يا موزون كېدو كي د عام رواج اعتبار دى) او د حنفيه په نزد پر دې عمل دى، د اوربشو، خرما او مالګي هم دغه حكم دى، هو د كومو شيانو موزون يا مكيل كېدل چي شريعت په

Maktaba Tul Ishaat.com

وضاحت سره نه وي بيان كړي د هغو په باره كي د عام رواج اعتبار دی كه هغه شيان د عام رواج سره سم د وزن په ذريعه پلورل كيږي او رانيول كيږي نو د تبادلې پر وخت د وزن برابر كېدل ضروري دي او كه چيري په وزن كي كموالي يا زياتوب وسي نو دا به د سود په حكم كي وي.

﴿۲۶۸۶﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ وَالْفِضَّةُ بِالْفِضَّةِ وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ وَالشَّعِيْرُ بِالشَّعِيْرِ وَالتَّمْرُ

سره زر د سرو زرو په بدله كي خرڅوئ د سپينو زرو په بدله كي سپين زر او د غنمو په بدله كي غنم او د اوربشو په بدله كي اوربشي د خرماؤ په بدله كي

بِالتَّمْرِ وَالْمِلْحُ بِالْمِلْحِ مِثْلًا بِمِثْلٍ يَدًا بِيَدٍ فَمَنْ زَادَ أَوِ اسْتَزَادَ فَقَدْ أَرْبَى الْآخِذُ وَالْمُعْطِي فِيْهِ سَوَاءٌ. رواه مسلم.

خرما د مالګي په بدله كي مالګه برابر برابر لاس په لاس خرڅوئ ليكن چاچي زيات وركړ يا يې زيات واخيستل نو هغه سود واخيستی او سود اخيستونكی او سود وركونكی دواړه په ګناه كي برابر دي. مسلم.

تخريج: مسلم في الصحيح ۳\ ۱۲۱۱، رقم: ۸۲\ ۱۵۸۴.

د سرو او سپينو زرو حكم

﴿۲۶۸۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَبِيْعُوا الذَّهَبَ

د حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د سرو زرو په بدله

بِالذَّهَبِ إِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ وَلَا تُشِفُّوْا بَعْضَهَا عَلَى بَعْضٍ وَلَا تَبِيْعُوا الْوَرِقَ

كي سره زر مه خرڅوئ خو بالكل برابر او ځيني پر ځينو مه زياتوئ او مه د سپينو زرو په بدله كي

بِالْوَرِقِ إِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ وَلَا تُشِفُّوْا بَعْضَهَا عَلَى بَعْضٍ وَلَا تَبِيْعُوْا مِنْهَا غَائِبًا

سپين زر مګر برابر او ځيني پر ځينو مه زياتوئ او مه يې داسي خرڅوئ چي يو موجود وي او

Maktaba Tul Ishaat.com

بِنَاجِزٍ . متفق عليه و في رواية لا تبيعوا الذهب بالذهب ولا الورق بالورق الا وزنا بوزن .

بل نه وي . (بخاري او مسلم) او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي سره زر د سرو زرو په بدله كي او سپين زر د سپينو زرو په بدله كي مه خرڅوئ بلكه دواړه برابر وي .

تخريج: البخاري في الصحيح : ۴\۳۷۹، رقم: ۲۱۷۷، ومسلم ۳\۱۲۰۸، رقم: ۷۵- ۱۵۸۴.

د لغاتو حل: لاتبيعوا : اى لاتفضلوا (يعني زياتوب مه كوئ).

تشريح: دغه حديث شريف ددې خبري دليل دى چي كه چيري يو څوک د سرو زرو زيورات په سرو زرو سره يا د سپينو زرو زيورات په سپينو زرو تبادله كړي نو په دغه صورت كي هم د دواړو په وزن كي برابر كېدل ضروري دي .

د هم جنسو شيانو تبادله

﴿۲۶۸۸﴾: وَعَنْ مَعْمَرِ بْنِ عَبْدِاللّٰهِ قَالَ كُنْتُ اَسْمَعُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ الطَّعَامُ بِالطَّعَامِ مِثْلًا بِمِثْلٍ . رواه مسلم .

د حضرت معمر بن عبد الله رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې خوراک په خوراک مثل په مثل دئ .مسلم

تخريج: مسلم في الصحيح ۳\۱۲۱۴، رقم: ۹۳- ۱۵۹۲.

د هم قدره شيانو تبادله

﴿۲۶۸۹﴾: وَعَنْ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ

د حضرت عمر رضي الله عنه څخه روايت دى، چي رسول الله ﷺ و فرمايل : سره زر د سرو زرو په بدله كي

رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ وَالْوَرِقُ بِالْوَرِقِ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ

سود دي كه لاس په لاس خرڅ نه كړل سي او سپين زر د سپينو زرو په بدله كي سود دي كه لاس په لاس خرڅ نه كړل سي او غنم د غنمو په بدله كي سود دي كه لاس په لاس خرڅ نه كړل سي او

وَالشَّعِيْرُ بِالشَّعِيْرِ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ . متفق عليه

Maktaba Tul Ishaat.com

اوربشي د اوربشو په بدله كي سود دي كه لاس په لاس خرڅ نه كړل سي او خرما د خرماؤ په بدله كي سود دي كه لاس په لاس خرڅ نه كړل سي .(بخاري او مسلم) .

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۴\۳۴۷، رقم: ۲۱۳۴، ومسلم ۳\۱۲۰۹، رقم: ۷۹- ۱۵۸۶.

تشريح په هم جنسو شيانو كي د يو بل سره د تبادلې د معاملې درې صورتونه دي ۱: يا خو دواړه شيان موزون وي يا مكيل وي، ۲: دواړه شيان نقد وي يا دواړه په پور وي، ۳: يوې خوا ته نقد وي او بلي خوا ته د يو څو ورځو لپاره يا د زياتو ورځو لپاره پور وي .

په دغه درو صورتو كي د اول صورت مطابق رانيول او پلورل جائز دي په شرط د دې چي دواړو خواوو ته مقدار برابر په برابر وي كه چيري هغه دواړو شيان موزون وي نو په وزن كي به برابر وي او كه مكيل وي نو په پيمانه كي به برابر وي، او دا چي دواړو خواوو ته نقد شيان وي، د دوهم او دريم صورت مطابق يعني دواړو خواوو ته پور يا يوې خوا ته د پور كېدو په صورت كي د تبادلې معامله جائز نه ده كه څه هم د مقدار په اعتبار دواړه هم جنس شيان برابر وي .

د ښه او خرابو شيانو تبادله

﴿۲۶۹۰﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ وَّ اَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه او حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم يو سړی د

اسْتَعْمَلَ رَجُلًا عَلَى خَيْبَرَ فَجَاءَهُ بِتَمْرٍ جَنِيبٍ فَقَالَ أَكُلُّ تَمْرِ خَيْبَرَ هٰكَذَا

خيبر عامل مقرر كړ هغه د نبي كريم صلى الله عليه وسلم په خدمت كي د ښو خرماؤ سره حاضر سو نبي كريم صلى الله عليه وسلم ور څخه پوښتنه وكړه چي ايا د خيبر ټولي خرماوي داسي دي ؟

قَالَ لَا وَاللّٰهِ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّا لَنَأْخُذُ الصَّاعَ مِنْ هٰذَا بِالصَّاعَيْنِ وَالصَّاعَيْنِ

هغه وويل : نه، اې رسول الله صلى الله عليه وسلم ! په خدای تعالي دي مي قسم وي يو صاع دا خرماوي په دوو صاعو خرماؤ سره اخلو او دوه صاع خرماوي

بِالثَّلَاثِ فَقَالَ لَا تَفْعَلْ بِعْ الْجَمْعَ بِالدَّرَاهِمِ ثُمَّ ابْتَعْ بِالدَّرَاهِمِ جَنِيبًا وَ

په درو صاعو خرماؤ په بدل كي اخلو نبي كريم صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل : داسي مه كوه هر ډول خرماوي په جمعه سره خرڅي كړه په دراهمو او بيا يې رانيسه په دراهمو ښه خرماوي

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ فِي الْمِيْزَانِ مِثْلَ ذَالِكَ . متفق عليه

او ويلي دي ده ﷺ په ميزان (تول) کي په مثل ددې . (بخاري او مسلم)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۴\۳۹۹، رقم: ۲۲۰۱، ومسلم ۳\۱۲۱۵، رقم: ۹۵- ۱۵۹۲.

د لغاتو حل: جنيب: نوع جيد من انواع التمر (يو ډول ښه خرما).

تشريح د حديث شريف د آخري جملې مطلب دادی چي څرنګه د خرما او د هغه شيانو په باره کي چي په کيل يعني پيمانې سره رانيول کيږي او پلورل کيږي دا حکم بيان سوی دی همدارنګه د هغه شيانو په باره کي هم چي د وزن په ذريعه رانيول کيږي او پلورل کيږي لکه د سپينو زرو او سروزرو هم دغه حکم دی ، که په دغه شيانو کي د داسي دوو هم جنسو شيانو تبادله وسي چي په هغو کي يو ښه وي او بل خراب نو په دغه صورت کي هم دا جائز نه دي چي ښه شی کم ورکړل سي او د هغه په بدله کي خراب شی زيات ورکړل سي بلکه په دغه صورت کي دا طريقه اختيارول پکار دي چي مخکي دي خراب شی د درهم يا روپو په عوض کي خرڅ کړي بيا دي په هغه روپو سره ښه شی رانيسي .

﴿۲﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيْدٍ قَالَ جَاءَ بِلَالٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتَمْرٍ

حضرت سعيد رضي الله عنه څخه روايت دی چي بلال رضي الله عنه د ښو ډولو خرماؤ سره د نبي کريم ﷺ په

بَرْنِيٍّ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَيْنَ هَذَا قَالَ بِلَالٌ كَانَ عِنْدَنَا

خدمت کي حاضر سو نبي کريم ﷺ ورڅخه پوښتنه وکړه چي دا دي د کوم ځاي څخه راوړې ؟ حضرت بلال رضي الله عنه ورته وويل : زما سره کمزوري خرماوي وې نو

تَمْرٌ رَدِيٌّ فَبِعْتُ مِنْهُ صَاعَيْنِ بِصَاعٍ فَقَالَ أَوَّهْ عَيْنُ الرِّبَا عَيْنُ الرِّبَا لَا تَفْعَلْ

ما دهغو څخه دوه صاعه ورکړه او يو صاع دا خرماوي مي ځيني واخيستلې رسول الله ﷺ ورته فرمايل : آه دا خو سود دی داسي مه کوه

وَلَكِنْ إِذَا أَرَدْتَ أَنْ تَشْتَرِيَ فَبِعْ التَّمْرَ بِبَيْعٍ آخَرَ ثُمَّ اشْتَرِهِ . متفق عليه

که تا ته ضرورت وي نو اول خپلي خرماوي خرڅي کړه او بيا وروسته د هغو په قيمت سره نوري خرماوي واخله . (بخاري او مسلم)

Maktaba Tul Ishaat.com

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۴\۴۹۰، رقم: ۲۳۱۲، ومسلم ۳\۱۲۱۵، رقم: ۹۶- ۱۵۹۴.

د لغاتو حل: آوه: كلمة تحسر وندامة. (د پښېمانۍ او افسوس لفظ).

د يوه غلام په بدله كې دوه غلامه

﴿۲۶۹۲﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ جَاءَ عَبْدٌ فَبَايَعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چې يو غلام د نبي كريم ﷺ پر هجرت كولو باندې بيعت وكړ

الْهِجْرَةِ وَلَمْ يَشْعُرْ أَنَّهُ عَبْدٌ فَجَاءَ سَيِّدُهُ يُرِيدُهُ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ

نبي كريم ﷺ ته معلومه نه سوه چې هغه غلام دی د هغه مالک د هغه په تلاش راغلی رسول الله ﷺ وهغه ته وفرمايل:

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعْنِيهِ فَاشْتَرَاهُ بِعَبْدَيْنِ أَسْوَدَيْنِ وَلَمْ يُبَايِعْ أَحَدًا بَعْدُ حَتّٰى يَسْأَلَهُ أَعَبْدٌ هُوَ أَوْ حُرٌّ. رواه مسلم.

دی پر ما خرڅ كړه نو نبي كريم ﷺ دوه تور رنګي غلامانو په وركولو سره هغه رانيوی. او بيا يې وروسته د هيڅ يوه سره بيعت نه كوی تر څو پورې چې پوښتنه به يې وكړه چې هغه ازاد دی او كه غلام. (مسلم)

تخريج: مسلم في الصحيح ۳\۱۲۲۵، رقم: ۱۲۳- ۱۶۰۲.

تشريح: د دغه حديث شريف څخه معلومه سوه چې يو غلام د دوو غلامانو په بدله كې رانيول او پلورل جائز دي او همدارنګه دغه حديث د دې خبرې دليل دی چې كوم شيان په سود كې داخل نه دي د هغو تبادله په داسې ډول كول چې يوې خوا ته كم وي او بلې خوا ته زيات وي جائز دي، په شرح السنه كې ليكلي دي چې علماؤ پر دغه بنياد باندې دا مسئله بيان كړې ده چې يو حيوان د دوو حيوانانو په بدله كې لاس په لاس رانيول او پلورل جائز دي كه څه هم د دواړو خواوو څخه د يوه جنس حيوان وي يا د مختلفو جنسو، البته په دې باره كې د علماؤ اختلافي قولونه دي چې ايا حيوان د حيوان په بدله كې په پور وركول جائز دی كه يا، په صحابه كرامو كې يو ډله د عدم جواز قائل وه او حضرت ابن ابی رباح رحمه الله هم د دې قائل وو، او د امام ابو حنيفة رحمه الله هم دا مذهب دی د هغوی دليل دا دی چې د رسول الله ﷺ څخه نقل سوي دي چې

Maktaba Tul Ishaat.com

رسول الله ﷺ حیوان د حیوان په بدله کي په پور رانیولو او پلورلو څخه منع فرمایلې ده ، مګر ځیني صحابه کرام ددې د جواز قائل وه او د امام شافعي رحمه الله په مذهب کي هم دا جائز دي .

د هم جنسو شیانو په تفاوت سره راکړه او ورکړه جائز نه ده

﴿۲۶۹۳﴾ : وَعَنْهُ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الصُّبْرَةِ مِنَ التَّمْرِ لَا يُعْلَمُ مَكِيلَتُهَا بِالْكَيْلِ الْمُسَمَّى مِنَ التَّمْرِ . رواه مسلم .

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ منع کړې ده له خرڅولو د ډیري (چي غټه کوټه خرماوي یو ځای پرتې وي) د خرماوو چي معلومه نه وي اندازه د هغه په پیمانه معین سره له خرماؤ څخه . مسلم.

تخریج : مسلم في الصحیح ۳\۱۱۶۲، رقم: ۴۲- ۱۵۳۰.

تشریح : رسول الله ﷺ د رانیولو او پلورلو ددغه صورت څخه منع فرمایلې ده چي یوې خوا ته د خرماوو د غیر معین اندازې کوټه وي او بلي خوا ته د خرماوو د معین مقدار مثلاً لس یا شل پیمانې کوټه وي ځکه چي په دغه صورت کي د هغه خرماوو مقدار غیر معلوم دي کیدای سي چي دغه کوټه د هغه بلي کوټي د مقدار څخه کم سي یا زیات سي، ځکه نو په دغه دواړو صورتو کي د سود شکل پیدا سو ، مګر دا باید په خیال کي وي چي د رانیولو او پلورلو دغه صورت په خپلو کي د تبادله کېدونکو داسي دوو شیانو په مینځ کي منع دی چي د یوه جنس څخه نه وي لکه څرنګه چي مخکي د خرماوو مثال ورکړل سوی دی ، هو د مختلف الجنس شیانو په رانیولو او پلورلو کي دغه صورت منع نه دی ځکه چي د مختلف الجنس شیانو په تبادله کي کمي او زیاتوب هم جائز دی .

د سروزرو مسئله

﴿۲۶۹۴﴾ : وَعَنْ فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ قَالَ اشْتَرَيْتُ يَوْمَ خَيْبَرَ قِلَادَةً بِاثْنَيْ عَشَرَ

د حضرت فضاله بن ابي عبید رضي الله عنه څخه روایت دی چي ما د خیبر د جګړې په کال کي یو امیل په دوولس دیناره رانیوی

دِينَارًا فِيهَا ذَهَبٌ وَخَرَزٌ فَفَصَّلْتُهَا فَوَجَدْتُ فِيهَا أَكْثَرَ مِنْ اثْنَيْ عَشَرَ دِينَارًا

چي په هغه کي سره زر هم وه او غمي هم وروسته مي د امیل څخه دواړه شیان جلا کړه نو سره زر

Maktaba Tul Ishaat.com

د دوولسو دينارو څخه زيات سوه

فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ لَا تُبَاعُ حَتّٰى تُفَصَّلَ . رواه مسلم .

ما د هغه ذکر رسول الله ﷺ ته وکړ نو نبي کريم ﷺ راته وفرمايل : تر څو پوري چي سره زر او غمي جلا جلا نسي داسي اميل پلورلاي نسي . مسلم

تخريج: مسلم في الصحيح ۳\۱۲۱۳، رقم: ۹۰- ۱۵۹۱.

تشريح: ددغه حديث شريف څخه معلومه سوه که چيري د سود په مال کي د داسي دوو هم جنسو شيانو سودا وکړل سي چي په هغو کي يو شی د غير جنس څخه وي نو دا جائز نه دي مثلا يو څوک په زرو پريولل سوي زيورات د زرو په عوض کي رانيسي يا و پلوري که هغه د اشرفيو په صورت کي وي يا په بل شکل وي نو لازمه ده چي مخکي د هغه زيوراتو څخه غمی وغيره بېل کړي او بيا د هغه زيوراتو خالص زر په برابر وزن واخستل سي دغه حکم د سپينو زرو په باره کي هم دی که چيري د سپينو زرو يو داسي زيور وغيره وي چي په هغه کي يو بل جنس هم ګډ وي نو د سپينو زرو په بدله کي که هغه د روپو په صورت کي وي يا په بل شکل وي نود رانيولو او پلورلو په صورت کي ضروري ده چي د هغه زيوراتو څخه د سپينو زرو په بېلولو سره د بلي خوا د سپينو زرو سره وزن برابر کړل سي ، دا حکم ځکه دی چي هم جنس شيان په کموالي او زياتوب سره د رانيولو او پلورلو په وجه د سود صورت پيدا نه سي مګر که چيري په سرو زرو باندي پريولل سوي زيورات وغيره د سپينو زرو په بدله کي رانيول سي يا وپلورل سي که هغه سپين زر د روپو په صورت کي او که په بل شکل کي وي يا دد ې برعکس وي چي په سپينو زر سره پريولل سوي زيورات د سرو زرو په بدله کي رانيول سي يا وپلورل سي که هغه سره زر د اشرفۍ په صورت کي وي او که د بل شي په صورت کي نو په دغه صورت کي د هغه زيوراتو څخه غمی وغيره ايستل ضروري نه دي ځکه چي د مختلف جنس شيانو په سودا کولو کي کمي او زياتوب جائز دی او په دې کي په کمي او زياتوب سره د سود صورت نه پيدا کيږي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د سود په اړه د رسول الله ﷺ پيشګوئي

﴿۲۶۹۵﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ عن رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيَأْتِيَنَّ

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : را به سي يوه زمانه

عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَا يَبْقَى أَحَدٌ إِلَّا آكِلُ الرِّبَا فَإِنْ لَمْ يَأْكُلْهُ أَصَابَهُ مِنْ بُخَارِهِ وَ

پر خلکو باندي چې پر ته له سود خوړو څخه به بل څوک پاته نسي كه يو څوک پاته سي نو هغه ته به يې اثر رسيږي

يُرْوَى مِنْ غُبَارِهِ. رواه احمد و ابوداؤد والنسائي و ابن ماجة.

او په يوه بل روايت کي دي چې هغه ته به د سود ګرځ رسيږي. (احمد ابو داؤد نسائي ابن ماجه)

تخريج: احمد في المسند ۲\ ۴۹۴، وابوداود في السنن ۳\ ۶۲۷، رقم: ۳۳۳۱، والنسائي ۷\ ۲۴۳، رقم: ۴۴۵۵، وابن ماجه في السنن ۲\ ۷۶۵، رقم: ۲۲۷۸.

تشريح: د بخار يا غبار څخه مراد د سود اثر دی مطلب دادی چې د سود د عام کېدو په زمانه کي كه يو سړی په ښکاره د سود د سودا څخه ځان وساتي نو بيا به هم هغه په يو صورت کي د سود تر اثر لاندي وي مثلا هغه به د يو سود خوړونکي مزدوري يا منشي وي يا به د يو سودي كاروبار شاهد وي يا به د سودي كاروبار په مينځ کي رابطه پيدا کونکی وي يا د هغه خپل نور ذاتي او تجارتي معاملات به د سود خوړونکي سره وي.

همدارنګه دغه سړی هم بالواسطه د سود په مال سره خپل مال چټلوي يا دا چې د سود د دائرې په پراخېدو سره د تجارت او معيشت پر هر كونج باندي حاوي وي نو بيا د سود مال به هر سړي ته په يو صورت کي خامخا رسيږي، د مثال په توګه په نن زمانه کي تاسو يو پرهيزګار سړی وينئ چې دومره ديندار او پرهيزګار وي چې د هغه د اعتقادي او عملي ژوند هيڅ يو اړخ داسي نه دی چې د ذرې په اندازه كوږوالی هم معلوم نه سي او د دغه سړي پاکي او پرهيزګاري يو مثالي حيثيت لري مګر كله چې دغه سړی د خپلو بچيانو لپاره يو شی رانيسي نو ايا هغه سړی په خپله هم دا تصور كوي چې زه دغه شی په خپلو بچيانو باندي خورم يا يې خپله خورم دا معلومه نه ده چې دغه شی د څومره سودي ذرائعو او څومره سودي كاروبار د مرحلو څخه په تېرېدو سره زما لاس ته را رسيدلی دی، د حديث مفهوم دادی چې په راتلونکې زمانه کي به د سود لعنت دومره پراخ سي چې هر سړی په شعوري او غير شعوري توګه سره په دې کي اخته وي څوک چې به بلا واسطه سود خوري او څوک به بالواسطه د دې كونكی وي او څوک به بالكل په غير شعوري توګه سره د دې تر اثر لاندي وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

د مختلف الجنس شيانو لاس په لاس راكړه وركړه

﴿۲۶۹۶﴾: وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

د حضرت عباده بن صامت رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

لاَ تَبِيْعُوا الذَّهَبَ بِالذَّهَبِ وَلاَ الْوَرِقَ بِالْوَرِقِ وَلاَ الْبُرَّ بِالْبُرِّ وَلاَ الشَّعِيْرَ

سره زر د سرو زرو په بدله كي مه خرڅوئ نه سپين زر د سپينو زرو په بدله كي نه غنم د غنمو په بدله كي نه اوربشي

بِالشَّعِيْرِ وَلاَ التَّمْرَ بِالتَّمْرِ وَلاَ الْمِلْحَ بِالْمِلْحِ إِلاَّ سَوَاءً بِسَوَاءٍ عَيْنًا بِعَيْنٍ يَدًا

د اوربشو په بدله كي نه خرماوي د خرماؤ په بدله كي او نه مالګه د مالګي په بدله كي مګر بالكل برابر پر برابر به يې خرڅوئ د نغدو په بدله كي نغد او لاس

بِيَدٍ وَلٰكِنْ بِيْعُوْا الذَّهَبَ بِالْوَرِقِ وَالْوَرِقَ بِالذَّهَبِ وَالْبُرَّ بِالشَّعِيْرِ وَالشَّعِيْرَ

په لاس يې خرڅوئ او سره زر د سپينو زرو په بدله كي او سپين زر د سرو زرو په بدله كي او غنم د اوربشو په بدله كي او اوربشي

بِالْبُرِّ وَالتَّمْرَ بِالْمِلْحِ وَالْمِلْحَ بِالتَّمْرِ يَدًا بِيَدٍ كَيْفَ شِئْتُمْ. رواه الشافعي

د غنمو په بدله كي او خرما د مالګي په بدله كي او مالګه د خرما په بدله كي لاس په لاس خرڅوئ څنګه چي تاسو غواړي خرڅوي يې. (شافعي)

تخريج: الشافعي في ترتيب المسند ۱۲\۱۵۸، رقم: ۵۴۶.

تشريح: د حديث شريف خلاصه داده كه چيري د داسي دوو شيانو سودا وكړل سي (لكه غنم د غنمو په بدله كي) نو په دغه صورت كي برابر كېدل او لاس په لاس كېدل ضروري دي او كه چيري د داسي دوو شيانو سودا وكړل سي چي هم جنس نه وي بلكه بېل بېل جنسونه وي (لكه غنم د اوربشو په بدله كي) نو په دغه صورت كي يوازي لاس په لاس كېدل ضروري دي او برابر كېدل ضروري نه دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

د وچو او تازه میوو مسئله

﴿۲٦۹۷﴾: وَعَنْ سَعْدِ بْنِ اَبِيْ وَقَّاصٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت سعد بن وقاص رضی الله عنه څخه روایت دی چي ما واورېدل چي د رسول الله ﷺ څخه

وَسَلَّمَ سُئِلَ عَنْ شِرَى التَّمْرِ بِالرُّطَبِ فَقَالَ اَيَنْقُصُ الرُّطَبُ اِذَا يَبِسَ فَقَالَ

د وچو خرماؤ په بدله کي د تازه خرماؤ اخیستلو په اړه پوښتنه وسوه نو نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: ایا د وچو خرماؤ وزن د لندو خرماؤ په مقابل کي کمیږي؟ ورته وویل سوه.

نَعَمْ فَنَهَى عَنْ ذٰلِكَ. رواه مالك و الترمذي و ابوداؤد والنسائي وابن ماجة.

بلې هو! نو نبي کریم ﷺ ددې د خرڅولو څخه منعه وکړه. (ترمذي مالک ابوداؤد نسائي ابن ماجه).

تخريج: مالک في الموطا ۲\ ٦۲۴، رقم: ۲۲، والترمذي في السنن ۳\ ۵۲۸، رقم: ۱۲۲۵، وابوداود في السنن ۳\ ٦۵۴، رقم: ۳۳۵۹، والنسائي في السنن ۷\ ۲٦۸، رقم: ۴۵۴۵، وابن ماجه ۲\ ۷٦۱، رقم: ۲۲٦۴.

تشریح: رسول الله ﷺ د وچو او تازه خرماوو د سودا څخه ځکه منع فرمایلې ده چي په دغه صورت کي د برابر کېدو شرط فوت کیږي چي د هغه په وجه د سود کاروبار کیږي، د امام مالک، امام شافعي، امام احمد او نورو اکثرو علماؤ څخه پرته په حنفیه کي امام ابویوسف او امام محمد هم پر دغه حدیث عمل کړی دی، او امام ابوحنیفة رحمة الله علیه د هم جنس وچو او تازه میو سودا جائز ګرځولې ده په شرط ددې چي دواړو خواوو ته میوه په مقدار یا وزن کي برابر وي، دغه حدیث د نسیه پر صورت محمول کړی دی یعني د امام ابوحنیفة رحمة الله علیه په نزد په حدیث کي د ذکر سوي منع تعلق په هغه صورت کي دی کله چي یوې خوا ته نقد وي او بلې خوا ته د پور وعده وي نو د پورتني حدیث څخه امام ابوحنیفة رحمة الله علیه چي کوم مراد اختیار کړی دی ددې تائید د یو بل روایت څخه هم کیږي چي رسول الله ﷺ د تازه خرماوو په بدله کي د وچو خرماوو سودا کول د پور په صورت کي منع کړی دی او په دغه مسئله کي چي حکم د وچو او تازه خرماوو دی دا حکم د نورو میوو مثلا انګورو وغیره هم دی او د وچو او تازه غوښو معامله هم په دغه حکم کي داخله ده.

د غوښو او حیوانانو تبادله

﴿۲٦۹۸﴾: وَعَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ مُرْسَلاً اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

Maktaba Tul Ishaat.com

وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ بَيْعِ اللَّحْمِ بِالْحَيَوَانِ قَالَ سَعِيْدٌ كَانَ مِنْ مَيْسِرِ أَهْلِ الْجَاهِلِيَّةِ. رواه في شرح السنة

د حضرت سعيد بن مسيب رحمه الله څخه مرسلا روايت دی چي رسول الله ﷺ غوښه د حيوان په بدله کي خرڅولو څخه منعه کړې ده د سعيد بيان دي چي دا طريقه د جاهليت د خمار څخه وه. شرح السنة

تخريج: شرح السنة ٨\٧٦، رقم: ٢٠٦٦.

تشريح: د جاهليت په زمانه کي د خمار څخه مراد دادی چي څرنګه د خمار په صورت کي په غلطه طريقه سره د خلکو مال خوړل کيږي همدا رنګه دلته هم د غه صورت پيدا کيږي که څه هم د طريقې په اعتبار دواړه صورتونه مختلف دي ځکه چي په هغه کي خمار کيږي او په دې کي معامله کيږي.

امام شافعي رحمه الله فرمايي چي دغه حديث شريف ددې خبري دليل دی چي د څارويو په بدله کي د غوښي معامله حرامه ده که څه هم غوښه د هغه څاروي د جنس څخه وي يا د بل څاروي د جنس څخه وي او که څه هم هغه څاروی خوړل کيږي يا نه خوړل کيږي ، د امام ابوحنيفة رحمه الله په نزد دا معامله جائز ده د هغه دليل دادی چي په دغه معامله کي د يو موزون شي تبادله د يو غير موزون شي سره کيږي چي په هغه کي دواړو خواوو ته د شيانو برابر کېدل ضروري نه دي او ظاهره ده چي د تبادلې او رانيولو او پلورلو دغه صورت جائز دی، مګر په دغه صورت کي سودا کول لاس په لاس کېدل ضروري دي ځکه په حديث کي د ذکر سوي منع تعلق په اصل کي د غوښو او د څارويو په مينځ کي سودا په هغه صورت کي ده کله چي سودا لاس په لاس نه وي بلکه يوې خوا ته نقد وي او بلي خوا ته پور وي.

د دوو حيوانانو تبادله

﴿٢٦٩٩﴾: وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ نَهٰى عَنْ بَيْعِ الْحَيَوَانِ بِالْحَيَوَانِ نَسِيْئَةً. رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي وابن ماجة والدارمي

د حضرت سمره بن جندب رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د حيوان په بدله کي حيوان په وعده يعني قرض خرڅولو څخه منعه فرمايلې ده. (ترمذي ابو داؤد نسائي ابن ماجه دارمي)

Maktaba Tul Ishaat.com

تخريج: الترمذي في السنن ٣\٥٣٨، رقم: ١٢٣٧، وابوداود في السنن ٣\٦٥٢، رقم: ٣٣٥٦، والنسائي ٧\٢٩٢، رقم: ٤٦٢٠، وابن ماجه ٢\٧٦٣، رقم: ٢٢٧٠، والدارمي ٢\٣٣١، رقم: ٢٥٦٤.

د غير مثلي شي د پور اخيستلو مسئله

﴿٢٧٠٠﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن عمرو بن عاص رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ

أَمَرَهُ أَنْ يُجَهِّزَ جَيْشًا فَنَفِدَتِ الْإِبِلُ فَأَمَرَهُ أَنْ يَأْخُذَ قِلَاصِ الصَّدَقَةِ فَكَانَ

هغه ته د فوج سامان د ترتيبولو امر وکړ او کوم وخت چي د اوښانو کمي سوه نو يې وفرمايل: د صدقې د اوښانو په بدله کي قرض واخله

يَأْخُذُ الْبَعِيرَ بِالْبَعِيرَيْنِ إِلَى إِبِلِ الصَّدَقَةِ. رواه ابوداؤد

نو عبد الله به يو اوښ د دوو اوښانو په بدله کي د صدقې له اوښانو په وعده رانيول. (ابو داؤد)

تخريج: ابوداود في السنن ٢\٦٥٢، رقم: ٣٣٥٧.

د لغاتو حل: قلائص: جمع قلوص وهو الفتى من الابل (ځوان اوښ).

تشريح: د حديث په مطلب باندي د پوهېدو څخه مخکي په يو بنيادي خبره باندي پوه سئ چي يوازي د هغه شي پور اخستل صحيح دي چي خپل مثل لري په دې معنی چي داسي شی پور ورکونکي ته بېرته ورکول کيدای سي لکه غله، هګۍ، غوښه، روپۍ او داسي نور دغه شيانو ته مثلي ويل کيږي او کوم شيان چي داسي وي چي د هغه شي پور وروړي ته ورکول مشکل وي نو د هغه پور صحيح نه دی لکه ميوه، څاروی او داسي نور شيان چي دې ته غير مثلي وايي.

او س حديث شريف ته راسئ، حضرت عبد الله رضي الله عنه ته د رسول الله ﷺ دغه حکم چي هغه دي په زکوة کي د اوښ په بدله کي اوښ واخلي، ددې مطلب دادی چي هغه دي د يو چا څخه په دې شرط د پور په توګه اوښ اخلي کله چي په زکوة کي حاصليدونکي اوښان راسي نو هغه به د هغه پور ادا کړي، د امام ابوحنيفة رحمه الله په نزد د غير مثلي شي پور اخستل جائز نه دي او اوښ هم غير مثلي دی ځکه چي د دغه حديث په باره کي حنفيه وايي چي رسول الله ﷺ حضرت عبدالله رضي الله عنه ته دا حکم هغه وخت ورکړی وو کله چي د غير مثلي شي پور اخستل هم جائز وه مګر وروسته د غير مثلي شي د پور اخستلو جواز ختم سوی دی ځکه نو دغه حديث منسوخ دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

شيخ عبدالحق رحمة الله عليه د دغه حديث حكم پر بيع باندي په محمول كولو سره وايي چي د دغه حديث څخه دا معلوميږي چي څارويي د څارويو په بدله كي په پور رانيول او پلورل جائز دي، حال دا چي زموږ (يعني حنفي) علماؤ د حضرت سمره رضي الله عنه د حديث (چي مخكي تېر سوی دی) مطابق دا منع ګرځولي دي، توربشتي رحمة الله عليه وايي چي د حضرت عبدالله ابن عمرو رضي الله عنه دغه روايت ضعيف دی او د حضرت سمره رضي الله عنه روايت تر دې زيات قوي دی ځکه حنفيه د حضرت سمره رضي الله عنه پر حديث باندي عمل كوي، يا دا چي رسول الله صلى الله عليه وسلم دغه حكم هغه وخت وركړی دی كله چي د دوو هم جنسو شيانو سودا د رباء په حكم كي داخل نه وه مګر كله چي د سودا دغه صورت سود وګرځيدی نو د دغه حديث دغه حكم هم منسوخ وګرځيدی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

په پور كي د سود مسئله

﴿۲۷۰۱﴾: عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَلرِّبَا فِي النَّسِيْئَةِ. وفي رواية قال: "لا ربا فيما كان يدا بيد. متفق عليه.

د حضرت اسامه بن زيد رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: سود په قرض كي دي او د بل يوه روايت دا الفاظ دي په هيڅ شی كي سود نسته چي لاس په لاس (سودا) وي. (بخاري او مسلم)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۴\۳۸۱، رقم: ۲۱۷۸، ومسلم ۳\۱۲۱۸، رقم: ۱۰۳-۱۵۹۶.

تشريح: د پور په كاروبار كي د سود مطلب دادی چي د سود په صورت كي داسي معامله پيدا كيږي چي په هغه كي د دوو هم قدر شيانو يو تر بله تبادله كي د پور شكل وي چي يوې خوا ته نقد وركړي او بلي خوا ته د پور سودا وي كه څه هم د دواړو شيانو جنس مختلف وي او برابر برابر وي مثلا يو څوک يو چا ته اوربشي وركړي چي د هغه څخه غنم واخلي نو په دغه سودا كي كمي او زياتوب هم جائز دی په شرط د دې چي لاس په لاس معامله وي كه د يوې خوا څخه پور وي نو بيا دغه معامله جائز نه ده او د سود صورت به وي همدارنګه په هغه معامله كي سود نه وي كوم چي لاس په لاس وي مطلب دادی چي د داسي دوو شيانو تبادله وكړل سي چي د يوه جنس وي او برابر وي او دواړي خواوي خپل شی په هغه مجلس كي په خپل قبضه كي واخلي نو دا جائز دي او د سود صورت نه دی او كه چيري دواړه شيان د يوه جنس څخه وي نو بيا په كمي

Maktaba Tul Ishaat.com

او زياتوب سره په معامله كي هم دا معامله جائز ده او د سود صورت به نه وي په شرط د دې چي معامله لاس په لاس وي.

پر سود خوړلو باندي وعيد

﴿۲۷۰۲﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ حَنْظَلَةَ غَسِيْلِ الْمَلَائِكَةِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ

د حضرت عبد الله بن حنظله غسيل ملائكه رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دِرْهَمُ رِبًا يَأْكُلُهُ الرَّجُلُ وَهُوَ يَعْلَمُ أَشَدُّ مِنْ سِتَّةٍ

د سود يو درهم چي څوک قصدًا وخوري د شپږ دېرش زناگانو څخه زياته گناه لري.

وَثَلَاثِيْنَ زنيه. رواه أحمد والدارقطني وروى البيهقي في شعب الإيمان عن ابن عباس وزاد: وقال من نبت لحمه من السحت فالنار أولى به

(احمد دارقطني) او په بيهقي په شعب الايمان كي د ابن عباس رضي الله عنه څخه دا روايت نقل سوي دي او دا الفاظ يې زيات كړي دي نبي كريم ﷺ وفرمايل: كومه غوښه چي نش و نمو يې په حرام مال سره سوي وي هغه د دوږخ لائقه ده.

تخريج: الامام احمد في المسند ۵\ ۲۲۵، والدار قطني ۳\ ۱۶، رقم: ۴۸، البيهقي في شعب الايمان ۴\ ۳۹۳، رقم: ۵۵۱۸.

تشريح: په حديث شريف كي ذكر سوی وعيد د هغه سړي په باره كي دی چي د سود مال په دې پوهېدو سربېره خوري چي دغه مال د سود په ذريعه حاصل سوی دی، همدارنگه د دغه وعيد تعلق د هغه سړي سره هم دی چي هغه په ناخبرتيا كي د سود مال خوري په شرط د دې چي هغه په ناخبرتيا كي خپله د هغه د كوتاهۍ او لاپرواهۍ دخل وي.

علماء كرام وايي چي د سود خوړلو گناه ته د زنا د گناه څخه سخته او لويه گناه ځكه ويل سوي دي چي د سود خوړونكي په حق كي الله تعالى څومره سخت او غضبناک تنبيه فرمايلې ده دومره سخت او غضبناكه تنبيه يې نه د زنا په باره كي فرمايلې ده او نه د بلې گناه په باره كي، سود خوړونكي الله تعالى داسي متنبه كړي دي:

فاذنوا بحرب من الله ورسوله: د الله تعالى او د هغه د رسول له خوا د جنگ اعلان واورئ. په دې خبره هر د شعور خاوند پوهېږي چي د چا پر خلاف د جنگ د اعلان څه مطلب دی، ظاهره ده

چي الله تعالى او د هغه رسول د کوم چا پر خلاف د جنګ اعلان وکړي يا کوم څوک چي د الله تعالى او د هغه د رسول سره په جنګ سي نو د هغه محرومي، شقاوت، بدبختي او د دنيا او آخرت د تباهي او بربادۍ څه اندازه لګيدلای سي.

علماء کرام دا هم وايي چي د سود خوړونکي په حق کي دومره سخت وعيد او دومره سختوالى سبب دادی چي د سود په باره کي په عملي توګه سره د ګمراهۍ صدور نه کيږي بلکه د سود پيژندل مشکل کېدو په وجه په عامه توګه په اعتقادي ګمراهۍ کي هم خلک اخته کيږي د هغه نتيجه دا سي چي اکثر خلک سود حرام نه ګڼي بلکه د هغوی ذهن او فکر باندي د ګمراهۍ او کوږوالي دومره تياره خپره سوې وي چي هغوي سود حلال ګڼي او دا هم معلومه ده چي د سود د حرمت اعتقاد درلودلو سره د هغه کونکی په عملي ګمراهۍ يعني ګناه کبيره کي دی چي پر هغه باندي معافي هم ممکن ده، مګر د سود د حرمت اعتقاد نه درودل بلکه دا حلال ګڼل اعتقادي ګمراهي ده چي د هغه نتيجه کفر دی او د هغه معافي او بخښنه ناممکن ده، او حال دا چي زنا يو داسي کار دی چي د هغه د حرمت او خرابۍ څخه هيڅوک انکار نه سي کولای کوم څوک چي په دغه فعل کي اخته وي هغه هم د دغه خرابۍ په هر صورت اعتقاد لري تردې چي يوازي اسلام نه بلکه د دنيا په هر مذهب کي زنا يو خراب کار تصور کيږي او هيڅوک دا حلال او جائز نه ګڼي.

اوس پاته سوه دا خبره چي د شپږ د پرش عدد په خاصه توګه ولي ذکر سوی دی نو کيدای سي چي د دې مقصد محض د سود د حرمت اهميت بيانول وي چي الله تعالى او د هغه رسول ښه پوهيږي.

﴿۲۷۰۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلرِّبَا سَبْعُوْنَ جُزْءًا أَيْسَرُهَا أَنْ يَنْكِحَ الرَّجُلُ أُمَّه.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د سود د ګناه اويا يمه برخه د دې ګناه دا سي ده لکه څوک چي د خپلي مور سره نکاح وکړي.

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\ ۷۶۴، رقم: ۲۲۷۴. البيهقي في شعب الايمان ۴\ ۳۹۴، رقم: ۵۵۲۱.

﴿۲۷۰۴﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الرِّبَا وَإِنْ كَثُرَ فَإِنَّ عَاقِبَتَهُ تَصِيْرُ إِلٰى قُلٍّ. رواهما ابن ماجه والبيهقي في

Maktaba Tul Ishaat.com

شعب الإيمان . وروى أحمد الأخير .

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د سود مال په ظاهره زياتيږي ليکن پای يې کم وي . دا دواړه حديثونه ابن ماجه او بيهقي روايت کړيدي او دويم حديث احمد روايت کړی دی.

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\ ۷۶۵، رقم: ۲۲۷۹، واحمد في المسند ۱\ ۳۹۵، البيهقي في شعب الايمان ۴\ ۳۹۲، رقم: ۵۵۱۱.

تشريح: په سودي کاروبار سره تر لاسه کېدونکی مال په ظاهره خو ډېر زيات معلوميږي مګر په سودي مال کي د خير او برکت هيڅ جز نه وي ځکه نو په پای کي هغه مال داسي تباه او برباد سي چي د هغه نوم او نښان هم نه پاته کيږي، دا محض يوه وعيدي خبره نه ده بلکه دا يو داسي حقيقت دی چي هره ورځ معلوميږي د غه حقيقت قرآن کريم هم په دغه الفاظو کي واضح کړی دی : يمحق الله الربا و يربي الصدقات: الله تعالی سود ختموي او صدقات زياتوي .

د دغه آيت کريمه مطلب دادی چي انسان کوم مال په سود سره تر لاسه کوي الله تعالی هغه ختموي ، په دغه آيت کريمه کي د سود او صدقې په يو ځای ذکر کولو سره چي د کوم مال په ګټلو سره هغه د الله تعالی په لاره کي خرڅ کړل سي هغه الله تعالی زياتوي يعني په دغه آيت کريمه کي سود او صدقه يو ځای ذکر کولو سره دا واضحه سوې ده چي د دغه دواړو په حقيقت کي تضاد دی او د دغه دواړو په مينځ کي د تضاد ښوونه هم سوې ده ، د دواړو په حقيقت کي تضاد دادی چي په صدقه کي بېله معاوضې او بېله طمع انسان خپل مال محض د الله تعالی د رضا لپاره نورو ته ورکوي او په سود کي بېله يو معاوضې انسان محض د مال او زر د هوس او د دولت د زياتوب د جذبې لپاره مال تر لاسه کوي ، همدارنګه د دواړو د کونکو نيت او غرض بېل بېل وي چي صدقه کونکی محض د الله تعالی د رضا او د آخرت د ثواب لپاره د خپل مال د ختمولو يا کمولو د فيصلې په کولو سره يوه لويه قرباني کوي او سود کونکی محض د دنياوي حرص او طمع په وجه د الله تعالی او د هغه د رسول د غصې او ناراضګۍ څخه په بې پروا کېدو سره په خپل او سني مال کي د زياتوب خواهش لرونکی وي ، دا خو د سود او صدقې د حقيقت تضاد وو د دواړو د نتائجو تضاد دادی چي کوم مال د الله تعالی د ناراضګۍ د پروا کولو څخه پرته په ناجائزه طريقه يعني سود سره تر لاسه کيږي الله تعالی هغه ختموي يا د هغه څخه برکت پورته کوي د دې پر خلاف کوم څوک چي د الله تعالی د رضا او خوښۍ لپاره خپل مال نورو ته

Maktaba Tul Ishaat.com

ورکوي الله تعالی د هغه مال زیاتوي په دې توګه چې د هغه په اوسني مال کې خیرا و برکت اچوي،
د دغه آیت کریمه په ضمن کې د دواړو په نتائجو کې د تضاد مطلب مفسرینو داسې بیان کړی دی چې د سود نیست او نابود کولو او د صدقې د زیاتولو تعلق د آخرت سره دی یعني سود خور ته د هغه مال په آخرت کې هیڅ ګټه نه رسوي بلکه د عذاب سبب ګرځي او د صدقه کونکي مال په آخرت کې د هغه لپاره د ابدي سعادتونو او راحتونو ذریعه جوړیږي، او د سود ختمېدل او د صدقې زیاتېدل د آخرت سره تعلق او د هغه آثار په دغه دنیا کې معلومیږي سود چې په کوم مال کې ګډ سي ځیني وختونه هغه مال داسې تباه او برباد سي چې د هغه وهم او ګمان هم نه کیږي لکه څرنګه د سود په بازارونو کې په عامه توګه لیدل کیږي چې لوی لوی کروړ پتیان او سرمایه داره خلک دیوالي سي که څه هم په بې سوده کاروبار کې هم د ګټې او تاوان احتمال وي او په دې وجه ځیني وختونه بې سوده تجارت کونکي ته هم په تجارت کې تاوان رسیږي مګر داسې تجار چې پرون کروړ پتي وو او نن د یوې روپۍ محتاج دی دا یوازې د سود په کاروبار کې پېښیږي.
په هر حال څرنګه چې مخکې ښوول سوي دي چې د سودي مال زیاتېدل او په آخر کې برباد کېدل محض د یو شرعي وعید د درجې خبره نه ده بلکه تجربه هم پر دې شاهده ده چې د سود مال هر څو مره زیات سي مګر هغه عموما تر پایه نه وي چې د هغه ګټه نسلونو ته ورسیږي داسې یو صورت خامخا پېښیږي چې سودي مال ختم یا کم کړي.

د سود خوړونکي په ظاهري خوشحالۍ مه خطا کیږئ

نن سبا د سود کاروبار عام دی ځای پر ځای د سود کاروبار جاري دی د هغوی په نزد په ظاهري توګه سره د دولت زیاتوب معلومیږي د عیش او عشرت اسباب هري خوا ته معلومیږي ځکه چې په عامه توګه سره خلکو ته شبه کیږي چې نن سبا خو سود خوړونکو ته ډېر راحت تر لاسه دی هغوی د بنګلو، او لوړو لوړو ماڼیو خاوندان دی، خادمان او د شان او شوکت ټول سامان ورسره موجود دی ځکه نو دا څرنګه ویل کیدای سي چې سود خوړونکي ته په دنیا کې راحت نه تر لاسه کیږي او د هغوی مال او زر د هغوی ملګرتیا نه کوي حالانکه که غور او فکر وکړل سي نو دا خبره څرګندیږي چې د راحت په سامان او راحت کې ډېر فرق دی د راحت سامان خو تاسو د کارخانو او بازار څخه تر لاسه کولای سئ هغه د سرو زرو او سپینو زرو په بدله کې تر لاسه کیدای سي مګر د کوم شي نوم چې راحت دی هغه نه په یو کارخانه کې جوړیږي او نه په یو بازار کې خرڅیږي بلکه هغه د یو داسې روحاني اطمینان او د زړه د یو داسې سکون نوم دی چې

Maktaba Tul Ishaat.com

د الله تعالی د رحمت په صورت کي انسان ته ورکول کیږي چي ځیني وختونه بې سرمایې او بې سامانه انسان او حیوان ته تر لاسه کیږي او ځیني وختونه په زرګونو د عیش او عشرت د اسباب او د راحت د سامان درلودلو سربېره نه سي ترلاسه کېدای ، خوب ته فکر وکړئ دا خوب څه شی دی د یو راحت او سکون نوم دی ددې د تر لاسه کولو لپاره تاسو دا کولای سئ چي یو ښه د خوب ځای جوړ کړئ چي په هغه کي د هواء او رڼا پوره انتظام وي په لوړه کچه پلنګونه وي په زړه پوري بسترې او بالښتونه وي مګر تاسو په خپله ووایاست ایا ددغه سامانو په تر لاسه کېدو سره د خوب راتلل لازمي دی ؟ که تاسو ته په خپله ددې تجربه نه وي نو هغه په زرګونو خلک به ددې جواب په نفي کي ورکړي کومو ته چي د یو وجه څخه خوب نه ورځي د هغوی لپاره دغه سامان بې ګټې دی تر دې چي کله خوب کوي نو دواوي هم جواب ورکړي د خوب لپاره سامان خو یې د بازار څخه راوړ مګر خوب په هیڅ قیمت نه سي راوړل کیدای، همدارنګه نور لذتونه او خوندونه ددې اسباب خو په روپو تر لاسه کیدای سي مګر ددغه راحتونو او لذتونو تر لاسه کېدی ددغه اسباب د موجود کېدو سربېره هم ضروري نه دي ، په دې خبره باندي د پوهېدو څخه وروسته د سود خوړونکو حال ته فکر وکړئ نو د هغوی سره به تاسو هر څه وویني مګر د راحت او اطمینان نوم به هم پیدا نه کړئ هغوی په خپل حرص او هوس کي د خپل ځانونو د کولو او د خپل یو کروړ د یو نیم کروړ او دوه کروړه جوړلو کي داسي مست معلومیږي چي نه د هغوی ته د خپل خوراک او څښناک هوش وي او نه د خپل کورنۍ خیال او فکر ، په ایمان سره ووایاست ایا اطمینان او راحت داسي تر لاسه کیږي چي د سهار څخه تر ماښام پوري او د ماښام څخه تر سهار پوري د مالت او دولت په بازارو کي د خپل ځان فنا کولو نوم راحت دی ، څومره بې عقله دي هغه خلک چي هغوی د راحت د اسبابو نوم راحت اېښی دی او کوم چي حقیقي راحت دی د هغه څخه په میلونو لیري دي .

سود خوړونکي ته حقیقت عزت نه تر لاسه کیږي

یو شتمن انسان د مال او دولت انبار ځکه جمع کوي چي هغه ته د دنیا اطمینان، سکون او راحت تر لاسه سي او هغه په ټولنه کي د عزت او وقار ژوند تېر کړي مګر د سود خوړونکي د ر احت حال خو معلوم سو چي د هغه په نزد په ظاهري توګه سره د مال او دولت زیاتوالي او د عیش او عشرت او راحت او ارام ټولو اسبابو د موجود کېدو سربېره دغه بد بختو ته د حقیقي راحت او اطمینان دولت په برخه نه وي او د زړه او دماغ سکون چي د الله تعالی د لوی نعمت نوم دی دهغه څخه بالکل محروم دی ، اوس د عزت او وقار معاملې ته راسئ سود خوړونکی د سود په

لعنت کي په پرله پسې اخته کېدو په وجه په طبعي توګه سره بې رحم او په زړه تنګ وي او د هغه کسب دا وي چې هغه د مصیبت وهلي او مفلس خلکو د مصیبت او مفلسۍ څخه د ګټې اخیستلو او د هغوی د ویني په څښلو سره خپل ځان وپالي د دغه مقصد لپاره هغه د لوږي څخه د فریاد کونکو بچیانو د لاس څخه د وچي ډوډۍ ټوټه اخیستلو او د غریبي حیاداري ښځي د بدن څخه د جامې اخیستلو څخه هم منع نه کوي د دغه شقاوت او سخت زړه والي کي دا څرنګه ممکن کېدای سي چې د خلکو په زړو کي د سود خوړونکي عزت او وقار پیدا سي تاسو د خپل سیمي تر ټولو لوی سود خوړونکي ته فکر وکړئ د هغه کڅوړه د سرو او سپینو زرو او د روپو د څومره لویو ذخیرو څخه ډکي وي د هغه په کور کي د مال او دولت څومره خزانې خوندي وي مګر ایا د خلکو په نظر کي د هغه ادنا عزت هم وي؟ بې کسه او مجبور خلک د خپل ضرورت او احتیاج په وجه د هغه په مخکي لاس غزوي مګر د هغوی په زړونو کي د هغه لپاره د عزت او احترام ادنا جذبه هم نه وي، په ټولنه کي د هغه حیثیت د هغه درنده په اندازه هم نه وي کوم چې د ځان لپاره د انسانانو د بدن څخه د غوښو د ټوټې په پرېکولو سره هغوي د هډوکو په غالب بدلوي، ددې نیتجه دا سي چې هغه د انسانانو په هره طبقه کي د هغه انساني شرف او احترام څخه محروم وي کوم چې یو انسان د بل انسان په مخکي د عزت او وقار شخصیت جوړلو سره وړاندي کوي.

د نن بې ارامي او اقتصادي بدحالي د سود له کبله ده

د سود خوړلو پر یو بل اړخ باندي هم نظر واچوئ، لوی مصیبت دادی چې ساینسي ارتقاء او مادي عروج انسان ته د ژوند تېرولو طریقه څرنګه وښودل چې د سوچ او پوهېدو تر طریقو پوري بدل سوي دي د نن انساني ذهن او د فهم او فراست د پختګۍ د دعوو سربېره د غور او فکر یو مخصوص طرز څخه مخته سوي نه دي د نن دنیا چې د انسان چاپیره په خالص مادي غالب کي اچول سوي د نوي ذهن د مصنوعي نظریاتو چې کوم حصار راغلی دی هغه د سوچ او فکر ټولو صلاحیتونه د مال او زر په یو خاص ماحول کي مقید کړی دی او د فکر او نظر د احساساتو د حقیقي نیکۍ او بدۍ د قوت د امتیاز څخه په محروم کولو سره یوازي د دنیا د ظاهري ګټو او راحتونو بندیان یې جوړ کړي دي ځکه نو نن د همېشه تسلیم سوي صداقتونه د انکار وړ سوي دي او د زرګونو کلونو حقیقي نظریات د ماتي وړ ګڼل کېږي د اسلام دا یو پوخ حقیقت دی چې سود حرام دی د هر فرد لپاره د هري طبقې لپاره او د هري زمانې لپاره او په هر حالت کي مګر ځیني خلک داسي هم دي چې په ظاهره خو پوه وي مګر د اوسنۍ زمانې

Maktaba Tul Ishaat.com

مصنوعي افكارو او نظرياتو هغوی د دين او شريعت د حقيقي لاري څخه ليري ساتلي دي او د هغوی پر ذهن او فکر باندي د اوسني دور خاص تاپې هغوی د جهالت په تيارو کي گمراه کړي دي د هغوی په نزد نه يوازي د سود د حرمت حقيقت په نن زمانه کي يو د عمل نه وړ شی دی بلکه د مادي خوشحاليو او د تجارتي کاميابيو په لارو کي يو خنډ هم دي د هغوی په نظر د اوسني اقتصادي نظام چي د سود په پنجو کي راګير دی يوازي د يوه فرد، يوه قوم او يوه هيواد لپاره نه بلکه د ټولي دنيا اقتصادي استحکام او د انسانيت د اقتصادي خوشحالۍ ضامن دی هغه لوی لوی سرمايه دار هيوادونه چي هغوی د سود په شکل کي د غريبو قومونو او پس پاته هيوادونو د اقتصاد او معيشت د روح په کنبلو سره هغوی يې د دنيا فقيران ګرځولي دي د دغه ليونيانو په نظر کي د انسان اقتصاد کاميابي د هغوی د اقتصادي اطمينان يوازينۍ ذريعه ده دا خلک په دغه خوش فهمۍ کي اخته دي چي سرمايه دار طاقتونه د غريبو هيوادونو او د بدحالۍ د ښکار قومونو لپاره د خپلو خزانو خولې چي خلاصوي هغوی په حقيقت کي د عالمي وررولۍ او بين الاقوامي اقتصادي خوشحالي پوري د هغوی د حقيقي جذباتو، ايثار او همدردۍ مظهر دی حالنکه که لږ هم د فکر او غور څخه کار واخستل سي نو دغه حقيقت د ورځي په ډول ځلانده کيږي چي دا هر څه د دغه هوس او عيارۍ د ترقي يافته لاره ده چي پر هغه باندي په تللو سره مخکي خو يو انسان د بل انسان وينه څښلې ده او اوس پر دغه لاره باندي تلونکی يو قوم او يو هيواد د نورو قومونو او نورو هيوادونو وينه څښي بس فرق دومره دی چي مخکي يو فرد يا يوه طبقه د سود د اقتصادي تباهۍ ښکار سوې وه او دا يې محسوس کول مګر نن پوره پوره هيوادونه او پوره پوره قومونه د سود د اقتصادي تباهۍ په غير محسوس توګه سره په ښکار کېدو سره خپل وقار يې د سود خوړونکو سره ګرو کړی دی.

د کوم پوهاند نظر چي د دنيا د دغه اقتصادي منصوبو باندي دی چي تر هغه لاندي سرمايه دار هيوادونه پس مانده قومونو او ترقي کونکو هيوادونو ته هر کال د اربونو ډالر مرسته په پور ورکوي هغوی پوهيږي چي دغه هيوادونه څرنګه چي د سود په شکل کي د دغه غريبو هيوادونو اقتصادي دولت په دواړو لاسونو لوټ کړي او خپل د هيواد خزانې ډکي کړي د دغه حقيقت څخه يو هوښيار او باخبر انسان انکار نه سي کولای چي د دغه سود خوړونکو هيوادونو سود خوړل د دنيا د هغه ټولو غريبو هيوادونو په اقتصادي نظام کي چي د بدبختۍ څخه خپل وسائل او د خپل لاس پر قوت او محنت باندي په باور نه کولو سره د سرمايه داره هيوادونو په چم کي را نغښتي دي غربت او مفلسي يې داسي زهرجن کړي دي ي دغه ټول اقتصادي غالب يې پر خپل

Maktaba Tul Ishaat.com

ځای پرې ایښی دی او د اقتصادي مرګ پر دروازه باندي را رسیدلي دي، دغه صورت حال د دنیا امن او سکون هم په لړزه کړی دی نن به تاسو داسي څومره هیوادونه وینئ چي د هغوی د سیاسي او ملکي فلانونو واګي ددغه سود خوړونکو هیوادونو په لاس ګرو سوي دي ددغه هیوادونو هغه مسائل او معاملات چي پر هغه باندي د ټولي نړۍ د امن او سکون دار او مدار دی د خپل هیواد د مدبرینو څخه محض په دې وجه وتلي دي او د سود خوړونکو د فلانونو ښکار سوي دي چي د هغوی د اقتصادي ژوند ټول دار او مدار ددغه سود خوړونکو پر مرسته او پور باندي دی ددغه مسائلو حل د هغوی د سیاسي او اقتصادي فلانونو خلاف دی ځکه هغوی دوی پر دنیا باندي داسي معلق کړي دي چي نن د هغوی په وجه د قومونو قومونه او د هیوادونو هیوادونه د خپل داخلي بې تابۍ او نا امیدۍ په ښکار کېدو سره د مرګ او ژوند په جال کي راګیر دي، ځکه نو ویل کیږي چي نن پر ټوله نړۍ باندي د سیاسي بې اطمینانۍ او اقتصادي بې ارامۍ چي کومه د هیبت څخه ډکه وریځ خپره سوې ده هغه په اصل کي د سود خوړونکو مسلط کړل سوې ده چي په هغه سره ریپدونکی برق هم په یوه لمحه کي د انسانیت پوره وجود ختمولای سي.

د سود په باره کي یوه شبه او د هغې جواب

ځیني پوهان خلک هم په دغه شبه کي اخته دي چي قرآن کریم کوم سود حرام کړی دی هغه د یو خاص ډول سود دی چي د جاهلیت په زمانه کي رواج وو چي یو غریب او مصیبت زده به د خپل مصیبت لیري کولو لپاره د یو چا څخه پور اخیستی او پور ورکونکي به د هغه څخه تاکلې ګټه د سود په توګه اخستل دا بېشکه د یو سخت زړه خبره ده چي یو سړی د یو چا په مشکل کي د مرسته کولو پر ځای د هغه د مشکل څخه ګټه اخلي، قرآن کریم د سود دغه صورت حرام کړی، زیات تر زیات دا ویل کیدای سي چي ددغه حرمت اطلاق په نن زمانه کي هم د سود پر هغه صورت کیدای سي چي د لویو سوداګرانو او نورو سود خوړونکو په نزد په شخصي او انفرادي توګه سره رواج دی چي یو اړ او غریب کس د خپل ضرورت پوره کولو لپاره د هغوی څخه پور اخلي او پر هغه د شرط او تعین سره سود اداء کوي مګر نن سبا د ټولو تجارتونو، بانکونو او اجتماعي ادارو په ذریعه چي کوم سودي کاروبار کیږي ددې صورت بالکل مختلف دی چي د هغه په وجه اوس سود ورکونکي مصیبت وهلي خلک نه وي بلکه شتمن او سرمایه دار تاجران دي چي د غریبانو څخه د سود اخیستلو پر ځای یې خپله هغوی ته ورکوي، ظاهره ده چي په دغه صورت کي د غریبانو ګټه ده چي لږ سرمایې لرونکو د پورتنیو ذرائعو څخه یو څه لاس ته

Maktaba Tul Ishaat.com

راوړي نو د اوسنۍ زمانې پر تجارتي سود باندي د حرمت اطلاق كېدل نه دي پكار ؟
د جواب څخه مخكي په يو بنيادي خبره باندي پوهېدل پكار دي چي د شريعت د هر حكم تعلق د اصول او كليې سره دى د جزئياتو او اقسامو اختلاف د هغه حكم پر نفاذ باندي اثر نه اچوي ، شريعت چي كوم شى په اصولي توګه سره حرام ګرځولى دى هغه شى به د خپلو ټولو اجزاوو او اقسامو سره حرام وي دا حق به هيچا ته تر لاسه نه وي چي هغه د الله تعالى په حكم كي د هغه شى څخه يو جز يا يو ډول محض په خپل خيال سره مستثنى كړي يا د هغه حكم اطلاق بېله يو شرعي دليل څخه مقيد او محدود كړي كه يو سړى داسي كوي نو هغه ګويا په قرآن كريم كي تحريف كوي او د الله تعالى د حكم څخه منحرف كيږي مثلا شراب حرام ګرځول سوي دي كه يو څوک دا ويل شروع كړي چي ددغه حرمت تعلق د هغه شرابو سره دى كوم چي په مخكي زمانه كي په خرابو لوښو كي په خرابېدو سره جوړېدل اوس خو د پاكوالي ډېر اهتمام كيږي د ماشينانو په ذريعه ټول كار كيږي او د غوره درجې شراب جوړيږي د اوسنۍ زمانې پر شرابو باندي د حرمت اطلاق كول نه دي پكار نو څرګنده ده چي دا خبره هغه سړى كولاى سي چي د اسلامي شريعت د ذرې علم هم نه لري يا د اسلامي شريعت د مزاج څخه بالكل نا خبره وي ددې څخه پرته پر دې باندي هم فكر وكړئ چي استثناء يا د قران كريم احكام د خپل خيالاتو د تابع كولو دروازه به خلاصه سي نو بيا به د كوم شى حرمت پاته سي خمار، غلا، زنا او فواحش په دې كي كومه خرابي داسي ده چي هغه په اوسنۍ صورت كي د مخكې زمانې د صورت څخه مختلف نه وي ، ددې مطلب خو به دا وي چي دغه ټولو خرابيو ته به جائز ويل پكار وي ، كله چي د يو سړي د شكل په بدلېدو سره د يو سړي حقيقت نه بدليږي نو هيڅ يوه بدي كه په هر صورت كي وي د هغه حكم هم په هيڅ حالت كي نه بدليږي .

په دغه خبره باندي د پوهېدو وروسته اوس پر سود باندي نظر واچوئ نو معلومه به سي چي په قرآن كريم كي د سود د مخالفت ذكر په يو ځاى كي نه بلكه په مختلفو صورتو كي په څو آياتو كي راغلى دى او تر څلوېښت څخه زيات حديثونو كي په مختلفو عنوانو سره ددې حرمت بيان سوى دى چي په هغو كي يو ځاى هم په يوه لفظ كي دا اشاره نه سته چي د حرمت دغه حكم د يو خاص صورت يا يو خاص مصلت سره سم دى د سود حرمت د هيڅ يو آيت يا هيڅ يو حديث څخه هم دا اشاره نه ثابتيږي چي دغه حرمت يوازي د هغه سود دى كوم چي د شخصي مقاصدو لپاره اخيستل كيږي او تجارتي سود ددې څخه مستثنى دى بلكه پر دغه مسئله باندي كه په تاريخي توګه سره فكر وكړل سي نو معلومه به سي چي دا خيال بالكل غلط دى چي د قرآن كريم

Maktaba Tul Ishaat.com

د نازلېدو په زمانه کي د سود یوازي دغه صورت رواج وو چي یو مصیبت وهلي او غریب سړي به د خپل ضرورت پوره کولو لپاره په سود سره د پور معامله کول او د تجارتي معاملو لپاره د سود د روپو اخیستل او ورکول رواج نه وه بلکه د آیت کریم د شان نزول څخه معلومېږي چي د سود حرمت کله نازل سوی دی نو هغه وخت د شخصي مقاصدو لپاره د سودي کاروبار څخه پرته د تجارتي معاملاتو لپاره هم د سود کاروبار مروج وو ځکه چي عرب او په خاصه توګه قریش تجاران وه چي د تجارتي مقاصدو لپاره به یې د سود کاروبار کوی ، د حضرت عباس او حضرت خالد ابن ولید رضي الله عنهما په باره کي امام بغوي رحمه الله لیکلي دي چي دوی دواړو په شراکت سره کاروبار کوی او د دوی راکړه ورکړه د د طائف د بنوثقیف سره وو ، د حضرت عباس رضي الله عنه ډېري روپۍ د سود په توګه پر بنو ثقیف باندي پاته وې هغوی د بنو ثقیف څخه د خپل پخوانۍ روپیو غوښتنه وکړه نو رسول الله ﷺ د قرآن کریم ددغه حکم سره سم چي سود حرام ګرځول سوی دی خپل اکا حضرت عباس رضي الله عنه ته د سود خپل روپۍ پرېښودو لپاره حکم ورکړ چي د هغه اعلان رسول الله ﷺ د حجة الوداع په خطبه کي داسي وفرمایه :

وربا الجاهلیة موضوع واول ربا اضع من ربانا ربا عباس بن عبدالمطلب : د جاهلیت د زمانې سود پرېښودل سوی دی او تر ټولو اول سود چي هغه زه د خپل سود څخه پرېږدم د عباس ابن عبدالمطلب سود دی .

ددې څخه پرته نوري ډېر داسي واقعې نقل سوي دي چي د هغو څخه ثابتېږي چي د یوې قبیلې د بلي قبیلې سره او د یوې کورنۍ سره سودي کاروبار وو ، بیا ددې سره دا خبره هم د فکر وړ ده چي د کومو قبائلو یا کورنیو تر مینځ د کاروباري سود ذکر منقول دی هغه د یو سمدستي ضرورت یا مصیبت په وجه د پور اخیستلو په حیثیت سره نه وو بلکه په دې توګه وو چي د هغوی په مینځ کي دغه راکړه ورکړه د کاروباري او تجارتي حیثیت سره پرله پسې جاري وه لکه یو تجار چي د بل تجار سره یا یوه کمپنۍ د بلي کمپنۍ سره معامله کوي بلکه سود کاروبار کونکي خلک ربا هم یو ډول تجارت ګڼي چي د هغه تردید قرآن کریم ته پرېښودل سو او د رانیولو او پلورلو معاملات د سود د یو ډول ګټونکو کسانو لپاره سخت تهدید او وعید نازل سو .

اوس پاته سوه دا خبره چي د بانکونو په سودي کاروبار کي عامو خلکو ته ګټه ده په دې توګه چي هغوی ته پر خپلو روپو باندي څه نا څه ګټه ورکول کېږي ، نو په یاد ولرئ چي دا هغه حسین فریب دی چي د هغه پر بنیاد یورپي قومونه د سود په ډول بد او د همېشه لعنت کاروبار ته یوه ښکلې جامه اغوستې ده او د عوامو په دغه فریب کي په اخته کېدو سره د سود د یو څو

برخي په دوكه وركولو كي خپله سرمايه بانكونو ته حواله كړي همدارنګه د ټول قوم د سرمايې
په را ټولېدو سره بانكونو ته راغلى او بيا دغه سرمايه لوى لوى تاجرانو او كاروباريانو ته د
بانكونو څخه د پور په توګه اخيستلو سره خپل كاروبار ته وسعت وركړ او ددې څخه چې كومه
لويه ګټه تر لاسه سوه او د هغه څخه د يو لږ برخي بانك ته په وركولو سره يې دپاته روپو څخه
خپل جيبونه ډک کړي او بانكو والا د هغه برخي څخه يو لږ برخه د ټول قوم په هغه خلكو كي
وويشي كومو چي خپله سرمايه بانک ته حواله کړې ده همدارنګه سرمايه دار په خپلو لسو زرو
روپو سره يو لک روپۍ وګټلې او د غريبانو په برخه كي څه راغله يوازې يو لږ برخه اوس ددغه
بانكونو څخه اصل ګټه چا ته تر لاسه سوه شتمنو كسانو ته او كه غريبانو ته ؟ غريب خو د هغه
متوقع ګټي څخه هم محروم سو كوم چي هغه د خپل سرمايې بانک ته د حواله كولو پر ځاى په
يو كوچني تجارت كي په لګولو سره تر لاسه كړې واى هغه ته خو دومره اسانتيا هم تر لاسه نه
سوه چي هغه د بانک څخه د ډېرو روپو په اخيستلو سره كاروبار كړى واى ځكه بانک خو غريب
ته د روپو د وركولو څخه پاته سو هغه خو لوى لوى شتمنو كسانو ته پور وركوي مګر ددې پر
خلاف سرمايه دار چي د بانک څخه كومه ګټه تر لاسه كړه هغه د بانک څخه د ډېرو روپو
اخيستلو سره د پور په نامه واخستلې او په هغه روپو يې د تجارت او صنعت پر لويو لويو
منډيو باندي خپل اجاره وكړه پر هر ډول كاروبار باندي قابض سو كمي سرمايې والا يې د
مقابلې او مسابقت په ذريعه د تجارت په ميدان كي نه پرېښودل او ددې پاى دا سو چي د
تجارت كاروبار چي د ټول قوم لپاره ګټور او د پرمختګ ذريعه وه په يو څو خاصو خلكو كي په
محدود كېدو سره پاته سو او په پاى كي ددغه سودي كاروبار پر غريبانو داسي اثر ولوېدى چي
د تجارت پر اډو باندي خاص سرمايه دارانو ځان واچوى نو د شيانو قيمت هم د هغوى حواله
سو چي نتيجه يې دا سوه چي نن په هر ځاى كي ليدل كيږي چي د معيشت په سامان كي ورځ په
ورځ ګراني راځي او د شيانو قيمت دومره لوړيږي چي د حكومت د ټولو كوښښونو سربېره هغه
په واک كي نه راځي او پاى ددې غريبو عوامو ته د سود په نامه يو معمولې برخه تر لاسه سوې
ده چي د هغه په نتيجه كي د معيشت سامان دوه برابر يا درې برابر پورته سوى دى نو ددغه
غريبانو د جيب څخه د سود هغه معمولي برخه د نور سود په اخيستلو سره ووتل او بيا د هغه
سرمايه دار جيب ته ورسيدل نو د بانكونو او تجارتي ادارو د سودي كاروبار ددغه فريب د
پردې په پورته كولو سره وګورئ نو معلومه به سي چي د سودي كاروبار عامه نتيجه د هيڅ يو
غريب په حق كي ګټوره نه ده بلكه دا په حقيقت كي د ټول قوم د غربت او مفلسۍ او د يو څو

Maktaba Tul Ishaat.com

سرمايه دارانو د بې پايه زياتوب ذريعه ده او دا هغه معاشي بې اعتدالي او اقتصادي بربادي ده چي د ټول قوم او ټول هيواد د تباهۍ سبب ګرځي ځکه نو اسلام د سود هره طريقه او هره ذريعه باندي بنديز لګولی دی که هغه د انفرادي او شخصي مقاصدو لپاره د پور اخيستلو په صورت کي وي يا د اجتماعي تجارت او د بانکونو د کاروبار په شکل کي وي ځکه په دغه دواړو صورتو کي د غريب وينه د سود خوړونکي غذا جوړيږي.

﴿۲۷۰۵﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَتَيْتُ

د حضرت ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د معراج په شپه زه د يو

لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِي عَلَى قَوْمٍ بُطُوْنُهُمْ كَالْبُيُوْتِ فِيهَا الْحَيَّاتُ تُرَى مِنْ خَارِجِ

داسي قوم سره تېر سوم چي د هغوی نسونه دلوئ سرايو په شان وه او نسونه يې د مارانو څخه ډک وه کوم چي د دباندي څخه معلومېدل

بُطُوْنِهِمْ فَقُلْتُ مَنْ هٰؤُلَاءِ يَا جِبْرَائِيلُ قَالَ هٰؤُلَاءِ أَكَلَةُ الرِّبَا. رواه احمد وابن ماجة.

ما د حضرت جبرئيل علیه السلام څخه پوښتنه وکړه چي دا څوک دي؟ هغه په جواب کي وويل چي دا سود خواره دي. (احمد ابن ماجه)

تخريج: الامام احمد في المسند ۲\۳۵۳، وابن ماجه ۲\۷۶۳، رقم: ۲۲۷۳.

پر سود خوړونکي لعنت

﴿۲۷۰۶﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ اَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَعَنَ آكِلَ الرِّبَا وَمُوْكِلَهُ وَكَاتِبَهُ وَمَانِعَ الصَّدَقَةِ وَكَانَ يَنْهَى عَنِ النَّوْحِ. رواه النسائي

د حضرت علي رضی الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه وا وريدل پر سود خور سود ورکونکي د سود کاغذ ليکونکي د سود حساب ساتونکي او صدقه منعه کونکي باندي لعنت ويلي دي او نبي کريم ﷺ پر وير کولو هم منع فرمايلې ده. (نسائي)

تخريج: سنن النسائي ۸\۱۴۷، رقم: ۵۱۰۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

تشريح: د صدقې څخه د منع کونکو څخه مراد يا خو هغه سړی دی چې بل څوک د صدقې او خيرات څخه منع کوي ، رسول الله ﷺ پر داسي سړي باندي لعنت ويلی دی ، يا ددې څخه هغه سړی مراد دی چي واجب صدقه يعني زکوة وغيره نه ادا کوي .
د يو مړه سړي په يادولو سره په چغو چغو ژړلو ته نوحه وايي دا يو ډېر نازيبا او د وقار خلاف کار دی څکه شريعت ددې څخه منع کړې ده .

د سود تشريح

﴿۲۷۰۷﴾: وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ إِنَّ آخِرَ مَا نَزَلَتْ آيَةُ الرِّبَا وَإِنَّ رَسُولَ

د حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه څخه روايت دی چي اخيري شی چي په رسول الله ﷺ باندي نازل سوې دي هغه د ربوا (سود) ايت وو

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُبِضَ وَلَمْ يُفَسِّرْهَا لَنَا فَدَعُوا الرِّبَا وَالرِّيبَةَ . رواه ابن ماجة والدارمي .

او رسول الله ﷺ وفات سو او د دې ايت تفسير يې موږ ته و نه فرمايل نو په دې وجه تاسو سود او هغه شی چي په هغه کي د سود شک وي پرېږدئ . (ابن ماجه دارمي)

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\ ۷۶۴، رقم: ۲۲۷۶، والدارمي ۱\ ۶۴، رقم: ۱۲۹.

تشريح: دا خبره مخکي بنوول سوې ده چي د سود رواجي شکل يعني په پور باندي د تاکل سوي ګټي اخستل د اسلام څخه مخکي د جاهليت په زمانه کي هم رواج وو او په خلکو کي دا ډول سود ډېر رواج وو ، قرآن کريم چي د سود حرمت بيان کړ او د ربا آيت نازل سو نو رسول الله ﷺ د حرمت دغه حکم نه يوازي د هغه وخت پر رواجي او متعارف سود باندي نافذ کړ بلکه د ربا مفهوم ته په وسعت ورکولو سره د نورو شيانو په کاروبار او رانيولو پلورلو کي ځيني صورتونه د ربا په حکم کي داخل کړل چي د هغه تفصيل په تېرو حديثو کي ذکر سوی دی ، مګر صورت دا سو چي د آيت کريمه د نازلېدو څخه وروسته رسول الله ﷺ په دنيا کي ډېر لږ وخت تشريف فرما وو په دغه لږ وخت کي په نورو ديني او ضروري مصروفياتو کي دومره بوخت وو چي رسول الله ﷺ د کاروبار هغه صورتونه په زيات تفصيل سره بيان نه کړل تر دې چي رسول الله ﷺ وفات سو ، د حضرت فاروق رضي الله عنه په دغه ارشاد کي د تفصيل څخه مراد د هغه صورتونو تشريح او تفصيل دی کوم چي رسول الله ﷺ په شپږو شيانو (سره زر، سپين زر، غنم، اوربشي،

Maktaba Tul Ishaat.com

خرما او مالګه) په کاروبار کي ځیني صورتونه د ربا په حکم کي داخل کړي وه ایا دغه حکم د دغه شپږو شیانو سره مختص دی او که دغه شیان یې د مثال په توګه فرمایلي دي او پاته شیان یې پر قیاس او اجتهاد باندي موقوف کړل ، همدا وجه ده چي وروسته راتلونکو مجتهدینو امامانو امام ابوحنیفة، امام شافعي، امام مالک او امام احمد بن حنبل رحمة الله علیهم هر یوه د خپل خپل اجتهاد سره سم د دغه شیانو یوه قاعده جوړه کړې ده او نور شیان هم د دغه قاعدې لاندي په حکم کي داخل کړي دي ، د دې تفصیل هم مخکي تېر سوی دی .

خلاصه دا چي د قرآن کریم د آیت د نازلېدو څخه د سود یو خاص معامله یعني پور ورکولو سره پر هغه ګټه اخیستل په عربي ژبه کي د ربا په لفظ سره پېژندل کیدی او په ټولو عربو کي د دې رواج وو ، عربو یوازي دغه معاملې ته ربا ویل او په پوهېدل چي دغه ربا قرآن کریم حرامه کړل، نو د ربا په دغه صورت کي ابهام نه وو ځکه کله چي قرآن کریم د ربا د حرمت ذکر وکړ نو چا ته د دې په پوهېدو کي څه تکلف نه وو او نه چا ته پر دې باندي په عمل کولو تردد وو البته کله چي رسول الله ﷺ د وحي الهي په ذریعه د رباء په مفهوم کي د نورو معاملاتو زیاتوب وکړ نو هغه معاملات د عربو د پیژندل سوي مفهوم څخه بېل او د هغوی د رواج سوي سود څخه یو بېل شی وو او د اتفاق خبره ده چي رسول الله ﷺ د رباء د دغه وسیع مفهوم د تفصیلاتو په پوره تشریح سره بیانولو څخه مخکي د دې دنیا څخه تشریف یوور ځکه نو د دې په تشریح کي حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ته اشکال پیدا سو ، په پای کي هغه په خپل اجتهاد سره د احتیاط په اختیارولو سره وفرمایل چي د رباء کوم صورتونه بالکل واضح او ټاکل سوي وي لکه رواجي سود یا د شیانو د تبادلې هغه صورتونه کوم چي رسول الله ﷺ بیان کړي دي هغه هم ترک کړئ او د هغه څخه پوره پرهېز وکړئ او په کوم شي کي چي د سود شبه او شک وي نو د تقوا او احتیاط له کبله هغه هم پرېږدئ او پرهیز ځیني وکړئ .

یوه شبه او یوه غلط فهمي : د سود په اړه ځینو خلکو د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د غه ارشاد خپل پناه ګرځوی کوم چي د سود د هغه خاص ډول په باره کي وو چي د هغه د رواجي سود سره هیڅ تعلق نه ستـه یعني د شپږو شیانو په بیع او شراء کي هغه خلکو د دغه ارشاد دا نتیجه واخستل چي د رباء حقیقت مبهم پاته سوی دی ، د دې سره اړوند علماؤ او فقهاؤ چي څه لیکلي دي هغه یوازي د هغوی خپل اجتهاد وو .

مګر څرنګه چي اوس پورته وښودل سول چي حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ته یوازي د رباء په دغه ډول کي تردد وو کوم چي د قرآن کریم د الفاظو څخه ثابت نه وو بلکه رسول الله ﷺ د خپل

Maktaba Tul Ishaat.com

ارشاد په ذریعه د هغه حرمت بیان کړی وو او هغه د شپږو شیانو په خپل مینځ کي معامله ده ، کوم سود چي نن سبا رواج دی او کوم چي د جاهلیت په زمانې کي عام وو ددې سره د حضرت عمر رضی الله عنه ددغه ارشاد هیڅ تعلق هم نه وو او څرنګه کیدای سو کله چي د جاهلیت د زمانې سره ددغه معاملاتو رواج او جاري وو بیا دغه ارشاد چي ددغه شپږو شیانو د سود په باره کي حضرت عمر رضی الله عنه ته کوم تردد وو هغه هم په دغه خبره کي نه وو چي هغه ته ددغه شپږو شیانو په معامله کي د سود حرام ګڼلو تردد وو بلکه اشکال یوازي دا وو چي دغه حکم کیدای سي تر شپږو شیانو پوري محدود نه وي بلکه ددغه حکم دائره ددغه شپږو شیانو څخه پرته تر نورو شیانو پوري هم وسیع وي ، په دغه صورت کي کیدای سي چي خلک په دا خیال کولو سره چي رسول الله ﷺ یوازي ددغه شپږو شیانو په باره کي دغه حکم فرمایلی دی د نورو شیانو په معامله کي د هغه صورتونو په اختیارولو سره په سود کي اخته سي کوم چي رسول الله ﷺ د شپږو شیانو لپاره په واضح توګه سره رباء ګرځولې ده ، ددغه تردد سره سم حضرت عمر رضی الله عنه خلکو ته حکم ورکړ چي د سود سره سره د هغه شیانو څخه هم پرهیز وکړئ په کوم کي چي د سود شبه وي ، نو دا به ظلم نه وي چي حضرت عمر رضی الله عنه د خپلو اشکالو نیتجه دا ظاهره کړه چي په منصوص شیانو کي هم د داسي معاملو څخه پرهیز وکړل سي چي په هغه کي د سود شبه هم وي او هغه خلکو د حضرت عمر رضی الله عنه ددغه ارشاد تعلق د هغه سود د هغه خاص ډول څخه په منقطع کولو سره د عام سود او رباء د معاملاتو سره وتړی او بیا یې پر دې باندي اکتفاء ونه کړه بلکه نور ظلم یې دا وکړ چي محض د خپل ناپوهی په وجه یې د حضرت عمر رضی الله عنه د ارشاد په رڼا کي د سود حرمت یوه مشتبه مسئله وګرځول.

د پوروړي تحفه مه قبلوئ

﴿۲۷۰۸﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَقْرَضَ

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کله چي قرض ور کړي

أَحَدُكُمْ قَرْضًا فَأَهْدَى اليه أَوْ حَمَلَهُ عَلَى الدَّابَّةِ فَلَا يَرْكَبْهَا وَلَا يَقْبَلْهُ إِلَّا أَنْ

په تاسو کي یو څوک یو چا ته وروسته بیا قرض اخیستونکي هغه ته څه هدیه یا تحفه ور ولیږي یا د سپرتیا لپاره یو حیوان ورکړي نو هغه دي نه پر سپرلی سپریږي او نه دي تحفه یا هدیه قبلوي مګر هغه وخت یې قبلولای سي چي

يَكُونَ جَرٰى بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ قَبْلَ ذٰلِكَ . رواه ابن ماجة والبيهقي في شعب الايمان

تر قرض ور کولو مخکي هم دغه معامله جاري وي . (ابن ماجه بیهقي)

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\۸۱۳، رقم: ۲۴۳۲، البيهقي في شعب الايمان ۴\۳۹۷، رقم: ۵۵۳۲.

تشريح: مطلب دادی چي پور ورکونکی دي د پوروړي څخه د تحفې په توګه يو شی نه قبلوي ځکه چي پوروړي ته د پور په ذريعه کومه ګټه رسيږي هغه د سود په حکم کي ده مګر که چيري د پور څخه مخکي هم د دواړو تعلقات داسي وي چي يو بل ته تحفې ورکوي نو بيا په دغه صورت کي د پور اخيستلو څخه وروسته هم که د پوروړي څخه تحفه واخلي نو پور ورکونکی هغه قبلولای سي ځکه چي ظاهره ده چي په داسي صورت کي به تحفه د پور په وجه نه وي بلکه د خپل پخواني تعلقاتو په وجه به وي .

د امام ابو حنيفة رحمة الله عليه په اړه منقول دي چي هغه يو سړي ته پور ورکړی وو، يوه ورځ چي هغه پوروړي ته د غوښتني لپاره ورغلی نو هغه وخت سخته ګرمي وه نو هغه وغوښتل چي تر څو پوروړی د کور څخه راوځي تر هغه وخته به د هغه د سرای د دېوال په سايه کي ودريږم مګر سمدستي يې فکر وکړ که څه هم په شرعي توګه سره ددې څخه منع نه سته مګر د تقوا او احتياط تقاضا داده چي زه د دېوال دده سايې څخه هم ګټه تر لاسه نه کړم هغه پوروړي ډېر وخت وروسته د کور څخه راووتی او امام صاحب تر هغه وخته پوري د لمر په ګرمۍ کي ولاړ وو ، دا د هغه مبارک ذات احتياط کمال وو چي هغه د خپل پوروړي د ديوال د سايې څخه هم پرهيز وکړ .

په ما لا بد منه کي ليکلي دي چي په يو حديث کي راغلي دي چي کوم پور پور ورکونکي ته د ګټي رسولو سبب سي نو هغه رباء ده نو پور ورکونکی دي د خپل پوروړي بلنه هم نه قبلوي مګر که چيري د پور څخه مخکي هم د دواړو په مينځ کي د يو بل د بلني او د تلو او راتلو معمول وي نو بيا په دغه صورت کي په بلنه قبلولو کي څه پروا نه سته ، او دا يې هم ليکلي دي چي د پور ورکونکي لپاره د خپل پوروړي د ديوال په سايه کي کښېنستل هم مکروه دي .

﴿۲۷۰۹﴾: وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا اَقْرَضَ الرَّجُلُ الرجل فَلَا يَاْخُذْ هَدِيَّةً. رواه البخاري في تاريخه هكذا في المنتقى .

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : کله چي څوک چا ته قرض ورکړي نو بيا د قرض اخيستونکي دي تحفه نه قبلوی .(دا حديث د بخاري په تاريخ کي روايت سوي دي او

Maktaba Tul Ishaat.com

همدا سي په منتقی کي دي).

تخريج: لم نجده.

﴿۲۷۱۰﴾: وَعَنْ اَبِيْ بُرْدَةَ بْنِ اَبِيْ مُوْسٰى قَالَ قَدِمْتُ الْمَدِيْنَةَ فَلَقِيْتُ عَبْدَ اللّٰهِ

د حضرت ابو برده بن ابي موسى رضي الله عنه څخه روايت دی چي زه مديني منورې ته راغلم نو بيا ما د عبدالله بن سلام سره ملاقات وکړ

بْنَ سَلَامٍ فَقَالَ إِنَّكَ بِأَرْضٍ فِيْهَا الرِّبَا فَاشٍ فَإِذَا كَانَ لَكَ عَلٰى رَجُلٍ حَقٌّ

هغه ما ته وويل: ته په داسي علاقه کي يې چي سود په پراخه پيمانه پکي رواج دي په داسي حالت کي که چيري ستا په يو چا قرض وي نو په داسي حالت کي هغه تا ته

فَاَهْدٰى إِلَيْكَ حِمْلَ تِبْنٍ أَوْ حِمْلَ شَعِيْرٍ أَوْ حِمْلَ قَتٍّ فَلَا تَأْخُذْهُ فَإِنَّهُ رِبًا.

رواه البخاري.

د وښو يا بوسو يو پلنده يا د اوربشو يوه بوره را ولېږي نو ته يې مه څيني اخله ځکه چي دا د سود په حکم کي راځي .(بخاري).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۴\۴۰۳، رقم: ۲۲۰۵، ومسلم ۳\۱۱۷۲، رقم: ۷۶-۱۵۴۲.

تشريح: علماء کرام وايي چي د (کل قرض جر نفعا فهو ربوا) يعني هر هغه پور چي په هغه کي ګټه راخيستل سي سود دی، ددغه تر اصولو لاندي هغه پور چي په هغه کي يو ګټه مشروط وي سود دی همدا رنګه پور ورکونکي ته د پور اخيستو د پور د دباو له مخي چي کوم ګټه تر لاسه کيږي هغه هم سود دی.

مسئله: که پور ورکونکی د خپل پوروړي څخه د پور د ادا کولو مخکي يو ګټه تر لاسه کړي نو وه به کتل سي چي هغه ګټه مشروط خو نه ده که هغه ګټه مشروط وي نو په دغه صورت کي د هغه په حرمت کي هيڅ شبه نه سته يعني هغه ګټه به د سود په حکم کي وي او که هغه ګټه مشروط نه وي نو بيا د هغه په باره کي هم د علماؤ اختلافي قولونه دي امام محمد رحمه الله د دې د جواز قائل دی مګر يو ډله ممانعت ته مائل ده، مګر خبره داده که چيري هغه ګټه د پور د دباو يا د پور د رعايت له کبله نه وي يا د مهلت او مهرباني په وجه وي نو په هر حال ناجائز ده مګر که

Maktaba Tul Ishaat.com

چيري د احسان د پخوانيو تعلقاتو په وجه وي نو بيا ددې په جواز کي هيڅ شک نه سته .
په پور کي د وخت ټاکلو څخه منع سوې ده مګر صحيح خبره داده چي د وخت په ټاکلو کي څه پرواه نه سته ځکه مسئله داده که چيري پور تر يو ټاکلي وخت پوري واخيستل سي نو هغه وخت د شرط په حيث لازميږي مګر د پور په حيث نه لازميږي که پور غوښتونکی د هغه وخت څخه مخکي خپل پور وغواړي نو د هغه دا حق دی او پوروړي ته پکار دي چي هغه تر خپل وس پوري د ادا کولو کوښښ وکړي .
که يو څوک يو چا ته د پور ورکولو پر وخت دا شرط ولګوي چي زما دغه پور به په فلاني ښار کي راکوې نو دا شرط به په طريقه د لزوم ناجائز وي .
ځيني خلک په سودي بانکونو کي خپل روپۍ د امانت په توګه جمع کوي او د هغه ګټه او سود نه اخلي نو کومي روپۍ چي په بانک کي جمع کيږي هغه په يقيني توګه سره بعينه محفوظ نه وي بلکه په کاروبار کي لګول کيږي ځکه نو هغه امانت نه پاته کيږي بلکه پور کيږي که څه هم هغه سړی سود وانه خلي مګر هغه يو ډول د پور په ذريعه د سود اخيستونکي او ورکونکي مرسته کول هم ګناه ده ځکه نو خپلي روپۍ په سودي بانک کي اېښودل ګناه سوه.

==========

بَابُ الْمَنْهِيِّ عَنْهَا مِنَ الْبُيُوْعِ

(د منعه بيعو بيان)

اسلامي شريعت د رانيولو او پلورلو ځيني معاملاتو څخه منع کړې ده همدارنګه ځيني شيان داسي دي چي د هغو رانيول او پلورل د شريعت له نظره منع دي ، بيا ځيني معاملات او د ځينو شيانو منع په طريقه د حرمت دي (يعني د دغه معاملاتو او د دغه شيانو د حرام کېدو په وجه وي) لکه بيع باطل او د بيع فاسد منع او د ځينو منع او نهي تعلق محض د کراهت سره وي لکه د جمعې د اذان پر وخت د رانيولو او پلورلو څخه منع .
د رانيولو او پلورلو کوم معاملات يا د کومو شيانو د رانيولو او پلورلو منع چي په دې وجه ده چي هغه معاملات يا هغه شيان د شريعت له نظره حرا ،ي د حنفي مذهب مطابق د هغه دوه ډولونه دي ۱ : بيع فاسد ۲ : بيع باطل .

Maktaba Tul Ishaat.com

بيع فاسد : د رانيولو او پلورلو هغه معاملې ته وايي چې د بيع د اصولو د موجود کېدو په وجه خو صحيح وي مګر د بيع د صحيح کېدو چې کوم شرطونه دي په هغو کې د ځينو شرطونو د فوت کېدو په وجه هغه معامله جائز نه وي ځکه نو د داسي معاملې ختمول ضروري دي ، دې ته د فقهاؤ په اصطلاح کي مشروع بنفسه او ممنوع بوصفه ويل کيږي، يعني داسي بيع په اعتبار د اصول مشروع او صحيح ده او په اعتبار د مشروط او اوصافو منع ده .

بيع باطل : د رانيولو او پلورلو هغه معاملې ته وايي چې په شرعي توګه هيڅ حيثيت نه لري ځکه چي هغه معامله نه خو د اصول بيع په اعتبار صحيح وي او نه د شروط او اوصافو په اعتبار جائز وي .

مناسب ده چي دلته يو څو مسائل ذکر کړل سي چي په هغو سره نه يوازي د پورتنيو ذکر سوو اقسامو د تعريف په پيژندلو کي اساني وي بلکه د باب د موضوع په اعتبار هم د هغو پيژندل ضروري دي :

که مبيع (يعني رانيونکی او پلورنکی شی) په شرعي اعتبار مال نه وي لکه وينه، مردار، ازاد سړی، ام الولد، مکاتب، بولي او بالکل بېکاره شی نو د داسي شيانو بيع باطله ده ، همدارنګه مبيع مال وي مګر متقوم نه وي لکه شراب او خنزير، نو ددغه شيانو بيع به په هغه صورت کي باطله وي کله چي هغه د روپو په عوض کي و پلورل سي او که چيري د هغه قيمت د اسبابو په عوض کي ورکړل سي نو په هغه صورت کي به د اسبابو بيع فاسده وي او د هغه مال غير متقوم بيع به باطله وي .

په بيع باطل او بيع فاسد کي فرق دادی چي په بيع باطل کي مبيع د شريعت له نظره د مشتري يعني د رانيونکی په ملکيت کي نه وي او په بيع فاسد کي مبيع مخکي تر قبضې څه حکم نه لري مګر وروسته تر قبضې د حرام په توګه د مشتري په ملکيت کي راځي او په نقدو سره د هغه د قيمت ادا کول د هغه پر ذمه ضروري وي مګر په قبضه کي د راتلو څخه وروسته هغه بيع فسخ کول واجيبږي په شرط ددې چي مبيع بعينه د رانيونکی سره موجود دی .

د ښاروبو په غولانزه کي د شېدو بيع باطل ده ځکه چي هغه مشکوک الوجود وي ، کيدای سي چي د ښاروي د غولانزي د ظاهري حالت په لېدو سره په هغه کي د شېدو د موجودتيا يقين وکړل سي او د هغه شېدو بيع وکړل سي مګر وروسته معلومه سي چي په غولانزه کي شېدې نه وې بلکه د هواء وغيره په وجه غولانزه پړسېدلې وه نو په داسي صورت کي به د فريب او چم ورکولو معامله سي .

په هواء کې د الوتونکو مرغانو پلورل جائز نه دي په شرط د دې چې هغه مرغه داسې نه وي چې په هواء کېدو سره بېرته راګرځي لکه کوتره نو د داسې مرغه په هواء کې په الوتلو سره پلورل صحيح دي ، همدا رنګه د هغه ماهي بيع هم ناجائز ده کوم چې تر اوسه نيول سوی نه وي بلکه په اوبو کې وي يا نيول سوی وي مګر بيا هغه په يو داسې حوض کې اچول سوی وي چې بېله جال څخه د هغه نيول ممکن نه وي ، همدا رنګه د مېنزې او د څارويو حمل او همدا رنګه د څاروي د ذبح کېدو او پرېکولو څخه مخکې د هغه د غوښو بيع کول جائز نه دي ، د خنزير د وېښتانو بيع هم جائز نه ده البته د هغه د وېښتانو څخه ګټه اخيستل مثلاً د حيوانانو د ځل او ګونې وغيره د ګنډلو لپاره استعمالول جائز دي مګر د سړي د وېښتانو بيع هم ناجائز ده او د هغه څخه ګټه اخيستل هم ناجائز دي ، کومه بيع چې په خپلو کې د نزاع سبب جوړېږي هغه فاسده ده لکه د پسه وغيره پر شا باندې د هغه د وړيو پلورل يا پر بام پاندې د لګېدلو لرګيو بيع يا د يو لوی تهوکر څخه د يو ګز تهوکر بيع يا داسې بيع کول چې د هغه د قيمت د ادا کولو وخت مجهول وي مثلاً داسې ووايي چې په کومه ورځ باران وسي يا په کومه ورځ تېزه هوا راسي نو په هغه ورځ به د دې قيمت ادا کوم مګر په دغه ټولو صورتو کې که رانيونکی بيع فسخ نه کړي او پلورنکی رانيونکی ته د ورکولو لپاره په بام کې لګېدلي لرګي بېل نه کړي يا د لوی تهوکر څخه يو ګز تهوکر جلا کړي او رانيونکی د قيمت ادا کول پر مجهول وخت باندې موقوف کړه نو بيع به صحيح سي په فاسد شرط سره کېدونکې بيع فاسده ده او شرط فاسد دې ته وايي چې د اقتضاء عقد خلاف وي او په هغه کې يا د پلورنکي فائده وي لکه پلورنکی چې دا شرط ولګوي چې ما دغه سرای خرڅ کړی مګر تر يوې مياشتې پورې به زه پکښې اوسېږم يا د رانيونکی ګټه وي لکه رانيونکی دا شرط ولګوي چې ما دغه تهوکر رانيوی مګر دغه تهوکر ما ته ګنډلی راکړه يا د مبيع فائده وي کله چې مبيع انسان يعني غلام يا مينزه وي او هغه د ګټې مستحق وي لکه پلورنکی چې رانيونکی ته ووايي چې دغه غلام ازادول يا د هغې مينزې نکاح کول ، دا ډول شرطونه فاسد دي او د هغه په وجه بيع هم فاسد کېږي .

د رانيونکی د ملکيت شرط لګول د اقتضاء عقد خلاف نه دی ځکه نو فاسد نه دی همدا رنګه که يو تجار د يو څه تهوکر په رانيولو سره پر رانيونکی دا شرط ولګوي چې دغه تهوکر مه پلوره نو دغه شرط که څه هم د اقتضاء عقد خلاف دی مګر په دغه شرط کې د يوه هم ګټه نه سته ځکه دا شرط به فاسد نه وي ، که چيرې پلورنکی پر رانيونکی باندې دا شرط ولګوي چې د دغه آس چاغول که څه هم په دغه شرط کې د مبيع ګټه ده مګر مبيع انسان نه دی چې هغه د

Maktaba Tul Ishaat.com

كېښي مستحق وي ځكه نو دغه شرط هم فاسد نه دى بلكه دغه شرط به ساقط وي او بيع به صحيح سي

د بيع فاسد او بيع باطل نور زيات تفصيل د فقهي په كتابو كي سته ، په دې پوهېدل پكار دي چي د رانيولو او پلورلو د هغه معاملو څخه چي د شريعت په نظر كي د اعتبار وړ نه دي او هغه نن سبا ډېر رواج دي پرهيز وكړل سي ، دلته د يو څو نورو مسائلو وضاحت كول هم ضروري دى مثلاً : د پلورنكى له خوا د مبيع په ناپ او تول كي كمي كول يا د رانيونكى له خوا په قيمت كي كمي كول حرام دي لكه څرنګه چي د پلورنكى لپاره ضروري دي چي پر كوم قيمت فيصله وكړل سي د هغه د ادا كولو په وخت كي به كمي نه كوي كوم خلك چي ددې خلاف كوي د هغوى په باره كي په قرآن كريم كي داسي تنبيه راغلې ده : ويل للمطففين: په ناپ او تول كي د كمي كونكو لپاره لويه خرابي ده ....الخ.

د مبيع په قيمت كي او د مزدور په مزودري كي بېله عذره ځنډ كول حرام دى ، د رسول الله ﷺ مبارک قول دى چي د غني له خوا (د مزدورى په ادا كولو كي) ځنډ كول ظلم دى نو مزودر ته د هغه مزدوري د خولې د اوچېدو څخه مخكي وركړئ .

نقل سوي دي چي رسول الله ﷺ به د يو چا پور ادا كوى نو د پور د اندازې څخه به يې زيات وركول ، كه چيري د پور اندازه به نيم وسق وو نو د هغه پر ځاى به يې يو وسق وركوى او كه د پور اندازه به يو وسق وو نو د هغه پر ځاى به يې دوه وسقه وركول او فرمايل به يې چي دا خو ستا حق دى او دومره زيات زما له خوا واخله ، مګر دا دي په ذهن كي وي چي د اندازې څخه زيات وركول د سود په حكم كي داخل نه دي ځكه سود خو هغه وخت وي كله چي دغه زياتوب تر مخه مشروط سوى وي او بېله شرطه زيات وركوي جائز بلكه مستحب دي .

په معاملاتو كي بې قولي كول، مكر او فريب او د درواغو چلن كول حلال كسب هم حرام كوي نو ددې څخه پرهيز كول ضروري دى، د رسول الله ﷺ په باره كي نقل سوي دي چي يوه ورځ رسول الله ﷺ په بازار كي په يو دوكان كي د غنمو يو جوال وليدى او كله چي يې په هغه جوال كي لاس مبارک دننه كړ نو دننه غنم لانده معلوم سول ، رسول الله ﷺ د دوكاندار څخه پوښتنه وكړه چي دا څه دي ؟ هغه وويل چي دغه غنمو ته د باران اوبه رسيدلي دي چي د هغه په وجه د ننه څخه لاندي سوي دي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل نو بيا تا د هغه لندو غنمو جوال سربېره ولي نه كښېښودى (چي نا خبره سړى ددې په وجه دوكه نه سي) ، په ياد ولرئ كوم سړى چي مسلمانانو ته دوكه وركوي هغه زموږ څخه نه دى .

Maktaba Tul Ishaat.com

په بيع مرابحت (د رانيولو پر قيمت باندي د ګټي اخيستلو سره د پلورلو صورت) او په بيع توليت (د رانيولو پر قيمت باندي بېله ګټي د پلورلو صورت) کي رانيونکی ته مخکي قيمت يعني په کوم قيمت باندي چي خپله رانيونکی رانيولي دي بېله کمي او زياتوب ظاهرول واجب دي که پلورنکی پر مبيع باندي د قيمت څخه پرته نوره مزدوري اچوي نو هغه دي هم د قيمت سره يو ځاي کړي او رانيونکی ته دي داسي ووايي چي پر دغه شي باندي زما دومره روپۍ مصرف سوي دي ، دا دي نه وايي چي دا شی ما په دومره روپۍ رانيولی دی چي درواغجن نه سي.

که يو څوک يو ټوکر په لس روپۍ خرڅ کړي او رانيونکی هغه روپۍ ادا کړي نه وي چي پلورنکی بيا هغه ټوکر د رانيونکی څخه په پنځه روپۍ رانيسي يا هغه ټوکر يې د يو بل ټوکر سره په لس درهمه رانيوی نو دا بيع به صحيح نه وي ځکه چي دا د سود په حکم کي راځي ، پر مبيع باندي د قبضې څخه مخکي تصرف کله چي مبيع منقول وي حرام دی ، او د منقول شي د قبض کولو څخه مخکي پلورل جائز نه دی .

يو سړی يو کيلي شی (چي په پيمانه يا تللو سره اندازه کيږي) د کيل په شرط رانيسي او د پلورونکي څخه يې هغه شی په پيمانه کي په ناپ کولو سره رانيوی او بيا هغه شی د هغه دوهم په لاس د کيل په شرط وپلوري نو اوس هغه دوهم رانيونکی لپاره ضروري ده چي تر څو پوري هغه خپله هم هغه د مخکي رانيونکی څخه د هغه شي په يمانه کي ناپ نه کړي نو نه خو دي هغه شی په تصرف کي راولي او نه دي يې پر بل چا پلوري ځکه چي اول ناپ کافي نه دی ، د احتياط تقاضا داده چي هغه دي بيا ناپ کړل سي داسي نه چي هغه شی په پيمان کي زيات وخيژي او هغه د بائع مال نه وي .

که يو مسلمان د يو شی د رانيولو او پلورلو په معامله کولو سره يو قيمت و ټاکي يا يو مسلمان يوې ښځي ته د نکاح پيغام ليږلی وي نو تر څو چي د هغه معامله فيصله سوې يا موقوف سوې نه وي د دوهم سړي لپاره دا جائز نه دي چي هغه د هغه شي معامله وکړي يا هغه ښځي ته خپل پيغام ولېږي ، د جمعې د آذان پر وخت رانيول او پلورل مکروه دي ځکه چي ددې په وجه په سعي واجب (يعني د جمعې د لمانځه لپاره تياري کولو) کي خلل راځي ، که چيري په ډېرو مسجدو کي د جمعې لمونځ کيږي نو په کوم مسجد کي چي د لمانځه کولو اراده وي نو د هغه د آذان سره دي بيع ترک کړي .

که دوه غلامان په خپلو کي د محرميت قرابت ولري نو د هغوی جلا جلا بيع کول مکروه او منع ده همدارنګه که په هغوی کي يو کوچنی وي او بل لوی وي بيا هم بيع مکروه او منع ده بلکه

Maktaba Tul Ishaat.com

د ځينو علماؤ په نزد دا بيع جائز نه ده.

د مردار حيوان وازګه پلورل جائز نه دي، مردار تېل پلورل د امام ابوحنيفة رحمة الله عليه په نزد جائز دي مګر د نورو امامانو په نزد جائز نه دي، د انسان د لويو بولو بيع کله چي د هغه سره يو بل شی ګډ سوی نه وي د امام ابوحنيفة رحمة الله عليه په نزد مکروه دي او که اېرې وغيره ورسره يو ځای سوي وي نو بيا جائز دي، د امام ابوحنيفة رحمة الله عليه په نزد خوشايي پلورل هم جائز دي او د نورو امامانو په مذهب کي د دغه شيانو پلورل هم ناجائز دي، دا خبره دي په ذهن کي وي چي د کومو شيانو بيع جائز نه ده د هغو څخه ګټه اخيستل هم جائز نه دي.

د پاچا او حاکم لپاره دا مکروه دي چي هغوی د شيانو قيمت وټاکي مګر که چيري تجار د غلې او نورو شيانو په قيمت کي د حد څخه تجاوز کوي او خلک په پريشاني کي اخته کيږئ نو بيا حاکم ته جائز دي چي هغه د تجربه کارو او ماهرينو په مشوره سره قيمت وټاکي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د منع سوو بيعو بيان

﴿۲۷۱۱﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمُزَابَنَةِ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم د مزابنه (د خپل باغ تازه مېوه د وچي

أَنْ يَبِيعَ ثَمَرَ حَائِطِهِ إِنْ كَانَ نَخْلًا بِتَمْرٍ كَيْلًا وَإِنْ كَانَ كَرْمًا أَنْ يَبِيعَهُ بِزَبِيبٍ

مېوې په بدله کي خرڅولو) څخه منع فرمايلې ده چي خرڅوي ميوه د خپل باغ که خرما وي په خرماؤ سره په پيمانو او که انګور وي چي خرڅوي يې په وچه ميوه

كَيْلًا أَوْ كَانَ وَعِنْدَ مُسْلِمٍ وَإِنْ كَانَ زَرْعًا أَنْ يَبِيعَهُ بِكَيْلِ طَعَامٍ نَهَى عَنْ

په پيمانو او يا وي، او په نزد د مسلم داسي دی چي او که وي فصل چي خرڅوي يې په پيمانو معلومو د طعام سره منعه يې کړې له

ذٰلِكَ كُلِّهِ. متفق عليه و في رواية لهما نهى عن المزابنة قال و المزابنة ان يباع ما في رؤس النخل بتمر بكيل مسمى ان زاد فلي وان نقص فعلي.

Maktaba Tul Ishaat.com

دې ټولو څخه . متفق علیه، او په یو روایت کي دواړو لره داسي دي چي منعه یې کړې ده له مزابنې څخه ، ویلي دي رسول الله ﷺ مزابنه داده چي خرڅوي شی هغه چي په سرونو د خرماؤ کي وي په وچو خرماؤ په پیمانو معلومو سره که زیاتي سوې نو زما وي او که کمي سوې نو پر ما دي .

تخریج: البخاري في الصحیح (فتح الباري): ۴\۴۰۳، رقم: ۲۲۰۵، ومسلم ۳\۱۱۷۲، رقم: ۷۶ - ۱۵۴۲.

د لغاتو حل: حائطه: ای بستانه (د باغ یې).

تشریح: مزابنت د زبن د لفظ څخه مشتق دی او معنی یې ده دفع کول ، لیري کول ، د بیع مزابنت څخه ځکه منع سوې ده چي ددغه بیع بنیاد پر قیاس او اندازې باندي وي په دې کي د دواړو خواوو لپاره د زیاتوب او تاوان احتمال وي په دې وجه د دواړو په مینځ کي نزاع او فساد هم پیدا کیدای سي او په خپلو کي د دفعیه او لیري والي نوبت هم راتلای سي .

دلته دوه روایتونه نقل سوي دي او په دواړو کي فرق دادی چي په اول روایت کي د مزابنت تعریف په لفظ د ثمر ذکر سوی دی چي عمومیت پکښې دی او په دوهم روایت کي د مزابنت لفظ په تمر سره ذکر سوی دی چي د هغه څخه دا معلومیږي چي د بیع مزابنت تعلق یوازي د خرما سره دی حالانکه داسي نه ده بلکه په دوهم روایت کي هم عمومیت مراد دی په خاصه توګه د خرما ذکر کول محض د مثال په توګه دی .

﴿۲۷۱۲﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمُخَابَرَةِ

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د مخابره

وَالْمُحَاقَلَةِ وَالْمُزَابَنَةِ وَالْمُحَاقَلَةُ اَنْ يَّبِيْعَ الرَّجُلُ الزَّرْعَ بِمِائَةِ فَرَقٍ حِنْطَةٍ

محاقله او مزابنه څخه منعه فرمایلې ده او محاقلت دادي چي څوک د خپل ولاړ فصل سل فرق (دیوه پیمانې نوم) د غلې خرڅ کړي .

وَالْمُزَابَنَةُ اَنْ يَّبِيْعَ التَّمَرَ فِيْ رُؤُسِ النَّخْلِ بِمِائَةِ فِرَقٍ وَّ الْمُخَابَرَةُ كِرَاءُ الْاَرْضِ بِالثُّلُثِ وَالرُّبُعِ . رواه مسلم .

او مزابنه داده چي څوک هغه خرماوي چي په ونو کي وي د سل فرقو خرماؤ په عوض کي خرڅي کړي او مخابره داده چي یو سړی خپله مځکه د کښت لپاره ورکړي مثلاً د پیداوار په

Maktaba Tul Ishaat.com

نیمه یا دریمه یا څلورمه. (مسلم)

تخریج: مسلم في الصحیح ۳\ ۱۱۷۴، رقم: ۸۱، ۸۴- ۱۵۳۶.

د لغاتو حل: فرق: هو ما یساوي ۶۵۱۶ غراما عند الحنفیة. (د حنفیه په نزد یو فرق ۶۵۱۶ گرامه وي).

تشریح فَرَق د راء په زور سره د یو پیمانې نوم دی چې په هغه کې شپاړلس ۱۶ رطل یعني تقریبا اووه سېره غله وي، او فرق د راء په جزم سره هغه پیمانې ته ویل کیږي چې په هغه کې یوسل او شل ۱۲۰ رطل غله وي، په حدیث شریف کې د سل فرق ذکر کول محض د تمثیل په توگه دی، مقصد دا ښودل دي چې د رېبلو څخه مخکې په کښت کې ولاړ غنم د اېښودل سوو غنمو په عوض کې پلورلو ته محاقلت وایي.

یعني مفهوم په تېر حدیث کې د مزابنت په ضمن کې هم ذکر سوی دی مگر مزابنت د پراختیا او عموم حامل دی او ددې اطلاق پر میوو باندې هم کیږي او پر کښت او غله باندې هم دغه لفظ استعمالیږي او د محاقلت استعمال یوازې د کښت او غلې لپاره کیږي که څه هم په ځینو وختونو کې مزابنت هم یوازې د میوو لپاره استعمالیږي.

د مخابرت مطلب دا دی چې خپله مځکه په نیمی باندې بل چا ته ورکول مثلا یو سړی خپل مځکه بل چا ته په دې شرط ورکړي چې په دغه مځکه کې څه حاصلات وسي د هغه دریمه یا څلورمه به ما ته راکوې.

په پورتني حدیث کې ددې منع هم سوې ده ځکه چې اول خو د اجرت شکل وي او په دې کې اجرت مجهول دی دوهم حاصلیدونکی شی معدوم دی او کوم شی چې معدوم وي د هغه معامله معتبر نه ده، مخابرت ته مزارعت هم وایي مگر په دواړو کې فرق دا دی چې د مخابرت په صورت کې تخم د کښت کونکی وي او په مزارعت کې د مځکې د مالک، مزارعت او مخابرت د امام ابو حنیفة رحمه الله علیه په نزد جائز نه دی لکه څرنگه چې په پورتني حدیث کې حکم دی مگر صاحبین یعني امام ابویوسف او امام محمد په نزد صحیح دی، په حنفي مسلک کې فتوا د صاحبینو پر قول ده ځکه چې دا کثیر الوقوع او د ډېر زیات احتیاط شی دی ددې د جائز نه ساتلو په صورت کې خلکو ته ډېره پرېشاني وي.

﴿۲۷۱۳﴾: وَعَنْهُ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمُحَاقَلَةِ وَالْمُزَابَنَةِ والْمخابرة والْمعاومة وَعَنِ الثُّنْيَا وَرَخَّصَ فِي الْعَرَايَا. رواه مسلم

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت جابر ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د محاقله ، مزابنه، مخابره، معاومه او ثنيا څخه منعه فرمايلې ده او د عرايا اجازت يې ورکړي دي . (مسلم)

تخريج: مسلم في الصحيح ٣\١١٧٥، رقم: ٨٥- ١٥٣٦.

د لغاتو حل: المعاومة: هی بيع ثمر النخل او الشجر سنتين او ثلاثا فصاعدا قبل ان تظهر ثماره. الثنيا: ای ان يبيع ثمر حائط ويستثنی منه جزا غير معلوم القدر.

تشريح: د محاقلت، مزابنت او مخابرت معناوي مخکي بيان سوي دي او د معاومت معنی داده چي د درختو د ميوو د ښکاره کېدو څخه مخکي يو کال يا دوه کاله يا درې کاله يا د زيات وخت لپاره و پلورل سي او د ثنيا مطلب دادی چي پر اوښو باندي کومي ميوې و پلورل سي مګر په هغه کي يو غير معين مقدار مستثنی کړل سي يعني هغه ونه پلورل سي.

عرايا د عريت جمع ده او عريت د خرماوو هغه درختي ته وايي چي د هغه مالک يې يو محتاج او مسکين ته د ميوې خوړلو لپاره عاريتا ورکړي،

د عرايا اجازه يې ورکړې ده : ددې مطلب دادی چي ځينو خلکو به په خپل باغ کي يوه درخته يا دوې درختي يو محتاج ته د ميوو خوړلو لپاره ورکولې بيا څرنګه چي معمول وو هغه د باغ مالک به د خپل کورنۍ سره باغ ته راغلی او د هغه ټولو خلکو په موجودتيا کي به هغه محتاج سړی راغلی نو په خپل باغ کي د يو پردي سړي د راتلو په وجه هغه ته مشکل وو ځکه هغه محتاج ته به د هغه درختي د ميوې پر ځای د خپل طرف څخه د يو څه ميوو په ورکولو سره به يې رخصت کوی او د هغه درختي ميوه به يې د ځان لپاره وساتل ، رسول الله ﷺ دا جائز وګڼل مګر دا د پنځه وسق څخه په کم کي جائز ده او تر دې په زيات کي جائز نه ده لکه څرنګه چي مخته د حضرت ابو هريره ﷛ په روايت کي راځي.

﴿۲۷۱۴﴾: وَعَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ قَالَ نَهَى أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت سهل بن ابي حثمه ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ منع فرمايلې ده

عَنْ بَيْعِ التَّمْرِ بِالتَّمْرِ اِلاَّ اَنَّهُ رَخَّصَ فِي الْعَرِيَّةِ أَنْ تُبَاعَ بِخَرْصِهَا تَمْرًا يَأْكُلُهَا أَهْلُهَا رُطَبًا . متفق عليه

په ونو کي د خرماؤ او د وچو خرماؤ په بدله کي د خرڅولو څخه ليکن عرية کي يې د دې اجازت ورکړي دي چي د درختو خرماوي د وچو خرماؤ په بدله کي خرڅي کړئ او د هغه ميوه د ده اهل (را

Maktaba Tul Ishaat.com

نيونكي)وخوري . (بخاري او مسلم).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۴\۳۸۷، رقم: ۲۱۹۱، ومسلم ۳\۱۱۷۰، رقم: ۶۷- ۱۵۴۰.

د لغاتو حل: بخرصها : يقال باعه خرصا ، اى تقديرا من غير وزن . (د اټكل له مخي پلورل).

د بيع عرايا مسئله

﴿۲۷۱۵﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَرْخَصَ فِيْ بَيْعِ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د عرايا يعني د ونو د مېوو اندازه كولو سره د خرڅ اجازه وركړې ده

الْعَرَايَا بِخَرْصِهَا مِنَ التَّمْرِ فِيْمَا دُوْنَ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ أَوْ فِيْ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ شَكَّ دَاوُدُ ابن الحصين . متفق عليه

د خرماؤ اندازه په پنځه وسق يا د دې څخه كم وي يعني پنځه وسق پوري اندازه سوي خرماوي دي خرخولاي سي د دې څخه زيات اجازه نسته . وسق شپېته صاع وي او په صاع كي څلور سېره ته نژدې غله ځائيږي، او شک کړی دی داؤد بن حصين . (بخاري او مسلم)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۴\۳۸۷، رقم: ۲۱۹۰، ومسلم ۳\۱۱۷۱، رقم: ۷۱- ۱۵۴۱.

تشريح: تر پنځه وسق د كم قيد ځكه لګول سوی دی چي ددغه اجازې تعلق د احتياج او ضرورت سره وي او احتياج او ضرورت پر پنځه وسق كم وي ، د عرايا د ميوو پورتنی بيع او تبادله تر پنځه وسق په كم كي د ټولو علماؤ په نزد جائز ده او تر پنځه وسق زيات كي جائز نه ده البته د پوره پنځه وسق په باره كي د علماؤ اختلافي قولونه دي، صحيح قول د عدم جواز دی ځكه چي د مقدار په بيان كي راوي شک اظهار کړی دی نو په دغه صورت كي د احتياط تقاضا دا كېدل پكار دي چي د پنځه وسق څخه پر كم مقدار باندي عمل وكړل سي چي په هر حال متعين دي ، په دې خبره كي د علماؤ اختلافي اقوال دي چي ددغه اجازې تعلق يوازي د محتاجو سره دی او كه د شتمنو خلكو سره هم ددې تعلق دی ، نو صحيح قول دادی چي دغه اجازه د دواړو لپاره ده .

وسق د يو پيمانې نوم دی ، يو وسق شپېته صاع وي او يو صاع په پيمانه كي تقريبا درې نيم سېره غله وي، پنځه وسق تقريبا شپږ وېشت منه كيږي .

د اومو ميوو د بيع ممانعت

﴿۲۷۱۶﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ

د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ منعه کړېده د خرڅولو څخه

الثِّمَارِ حَتَّى يَبْدُوَ صَلاَحُهَا نهي البائع والمشتري. متفق عليه وفي رواية

د ميوو تر هغه وخته پوري چي د هغو پو خوالي څرګند سوي نه وي او ممانعت د خرڅونکي او رانيونکي دواړو لپاره دي. (بخاري او مسلم) او د مسلم په يوه بل روايت کي راغلي چي

لمسلم نهى عن بيع النخل حتى تزهو وعن السنبل حتى يبيض ويأمن العاهة

رسول الله ﷺ د خرماؤ مېوه دارو ونو څخه تر هغه وخته پوري د خرڅولو څخه منعه کړېده تر څو پوري چي د هغو مېوه سره او ژړه نه وي او د فصل وږي د خرڅولو څخه يې منعه فرمايلې ده تر څو پوري چي پخه نه وي او د آفت څخه محفوظه وي.

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۴\ ۳۹۴، رقم: ۲۱۹۴، ومسلم ۱۳\ ۱۱۶۵، رقم: ۴۹- ۱۵۳۴.

تشريح: د پلورنکي لپاره ځکه منع ده چي هغه د رانيونکي مال بېله د يو شي په عوض کي تر لاسه نه کړي او د رانيونکي لپاره منع ځکه ده چي هغه د خپل مال په تاوان کي اخته نه سي ځکه کيداى سي چي هغه او مه ميوه رانيسي او د هغه قيمت ادا کړي مګر ميوه د پخېدو څخه مخکي په يو آفت سره ضائع سي.

﴿۲۷۱۷﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د مېوه دارو ونو د خرڅولو څخه منعه

الثِّمَارِ حَتَّى تُزْهِيَ قِيلَ لَهُ وَمَا تُزْهِي قَالَ حَتَّى تَحْمَرَّ وَقَالَ أَرَأَيْتَ إِذَا مَنَعَ اللهُ

فرمايلې ده تر څو پوري وچ رنګه نسي پوښتنه څيني وسوه چي د دې مطلب څه دي؟ نو يې ورته وفرمايل: تر څو پوري چي سره نسي، بيا يې وفرمايل: وښايه که خداي تعالي د مېوو د پخېدو

الثَّمَرَةَ بِمَ يَأْخُذُ أَحَدُكُمْ مَالَ أَخِيهِ. متفق عليه

څخه منعه کړي وي نو په تاسو کي به څوک د خپل ورور مال څنګه اخلئ؟ (بخاري او مسلم)

Maktaba Tul Ishaat.com

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۴\۳۹۸، رقم: ۲۱۹۸، ومسلم ۳\۱۱۹۰، رقم: ۱۵- ۱۵۵۵.

تشريح: مطلب دادی چي د پخېدو او تيارېدو څخه مخکي د ميوو په بيع کي ددې خبري خطره ده چي کيداى سي په يو آفت سره مثلا سيلاب وغيره راسي او ميوه د درختو څخه په لوېدو سره ضائع سي نو په دغه صورت کي پلورنکى چي د رانيونکى څخه د ميوو د قيمت په توګه څه واخلي هغه به بېله عوضه او مفت په لاس ورسي نو دا ضروري ده چي د ميوو تر پخېدو پوري انتظار وکړل سي کله چي هغه پخې سي نو هغه وخت دي د رانيولو او پلورلو معامله وسي.

د ميوو او درختو پيشګي خرڅول

﴿۲۷۱۸﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ السِّنِيْنَ وَأَمَرَ بِوَضْعِ الْجَوَائِحِ. رواه مسلم.

د حضرت جابر رضی اللہ عنہ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د څو کالو لپاره د مېوو د پلورلو څخه منعه فرمايلې ده (يعني يو دوه درې کاله پوري د پلورلو څخه) او (د افتونو د نقصان په خاطر) يې د کمي کولو حکم کړي دي (يعني د تخم د غورځولو څخه وروسته د يو افت په وجه په مېوو کي کمي راسي نو د تاوان څخه د خلاصېدلو په خاطر رانيونکي ته د معاوضې کمي پوره سي) (مسلم)

تخريج: مسلم في الصحيح ۳\۱۱۷۸، رقم: ۱۰۱- ۱۵۳۶.

د لغاتو حل: الجوائح: جمع جائحة وهي الآفة المستاصلة تصيب الثمار ونحوها بعد الزهو فتهلكها بان يترك لبائع ثمن ما تلف. (د ميوو يو ډول مرض).

تشريح: د حديث د آخري برخي مطلب دادی چي يو سړی پر درختي باندي لګيدلي ميوې د پخېدو څخه مخکي رانيسي مګر مخکي تر دې چي رانيونکی هغه ميوې په خپل تصرف کي راولي هغه ميوې په يو وجه اېله سوې او ضائع سوې نو په دغه صورت کي پلورنکي ته پکار دي که چيري هغه تر اوسه پوري قيمت تر لاسه کړی نه وي نو په هغه کي دي څه کمي وکړي او که قيمت يې تر لاسه کړی وي نو د هغه څخه دي رانيونکی ته يو څه بېرته ورکړي که څه هم بيع سوې وي او د قاعدې په اعتبار هغه ددې لپاره مجبور نه دی، د رسول الله ﷺ دغه حکم يوازي د استحباب لپاره دی او ددې مقصد د تاواني سړي سره رعايت کول دي او کوم چي د فقهي د مسئلې تعلق دی نو دا خبره بالکل روښانه ده چي د هري ګټې او تاوان ذمه دار رانيونکی دی، ددې مطلب دادی چي په قبضه کي د راتلو څخه وروسته که مبيع د يو آفت په وجه ضائع سي نو هغه د رانيونکی تاوان دی پر پلورنکي باندي د هغه هيڅ بدله او تاوان نه واجبيږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

د ضائع سوي مبيع ذمه دار څوک دی؟

﴿۲۷۱۹﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ بِعْتَ مِنْ أَخِيكَ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: که تا خپله مېوه په یوه مسلمان

ثَمَرًا فَأَصَابَتْهُ جَائِحَةٌ فَلَا يَحِلُّ لَكَ أَنْ تَأْخُذَ مِنْهُ شَيْئًا بِمَ تَأْخُذُ مَالَ أَخِيكَ بِغَيْرِ حَقٍّ. رواه مسلم.

ورور خرڅه کړه او بیا په هغه مېوه باندي افت راغلي او هغه يې خرابه کړه نو ستا هيڅ حق نسته چي ته د خپل ورور څخه څه واخلې او ته په ناحقه باندي ولي د خپل ورور څخه مال اخلې. (مسلم)

تخريج: مسلم في الصحيح ۳\۱۱۹۰، رقم: ۱۴- ۱۵۵۴.

تشريح: فلا يحل لک (د هغه څخه څه اخستل حلال نه دي) دا حکم په هغه صورت کي دی کله چي مبیع بالکلیه او مطلق ضائع سي او که چیري يو داسي آفت راسي چي په هغه سره د مبیع یو برخي ته تاوان ورسيږي نو په دغه صورت کي يو څه کمي کول پکار دي لکه څرنګه چي د تېر حديث په تشريح کي بنوول سوي دي، ددغه حديث په باره کي هم هغه تشريح ته فکر کول پکار دي کوم چي د تېر حديث په اړه تېره سوې ده، دلته حضرت ابن مالک رحمه الله علیه هم دا وضاحت کړی دی چي که مبیع د رانیونکي حوالې ته کولو څخه مخکي ضائع سي نو د هغه تاوان به پر پلورنکي وي او په دغه صورت کي د حديث د تاويل کولو ضرورت نه پاته کيږي او که چيري مبیع د رانیونکی په قبضه کي ضائع سي نو بيا به ويل کيږي چي د حديث الفاظ چي د هغه څخه څه اخستل جائز نه دي ددې مطلب دادی چي د تقوا او اخلاقو له مخي د رانیونکي څخه هيڅ هم اخيستل حلال (مناسب) نه دي.

په منقوله شيانو کي د قبضې تر مخه بله بيع جائز نه ده

﴿۲۷۲۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانُوا يَتَبَايَعُونَ الطَّعَامَ فِي أَعْلَى السُّوقِ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چي خلکو به په پورته بازار کي غله رانیول

فَيَبِيعُونَهُ فِي مَكَانِهِ فَنَهَاهُمْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِهِ فِي

او بيا به يې خرڅول رسول الله ﷺ خلک ددې کار څخه منعه کړه او حکم يې وکړ چي تر څو

مَكَانِهِ حَتَّى يَنْقُلُوْهُ. رواه ابو داؤد ولمْ اجده في الصحيحين.

چي تاسي غله د دې ځايه څخه نه وي نقل کړې خرڅولاي يې نسې. (ابو داؤد) خو په صحيحينو کي دا حديث نسته.

تخريج: سنن ابي داود ۳\۷۶۱، رقم: ۳۴۹۴.

تشريح د هغه ځای څخه نقل نه کړل سي: د دې مطلب دا دی چي تر څو پوري هغه په خپل قبضه کي را نه ولي او د منقول شيانو په قبضه کي راوستل دا دي چي د هغه د رانيولو څخه وروسته د هغه ځای څخه په پورته کولو سره بل ځای کي کښېږدي که څه هم هغه بل ځای نژدې وي.

د دې خبري خيال ساتل پکار دي که هغه شی د پيمانې يا وزن په ذريعه رانيول سوی وي نو د پيمانې په ناپ کولو سره يا د وزن کولو څخه وروسته هغه پورته کړي او که چيري بېله پيمانه کولو او بېله وزن کولو يې رانيولي وي نو بيا د هغه څخه پرته په پورته کولو سره دي يې کښېږدي، خلاصه دا که يو سړی د منقوله شيانو څخه يو شی رانيسي او بيا هغه پر بل چا باندي پلورل غواړي نو د هغه لپاره ضروري ده چي هغه دغه شی مخکي په خپل قبضه کي واخلي او د هغه څخه وروسته دي يې وپلوري ځکه چي د منقوله شيانو په بيع کي تر قبضې مخکي بله بيع جائز نه ده، د صاحب مشکوة دا ويل چي ما دا روايت په بخاري او مسلم کي نه دی ليدلی دا په اصل کي پر صاحب المصابيح باندي اعتراض دی چي دا روايت يې په اول فصل کي ذکر کړی دی حال دا چي دغه روايت نه په بخاري سته او نه په مسلم کي بلکه په ابو داؤد کي دی ځکه نو دغه روايت د قاعدې سره سم په دوهم فصل کي نقل کول پکار وه.

﴿۲۷۲۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ ابْتَاعَ طَعَامًا فَلَا يَبِعْهُ حَتَّى يَسْتَوْفِيَهُ وفي رواية ابن عباس حتى يكتاله. متفق عليه.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي غله رانيسي نو هغه دي تر هغه وخته پوري نه خرڅوي تر څو چي هغه پوره نه کړي (يعني په هغه قبضولو څخه وروسته چي دهغې مقدار پوره نه کړي کوم چي د هغه خريد يې کړي وي) او د ابن عباس رضي الله عنه په يوه روايت کي دا الفاظ دي تر څو پوري چي هغه پيمانه نه کړي. (بخاري او مسلم)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۴\۳۴۴، رقم: ۲۱۲۶، ومسلم ۳\۱۱۶۰، رقم: ۳۲-۱۵۲۶.

Maktaba Tul Ishaat.com

تشريح: تر څو چي هغه په پوره توګه سره وا نه خلي: ددې مطلب دادی چي تر څو پوري چي هغه په خپل قبضه کي وانه خلي ددې وضاحت د تېر حديث په ضمن کي سوی دی ، دلته په يو فقهي اختلاف هم پوه سئ چي د امام شافعي او په حنفيه کي د امام محمد په نزد د يو شی په رانيولو سره بيا هغه شی د دوهم په لاس کي د قبضې څخه مخکي پلورل جائز نه دي هغه که د منقوله شيانو څخه وي لکه غله او داسي نور يا عقار يعني مځکه وي.

د امام مالک رحمة الله عليه په نزد تر قبضې مخکي يوازي د غلې پلورل جائز نه دي او د نورو ټولو شيانو پلورل جائز دي ، د امام ابوحنيفة او امام ابويوسف په نزد تر قبضې مخکي د عقار يعني مځکي پلورل خو جائز دي مګر په منقوله شيانو کي د هيڅ شی پلورل هم جائز نه دي، د امام احمد رحمة الله عليه مذهب هم په ظاهره دادی.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه د روايت الفاظ تر څو چي هغه ناپ نه کړي ، ددې څخه ځينو علماؤ دا استدلال کړی دی که پلورنکی د رانيونکی په مخکي د غلې په ناپ کولو سره يا وزن کولو سره ورکړي نو دا کافي نه ده بلکه د رانيونکي لپاره ضروري ده چي هغه يې په خپله قبضه کي په اخيستلو سره دوهم وار بيا ناپ يا وزن کړي ، مګر په دې اړه صحيح خبره داده چي د رانيونکی په مخکي د پلورنکی ناپ کول يا وزن کول کافي دي ځکه چي د رانيونکی په مخکي د پلورنکی ناپ کول يا وزن کول داسي دي لکه څرنګه چي هغه يې په خپله ناپ يا وزن کړي.

﴿۲۷۲۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَمَّا الَّذِي نَهَى عَنْهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي هغه شی چي د هغه څخه رسول الله صلى الله عليه وسلم منعه کړېده

وَسَلَّمَ فَهُوَ الطَّعَامُ أَنْ يُبَاعَ حَتَّى يُقْبَضَ قال ابن عباس ولا احسب كل شئ الا مثله . متفق عليه.

هغه غله ده چي په قبضه کي د راوستلو مخکي خرڅه کړل سي او د ابن عباس بيان دي زما خيال نه دی چي په ممانعت کي هر شی شامل دي يعني د هر شی حکم د غلې په شان دي . (بخاري او مسلم)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۳۴۹\۱۴، رقم: ۲۱۳۵، ومسلم ۱۱۵۹\۱۳، رقم: ۲۹- ۱۵۲۵.

تشريح: د حضرت ابن عباس رضي الله عنه د قول مطلب دادی چي څرنګه غله د قبضې څخه مخکي پلورل جائز نه دي همدارنګه هيڅ شی تر هغه وخته پوري پلورل جائز نه دی تر څو چي هغه په

Maktaba Tul Ishaat.com

قبضه كي را نه سي ، دا ګويا د حضرت ابن عباس رضی الله عنه خپل ګمان او خيال دى چي هغه په دغه مسئله كي پر غله باندي د غلې څخه پرته شيان قياس كړي دي .

﴿٢٧٢٣﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَلَقَّوْا

د حضرت ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل : تاسو مخته مه ورځئ د

الرُّكْبَانَ لِبَيْعٍ وَلَا يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلٰى بَيْعِ بَعْضٍ وَلَا تَنَاجَشُوْا وَلَا يَبِعْ حَاضِرٌ

قافلې (يعني ښار ته د غلې د راتلو مخکي په لاركي خريد مه كوئ) او په تاسو كي هيڅوك د يو ه مسلمان ورور د بيع پورته بيع مه كوئ (يعني د دوو خلكو په مينځ كي د خريد او فروخت معامله وي نو دريم سړى دى د هغه بيع په مقابله كي خپل مال په ارزانه قيمت نه وركوي يا په هغه مال كي دي عيب نه راباسي) او فريب او چم مه كوئ

لِبَادٍ وَلَا تُصَرُّوا الْاِبِلَ الْغَنَمَ فَمَنِ ابْتَاعَهَا بَعْدَ ذَالِكَ فَهُوَ بِخَيْرِ النَّظَرَيْنِ

او بازاري دي د صحرائي غله نه خرڅوي (يعني يو كليوال غله راوړي او په موجوده قيمت يې خرڅوي ليكن يو ښاري ووايي ته غله ماته وسپاره زه به يې په ګران قيمت خرڅه كړم) او مه د اوښې او بزې په غولانزه كي شيدې جمعه كوئ (يعني د دوو يا درو وختو شيدې د حيوان په غولانزه كي مه جمعه كوئ چي بيا رانيونكى په خطا باسئ) څوك چي داسي يو حيوان را نيسي

بَعْدَ أَنْ يَحْتَلِبَهَا إِنْ رَضِيَهَا أَمْسَكَهَا وَإِنْ سَخِطَهَا رَدَّهَا وَصَاعًا مِنْ تَمْرٍ .

نو د شيدو لوشلو څخه وروسته هغو دواړو ته د خبرو اختيار دي كه هغه راضي وي نو حيوان دي وساتي او كه خوشحاله نه وي نو حيوان دي واپس كړي او د واپسيدو سره دي يو صاع خرماوي هم وركړي

متفق عليه و في رواية لمسلم من اشترى شاة مصراة فهو بالخيار ثلثة

ايام فان ردها رد معها صاعا من الطعام لا سمراء .

(بخاري او مسلم) او د مسلم په يوه بل روايت كي را غلي دي چي يو څوك داسي بزه را نيسي چي په هغه كي يې شيدې جمعه كړي وي نو هغه ته تر درو ورځو اختيار سته (كه يې ساتي او

یا پرېږدي) که یې بیرته په لاس ورکوي نو یو صاع خرماوي دي هم ورسره ورکړي غنم دي نه ورکوي.

تخریج: البخاري في الصحیح (فتح الباري): ۴\۳۶۱، رقم: ۲۱۵۰، ومسلم ۳\۱۱۵۵، رقم: ۱۱- ۱۴۱۲.

تشریح: د اول هدایت مطلب دادی چي تاسو ته معلومه سي چي د تجارانو یوه ډله د غلې وغیره په رانیولو سره ښار ته را روانه ده نو مخکي ددې څخه چي هغه تجاران ښار ته راورسیږي او هلته د بازار قیمت معلوم کړي نو په لاره کي په ورتللو سره د هغوی سره د رانیولو او پلورلو معامله مه کوئ ، دا حکم رسول الله ﷺ ځکه کړی دی چي هغه تاجرانو ته د چم ورکولو او یا هغوی ته د تاوان رسولو موقع پیدا نه سي.

په تاسو کي دي هیڅوک هم د بل پر بیع باندي بیع نه کوي، یعني کله چي دوه کسان په خپلو کي یو معامله کوي نو تاسو په هغه کي دخل مه کوئ په دې توګه چي مه خو د شي د قیمت په زیاتولو سره یا په یو بله ذریعه سره هغه رانیسي چي په هغه کي د رانیونکی تاوان وي او مه په خپل مال ښوولو سره په کم قیمت سره هغه پلورئ چي په دې کي به پلورنکي ته تاوان وي ، یا دا چي مثلا یو سړی د یو چا څخه یو شی په شرط د خیار رانیسي نو اوس ته هغه رانیونکي ته ورځې او داسي ورته وایې چي ته دا معامله فسخ کړه زه به داسي شی تا ته په دغه قیمت درکړم. په داسي کولو سره د خپل ګټي لپاره د بل معامله خرابول بد کار دی او که چیري مقصد د خپل شی پلورل یا رانیول نه وي بلکه محض معامله خرابول وي نو دا ډېر بد کار دی ، ځیني علماء وایي چي ددغه منع تعلق د هغه شی سره دی چي په هغه کي یو شرعي قباحت نه وي او که چیري په یو شی کي شرعي قباحت وي لکه یو څوک پر یو چا پاندي د غلا مال پلورل نو په دغه صورت کي د معاملې فسخ کول جائز دي . د نجش معنی ده رغبت ورکول او دوکه ورکول، ددې صورت دادی چي د دوو کسانو په مینځ کي معامله کیږي او دریم سړی راسي د هغه شی تعریف شروع کړي د کوم چي معامله کیږي یا د هغه قیمت زیات ولګوي او په دې سره د هغه مقصد رانیول نه وي بلکه دا وي چي رانیونکی زما په لېدو سره د هغه شی رانیولو ته زیات راغب سي یا د هغه شی قیمت نور زیات سي ، رسول الله ﷺ ددې څخه منع فرمایلې ده ځکه چي دا د رانیونکی په دوکه کولو کي یو بد ترین صورت دی.

ښاري سړی دي د صحرائي مال نه پلوري، مثلا یو صحرائي سړی خپل مال لکه غله وغیره د بازار په قیمت پلورلو لپاره ښار ته راغلی او یو ښاري هغه ته راسي او دا ورته ووایي چي ته

Maktaba Tul Ishaat.com

خپل مال ما ته پرېږده زه به دا په ډېره اساني سره په ګران قيمت و پلورم ، رسول الله ﷺ ددې ځخه ځکه منع فرمايلې ده چې په دې کي د الله تعالی د مخلوق د ګټي ځخه منع کول دي ، د امام شافعي رحمه الله په نزد دا حرام دي او د حنفي مذهب سره سم مکروه دي .

د اوښي او مېږي په غولانزو کي شيدې مه جمع کوئ ، مثلاً يو سړی د شېدو والا يو حيوان لکه مېږه ، يا غوا وغيره پلورل غواړي نو د هغه د زيات قيمت تر لاسه کولو لپاره هغه دا کوي چې د پلورلو ځخه يوه يا دوې ورځي مخکي د هغه حيوان شېدې نه لويشي لکه د هغه په غولانزه کي يې پرېږدي چې زياتي شېدې پکښي جمع سي او رانيونکی په دا ګڼلو سره چې دغه حيوان زياتي شېدې ورکونکی دي د هغه زيات قيمت ورکړي ، ددې ځخه رسول الله ﷺ ځکه منع فرمايلې ده چې دا د دوکې ورکولو معامله ده ، په دغه مضمون کي چې رسول الله ﷺ کومه مسئله بيان کړې ده د هغې وضاحت دادی که يو بل سړی داسي څاروی رانيسي چې د څو ورځو يا څو وختونو شېدې د هغه په غولانزه کي جمع سوي وي او بيا د هغه د شېدو لوېشلو ځخه وروسته معلومه سي چې هغه څاروی لږ شېدې کوي نو هغه ته به اختيار وي که وغواړي څاروی دي بېرته ورکړي او که وغواړي وه دي يې ساتي ، که چيري څاروی بېرته ورکوي نو يو صاع خرما به د هغه د شېدو په عوض کي ورکوي کوم چې هغه لويشلي دي .

دلته دا سوال پيدا کيږي چې د شېدو په بدله کي د يوه صاع خرماوو تعين ولي سوی دی حال دا چې د هغه شېدو د بېرته ورکولو يا د هغه شېدو د قيمت ورکولو حکم هم کيدای سو ؟

ددې جواب دادی چې رانيونکی د هغه څاروي شيدې لوېشلي دي نو په هغه کي به څه برخه هغه وي کوم چې د رانيونکي په ملکيت کي د راتلو ځخه وروسته د څاروي په غولانزه کي پيدا سوې وي او څه برخه هغه ده چې د څاروي د رانيولو پر وخت د هغه په غولانزه کي وه او د څاروي سره د هغه شيدې هم بيع سوي دي ، ظاهره ده چې په دغه صورت کي د شېدو د هغه دواړو برخو تعين او امتياز د ناممکن کېدو په وجه نه خو شېدې بېرته ورکول کيدای سي او نه د هغه د قيمت په ټاکل کېدو سره ورکول کيدای سي ، نو شارع ددې خلاصه دا را وايستل چې په دواړو خواوو کي د فتنې او فساد د دفع لپاره د شېدو عوض يو صاع خرما و ټاکل سوې ، او په دې اړه د شېدو د کموالي او زياتوب بنياد يې ونه ښودی نو دا بالکل داسي ده چې شارع د ناحق خون ديت يعني د قتل مالي معاوضه سل اوښان ټاکلي دي حالانکه د مراتبو او حيثيت په اعتبار هر نفس او هر خون يو ډول نه وي مګر په دې باره کي شريعت ددې تفاوت بنياد ونه ښودی .

په دغه حديث باندي امام شافعي رحمه الله عمل کړی دی او وايي چې د داسي څاروي په بيع

Maktaba Tul Ishaat.com

کي خیار حاصل وي مگر امام ابو حنیفة رحمه الله ویلي دي چي په دې کي خیار نه سته د هغه په نزد په حدیث کي ذکر سوی حکم متروک دی هغه وایي چي دغه حکم د رباء د حرام کېدو څخه مخکي وو حالانکه په معاملاتو کي دا ډول شیان جائز وه او اوس دا منسوخ سوي دي.

د حدیث د آخري جملې (یو صاع خرماوي دي ورکړي مگر غنم دي نه ورکوي) په دې باره کي علامه ابن حجر شافعي رحمه الله وایي چي ددې څخه معلومه سوه چي د څاروي په بېرته ورکولو سره د هغه د شېدو په عوض کي د خرماوو څخه پرته بل شی ورکول جائز نه دي که څه هم پلورونکی د هغه شي پر اخیستلو باندي راضي وي، ددې وجه داده چي د عربو د غذا زیات تعلق د خرما او شېدو سره وو ځکه د شېدو پر ځای خرماوي تاکل سوي دي مگر ځیني حضرات وایي که چیري پلورونکی راضي وي نو د خرماوو څخه پرته د بل شی ورکول هم صحیح دي.

﴿۲۷۲۲﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَلَقَّوُا الْجَلَبَ فَمَنْ تَلَقَّاهُ فَاشْتَرَى مِنْهُ فَإِذَا أَتَى سَيِّدُهُ السُّوقَ فَهُوَ بِالْخِيَارِ. رواه مسلم.

د حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو د غلې د راوړونکي قافلې مخکي مه سره یو ځای کېږئ که چیري تاسو ور سره یو ځای سئ او غله ځیني را نیسئ نو بیا د غلې مالک و بازار ته راسي نو هغه ته د بیع د قائم ساتلو او فسخه کولو اختیار سته (یعني که یې خوښه وي خرڅه دي یې کړي او که یې خوښه نه وي نو نه دي یې خرڅوي) (مسلم)

تخریج: مسلم في الصحيح ۴\۳۷۳، رقم: ۱۷- ۱۵۱۹.

د لغاتو حل: الجلب: ای المجلوب من ابل وبقر وغنم.

تشریح: لفظ د جلب او لفظ د رکبان چي په تېر حدیث کي نقل سوی وو د دواړو یوه معنی ده او د هغه وضاحت د تېر حدیث په تشریح کي تېر سوی دی، علماء وایي چي ددغه ممانعت تعلق د هغه صورت سره دی کله چي راتلونکو تجارانو ته په لاره کي د رانیولو په وجه ښاریانو ته تاوان او ضرر ورسیږي او رانیونکی د ښار او بازار د قیمت په پټ ساتلو سره تجارانو ته دوکه ورکړي، که چیري ښاریانو ته تاوان ونه رسیږي او نه رانیونکی د تجارانو څخه د ښار قیمت پټوي او نه د هغه سره دوکه کوي نو په دغه صورت کي به دا ممانعت نه وي.

په حدیث کي چي د کوم اختیار ذکر سوی دی د هغه په اړه شافعیه حضرات وایي چي کله مالک (یعني د دباندي څخه مال راوړونکی تجار) ښار ته راسي او هغه ته دا معلومه سي چي

Maktaba Tul Ishaat.com

رانیونکی د ښار په نسبت مال ارزانه رانیولی دی نو په دغه صورت کي به هغه ته اختیار وي که د بیع په فسخ کولو سره خپل مال بېرته واخلي او که بیع باقي وساتي ، که چیري هغه ته دا معلومه وي چي رانیونکی د ښار د قیمت څخه ګران رانیولي دي یا د ښار د قیمت سره سم یې رانیولي وي نو بیا په دغه صورت کي به تجار ته اختیار نه وي .

په دغه مسئله کي د فقه حنفي د کتابو څخه معلومیږي چي تجار ته دا ختیار هغه وخت حاصل دی کله چي هغه ته ښار ته د راتلو څخه وروسته معلومه سي چي رانیونکی د هغه سره دوکه کړې ده او که داسي نه وي نو هغه ته بیا دا اختیار حاصل نه دی .

﴿۲۷۲۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَلَقَّوْا السِّلَعَ حَتَّى يُهْبَطَ بِهَا إِلَى السُّوقِ . متفق علیه .

د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل :تا سو د سامان راوړو والاو مختته مه سره یو ځاي کیږئ او تر هغه وخته پوري د هغه مال مه رانیسي چي تر څو پوري هغه په مارکیټ کي خپل مال نه وي تا کړي .(بخاري او مسلم)

تخریج: البخاري في الصحیح (فتح الباري): ۴\۳۷۳، رقم: ۲۱۶۵، ومسلم ۳\۱۱۵۶، رقم: ۱۴- ۱۵۱۷.

د یو چا په معامله کي مه ورګډیږئ

﴿۲۷۲۶﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَبِعْ الرَّجُلُ عَلَى بَيْعِ أَخِيهِ وَلَا يَخْطُبْ عَلَى خِطْبَةِ أَخِيهِ إِلَّا أَنْ يَأْذَنَ لَهُ . رواه مسلم .

د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : تر څو چي یو چاته د دې خبري اجازت ور نه کړل سي هیڅوک دي د خپل ورور په بیع کي خپل مال نه خرڅوي او نه دي د خپل ورور د نکاح د پیغام سربېره خپل پیغام لیږي . (مسلم)

تخریج: مسلم في الصحیح ۲\۱۰۳۲، رقم: ۵۰- ۱۴۱۲.

تشریح هیڅوک دي د خپل ورور پر بیع باندي بیع نه کوي: ددې وضاحت د حضرت ابو هریره رضی الله عنه د روایت په ضمن کي تېر سوی دی ، د حدیث د دوهمي برخي مطلب دادی که چیري یو سړی یوې ښځي ته د نکاح پیغام لیږلی وي نو اوس د بل چا لپاره دا جائز نه ده چي هغه هم هغه ښځي

Maktaba Tul Ishaat.com

ته د نكاح پيغام وليږي مګر دا ممانعت په هغه صورت کي دی کله چي دواړي خواوي د مهر پر يو ټاکلي مقدار باندي راضي سوي وي او ټول معاملات يې فيصله کړي وي او يوازي نکاح کول يې پاته وي .

د حديث د آخري برخي مطلب دادی چي د يو چا د رانيولو او پلورلو په معاملاتو کي يا د نکاح په پيغام کي د مداخلت نه کولو حکم تر هغه وخته پوري دي تر څو چي دواړي خواوي معامله ترک نه کړي مثلاً که صاحب معامله دا ووايي چي زه دا شی نه رانيسم او ته يې رانيسه يا د هغه ښځي سره زه نکاح نه کوم ته خپل پيغام ور واستوه نو په دغه صورت کي هغه شی رانيول يا د نکاح پيغام استول جائز دي .

﴿۲۷۲۷﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَسُمُ الرَّجُلُ عَلَى سَوْمِ أَخِيْهِ الْمُسْلِمِ . رواه مسلم .

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هيڅوک دي د خپل مسلمان ورور په مقابله کي (يعني کله چي فريقين په بيع راضي سوي وي) د يو شی قيمت دي نه لګوي .(مسلم)

تخريج: مسلم في الصحيح ۳\ ۱۱۵۴، رقم: ۹- ۱۵۱۵.

تشريح دا حکم په هغه صورت کي دی کله چي پلورنکی او رانيونکی دواړه پر يوه قيمت باندي راضي سوي وي نو اوس بل چا ته پکار نه دي چي د هغه شی د رانيولو اراده وکړي او د زيات قيمت په ورکولو سره د هغوی معامله خرابه کړي ، داسي کول مکروه دي که څه هم بيع صحيح کيږي .

علامه ابن حجر رحمه الله فرمايي چي په دې باره کي د مسلمان په حکم کي ذمي (غير مسلم) چي په اسلامي هيواد کي وي او جزيه ادا کوي او معاهد (چي د هغه سره د يو مسلمان معاهده وي) او مستامن (چي د يو مسلمان په پناه کي وي) هم داخل دي .

ښاري سړی دي د صحرائي مال نه پلوري

﴿۲۷۲۸﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَبِعْ حَاضِرٌ لِبَادٍ دَعُوا النَّاسَ يَرْزُقُ اللّٰهُ بَعْضَهُمْ مِنْ بَعْضٍ . رواه مسلم .

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ښاري دي د صحرائي مال نه خرڅوي هغوی دي پر خپل حال پرېږدي دا چي الله تعالی ځینو ته په ځینو رزق ورکوي .(مسلم)

تخريج: مسلم في الصحيح ۱۱۵۷\۳، رقم: ۲۰- ۱۵۲۲.

تشريح: د حديث د آخري جملې مطلب دادی چي د کلي خلک پر خپل حال پرېږدئ چي هغوی د باندي څخه د غلې په راوړلو سره په ښار کي په ارزانه قيمت و پلوري او همدارنګه هغوی د ښاريانو په رزق کي د پراختيا باعث سي ، د پاته حديث وضاحت د حضرت ابوهريره رضي الله عنه د روايت په تشريح کي تېر سوی دی .

بیله صورت او منابذت بیع

﴿۲۷۲۹﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ منعه فرمايلې ده

عَنْ لِبْسَتَيْنِ وَعَنْ بَيْعَتَيْنِ نَهٰى عَنِ الْمُلَامَسَةِ وَالْمُنَابَذَةِ فِي الْبَيْعِ وَالْمُلَامَسَةُ

د دوو دولو لباسو څخه او د دوو دولو بيعو څخه يعني ملامست او منابذت څخه . ملامست

لَمْسُ الرَّجُلِ ثَوْبَ الْآخَرِ بِيَدِهٖ بِاللَّيْلِ أَوْ بِالنَّهَارِ وَلَا يُقَلِّبُهٗ إِلَّا بِذٰلِكَ

دادی چي کالي ته په ورځ يا شپه کي يوازي لاس وروړي په پرا نستلو سره يې ونه ګوري او بيعه پوره سي .

وَالْمُنَابَذَةُ أَنْ يَّنْبِذَ الرَّجُلُ إِلَى الرَّجُلِ بِثَوْبِهٖ وَيَنْبِذَ الْآخَرُ ثَوْبَهٗ وَيَكُوْنَ ذٰلِكَ

او منابذه داده چي خرڅونکي کالي خريدار ته ورو غورځوي او خريدار هغه را پورته کړي خرڅونکي ولور ته يې وغورځوي او د پرانستلو لېدو څخه پرته

بَيْعَهُمَا عَنْ غَيْرِ نَظَرٍ وَلَا تَرَاضٍ وَاللِّبْسَتَيْنِ اشْتِمَالُ الصَّمَّاءِ وَالصَّمَّاءُ أَنْ

بيع کامله سي خواه فريقين راضي وي او که نه .او د دوو دولو لباس څخه نبي کريم ﷺ منعه کړېده يو خو دي څخه مراد د ((صفاء)) طريقه ده چي

يَجْعَلَ ثَوْبَهٗ عَلٰى أَحَدِ عَاتِقَيْهِ فَيَبْدُوْ أَحَدُ شِقَّيْهِ لَيْسَ عَلَيْهِ ثَوْبٌ وَاللِّبْسَةُ

Maktaba Tul Ishaat.com

په يو اوږد ټوکر و اچول سي او بل اړخ يې لڅ پاته سي لکه په ځينو وختو کي د قميص په لستوڼي کي د ننه اوږې ته نژدې پليټ اچوي او هغه پليټ د يو جلا ټوکر شکل لري يا د دې په شان بل صورت

الْأُخْرَى احْتِبَاؤُهُ بِثَوْبِهِ وَهُوَ جَالِسٌ لَيْسَ عَلَى فَرْجِهِ مِنْهُ شَيْءٌ. متفق عليه

او د ((صماء)) يوه بله معني دا هم ده چي ټوکر د سر څخه تر پښو پوري داسي په بدن چاپېره کړي چي لاس پښه او مخ وغيره يې پټ وي او دويمه طريقه د لباس کوم چي ممنوع ده داده چي ټوکر په بدن داسي وپېچي چي کله کښېني نو شرمګاه يې ښکاره سي. (بخاري او مسلم)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۱۰\۲۷۸، رقم: ۵۸۲۰، ومسلم ۱۱۵۲\۳، رقم: ۱۵۱۲.

تشريح: د ملامست (يعني لاس وروړلو) طريقه دا وه چي يو سړی به د يو شی د رانيولو لپاره تلی نو هغه شي ته به يې لاس وروړی هغه شي ته په لاس وروړلو سره به بيع وسوه، نه به ايجاب او قبول وو چي دکاندار به دا ويل چي ما پرتا دا شی وپلوری او رانيونکی به دا ويل چي ما ستا څخه دا شی را نيوی او نه به فعلي راکړه ورکړه کېدل چي دکاندار به په رضا او رغبت په پټه خوله سره هغه شی ورکوی او رانيونکی به د هغه قيمت ادا کوی بلکه د رانيولو هغه شی به په لاس سره مس کېدل کافي ګڼل کېدل.

علامه طيبي رحمة الله عليه د حديث د الفاظو (لا يقلبه الا بذالک): هغه به يې په خلاصولو او اړولو را اړولو سره نه کتی: ددې مطلب يې دا بيان کړی دی چي ټوکر پرته د مس کولو څخه نه واړوي او را واړوي يعني پکار خو داده چي ټوکر خلاص کړل سي او په ښه ډول وکتل سي مګر په بيع ملامست کي به نه خلاصېدل او نه به کتل کېدل البته هغه به يې يوازي مس کړل، ظاهره ده چي د يو شی په محض مس کولو سره د هغه د خلاصولو او کتلو درجه نه تر لاسه کېږي.

په هر حال ملامست د جاهليت په زمانه کي د رانيولو او پلورلو يو خاص طريقه وه چي يو چا به د يو بل چا ټوکر يا بل شي ته لاس وروړی نو بيع به وسوه نه به يې هغه کتل او نه به يې شرط خيار کوی که د هغه د کتلو څخه وروسته به يې وغوښتل چي وه به يې ساتل او که نه نو بېرته به يې ورکړه دا بالکل يوه غلطه طريقه وه ځکه رسول الله ﷺ ددې څخه منع وفرمايل.

د منابذت صورت دا وو چي دواړو خواوو به په خپلو کي يو بل ته ټوکر ورغورځوی نو بيع به وسوه د مبيع د کتلو ضرورت به يې نه محسوس کوی دا هم د جاهليت په زمانه کي د رواجي بيع يوه طريقه وه نو ددې څخه هم منع وفرمايل سول.

Maktaba Tul Ishaat.com

د صماء يوه معنى خو هغه ده كوم چي په ترجمه كي بيان سوې ده مگر ددې زيات واضح او مشهور مفهوم دادى چي يو څوک يو تهوكر واخلي او هغه د سر څخه تر پښو پوري پر خپل بدن داسي وپيچي چي دواړه لاسونه هم په هغه كي دننه وي او د بدن هيڅ يو برخه د باندي نه وي ، ظاهره ده چي داسي سړى بالكل مفلوج او بېكاره پاته كيږي ځكه رسول الله ﷺ ددې څخه منع وفرمايل .

دوهمه اغوستنه چي د هغه څخه رسول الله ﷺ منع فرمايلي ده داده چي يو سړى پر تهوتهو كښيني او دواړه زنگنونه ودروي او بيا د خپلو زنگنونو او ملا څخه كپړه داسي و پيچي چي ستر يې خلاص وي ، رسول الله ﷺ ددې څخه ځكه منع وفرمايل چي په دې كي د ستر پټهدل نه كيږي كه يو څوک په پورتني صورت كي تهوكر پر ځان داسي وپيچي چي د هغه ستر پټ وي نو بيا دا ممانعت نه سته .

د بيع حصاة او بيع غرر منع

﴿۲۷۲۰﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الْحَصَاةِ وَعَنْ بَيْعِ الْغَرَرِ . رواه مسلم

د حضرت ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د بيع حصاة(مثلا يو خرڅونكي و خريدار ته ووايي چي څومره ډبره چي ستا ولاړه سي هغومره مځكه در كوم) او بيع غرر(او بيع غرر داده چي شى يې په قبضه كي نه وي او نه يې د هغه قدرت ولري چي خرڅ يې كړي مثلا د درياب ماهيان او يا د هوا مرغان يا تښتېدلي غلام وغيره) څخه منعه فرمايلي ده .(مسلم)

تخريج: مسلم في الصحيح ۳\۱۱۵۳،رقم: ۴- ۱۵۱۲.

تشريح د بيع حصات صورت دادى چي رانيونكى دوكاندار ته وايي چي كله زه ستا دغه شى په ډبره ولم نو پوه سه چي بيع واجب سوه يا دكاندار رانيونكي ته ووايي چي ما په خپلو شيانو كي هغه شى پر تا و پلورى چي پر هغه باندي ستا ويشتل سوې ډبري ولگيږي يا ما دا مځكه تر هغه ځايه پوري پر تا وپلورل تر كوم ځاى پوري چي ستا نور ځول سوې ډبره ورسيږي د بيع دغه طريقه د جاهليت په زمانه كي رواج وه رسول الله ﷺ ددې څخه منع وفرمايل .

بيع غرر هغه بيع ته وايي چي په هغه كي مبيع مجهول د يا پلورنكي د قدرت څخه وتلى وي لكه هغه ماهى پلورل چي په درياب كي وي يا په هواء كي د الوتونكي مرغه پلورل او يا د

Maktaba Tul Ishaat.com

تبنتبدلي غلام پلورل.

د بيع حبل الحبلة منع

﴿۲۷۳۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ منعه فرمايلې ده د خرڅولو څخه

حَبَلِ الْحَبَلَةِ وَكَانَ بَيْعًا يَتَبَايَعُهُ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ كَانَ الرَّجُلُ يَبْتَاعُ الْجَزُورَ

د حمل په حمل د او دا يوه بيعه وه چي د جاهليت په زمانه کي د دې رواج وو يعني يو سړی به اوښه په دې شرط را نيول چي د دې د نس څخه بچی پيدا سي

إِلَى أَنْ تُنْتَجَ النَّاقَةُ ثُمَّ تُنْتَجُ الَّتِي فِي بَطْنِهَا. متفق عليه.

او بيا د هغه بچي د نس څخه بچي پيدا سي نو بيا به د هغې اوښي قيمت ادا کوم. (بخاري او مسلم)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۴\۳۵۶، رقم: ۲۱۴۳، ومسلم ۳\۱۱۵۳، رقم: ۵- ۱۵۱۴.

تشريح د شارحي د حمل د بيع مطلب دادی چي مثلا د يوې اوښي په نس کي بچی وي او س د هغه مالک د رانيونکي سره داسي معامله وکړي چي د دغه اوښي په نس کي کومه اوښه پيدا سي او هغه اوښه چي کوم بچی راوړي زه د هغه بيع کوم د دې څخه رسول الله ﷺ منع وفرمايل ځکه چي دا د يو معدوم شی يعني د هغه بچي بيع ده چي تر او سه لا پيدا سوی نه دي.

ظاهره ده چي کله د شاروي حمل پلورل جائز نه دي نو د هغه د بچي بيع به څرنګه جائز وي چي د هغه حمل د حمل څخه به پيدا کيږي.

د ځينو حضراتو په نزد د بيع الحبل الحبلة مطلب دادی چي يو سړی خپل حامله اوښه په دغه وعده سره وپلوري چي د هغه قيمت به هغه وخت ادا کيږي کله چي هغه بچی راوړي، حضرت ابن عمر ﷺ دا مطلب اخيستی دی لکه څرنګه چي د روايت په آخر کي وکان مبيعا الخ څخه هغه خپل وضاحت کړی دی.

د نر پر مادې پرېښودو مزدوري

﴿۲۷۳۲﴾: وَعَنْهُ قَالَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ عَسْبِ الْفَحْلِ.

رواه البخاري.

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ نر پر ماده د پرېښودو (د ختو) د اجرت اخیستو څخه منعه فرمایلې ده. (بخاري)

تخریج: البخاري في الصحیح (فتح الباري): ۴\۴۶۱، رقم: ۲۲۸۴.

تشریح: نو څاروی که اوښ وي که آس او که بل یو څاروی هغه پر نر باندي د پرېښودو لپاره چا ته ورکول او د هغه مزدوري اخیستل منع دي ځکه چي په دې کي د یو داسي کار مزدوري اخیستل لازمیږي چي د هغه دوقوع کېدل متعین نه دي په دې توګه چي نر څاروی کله پر هغه وخیژي او کله ونه خیژي همدارنګه ښځینه څاروی کله حامله سي او کله نه سي ځکه اکثر صحابه کرامو او فقهاؤ د هغه مزدوري حرامه ګرځولې ده.

مګر د نر حیوان پر ښځینه حیوان باندي د خیژلو لپاره عاریتا ورکول مستحب دي البته د عاریتا ورکولو څخه وروسته که د ښځینه حیوان مالک د خپل طرف څخه هغه ته د انعام په توګه یو څه ورکړي نو د هغه قبلول صحیح دي.

د اوبو خرڅولو منع

﴿۲۷۳۳﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ ضِرَابِ الْجَمَلِ وَعَنْ بَيْعِ الْمَاءِ وَالْأَرْضِ لِتُحْرَثَ. رواه مسلم.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ اوښ په اوښه د ختلو د اجرت څخه او له خرڅولو د اوبو څخه او د مځکي څخه چي کرل کیږي منع فرمایلې ده. مسلم.

تخریج: مسلم في الصحیح ۳\۱۱۹۷، رقم: ۳۵-۱۵۶۵.

تشریح: د مځکي او اوبو د کښت لپاره د پلورلو مطلب دادی چي یو سړی خپل مځکه او هغه اوبه چي د هغه مځکي سره متعلق وي یو سړي ته په دې شرط ورکړي چي د غه مځکه او اوبه زما دي او تخم او مزدوري ستا ده مځکه چي ته وکرې نود هغه څخه چي څه په لاس راسي د هغه دومره برخه مثلا دریمه یا څلورمه برخه زه اخلم دې ته مخابرت وایي د مخابرت په باره کي تفصیلي حکم د حضرت جابر رضي الله عنه د روایت په تشریح کي تېر سوی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

د ضرورت څخه د زياتو اوبو خرڅولو منع

﴿۲۷۳۴﴾: وَعَنْهُ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ فَضْلِ الْمَاءِ. رواه مسلم.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د هغو اوبو د خرڅولو څخه منعه فرمايلې ده کوم چي تر خپل ضرورت زياتي وي. (مسلم)

تخريج: مسلم في الصحيح في الموضع السابق. رقم ۳۴- ۱۵۶۵.

تشريح: يعني كه چيري د يو چا په ملكيت كي دومره اوبه وي چي د هغه د اړتيا پوره كولو څخه وروسته پاته كيږي او نور خلک هغه اوبو ته اړ وي نو هغه پاته سوي اوبه منع كول او پر اړو كسانو باندي پلورل جائز نه دي بلكه هغه اوبه مفت وركول پكار دي مګر دا حكم په هغه صورت كي دی چي د هغه خلكو د ضرورت تعلق د هغه اوبو د څښلو يا څارويو ته د وركولو سره وي كه يو سړی د خپل كښت يا درختو اوبه كولو لپاره هغه اوبه غواړي نو بيا د مالک لپاره جائز ده چي پر هغه اوبو باندي معاوضه واخلي.

﴿۲۷۳۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُبَاعُ فَضْلُ الْمَاءِ لِيُبَاعَ بِهِ الْكَلَأُ. متفق عليه.

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زياتي اوبه دي په دې خيال نه خرڅيږي چي د دې په ذريعه واښه خرڅ كړل سي. (بخاري او مسلم)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵\۳۱، رقم: ۲۳۵۳، ومسلم ۳\۱۱۹۸، رقم: ۳۸- ۱۵۶۶

تشريح: د اوبو پلورلو سره د واښو پلورل داسي لازميږي چي مثلا يو سړی د بل چا د اوبو پر شاوخوا خپل څاروي څروي او ظاهره ده چي هغه څاروي به د څرېدو څخه وروسته اوبه خامخا څښي مګر د اوبو مالک د بل چا څارويو ته بېله قيمته اوبه نه وركوي ځكه لامحاله هغه سړی به په دې مجبور وي چي اوبه رانيسي او خپل څاروي په اوبه كړي همدارنګه د اوبو پلورل به په اصل كي د واښو پلورل وي او دا معلومه ده چي واښه پلورل جائز نه دي.

د علماؤ په دې كي اختلاف دی چي دغه منع تحريمي ده كه تنزيهي، ځيني د تحريمي قائل دي او ځيني د تنزيهي مګر صحيح خبره دا ده چي دا منع تنزيهي ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

د چم کولو څخه ځان وساتئ

﴿۲۷۳۶﴾: وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَى صُبْرَةِ طَعَامٍ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د غلې د يوې کوټي سره تير سو او په

فَأَدْخَلَ يَدَهُ فِيهَا فَنَالَتْ أَصَابِعُهُ بَلَلًا فَقَالَ مَا هٰذَا يَا صَاحِبَ الطَّعَامِ قَالَ

هغه کوټه کي يې لاس د ننه کړ نو نبي کريم ﷺ يو څه لوندوالي محسوس کړ وروسته يې د غلې

أَصَابَتْهُ السَّمَاءُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ أَفَلَا جَعَلْتَهُ فَوْقَ الطَّعَامِ كَيْ يَرَاهُ النَّاسُ

مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنِّي . رواه مسلم

مالک ته وويل : دا څه دي؟ هغه وويل يا رسول الله ﷺ ! په دې باندي باران اوريدلي دي نو نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : لنده غله دي ولي سربېره نه اېښوله چي خلکو هغه ليدلې وای بيا يې وفرمايل : چاچي چم او فريب وکړ هغه زموږ څخه نه دی . (مسلم)

تخريج: مسلم في الصحيح ۱\۹۹، رقم: ۱۶۴- ۱۰۲.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د بيع ثنيا منع

﴿۲۷۳۷﴾: عَنْ جَابِرٍ قَالَ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الثُّنْيَا

اَنْ يُّعْلَمَ . رواه الترمذي .

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د ثنايا څخه منعه کړې ده مګر نه چي مقدار معلوم کړي . (ترمذي)

تخريج: الترمذي في السنن ۳\۵۸۵، رقم: ۱۲۹۰.

تشريح که يو څوک د خپل يو شي د پلورلو پر وخت دا ووايي چي ما دغه شي پر تا باندي وپلوری مګر ددې څخه يو برخه ما نه ده پلورلې نو په مبيع کي د يو برخي استثناء کولو ته ثنيا ويل کيږي شارع ددې څخه منع فرمايلې ده ځکه چي په دې کي يو مقدار تا کل سوی نه دی مګر که چيري د مبيع يو مقدار معين کړي او مستثنی کړل سي مثلا پلورنکی داسي ووايي چي ما پر

Maktaba Tul Ishaat.com

تا باندي دغه شی وپلوری مګر ددې دومره مقدار مثلا څلورمه برخه یا دریمه یا دومره سیره یا دوه منه ما دځان لپاره مستثنی کړي دي نو دا جائز دي.

میوې او کښت د پختیا وروسته خرڅوئ

﴿۲۷۳۸﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ نَهٰي رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ

: حضرت انس رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ د انګورو د خرڅولو څخه تر څو پوري چې

الْعِنَبِ حَتّٰى يَسْوَدَّ وَعَنْ بَيْعِ الْحَبِّ حَتّٰى يَشْتَدَّ هكذا رواه الترمذي و

تور نسي منعه فرمایلې ده (یعني تر څو پوري چې پاخه نسي) او د غلې د خرڅولو څخه یې منعه فرمایلې ده تر څو چې پخه سوې نه وي. (ترمذي

ابوداؤد عن انس والزيادة التي في المصابيح وهي قوله نهى عن بيع التمر حتى تزهو انما ثبتت في روايتهما عن ابن عمر قال نهى عن بيع النخل حتى تزهو وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب.

ابو داؤد) او په مصابیح کي دا خبره اضافه سوې ده چې نبي کریم ﷺ دا هم فرمایلي دي چې تر څو خرماوي سرې سوي نه وي او د حضرت عبدالله بن عمر څخه دا هم ثابتیږي هغه وویل: چې رسول الله ﷺ د خرماؤ د خرڅولو څخه تر هغه وخته پوري منعه فرمایلې ده تر څو پوري چې هغه سرې او ژړي سوي نه وي. او ترمذي کي دا حدیث غریب ګڼل سوي دي.

تخريج: الترمذي في السنن ۳\ ۵۳۰، رقم: ۱۲۲۸، وابوداود في السنن ۳\ ۶۶۸، رقم: ۳۳۷۱. ومصابيح السنة ۴\ ۳۲۴، رقم: ۲۰۷۲.

تشريح د روایت په آخر کي د مشکوٰة مؤلف د مصابیح پر مؤلف امام بغوي رحمة الله علیه باندي دوه اعتراضونه کړي دي اول خو دا چې په روایت کي د ذکر سوو زیاتو الفاظو ناقل هغه حضرت انس رضی اللہ عنہ ښوولی دی حال دا چې دغه الفاظ د حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ څخه منقول دي دوهم دا چې هغه په دغه زیاتو الفاظو کي بیع التمر نقل کړې ده حال دا چې په اصل روایت کي بیع النخل دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

تا باندي دغه شی وپلوری مګر ددې دومره مقدار مثلا څلورمه برخه یا دریمه یا دومره سیره یا دوه منه ما دځان لپاره مستثنی کړي دي نو دا جائز دي.

میوې او کښت د پختیا وروسته خرڅوئ

﴿۲۷۳۸﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ نَهٰي رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د انګورو د خرڅولو څخه تر څو پوري چي

الْعِنَبِ حَتّٰى يَسْوَدَّ وَعَنْ بَيْعِ الْحَبِّ حَتّٰى يَشْتَدَّ هكذا رواه الترمذي و

تورنسي منعه فرمایلې ده (یعني تر څو پوري چي پاخه نسي) او د غلې د خرڅولو څخه یې منعه فرمایلې ده تر څو چي پخه سوې نه وي. (ترمذي

ابوداؤد عن انس والزيادة التي في المصابيح وهي قوله نهى عن بيع التمر حتى تزهو انما ثبتت في روايتهما عن ابن عمر قال نهى عن بيع النخل حتى تزهو وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب.

ابو داؤد) او په مصابیح کي دا خبره اضافه سوې ده چي نبي کریم ﷺ دا هم فرمایلي دي چي تر څو خرما وي سرې سوي نه وي او د حضرت عبدالله بن عمر څخه دا هم ثابتیږي هغه وویل: چي رسول الله ﷺ د خرماؤ د خرڅولو څخه تر هغه وخته پوري منعه فرمایلې ده تر څو پوري چي هغه سرې او ژړې سوي نه وي. او ترمذي کي دا حدیث غریب ګڼل سوی دي.

تخریج: الترمذي في السنن ۳\ ۵۳۰، رقم: ۱۲۲۸، وابوداود في السنن ۳\ ۶۶۸، رقم: ۳۳۷۱. ومصابيح السنة ۲\ ۳۲۴، رقم: ۲۰۷۲.

تشریح: د روایت په آخر کي د مشکوة مؤلف د مصابیح پر مؤلف امام بغوي رحمه الله باندي دوه اعتراضونه کړي دي اول خو دا چي په روایت کي د ذکر سوو زیاتو الفاظو ناقل هغه حضرت انس رضی الله عنه بنوولی دی حال دا چي دغه الفاظ د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه منقول دي دوهم دا چي هغه په دغه زیاتو الفاظو کي بیع التمر نقل کړې ده حال دا چي په اصل روایت کي بیع النخل دی.

پور په پور سره د خرڅولو منع

﴿۲۷۳۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ بَيْعِ الْكَالِئِ بِالْكَالِئِ. رواه الدار قطني.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دى چي نبي كريم ﷺ قرض په قرض سره د خرڅولو څخه منعه فرمايلې ده. (يعني يو شى د يوې مقررې مودې پورې په قرض خرڅول بيا په وعده د قيمت څخه د حاصلېدو په خاطر وروسته بيا هغه په څه قيمت د بل چا په لاس خرڅول ځكه په شى كي قبضه نه وي نو په دې وجه يې بيع ممنوع كړېده) (دار قطني)

تخريج: الدار قطني في السنن ۳\۷۱-۷۲، رقم: ۲۶۹ و ۲۷۰.

د لغاتو حل: الكالئ: اى النسيئة.(مُنه)

تشريح: لفظ د كالئ په همزه سره ليكل كيږي او ويل كيږي او بېله همزې يعني كالي هم استعماليږي د واړه د كلاء څخه مشتق دي چي د هغه معنى د تاخير ده.

پور په پور د پلورلو صورت دادى چي يو سړى د يو چا څخه يو شى تر يو ټاكلي وخت پوري رانيسي او دا فيصله وسي چي رانيونكى به د هغه شي قيمت د راتلونكي مياشتي تر فلاني تاريخ پوري ادا كوي نو پلورنكى به هغه شى هغه ته وركړي خو كله چي هغه ټاكل سوى وخت راسي او هغه وخت هم رانيونكى د قيمت پر ادا كولو قادر نه وي نو پلورنكي ته دي دا ووايي چي اوس هغه شى تر نوي وخت پوري په څه زيات قيمت پر ما باندي خرڅ كړه مثلاً هغه شى يې په لس روپۍ رانيولى وو اوس دى ورته ووايي چي هغه شى پر ما باندي په يوولس روپۍ خرڅ كړه او د راتلونكي مياشتي پر فلاني تاريخ به يوولس روپۍ دركړم او پلورنكى دي ووايي چي ما پر تا باندي خرڅ كړ همدارنګه دغه معامله په خپلو كي د قبضې څخه پرته وسي كه چيري مبيع د پلورنكي سره وي او قيمت د رانيونكي سره او د رانيولو او پلورلو معامله وسي نو د داسي بيع كولو څخه رسول الله ﷺ منع فرمايلې ده ځكه چي دا يو داسي بيع ده چي په دې كي قبضه نه وي.

ځيني حضرات د دې يو بل صورت دا بيان كړى دى چي مثلاً د عمر سره د زيد يو ټوكر دى او د عمر پر ذمه د بكر لس روپۍ دي اوس زيد بكر ته ووايي چي زما سره كوم ټوكر دى هغه زه پر تا باندي د هغه لسو په بدله كي چي ستا پر ذمه دي خرڅوم زه به د عمر څخه لس روپۍ واخلم

ته د هغه څخه تږ کړ واخلهٔ او بکر ووايي چي ما ته دا قبوله نه ده نو دا بيع هم ناجائز ده ځکه چي په دې کي هم قبضه نه ستهٔ.

د بيعانې مسئله

﴿۲۷۴۰﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الْعُرْبَانَ. رواه مالك وابوداؤد وابن ماجة.

حضرت عمرو بن شعيب رضي الله عنه دخپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت کړي دئ چي رسول الله ﷺ د بيع عربان څخه منعه کړې ده. (د بيع عربان صورت دادي چي خريدار خرڅونکي ته يو معمولي رقم په طور د بيعانه ورکړي او ورته ووايي که د بيعي معامله زما او ستا په مينځ کي وسوه نو رقم به پکښي مجرا سي او که بيعه ونه سوه نو دا رقم به ستا سره وي زه به يې بيرته واپس نه اخلم)(ابو داؤد ابن ماجه مالک)

تخريج: مالک في الموطا ۲\ ۶۰۹، رقم: ۱، وابوداود في السنن ۳\ ۷۶۸، رقم: ۳۵۰۲، وابن ماجه في السنن ۲\ ۷۳۸، رقم: ۲۱۹۲.

تشريح: د بيع عربان وضاحت دادی چي مثلا يو سړی د يو چا څخه يو شی رانيسي او پلورونکي ته يو څه روپۍ مخکي ورکړي او داسي ووايي که دا معامله پوره سوه نو دغه روپۍ به په قيمت کي ادا سي او که معامله پوره نه سوه په دې توګه چي زه د پوره قيمت د ادا کولو سره هغه شی په خپله قبضه کي اخيستلای نه سم نو بيا دغه روپۍ به ستا سره پاته سي زه به يې بېرته نه غوارم دې ته زموږ په اصطلاح کي بيعانه وايي رسول الله ﷺ ددې څخه منع فرمايلې ده ځکه چي په شرعي توګه سره دا بيع باطل ده، مګر ابن عمر رضي الله عنه او امام احمد رحمه الله ددې د جواز قائل دي د حنفيه په نزد په دغه صورت کي جائز دی کله چي داسي ووايي که معامله پوره سي نو هغه روپۍ به د پلورنکي حق وي په دې توګه چي هغه به په قيمت کي ادا سي او که معامله پوره نه سي نو بيا هغه به د رانيونکي حق وي چي هغه روپۍ هغه ته بېرته ترلاسه سي.

د بيع مضطر منع

﴿۲۷۴۱﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الْمُضْطَرِّ وَبَيْعِ الْغَرَرِ وَبَيْعِ الثَّمَرَةِ قَبْلَ أَنْ تُدْرِكَ. رواه ابوداؤد.

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د بيع مضطر او بيع غرر څخه او مېوه تر پخېدو مخکي خرڅولو څخه يې منعه فرمايلې ده .(دبيع مضطر څخه مراد دادي چي په زور سره د يو چا څخه شی اخيستل يا دا چي يو سړی مجبوره سي او خپل شی ارزانه خرڅ کړي). (ابو داؤد)

تخريج: ابوداود في السنن ۳\۶۷۶، رقم: ۳۳۸۲.

تشريح په بيع مضطر کي دبيع څخه مراد رانيول دي يعني رسول الله ﷺ ددې څخه منع فرمايلې ده چي د يو چا څخه په زور يو شی رانيول سي ، د يو چا څخه په زور شی رانيول د بيع فاسد په حکم کي دی چي نه فافذ کيږي .

يا د مضطر څخه مراد محتاج دی چي د يو مصيبت په وجه د خپل سامان پر خرڅولو باندي مجبور وي مثلا زيد ديو چا پوروړی دی او د پور د ادا کولو لپاره هغه ته روپۍ پکار وي يا پر هغه باندي يو مشکل راغلی دی چي د هغه په وجه هغه د روپو سخت ضرورت دی او هغه د خپل ضرورت پوره کولو لپاره خپل مال او اسباب په ارزانه بيعه خرڅوي نو د چا لپاره دا مناسب نه دي چي د هغه د مجبورۍ څخه ناجائزه ګټه پورته کړي او د هغه سامان ارزانه رانيسي بلکه د مروت تقاضا داده چي د هغه مجبور او مضطر د مجبورۍ خيال وساتل سي د هغه مال په ارزانه قيمت نه رانيسي او په دا سي وخت کي د هغه مرسته وکړل سي چي يا خو هغه ته يو څه روپۍ د پور په توګه ورکړل سي يا د هغه مال د اصل قيمت په عوض کي رانيول سي مګر ددې خبري خيال ساتل پکار دي چي په دغه صورت کي بيع فاسد نه وي بلکه صحيح به وي مګر په کراهت سره به صحيح وي ، د بيع غرر وضاحت د دغه باب په تېرو صفحو کي تېر سوی دی . همدارنګه د پخېدو څخه مخکي د ميوو د پلورلو تفصيل هم مخکي تېر سوی دی .

د نر پر مادې پرېښودو مزدوري

﴿۴۲-۲﴾: وَعَنْ اَنَسٍ اَنَّ رَجُلًا مِنْ كِلَابٍ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی د کلاب د قبيلې يوه کس نبي کريم ﷺ ته نر په ماده د

عَنْ عَسْبِ الْفَحْلِ فَنَهَاهُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّا نُطْرِقُ الْفَحْلَ فَنُكْرَمُ

فَرَخَّصَ لَهُ فِي الْكَرَامَةِ . رواه الترمذي .

پرېښېدو د اجرت په اړه پوښتنه وکړه نو نبي کريم ﷺ د دې د اجرت څخه منعه وفرمايله هغه ووېل يا رسول الله ﷺ اموږ خپل نر حيوان پر ماده د پرېښېدو لپاره په عاريتا ورکوو (هغه يې نه غواړي موږ ته

Maktaba Tul Ishaat.com

ورکوو)بیا هغوی مونږ ته د انعام په ډول یو څه را کوي رسول الله ﷺ د هغه انعام د اخیستلو اجازت ور کړ. (ترمذي)

تخریج: الترمذي في السنن ۳\ ۵۷۳، رقم: ۱۲۷۴.

د لغاتو حل: عَسب: ای اجارة مائه وضرابه.

د غیر موجود شي پلورل

﴿۲۷۴۳﴾: وَعَنْ حَکِیْمِ بْنِ حِزَامٍ قَالَ نَهَانِي رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ

د حکیم بن حزام رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ زه د هغه شی د پلورلو څخه منعه کړم

أَنْ أَبِیْعَ مَا لَیْسَ عِنْدِي. رواه الترمذي و في روایة له و لابي داؤد والنسائي

کوم چي زما سره موجود نه وو. (ترمذي) او د ترمذي ابو داؤد او نسائي په یو بل روایت کي

قال قلت یا رسول الله یاتیني الرجل فیرید مني البیع و لیس عندي فابتاع له من السوق قال لا تبع ما لیس عندك.

دا الفاظ سته چي حکیم بن حزام رضی الله عنه وویل چي ما پوښتنه وکړه یا رسول الله ﷺ !یو سړی ماته را ځي او د رانیولو اظهار کوي او هغه شی زما سره موجود نه وي نو هغه شی زه د هغه لپاره د بازار څخه را نیسم نو نبي کریم ﷺ وفرمایل: کوم شی چي ستا سره نه وي هغه مه خرڅوه.

تخریج: الترمذي في السنن ۳\ ۵۳۴، رقم: ۱۲۳۲.

تشریح مطلب دا دی چي کوم شی د رانیولو او پلورلو پر وخت په خپل ملکیت کي نه وي د هغه پلورل نه دي پکار اوس ددې دوه صورتونه کېدای سي اول خو دا چي هغه شی نه خو په خپل ملکیت کي وي او نه ورسره موجود وي په دغه صورت کي به د هغه شی بیع صحیح نه وي. دوهم دا چي هغه په خپل ملکیت کي نه وي او یو بل سړی د هغه مالک وي نو په دغه صورت کي هم د مالک د اجازې څخه پرته د هغه بیع صحیح نه ده او که د مالک د اجازې څخه مخکي د هغه بیع وکړل سي نو د امام ابو حنیفة، امام مالک او امام احمد د مذهب سره سم هغه بیع به د مالک پر منلو موقوف وي که هغه یې ومني نو بیع به صحیح سي او که یې ونه مني نو بیع به کالعدم سي. مګر امام شافعي رحمه الله فرمایي چي هغه بیع به صحیح نه وي که مالک یې مني او که یې نه مني.

Maktaba Tul Ishaat.com

د اول صورت په حکم کې د هغه شي بیع داخله ده چې پر هغه قبضه حاصله سوې نه وي یا هغه ورک سوی وي یا مفرور (تښتېدلی) وي لکه غلام وغیره یا هغه رانیونکي ته په حواله کولو باندي قادر نه وي لکه په هواء کې الوتونکی مرغه، او هغه ماهي چې تر اوسه د اوبو څخه راکښل سوی نه وي مګر ددې خبري باید خیال وي چې دغه منع د بیع سلم څخه پرته په نورو صورتو کې ده ځکه چې بیع سلم د متعینه او معروفه شرطو سره په اتفاق د ټولو علماؤ جائز ده، بیع سلم او ددې د تفصیلي شرطونو ذکر به انشاء الله تعالی په باب السلم کې راسي.

په یوه بیع کې دوې بیعې مه کوئ

(۲۷۳۳) وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ نَهَى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعَتَيْنِ فِيْ بَيْعَةٍ. رواه مالك والترمذي وابوداؤد والنسائي.

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه بیعه کې د دوو بیعو څخه منعه فرمیلې ده (یعني په یوه معامله کې د دویمي بیعي معامله منعه کړې ده مثلاً زید یو اس په سل روپۍ په عمر باندي په دې شرط خرڅ کړ چې ته به خپله بیعه د پنځوسو روپو په بدل کې ما ته راکړې یا دا چې اس مي په لس روپي نقد او شل روپي قرض پر تا خرڅ کړ)(مالک ترمذي ابو داؤد نسائي)

تخریج: الامام مالک في الموطا ۲\۶۶۳، رقم: ۷۲، والترمذي ۳\۵۳۳، رقم: ۱۲۳۱، وابوداود ۳\۷۳۸، رقم: ۳۴۶۱. والنسائي ۷\۲۹۵، رقم: ۴۶۴۶.

تشریح په یوه بیع کې دوې بیعي: ددې دوه صورتونه کېدای سي یو خو دا چې یو سړی یو چا ته ووایي چې زه یو پسه د زرو روپو په عوض کې پر تا خرڅوم مګر شرط دادی چې ته خپل آس په پنځه سوه روپۍ پر ما خرڅ کړه داسي بیع کول صحیح نه ده.

دوهم صورت دادی چې یو سړی یو چا ته ووایي چې زه خپل آس پر تا باندي په پنځه سوه نقدو روپو او اووه سوه په پور خرڅوم دا هم ناجائز دي په شرط ددې چې د یو امر فیصله سوې نه وي او رانیونکي ته اختیار حاصل وي که غواړي چې هغه وخت په نیولو سره د نقدو روپۍ په ورکولو سره آس واخلي او که غواړي وروسته په اووه سوه روپۍ ورکولو سره هغه واخلي او که چیري یو امر فیصله سي او معامله مجمل نه وي یعني دا هغه وخت فیصله سي چې په نقدو مي رانیوی یا په پور مي رانیوی نو بیا دا معامله به صحیح وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۲۷۴۵﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعَتَيْنِ فِيْ صَفْقَةٍ وَّاحِدَةٍ. رواه في شرح السنة.

حضرت عمرو بن شعیب رحمه الله د خپل پلار او هغه د خپل پلار څخه نقل کوي چي رسول الله ﷺ په يوه عقد يا معامله کي د دوو بيعو څخه منعه فرمايلې ده. (شرح السنه)

تخريج: البغوي في شرح السنة ۸\۱۴۴، رقم: ۲۱۱۲.

تشريح: د دغه حديث او ذکر سوي حديث معنی يوه ده کومه تشريح چي د پورتني حديث سوې ده هغه تشريح د دغه حديث هم ده.

بيع د پور سره مه کوئ

﴿۲۷۴۶﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَحِلُّ سَلَفٌ

عمرو بن شعیب رحمه الله د خپل پلار او هغه د خپل پلار څخه نقل کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: بيع او قرض (يعني يو شی خرڅ هم سي او د قرض معامله هم ورسره وسي) جائز نه دي

وَبَيْعٌ وَلَا شَرْطَانِ فِيْ بَيْعٍ وَلَا رِبْحُ مَا لَمْ يُضْمَنْ وَلَا بَيْعُ مَا لَيْسَ عِنْدَكَ.

رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي وقال الترمذي هذا حديث صحيح.

او په بيع کي دوه شرطونه کول هم صحيح نه دي او نه د هغه شی ګټه اخيستل چي مبيع در سره نه وي او نه خرڅول د هغه شي چي ستا سره نه وي. (ترمذي ابو داؤد نسائي) او په ترمذي کي راغلي دي چي دا صحيح دي.

تخريج: الترمذي في السنن ۳\۵۳۵، رقم: ۱۲۳۴، وابوداود في السنن ۳\۷۶۹، رقم: ۳۵۰۴، والنسائي ۷\۲۸۸، رقم: ۴۶۱۱، رقم: ۴۶۳۰.

تشريح: پور او بيع حلال نه دي: ددې مطلب دادی چي د پور او بيع دوې جلا جلا معاملې د يو بل سره منسلک کول نه دي پکار مثلا يو سړی پر يو چا باندي په دې شرط يو شی خرڅ کړي چي ته ما ته دومره روپۍ په پور راکړه نو دا جائز نه ده يا دا معنی هم مراد کيدای سي چي يو سړی يو چا ته يو څو روپۍ د پور په توګه ورکړي او د هغه سره خپل يو شی پر هغه پوروړي باندي د اصل قيمت څخه په زيات خرڅ کړي نو دا حرام دی ځکه چي په دغه صورت کي ظاهره ده چي

رانيونكى د هغه شى زيات قيمت ځكه ادا كوي چي هغه د پلورنكى څخه پور اخيستى دى او دا بالكل صفا مسئله ده چي د كوم پور څخه ګټه تر لاسه سي نو هغه حرام دى دا د سود يوه څرګنده حيله ده ځكه ددې څخه پرهيز كول ضروري دي.

په بيع كي دوه شرطونه لګول صحيح نه دي: ددې مطلب دادى چي په يوه بيع كي دوې بيعي كول نه دي پكار چي د هغه وضاحت په پورتني حديث كي تېر سوى دى.

د هغه شي څخه ګټه اخيستل چي تر اوسه په خپل ضمان كي نه وي، ددې مطلب دادى چي يو سړى د يو چا څخه يو شى رانيسي مګر هغه شى هم د رانيونكى په قبضه كي نه وي راغلى په دغه وخت كي پلورنكى د هغه شي كرايه وصوله كړه اوس كه رانيونكى غواړي چي دغه شى ما رانيولى دى ځكه زما د رانيولو څخه وروسته ددغه شي كرايه د پلورنكي پر ذمه ده، فرض كړه كه چيري هغه شى ضائع سي نو د هغه تاوان به پلورنكى پر غاړه اخلي او د رانيونكي څخه به هيڅ نه اخلي همدارنګه په هغه شي كي كه يو ګټه تر لاسه سوې وي نو هغه هم د پلورنكى حق دى د رانيونكي په هغه كي هيڅ حق نه سته.

د قيمت په ادا كولو كي د سكې تبديلي جائز ده

﴿۲۷۴۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كُنْتُ أَبِيعُ الْإِبِلَ نقيع بِالدَّنَانِيرِ فَآخُذُ مكانها

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دى چي ما به په د نقيع په ځاى كي اوښان د دينارو په بدل كي

الدَّرَاهِمَ وَأَبِيعُ بِالدَّرَاهِمِ فَآخُذُ مكانها الدَّنَانِيرَ فَأَتَيْتُ النبي صَلَّى اللهُ

پلورل او د دينارو په ځاي مي درهم اخيستل او د درهمونو په عوض كي به مي خرڅول او دينار به مي پرې رانيوي زه د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سوم

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْتُ ذَالِكَ لَهُ فَقَالَ لَا بَأْسَ أَنْ تَأْخُذَهَا بِسِعْرِ يَوْمِهَا مَا لَمْ

او د دې حالت بيان مي ورته وكړنو نبي كريم ﷺ وفرمايل: په دې كي هيڅ تاوان نسته په شرط د دې چي درهم او دينار د بازار په ربړ رانيول سي تر څو پوري چي

تَفْتَرِقَا وَبَيْنَكُمَا شَيْءٌ. رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي والدارمي.

تاسي يو د بله سره جلا سوي نه ياست. (يعني رانيونكي او پلورونكي پر هغه ځاي موجود وي) (ترمذي ابوداؤد نسائي دارمي)

Maktaba Tul Ishaat.com

تخریج: الترمذي في السنن ۳\ ۵۴۴، رقم: ۱۲۴۲، وابوداود ۳\ ۶۵۰، رقم: ۳۳۵۴، والنسائي ۷\ ۲۸۱، رقم: ۴۵۸۲، والدارمي ۲\ ۳۳۶، رقم: ۲۵۸۱.

تشریح: درهم او دینار د دوو سکو نومونه دي، درهم د سپینو زرو وي او دینار د سرو زرو وي، د دغه حدیث څخه معلومه سوه که یو سړی د یو چا څخه یو شی د روپو په عوض کي رانیسي او د روپو په عوض کي اشرفۍ ورکړي یا یو شی د اشرفیو په عوض کي رانیسي او د اشرفیو په بدله کي روپۍ ورکړي نو جائز دي.

د هغه ورځي د قیمت قید د استحباب په توګه دی یعني مستحب او مناسب دادي چي د هغه ورځي د قیمت خیال وساتل سي او کوم چي د فقهي د مسئلې تعلق دی نو دا جائز دي چي په کوم قیمت سره وغواړي هغه واخلي.

ستاسو په مینځ کي یو شی نه وي: دلته د یو شي څخه مراد مبیع یا قیمت او یا پر دواړو باندي قبضه نه کېدل دي، مطلب دادی چي درهم او دینار په خپلو کي بدلول په دې شرط جائز دی چي په کوم مجلس کي د رانیولو او پلورلو معامله وي په هغه مجلس کي دواړي خواوي پر خپل خپل شي باندي قابض سي چي د هغه پر خلاف کېدو کي د نقد بیع په پوره سره لازم نه سي چي د رباء د یو شکل کېدو په وجه حرام دی، د شیخ علي متقي رحمه الله په باره کي منقول دي چي هغه به په مکه مکرمه کي خپل خادم بازار ته استوی نو د دغه حدیث سره سم هغه به په خاصه توګه سره دا نصیحت ورته کوی چي خبردار یو تر بله په معامله کولو کي لاس په لاس ورکول کوه چي په مینځ کي فرق واقع نه سي.

علامه ابن همام رحمه الله فرمایي چي درهم غیر متعین دی ځکه که یو سړی دکاندار ته د یوه درهم په ښوولو سره ووایي چي د دغه په عوض کي فلانی شی پر ما خرڅ کړه نو د هغه درهم پر ځای بل درهم ورکول جائز دي په شرط د دې چي هغه دواړه درهمه په مالیت کي یو ډول وي.

د رسول الله ﷺ د یو بیعاني ذکر

﴿۲۷۴۸﴾: وَعَنِ الْعَدَّاءِ بْنِ خَالِدِ بْنِ هَوْذَةَ اَخْرَجَ كِتَابًا هٰذَا مَا اشْتَرَى

د حضرت عدا بن خالد بن هوذه رضي الله عنه په تحریر کي لیکل سوي دي د نبي کریم ﷺ له لوري د عدا بن خالد بن هوذه په نوم بیع نامه ده

الْعَدَّاءُ بْنُ خَالِدِ بْنِ هَوْذَةَ مِنْ مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

Maktaba Tul Ishaat.com

(عدا بن خالد بن هوذه) د محمد ﷺ څخه يوه مينزه يا غلام را نيوي چې هغه (هغې) هيڅ

اشْتَرَى مِنْهُ عَبْدًا أَوْ أَمَةً لَا دَاءَ وَلَا غَائِلَةَ وَلَا خِبْثَةَ بَيْعَ الْمُسْلِمِ الْمُسْلِمَ.

رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب.

ناروغي نه درلوده او نه پکښې بل عيب وو او خباثت نه وو پکښې او په دې ډول يې خريد وکړ لکه چې يو مسلمان د بل مسلمان څخه خريد کوي. (او په ترمذي کې دا حديث غريب دی)

تخريج: الترمذي في السنن ۳\۵۲۰، رقم: ۱۲۱۶.

د لغاتو حل: لا داء: اى فيه من جنون وجذام و برص ونحوها. غائلة: كزنا وسرقة و شرب خمر.

تشريح: يو غلام يا يوه مينزه رانيسه: په دغه الفاظو کې لفظ د يا د راوي شک ظاهروي يعني د حديث راوي ته شک سوی دی چې هغه په بيعه کې غلام ليکل سوی وو که مينزه.

چې په هغه کې ناروغي نه ستة: دلته د ناروغۍ څخه مراد جنون، جذام او داسې نور مضر ناروغۍ داخل دي، همدارنګه په (څه بدي نه سته) دلته د بدۍ څخه مراد هغه عيب دی چې د رانيونکي د مال د تاوان او هلاکت سبب جوړ سي لکه د غلام غل کېدل يا تښتېدل.

او هيڅ خرابي نسته: د دې مطلب دادی چې د هغه په خلقت کې يو داسې خرابي نه ستة چې د هغه څخه خراب اخلاق او افعال پيدا سي لکه د هغه ولد الزنا کېدل يا فاسق او درواغجن کېدل په آخري جمله کې چې يو مسلمان د يو مسلمان څخه رانيول کوي، په دغه جملې کې رعايت، خيرخواهۍ او د اسلام حقوقو ته اشاره سوې ده، مطلب دادی چې د اسلامي تعليم تقاضا داده چې يو مسلمان د بل مسلمان په لاس هره معامله او عقد کې رعايت، خير خواهي، مروت، همدردي او هغه حقوق چې د يو مسلمان پر بل مسلمان عائد کيږي د هغو پوره پوره لحاظ وساتل سي، په هر حال د پورتني تحرير خلاصه دا سوه چې دغه غلام بنه دی او يو عيب پکښې نه سته، او د رانيولو او پلورلو په معامله کې دواړي خواوي دي يو بل ته دوکه او فريب نه ورکوي.

امام ترمذي رحمه الله دغه حديث ته غريب ويلي دي ځکه چې دغه حديث د عباد ابن ليث د سند څخه پرته په بل هيڅ سند سره ثابت نه دی او د محدثينو په نزد عباد د حديث روايت کولو کې ضعيف شمېرل کيږي.

علماء کرام وايي چې رسول الله ﷺ د هجرت څخه وروسته د هيڅ شي بيع نه ده کړې او که

Maktaba Tul Ishaat.com

يو بيع يې كړې وي نو هغه به يو نادر كار وي مگر د هجرت څخه مخكي رسول الله ﷺ بيع او شراء دواړه كول.

په بخاري شريف كي دا حديث دي چي (هذا ما اشترى محمد رسول الله ﷺ من عداد بن خالد) ديعني دا هغه بيع ده چي عداد بن خالد سره د محمد رسول الله ﷺ د رانيولو په اړه وه، يعني د بخاري شريف ددغه حديث څخه دا معلومه سوه چي رانيونكي رسول الله ﷺ وو او پلورنكي عداد ابن خالد وو او حال دا چي دلته كوم روايت نقل سوى دى هغه ددې برعكس دى ځكه ددې څخه دا ثابتيږي چي عداء ابن خالد رانيونكى وو او رسول الله ﷺ پلورنكى. والله اعلم.

نيلام كول جائز دي

﴿۲۷۴۹﴾: وَعَنْ اَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَاعَ حِلْسًا وَقَدَحًا

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ ديو ټاټ او يوې پيالې دخرڅولو اراده وكړه

فَقَالَ مَنْ يَشْتَرِي هٰذَا الْحِلْسَ وَالْقَدَحَ فَقَالَ رَجُلٌ أَخَذْهُمَا بِدِرْهَمٍ فَقَالَ

او داسي يې وفرمايل: دا ټاټ او پياله څوك اخلي؟ يوه سړي وويل چي زه يې په يوه درهم اخلم

النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَزِيدُ عَلَى دِرْهَمٍ فَأَعْطَاهُ رَجُلٌ دِرْهَمَيْنِ

فَبَاعَهُمَا مِنْهُ. رواه الترمذي وابوداؤد وابن ماجة.

نبي كريم ﷺ و فرمايل: د يوه درهم څخه زيات څوك خريدار سته؟ يوه سړي نبي كريم ﷺ ته دوه درهمه وركړل او نبي كريم ﷺ هغه دواړه وهغه نفرته وركړه. (ترمذي ابو داؤد ابن ماجه)

تخريج: الترمذي في السنن ۳\ ۵۲۲، رقم: ۱۲۱۸، وابوداود في السنن ۲\ ۲۹۲، رقم: ۱۶۱۴، وابن ماجه في السنن ۲\ ۷۴۰، رقم: ۲۱۹۸.

د لغاتو حل: حلسا: وهو كساء يوضع على ظهر البعير تحت القتب لايفارقه.

تشريح: ددغه بيع اصل واقعه داسي ده چي يو سړي د رسول الله ﷺ په مخكي د سوال لاس وغزوى او دا خواهش يې وكړ چي رسول الله ﷺ هغه ته يو څه وركړي چي هغه خپل نس په موړ كړي، رسول الله ﷺ هغه ته وفرمايل ايا ستا سره يو څه سامان سته، هغه وويل چي يا زما سره هيڅ سامان نه سته مگر د ټاټ يوه ټوټه او يوه پياله سته، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل دغه دواړه شيان خرڅ كړه او د هغه قيمت چي په لاس در سي په هغه سره خپل نس موړ كړه ددې څخه

وروسته چي ستا سره هيڅ هم پاته نه سي نو بيا صدقه او خيرات غواړه ، نو هغه سړي دواړه شيان راوړل او رسول الله ﷺ په ذکر سوي طريقه سره هغه دواړه شيان خرڅ کړل (د بيع دغه صورت ته په عربي کي بيع من يزيد او خراج وايي او په شرعي توګه دا بيع صحيح ده) .

اوس پاته سوه دا خبره چي شارع د دې څخه منع کړې ده چي يو سړی د يو داسي شي قيمت ولګوي چي د هغه قيمت د يو بل چا له خوا لګول سوی وي نو دا بيع به په دغه صورت کي څرنګه جائز وي په دې باره کي د قيمت لګولو په هغه صورت کي کله چي پلورنکی او رانيونکي دواړه پر يوه قيمت راضي سي او معامله فيصله سوې وي نو په داسي صورت کي اوس د بل چا لپاره دا جائز نه ده چي هغه په دغه بيع کي مداخلت وکړي او د خپل طرف څخه هم د هغه شي قيمت لګول شروع کړي مګر دلته چي د بيع کوم صورت ذکر سوی دی د هغه نوعيت بالکل بل دی په دغه بيع کي د پلورنکي اراده دا وي چي يو څوک زيات قيمت ولګوي هغه ته به دغه شی ورکول کيږي نو په نيلام کي دا کيږي چي خلک د يو بل څخه زيات قيمت ولګوي د کوم چا چي آخري قيمت وي پر هغه به دغه شی پلورل کيږي .

دا حديث د دې خبري دليل دی چي معاطات يعني د پلورنکي شي ورکول او د رانيونکي قيمت ورکول کافي دي که څه هم هغوی دواړه په خوله سره هيڅ ونه وايي يعني په ژبه سره ايجاب او قبول نه وي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د عيب لرونکي شي په چم سره خرڅولو باندي وعيد

﴿۲۷۵۰﴾: عَنْ وَاثِلَةَ ابْنِ الْاَسْقَعِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت واثله رضي الله عنه بن اسقع څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي

يَقُولُ مَنْ بَاعَ عَيْبًا لَمْ يُبَيِّنْهُ لَمْ يَزَلْ فِي مَقْتِ اللّٰهِ وَلَمْ تَزَلِ الْمَلَائِكَةُ تَلْعَنُهُ . رواه ابن ماجة .

کوم سړی چي عيب لرونکي شی خرڅ کړي او عيب يې ښکاره نه کړي نو هغه همېشه د غضب الهي ښکار کيږي او يا ملائکې همېشه ور باندي لعنت وايي . (ابن ماجه) .

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ فِي الْبَيْعِ الْمَشْرُوْطِ

(د بيع مشروط بيان)

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د ميوه لرونكي درختي پلورل

﴿۲۷۵۱﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ ابْتَاعَ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي را نيسي

نَخْلًا بَعْدَ أَنْ تُؤَبَّرَ فَثَمَرَتُهَا لِلْبَائِعِ إِلَّا أَنْ يَشْتَرِطَ الْمُبْتَاعُ وَمَنِ ابْتَاعَ عَبْدًا

د خرماوو وني وروسته د تابير (تابير و دې ته وايي چي د نر خرما د وني ګل د مادې خرما په ونه كي ولګوي نو د خداى تعال په امر سره ډير خرماوي كيږي) نو هغه مېوه د خرڅونكي ده (د رانيوونكي نه ده) خو كله چي رانيوونكى د مېوې شرط وكړي او څوک چي غلام رانيسي او

وله مال وماله للبائع إِلَّا أَنْ يَشْتَرِطَ الْمُبْتَاعُ . رواه مسلم و روى البخاري المعنى الاول وحده

د غلام سره مال وي نو هغه مال د خرڅونكي دي خو كه رانيونكي د دې شرط وكړي . (په مسلم شريف كي دا حديث نقل دي او بخاري شريف يوازي اولني خبره روايت كړي دي .

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵\۴۹، رقم: ۲۳۷۹، ومسلم ۲\ ۱۱۷۳، رقم: ۸۰- ۱۵۴۳.

تشريح: د تابير صورت دادى چي د خرما د نارينه درختي ګل د خرما په ښځينه درخته كي كښيږدي . د عربو دا عقيده وه چي د دې په وجه زياته ميوه پيدا كيږي .

په پورتني حديث كي د داسي درختو په باره كي فرمايل سوي دي كه يو سړى تابير كړې درخته رانيسي او د رانيولو پر وخت په هغه درخته كي مېوه وي نو هغه به د پلورنكي وي مګر كه چيري رانيونكى د رانيولو پر وخت دا فيصله وكړي چي زه دغه درخته د ميوې سره رانيسم نو بيا به هغه د ميوې هم رانيونكى وي ، د حنفيه په نزد د تابير څخه پرته د نورو درختو هم دغه حكم دى .

Maktaba Tul Ishaat.com

مګر د امام شافعي، امام مالک او امام احمد رحمة الله علیهم مذهب دادی چې د تابیر څخه پرته په نورو درختو کې مېوه په بیع کې شامل نه ده بلکه دا به زما وي نو بیا په دغه صورت کې به هغه د پلورنکي وي.

غلام د مال مالک نه دي ځکه په حدیث کې هغه ته د مال د ملکیت نسبت د ظاهر په اعتبار دی که د بیع پر وخت د هغه په لاس کې څه مال وي نو هغه د پلورنکی دي مګر که چیرې رانیونکی په دغه مشروط طریقه سره هغه رانیسي چې د غلام په رانیولو کې دغه مال هم شامل دی کوم چې د هغه په لاس کې دی نو په دغه صورت کې به هغه مال هم د رانیونکی وي.

دا حدیث پر دې خبره دلالت کوي چې د غلام د بیع پر وخت هغه جامې چې د هغه پر بدن وي په بیع کې داخل نه دي مګر دا چې رانیونکی د هغه د جامو سره بیع مشروط کړي، د حنفیه په نزد د ځینو علماؤ رایه داده چې جامې په بیع کې داخل دي او د ځینو علماؤ قول دادی چې یوازې دومره جامې په بیع کې داخل دي په کوم سره چې ستر پټیږي مګر صحیح خبره داده چې د حدیث د ظاهري مفهوم سره سم د هغه دهر ډول سامان هیڅ یو برخه هم په بیع کې داخل نه ده.

د مشروط بیع مسئله

﴿۲۷۵۲﴾: وَعَنْ جَابِرٍ اَنَّهُ كَانَ يَسِيرُ عَلَى جَمَلٍ لَهُ قَدْ أَعْيَا فَمَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چې هغه په خپل اوښ باندې سفر کوی چې اوښ ستړي سو نو نبي کریم ﷺ د هغه لخوا څخه تېرېدي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهِ فَضَرَبَهُ فَسَارَ سَيْرًا لَيْسَ يَسِرُ مِثْلَهُ ثُمَّ قَالَ بِعْنِيهِ بِوُقِيَّةٍ

او د هغه اوښ یې وواهه بیا هغه داسې چابک روان سو چې مخکې یې داسې تګ نه وو کړی

قَالَ فَبِعْتُهُ فَاسْتَثْنَيْتُ حُمْلَانَهُ إِلَى أَهْلِي فَلَمَّا قَدِمْتُ الْمَدِينَةَ اَتَيْتُهُ

بیا نبي کریم ﷺ وفرمایل: جابره! دا اوښ پر ما په یوه اوقیه (څلوېښت درهمه) خرڅ کړه جابر ﷺ وویل په تا مې اوښ خرڅ کړ او دا یې ورسره وویل په دې اوښ به زه تر کوره پورې سفر کوم کوم وخت چې زه مدینې منورې ته را ورسېدم

بِالْجَمَلِ وَنَقَدَنِي ثَمَنَهُ و في رواية فاعطاني ثمنه ورده علي. متفق عليه و في رواية للبخاري انه قال لبلال اقضه و زده فاعطاه و زاده قيراطا.

Maktaba Tul Ishaat.com

نو د اوښ سره د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سوم نو نبي كريم ﷺ ما ته د هغه قيمت راكړ او په يوه بل روايت كي دا الفاظ دي چي نبي كريم ﷺ ماته د اوښ قيمت هم راكړ او اوښ يې هم را ته واپس كړ .(بخاري او مسلم) او د بخاري په يوه روايت كي دا الفاظ هم سته چي نبي كريم ﷺ بلال رضي الله عنه ته امر وركړ چي د اوښ قيمت وركړه يو څه اندازه زيات نو بلال رضي الله عنه قيمت ادا كړ او يو قيراط يې زيات راكړ .

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵\۳۱۴، رقم: ۲۷۱۸، ومسلم ۳\۱۲۲۱، رقم: ۱۰۹،

تشريح: وقية چي اوقيه هم ورته ويل كيږي دا څلوېښت درهمه يعني د لس نيمو تولو د سپينو زرو په اندازه وي،

فاستثنيت حملانه الى اهلي: ددې څخه د حضرت جابر رضي الله عنه مطلب دا وو چي زه دغه اوښ پر تا باندي په دې شرط پلورم چي تر مدينې منورې پوري به پر دغه اوښ سپور ځم .

ددې د ظاهري مفهوم څخه دا معلومه سوه كه يو څوك خپل يو حيوان په دې شرط خرڅ كړي چي دغه حيوان به تر دغه وخته پوري زما د سپرلۍ لاندي وي نو دا جائز دي ، د امام احمد رحمة الله عليه دا مذهب دى او د امام مالك رحمة الله عليه په نزد دا قيد دى كه چيري فاصله نژدې وي نو په دغه شرط سره بيع كول جائز ده دلته دا صورت پيدا سو چي حضرت جابر رضي الله عنه ته يوازي تر مدينې منورې پوري تلل وه ځكه ددغه كم مسافت په وجه هغه د سپرلۍ شرط ولګوى او د هغه دغه شرط ومنل سو .

د امام ابوحنيفة او امام شافعي رحمة الله عليهما په نزد په داسي هيڅ يو شرط سره بيع جائز نه ده چي په هغه كي د پلورنكي يا رانيونكي ګټه وي كه څه هم مسافت ليري وي او كه نژدې وي ، د دوى دليل هغه حديث چي په هغه كي رسول الله ﷺ د مشروط بيع څخه منع فرمايلې ده .

ددغه حديث جواب د دوى له خوا دا وركول كيږي چي يا خو دا يو رعايت وو چي حضرت جابر رضي الله عنه ته ددغه مشروط بيع په خاصه توګه اجازه وركړل سوې وه او د بل چا لپاره دا جائز نه دي يا دا چي حضرت جابر رضي الله عنه تر مدينې منورې پوري د خپل سپرلۍ د بيع كولو څخه وروسته مشروط كړې وي ، ددې مطلب دادى چي كله هغه اوښ وپلورى او رسول الله ﷺ رانيوى نو ددې څخه وروسته حضرت جابر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه دغه رعايت وغوښتى چي ما ته تر مدينې منورې پوري پر دغه اوښ باندي د سپرلۍ اجازه راكړل سي كوم چي رسول الله ﷺ ومنل .

Maktaba Tul Ishaat.com

د حق ولاء مسئله

﴿۲۷۵۳﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ جَاءَتْ بَرِيْرَةُ فَقَالَتْ اِنِّيْ كَاتَبْتُ عَلَى تِسْعِ أَوَاقٍ

د بي بي عائشې ﷺ څخه روايت دی چي بريره مينزه راغله او ما ته يې وويل: ما په نهه اوقيه مکاتبت کړي وو په دې شرط چي

فِي كُلِّ عَامٍ وَقِيَّةٌ فَأَعِينِينِي فقالت عائشة إِنْ أَحَبَّ أَهْلُكِ أَنْ أَعُدَّهَا لَهُمْ

هر کال به يوه اوقيه ورکوم تاسو زما کومک وکړئ بي بي عائشې رض ورته وويل: که ستا د مالک دا خوښه وي چي زه ټولي اوقيې ورکړم

عدة واحدة واعتقك فعلت وَيَكُونَ وَلَاؤُكِ لِي فَذَهَبَتْ إِلَى أَهْلِهَا فَأَبَوْا الا ان

او تا په رانيولو سره ازاده کړم نو زه به داسي وکړم په دې شرط چي ميراث به زما وي بريره رض خپلو مالکانو ته ورغله او مالکانو يې وويل:

يكون الولاء لهم فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم خذيها واعتقيها

مونږ په دې شرط بريره ورکوو چي ميراثي حق به زمونږ وي رسول الله ﷺ (ته چي دا واقعه معلومه سوه) ويې فرمايل: دا واخله او ازاده يې کړه

ثُمَّ قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي النَّاسِ فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ

بيا نبي کريم ﷺ د خلکو په مينځ کي ودرېدي او د الله ﷻ حمد او ثنا يې بيان کړل بيا يې

قَالَ أَمَّا بَعْدُ فَمَا بَالُ رِجَالٍ يَشْتَرِطُونَ شُرُوطًا لَيْسَتْ فِي كِتَابِ اللهِ مَا كَانَ

وفرمايل: د خلکو څه حال دئ؟ هغوی داسي شرطونه لګوي چي د الله تعالي په کتاب کي

مِنْ شَرْطٍ لَيْسَ فِي كِتَابِ اللهِ فَهُوَ بَاطِلٌ وَإِنْ كَانَ مِائَةَ شَرْطٍ قَضَاءُ اللهِ أَحَقُّ

نسته هغه شرطونه باطل دي که څه هم سل شرطه وي او د الله تعالي حکم د عمل کولو لائق دي

وَشَرْطُ اللهِ أَوْثَقُ وَإِنَّمَا الْوَلَاءُ لِمَنْ أَعْتَقَ. متفق عليه.

Maktaba Tul Ishaat.com

او شرط لګول د خدای تعالي مضبوط دي پوه سئ! چي د ولاء حق هغه چا ته حاصل دي کوم څوک چي غلام يا مينزه ازاده کړي. (بخاري او مسلم).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري) ۴\۳۷۶، رقم: ۲۱۶۸، ومسلم ۲\۱۱۴۱، رقم: ۶- ۱۵۰۴.

تشريح: مکاتبت د غلام او د هغه د مالک په مينځ کي د يو خاص نوعيت د معاهدې نوم دی، د دې صورت دا دی چي د غلام مالک هغه په دغه شرط ازاد کړي چي د روپو دومره اندازه به په دومره وخت کي راکوې نو غلام هغه ومني، که چيري غلام هغه روپۍ په ټاکلي وخت کي ادا کړې نو د خپل مالک د غلامۍ څخه ازاديږي او که هغه روپۍ ادا نه کړي نو بيا هم هغسي غلام دی، دغه معاملې ته مکاتبت يا کتابت او هغه غلام ته مکاتب وايي.

ولاء د ازادولو هغه حق ته وايي کوم چي د غلام مالک ته حاصل وي يعني که يو سړی خپل يو غلام ازاد کړي او هغه د ازادۍ په حالت کي مړ سي او يو څه مال او اسباب تر شا پريږدي نو د هغه عصبه نه کېدو په صورت کي د هغه د ټول مال او اسباب مقدار به د هغه ازادونکي سړي وي دې ته حق د ولاء وايي.

بريره د بي بي عائشې رضي الله عنها د مينزي نوم دی هغه د بي بي عائشې رضي الله عنها په خدمت کي د راتلو څخه مخکي د يو يهودي په ملکيت کي وه کله چي هغه د خپلو مالکانو سره کتابت وکړ نو د بي بي عائشې رضي الله عنها په خدمت کي حاضره سوه او هغې ته يې وويل چي ما د خپلو مالکانو سره په نهه اوقيه سره په دې شرط کتابت کړی دی چي هر کال به يو اوقيه (چي څلوېښت درهمه کيږي) درکوم اوس زه تاسو ته ددې لپاره راغلې يم چي تاسو زما مرسته وکړئ او ما ته دومره روپۍ راکړئ چي زه يې د کتابت په بدله کي خپل مالکانو ته ورکړم، بي بي عائشې رضي الله عنها وويل که ستا د مالکانو خوښه وي نو زه دا کولای سم چي هغوی ته نهه اوقيه په يو وار ورکړم او تا په رانيولو سره ازاده کړم، ظاهره ده چي په دغه صورت کي ستا له خوا حق ولاء به ما ته تر لاسه کيږي مګر دا خبره چي د بريره مالکانو ته ورسېده نو هغوی ددې څخه انکار وکړ ځکه چي هغوی بريره پر بي بي عائشې رضي الله عنها باندي په دې شرط خرڅول غوښتل چي د بريره حق ولاء به هغوی ته حاصليږي د هغوی دغه شرط چي بريره خو د بي بي عائشې ازاده کړې ده او د هغې حق ولاء دي هغوی ته ورسيږي دا بالکل د ناپوهۍ خبره ده او په شرعي توګه سره دا بالکل ناجائز ده ځکه بي بي عائشې رضي الله عنها چي ددې ذکر رسول الله ﷺ ته وکړ نو رسول الله ﷺ ناراض سو او په حديث کي ذکر سوي الفاظ يې وفرمايل.

Maktaba Tul Ishaat.com

د حق ولاء پلورل او هبه کول ناجائز دي

﴿۲۷۵۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الْوَلَاءِ وَعَنْ هِبَتِهِ. متفق علیه

د حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د ولاء حق خرڅولو يا هبه کولو څخه منعه فرمايلې ده. (بخاري او مسلم)

تخریج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵\۱۶۷، رقم: ۲۵۳۵، ومسلم ۲\۱۱۴۵، رقم: ۱۶-۱۵۰۶.

تشریح: مثلاً يو سړی خپل غلام ازاد کړي چي د هغه په وجه حق ولاء د هغه لپاره ثابت سو او س که هغه دا وغواړي چي دغه حق ولاء پر بل چا خرڅ کړي يا يو بل چا ته يې تحفه کړي نو دا جائز نه ده ځکه چي ولاء مال نه دی چي هغه خرڅ کړل سي يا هبه کړل سي په دې باره کي د ټولو علماؤ په اتفاق سره دا مذهب دی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

څوک چي د تاوان ذمه داروي هغه د ګټې حقدار هم دی

﴿۲۷۵۵﴾: عَنْ مُخَلَّدِ بْنِ خُفَافٍ قَالَ ابْتَعْتُ غُلَامًا فَاسْتَغْلَلْتُهُ ثُمَّ ظَهَرْتُ

د حضرت مخلد بن خفاف رضی اللہ عنہ څخه روايت دی چي ما يو غلام را نيوي چي د هغه ګټه به ما په خپل خرڅ کي راوستل بيا زه د هغه په عيب خبر سوم

مِنْهُ عَلَى عَيْبٍ فَخَاصَمْتُ فِيهِ إِلَى عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ فَقَضَى لِي بِرَدِّهِ وَقَضَى

او دا معامله مي د عمر بن عبد العزيز په خدمت کي پيش کړه، عمر بن عبد العزيز د بيرته واپسي حکم وکړ او ويې ويل:

عَلَيَّ بِرَدِّ غَلَّتِهِ فَأَتَيْتُ عُرْوَةَ فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ أَرُوحُ إِلَيْهِ الْعَشِيَّةَ فَأُخْبِرُهُ أَنَّ

د ده ګټه دي هم واپس کړل سي بيا زه عروه بن زبير رضی اللہ عنہ ته راغلم او په واقعه باندي مي خبر کړ هغه وويل چي زه به ماښام ته عمر بن عبد العزيز ته ورځم او هغه به اګاه کړم چي

عَائِشَةَ أَخْبَرَتْنِي أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى فِي مِثْلِ هٰذَا أَنَّ

Maktaba Tul Ishaat.com

بي بي عائشې زه خبر کړي يم چي رسول الله ﷺ د دې ډول په مقدمه کي دا فيصله کړې ده چي

الْخَرَاجَ بِالضَّمَانِ فَرَاحَ إِلَيْهِ عُرْوَةُ فَقَضٰى لِيْ أَنْ آخُذَ الْخَرَاجَ مِنَ الَّذِيْ قَضٰى بِهِ عَلَيَّ لَهُ . رواه في شرح السنة

نفع د تاوان په مقابله کي ده (يعني که غلام مړ سوي واى او يا په هغه کي څه عيب پيدا سوي واى نو په خرڅونکي باندي د هغه هيڅ اثر نه پرېوتي داسي چي د غلام څخه يو څه ګټه وسي هغه هم خرڅونکي ته رسول نه دي پکار نو ما بيا ته عروه بن زبير عمر بن عبد العزيز ته ورغلي او هغه دا حکم وکړ چي د غلام ګټه زه واپس اخلم)(شرح السنة)

تخريج: شرح السنة ۸\۱۶۴،

تشريح: منفعت دضمان سره دى : ددې مطلب دادى چي څرنګه هغه غلام د رانيونکي سره مړ سوى دى يا په هغه کي يو عيب پيدا سوى دى نو ظاهره ده چي د هغه رانيونکي تاوان وو د پلورنکي څخه به هيڅ نه تلاى، همدارنګه که چيري د غلام څخه يو ګټه تر لاسه وي نو د هغه حقدار به هم رانيونکى وي د پلورنکي به پر هغه باندي هيڅ حق نه وي .

د بائع او مشتري د نزاع صورت

﴿۲۷۵۶﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

إِذَا اخْتَلَفَ الْبَيِّعَانِ فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْبَائِعِ وَالْمُبْتَاعُ بِالْخِيَارِ . رواه الترمذي

کله چي رانيونکي او خرڅونکي کي اختلاف پيدا سي نو د خرڅونکي قول به معتبر وي او خريدار ته به د بيع د قائم ساتلو يا فسخ کولو اختيار حاصل وي . (ترمذي)

وفي رواية ابن ماجه والدارمي قال : " البيعان إذا اختلفا والمبيع قائم بعينه وليس بينهما بينة فالقول ما قال البائع أو يترادان البيع .

او د ابن ماجه او دارمي په روايت کي دا الفاظ دي چي کله د بائع (خرڅونکي) او مشتري (اخيستونکي) په مينځ کي اختلاف راسي او خرڅ سوي شى بعينه موجود وي او فريقين شاهدان و نلري نو د بائع قول معتبر وي يا فريقين به بيعه فسخه کوي .

Maktaba Tul Ishaat.com

تخریج: سنن الترمذي ٣\ ٥٧٠، رقم: ١٢٧٠، وابن ماجه في السنن ٢\ ٧٣٧، رقم: ٢١٨٦، والدارمي ٢\ ٣٢٥، رقم: ٢٥٤٩.

تشریح: د رانیونکي او پلورنکي په مینځ کي ډېر واره د اختلاف او جګړې صورت پیدا کیږي کله چي دغه اختلاف او جګړه د قیمت په ټاکلو کي پیدا کیږي چي رانیونکی وایي ما ستا سره د دغه شی معامله په لس روپۍ فیصله کړې ده او پلورنکی وایي چي یا ما دغه شی پر تا باندي په دوولس روپۍ خرڅ کړی دی، او کله د خیار شرط یا د وخت په ټاکني کي اختلاف کیږي او کله د دې څخه پرته په نورو شرطو کي د جګړې صورت پیدا کیږي، د داسي پېښېدو لپاره دغه حدیث په وضاحت سره هدایات کړي دي چي په دغه صورتو کي د پلورنکي قول معتبر دی په شرط د دې چي د هغه قول په قسم سره وي یعني هغه ته وویل سي چي ته قسم واخله چي تا دغه شی په دغه قیمت نه دی خرڅ کړی کوم چي رانیونکی وایي، بیا رانیونکی ته اختیار دی که هغه د پلورنکي پر دغه خبره راضي سي کومه چي هغه په قسم خوړلو سره کړې ده او بیع برقرار وساتي او که وغواړي نو هغه دي قسم واخلي او دا دي ووایي چي ما دغه شی په دغه قیمت نه دی رانیولی کوم چي پلورنکی وایي، او کله چي دواړه پر خپل خبري باندي قسم واخلي نو د هغوی به معامله به په دغه صورت کي پاته وي کله چي د هغوی څخه یو هم د بل خبره ومني، که په هغوی کي یو هم د بل خبري منلو ته تیار نه وي نو بیا په پای کي قاضي او دریم کس ته اختیار ورکول کیږي چي هغه دا بیع او معامله فسخ کړي که مبیع بعینه باقي وي لکه څرنګه چي د امام شافعي رحمة الله علیه مذهب دی، امام ابوحنیفة او امام مالک رحمة الله علیهما دا وایي که چیري مبیع باقي نه وي نو بیا دواړه رانیونکي او پلورنکی دي قسم نه اخلي بلکه په دغه صورت کي د رانیونکی قول په قسم سره معتبر دی.

د حدیث الفاظ (المبیع قائم) د دوی دواړو د قول تائید کوي، دوهم روایت ابن ماجه او دارمي په دغه الفاظو کي نقل کړی دی (فالقول ما قال البائع) یعني په دغه صورت کي د پلورنکی قول معتبر دی، د دې مطلب هم د حنفي مذهب سره سم دا دی که چیري مبیع بعینه پاته وي نو پر پلورنکي دي قسم وخوړل سي که هغه قسم واخلي نو رانیونکی ته به اختیار وي که هغه غواړي د پلورنکی خبره دي ومني او که غواړي خپله دي هم قسم واخلي او یا دي دواړه بیع فسخ کړي او که د اختلاف او جګړې پر وخت مبیع بعینه باقي نه وي نو بیا په دغه صورت کي په قسم سره د رانیونکی قول به معتبر وي په پلورنکي باندي قسم نه سي اخستل کیدای.

دا مسئله دلته په اجمالي توګه سره ذکر سوې ده، په هدایه کي دا په ډېر وضاحت او

Maktaba Tul Ishaat.com

تفصیل سره بیان سوې ده كه څوک نور زيات تفصيل كتل غواړي نو هدايې ته دي رجوع وكړي.

د بيع اقاله مسئله

﴿۲۷۵۷﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَقَالَ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د مسلمان بيع

مُسْلِمًا أَقَالَهُ اللهُ عَثْرَتَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ رواه أبو داود وابن ماجه وفي شرح

(چي د هغه خوښه نه وي) واپس كړي (فسخه كړي) الله تعالى به يې د قيامت په ورځ ګناهونه وروبخښي. (ابو داؤد ابن ماجه) او په شرح السنة كي

السنة بلفظ المصابيح عن شريح الشامي مرسلا.

د مصابيح د الفاظو سره شريح شامي څخه مرسلا روايت كوي.

تخريج: ابوداود في السنن ۳\۷۳۸، رقم: ۳۴۶۰، وابن ماجه في السنن ۲\۷۴۱، رقم: ۲۱۹۹، والبغوي في شرح السنة ۸\۱۶۱، رقم: ۲۱۱۷.

تشريح: د اقاله مطلب دى د بيع بېرته وركول يعني فسخ كول، په شرح السنه كي ليكلي دي چي په بيع او سلم كي تر قبضې مخكي او وروسته د قبضې څخه هم اقاله جائز ده.

دغه روايت ابوداؤد او ابن ماجه متصل نقل كړى دى همدارنګه حاكم هم دغه روايت د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه متصل نقل كړى دى مګر په مصابيح كي دغه روايت په طريقه د ارسال په دغه الفاظو كي منقول دى (من اقال اخاه المسلم صفقة كرهها اقال الله عثرته يوم القيامة): يعني څوک چي د يو مسلمان ناخوښه بيع فسخ كړي نو الله تعالى به د قيامت په ورځ د هغه ګناه و بخښي، د مشكوة مؤلف د روايت د آخري الفاظو په ذريعه د مصابيح پر مصنف علامه بغوي رحمه الله باندي اعتراض كړى دى چي هغه په خپل كتاب مصابيح كي اولى ترک كړى دى په دې توګه چي د ابوداؤد او ابن ماجه نقل سوى دغه متصل روايت يې نقل نه كړي بلكه مرسل حديث يې نقل كړى دى.

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ (دريم فصل)

يوه عبرتناكه واقعه

﴿۲۷۵۸﴾: عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشْتَرٰى رَجُلٌ

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : يو سړي رانيول

مِمَّنْ كَانَ قَبْلَكُمْ عَقَارًا مِنْ رَّجُلٍ فَوَجَدَ الَّذِي اشْتَرٰى الْعَقَارَ فِي عَقَارِهِ

مځکه ستاسو څخه مخکي او د مځکي د خرڅولو څخه وروسته د مځکي څخه د سرو زرو منګی را ووتل هغه را نيونکي و خرڅولو والا ته ورغي

جَرَّةً فِيهَا ذَهَبٌ فَقَالَ لَهُ الَّذِي اشْتَرٰى الْعَقَارَ خُذْ ذَهَبَكَ عَنِّي إِنَّمَا اشْتَرَيْتُ

او ورته يې وويل : چي دا سره زر ته واخله ما ستا څخه فقط مځکه رانيولې وه سره زر مي نه وه

الْعَقَارَ وَلَمْ أَبْتَعْ مِنْكَ الذَّهَبَ فَقَالَ بَائِعُ الْأَرْضِ إِنَّمَا بِعْتُكَ الْأَرْضَ وَمَا

در څخه رانيولي پلورونکي ورته وويل : ما پر تا باندي مځکه او هر څه چي په مځکه کي وه پر

فِيهَا فَتَحَاكَمَا إِلَى رَجُلٍ فَقَالَ الَّذِي تَحَاكَمَا إِلَيْهِ أَلَكُمَا وَلَدٌ فَقَالَ أَحَدُهُمَا لِي

تا پلورلي دي اخير دواړو يو دريم سړی (چي حضرت داؤد عليه السلام وو) و ته کئ او خپله عريضه يې ورته پېش کړه دريم نفر ورته وويل : چي ايا ستاسو اولاد نسته ؟ يوه ورته وويل چي زما

غُلَامٌ وَقَالَ الْآخَرُ لِي جَارِيَةٌ فَقَالَ أَنْكِحُوا الْغُلَامَ الْجَارِيَةَ وَأَنْفِقُوا عليهما

مِنْهُ وَتَصَدَّقُوا . متفق عليه.

زوی سته او بل ورته وويل چي زما لور سته نو پرېکړه کونکي پرېکړه وکړه چي د هلک نکاح د انجلۍ سره وکړئ او دا سره زر په هغوی مصرف کړئ او يو څه خيرات هم کړئ. (بخاري او مسلم).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۶\۵۱۲، رقم: ۲۴۷۲، ومسلم ۳\۱۳۴۵، رقم: ۲۱- ۱۷۲۱.

تشريح: دغه واقعه د حضرت داؤد عليه السلام د زمانې ده لکه څرنګه چي ځينو علماؤ ويلي دي چي هغه د واړو يو بل دريم سړی خپل ثالث ټاکلی وو نو هغه حضرت داؤد عليه السلام وو نو حضرت داؤد

Maktaba Tul Ishaat.com

ﷺ په فیصله کولو کي د ذهانت او ذکاوت ثبوت ورکړ او داسي معتدله او معقوله فیصله يې وکړه چي د نبوت خاصه کېدای سي.

علامه نووي رحمه الله وايي چي دغه حدیث د پلورنکي او رانیونکي په مینځ کي د صلح کولو پر فضیلت باندي دلالت کوي او علماء وايي چي د دوو مخالفو کسانو په مینځ کي صلح کول د قاضي او حاکم لپاره داسي مستحب دي لکه څرنګه چي د غیر قاضي لپاره مستحب دي.

==========

بَابُ السَّلَمِ وَالرَّهْنِ (د بیع سلم او رهن بیان)

سلم د یو بیع نوم دی چي په هغه کي مبیع مؤجل او ثمن معجل وي یعني رانیول سوی شی وروسته اخیستل کیږي او د هغه قیمت مخکي ورکول کیږي، د مثال په توګه زید د بکر څخه د سلو روپو په عوض کي د دوو منو غنمو د رانیولو معامله وکړه په دې توګه چي زید بکر ته سل روپۍ ورکړې او د هغه سره يې دا فیصله وکړه چي زه به دومره وخت وروسته ددې په عوض کي فلانی ډول دوه منه غنم ستا څخه اخلم، دغه بیع او معاملې ته په عربي کي سلم وايي، او پر ځینو موقعو باندي سلف هم ورته ویل کیږي او په بدهني سره هم موسوم کیږي، ددغه بیع مشتري یعني رانیونکي ته په عربي ژبه کي رب سلم او ثمن یعني قیمت ته راس المال، بائع یعني پلورنکي ته سلم الیه او مبیع یعني رانیونکي شي ته ته مسلم فیه وايي.

دا بیع په شرعي توګه جائز او صحیح ده په شرط ددې چي ددې ټول شرطونه موجود وي او د ټولو شرطو شمېر يې شپاړس دی په داسي توګه چي د شپږو شرطو تعلق د راس المال یعني د قیمت سره دی او د لسو شرطو تعلق د مسلم فیه یعني مبیع سره دی.

د راس المال سره متعلق شپږ شرطونه دا دي:

۱. جنس بیانول یعني دا واضح کول چي دغه درهم دي یا دینار یا اشرفۍ یا روپۍ وغیره.
۲. نوع بیانول یعني دا واضح کول چي دغه روپۍ د سپینو زرو دي یا د نوټو دي.
۳. صفت بیانول یعني دا واضح کول چي روپۍ اصلي دي که جعلي دي.
۴. مقدار بیانول یعني دا واضح کول چي دا روپۍ سل دي یا دوه سوه دي.
۵. روپۍ نقد ورکول او په پور نه ورکول.
٦. په کوم مجلس کي چي معامله وسي په هغه مجلس کي د پلورنکي پر راس المال باندي قبضه کول.

Maktaba Tul Ishaat.com

د مسلم فیه سره متعلق لس شرطونه دادي :

۱. جنس بیانول مثلا دا واضح کول چي مسلم فیه غنم دي یا اوربشي دي یا نخود وغیره.

۲. نوع بیانول یعني دا واضح کول چي غنم د فلاني ډول یا د فلاني ځاي دي.

۳. صفت بیانول یعني دا واضح کول چي غنم ښه دي یا خراب دي.

۴. د مسلم فیه مقدار واضح کول چي یو من دي یا دوه منه دي.

۵. د مسلم فیه وزني یا کیلي یا ذرعي یا عددي کېدل چي د یو من تعین او اندازه وکړل سي.

۶. وخت بیانول یعني دا واضح کول چي دغه شی به دومره وخت وروسته مثلا یوه میاشت یا دوو میاشتو یا ځلورو میاشتو کي اخلي مګر دا خبره دي په ذهن کي وي چي کم او کم وخت یوه میاشت کېدل پکار دي.

۷. د مسلم فیه موقوف او معدوم نه کېدل یعني دا ضروري دي چي مسلم فیه د عقد او معاملې د وخت څخه د ادا کولو تر وخت پوري په بازار کي تر لاسه کیدای سي چي د معدوم بیع لازم نه سي.

۸. د بیع سلم معامله بېله شرط خیار فیصله کول یعني په دغه بیع کي خیار بیع برقرار ساتل یا د فسخ کولو اختیار کېدل نه دي پکار.

۹. که مسلم فیه داسي وزن لرونکی شی وي چي د هغه مزدوري ورکول وي نو د هغه د ورکولو ځای تاکل یعني دا واضح کول چي زه به دغه شی په فلاني ځای کي درکوم.

۱۰. د مسلم فیه داسي شی کېدل چي د جنس، نوع او صفت په بیانولو سره متعین او معلومېږي کوم شی چي داسي وي چي د جنس، نوع او صفت په بیانولو سره معلوم او متعین کیږي نه لکه حیوان یا یو ډول جامې نو په دغه شیانو کي بیع سلم جائز نه ده.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ (لومړی فصل)

د بیع سلم شرائط

﴿۲۷۵۹﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ مدیني منوري ته تشریف راوړ د

وَهُمْ يُسْلِفُونَ فِي الثِّمَارِ السَّنَةَ وَالسَّنَتَيْنِ فَقَالَ مَنْ أَسْلَفَ فِي شَيْئٍ

Maktaba Tul Ishaat.com

مدينې خلكو به په مېوو كي د كال دوو كالو درو كلو به بيع سلم (هغه بيعه چي پېشكي پيسو وركولو سره كوم شى رانيول سي د هغې تعداد يا نرخ او موده مقرره كړي) كوله رسول الله ﷺ وفرمايل : كوم سړى چي بيع سلم كوي

فَلْيُسْلِفْ فِي كَيْلٍ مَعْلُومٍ وَوَزْنٍ مَعْلُومٍ إِلَى أَجَلٍ مَعْلُومٍ . متفق عليه

هغه ته پكار ده چي ټاكلې پيمانه ټاكلې وزن او ټاكلې موده سره وټاكي (بخاري او مسلم)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۴۲۸\۱۴، رقم: ۲۲۳۹، ومسلم ۱۲۲۷\۳، رقم: ۱۲۷- ۱۶۰۴.

تشريح: مطلب دادى چي د كوم شى بيع سلم كيږي كه هغه په پيمانې سره ناپ كيږي نو د هغه پيمانه متعين كول ضروري دي چي دغه شى به لس پيمانې وي يا پنځلس پيمانې وي او كه چيري هغه شى د وزن په ذريعه رانيول كيږي نو د هغه وزن متعين كول ضروري دي چي دغه شى به لس سېره وي يا پنځلس سېره وي همدارنګه د سلم فيه د ادا كولو د وخت تعين هم ضروري دي چي دغه شى به مثلا يوه مياشت وروسته وركول كيږي يا يو كال وروسته به وركول كيږي.
د دغه حديث شريف ظاهري مفهوم پر دې خبره دلالت كوي چي په بيع سلم كي د وخت تعين د بيع د صحيح كېدو لپاره شرط دى لكه څرنګه چي د امام ابوحنيفة، امام مالك او امام احمد رحمة الله عليهم مذهب دى مګر د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد د وخت تعين ضروري او شرط نه دى.

پور رانيول او ګروي جائز ده

﴿۲۷۶۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ اشْتَرَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامًا مِنْ يَهُودِيّ الى اجل وَرَهَنَهُ دِرْعًا لَهُ مِنْ حَدِيدٍ. متفق عليه .

د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د يهودي څخه يو څه غله د يوې ټاكلي مودې په وعده رانيوله او د هغه سره يې خپله د اوسپني زغره كښېښودل . (بخاري او مسلم)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): رقم ۲۰۶۸، ومسلم ۱۲۲۶\۳، رقم: ۱۲۶- ۱۶۰۳.

تشريح: د دغه حديث شريف څخه څو مسئلې معلومي سوې اول دا چي يو شى د پور په قيمت رانيول او د هغه پور قيمت په بدله كي خپل يو شى په ګرو ايښودل جائز دي ، دوهم دا چي د سفر څخه پرته په حضر كي هم رهن كول جائز دي كه څه هم په قرآن كريم كي د رهن كولو اجازه د سفر په قيد كي وركړل سوې ده او هغه آيت دادى : وان كنتم على سفر ولم تجدوا كاتبا فرهان

Maktaba Tul Ishaat.com

مقبوضة: يعني كه تاسو په سفر كي ياست او هلته يو څوك ليكوال نه وي نو د اطمينان په ذريعه دي د رهن كولو شيان په قبضه كي وركړل سي.

علماء كرام وايي چي په دغه آيت كريمه كي د سفر قيد محض اتفاقي دی، يو شی په ګرو كي ايښودل لكه څرنګه چي په سفر كي جائز دی همدارنګه په حضر كي هم جائز دی او دريم دا چي اهل ذمه (په اسلامي پاچاهۍ كي جزيه وركونكي اهل كتاب لكه يهود او نصارا) سره معاملات كول جائز دي، د ټولو علماؤ په اتفاق سره دا مذهب دی چي د اهل ذمه او كفارو سره د رانيولو او پلورلو معامله كول جائز ده په شرط ددې چي د هغوی سره كوم مال وي د هغه نه حرام كېدل ثابت او معلوم وي مګر پر اهل حرب باندي د مسلمانانو وسله يا سامان پلورل جائز نه دي همدارنګه مطلقا پر يو كافر باندي داسي شی خرڅول جائز نه دي چي د هغه د دين او مذهب د تقويت باعث وي او پر كفارو باندي د مسلمانانو مصحف شريف (قرآن كريم) او غلام پلورل هم جائز نه دي.

علامه نووي رحمه الله فرمايي چي دغه حديث په ډېر وضاحت سره پر دې خبره دلالت كوي چي رسول الله ﷺ د دنيا مال او اسباب نه درلودل او دغه مفلسي او د مال كموالی د رسول الله ﷺ شان استغفار، توكل على الله او د مال او زر څخه د رسول الله ﷺ د بې شوقۍ يو واضح مثال دی.

ددغه حديث څخه دا خبره هم معلومه سوه چي د اهل ذمه سره د مسلمانانو د جنګ سامان په ګرو ايښودل جائز دي او د رسول الله ﷺ د ګرو ايښودو دغه عمل د يو يهودي سره وكړی او د صحابي سره يې ونه كړی په دې باره كي ځيني علماء وايي چي دا كيدای سي د بيان جواز لپاره وي يعني رسول الله ﷺ د خپل دغه عمل په ذريعه دا واضحه كړه چي د اهل ذمه سره هم معامله كول جائز دي، ځيني علماء وايي چي رسول الله ﷺ د هغه يهودي سره دا معامله ځكه وكړه چي هغه وخت د خپل حاجت او ضرورت څخه زياته غله د يهوديانو څخه پرته د بل چا سره نه وه.

﴿۲۷۶۱﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ تُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَدِرْعُهُ مَرْهُونَةٌ عِنْدَ يَهُودِيٍّ بِثَلَاثِينَ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ. رواه البخاري.

د بي بي عائشې رض څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ وفات وسو او زغره يې د يوه يهودي سره د ديرشو صاعو اوربشو په عوض كي ګرو پاته وه. (بخاري)

Maktaba Tul Ishaat.com

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ٦\٩٩، رقم: ٢٩١٦،

د انتفاع رهن مسئله

﴿۲۷۶۲﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلظَّهْرُ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كه د سپرلۍ حيوان رهن

يُرْكَبُ بِنَفَقَتِهِ اذا كان مرهونا ولبن الدار يشرب بنفقته إِذَا كَانَ مَرْهُونًا وَعَلَى الَّذِيْ يَرْكَب وَيَشْرَبُ النَّفَقَةَ . رواه البخاري.

وي نو په هغه چي څه خرڅ كيږي د هغه په بدله كي ډيري سپرلياني كيږي او كه د شيدو والا حيوان رهن وي نو د هغه د اخراجاتو په عوض كي د هغې شيدې چښلای سي او څوک چي سپرلۍ ساتي او شيدې يې څښي هغه به د خرڅ برداشت كوي. (بخاري). (رهن گروته ويل كيږي).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ٥\١٤٣، رقم: ٢٥١٢،

تشريح: د حديث د اولي برخي په وضاحت كي ملا علي قاري رحمه الله چي كومه مسئله ليكلې ده د هغې خلاصه داده چي يو سړى خپل يو څاروى د يو چا سره گرو كښيږدي نو د هغه مصرف مثلاً خوراک وغيره به پر راهن وي او هغه دي دغه څاروى په كار كي راولي، د امام ابوحنيفةؒ او امام شافعي رحمة الله عليهما دا مذهب دى.

مگر شيخ عبدالحق رحمه الله د حديث د آخري جملې (وعلى الذي يركب ويشرب النفقة) يعني كوم څوک چي سپرلۍ كوي او شېدې څښي نو د هغه د مصرف ذمه دار هغه دى، په دې باره كي وايي چي كوم څوک پر گرو سوي حيوان باندي سپريږي يا د هغه شېدې څښي نو د هغه به د مصرف ذمه دار به هم هغه وي كه هغه راهن وي كه مرتهن وي، يعني مطلب دا سو كه مرتهن د گرو سوي حيوان وابنه وغيره وركوي او د هغه مصرف پر ځان وړي نو هغه حيوان په خپل مصرف كي راوستلای سي او د هغه شېدې څښلای سي او كه چيري راهن د هغه حيوان وابنه وغيره وركوي او د هغه مصرف پر ځان كوي نو بيا د هغه لپاره جائز ده چي هغه حيوان په خپل استعمال كي راولي او د هغه شېدې وڅښي.

ددغه وضاحت په رڼا كي د حديث مطلب به دا وي چي مرتهن ته د گرو سوي حيوان څخه گټه اخيستل او د هغه مصرف پر ځان كول جائز دي حالانكه اكثر علماء ددې پر خلاف دي، په

Maktaba Tul Ishaat.com

هدایه کي لیکلي دي چي د مرتهن لپاره دا جائز نه ده چي هغه د ځان سره د ګرو سوي څخه ګټه تر لاسه کړي او دا چي د ګرو سوي شي نفقه د راهن پر ذمه دی د مرتهن لپاره د رهن څخه ګټه اخیستل ځکه ناجائز دي چي دا یو څرګنده مسئله ده چي کوم پور ګټه کوي هغه حرام دی ځکه علماؤ لیکلي دي چي دغه حدیث د راتلونکيِ حدیث په ذریعه منسوخ دی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

ګرو سوی شی د مالک د ملکیت څخه نه وځي

﴿۲۷۶۳﴾: عَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيّبِ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا

د حضرت سعید بن مسیب رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

يَغْلَقُ الرَّهنُ الرَّهنَ مِنْ صَاحِبِهِ الَّذِيْ رَهْنَهُ لَهُ غُنْمُهُ وَعَلَيْهِ غُرْمُهُ. رواه الشافعي مرسلا وروي مثله او مثل معناه لا يخالفه عنه عن ابي هريرة متصلا.

یو شی په رهن ورکولو سره د رهن ورکونکي ملکیت نه ختمیږي راهن د هغه ګټي حقدار دي او (که هغه شی ضائع سي نو) رهن ساتونکي د تاوان ذمه دار دي.

تخریج: ترتیب مسند الامام الشافعي ۱۶۳/۲، رقم: ۵۶۷- ۵۶۹.

د لغاتو حل: لایغلق الرهن: ای لایمنع (نه منعه کوي).،

تشریح: د حدیث مطلب دادی که یو سړی خپل یو شی د یو چا سره ګرو کښیږدي نو د هغه دغه ګرو ایښودل د هغه شي ملکیت نه ختموي بلکه هغه شی به د راهن په ملکیت کي وي ځکه حدیث دد ې هم وضاحت کړی دی که د هغه ګرو سوي شي څخه ګټه تر لاسه کیږي یا په هغه کي زیاتوب کیږي نو هغه د راهن حق دی په دې توګه که د هغه شی کرایه راځي نو راهن د هغه کرایه تر لاسه کولای سي او که یو حیوان وي نو پر هغه سپربدلای سي یا هغه د بار وړلو لپاره استعمالولای سي همدارنګه که چیري د هغه حیوان بچی پیدا سي نو هغه بچی هم د راهن حق دی، او بیا څرنګه چي راهن د ګرو سوي شي دګټي حقدار دی همدارنګه د هغه د تاوان هم ذمه دار دی په دې توګه که هغه شی د مرتهن سره هلاک او ضائع سي نو د هغه تاوان به پر راهن وي په دې وجه د مرتهن د حق څخه به هیڅ هم نه ساقط کیږي بلکه راهن به پوره حق بېرته ورکوي.

لفظِ د روي د مشکوة په ځینو نسخو کي په معروف صیغه سره یعني روی نقل سوی دی په

Maktaba Tul Ishaat.com

دغه صورت کي به د هغه فاعل شافعي رحمه الله وي او لفظ د مثله او مثل به منصوب وي.

په شرعي حقوقو کي د پيمانې او وزن اعتبار

﴿۲۷۶۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمِكْيَالُ مِكْيَالُ أَهْلِ الْمَدِيْنَةِ والميزان مِيْزَانُ أَهْلِ مَكَّةَ. رواه أبو داود والنسائي.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : (په حقوق شرعيه کي) پيمانې د مديني معتبري دي او وزن د مکې معتبر دي .(ابو داؤد نسائي)

تخريج: ابوداود في السنن ۳\۶۳۳، رقم: ۳۳۴۰، والنسائي ۵\ ۵۴، رقم: ۲۵۲۰.

تشريح: د دغه ارشاد مطلب دادی چي په حقوق شرعيه مثلا په زکوة وغيره کي د رانيولو او پلورلو لپاره په پيمانه کي د اهل مدينه پيمانه معتبره ده او په وزن کي د مکې وزن معتبر دی.

داسي معلوميږي چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي د مکې او مديني په پيمانو او وزن کي فرق او اختلاف وو ، د مديني منورې د پيماني او وزن مقدار يو وو او د مکې د پيمانې او وزن مقدار بل وو، او په دې وجه په حقوق شرعيه يعني زکوة ، صدقې او داسي نور کي اخيستل او ورکول به د خلجان باعث کېدل ځکه رسول الله ﷺ پورتنی هدايت جاري کړ ، يعني د دې خلاصه دا وه چي په درهمو کي زکوة هغه وخت واجب وو کله چي هغه د مکې د وزن مطابق دوه سوه وای او صدقه فطر او نور واجب صدقو کي د مديني صاع معتبر وه.

د مديني منورې د وزن په مقابله کي د مکې وزن او د مکې د وزن په مقابله کي د مديني پيماني ته د ترجيح ورکولو وجه دا وه چي په هغه زمانه کي د غلې رانيول او پلورل د پيمانې په ذريعه کېدی او د مديني منورې زراعت کسب وو ځکه هغوی ته د پيمانو په باره کي زيات خبر وو او د وزن استعمال په تجارت کي زيات وو او د مکې خلک اکثر تجاران وه ځکه هغوی د وزن څخه زيات خبر وه.

په تللو او ناپ کي د کمي کوونکو لپاره وعيد

﴿۲۷۶۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَصْحَابِ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ ناپ او تول والاؤ ته وفرمايل :

الْمِكْيَالِ وَالْمِيزَانِ إِنَّكُمْ قَدْ وُلِّيتُمْ أَمْرَيْنِ هَلَكَتْ فِيهِ الْأُمَمُ السَّابِقَةُ

Maktaba Tul Ishaat.com

قَبْلَكُمْ .رواه الترمذي .

ستاسو په لاسو کي دوه داسي کارونه دي چي د کوم په سبب ستاسو مخکي قومونه هلاک سوي دي (يعني پوره تول او ناپ د کمبود ورکولو او زيات اخيستلو په وجه هلاک سوي دي نو تاسو داسي کارونه مه کوئ)(ترمذي)

تخريج: الترمذي في السنن ۳\۵۲۱، رقم: ۱۲۱۷.

تشريح: د امت محمدي څخه مخکي داسي امتونه تېر سوي دي چي هغوی په بدترين خلصت کي اخته وه چي کله به هغوی يو شی د خلکو څخه رانيوی نو هغه به يې پوره ناپ کوی او کله چي به يې يو شی ورکوی نو د هغه په ناپ کي به يې کمي کول ، د هغوی د دغه عامي خرابۍ په وجه پر هغوی د الله تعالی عذاب نازل سو او هغوی برباد سول، په داسي قومونو کي د ټولو په سر کي د حضرت شعيب عليه السلام قوم دی ځکه رسول الله ﷺ د خپل امت خلک خبردار کړل چي تاسو په ناپ او تللو کي د کمي کولو څخه پرهيز وکړئ چي په دغه لعنت کي د اخته کېدو په وجه پر تاسو باندي د الله تعالی قهر او عذاب را نه سي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د بيع سلم د مبيع د قبضې مخکي پلورلو منع

﴿۲۷۶۶﴾: عَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ مَنْ أَسْلَفَ فِي شَيْءٍ فَلَا يَصْرِفْهُ إِلَى غَيْرِهِ قَبْلَ اَنْ يَّقْبِضَهُ .رواه ابو داؤد وابن ماجة .

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي د چا سره د بيع سلم معامله وکړي هغه د شی د قبضه کولو څخه مخکي د دويم لور ته نه منتقل کېږي .(ابو داؤد ابن ماجه)

تخريج: سنن ابي داود ۳\ ۷۴۴، رقم: ۳۴۶۸، وابن ماجه ۲\ ۷۶۶، رقم: ۲۲۸۳.

تشريح: بل چا ته دي يې نه منتقل کوي : د دې مطلب دادی چي تر څو پوري هغه شی په خپل قبضه کي را نه سي نو هغه دي پر بل چا باندي نه پلوري او نه دي يې هبه کوي ، يا دا مطلب دی چي هغه شی دي د بل شي سره نه بدلوي يعني د کوم شی چي بيع سلم سوې ده د معاملې سره سم دي هغه شی واخلي د قبضې څخه مخکي دي د هغه په بدله کي بل شی نه اخلي .

بَابُ الْاِحْتِكَارِ (د خوراکي توکو ذخیره کول)

د احتکار معنی : د احتکار لغوي معنی د ګرانۍ په وجه د غلې ذخیره کېدو ته وایي ، او د شریعت په اصطلاح کي د احتکار مفهوم دادی چي د یو شي د ګران پلورلو لپاره ذخېره کول کوم چي د انسان یاحیوان غذائي ضرورت وي مثلاً د ګرانۍ په وخت کي کله چي خلکو ته د غلې ضرورت وي یو سړی غله رانیسي او په دې نیت یې ذخیره کړي چي کله زیاته ګرانه سي نو خرڅه به یې کړم دې ته احتکار ویل کیږي .

د احتکار حکم : د شریعت له ګناه څخه احتکار حرام دی په دغه د نفرت په کار کي اخته کېدونکی سړی د شریعت له نظر ډېر ناخوښه دی مګر که چیري یو څوک د خپل مځکي څخه پیدا سوې غله ذخیره کړي یا د ارزانۍ په زمانه کي د غلې په رانیولو سره هغه کښېږدي او بیا هغه د ګرانۍ په زمانه کي خرڅ کړي نو دا حرام نه دی همدارنګه د هغه شیانو ذخیره کول کوم چي د غذائي ضرورت په توګه نه استعمالیږي دا هم حرام نه دی .

په هدایه کي وضاحت سوی دی چي د انسانانو او حیوانانو د غذایي شیانو احتکار مکروه دي په شرط ددې چي دغه احتکار په داسي ښار کي وي چیري چي ددې په وجه ښاریانو ته تکلیف او تاوان رسیږي یعني که چیري یو کوچنی ښار وي او هلته د احتکار په وجه د غلې کموالي پیدا سي چي د هغه په وجه د غلې ګراني زیاته سي او خلکو ته تاوان ورسیږي ځکه نو په داسي ښار کي احتکار ممنوع دي مګر که چیري یو لوی ښار وي او هلته د احتکار په وجه ښاریانو ته تاوان نه رسیږي نو بیا په داسي ښار کي احتکار ممنوع نه دي ، همدارنګه په هدایه کي دا هم لیکلي دي که یو څوک د خپل مځکي د غلې احتکار وکړي یا په یو بل ښار کي غله رانیسي او هغه ذخیره کړي نو داسي سړي ته په شرعي توګه سره احتکار کونکی نه ویل کیږي .

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ (لومړی فصل)

احتکار کوونکی ګناهکار دی

﴿۲۷۶۷﴾: عَنْ مُعْمَرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ احْتَكَرَ فَهُوَ خَاطِئٌ . رواه مسلم و سنذكر حديث عمر كانت اموال بني النضير في

Maktaba Tul Ishaat.com

باب الفیئ ان شاء الله تعالی.

د حضرت معمر رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: چا چي (د ګراني په خیال) غله وساتله هغه ګناه ګار دی. (مسلم) د حضرت عمر رضی الله عنه حدیث به انشاء الله په باب الفی کي ذکر کړو.

تخریج: مسلم في الصحیح ۳\۱۲۲۷، رقم: ۱۲۹- ۱۶۰۵.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د احتکار کوونکي لپاره وعید

﴿۲۷۶۸﴾: عَنْ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْجَالِبُ مَرْزُوقٌ وَالْمُحْتَكِرُ مَلْعُونٌ. رواه ابن ماجة والدارمي.

د حضرت عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: تجار ته رزق ورکول کیږي او غله (د ګراني په فکر) ساتونکي او بندونکي لعنتي دي. (ابن ماجه دارمي)

تخریج: سنن ابن ماجه ۲\ ۳۲۴، رقم: ۲۱۵۳، والدارمي ۲\ ۲۲۴، رقم: ۲۵۴۴.

تشریح: مطلب دادی چي کوم څوک د دباندي څخه ښار ته غله راوړي او هغه په موجوده او رواج قیمت باندي خرڅه کړي او د ګرانی په نیت سره هغه ذخیره نه کړي نو هغه ته د الله تعالی له خوا رزق ورکول کیږئ یعني هغه ته ښه ګناه ګټه تر لاسه کیږي او د هغه په رزق کي برکت ورکول کیږي، ددې پر خلاف د خلکو د پریشانیو او غذائي کموالي څخه په ګټه اخیستلو سره غله په ذخیره کول ګناه ده او د خیر څخه لیري خبره ده تر څو چي هغه په دغه لعنت کي اخته وي هغه ته برکت نه تر لاسه کیږي.

حاکم دي خپل له طرفه نرخ نه ټاکي

﴿۲۷۶۹﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ غَلَا السِّعْرُ عَلَى عَهْدِ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ په وخت کي غله ګرانه سوه

فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ سَعِّرْ لَنَا فَقَالَ إِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمُسَعِّرُ الْقَابِضُ الْبَاسِطُ

خلکو وویل یا رسول الله! زموږ لپاره نرخ وټاکه (یعني تجارانو ته ووایه چي په دې نرخ باندي

Maktaba Tul Ishaat.com

غله خرڅه کړي) نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: الله تعالی نرخ ټاکونکی دی هغه د شی ګرانونکي دي او ارزانونکي دی،

الرَّزَّاقُ وَإِنِّي لَأَرْجُو أَنْ أَلْقَى رَبِّي وَلَيْسَ أَحَدٌ مِنْكُمْ يَطْلُبُنِي بِمَظْلِمَةٍ فِي دَمٍ وَلَا مَالٍ. رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة والدارمي.

رزق ورکونکی دی او زه خو یوازي دا ارزو لرم چي زه د الله تعالی سره په داسي حال کي یو ځای سم چي پر ما باندي د چا د قصاص یا د مال مطالبه نه وي. (ترمذي ابو داؤد ابن ماجه دارمي.

تخریج: الترمذي في السنن ۳\۶۰۵، رقم: ۱۳۱۴، وابوداود في السنن ۳\۷۳۱، رقم: ۳۴۵۱، وابن ماجه في السنن ۲\۷۴۱، رقم: ۲۲۰۰.

تشریح: الله ﷻ د قیمت ټاکونکی دی: ددې مطلب دادی چي ګراني او ارزاني د الله تعالی په لاس کي ده قیمت د هغه ظاهري سبب وي، دا یوازي الله تعالی دی چي کله په قیمت کي دزیاتوب او ګرانۍ په صورت کي پر خلکو د رزق تنګي مسلط کړي او کله په قیمت کي د کموالي او ارزانۍ په وجه په رزق کي پراخي پیدا کوي، یعني خلک دا په آسماني قیمت سره تعبیر کوي کله چي د ګرانۍ زمانه وي او په قیمت کي زیاتوب کیږئ نو الله تعالی ته رجوع کول پکار دي او د هغه څخه مرسته غواړئ په خپل عقیدو او اعمالو کي د اصلاح کولو سره سره د الله تعالی د رضا او خوښۍ سامان تر لاسه کوئ چي هغه د خپلو بندګانو څخه خوشحاله سي او پر هغوی باندي د ارزانۍ او د رزق د پراختیا رحمت نازل کړي.

د حدیث د آخري برخي (زه ددې امید لرم....) ددې څخه په اصل کي دې ته اشاره ده چي د حکومت له خوا د قیمت ټاکل منع دي ځکه چي په داسي کولو سره د خلکو په معاملاتو کي بې ځایه دخل کیږي او د هغوی په مال کي د هغوی د اجازې او خوښي څخه پرته تصرف کول لازمیږي چي د ظلم یو صورت دی، د قیمت ټاکلو یوه خرابه نتیجه دا هم کیږي چي ددې په وجه دېر واره خلک کاروبار بند کړي او په تجارتي ژوند کي کمزوري پیدا سي چي د هغه په وجه تر وچ کالي او کموالي پوري نوبت راسي په پای کي دا وي چي کوم شی د الله تعالی د مخلوق د خیر لپاره اختیارول کیږي هغه د هغوی د پریشانیو او مصیبتونو ذریعه جوړه سي.

د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دادی چي د قیمت په ټاکلو سره دي خلک په پریشانۍ او مصیبت کي نه اخته کیږي بلکه ددې پر ځای دي تجاران پر دې مجبور کړي چي هغوی د الله

Maktaba Tul Ishaat.com

تعالی د مخلوق سره د همدردۍ، انصاف او خیرخواهۍ معامله وکړي او د هغوی ضمیر او احساس دي داسي بیداره کړي چي هغوی په قیمت کي په کمي کولو سره د خلکو پریشاني او مصیبت لیري کړي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د غلي د ذخیره کونکي لپاره موعظت او عبرت

﴿۲۷۷۰﴾: عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ احْتَكَرَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ طَعَامًا ضَرَبَهُ اللّٰهُ بِالْجُذَامِ وَالْإِفْلَاسِ. رواه ابن ماجة والبيهقي في شعب الايمان و رزين في كتابه.

د حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه څخه روایت دی چي ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي دي چي فرمایل یې: څوک چي غله پټوي او په مسلمانانو باندي یې په ګرانه خرڅول غواړي نو خدای جل جلاله په هغه باندي د جزام (پیس) او مفلسۍ مرض نازل کړي. (ابن ماجه بیهقي رزین)

تخریج: سنن ابن ماجه ۲\۷۲۹، رقم: ۲۱۵۵، البیهقي في الشعب ۷\۵۲۶، رقم: ۱۱۲۱۸.

تشریح: ددې څخه معلومه سوه چي کوم څوک د الله تعالی د مخلوق په خاصه توګه مسلمانان په تکلیف او تاوان کي اچوي الله تعالی هغه په بدني او مالي مصیبتو کي اخته کوي او کوم څوک چي دوی ته ګټه رسوي نو الله تعالی د هغه په بدن او مال کي خیر او برکت اچوي.

﴿۲۷۷۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم مَنِ احْتَكَرَ طَعَامًا أَرْبَعِينَ يَوْمًا يُرِيدُ بِهِ الْغَلَاءَ فَقَدْ بَرِئَ مِنَ اللّٰهِ وَبَرِئَ اللّٰهُ مِنْهُ. رواه رزين

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد پاک دي: چا چي د ګراني په خیال غله تر څلویښتو ورځو پوري و ساتل نو هغه د خدای جل جلاله څخه بېزاره سو او خدای جل جلاله هم د هغه څخه بېزاره سو. (رزین)

تخریج: رواه رزین.

تشریح: هغه د الله تعالی څخه بېزاره سو: ددې مطلب دادی چي هغه د الله تعالی هغه عهد

Maktaba Tul Ishaat.com

مات کړ کوم چي هغه د شريعت د احکامو پر ځای راوړلو او د الله تعالی د مخلوق سره د همدردی او شفقت په اړه کړی وو .

او الله ﷻ د هغه څخه بېزاره سو : ددې مطلب دادی چي کله هغه ددغه بد عمل په ذريعه د مخلوق د پريشانۍ او تکليف قصد وکړ نو الله تعالی د هغه څخه خپل ساتنه پورته کړه او هغه يې د خپل کرم او رحمت څخه ليري کړ .

﴿۲۷۷۲﴾: وَعَنْ مُعَاذٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ

د حضرت معاذ رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي چي فرمايل يې:

بِئْسَ الْعَبْدُ الْمُحْتَكِرُ إِنْ أَرْخَصَ اللهُ الْأَسْعَارَ حَزِنَ وَإِنْ أَغْلَاهَا فَرِحَ. رواه البيهقي في شعب الإيمان ورزين في كتابه .

غله ساتونکي څومره خراب دي که خدای ﷻ غله ارزانه کړي نو هغه خفه سي او که يې ګرانه کړي نو خوشحالېږي . (بيهقي رزين)

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۱۷\ ۵۲۵، رقم: ۱۱۲۱۵.

تشريح: دا د هغه چا لپاره وعيد او سزا ده کوم چي تر څلوېښتو ورځو پوري د ګرانۍ په نيت سره غله ذخيره کوي چي نه خو هغه بازار ته په راوړلو سره پلوري او نه د هغه په ذريعه د مخلوق غذائي ضروريات پوره کوي او کوم څوک چي تر دغه وخت کم احتکار وکړي نو د هغه لپاره هم دغه سزا ده مګر د هغه څخه په کمه درجه ده .

﴿۲۷۷۳﴾: وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ احْتَكَرَ طَعَامًا أَرْبَعِيْنَ يَوْمًا ثُمَّ تَصَدَّقَ بِهِ لَمْ يَكُنْ لَهُ كَفَّارَةً . رواه رزين

د حضرت ابو امامه رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي غله د څلوېښتو ورځو (د ګراني په خيال) وساتله او بيا يې هغه غله خيرات کړه نو دا صدقه د هغه کفاره نسي کېدای .(رزين)

تخريج: رواه رزين.

==========

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ الْاِفْلَاسِ وَالْاِنْظَارِ

(د انظار او ډېوالي کېدو بیان)

په انساني ژوند کي د یوه حالت قرار او دوام نه سته نن یو څه وي او سبا به بل څه وي دا د ورځنی تجربې خبره ده ، د انسان اقتصادي او مالي ژوند ته فهم وکړئ څرنګه چي یو مفلس سړی په ورځ کي د الله تعالی د رحمت په نیتجه کي د مال او وزر د خزانو مالک جوړېږي همدارنګه لوی لوی شتمن خلک په یو وار ډېوالي کېږي ، کوم خلک چي په لکونو کي لوبي کوي چي مال او زربې اغوستل د سترګو په رپ کي هغوی د یوې یوې پیسې محتاج کېږي ، دا د کائناتو نظام دی او دا د تقدیر لوبه ده حالات پر یوه قرار ساتل د چا په وس کي نه دي دا ټولي لوبي د الله تعالی پابند دي او همېشه به همداسي پابند وي مګر بدلیدونکي حالات متوازن جوړول او په متوازن جوړولو کي مرسته کول د انسان په وس کي دي چي د هغه په اختیارولو سره د یو بل درد او تکلیف وویشل سي او د بدلیدونکو حالاتو په سمولو کي مرسته هم وکول سي دلته چي کوم باب ټاکل سوی دی په هغه کي د نقل سوو حدیثو خلاصه دا ده که چیري یو سړی د حالاتو د تبدیلۍ ښکار سي په دې توګه چي مفلس او تنګدست سي نو د نورو انسانانو دا فریضه ده چي د هغه سره د همدردۍ اظهار وکړي او پر هغه سړي چي د چا حق وي او هغه د مفلس کېدو په وجه د هغه د ادا کولو څخه عاجز وي نو د حق خاوند دي هغه ته دومره وخت ورکړي چي کله د هغه حالات ښه سي نو د هغه څخه دي خپل حق تر لاسه کړي .

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ (لومړی فصل)

د مفلس کېدونکي په اړه یو مسئله

﴿۲۷۷﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَيُّمَا رَجُلٌ أَفْلَسَ فَاَدْرَكَ رَجُلٌ مَالَهُ بِعَيْنِهِ فَهُوَ اَحَقُّ بِهِ مِنْ غَيْرِهِ . متفق علیه.

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوک چي ډېوالي سي او هغه کس (چي شی ور باندي خرڅ کړی وي خپل شی په صحیح حالت کي تر لاسه کړي نو هغه د هغه شی حقداره دي یعني یو په بل چا څه شی خرڅ کړي بیا خریدار مفلس سو او هغه شی

موجود دي نو خرڅونكي د نورو پوروړو په مقابله کي دهغه زيات مستحق دي . (بخاري)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵\۶۲، رقم: ۲۴۰۲، ومسلم ۳\۱۱۹۴، رقم: ۲۴- ۱۱۹۴.

تشريح: د مثال په توګه داسي پوه سئ چي زيد د بكر څخه مال رانيوی مګر د هغه قيمت يې ادا کړی نه وو چي مفلس سو او قاضي او حاکم هم د هغه د مفلس كېدو فيصله وكړه اوس بكر وليدل چي د زيد سره د هغه خرڅ سوی مال بعينه هم هغسي موجود دی يعني نه خو هغه په ظاهري توګه ضائع سوی دی او نه د تصرفات شرعيه مثلاً د هبه او وقف په ذريعه په معنوي توګه ختم سوی دی نو په دغه صورت کي بكر ته اختيار دی چي هغه خپل بيع فسخ کړي او د زيد څخه خپل مال بېرته واخلي ځکه د نورو پوروړو په نسبت هغه مقدم دی نو پر ځای دده چي هغه مال بل پوروړی د زيد څخه واخلي بكر د هغه د اخيستلو زيات حقدار دی او كه چيري زيد د رانيولو پر وخت د مال د قيمت يو څه برخه ادا کړې وي او د پاته برخي د ادا كولو څخه مخكي مفلس او ډېوالي سي نو په دغه صورت کي دي بكر د هغه د مال څخه دومره اندازه واخلي چي د قيمت د پاته برخي په اندازه وي ، د امام شافعي او امام مالک رحمة الله عليهما دا مذهب دی، د دغه حضراتو له خوا د دغه حديث مطلب دا بيانېږي . مګر د حنيفه په نزد په دغه صورت کي پلورنكي ته نه خو د بيع فسخ كولو اختيار دی او نه د مال بېرته اخيستلو حق ځکه حنفيه دغه حديث پر عقد بالخيار باندي محمول کوي يعني د دوی په نزد د دغه حديث تعلق د هغه صورت سره دی كله چي بيع په دغه شرط سره سوې وي چي پلورنكي ته به تر فلاني وخت پوري د دغه بيع د فسخ كولو اختيار وي د بيع څخه وروسته كه رانيونكی مفلس او ډيوالي سي او د خيار په وخت کي د ننه بائع ته معلومه سي چي رانيونكی مفلس او ډيوالي سوی دی نو اوس د هغه لپاره غوره داده چي بيع فسخ کړي او خپل مال بېرته واخلي .

د مفلس سره د مرسته كولو حكم

﴿۲۷۷۵﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ اُصِيبَ رَجُلٌ فِيْ عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو سعيد ﷺ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي ديو سړی پر باغ چي د

فِيْ ثِمَارٍ ابْتَاعَهَا فَكَثُرَ دَيْنُهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَصَدَّقُوْا

هغه باغ مېوه هغه سړي اخيستې وه افت راغي او هغه ته يې سخت تاوان ورسوي او قرضداره سو رسول الله ﷺ خلكو ته وفرمايل: ده ته صدقه وركړئ

Maktaba Tul Ishaat.com

عَلَيْهِ فَتَصَدَّقَ النَّاسُ عَلَيْهِ فَلَمْ يَبْلُغْ ذٰلِكَ وَفَاءَ دَيْنِهِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى

خلکو صدقه ورکړه خو د هغه مقدار دومره نه سو چي قرض پرې ادا سوي وای بیا رسول الله ﷺ د هغه قرض غوښتونکو ته وفرمایل:

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِغُرَمَائِهِ خُذُوْا مَا وَجَدْتُمْ وَلَيْسَ لَكُمْ إِلَّا ذٰلِكَ. رواه مسلم

څه چي دده سره دي نو هغه واخلئ او تاسو ته به یوازي دومره حاصلیږي. (مسلم)

تخریج: مسلم في الصحیح ۳\۱۱۹۱، رقم: ۱۸- ۱۵۵۶.

تشریح: ددغه واقعي تفصیل دادی چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي یو سړي یوه مېوه ناکه درخته رانیول، د درختو میوې د هغه په تصرف کي نه وې راغلي چي پر هغه آفت نازل سو او ټوله میوه ختمه سوه دلته هغه قیمت هم نه وو ادا کړی او پلورنکي چي د قیمت غوښتنه وکړه نو هغه د خلکو څخه په پور اخیستلو سره قیمت ادا کړی چي د هغه په وجه ډېر زیات پوروړی سو، رسول الله ﷺ چي د هغه حال ولیدی نو خلک یې هغه ته متوجه کړل چي هغوی د صدقې او خیرات په ذریعه د هغه مرسته وکړي چي د هغه د پور بار سپک سي. خلکو د هغه مرسته وکړه مګر د هغوی مرسته هم د پور د ادا کولو لپاره بس نه سوه د خلکو په مرسته چي څومره پور ادا کیدای سو هغه یې ادا کړ او د پاته پور د ادا کولو څخه هغه بالکل عاجز وو نو رسول الله ﷺ خلکو ته هغه الفاظ وویل کوم چي د حدیث په آخر کي نقل سوي دي.

پوروړو ته د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دا وو چي کله ددغه سړي افلاس ظاهر سي او حال یې خراب سي نو اوس ستاسو لپاره دا بالکل مناسب نه ده چي دې پریشانه کړئ یا د قید او بند په مصیبت کي یې اخته کړئ بلکه په دغه صورت کي پر تاسو باندي واجب ده چي ده ته وخت ورکړئ چي دده سره د پور د ادا کولو لپاره څه پیدا سي نو هغه وخت تاسو غوښتنه ځیني وکړئ او خپل پور ځیني واخلئ، د رسول الله ﷺ د ارشاد دا مطلب نه وو چي د ددغه سړي څخه د پوروړو حق ساقط سوی دی بلکه ددې څخه د رسول الله ﷺ مقصد دا وو چي پوروړی ته وخت ورکړل سي.

په پور کي د وخت ورکولو اجر

﴿۲۷۷۶﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَانَ رَجُلٌ

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: یو سړي به معامله کول او

Maktaba Tul Ishaat.com

يُدَايِنُ النَّاسَ فَكَانَ يَقُولُ لِفَتَاهُ إِذَا أَتَيْتَ مُعْسِرًا فَتَجَاوَزْ عَنْهُ لَعَلَّ اللّٰهَ يَتَجَاوَزُ عَنَّا قَالَ فَلَقِيَ اللّٰهَ فَتَجَاوَزَ عَنْهُ . متفق عليه

خپلو كاركونكو ته يې ويلي وه كله چې يو تنگدست ته د قرض اخيستلو لپاره ورسئ نو ته هغه معافوه شايد چې الله تعالي مونږ ته معافي وكړي او كوم وخت چې هغه وفات سو نو خداي تعالي هغه وبخښي او د هغه گناهونه يې معاف كړه . (بخاري او مسلم)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۴\۳۰۸، رقم: ۲۰۷۸، ومسلم ۳\۱۱۹۶، رقم: ۳۱\۱۵۶۲.

تشريح: فرض اعمال تر نفلو اعمالو اويا درجې زيات فضيلت لري مگر په ځينو مسائلو او معاملاتو كي نفل اعمال تر فرضو اعمالو زيات فضيلت لري چې د هغو څخه يو مفلس او غريب ته خپل حق معافول دي كه څه هم دا مستحب دي مگر مفلس او غريب ته پور په ادا كولو كي وخت وركولو څخه افضل دی چي واجب دی ، دوهم په سلام كولو كي مخكي كېدل سنت دي مگر دا غوره دي د سوال د جواب وركولو څخه چي فرض دی، دريم د وخت څخه مخكي اودس كول مستحب دی مگر د ا د وخت د شروع كېدو څخه وروسته تر اودس كولو غوره دی كوم چي فرض دی .

﴿۲۷۷۸﴾: وَعَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ أَنْظَرَ مُعْسِرًا أَوْ وَضَعَ عَنْهُ أَنْجَاهُ اللّٰهُ مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ . رواه مسلم .

د حضرت ابو قتاده رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي څوک چي د خپل قرض په وصولولو كي مفلس ته مهلت وركړي يا خپل قرض ور معاف كړي نو خداي تعالي به هغه د قيامت په ورځ د سختيو څخه وساتي .(مسلم)

تخريج: مسلم في الصحيح في الموضع نفسه، رقم: ۳۲- ۱۵۶۲.

﴿۲۷۷۹﴾: وَعَنْ أَبِي الْيَسَرِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ أَنْظَرَ مُعْسِرًا أَوْ وَضَعَ عَنْهُ أَظَلَّهُ اللّٰهُ فِي ظِلِّهِ . رواه مسلم .

د حضرت ابو يسر رضي الله عنه څخه روايت دی چي ماد رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي څوک چي

Maktaba Tul Ishaat.com

مفلس ته مهلت ورکړي یا خپل قرض ورمعاف کړي خدای ﷻ به د خپل سایې لاندي ځای ورکړي. (مسلم)

تخریج: مسلم في الصحیح في الموضع السابق.

تشریح: امام احمد، ابن ماجه او حاکم د رسول الله ﷺ دغه ارشاد نقل کړی دی چي کوم څوک یو مفلس او غریب سړي ته وخت ورکړي نو د ادا کولو د ورځي تر راتلو پوري هغه ته د هري ورځي په بدله کي د هغه پور په اندازه د صدقې ثواب ورکول کیږي او بیا کله چي د هغه د پور ادا کولو ورځ راسي او بیا هغه ته وخت ورکړي نو د هغه د ادا کولو د ورځي تر راتلو پوري د هري ورځي په بدله کي د هغه د پور په اندازه د صدقې ثواب ورکول کیږي او بیا کله چي د پور د ادا کولو ورځ راسي نو دی بیا هغه ته وخت ورکړي نو هغه ته د هري ورځي په بدله کي د هغه د پور په اندازه د صدقې ثواب ورکول کیږي.

دغه روایت د مثال په توګه داسي وفهموی چي مثلاً یو سړی یو چا ته د دوو میاشتو په وعده سل روپۍ په پور ورکړي او دوې میاشتي وروسته د هغه مفلس او غریب سړي په لېدو سره هغه ته د یوې میاشتي نور وخت ورکړي نو هغه ته به د ټولي میاشتي داسي ثواب ورکول کیږي لکه هغه چي هره ورځ سل روپۍ صدقه کوي همدارنګه د یوې میاشتي د تېرېدو څخه وروسته په دوهم وار وخت ورکولو کي همدارنګه ثواب هغه ته ورکول کیږي تر دې چي دریم وار وخت ورکړي نو هغه ته هره ورځ داسي ثواب ورکول کیږي لکه څرنګه چي هغه هره ورځ دوه سوه روپۍ صدقه او خیرات کوي.

په ښه توګه پور ادا کونکي غوره کس دی

﴿۲۷۸۰﴾: وَعَنْ اَبِي رَافِعٍ قَالَ اسْتَسْلَفَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَكْرًا

د حضرت ابو رافع ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ یو ځوان اوښ په قرض واخیستي

فَجَائَتْهُ إِبِلٌ مِنْ إِبِلِ الصَّدَقَةِ قَالَ ابو راقع فَأَمَرَنِي أَنْ اَقْضِيَ الرَّجُلَ بَكْرَهُ

وروسته د صدقې اوښان راغله نو حضرت ابو رافع ﷺ وایي چي رسول الله ﷺ ما ته حکم راکړ چي زه یو ځوان اوښ د قرض غوښتونکی ته ورکړم

فقلت لا أَجِدُ إِلَّا جملا خِيَارًا رَبَاعِيًا فَقَالَ رسول الله صلى الله عليه وسلم

Maktaba Tul Ishaat.com

أَعْطِهِ إِيَّاهُ فَإِنَّ خَيْرَ النَّاسِ أَحْسَنُهُمْ قَضَاءً . رواه مسلم .

ما وویل (یا رسول الله!) په دې اوښانو کې یو ځوان اوښ دې چې د هغه د اوښ څخه افضله دې او څلورم کال یې پېل سوې دې نبي کریم ﷺ وفرمایل : هغه ورکړه چې بهتر بنده هغه دې چې قرض په ښه ډول سره ادا کړي . (مسلم)

تخریج: مسلم في الصحیح ۳\۱۲۲۴، رقم: ۱۱۸\۱۶۰۰.

د لغاتو حل: بَکرا: فتی من الابل (ځوان اوښ). خِیارا: ای مختارة (غوره). رباعیا: وهو من الابل ما اتی علیه ست سنین ودخل في السابعة حین طلعت رباعیته (هغه اوښ چې په اووم کال کې وي).

تشریح: ددغه حدیث څخه معلومه سوه چې د حیوانانو په پور اخیستل جائز دې لکه څرنګه چې د امام شافعي، امام مالک او اکثرو علماؤ دا مذهب دی، مګر د امام ابوحنیفة رحمة الله علیه په نزد دا جائز نه دی هغه فرمایي چې دغه حدیث منسوخ دی .

د حدیث د آخري الفاظو څخه معلومه سوه چې کوم شی اخیستل سوی وي د هغه په بېرته ورکولو کې د هغه په نسبت ښه شی ورکول مستحب هم دی او لوړ همتي هم ده په شرط ددې چې د پور اخیستلو پر وخت دا شرط لګول سوی نه وي .

پور ورکونکی غوښتنه کولای سي

﴿۲۷۸۱﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَجُلًا تَقَاضَى رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو هریره ﷺ څخه روایت دی چې د یو سړي څخه رسول الله ﷺ یو اوښ په قرض

فَأَغْلَظَ لَهُ فَهَمَّ أَصْحَابُهُ فَقَالَ دَعُوهُ فَإِنَّ لِصَاحِبِ الْحَقِّ مَقَالًا وَاشْتَرُوا لَهُ

اخیستي وو هغه د نبي کریم ﷺ څخه په سخته سره غوښتنه وکړه صحابه کرام رض د هغه د ویرولو یا د وهلو په خاطر را ولاړ سوه نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل : و ده ته هیڅ مه وایاست ځکه چې حقدار ته ځای د خبرو وي او وروسته یې وفرمایل : اوښ رانیسئ

بَعِيرًا فَأَعْطُوهُ إِيَّاهُ وَقَالُوا لَا نَجِدُ إِلَّا أَفْضَلَ مِنْ سِنِّهِ قَالَ اشْتَرُوهُ فَأَعْطُوهُ إِيَّاهُ فَإِنَّ خَيْرَكُمْ أَحْسَنُكُمْ قَضَاءً . متفق علیه .

او و ده ته یې ورکړي صحابه کرامو رضي الله عنهم وویل دده د اوښ څخه بهتره او په عمر کې

زیات پیدا کیږي نبي کریم ﷺ ورته وویل چي هغه رانیسي او ورته یې ورکړئ بهتره ستاسي هغه دی چي قرض په ښه ډول سره ادا کړي .(بخاري او مسلم)

تخریج: البخاري في الصحیح (فتح الباري): ۴\۴۸۳، رقم: ۲۳۰٦، ومسلم ۳\۱۲۲۵، رقم: ۱۲۰- ۱٦۰۱.

تشریح: د رسول الله ﷺ څخه د خپل پور غوښتونکی او بیا په غوښتنه کي تلخ کلامي کونکی به کیدای سي کافر وي یا به یهودي وي او یا به بل څوک وي، ځیني حضرات وایي چي کیدای سي هغه یو صحرائي وي چي د نبوت د مقام او مجلس د ادبو څخه بالکل بې خبره وو چي په دې هم نه پوهیدی چي د چا سره څرنګه خبري وکول سي ، ددې برعکس رسول الله ﷺ د هغه خبري په خپل غوره اخلاقو سره وزغملې چي دا یوازي د نبوت خاصه کیدای سي .

د چا چي حق وي هغه ته د ویلو اختیار دی: په دې باره کي ابن مالک رحمة الله علیه فرمایي چي دلته د حق څخه مراد پور دی یعني که چیري د یو سړي پر یو چا باندي پور وي او هغه پوروړی د پور په ادا کولو کي ځنډ کوي نو پور ورکونکي ته دا حق حاصل دی چي د هغه څخه په سختۍ سره غوښتنه وکړي او د ناخوښۍ اظهار وکړي که بیا هم هغه حق ادا نه کړي نو حاکم او عدالت ته دي رجوع وکړي .

د توان سره سم پور نه ادا کول ظلم دی

﴿۲۷۸۲﴾: وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَطْلُ الْغَنِيِّ ظُلْمٌ فَإِذَا أُتْبِعَ أَحَدُكُمْ عَلَى مَلِيٍّ فَلْيَتْبَعْ . متفق علیه

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د مالدار سړی په خپل قرض ادا کولو کي پس او پیش (انې بانې) کول ظلم دي کله چي د یو چا قرض په مالداره سړي باندي وګمارل سي نو تاسي هغه منظور کړئ . (بخاري او مسلم)

تخریج: البخاري في الصحیح (فتح الباري): ۴\۴٦۴، رقم: ۲۲۸۷، ومسلم ۳\۱۱۹۷، رقم: ۳۲- ۱۵٦۴

د لغاتو حل: مَطل: ای تاخیره اداء الدین من وقت الی وقت (په پور کي ځنډ کول).

تشریح: د حدیث د اولي برخي مطلب دا دی چي کوم څوک یو شی رانیسي او د هغه د قیمت ادا کولو توان درلودلو سربېره قیمت ادا نه کړي یا د چا پوروړی وي او د پور پر ادا کولو باندي د قادر کېدو سربېره ځنډ کوي نو دا ظلم دی بلکه ځینو علماؤ خو داسي لیکلي دي چي دا فسق دی او په دې وجه د دغه سړي شاهدي رد کیږي که څه هم دغه عمل یو وار ظاهر سوی وي مګر د

Maktaba Tul Ishaat.com

ځینو نورو علماؤ قول دادی چي د هغه سړي شاهدي د رد وړ ده چي د توان درلودلو سربېره په وار وار ناخبرتیا کي اخته وي او په ادا کولو کي ځنډ کول د هغه عادت ګرځېدلی وي.
د حدیث د دوهمي برخي (او کله چي په تاسو کي یو څوک صاحب استطاعت ته حواله کړل سي ...الخ) د دې مطلب دادی چي د یو سړي پر یو چا باندي پور وي او د هغه د پور پر ادا کولو باندي د نه قادر کېدو په وجه یو شتمن سړي ته دا ووایي چي ته زما پور ادا کړه نو پور غوښتونکي ته پکار ده چي هغه د پور وړی دغه خبره سمدستي ومني چي د هغه مال ضائع نه سي، دغه حکم د استحباب په توګه دی مګر د ځینو علماؤ قول دادی چي دغه حکم د وجوب په طریقه دی، او ځینو علماء دغه حکم ته د اباحت په طریقه ویلي دي.

د پوروړو تنازعه ختمول جائز دي

﴿۲۷۸۳﴾: وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّهُ تَقَاضَى ابْنَ أَبِي حَدْرَدٍ دَيْنًا لَهُ عَلَيْهِ فِي

د حضرت کعب بن مالک ﷺ څخه روایت دی چي هغه د رسول الله ﷺ په زمانه کي د ابن ابي

عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ فَارْتَفَعَتْ أَصْوَاتُهُمَا حَتَّى

حدرد څخه په مسجد کي د خپلو پیسو تقاضا وکړه نو په خبرو خبرو کي د دواړو اوازونه پورته

سَمِعَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي بَيْتِهِ فَخَرَجَ إِلَيْهِمَا رَسُولُ

سوه نبي کریم ﷺ په خپل کور کي د هغوی اوازونه واورېدل نو هغوی ته را ووت

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى كَشَفَ سِجْفَ حُجْرَتِهِ وَنَادَى كَعْبَ بْنَ مَالِكٍ

او د خپلي حجرې پرده یې پورته کړه او کعب بن مالک ﷺ یې مخاطب کړ او ورته یې

قَالَ يَا كَعْبُ قَالَ لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ فَأَشَارَ بِيَدِهِ أَنْ ضَعِ الشَّطْرَ مِنْ دَيْنِكَ

وفرمایل: اې کعب! کعب ﷺ وویل یا رسول الله ﷺ! حاضر یم نبي کریم ﷺ په ګوتو یې ورته اشاره وکړه چي نیم قرض ورته معاف کړه

قَالَ كَعْبٌ قَدْ فَعَلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ قُمْ فَاقْضِهِ

کعب ﷺ ورته وویل یا رسول الله ﷺ! ما ورته معاف کړ نو نبي کریم ﷺ ابن ابي حدرد ته

وفرمايل: ولاړ سه او پاته قرض ادا کړه. (بخاري او مسلم)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۱\۵۵۱، رقم: ۴۵۷، ومسلم ۳\۱۱۹۲، رقم: ۲۰- ۱۵۵۸.

د لغاتو حل: سَجف: الستر (پرده).

تشريح د دغه حديث څخه معلومه سوه چې په مسجد کي د يو چا څخه د خپل پور غوښتنه کول جائز دي او حقدار ته سفارش کول، د جګړه کونکو په مېنځ کي صلح کول او د يو چا سفارش قبلول په شرط د دې چي د هغه سفارش تعلق د معصيت او خرابۍ سره نه وي دا جائز دي.

د پور په ادا کولو کي د تاخير يو واقعه

﴿۲۷۸۴﴾: وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ كُنَّا جُلُوسًا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت سلمه بن اکوع رضي الله عنه څخه روايت دی چي موږ د نبي کريم صلی الله علیه وسلم سره ناست وو چي يوه

وَسَلَّمَ إِذْ أُتِيَ بِجَنَازَةٍ فَقَالُوا صَلِّ عَلَيْهَا فَقَالَ هَلْ عَلَيْهِ دَيْنٌ قَالُوا لَا فَصَلَّى

جنازه راوړل سوه صحابه کرامو رض رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د جنازې د لمانځه کولو وويل، نبي کريم صلی الله علیه وسلم پوښتنه وکړه چي پر ده باندي قرض سته؟ صحابو کرامو ورته وفرمايل: يا، نبي کريم صلی الله علیه وسلم هغه ته د جنازې لمونځ ورکړ

عَلَيْهِ ثُمَّ أُتِيَ بِجَنَازَةٍ أُخْرَى فَقَالَ هَلْ عَلَيْهِ دَيْنٌ قَالُوا نَعَمْ قَالَ فَهَلْ تَرَكَ

وروسته يوه بله جنازه راوړل سوه نبي کريم صلی الله علیه وسلم پوښتنه وکړه چي په ده باندي قرض سته ورته وويل سوه چي هو! نبي کريم صلی الله علیه وسلم پوښتنه وکړه چي يو څه يې پرې ايښي دي؟

شَيْئًا قَالُوا ثَلَاثَةَ دَنَانِيرَ فَصَلَّى عَلَيْهَا ثُمَّ أُتِيَ بِالثَّالِثَةِ فَقَالَ هَلْ عَلَيْهِ دَيْنٌ

صحابه کرامو رض وويل چي درې ديناره يې پرې ايښي دي نبي کريم صلی الله علیه وسلم و هغه ته هم لمونځ ورکړ بيا دريمه جنازه راوړل سول نبي کريم صلی الله علیه وسلم پوښتنه وکړه چي آيا پر ده باندي قرض (پور)

قَالُوا ثَلَاثَةُ دَنَانِيرَ قَالَ هَلْ تَرَكَ شَيْئًا قَالُوا لَا قَالَ صَلُّوا عَلَى صَاحِبِكُمْ قَالَ

سته؟ ورته وويل سول چي هو، نبي کريم صلی الله علیه وسلم پوښتنه وکړه چي څه يې پرې ايښي دي؟ دوی وويل: چي هيڅ نه، نبي کريم صلی الله علیه وسلم وفرمايل چي پر خپل قريب باندي لمونځ وکړئ

أَبُو قَتَادَةَ صَلِّ عَلَيْهِ يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَعَلَيَّ دَيْنُهُ فَصَلَّى عَلَيْهِ. رواه البخاري.

ابو قتاده ﷜ وويل يا رسول الله ﷺ! لمونځ پرې وکړې دده قرض زما پر ذمه سو نو نبي کريم ﷺ لمونځ پرې وکړ. (بخاري).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۴۶۶۱۴، رقم: ۲۲۸۹.

تشريح کيدای سي چي درې سره جنازې په يوه ورځ او يوه مجلس ته راوړل سوې وي او دا هم کيدای سي چي په جلا جلا ورځو کي او په جلا جلا مجلسو کي دغه جنازې راوړل سوي وي.

پر دوهم سړي چي پور وو د هغه اندازه به درې ديناره وه چي د ادا کولو څخه پرته مړ سوی وو ځکه رسول الله ﷺ ته معلومه سوه چي پر ده باندي څومره پور دی د هغه د ادا کولو په اندازه سامان پرېښودو سره مړ سوی دی نو رسول الله ﷺ د هغه د جنازې لمونځ وکړ.

دريم کس د خپل پور د اداکولو په اندازه مال نه وو پرې ايښی ځکه رسول الله ﷺ د هغه د جنازې د لمانځه څخه انکار وکړ، ددغه انکار وجه يا خو دا وه چي ددې څخه خلک عبرت تر لاسه کړي او د هغوی د پور کولو څخه پرهيز وکړي او که چيري د مجبورۍ په وجه پور واخلي نو د هغه په ادا کولو کي دې د زنډ او کوتاهۍ څخه منع سي، او يا رسول الله ﷺ د هغه د جنازې لمونځ کول ځکه مناسب ونه ګڼل چي زه دده لپاره دعاء وکړم او هغه قبوله نه سي ځکه چي پر ده باندي د هغه خلکو حق وو چي هغه د هغه د بري الذمة کېدو څخه پرته مړ سوی وو.

په دغه حديث کي ددې خبري دليل دی چي د مړي له خوا ضامن کېدل جائز دي که څه هم مړي د ادا کولو لپاره مال پرې ايښی وي يا نه وي، د امام شافعي او اکثرو علماؤ دا مذهب دی، مګر د امام ابو حنيفة رحمة الله عليه په نزد دا جائز نه دي.

ځيني حنفي علماء وايي چي امام مالک، امام شافعي، امام محمد او په حنفيه کي امام ابويوسف او امام محمد رحمة الله عليهم ددغه حديث څخه ددغه خبري استدلال کړی دی چي د مړي له خوا کفالت جائز دی که يو چا مال نه وي پرې ايښی او پر هغه باندي پور وي نو دغه حضرات وايي که چيري د مړي له خوا کفالت جائز نه وای نو رسول الله ﷺ به د هغه دريم سړي د جنازې لمونځ نه کولای. مګر امام ابوحنيفة رحمة الله عليه فرمايي چي د مفلس سړي له خوا کفالت صحيح نه دی ځکه د مفلس سړي له خوا وکالت په اصل کي د دَين ساقط کفالت دی او دا بالکل صفا مسئله ده چي د دَين ساقط کفالت باطل دی.

اوس پاته سوه دا خبره چي حضرت ابو قتاده ﷜ د مړي له خوا د هغه کفالت وکړ او رسول الله ﷺ د ابو قتاده ﷜ د کفالت په منلو سره د هغه د جنازې لمونځ وکړ نو په دې باره کي امام ابوحنيفة رحمة الله عليه وايي چي د حديث د الفاظو څخه يوازي دا نه ثابتيږي چي ابو قتاده ﷜ د هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

سړي په ژوند کي د هغه له خوا کفالت کړی وي دلته هغه يو ازي د رسول الله ﷺ په مخکي ددې خبري اظهار وکړ چي ما دده کفالت د مخکي څخه کړی دی . او س زه دده د پور ذمه داريم ، رسول الله ﷺ د هغه پر دغه اقرار او اظهار باندي د هغه د جنازې لمونځ وکړ .

ددې څخه پرته دا هم کيدای سي چي ابو قتاده ﷛ هغه وخت د مړي له خوا کفالت نه وي کړی بلکه د احسان او تبرع له مخي يې دا وعده کړې وي چي زه به دده پور ادا کوم .

د پور د ادا کولو د نيت لرونکي الله ﷻ مرسته کوي

﴿۲۷۸۵﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَخَذَ

د حضرت ابو هريره ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي د خلکو څخه

أَمْوَالَ النَّاسِ يُرِيدُ أَدَاءَهَا أَدَّى اللّٰهُ عَنْهُ وَمَنْ أَخَذَ يُرِيدُ إِتْلَافَهَا أَتْلَفَهُ اللّٰهُ عَلَيْهِ . رواه البخاري .

قرض واخلي او د هغه د ادا کولو اراده ولري نو خدای تعالی پرې هغه قرض ادا کوي او څوک چي په دې نيت قرض واخلي چي هغه ضائع کوي نو خدای تعالی د هغه مال ضائع کوي . (بخاري) .

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵\۵۳، رقم: ۲۳۸۷.

الله ﷻ حقوق العباد نه معافوي

﴿۲۷۸۶﴾: وَعَنْ اَبِيْ قَتَادَةَ قَالَ قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ فِي

د حضرت ابو قتاده ﷛ څخه روايت دی چي يوه سړي وويل : يا رسول الله ﷺ ! که زه د خدای تعالی په لاره کي ووژل سم

سَبِيلِ اللّٰهِ صَابِرًا مُحْتَسِبًا مُقْبِلًا غَيْرَ مُدْبِرٍ يُكَفِّرُ اللّٰهُ عَنِّيْ خَطَايَايَ فَقَالَ

او زما دا حالت وي چي ما په سختيو صبر کړې وي په جنګ کي د ثواب طلبګاريم (او همېشه مي مقابله کړې وي) او د پر شا تګ (په جنګ کي د کفارو سره) مي هيڅ کله اراده نه وي کړې نو ايا زما ګناهونه به خدای تعالی معاف کړي ؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل:

رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ نَعَمْ فَلَمَّا اَدْبَرَ نَادَاهُ فَقَالَ نَعَمْ اِلَّا الدَّيْنَ كَذٰلِكَ قَالَ

Maktaba Tul Ishaat.com

جِبْرَئِيْلُ. رواه مسلم

هو، کله چي هغه سړی رهي سو نو رسول الله ﷺ ورته اواز وکړ او ورته يې وفرمايل: ټول ګناهونه الله تعالي معافوي خو قرض نه معافوي جبرئيل ؑ ماته همدغسي ويلي دي. (مسلم).

تخريج: مسلم في الصحيح ۳\۱۵۰۱، رقم: ۱۱۷- ۱۸۸۵.

تشريح: د دغه حديث څخه معلومه سوه چي د بندګانو د حقوقو معامله ډېره سخته ده الله تعالی په خپل حقوق، عبادت او طاعت کي کوتاهي او ګناه معافوي مګر د بندګانو حقوق يعني پور وغيره نه معافوي او د دغه حديث څخه معلومه سوه چي حضرت جبرائيل ؑ رسول الله ﷺ ته يوازي هغه پيغام نه رسوی کوم چي د قرآن کريم په شکل کي زموږ په وړاندي دی بلکه د دې څخه پرته نور هدايات او احکام يې رسول.

﴿۲۷۸۷﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ ابْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يُغْفَرُ لِلشَّهِيْدِ كُلُّ ذَنْبٍ إِلَّا الدَّيْنَ. رواه مسلم.

د حضرت عبدالله بن عمر ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د شهيد ټول ګناهونه معافيږي خو قرض يې نه معافيږي. (مسلم)

تخريج: مسلم في الصحيح في الموضع السابق ۳\۱۵۰۲، رقم: ۱۱۹- ۱۸۸۶.

تشريح: د دَين (پور) څخه مراد د بندګانو حقوق دي، د دې مطلب دادی چي پر يو چا باندي د بنده يو حق وي يعني که د يو چا پر ذمه د يو چا مال وي يا هغه د يو چا په ناحقه قتل کړی وي يا چا ته يې بد ويلي وي يا د چا غيبت يې کړی وي که داسي سړی شهيد هم سي بيا هم د دغه شيانو معافي نه ورته کيږي ځکه الله تعالی د بندګانو حقوق په هيڅ حال کي نه معافوي.

ابن مالک رحمه الله وايي چي د ځينو علماؤ دا قول دی چي د دغه حديث تعلق د شهداء بر (يعني په وچه کي د جنګ په وجه شهيد سوو) سره دی په بحري جنګ کي شهيدان د دې څخه مستثنی دی ځکه ابن ماجه او ابوامامه مرفوع روايت نقل کړی دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل په بحري جنګ کي د شهيدانو ټولي ګناهونه تر دې چي دَين (پور) هم بخښل کيږي.

د پوروړی د جنازې څخه د رسول الله ﷺ اجتناب

﴿۲۷۸۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُؤْتَى

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ ته به د هغه سړي جنازه را وړل سوه

بِالرَّجُلِ الْمُتَوَفَّى عَلَيْهِ الدَّيْنُ فَيَسْأَلُ هَلْ تَرَكَ لِدَيْنِهِ قضاء فَإِنْ حُدِّثَ أَنَّهُ

چې په هغه باندي به قرض پاته وو نو نبي کریم ﷺ به ور څخه پوښتنه کوله چې ایا د قرض د ادا کولو لپاره یې څه پرېښې دي ؟ که به ورته وویل سوه چې دومره مال یې پرې ایښې دي چې په

تَرَكَ وَفَاءً صَلَّى وَإِلَّا قَالَ لِلْمُسْلِمِينَ صَلُّوا عَلَى صَاحِبِكُمْ فَلَمَّا فَتَحَ اللهُ عَلَيْهِ

هغه سره یې قرض ادا کېږي نو د هغه د جنازې لمونځ به یې کوي او که دومره مال به یې نه وو پرې ایښې نو صحابه کرامو رضی الله عنهم ته به یې وویل چې و خپل دوست ته د جنازې لمونځ ورکړئ بیا چې خدای تعالی فتوحات ورکړه او انکشافات یې ورپه برخه سوه

الْفُتُوحَ قَامَ فَقَالَ أَنَا أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ فَمَنْ تُوُفِّيَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ

نو نبي کریم ﷺ و فرمایل : زه د مسلمانانو لپاره د هغوی د ځانو څخه زیات عزیزیم څوک چې د مسلمانانو څخه ځیني مړه سي

فَتَرَكَ دَيْنًا فَعَلَيَّ قَضَاؤُهُ وَمَنْ تَرَكَ مَالًا فهو لِوَرَثَتِهِ . متفق علیه

او پر هغوی قرض وي نو د هغوی د قرض ادا کولو زه ذمه دار یم او کوم مال چې ور څخه پاته سي هغه د هغه د وارثانو دي . (بخاري او مسلم) .

تخریج: البخاري في الصحیح (فتح الباري): ۴۷۷\۱۴، رقم: ۲۲۹۸، ومسلم ۳\ ۱۲۳۷، رقم: ۱۴- ۱۶۱۹.

تشریح: زه (د دین او دنیا په ټولو امورو کي) پر مسلمانانو د هغوی تر ځانونو زیات حق لرم ، د دې څخه دا خبره ثابته سوه چې پر مسلمانانو باندي واجب دہ چې هغوی رسول الله ﷺ تر خپلو ځانو هم زیات محبوب او خوښ وګڼي د رسول الله ﷺ حکم او خواهش دي د خپل نفس پر حکم او خواهش باندي مقدم کړي ، د رسول الله ﷺ دحق دي د خپلو ځانو تر حق مقدم ګڼي او د هغوی زړونه دي د خپلو ځانونو د شفقت او محبت څخه زیات د رسول الله ﷺ د شفقت او محبت څخه ډک وي، همدارنګه د رسول الله ﷺ شان رحمت هم دادی چې یو مسلمان پر خپل ځان باندي څومره شفیق او مهربانه وي نو د رسول الله ﷺ په حق کي د هغه څخه زیات شفیق او مهربان وي د یو مسلمان ځان، عزت او آبرو او د هغه دین چې رسول الله ﷺ ته څومره عزیز او محبوب دی دومره خپله هغه ته نه دی دا پر مسلمانانو باندي د رسول الله ﷺ بې پایه شفقت دی

Maktaba Tul Ishaat.com

، کله چي الله تعالى په فتوحاتو کي د حاصليدونکي غنيمت په ذريعه پر رسول الله ﷺ د مال او زر دروازې خلاصي کړې نو رسول الله ﷺ دا هيڅکله خوښه نه کړه چي هغه مال او زر يوازې تر خپل ځان پورې محدود کړي بلکه رسول الله ﷺ خپله د سختۍ او تنګدستۍ پر پخواني حالت باندې قناعت وکړ او ټول مال او زر يې د مسلمانانو لپاره وقف کړ، ځکه رسول الله ﷺ اعلان وکړ او س چي الله تعالى د مال او زر خزانې زما په تصرف کي راوستلې دي نو زه د دې زيات حقدار يم چي د مسلمانانو د مال، عزت او آبرو ساتنه وکړم نو د مسلمانانو د پور ادا کولو زه په خپله ذمه دار يم او که يو مسلمان په داسي حال کي د دنيا څخه رخصت سي چي پر هغه پور باندي وي او هغه د پور د ادا کولو په اندازه مال نه وي پرې اېښی نو د هغه پور به زه ادا کوم.

ځيني حضرات وايي چي رسول الله ﷺ به د مړو د پور ادا کول د بيت المال څخه کول او دا خبره قياس ته نژدې ده مګر د ځينو علماؤ قول دی چي رسول الله ﷺ به د هغوی پور د خپل مال څخه ادا کوی.

همدارنګه ځيني علماء وايي چي رسول الله ﷺ به د مړو له خوا د پور ادا کول پر رسول الله ﷺ واجب وه او د ځينو علماؤ قول دی چي د هغوی پور ادا کول پر رسول الله ﷺ واجب نه وه بلکه رسول الله ﷺ تبرعا يعني د احسان او شفقت له مخي د هغوی پور ادا کوی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د ډېوالي حکم

﴿۲۷۸۹﴾: عَنْ أَبِيْ خَلْدَةَ الزُّرَقِيْ قَالَ جِئْنَا أَبَا هُرَيْرَةَ فِيْ صَاحِبٍ لَّنَا قَدْ أَفْلَسَ

د حضرت ابو خلده زرقي رضی الله عنه څخه روايت دی چي موږ ابو هريره رضی الله عنه ته د يوه سړي مقدمه راوړه چي مفلس سوی وو او د هغه سره د هغه خلکو مال وو چي د هغوی څخه رانيول سوي وو نو

فَقَالَ هٰذَا الَّذِيْ قَضٰى فِيْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّمَا رَجُلٍ مَّاتَ أَوْ

ابو هريره رضی الله عنه وويل دا معامله بالکل د هغه سړي په شان ده چي د هغه فيصله رسول الله ﷺ دا کړې وه چي کوم سړی مړ سي يا مفلس سي نو د چا مال چي د هغه سره وي

أَفْلَسَ فَصَاحِبُ الْمَتَاعِ أَحَقُّ بِمَتَاعِهِ إِذَا وَجَدَهُ بِعَيْنِهِ. رواه الشافعي وابن ماجه

نو هغه د هغه د حقدار دي کله چي هغه بالکل ساتل سوی وي. (شافعي ابن ماجه).

Maktaba Tul Ishaat.com

تخریج: ترتیب مسند الامام الشافعي ۲\ ۱۶۳، رقم: ۲۳۶۰.

د پوروړی روح تر اداکولو پوري معلق وي

﴿۲۷۹۰﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ نَفْسُ الْمُؤْمِنِ مُعَلَّقَةٌ بِدَيْنِهِ حَتّٰى يُقْضٰى عَنْهُ. رواه الشافعي واحمد والترمذي وابن ماجة والدارمي.

د حضرت ابوهریره رضي الله عنه ځخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د مؤمن روح د قرض په وجه معلق وي (یعني جنت ته تر هغه وخته پوري نسي داخلېدای) تر څو پوري چي د هغه قرض ادا نه کړل سي. (شافعي احمد ترمذي ابن ماجه دارمي).

تخریج: ترتیب مسند الامام الشافعي ۲\ ۱۹۰، رقم: ۶۷۸، واحمد في المسند ۲\ ۴۴۰، والترمذي في السنن ۳\ ۳۸۹، رقم: ۱۰۷۸، وابن ماجه في السنن ۲\ ۸۰۶، رقم: ۲۴۱۳، والدارمي ۲\ ۳۴۰، رقم: ۲۵۹۱.

تشریح: ځیني علماء وایي چي کوم پور د خپل اداکولو تر وخته پوري د مؤمن روح د جنت او د صالح بندګانو په ډله کي د داخلېدو ځخه منع کوي نو دا هغه پور دی چي بېله ضرورته د مال او زر په صورت کي د چا ځخه اخیستل سوی وي او هغه مال او زر په پالتو کارو کي خرڅ سوی وي او هغه یې د اسراف په توګه مصرف کړی وي مګر کوم څوک چي د خپل یو ضرورت لپاره مثلاً د واجب حقوقو د تکمیل لپاره یا د یو مالي غوښتني د اداکولو په اندازه روپۍ یا مال په پور اخیستی وي او د بیا د هغه پور د اداکولو ځخه مخکي مړ سوی وي نو د اسي پور به هغه د جنت او د صالحو بندګانو په ډله کي د داخلېدو ځخه منع نه کړي انشاء الله تعالی، مګر د داسي پور په باره کي د وخت د پاچا دا اخلاقي فریضه ده چي د هغه حق ادا کړي او که هیڅوک د هغه پور ادا نه کړي نو بیا امید دی چي الله تعالی به په قیامت کي پور ورکونکی راضي کړي چي هغه د پوروړی ځخه په آخرت کي غوښتنه و نه کړي.

﴿۲۷۹۱﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت براء بن عازب رضي الله عنه ځخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

صَاحِبُ الدَّيْنِ مَأْسُوْرٌ بِدَيْنِهِ يَشْكُوْ إِلٰى رَبِّهِ الْوَحْدَةَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه في

قرضداري به د قرض په وجه قید وي او د قیامت په ورځ به خپل رب ته د خپل یوازي والي

Maktaba Tul Ishaat.com

شکایت کوي . (شرح السنة)

شرح السنة وروي أن معاذا كان يدان فأتى غرماؤه إلى النبي ﷺ فباع

او نقل سوي دي چي حضرت معاذ رضي الله عنه به قرض اخیستي (يو ځل) د هغه قرض ورکونکي د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سو

النبي ﷺ ماله كله في دينه حتى قام معاذ بغير شيء . مرسل هذا اللفظ

نبي کریم ﷺ د معاذ ټول سامان په قرض کي خرڅ کړل او معاذ رضي الله عنه مفلس سو .

المصابيح . ولم أجده في الأصول إلا في المنتقى وعن عبد الرحمن بن كعب بن مالك قال : كان معاذ بن جبل شابا سخيا وكان لا يمسك شيئا فلم يزل يدان حتى أغرق ماله كله في الدين فأتى النبي صلى الله عليه وسلم فكلمه ليكلم غرماءه فلو تركوا لأحد لتركوا لمعاذ لأجل رسول الله صلى الله عليه وسلم فباع رسول الله صلى الله عليه وسلم ماله حتى قام معاذ بغير شيء . رواه سعيد في سننه مرسلا .

(مصابيح). او عبد الرحمن بن كعب بن مالک رض وايي چي معاذ رضي الله عنه يو ځوان او سخي سړی وو هيڅ به يې د ځان سره نه ساتل (هرڅه به يې و نورو ته ورکول)او په دې خاطر به يې همېشه قرض اخيستي تر دې پوري چي د هغه ټوله مال په قرض ورکولو کي ختم سو بيا د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې و کړ چي نبي کريم ﷺ د هغه د پورورو سره خبري وکړي (يعني د قرض معافي يا د يو څو ورځو مهلت لپاره) نبي کريم ﷺ د پورورو سره خبري وکړې هغوی وويل : که موږ د يو چا قرض معافولای نو د رسول په وجه به موږ د معاذ رضي الله عنه قرض خامخا معاف کړی وای (يعني هغوی د قرض معافولو څخه انکار وکړ) نو رسول الله ﷺ د معاذ رضي الله عنه ټول سامان د پورورو لپاره خرڅ کړ او د معاذ سره هيڅ پاته نه سوه . (سعيد مرسلا)

تخريج: البغوي في شرح السنة ٨\٢٠٣، رقم: ٢١٤٨.

Maktaba Tul Ishaat.com

تشريح: خپل پروردګار ته د خپل يوازيوالي شکايت کوي: ددې مطلب دادی چي کله هغه سړی په جنت کي د داخلېدو اجازه تر لاسه نه کړي او د نيکبختو خلکو صحبت يې په برخه نه سي او هغه دا ويني چي ټول نيکبخته خلک جنت ته ځي او زه داسي بدبخت يم چي د هغوی د ملګرتيا او صحبت د سعادت څخه محروم يم او هغه داسي سفارش کونکی هم نه معلومېږي چي د يوازيوالي ددغه قيد څخه يې خلاص کړي نو د خپل يوازيوالي او ددغه قيد د وحشت څخه په پرېشانه کېدو سره به د الله تعالی په دربار کي شکايت کوي تر څو چي هغه د پور په وجه خلاصون تر لاسه نه کړي په دې توګه چي يا خو د هغه د پور په عوض کي خپل نيکۍ پور غوښتونکی ته ورکړي يا د پور غوښتونکو ګناهونه د هغوی د پور په عوض کي پر ځان بار کړي يا الله تعالی په خپل فضل او کرم سره د هغه پور غوښتونکي راضي کړي او هغوی خپل حق معاف کړي نو تر هغه وخته به هغه په دغه يوازيوالي کي وي، يعني دغه يوازيوالی به هم د هغه لپاره د عذاب په درجه کي وي چي د هغه سره به سخت تکليف او اذيت محسوسوي.

په يوه روايت کي داسي منقول دي چي پوروړی به د خپل پور په وجه په قبر کي بندي کړل سي او بيا به هغه الله تعالی د خپل بند او يوازيوالي شکايت کوي.

اصول هغه کتابو ته وايي چي په هغه کي حديثونه په سند سره نقل سوي دي، منتقی د ابن تيمي رحمة الله عليه د يو کتاب نوم دی، د مشکوة مؤلف د روايت الفاظ لم اجد الخ په ذريعه دا ښوول غواړي چي د مصابيح مصنف دغه روايت (و روی ان معاذا کان الخ) په الفاظو کي نقل کړی دی په هغه الفاظو سره دا روايت ما د اصولو په کتابو کي نه دی ليدلی بلکه دغه روايت په منتقی کي منقول دی او هغه هم په دغه الفاظو کي (وعن عبد الرحمن ... الخ).

علامه طيبي رحمة الله عليه فرمايي چي دغه الفاظ د منتقی دی او دلته د مشکوة مؤلف ځکه نقل کړي دي چي معلومه سي دغه حديث که څه هم د اصولو په کتابو کي نه سته چي مؤلف کتلي وي مګر په منتقی کي موجود دی مګر دغه روايت که د اصولو په کتابو کي نه وي نو صاحب منتقی به په خپل کتاب کي نه نقل کولای.

بيله عذره پور نه ادا کول

﴿٢٧٩٢﴾: وَعَنِ الشَّرِيْدِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيُّ الْوَاجِدِ

د حضرت شريد رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د مالداره سړي په قرض ادا

Maktaba Tul Ishaat.com

يُحِلُّ عِرْضَهُ وَعُقُوبَتَهُ قَالَ ابْنُ الْمُبَارَكِ يُحِلُّ عِرْضُهُ يُغْلَظُ لَهُ وَعُقُوبَتُهُ يُحْبَسُ لَهُ . رواه ابو داؤد والنسائي .

كولو كي ځنډ كول د هغه بې عزتي او سزا جائز كوي ابن مبارك رحمه الله وفرمايل بې عزتي څخه مراد و هغه ته سخت او سست ويل دي او د سزا څخه مراد بندي كول دي .(ابو داود نسائي)

تخريج: ابوداود في السنن ۴\۴۵-۴۶، رقم: ۳۶۲۸، والنسائي ۷\۳۱۶، رقم: ۱۰۰.

تشريح: مطلب دادی چي كوم څوک د توان او شتمن کېدو سربېره بېله عذره د خپل پور غوښتونكي پور نه ادا كوي نو د هغه بي عزتي هم مباح ده او هغه ته سزا وركول هم صحيح دي ځكه چي د هغه له خوا بېله عذره په ادا كولو كي ځنډ كول يو ډول ظلم دی ، د بې عزتۍ مطلب دادی چي هغه ته بد او رد وويل سي او د سزا مطلب دادی چي د حاكم او قاضي په ذريعه يې په بند كي واچوي .

د پوروړي د جنازې څخه د رسول الله ﷺ انكار

﴿۲۷۹۳﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ ته دلمانځه وركولو لپاره يوه

بِجَنَازَةٍ لِيُصَلِّيَ عَلَيْهَا فَقَالَ هَلْ عَلٰى صَاحِبِكُمْ دَيْنٌ قَالُوا نَعَمْ قَالَ هَلْ تَرَكَ

جنازه راوړل سوه نبي كريم ﷺ پوښتنه وكړه ايا پر ده باندي د چا قرض سته ؟ خلكو وويل بلې هو ! پوښتنه يې وكړه چي ايا ده يو څه مال پرېښبي دي ؟

لَهُ مِنْ وَفَاءٍ قَالُوا لَا قَالَ صَلُّوا عَلٰى صَاحِبِكُمْ قَالَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ عَلَيَّ

چي په هغه سره يې قرض ادا سي خلكو وويل : يا ! نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل تاسو وخپل قريب ته د جنازې لمونځ وركړي حضرت علي رضي الله عنه بن ابي طالب وويل يا رسول الله ﷺ !

دَيْنُهُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَتَقَدَّمَ فَصَلّٰى عَلَيْهِ . وفي رواية معناه وقال : فك الله

دده قرض ادا كول زما پر ذمه دي وروسته نبي كريم ﷺ و هغه ته د جنازې لمونځ وركړ او په يوه بل روايت كي دده هم معني الفاظ دي او په هغه كي دا الفاظ زيات دي

Maktaba Tul Ishaat.com

رهانك من النار كما فككت رهان أخيك المسلم ليس من عبد مسلم

د حضرت علي رضي الله عنه خبره اوريدو سره نبي كريم ﷺ وفرمايل: ته خداي تعالي د دوږخ د اور څخه ازاد كړي يا ازاد وي دي څنګه چي تا خپل مسلمان وروړ د قرض څخه سپک كړ

يقضي عن أخيه دينه إلا فك الله رهانه يوم القيامة". رواه في شرح السنة

او وروسته يې وفرمايل كوم مسلمان بنده چي د خپل مسلمان ورور قرض ادا كړي الله تعالي به د قيامت په ورځ دی د سختيو څخه وساتي. (شرح السنة)

تخريج: البغوي في شرح السنة ٨\٢١٣، رقم: ٢١٥٥.

د پور په اداكولو سره د مړ كيدونكي لپاره زيري

﴿٢٧٩٤﴾: وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ مَاتَ وَهُوَ بَرِيءٌ مِنْ الْكِبْرِ وَالْغُلُولِ وَالدَّيْنِ دَخَلَ الْجَنَّةَ. رواه الترمذي وابن ماجة والدارمي.

د حضرت ثوبان رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي وفات سي او د تكبر خيانت او قرض څخه پاک وي نو هغه به جنت ته ځي .(ترمذي ابن ماجه دارمي)

تخريج: الترمذي في السنن ٤\١١٧، رقم: ١٥٧٢، وابن ماجه في السنن ٢\٨٠٦، رقم: ٢٤١٢، والدارمي ٢\٣٤١، رقم: ٢٥٩٢.

د لغاتو حل: الغُلول: وهي الخيانة في المغنم والسرقة من الغنيمة قبل القسمة (د غنيمت په مال كي خيانت او غلا مخكي تر وېشلو).

د مفلسۍ په حالت كي پوروړی مړ كيدل ګناه ده

﴿٢٧٩٥﴾: وَعَنْ اَبِيْ مُوسٰى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ أَعْظَمَ

د حضرت ابو موسى رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د خداي تعالي په نزد د

الذُّنُوبِ عِنْدَ اللّٰهِ أَنْ يَلْقَاهُ بِهَا عَبْدٌ بَعْدَ الْكَبَائِرِ الَّتِي نَهَى اللّٰهُ عَنْهَا أَنْ

كبيره ګناهو څخه وروسته چي د هغه څخه الله تعالي منعه كړېده د ټولو څخه لويه ګناه داده چي بنده د خداي تعالي سره په داسي حالت كي يو ځاي سي

Maktaba Tul Ishaat.com

يَمُوتَ رَجُلٌ وَعَلَيْهِ دَيْنٌ لَا يَدَعُ لَهُ قَضَاءً . رواه احمد وابوداؤد .

چي په هغه باندي قرض وي او هغه دومره مال نه وي پرېښبي چي په هغه باندي يې قرض ادا سي .(احمد ابو داؤد)

تخريج: احمد في المسند ۴\۳۹۲، وابوداود في السنن ۳\۶۳۷، رقم: ۲۳۴۲.

تشريح: د مفلسۍ په حالت کي د پور د بار په اخيستلو سره د مړ کېدو ګناه ته د کبيره ګناه څخه وروسته درجه ځکه ورکړل سوې ده چي ګناه کبيره خو بذات خود ممنوع ده مګر پور اخيستل بذات خود ممنوع نه دي چي هغه ګناه کبيره وي بلکه په ځينو حديثو کي د خپل اړتياوو د پوره کولو لپاره پور اخيستلو ته مستحب ويل سوي دي ، په ځينو ځايو کي چي د پور منع سوې ده هغه ددې په وجه ده چي ډېر واره په پور اخيستلو کي د خلکو حقوق ضائع کيږي يعني پور اخيستونکی چي پور نه ادا کوي نو د پور غوښتونکی مال بېله وجه ضائع کيږي په دغه صورت کي پور اخيستل ګناه ګرځي .

ځيني حضرات وايي چي په حديث کي د ګناه کبيره دا وضاحت که وکړل سي چي داسي ګناه کبيره چي مشهوري وي لکه شرک ، زنا او داسي نور، نو مطلب به دا وي چي بالکل د مفلسۍ په حالت کي د پوروړی د مړ کېدو د ګناه درجه د مشهوري کبيره ګناه لکه شرک وغيره څخه وروسته ده نو په دغه صورت کي دا هم د نورو کبيره ګناهونو په شمېر کي راځي .

په حرامو شيانو کي صلح ناجائز ده

﴿۲۷۹۶﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ الْمُزَنِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

د حضرت عمر بن عوف مزني رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

الصُّلْحُ جَائِزٌ بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ إِلَّا صُلْحًا حَرَّمَ حَلَالًا أَوْ أَحَلَّ حَرَامًا

د مسلمانانو په مينځ کي صلحه کول جائز ده خو هغه صلحه جائز نه ده چي د حلال شی د حرامولو

وَالْمُسْلِمُونَ عَلَى شُرُوطِهِمْ إِلَّا شَرْطًا حَرَّمَ حَلَالًا أَوْ أَحَلَّ حَرَامًا . رواه الترمذي وابن ماجة وابوداؤد وانتهت روايته عند قوله شروطهم .

Maktaba Tul Ishaat.com

او د حرام شی د حلالولو موجب وي (مثلا صلحه په دې وکړي چي زه به د خپلي ښځي سره جماع نه کوم یا په دې خبره صلحه وکړي چي زه به شراب څیښم) او کوم شرطونه چي مسلمانانو صلحه او وغیره کي کړې وي د هغه پابندي په هغه باندي واجب ده خو د هغه دشرطونو پابندي لازمه نه ده چي حلال حراموي او حرام حلالوي . (ترمذي ابن ماجه ابو داؤد)او ابوداود خپل روایت په ((شروطهم)) لفظ باندي ختم کړي دي .

تخریج: الترمذي في السنن ۳\ ۶۳۴، رقم: ۱۳۵۲، وابن ماجه في السنن ۲\ ۷۸۸، رقم: ۲۳۵۳، وابوداود في السنن ۴\ ۱۹، رقم: ۳۵۹۴.

تشریح: د ناجائز صلح مثال دادی چي مثلا یو سړی پر دې خبره صلح وکړي چي زه به د خپل ښځي سره جماع نه کوم نو دا صلح صحیح نه ده ځکه چي په دې کي د یو داسي شي پر ځان حرامول لازمیږي چي هغه بالکل حلال او جائز دی ، همدارنګه هغه صلح هم جائز نه ده چي حرام شی حلال کړي مثلا یو څوک پر دې باندي صلح وکړي چي زه به شراب څیښم یا خنزیر به خورم په دې کي حرام شی د ځان لپاره حلال ګڼل دي .

د کوم شرط پابندي چي جائز نه ده : ددې مثال دادی چي یو سړی د خپل ښځي سره دا شرط او عهد وکړي چي زه به د خپلي مینزي سره جماع نه کوم په دې کي د یو داسي شی پر خپل ځان د حرامولو شرط دی چي حلال دی یا مثلا د یو داسي خبري شرط وتړي چي زه به د خپل ښځي په موجودتیا کي د هغې د خور سره واده کوم ددغه شرط او عهد پابندي هم صحیح نه ده ځکه چي په دې کي د یو داشي شی د ځان لپاره حلال ګرځول لازمیږي کوم چي قطعا حرام دی .

په ظاهره خو دغه روایت ددغه باب سره تعلق نه لري مګر د کتاب مؤلف دغه حدیث دلته نقل کړی دی ځکه نو ویل کیږي چي د رانیولو او پلورلو په معاملاتو کي د مفلس او ډیوالي کېدو پر وخت اکثر د صلح او شرطو نوبت راځي ځکه نو په دغه مناسبت سره دلته د غه حدیث نقل سوی دی .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د رسول الله ﷺ توکر رانیول

﴿۲۷۹۷﴾: عَنْ سُوَيْدِ بْنِ قَيْسٍ قَالَ جَلَبْتُ أَنَا وَمَخْرَفَةُ الْعَبْدِيُّ بَزًّا مِنْ

د حضرت سوید بن قیس رضي الله عنه څخه روایت دی چي ما او مخرمه عبدي د مقام هجر څخه د خرڅ

هَجَرَ فاتينا به مكة فَجَاءَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْشِيْ فَسَاوَمَنَا

لپاره تهو کر رانیول بیا هغه تهو کر موږ مکې ته راوړی رسول الله ﷺ پیاده زموږ خوا ته تشریف راوړی او زموږ سره یې د یوه پرتوګ سودا وکړه

بِسَرَاوِيلَ فَبِعْنَاهُ وَثَمَّ رَجُلٌ يَزِنُ بِالْاَجْرِ فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

موږ پر ده باندې د یوه پرتوګ تهو کر خرڅ کړ په دې کې یو سړي په مزدوري تول کوی رسول الله ﷺ و هغه ته وفرمایل:

وَسَلَّمَ زِنْ وَاَرْجِحْ . رواه احمد وابوداؤد والترمذي وابن ماجة والدارمي وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح .

ته د دې قیمت مال تول کړه او څه یې زیات تول کړه .(احمد ابو داؤد ترمذي ابن ماجه دارمي) دا حدیث په قول د ترمذي حسن صحیح دي .

تخریج: الامام احمد في المسند ۴\ ۳۵۲، وابوداود ۳\ ۶۳۱، رقم: ۳۳۳۶، والترمذي ۳\ ۵۹۸، رقم: ۱۳۰۵، وابن ماجه ۲\ ۷۴۸، رقم: ۲۲۲۰، والدارمي ۲\ ۳۳۸، رقم: ۲۵۸۵.

تشریح: ابولیلی په خپل مسند کې د حضرت ابوهریره ؓ څخه روایت نقل کړی دی چې رسول الله ﷺ هغه پرتوګ په څلور درهمه رانیولی وه ، د حدیثو څخه یوازې د رسول الله ﷺ پرتوګ رانیول ثابتیږي دا نه ثابتیږي چې رسول الله ﷺ هغه پرتوګ اغوستی وو .

په دغه حدیث کې د رسول الله ﷺ د تواضع او انکسارۍ بیان دی چې رسول الله ﷺ د پرتوګ رانیولو لپاره خپل تشریف راوړ ، او دلته د رسول الله ﷺ د اخلاقو کمال او کرم اظهار هم کیږي چې رسول الله ﷺ پرتوګ خرڅونکي ته د فیصله سوې قیمت څخه زیات مال ورکړی .

دغه حدیث په ظاهره د دغه باب د موضوع سره اړوند نه دی مګر دا به وویل سي چې ځیني وختونه د پلورنکي مفلسي او د هغه د غریبۍ په وجه هغه ته د احسان له کبله د ټاکل سوي قیمت څخه زیات ورکول پکار وي نو په دغه مناسبت سره دغه حدیث دلته نقل سوی دی .

د پور په ادا کولو کې غیر مشروط زیاتوب جائز دی

﴿۲۷۹۸﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ لِي عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَيْنٌ

Maktaba Tul Ishaat.com

فَقَضَانِي وَزَادَنِي . رواه ابوداؤد.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي پر رسول الله ﷺ زما يو څه اندازه پور وو نو نبي كريم ﷺ زما پور ادا كړ او څه يې زيات راكړ .(ابوداؤد)

تخريج: سنن ابي داود ۳\ ٦٤٢، رقم: ۳۳٤٧.

تشريح د دغه دواړو حديثو څخه معلومه سوه چي يو څوک د يو چا څخه غوښتنه (مثلاً پور) ومني او د خپل طرف څخه يو څه زيات وركړي په شرط د دې چي هغه زياتوب د پور پر وخت مشروط نه وي نو دا صحيح دی او دې ته به سود نه ويل كيږي ځكه چي سود خو هغه زياتوب ته وايي چي د پور وركولو پر وخت مشروط كړل سي مثلاً سل روپۍ د يو چا كلي وخت په وعده د پور په توګه يو چا ته وركړي او دا شرط كښيږدي چي د دغه پور د بېرته راكولو پر وخت به لس روپۍ زياتي راكوې نو دا قطعا حرام دی.

د پور په ادا كولو كي تلوار وكړئ

﴿۲۷۹۹﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ اَبِيْ رَبِيْعَةَ قَالَ اسْتَقْرَضَ مِنِّي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ

د حضرت عبد الله بن ابي ربيعه رضي الله عنه څخه روايت دی چي زما څخه رسول الله ﷺ پور واخيستی

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعِينَ أَلْفًا فَجَاءَهُ مَالٌ فَدَفَعَهُ إِلَيَّ وَقَالَ بَارَكَ اللهُ لَكَ فِي أَهْلِكَ

څلوېښت زره (درهمه)، وروسته رسول الله ﷺ ته مال راغلی او زما قرض يې ادا كړ او ويې فرمايل: خدای تعالی دي ستا او ستا په اهل و عيال كي بركت واچوي

وَمَالِكَ إِنَّمَا جَزَاءُ السَّلَفِ الْحَمْدُ وَالْأَدَاءُ . رواه النسائي .

د قرض بدله داده چي د خداي جل جلاله شكر ادا كړل سي د هغه تعريف وكړل سي او قرض ادا كړل سي .(نسائي)

تخريج: سنن النسائي ٧\ ٣١٤، رقم: ٤٦٩٧.

د لغاتو حل: السلف: ای القرض (پور).

پوروړي ته د وخت وركول ثواب دي

﴿۲۸۰۰﴾: وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

Maktaba Tul Ishaat.com

مَنْ كَانَ لَهُ عَلَى رَجُلٍ حَقٌّ فَمَنْ أَخَّرَهُ كَانَ لَهُ بِكُلِّ يَوْمٍ صَدَقَةٌ. رواه احمد.

د حضرت عمران بن حصين ﷜ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د چا چي په بل چا پور وي او هغه د هغه په ورکولو کي ځنډ وکړي نو د مهلت ورکونکي هره ورځ صدقه ده. (احمد)

تخريج: الامام احمد في المسند ۴\۴۴۲-۴۴۳.

پور پر ميراث مخته دی

﴿۲۸۰۱﴾: وَعَنْ سَعْدِ بْنِ الْأَطْوَلِ قَالَ مَاتَ أَخِي وَتَرَكَ ثَلَاثَ مِائَةِ دِينَارٍ

د حضرت سعد بن اطول ﷜ څخه روايت دی چي زما ورور وفات سو او هغه دري سوه ديناره او

وَتَرَكَ وَلَدًا صِغَارًا فَأَرَدْتُ أَنْ أُنْفِقَ عَلَيْهِمْ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

کوچني بچيان پرېښودل ما غوښتل چي هغه پيسې د هغه په کوچنيانو باندي خرڅي کړم رسول الله ﷺ ته زما اراده معلومه سوه نو يې وفرمايل:

وَسَلَّمَ إِنَّ أَخَاكَ مَحْبُوسٌ بِدَيْنِهِ فَاقْضِ عَنْهُ قَالَ فَذَهَبْتُ فَقَضَيْتُ عَنْهُ ثُمَّ

ستا ورور د قرض په وجه قيد دي (يعني د خداي په نزد) ته د هغه پور ادا کړه نو بيا ما د هغه ټوله پور ورادا کړ وروسته

جِئْتُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَدْ قَضَيْتُ عَنْهُ وَلَمْ يَبْقَ إِلَّا امْرَأَةٌ تَدَّعِي

زه حاضر سوم او وه مي ويل يا رسول الله! ما د ورور ټوله پور ادا کړ يوازي يوه ښځه پاته سوې

دِينَارَيْنِ وَلَيْسَتْ لَهَا بَيِّنَةٌ قَالَ أَعْطِهَا فَإِنَّهَا صَادِقَةٌ. رواه احمد.

ده چي د دوو دينارو دعوی کوي ليکن د هغې هيڅ شاهد نسته رسول الله ﷺ را ته وفرمايل: دوه ديناره و هغې ته ورکړه هغه رښتيا ويونکې وه. (احمد)

تخريج: الامام احمد في المسند ۵\۷.

تشريح کيدای سي چي رسول الله ﷺ ته د سعد ﷜ د ورور د پور حال ښه وحي په يو بله ذريعه معلوم سوی وي ځکه رسول الله ﷺ سعد ﷜ ته د هغه د پور د ادا کولو حکم ورکړ، ځکه د حاکم لپاره دا جائز ده چي هغه پر خپل معلومات باندي په باور کولو سره حکم جاري کړي او

Maktaba Tul Ishaat.com

يا كيداى سي چي رسول الله ﷺ ته به د وحي په ذريعه د هغه د پور حال معلوم سوى وي.
د دغه حديث څخه معلومه سوه چي پور پر ميراث مقدم دى يعني د مړي د مال او زر څخه مخكي د خلكو هغه غوښتني دي پوره كړل سي كوم چي هغه پر خپل ذمه پرې ايښى دي او د هغه څخه وروسته چي څه پاته سي نو هغه دي پر وارثانو وويشل سي.

په وار وار شهيد كېدل هم د پور كفاره نه كيږي

﴿۲۸۰۲﴾: وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ جَحْشٍ قَالَ كُنَّا جُلُوسًا بِفِنَاءِ الْمَسْجِدِ

د محمد بن عبد الله بن جحش رضي الله عنه څخه روايت دى چي موږ د مسجد په انګړ كي ناست وو

حَيْثُ تُوضَعُ الْجَنَائِزُ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ بَيْنَ ظَهْرَيْنَا

په هغه ځاي چي جنازه ايښودل كېده او رسول الله ﷺ زموږ په مينځ كي ناست وو،

فَرَفَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَصَرَهُ قِبَلَ السَّمَاءِ فَنَظَرَ ثُمَّ طَأْطَأَ

نبي كريم ﷺ خپلي سترګي د اسمان و لور ته پورته كړې او ورته يې وكتل وروسته يې خپل

بَصَرَهُ وَوَضَعَ يَدَهُ عَلَى جَبْهَتِهِ قَالَ سُبْحَانَ اللهِ سُبْحَانَ اللهِ مَاذَا نَزَلَ مِنَ

نظر كښته كړ او خپل لاس يې پر تندي كښېښودي او ويې فرمايل: الله پاك دي الله پاك دي
څومره سختي نازله سوې ده.

التَّشْدِيدِ قَالَ فَسَكَتْنَا يَوْمَنَا وَلَيْلَتَنَا فَلَمْ نَرَ الا خَيْرًا حَتَّى أَصْبَحْنَا قَالَ

د راوي بيان دي موږ يوه شپه او يوه ورځ خاموشه وو او ماسپوا د خير څخه مو بل هيڅ په نظر را
نغلى تر دې چي سبا سو

مُحَمَّدٌ فَسَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا التَّشْدِيدُ الَّذِي نَزَلَ قَالَ

محمد راوي وايي چي ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وكړه هغه كومه سختي ده چي نازله
سوې ده؟ نبي كريم ﷺ وفرمايل:

فِي الدَّيْنِ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَوْ أَنَّ رَجُلًا قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللهِ ثُمَّ عَاشَ

Maktaba Tul Ishaat.com

چي هغه سختي د پور له درکه ده په هغه ذات دي مي قسم وي چي د چا په لاس کي د محمد روح ده که څوک د خداي تعالي په لاره کي مړ سي او بيا ژوندی سي

ثُمَّ قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللهِ ثُمَّ عَاشَ ثم قتل في سبيل الله ثم عاش وَعَلَيْهِ دَيْنٌ

بيا د خداي تعالي په لاره کي مړ سي بيا ژوندی سي بيا د خدای ﷻ په لاره کي مړ سي بيا ژوندی سي او پر هغه باندي پور وي

مَا دَخَلَ الْجَنَّةَ حَتَّى يَقْضِيَ دَيْنَهُ .رواه احمد و في شرح السنة نحوه.

نو هغه به تر هغه وخته پوري جنت ته نه داخليږي تر څو پوري چي د هغه قرض ادا نه کړل سي. (احمد شرح السنة).

تخريج: الامام احمد في المسند ۵\۲۸۹، رقم: ۲۱۴۵،

د لغاتو حل: فِناء: هو المتسع امام الدار. (انکړ)

تشريح: په دغه حديث شريف کي دده خبري دليل دی چي رسول الله ﷺ او صحابه کرامو به د جنازې لمونځ په مسجد کي نه کوی بلکه د مسجد څخه د باندي په يو بل ځای کي به يې کوی.

=========

بَابُ الشِّرْكَةِ وَالْوَكَالَةِ

(د شراکت او وکالت بيان)

د شرکت لغوي معنی د يو ځای کولو ده مګر د شريعت په اصطلاح کي د دوو کسانو په مينځ کي يو داسي عقد او معامله کېدل چي په هغه کي دوی په اصل او ګټه دواړو کي شريک وي.

د شراکت دوه ډولونه دي يو شرکت ملک او بل شرکت عقد ، شرکت ملک دې ته وايي چي دوه يا څو کسان د رانيولو يا هبه او يا ميراث په ذريعه د يو شی مالکان وي يا دوه کسان په مشترکه توګه يو مباح شی تر لاسه کړي مثلا دوه کسان په يو ځای کېدو سره ښکار وکړي او هغه ښکار د دواړو مشترک ملکيت وي يا دوه کسان د يوه جنس په بېل بېل مال کي داسي يو ځای سي چي د هغه دواړو د مال امتياز ونه کړل سي مثلا د زيد شېدې د بکر د شېدو سره يو ځای سي يا هغه دواړه خپل مال په قصد سره د يو بل په مال کي يو ځای کړي نو دا ټول د شرکت ملک صورتونه دي او دده شرعي حکم دادی چي هر يو شريک د خپل دوهم شريک په برخه

کي د پردي سړي په ډول دی او هر شریک خپل برخه د بل شریک د اجازې څخه پرته پلورلای سي ، البته په اخري دوو صورتو کي (یعني د یو بل د مال په یو ځای کېدو کي یا خپل مال د بل په مال کي په قصد سره یو ځای کولو په صورت) هیڅ یو شریک هم خپله برخه د دوهم شریک د اجازې څخه پرته خرڅولای نه سي .

د شرکت عقد مطلب دادی چي د شریکانو د ایجاب او قبول په ذریعه د خپل حقوقو او مالو یو ځایکول، ددې صورت دادی چي یو څوک بل ته ووايي چي ما قبول کړ، همدارنګه د شرکت عقد رکن یعني بنیاد ایجاب او قبول دی او د صحیح کېدو شرط یې دادی چي د شراکت په معاهده کي داسي مطلقات شامل نه وي چي هغه د شرکت بنیادي اصول فوت کړي لکه په شریکانو کي د یو شریک د ځان لپاره ګټه ټاکل او مخصوص کول مثلاً په یو تجارت کي دوه کسان شریک دي او په هغوی کي یو شریک دا شرط ولګوي چي د دغه تجارت څخه په لاس ته راتلونکې ګټې کي زه پنځه سوه روپۍ د میاشتي اخلم دا شرط د مشترک او متحد د معاملاتو بالکل خلاف دي چي د شرکت بنیادي اصول او مقاصد فوت کوي ځکه د شرکت په معاهده کي داسي شرط نه لګول د شرکت د صحیح کېدو لپاره شرط دی .

د شرکت عقد څلورو ډولونه دي ۱: شرکت مفاوضه، ۲: شرکت عنان ، ۳: شرکت ضائع والتقبل، ۴: شرکت وجوه .

شرکت مفاوضه دادی چي یو څوک دا شرط ولګوي یعني په خپلو کي دا فیصله وکړي چي په مال کي، په تصرف کي، په مفاوضه کي به دواړه شریک یو مګر د دغه شرکت د صحیح کېدو شرط دادی چي هغه دواړه په دین او مذهب کي هم یو ډول او برابر وي دغه شرکت د یو بل وکالت او کفالت لازموي یعني په شرکت مفاوضه کي شریکان د یو بل وکیل او کفیل دي نوم دغه شرکت د مسلمان او ذمي په مینځ کي جائز نه دی ځکه چي د دین او مذهب په اعتبار دواړه یو ډول او مساوي نه دي همدارنګه د غلام او ازاد په مینځ کي او د بالغ او نابالغ په مینځ کي هم دغه شرکت جائز نه دی ځکه چي دوی په تصرف کي مساوي او یو ډول نه دي .

د دغه شرکت په معاهده او شرطو کي لفظ د مفاوضت یا ددې ټول متقضیات بیانول او واضح کول ضروري دي په دغه شرکت کي د عقد او معاهدې پر وخت د شریکانو خپل خپل مال ورکول یا خپل خپل مال یو ځای کول شرط نه دی، په دغه شرکت کي شریکان د یو بل کفیل او وکیل دي ځکه که په دوی کي یو څوک د خپل کورنۍ د خوراک او جامو څخه پرته یو شی رانیسي نو هغه به د ټولو شریکانو ملکیت وي .

Maktaba Tul Ishaat.com

د امام محمد رحمه الله په نزد شرکت مفاوضه او عنان یوازي په داسي مال کي صحیح کیدای سي چي د روپو، اشرفیو او د وخت د نوټ او سکې په شکل کي وي او د سرو زرو او سپینو زرو په سکو کي هم جائز دی په شرط د دې چي د هغه په ذریعه رانیول او پلورل کیږي او که چیري په شریکانو کي یو څوک د وارث یا بلي ذریعې په وجه د یو داسي مال مالک سو چي په هغه کي مفاوضت صحیح کیدای سي لکه روپۍ، اشرفۍ او داسي نور نو د شرکت او مفاوضت په باطل کېدو سره به شرکت عنان جوړ سي او که په شریکانو کي یو څوک د یو داسي مال وارث سي چي په هغه کي شرکت مفاوضت نه سي کیدای لکه اسباب، سرای، مځکه او داسي نور نو شرکت مفاوضت به پاته وي.

شرکت عنان دادی چي دوه کسان په یو خاصه معامله کي مثلاً تجارت وغیره کي شریک وي او هغوی دواړه په ذکر سوو شیانو یعني تصرف او دین کي یو ډول او برابر وي یا یو ډول نه وي، دغه شراکت د یو بل وکالت لازموي مگر کفالت نه لازموي مگر د شریکانو د یو بل په وکیل کېدو سره کفیل او امین هم کیږي مگر په هغه کار کي چي په هغه کي دوی شریک وي.

شرکت ضائع والتقبل دادی چي دوه کسب کاره کسان مثلاً خیاطان په دې شرط په شراکت کار کوي چي دواړه به په کار کي شریک وي او یو ځای به کار کوي او بیا چي څه مزدوري په لاس راسي هغه به په دواړو کي ویشل کیږي که د دوی د شرکت په معاهده کي دا شرط وي چي کار به دواړه نیم نیم کوي مگر په گټه کي به یو نیمی برخه اخلي او بل به دریمه برخه اخلي نو دا شرط جائز دی، په دواړو شریکانو کي چي هر څوک د یو چا کار پر ذمه واخلي نو د هغه کول پر دواړو ضروري دي داسي نه ده چي کوم شریک کار اخیستی وي هغه دي دغه کار کوي، همدارنگه کار راوړونکی سړی په شریکانو کي د دواړو څخه خپل کار غوښتلای سي همدارنگه شریکانو ته به په مساوي توگه دا حق حاصل وي چي د هغه د یو کار مزدوري هم تر لاسه کړي او په هغوی کي به یو مزدوري ورکونکی بري الذمه سي، د کار په گټه کي به دواړه برخه لرونکي وي که دواړه هغه کار وکړي او که یوازي یو یې وکړي.

شرکت وجوه دادی چي داسي دوه کسان چي د هغوی سره خپل سرمایه او مال نه وي په دې شرط یو مشترک کار وکړي چي دواړه به په خپل خپل حیثیت او اعتبار سره په پور سامان راوړي او هغه به پلوري او گټه به ویشي، که چیري د دواړو په شراکت کي د مفاوضت شرط وي نو هغه به صحیح وي او که چیري هغوی شراکت بېله مفاوضت یعني مطلق وساتي نو د هغوی دغه شراکت به عنان وي، دغه شراکت د تجارت لپاره په رانیول سوي مال کي وکالت لازموي

Maktaba Tul Ishaat.com

یعني هغوی چي د خپل ځان لپاره د پلورلو کوم مال رانیولی دی د یو بل وکیل به وي که په دواړو کي دغه شرط موجود وي نو د هغه په ګټه کي به هم دواړه نیم په نیم حقدار وي او که دا شرط ولګوي چي کوم مال راوړل سوی دی په هغه کي به د یوه نیمی برخه وي او د بل به دریمه برخه نو د هغه ګټه به هم په دغه اعتبار سره ویشل کیږي په ګټه کي د کموالي او زیاتوب شرط به باطل وي او دا به جائز نه وي چي هغوی دي مال نیم په نیم وویشي، او په ګټه کي دي کموالي او زیاتوب وکړي په دې توګه چي یو دي د ګټي دوې برخي واخلي او بل دي یوه برخه واخلي او ددې وجه داده چي د ګټي استحقاق ضمان یعني د ذمه دارۍ په وجه وي او ضمان د هغه رانیول سوي شی د ملک تابع دی مثلاً په هغوی کي یو د مال د نیمي برخه مالک سي نو هغه ته نیم قیمت ادا کوي او کوم چي د دوو برخو مالک سي نو هغه به د دوو برخو قیمت ادا کوي ځکه چي ګټه هم د ملکیت سره سم تر لاسه کیږي، څوک چي د څومره برخي مالک سي هغومره به ګټه تر لاسه کوي او په هغه شي کي شرکت جائز نه دی چي په هغه کي وکالت صحیح نه وي لکه لرګي پریکول، وابنه کول، ښکار کول، اوبه راوړل او داسي نور نو په دواړو کي چي کوم څوک اوبه راوړي هغه به د هغه مالک وي که بل شریک د هغه سره مرسته وکړي نو هغه به د رواجي مزدورۍ سره سم د خپل مزدورۍ اخیستلو حقدار وي.

د وکالت معنی داده چي د خپل حق او مال په تصرف کي بل څوک خپل قائم مقام کړي، د وکالت د صحیح کېدو شرط دادی چي مؤکل (یعني بل څوک چي وکیل جوړ سوی وي) د تصرف مالک وي او کوم سړی چي وکیل جوړیدای سي هغه په هغه معامله پوهیږي په کوم کي چي هغه وکیل جوړ سوی وي.

کومه معامله چي یو چا ته په خپله کول جائز وي په هغه کي د بل چا وکیل کول هم جائز دي او کومه معامله چي یو چا ته په خپله کول جائز نه وي نو په هغه کي وکیل جوړول هم جائز نه دي مثلاً یو څوک د شرابو، خنزیر یا نورو حرامو شیانو د رانیولو او پلورلو لپاره یو څوک وکیل کړي نو دا صحیح نه ده، د ټولو حقوقو په ادا کولو او د هغه په تر لاسه کولو کي وکیل جوړول جائز دي همدارنګه پر حقوقو باندي د قبضې کولو لپاره هم وکیل جوړول جائز دي مګر په حدود او قصاص کي جائز نه دی ځکه چي د هغه په انجام کي سره د متوکل په هغه ځای کي دنه موجود کېدو وکالت نه صحیح کیږي.

امام ابو حنیفة رحمه الله فرمایي چي د حقوقو د جواب ویلو لپاره وکیل جوړول د دوهمي خوا د رضامندۍ څخه پرته جائز نه دي مګر که چیري مؤکل ناروغ وي یا په درې منزله مسافت

Maktaba Tul Ishaat.com

باندي وي يا ددې څخه زيات ليري وي نو بيا جائز دي، مگر صاحبين يعني امام ابويوسف او امام محمد رحمة الله عليهما فرمايي چي د دوهمي خوا د رضامندی څخه پرته هم د حقوقو د جواب ويلو لپاره وكيل جوړول جائز دی.

د شركت او وكالت په باره كي دغه اصول او مسئلې د فقهي په كتابو كي ليكل سوي دي د نور زيات تفصيل لپاره د فقه كتابو ته مراجعه وكړئ.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

په عقود كي شركت جائز دی

﴿۲۸۰۳﴾: عَنْ زُهْرَةَ بْنِ مَعْبَدٍ أَنَّهُ كَانَ يَخْرُجُ بِهِ جَدُّهُ عَبْدُ اللهِ بْنُ هِشَامٍ

د حضرت زهره بن معبد رضي الله عنه څخه روايت دی چي د هغه نيكه عبدالله بن هشام به بازار ته بوتلو

إِلَى السُّوقِ فَيَشْتَرِي الطَّعَامَ فَيَلْقَاهُ ابْنُ عُمَرَ وَابْنُ الزُّبَيْرِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا

او هلته به يې غله رانيوله هلته ابن عمر او ابن زبير رض ورسره يو ځای سوه

فَيَقُولَانِ لَهُ أَشْرِكْنَا فَإِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ دَعَا لَكَ بِالْبَرَكَةِ

او ورته يې وويل: موږ هم د ځانه سره شريک کړه ځکه چي رسول الله ﷺ تاته د برکت دعا کړې ده

فَيُشْرِكُهُمْ فَرُبَّمَا أَصَابَ الرَّاحِلَةَ كَمَا هِيَ فَيَبْعَثُ بِهَا إِلَى الْمَنْزِلِ وَكَانَ

نو هغه به دوی هم شريكان كول او زما نيكه دومره وګټل چي اوښ به يې په بار کړی او کور ته به يې ورل د زهره بيان دي زما نيكه

عَبْدُاللهِ بْنِ هِشَامٍ ذَهَبَتْ بِهِ أُمُّهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَسَحَ رَأْسَهُ وَدَعَا لَهُ بِالْبَرَكَةِ. رواه البخاري.

عبدالله بن هشام رضي الله عنه د هغه مور نبي كريم ﷺ ته بيولي وو نبي كريم ﷺ د هغه پر سر لاس را تير کړی وو او د برکت دعا يې ورته کړې وه. (بخاري)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵\۱۳۶، رقم: ۲۵۰۱.

د لغاتو حل: الراحلة: اى ربما ربح من الطعام حمل بعير.

Maktaba Tul Ishaat.com

د انصارو په مال کي د مهاجرينو شرکت

﴿۲۸۰۴﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَتِ الْأَنْصَارُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو هريره ﷛ څخه روايت دی (کوم وخت چي مهاجرين مدينې منورې ته راتلل) انصارو رسول الله ﷺ ته وويل

اقْسِمْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ إِخْوَانِنَا النَّخِيلَ قَالَ لَا فَقَالُوا تَكْفُونَا الْمَئُونَةَ وَنَشْرَكُكُمْ فِي الثَّمَرَةِ قَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا. رواه البخاري.

چي زموږ او زموږ د (مهاجرينو) وروڼو په مينځ کي د خرماؤ ونې تقسيم کړه نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: زه وني نه تقسيموم تاسو دومره اندازه وکړي چي مهاجرين د کومک په حيث د محنت او مشقت مدد کاره کړئ (يعني د ونو حفاظت او اوبه ورکوئ) او موږ په پيداوار کي در سره شريک يو انصارو وويل اورو موږ او اطاعت کوو ستا .(بخاري)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۸۱۵، رقم: ۲۳۲۵،

د لغاتو حل: وبين اخواننا: (اى المهاجرون).

تشريح: کله چي د مکې پر مسلمانانو د هغوی د هيواد مځکه تنګه سوه او د الله تعالی او د هغه د رسول په حکم هغوی د مکې څخه هجرت وکړی او مدينې منورې ته ولاړل نو هغوی خپل ټول سامان او مال په مکه کي پرې ايښی وو ځکه دلته په مدينه کي د هغوی د ژوند د اړتياوو ذمه داري د مدينې منورې مسلمانانو (چي هغوی ته انصار ويل کيږئ) پر خپل غاړه واخيستل ، د دغه مشکل حل داسي وسو چي رسول الله ﷺ د انصارو او مهاجرينو په مينځ کي ورورولي قائمه کړه ، د مدينې انصارو په خپل ټول مال او اسبابو کي مهاجرين د خپل ځان شريکان کړل ، دلته انصارو د رسول الله ﷺ څخه خواست وکړ چي زموږ د خرماوو درختي هم زموږ او زموږ د مهاجرو وروڼو په مينځ کي وويشئ ، رسول الله ﷺ هغوی ته وفرمايل چي زه درختي نه ويشم بلکه تاسو خلک د دغه درختو کتنه کوئ او هغو ته د اوبو ورکولو او نور تکليف ګالئ ځکه نو ستاسو دغه ناروغ او کمزوري مهاجر وروڼو به دغه تکليف او محنت ونه زغملای سي بيا چي کله ميوه تياره سي نو زه به ستاسو او مهاجرينو په مينځ کي ويش وکړم ، د رسول الله ﷺ دغه فيصله انصارو په خوبنی سره قبوله کړه .

Maktaba Tul Ishaat.com

د دغه حديث ځخه معلومه سوه چې د خپل مسلمان وروړ مرسته کول د هغوی سره ښه چلن کول او د هغوی لپاره تکلیف او محنت پر ځان وړل مستحب دی او دا حدیث د شرکت د صحیح کېدو دلیل هم دی.

په معاملاتو کي وکيل تاکل جائز دي

﴿۲۸۰۵﴾: وَعَنْ عُرْوَةَ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ الْبَارِقِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عروه بن ابن جعد بارقي رضي الله عنه ځخه روايت دی چي رسول الله ﷺ ماته يو دينار د يوه

أَعْطَاهُ دِينَارًا لِيَشْتَرِيَ لَهُ بِهِ شَاةً فَاشْتَرَى لَهُ بِهِ شَاتَيْنِ فَبَاعَ إِحْدَاهُمَا

پسه رانيولو لپاره را کړ نو هغه د رسول الله ﷺ لپاره په يوه دينار باندي دوه پسونه را نيول او بيا يې يو پسه د يوه دينار په بدل کي خرڅ کړ

بِدِينَارٍ واتاه بشاة و دينار فَدَعَا لَهُ رسول الله صلى الله عليه وسلم فِي بَيْعِهِ بِالْبَرَكَةِ فكان لَوِ اشْتَرَى التُّرَابَ لَرَبِحَ فِيهِ. رواه البخاري

او د يوه پسه او يوه ديناره سره د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سو رسول الله ﷺ د هغه په رانيولو او خرڅولو کي د برکت دعا وکړه نو بيا که هغه خاوري هم اخيستې نو په هغه کي به يې گټه کوله. (بخاري.

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ٦\٦٣٢، رقم: ٣٦٤٢.

تشريح: ابن ملک رحمه الله فرمايي چي ددغه حديث ځخه معلومه سوه چي په تجارتي معاملاتو کي وکالت جائز دی همدا رنګه په هغه ټولو شيانو کي يو ځوک خپل وکيل جوړول هم صحيح دي چي په هغه کي نيابت او قائم مقامي کيږي.

که يو ځوک د يو چا مال د هغه د اجازې ځخه پرته خرڅ کړي نو بيع منعقد کيږي مگر د هغه صحيح کېدل د مالک پر اجازې موقوف دی که مالک اجازه ورکړي نو بيع صحيح کيږي دا د حنفيه مذهب دی مگر د امام شافعي رحمه الله په نزد د مالک د اجازې ځخه پرته د هغه د مال خرڅول جائز نه دي که ځه هم وروسته د مالک اجازه تر لاسه سي.

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د امانت داره شریکانو الله ﷻ ساتونکی وي

﴿۲۸۰۶﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَفَعَهُ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ يَقُولُ أَنَا ثَالِثُ الشَّرِيكَيْنِ مَا لَمْ يَخُنْ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ فَإِذَا خَانَهُ خَرَجْتُ مِنْ بَيْنِهِمَا . رواه ابوداؤد و زاد رزين وجاء الشيطان .

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه مرفوعا روایت دی چي خداوند تعالي فرمایي :زه د دوو شریکانو په مینځ کي دریم یم تر څو پوري چي هغوی یو د بله سره خیانت نه کوي او کله چي هغوی خیانت کول پیل کړئ نو زه د هغوی څخه جلا کېږم .(ابو داؤد) او د رزین په اخیر کي دا الفاظ زیات کړي دي او شیطان په هغوی کي شامل سي .

تخریج: ابوداود في السنن ۳\ ۶۷۷، رقم: ۳۳۸۳.

تشریح: د دوو شریکانو په مینځ کي دریم یم : ددې مطلب دادی چي تر څو پوري شریکان په دیانت، امانت او ایمانداری سره په خپلو کي شریک وي نو زما د محافظت او برکت سایه به پر هغوی وي په دې توګه چي زه هغوی د هر تاوان او تباهی څخه ساتم د هغوی پر مال باندي یو آفت او تاوان نه نازلوم د هغوی په رزق کي پراختیا راولم د هغوی په معاملاتو کي خیر ښېګړه ساتم او په هر ځای کي د هغوی مرسته کوم .

د هغوی څخه لیري سم : ددې مطلب دادی چي کله په شریکانو کي د بې ایمانی مکروب پیدا سي او هغوی د یو بل سره خیانت شروع کړي نو زما د ساتني او برکت سایه د هغوي څخه ختمه سي او ددې پر ځای شیطان خپل تسلط پر راولي او ددې پای به دا سي چي شریکان به د پوره تاوان او تباهی کندي ته ورسیږي او د هغوی د مال او رزق څخه به برکت ختم سي .

ددغه حدیث څخه معلومه سوه چي په معاملاتو کي په خاصه توګه په تجارت او داسي نورو کاروبارو کي شرکت مستحب دی ځکه چي ددې په وجه په کاروبار او مال کي الله تعالی برکت نازلوي کوم چي یوازي کاروباري ته نه رسیږي ځکه په کوم کاروبار کي چي دوه کسان شریک وي نو په هغوی کي هر یو د بل شریک د مال پر ساتنه او نګرانی کوښښ کوي او دا معلومه سوه چي یو بنده تر څو پوري د خپل مسلمان ورور په مرسته او خیرخواهی کي وي نو د

Maktaba Tul Ishaat.com

الله تعالی مرسته هم د هغه سره وي.

د خائن څخه د انتقام جذبه

﴿۲۸۰۷﴾: وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَدِّ الْأَمَانَةَ إِلَى مَنِ ائْتَمَنَكَ وَلَا تَخُنْ مَنْ خَانَكَ. رواه الترمذي و ابوداؤد والدارمي.

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: چاچي ته امین (امانت ساتونکي) کړي یې د هغه امانت ادا کړه او څوک چي ستا سره خیانت کوي نو ته د هغه سره خیانت مه کوه. (ترمذي ابو داؤد دارمي)

تخریج: ابوداود في السنن ۳\ ۸۰۵، رقم: ۳۵۳۵، والترمذي ۳\ ۵۶۴، رقم: ۱۲۶۴، والدارمي ۲\ ۳۳۸، رقم: ۲۵۸۵.

تشریح: قاضي رحمة الله علیه وایي چي د حدیث د آخري هدایت څخه مراد دادی چي کله یو خائن سړی ستا سره معامله وکړي نو هغه معامله ته د هغه سره مه کوه یعني که یو سړی ستا سره خیانت وکړي نو ته د هغه سره خیانت مه کوه ځکه که ته هم خیانت وکړې نو بیا څرنګه چي هغه خائن دی همدارنګه به ته هم خائن سې مګر ددې څخه هغه سړی مستثنی دی چي د ظالم (د چا مال په زور اخیستونکي) څخه د خپل حق په اندازه مال واخلي ځکه چي هغه خو خپل حق د هغه څخه اخلي چي زیاتي او ظلم نه دی،

امام ابوحنیفة رحمة الله علیه فرمایي که چیري د یو چا مال یا حق د یو چا پر ذمه واجب وي او هغه مال د هغه په لاس کي وي نو هغه د خپل مال په اندازه د هغه څخه مال اخیستلای سي په شرط ددې چي کوم مال د هغه په لاس کي وي هغه د هغه مال د جنس څخه وي کوم مال چي د هغه پر ذمه دی مثلاً د زید لس روپۍ د بکر پر ذمه واجب دي او د بکر یو څه روپۍ د هغه په لاس کي دي نو اوس زید ته دا حق حاصل دی چي هغه د بکر د روپو څخه خپل لس روپۍ واخلي.

د نبي کریم ﷺ وکیل

﴿۲۸۰۸﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ أَرَدْتُ الْخُرُوجَ إِلَى خَيْبَرَ فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دی چي ما خیبر ته د تللو اراده وکړه او د رسول الله ﷺ په خدمت کي د اجازت اخیستلو لپاره حاضر سوم

Maktaba Tul Ishaat.com

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ وَقُلْتُ إِنِّي أَرَدْتُ الْخُرُوجَ إِلَى خَيْبَرَ فَقَالَ إِذَا

ما نبي کريم ﷺ ته سلام واچوی او عرض مي وکړ چي زه خيبر ته د تلو اراده لرم نبي کريم ﷺ

أَتَيْتَ وَكِيلِي فَخُذْ مِنْهُ خَمْسَةَ عَشَرَ وَسْقًا فَإِنِ ابْتَغَى مِنْكَ آيَةً فَضَعْ يَدَكَ

عَلَى تَرْقُوَتِهِ. رواه ابوداؤد

وفرمايل: ته په خيبر کي زما د وکيل سره يو ځاي سه او پنځلس وسقه خرماوي ځيني واخله او کله چي هغه ستا څخه يو نښاني وغواړي نو ته د هغه پر حلق باندي لاس کښېږده (شايد دا نښه نبي کريم ﷺ ټاکلې وه). (ابو داؤد).

تخريج: ابوداود في السنن ۴\۴۷، رقم: ۳۶۳۲.

د لغاتو حل: ترقوته: اى علامة ودلالة (نښه).

تشريح: رسول الله ﷺ چي کوم سړی په خيبر کي خپل وکيل ټاکلی وو هغه ته دا هدايت سوی وو که يو څوک زما لپاره د يو شي د غوښتلو لپاره راسي او ستا څخه زما د را استلو يو نښه وغواړي او هغه خپل لاس ستا پر حق کښېږدي نو پوه سه چي هغه سړی ما در استولی دی نو رسول الله ﷺ حضرت جابر ﷺ ته دا نښه وښوول او ور وايې ستوی چي وکيل ددغه نښي په ذريعه هغه ته پنځلس وسق خرماوي ورکړي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

په مضاربت کي خير دی

﴿۲۸۰۹﴾: عَنْ صُهَيْبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثٌ فِيهِنَّ الْبَرَكَةُ الْبَيْعُ إِلَى أَجَلٍ وَالْمُقَارَضَةُ وَأَخْلَاطُ الْبُرِّ بِالشَّعِيرِ لِلْبَيْتِ لَا لِلْبَيْعِ.

رواه ابن ماجة.

د حضرت صهيب ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په درو شيانو کي برکت وي: ۱- په نېټه باندي د مال خرڅول (يعني چي مال د معين وخت په وعده خرڅ کړي). ۲- مقارضت (پور ورکول)، يا مضاربت ۳- د کور د خرڅ لپاره د غنمو سره د اوربشو يو ځاي کول

Maktaba Tul Ishaat.com

نه د خرڅلاو لپاره . (رواه ابن ماجه)

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\۷٦۸، رقم: ۲۲۸۹.

تشريح مضاربت دا دی چي يو سړی خپل مال بل سړي ته د تجارت لپاره ورکړي او هغه په خپل محنت سره کاروبار کوي او کومه ګټه چي تر لاسه سي هغه دواړه په خپلو کي ويشي.

د کور د مصرف لپاره په غنمو کي اوربشي يو ځای کول ګټور شی دی ځکه چي په داسي کولو سره د کور د غذائي اړتياوو پوره کېدل په کفايت سره کيږي البته د خرڅولو په غنمو کي اوربشي يو ځای کول منع دي ځکه چي دا ګناه او چم دی.

يوه واقعه

﴿۲۸۱۰﴾: وَعَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ

د حضرت حكيم بن حزام رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ حزام ته د قرباني د حيوان لپاره

مَعَهُ بِدِينَارٍ لِيَشْتَرِيَ لَهُ بِهِ أُضْحِيَّةً فَاشْتَرَا كَبْشًا بِدِينَارٍ وَبَاعَهُ بِدِينَارَيْنِ

يو دينار ورکړ نو هغه يو پسه په يوه دينار واخيستي او په دوه ديناره يې خرڅ کړ بيا يې يو بل

فَرَجَعَ فَاشْتَرَى أُضْحِيَّةً بِدِينَارٍ وَجَاءَ بِدِينَارٍ الَّذِي اسْتَفْضَلَ مِنَ الْأُخْرَى

حيوان په يوه دينار را نيوي او د هغه او د يو دينار ګټي سره د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر

فَتَصَدَّقَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالدِّينَارِ فَدَعَا لَهُ أَنْ يُبَارَكَ لَهُ فِي تِجَارَتِهِ. رواه الترمذي وابو داؤد.

سو رسول الله ﷺ هغه دينار صدقه کړ او حكيم بن حزام لپاره يې دا دعا وکړه چي خدای تعالي دي د هغه په تجارت کي برکت واچوی. (ترمذي ابو داؤد)

تخريج: سنن الترمذي ۳\۵۵۸، رقم: ۳۳۸٦.

تشريح

د شراکت او وکالت يو څو مسئلې: د شراکت او وکالت په باره کي يو څو اصولي خبري د باب په شروع کي او بيا يو څو مسئلې د حديثو په تشريح کي بيان سوي دي، دلته باب ختميږي ځکه نو مناسب دي چي د دغه موضوع سره اړوند يو څو ضروري مسئلې ذکر کړل سي.

شراكتي جماعت: په یو تجارتي کاروبار یا معامله کي چي کوم خلک شریک او برخه وال وي د هغه دوه شکلونه دي یو خو دا چي د هغه کاروبار یا معاملې هر شریک مالک او متصرف او یا یو ازي متصرف وي همدارنګه په هغه کاروبار یا معامله کي د ټولو شریکانو په مشوره سره یو کار کیږي د دې شکل هغه څلور شکلونه یعني شرکت مفاوضه، شرکت عنان، شرکت ضائع والتقبل او شرکت وجوه دی چي د هغه بیان د باب په شروع کي تېر سوی دی.

د شریکانو دوهم شکل دا دی چي د څو کسانو یو ډله په یو تجارتي معامله کي شریک او برخه وال وي او هغه ټول کسان د قانوني نظام او تاکل سوو قواعدو پابند وي او په هغوی کي هر یو شریک خپل ځان ته په مالکانه حیثیت سره بېل تصور کوي دغه شکل په اوسنۍ زمانه کي په تجارتي ادارو او کمپنیو باندي قیاس کیدای سي.

په دې باره کي فقهي مسئله داده چي:

۱. د داسي مشترک ادارې یا کمپنۍ د نظام چلولو پر قانون باندي عمل کولو او د کار د مزدورانو لپاره د شریکانو څخه یا د هغوی څخه پرته د نورو خلکو څخه یو سړی یا څو کسان د ټولو شریکانو په مشورې سره وټاکل سي.

۲. هیڅ شریک د تصرف حق نه لري البته د ملک حق هر شریک ته حاصل دی.

۳. د ټولو شریکانو ډله مالک او متصرف دي او دغه هیئت د ډلي که د ټولو په اتفاق وي او که په اکثره رایه سره وي.

۴. هر شریک د خپل مشترک تجارتي ادارې اجیر او مزدور جوړېدای سي.

۵. هیڅ شریک جلاوالی نه سي اختیارولای البته خپل برخه د هبې یا بیع په ذریعه منتقل کولای سي.

۶. کله چي د شریکانو شمېر محدود او پوره سي او یو شریک خپل برخه پلوري نو نور شریکان به مقدم ګڼل کیږي.

۷. که یو برخه د میراث یا بیع په ذریعه تقسیم سي نو د کمپنۍ کارکونکي به پر دې خبره مجبور وي چي د هغه برخي ټول وارثان یا حقداران سره په کاروبار کولو کي څه زحمت و زغمي .د هغه برخي ټول وارثان یا شریکان که په یو ځای کېدو سره دغه کاروبار وکړي یا بل څوک دلیل جوړ کړي د داسي کس برخه د ټولو شریکانو مجموعه به د یو ذات برابر ګڼل کیږي.

۸. شریکان د کاروبار چلولو لپاره چي کوم قانون جوړ او نافذ کړي د هغه پابندي به پر ټولو شریکانو باندي ضروري وي البته د شریعت خلاف قانون جوړول ګناه او د هغه پابندي

Maktaba Tul Ishaat.com

كول ناجائز ده.

۹. داسي قوانين چي د نظم او ضبط لپاره وضع كړل سي يوازي د مباحث سره به متعلق وي په منصوصات شرعيه كي به اثر كونكي نه وي.

۱۰. دا شرط چي شريكان په ذاتي توګه سره د يو پور او تاوان ذمه دار نه دي يوازي په هغه صورت كي معتبر دى كله چي هغه اعلان سوى وي.

د شراكت فسخ : كوم تجارتي كاروبار يا يو بله معامله چي د دوو كسانو په شراكت وي د هغه د فسخ كولو يعني شركت ختمولو دوه صورتونه دي : اول دا چي د شركت پر ختمولو باندي دواړه كسان راضي وي مثلا په كوم كار كي چي شركت سوى وي هغه كار ختم سوى وي يا يو بله وجه وي او د هغه په وجه دواړه كسان د شركت پر فسخ كولو باندي راضي وي.

دوهم دا چي يو كس شركت ختمول غواړي كه هغه مړ سي يا ليونى سي يا په يو مطالبه كي د مال وركول پېښ سي چي په هغه سره سرمايه نه پاته كيږي يا د جلا والي يو بله وجه وي نو په دغه ټولو صورتو كي د شركت په ختمېدو سره به وېش كيږي كه څه هم د مړي وارثان او د ليوني سرپرستان د شراكت پاته ساتل غواړي.

د شراكت په فسخ كولو كي فقهي هدايت دادى چي :

۱. تر ټولو مخكي دي ټول مطالبات ادا كړل سي.

۲. د هغه معاهدو د پوره والي انتظام دي هم وكړل سي چي د شراكت پر ذمه وي.

۳. هغه ټول حقوق چي په اصل كي معتبر ګڼل كيږي مثلا مالونه به وېشل كيږي.

۴. كوم مطالبات چي پر نورو واجب وي او د هغه اصول كېدل باقي وي هغه به د اصول كېدو پر وخت د حصې په اندازه تر لاسه كيږي او هر شريک به د دوهم وكيل ګڼل كيږي چي تقاضا او وصولي كوي.

۵. د شراكت د فسخ كولو په دوهم صورت كي د دغه دوو شيانو لحاظ كول ضروري دي اول دا چي د شراكت څخه جلا كېدونكي يا د هغه قائم مقام د ذمه دار په باره كي مخته كيداى نه سي، دوهم دا چي ټول معتبر حقوق مثلا په دوكان، نوم او داسي نورو شيانو كي جلا كيدونكي شريک ته حق نه سي وركول كيداى.

٦. په شراكتي ډلو يعني مشترک تجارتي ادارو او كمپنيو باندي د هغه اداري يا كمپنۍ د ټاكل سوي قانون حكم يا د حاكم د حكم څخه پرته د داسي انفساخ اثر نه سي لويداى ځكه چي د يوه شريک په مرګ، ليونتوب او مفلس كېدو سره د دې تعلق نه سته.

Maktaba Tul Ishaat.com

د شراکت د فسخ کېدو په صورت کي د وېش ترتيب : کله چي شراکت ختم سي او د شريکانو په مينځ کي د سرمايې او مال وېشل شروع سي نو د دغه ترتيب او امورو لحاظ ضروري دی :

۱. کوم مطالبات چي د شراکت پر ذمه وي د هغه ادا کول يا کومي معاهدې چي سوي وي د هغو د پوره کېدو انتظام دي په نظر کي وي .

۲. ټول معتبر حقوق او د مالو قيمت دي وټاکل سي او د اختلاف او جګړې په صورت کي دي په قرعه اندازۍ (پچه اچولو) سره فيصله کول جائز دي .

۳. جلا کېدونکي ډلي ته به په راتلونکي کي هيڅ حق نه ورکول کيږي که څه هم د ذمه دار د بار څخه هغه خلاص نه دی .

۴. د شراکت کوم مطالبات چي د نورو پر ذمه وي په هغو کي به وکالت جاري وي ، پر وصول کېدو باندي په اندازه د برخي وېشل پکار دي .

د وکالت احکام :

۱. د وکالت د صحيح کېدو شرط دادی چي وکيل ليونی، نابالغ، غلام او محجور نه وي .

۲. په يو داسي شي کي وکيل جوړول جائز نه دی چي هغه د يو چا مملوک نه وي لکه د ځنګل وابنه يا لرګي ټولول ، يا د درياب څخه اوبه راوړل يا د صدقې اخيستلو لپاره وکيل ټاکل.

۳. دا جائز دي که چيري وکيل غواړي نو مفت خدمت تر لاسه کړي او که وغواړي نو خپل مزدوري دي تر لاسه کړي او که غواړي نو په ګټه کي دي شريک سي .

۴. په هر داسي تصرف کي چي د هغه نسبت ځان او مؤکل دواړو ته کېدای سي وکيل مثل اصل مدعی او مدعا عليه جوړېدای سي د هغه په رانيولو او پلورلو او هر داسي کار کي چي د هغه نسبت ځان ته نه سي کيدای د وکيل د حقوق عقد سره هيڅ تعلق نه سته لکه نکاح او طلاق .

۵. وکيل ته دا حق نه سته چي د خپل ځان لپاره مالکانه تصرف وکړي ځکه چي هغه يوازي امين دی .

٦. مؤکل خپل وکيل د تصرف څخه مخکي بر طرفه کولای سي د تصرف څخه وروسته هغه ته د وکيل سپارل سوی کار قبلول او تسليم کولو څخه پرته نور هيڅ حق حاصل نه دی .

۷. وکيل ته دا حق دی چي هغه د مؤکل لپاره کوم مال راوړی دی د هغه د قيمت تر لاسه کولو پرته هغه ته حواله نه کړي مګر په ورکولو سره يې بېرته نه سي ورکولای .

Maktaba Tul Ishaat.com

۸. تر څو چې وکیل د قیمت تر لاسه کولو لپاره مال بند نه کړي هغه امین دی او د مال بندولو څخه وروسته به ضامن سي.
۹. وکیل ته جائز نه دي چې د کوم شي لپاره وکیل جوړ سوی دی د هغه معامله د خپل ځان لپاره وکړي.

یو څو مسئلې

۱. زید د خپل مزدور په ذریعه د یو دکان څخه یو شی را وغوښتی او مزدور هغه شی د دوکاندار څخه په پور راوړی نو هغه دکاندار د زید څخه د قیمت غوښتنه نه سي کولای بلکه د هغه مزدور څخه دي غوښتنه وکړي او هغه مزدور دي د زید څخه غوښتنه وکړي په شرط ددې چې زید هغه ته قیمت نه وي ورکړی، همدارنګه خپل یو شی د خپل ویلو په ذریعه خرڅ کړي نو زید ته به دا حق نه وي چې هغه د رانیونکي څخه غوښتنه وکړي یا د هغه قیمت وصول کړي ځکه چې رانیونکي د کوم چا څخه هغه شی تر لاسه کړی دی هغه ته قیمت ادا کوي مګر که چیري رانیونکی زید ته خپله قیمت ورکړي نو دا جائز دي مطلب دادی که رانیونکی زید ته قیمت ورنه کړي نو زید یې په زور نه سي اخیستلای.
۲. زید د خپل مزدور په ذریعه یو من غنم وغوښتل مګر هغه یو نیم من راوړل نو زید ته د پوره یو نیم من اخیستل واجب نه دي بلکه که هغه یې نه واخلي نو نیم من به مزدور اخلي.
۳. زید یو چا ته وویل چې د فلاني پسه چې د فلانی سره دی هغه په پنځلس روپۍ ما ته راوله نو اوس هغه پسه هغه سړی د خپل ځان لپاره نه سي رانیولای مطلب دادی چې کوم شی په خاص کولو سره وکیل ته وښوول سي هغه وخت وکیل ته د خپل ځان لپاره د هغه رانیول جائز نه دي البته مؤکل چې کوم قیمت ښوولی دی د هغه قیمت څخه په زیات باندي که چیري وکیل هغه شی رانیسي نو دا جائز دی او که مؤکل یو قیمت ښوولی نه وي یوازې د رانیولو لپاره یې ویلي وي نو بیا په هیڅ صورت کي هم هغه شی وکیل د ځان لپاره نه سي رانیولای.
۴. د زید وکیل د زید لپاره یو پسه رانیوی بیا وکیل زید ته پسه ورکړی نه وو چې پسه مړ سو یا غلا سو نو د هغه پسه قیمت به زید ورکوي که چیري زید وکیل ته دا وو ایي چې تا هغه پسه زما لپاره نه بلکه د خپل ځان لپاره رانیولی وو نو د زید ددغه خبري اعتبار نه کیږي په شرط ددې چې زید د هغه پسه قیمت ورکړی وي مګر که چیري هغه قیمت نه وي ورکړی نو

Maktaba Tul Ishaat.com

په دغه صورت کي که زید په قسم اخیستلو سره وکیل ته دا وwایي چي تا هغه پسه د خپل ځان لپاره رانیولی وو نو بیا به د هغه د رانیولو اعتبار وي او د هغه پسه تاوان به وکیل پر ځان وړي او که زید قسم نه اخلي نو بیا به د وکیل د خبري اعتبار وي.

۵. که چیري د زید مزدور یو شی ګران رانیسي نو هغه شی به زید اخلي او د هغه قیمت به ادا کوي او که چیري ډېر زیات ګران یې رانیولی وي چي هغه شی په دغه قیمت هیڅوک نه رانیسي نو د هغه اخیستل به واجب نه وي که زید هغه شی نه اخلي نو مزدور به د هغه شی ذمه دار وي.

٦. زید خپل یو شی بکر ته ورکړ چي هغه خرڅ کړي، نو د بکر لپاره دا جائز نه ده چي هغه شی په خپله واخلي او د هغه قیمت زید ته ورکړي همدارنګه که زید بکر ته وwایي چي فلانی شی زما لپاره رانیسه نو بکر ته دا اجازه نه سته چي هغه خپل شی زید ته راوړي او د هغه څخه قیمت تر لاسه کړي که چیري بکر خپل شی ورکول یا اخیستل غواړي نو زید ته دي وwایي چي زما دغه شی واخله او دومره قیمت ما ته راکړه بېله ویلو څخه داسي کول ناجائز دي.

۷. که زید په خپل مزدور باندي د پسه غوښه را وغواړي او هغه د ګامبښي یا غوا غوښه راوړي نو زید ته اختیار دی چي هغه واخلي یا یې نه واخلي، همدارنګه زید خپل مزدور ته د سیب راوړلو ووېل او هغه بېنډۍ راوړلې نو مزدور ته به د هغه شي اخیستل پکار وي.

۸. زید دوه کسان ولېږل چي بازار ته ولاړ سئ او فلانی شی راوړئ نو د هغه شي د رانیولو پر وخت دواړو کسانو ته حاضر کېدل ضروري دي او که چیري د یو ه کس رانیول قبول کړي نو بیا صحیح دی.

۹. زید یو سړي ته وwایي چي د بازار څخه فلانی شی رانیسه مګر هغه سړي هغه شی نه رانیوی بلکه بل چا ته یې د رانیولو لپاره ووېل، نو اوس د هغه شي اخیستل پر زید باندي واجب نه دي که هغه غواړي هغه شی واخلي او یا د اخیستلو څخه انکار وکړي البته که هغه سړي یې په خپله رانیسي نو بیا زید ته اخیستل پکار دي.

وکیل له وکالت څخه ایستل: د وکیل د تصرف څخه مخکي د وکالت څخه د ایستلو هر وخت اختیار دی مثلاً زید یو چا ته ویلي وه چي زه یو پسه غواړم چیري چي تا ته تر لاسه سي ما ته یې راوله او بیا یې منع وکړه چي ما تا ته د کوم پسه د رانیولو لپاره ویلي وه اوس هغه مه رانیسه او ددې سربېره هغه سړي پسه رانیوی نو اوس د زید لپاره دا ضروري نه ده چي هغه پسه واخلي ځکه د منع کولو څخه وروسته هغه سړي ته د پسه رانیولو اختیار پاته نه سو مګر که

Maktaba Tul Ishaat.com

چیري هغه پسه رانیسي او د رانیولو څخه وروسته زید هغه منع کړي نو په دغه صورت کي پر زید باندي واجب دي چي هغه پسه واخلي او د هغه قیمت ادا کړي.
که چیري داسي صورت وي چي زید خپله هغه منع نه کړ بلکه لیکل سوی خط یې ور واستوی یا د یو سړي په لېږلو سره یې خبر ورکړی چي اوس زما لپاره پسه مه رانیسه نو بیا هم هغه سړی د وکالت څخه وایستل سو، او که چیري زید د وکالت څخه د ایستلو خبر ور نه کړي بلکه یو بل سړي هغه ته وویل چي زید ته د وکالت څخه ایستلی یې نو اوس د هغه لپاره رانیول په دغه صورت کي که خبر ورکونکی هغه سړی وي یا یو سړی خبر ورکړی مګر هغه معتبر او د شریعت پابند وي نو د هغه په خبر ورکولو سره هم د وکالت څخه ایستل معتبر دی او که داسي نه وي نو هغه سړی به د وکالت څخه ایستل سوی نه وي که چیري هغه پسه رانیسي نو زید به هغه پسه اخلي او د هغه قیمت به ورکوي.

==========

بَابُ الْغَصَبِ وَالْعَارِيَةِ

(د غصب او عاریت بیان)

د غصب معنی په زور اخیستل دي او د شریعت په اصطلاح کي د غلا څخه پرته په ظلم او زیاتي سره د یو چا مال په زور اخیستل دي، داسي سړي ته چي د یو چا څخه یو شی په زور اخلي غاصب وایي او په زور اخیستل سوي شي ته مغصوب وایي.
د عاریت لغوي معنی د غوښتل سوي شي ده او د شریعت په اصطلاح کي بېله عوضه یو بل څوک د خپل شي د ګټي مالک جوړولو ته عاریت وایي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د غصب کوونکي سزا

﴿۲۸۱۱﴾: عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ أَخَذَ شِبْرًا مِنَ الْأَرْضِ ظُلْمًا فَإِنَّهُ يُطَوَّقُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ سَبْعِ أَرَضِينَ. متفق علیه

د حضرت سعید بن زید رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي په ظلم سره یو لوېشت مځکه واخلي د هغې مځکي د ټکړې او وه طبقې به د قیامت په ورځ د هغه په غاړه

Maktaba Tul Ishaat.com

کي د طوق په شکل کي ور واچول سي. (بخاري او مسلم)

تخریج: البخاري في الصحیح (فتح الباري): ٦\٢٩٣ رقم: ٢٥٠١. ومسلم ٣\١٢٣١، رقم: ١٤٠- ١٦١٠.

تشریح: د یو چا یو شی که زیات وي یا کم وي په زور د یو چا څخه اخیستل نه یوازي په ټولنیزه توګه ظلم او په اخلاقي توګه یو خطرناکه خرابي ده بلکه په شرعي توګه هم ډېر سخت جرم او ګناه ده، اسلام چي د انساني حقوقو د ساتني کوم لوړ تصور وړاندي کړی دی او اسلامي شریعت پر حقوق العباد باندي د لوټونکو د کومو سزاوو او عذاب مستوجب ګرځولی دی دغه حدیث شریف د هغه یوه نمونه ده، ددې خلاصه داده چي کوم سړی د بل چا د ځمکي یوه لوېشت برخه هم په زور واخلي هغه ته به ددغه ظلم او زور سزا ورکول کیږي چي د قیامت په ورځ به یوازي هغه برخه نه بلکه د اوو ځمکو څخه د هغه ځمکي اخیستلو په اندازه د هغه په غاړه د توک په توګه واچول سي. العیاذ بالله.

په شرح السنه کي د طوق اچولو مفهوم داسي بیان سوی دی چي کوم سړی د چا ځمکه غصب کړي نو د قیامت په ورځ به الله تعالی هغه په ځمکه کي غرق کړي او د ځمکي هغه برخه چي هغه غصب کړی وي د هغه پر غاړه به د طوق په ډول راچاپیره کړي.

د یو حیوان شیدې د مالک د اجازې پرته لوېشل نه دي پکار

﴿۲۸۱۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَحْلُبَنَّ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هیڅوک دي نه لویشي

أَحَدٌ مَاشِيَةَ أَمْرِئٍ بِغَيْرِ إِذْنِهِ أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ تُؤْتَى مَشْرُبَتُهُ فَتُكْسَرَ

د چا حیوان بېله د هغه د اجازې څخه، ایا په تاسو کي به یو څوک دا خبره خوښه کړي چي څوک د هغه خزانې ته راسي او د هغه خزانه ماته کړي

خِزَانَتُهُ فَيُنْتَقَلَ طَعَامُهُ وَ إِنَّمَا تَخْزُنُ لَهُمْ ضُرُوعُ مَوَاشِيهِمْ أَطْعِمَاتِهِمْ.

رواه مسلم.

او د هغه غله یوسي همداسي د حیوان غولانزه د هغوی لپاره خوراکونه جمع کوي. (مسلم)

تخریج: مسلم في الصحیح ٣\١٣٥٢، رقم: ١٣- ١٧٢٦.

د لغاتو حل: مَشْرُبَته: ای غرفته وهي بیت فوقاني یوضع فیه المتاع. (لوړه خونه چي شیان پکښې ایښودل کیږئ).

Maktaba Tul Ishaat.com

تشريح: د څارويو غولانزي ته د غلې په ګودام سره تشبيه ورکړل سوې ده لکه څرنګه چې تاسو په خپلو غلو ګودامونه ډکوئ او ساتئ يې همدارنګه د نورو خلکو څاروي په خپلو غولانزو کې د خپل مالک غذائي اړتياوي يعني شيدې خوندي ساتي، لکه څرنګه چې تاسو دا خبره نه خوښوئ چې بل سړی ستاسو د ګودامو او خزانو څخه غله يا نور شيان يوسي همدارنګه ستاسو دغه کار هم د څارويو خاوندانو ته ناخوښه دی چې تاسو د هغوی د څارويو د غولانزو څخه شيدې لويشئ.

خلاصه دا چې د نورو په مال باندې بد نظر مه کوئ او د نورو حقوق مه غصب کوئ چې بل څوک ستاسو مال غصب نه کړي او څرنګه چې تاسو مال غصب کول نه خوښوئ همدارنګه د بل چا مال غصب کول هم مه خوښوئ.

په شرح السنه کې ليکلي دي چې اکثرو علماؤ ددغه حديث سره سم دا فتوا ورکړې ده چې د يو چا د څاروي (غوا، بزې او داسې نورو) څخه د مالک د اجازې څخه پرته شيدې لوښل جائز نه دي مګر که چيرې يو څوک د لوږې څخه بدحاله وي نو د هغه لپاره دومره اجازه ده چې هغه د ضرورت په اندازه د يو چا د څاروي څخه شيدې وځيښي او بيا د هغه قيمت ادا کړي که چيرې هغه سره قيمت موجود وي نو هغه وخت دې قيمت ادا کړي او که نه وي نو بيا وروسته کله چې قادر سي د هغه قيمت دې ادا کړي.

يوه واقعه

﴿۲۸۱۳﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ بَعْضِ نِسَائِهِ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي کريم ﷺ د خپلو بعضو بيبيانو په کور کې وو چې

فَأَرْسَلَتْ إِحْدَى أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِينَ بِصَحْفَةٍ فِيهَا طَعَامٌ فَضَرَبَتْ الَّتِي النَّبِيُّ

يوې بلې بي بي په کاسه کې خواړه را ولېږه د نبي کريم ﷺ هغه بي بي چې هغه وخت دی د هغې

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَيْتِهَا يَدَ الْخَادِمِ فَسَقَطَتْ الصَّحْفَةُ فَانْفَلَقَتْ

سره وو د خادم لاس وواهه نو کاسه ولوېدل او ماته سوه نبي کريم ﷺ د کاسې ټکړې پورته

فَجَمَعَ النَّبِيُّ ﷺ فِلَقَ الصَّحْفَةِ ثُمَّ جَعَلَ يَجْمَعُ فِيهَا الطَّعَامَ الَّذِي كَانَ فِي

کړې او بيا هغه خواړه چې په کاسه کې وو راټول کړه او په هغو ټکړو کې يې کښېښودل او

الصَّحْفَةِ وَيَقُولُ غَارَتْ أُمُّكُمْ ثُمَّ حَبَسَ الْخَادِمَ حَتَّى أُتِيَ بِصَحْفَةٍ مِنْ عِنْدِ

مينزي ته يې و فرمايل كوم چي خواره يې راوړي وه: ستا مور غيرت وكړ بيا يې هغه خادم را وګرځاوه تردې پورې چي د كومي بي بي په كور كي چي نبي كريم ﷺ حاضر وو

الَّتِي هُوَ فِي بَيْتِهَا فَدَفَعَ الصَّحْفَةَ الصَّحِيحَةَ إِلَى الَّتِي كُسِرَتْ صَحْفَتُهَا

د هغه كور څخه جوړه كاسه راوړه هغه يې و هغې بي بي ته ور ولېږه د چاچي كاسه ماته سوې وه

وَأَمْسَكَ الْمَكْسُورَةَ فِي بَيْتِ الَّتِي كَسَرَتْ. رواه البخاري.

او چاچي ماته كړې وه د هغه په كور كي يې ماته كاسه پرېښوده. (بخاري)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹/ ۳۲۰، رقم: ۵۲۲۵.

د لغاتو حل: فِلَق: جمع فلقة وهي القطعة. (ټوټه)

تشريح: خادم غلام ته هم وايي او مينزي ته هم وايي دلته د خادم څخه مراد مينزه ده ځكه بي بي عائشې رضي الله عنها ته مينزي كاسه او د خوراک شيان راوړي وه.

كله چي هغه كاسه ماته سوه او په هغه كي د خوراک شيان پر مځكه ولوېدل نو رسول الله ﷺ نه يوازي دا چي د هغه كاسې ټوټې يې يو ځاى كړې بلكه د خوراک هغه شى يې هم په ډېر احتياط سره يو ځاى كړل چي په دې سره نه يوازي د رسول الله ﷺ د تواضع او د بيبيانو سره د رسول الله ﷺ د تحمل او عفو د جذبې اظهار كيږي بلكه دا هم واضحه كيږي چي رسول الله ﷺ به د الله تعالى د نعمت ډېر تعظيم كوى.

ستاسو مور ته غيرت راغلى :دا په اصل كي اوريدونكو ته د رسول الله ﷺ عام خطاب دى د دغه ارشاد په ذريعه رسول الله ﷺ د بي بي عائشې رضي الله عنها له خوا عذر بيان كړى دى چي د بي بي عائشې ﷺ څخه كوم فعل ظاهر سو او هغه په حقيقت كي د هغې د غيرت په وجه وو چي د هري ښځي په جبلت كي داخل دى كه څه هم يو ښځه پر هر څومره لوړ مقام باندي وي، او نه دا د يو ښځي د وس خبره ده چي هغه خپل طبيعت او خپل نفس د دغه طبعي جذبې څخه وساتي ځكه رسول الله ﷺ دغه الفاظ و فرمايل چي خلک د بي بي عائشې ﷺ دغه فعل پر بد نه محمول نه كړي بلكه په دې پوه سي چي د هغې څخه دغه كار د بشريت د غوښتني سره سم سوى دى چي په هغه كي د مقصد او ارادې يا بلې يو بدى هيڅ دخل نه سته.

Maktaba Tul Ishaat.com

قاضي رحمة الله عليه ليکلي دي چي د دغه حديث شريف په دغه باب کي د ذکر کولو وجه داده چي د کاسې ماتول يو ډول غصه وه ځکه چي په دې سره د بل چا مال ضائع سو که څه هم د هغه سبب هر شي وي.

يا دا چي د خوراک کوم شي را استول سوی وو هغه د تحفې په توګه وو مګر په کومه کاسه کي چي هغه شي را استول سوی وو هغه عاريتا وه ځکه نو په دغه مناسبت سره د غه حديث په دغه باب کي ذکر سوی دی.

د مسلمان مال لوټول حرام دي

﴿۲۸۱۴﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ يَزِيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ نَهَى عَنِ النُّهْبَةِ وَالْمُثْلَةِ. رواه البخاري.

د حضرت عبدالله بن يزيد رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د لوټ (يعني مال لوټ کولو) او مثلة (پزه او غوږ پرېکولو) څخه منعه کړې ده. (بخاري).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۱۹/۵، رقم: ۲۴۷۴.

د لغاتو حل: النُهبة: اى الغارة. (لوټ)

تشريح: د يو مسلمان مال لوټول حرام دي مګر د دې مطلب دا بالکل نه دی چي د غير مسلم مال لوټول حرام نه دي بلکه مقصد يوازي دا څرګندول دي چي اسلام خپلو پيروانو ته په هيڅ حال کي هم د دې اجازه نه ورکوي چي هغوی د خپلو وړونو مال په ناحقه او زور سره واخلي د دې تعلق نه يوازي د بندګانو د حقوقو تر پښو لاندي کول دي بلکه د ټولني د امن او سکون د پوره تباهي سره هم دی نو د امن او سلامتي د سرچيني (اسلام) د تابعدار کېدو تعلق پر يو مسلمان باندي دا ذمه داري تر ټولو زياته عائد کوي چي هغه د خپل ټولني خپل قوم او د خپل هيواد نظام، امن او امان تر پښو لاندي کولو او د لاقانونيت خپرېدو څخه وساتي چي د هغه بنيادي اړخ دادی چي د بل مال، د بل جائيداد او د بل حقوق تر پښو لاندي کول او لوټول داسي د نه منلو وړ وګرځول سي لکه څرنګه چي خپل مال، خپل جائيداد او خپل حقوقو باندي د چا قبضه کول قطعا زغملای نه سي.

مُثله: د بدن د يو اندام مثلا پزه، غوږ او داسي نورو پرېکولو ته وايي، دا شريعت حرام ګرځولي دي ځکه چي په داسي کولو سره د الله تعالی په تخليق کي بدلون پيدا کېدل لازمېږي.

د حاجیانو د سامان غلا کونکي حشر

﴿۲۸۱۵﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت جابر رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي لمر تندره ونیوی د رسول الله ﷺ په زمانه کي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ مَاتَ إِبْرَاهِيمُ ابْنُ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ فَصَلَّى بِالنَّاسِ سِتَّ

په کومه ورځ چي د نبي کريم ﷺ د زوي حضرت ابراهيم رضی اللہ عنہ وفات وسو نو نبي کريم ﷺ خلکو ته شپږ رکعته لمونځ ورکړی

رَكَعَاتٍ بِأَرْبَعِ سَجَدَاتٍ فَانْصَرَفَ وَقَدْ آضَتِ الشَّمْسُ وَقَالَ مَا مِنْ شَيْءٍ

په څلورو سجدو سره نو په دې کي لمر روښانه سو، بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: او د کوم شی چي ستا سو سره وعده سوې ده

تُوعَدُونَهُ إِلَّا قَدْ رَأَيْتُهُ فِي صَلَاتِي هٰذِهِ لَقَدْ جِيءَ بِالنَّارِ وَذٰلِكُمْ حِينَ رَأَيْتُمُونِي

او کوم شی چي تاسو يې ېږولي ياست نو هغه نن ما په خپل لمانځه کي وليدل زما مخ ته دوږخ را وستل سو او دا هغه وخت وو چي تاسي زه وروسته وليدم

تَأَخَّرْتُ مَخَافَةَ أَنْ يُصِيبَنِي مِنْ لَفْحِهَا وَحَتّٰى رَأَيْتُ فِيهَا صَاحِبَ الْمِحْجَنِ

چي د دوږخ د ګرمي د بيري څخه پرشا سوم ما په هغه کي يو سړی وليدي چي د هغه سره يو لرګي وو

يَجُرُّ قُصْبَهُ فِي النَّارِ كَانَ يَسْرِقُ الْحَاجَّ بِمِحْجَنِهِ فَإِنْ فُطِنَ لَهُ قَالَ إِنَّمَا تَعَلَّقَ

په هغه سره يې خپله ګُلمَه را کښله دا سړی (عمر بن لحي) به د حاجيانو شيان تر خپل کوناتي لاندي پټول او که به معلوم سو نو ويل به يې چي

بِمِحْجَنِي وَإِنْ غُفِلَ عَنْهُ ذَهَبَ بِهِ وَحَتّٰى رَأَيْتُ فِيهَا صَاحِبَةَ الْهِرَّةِ الَّتِي

زما په کوناتي باندي مښتي وو او که به معلوم نه سو نو د ځانه سره به يې يوړ او ما هغه پيشو

رَبَطَتْهَا فَلَمْ تُطْعِمْهَا وَلَمْ تَدَعْهَا تَأْكُلُ مِنْ خَشَاشِ الْأَرْضِ حَتّٰى مَاتَتْ جُوعًا

والا ښځه وليده چي هغې خپله پيشو تړلې وه نه يې خوراک ورکوي او نه يې خلاصوله چي د

Maktaba Tul Ishaat.com

مخکي حشرات (موږکان يا نور) وخوري تر دې چي هغه مړه سوه د لوږې څخه

ثُمَّ جِيءَ بِالْجَنَّةِ وَذٰلِكَ حِينَ رَأَيْتُمُونِي تَقَدَّمْتُ حَتّٰى قُمْتُ فِي مَقَامِي وَلَقَدْ

بيا زما و مخته جنت را وړل سو او دا هغه وخت وو چي تاسو زه په مخکي کېدو وليدم بيا زه پر خپل ځای باندي ودرېدم

مَدَدْتُ يَدِي وَأَنَا أُرِيدُ أَنْ أَتَنَاوَلَ مِنْ ثَمَرِهَا لِتَنْظُرُوا إِلَيْهِ ثُمَّ بَدَا لِي أَنْ لَا أَفْعَلَ . رواه مسلم .

او خپل لاس مي وړاندي کړ چي د جنت يوه مېوه را وشکوم چي تاسو يې په خپلو سترګو سره ووينئ خو بيا ما دا مناسب ونه ګڼل (په دې چي بيا ايمان بالغيب نه پاته کيږي) . (مسلم)

تخريج: مسلم في الصحيح ۲\۶۲۳، رقم: ۱۰- ۹۰۴.

د لغاتو حل: قُصبه: اي يسحبه. (المِحجن): عصا في راسه.

تشريح: ددغه حديث څخه څو خبري معلومي سوې اول دا چي جنت او دوږخ په وجود کي راغلي دي او موجود دي ، د اهل سنت دا مذهب دی، دوهم دا چي د عذاب او هلاکت د ځای څخه ليري کېدل سنت دي، دريم دا چي ځيني خلک دا وخت هم د دوږخ په عذاب کي اخته دي ، او څلورم دا چي لږ عمل لمونځ نه باطلوي لکه څرنګه چي رسول الله ﷺ د لمانځه په دوران کي د جنت او دوږخ په ليدو سره وړ مخکي سو او پر شا سو .

د حيوان په عاريت اخيستل جائز دي

﴿۲۸۱۶﴾: وَعَنْ قَتَادَةَ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسًا يَقُولُ كَانَ فَزَعٌ بِالْمَدِينَةِ فَاسْتَعَارَ

د حضرت قتاده رضی الله عنه څخه روايت دی چي ما د انس رضی الله عنه څخه دا اورېدلي وه چي يو وار په دې خيال کي چي ګني د کفارو لښکر نژدې راغلي دي په مدينه منوره کي پرېشاني پيدا سوه

النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَسًا مِنْ أَبِي طَلْحَةَ يُقَالُ لَهُ الْمَنْدُوبُ فَرَكِبَ

نبي کريم ﷺ د ابو طلحه رضی الله عنه څخه آس را وغوښتي چي هغه ته مندوب (سست قدمه) ويل کېده، نبي کريم ﷺ په هغه باندي سپور سو او ولاړي ،

فَلَمَّا رَجَعَ قَالَ مَا رَأَيْنَا مِنْ شَيْءٍ وَإِنْ وَجَدْنَاهُ لَبَحْرًا . متفق عليه.

Maktaba Tul Ishaat.com

کله چي راغلی نو ویې فرمایل : ونه لیدی موږ هیڅ شی یعني ېره او بیشه چي موږ وموندی دغه آس د دریاب غوندي آرام تګ کونکی . (بخاري او مسلم) .

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵\۲۳۰، رقم: ۲۶۲۷، ومسلم ۴\۱۸۰۳، رقم: ۴۹- ۲۳۰۷.

تشريح د حضرت ابو طلحه ﷺ آس تر دې مخکي ډېر سست وو ځکه د هغه نوم یې مندوب یعني سست اېښی وو مګر کله چي رسول الله ﷺ پر هغه سپور سو نو د رسول الله ﷺ له برکته هغه آس ډېر چالاکه او تېز سو .

ددغه حدیث شریف څخه معلومه سوه چي د یو حیوان عاریتا غوښتل او هغه په خپل استعمال کي راوستل جائز دي .

دغه حدیث شریف د رسول الله ﷺ د میړاني ، شجاعت او سربازۍ څرګندول کوي ، کله چي د دښمن فوج مدینې ته په رانژدې کېدو سره ټول د مدینې اوسیدونکي د بیري څخه پریشانه سوې وه نو رسول الله ﷺ بالکل په بې خوفه کېدو سره د حال د پلټني لپاره یوازي د مدینې دباندي ووتی ، دا حدیث ددې خبري هم څرګندول کوي چي د دښمن معلومات تر لاسه کول او د هغوی په حالاتو باندي د خبرېدو کوښښ کول جائز دي او ددغه حدیث څخه دا هم معلومه سوه چي د بیري په وخت کي د بیري د ختمولو لپاره خلکو ته زیری ورکول مستحب دی .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د مړې مځکي اباددونکی د هغه مالک دی

﴿۲۸۱۷﴾: عَنْ سَعِيْدِ بْنِ زَيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ قَالَ مَنْ أَحْيَى أَرْضًا مَيِّتَةً فَهِيَ لَهُ وَلَيْسَ لِعِرْقٍ ظَالِمٍ حَقٌّ . رواه احمد والترمذي و ابوداؤد و رواه مالك عن عروة مرسلا وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب

د حضرت سعید بن زید ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کوم سړی چي مړه مځکه ژوندي کړي (د کښت قابله یې وګرځوي) نو هغه د هغه کس ده او د ظالم د اولاد هیڅ حق پکښي نسته .(احمد، ترمذي ابو داؤد) مالک د عروه څخه د ارسال په لاره روایت کړی دی ترمذي کي دا حدیث غریب ګڼل سوي دي .

تخريج: الترمذي في السنن ۳\۶۶۳، رقم: ۱۳۷۸، ابوداود في السنن ۳\۴۵۳، رقم: ۳۰۷۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

تشريح: د حديث د اولي برخي مطلب دادی که يو مځکه ورانه او ناابادہ وي او يو سړی په خپل کوښښ او محنت سره هغه مځکه د کرني وړ جوړه کړي يا هغه اباده کړي نو هغه مځکه د هغه سړي ملکيت کيږي په شرط ددې چي هغه مځکه تر دې مخکي د يو مسلمان په ملکيت کي نه وي او نه د ښار او کلي د يو ضرورت سره متعلق وي لکه د هغو د ښارويو د ناستي ځای وي يا د نورو ګټو لپاره يې استعمالوي، د امام ابو حنيفة رحمه الله په نزد د وراني مځکي د کرني وړ ګرځول يا په ابادولو سره د خپل ملکيت جوړولو يو شرط د امام (يعني د وخت د حکومت) اجازه هم ده که هغه ته د حکومت له خوا اجازه تر لاسه سي نو بيا د هغه مځکي مالک کېدای سي ، د امام شافعي، امام احمد او په حنفيه کي د امام ابويوسف او امام محمد رحمة الله عليهم په نزد د حکومت اجازه شرط نه ده ، د ټولو حضراتو دليلونه د فقهي په کتابو کي ذکر سوي دي .

او د ظالم هيڅ حق نه سته : ددې مطلب دادی که يو سړی د بل چا اباده کړې مځکه وکري يا په هغه کي درختي ولګوي نو هغه ددې په وجه د هغه مځکي مالک نه جوړيږي .

د بل چا مال خوړل حلال نه دی

﴿۲۸۱۸﴾: وَعَنْ أَبِي حُرَّةَ الرَّقَاشِيِّ عَنْ عَمِّهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ

حضرت ابو حره رقاشي رضي الله عنه د خپل اکا څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلاَ لاَ تَظْلِمُوْا أَلاَ لاَ يَحِلُّ مَالُ امْرِئٍ إِلاَّ بِطِيْبِ نَفْسٍ مِّنْهُ . رواه البيهقي في شعب الإيمان والدارقطني في المجتبى

پوه سئ ! په چا ظلم مه کوئ ، پوه سئ چي حلال نه دی مال د هيڅ سړي مګر په خوښي د زړه سره دده. بيهقي په شعب الايمان کي او دار قطني په مجتبى کي .

تخريج: البيهقي في الشعب ۳۸۷\۴. رقم: ۵۴۹۲.

د يو چا مال غلا کونکی د اسلامي ټولني فرد نه دی

﴿۲۸۱۹﴾: وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ قَالَ لَا جَلَبَ وَلَا جَنَبَ وَلَا شِغَارَ فِي الْإِسْلَامِ وَمَنِ انْتَهَبَ نُهْبَةً فَلَيْسَ مِنَّا . رواه الترمذي .

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت عمران بن حصین رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: (په اسلام کي) نه خو جلب سته نه جنب نه شغار (موخی کول) او څوک چي لوټ کړي لوټ کول (یعني غلا وکړي) هغه زموږ د ډلي څخه نه دي. (ترمذي)

تخریج: الترمذي في السنن ۳\۴۳۱، رقم: ۱۱۲۳.

تشریح جلب او جنب دوه اصطلاحي الفاظ دي او ددې تعلق د سباق سره هم دی او د صدقې سره سم، سباق د آسونو مقابلې ته وایي مثلاً یو سړی په دې شرط په خپلو کي آسونه وځغلوي چي په مقابله کي څوک مخته سي، نو په سباق کي جلب دا دی چي آس ځغلونکی یو سړی په خپل آس پسي وروسته وساتي او د هغه کار دا وي چي هغه آس وهي او اوازونه پسي کوي او هغه ځغلوي، او جنب دا دی چي آس ځغلونکی یو بل آس د ځان سره ولري چي کله د سپرلی آس ستړی سي نو هغه پر دوهم آس باندي په سپرېدو سره مخته ووځي.

په صدقه کي د جلب صورت دا دی چي صدقې او زکوة وصول کونکی کله خلکو ته راسي نو د ښار څخه د باندي یا د هغه خلکو څخه لیري په یو بل ځای کي پړاو واچوي او یو بل څوک هغه خلکو ته واستوي چي پر کومو خلکو زکوة واجب دی هغوی د خپل مال زکوة دلته راوړي. همدارنګه جنب دا دی چي پر کوم سړي زکوة واجب وي هغه دي د خپل مال په اخیستلو سره د خپل سرای څخه لیري ولاړ سي او زکوة وصول کونکي ته دي ووایي چي هغه دي دلته په رسیدو سره زکوة وصول کړي، ددې بیان د زکوة په باب کي تېر سوی دی دلته هم د جلب او جنب څخه منع سوې ده که د هغه تعلق د سباق سره وي یا د صدقې سره وي.

شغار (موخی) دا دی یو سړی د خپلي لور یا خور نکاح د یو چا سره په دې شرط وکړي چي هغه به د خپل خور یا لور نکاح د هغه سره کوي او هیڅ مهر ټاکلی نه وي بلکه دا شرط د مهر قائم مقام وي، په حدیث کي داسي نکاح کول د اسلامي طریقې خلاف ګرځول سوي دي، د اکثرو علماؤ په نزد داسي عقد فاسد دی مګر د امام ابو حنیفة رحمه الله او ابو سفیان رحمه الله په نزد دا عقد صحیح دی البته مهر مثل واجب دی او داسي عقد کونکی ګناه کار دی، دغه حضرات دا هم وایي چي داسي عقد باید ونه سي.

د یو چا مال په مخسرو او خندا کي مه خورئ

﴿۲۸۲۰﴾: وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيْدٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت سائب بن یزید رضي الله عنه د خپل پلاره څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ لَا يَأْخُذْ أَحَدُكُمْ عَصَا أَخِيهِ لَاعِبًا جَادًّا فَمَنْ أَخَذَ عَصَا أَخِيهِ فَلْيَرُدَّهَا إِلَيْهِ. رواه الترمذي و ابوداؤد و روايته الى قوله جادا.

په تاسو کي دي ځوک د خپل ورور لکړه په دې خيال نه اخلي چې د ځانه سره يې کښېږدي کوم سړی چې د خپل ورور څخه لکړه واخلي نو هغه دي بېرته ورکړي. (ترمذي ابو داؤد)

تخریج: الترمذي في السنن ۴\۴۰۲، رقم: ۲۱۶۰، وابوداود في السنن ۵\۲۷۳، رقم: ۵۰۰۳.

تشریح مطلب دادی چې يو ځوک د يو چا څخه د هغه لکړه يا بل شی په مسخرو او خندا کي واخلي مګر قصد يې دا وي چې هغه به د ځان سره اېږدم لکه څرنګه چې نن سبا دا ډېر رواج دی چې د يو بل شی په مسخرو او خندا کي پټيږي، که چيري مالک ته د هغه شي علم وسي نو هغه شی بېرته ورکړي او که د هغه هېر سي نو هغه د همېشه لپاره يې غائب کړي ځکه رسول الله ﷺ د دې څخه منع فرمايلې ده.

په حديث شريف کي په خاصه توګه د لکړي ذکر د مبالغې په توګه سوی دی او د دې مقصد دا څرګندول دي چې لکړه يو ډېر حقير او معمولي شی اخيستل هم منع دي نو د دې څخه د زيات حيثيت لرونکي شي اخيستل په طريقه اولی منع دي.

خپل غلا سوی مال چې د چا سره پيدا کړی ځيني وا يې خلئ

﴿۲۸۲۱﴾: وَعَنْ سَمُرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ وَجَدَ عَيْنَ مَالِهِ عِنْدَ رَجُلٍ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ وَيَتَّبِعُ الْبَيِّعُ مَنْ بَاعَهُ. رواه احمد و ابوداؤد والنسائي

د حضرت سمره رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ځوک چې خپل (غصب سوي غلا سوي ورک سوي) مال د چا سره وويني نو هغه د هغې د بيا پيدا کېدو زيات مستحق دي او اخيستونکی به په هغه نفر پسي ګرځي چې دغه شی يې پر خرڅ کړی وي. (احمد ابو داؤد نسائي)

تخریج: احمد في المسند ۵\۱۳، وابوداود في السنن ۳\۸۰۲، رقم: ۳۵۳۱، والنسائي ۷\۳۱۳، رقم: ۴۶۸۱.

تشریح د حديث خلاصه داده چې يو ځوک د يو چا مال غصب کړي يا د يو چا يو شی غلا کړي يا د چا ورک سوی شی په لاس ورسي او هغه شی پر بل چا باندي خرڅ کړي او س که مالک خپل هغه شی د رانيونکي سره ووينې نو هغه ته دا حق دی چې هغه شی د هغه څخه واخلي او رانيونکي چې هغه شی د چا څخه رانيولی وي د هغه څخه خپل قيمت تر لاسه کړي.

Maktaba Tul Ishaat.com

د چا څخه چې شی واخلئ بیرته یې ورکړئ

﴿۲۸۲۲﴾: وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عَلَى الْيَدِ مَا أَخَذَتْ حَتّٰى تُؤَدِّيَ. رواه الترمذي وابوداؤد وابن ماجة.

د حضرت سمره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې د چا څخه یو شی (په زور یا د غلا په ډول) واخلي نو هغه ته پکار ده چې هغه په خپل لاس سره مالک ته ورسوي. (ترمذي ابو داؤد ابن ماجه)

تخريج: ابوداود في السنن ۳\ ۵۲۲، رقم: ۳۵۶۱، والترمذي ۳\ ۵۶۶، رقم: ۱۲۶۶، وابن ماجه في السنن ۲\۸۰۲، رقم: ۲۳۰۰.

د لغاتو حل: على اليد: اى ما اخذته اليد ضمان على صاحبها.

تشریح: مطلب دادی چې یو سړي د یو چا څخه یو شی اخیستی وي نو هغه دده پر ذمه واجب الاداء دی تر څو چې هغه شی هغه مالک ته بېرته ورنه کړي، خلاصه داده که چیري یو سړی د یو چا څخه یو شی په زور اخیستی وي یا د یو چا شی یې غلا کړی وي یا د یو چا څخه یو شیی مستعار اخیستی وي یا د یو چا یو شی د امانت په توګه د ځان سره ساتلی وي نو هغه باید هغه شی مالک ته وسپاري، په زور د اخیستل سوي شي د هغه مالک ته بېرته ورکول واجب دي که څه هم مالک د هغه غوښتنه ونه کړي همدا رنګه عاریتا اخیستل سوی شی تر وخت پوره کېدو وروسته مالک ته بېرته ورکول ضروري دي که چیري یو وخت ټاکل سوی وي مګر کوم شی چې د امانت په توګه اېښودل سوی وي هغه به وخت هغه ور کول لازم وي کله چې مالک د هغه غوښتنه وکړي د مالک د غوښتني څخه مخکي د هغه بېرته ورکول واجب نه دي.

د یو چا باغ، حیوان وغیره ته تاوان رسول

﴿۲۸۲۳﴾: وَعَنْ حَرَامِ بْنِ سَعْدِ بْنِ مُحَيِّصَةَ أَنَّ نَاقَةً لِلْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ دَخَلَتْ

د حضرت حرام بن سعد بن محیصه رضی الله عنه څخه روایت دی چې د براء بن عازب رضی الله عنه اوښه یې

حَائِطَ فَأَفْسَدَتْ فَقَضٰى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ عَلٰى أَهْلِ الْحَوَائِطِ

باغ ته ننوته او باغ یې خراب کړ په دې کي رسول الله ﷺ دا پرېکړه وکړه چې د ورځي د باغ

حِفْظَهَا بِالنَّهَارِ وَأَنَّ مَا أَفْسَدَتْ الْمَوَاشِي بِاللَّيْلِ ضَامِنٌ عَلٰى أَهْلِهَا. رواه

Maktaba Tul Ishaat.com

مالك وابوداؤد وابن ماجة .

ساتنه د باغ والاؤ ده او کوم څاروي چي د شپې لخوا باغو ته تاوان ورسوي نو د هغه تاوان د څارويو والا په غاړه دي . (مالک ابو داؤد ابن ماجه) .

تخريج: مالک في الموطا ۲\ ۷۴۷، رقم: ۳۷، وابوداود في السنن ۳\ ۸۲۸، رقم: ۳۵۶۹، وابن ماجه في السنن ۲\ ۷۸۱، رقم: ۲۲۳۲.

تشريح: د حديث شريف خلاصه داده چي که چيري د يو چا حيوان د ورځي د يو چا باغ خراب کړي نو د هغه تاوان د حيوان پر مالک نه دی ځکه د ورځي د باغ ساتنه کول د باغ والا ذمه داري ده نو دا د هغه خپل کوتاهي ده چي هغه دخپل باغ څارنه ولي ونه کړه او يو حيوان يې باغ ته په ننوتلو سره ولي پرېښودی ، که چيري يو حيوان د شپې د يو چا باغ ته تاوان ورسوي نو دهغه تاوان به د هغه حيوان پر مالک واجب وي ځکه دا د حيوان د مالک کوتاهي ده د شپې د خپلو حيوانانو پاملرنه د هغه پر ذمه ده نو هغه د خپل حيوان په ازاد پرېښودو سره د بل چا د تاوان سبب ولي وګرځيدی .

دا تول تفصيل په هغه صورت کي دی کله چي د حيوان مالک د حيوان سره نه وي که چيري مالک د حيوان سره وي نو د حيوان څخه رسيدلی تاوان به د مالک پر ذمه وي که هغه پر حيوان سپور وي يا د حيوان سره روان وي او که د شپې تاوان ورسوي او که د ورځي .

دا د امام مالک او امام شافعي رحمة الله عليهما مذهب دی ، په دې باره کي د حنفي مذهب دادی که چيري د حيوان مالک د حيوان سره نه وي نو بيا پر هغه تاوان واجب نه دی که څه هم حيوان د ورځي تاوان ورسوي يا د شپې .

﴿۲۸۲۴﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَلرِّجْلُ جُبَارٌ وَقَالَ النَّارُ جُبَارٌ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د پښو لاندي ميده کېدل (چيتېدل) او د اور سوزل معاف دي (يعني د حيوانانو تر پښو لاندي يو شی مېده سي او مالک ورسره نه وي نو د هغه تاوان نسته همداسي که چا اور بل کړو او بخرۍ يې يو ځاي ولاړې او تاوان يې ورسوي نو هم د دې تاوان نسته په دې شرط چي تېزه هوا نه وي د اور لګونکي اراده فاسده نه وي). ابو داؤد

Maktaba Tul Ishaat.com

تخريج: ابوداود في الموضع السابق ٧١٦١٤، رقم: ۴۵۹۴.

تشريح: كه چيري يو حيوان يو شی تر پښو لاندي كړ او هغه يې ضائع كړ نو ددې په وجه د هغه حيوان پر مالک باندي تاوان واجب نه دی په شرط ددې چي هغه مالک د حيوان سره نه وي همدارنګه كه يو سړی د خراب مقصد مثلا تاوان رسولو يا د خپل ضرورت يا يو وجه څخه اور بل كړي او د هغه اور بځركي په هواء كي په الوتلو سره د يو چا په سامان كي ولويدی چي په هغه سره د هغه سامان وسوځيدی نو په دغه صورت كي پر اور بلونكي باندي تاوان واجب نه دی په شرط ددې چي هغه كله وخت اور بل كړی وي نو هغه وخت هواء ولاړه وي او كه چيري د اور بلولو څخه وروسته هواء چليدلې وي او كه هغه په داسي وخت كي اور بل كړی وي چي هواء چليدل او د هغه په وجه د اور څخه د تاوان رسيدو احتمال وو نو بيا پر هغه تاوان واجب دی.

د اضطرار په حالت كي د بل د حيوان شيدې څښل

﴿۲۸۲۵﴾: وَعَنِ الْحَسَنِ عَنْ سَمُرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا أَتَى

حضرت حسن رضی الله عنه د سمره رضی الله عنه څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو كي چي

أَحَدُكُمْ عَلَى مَاشِيَةٍ فَإِنْ كَانَ فِيهَا صَاحِبُهَا فَلْيَسْتَأْذِنْهُ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِيهَا

څوک څاروي پيدا كړي او مالک ورسره وي نو د هغه څخه دي اجازت واخلي او شيدې دي ولوشي او ودي يې څښي او كه مالک ورسره نه وي (ډېر وږي وي)

فَلْيُصَوِّتْ ثَلَاثًا فَإِنْ أَجَابَهُ أَحَدٌ فَلْيَسْتَأْذِنْهُ وَإِنْ لَمْ يُجِبْهُ أَحَدٌ فَلْيَحْتَلِبْ

وَلْيَشْرَبْ وَلَا يَحْمِلْ. رواه أبو داود

نو درې واره دي په لوړ اواز سره اعلان وكړي كه څوک جواب وركړي نو د هغه څخه دي د شيدو د لوشلو اجازت واخلي او كه څوک جواب ورنه كړي نو شيدې دي ولوشي او و دي څښي په قدر د ضرورت او د ځانه سره دي يې نه وړي. (ابو داؤد)

تخريج: ابوداود في السنن ٨٩١٣، رقم: ٢٦١٩.

تشريح: په دغه حديث كي د ذكر سوي هدايت تعلق د هغه سړي سره دی چي هغه د اضطرار حالت ته رسيدلی وي يعني د لوږي څخه مړ كيږي، د داسي سړي لپاره اجازه ده كه چيري هغه د شېدو والا حيوان ويني او د هغه مالک موجود نه وي نو هغه دي د ذكر سوو هداياتو سره سم د

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه حيوان شيدې د ضرورت په اندازه ولوېشي او وه دي يې څښښي.

يا به دا وويل سي چي د دغه حديث تعلق په عمومي توګه د داسي ځايو سره دی چيري مسافر د حيوانانو د شېدو په لوښلو سره د څښلو څخه نه منع كيږي نو د داسي ځای لپاره د اجازه ورکړل سوې ده او ... سره سوو هدايا تو سره سم د ضرورت په اندازه شېدې څښل جائز دي.

د بل د باغ ميوه بېله اجازې خوړل

﴿۲۸۲۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ مَنْ دَخَلَ حَائِطًا فَلْيَأْكُلْ وَلَا يَتَّخِذْ خُبْنَةً. رواه الترمذي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث غريب.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي (ورې وي) باغ ته ولاړ سي نو (په قدر د ضرورت دي) مېوه وخوري او کڅوړه دي نه ور څخه ډکوي. (ترمذي ابن ماجه او په ترمذي کي دا حديث غريب شمېرل سوي دي.

تخريج: الترمذي في السنن ۳\۵۸۳، رقم: ۱۲۸۷، وابن ماجه ۲\۷۷۲، رقم: ۲۳۰۱.

تشريح: د دغه حديث مقصد د دې عامه اجازه ورکول نه دي چي څوک وغواړي د بل سړي باغ ته په ورتلو سره مېوه را وشکوي او وه يې خوري، ځکه د يو چا شی د هغه د اجازې او خوښی څخه پرته اخيستل او خوړل بالکل صحيح نه دي بلکه دا حديث هم د مخکني حديث په ډول يا خو د اضطرار پر حالت باندي محمول دی يا د دې تعلق د داسي ځايو سره دی چي هلته د يو چا باغ ته په ورتلو سره د باغ والا د اجازې څخه پرته هم مېوه خوړل منع نه وي.

مستعار شی د امانت په حکم کي دی

﴿۲۸۲۷﴾: وَعَنْ أُمَيَّةَ بْنِ صَفْوَانَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ اسْتَعَارَ مِنْهُ أَدْرَاعَهُ يَوْمَ حُنَيْنٍ فَقَالَ أَغَصْبًا يَا مُحَمَّدُ قَالَ بَلْ عَارِيَةً مَضْمُونَةً. رواه ابوداؤد.

حضرت اميه بن صفوان رضي الله عنه د خپل پلاره څخه روايت کوي چي د حنين په غزا کي رسول الله ﷺ د هغه څخه څو زغري مستعار واخيستې هغه پوښتنه وکړه چي اې محمده ﷺ! چي ايا دا زغره د غصب په ډول (يعني په زوره) اخلې؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: چي يا! د عريت په ډول هغه به بيرته واپس کيږي. (ابو داؤد)

تخريج: ابو داود في السنن ۳\۸۲۲، رقم: ۳۵۶۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

تشریح د حنین په غزا کي رسول الله ﷺ د صفوان څخه یو څو زغري په استعاره واخیستلې او صفوان د اسلام په دولت مشرف سوی نه وو ځکه هغه رسول الله ﷺ ته د زغرو ورکولو پر وخت چي کومه پوښتنه کړې وه هغه په ظاهره د ادب د حد څخه تجاوز معلومیږي مګر وروسته صفوان د اسلام په دولت مشرف سوی دی . رضي الله عنه .

د حضرت شریح ، حضرت نخعي، حضرت سفیان ثوري او امام ابوحنیفة رحمة الله علیهم مذهب دادی چي کوم شی په استعاره واخیستل سي هغه د استعاره اخیستونکي سره د امانت په توګه وي که هغه ضائع سي نو د هغه بدله ورکول واجب نه دي مګر که استعاره اخیستونکی هغه شی په قصد سره ضائع کړي نو بیا د هغه تاوان واجب دی مګر د حضرت ابن عباس، حضرت ابوهریره، امام شافعي او امام احمد رحمة الله علیهم مذهب دادی که هغه ضائع شي نو پر استعاره اخیستونکي باندي د هغه بدله یعني د هغه شي قیمت ادا کول واجب دي ځکه ددغه حضراتو په نزد د مضمونة لفظ معنی داده چي د تلف کېدو په صورت کي به د هغه تاوان ادا کیږي.

د مستعار شي بیرته ورکول واجب دي

﴿۲۸۲۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ اَمَامَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ الْعَارِيَةُ مُؤَدَّاةٌ وَالْمِنْحَةُ مَرْدُوْدَةٌ وَالدَّيْنُ مَقْضِيٌّ وَالزَّعِيْمُ غَارِمٌ . رواه الترمذي و ابوداؤد

د حضرت ابو امامه رضی الله عنه څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي چي د مستعار شی بیرته ورکول واجب دي او منحه (یعني چا لره غوا یا بل حیوان ورکړي هغه صرف د هغه حیوان د شېدو څخه استفاده کولای سي او حیوان دي بیرته اصلي مالک ته ورکړي) بیرته ورکول هم ضروري دي او قرض دي ادا کړل سي او ضامن ته ضمانت ادا کول واجب دي . (ترمذي ابو داؤد)

تخریج: الترمذي في السنن ۳\ ۵۶۵، رقم: ۱۲۶۵، وابوداود في السنن ۳\ ۸۲۴، رقم: ۳۵۶۵.

تشریح منحه دې ته وایي چي یو څوک خپل یو څاروی یو چا ته د شېدو څښلو لپاره ورکړي یا یو چا ته خپل مځکه یا باغ د میوه خوړلو لپاره ورکړي نو په منحه کي یوازي د ګټې اخیستني مالک جوړیږي نه د هغه شي د اصل مالک ځکه دداسي شي څخه د ګټه اخیستلو څخه وروسته هغه بېرته مالک ته ورکول واجب دي .

Maktaba Tul Ishaat.com

د درختو څخه د لوېدلو میوو اخیستلو حکم

﴿۲۸۲۹﴾: وَعَنْ رَافِعِ بْنِ عَمْرٍو الْغِفَارِيِّ قَالَ كُنْتُ غُلَامًا أَرْمِيْ نَخْلَ الْأَنْصَارِ

د حضرت رافع بن عمرو غفاري رضي الله عنه څخه روایت دی چي زه کوچنی وم او د انصارو وني به مي په ډبرو سره ویشتلې.

فَأُتِيَ بِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا غُلَامُ لِمَ تَرْمِيْ النَّخْلَ ؟ قُلْتُ

انصارو زه و نیولم او د رسول الله ﷺ په خدمت کي یې حاضر کړم، نبي کریم ﷺ زما څخه پوښتنه وکړه چي ته خرماوي ولي ولې؟ ما ورته وویل چي

آكُلُ قَالَ فَلَا تَرْمِ وَكُلْ مِمَّا سَقَطَ فِيْ أَسْفَلِهَا ثُمَّ مَسَحَ رَأْسَهُ فَقَالَ اَللّٰهُمَّ أَشْبِعْ بَطْنَهُ. رواه الترمذي وأبو داود وابن ماجه. وسنذكر حديث عمرو بن شعيب في "باب اللقطة" إن شاء الله تعالى

زه یې خورم نبي کریم ﷺ را ته وفرمایل: ډبري مه غورځوه کومي خرماوي چي کښته لوېدلي وي هغه خوره بیا نبي کریم ﷺ خپل مبارک لاس زما پر سر را تېر کړ او ویې فرمایل: اي الله! ته دده نس ور موړ کړه. (ترمذي ابو داؤد ابن ماجه) (باب لقطه) (لویدلي شیان) کي به د عمرو بن شعیب حدیث کي انشاء الله بیان کیږي.

تخریج: الترمذي في السنن ۲\ ۵۸۴، رقم: ۱۲۸۸، وابوداود في السنن ۳\ ۹۰، رقم: ۲۶۲۲، و ابن ماجه في السنن ۲\ ۷۷۱، رقم: ۲۲۹۹.

تشریح رسول الله ﷺ رافع رضي الله عنه ته د درختي څخه لویدلو خرماوو د خوړلو اجازه ځکه ورکړه چي په عامه توګه د درختي لویدلي مېوو څخه څوک نه منع کوي په خاصه توګه کوچنیان چي د لوېدلو میوو ډېر شوقیان وي او هغه ددې څخه څوک نه منع کوي چي هغوی د درختي څخه لوېدلي خرماوي وخوري.

علامه طیبي رحمة الله علیه فرمایي که چیري رافع رضي الله عنه د اضطرار په حالت کي وي یعني د لوږي په وجه مجبور وي نو رسول الله ﷺ به هغه ته د لوېدلو خرماوو د خوړلو پر اجازه ورکولو باندي اکتفاء نه وای کړې بلکه د درختي څخه د خرماوو د شکولو اجازه به یې هم ورکړې وای.

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د مځكې غصب كولو سزا

﴿۲۸۳۰﴾: عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ مَنْ أَخَذَ مِنَ الْأَرْضِ شَيْئًا بِغَيْرِ حَقِّهِ خُسِفَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَى سَبْعِ أَرَضِينَ. رواه البخاري.

حضرت سالم رضي الله عنه د خپل پلار څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي د مځكي څه برخه په ناحقه واخيسته هغه به د قيامت په ورځ د دغي مځكي اووه طبقې پوري كښته ځي. (بخاري).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ٦\ ٢٩٢، رقم: ٣١٩٦.

﴿۲۸۳۱﴾: وَعَنْ يَعْلَى ابْنِ مُرَّةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ أَخَذَ أَرْضًا بِغَيْرِ حَقِّهَا كُلِّفَ أَنْ يَحْمِلَ تُرَابَهَا إِلَى الْمَحْشَرِ. رواه احمد

د حضرت يعلى بن مره رضي الله عنه څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي څوك چي په ناحقه سره د چا پر مځكه باندي قبضه ولكوي د قيامت په ورځ به هغه ته حكم وكول سي چي د هغې مځكي خاوره په خپل سر باندي د حشر ميدان ته پورته كړي. (احمد)

تخريج: الامام احمد في المسند ٤\ ١٧٢.

تشريح: په ظلم او زور سره د يو چا د مځكي د غصب كولو مختلفي سزاوي بيان سوي دي، په اول فصل كي دا فرمايل سوي وه چي د قيامت په ورځ به د داسي سړي په غاړه كي د مځكي هغه ټوټه د طوق په ډول واچول سي، په اوسني حديث كي دا ذكر سوي دي چي چي د يو چا پر مځكه باندي په ناحقه قبضه كونكى به د قيامت په ورځ د مځكي تر اوومي طبقې پوري غرق كړل سي. دلته په دغه حديث كي دا سزا ذكر سوې ده چي د چا پر مځكه باندي په ناجائزه طريقې سره قبضه كونكى به د حشر په ورځ پر دې مجبور كړل سي چي هغه د هغه مځكي خاوره پر سر پورته كړي، په راتلونكي حديث كي په دې باره كي د سزا يو بل ډول بيانيږي.

﴿۲۸۳۲﴾: وَعَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَيُّمَا رَجُلٍ

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت يعلى بن مره رضي الله عنه څخه روايت دی چې ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي څوک

ظَلَمَ شِبْرًا مِنَ الْأَرْضِ كَلَّفَهُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ أَنْ يَحْفِرَهُ حَتّٰى يَبْلُغَ آخِرَ سَبْعِ

چې لږ مځکه هم په ظلم سره واخلي الله جل جلاله به هغه ته حکم ورکړي چې هغه مځکه تر اوومې طبقې پورې وکينډي

أَرَضِينَ ثُمَّ يُطَوَّقَهُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ حَتّٰى يُقْضٰى بَيْنَ النَّاسِ. رواه احمد.

بیا به هغه مځکه طوق جوړه کړل سي او دهغه په غاړه کي به وروا چول سي او هغه به تر قيامته پوري په دغه حالت کي وي تر دې پورې چې د قيامت په ورځ به د ټولو خلکو د معاملاتو پريکړه وسي. (احمد).

تخريج: الامام احمد في المسند ۴\۱۷۳.

==========

بَابُ الشُّفْعَةِ (د شفعي بيان)

شُفعَه د شُفع څخه مشتق دی چې لغوي معنی يې د يو ځای کولو او جفت کولو ده ، او د فقهي په اصطلاح کي هغه همسايتوب يا شراکت ته وايي چې د هغه په وجه يو همسايه يا شريک ته د هغه دوهم همسايه يا دوهم شريک د خرڅېدونکي مځکي د خرڅېدونکي سرای رانيولو يو خاص حق حاصل وي ، او دا حق يوازي د مځکي يا سرای سره مخصوص وي ، کوم چا ته چي دا حق حاصل وي هغه ته شفيع وايي ، ددغه حق نوم ځکه شفع دی چي دغه خاص حق د خرڅېدونکي مځکي يا سرای د شفيع مځکي يا سرای سره يو ځای کوي .

د امام شافعي ، امام مالک او امام احمد رحمة الله عليهم په نزد د شفعه حق يوازي شريک ته حاصل دی او همسايه ته دا حق حاصل نه دی مګر د امام ابو حنيفة رحمه الله مذهب دا دی چي د شفعه حق لکه څرنګه چي شريک ته ثابت دی همدارنګه همسايه ته هم ثابت دی .

د يو صحيح روايت مطابق امام احمد رحمه الله هم ددې قائل دی چي د همسايه د شفع په ثبوت کي حديثونه منقول دي چي بالکل د صحيح درجې دي د هغه په موجودتيا کي همسايه ته د شفع د حق ورکولو څخه انکار کول يو بې دليله خبره ده .

Maktaba Tul Ishaat.com

د حنفي مذهب سره سم د شفیع درې درجي دي : اول خلیط في النفس المبیع : یعني د خرڅېدونکي سرای په ملکیت کي څو کسان شریک وي که هغه سرای ټولو شریکانو ته وراثت کي رسیدلی وي یا هغوی ټولو په شراکت سره رانیولی وي یا ټولو ته په ګډه سره هبه سوی وي.
دوهم : خلیط في حق المبیع : یعني د هغه خرڅېدونکي سرای یا مځکي په ملکیت کي شریک نه وي بلکه د هغه مځکي یا سرای په حق کي شریک وي لکه حق د مرور (یعني د راتلو او تللو حق) حق مسیل (یعني د اوبو د ایستلو حق) او حق شرب (یعني د کښت وغیره د اوبو کولو لپاره د اوبو د ویالې وغیره حق).
دریم همسایه چي د هغه سرای د خرڅېدونکي سرای سره متصل وي او د هغه دواړو سرایو دیوالونه د یو بل سره لګیدلي وي او د دواړو دروازې پر یوه لاره وي.
د دغه درو ځخه پرته بل څوک شفیع کیدای نه سي نو تر ټولو مخکي د شفع حق هغه چا ته حاصلیږي چي د هغه خرڅېدونکي سرای یا مځکي په ملکیت کي شریک وي د هغه په موجودتیا کي د شفع حق نه په حقوقو کي شریک ته حاصلیږي او نه همسایه ته ، که شریک د شفع د حق ځخه منع اختیار کړي نو بیا د شفع حق هغه سړي ته رسیږي کوم چي په حقوق کي شریک وي او که هغه هم منع وکړي نو بیا د شفع حق همسایه ته حاصلیږي او که همسایه هم د خپل حق ځخه منع اختیار کړي نو ددې ځخه وروسته هیچا ته د شفع حق نه حاصلیږي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د شفع حق یوازي شریک ته حاصل دی که همسایه ته هم

﴿۲۸۲۳﴾: عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالشُّفْعَةِ فِي كُلِّ مَا لَمْ يُقْسَمْ فَإِذَا وَقَعَتِ الْحُدُودُ وَصُرِّفَتِ الطُّرُقُ فَلَا شُفْعَةَ. رواه البخاري

د حضرت جابر رضی اللہ عنہ ځخه روایت دی چي رسول الله ﷺ په هر هغه شی کي چي د شریکانو په مینځ کي تقسیم سوي نه وي د شفع حکم ورکړي دي لیکن هر کله چي حدود و ټاکل سي (یعني مشترکه مځکه په خپلو کي تقسیم سي) او د هري حصې لاره جلا سي بیا شفع باقي نه پاته کیږي. (بخاري).

تخریج: البخاري في الصحیح (فتح الباري): ۴۰۷\۱۴، رقم: ۲۲۱۳.

تشریح کله چي د یو مځکي یا سرای څو مالکان وي نو د هغه شریکانو ته د هر یوه پر برخه باندي د شفع حق تر هغه وخته حاصل وي تر څو چي هغه مځکه یا سرای په خپلو کي وېشل

Maktaba Tul Ishaat.com

سوی نه وي که هغه مځکه یا سرای پر شریکانو وویشل سي او د ټولو برخو لاري جلا سي نو په دغه صورت کي هیڅ ته هم د شفع حق نه ترلاسه کیږي، همدارنګه دغه حدیث ددې دلیل دی چي د شفعه حق یوازي شریک ته حاصل دی همسایه ته حاصل نه دی د امام شافعي رحمه الله دا مذهب دی.

د امام ابو حنیفة رحمه الله په نزد همسایه ته هم د شفع حق حاصل دی، دده په نزد نور حدیثونه هم سته، او همدرانګه دده په نزد ددغه حدیث مراد دادی چي د هغه مځکي یا سرای د وېشلو څخه وروسته د شراکت شفع نه پاته کیږي نو د حدیث ددغه مفهوم اخیستلو په صورت کي د همسایه د شفع د حق څخه ایستل نه لازمیږي.

د شفع حق یوازي د مځکي او ځای سره مخصوص دی

﴿۲۸۳۴﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالشُّفْعَةِ فِي كُلِّ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ مشترکه مځکه چي تقسیم سوې نه وي د

شِرْكَةٍ لَمْ تُقْسَمْ رَبْعَةٍ أَوْ حَائِطٍ لَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَبِيعَ حَتَّى يُؤْذِنَ شَرِيكَهُ فَإِنْ

شفع حکم ورکړي دي که کور وي یا باغ وي او فرمایلي يې دي چي په دوو شریکانو کي یو شریک ته د خپل حصې خرڅولو حق نه لري ترڅو پوري چي د خپل دویم شریک څخه اجازه وا نه خلي که چیري

شَاءَ أَخَذَ وَإِنْ شَاءَ تَرَكَ فَإِذَا بَاعَ وَلَمْ يُؤْذِنْهُ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ. رواه مسلم.

د دویم شریک خوښه وي په خپله دي رانیسي او یا يې پریږدي او که یو شریک د دویم شریک د اجازې څخه پرته خپله برخه خرڅه کړه نو د هغه شریک د هغې د رانیولو حقداره دي. (مسلم)

تخریج: مسلم في الصحیح ۳\۱۲۲۹، رقم: ۱۳۴- ۱۶۰۸.

تشریح ددغه حدیث شریف څخه څرګند سوه چي د شفع حق یوازي د غیر منقوله جائیداد سره مخصوص دی، په منقوله شیانو کي لکه اسباب، حیوانانو او داسي نورو کي د شفع حق نه سته د ټولو علماؤ په اتفاق سره دا مذهب دی، او بیا د شفع حق یوازي د مسلمان سره خاص نه دی بلکه د مسلمان او ذمي په مینځ کي هم د شفع حق جاري دی (ذمي هغه غیر مسلم ته وایي چي جذیه یعني د خپل سر او مال او د خپل عزت د ساتني لپاره د یو خاص محصول په ادا کولو سره د اسلامي هیواد اوسیدونکی وي).

Maktaba Tul Ishaat.com

د مشترکه مځکي یا سرای د یوې برخي د پلورلو پر وخت دوهم شریک ته خبر ورکول ضروري دي

په حدیث شریف کي د ذکر سوو الفاظو (لایحل له...الخ) یعني هیڅ یو شریک ته خپل برخه پلورل حلال نه دي...الخ: ددې څخه دا خبره ثابته سوه که یو مشترکه مځکه یا سرای څخه یو شریک خپل برخه پلورل غواړي نو د هغه لپاره ضروري ده چي هغه د پلورلو د ارادې پر وخت خپل دوهم شریک ته خبر ورکړي که چیري هغه یې رانیول غواړي نو هغه برخه به رانیسي او که نو د نه خبرتیا په صورت کي هغه دوهم شریک ته دا حق حاصل دی چي هغه به د شفع په ذریعه هغه برخه تر لاسه کړي.

همسایه ته د شفع د حق حاصل کېدو دلیل

﴿۲۸۳۵﴾: وَعَنْ اَبِيْ رَافِعٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْجَارُ أَحَقُّ بِسَقَبِهِ. رواه البخاري.

د حضرت ابو رافع رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: همسایه د نژدیوالي په خاطر د شفع زیات حقداره دي. (بخاري)

تخریج: البخاري في الصحیح (فتح الباري): ۴۳۷\۱۴، رقم: ۲۲۵۸.

د لغاتو حل: بسقبه: وهو القرب والملاصقة (نژدېوالی).

تشریح: مطلب دادی چي همسایه د شفع زیات حقدار دی او دا مخکي بنودل سوې ده چي د شفع حق یوازي هغه همسایه ته وي کوم چي نژدې او متصل وي.

دا حدیث په ډېر وضاحت سره د حنفیه د مذهب دلیل دی چي د شفع حق یوازي شریک ته حاصل نه دی بلکه همسایه ته هم حاصل دی.

د همسایتوب حق

﴿۲۸۳۶﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَمْنَعْ جَارٌ جَارَهُ أَنْ يَغْرِزَ خَشَبَهُ فِيْ جِدَارِهِ. متفق علیه.

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هیڅوک دي خپل همسایه په دیوال کي د لرګي (میخ وغیره) د ټک وهلو څخه نه منعه کوي. (بخاري او مسلم)

Maktaba Tul Ishaat.com

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵\ ۱۱۰، رقم: ۲۴۶۳، ومسلم ۳\ ۱۲۳۰، رقم: ۱۳۶- ۱۶۰۹.

تشريح: د نه منع کولو حکم په هغه صورت کي دی کله چي د لرګي ښخولو په وجه یو تاوان او ضرر نه رسیږي، د امام احمد او محدثینو په نزد پورتنی حکم د وجوب په توګه دی، امام ابوحنیفة، امام مالک او امام شافعي رحمة الله علیهم فرمایي چي دغه حکم د استحباب په توګه دی.

د لاري په اړه يو هدايت

﴿۲۸۳۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اخْتَلَفْتُمْ فِي الطَّرِيقِ جُعِلَ عَرْضُهُ سَبْعَ أَذْرُعٍ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چي په تاسو کي د لاري په اړه اختلاف پیداسي نو د لاري عرض (بر) اووه ګزه ساتئ. (مسلم).

تخريج: مسلم في الصحيح ۳\ ۱۲۳۲، رقم: ۱۴۳- ۱۶۰۹.

تشريح: مطلب دادی چي پر یو مځکه باندي لاره جوړه سوې وي او هلته خلک سرای جوړول غواړي نو غوره داده چي په خپلو کي په اتفاق او اتحاد سره مناسب لاره پرېږدي مګر که چیري د لاري لپاره د مځکي پر اندازه باندي اتفاق نه وي او په خپلو کي اختلاف پیداسي نو په دغه صورت کي واضح هدایت دادی چي د لاري لپاره دي اووه لاسه مځکه وتاکل سي او په دغه اووه لاسه مځکه کي دي هیڅوک سرای وغیره نه جوړوي.

په دې باره کي یو بله مسئله هم په ذهن کي راوستل پکار دي هغه داده که چیري یوه لاره د اوو لاسو څخه لویه وي نو په دغه صورت کي د هیچا لپاره دا جائز نه دي چي هغه د لاري پر مځکه قبضه وکړي او ووایي چي د لاري لپاره اووه لاسه مځکه کافي ده.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د غیر منقوله جائیداد بېله ضرورته خرڅول مناسب نه دي

﴿۲۸۳۸﴾: عَنْ سَعِيْدِ بْنِ حُرَيْثٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت سعید بن حریث رضي الله عنه څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي

Maktaba Tul Ishaat.com

يَقُوْلُ مَنْ بَاعَ مِنْكُمْ دَارًا أَوْ عَقَارًا قَمِنٌ أَنْ لاَّ يُبَارَكَ لَهُ إِلاَّ أَنْ يَّجْعَلَهُ فِيْ مِثْلِهِ. رواه ابن ماجه والدارمي

څوک چي په تاسو کي کور يا مځکه خرڅه کړي مناسب دي چي د هغه په قيمت کي برکت را نسي تر څو چي په هغه پيسو د هغه کور يا مځکي بل مثل رانيسي. (ابن ماجه دارمي).

تخريج: ابن ماجه في السنن ۲\۸۳۲، رقم: ۲۴۹۰، والدارمي ۲\۳۵۳، رقم: ۲۶۲۵.

تشريح: مطلب دادی چي د جائيداد (مثلا سرای، مځکه، باغ) بېله ضرورت خرڅول او د هغه په قيمت سره منقوله شيان رانيول غير مناسب دي ځکه په جائيداد کي ګټه هم ډېره وي او د هغه د تاوان خطره هم کمه وي چي غل يې نه سي غلا کولای پر خلاف د منقوله شيانو چي د هغه د غلا هر وخت بېره وي نو د عقل اوپوهي تقاضا داده چي بېله ضرورته خپل جائيداد دي نه خرڅوي او که چيري خرڅ يې کړي نو د هغه په قيمت دي نور جائيداد رانيسي.

همسايه ته د شفع حق حاصل دی

﴿۲۸۳۹﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَلْجَارُ أَحَقُّ بِشُفْعَتِهِ يُنْتَظَرُ بِهَا وَإِنْ كَانَ غَائِبًا إِذَا كَانَ طَرِيْقُهُمَا وَاحِدًا. رواه أحمد والترمذي وأبو داود وابن ماجه. والدارمي

د حضرت جابر ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: همسايه د شفع زيات حقدار دي که هغه نه وي پر ځای نو د هغه انتظار دي وکړي او دا حق هغه وخت حاصلېږي هر کله چي د دواړو لاره يوه وي. (احمد ترمذي ابو داؤد ابن ماجه دارمي)

تخريج: احمد في المسند ۳\۳۰۳، والترمذي في السنن ۳\۶۵۱، رقم: ۱۳۶۹، وابو داود في السنن ۳\۷۸۷، رقم: ۳۵۱۸، وابن ماجه في السنن ۲\۸۳۳، رقم: ۲۴۹۴، والدارمي ۲\۳۵۴، رقم: ۲۶۲۷.

د شفع تعلق

﴿۲۸۴۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ اَلشَّرِيْكُ شَفِيْعٌ وَالشُّفْعَةُ فِيْ

د حضرت ابن عباس ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: شريک (په هغه مځکه

Maktaba Tul Ishaat.com

كُلِّ شَيْءٍ . رواه الترمذي قال: وقد روي عن ابن أبي مليكة عن النبي ﷺ مرسلا وهو أصح .

كي چي خرڅه کړل سي) نو د شفع حق لري او شفع په هر شي کي ده .(ترمذي) او ابن ابي مليکه رضي الله عنه د نبي کريم ﷺ څخه مرسلا روايت کړی دی او دا زيات صحيح دي .

تخريج: الترمذي في السنن ۳\ ۶۵۴، رقم: ۱۳۷۱.

تشريح: غشما وظلما : دلته لفظ د ظلم او لفظ د بغير حق د غشما د تاکيد لپاره استعمال سوی دی يا دا چي لفظ د ظلم د غشما د تاکيد لپاره دی مګر د بغير حق څخه مراد شفعه ده .

د ابوداؤد په کتاب (مرقاة الصعود) کي ليکلي دي چي طبراني په خپل کتاب (اوسط) کي دا وضاحت کړی دی چي کوم څوک د حرم په حدودو کي د بيري درخته ووهي نو د هغه لپاره دا وعيد دی ، ځينو ويلي دي چي دلته د مدينې د بيري درخته مراد ده ، ځيني حضرات وايي چي د ځنګل د بيري څخه هغه درخته مراد ده چي د هغه په سايه کي مسافر او حيوانان راحت تر لاسه کوي او ځيني علماء وايي چي ددغه وعيد تعلق د هغه سړي سره دی چي د بل سړي د بيري درخته په ظلم او زور سره پرېکړي .

د بيري د درختي پر پرېکولو باندي وعيد

﴿۲۸۴۱﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ حُبْيْشٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن حبيش رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

مَنْ قَطَعَ سِدْرَةً صَوَّبَ اللهُ رَأْسَهُ فِي النَّارِ " . رواه أبو داود وقال : هذا الحديث

څوک چي د بيري درخته ووهي (بيري وهلو څخه مراد د مکې د حرم او د مدينې د حرم بيره ده او يا هغه بيره د چا په ملکيت کي وي او په زوره او په ظلم سره يې څوک ووهي د عامو بيرو درخته ځيني مراد نه ده) نو خداي تعالي به يې سر دوږخ ته وغورځوي. (ابو داؤد) دابو داؤد بيان دي

مختصر يعني مَنْ قَطَعَ سِدْرَةً فِيْ فَلَاةٍ يَسْتَظِلُّ بِهَا ابْنُ السَّبِيْلُ وَالْبَهَائِمُ

چي دا حديث مختصر دي د دې مراد دادي څوک چي د ځنګل يوه داسي د بيرو درخته ووهي چي د هغې لاندي مسافر او حيوان پناه حاصلوي

Maktaba Tul Ishaat.com

غَشْمًا وَظُلْمًا بِغَيْرِ حَقٍّ يَكُوْنُ لَهُ فِيْهَا صَوَّبَ اللهُ رَأْسَهُ فِي النَّارِ.

او په ناحقه يې پرېکړي نو د هغه سر به دوږخ ته وغورځول سي.

تخريج: ابو داود في السنن ۵\ ۴۰۴، رقم: ۵۲۳۹.

د لغاتو حل: صوب: اى نكس وخفض.

تشريح څاه يو داسي شی دی چي د وېشلو احتمال نه لري او د شفع حق په هغه مځکه کي وي چي هغه د وېشلو احتمال ولري ځکه نو په څاه کي شفع نه کيږي، د امام شافعي رحمة الله عليه دا مذهب دی مګر د حنفيه په نزد شفع په هره مځکه کي ثابت ده که هغه د ويشلو احتمال ولري لکه سرای، مځکه، باغ او داسي نور او که د وېشلو احتمال ونه لري لکه څاه، حمام، ژرنده او داسي نور، د حنفيه دليل د رسول الله ﷺ دغه ارشاد دی (الشفعة في كل شئ) يعني شفعه په هر شي کي ده.

او د نارينه خرما په درخته کي: يعني څو کسانو ته د خرما يو څو درختي په مشترکه توګه په وراثت تر لاسه سوې چي هغوی په خپلو کي وويشلې او س په هغوی کي يو سړی د خپل برخي د خرما د درختو سره د هغه نارينه درختي خپل حقوق هم خرڅ کړي نو شريکانو ته به د هغه په خرڅولو کي د شفع حق حاصل نه وي ځکه نو خو هغه مځکه ده او نه د هغه ويشل ممکن دي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ (دريم فصل)

په غير منقول جائيداد کي شفع

﴿۲۸۴۲﴾: عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ قَالَ إِذَا وَقَعَتِ الْحُدُوْدُ فِي الْأَرْضِ فَلَا شُفْعَةَ فِيْهَا وَلَا شُفْعَةَ فِيْ بِئْرٍ وَّلَا فَحْلِ النَّخْلِ. رواه مالك.

د حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه څخه روايت دی چي هر کله (په مشترکه مځکه کي حدونه قائم سي نو شفع نه پاته کيږي او په څاه کي شفع نسته او د نر خرما په درخته کي شفع نسته) (مالک)

تخريج: الامام احمد في الموطا ۲\ ۷۱۷، رقم: ۴.

========

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ الْمُسَاقَاتِ وَالْمُزَارَعَةِ

(د مساقات او مزارعت بیان)

د مساقات صورت دادی چي د مثال په توګه زید د خپل باغ یو څه درختي بکر ته په دې شرط ورکړي چي ته دغه درختي اوبه کوه او ساتنه یې کوه بیا په هغه کي چي کوم میوې وسي نو په هغه کي نیم یا دریمه برخه یا څلورمه برخه به په خپلو کي وویشو .

د مزارعت صورت دادی چي د مثال په توګه زید خپل مځکه بکر ته په دې شرط ورکړي چي ته دغه مځکه وکره او په هغه کي چي څه حاصلات وسي نو هغه به نیم په نیم یا دریمه برخه یا څلورمه په خپلو کي وویشو .

د مساقات او مزارعت دواړو یو مفهوم دی یعني نیم په نیم ورکول مګر یوازي دومره فرق دی چي د مساقات تعلق د درختو سره وي او د مزارعت تعلق د مځکي سره وي او د دواړو فقهي حکم هم یو دی ، مساقات او مزارعت یعني خپل مځکه یا خپل درختي په نیمه ورکول د امام ابوحنیفة رحمة الله علیه په نزد فاسد دی او د امام شافعي، امام مالک، امام احمد او په حنفیه کي د امام ابویوسف ، امام محمد او نورو علماء په نزد جائز دی .

د امام ابوحنیفة رحمة الله علیه دلیل دادی چي دا یو داسي اجاره ده چي په هغه کي مزدوري مجهول او معدوم وي او بیا دا چي د رسول الله ﷺ څخه د مزارعت نهي ثابت ده مګر فتوا د امام ابویوسف او امام محمد رحمة الله علیهما پر قول ده ځکه د حنفیه په نزد هم مساقات او مزارعت جائز دی.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د خیبر د مځکي بندوبست

﴿۲۸۴۳﴾: عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَفَعَ إِلَى
د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د خیبر د خرماؤ درختي او

يَهُوْدِ خَيْبَرَ نَخْلَ خَيْبَرَ وَأَرْضَهَا عَلَى أَنْ يَعْتَمِلُوْهَا مِنْ أَمْوَالِهِمْ وَلِرَسُوْلِ اللّٰهِ
مځکه یې یهودیانو ته په دې شرط ورکړې وه چي هغوی به کار کوي او پیسې به لګوي او

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَطْرُ ثَمَرِهَا . رواه مسلم و في رواية البخاري ان النبي ﷺ اعطى خيبر اليهود ان يعملوها و يزرعوها و لهم شطر ما يخرج منها .

رسول الله ﷺ به د پيداوار ځخه نيمه برخه اخلي . (مسلم) او د بخاري په روايت كي داسي راغلي دي چي رسول الله ﷺ د خيبر مځكه يهوديانو ته په دې شرط ورکړې وه چي هغوی دې پکښې کار او خواري کارې او په حاصلاتو کي دې برخه اخلئ .

تخريج: مسلم في الصحيح ۳\ ۱۱۸۷، رقم: ۵- ۱۵۵۱، البخاري في الصحيح (فتح الباري) ۴\ ۴۶۲، رقم: ۲۲۸۵.

تشريح: خيبر د يو کلي نوم دی چي د مديني منورې ځخه تقريبا شپېته ميله په شمال کي واقع دی ، مځکي دا يو مشهور ځای وو چي هلته د يهودو هستوګنه وه مګر اوس دغه کلی د يو څو کليو مجموعه ده ددغه کلي اوبه او هواء ښه نه ده ځکه دلته خلک د هستوګني ځخه بېره کوي په دغه سيمه کي د خرما او نورو شيانو کرنه کيږي .

په هر حال دغه حديث د امام ابو حنيفة رحمه الله ځخه پرته د نورو ټولو علماؤ د مذهب دليل دی چي مساقات او مزارعت جائز دی، امام ابو حنيفة رحمه الله فرمايي چي د خيبر مځکه او درختي د هغه ځای يهوديانو ته ورکول د مساقات او مزارعت سره هيڅ تعلق نه لري ځکه د خيبر مځکه او د هغه درختي د رسول الله ﷺ په ملکيت کي نه دي چي رسول الله ﷺ هغه د مساقات او مزارعت په توګه د هغه ځای يهوديانو ته ورکولې بلکه هغه مځکه هم د يهوديانو ملکيت وه او د هغه ځای د درختو مالکان هم يهوديان وه رسول الله ﷺ د هغوی املاک هغوی ته وسپارل او د هغوی د حاصلاتو ځخه نيم حاصلات يې د خراج په توګه د ځان لپاره و ټاکل ، د خراج دوه ډولونه دي ۱: خراج موظف، ۲: خراج مقاسمت .

د خراج موظف صورت دا دی چي د اسلامي هيواد له خوا پر کومو خلکو باندي خراج عائد کيږئ د هغوی ځخه د ملک پاچا هر کال يو څه مال اخيستل ټاکلي وي لکه ځرنګه چي د اهل نجران ځخه به هر کال دوولس سوه جوړې اخيستل کېدې .

د خراج مقاسمت صورت دا دی چي پر کومو خلکو خراج عائد کيږئ د هغوی د مځکي حاصلات د هغه خلکو او اسلامي حکومت په مينځ کي پر يو ټاکلي مقدار باندي ويشل کيږي لکه ځرنګه چي د اهل خيبر سره وسوه چي د هغوی د مځکي او درختو نيم حاصلات به رسول الله ﷺ اخيستل .

Maktaba Tul Ishaat.com

د مخابرت منع

﴿۲۸۴۴﴾: وَعَنْهُ قَالَ كُنَّا نُخَابِرُ وَلاَ نَرٰى بِذَالِكَ بَاسًا حَتّٰى زَعَمَ رَافِعُ بْنُ خَدِيجٍ أَنَّ النبي ﷺ نَهٰى عَنْهَا فَتَرَكْنَاهَا مِنْ اَجْلِ ذَالِكَ . رواه مسلم

د حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه څخه روايت دی چي موږ به مخابره (يو ډول سود) کوی او دا مو به ده نه ګڼله تر دې پوري چي يوه ورځ رافع بن خديج رضی الله عنه وويل چي رسول الله ﷺ د مخابرې څخه منعه کړېده نو بيا موږ په دې وجه سره پرېښوده . (مسلم) .

تخريج: مسلم في الصحيح ۳\۱۱۷۹، رقم: ۱۰۶- ۱۵۴۷.

د لغاتو حل: نخابر: ای نزارع او نقول بجواز المزارعة ونعتقد صحتها.

تشريح مخابرت هغه مزارعت ته وايي چي د هغه ذکر په مخکني حديث کي سوی دی ، د امام ابو حنيفة رحمه الله په نزد مزارعت ممنوع دی ځکه دا حديث د هغه دليل دی .

په مزدورۍ د مځکي ورکولو ذکر

﴿۲۸۴۵﴾: وَعَنْ حَنْظَلَةَ بْنِ قَيْسٍ عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ اَخْبَرَنِي عَمَّايَ

حضرت حنظله بن قيس رضی الله عنه د رافع بن خديج رضی الله عنه څخه روايت کوي چي رافع بن خديج وويل : ماته زما اکاګانو ويلي دي چي

اَنَّهُمْ كَانُوا يُكْرُونَ الْأَرْضَ عَلٰى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَا يَنْبُتُ

د رسول الله ﷺ په زمانه کي به مځکه په دې شرط ورکوله چي د کښتو د ويالو پر غاړه چي کومه

عَلَى الْأَرْبِعَاءِ أَوْ شَيْءٍ يَسْتَثْنِيهِ صَاحِبُ الْأَرْضِ فَنَهَانَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

غله پيدا سي نو هغه د مځکي په اجرت کي د مالک حق دي او پاته کښت د هغه دي څوک چي خواري او محنت وکړي يا په دې طريقه سره به مځکه د کرلو لپاره ورکوله چي د مځکي يوه ټکړه به يې جلا کوله او د دې پيداوار به د هغه حق ګڼل کيدي نبي کريم ﷺ موږ د دې څخه

وَسَلَّمَ عَنْ ذٰلِكَ فَقُلْتُ لِرَافِعٍ فَكَيْفَ هِيَ بالدرهم والدنانير فَقَالَ لَيْسَ

منعه کړو راوي وايي ما د رافع رضی الله عنه څخه پوښتنه وکړه چي مځکه د درهم او دينار په عوض کي ورکول سي نو بيا څه حکم دي ؟ هغه وويل چي

بِهَا بَأْسٌ وَكَانَ الَّذِي نُهِيَ عَنْ ذٰلِكَ مَا لَوْ نَظَرَ فِيهِ ذَوُو الْفَهْمِ بِالْحَلَالِ

په دې کي څه حرج نسته او د کوم شی څخه چي منعه سوې ده که عقلمند خلک غور او فکر

وَالْحَرَامِ لَمْ يُجِيزُوهُ لِمَا فِيهِ مِنَ الْمُخَاطَرَةِ. متفق عليه.

وکړي نو د دې اجازت به ورنه کړي ځکه چي په دې کي خطرې دي. بخاري او مسلم

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵\۲۵، رقم: ۲۳۴۶، ومسلم ۳\۱۱۸۳، رقم: ۱۱۵- ۱۵۴۷.

د لغاتو حل: الاربعاء: جمع ربيع وهو النهر الصغير الذي يسقى المزارع (لبنتی).

تشريح: د خپلي مځکي په کښت ورکولو لپاره دوه صورتونه ذکر سوي دي چي د هغو څخه رسول الله ﷺ منع فرمايلې ده او هغه د علماؤ په نزد هم محل نهي دي کوم چي د مزارعت د جواز قائل دي، د مزارعت په اړه مختلف حديثونه نقل سوي دي ځکه کوم علماء چي مزارعت جائز ګڼي نو هغوی هم خپل مذهب د حديث څخه ثابتوي او هغه علماء هم د حديث څخه استدلال کوي چي د هغوی په نزد مزارعت جائز نه دي يعني د دواړو طرفه د علماء لپاره د تاويل دروازه خلاصه ده.

اوس خبره مخکي ښوول سوې ده چي اکثر علماء مزارعت جائز ګڼي او امام ابو حنيفة رحمه الله د هغه د عدم جواز قائل دی مګر د حنفيه دوه جليل القدر امامان يعني امام ابويوسف او امام محمد رحمة الله عليهما د جواز قائل دي چي کله د ضرورت لپاره وي ځکه نو په حنفي مذهب کي هم فتوا پر دې خبره ده چي مزارعت جائز دی.

د مزارعت يو منع صورت

﴿۲۸۴۶﴾: وَعَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ كُنَّا أَكْثَرَ أَهْلِ الْمَدِينَةِ حَقْلًا وَكَانَ

د حضرت رافع بن خديج رضي الله عنه څخه روايت دی چي موږ د مديني منورې او سيدونکي زيات کښت کرونکي وو

أَحَدُنَا يُكْرِي أَرْضَهُ فَيَقُولُ هٰذِهِ الْقِطْعَةُ لِي وَهٰذِهِ لَكَ فَرُبَّمَا أَخْرَجَتْ ذِهِ وَلَمْ

او په موږ کي به ځينو په دې شرط په کرايه خپله مځکه ورکوله چي د مځکي دومره برخه زما لپاره ده او دومره مځکه ستا لپاره ده او زياتره به داسي کيدل چي

Maktaba Tul Ishaat.com

تُخْرِجُ ذِهِ فَنَهَاهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . متفق عليه.

کله به د مځکي په هغه برخه فصل وسو او کله به په بله برخه نو رسول الله ﷺ د دې څخه منعه وفرمايل. (بخاري او مسلم).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵\ ۱۵، رقم: ۲۳۳۲، ومسلم ۳\ ۱۱۸۳، رقم: ۱۱۷- ۱۵۴۷.

د لغاتو حل: حقلا: (اى الزرع) کښت.

خپل مځکه بل ته د کښت لپاره په رعايت ورکول غوره ده

﴿۲۸۴۷﴾: وَعَنْ عَمْرٍو قَالَ قُلْتُ لِطَاوُسٍ لَوْ تَرَكْتَ الْمُخَابَرَةَ فَإِنَّهُمْ يَزْعُمُونَ

د حضرت عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما طاوس ته وويل: که تا مخابره پرېښودلې نو بهتره به وه ځکه د خلکو خيال دي

أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْهُ قَالَ أَيْ عَمْرُو إِنِّي أُعْطِيهِمْ وَأُغْنِيهِمْ

چي رسول الله ﷺ د دې څخه منعه کړېده. طاؤس وويل: اې عمره! زه کښت کرونکي ته مځکه ورکوم او د هغوی کومک کوم

وَإِنَّ أَعْلَمَهُمْ أَخْبَرَنِي يَعْنِي ابْنَ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَنْهَ

او يو لوي عالم يعني ابن عباس رضي الله عنهما ماته ښودلي دي چي نبي کريم ﷺ د دې څخه منعه نه ده

عَنْهُ وَلٰكِنْ قَالَ أَنْ يَمْنَحَ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَأْخُذَ عَلَيْهِ خَرْجًا مَعْلُومًا . متفق عليه.

فرمايلې بلکه دا يې فرمايلي دي چي کښت لپاره خپل يو ورور ته مځکه ورکول د دې څخه بهتر دي چي په هغه باندي يې تاکل سوي محصول واخلي. (بخاري او مسلم).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵\ ۱۴، رقم: ۲۳۳۰، ومسلم ۳\ ۱۱۸۴، رقم: ۱۲۰- ۱۵۵۰.

د لغاتو حل: خرجا: اى اجرا. (مزدوري)

تشريح مطلب دا دی چي مزارعت خو داسي وي چي څه ورکړل سي او څه واخيستل سي يعني خپل مځکه ورکړل سي او د هغه په عوض کي د هغه د حاصلاتو څخه يو برخه واخيستل سي

Maktaba Tul Ishaat.com

مگر د دې برعکس که د چا سره احسان وکړل سي په دې توګه چي هغه ته خپل مځکه پرته د يو برخي د اخيستلو څخه عاريتا ورکړل سي او هغه ګټه ځيني تر لاسه کړي نو دا غوره ده.

خپل مځکه بېکاره مه پرېږدئ

﴿۲۸۴۸﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَتْ لَهُ أَرْضٌ فَلْيَزْرَعْهَا أَوْ لِيَمْنَحْهَا أَخَاهُ فَإِنْ أَبَى فَلْيُمْسِكْ أَرْضَهُ. متفق عليه.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا سره چي مځکه وي نو هغه له پکار ده چي هغه مځکه په خپله وکري يا يو خپل مسلمان وروړ ته دي ورکړي او که دا دواړي خبري يې خوښي نه وي نو بيا دي خپله مځکه د ځانه سره وساتي. (بخاري او مسلم)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري) ۵\ ۲۲، رقم: ۲۳۴۰، رقم: ۲۶۳۲، ومسلم ۳\ ۱۱۷۶، رقم: ۸۹- ۱۵۳۹.

تشريح: شيخ مظهر رحمه الله وايي چي د دغه حديث سره سم انسان ته پکار دي چي هغه د خپل ...ل څخه ګټه تر لاسه کړي د چا سره چي مځکه وي نو هغه بايد په خپل مځکه کي کښت وکړي ...ي د هغه حاصلات په لاس راوړي او که په يو وجه هغه خپله کښت نه سي کولای نو بيا دي هغه مځکه يو مستحق مسلمان وروړ ته عاريتا ورکړي چي په هغه کي په محنت او مشقت کولو سره روزي ترلاسه کړي، په دغه صورت کي به د انساني اخلاق او همدردی تقاضا هم پوره سي او هغه ته به ثواب هم په برخه سي مګر که چيري هغه په دغه دواړو صورتو کي يو صورت هم خوښ نه کړي او خپل مځکه د ځان سره پرېږدي نو دغه آخري حکم د دغه دواړو صورتونو پر ترک کولو او د مزارعت پر اختيارولو باندي د تنبيه له مخي ورکړل سوی دی چي د خپل مال څخه نه په خپله ګټه تر لاسه کوي او نه بل چا ته ګټه رسوي. ځيني وايي چي د دغه جملې (نو بيا دي خپل مځکه د ځان سره وساتي) د دې معنی داده که يو سړی د مځکي د عاريتا قبلولو څخه انکار وکړي نو خپل مځکه دي د خپل ځان سره وساتي په دغه صورت کي به دغه حکم د اباحت په توګه وي.

په کښت کي د بوختيا په وجه د جهاد پر پرېښودلو وعيد

﴿۲۸۴۹﴾: وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ أَنَّهُ رَأَى سِكَّةً وَشَيْئًا مِنْ آلَةِ الْحَرْثِ فَقَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَقُوْلُ لَا يَدْخُلُ هٰذَا بَيْتَ قَوْمٍ إِلَّا أَدْخَلَهُ الذُّلَّ. رواه البخاري.

Maktaba Tul Ishaat.com

حضرت ابو امامه رضي الله عنه چي د يوي (هل) او د كښت څه سامان وليدي نو وه يې ويل چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي په كوم كور كي چي دا سامان داخل سي الله تعالى په هغه كي ذلت او خواري دا خلوي (د دې څخه مراد دادي چي ټول خلک په ذراعت بوخت نسي جهاد دي هم كوئ او نور كارونه دي هم كوي). (بخاري).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵\۴، رقم: ۲۳۲۱.

تشريح: د دغه حديث څخه په دې غلط فهمي كي اخته كېدل نه دي پكار چي د رسول الله ﷺ په نزد زراعت ناخوښه يا معيوب دی او نه د رسول الله ﷺ مقصد د كښت كونكو مذمت كول دي بلكه په حقيقت كي د دغه ارشاد مقصد د جهاد ترغيب وركول دي او دا اګاهي وركول دي چي په زراعت كي په بوختيا سره جهاد پرې نه ښودل سي كه يو سړی د خپل ضرورت د پوره لپاره د زراعت كسب اختيار روي نو ظاهره ده چي دا يو ناخوښه خبره نه ده او نه دا سي سړی په وعيد كي داخل دی.

ځيني علماء فرمايي چي د دغه وعيد تعلق د هغو كسانو سره دی چي د دين د دښمنانو يا د هغوی د هيواد د سرحد سره متصل او سيدونكي وي كه دا سي خلک خپل ټوله توجه زراعت ته وكړي او د جهاد ضرورت او ارزښت هېر كړي نو دښمن به پر هغوی غالب سي او د هغه نتيجه به دا وي چي هغوی به د خپل دښمن په لاس ذليل او خوار سي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د يو چا مځكه پېله اجازې مه كرئ

﴿۲۸۵۰﴾: عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ زَرَعَ

د حضرت رافع بن خديج رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي كښت وكړي

فِي أَرْضِ قَوْمٍ بِغَيْرِ إِذْنِهِمْ فَلَيْسَ لَهُ مِنَ الزَّرْعِ شَيْءٌ وَلَهُ نَفَقَتُهُ. رواه الترمذي و ابو داؤد وقال الترمذي هذا حديث غريب.

د چا په مځكه كي د هغه د اجازت څخه پرته نو ټول كښت د مځكي د مالک دي او پر مالک باندي يوازي د كښت كرلو خرڅ دي. (ترمذي ابو داؤد) او په ترمذي كي دا حديث غريب ګڼل سوي دي.

تخريج: الترمذي في السنن ۳\۶۴۸، رقم: ۱۳۶۶، وابو داود ۳\۶۹۲، رقم: ۳۴۰۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

تشریح مطلب دادی که د یو چا په مځکه کي د مالک د اجازې او خوښۍ څخه پرته یو څوک کښت وکړي نو د هغه مځکي ټول حاصلات به د مالک وي مګر که چیري کښت کونکي په هغه مځکه کي تخم پاشلی وي نو هغه به مالک بېرته ورکوي دده څخه پرته نور هیڅ هغه ته نه ترلاسه کیږي د امام احمد رحمه الله دا مذهب دی.

مګر نور علماء وایي چي په داسي صورت کي د مځکي حاصلات به د کښت کونکي وي البته د هغه لپاره به دا ضرورت وي چي هغه دي د مځکي تاوان مالک ته ورکړي د حنفیه د ځینو علماؤ دا قول دی او ابن مالک رحمه الله وایي چي پر داسي سړي باندي د مځکي د قبضي د ورځي څخه د هغه کښت څخه د مځکي د خالي کېدو تر ورځي پوري د هغه مځکه معاوضه واجب ده او د هغه چي څه حاصلات وي هغه به د هغه سړي وي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د مزارعت ثبوت

﴿۲۸۵۱﴾: عَنْ قَيْسِ بْنِ مُسْلِمٍ عَنْ أَبِي جَعْفَرٍ قَالَ مَا بِالْمَدِينَةِ أَهْلُ بَيْتِ

حضرت قیس بن مسلم رضی الله عنه د ابو جعفر رضی الله عنه څخه روایت کوي چي په مدینه کي د مهاجرینو

هِجْرَةٍ إِلَّا يَزْرَعُونَ عَلَى الثُّلُثِ وَالرُّبُعِ وَزَارَعَ عَلِيٌّ وَسَعْدُ بْنُ مَالِكٍ وَعَبْدُ اللهِ

داسي هیڅ یو کور نه وو چي د مځکي پر دویمي، دریمي او څلورمي باندي کښت نه کړي او حضرت علی رضی الله عنه سعد بن مالک رضی الله عنه او عبد الله

بْنُ مَسْعُودٍ وَعُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ وَالْقَاسِمُ وَعُرْوَةُ وَآلُ أَبِي بَكْرٍ وَآلُ عُمَرَ

بن مسعود رضی الله عنه عمر بن عبد العزیز رضی الله عنه قاسم رضی الله عنه عروه د ابو بکر رضی الله عنه اولاد د عمر رضی الله عنه

وَآلُ عَلِيٍّ وَابْنُ سِيرِينَ وَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْأَسْوَدِ كُنْتُ أُشَارِكُ عَبْدَ

اولاد د علي رضی الله عنه اولاد او ابن سیرین دي ټولو خلکو زمینداري کوله د عبد الرحمن بن اسود رضی الله عنه بیان دي ما به د عبد الرحمن

الرَّحْمَنِ بْنَ يَزِيدَ فِي الزَّرْعِ وَعَامَلَ عُمَرُ النَّاسَ عَلَى إِنْ جَاءَ عُمَرُ بِالْبَذْرِ مِنْ

بن یزید شرکت کي کښت کوي او د حضرت عمرؓ د خلګو سره دا معامله وه که حضرت عمرؓ تخم د ځانه څخه ورکړي

عِنْدِهٖ فَلَهُ الشَّطْرُ وَإِنْ جَاءُوا بِالْبَذْرِ فَلَهُمْ كَذَا. رواه البخاري

نو د پیداوار نیمه برخه به اخلي او که کښت کرونکي تخم خپله راوړي نو د هغه هغومره برخه ده. (بخاري).

تخریج: البخاري في الصحیح (فتح الباري): ۵\۱۰ تعلیقا.

تشریح: میرک شاه رحمه الله وايي چي د بخاري د عبارت او د هغه د تشریح څخه دا معلومیږي چي د حضرت ابو جعفر رحمه الله عبارت پر لفظ د والربع باندي ختم سوی دی او ددې وروسته د زارع څخه تر اخره پوري ټول عبارت خپله د بخاري دی او دا ټول آثار (یعني د صحابي یا تابعي اقوال) دي چي بخاري بېله اسناده نقل کړي دي، د مشکوٰة د مؤلف لپاره ضروري وه چي هغه د روایت په پای کي رواه بخاري تعلیقا لیکلي واي.

==========

بَابُ الْاِجَارَةِ (د اجارې بیان)

د اجارې معنی د یو شي په کرایه ورکول دي او د شریعت په اصطلاح کي د اجارې مفهوم دا دی چي د خپل یو شي د ګټي بل څوک مال جوړول.

په فقهي توګه قیاس دا وایي چي په اجاره کي ګټه معدوم وي ځکه نو د اجارې جائز کېدل نه دي پکار، مګر شریعت د خلکو د احتیاج او ضرورت له کبله دا جائز ګرځولې ده، او اجاره د حدیث او اثارو څخه ثابت ده.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د اجارې جواز

﴿۲۸۵۲﴾: عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ زَعَمَ ثَابِتُ بْنُ الضَّحَّاكِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ نَهَى عَنِ الْمُزَارَعَةِ وَأَمَرَ بِالْمُؤَاجَرَةِ وَقَالَ لَا بَأْسَ بِهَا. رواه مسلم.

د حضرت عبد الله بن مغفلؓ څخه روایت دی چي ثابت بن ضحاکؓ بیان کوي چي نبي

Maktaba Tul Ishaat.com

كريم ﷺ د مزارعت څخه منعه فرمايلې ده او مخکه په اجاره ورکولو سره يې امر کړي دي او فرمايلي يې دي چي په اجاره کي هيڅ حرج نسته . (مسلم)

تخريج: مسلم في الصحيح ۳\ ۱۱۸۴، رقم: ۱۱۹- ۱۵۴۹.

تشريح د مزارعت څخه منع فرمايلې ده په دې کي د مزارعت څخه مراد د مزارعت هغه صورتونه دي چي د هغه عدم جواز معلوم او متقين دی او د هغه يادونه په تېر باب کي سوې ده .

﴿۲۸۵۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْتَجَمَ فَأَعْطَى الْحَجَّامَ أَجْرَهُ وَاسْتَعَطَ . متفق عليه.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وينه وکښل او وينه کښونکي ته يې اجرت (مزدوري) ورکړ او په پزه کي يې دوا هم واچول . (بخاري)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۰\ ۱۴۷، رقم: ۵۶۹۱، ومسلم ۳\ ۱۲۰۵، رقم: ۶۵- ۱۲۰۲.

تشريح د دغه حديث څخه معلومه سوه چي د ويني کښلو کسب او اجاره مباح دي او علاج کول جائز دی .

رسول الله ﷺ په مزدورۍ پسونه پيولي دي

﴿۲۸۵۴﴾: وَعَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا بَعَثَ اللّٰهُ

د حضرت ابو هريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هيڅ يو نبي داسي نه دي

نَبِيًّا إِلَّا رَعَى الْغَنَمَ فَقَالَ أَصْحَابُهُ وَأَنْتَ فَقَالَ نَعَمْ كُنْتُ أَرْعَاهَا عَلَى قَرَارِيطَ لِأَهْلِ مَكَّةَ . رواه البخاري.

رالېږل سوي چي هغه شاروی نه وي څر کړي، اصحابو کرامو رض ځيني پوښتنه وکړه او تاسو هم ؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : هو ما به هم د مکې د خلکو پسونه د څو قيراطو په اجرت څرول . (بخاري)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۴\ ۴۴، رقم: ۲۲۶۲.

تشريح د نبوت د فريضې ادا کول چي د کومو اوصافو او خصوصياتو حامل وي يا داسي به ووايو چي نبي ته د خپلو ذمه داريو د پوره کولو لپاره د ټولني سره چي کوم نژدې ربط او تعلق

Maktaba Tul Ishaat.com

وي د هغه لپاره دا ضروري وه چي د دعوت او تبلیغ او اصلاح او لارښوونې پر هر اړخ باندي د ... ي د افرادو په مینځ کي د اجنبیت او غیریت دېوال حائل نه وي، د قدرت له خوا په پیل کي نبي ته یو داسي تربیتي او ازمائشي دور څخه تېرېدل وي چي د هغه ځیني مرحلې خو په ظاهره د ډېري لاندي سطح معلومېږي مګر د نتائجو او اثراتو په اعتبار هغه مرحلې ډېر کارآمد ثابت سوي دي همدا رنګه یوه مرحله د پسو پېول هم دي دا که څه هم ډېر معمولي شی معلومېږي مګر که غور و کړل سي نو معلومه به سي چي د پسو پېول د محبت، شفقت، محنت، مشقت، یو تر بله رابطه او تعلق او د عامي خیر خواهۍ یو غوره سبق دی چي د یو رهبر او مصلح د ژوند بنیادي وصف دی ، هر نبي ځکه پسونه پیولي دي چي ددغه تجربې څخه د تېرېدو وروسته د امت د ساتني او شفقت او د ټولني سره د ربط او تعلق حقیقي جذبه په پوره ژوند کي پیدا سي او د قوم له خوا پر پېښېدونکي هري سختي او مصیبت باندي د صبر او تحمل قوت ورپه برخه سي او په دغه ذریعه سره هغه ته حقیقي خلوت او یوازیوالي هم تر لاسه کیدی چي د نبي د ابتدائي ژوند یو مطلوب وي.

مزدور ته د مزدورۍ پر نه ورکولو وعید

﴿۲۸۵۵﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللهُ ثَلَاثَةٌ أَنَا

د حضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: خداي تعالی فرمایلي دي: د قیامت په ورځ به زه د درو کسانو سره

خَصْمُهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ رَجُلٌ أَعْطَى بِي ثُمَّ غَدَرَ وَرَجُلٌ بَاعَ حُرًّا فَأَكَلَ ثَمَنَهُ

جګړه کوم. ۱- یو خو هغه کس دي چي هغه زما په نامه سره عهد یا معاهده وکړه او بیا یې ماته کړي ۲- د هغه کس سره چي ازاد انسان خرڅ کړي او د هغه قیمت وخوري.

وَرَجُلٌ اسْتَأْجَرَ أَجِيرًا فَاسْتَوْفَى مِنْهُ وَلَمْ يُعْطِ أَجْرَهُ. رواه البخاري.

۳- د هغه کس سره چي یو سړی په مزدوري ولګوي او د هغه څخه پوره کار واخلي او بیا مزدوري ورنه کړي. (بخاري).

تخریج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۴۱۷/۱۴، رقم: ۲۲۲۷.

تشریح په دغه حدیث شریف کي د داسي درو کسانو څرګندونه سوې ده چي د قیامت په ورځ به د الله تعالی د قهر او غضب ننبه وي په دوی کي اول سړی هغه دی چي د الله تعالی په نامه

Maktaba Tul Ishaat.com

یعني د هغه په نامه په قسم اخیستلو سره یو عهد او معاهده کوي او بیا هغه ماتوي ، د عهد او معاهدې پابندي په هر صورت کي یو ضروري شی دی مګر د انسان د شرافت او انسانیت تقاضا داده چي هغه عهد او معاهده پوره کړي د یوې معاهدې بېله عذره ختمول د انساني شرف خلاف کار هم دی او د انسانیت توهین هم دی مګر که یو څوک یو عهد او معاهده د الله په نامه سره وکړي نو د بیا پوره کول ډېر زیات ضروري کیږي ځکه چي څوک د الله تعالی په نامه عهد او معاهده ماتوي نو هغه به د الله تعالی د غضب مستحق وي ۰

دوهم سړی هغه دی چي یو آزاد انسان خرڅوي ، د انساني شرف توهین تر دې زیات نور څه کیدای سي چي یو انسان د ځان په ډول یو بل انسان د بازار مال ګرځوي او د هغه رانیول او پلورل کوي داسي سړی به هم د قیامت په ورځ په عذاب کي اخته وي ۰

دلته دا نکته په ذهن کي راوستل پکار دي چي په پورتني حدیث کي (د هغه د قیمت خوړلو) قید محض د زیاتي تنبیه لپاره دی مطلب یې دادی چي یو ازاد انسان خرڅول د یو لوی ګناه خبره ده که د هغه قیمت وخوري او که یې ونه خوري ۰

دریم هغه سړی دی چي یو مزدور د خپل کار د پوره کولو لپاره په مزدوري ولګوي او هغه ته د کار د ختمولو څخه وروسته خپل مزدوري ورنه کړي دا یو ډېر د نفرت وړ کار دی د یو سړي محنت د هغه د ژوند قیمتي سرمایه وي چي د هغه په تر لاسه کولو سره د هغه مزدوري نه ورکول د انسانیت خلاف کار دی د څومره ظلم خبره ده چي یو غریب د خپل نس ډکولو لپاره د یو چا سره مزدوري وکړي مګر د هغه د محنت مزدوري هغه ته ورنه کړل سي د داسي سړي په باره کي هم کوم چي د مزدور مزدوري نه ورکوي الله تعالی دا خبرداری ورکړی دی چي داسي سړی به د قیامت په ورځ دد غه انساني ظلم سزا خامخا تر لاسه کړي ۰

دم کوونکی اجرت اخیستلای سي

﴿۲۸۵۶﴾ : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ نَفَرًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابن عباس ﷠ څخه روایت دی چي د نبي کریم ﷺ د اصحابو یوه ډله د یو کلي سره

مَرُّوا بِمَاءٍ فِيهِمْ لَدِيغٌ أَوْ سَلِيمٌ فَعَرَضَ لَهُمْ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْمَاءِ فَقَالَ هَلْ

نژدې تېرېدل چي په هغه کي یو سړی مار یا لړم چیچلي وو د کلي څخه و هغه ته یو سړی راغلی او پوښتنه یې ځیني وکړه چي آیا

Maktaba Tul Ishaat.com

فِيكُمْ مِنْ رَاقٍ إِنَّ فِي الْمَاءِ رَجُلًا لَدِيغًا أَوْ سَلِيمًا فَانْطَلَقَ رَجُلٌ مِنْهُمْ فَقَرَأَ

په تاسو کي يو څوک دم کونکي سته؟ په کلي کي يو سړی مار يا لړم چيچلي دي. په اصحابو کرامو کي يو کس ور سره سو او د کلي والاؤ سره يې په څو پسو پرېکړه وکړه

بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ عَلَى شَاءٍ فَبَرَأَ فَجَاءَ بِالشَّاءِ إِلَى أَصْحَابِهِ فَكَرِهُوا ذٰلِكَ وَقَالُوا

او په ناروغه باندي يې سورة فاتحه چُف کړه ناروغه په قراره سو نو هغه پسونه يې د ځانه سره راوړل کله چي خپل ملګرو ته راورسېدي نو اصحابو کرامو د پسو د اجرت په اخيستو اعتراض وکړ او ويې ويل چي

أَخَذْتَ عَلَى كِتَابِ اللّٰهِ أَجْرًا حَتَّى قَدِمُوا الْمَدِينَةَ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَخَذَ

تا د خداي تعالي په کتاب باندي مزدوري اخيستې ده داؤ چي دوی و مدينې منورې ته را ورسېدل او نبي کريم ﷺ ته يې وويل چي

عَلَى كِتَابِ اللّٰهِ أَجْرًا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَحَقَّ مَا أَخَذْتُمْ

فلاني سړی د الله تعالي په کتاب باندي اجرت اخيستی دی نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: (په دې کار کي خو) د الله تعالي په کتاب باندي اجرت اخيستل د

عَلَيْهِ أَجْرًا كِتَابُ اللّٰهِ. رواه البخاري وَفِي رِوَايَةٍ أَصَبْتُمْ اقْسِمُوا وَاضْرِبُوا لِي مَعَكُمْ سَهْمًا.

ټولو څخه زيات مناسب دي. (بخاري) او په يو بل روايت کي دا الفاظ دي چي نبي کريم ﷺ وفرمايل: تاسو ښه وکړل پسونه په خپلو مينځو کي ووېشئ او ما ته هم يوه برخه را کړئ.

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۰\۱۹۸، رقم: ۵۷۳۷،

تشريح د لفظ سليم او لفظ لديغ دواړو يوه معنی ده يعني مارچيچلی، د روايت په الفاظو کي د لديغ او سليم لفظ د راوي لفظي شک ظاهروي يعني راوي د دواړو الفاظو په نقل کولو سره دا ظاهروي چي چا ته دا په ياد نه دي چي دلته لفظ د لديغ ويل سوی وو او که لفظ د سليم. علامه طيبي رحمة الله عليه دا وايي چي اکثر لفظ د لديغ پر هغه سړي باندي اطلاق کيږي کوم چي لړم

چیچلی وي او د سلیم لفظ اطلاق پر هغه سړي کیږي کوم چي مار چیچلی وي ، په دغه صورت کي به ویل کیږي چي دلته راوي ته د معنی په اعتبار شک دی چي یا خو هغه سړی لړم چیچلی وو یا مار چیچلی وو .

ځیني علماء وایي چي کوم صحابي د سورة فاتحې په ویلو سره دم کړی وو هغه ابو سعید خدري ﷺ وو او د صحابه کرامو هغه ډله پر دېرش کسانو مشتمله وه ، په دې اعتبار سره د سورة فاتحې ویونکي صحابي دېرش پسو نه اخیستي دي .

رسول الله ﷺ په ځینو پسو کي د خپل برخي لپاره ځکه وفرمایل چي هغه صحابه هم خوشحاله سي او په دې هم پوه سي چي د سورة فاتحې په ویلو سره د دم کولو په عوض کي حاصلیدونکی پسه بېله شکه حلال دی .

د دې څخه معلومه سوه چي د قرآن کریم د آیاتونو او ذکر الله په ذریعه دم کول او د هغه شکرانه اخیستل جائز دي ، عامل روحانیات یعني د قرآن کریم د آیاتونو او نورو منقوله دعاوو په ذریعه علاج کونکی که د خپل عمل یعني تعویذ او دم کولو شکرانه واخلي نو په دې کي څه شرعي قباحت نه سته مگر د دې څخه دا نتیجه نه سي اخیستل کیدای چي د تلاوت قرآن اجرت اخیستل جائز دي ځکه چي په دغه دواړو کي فرق دی او هغه دا چي د قرآن کریم تلاوت یو عبادت دی او د عبادت قیمت اخیستل قطعا جائز نه دي او پر یو ناروغ او مصیبت زده سړي باندي د قرآن کریم په ویلو سره دم کول او د هغه د برکت څخه شفاء تر لاسه کېدل عبادت نه دی نو د دې شکرانه اخیستل جائز دي .

د دې څخه دا ثابته سوه چي د مصحف (قرآن کریم په کتابي صورت کي) پلورل، رانیول او په مزدوري باندي د دغه کتابت کول او د دین نور کتابونه په مزدوری بآندي لیکل جائز دي همدارنگه متاخرینو (یعني وروستني علماء) د قرآن کریم تعلیم هم پر دې قیاس کړی دی او وایي چي د قرآن کریم د تعلیم مزدوري اخیستل جائز دي حال دا چي متقدمین (یعني د پخوانی زمانې علماء) لکه امام ابو حنیفة رحمه الله او داسي نور علماء د قرآن کریم پر تعلیم باندي د مزدوري اخیستلو ته حرام ویلي دي .

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د غیر شرعي دم اجرت حرام دی

﴿۲۸۵۷﴾: عَنْ خَارِجَةَ بْنِ الصَّلْتِ عَنْ عَمِّهِ قَالَ أَقْبَلْنَا مِنْ عِنْدِ رَسُولِ اللّٰهِ

خارجه بن صلت رضی الله عنه د خپل اکا څخه روایت کوي چي موږ د رسول الله ﷺ څخه رخصت سوو

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَيْنَا عَلَى حَيٍّ مِنَ الْعَرَبِ فَقَالُوا إِنَّا أُنْبِئْنَا أَنَّكُمْ قَدْ

او د خپل وطن په لور روان سو چي د شپې لخوا یوه د عربو قافله زموږ سره تېرېدل نو هغوی و

جِئْتُمْ مِنْ عِنْدِ هَذَا الرَّجُلِ بِخَيْرٍ فَهَلْ عِنْدَكُمْ مِنْ دَوَاءٍ أَوْ رُقْيَةٍ فَإِنَّ

موږ ته وویل: موږ ته معلومه سوې ده چي تاسو د نبي کریم ﷺ د خیر (یعني قران) سره راغلي یاست، ایا ستاسو سره څه دوا یا دم نسته؟

عِنْدَنَا مَعْتُوهًا فِي الْقُيُودِ قَالَ فَقُلْنَا نَعَمْ فَجَاءُوا بِمَعْتُوهٍ فِي الْقُيُودِ قَالَ

په موږ کي یو لېوني په زولنو کي سته چي د هغه علاج وکړئ. موږ ورته وویل هو، وروسته یې یو لېونی په ځنځیرو تړلي راوستی

فَقَرَأْتُ عَلَيْهِ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ غُدْوَةً وَعَشِيَّةً أَجْمَعُ بُزَاقِي ثُمَّ أَتْفُلُ

ما په هغه باندي تر درو ورځو پوري سهار او ماښام سورة فاتحه چف کړه په دې طریقه سره چي ما به په خوله کي ناوړي جمع کولې او په سورة فاتحه ویلو سره به مي په هغه باندي موږلې

فَكَأَنَّمَا أُنْشِطَ مِنْ عِقَالٍ فَأَعْطَوْنِي جُعْلًا فَقُلْتُ لَا حَتَّى أَسْأَلَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى

نو (په دریمه ورځ) هغه روغ رمټ سو نو هغوی ماته د دې اجرت را کوئ او ما ورته وویل تر څو پوري چي زه د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه ونه کړم اجرت نه اخلم

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ كُلْ فَلَعَمْرِي مَنْ أَكَلَ بِرُقْيَةِ بَاطِلٍ لَقَدْ أَكَلْتَ بِرُقْيَةِ

حَقٍّ. رواه احمد وابوداؤد.

Maktaba Tul Ishaat.com

نبي کريم ﷺ د پوښتني وروسته را ته وفرمايل : وه يې خوره په خپل عمر دي مي قسم وي ځوک چي په درواغو باندي جادو کوي او د هغه څه خوري هغه بدکوي خو تا په حقه سره خوړلې ده .(احمد ابو داؤد)

تخريج: احمد في المسند ۵\۲۱۰، وابوداود في السنن ۳\۷۰٦، رقم: ۳۴۲۰.

تشريح: باطل منتر داسي دم ته وايي چي په هغه کي د ستورو، پيريانو او د الله تعالى څخه پرته د نورو شيانو ذکر وي او د هغوی څخه مرسته غوښتل سوې وي ، داسي عمليات چي د غير الله د ذکر يا د غير الله څخه د مرسته غوښتلو په وجه وي دا غير شرعي دي لکه څرنګه چي د هغه اختيارول ناجائز دي همدارنګه د هغه مزدوري خوړل هم حرام دي .

حق منتر هغه دم او عمليات ته وايي چي په هغه کي ذکر الله او د قرآن کريم آيات ونه وي که د هغه تعلق د ويلو سره وي او که د تعويذ وغيره په شکل کي د ليکلو سره وي .

د حديث الفاظ فلعمري (يعني قسم دی زما په ژوند) ددې څخه دا اشکال واقع کيدای سي چي د الله تعالى څخه پرته د نورو شيانو قسم اخيستل منع دي نو بيا رسول الله ﷺ د خپل ژوند قسم څرنګه واخيستی ، ددې جواب دادی چي لفظ د فلعمري څخه دا مراد نه دی بلکه دا په اصل کي د عربو د کلام يو خاص لفظ دی چي د اکثرو خبرو په دوران کي د هغوی پر ژبه جاري وي ، يا به دا وويل سي چي دا د هغه وخت واقعه ده کله چي د غير الله د قسم خوړلو منع نه وه سوې .

علامه طيبي رحمه الله فرمايي چي کيدای سي رسول الله ﷺ ته ددا ډول قسمونو اخيستلو اجازه سوې وي نو ددې تعلق ه د هغه شيانو سره وي کوم چي د رسول الله ﷺ سره مختص دي چي هغه د رسول الله ﷺ لپاره جائز وه او د نورو لپاره جائز نه دي .

د مزدور په مزدورۍ ورکولو کي زنډ مه کوئ

﴿۲۸۵۸﴾ : وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْطُوا الْأَجِيرَ أَجْرَهُ قَبْلَ أَنْ يَجِفَّ عَرَقُهُ . رواه ابن ماجة .

د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : مزدور ته د هغه د خولو د وچېدو تر مخه خپله مزدوري ورکړئ . (ابن ماجه)

تخريج: ابن ماجه في السنن ۲\۸۱۷، رقم: ۲۴۴۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۲۸۵۹﴾: وَعَنِ الْحُسَيْنِ ابْنِ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلسَّائِلِ حَقٌّ وَإِنْ جَاءَ عَلَى فَرَسٍ. رواه احمد وابو داؤد في المصابيح مرسل.

د حضرت حسين بن علي رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د سوال کوونکي حق دي اگر چي پر آس سپور راسي. (يعني سوال کونکي ته څه ناڅه يو شی ورکول پکار دي) (احمد ابو داؤد او په مصابيح کي مرسلا دي).

تخريج: احمد في المسند ۱/۲۰۱، رقم: ۱٦٦٥.

تشريح: ددغه حديث شريف مقصد دا تعليم ورکول دي چي سوال کونکی خالي لاس جوابول نه دی پکار که څه هم هغه د سوال کولو لپاره پر آس راغلی وي، نو د هغه سوال دي پوره کړل سي، قاضي رحمه الله ويلي دي چي سوال کونکی خالي لاس مه استوئ که څه هم هغه په داسي حالت کي تاسو ته راغلی وي چي د هغه پر مستغني کېدو باندي دلالت کوي ځکه تاسو بايد دا فکر وکړئ که چيري هغه ته د سوال کولو حاجت نه وي نو هغه به ولي د سوال لاس غزولای او تاسو ته په يې خپل ځان ذليل او خوار کولای.

دا حديث په ظاهره ددغه باب سره هيڅ تعلق نه لري پرته ددې چي څخه دا وويل سي چي سوال کونکي ته بايد يو څه ورکړل سي يعني دا د هغه د سوال اجرت دی نو ددې مناسبت سره دغه حديث په باب الاجاره کي نقل سوی دی.

ددغه حديث په اسنادو کي علماؤ ويلي دي چي امام احمد رحمه الله خو دا ويلي دي چي ددغه حديث اصل نه سته، امام ابو داؤد رحمه الله په دې کي سکوت اختيار کړی دی، ددې مطلب دادی چي د هغه په نزد دغه حديث د استدلال وړ دی، په مصابيح کي دغه حديث ته مرسل ويل سوي دي مگر تحقيقي خبره داده چي دا مسند دی د مصابيح په ځينو نسخو کي لفظ د مرسل هم مذکور نه دی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ (دريم فصل)

د مزدورۍ په اړه د حضرت موسی عليه السلام ذکر

﴿۲۸٦۰﴾: عَنْ عُتْبَةَ بْنِ النُّذَّرِ قَالَ كُنَّا عِنْدَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عتبه بن نذر رضي الله عنه څخه روايت دی چي موږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو چي

Maktaba Tul Ishaat.com

فَقَرَأَ طسم حَتَّى إِذَا بَلَغَ قِصَّةَ مُوسَى قَالَ إِنَّ مُوسٰى عليه السلام آجَرَ نَفْسَهُ

نبي كريم ﷺ سورة طسم د موسى عليه السلام تر كيسې پورې ولوست او ويې فرمايل: حضرت موسى عليه السلام

ثَمَانِيَ سِنِينَ أَوْ عَشْرًا عَلَى عِفَّةِ فَرْجِهِ وَطَعَامِ بَطْنِهِ. رواه احمد وابن ماجة.

د اتو يا لسو كلو پورې مزدوري وكړه او دا يوازې د دې لپاره چې خپله شرمگاه د حرامو څخه وساتي او د نس لپاره غذا تياره كړي. (احمد ابن ماجه)

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\ ۸۱۷، رقم: ۲۴۴۴. لم نجده عند الامام احمد.

تشريح: طسم يعني په سورة قصص كې د حضرت موسى عليه السلام يادونه ده په هغه كې بنوول سوي دي چې حضرت موسى عليه السلام مدين ته ورسيدى نو هلته د حضرت شعيب عليه السلام سره يې ملاقات وسو بيا د هغه د لور سره د حضرت موسى عليه السلام نكاح وسوه او حضرت موسى عليه السلام د هغه په عوض كې خپل ځان د حضرت شعيب عليه السلام په مزدورۍ كې ولگوى، رسول الله ﷺ د دغه سورت په تلاوت كولو سره چې كله د حضرت موسى عليه السلام دغه يادوني ته ورسيدى نو پورتنى ارشاد يې وفرمايه. د شرمگاه ساتلو څخه مراد نكاح ده، ددې تفصيل دادى چې حضرت موسى عليه السلام د حضرت شعيب عليه السلام د لور سره په دې معاهده نكاح وكړه چې زه به اتلس كاله پورې ستاسو پسونه پيايم، يعني تر دومره وخته پورې د پسو پيوول هغه د خپل ښځې مهر وگرځوى، د هغوى په شريعت كې دا جائز وه چې د ازاد سړي خدمت د هغه د ښځې مهر وگرځول سي مگر د حضرت موسى عليه السلام په دغه معامله كې دا احتمال هم دى چې هغه به د خپل ښځې مهر بل څه تاكلى وي او د پسو پيوول به يې د احسان په توگه قبول كړي وي.

د خاوند خدمت د ښځې مهر كيداى سي كه يا؟

په دې باره كې د علماء فقهي اختلاف دى، حنفي علماء وايي چې دا جائز نه دي چې د يوې ښځې نكاح د هغه شي په عوض كې وكړل سي چې د هغه ازاد خاوند د مثال په توگه تر يو كال پورې د هغې خدمت كوي مگر دا جائز دي چې د ښځې نكاح د هغه شي په عوض كې وكړل سي چې د هغې د خاوند غلام د مثال په توگه تر يو كال پورې د هغې خدمت وكړي، د شافعي علماؤ په نزد د ځينو كارو د مزدورۍ او خدمت په عوض كې صحيح كله چې مستاجر له او مخدوم فيه معلوم او متعين شى وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

د دیني تعلیم پر ورکولو باندي د اجرت مسئله

﴿۲۸۶۱﴾: وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قُلْتُ يَارَسُولَ اللهِ رَجُلٌ أَهْدَى إِلَيَّ

د حضرت عباده بن صامت رضي الله عنه څخه روایت دی چي ما وویل یارسول الله ﷺ! ما به یوه سړی ته قرانکریم ښودي نو هغه و ماته په هبه کي راکړه

قَوْسًا مِمَّنْ كُنْتُ أُعَلِّمُهُ الْكِتَابَ وَالْقُرْآنَ وَلَيْسَتْ بِمَالٍ وَأَرْمِي عَلَيْهَا فِي

یو ه لینده او دا چي لینده څه مال نه دي زه به په دې باندي د خداي تعالي په لاره کي غزا کوم،

سَبِيلِ اللهِ قَالَ إِنْ كُنْتَ تُحِبُّ أَنْ تُطَوَّقَ طَوْقًا مِنْ نَارٍ فَاقْبَلْهَا. رواه ابوداؤد وابن ماجة.

نبي کریم ﷺ راته وفرمایل: که ته دا (خبره) خوښوې چي ستا په غاړه کي د اور طوق واچول سي نو دا هدیه قبوله کړه. (ابو داؤد ابن ماجه).

تخريج: سنن ابي داود ۳\۷۰۱، رقم: ۳۴۱۶، وابن ماجه ۲\۷۳۰.

د لغاتو حل: ولیست بمال (ای عظیم) ډېر.

تشريح: لیندۍ مال نه دی، د حضرت عباده رضي الله عنه دا مراد وو چي لیندۍ داسي شی نه دی چي په مال یا مزدورۍ کي وشمېرل سي بلکه دا خو د جنګ یو سامان دی چي د الله تعالی په لاره کي به یې زه استعمالوم، په دې توګه چي په جهاد کي به زه د دې په ذریعه غشي ولم مګر رسول الله ﷺ هغه خبردار کړ چي دغه لیندۍ که څه هم تا ته د کلام الله د تعلیم د مزدورۍ په توګه حاصل سوې نه ده او نه دا یو داسي شی دی چي مزدوري وګڼل سي مګر په دې کي هم څه شک نه سته چي دا به ستا هغه اخلاص ختم کړي کوم چي ستا د خدمت تعلیم محور وو، او د هغه څخه په سرشاد کېدو سره تا هغه خلکو ته د قرآن او دین تعلیم ورکړی وو نو ستا لپاره دا مناسب دي چي ته دغه لیندۍ قبوله نه کړې، کوم علماء چي د قرآن او دیني تعلیم پر ورکولو باندي د اجرت اخیستلو ته حرام وایي هغوی د دغه حدیث ظاهري مفهوم څخه استدلال کوي.

=========

بَابُ اِحْيَاءِ الْمَوْاتِ وَالشِّرْبِ

(د ورانې مځکې ابادول او اوبه کولو بيان)

په نهايه کې ليکلي دي چې موات هغه مځکې ته ويل کيږي چې په هغه کې نه کښت وي، نه سرای او نه د هغه يو څوک مالک وي، او په هدايه کې ليکلي دي چې موات هغه مځکې ته وايي چې د اوبو څخه د قطع کېدو يا تر ډېرو اوبو لاندې کېدو په وجه د کرنې وړ نه وي يا په هغه کې يو داسې شی وي چې د کرنې څخه مانع وي او داسې مځکه چې عادي يعنې قديم وي د هغه څوک نه وي يا د اسلامي پاچاهۍ مملوک وي او د هغه د مالک معلومات نه وي او هغه مځکې د کلي څخه دومره ليرې وي که يو سړی د کلي پر غاړه باندې په درېدو سره اواز پورته کړي نو د هغه اواز هغه مځکې ته ونه رسيږي نو هغه مځکه موات ده.

د احياء موات څخه مراد دادی چې د هغه مځکې ابادول او د هغه مځکې د ابادولو صورت دادی چې يا خو په هغه مځکه کې سرای جوړ کړل سي يا په هغه کې درختي ولګول سي يا په هغه کې کښت وکړل سي يا هغه اوبه کړل سي او يا هغه يوې کړل سي.

د دغه ډول مځکې يعنې د موات شرعي حکم دادی چې کوم څوک هغه مځکه اباده کړي هغه د دغه مځکې مالک دی مګر په دې باره کې د علماؤ لږ اختلاف دی او هغه دا چې امام ابوحنيفة رحمة الله عليه فرمايي چې د هغه مځکې د ابادولو لپاره د امام (يعنې حکومت) اجازه اخيستل شرط دي، د امام شافعي او صاحبينو (يعنې د حنفيه امام ابويوسف او امام محمد) په نزد اجازه شرط نه ده.

د شرب لغوي معنی د څښلو ده او د شريعت په اصطلاح کې د دغه لفظ مفهوم دادی چې د اوبو څخه د ګټې اخيستلو هغه حق چې د څښلو لپاره، د فصل او باغ اوبه کولو، او د حيوانانو د اوبو کولو لپاره هر انسان ته حاصل وي، اوبه چې تر څو پورې په خپل معدن (يعنې درياب، تالاب وغيره) کې وي نو هغه د يو چا ذاتي ملکيت نه دی ځکه بېله خاصوالي هر انسان د هغه څخه د ګټې اخيستلو حق لري چې د هغه څخه منع کول د هيچا لپاره جائز نه دي.

مګر په دې باره کې د دريابو، ويالو، تالابو او ځينو نورو اوبو کې چې لوښي ور څخه ډکيږي فرق دی چې د هغه تفصيل د فقهي په کتابو کې موجود دی، دلته يوازې په دې پوه سئ چې د حنفي مذهب سره سم د درياب پر اوبو باندې د ټولو انسانانو يو ډول حق دی که هغه څوک

Maktaba Tul Ishaat.com

د اوبو څښلو لپاره استعمال کړي که مځکه په اوبه کړي او که که یو څوک د ویالو په ذریعه د هغه اوبه خپل مځکي او باغ ته بوځي په هیڅ صورت کي هم څوک د دریاب د اوبو څخه منع نه سي کولای او نه چا ته دا حق دی چي څوک منع کړي ، د دریاب د اوبو څخه ګټه اخیستل او د سپوږمۍ، لمر او هواء څخه د ګټي اخیستلو په ډول دي چي الله تعالی دغه نعمتونه بېله تخصیصه د کائناتو د هر فرد لپاره عام کړي دي ، د دغه شیانو څخه ګټه اخیستل د یو سړي یا یو خاص ډلي سره مخصوص نه دي بلکه د دې څخه په ګټه اخیستلو کي ټول یو ډول شریک دي .

همدارنګه د څاه او ویالو پر اوبو باندي د ټولو حق دی مګر که یو سړی دا وغواړي چي د یو څاه یا ویالې د اوبو څخه د موات احیاء وکړي یعني وېرانه مځکه کي کښت وکړي نو په دغه صورت کي به هغه خلکو ته چي د چا په سیمه کي هغه څاه یا ویاله وي د منع کولو حق حاصل دی که څه هم هغه سړی په وېرانه مځکه کي په اوبو بېولو سره د هغه څاه یا د هغه ویالې په اوبو کي کمي او تاوان واقع کیږي یا نه واقع کیږي ځکه چي د هغوی په سیمه کي د څاه یا ویالې کېدو په وجه د هغوی پر اوبو هغوی ته په هر حال یو حق حاصل دی او کومي اوبه چي په یو لوښي یا تالاب وغیره کي وي نو د هغه لوښي او تالاب والا ملکیت کیږي د دې مطلب دادی چي په هغه اوبو کي د هر سړي حق وي هر څوک چي یې غواړي تر لاسه کولای یې سي مګر کله چي هغه یو ښکاري ونیسي نو د هغه په قبضه کي په راتلو سره د هغه ښکاري ملکیت سي او پر هغه د پاته خلکو حق ساقط سي او که چیري یو څاه یا ویاله یا چینه په داسي مځکه کي وي چي د یو خاص سړي ملکیت وي نو هغه سړي ته به دا حق حاصل وي که هغه وغواړي نو هغه په خپل حدود کي د اوبو غوښتونکي باندي پابندي ولګوي په شرط د دې چي د اوبو هغه غوښتونکي سړی هلته د یو داسي نژدې ځای څخه اوبه تر لاسه کولای سي چي د بل په ملکیت کي نه وي او که چیري هلته د نژدې ځای څخه د اوبو تر لاسه کول ممکن نه وي نو بیا هغه مالک ته دي وویل سي چي یا خو هغه خپل د خپل څاه یا ویالې څخه د اوبو راوړلو اجازه ورکړي یا هغه ته اجازه ورکړي چي هغه هلته په ورتلو سره اوبه تر لاسه کړي مګر په دې شرط چي هغه د څاه یا ویالې غاړي ته تاوان ونه رسوي .

که په موات مځکه کي یو څاه وکښل سي نو د هغه مځکي ابادونکي ته دا حق نه دی چي د هغه څاه څخه خلک منع کړي ځکه چي د ابادولو په وجه څرنګه چي هغه مځکه د هغه په ملکیت کي راغلې ده همدارنګه د هغه څاه اوبه د هغه په ملکیت کي نه دي که هغه یو داسي سړی منع کړي چي هغه د څاه څخه خپله اوبه راکښل غواړي یا حیوان په اوبه کوي او د اوبو څخه د

Maktaba Tul Ishaat.com

حاصلیدو په صورت کي خپله د هغه یا د هغه د حیوان د هلاکت بېره وي نو هغه ته به ددې اجازه وي چي هغه په زور سره د هغه څاه څخه اوبه تر لاسه کړي که څه هم ددې مقصد لپاره هغه ته جنګ کول پکار سي او په هغه جنګ کي د وسلې را اخیستلو ضرورت هم پېښ سي.

څاه بېله شکه د یو چا ذاتي ملکیت کیدای سي مګر د هغه څاه اوبه د څاه والا ملکیت نه وي بلکه هغه د هر چا لپاره مباح دي پر خلاف د هغه اوبو چي چا په خپل لوښي کي اچولي وي چي هغه ذاتي ملکیت دی.

که چیري یو څوک د تندي څخه بې حاله وي او د هغه سړي څخه اوبه وغواړي کوم چي خپل په لوښي کي اچولي وي او هغه د اوبو ورکولو څخه انکار وکړي نو د هغه تږي سړي دا حق دی چي هغه په زور د هغه څخه اوبه واخلي په شرط ددې چي د اوبو نه تر لاسه کېدو په صورت کي د مرګ بېره وي او هغه دي په جنګ کي وسله وغیره نه استعمالوي ، دا بالکل داسي ده لکه څرنګه چي یو سړی د لوږي څخه مړ کیږي او د یو چا څخه خوراک وغواړي او هغه خوراک نه ورکوي نو هغه ته دا حق دی چي د خپل ځان ساتني لپاره د هغه څخه په زور خوراک واخلي مګر هغه ته په جنګ کي وسلې وغیره استعمالولو قطعا اجازه نه سته.

ځیني علماء وایي که یو سړی د خپل څاه څخه اوبه نه ورکوي نو په دې باره کي په زور د اوبو تر لاسه کولو غوره درجه داده چي د هغه څاه د خاوند سره بېله وسلې استعمالولو جګړه وکړي او ددې اجازه هم ځکه ورکړل سوې ده چي د اوبو په ډول د الله تعالی د نعمت څخه یو څوک منع کول ګناه ده او په جګړې سره تر لاسه کول به د هغه په حق کي د سزا قائم مقام وي.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ (لومړی فصل)

دوراني ځمکي اباد ونکی د هغه مالک دی

﴿۲۸۶۲﴾: عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ عَمَرَ أَرْضًا لَيْسَتْ لِأَحَدٍ فَهُوَ أَحَقُّ قَالَ عُرْوَةُ قَضَى بِهِ عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فِي خِلَافَتِهِ. رواه البخاري.

د حضرت بي بي عائشې رض څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي یو نا آباده ځمکه آباده کړي چي د بل چا ملکیت نه وي نو هغه د دې ځمکي حقداره دی، عروه وایي

حضرت عمر رضي الله عنه په خپل خلافت کي د دې حديث په مطابق پرېکړه کړې وه .(بخاري)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵\۱۸، رقم: ۲۳۳۵.

تشريح د عروه رحمة الله عليه دغه الفاظ چي حضرت عمر رضي الله عنه د خپل خلافت په زمانه کي د دې مطابق فيصله کړې وه ، دغه الفاظ د دې خبري دليل دي چي دا حديث منسوخ نه دی .

د يو ځر ځای د ځان لپاره خاص کول منع دي

﴿۲۸۶۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ الصَّعْبَ بْنَ جَثَّامَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا حِمَى إِلَّا لِلَّهِ وَلِرَسُولِهِ . رواه البخاري.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي صعب بن جثامه رضي الله عنه بيان وکړ چي ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه دا اورېدلي دي چي د وښو لرونکې ځمکه د خداي تعالي او د هغه د رسول ده .(د هيچا لپاره هغه د ځان لپاره مخصوصه کول جائز نه ده).(بخاري) .

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵\۴۴، رقم: ۲۳۷۰.

تشريح حمی (د حاء په زېر سره) هغه ځمکي ته وايي چي په هغې کي د څارويو لپاره واښه ساتل کيږي او په هغه کي د بل چا د څارويو د څرولو اجازه نه وي .

د حديث مطلب دادی چي دا مناسب نه ده چي د الله تعالی او د هغه د رسول د اجازې څخه پرته يو ځمکه يوازي د خپل څارويو لپاره خاص کړل سي او په هغه کي د نورو خلکو د څاريو د څرولو څخه پابندي وي، ددغه حکم ضرورت داسي پېښ سو چي د جاهليت په زمانه کي دا رواج وو چي په کومه ځمکه کي به واښه او اوبه وې هغه به د عربو سردارانو د خپلو څارويو لپاره خپل خاص د څرولو ځای جوړوی چي په هغه کي به دهغوی څخه پرته د نورو خلکو څارويو ته بالکل اجازه نه وه ، رسول الله صلى الله عليه وسلم ددې څخه منع وفرمايل مګر بيا هم رسول الله صلى الله عليه وسلم په جهاد کي د کار راتلونکو آسانو او اوښانو او په زکوة کي د راتلونکو څارويو لپاره داسي خاص څرځای قائمولو اجازه ورکړې وه مګر اوس د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه وروسته هيڅ يو حاکم او سردار ته دا جائز نه ده چي هغه يو څرځای د ځان لپاره يا د بل چا لپاره خاص کړي .

په دې باره کي د علماؤ مختلف قولونه دي چي د هيڅ فرد چا لپاره بلکه د اکثر مسلمانانو لپاره هم د يو څر ځای خاصول جائز دي او که څنګه؟ ، ځيني حضرات وايي چي دا جائز دي لکه څرنګه چي رسول الله صلى الله عليه وسلم د جهاد د آسانو او اوښانو لپاره او په زکوة کي د راتلونکو څارويو

Maktaba Tul Ishaat.com

لپاره د ځر ځای خاصولو اجازه ورکړې وه، مګر ځیني حضرات دې ته هم ناجائز وايي په شرط ددې چي یو ځر ځای خاص کول د بناریانو د تکلیف او پریشانۍ باعث وي.

د کښتو پر اوبو باندي یو جګړه او د رسول الله ﷺ فیصله

﴿۲۸۶۴﴾: وَعَنْ عُرْوَةَ قَالَ خَاصَمَ الزُّبَيْرُ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ فِي شَرِيجٍ مِنْ

د حضرت عروه رضي الله عنه څخه روایت دی چي د اوبو د لویو ویالو په خاطر د زبیر رضي الله عنه او د انصارو تر

الْحَرَّةِ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ اسْقِ يَا زُبَيْرُ ثُمَّ أَرْسِلِ الْمَاءَ إِلَى جَارِكَ فَقَالَ الْأَنْصَارِيُّ

مینځ جګړه پیدا سوه مقدمه رسول الله ﷺ ته ورسېده نو نبي کریم ﷺ وفرمایل: (اې) زبیره! ته خپل کښت اوبه کړه او وروسته اوبه د خپل همسایه و لور ته پرېږده انصاري چي دا پرېکړه واورېدل نو یې وویل:

أَنْ كَانَ ابْنَ عَمَّتِكَ فَتَلَوَّنَ وَجْهُ ثُمَّ قَالَ اسْقِ يَا زُبَيْرُ ثُمَّ احْبِسِ الْمَاءَ حَتَّى

تاسو د اسي پرېکړه ځکه وکړه چي زبیر ستاسو د اکا زوی دی، په دې اورېدو سره د نبي کریم ﷺ د مخ رنګ بدل سو او ویې فرمایل: زبیره! خپل کښت اوبه کړه او اوبه د کښت د باندي مه پرېږده کله چي

يَرْجِعَ إِلَى الْجَدْرِ ثُمَّ أَرْسِلِ الْمَاءَ إِلَى جَارِكَ وَاسْتَوْعَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

کښت بنه اوبه سي نو د ویالې رخ د همسایه و لور ته کړه غرض دا چي نبي کریم ﷺ و زبیر رضي الله عنه ته پوره حق ورکړ (ځکه چي ویاله د زبیر د کښت سره څرمه وه او کښت یې پورته وو او د انصاري کښت کښته او ځیني لیري وه)

وَسَلَّمَ لِلزُّبَيْرِ حَقَّهُ فِي صَرِيحِ الْحُكْمِ حِينَ أَحْفَظَهُ الْأَنْصَارِيُّ كَانَ أَشَارَ عَلَيْهِمَا بِأَمْرٍ لَهُمَا فِيهِ سَعَةٌ. متفق علیه.

انصاري نبي کریم ﷺ ته قهر ور وستلي وو او هغه مخکي فیصله د دوی دواړو په ګټه وه. (بخاري او مسلم).

تخریج: البخاري في الصحیح (فتح الباري): ۵\ ۳۴، رقم: ۴۵۸۵، ومسلم ۴\ ۱۸۲۸، رقم: ۱۲۹- ۲۳۵۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

د لغاتو حل: شِراج: مسایل الماء، احدها شرجة. الجدر: قیل هو الجدار (دېوال).

تشریح حضرت عروه ابن زبیر بن العوام د سترو تابعینو څخه دي، هغه وخت په مدینه کي چي کوم اووه فقیه کسان وه او د هغوی علم او فضل پر ټولو حاوي وو په هغوی کي یو حضرت عروه رحمه الله هم دی، د هغه مور مشهوره صحابیه بي بي اسماء رضي الله عنها ده چي د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه لور وه او د هغه پلار حضرت زبیر رضي الله عنه مشهور صحابي او د رسول الله ﷺ د اکا د لور بي بي صفیه بنت عبدالمطلب زوی وو، د حضرت زبیر رضي الله عنه یو خاصیت دا هم دی چي قدیم الاسلام دی یعني د رسول الله ﷺ د دعوت په شروع کي په اسلام مشرف سوی وو هغه وخت یې عمر شپاړلس کاله وو، یوې خوا ته یې دغه سعادت وو چي په دومره کم عمر کي د اسلام په دولت مشرف سوی دی او بلي خوا ته د هغه د ظالم اکا شقاوت وو چي هغه د اسلام راوړلو په جرم کي هغه ته ډول ډول سزاوي او تکلیفونه ورکول تر دې چي هغه بدبخت د صراط مستقیم څخه د لیري کولو لپاره په دود کي اچولی وو مګر دغه کم عمره ماشوم به ټول تکلیفونه زغمل او د اسلام په لاره کي چي یې کوم قدم پورته کړی وو د وروسته کېدو پر ځای به پر مخ تلی، د نبي کریم ﷺ سره یې په ټولو غزاوو کي ګډون کړی دی او د اسلام د بېرغ لوړولو لپاره یې د مېړاني او شجاعت جوهر ښوولی دی، رسول الله ﷺ چي کوم خوشبخته صحابه کرامو ته په دغه دنیا کي د جنت زیری ورکړی وو او هغوی ته عشره مبشره ویل کیږي په هغوی کي حضرت زبیر رضي الله عنه هم دی.

د حضرت زبیر رضي الله عنه یوه واقعه ده چي ده او یو انصاري د یو ویالې په ذریعه خپلي مځکي اوبه کولې، یو وار د دوی په مینځ کي د اوبو په باره کي دا جګړه را منځته سوه چي انصاري به ویل مځکي به زه خپل مځکه اوبه کوم او حضرت زبیر رضي الله عنه به ویل چي مځکي به زه خپل مځکه اوبه کوم، کله چي دا خبره سخته سوه او هغوی په خپل منځ کي صلح ونه کړای سول نو د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سول، د موقع نوعیت داسي وو چي د حضرت زبیر رضي الله عنه مځکه پر لوړه باندي وه او ویالې ته نژدې هم وه او د انصاري مځکه لاندي وه او د ویالې څخه لیري هم وه، د قاعدې سره سم اوبه مځکي د حضرت زبیر رضي الله عنه د مځکي څخه تېرېدلې، نو رسول الله ﷺ د دغه صورت سره سم منصفانه فیصله وکړل چي مځکي دي زبیر رضي الله عنه خپل مځکه اوبه کړي او وروسته دي د هغه همسایه انصاري خپل مځکه اوبه کړي، د حق د صداقت د شعور ضائع کونکی انسان جبلت دا وي چي هر کله هغه په یو معامله کي پر حق باندي نه وي او د هغه په وجه فیصله د هغه د خواهش پر خلاف وي نو هغه پر ځای ددې چي په قبلولو سره د انصاف فیصله

Maktaba Tul Ishaat.com

ومني هغه داسي وکړل چي د فيصله کونکي پر فيصله باندي يې د جانبدارۍ الزام ولګوي ، دلته هم داسي وسول هغه انصاري پر حق نه وو ځکه د رسول الله ﷺ له خوا چي کومه فيصله وسوه نو د هغه فيصلې په شوق سره د قبلولو پر ځای هغه دا وويل چي زبير رضي الله عنه ستاسو د ترور زوی دی ځکه تاسو داسي فيصله وکړه ، په داسي کولو سره هغه پر رسول الله ﷺ باندي د جانبدارۍ الزاز ولګوی چي د يو منصف او عادل لپاره د ذهني اذيت څخه لوی بل هيڅ سبب نه سي جوړيدای چي د هغه پر منصفانه فيصله باندي د جانبدارۍ او عصبيت الزام ولګول سي.

انصاري چي دا خبره وکړه نو د غصې سختو جذباتو د رسول الله ﷺ د مخ مبارک رنګ بدل کړ او د هغه نتيجه دا سوه چي د رسول الله ﷺ فيصلې د دغه صريح حکم صورت اختيار کړی چي زبيره ! اوس ته خپل حق پوره واخله او هغه دا چي نه يوازي ته خپل مځکه اوبه کړه بلکه مځکه په پوره توګه اوبه کړه هغه ته په ښه ډول اوبه ورکړه کله چي ستا مځکه تر پولو پوري ډکه سي نو بيا د ويالې رخ د دغه انصاري مځکي ته کړه.

د روايت د آخري جملو مطلب دادی چي په شروع کي رسول الله ﷺ کومه فيصله کړې وه په هغه کي حضرت زبير رضي الله عنه ته اشاره هم وه چي خپل يو څه حق د احسان له مخي د خپل همسايه لپاره پرېږده چي ستا کار هم وسي چي د انصاف غوښتنه ده او د انصاري سره هم څه رعايت وکړل سي ، که څه هم پر تا واجب نه دي مګر په معاملاتو کي د غوره والي پيدا کولو له مخکي مناسب دي مګر هغه انصاري چي د فيصلې قبلولو څخه انکار وکړ نو بيا رسول الله ﷺ حضرت زبير رضي الله عنه ته د خپل پوره حق تر لاسه کولو حکم وکړ.

اوس پاته سوه دا خبره چي د رسول الله ﷺ په شان کي د هغه انصاري د دغه بې ادبۍ سبب څه وو نو ځيني حضرات وايي چي هغه به د رسول الله ﷺ د بې ادبۍ او ذهني اذيت کي د اخته کولو هيڅ موقع د لاسه نه ورکول بيا دا سوال پيدا کيږي چي کله هغه منافق وو نو هغه ته انصاري ولي ويل کيږي ؟ ددې جواب دادی چي هغه ته انصاري په دغه مناسبت سره ويل کيږي چي هغه د انصارو د قبيلې سره تعلق درلودی ، د انصارو په قبيلو کي ځيني منافقان هم مثلا عبد الله ابن أبی او داسي نور.

دلته يو بل سوال پيدا کيږي چي کله هغه منافق وو او هغه د رسول الله ﷺ په شان کي دومره لويه بې ادبي کړې ده نو هغه ته سزا ولي ور نه کړل سوه د هغه سمدستي قتلول پکار وه نو په دې اړه دا ويل کيږي چي هغه ته د سزا نه ورکولو سبب يا خو د هغه تاليف يعني د الفت او رعايت له مخي د هغه پر حق لاره بېول وه يا د رسول الله ﷺ صبر او تحمل د هغه قتلول خوښ نه

Maktaba Tul Ishaat.com

کړل چي همېشه د منافقانو پر ایذاء رسولو او تکلیف ورکولو باندي ظاهریدی، بیا که چیري هغه قتل سوی وای نو د اسلام مخالفینو به طعنه ورکولای چي محمد ﷺ خو خپل ملګري وژني ځکه منافقانو به په هر حال په ظاهري توګه ځان ته مسلمان ویل او د رسول الله ﷺ د ملګرتیا اظهار به یې کوی.

د ځینو علماؤ تحقیق دادی چي هغه انصاري مؤمن وو مګر غصې د هغه زړه او دماغ داسي کړی وو چي د هغه څخه په پریشانی کي د رسول الله ﷺ په شان کي بې ادبي وسوه. والله اعلم.

کومي اوبه چي تر تاسو زیاتي وي هغه مه منع کوئ

﴿۲۸۶۵﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَمْنَعُوا فَضْلَ الْمَاءِ لِتَمْنَعُوا بِهِ فَضْلَ الْكَلَإِ. متفق عليه.

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: مه منع کوئ زیاتي اوبه چي په هغه سره بیا د وښو زیات کښت منع کیږي، (یعني په دې خیال سره که اوبه منعه سي نو خلک به هلته وانبه نه شنه کوي ځکه چي په عموم کي وانبه هلته کرل کیږي چیري چي اوبه وي).(بخاري او مسلم)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵\۳۱، رقم: ۲۳۵۴، ومسلم ۳\۱۱۹۸، رقم: ۲۷-۱۵۶۶.

تشريح: په عامه توګه ښاروي په هغه ځای کي څرول کیږي چیري چي اوبه وي ځکه نو که چیري ښاروي د اوبو څښښلو څخه منع کړي نو خلک به خپل ښاروي چیري څروي، همدارنګه د اوبو څخه د منع کولو مطلب به دا وي چي تاسو بالواسطه په وانبو کي د څرولو څخه منع یاست او وانبه د ښارویو د عامي غذا کېدو په وجه د ښارویو لپاره ډېر ضروري دي ځکه نو د دې څخه منع کول صحیح نه دي، نو رسول الله ﷺ منع وفرمایل چي ښاروي د اوبه کولو څخه هیڅوک مه منع کوئ چي د دې په وجه په وانبو کي د څرولو څخه منع لازم نه سي، د ضرورت څخه زیات قید ځکه لګول سوی دی که اوبه او وانبه د خپل ځان او خپلو ښارویو د ضرورت په قدر وي نو په دغه صورت کي د خپل ضرورت مقدم کولو کي څه پروا نه سته مګر که چیري تر ضرورت زیات وي نو بیا د بل چا منع کول بالکل نامناسب خبره ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۲۸۶۶﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به خداي تعالي د درو کسانو سره خبري نه کوي

اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ رَجُلٌ حَلَفَ عَلَى سِلْعَةٍ لَقَدْ أَعْطَى بِهَا أَكْثَرَ

او نه به د هغوی ولور ته د رحمت په نظر وګوري: ۱-هغه کس چي خپل سامان خرڅوي او قيمت د هغه شی کم وي خو قسم پر اخلي چي دا ماته په ګرانه پروت دي

مِمَّا أَعْطَى وَهُوَ كَاذِبٌ وَرَجُلٌ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ كَاذِبَةٍ بَعْدَ الْعَصْرِ لِيَقْتَطِعَ بِهَا

۲-هغه کس چي د مازديګر څخه وروسته قسم خوري چي هغه به د دې مسلمان مال نه

مَالَ رَجُلٍ مُسْلِمٍ وَرَجُلٌ مَنَعَ فَضْلَ مَاءٍ فَيَقُولُ اللّٰهُ الْيَوْمَ أَمْنَعُكَ فَضْلِي

رانيسي. ۳- هغه کس چي د زياتو اوبو د چينلو څخه يې منعه کړي د دې کس په اړه الله تعالی فرمايي: تا له هغه زياتو اوبو چي تا نه وي پيدا کړي څوک منعه کول نن ورځ زه ستا څخه خپل

كَمَا مَنَعْتَ فَضْلَ مَا لَمْ تَعْمَلْ يَدَاكَ. متفق عليه و ذكر حديث جابر في باب المنهي عنها من البيوع.

فضل وکرم منعه کوم. (بخاري او مسلم) او د جابر رضي الله عنه په اړه حديث به د ((رانيولو او پلورلو)) د ممنوعاتو په باب کي بيانيږي.

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵\۴۳، رقم: ۲۳۶۹، ومسلم ۱\۱۰۳، رقم: ۱۷۳- ۱۰۸.

تشريح د مازديګر څخه وروسته تخصيص يا خو ددې لپاره دی چي ټينګ قسمونه په دغه وخت کي اخيستل کيږي او يا دغه تخصيص ددې لپاره دی چي د مازديګر څخه وروسته وخت ډېر د فضيلت او برکت وخت دی ځکه نو دغه وخت د دروغو قسم اخيستل ډېره ګناه لري.

د دې سره چي اوبه تا په خپل لاس سره نه وي راکښلي يعني الله تعالی پر هغه سړي طعن کوي که هغه اوبه ستا د قدرت منونکي وي او تا هغه پيدا کړې وي نو ستا دغه عمل به د يو موزون هم وي مګر په دغه صورت کي کله چي هغه اوبه محض زما په قدرت سره پيدا سوي وي او ما

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه د يو عام نعمت په توګه د ټولو مخلوقاتو لپاره مباح کړي وي نو بيا ستا دغه مجال به څرنګه وي چي ته د الله تعالى مخلوق د دغه نعمت څخه منع کړې.

که څه هم څاه او وياله د انسان په محنت سره په وجود کي راځي مګر د دغه اصل شي يعني اوبه يوازې د الله تعالى په قدرت سره پيدا کيږي که يو سړى څاه وکاږي يا وياله جوړه کړي او په هغه کي اوبه نه راوځي نو د هغه څاه يا ويالې هيڅ حقيقت نه وي ځکه د څاه کنبل يا ويالې وغيره جوړول د دې خبري دليل نه سي کيداى چي هغه سړي ته پر نورو خلکو باندي د اوبو د استعمال پابندي لګولو حق حاصل سوى دى.

(وذكر حديث جابر في باب المنهى عنها من البيوع) د حضرت جابر ﷺ روايت په باب المنهى عنها من البيوع کي ذکر سوى دى يعني حضرت جابر رضي الله عنه دغه روايت (نهي رسول الله ﷺ عن بيع فضل الماء) يعني رسول الله ﷺ د ضرورت څخه زياتي اوبه خرڅولو څخه منع فرمايلې ده، دغه روايت صاحب د مصابيح دلته نقل کړى دى مګر صاحب د مشکوة دغه روايت په باب المنهى عنها من البيوع کي نقل کى دى چي مخکي تېر سوى دى.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

پر ناابادہ ځمکي باندي ديوال ګرځول

﴿۲۸۶۷﴾: عَنِ الْحَسَنِ عَنْ سَمُرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَحَاطَ حَائِطًا عَلَى أَرْضٍ فَهِيَ لَهُ. رواه ابوداؤد.

حضرت حسن رضي الله عنه د سمره څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي په يوه (نا اباده) ځمکه باندي ديوال را وګرځوي هغه ځمکه د هغه ده. (ابو داؤد)

تخريج: ابوداود في السنن ۳\۴۵۶، رقم: ۳۰۷۷.

تشريح: مطلب دادى چي کوم څوک د موات (يعني وېرانه او غير اباده ځمکه) څخه ديوال را وګرځوي نو هغه ځمکه د هغه ملکيت کيږي يعني دغه حديث د خپل ظاهري مفهوم سره سم پر دې خبره دلالت کوي چي د موات ځمکي د ملکيت د ثبوت لپاره پر هغه ديوال ګرځول کافي دي لکه څرنګه چي د مشهور روايت سره د امام احمد رحمه الله دا مذهب دى او د پاته درو امامانو په نزد د داسي ځمکي د ملکيت د ثبوت لپاره احياء يعني د هغه ابادول شرط دي چي د هغه وضاحت د باب په شروع کي تېر سوى دى، او دا بالکل ظاهره خبره ده چي ديوال را ګرځول

Maktaba Tul Ishaat.com

احياء يعني د ابادولو په مفهوم كي داخل دى نو ددغه درو امامانو د مذهب سره ددغه حديث تاويل به داوي چي د دېوال ګرځولو څخه مطلب هلته سكونت اختيارول مراد دي.

د رسول الله ﷺ له خوا صحابه كرامو ته مځكي وركول

﴿۲۸۶۸﴾: وَعَنْ اَسْمَاءَ بِنْتِ اَبِي بَكْرٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَقْطَعَ لِلزُّبَيْرِ نَخِيْلاً. رواه ابوداؤد

د بي بي اسماء بنت ابي بكر رض څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د خرماؤ وني زبير رضي الله عنه ته د ځاى په ډول وركړي وې. (ابو داؤد)

تخريج: ابوداود في السنن ۳\۴۵۱، رقم: ۳۰۶۹.

تشريح: په دې باره كي يو احتمال دادى چي كومي د خرماو درختي چي حضرت زبير رضي الله عنه ته وركړل سوي وي هغه په اصل كي د خمس څخه وې چي د هغه حق وو او دا هم كيداى سي چي هغه درختي په موات مځكه كي وي او هغه حضرت زبير رضي الله عنه اباده كړې وي.

﴿۲۸۶۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ أَقْطَعَ لِلزُّبَيْرِ حُضْرَ فَرَسِهِ فَأَجْرَى فَرَسَهُ حَتَّى قَامَ ثُمَّ رَمَى بِسَوْطِهِ فَقَالَ أَعْطُوهُ مِنْ حَيْثُ بَلَغَ السَّوْطُ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ حضرت زبير رضي الله عنه ته د آس د يوې ځغستيا په برابري مځكه وركړې وه كله چي زبير خپل آس وځغلوي كوم وخت او ځاى چي آس و دريدى بيا يې وغورزول غمچينه خپل نو نبي كريم ﷺ وفرمايل: تر كوم ځايه چي غمچينه ورسيدا تر هغه ځايه پوري مځكه وركړئ. (ابو داؤد).

تخريج: ابوداود في السنن ۳\۴۵۳، رقم: ۳۰۷۲.

د لغاتو حل: خُضر: اى عدوها (ځغاسته).

﴿۲۸۷۰﴾: وَعَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَائِلٍ عَنْ اَبِيْهِ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ أَقْطَعَهُ أَرْضًا بِحَضْرَمَوْتَ قَالَ فَأَرْسَلَ مَعِيَ مُعَاوِيَةَ قَالَ اَعْطِهَا اِيَّاهُ. رواه الترمذي والدارمي

حضرت علقمه بن وائل رضي الله عنه د خپل پلاره څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ وائل ته په حضر

Maktaba Tul Ishaat.com

موت کي یوه مځکه ورکړه د وائل رضي الله عنه بیان دي نبي کریم ﷺ زما سره معاویه رضي الله عنه ولیږي او حکم یې وکړ چي فلاني مځکه و ده ته ورکړئ. (ترمذي او دارمي).

تخریج: الترمذي في السنن ۳\ ٦٦٥، رقم: ۱۳۸۱، والدارمي ۲\ ۳۴۷، رقم: ۲٦۰۹.

تشریح د اوسني جغرافیایي نقشې سره سم د جبل السراة یوه لړۍ د یمن څخه په تېرېدو سره د جزیرة العرب په جنوب مغربي کونج ته د مشرق خوا ته چاپېره سوې ده بیا د جنوبي ساحل نژدې تر لیري پوري تللې ده، د جبل السراة دغه لړۍ چي پر کومو سیمو مشتمل ده هغه ته حضرموت ویل کیږي، د حضرت موت ټوله سیمه پر غیر اباد مځکو او غرو باندي مشتمل ده چي نه زیاته لوړه ده او نه د باران د کم اورېدو په وجه د کښت وړ ده مګر په دغه سیمو کي یو څو شېلې دي چي نسبتا ابادي دي چي په هغو کي د یوې شیلې نوم حضرت موت دی.

حضرت وائل ابن حجر رضي الله عنه د دغه سیمي د پخوانۍ شاهي خاندان یو فرد وو، د رسول الله ﷺ د اسلام د دعوت د اورېدو سره د خپل هیواد د یو وفد سره د رسول الله ﷺ په خدمت کي د حاضرېدو لپاره د حضرت موت څخه روان سو او رسول الله ﷺ په مدینه کي د هغوی په راتګ باندي اکثر صحابه کرام خبر کړي وي او (وهو بقیة ابناء الملوک) چي هغه د شاهي کورنۍ د سترګو تور دی، د دغه الفاظو په ذریعه د هغه تعارف یې کړی وو، کله چي هغوی مدینې ته راوسېدل او د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سول نو رسول الله ﷺ د هغوی د حیثیت سره سم د هغوی استقبال وکړ او د ځان سره یې نژدې کښېنول او د هغوی لپاره یې خپل ځادر مبارک وغوړوی او بیا رسول الله ﷺ د حضرت موت د سیمي حاکم وټاکی او هلته یې یو څه مځکه ورکړه.

﴿۲۸۷۱﴾: وَعَنْ اَبْيَضَ بْنِ حَمَّالٍ الْمَارِبِيِّ اَنَّهُ وَفَدَ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابیض بن حمال ماربي رضي الله عنه څخه روایت دی چي هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کي

وَسَلَّمَ فَاسْتَقْطَعَهُ الْمِلْحَ الذي بمارب فَاقْطَعَه اياه فَلَمَّا وَلّٰى قال قَالَ رَجُلٌ

حاضر سو هغه د مالګي هغه کان وغوښتي کوم چي په مارب کي وو نبي کریم ﷺ و هغه ته کان د جائیداد په ډول ورکړ وروسته چي کله ولاړی نو یوه سړی وویل

یارسول الله إِنَّمَا قَطَعْتَ لَهُ الْمَاءَ الْعِدَّ قَالَ فرجعه مِنْهُ قَالَ وَسَأَلَهُ مَاذَا

یا رسول الله ﷺ! هغه کان خو تیار جائیداد دي په هغه کي مالګه تیارېږي د محنت او مشقت ضرورت نه پېښېږي د راوي بیان دي د دې معلومات څخه وروسته نبي کریم ﷺ هغه کان بېرته واخیست (ځکه

Maktaba Tul Ishaat.com

چي په هغه كي د ټولو مسلمانانو حق وو او د يو چا په قبضه كي را وستل جائز نه دي) وروسته هغه سړي د نبي كريم ﷺ څخه پوښتنه وكړه

يُحمَىٰ مِنَ الأَرَاكِ قَالَ مَا لَمْ تَنَلْهُ أَخْفَافُ الإِبِلِ. رواه الترمذي وابن ماجة والدارمي.

چي كوم قسم شاړه مځكه په ابادولو سره ملكيت ګرځي (يعني په يوه نا اباده مځكي كي د ابادي لپاره دېوالونه جوړلو سره اباده سي) نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: هغه مځكه چي هلته د اوښانو پښې نه رسيږي (يعني د حيوانانو د څرېدو ځاي نه وي يا كوم ځاي چي ابادي نه وي). ترمذي ابن ماجه دارمي.

تخريج: الترمذي في السنن ۳\ ٦٦٤، رقم: ۱۳۸۰، وابن ماجه في السنن ۲\ ۸۲۷، رقم: ۲۴۷۵، والدارمي ۲\ ۳۴۷، رقم: ۲٦۰۸.

د لغاتو حل: مارب: موضع باليمن (په يمن كي يوه سيمه). الماء العد: اي الدائم الذي لاينقطع.

تشريح: مارب د يمن د يو ښار نوم دى چي د صنعاء څخه شپېته ميله په مشرق كي تقريبا د مځكي د سطح پر څلور زره فټه لوړوالي واقع دى، په يمن كي تر اولي عيسوي پيړۍ پوري د سبا د نسل د حكومت زمانه كي مارب د يمن د دار الخلافة كېدو په وجه نه يوازي دا چي لوى ښار وو بلكه يو ستر تجارتي مركز هم وو، حضرت ابيض رضي الله عنه ددغه ښار اوسيدونكى وو ځكه هغه ته ماربي ويل كيږي.

الماء العد: يعني د تيارو اوبو مطلب دادى چي بالكل تياري او همېشه وي چي د هغه ماده منقطع نه وي، ددې څخه په رنګ كي بالكل د مالګي حالت ته اشاره ده، د رسول الله ﷺ دا خيال وو چي ابيض رضي الله عنه چي د مالګي د كان خواست كړى دى هغه بالكل په ابتدائي حالت كي دى چي د هغه څخه به په محنت او مشقت او سخت تكليف څخه وروسته مالګه راوځي مګر د حضرت اقرع رضي الله عنه د توجه په ګرځولو سره رسول الله ﷺ ته معلومه سوه چي هغه كان په ابتدائي حالت كي نه دى بلكه په هغه كي مالګه تياره سوې ده چي بېله محنته او مشقته د تيارو اوبو او وابنو په ډول تر لاسه كيداى سي نو رسول الله ﷺ هغه كان بېرته واخيستى ځكه چي په دغه صورت كي هغه كان او په هغه كي تياره سوې مالګه باندي د ټولو خلكو حق وو هغه د يو كس ملكيت ګرځول مناسب نه وه ځكه رسول الله ﷺ د ټولو خلكو د حقوقو په نظر ساتلو څخه وروسته بېرته اخيستل غوره وګڼل.

Maktaba Tul Ishaat.com

ددې څخه معلومه سوه چې د امام (حکومت) له طرفه د یو کان یو سړي ته ورکول کیدای سي په شرط ددې چې هغه کان په مځکه کي وي او د هغه څخه د محنت او مشقت پرته هیڅ شی تر لاسه کیدای نه سي مګر کوم کانونه چې را ایستل سوي دي او د هغه څخه وتونکی مال د محنت او تکلیف څخه پرته تر لاسه کیدای سي نو هغه کان د یو چا ملکیت ګرځول جائز نه دي بلکه د وابنو او اوبو په ډول د هغه په ګټه کي ټول خلک شریک دي او پر هغه به د ټولو حق وي، ددغه حدیث څخه دا خبره هم معلومه سوه که یو حاکم په یو معامله کي یو فیصله وکړي او بیا هغه فیصله او حکم منسوخ کړي او د هغه څخه رجوع وکړي نو دا صحیح دی.

هغه مځکه چې هغه ته د اوښانو پښې نه رسیږي ددې څخه مراد هغه مځکه ده چې د څر ځای او سرایو څخه بېله وي، ددې څخه معلومه سوه چې د هغه موات مځکي احیاء یعني ابادول جائز نه دي کوم چې سرایو ته نژدې وي ځکه چې هغه څارویو د څرولو او د کلي د خلکو د نورو ضرورتو لپاره استعمالیږي.

د الله ﷻ درې نعمتونه

﴿۲۸۷۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُسْلِمُونَ شُرَكَاءُ فِي ثَلَاثٍ فِي الْمَاءِ وَالْكَلَإِ وَالنَّارِ. رواه ابوداؤد وابن ماجة.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: په درو شیانو کي ټول مسلمانان سره شریکان دي یعني اوبه وابنه او اور دي چې پکښې د ټولو مسلمانانو حق دي (هیڅوک دي یو د بله سره نه منعه کوي). (ابو داؤد ابن ماجه).

تخریج: ابوداود في السنن ۳\۷۵۰، رقم: ۳۴۷۷، وابن ماجه في السنن ۲\۸۲۶، رقم: ۲۴۷۲.

تشریح په دغه حدیث شریف کي د الله تعالی د هغه درو نعمتو ذکر دی کوم چې د کائناتو د هر فرد لپاره دي او په هغه کي د یو چا ذاتي او خصوصي دخل نه سته.

د اوبو څخه مراد د دریاب، څاه، تالاب او داسي نورو شیانو اوبه دي او هغه اوبه مراد نه دي چې یو سړي په لوښي کي اچولي وي، ددې وضاحت د باب په شروع کي سوی دی، همدارنګه د وابنو څخه هغه وابنه مراد چې هغه په ځنګل کي شنه سوي وي.

د اور څخه مراد دادی که د یو چا سره اور وي نو هغه ته دا حق نه سته چې هغه نور خلک د اور اخیستلو څخه منع کړي یا د څراغ بلولو څخه یې منع کړي یا د هغه په رڼا کي د ناستي څخه

يې منع کړي ، او داسې نور، مګر که چېرې يو سړی د هغه او ر څخه هغه لرګي اخيستل غواړي کوم چې په هغه اور کې سوځي نو په دغه صورت کې د هغه منع کول جائز دي ځکه چې د هغه په اور کې کمي راځي او اور مړ کېږي او ځينې علماء وايي چې هغه ډېره چې د هغه په وهلو سره اور راوځي ددې څخه مراد دادی چې يو سړی دې د هغه ډبرې د اخيستلو څخه نه منع کوي په شرط ددې چې هغه ډبرې په وېرانه ځکه کې وي .

يو مباح شی چې هر څوک تر مخه حاصل کړي د هغه سو

﴿۲۸۷۳﴾: وَعَنْ اَسْمَرَ بْنِ مُضَرِّسٍ قَالَ اَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَايَعْتُهُ فَقَالَ مَنْ سَبَقَ إِلَى مَاءٍ لَمْ يَسْبِقْهُ إِلَيْهِ مُسْلِمٌ فَهُوَ لَهُ. رواه ابوداؤد.

د حضرت اسمر بن مضر رضی الله عنه څخه روايت دئ چې زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سوم اسلام مې قبول کړ نبي کريم ﷺ وفرمايل : څوک چې اوبو ته اول ورسي . چې مخکې يو بل مسلمان ورور نه وي ور رسېدلی نو هغه اوبه د هغه دي .(ابو داؤد)

تخریج: ابوداود في السنن ۳\۴۵۲، رقم: ۳۰۷۱.

تشریح: مطلب دادی چې کوم سړی مباح اوبه يعني د درياب ، تالاب يا بل شي څخه په يوه اندازه واخلي نو د اوبو هغه اخيستی مقدار د هغه سړي ملکيت کېږي او کومې اوبه چې هغه ځای يعني درياب او تالاب وغيره کې پاته سي هغه د هغه په ملکيت کې نه دي بلکه هغه مباح دي همدارنګه نور مباح شيان لکه وابنه او د لرګي وغيره هم دا حکم دی .

په کوم قوم کې چې د کمزورو انسانانو حقوق محفوظ نه وي...

﴿۲۸۷۴﴾: وَعَنْ طَاوُسٍ مُّرْسَلاً أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ

د حضرت طاؤس رحمه الله څخه مرسلا روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چې

أَحْيٰى مَوَاتًا مِنَ الْأَرْضِ فَهُوَ لَهُ وَعَادِيُّ الْأَرْضِ لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهِ ثُمَّ هِيَ لَكُمْ مِنِّيْ .

نا اباده ځمکه آباده کړي نو ځمکه د هغه ده او پخوانۍ ځمکه د الله جل جلاله او د هغه د رسول ﷺ ده او زما له لوري ستاسو ده

رواه الشافعي وروى في " شرح السنة " : أن النبي ﷺ أقطع لعبد الله بن

Maktaba Tul Ishaat.com

او شافعي او په شرح السنة كي دا روايت داسي ذكر سوي دي : چي نبي كريم ﷺ عبد الله بن

مسعود الدور بالمدينة وهي بين ظهراني عمارة الأنصار من المنازل والنخل

مسعود رضي الله عنه ته په مدينه كي كورونه وركړه دا كورونه د انصارو په آباديو كي د ننه د هغوى د كورونو او د خرماؤ د ونو تر مينځ واقع وه

فقال بنو عبد بن زهرة : نكتب عنا ابن أم عبد فقال لهم رسول الله : " فلم ابتعثني الله إذا ؟ إن الله لا يقدس أمة لا يؤخذ للضعيف فيهم حقه .

د عبد الله بن زهره زامنو نبي كريم ﷺ ته وويل : د ام عبد زوي زموږ څخه ليري ساته نو رسول الله ﷺ و هغه ته وويل : خداي تعالي زه د څه دپاره را لېږلي يم ؟(يعني كه زه د كمزور مرسته و نه كړم) خداي تعالي هغه قوم نه پاكوي چي په هغوى كي د كمزوري حق نه وي محفوظ .

تخريج: الشافعي في الام ۱۴\۴۵،.

د لغاتو حل: عادي الارض: الابنية والضياع القديمة. (پخوانى ځمكه او ابادى).

تشريح : د عادي الارض (پخوانى ځمكي) څخه مراد هغه وېرانه او غير اباد ځمكه ده چي د هغه د مالک خبر نه وي ، دلته په دغه ځمكي د عاد د لفظ نسبت د حضرت هود عليه السلام قوم ته محض د داسي ځمكي د قدامت په اظهار كي د مبالغې لپاره سوى دى ځكه چي حضرت هود عليه السلام او د هغه د قوم د قدامت وخت ډېر زيات دى .

او د هغه د رسول لپاره ده : ددې مطلب دادى چي داسي ټولي وېراني ځمكي چي د هغه مالک نه وي زما په تسلط كي دي د خپل مرضى او مصلحت سره سم په هغه كي تصرف كوم چا ته چي يې وغواړم وركوم يې او د هغه د ابادولو اجازه وركوم .

قاضي رحمة الله عليه وايي چي : ثم هي لكم مني (او بيا هغه زما له طرفه ستا سو ده) ددې څخه معلومه سوه چي دغه جمله: او پخوانى ځمكه د الله تعالى او د هغه د رسول لپاره ده ، دلته د الله او د رسول ذكر د عظمت شان سره سم د رسول الله ﷺ د ذكر د تمهيد په توګه دى كنه نو په ظاهره خو د الله جل جلاله ضرورت نه سته ځكه چي د رسول الله ﷺ حكم او فيصله د الله جل جلاله حكم او فيصله ده .

د عبد ابن زهره زامنو چي د خپل سراى او د خرما د درختو په مينځ كي حضرت عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه ته د سراى وركولو كوم مخالفت وكړ ددې يو جذباتي علت وو او هغه دا چي د

حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه پلار یعني مسعود د جاهلیت په زمانه کي د عبدابن زهره د زامنو مقابل وو او د حضرت عبدالله رضي الله عنه مور یعني ام عبد د هغوی د خدمتګارو څخه وه ، کله چي رسول الله ﷺ حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه ته په داسي ځای کي سرای ورکړی چي د عبدالله ابن زهره د سرایو او خرماوو د باغو په مینځ کي واقع وو نو دا هغوی ته ناخوښه سوه چي د عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه سرای دي د هغوی د سرایو په مینځ کي واقع وي ، یعني په داسي کولو سره هغوی د خپل هغه حقارت اظهار وکړ کوم چي هغوی د حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه سره درلودی .

نو رسول الله ﷺ د هغوی پر غلطو جذباتو باندي د غصې اظهار وکړ او وه یې فرمایل : که د بندګانو حقوق د داسي احساسانو سره متعلق وي او د کمزورو انسانانو په اړه دا جذبات او حقارت جائز وي نو زه به د الله په رسول کېدو سره دغه دنیا ته ولي راتللای که زه د کمزورو خلکو او مسکینانو د تقویت باعث او د هغوی مرسته کونکی جوړ نه سم نو زما د پیغمبری یو لوی مقصد به څنګه پوره سي او زما په را استولو کي به څه حکمت پاته سي ، تاسو باید دا هېر نه کړي چي زما په بنیادي مقاصدو کي دا خبره داخل ده چي زه د انسانانو په مینځ کي کښته ، ورته او د ټولني فرق او امتیاز له منځه یوسم ، کوم خلک چي خپل ځان طاقتور او لوی ګڼي هغوی د اعتدال لاري ته راولم او څوک چي کمزوري او ناتوانه وي هغوی ته د خپل مرستي او نصرت سره طاقت وبخښم، بیا رسول الله ﷺ د قومونو د کرداریو نازک طرف ته اشاره وکړه چي کوم قوم د خپل کمزوري کس د حقوقو ساتنه نه کوي او په کوم قوم کي چي د کمزورو انسانانو اهمیت نه وي هغه قوم نه یوازي دا چي د کائنات انساني یوه غوره برخه نه ده بلکه الله تعالی هغه قوم ته د ګناهونو او خرابیو څخه پاکي نه ورکوي، د کوم قوم طاقتور خلک چي د کمزورو خلکو حقوق تر پښو لاندي کوي د هغوی پر ټولنیز ژوند باندي د بدعنوانو او د ګناه او معصیت بار لوېږي چي د هغه نتیجه دا سي چي هغه قوم نه خو په ټولنه کي یو صالح او باوقاره کردار تر سره کوي او نه د الله تعالی له خوا پر هغوی رحمت او برکت نازلېږي، نو رسول الله ﷺ د عبدابن زهره زامن خبردار کړل چي تاسو دا مه ګڼي چي عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه په دنیاوي توګه ستاسو څخه کم دی او هغه کمزوری انسان دی ځکه تاسو د هغه دا جائز حق چي هغه پر کوم ځای باندي غوارم خپل سکونت اختیار کړي غصب به وکړئ زه د هغه مرسته کونکی او معین یم او پر ما دا لازمه ده چي زه د هغه مرسته وکړم .

Maktaba Tul Ishaat.com

په ویاله وغیره سره د کښت اوبول

﴿۲۸۷۵﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

حضرت عمرو بن شعيب رضي الله عنه د خپل پلاره څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى فِي السَّيْلِ الْمَهْزُورِ أَنْ يُمْسَكَ حَتَّى يَبْلُغَ الْكَعْبَيْنِ ثُمَّ يُرْسِلُ الْأَعْلَى عَلَى الْأَسْفَلِ. رواه ابوداؤد وابن ماجة.

د خلاصو اوبو په اړه داسي فرمايلي دي: چي (نژدې و كښت ته د) خپلي اوبه را وګرځوئ كله چي اوبه تر بجلكو پوري ورسيږي نو د پورته كښت لرونكي دي او به د كښته كښت ولور ته ايله كړي. (ابو داؤد ابن ماجه).

تخريج: ابوداود في السنن ۵۳\۴، رقم: ۳۶۳۹، وابن ماجه ۸۳۰\۲، رقم: ۲۴۸۲.

د لغاتو حل: المهزور: هو واد في بني قريظة (په بني قريظه كي يوه شيله).

تشريح: مهروز د مدينې منورې د يو شيلې نوم دی چي د بني قريظه په سيمه كي واقع ده، د بني قريظه مځكو او باغو ته به د دغه شيلې څخه اوبه راتلې، په دې باره كي رسول الله ﷺ حكم وكړ چي دغه شيلې ته نژدې چي د كوم چا مځكه وي د هغه حق مقدم دی چي مخكي هغه خپل مځكي ته اوبه وركړي كله چي د هغه مځكه اوبه سي بيا دي هغه د اوبو رخ د خپل مځكي څخه واړوي چي هغه مځكي ته ولاړي سي كوم چي د هغه سره متصل او تر هغه لاندي دي.

د خپل جائيداد په ذريعه چا ته تكليف مه وركوئ

﴿۲۸۷۶﴾: وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ أَنَّهُ كَانَتْ لَهُ عَضُدٌ مِنْ نَخْلٍ فِي حَائِطِ رَجُلٍ

د حضرت سمره بن جندب رضي الله عنه څخه روايت دی چي د هغه يو څو د خرماؤ درختي د يوه انصاري

مِنَ الْأَنْصَارِ وَمَعَ الرَّجُلِ أَهْلُهُ فَكَانَ سَمُرَةُ يَدْخُلُ عليه فَيَتَأَذَّى بِهِ فَأَتَى

په باغ كي وې او دی د خپل كور او اولاد سره په باغ كي اوسېدي كله چي هغه (سمره) به باغ ته تلي نو د هغه له لوري څخه به ده ته تكليف رسېدی، انصاري

النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذٰلِكَ لَهُ فَطَلَبَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو د دې خبري یادونه یې ورته وکړه رسول الله ﷺ سمره را وغوښت او حکم یې ورته وکړ چي

وَسَلَّمَ أَنْ يَبِيعَهُ فَأَبَى فَطَلَبَ إِلَيْهِ أَنْ يُنَاقِلَهُ فَأَبَى قَالَ فَهِبْهُ لَهُ وَلَكَ وَكَذَا

خپلي درختي پر انصاري باندي خرڅي کړه . سمره د درختو خرڅولو څخه انکار وکړ بیا رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : د دغه انصاري د درختو سره چي هغه بل ځای دی خپل درختي بدلي کړه سمره ؓ له دې څخه هم انکار وکړ بیا نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل : خپلي درختي و انصاري ته هبه کړه

أَمْرًا رَغَّبَهُ فِيهِ فَأَبَى فَقَالَ أَنْتَ مُضَارٌّ فَقَالَ لِلْأَنْصَارِيِّ اذْهَبْ فَاقْطَعْ نَخْلَهُ

تا ته به په اخرت کي د دې اجر درکول سي سمره ؓ له دې څخه هم انکار وکړ نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل : ته انصاري ته ضرر رسونکی یې (او څوک چي چا ته ضرر رسونکي وي نو د هغه دفعه کول ضروري دي) بیا نبي کریم ﷺ انصاري ته حکم وکړ چي ولاړ سه او د هغه درختي پرېکړه او وه یې غورځوه .

رواه ابوداؤد و ذکر حدیث جابر من احیی ارضا في باب الغصب بروایة

(ابو داؤد) او د جابر ؓ حدیث په من احي ارضا د سعید بن زید څخه د غصب په باب کي بیان

سعید بن زید و سنذکر حدیث ابي صرمة من ضار اضر الله به في باب ما ینهی من التهاجر .

سوي دي او ډېر ژر به د ابو صرمه په حدیث کي من ضار اضر الله په باب ما ینهی من التهاجر کي بیان سوي دي .

تخریج: ابوداود في السنن ۴ / ۵۰، رقم: ۳۶۳۶.

د لغاتو حل: عضد : ای طریقة (لاره).

تشریح: رسول الله ﷺ چي حضرت سمره ؓ ته د خپل درختو د انصاري په لاس د خرڅولو یا تبادله کولو یا هبه کولو کوم حکم ورکړی وو او هغه حکم ونه مننی نو د هغه برخه دا ده چي رسول الله ﷺ هغه حکم د وجوب په توګه نه وو ورکړی چي د هغه مثل ضروري وه بلکه د

غوښتني په توګه يې حکم ورکړی وو ، همدا وجه ده چي رسول الله ﷺ کوم آخري صورت د حضرت سمره رضي الله عنه په وړاندي کښېښودی په هغه کي د ثواب ترغيب ورکړل سوی دی .

که چيري د رسول الله ﷺ د دغه حکم تعلق د وجوب سره وي نو دا تصور هم نه سي کيدای چي حضرت سمره رضي الله عنه به دومره په صفائي سره انکار کړی وای .

اوس پاته سوه دا خبره چي د رسول الله ﷺ دغه حکم د وجوب په توګه نه وو بلکه د دغه تعلق د غوښتني سره وو نو بيا رسول الله ﷺ انصاري ته د هغه درختو د پرېکولو حکم ولي ورکړ .

ددې جواب بالکل څرګند دی چي مخکي خو رسول الله ﷺ د غوښتني په ذريعه په اخلاقي توګه سره حضرت سمره رضي الله عنه دې ته تيارول غوښتل چي هغه د خپلو درختو څخه تېر سي مګر سمره رضي الله عنه انکار وکړ نو رسول الله ﷺ باندي دا خبره ظاهره سوه چي سمره رضي الله عنه د انصاري په باغ کي عاريتا درختي لګولي دي مګر اوس هغه درختي نه خرڅوي او نه يې تبادله کوي او نه يې هبه کوي نو دا واقعتاً انصاري ته تکليف او ضرر رسول وه نو په دغه صورت کي دا ضروري وه چي انصاري ته د هغه ضرر او تکليف څخه خلاصون ورکړل سي ځکه د هغه آخري صورت دا پاته سو چي رسول الله ﷺ د هغه درختو د پرېکولو حکم ورکړ .

د حضرت جابر رضي الله عنه حديث (من احيى ارضا الخ) د حضرت سعيد ابن زيد رضي الله عنه په روايت سره په باب الغصب کي نقل سوی دی او د حضرت ابي صرمه حديث (من ضار ضرا الله به..الخ) په باب ما ينهى من التهاجر کي نقل سي . دغه دواړه حديثونه صاحب د مصابيح دلته نقل کړي دي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د اوبو، مالګي او اور ورکولو څخه منع مه کوئ

﴿۲۸۷۷﴾ : عَنْ عَائِشَةَ اَنَّهَا قَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ مَا الشَّيْءُ الَّذِي لَا يَحِلُّ مَنْعُهُ

د بي بي عائشي رضي الله عنها څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي هغه کوم شی دي چي د هغه د استعمال څخه منعه نه ده راغلې

قَالَ الْمَاءُ وَالْمِلْحُ وَالنَّارُ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ هٰذَا الْمَاءُ قَدْ عَرَفْنَاهُ فَمَا

نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : اوبه ، مالګه او اور دي . بيا ما پوښتنه وکړه يا رسول الله! د اوبو په اړه خو زه پوه سوم (يعني د دې د نه ورکولو څخه انسانانو او حيوانانو ته تکليف رسيږي)

Maktaba Tul Ishaat.com

بَالُ الْمِلْحِ وَالنَّارِ قَالَ يَا حُمَيْرَاءُ مَنْ أَعْطَى نَارًا فَكَأَنَّمَا تَصَدَّقَ بِجَمِيعِ مَا

ليکن د مالګي او اور په اړه معلومات نسته نبي کريم ﷺ وفرمايل : اې حميرا ! (د ګلاب د ګل په شان سور رنګه) څوک چي چاته اور ورکړي هغه ته دومره ثواب رسيږي لکه هغه چي خپل

أَنْضَجَتْ تِلْكَ النَّارُ وَمَنْ أَعْطَى مِلْحًا فَكَأَنَّمَا تَصَدَّقَ بِجَمِيعِ مَا طَيَّبَت تلك

ټول شيان په دې اور پخ سوي وي صدقه کړل او څوک چي چا ته مالګه ورکړي هغه ته دومره ثواب رسيږي لکه هغه چي خيرات کړه ټول هغه طعام (خوراک) چي په دغه مالګه خوندور

الْمِلْحُ وَمَنْ سَقَى مُسْلِمًا شَرْبَةً مِنْ مَاءٍ حَيْثُ يُوجَدُ الْمَاءُ فَكَأَنَّمَا أَعْتَقَ رَقَبَةً

کيږي او څوک چي د مسلمان په هغه ځاي کي اوبه و څښني کوم ځاي چي اوبه وي په يوه وار اوبو چښلو سره لکه يو غلام چي آزاد کړ

وَمَنْ سَقَى مُسْلِمًا شَرْبَةً مِنْ مَاءٍ حَيْثُ لَا يُوجَدُ الْمَاءُ فَكَأَنَّمَا أَحْيَاهَا . رواه ابن ماجة

او په داسي ځاي کي چي اوبه نه وي په يو مسلمان اوبه چيښل داسي دي لکه هغه مسلمان ته چي يې نوی ژوند ورکړ .(ابن ماجه) .

تخريج : سنن ابن ماجه ۳\۸۲۶، رقم: ۲۴۷۴.

تشريح : بي بي عائشې رضي الله عنها د اوبو د ارزښت او د هغه د کيفيت حال د پوهېدو دعوه کړې وه ځکه رسول الله ﷺ د هغې د دعوې په ضمن کي په پای کي د اوبو ورکولو او د څښلو د ثواب او د هغه د فضيلت په ذکر کولو دا ظاهره کړه چي تا ته خو يوازي دا معلومه وه چي اوبه د يو عام ضرورت شی کېدو په وجه يو لوی نعمت دی مګر په دې باره کي دا تفصيل چي د اوبو ورکونکي څه درجه وي او هغه ته څومره زيات ثواب تر لاسه کيږي تا ته دا معلومه نه وه .

=======

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ الْعَطَايَا (د بخښي بيان)

لفظ د عطايا د عطيه جمع ده او معنی يې د بخښې يعني د خپل يو شي ملكيت او د هغه د حق تصرف بل چا ته منتقل كول يا يو چا ته خپل يو شی بېله عوضه وركول ، په دغه باب كي به د عطايا او بخښې تړولې ډولونه مثلا وقف، هبه، عمری او رقبی ذكر وسي .

ملا علي قاري رحمه الله ليكلي دي چي د عطايا څخه د اميرانو او پاچاهانو بخشش او د هغوی انعامونه مراد دي .

امام غزالي رحمه الله په منهاج العابدين كي ليكلي دي چي د اميرانو او پاچاهانو د بخشش په قبلولو كي د علماء اختلافي قولونه دي همدارنګه ځيني علماء وايي چي هغه بخشش او انعام چي د داسي مال په صورت كي وي چي د هغه د حرام كېدو يقين نه وي نو د هغه قبلول صحيح دي مګر د ځينو حضرات دا قول دی چي تر څو پوري د هغه مال د حلال كېدو يقين نه وي نو هغه نه قبلول غوره او بهتر دي ځكه چي په اوسنۍ زمانه كي د پاچاهانو او حكومتي خلكو په خزانو كي اكثره مال په غير شرعي ذرائعو سره تر لاسه كيدونكی مال او زر وي .

ځيني علماء فرمايي چي د غني او فقير دواړو لپاره د اميرانو او پاچاهانو تحفې حلالي دي كله چي د هغوی د مال د حرام كېدو په تحقيقي توګه سره ثابت نه وي د هغوی دليل دا دی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم د اسكندريه د پاچا مقوقس تحفه قبوله كړې وه او د يو يهودي څخه يې پور اخيستی وو سره ددې چي د يهوديانو په باره كي قرآن كريم (اكالون للسحت) يعني حرام خوړونكي، فرمايلي دي .

ځيني حضرات وايي چي د كوم مال د حرام كېدو يقين نه وي هغه د فقير لپاره حلال دی مګر د غني لپاره حلال نه دی .

په پای كي په دې مسئله هم پوه سئ چي كوم څوك مفلس او غريب وي نو د هغه لپاره په دې كي څه پروا نه سته چي هغه د پاچاهانو مال قبول كړي ځكه كه چيري هغه مال د پاچا د ذاتي ملكيت نه وي نو د هغه اخيستل بېله شكه صحيح دي او كه چيري هغه مال د بيت المال څخه وي نو بيا مفلس د هغه حقدار دی همدارنګه په داسي مال كي د اهل علم هم دا حق دی چي هغه مال واخلي ، نقل سوي دي چي حضرت علي رضی الله عنه فرمايلي دي كوم سړی چي په رضا او رغبت سره په اسلام كي داخل سي او هغه قرآن كريم ياد كړي نو هغه د بيت المال څخه هر كال د دوه سوه

Maktaba Tul Ishaat.com

درهمو اخیستو حقدار دی که هغه خپل دغه حق په دنیا کي وانه خلي نو ددې اجر به الله تعالی په آخرت کي ورکړي . ددې څخه معلومه سوه چي مفلس او عالم باید د بیت المال څخه خپل حق تر لاسه کړي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د حضرت عمر رضی الله عنه له خوا د خپل مځکي وقف

﴿۲۸۷۸﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ عُمَرَ أَصَابَ أَرْضًا بِخَيْبَرَ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چي حضرت عمر رضی الله عنه ته په خیبر کي یوه مځکه د غنیمت حاصله سوه حضرت عمر رضی الله عنه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو

وَسَلَّمَ فَقَالَ يَارَسُولَ اللهِ إِنِّي أَصَبْتُ أَرْضًا بِخَيْبَرَ لَمْ أُصِبْ مَالًا قَطُّ أَنْفَسَ

او عرض یې وکړ یا رسول الله! په خیبر کي یوه مځکه ماته را کول سوې ده د دې څخه بهتره تر ننه پوري ماته داسي شی نه دي حاصل سوي

عِنْدِي مِنْهُ فَمَا تَأْمُرُ بِهِ قَالَ إِنْ شِئْتَ حَبَسْتَ أَصْلَهَا وَتَصَدَّقْتَ بِهَا فَتَصَدَّقَ

تاسو په دې اړه څه فرمایاست؟ نبي کریم ﷺ ورته و فرمایل: که ته و غواړې چي مځکه وقف کړه او پیداوار یې صدقه کړه

بِهَا عُمَرُ أَنَّهُ لَا يُبَاعُ وَلَا يُوهَبُ وَلَا يُورَثُ وَتَصَدَّقَ بِهَا فِي الْفُقَرَاءِ وَفِي الْقُرْبَى

نو حضرت عمر رضی الله عنه مځکه په دې شرط سره د خداي تعالي په لاره کي چي اصل مځکه به نه ورکول کیږي نه یې هبه کولای سي او په میراث کي به زما وي او پیداوار به یې په فقیرانو

وَفِي الرِّقَابِ وَفِي سَبِيلِ اللهِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَالضَّيْفِ لَا جُنَاحَ عَلَى مَنْ وَلِيَهَا

دوستانو په قریبانو په مجاهدینو مسافرو او مېلمنو باندي خرځیږي او د غلامانو په ازادېدو کي به ور سره مرسته او کومک کیږي او متولي به یې هم په اندازه د حاجت شی څیني وصولوي

أَنْ يَأْكُلَ مِنْهَا بِالْمَعْرُوفِ وَيُطْعِمَ غَيْرَ مُتَمَوِّلٍ قَالَ ابْنَ سِيرِينَ غَيْرَ مُتَأَثِّلٍ

Maktaba Tul Ishaat.com

مَالًا . متفق عليه .

نو څه حرج نسته که يې متولي په خپلو قريبانو باندي خوري نو په شرط د دې ځان غني او مالدار نه کړي ، ابن سيرين ويلي دي چي د دغه مال څخه دي مال نه جمع کوي . (بخاري او مسلم) .

تخريج : البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵\ ۳۵۴، رقم: ۲۷۳۷، ومسلم ۳\ ۱۲۵۵، رقم: ۱۵- ۱۶۳۲.

د لغاتو حل : غيرمتاثل: اى غير مجمع لنفسه منه راس مال.

تشريح : دغه حديث شريف د وقف د صحيح کېدو دليل دی، د ټولو مسلمانانو په اتفاق دا مذهب دی که يو سړی خپل يو جائيداد مثلاً مځکه، سرای يا بل شي د يو نيک مقصد او ښه کار لپاره د الله تعالی د رضا او خوښۍ په لاره کي وقف کړي نو دا جائز دی او هغه وقف کونکی به په بې شمېره ثواب سره ونازول سي ، او دغه حديث شريف د دې خبري دليل هم دی چي د وقف جائيداد نه سي خرڅېدلای او نه هبه کيدای سي او نه د چا مېراث کېدای سي، دغه حديث د وقف فضيلت هم څرګندوي ځکه چي وقف يو صدقه جاريه ده چي د هغه ثواب وقف کونکي ته همېشه رسيږي .

خيبر د يو کلي نوم دی چي د مدينې منورې څخه تقريبا پر شپېته ميله فاصله په شمال کي واقع دی ، په دغه کلي کي د خرما وغيره کښت کيږي د رسول الله ﷺ په زمانه کي پر دغه کلي باندي مسلمانانو يعني د طاقت په زور فتح او غلبه تر لاسه کړې وه په دغه وخت کي د غنيمت اخيستونکو ددغه مځکي او باغونه واخيستل او هغوی په خپلو کي وويشل چي د هغه يوه برخه حضرت عمر فاروق ﷺ ته حاصله سوه هغه د خپل برخي مځکه د الله تعالی په لار کي وقف کړل .

په شرح السنه کي ليکلي دي چي دغه حديث ددې خبري دليل دی چي د وقف کونکي لپاره دا جائز دي چي هغه خپل د وقف څخه د ضرورت په اندازه ګټه تر لاسه کړي په دې توګه چي د آمدنۍ يو څه برخه د ځان او خپل کورنۍ د ژوند د اړتياوو لپاره خرڅ کړي يا د هغه څخه ګټه تر لاسه کړي ځکه چي رسول الله ﷺ د حضرت عمر ﷺ د وقف شرطونه ومنل يعني توثيق يې وفرمايه او د وقف د آمدنۍ څخه د ضرورت په اندازه يو څه برخه د هغه لپاره مباح وګرځول سوه کوم چي د هغه متولي وي او دا بالکل ظاهره ده چي وقف کونکی د خپل وقف متولي وي .

او ددې خبري يو دليل دا هم دی چي رسول الله ﷺ فرمايلي وه چي داسي يو څوک نه سته چي بېرومه (د مدينې منورې يو څاه چي د يهودي په ملکيت کي وو) رانيسي کوم څوک چي دغه څاه رانيسي او د مسلمانانو لپاره يې وقف کړي نو په دغه څاه کي به د هغه سړي سلواغه د

مسلمانانو د سلواغې په ډول وي (يعني څرنګه چي عام مسلمانان د دغه څاه څخه اوبه راکاږي همدا رنګه دغه سړی به هم د دغه څخه اوبه راکاږي) نو حضرت عثمان رضي الله عنه هغه څاه رانيوی او د مسلمانانو لپاره يې عام وقف کړی.

عمری جائز ده

﴿۲۸۷۹﴾: وَعَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْعُمْرَى جَائِزَةٌ. متفق عليه

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: عمری يعني د چا له عمر لپاره (تر څو پوري چي ژوندی وي) يو شی ورکول جائز دي. (بخاري او مسلم)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري):۵\۲۳۸، رقم: ۲۶۲۶. ومسلم ۳\۱۲۴۸، رقم: ۳۲-۱۶۲۶.

تشريح: رانيول او پلورل د انساني ټولني د يو تربله ربط او تعلق د استحکام ذريعه ده، په خپلو کي تعلقات د يو بل سره مينه او يو تر بله ربط په خپلو کي پر هدايا او تحفو باندي هم منحصر وي ځکه چي ددې په ذريعه فطرت انساني د يو خاص ډول محبت او مسرت څخه سمسور وي دا په خپلو کي د معاملاتو په څو طريقو سره کيږي، د هديې، تحفې او هبې سره سره يو صورت د عمری هم دی چي په ظاهره د هبې يو ښاخ دی نو پورتنی حديث د دغه هبې جواز ظاهروي.

عمری څه شي ده؟ د باب په شروع کي د عمری معنی بيان سوې ده دلته هم په دې پوه سئ چي د عمری صورت دادی چي مثلا يو سړی يو چا ته ووايي چي ما دغه خپل سرای تا ته ستا تر ژوند پوري درکړی نو دا جائز دی او په دغه صورت کي تر څو چي هغه سړی ژوندی وي نو د هغه څخه هغه سرای بېرته نه سي اخيستل کيدای مګر د هغه د مرګ څخه وروسته هغه سرای بېرته اخيستل کيدای سي په دې باره کي د علماؤ اختلافي اقوال دي چي تفصيل يې دادی چي د عمری درې صورتونه دي: اول دا چي کوم څوک خپل سرای يو چا ته ورکړي او ورته ووايي چي ما دغه خپل سرای تا ته درکړ تر څو چي ته ژوندی يې دا به ستا په ملکيت کي وي ستا د مرګ څخه وروسته به ستا د وارثانو او اولاد سي نو په دغه صورت کي د ټولو علماؤ په اتفاق سره دا مذهب دی چي دا هبه ده په دغه صورت کي سرای د مالک د ملکيت څخه وځي او کوم چا ته چي يې ورکړی دی د هغه په ملکيت کي راځي د هغه سړي د مړکېدو څخه وروسته د هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

وارثان د هغه سرای مالکان کیږي که وارثان نه وي نو په بیت المال کي به جمع کیږي.

د عمرٰی دوهم صورت دادی چي ورکونکی بېله قید او شرطه یعني مطلقا دا ووايي چي دغه سرای ستا تر ژوند پوري ستا دی په دغه صورت کي د علماء اکثریت وايي چي د دغه حکم هم هغه دی کوم چي دد ې څخه مخکي د اول صورت حکم دی د حنفیه مذهب هم دادی او صحیح قول دادی چي د امام شافعي رحمه الله قول هم دادی مگر ځیني علماء وايي چي په دغه صورت کي هغه سرای د هغه سړي د مرگ څخه وروسته د هغه د وارثانو حق نه دی بلکه د اصل مالک دی.

دریم صورت دادی چي ورکونکی داسي ووايي چي دغه سرای ستا تر ژوند پوري ستا دی ستا د مرگ څخه وروسته به زما او زما د وارثانو ملکیت وي نو په دغه صورت کي هم صحیح خبره داده چي دد ې حکم هغه دی کوم چي مخکني صورت دی د حنفیه په آند دا شرط چي ستا د مرگ څخه وروسته به زما او زما د وارثانو ملکیت وي فاسد دی، او مسئله داده چي د یو فاسد شرط په وجه هبه نه فاسد کیږي.

د امام شافعي رحمه الله صحیح قول دادی مگر امام احمد رحمه الله فرمايي چي دا صورت د یو فاسد شرط په وجه فاسد دی.

د عمری په باره کي د امام مالک رحمه الله قول دادی چي په دغه ټولو صورتو کي بنیادي مقصد د ورکړي شي د منفعت مالک کېدل دي.

عمری د وارثانو ملکیت وي

﴿۲۸۸۰﴾: وَعَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ إِنَّ الْعُمْرَى مِيرَاثٌ لِأَهْلِهَا. رواه مسلم.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: چي عمری د هغه د کور والاؤ میراث دي یعني ټول عمر لپاره څه شی چي ورکړل سو د هغه د کور خلک به د هغه د وفات څخه وروسته د هغه وارثان وي. (مسلم).

تخریج: مسلم في الصحیح ۳\۱۲۴۸، رقم: ۳۱- ۱۶۲۵.

تشریح: معمرله هغه سړي ته وايي چي هغه ته د عمرٰی په توگه یو شی ورکول سي، د حدیث مطلب دادی چي کوم چا ته یو سرای د عمرٰی په توگه ورکړل سي نو هغه سرای د هغه تر ژوند پوري د هغه ملکیت وي او د هغه د مرگ څخه وروسته د هغه وارثانو ملکیت وي یعني دا د خپل

Maktaba Tul Ishaat.com

ظاهري مفهوم په اعتبار د جمهورو علماؤ د مذهب دليل دی.

﴿۲۸۸۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّمَا رَجُلٍ أُعْمِرَ عُمْرَى

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د چا لپاره چي عمری وکول

لَهُ وَلِعَقِبِهِ فَإِنَّهَا لِلَّذِي أُعْطِيَهَا لَا تَرْجِعُ إِلَى الَّذِي أَعْطَاهَا لِأَنَّهُ أَعْطَى عَطَاءً وَقَعَتْ فِيهِ الْمَوَارِيثُ. متفق عليه.

سوه هغه د هغې مالک دي او بيا د هغه قريبان عمری په حقيقت کي د هغه چا وي چاته چي ور کړل سي د ورکونکي و لور ته نه راګرځي او په دې کي ميراث هم وي. (بخاري او مسلم)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵\۲۳۸، رقم: ۲۶۲۵، ومسلم ۳\۱۲۴۵، رقم: ۲۰-۱۶۲۵.

تشريح: د حديث خلاصه داده چي کوم شی يو چا ته د عمرٰی په توګه ورکړل سي نو هغه شی د هغه سړي سي او د هغه د مرګ څخه وروسته د هغه د وارثانو ملکيت کيږي د ورکونکي ملکيت ته بېرته نه راځي، د حضرت ابوهريره رضی الله عنه روايت چي مخکي تېر سوی دی د هغه د تشريح په ضمن کي د عمرٰی درې صورتونه بيان سوي دي، په دغه حديث کي د اول صورت بيان دی په دې باره کي چي کوم فقهي اختلاف دی د هغه تفصيل هم هلته ذکر سوی دی.

د حضرت جابر رضی الله عنه روايت او د هغه تاويل

﴿۲۸۸۲﴾: وَعَنْهُ قَالَ إِنَّمَا عُمْرَى الَّتِي أَجَازَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روايت دی چي کومه عُمری چي رسول الله ﷺ جائز ګرځولې ده هغه داده چي (د شی ورکونکي)

أَنْ يَقُولَ هِيَ لَكَ وَلِعَقِبِكَ فَأَمَّا إِذَا قَالَ هِيَ لَكَ مَا عِشْتَ فَإِنَّهَا تَرْجِعُ إِلَى صَاحِبِهَا. متفق عليه.

داسي ووايي: دا عمری ستا او ستا د وارثانو لپاره ده او کله چي داسي ووايي چي دا عمری ستا لپاره ده تر څو پوري چي ته ژوندی يې نو دا بېرته اصلي خاوند ته راګرځي. (بخاري او مسلم).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵\۲۳۸، رقم: ۲۶۲۵، ومسلم ۳\۱۲۴۶، رقم: ۲۳-۱۶۲۵.

تشریح دغه حدیث په ظاهره د جمهورو علماؤ د مذهب خلاف دی او د جمهورو علماؤ مذهب د حضرت ابوهریره رضي الله عنه د روایت د تشریح په ضمن کي ذکر سوی دی، جمهور علماء ددغه حدیث په باره کي فرمایي چي دغه حدیث مرفوع نه دی یعني دا د رسول الله ﷺ ارشاد نه دی بلکه خپله د حضرت جابر رضي الله عنه قول دی چي د هغه خپل پر خپل رایه او اجتهاد باندي مبني دی په دغه صورت کي د دغه قول د جمهورو علماؤ پر مذهب هیڅ اثر نه اچوي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د عمری او رقبی څخه د رسول الله ﷺ منع

﴿۲۸۸۳﴾: عَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُرْقِبُوا وَلَا تُعْمِرُوا فَمَنْ أُرْقِبَ شَيْئًا أَوْ أُعْمِرَهُ فَهِيَ لِوَرَثَتِهِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: رقبیٰ او عمری مه کوئ او چا لپاره چي رقبی یا عمری سوې وي هغه او د هغه وارثان د هغو مالکان دي. (ابو داؤد)

تخریج: ابوداود في السنن ۳\۸۲۰، رقم: ۳۵۵۶.

د لغاتو حل: لاترقبوا: من الارقاب بمعنی المراقبة وهي ان یقول: وهبت لک داري، فان مت قبلي رجعت الي وان مت قبلک فهي لک. (مرقات).

تشریح: د عمری په ډول رقبی هم د هبې یو ښاخ دی، ددې وضاحت هم د باب په شروع کي سوی دی، د رقبی صورت دادی چي د مثال په توګه یو سړی بل سړي ته دا ووایي چي زه خپل سرای تا ته په دې شرط درکوم که زه ستا څخه مخکي مړ سوم نو دغه سرای به ستا په ملکیت کي وي او که ته زما څخه مخکي مړ سوې نو بیا به دا زما په ملکیت کي وي، لفظ د رقبی مشتق دی د ارقاب څخه چي د مراقبه په معنی کی دی یعني په رقبی کي هر یو د دوهم د مرګ منتظر وي.

په دغه حدیث کي د عمری او رقبی څخه منع سوې ده او ددې علت دا بیان سوی دی چي تاسو کوم شی د عمری یا رقبی په توګه یو چا ته ورکړئ هغه د هغه سړي ملکیت سي او ستاسو ملکیت ختمیږي ځکه نو د هغه سړي د مرګ څخه وروسته هغه شی د هغه د وراثانو ملکیت ته منتقل کیږي نو تاسو خپل مال د عمری او رقبی په توګه د خپل ملکیت څخه په ایستلو سره خپل تاوان مه کوئ.

اوس پاته سوه دا خبره چي کله موږ ته دا مخکي معلومه سوې ده چي عمری او رقبی جائز

Maktaba Tul Ishaat.com

ده نو ددې منع به محمول څه شي وي ؟ ددې جواب دادی چې یا خو دا منع په هغه وخت کې فرمايل سوې ده کله چې دواړه جائز نه وه په دغه صورت کې دا هم ویل کیدای سي چې دغه حدیث منسوخ دی یا دا چې ددغه ارشاد مراد ظاهر دی چې عمری او رقبی که څه هم د مصلحت خلاف کار دی مګر کله چې دا واقع سي نو په شرعي توګه سره صحیح کیږي او د هغه نتیجه دا سي چې هغه شی نه یوازې د هغه په ملکیت کې راسي چا ته چې ورکړل سوی دی بلکه د هغه د مرګ څخه وروسته د هغه د وارثانو په ملکیت کې وي په دغه صورت کې ددغه حدیث د منسوخ کېدو هیڅ صورت نه پاته کیږي .

د عمری په باره کې دا بنوول سوي دي چې د حنفيه په نزد جائز ده مګر د رقبی په باره کې ملا علي قاري رحمة الله عليه فرمايي چې دا د امام ابو حنيفة او امام احمد رحمة الله عليهما په نزد جائز نه ده مګر د امام ابو یوسف رحمة الله عليه په نزد جائز دي .

په حنفي علماؤ کې څيني شارحين د حديث په باره کې دا ليکلي دي چې دا نهي (ممانعت) ارشادي دی، مطلب دا چې خپل مال تر یو ټاکلي وخت پورې مه هبه کوئ چې کله هغه وخت پوره سي نو خپل مال بېرته واخلئ ځکه چې کله خپل یو شی یو چا ته ورکړی نو هغه ستاسو د ملکيت څخه ووځي اوس هغه ستاسو په ملکيت کې نه راځي که څه هم تاسو هغه شی دهبې په صراحت کولو سره ورکړی وي یا د عمری او رقبی په توګه مو ورکړی وي .

عمری او رقبی جائز ده

﴿۲۸۸۴﴾ وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْعُمْرٰى جَائِزَةٌ لِأَهْلِهَا وَالرُّقْبٰى جَائِزَةٌ لِأَهْلِهَا. رواه احمد والترمذي و ابوداؤد .

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل : عمری (یعني هغه شی چې د ټول عمر لپاره ورکول سوي وي) عمری والاؤ لپاره جائز ده او رقبی د رقبی خلکو لپاره . (احمد ترمذي ابو داؤد) .

تخريج: احمد في المسند ۳\۳۰۳، الترمذي في السنن ۳\۶۳۳، رقم: ۱۳۵۱، وابوداود في السنن ۳\۸۲۱، رقم: ۳۵۵۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د جواز عمرى يو بل حديث

﴿۲۸۸۵﴾: عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمْسِكُوا أَمْوَالَكُمْ

د حضرت جابر رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: خپل مال د ځانه سره ساته

عَلَيْكُمْ لَا تُفْسِدُوهَا فَإِنَّهُ مَنْ أَعْمَرَ عُمْرَى فَهِيَ لِلَّذِي أُعْمِرَ حَيًّا وَمَيِّتًا وَلِعَقِبِهِ. رواه مسلم

مه یې کوه او مه یې خرابوه چا چي څوک د یو شی لپاره تهول عمر مالک جوړ کړ نو هغه د هغه شی حقیقي مالک دي په ژوند کي او د وفات څخه وروسته هم د مرګ څخه وروسته د هغه قریبان د هغه وارثان دئ. (مسلم).

تخريج: مسلم في الصحيح ۱۲۴۶\۳، رقم: ۲۶- ۱۶۲۵.

تشريح: د دغه حدیث په ظاهري مفهوم سره د عمری په جواز کي اشکال پیدا کیږي مګر د دوهم فصل په حدیث کي پر تشریح باندي که نظر وکړل سي نو دا اشکال ختمیږي ځکه چي د دغه حدیث تاویل هغه دی کوم چي د هغه حدیث په تشریح کي بیان سوی دی.

=======

بَــابٌ

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د خوشبوداره شي تحفه مه رد کوئ

﴿۲۸۸۶﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ عُرِضَ عَلَيْهِ رَيْحَانٌ فَلَا يَرُدُّهُ فَإِنَّهُ خَفِيفُ الْمَحْمِلِ طَيِّبُ الرِّيحِ. رواه مسلم.

د حضرت ابو هریره رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: چا ته چي یو خوشبودار

Maktaba Tul Ishaat.com

ګل (د تحفې په شکل کي) ورکړل سي هغه دي بيرته نه ورکوي ځکه چي دا يو ډېر معمولي احسان دي او خوشبو ښه شی ده. (مسلم)

تخريج: مسلم في الصحيح ۴\۱۷۶۶، رقم: ۲۰- ۲۲۵۳.

تشريح دغه حکم چي هغه دي بېرته نه ورکول کيږي د هر هغه تحفې دي چي په ظاهره د کم کېدو په وجه زيات احسان نه لري مګر د ګټي او خوښی په اعتبار ډېر ګټور وي چي کوم چا هغه ته تحفه ورکړې ده د هغه زړه مات نه سي.

﴿۲۸۸۷﴾: وَعَنْ اَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لَا يَرُدُّ الطِّيبَ. رواه البخاري.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د خوشبو تحفه نه واپس کول. (بخاري)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵\ ۲۳۴، رقم: ۲۶۲۲.

تشريح د حديث د آخري جملې مطلب دا دی چي زموږ ملت او زموږ قوم د کوم عزت او شرافت حامل دی او د انسانيت کوم لوړ اصول، شرافت او تهذيب په لوړ معيار سره نازول سوي دي د هغه سره سم زموږ د ملت او قوم د هيچا لپاره دا مناسب نه ده چي هغه داسي کار وکړي چي د هغه د ملي شرف او قومي عظمت خلاف وي او د هغه په وجه پر هغه باندي يو خراب مثال جوړ سي. په دې سره رسول الله ﷺ دې ته اشاره وفرمايل چي يو چا د تحفې ورکول او بېرته اخيستل داسي دي لکه څرنګه چي سپی خپل قی بېرته څټي ځکه نو د مسلمان لپاره مناسب نه ده چي هغه يو چا ته يو شی په تحفه ورکړي او بيرته يې ځيني واخلي او همدارنګه په هغه خراب مثال سره ياد کړل سي.

دا خو د حديث وضاحت او د هغه څخه پيدا کېدونکې يو اخلاقي او نفسياتي اړخ وو مګر د دې فقهي او شرعي اړخ دا دی چي د امام ابو حنيفة رحمه الله د مذهب سره سم يو چا ته د تحفې په توګه يا د هبې او صدقې په توګه يو شی ورکول او بيا د اخيستونکي په قبضه کي د راتلو څخه وروسته هغه شی بېرته اخستل جائز خو دي مګر مکروه دي البته په ځينو صورتو کي جائز نه دي چي د هغه تفصيل به د دوهم فصل په اول حديث کي راسي، او په دې باره کي يو حديث هم نقل سوی دی.

دلته د ذکر سوي حدیث په باره کي حنفیه وایي چي دا پر کراهت باندي محمول دی او دد ې مقصد دا ظاهرول دي چي یو چا ته د یو شی په ورکولو سره بېرته اخیستل نامردي او ناخوښه خبره ده مګر د امام شافعي، امام مالک او امام احمد بن حنبل رحمة الله علیهم په نزد دا حدیث پر حرمت باندي محمول دي ځکه د دغه حضرات مذهب دا دی چي یو چا ته د تحفې او صدقې په ورکولو سره بېرته اخیستل جائز نه دي البته امام شافعي رحمه الله فرمایي که یو پلار خپل زوی ته یو شی په تحفه کي ورکړي نو هغه بېرته ځیني اخیستلای سي.

د یوه روایت سره د امام احمد رحمه الله قول هم دادی، او راتلونکي ځیني حدیثونه هم پر دې دلالت کوي مګر د دغه حدیثو معنی چي حنفیه اخیستې ده هغه به هم مخته ذکر سي.

د یو شي ورکول او بیرته اخیستل بد کار دی

﴿۲۸۸۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَائِدُ فِي هِبَتِهِ كَالْكَلْبِ يَعُودُ فِي قَيْئِهِ لَيْسَ لَنَا مَثَلُ السَّوْءِ. رواه البخاري.

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د هبې د واپس اخیستونکي حال داسي دي لکه سپی چي قی ووهي او وروسته یې وخوري دا بد مثال زموږ سره نه ښائي. (بخاري).

تخریج: البخاري في الصحیح (فتح الباري): ۵\ ۲۳۴، رقم: ۲۶۲۲.

د یو شي په ورکولو کي د اولاد په مینځ کي فرق مه کوئ

﴿۲۸۸۹﴾: وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ أَنَّ أَبَاهُ أَتَى بِهِ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د نعمان بن بشیر رضی الله عنه څخه روایت دی چي زما پلار زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر کړم

وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي نَحَلْتُ ابْنِي هٰذَا غُلَامًا فَقَالَ أَكُلَّ وَلَدِكَ نَحَلْتَ مِثْلَهُ قَالَ لَا

او وه یې ویل: ما خپل و دې زوي ته یو غلام هبه کړی دی نبي کریم ﷺ ځیني پوښتنه وکړه چي ایا تا و هر یوه زوي ته یو یو غلام هبه کړی دی؟ هغه وویل یا!

قَالَ فَارْجِعْهُ. وفي رواية أَنَّهُ قَالَ أَيَسُرُّكَ أَنْ يَكُونُوا إِلَيْكَ فِي الْبِرِّ سَوَاءً قَالَ

نبي کریم ﷺ وفرمایل خپل غلام بیرته واخله او په یوه بل روایت کي دا الفاظ دي چي نبي

Maktaba Tul Ishaat.com

کریم ﷺ وفرمایل : ایا ته دا خبره خوښوې چې ستا ټول زامن ستا سره ښه چلن وکړي ؟هغه

بَلَى قَالَ فَلَا إِذًا وَفِي رِوَايَةٍ أَنَّهُ قَالَ أَعْطَانِي أَبِي عَطِيَّةً فَقَالَتْ عَمْرَةُ بِنْتُ رَوَاحَةَ

وویل : هو ! (نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل) که دا خبره وي نو یوازې دې زوي ته غلام مه ورکوه . په یو بل روایت کې راغلي دي چې نعمان وویل : زما پلار ما ته یو شی راکړ عمره بن رواحه (د بشیر ښځې) وویل :

لَا أَرْضَى حَتَّى تُشْهِدَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى

زه دا هدیه تر هغه وخته پورې نه خوښوم تر څو پورې چې رسول الله ﷺ د دې شاهد نه زما پلار نبي کریم ﷺ ته ورغلی

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي أَعْطَيْتُ ابْنِي مِنْ عَمْرَةَ بِنْتِ رَوَاحَةَ عَطِيَّةً فَأَمَرَتْنِي

او عرض یې وکړ ما خپل دې زوي ته چې د عمره بنت رواحه د نس څخه پیدا سوي دي یو شی ورکړې دي عمره ما ته وویل چې زه په دې معامله کې (یا رسول الله!)

أَنْ أُشْهِدَكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ أَعْطَيْتَ سَائِرَ وَلَدِكَ مِثْلَ هَذَا قَالَ لَا قَالَ

تا شاهد وم نبي کریم ﷺ څیني پوښتنه وکړه ایا تا خپلو ټولو زامنو ته داسي شی ورکړي دي ؟ هغه وویل نه ! نو نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل:

فَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْدِلُوا بَيْنَ أَوْلَادِكُمْ قَالَ فَرَجَعَ فَرَدَّ عَطِيَّتَهُ وَفِي رِوَايَةٍ أَنَّهُ قَالَ

لَا أَشْهَدُ عَلَى جَوْرٍ . متفق عليه.

د خداي تعالي څخه وېرېږه او د اولادو په مینځ کي انصاف کوه نعمان وايي چې د دې په اورېدو سره زما پلار بیرته راغي او خپله هبه یې بیرته واخیسته او په یوه بل روایت کي راځي چې رسول الله ﷺ د شهادت مطالبه واورېده نو ویې فرمایل :زه په ظلم باندي شاهد نه جوړېږم . (بخاري او مسلم) .

تخریج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ٥\ ٢١١، رقم: ٢٥٨٦، ومسلم ٣\ ١٢٤٢، رقم: ١٣- ١٦٢٣.

تشریح د حدیث شریف څخه معلومه سوه چې د خپل اولاد په مینځ کي فرق او امتیاز کول

مناسب نه دي ، د حديث شريف په رڼا کي دا مستحب دي چي يو شی يوازي خپل يوه زوی يا يوې لور ته نه ورکول کيږي بلکه هغه شی دي پر ټولو زامنو او لوڼو باندي برابر وويشل سي .

حضرت بشير رضي الله عنه د رسول الله ﷺ دغه حکم چي غلام بېرته واخله پر غوره والي محمول دي يعني ددغه غلام بېرته اخيستل غوره او بهتر دي ، حضرت امام ابوحنيفة، امام شافعي او امام مالک رحمة الله عليهم فرمايي که يو سړی په خپل اولاد کي ځينو ته يو شی ورکړي نو د هغه تحفه به صحيح وي مگر په کراهت سره .

ددې برعکس د امام احمد، ثوري او اسحاق رحمة الله عليهم او نورو حضراتو په نزد دا حرام دي ، د رسول الله ﷺ ارشاد (لا اشهد على جور) يعني زه پر ظلم شاهدي نه ورکوم، ددغه حضراتو دليل دی حال دا چي اول الذکر يعني امام ابوحنيفة رحمه الله د رسول الله ﷺ د الفاظو څخه استدلال کوي چي په يوه روايت کي نقل سوي دي (فاشهد على هذا غيري) يعني رسول الله ﷺ بشير رضي الله عنه ته وويل چي ته په دې باره کي زما څخه پرته بل څوک شاهد کړه .

دغه حضرات فرمايي که چيري دغه تحفه (يعني د حضرت بشير رضي الله عنه خپل يوه زوی ته غلام ورکول) حرام يا باطل وای نو رسول الله ﷺ به دا نه فرمايلای چي بل څوک شاهد کړه ځکه چي د رسول الله ﷺ ارشاد پر دې دلالت کوي چي د بشير رضي الله عنه دغه تحفه صحيح او جائز ده مگر ناخوښه او مکروه ده ، ځکه رسول الله ﷺ خپل ځان شاهد گرځول مناسب ونه گڼل او دا يې وفرمايل چي بل شاهد جوړ کړه .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

تحفه بيرته اخيستل ښه کار نه دی

﴿۲۸۹۰﴾: عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يَرْجِعُ اَحَدٌ فِيْ هِبَتِهِ اِلاَّ الْوَالِدُ مِنْ وَلَدِهِ. رواه النسائي وابن ماجة .

د عبد الله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هيڅوک دي خپله هبه واپس نه اخلي خو هغه هبه واپس اخيستل جائز دي چي پلار زوي ته ورکړي وي .(نسائي ابن ماجه)

تخريج: سنن النسائي ۱۶\۲۶۴، رقم: ۳۶۸۹، وابن ماجه ۲\۷۹۶، رقم: ۲۳۷۸.

تشريح: دغه حديث شريف د امام شافعي رحمه الله دليل دی ځکه د هغه په نزد تحفه بېرته اخيستل جائز نه دي مگر پلار د خپل زوی څخه تحفه بېرته اخيستلای سي .

Maktaba Tul Ishaat.com

امام ابو حنیفة رحمۃ اللہ علیہ فرمایي چي پلار د خپل زوی څخه تحفه بېرته اخیستلای سي، ددې مطلب دادی چي څرنګه یو پلار د ضرورت او حاجت په وخت کي د خپل اولاد د مال او زر څخه یو شی اخیستلای او مصرف کولای سي همدارنګه کوم شی چي هغه خپل زوی ته د تحفې په توګه ورکړی دی نو هغه هم د ضرورت په وخت کي اخیستلای او مصرف کولای سي.

په اووه ۷ صورتونو کي تحفه بېرته اخیستل جائز نه دي

دا خبره مخکي سوې ده چي د امام ابو حنیفة رحمۃ اللہ علیہ په نزد تحفه بېرته اخیستل جائز دي مګر مکروه دي، په کومو حدیثو کي چي د تحفې بېرته اخیستلو عدم جواز ثابتیږي هغه یې پر کراهت باندي محمول کړي دي مګر د تحفې اووه صورتونه داسي دي چي په هغو کي د امام ابو حنیفة رحمۃ اللہ علیہ په نزد هم تحفه بېرته اخیستل جائز نه دي.

د فقهي په ځینو کتابو کي ددغه اوو حروفو د مجموعې (دمع خرمه) څخه هغه اوو صورتونو ته اشاره سوې ده په دې توګه چي ددغه لفظ د مجموعې هر حرف یو صورت ته اشاره کوي چي د هغه تفصیل او وضاحت دادی.

د دال د حرف څخه مراد زیادتي متصله ده یعني په کومه تحفه کي چي د یو شی اضافه کړې وي یا په هغه کي یو شی ګډ سوی وي نو د هغه تحفې بېرته اخیستل صحیح نه دي د مثال په توګه زید بکر ته د مځکي یوه داسي برخه تحفه کړه چي په هغه کي نه سرای وو او نه درختي وغیره، اوس بکر په هغه مځکه کي سرای جوړ کړی یا په هغه کي یې درختي ولګولې نو په دغه صورت کي تحفه ورکونکی یعني زید لپاره دا جائز نه دي چي هغه خپل تحفه یعني مځکه د هغه څخه بېرته واخلي.

د میم حرف د واهب یا موهوب له مرګ ته اشاره کوي، ددې تفصیل دادی چي د مثال په توګه زید بکر ته یو شی په تحفه کي ورکړ بیا زید مړ سو نو اوس د حسن وارثانو ته دا حق نه سته چي هغوی د موهوب له یعني بکر څخه د هغه شي د بېرته اخیستلو غوښتنه وکړي کوم چي زید هغه ته تحفه کړی دی، یا بکر مړ سي او واهب یعني زید ته دا حق نه سته چي هغه د بکر د وارثانو څخه د هغه شي په باره کي غوښتنه وکړي کوم چي هغه بکر ته تحفه کړی دی.

د ع حرف هبه بالعوض ته اشاره کوي یعني که یو څوک یو چا ته خپل یو شی د یو شي په عوض کي تحفه کړي نو واهب ته د خپل هغه تحفه سوي شي د بېرته اخیستلو حق نه سته.

د خ حرف خروج طرف ته اشاه کوي یعني که چیري موهوب د مرهوب له د ملکیت څخه وتلي وي په دې توګه چي هغه د تحفې شی خرڅ کړی وي یا یې یو چا ته ورکړی وي نو په دغه

Maktaba Tul Ishaat.com

صورت کي واهب د موهوب له څخه د هغه شی غوښتنه نه سي کولای.

د زاء حرف څخه زوجین ته اشاره ده یعني خاوند خپل ښځي ته یا ښځه خپل خاوند ته یو شی په تحفه کي ورکړي نو هغوی د یو بل څخه د هغه شي د بېرته اخیستلو حق نه لري.

د ق حرف قرابت ته شاره کوي او قرابت هم هغه چي په هغه کي محرمیت وي یعني که یو پلار خپل زوی ته یا یو زوی خپل پلار ته یا مور ته یا انا ته یا ورور ته یا بل یو قریب ته چي د هغه سره د محرمیت قرابت وي خپل یو شی په تحفه کي ورکړي نو د هغه تحفې بېرته اخیستل د هغه لپاره جائز نه دي.

د هاء حرف د موهوب د هلاکت او ضائع کېدو طرف ته اشاره ده یعني که چیري موهوب د موهوب له څخه هلاک یا ضائع سوي وي نو د واهب لپاره دا جائز نه ده چي هغه د موهوب له څخه د هغه شي غوښتنه وکړي.

د یو شي ورکول او بیرته اخیستل ښه کار نه دی

﴿۲۸۹۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ وَابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه او حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

يَحِلُّ لِرَجُلٍ أَنْ يُعْطِيَ عَطِيَّةً ثُمَّ يرجع فِيهَا إِلَّا الْوَالِدَ فِيمَا يُعْطِي وَلَدَهُ

ورکړل سوی شی واپس اخیستل جائز نه دي خو پلار خپل زوي ته ورکول سوي شی واپس اخیستلای سي

وَمَثَلُ الَّذِي يُعْطِي الْعَطِيَّةَ ثُمَّ يَرْجِعُ فِيهَا كَمَثَلِ الْكَلْبِ اكل فَإِذَا شَبِعَ قَاءَ ثُمَّ عَادَ فِي قَيْئِهِ. رواه ابوداؤد.

د هغه مثال د هغه سپي په شان دي چي ښه په موړ نس خوراک وکړي او کله چي يې نس ډک سي قی ووهي او بیا هغه قی وخني. (ابو داؤد ترمذي نسائي ابن ماجه) او په ترمذي کي د دې حدیث تصحیح سوېده.

تخریج: ابوداود في السنن ۳\ ۸۰۸، رقم: ۳۵۳۹، الترمذي في السنن ۴\ ۳۸۴، رقم: ۲۱۳۲، والنسائي ۶\ ۶۵، رقم: ۳۶۹۰، وابن ماجه في السنن ۲\ ۷۹۵، رقم: ۲۳۷۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

د تحفې بدله تحفه

﴿۲۸۹۲﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ أَعْرَابِيًّا أَهْدَى لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى چي يوه صحرائي يوه اوښه رسول الله ﷺ ته په هبه كي

بَكْرَةً فَعَوَّضَهُ مِنْهَا سِتَّ بَكَرَاتٍ فَتَسَخَّطَهُ فَبَلَغَ ذٰلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

وركړه نبي كريم ﷺ و هغه ته په تحفه كي شپږ ځواني اوښي وركړې مگر هغه خوشحاله نه سو رسول الله ﷺ ته چي د دې خبر ورسيدى

وَسَلَّمَ فَحَمِدَ اللّٰهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ إِنَّ فُلَانًا أَهْدَى إِلَيَّ نَاقَةً فَعَوَّضْتُهُ مِنْهَا

نو نبي كريم ﷺ (د خلكو په مينځ كي ودرېدي) اول يې د خداي تعالي حمد او ثنا بيان كړه بيا يې وفرمايل: فلاني سړي ماته يوه اوښه په هديه كي را كړل ما و هغه ته په بدله كي شپږ ځواني

سِتَّ بَكَرَاتٍ فَظَلَّ سَاخِطًا لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ لَا أَقْبَلَ هَدِيَّةً إِلَّا مِنْ قُرَشِيٍّ أَوْ أَنْصَارِيٍّ أَوْ ثَقَفِيٍّ أَوْ دَوْسِيٍّ. رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي.

اوښي وركړې مگر په دې هم هغه خوشحاله نه سو اوس ما اراده كړېده چي د قرشي، انصاري ثقفي او دوسي خلكو څخه پرته د بل چا هديه نه قبلوم. (ترمذي ابو داؤد نسائي).

تخريج: الترمذي في السنن ٥\ ٦٨٦، رقم: ٣٩٤٥، وابوداود ٣\ ٨٠٧، رقم: ٣٥٣٧، والنسائي ٦\ ٢٨٠، رقم: ٣٧٥٩.

تشريح: كه تاسو يو چا ته خپل يو شى د تحفې په توګه وركړى نو د هغه د عوض او بدلې توقع كول ستاسو د خلوص خلاف كار دى مګر كه تاسو ته څوك خپل يو شى د تحفې په توګه دركړي نو په هيڅ صورت كي هم ستاسو له خوا د بدلې ادا كول به ستاسو د لوړ همتۍ او ستاسو ميني مطابق وي، كله چي به يو صحابي رسول الله ﷺ ته يو شى د تحفې په توګه وركړى نو د هغه د بدلې معمولي خواهش به هم د هغه په ذهن كي نه وو ځكه چي د هغه تحفه به سر تر پايه د خلوص او ميني يو اظهار وو مګر ددې سربېره د رسول الله ﷺ په خدمت كي چي به يو شى د تحفې په توګه راوړل سو نو رسول الله ﷺ به يو صورت كي د هغه بدله د هغه څخه زياته وركول او د رسول الله ﷺ د ا معمول د سخاوت، بركت، لوړ همتۍ او تعلق د يو عظيمي جذبې مظهر وو.

Maktaba Tul Ishaat.com

کله چي يو صحرائي سړي د رسول الله ﷺ په خدمت کي يو اوښه راوستل نو رسول الله ﷺ د معمول سره سم د هغه د تحفې څخه څو برابر زياته بدله يعني شپږ څواني اوښي هغه ته ورکړې مگر هغه په دې هم خوشحاله نه سو ، دا خبره يقينا ډېره عجيبه وه يو خو په دې وجه چي په ظاهره هغه په خپله تحفه کي مخلص نه وو د هغه مطلب دا وو چي هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کي اوښه ددې لپاره راوستلې وه چي رسول الله ﷺ هغه ته بدله ورکړي او بدله هم داسي چي د هغه د خواهش مطابق وي کوم وخت چي رسول الله ﷺ هغه ته شپږ اوښي ورکړې نو هغه په دې خوشحاله نه سو او همدرانگه هغه په دنيوي مال کي د حرص د جذبې اظهار وکړ د هغه دغه کار رسول الله ﷺ ته دومره ناخوښه سو چي رسول الله ﷺ دا اعلان وکړ چي ما د قريشي، انصاري، ثقفي او دوسي څخه پرته د بل چا څخه د تحفې نه قبلولو اراده کړې ده .

قريشي هغه خلکو ته وايي چي د هغوی تعلق د قريشو سره وي او د انصاري څخه مراد د مدينې منورې انصار دي ، ثقفي او دوسي د دوو قبيلو نومان دي ، رسول الله ﷺ دغه قبيلې په خاصه توگه ځکه ذکر کړې او د هغوی استثناء يې وکړه چي دغه قبيلې په لوړ همتۍ، لوړې حوصلې، او سخاوت کي د امتيازي حيثيت خاوندان دي .

﴿۲۸۹۳﴾: وَعَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أُعْطِيَ عَطَاءً

د حضرت جابر ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا ته چي يو شی ورکول سي

فَوَجَدَ فَلْيَجْزِ بِهِ وَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَلْيُثْنِ فَإِنَّ مَنْ أَثْنَى فَقَدْ شَكَرَ وَمَنْ كَتَمَ

او د هغه د ورکولو توان ولري نو خامخا دي دهغې په بدله کي يو شی ورکړي او کوم څوک چي د هبې د بدلې توان و نه لري نو هغه دي د هبې د ورکوونکي تعريف وکړي ځکه چي چا تعريف وکړ هغه شکر ادا کړ او چا چي احسان پټ کړ يعني نه يې بدله ورکړه او نه يې تعريف

فَقَدْ كَفَرَ وَمَنْ تَحَلَّى بِمَا لَمْ يُعْطَهُ كَانَ كَلَابِسِ ثَوْبَيْ زُورٍ . رواه الترمذي وابوداؤد

وکړ نو هغه د نعمت ناشکري وکړه او څوک چي په ځان کي هغه شی ظاهره کړي چي په هغه کي نه وي (مثلا د دين او د دنيا د کمال اظهار يا علماؤ او صلحاؤ لباس په اغوستو سره خپل ځان عالم او صالح ښکاره کړي نو د هغه مثال د هغه چا په شان دي چي يوه داسي جامه واغوندي چي دوه ښکاري). (ابو داؤد ترمذي).

Maktaba Tul Ishaat.com

تخریج: الترمذي في السنن ۴\۳۳۲، رقم: ۲۰۳۴، وابوداود ۵\۱۵۸، رقم: ۴۸۱۳.

تشریح د مُحسن (احسان کونکي) تعریف کول د هغه د شکر ادا کولو قائم مقام ځکه ګرځول سوی دی چي تعریف کول په اصل کي د شکر ادا کولو یو بناخ دی، د شکر مفهوم دادی چي په زړه کي مینه ساتل په ژبه سره تعریف کول او په لاسو او پښو سره خدمت کول.

د حدیث د آخري برخي مطلب دادی چي کوم څوک په خپل ځان کي د یو داسي دیني یا دنیوي کمال او صفت اظهار وکړي چي په حقیقت کي په هغه کي نه وي نو هغه په درواغو باندي د دوو جامو اغوستونکي په ډول دی، په درواغو د دوو جامو اغوستونکي څخه مراد هغه سړی دی چي د علماؤ او صالحینو د جامې په اغوستلو سره خپل ځان عالم او صالح ظاهر کړي حالانکه په حقیقت کي نه هغه عالم وي او نه صالح وي.

ځیني حضرات وایي چي ددې څخه مراد هغه سړی دی چي هغه داسي قمیص اغوندي چي د هغه د لستوڼو لاندي نور دوه لستوڼي لګېدلې وي چي لیدونکی دا وګڼي چي هغه دوه قیمصه اغوستي دي، او ځیني حضرات وایي چي په عربو کي یو سړی وو چي دوه ډوله جامې به یې اغوستلې چي خلک یې عزتمند او د حیثیت خاوند وګڼي او کله چي به هغه د درواغو شاهدي ورکول نو د هغه د ظاهري شک په لېدو سره خلکو به هغه درواغجن نه ګڼی رسول الله ﷺ دغه سړي ته د هغه سړي سره تشبیه ورکړې ده چي خپل ځان د داسي کمال خاوند ظاهر کړي چي په هغه کي یې نوم او نښان هم موجود نه وي.

د احسان کونکي لپاره د خیر دعاء

﴿۲۸۹۴﴾: وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ مَنْ صُنِعَ إِلَيْهِ مَعْرُوفٌ فَقَالَ لِفَاعِلِهِ جَزَاكَ اللهُ خَيْرًا فَقَدْ أَبْلَغَ فِي الثَّنَاءِ. رواه الترمذي.

د حضرت اسامه بن زید رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د چا سره چي احسان وسي او هغه د خپل محسن په حق کي دا الفاظ ووایي جزاک الله خیرا (خداي دي تاته د خیر جزا در کړي) نو هغه د خپل محسن پوره تعریف وکړ. (ترمذي).

تخریج: الترمذي في السنن ۴\۳۳۳، رقم: ۲۰۳۵.

تشریح او پوره تعریف یې وکړ یعني هغه د خپل محسن په حق کي د دعاء د الفاظ په ویلو سره هغه شکر ادا کړی ځکه چي هغه د خپل محسن په بدله ورکولو او د هغه په تعریف کولو کي د

Maktaba Tul Ishaat.com

خپل کوتاهي اعتراف او د ځان د عاجز کېدو په اقرار سره د هغه بدله الله تعالی ته منسوب کړل چي الله تعالی دي هغه ته په دنیا او آخرت کي پوره اجر ورکړي او ظاهره ده چي د الله تعالی د اجر څخه غوره اجر څوک ورکولای سي.

یو جلیل القدر بزرګ او شیخ حضرت عبدالوهاب متقي رحمه الله به ویل چي صوفي ته پکار دي چي هغه د الله تعالی د مخلوق د ورکولو یا نه ورکولو په دواړو صورتو کي د استقامت د دائرې څخه دباندي ونه وځي او نه د حق د لاري څخه قدم بلي خوا ته کړي که یو فاسق او نااهل سړی هغه ته یو شی د تحفې په توګه ورکړي نو د هغه دي دومره تعریف نه کوي چي هغه د یو صالح او ولي په صف کي ودروي بلکه د هغه په حق کي دي دغه الفاظ ووایي چي الله تعالی دي ت ته د خیر جزا درکړي او که هغه ته د یو صالح او متقي سړي یو تکلیف ورسیږي نو محض د هغه په وجه دي د هغه د صالح کېدو او تقوا نفي نه کوي او هغه ته دي بد او رد نه وایي بلکه د هغه په حق کي دي دغه الفاظ ووایي چي (غفر الله له ولنا) یعني الله تعالی دي د هغه او زموږ مغفرت په برخه کړي، د اهل استقامت دا طریقه ده او دا د هغوی د عمل لاره ده.

د انسان شکر نه ادا کونکی د الله جل جلاله شکر هم نه ادا کوي

﴿۲۸۹۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَمْ يَشْكُرُ النَّاسَ لَمْ يَشْكُرُ اللَّهَ. رواه احمد والترمذي.

د حضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چي د انسانانو شکریه ادا نه کړي نو هغه د الله تعالي شکر هم نه ادا کوي. (احمد ترمذي)

تخریج: احمد في المسند ۳\۳۲، والترمذي في السنن ۴\۲۹۹، رقم: ۱۹۵۵

تشریح مطلب دادی چي د الله تعالی د شکر ادا کولو تکمیل پر دې منحصر دی چي د هغه پیروي وکړل سي په دې توګه چي هغه د هغه انسانانو چي تر هغه پوري د الله تعالی د نعمتونو د رسیدو ظاهري وسیله جوړه سوې ده د شکر ادا کولو کوم حکم چي ورکړل سوی دی د هغه پیروي وکړل سي نو کوم څوک چي د الله تعالی پیروي ونه کړي او د هغه حکم یې پر ځای نه کړي په دې معنی چي هغه د هغه خلکو شکر ادا نه کړ چي د هغوی په وسیله سره الله تعالی خپل نعمتونه هغه ته ورکړي دي نو د دې مطلب به دا وي چي هغه د الله تعالی د نعمتونو شکر هم ادا نه کړ، او یا د دغه حدیث مطلب دادی چي کوم څوک د خپل محسن شکر نه ادا کوي او د هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

سره د سوي احسان او بنه چلن اقرار نه کوي نو هغه د نعمت د کفران (ناشکرۍ) خپل دغه عادت په وجه د الله تعالی شکر هم نه ادا کوي.

د نعمت د شکر اهمیت

﴿۲۸۹۶﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ أَتَاهُ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ و مدینې منورې ته تشریف راوړ نو

الْمُهَاجِرُونَ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ مَا رَأَيْنَا قَوْمًا أَبْذَلَ مِنْ كَثِيرٍ وَلَا أَحْسَنَ

مهاجرین د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سول او عرض یې وکړ: یا رسول الله! د کوم قوم چي موږ یې په کورو کي او سیږو (انصار) د هغوی په شان مو بل غوره قوم نه دي لیدلئ

مُوَاسَاةً مِنْ قَلِيلٍ مِنْ قَوْمٍ نَزَلْنَا بَيْنَ أَظْهُرِهِمْ لَقَدْ كَفَوْنَا الْمُؤْنَةَ وَأَشْرَكُونَا

ډېر غنیان زموږ لپاره زیات خرڅونکي او په لږ مال باندي بنه خدمت او کومک کوونکي او موږ د دوی په وسیله باندي د خوارۍ څخه خلاص یو او په خپلي ګټي کي یې موږ شریکان کړو

فِي الْمَهْنَإِ حَتَّى لَقَدْ خِفْنَا أَنْ يَذْهَبُوا بِالْأَجْرِ كُلِّهِ فَقَالَ لَا مَا دَعَوْتُمُ اللهَ لَهُمْ

وَأَثْنَيْتُمْ عَلَيْهِمْ. رواه الترمذي و صححه.

تر دې پوري چي هغوی زموږ سره (د و مره بنه) چلن وکړ چي زموږ سره دا ویره پیدا سوه چي ټول ثواب یوازي دوی یو نسي نبي کریم ﷺ وفرمایل یا هغوی ټوله ثواب نسي وړلاي تر څو پوري چي تاسو د هغوی لپاره دعاوي کوئ او د هغوی تعریف کوئ. (ترمذي).

تخریج: الترمذي في السنن ۴\۵۶۳، رقم: ۲۴۸۷.

د لغاتو حل: في المهنا: ما يقوم بالكفاية واصلاح المعيشة.

تشریح کله چي نبي کریم ﷺ د مکې مکرمې څخه په هجرت کولو سره په مدینه منوره کي هستوګنه اختیار کړل او د رسول الله ﷺ سره د مهاجرینو یو لوی شمېر هم په مدینه کي هستوګنه اختیار کړه نو د مدینې او سیدونکو یعني انصارو چي د هغوی سره کوم بنه چلن وکړ او د سخاوت، اخوت او مینې کوم عظیم روایت یې چي قائم کړی بېله مبالغې انساني تاریخ د هغه د مثال وړاندي کولو څخه قاصر دی د مدینې انصارو د مکې د مهاجرینو لپاره نه یوازي د

Maktaba Tul Ishaat.com

زړه سترګي د لاري فرش کړې بلکه د خپل ويني او خولې ګټه به يې هم د هغوی لپاره وقف کړل، هغوی خپل مځکي، خپل باغونه او خپل سرايونه نيم په نيم په هغوی کي وويشل د هغوی په خدمت او خاطر کي د شرافت انساني ټولي بلندۍ يې تر شا وغورځولې د هغوی دغه طرز عمل او بې پايه احساناتو مهاجرين دومره متاثر کړل چي هغوی د رسول الله ﷺ په خدمت کي خپل دغه انديښنه وړاندي کړه چي اې د الله رسوله ! دا سي نه وي چي دغه انصار ټول ثواب واخلي ځکه چي موږ خو تر ننه پوري تر دوی زيات قرباني کونکي، مخير او سخي او احسان کونکي قوم نه دی ليدلی، د وئ د مال او زرد کموالي او زياتوالي څخه په بې نيازه کېدو سره زموږ سره احسان کوي د چا سره چي زيات مال وو هغه يې پر موږ هم دومره زيات خرځ کړ او د چا سره چي کم مال وو هغه د هغه مطابق زموږ مرسته وکړه، يعني دچا چي څومره وس وو هغه په خپل حيثيت سره زموږ مېلمستيا وکړه تر دې چي د هغوی په ذريعه موږ د محنت او مشقت څخه هم وساتل سو په دې توګه چي د کرني محنت د باغو او د درختو د ساتني تکليف او د سرايو د جوړولو مشقت هغوی پر خپل ذمه واخيستی مګر په ګټه او حاصلاتو کي موږ د هغوی شريک يو چي هغوی په خپل مځکه او باغو کي په محنت سره په محنت او تکليف سره څه کري نو هغه نيم په نيمه زموږ سره ويشي اوس خو زموږ سره دا بېره ده چي زموږ دغه ټول ثواب هغوی تر لاسه نه کړي او دا بېره ده چي زموږ هجرت او زموږ د عبادتو ثواب الله تعالی د هغوی د بې پايه مرستي په وجه د هغوی په عمل نامه کي ونه ليکي .

مګر رسول الله ﷺ هغوی ته وفرمايل چي داسي نه سي کيدای ځکه چي د الله تعالی فضل او کرم ډېر پراخ دی د هغه سره د اجر کمي نه سته تاسو ته به ستاسو د عبادت ثواب تر لاسه کيږي او انصارو ته به د هغوی د مرستي او د هغوی د سخاوت اجر ورکول کيږي تر څو چي تاسو د هغوی لپاره د خير دعاء کوئ ځکه چي د هغوی په حق کي ستاسو دغه دعاء به د هغوی د احسان بدله سي او ستاسو د عبادت ثواب به تاسو ته تر لاسه کيږي .

يو بل ته تحفې ورکول عداوت له منځه وړي

﴿۲۸۹۷﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تَهَادَوْا فَإِنَّ الْهَدِيَّةَ تُذْهِبُ الضَّغَائِنَ . رواه الترمذي.

د بي بي عائشي رض څخه روايت دی چي نبي کريم ﷺ و فرمايل : په خپلو کي تحفې او هديې

Maktaba Tul Ishaat.com

لیرئ په دې سره د انسان بغض او کینه لیرې کیږي (او محبت زیاتیږي). (ترمذي)

تخریج: بیاض في الاصل، قال ملا علي في المرقاة ۳\۳۸۰: والحق به: الترمذي.

تشریح مطلب دا دی چې د تحفې په ورکولو سره یو تر بله د بغض او عداوت جذبات ختمیږي او د دې پر ځای الفت او مینه پیدا کیږي.

د مشکوة شریف په اصل نسخه کې د لفظ رواه ځخه وروسته خالي ځای وو چې د هغه مطلب دا دی چې د مشکوة مؤلف ته د دغه حدیث د ماخذ علم نه وو سوی او وروسته بیا یو چا د الترمذي لفظ زیات کړی دی.

د کم شي تحفه سپکه مه ګڼئ

﴿۲۸۹۸﴾: وَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ تَهَادَوْا فَإِنَّ الْهَدِيَّةَ تُذْهِبُ وَحَرَ الصَّدْرِ وَلَا تَحْقِرَنَّ جَارَةٌ لِجَارَتِهَا وَلَوْ شِقَّ فِرْسِنِ شَاةٍ. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه ځخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: په خپلو کې تحفې او هدیې لیرئ ځکه چې په هدیه سره د سینو خیري لیري کیږي او یوه همسایه و بل همسایه ته هدیه لیږل سپک مه ګڼئ که څه هم هغه هدیه د پسه د بنونګري یوه ټوټه وي. (ترمذي)

تخریج: الترمذي في السنن ۴\۳۸۳، رقم: ۲۱۳۰.

د لغاتو حل: وَحر: ای غشه و وسوسته.

تشریح: مطلب دا دی چې یو ځوک دې خپل همسایه ته د یو کم شي د تحفې په توګه استول د هغه همسایه په حق کې حقیر نه ګڼي بلکه څه چې استول غواړي هغه دې واستوي که څه هم هغه ډېر کم او معمولي شی وي، همدارنګه کوم همسایه ته چې تحفه استول سوې وي د هغه لپاره دا مناسب نه ده چې د خپل همسایه تحفه سپکه وګڼي بلکه هغه ته چې کومه تحفه را واستول سي هغه دې په شوق او خوشحالي سره قبوله کړي که څه هم هغه لږ او معمولي شی وي.

﴿۲۸۹۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثٌ لَا تُرَدُّ

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه ځخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ وفرمایل: درې شیان دا سې دي چې د

الْوَسَائِدُ وَالدُّهْنُ وَاللَّبَنُ. رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب قِيلَ أَرَادَ بِالدُّهْنِ الطِّيبَ.

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه د قبلولو څخه انکار باید ونسي، یو تکیه (بالښت)، دویم تیل د سر غوړولو او دریم شیدې، امام ترمذي دا حدیث نقل کړی دی او فرمایي چي دا حدیث غریب دی.

تخریج: الترمذي في السنن ۵\۱۰۰، رقم: ۲۷۹۰.

تشریح مطلب دادی که چیري یو سړی خپل مېلمه ته د تواضع په توګه بالښت ورکړي یا خوشبویي ورکړي یا د څښلو لپاره شیدې یا بل شی ورکړي د هغه مېلمه لپاره مناسب نه دي چي د هغه د قبلولو څخه انکار وکړي، د ځینو حضراتو رایه ده چي د دُهن (تېل) څخه مراد خوشبویي ده لکه څرنګه چي په ترجمه کي ذکر سوي دي مګر صحیح خبره داده چي د دُهن څخه تېل مراد دي ځکه چي په هغه زمانه کي د عربو اکثرو خلکو په خپل سرونو کي تېل لګول.

د خوشبوداره ګلانو تحفه مه رد کوئ

﴿۲۹۰۰﴾: وَعَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا أُعْطِيَ أَحَدُكُمُ الرَّيْحَانَ فَلَا يَرُدَّهُ فَإِنَّهُ خَرَجَ مِنَ الْجَنَّةِ. رواه الترمذي مرسلا.

د حضرت ابو عثمان نهدی رحمه الله څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: که څوک در ته خوشبوداره ګل درکړي نو انکار مه کوه ځکه چي ګل د جنت څخه راغلي دي دا حدیث ترمذي مرسلا روایت کړی دی.

تخریج: الترمذي في السنن ۵\۱۰۰، رقم ۲۷۹۱.

تشریح هغه ګل د جنت څخه راغلی دی: ددې مطلب دادی چي د خوشبویي لرونکي ګل یو فضیلت او خصوصیت دادی چي د هغه تخم د جنت څخه راغلی دی همدارنګه د هغه څخه چي کومه خوشبویي راځي هغه د جنت خوشبویي ده او بیا دا چي د ګل تحفه ډېر لږ احسان لري لکه څرنګه چي په تېرو مخونو کي ددې وضاحت بیان سوی دی نو کله چي یو چا ته ګل ورکړل سي نو د هغه د قبلولو څخه دي انکار نه کوي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

په اولاد کي د یوه سره ترجیحي سلوک کول مناسب نه دي

﴿۲۹۰۱﴾: عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَتْ امْرَأَةُ بَشِيرٍ انْحَلْ ابْنِي غُلَامَكَ وَأَشْهِدْ لِي

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چي د بشیر رضي الله عنه ښځي و بشیر ته وویل زما زوی (نعمان) ته

Maktaba Tul Ishaat.com

يو غلام ورکړه او رسول الله ﷺ شاهد کړه پر دې خبره

رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ

هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وکړ (يا رسول الله!)

إِنَّ ابْنَةَ فُلَانٍ سَأَلَتْنِي أَنْ أَنْحَلَ ابْنَهَا غُلَامِي وَقَالَتْ أَشْهِدْ لِي رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى

د فلاني سړي لور (يعني دده ښځي) هغه ته دا حکم څرګند کړ چي زه د هغې و زوی ته خپل يو غلام ورکړم او دا يې ويلي دي چي په دې رسول الله ﷺ شاهد جوړول غواړم

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَلَهُ إِخْوَةٌ قَالَ نَعَمْ قَالَ أَفَكُلَّهُمْ أَعْطَيْتَ مِثْلَ مَا أَعْطَيْتَهُ

نبي کريم ﷺ ځيني پوښتنه وکړه ايا د دې هلک نور ورونه سته ؟ بشير رضي الله عنه وويل : هو! نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل ايا تا خپلو ټولو زامنو ته غلامان ورکړي دي ؟

قَالَ لَا قَالَ فَلَيْسَ يَصْلُحُ هَذَا وَإِنِّي لَا أَشْهَدُ إِلَّا عَلَى حَقٍّ . رواه مسلم .

هغه وويل يا ! نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : دا مناسبه نه ده او زه د ناحقه شاهد نه جوړېږم د حق شاهد کېږم .(مسلم).

تخريج: مسلم في الصحيح ۳\ ۱۲۴۴، رقم: ۱۹- ۱۶۲۴.

د لغاتو حل: انحل: اي اعط . (ورکړه).

تشريح: د حق څخه مراد يا خو دادی چي زه يوازي د هغه پر خبره باندي شاهد جوړېږم چي بېله شکه او بېله کراهته په خاصه توګه حق او صحيح وي يا دا چي رسول الله ﷺ په عمومي توګه سره دا وفرمايل چي زه پر حق باندي شاهد جوړېږم پر باطل باندي شاهد نه جوړېږم ، په هر حال په دې اړه تفصيلي بحث د اول فصل په حديث کي تېر سوی دی .

رسول الله ﷺ به د نوي ګل تحفه څرنګه قبلول

﴿۲۹۰۲﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُتِيَ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما ليدلي دي چي کله به د رسول الله ﷺ په خدمت

بِبَاكُورَةِ الْفَاكِهَةِ وَضَعَهَا عَلَى عَيْنَيْهِ وَعَلَى شَفَتَيْهِ وَقَالَ اللَّهُمَّ كَمَا أَرَيْتَنَا

Maktaba Tul Ishaat.com

کي به مېوه حاضره سول نو نبي کريم ﷺ به په خپلو سترګو او شونډو مبارکو با ندي ايښودل او فرمايل به يې: اې الله! څنګه چي تا موږ ته د دې ميوې شروع وښوده همدغسې د دې انجام

أَوَّلَهُ فَأَرِنَا آخِرَهُ ثُمَّ يُعْطِيهَا مَنْ يَكُونُ عِنْدَهُ مِنَ الصِّبْيَانِ . رواه البيهقي في الدعوات الكبير.

هم را وښايه بيا به نبي کريم ﷺ هغه مېوه و هغه کوچني ته ورکړه چي هغه وخت به د نبي کريم ﷺ سره موجود وو . (په بيهقي دعوات کبير کي).

تخريج: رواه البيهقي في الدعوات الكبير.

تشريح: د تازه ميوې پر خپلو سترګو ايښودل په دې سره د رسول الله ﷺ مقصد د الله تعالى د يو تازه نعمت تعظيم او شکر ادا کول وو ، د انتهاء تعلق که چيري د دنيا سره وي نو بيا دغه دعاء به د عمر د اوږدوالي لپاره وي او که ددې تعلق د آخرت سره وي نو ددې څخه به دې ته اشاره وي چي د آخرت په وړاندي د دنيا څه حقيقت دی ؟ لوی نعمت خو د آخرت نعمت دی همدارنګه ددغه دعاء مطلب به دا وي چي اې الله ! څرنګه چي تا موږ ته ددغه دنيا نعمتونه راکړي دي همدارنګه د آخرت نعمتونه هم چي حقيقي نعمتونه دي راکړه .

==========

بَابُ اللُّقْطَةِ (د ورک سوي شي بيان)

لُقطه د لام په پېښ او د قاف په زبر سره يعني لُقِطه هم نقل سوې ده او د قاف په جزم سره يعني لُقطه هم ويل کيږئ د محدثينو په نزد د قاف په جزم سره مشهوره ده .

لقطه هغه شي ته وايي چي يو ځای (په لاره يا بل ځای کي) پروت وي او تر لاسه سي او د هغه د مالک علم نه وي ، په دې باره کي شرعي حکم دا دی چي چيري يو ورک سوی شی تر لاسه سي نو هغه پورته کول مستحب دي په شرط ددې چي پر خپل ځان باندي باور وي چي ددغه شي په تشهير کولو سره به يې د هغه مالک ته وسپاري ، که چيري پر خپل ځان باور نه وي نو بيا د هغه شي هلته پرېښودل غوره دي ، مګر که چيري دا ېږه وي که هغه شی هلته پرېښودل سي نو ضائع به سي نو په دغه صورت کي د هغه پورته کول واجب دي که چيري ليدونکی هغه پورته نه کړي او هغه شی ضائع سي نو ګناه کار به وي، دا خو د لقطې اصول حکم دی اوس د لقطې يو څو مسائلو ته راسئ :

Maktaba Tul Ishaat.com

لقطه د هغه چا سره امانت وي چا چي هغه پورته کړې ده په شرط ددې چي يو څوک شاهد کړي چي زه دغه شی د ساتلو يا د هغه مالک ته د رسولو لپاره پورته کوم، په دغه صورت کي هغه لقطه که د پورته کونکي څخه ضائع سي نو پر هغه تاوان نه واجبيږي او که چيري پورته کونکی يو څوک پر هغه شاهد کړی او هغه لقطه د هغه څخه ضائع سوه نو پر هغه به تاوان واجب وي په شرط ددې چي د لقطې مالک دا انکار وکړي چي هغه دغه شی ما ته د راکولو لپاره نه وو پورته کړی.

لقطه چي د کوم ځای څخه را پورته کړل سي پر هغه ځای هم او چيري چي د خلکو اجتماع وي هلته دي د هغه تشهير وکړي يعني پورته کونکی دي داسي ووايي چي دا شی د چا دی او دغه تشهير تر هغه وخته پوري کول پکار دی تر څو چي پورته کونکی ته دا يقين وسي چي اوس د دومره ورځو څخه وروسته به د هغه مالک غوښتنه نه کوي مګر د صاحبينو په نزد د تشهير وخت يو کال دی يعني د دوی په نزد مسئله داده چي تر يو کال پوري دي د لقطې تشهير وکړل سي او کوم شی چي تر زياتو ورځو پوري نه سي پاته کيدای د هغه تشهير دي يوازي تر هغه وخته پوري وکړل سي تر څو چي د هغه د خرابېدو بيره نه وي.

د لقطې د تشهير په دوران کي که چيري د هغه مالک راسي نو هغه ته دي خپل شی ورکړي کنه نو د تشهير د وخت تېرېدو وروسته دي هغه شی خيرات کړل سي اوس که چيري د خيرات کولو څخه وروسته د هغه مالک راسي نو مالک ته اختيار دی که هغه وغواړي نو خيرات دي برقرار وساتي او د هغه د ثواب دي حقدار سي او که وغواړي د پورته کونکي څخه دي د هغه تاوان واخلي يا د هغه سړي څخه دي خپل شی بېرته واخلي کوم ته چي د خيرات په توګه ورکړل سوی دی او که چيري هغه شی د هغه سره موجود نه وي نو د هغه څخه دي تاوان واخلي لکه څرنګه چي د لقطې د حيوان حکم دی.

په حيوانانو کي لقطه کېدل هم جائز دي يعني که د چا ورک سوی حيوان يو څوک تر لاسه کړي نو د هغه نېول او د هغه په تشهير کولو سره د هغه مالک ته رسول جائز دي په دې باره کي مسئله داده چي د تشهير د وخت په دوران کي پر هغه حيوان باندي چي د خوراک او څښناک څه خرڅ سوی دی نو هغه به احسان ګڼل کيږئ يعني د هغه مطالبه به د مالک څخه نه کيږي په شرط ددې چي هغه خرڅ د حاکم د اجازې څخه پرته سوی وی او که حيوان تر لاسه کونکی په دې شرط سره په حيوان باندي خرڅ وکړي چي د حيوان د مالک څخه به يې اخلم او د حاکم په اجازه سره يې پر هغه حيوان خرڅ کړی وي نو د هغه ادا کول به پر مالک واجب سي کله چي مالک هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

حیوان تر لاسه کړي نو د هغه حیوان نیونکي چي څه مصرف سوی دی هغه ټول به ادا کوي ، په دغه صورت کي لقطه پورته کونکي ته به دا حق حاصل وي چي تر څو پوري مالک هغه ته ټول مصرف ادا نه کړي هغه به لقطه د خپل ځان سره ساتي .
په دې اړه د قاضي او حاکم لپاره هم دا هدایت دی که چیري د لقطې پیدا کېدونکی شی یو داسي شی وي چي د هغه څخه ګټه تر لاسه کیدای سي لکه تښتېدلی غلام نو په هغه باندي کار او مزدوري کولای سي او هغه چي څه وګټي د هغه څخه دي دده مصرف پوره کړل سي او که چیري لقطه داسي شی وي چي د هغه څخه ګټه نه سي تر لاسه کیدای او د هغه په ساتلو کي مصرف وي لکه حیوان ، او قاضي د هغه د مصرف کولو اجازه ورکړي او دا فیصله وکړي چي پر هغه څه مصرف و سي هغه دي د مالک څخه تر لاسه سي په شرط ددې چي په هغه کي د مالک لپاره ګټه وي او که چیري قاضي ته معلومه سي چي په دغه صورت کي مالک ته د ګټي پر ځای تاوان دی نو بیا دي هغه شی خرڅ کړي او د هغه قیمت دي د ځان سره وساتي کله چي مالک راسي نو هغه دي ورکي .
که چیري د یو چا سره لقطه (پیدا سوی شی) وي او یو څوک د هغه د نښو په ښوولو سره د خپل ملکیت دعوه وکړي نو د هغه شي هغه ته ورکول جائز دي په دغه صورت کي د شاهدانو ضرورت نه سته مګر که چیري هغه نښي ونه ښیي نو بیا د شاهدانو څخه پرته هغه شی هغه ته نه ورکول کیږي که چیري د هغه شي پیدا کونکی مفلس او غریب وي نو د تشهیر د وخت ختمېدو څخه وروسته دي هغه په خپل کار راولي او که چیري هغه شتمن وي نو بیا دي هغه شی خیرات کړي، په دې باره کي به هغه ته دا اجازه وي که چیري هغه وغواړي نو خپل أصول یعني مور، پلار او یا خپل فروع یعني زوی، لور او ښځي ته دي یې د خیرات په توګه ورکړي په شرط ددې چي هغه خلک مفلس او غریب وي .
د تښتېدلي غلام نیول د هغه چا لپاره مستحب دي چي د هغه د نیولو توان ولري همدارنګه هغه غلام هم د ځان سره ساتل مستحب دي چي د هغه څخه لاره ورکه سوې وي .
که د یو چا غلام وتښتي او تر درو ورځو فاصلې یا ددې څخه زیات لیري یو سړی هغه ونیسي او مالک ته یې ورسوي نو هغه راوستونکی به ددې حقدار وي چي د غلام د مالک څخه د خپل مزدورۍ په توګه څلوېښت درهمه تر لاسه کړي که څه هم د هغه غلام د څلوېښتو درهمو څخه کم وي مګر شرط دادی چي راوستونکی پر دې خبره یو شاهد راولي چي زه دغه غلام ددې لپاره نیسم چي د هغه مالک ته یې ورسوم او که چیري یو سړی یو تښتېدلی غلام د

هغه د مالک څخه د درو ورځو په کم فاصلې باندي راولي نو هغه ته دي په هغه حساب سره مزدوري ورکړل سي مثلاً د يوې نيمي ورځي د فاصلې څخه يې راوستلی وي نو هغه ته به شل درهمه ورکوي او که چيري هغه غلام د هغه سړي څخه هم وتښتيږي کوم چي هغه نيولی وو نو په هغه به تاوان واجب نه وي په شرط ددې چي هغه يو څوک شاهد کړي او که چيري هغه شاهد نه لري نو په دغه صورت کي نه يوازي دا چي هغه ته به مزدوري نه ورکول کيږي بلکه پر هغه به تاوان هم واجب وي.

د بې وارثه کوچني د پورته کولو مسئله

که چيري لقيط (بې وارثه کوچنی) پيدا کړل سي نو د هغه پورته کول مستحب دي او که چيري د هغه د هلاکېدو بېره وي نو بيا د هغه پورته کول واجب دي د داسي کوچني تر څو چي غلام کېدل ثابت نه سي آزاد دی، د هغه کوچنی نفقه به د بيت المال (يعني حکومت) پر ذمه وي، همدا رنګه د هغه ميراث به هم د بيت المال وي، کوم څوک چي بې وارثه کوچنی پورته کړي نو د هغه څخه به چا ته د اخستلو حق نه وي که يو سړی دا دعوه وکړي چي دا زما کوچنی دی نو په قسم سره د هغه قول معتبر دی او د هغه کوچني نسب به د هغه څخه ثابتيږي او که چيري دوه کسان په يوه وخت کي د هغه دعوه وکړي نو د هغه کوچني زيات حقدار هغه څوک دی کوم چي د هغه کوچني په بدن کي يو نښه وښيي او په کتلو سره هغه نښه موجوده وي مثلاً هغه دا وښيي چي د هغه پر شا باندي تکی دی او بيا چي کله کوچنی وکتل سي نو د هغه پر شا تکی موجود وي، که چيري يو غلام دعوه وکړي چي دغه کوچنی زما زوی دی نو د هغه دعوه به هم صحيح وي مګر هغه کوچنی به مسلمان وي په شرط ددې چي هغه د مسلمانانو په سيمه کي پيدا سوی وي او که چيري هغه د ذميانو په کلي کي يا د هغوی په سيمه کي پيدا سوی وي يا د هغوی په سيمه کي د هغوی په مندر (عبادت ګاه) يا بل ځای کي پيدا سوی وي نو په دغه صورت کي به هغه ذمي وي، که چيري د پيدا سوي کوچني سره مال د هغه پر بدن مال باندي زيورات يا بل شی وي نو هغه به د قاضي د حکم څخه وروسته پر هغه کوچني مصرف کيږي که څه هم ځيني علماء وايي چي د قاضي د حکم او اجازې څخه پرته هم د هغه مال پر هغه مصرف کيدای سي، د صحيح قول سره سم د پورته کونکي لپاره دا جائز ده چي هغه په کوچني باندي د يو کسب زده کولو لپاره کسب کونکي ته حواله کړي مګر د هغه لپاره دا جائز نه ده چي د هغه نکاح وکړي يا د هغه په مال کي تصرف وکړي يا په هغه باندي مزدوري وکړي.

Maktaba Tul Ishaat.com

د لقطې په باره یو څو نورې مسئلې

مسئله : که چیرې یو سړی په یو ځای کې خپل څپلۍ وکاږې او د دې څخه وروسته یو بل سړی راسي او هغه هم خپل څپلۍ هلته وکاږي او س اول سړی چې د هغه ځخه روان سو نو د خپل څپلۍ په پښو کولو پر ځای یې د هغه دوهم سړي څپلۍ په پښو کړې او ولاړی ، نو اوس دا سوال پیدا کیږي چې په دغه صورت کې هغه دوهم سړي څه وکړي ایا د هغه لپاره دا جائز ده چې هغه د اول سړي څپلۍ په پښو کړي؟ په دې باره کې مختاره مسئله داده چې دا جائز نه دي په شرط د دې چې د هغه اول سړي څپلۍ د دغه دوهم سړي د څپلیو په ډول وي یا د هغه د څپلیو څخه غوره وي مګر که چیرې هغه څپلۍ خرابې وي نو د بیا د هغه استعمالولو بېله شکه جائز دي .

مسئله : که یو څوک د یو چا یو شی پیدا کړي نو د دې دوه ډولونه دي یو خو دا چې هغه شی دومره کمتر او معمولي وي چې د هغه په باره کې پیدا کونکی په دې پوهیږي چې د دې مالک به د دې غوښتنه نه کوي لکه هډوکي او داسي نور شیان یا په بېلابېلو ځایو کې پراته د انار پوستکي او داسي نور شیان نو د داسي شیانو په باره کې مسئله داده چې د هغه پیدا کونکی هغه په خپل استعمال کې راوستلای سي سره د دې چې د هغه په ملکیت کې نه راځي او د هغه مالک ته د اخیستلو حق دی مګر د شیخ الاسلام رحمة الله عليه قول دادی چې داسي شی د اخیستونکی په ملکیت کې راځي ، دوهم قسم داسي مال دی چې د هغه په باره کې پیدا کونکی په دې پوهیږي چې د هغه مالک به د دې غوښتنه کوي لکه سره زر، سپین زر او داسي نور شیان نو د داسي شیانو په باره کې دا حکم دی چې د هغه شي په لېدلو سره د هغه پورته کول او د ځان سره اېښودل پکار دي او د هغه تشهیر دي وکړي تر څو چې هغه شی د هغه مالک ته ورسوي .

مسئله : که یو څوک یوه روپۍ یا د یوې ډوډۍ په اندازه خوراک یا تر دې کم شي پیدا کړي نو هغه ته د پراخۍ په حالت کې هم د هغه خوړل جائز دي .

مسئله: که په یو ژرنده کې غنم اوړه کیږي او د هغه په اوړو کې هغه اوړه یو ځای سي کوم چې په عامه توګه سره په ژوند کې پاته کیږي نو په دې کې څه پروا نه سته ، همدارنګه که د یو چا د جارو څخه یو خاشه د غابنو د خلالولو لپاره واخیستل سي نو په دې کې هم څه پروا نه سته .

مسئله : په یو سرای کې چې د مسافرو حیوانان خوشایي ، پچي او داسي نور شیان کوي نو د هغه د مالک د تللو څخه وروسته د هغه چا ملکیت کیږي څوک چې یې مخکې پورته کړي ، د سرای د مالک یا د چوکیدار په ملکیت کې نه راځي .

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

که يو څوک يو شی پيدا کړي نو څه وکړي؟

﴿۲۹۰۳﴾: عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت زيد بن خالد رضی الله عنه څخه روايت دی چي يو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو

فَسَأَلَهُ عَنِ اللُّقَطَةِ فَقَالَ اعْرِفْ عِفَاصَهَا وَوِكَاءَهَا ثُمَّ عَرِّفْهَا سَنَةً فَإِنْ جَاءَ

او د ((لقطه))(د ورک سوي شی) په باره کي يې څيني پوښتنه وکړه نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: هغه شی چي په هغه کي بند دي په ښه ډول يې و پېژنه او د هغه سر بند (سر پټ) هم

صَاحِبُهَا وَإِلَّا فَشَأْنَكَ بِهَا قَالَ فَضَالَّةُ الْغَنَمِ قَالَ هِيَ لَكَ أَوْ لِأَخِيكَ أَوْ

ښه و پېژنه بيا تر يوه کاله پوري د هغه شی اعلان کوه که د هغه مالک پيدا سو نو شی و خپل مالک ته ورکړه او که پيدا نسو نو په خپل خرڅ کي يې راوله

[لِلذِّ]ئْبِ قَالَ فَضَالَّةُ الْإِبِلِ قَالَ مَا لَكَ وَلَهَا مَعَهَا سِقَاؤُهَا وَحِذَاؤُهَا تَرِدُ الْمَاءَ

هغه سړی پوښتنه وکړه چي د ورک سوي پسه په اړه څه بيان دي؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: هغه ستا دي يا ستا د ورور دي يا د شرموښ بيا هغه د ورک سوي اوښ په اړه پوښتنه وکړه

[وَتَأْ]كُلُ الشَّجَرَ حَتَّى يَلْقَاهَا رَبُّهَا. متفق عليه وفي رواية للمسلم فقال عرفها

[نب]ي کريم ﷺ ورته وفرمايل: د اوښ سره ستا څه کار دي؟ هغه خپلي اوبه لري (مشک) او د هغه پښې دی او بو ته رسوي او هغه د د رختو پاڼې خوري اخير دا چي د هغه مالک پيدا کيږي. (بخاري او مسلم) د مسلم شريف په روايت کي دا الفاظ زيات دي

سنة ثم اعرف وِكَائَهَا وَعِفَاصَهَا ثُمَّ اسْتَنْفِقْ بِهَا فَإِنْ جَاءَ رَبُّهَا فَأَدِّهَا إِلَيْهِ.

نبي کريم ﷺ دا وفرمايل: د يوه کاله پوري د دې اعلان کوه بيا په ښه شان يې شناخت وکړه د دې او د دې د سر بند او بيا هغه خپل په خرڅ کي راوله وروسته که د هغه مالک پيدا سي نو خومره مال چي يې کيږي هغه ورکړه يا يې قيمت ورکړه.

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵\ ۸۴، رقم: ۲۴۲۹، ومسلم ۳\ ۱۳۴۶، رقم: ۱- ۱۷۲۲،

Maktaba Tul Ishaat.com

د لغاتو حل: وِکائها: الخیط الذي تشد به الصرة والکیس ونحوهما. (هغه تار چي کڅوړه یا بل شی په تړل کیږي.). عِفاصها: ای وعاءها.

تشریح ابن مالک رحمة الله علیه فرمایي چي رسول الله ﷺ د هغه شي د ظرف پیژندلو حکم ځکه وکړ چي کوم سړی د هغه شي د ملکیت دعوه وکړي نو د دغه پیژندني په وجه به د هغه رښتینوالی او دروغ معلوم سي مګر په دې اړه د علماؤ اختلاف دی که یو سړی د لقطې پورته کولو ته راسي او خپل ظرف د هغه د پیژندلو سره د هغه لقطه د مالک کېدو دعوه وکړي نو هغه لقطه هغه ته ورکول واجب دي که یا ؟ امام مالک او امام احمد رحمهما الله وایي چي په دغه صورت کي هغه لقطه هغه ته د شاهدانو څخه پرته ورکول واجب دي لکه څرنګه چي ظرف د هغه د پیژندلو دا مقصد وي ، مګر امام شافعي او امام ابو حنیفة رحمة الله علیهما وایي که چیري یو سړی د لقطې او د هغه د سربند (سرپټ) او د هغه لقطې وزن یا شمېر و ښیي او د لقطه پورته کونکي په زړه کي دا خبره راسي چي دغه سړی رښتیا وایي نو بیا هغه لقطه هغه سړي ته ورکول جائز دي مګر هغه سړی د شاهدانو څخه پرته د لقطې پورته کونکی مجبوره کولای نه سي ، په دغه صورت کي به دا ویل کیږي چي ظرف او سربند د یاد ساتلو ګټه به دا وي چي ددې په وجه به هغه لقطه د پورته کونکي په مال کي داسي نه ګډېږي چي کله د لقطې مالک راسي نو لقطه پورته کونکی د خپل مال او اسباب او د هغه لقطې په مینځ کي فرق نه سي کولای .

ثم عرفها : (بیا د هغه تشهیر او اعلان وکړئ) ددې مطلب دادی چي چیري هغه لقطه پیدا سوې ده نه یوازي هلته بلکه په بازار، مسجدو او ټولو هغه ځایو کي چیري د خلکو اجتماع وي د هغه لقطې په اړه اعلان وکړل سي چي د کوم سړی یو شی ورک سوی وي هغه دي فلاني ته په رسیدو سره د هغه شي تفصیل او نښي وښیي او خپل شی دي واخلي، د تشهیر د وخت په باره کي د علماؤ اختلافي قولونه دي، امام شافعي ، امام مالک، امام احمد او په حنفیه کي امام محمد رحمة الله علیهم د حدیث پر ظاهري مفهوم باندي عمل کوي چي ددې لپاره د یو کال وخت تاکل سوی دی مګر د لقطې تر یو کال پوري تشهیر کول پکار دي مګر د صحیح روایت سره سم د امام ابو حنیفة او امام ابو یوسف رحمة الله علیهما قول دادی چي د وخت په ټاکني کي یو قید نه سته بلکه په حدیث کي د یو کال اعتبار اتفاقي دی مګر بیا دا سوال هم پیدا کیږي که چیري په حدیث کي د یو کال وخت اتفاقي وي نو بیا د تشهیر وخت به څومره وټاکل سي ؟ ددې وضاحت په هدایه کي د امام ابو حنیفة رحمه الله د یوه روایت سره سم داسي کړی دی که چیري لقطه د لسو درهمو څخه د کم قیمت وي نو د هغه اعلان کول تر څو ورځو پوري کافي دی او که چیري

Maktaba Tul Ishaat.com

د لسو درهمو شی وي نو بیا تر یوې میاشتي پوري د هغه تشهیر دي وکړل سي او که چیري هغه د سل درهمو شی وي نو بیا تر یو کال پوري د هغه تشهیر دي وکړل سي.

ځیني علماء وایي چي د مالیت د پورتني مقدار چي کوم مختلف وختونه بیان سوي دي په دې کي هیڅ یو وخت لازم نه دی بلکه هغه د لقطې پورته کونکي پر رایه موقوف دی چي هغه د لقطې تر هغه وخته پوري تشهیر وکړي تر څو چي هغه ته غالب گمان وسي چي اوس به هیڅوک نه راځي او ددغه وخت څخه وروسته به هغه لقطه نه غواړي، ددغه علماؤ دلیل د مسلم هغه روایت دی چي په هغه کي د سنة د لفظ څخه پرته یوازي عَرِّفْهَا نقل سوي دي.

که چیري لقطه د یو داسي شي په صورت کي وي چي تر زیاتو ورځو پوري پاته کیدای نه سي او د موسم په تبدیلۍ سره متاثره کیږي لکه د خوراک یو شی یا میوه او داسي نور شیان نو په دې باره کي دا حکم دی چي د هغه تشهیر دي تر هغه وخته پوري وکړل سي تر څو چي هغه خراب نه وي او که چیري لقطه یو معمولي شی وي نو د هغه حکم دادی چي د هغه د تشهیر ضرورت نه سته بلکه د هغه بېله اعلان او تشهیر کولو د هغه د استعمال اجازه ده مگر د هغه مالک ته به دا حق وي که چیري هغه وغواړي نو د خپل هغه شي غوښتنه وکړي.

فان جاء صاحبها والا فشانک بها: ددې مطلب دادی چي د لقطې د تشهیر او اعلان څخه وروسته که چیري د هغه مالک راسي نو هغه لقطه دي ورکړل سي او که چیري د هغه مالک سره شاهد هم وي چي د هغه د ملکیت شاهدي ورکړي نو د لقطې پر اخیستونکي باندي دا واجب دي چي هغه لقطه ورکړي او که شاهد نه وي نو بیا ورکول جائز نه دي لکه څرنگه چي مخکي وضاحت سوی دی او که چیري د اعلان کولو د وخت څخه وروسته د هغه لقطې مالک را نه سي نو بیا لقطه اخیستونکی دی هغه لقطه په خپل استعمال کي راولي، ددې څخه دا معلومه سوه چي لقطه اخیستونکی د اصل مالک نه راتلو په صورت کي د هغه لقطې مالک کیږي که څه هم هغه شتمن وي یا مفلس او غریب وي، د اکثرو صحابه کرامو او امام شافعي رحمه الله دا مذهب دی مگر د ځینو صحابه کرامو قول دی چي لقطه دي مسکین او مفلس ته د صدقې په توگه ورکړل سي، د حضرت ابن عباس رضي الله عنه، سفیان ثوري رحمه الله، ابن المبارک رحمه الله او د حنفیه قول دادی او په دې باره کي دا حکم هم دی که د صدقه کولو څخه وروسته مالک راسي نو هغه ته به اختیار وي که وغواړي نو صدقه به برقرار وساتي او د هغه ثواب حقدار به سي او که وغواړي د لقطه اخیستونکي یا د هغه مفلس او غریب سړي څخه کوم ته چي لقطه د صدقې په توگه ورکړل سوې وي د هغو څخه تاوان واخلي، په شرط ددې چي هغه ضائع سوې وي مگر که چیري په

دوارو کي یو سړي تاوان ورکړي نو هغه د دوهم کس څخه غوښتنه نه سي کولای یعني که چیري د لقطې اخیستونکی تاوان ورکړي نو هغه د مفلس او غریب سړي څخه د غوښتنه کولو هیڅ حق نه لري او که چیري د غریب سړي څخه تاوان واخلي نو بیا هغه د لقطې اخستونکي څخه غوښتنه نه سي کولای مگر که چیري هغه لقطه ضائع سوې نه وي بلکه هم هغسي موجوده وي نو بیا به هغه لقطه ورکول کیږي ، یعني ددې مطلب دا سو چي مالک ته به د تاوان اخیستلو حق په هغه صورت کي وي کله چي هغه شی ضائع سوی وي او که چیري هغه ضائع سوی نه وي نو بیا به هغه شي اخلي، د شرح وقایه په ځینو حاشیو کي د نهایه دا قول نقل سوي دي چي د تشهیر څخه وروسته د لقطې صدقه کول جائز دي مگر د هغه اېښودل عزیمت دی .

هي لک (هغه ستا ده) ددې مطلب دادی که چیري یو پسه تا پیدا کړی او بیا تا د هغه تشهیر وکړی چي د هغه په نتیجه کي د هغه مالک راغلی نو هغه به خپل پسه واخلي مگر که چیري د تشهیر څخه وروسته مالک نه راسي نو هغه پسه ستا سو او ته د هغه څخه گټه اخیستلای سې .

او لاخیک ...الخ (یا ستا د ورور لپاره ده...): ددې مطلب دادی که چیري تا پسه پیدا کړی او د هغه مالک راغلی نو هغه به یې واخلي او که چیري تا پسه پیدا کړی او هغه مالک ته په لاس ورسي نو هغه به یې واخلي ، یا ددې مطلب دادی که چیري تا پسه پیدا کړی نو ستا پر ځای یو بل مسلمان ورور به واخلي او که چیري په دغه کي یو صورت هم نه وي نو بیا شرموښ به هغه پسه وخوري، یعني ددغه حدیث شریف مطلب په دې خبره اگاه کول دي که چیري یو پسه پیدا سي نو هغه واخله او د مالک د نه راتلو په صورت کي د هغه څخه گټه اخیستل جائز دي چي هغه پسه په خپله ضائع نه سي او شرموښ یا بل حیوان یې ونه خوري، دا حکم د هر هغه حیوان په باره کي دی چي د خپل ساتونکي د نه موجودتیا په حالت کي د شرموښ یا بل حیوان په لاس د ورتلو څخه خوندي نه سي پاته کیدای .

د اوښ د ژي څخه مراد هغه نس دی، یعني د اوښ نس د ژي په ډول دی په هغه کي دومره رطوبت وي چي هغه تر ډېرو ورځو پوري بېله اوبه ژوندی پاته سي ، اوښ تر څو ورځو پوري تنده زغملای سي حال دا چي په نورو حیواناو کي نه وي ، په دې باره کي مشهوره ده چي اوښ تر پنځلس ورځو پوري خپل تنده زغملای سي .

د اوښ د موزو څخه مراد د هغه ټینگ او قوي قدمونه دي چي هغه پر لاره باندي د تللو او اوبو او واښو ته تر رسیدو پوري او د درندگانو څخه د ساتني طاقت لري ، په حدیث شریف کي

Maktaba Tul Ishaat.com

د ژي او موزو په ذريعه اوښ ته د هغه مسافر سره تشبيه ورکړل سوې ده چي هغه د ځان سره د سفر سامان ولري چي د هغه په موجودتيا کي هغه ته هيڅ خطره نه وي، علماء وايي چي په دې اړه هر هغه حيوان د اوښ په حکم کي دی کوم چي د خپل ساتونکي په نه موجودتيا کي د شرمونښ يا بل درنده په پنجو کي ضائع او هلاک نه سي لکه آس، غوا، خر او داسي نور، امام شافعي او امام مالک رحمة الله عليهما د دغه حديث څخه دا استدلال کړی دی چي په ځنګله کي اوښ، غوا او داسي نور حيوانان د لقطې په توګه نه سي نيول کيدای ځکه چي هلته د هغوی د ضائع کېدو بېره نه وي البته په کليو او ښارو کي که دغه حيوان پيدا سي نو هغه د لقطې په توګه نيول جائز دي ، د حنفيه په نزد د ټولو حيوانانو د لقطې په توګه نيول او تشهير کول د خلکو د مال د ساتني سره سم په هر ځای کي مستحب دي که څه هم ځنګل وي يا ښار وي، د حضرت زيد رضی الله عنه د دغه روايت په باره کي حنفيه وايي چي په دې کي ذکر سوی حکم چي د اوښ د نيولو ضرورت نه سته دا په هغه زمانه کي وو کله چي امانت داري او ښېګڼه د خلکو ډېره وه چي د هغه په وجه د يو چا حيوان بل چا نه نيوی او د يو خائن په لاس نه ورتلی ، مګر په اوس زمانه کي دا خبره نه سته او د امانت او ديانت خلک ډېر کم دي ځکه د الله تعالی د مخلوق د مال د ساتني تقاضا داده چي کوم حيوان په يو ځای کي تر لاسه سي هغه دي د لقطې په توګه ونيول سي او د هغه مالک ته د رسولو هڅه دي وکړل سي .

دورک سوي شي بېله تشهيره اېښودل خيانت دی

﴿۲۹۰۴﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ آوَى ضَالَّةً فَهُوَ ضَالٌّ مَا لَمْ يُعَرِّفْهَا . رواه مسلم .

د زيد بن خالد رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي ورک سوي شی پورته کړي په کور کي يې کښېږدي تر څو پوري چي د هغه اعلان ونه کړي ګمراه دی . (مسلم).

تخريج : مسلم في الصحيح ۳\۱۳۵۱، رقم: ۱۲- ۱۷۲۵.

تشريح مطلب دادی چي يو څوک يو ورک سوی د ځان سره وساتي نو هغه ته پکار دي چي د هغه شي تشهير او اعلان وکړي بېله تشهيره دي هغه د ځان سره نه ساتي ځکه چي دا خيانت او ګمراهي ده .

Maktaba Tul Ishaat.com

د حاجیانو ورک سوي شیان

﴿۲۹۰۵﴾: وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عُثْمَانَ التَّيْمِيّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ لُقَطَةِ الْحَاجّ. رواه مسلم

د حضرت عبد الرحمن بن عثمان تيمي رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د حاجیانو د ((لقطه)) (ورک سوي شی)) د پورته کولو څخه منعه فرمایلې ده. (مسلم).

تخريج: مسلم في الصحيح ۳\۱۳۵۱، رقم: ۱۱- ۱۷۲۴.

تشريح: د حدیث خلاصه داده چي د مکې مکرمې د حرم په حدودو کي د پیدا کېدونکي شي د تشهیر او اعلان څخه وروسته هم د هغه مالک کېدل جائز نه دي بلکه د اخیستونکي لپاره دا واجب دي چي هغه دځان سره تر هغه وخته پوري وساتي تر څو چي د هغه مالک پیدا سي که هر څومره وخت تېر سي، د امام شافعي رحمه الله دا مذهب دی مګر د حنفیه په مذهب کي د حرم د حدودو او د غیر حرم د ځکي لقطه یو ډول ده او د دې بیان په باب حرم مکه کي تېر سوی دی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د غیر اباد ځمکي لقطه

﴿۲۹۰۶﴾: عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ

حضرت عمرو بن شعیب رضي الله عنه د خپل پلاره څخه او هغه د خپل پلاره څخه روایت کوي چي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ سُئِلَ عَنِ الثَّمَرِ الْمُعَلَّقِ فَقَالَ مَنْ أَصَابَ مِنْهُ من ذِي

د رسول الله ﷺ څخه د هغو مېوو په اړه پوښتنه وسوه چي په ونو کي دي نو يې وفرمایل: اړ کس دي مېوه وخوري

حَاجَةٍ غَيْرَ مُتَّخِذٍ خُبْنَةً فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ وَمَنْ خَرَجَ بِشَيْءٍ مِنْهُ فَعَلَيْهِ

او خپله کڅوړه دي نه ډکوي نو په دې کي څه ګناه نسته او څوک چي ځیني مېوه وخوري او بیا يې وشکوي د ځانه سره يې هم یوسي نو پر هغه باندي د هغه

غَرَامَةُ مِثْلَيْهِ وَالْعُقُوبَةُ وَمَنْ سَرَقَ شَيْئًا مِنْهُ بَعْدَ أَنْ يُؤْوِيَهُ الْجَرِينُ فَبَلَغَ

دوه چنده تاوان واجب دي او سزا هم او څوک چې مېوه د درمند څخه غلا کړي او د غلا سوي

ثَمَنَ الْمِجَنِّ فَعَلَيْهِ الْقَطْعُ وذكر في ضالة الابل والغنم كما ذكر غيره قال و

مېوې قيمت د يوه ډهال د قيمت سره برابر سي د هغه سزا لاس پرېکول دي . د دې څخه وروسته راوي د ورک سوي اوښ او ورک سوي پسه په اړه پوښتنه وکړه څنګه چې نورو راويانو بيان

سئل عَنِ اللُّقَطَةِ فَقَالَ مَا كَانَ منها فِي طَرِيقٍ سياء والقرية جامعة فَعَرِّفْهَا

کړې ده بيا د نبي کريم ﷺ څخه د ورک سوي شي پوښتنه وسوه نبي کريم ﷺ وفرمايل : کوم ورک سوي شی چې په عامه لاره کي پيدا سي کلي او يا يوې آبادۍ ته نژدې وي نو د هغه اعلان

سَنَةً فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا فَادْفَعْهَا إِلَيْهِ وَإِنْ لَّمْ يَأْتِ فَهُوَ لَكَ وَ مَا كَانَ فِي

دې تر يوه کاله پوري کوي که يې مالک راسي هغه دي ومالک ته ورکول سي او که را نسي نو بيا هغه ستا دي او ورک سوي شی چې په زړو خزانو

الْخَرَابِ الْعَادِيِّ فَفِيهِ وَفِي الرِّكَازِ الْخُمُسُ . رواه النسائي و روى ابوداؤد عنه من قوله و سئل عن اللقطة الى آخره.

او خرابو کي پيدا سي نو په هغه کي يوازې پنځمه برخه د خداي تعالى ده .(نسائي ابو داؤد هم دومره د سئل عن اللقطة څخه پيل کړې بيا تر اخيره پوري) .

تخريج: سنن النسائي ۸\ ۸۵،رقم: ۴۹۵۸،وابوداود ۲\ ۳۳۵،رقم: ۱۷۱۰.

د لغاتو حل: خُبنة: اى ذخيرة محمولة. الجرين: موضع تجفيف التمر (د خرما وچولو ځاى). المجن: اى الترس. الميناء: اى الطريق العام.

تشريح: د اړ کس څخه مراد يا خو مطلق فقير او مفلس دى که څه هم هغه د اضطرار په حالت کي نه وي او يا دد دې څخه مضطر يعني هغه څوک مراد دى چې هغه د لوږي څخه مړ کيږي ، خلاصه داده چې اړ کس دي د درختي څخه د ضرورت په اندازه مېوه وخوري مګر ځولۍ دي نه په ډکوي چې د ځان سره يې يوسي او پر داسي کس باندي څه ګناه نه سته ، ابن مالک رحمه الله فرمايي چې دد دې مطلب دادى چې داسي سړى ګناه کار خو نه دى مګر پر هغه به تاوان يعني د

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه میوې قیمت ورکول واجب وي ، او بیا دا چې ددغه حکم تعلق د اسلام د ابتدائي زمانې سره وو او بیا منسوخ سو . او پر هغه دوه برابر تاوان دی : ددې مطلب دادی چې کوم څوک مېوه وخوري او څولۍ هم په ډکه کړي نو د هغه څخه به د هغه میوې دوه برابر قیمت اخیستل کیږي مګر ابن مالک رحمه الله فرمايي چې دا حکم د خبرداری په توګه دی کنه مسئله خو داده چې د هغه میوې دوه برابر قیمت نه واجبیږي بلکه یوازي د هغه اصل قیمت اخیستل کیږي که څه هم د حضرت عمر رضي الله عنه په اړه نقل سوي دي چې ددغه حدیث د ظاهري حکم سره سم هغه پر هغه دوه برابر قیمت دی ، او د امام محمد رحمه الله مذهب هم دادی او ځیني علماء وايي چې دغه حکم د اسلام د ابتدائي زمانې سره خاص دی بیا منسوخ دي .

او سزا ده : دلته د سزا څخه مراد تقدیر دی، مطلب دادی چې د هغه لاس به نه پرې کیږي مګر که چیري تعزیر ورکول کیدای سي او دا ځکه دي چې په هغه زمانه کي باغونه خوندي او په دیوالونو کي دننه وه ، که چیري په درمن کي اېښودل سوې غله په دومره اندازه غلا کړل سي چې د یوه سپر د قیمت برابر وي نو د شرعي قانون سره سم د هغه لاس پرې کیږي ، هغه وخت د یوه سپر قیمت درې یا څلور درهمه وو ، د امام شافعي رحمه الله په نزد د غلا د مال هغه مقدار چې پر هغه د لاس پرې کېدو سزا ورکول کیږي څلورم درهمه یا تر دې زیات مالیت دی مګر د حنفیه په مذهب کي ابتدائي مالیت لس درهمه دی ، شمني رحمه الله لیکلي دي چې په هغه زمانه کي د سپر قیمت لس درهمه وو .

او کومه لقطه چې په داسي لار کي پیدا کړل سي چې ښار ته د نږدې کېدو په وجه د خاص او عام خلکو لاره وي نو د هغه تشهیر او اعلان واجب دی ځکه ددې غالب ګمان کیدای سي چې هغه د یو مسلمان وي ، او کومه لقطه چې په یو پخواني او وېران کلي یا پخوانۍ غیر ابادي مځکي کي پیدا سي چیري چې د مسلمانانو کورونه نه وي او نه هغه د یو مسلمان په ملکیت کي وي نو د هغه دا حکم دی چې د هغه څخه دي پنځمه برخه د الله تعالی په لار کي صدقه او خیرات کړي او پاته برخه دي خپل په استعمال کي راولي که څه هم هغه لقطه د سرو او سپینو زرو په شکل کي وي یا ددې څخه پرته د نور سامان یا زیوراتو په شکل وي، همدارنګه که د یو پخواني ځای څخه یو ښخ سوې خزانه یا بل شي تر لاسه سي نو د هغه دغه حکم دی .

دورک سوي شي استعمال او د مالک غوښتنه

﴿۲۹۰۷﴾ : وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ وَجَدَ دِينَارًا فَأَتَى بِهِ

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت ابو سعيد خدري ﷺ څخه روايت دی چي حضرت علي ﷺ يو دينار پيدا کړاو بي بي

فَاطِمَةَ فَسَأَلَ عَنْهُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ هٰذا رِزْقُ اللّٰهِ عَزَّ

فاطمې ﷺ ته يې راوړ او وروسته حضرت علي ﷺ د دې په اړه د نبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړه رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: دا د خداي تعالي رزق دي

وَجَلَّ فَأَكَلَ مِنْهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَكَلَ عَلِيٌّ وَفَاطِمَةُ فَلَمَّا كَانَ

نو دهغه ديناره څخه حضرت علي ﷺ بي بي فاطمې او نبي کريم ﷺ ټولو وخوړه د دې څخه

بَعْدَ ذٰلِكَ أَتَتْهُ امْرَأَةٌ تَنْشُدُ الدِّينَارَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا

عَلِيُّ أَدِّ الدِّينَارَ . رواه ابوداؤد.

وروسته يوه ښځه د دينار په لټه پسي راغله نو رسول الله ﷺ وفرمايل: چي اې علي! دينار ورکړه. (ابوداؤد).

تخريج: ابوداود في السنن ۲\۳۳۷، رقم: ۱۷۱۴.

تشريح: ددغه روايت څخه دا څرګنديږي چي حضرت علي ﷺ د تشهير او اعلان څخه پرته هغه دينار مصرف کړل بلکه دا حتمال دی چي مخکي يې د هغه تشهير وکړی او بيا وروسته يې هغه مصرف کړل، رسول الله ﷺ د هغه په محض ويلو باندي هغه ته دينار ورکړل نو ددې وجه داده چي يا خو هغه ښځي د دينار نښه بيان کړې وي يا رسول الله ﷺ ته به په يو ذريعه علم سوی وي چي هغه دينار د هغه ښځي وه.

ورک سوی شی په بد نيت سره مه پورته کوئ

﴿۲۹۰۸﴾: وَعَنِ الْجَارُودِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَالَّةُ الْمُسْلِمِ حَرَقُ النَّارِ . رواه الدارمي.

د حضرت جارود ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د مسلمانانو ورک سوي شی د اور سکروټي دي (يعني څوک چي پورته کړي او د لقطې احکامورباندي نافذ نه کړي نو هغه به يې دوږخ ته ورسوي). (دارمي)

تخريج: الدارمي ۲\۳۴۴، رقم: ۲۶۰۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

د لغاتو حل: حرق: ای لهیبها.

تشريح مطلب دا دی که چيري يو سړی يو لقطه (ورک سوی شی) په بدنيت سره پورته کړي چي زه به ددې مالک سم او هغه د لقطې په اړه احکام پوره نه کړي نو هغه لقطه به هغه سړی د دوږخ اورته حواله کړي.

کله چي ورک سوی شی پورته کړئ نو يو څوک شاهد کړئ

﴿۲۹۰۹﴾: وَ عَنْ عِيَاضِ بْنِ حِمَارٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عياض بن حمار رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

مَنْ وَجَدَ لُقَطَةً فَلْيُشْهِدْ ذَا عَدْلٍ اَوْ ذَوَيْ عَدْلٍ وَلاَ يَكْتُمْ وَ لاَ يُغَيِّبْ فَاِنْ

څوک چي لقطه پيدا کړي نو هغه دي منصف مزاجه خلک شاهدان جوړ کړي بيا دي لقطه نه پټوي او نه دي غائبوي بيا که د هغه مالک راسي نو هغه دي بيرته ورکړي او که يې

وَجَدَ صَاحِبَهَا فَلْيَرُدَّهَا عَلَيْهِ وَاِلاَّ فَهُوَ مَالُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَاءُ. رواه احمد وابوداؤد والدارمي.

مالک را نه سي نو بيا هغه د خداي تعالي مال دي چاته چي يې خداي غواړي ورکوي يې (يعني بيا هغه د پيدا کونکي لپاره حلال دي هغه ته خداي تعالي ورکړي دي) (احمد ابو داؤد دارمي).

تخريج: احمد في المسند ۴\۱۶۱، رقم: ۱۷۰۹، والدارمي ۲\۳۴۵، رقم: ۲۶۰۲.

تشريح: کله چي يو سړی لويدلی شی (لقطه) پورته کړي نو هغه وخت دي يو څوک پر دې شاهد کړي چي ما دغه شی پيدا کړی دی ددې لپاره چي يو څوک پر هغه باندي د غلا تهمت ونه لګوي او نه د کموالي او زياتوالي دعوه وکړلای سي، په شاهد جوړولو کي يو حکمت او ګټه دا هم ده چي په دغه صورت کي به د هغه نفس په حرص او طمع کي نه اخته کيږي ځکه چي بېله شاهده دا احتمال کيدای سي چي هغه په بد نيتۍ کي اخته سي او په دا فکر کولو سره چي يو څوک شاهد نه سته هغه شی مالک ته د ورکولو پر ځای د خپل ځان سره وساتي او د شاهد په پيدا کولو سره نه يوازي دا چي طمع نه سي کيدای بلکه د هغه لقطې مالک ته حواله کول هم ضروري کيږي او په دې کي يو حکمت دا هم دی چي د پورته کونکي د ناڅاپه مرګ څخه وروسته د هغه وارثان هغه لقطه په خپل ميراث او ترکه کي نه سي داخلولای.

ځیني حضرات فرمايي چي د شاهد جوړولو دغه حکم د استحباب په توګه دی او حال دا چي ځیني نور علماء فرمايي چي دغه حکم د وجوب په توګه دی ، په دغه حدیث کي خو دا فرمایل سوي دي چي هغه د الله تعالی ورکړی مال دی او په مخکني حدیث کي د الله تعالی ورکړی رزق ورته ویل سوي دي نو د دغه دواړو څخه مراد حلال دی ، مطلب دا چي د مالک د نه راتلو په صورت کي هغه لقطه یو داسي حال مال دی چي هغه سړی ګټه ځیني اخیستلای سي کوم چي الله تعالی هغه ته دغیب څخه ورکړی دی مګر که چیري وروسته مالک راسي نو بیا د هغه بدله به ورکوي لکه څرنګه چي مخکي ذکر سوي دي .

د پیدا سوي شي هغه مقدار چي د اعلان ضرورت یې نسته

﴿۲۹۱۰﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ رَخَّصَ لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْعَصَا

د حضرت جابر ﷛ څخه روایت دی چي رسول اللهﷺ اجازه ورکړې ده که یوه سړي لکړه

وَالسَّوْطِ وَالْحَبْلِ وَأَشْبَاهِهِ يَلْتَقِطُهُ الرَّجُلُ يَنْتَفِعُ بِهِ . رواه ابوداؤد و ذکر حدیث المقدام بن معدیکرب الا لا یحل في باب الاعتصام .

یا رسۍ یا یو بل ورک سوي شی پیدا کړي د ګټي د اخیستلو . (ابو داؤد)

تخريج: ابو داود في السنن ۲\۳۳۹، رقم: ۱۷۱۷.

تشريح یعني که چیري لقطه د دغه شیانو څخه وي نو د هغه پورته کونکی بېله اعلان کولو هغه په خپل استعمال کي راوستلای سي .

په شرح السنة کي لیکلي دي چي دغه حدیث د دې خبري دلیل دی که چیري لقطه د یو کم شي په صورت کي وي نو د هغه اعلان دي نه کیږي مګر پر دغه قول باندي تنقید سوی دی ، پاته سو دا سوال چي د کم شي حد څه شي دی ؟ نو ځیني علماء وايي چي لقطه د لسو درهمو څخه کمه وي نو هغه کم شی دی او ځیني حضرات وايي چي کومه لقطه د یوه دینار وي یا تر یوه دینار کمه وي نو هغه معمولي او کم شی دی لکه څرنګه چي د حضرت علي ﷛ په باره کي د نقل سوي حدیث څخه معلومه سوه .

او د حضرت مقدام ابن معدیکرب ﷛ روایت (الا لا یحل ...الخ) په باب الاعتصام بالکتاب والسنة کي نقل سوی دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

كِتَابُ الْفَرَائِضِ وَالْوَصَايَا

(د فرائضو (میراث) او وصیت بیان)

فرائض جمع د فریضة ده او د فرض څخه مشتق ده، فرائض د میراث هغه برخو ته وایي چي په قرآن کریم یا حدیثو کي ټاکلي سوې دي، په دغه باب کي دا بیان کیږي چي یو څوک مړ سي نو د هغه کوم کوم قریبان د هغه وارثان دي او د هغه پرې ایښی مال او اسباب به په هغه وارثانو کي څرنګه ویل کیږي، دغه باب د یو ارزښتناکه موضوع سره اړوند دی ځکه نو مناسب دي چي په ابتدائي توګه سره یو څو اصولي خبري او یو څو ضروري مسائل دلته نقل کړل سي.

دوارثانو ترتیب

علماؤ لیکلي دي چي د مړي د ترکه (یعني د هغه د پرېښودل سوي مال او سامان) سره څلور حقونه متعلق وي چي د هغو ترتیب دا دی:

۱. اول خو دي د مړي د کفن او ښخولو بندوبست وکړل سي یعني هغه ته دي غسل ورکړل سي بیا دي کفن ورکړل سي او بیا دي د جنازې د لمانځه څخه وروسته هدیرې ته یووړل سي او بیا دي د هغه قبر وکنبل سي، په دغه شیانو کي د مصرف کولو چي څه ضرورت وي هغه دي د مړي د ترکه (میراث) څخه داسي مصرف کړل سي چي نه تنګي وکړل سي او نه اسراف وکړل سي.

۲. ددې څخه وروسته که چیري د مړي پر ذمه پور او یا بله غوښتنه وي نو د هغه ادا کول دي وکړل سي او د بیا د پور او غوښتني د ادا کولو څخه وروسته دي:

۳. کوم مال او سامان چي پاته سي د هغه په دریمه برخه کي دي وصیت جاري کړل سي په شرط ددې چي هغه وصیت کړی وي، ددغه درو مرحلو څخه وروسته.

۴. د هغه پاته ټول مال او سامان دي د هغه په وارثانو کي وویشل سي چي ترتیب یې دا دی:

تر ټولو مخکي دي ذوالفروض ته د هغوی ټاکل سوي برخي ورکړل سي او هغوی ته د ورکولو څخه وروسته چي څه پاته سي هغه دي د مړي نسبي عصبات ته ورکړل سي ځکه چي ذوالفروض ته د ورکولو څخه وروسته چي څه پاته سي هغه د نسبي عصبات حق دی او که چیري د مړي په وارثانو کي ذوي الفروض نه وي نو بیا د هغه ټول میراث به نسبي عصبات ته ورکول کیږي او که چیري د هغه په وارثانو کي نسبي عصبات هم نه وي نو بیا ذوي الفروض ته د ورکولو څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

وروسته چي څه پاته سي هغه به ازادونکي ته ورکول کيږي په شرط ددې چي مړی غلام وي او که چيري هغه ازاد سوی وي مگر ازاد کونکی موجود نه وي نو بيا د هغه ازاد کونکي سړي عصبه ته به ورکول کيږي که دا هم نه وي نو بيا پاته سوی مېراث به ذوالفروض ته بېرته ورکول کيږي پرته د زوجين څخه ځکه چي په دوهم وار وېش کي د زوجين هيڅ برخه نه سته او که چيري د مړي په وارثانو کي نه ذوالفروض وي او نه نسبي عصبات او سببي عصبات وي نو د هغه ميراث ذوالارحام ته ورکول کيږي که چيري ذوي الارحام هم نه وي نو بيا مولا موالات ته ورکول کيږي که چيري مولی موالات هم نه وي نو بيا د هغه مېراث به هغه چا ته ورکول کيږي چي د هغه د نسب مړي اقرار کړی وي مثلاً هغه د زيد په باره کي ويلي وي چي هغه زما د پلار زوی دی حالانکه د زيد د غه نسب دد غه اقرار څخه پرته په بل صورت کي ثابت نه وي مگر بيا به هم هغه د مړي د ميراث حقدار وي او که چيري داسي څوک هم نه وي نو بيا دي هغه ميراث داسي سړي ته ورکول کيږي چي د هغه لپاره مړي د خپل ټول ميراث وصيت کړی وي او که چيري داسي څوک هم نه وي چي د هغه لپاره مړي د خپل مال او سامان وصيت کړی وي نو بيا د هغه ټول مال او سامان په بيت المال کي جمع کيږي او که چيري بيت المال هم نه وي نو بيا په پای کي د بيت المال په مصرف کي دي مصرف کړل سي يعني په مدرسو، مسجدو او مسکينانو دي مصرف کړل سي.

د ذوي الفروض تفصيل

ذوي الفروض دَوولس ۱۲ دي ۱-: پلار، ۲: نيکه (که څه هم نوري لوړي درجې يې وي لکه ورنيکه، ترنيکه او داسي نور)، ۳: اخيافي ورور چي پلار يې بېل بېل وي او مور يې يوه وي، ۴: ښځه، ۵: خاوند، ۶: مور، ۷: انا (که څه هم نوري د لوړي درجې وي لکه د انا مور، د انا انا او داي نور...) ۸: لور، ۹: ملسی، ۱۰: حقيقي خور، ۱۱: ميرېزی خور، ۱۲: اخيافي خور.

د ذوي الفروض برخي

د مړي په مېراث کي د پلار شپږمه برخه حق کيږي کله چي د مړي زوی، ملسی، کړوسی او کوسی هم موجود وي او که چيري دا نه وي بلکه لور يا ملسی او کړوسی موجود وي نو پلار ته به شپږمه برخه ورکول کيږي او هغه به عصبه هم وي او که چيري نه زوی وي نه ملسی او نه کړوسی وي او نه لور يا ملسی يا کړوسی وي نو پلار به يوازي عصبه وي، خلاصه دا چي په اول صورت کي خو پلار يوازي صاحب فرض دی او په دوهم صورت کي صاحب فرض هم دی او عصبه هم، او په دريم صورت کي يوازي عصبه دی که چيري د مړي پلار نه وي نو په پورتنيو درو صورتو کي د هغه نيکه به د پلار په ځول وي او که چيري د مړي پلار او نيکه دواړه ژوندي

Maktaba Tul Ishaat.com

وي نو بيا نيکه به محروم وي يعني هغه ته به د مړي د ميراث څخه هيڅ نه ورکول کيږي .

اخيافي ورور او اخيافي خور د ميراث شپږمه برخه ورکول کيږي په شرط د دې چې هغه يو وي ، که چيري دوه يا تر دوو زيات وي نو د هغوی لپاره دريمه برخه ده چې په سړي او ښځې کې برابر ويشل کيږي او که چيري د مړي پلار يا نيکه ژوندي وي يا د هغه زوی يا د زوی اولاد موجود وي نو بيا اخيافي ورور او خور به محروم وي .

که ښځه مړه سي او د هغه زوی او لور نه وي او د زوی اولاد يې هم نه وي نو د هغې د ميراث څخه به خاوند ته نيمه برخه ورکول کيږي او که چيري زوی، لور يا د زوی اولاد يې موجود وي نو خاوند ته به څلورمه برخه ورکول کيږي .

که چيري خاوند مړ سي او د هغه لور يا زوی او د زوی اولاد نه وي نو د هغه د ميراث څخه ښځې ته څلورمه برخه ورکول کيږي او که چيري د مړي زوی، لور يا د زوی اولاد موجود وي نو ښځې ته اتمه برخه ورکول کيږي ، د دې خبري بايد خيال وساتل سي که چيري د مړي يوه ښځه وي نو هغې ته به هغه برخه ورکول کيږي کوم چې ذکر سوې ده او که چيري تر يوې زياتي ښځې يې وي نو بيا هم دغه برخه ورکول کيږي فرق يوازي دومره دی که ښځه يوه وي نو د پورتنۍ برخي څخه به هغه يوازي حقدار وي او که چيري دوې يا درې وي نو هغوی به دغه برخه په خپلو کي ويشي .

د مړي په ميراث کي مور ته شپږمه برخه ورکول کيږي په شرط د دې چې د مړي زوی ، لور يا ملسی يا د هغه اولاد يا يوه خور يا دوه وروڼه او دوې خويندي وي يا تر دوو زيات وروڼه او خويندي وي (که څه هم حقيقي وروڼه يا خويندي وي او که ميرېزي يا اخيافي) که په دوی کي هيڅوک هم موجود نه وي نو مور ته به د ټولي ترکې څخه دريمه برخه ورکول کيږي او که د مور سره پلار او خاوند يا ښځه هم وي نو په دغه صورت کي به پلار او خاوند يا ښځې ته په برخه ورکولو کي څه چې پاته سي د هغه څخه به مور ته دريمه برخه ورکول کيږي او که چيري په ذکر سوي صورت کي د ښځې يا خاوند سره د پلار پر ځای نيکه موجود وي نو بيا مور ته به د ټولي ترکې څخه دريمه برخه ورکول کيږي ځکه چې په دغه صورت کي نيکه د پلار قائم مقام نه دی.

د انا (د مور مور او د پلار مور) شپږمه برخه کيږي که يوه وي يا ډېري وي، مطلب دادي که چيري يوازي انا يعني د مور مور وي يا يوازي د پلار مور وي يا دوې اناوي وي نو هغوی ټولي به دغه شپږمه برخه په خپلو کي ويشي په شرط د دې چې هغوی ټولي په درجه کي برابر وي او که چيري په درجه کي برابر نه وي بلکه په درجه کي متفاوت وي (لکه يوه انا وي او بله د انا مور

Maktaba Tul Ishaat.com

وي) نو د لوی درجې والا (يعني د مور مور) به د نژدې درجې والا (يعني انا) په وړاندي محروم وي همدارنګه د مور په موجودتيا کي ټولي اناګاني محروم دي ، او د نيکه په موجوتيا کي د پلار د اناګاني محرومي دي مګر د نيکه ښځه يعني د پلار مور نه محروم کيږي .

د مړي مور د مېراث څخه هيڅکله نه محروم کيږي که د هغې ورور يعني د مړي زوی موجود وي نو هغه عصبه جوړيږي کنه نو ذوالفروض به وي ، د لور د مېراث دري صورتونه دي : اول دا چي يوازي يوه لور وي او د هغې سره حقيقي يا ميرېزی ورور نه وي نو د مړي د ترکې څخه به هغې ته نيمه برخه ورکول کيږي (او که چيري بل وارث هم نه وي نو بيا پاته نيمه برخه هم د هغې کيږي)، دوهم دا که چيري دوې لوڼي وي يا تر دوو زياتي وي او د هغوی سره حقيقي يا ميرېزی ورور نه وي نو هغه لوڼو ته د ترکې څخه دوه پر درې برخه ورکول کيږي چي هغه به يې ټولي په خپل مينځ کي مساوي ويشي، دريم دا که چيري د لوڼو سره د مړي زوی موجود وي نو په دغه صورت کي د لور هيڅ برخه ټاکلې نه ده بلکه هغه عصبه جوړيږي د دې مطلب دادی چي د مړي د مېراث څخه څومره چي زوی ته ورکول کيږي د هغه نيمه به هري لور ته ورکول کيږي که يوه لور وي يا درې څلور لوڼي يې وي او که چيري د يو مړي ډېر زامن او ډېري لوڼي وي نو په هغوی کي د مېراث تقسيم به داسي وي چي هر زوی ته به دوې برخي او هري لور ته به يوه برخه ورکول کيږي .

که چيري د مړي لور، زوی يا ملسی نه وي بلکه يوازي يوه ملسۍ يې وي نو هغې ته به د مېراث څخه نيمه برخه ورکول کيږي او که چيري دوې يا تر دوو زياتي ملسياني يې وي نو هغوی ته به د ټول مېراث څخه دوه پر درې برخه ورکول کيږي چي هغوی ټول به يې په خپلو کي مساوي ويشي، او که چيري د مړي زوی، ملسی او کړوسی موجود نه وي بلکه يوازي يوه لور يې وي نو ملسي ته به شپږمه برخه ورکول کيږي که يو ملسی يې وي يا ډېر ملسيان يې وي او که چيري د مړي دوې يا تر دوو زياتي لوڼي وي نو په دغه صورت کي به ملسۍ محروم وي مګر که چيري د ملسۍ سره د مړي ملسی هم وي نو بيا که چيري د مړي يوه لور وي يا ډيري لوڼي يې وي هغه ملسۍ به عصبه سي ، مطلب دا چي د ذوالفروض د برخو ورکولو څخه وروسته چي څه پاته سي دغه ملسی او ملسۍ به يې په خپلو کي د عصوبت په توګه ويشي يعني ملسي ته دوې برخي او ملسۍ ته به يوه برخه ورکول کيږي مګر دا خبره بايد په ذهن کي وي که چيري د مړي زوی موجود وي نو بيا ملسۍ په هر حال کي محرومه ده او که نه د قوميت اولاد موجود وي او نه د مړي د زوی اولاد موجود وي نو په پورتنيو ټولو صورتو کي د مړي کړوسۍ به د هغه د

Maktaba Tul Ishaat.com

ملسۍ قائم مقام وي او كه چيري لور يې وي نو د لور اولاد به محروم وي او كه ملسۍ موجود وي نو د ملسۍ اولاد به محروم وي.

كه چيري د مړي زوی، لور، ملسی، ملسۍ يا كړوسيان موجود نه وي بلكه يوازي يوه حقيقي خور يې وي نو هغه به په هر حال كي د لور قائم مقام وي يعني كه چيري يوه خور وي نو هغې ته به د مړي د ټول ميراث څخه نيم مال وركول كيږي او كه چيري دوې يا زياتي خويندي يې وي نو هغوی ته به د ټول ميراث څخه دوه پر دري برخه وركول كيږي چي هغوی به يې په خپل مينځ كي ويشي، په پورتني صورت كي د ميرېزی خور هم دغه حكم دی په شرط ددې چي حقيقي خور هم موجود نه وي.

كه چيري د مړي لور، ملسی يا كړوسۍ موجود وي نو په دغه صورت كي حقيقي خور عصبه جوړيږي مطلب دا چي د مړي د ميراث څخه ذوي الفروض ته د وركولو څخه وروسته چي څه پاته سي هغه به خور ته وركول كيږي.

كه د مړي حقيقي ورور موجود وي نو د حقيقي خور سره په يو ځای كېدو سره عصبه جوړيږي او كه حقيقي ورور نه وي بلكه ميرېزی ورور وي نو حقيقي خور د هغه ميرېزی ورور په موجودتيا كي په ذوي الفروض كي شامل دی.

كه د مړي يو حقيقي (سكه) ورور وي او د هغه سره ميرېزي وروڼه او خويندي هم وي نو د هغه حقيقي ورور په موجودتيا كي هغه ميريزی وروڼه او خويندي محروم دي.

كه د مړي يوه حقيقي خور وي نو د هغې په موجودتيا كي ميرېزی خور ته شپږمه برخه وركول كيږي كه هغه يوه وي يا تر يوې زياتي وي او كه چيري حقيقي خويندي د يوې څخه زياتي وي نو بيا ميرېزۍ خور ساقط كيږي او هغې ته به هيڅ نه وركول كيږي مګر كه چيري د ميريزۍ خور سره ميريزی ورور هم وي كه يو وي يا تر يوه زيات وي په هر صورت كي ميريزۍ خور به د ميرېزي ورور سره عصبه سي مطلب دا چي ذوي الفروض ته د وركولو څخه وروسته د مړي د ميراث څخه چي څه پاته سي هغه ټول به د هغه ميريزي خويندو او وروڼو په مينځ كي د عصوبت په توګه ويشل كيږي او كه د مړي حقيقي خور د مړي د لور، ملسۍ او يا كړوسۍ سره عصبه سي نو په دغه صورت كي ميريزۍ لور او ميريزۍ خور بالكل محروم دي.

دا خبره بايد په ذهن كي وي كه چيري د مړي زوی يا ملسۍ يا كړوسي يا كوسۍ موجود وي نو د مړي حقيقي ورور، حقيقي خور او ميريزی ورور او خور محروم دي همدارنګه د مړي د پلار يا نيكه په موجودتيا كي د مړي حقيقي او ميريزي خويندي او وروڼه محروم دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

د عصباتو تفصيل

د مړي د مېراث څخه ذوي الفروض ته د خپلو برخو ورکولو څخه وروسته چې څه پاته سي هغه به په عصباتو کې وېشل کيږي، يعني ذوي الفروض د اولي درجې وارثان دي او عصبات د دوهمي درجې وارثان دي، د عصباتو هم څلور درجې دي : ۱: اول زوی، ملسی، کړوسی (يا ددې څخه د لاندي درجې) ،۲: دوهم : پلار، نيکه (يا ددوی څخه د لوړي درجې)، ۳: دريم حقيقي او ميريزي وړونه او د هغوی زامن (که څه هم د لاندي درجې وي). ۴: څلورم د مړي اکا، د مړي د پلار اکا ، دمړي نيکه اکا او د هغه اکاګانو زامن ، اوس ددغه څلورو درجو ترتيب دادی : په دغه څلورو درجو کې زامن مقدم دي بيا ملسيان بيا کړوسيان بيا پلار بيا نيکه بيا ور نيکه بيا تر نېکه بيا ورور بيا خور بيا د ورور زامن، بيا اکا يا د اکا زامن ، کله چې په دغه څلورو درجو کې د اولي درجې يو عصبه موجود وي نو پاته د درو درجو عصبات به بالکل محروم وي همدارنګه که چيري د اولي درجې عصبه يعني زوی يا ملسی يا کړوسی موجود نه وي او د دوهمي درجې عصبه موجود وي نو د پاته دوو درجو عصبات به محروم وي همدارنګه په دغه څلورو درجو کې هره درجه قريب عصبه پر ليري عصبه مقدم وي يعني د نژدې عصبه په موجودتيا کې ليري عصبه ته هيڅ نه ورکول کيږي مثلا د مړي زوی موجود دی او ملسی هم موجود دي او دغه دواړه د اولي درجې عصبه دي مګر په دغه صورت کې نژدې عصبه يعني زوی مقدم دی چې هغه ته به د مړي مېراث ورکول کيږي او ليري عصبه يعني ملسی به محروم وي ، همدارنګه حقيقي عصبه پر مېريزي عصبه مقدم دي او د مړي د پلار د اکاګانو ملسيان به د مړي د نيکه پر اکاګانو مقدم وي .

د ذوي الارحام تفصيل

لکه څرنګه چې مخکي بيان سو يدی چې د مړي په وارثانو کې تر ټولو لومړۍ درجه د ذوي الفروض ده او دوهمه درجه د عصباتو ده اوس په دې پوه سئ که چيري د مړي په وارثانو کې نه ذوي الفروض وي او نه عصبات وي نو بيا د هغه مېراث به ذوي الارحام ته ورکول کيږي ، يعني ذوي الارحام د وارثانو دريمه درجه ده، لکه څرنګه چې د عصباتو څلور درجې دي همدارنګه د ذوي الارحام هم څلور درجې دي چې تفصيل يې دادی : اول د مړي دلور، ملسۍ او کړوسۍ اولاد يعني د مړي ملسی، کړوسی او دمړي د زوی ملسی او کړوسی او د مړي د کړوسي د زوی لور او داسي نور ...

Maktaba Tul Ishaat.com

دوهم : فاسد نېکه، فاسده انا (که څه هم د ټولو سرېره درجې وي) ، دلته په دې پوه سئ چي فاسد نيکه هغه ته ويل کيږي چي د هغه او د مړي په مينځ کي د ښځي واسطه وي لکه د مړي نيکه او د مړي انا يا د انا پلار ، او فاسده انا هغه انا ته وايي چي د هغې او د مړي په مينځ کي فاسد نيکه واسطه وي لکه د انا مور يا د پلار مور ، دا ټول ذوي الارحام دي حال دا چي صحيح نيکه او صحيح انا ذوي الفروض دي، صحيح نيکه هغه نيکه ته ويل کيږي چي د هغه او د مړي په مينځ کي د ښځي واسطه نه وي لکه نيکه ، ور نيکه (يا تر دې سرېره درجې) او صحيح انا هغه انا ته ويل کيږي چي د هغې او د مړي په مينځ کي فاسد نېکه واسطه نه وي لکه انا ، ور انا (يا تر دې د لوړي درجې) .

دريم : د حقيقي خوېندو اولاد ، د ميريزي خويندو اولاد ، د اخيافي خويندو اولاد ، د اخيافي وروڼو اولاد ، د حقيقي وروڼو لوڼي او د ميريزي ورور لوڼي .

څلورم : د اکا ماينې که حقيقي وي او که ميريزی يا اخيافي وي ، اخيافي اکا ، ماما او خاله ګاني .

د ذوي الارحام څلور درجې دي او د عصباتو په ډول د دوی ترتيب هم دادی که په هغه څلورو درجو کي د اول درجې ذوي الارحام وارث موجود وي يا د هغوی اولاد وي نو د پاته درو درجو ذوي الارحام به محروم وي ، همدارنګه د دوهمي درجې د ذوي الارحام په موجودتيا کي د دريمي او څلورمي درجې او د دريمي درجې د ذوي الارحام په موجودتيا کي د څلورمي درجې ذوي الارحام محروم دي او د عصباتو په ډول په ذوي الارحام کي هم په هره درجه کي د نژدې ذي رحم به پر ليري ذي رحم باندي مقدم وي .

د ميراث څخه محروم کوونکي شيان

الله تعالی چي د مړي د مال او سامان د هغه وارثانو ته د ټاکلو برخو او ټاکل سوو قواعدو سره سم کوم حکم ورکړی دی نو په هغه کي د مړي او د هغه د وارثانو په مينځ کي د يو خاص علاقې او تعلق لحاظ ساتل سوی دی ، که يو داسي خبره رامنځته سي چي په هغه سره نه يوازي دا چي د مړي او وارث په مينځ کي د يو خاص علاقې او تعلق اظهار نه کيږي بلکه هغه د يو ډول بېلوالي او نفرت ثابتولو ذريعه جوړه سي نو هغه وارث به د مړي د مېراث حقدار نه وي او هغه ته به هيڅ مېراث نه ورکول کيږي ، داسي څلور شيان دي چي يو سړی د مېراث اخيستلو څخه محروم کوي چي تفصيل يې دادی :

Maktaba Tul Ishaat.com

۱. غلام : نه غلام د يو ازاد سړي وارث کېداى سي او نه ازاد سړی د غلام وارث کېداى سي ځکه چي غلام په شرعي توګه د يو شي د مالک کېدو وړتيا نه لري او نه يو شی د هغه ملکيت وي .

۲. قتل : که يو بالغ وارث خپل مورث قتل کړي نو هغه وارث به د مېراث اخيستلو څخه محروم وي مګر دلته د قتل څخه مراد هغه قتل دی چي د هغه په وجه پر قاتل باندي قصاص يا کفاره واجبېږي، د قتل پنځه ډولونه دي (چي تفصيل به يې وروسته راسي) په هغو کي څلور ډولونه داسي دي چي يا قصاص پکښي واجبېږي او يا کفاره او ديت پکښي واجبېږي نو په دغه څلرو صورتو کي د حنفي مذهب سره سم قاتل د مېراث څخه محروم دی کله چي هغه خپل مورث په ناحقه قتل کړي ، مګر که چيري وارث خپل مورث په ظلم سره قتل نه کړي بلکه د خپل ځان په دفاع کولو سره پر هغه مورث باندي وار وکړی او مورث ووژل سي مثلا مورث په ناحقه پر هغه وارث حمله وکړه او بيا هغه وارث د خپل ځان ساتني لپاره پر مورث وار وکړی او د هغه په نتيجه کي مورث مړ سو ، يا پر مورث باندي شرعا په يو وجه د قتل سزا واجب وي (مثلا د قصاص په توګه) يا پر هغه يو حد جاري کول ضروري وي او د پاچا يا قاضي په حکم سره وارث هغه قتل کړي يا پر هغه حد جاري کړي او هغه مړ سي نو په دغه صورت کي به هم وارث د مېراث څخه محروم نه وي . د قتل په پنځو ډولو کي يو ډول قتل بالتسليب دی د قتل په دغه ډول سره نه قصاص لازمېږي او نه کفاره بلکه يوازي ديت واجبېږي، په دغه ډول قتل کي قاتل د مېراث څخه نه محروم کيږي ، د قتل بالتسليب صورت دادی چي د مثال په توګه يو سړی د بل سړي په مځکه کي د مالک د اجازې څخه پرته ډبري کښېږدي يا ځاه وکاږي او د ډبري سره په لګېدو يا په ځاه کي په لوېدو سره يو سړی مړ سي نو پر هغه سړي ديت واجبېږي ، همدارنګه د حنفيه مذهب دادی که يو نابالغ يا ليونی خپل مورث قتل کړي نو هغه د مېراث څخه نه محروم کيږي ځکه چي د نابالغ او ليوني پر اکثرو افعالو باندي په شرعي توګه سزا او جزاء نه واجبېږي.

۳. د مذهب اختلاف : د دوو مذهبو اختلاف د مېراث څخه محروميت راولي يعني که چيري يو وارث مسلمان وي او مورث غېر مسلم (کافر) وي نو د هغه مېراث به مسلمان ته نه ورکول کيږي همدارنګه که چيري وارث غير مسلم وي او مورث مسلمان وي نو د هغه مېراث به غير مسلم ته نه ورکول کيږي .

Maktaba Tul Ishaat.com

۴. د دارينو اختلاف: يعني د هيوادو اختلاف، د مړي او وارث د هيوادو مختلف کېدل د مېراث څخه محروم کوي د مثال په توګه يو سړی په دارالاسلام کي اوسيږي او بل سړی په دارالحرب کي اوسيږي نو دواړه د يو بل د مېراث څخه محروم دي مګر دا حکم د غير مسلم لپاره دی د مسلمان مورث او وارث د هيوادو په اختلاف سره د ميراث څخه نه محروم کيږي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د مړي ترکه د هغه د وارثانو حق دی

﴿۲۹۱۱﴾: عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ انا اولى بالمؤمنين

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زه و مسلمانانو ته د خپلو

من انفسهم فَمَنْ مات وعليه دين و لم يترك وفاء فعلي قضاءه و من تَرَكَ

ځانو هم ګران يم په مسلمانانو کي چي څوک مړ سي او په هغه باندي قرض وي او دومره مال پرې نه ږدي چي د هغه قرض په ادا سي نو د هغه قرض زما په ذمه دي او څوک چي مړ سي او مال

مَالًا فَلِوَرَثَتِهِ و في رواية مَنْ تَرَكَ دينا او ضياعا فليأتني فانا مولاه وفي رواية من ترك مالا فلورثته ومن ترك كَلًّا فَإِلَيْنَا. متفق عليه.

پرېږدي نو هغه د هغه د وارثانو دي په يوه بل روايت کي دا الفاظ دي رسول الله ﷺ فرمايلي دي څوک چي مړ سي او قرض يا کوچيان پرېږدي هغه ولي دي ما ته راسي زه به د هغه انتظام کوم او په يوه بل روايت کي دا الفاظ سته څوک چي مړ سي مال ځيني پاته سي نو هغه مال د هغه د وارثانو دي او څوک چي مړ سي قرض يا اولاد پرېږدي نو د هغه انتظام زما پر ذمه دي. (بخاري او مسلم)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۲\۴۹، رقم: ۶۷۶۳، ومسلم ۳\۱۲۳۸، رقم: ۱۷\۱۶۱۹.

د لغاتو حل: ضِيَاعًا: اى عيالا (عيال). كَلًّا: اى ثقلا وهو يشمل الدين والعيال (پور او عيال).

تشريح: په پيل کي د رسول الله ﷺ دا معمول وو چي کله به يو سړی مړ سو نو که چيري د هغه پر ذمه به پور وو او د هغه په مېراث کي به دومره مال نه وو چي د هغه د پور ادا کولو لپاره کافي وي نو رسول الله ﷺ به د هغه د جنازې لمونځ نه ورکوی مګر څه وخت چي الله تعالى پراخي

Maktaba Tul Ishaat.com

راوستل او د مال د پراخۍ نعمت ور په برخه سو نو رسول الله ﷺ دا معمول جوړ کړی چې کوم سړی به پوروړی مړ سو نو رسول الله ﷺ به د هغه پور ادا کوی او د هغه د جنازې لمونځ به یې کوی ، دغه خبره د حضرت ابوهریره رضی الله عنه د دغه روایت څخه مفهوم کیږي چې کومه خبره د الافلاس والانظار په اول فصل کې تېره سوې ده او دا د رسول الله ﷺ د بې پایه شفقت، مهربانۍ او د زیات رحمت څرګندونه ده کوم چې رسول الله ﷺ د ټولو مسلمانانو لپاره درلودی.

د مړي ترکه اول ذوي الفروض ته ورکړئ

﴿۲۹۱۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلْحِقُوا الْفَرَائِضَ بِأَهْلِهَا فَمَا بَقِيَ فَهُوَ لِأَوْلَى رَجُلٍ ذَكَرٍ . متفق عليه.

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل :د میراث برخه دي د هغه وارثانو ته ورکړل سي وروسته چې څه پاته سي نو هغه د زیات نژدې سړی لپاره دي .بخاري او مسلم

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۲\۱۱، رقم: ۶۷۳۲، ومسلم ۳\۱۲۳۸، رقم: ۱۷\۱۶۱۹.

تشريح: مطلب دادی چې د مړي ترکه تر ټولو مخکې هغه خلکو ته ورکول کیږي د کومو برخې چې قرآن کریم ټاکلي دي چې هغوی ته ذوي الفروض ویل کیږي ، هغوی د ټاکل سوو برخو ورکولو څخه وروسته چې څه پاته سي هغه عصبات ته ورکول کیږي او بیا په عصبات کې مقدم هغه عصبه دي کوم د مړي تر ټولو نژدې قریبان وي ، د نژدې عصبه په موجودتیا کې د لیري عصبه حق نه سته ، د باب په شروع کې د ذوي الفروض او عصباتو تفصیلي ذکر سوی دی

د حدیث په آخري الفاظو (رجل ذکر) کې لفظ د ذکر د تاکید لپاره هم استعمال سوی دی او ددې مقصد دا هم دی چې د خنثی څخه دي منع وکړل سي .

په شرح السنه کې لیکلي دي چې دغه حدیث شریف ددې خبري دلیل دی چې ځیني وارثانو د ځینو نورو وارثانو په حق کې حاجب (یعني د مېراث څخه منع کونکی) وي، حجب یعني د مېراث څخه منع کول پر دوه ډوله دي : اول حجب نقصان، دوهم حجب حرمان، دلته په اجمالي توګه سره د دغه دواړو په تعریف پوه سئ چې ځیني وارثان داسي وي چې د هغوی په وجه د نورو وارثانو برخه کمیږي مثلا د مړي اولاد نه وي نو د مړي مور ته به د ټولي مځکي څخه دریمه برخه ورکول کیږي او که چیري د مړي اولاد وي نو د مړي مور ته به شپږمه برخه ورکول کیږي دې ته حجب نقصاني وایي همدارنګه ځیني وارثان داسي وي چې د هغوی په وجه

Maktaba Tul Ishaat.com

ځينو قريبانو ته د ميراث څخه هيڅ نه ورکول کيږي د مثال په توګه د مړي د زوی په موجودتيا کي ورور د ميراث څخه بالکل محروم وي .

د مذهب اختلاف د ميراث څخه محرومتيا راولي

﴿۲۹۱۳﴾: وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قال قال رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَرِثُ الْمُسْلِمُ الْكَافِرَ وَلَا الْكَافِرُ الْمُسْلِمَ . متفق عليه

د حضرت اسامه بن زيد ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : مسلمان د کافر او کافر د مسلمان نسي وارث کېدای .(بخاري او مسلم)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۲\ ۵۰، رقم: ۶۷۶۴، ومسلم ۳\ ۱۲۳۳، رقم: ۱\ ۱۶۱۴.

تشريح: علامه نووي ﷫ فرمايي چي پر دې خبره باندي د ټولو علماؤ اتفاق او اجماع ده چي کافر د مسلمان وارث نه سي کيدای يعني که يو مورث مسلمان وي او وارث کافر وي نو د مسلمان مورث د مړ کېدو څخه وروسته د هغه کافر وارث به د ميراث څخه محروم وي مګر په دې باره کي اختلاف دی چي مسلمان د کافر وارث کيدای سي که يا ؟ اکثر علماء وايي چي څرنګه کافر د مسلمان وارث نه سي کيدای همدارنګه مسلمان هم د کافر وارث کيدای نه سي مګر په صحابه کرامو او تابعينو کي د ځينو حضرات قول دادی چي مسلمان د کافر وارث کيدای سي د امام مالک ﷫ هم دا مذهب دی .

همدارنګه پر دې باندي هم د ټولو مسلمانانو اتفاق دی چي د کافر په ډول مرتد هم د مسلمان وارث کيداې نه سي مګر په دې باره کي اختلاف دی چي مسلمان د مرتد وارث کيدای سي که يا ؟ امام مالک ، امام شافعي، حضرت ربيعه او حضرت ابن ابي ليلی رحمة الله عليهم او داسي نور علماء وايي چي مسلمان هم د مرتد وارث کېدای نه سي ، امام ابو حنيفة ﷫ فرمايي چي مرتد د خپل ارتداد په ژوند کي چي څه ګټلي وي هغه به د بيت المال وي او د اسلام په حالت کي چي يې څه ګټلي وي نو هغه به د هغه د مسلمانانو وارثانو وي .

ازاد کونکی د غلام وارث وي

﴿۲۹۱۴﴾: وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَوْلَى الْقَوْمِ مِنْ أَنْفُسِهِمْ . رواه البخاري.

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت انس رضی اللہ عنہ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د يوه قوم ازاد سوي غلام د هغه د خپل قوم څخه نه شمېرل کيږي. (هغه په ميراث کي شريک کيږي) (بخاري)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۲\۴۸، رقم: ۶۷۶۱.

تشريح: په حديث شريف کي د مولا څخه مراد ازادونکی دی، د دغه حديث مطلب دادی چي د ازاد سوي غلام وارث هغه څوک دی چا چي هغه ازاد کړی دی، دده پر خلاف ازاد سوی غلام خپل ازادونکي وارث نه دی، ځيني حضرات وايي چي د مولی څخه مراد ازاد سوی غلام دی يعني کومه قبيله او فرد چي يو غلام ازاد کړي نو د هغه ازاد سوی غلام به هغه حکم وي کوم چي د هغه د ازادونکي قبيلې يا فرد وي مثلاً بني هاشم يو غلام ازاد کړی نو اوس هغه ازاد سوی غلام د زکوة په اړه د بني هاشم په ډول حکم لري لکه څرنګه چي پر بني هاشم باندي د زکوة مال حرام دی همدارنګه پر هغه ازاد سوي غلام باندي هم د زکوة مال حرام دی.

خوريی د ماما وارث وي

﴿۲۹۱۵﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابْنُ أُخْتِ الْقَوْمِ

د حضرت انس رضی اللہ عنہ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د قوم خوريي د هغو سره دي

مِنْهُمْ. متفق عليه" وذكر حديث عائشة: "إنما الولاء" في باب قبل "باب

(يعني خوريي د ماما د مال وارث وي). (بخاري او مسلم) د بي بي عائشې حديث دی د بلوغ

السلم وسنذكر حديث البراء الخالة بمنزلة الام في باب بلوغ الصغير و حضائته ان شاء الله تعالى.

الصغير و حضالته په باب کي به انشاء الله بيان کړل سي.

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۲\۴۸، رقم: ۶۷۶۲، ومسلم ۲\۷۳۵، رقم: ۱۰۵۹\۱۳۳

تشريح: مطلب دادی چي خوريی د خپل ماما وارث دی او هغه د ذوي الارحامو څخه دی، د امام ابوحنيفة او امام مالک رحمة الله عليهما په نزد ذوي الارحام د مړي وارثان دي مګر دا خبره ضروري ده چي ذوي الارحکام ته به د مړي ميراث هغه صورت کي ورکول کيږي کله چي د مړي ذوي الفروض او عصبات نه وي، ددغه دواړو په موجودتيا کي ذوي الارحامو ته هيڅ نه ورکول کيږي ددې تفصيل د باب په شروع کي تېر سوی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

په هر حال امام ابو حنيفة رحمة الله عليه د ذوي الارحامو پر وارث کېدو باندي د دغه حديث څخه استدلال کړی دی.

او د بي بي عائشي رضي الله عنها روايت (انما الولاء...الخ) د باب السلم څخه مخکي په باب کي نقل سوی دی او د حضرت براء رضي الله عنه روايت (بمنزلة الام...الخ) به په باب بلوغ الصغير وحضانته کي ذکر سي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي　　(دوهم فصل)

كافر د مسلمان او مسلمان د كافر وارث كيداى نه سي

﴿۲۹۱۶﴾: عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَتَوَارَثُ أَهْلُ مِلَّتَيْنِ شَتَّى. رواه ابوداؤد وابن ماجة ورواه الترمذي عن جابر.

د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: دوه جلا مذهبه خلک يو د بله نسي وارث کيدای. (ابو داؤد ابن ماجه) او په ترمذي کي د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت نقل سوي دي.

تخريج: ابوداود في السنن ۳\۳۲۸، رقم: ۲۹۱۱، وابن ماجه ۲\۹۱۳، رقم: ۲۷۳۱.

تشريح: مطلب دادی چي نه خو مسلمان د غير مسلمان وارث کېدای سي او نه غير مسلمان د مسلمان وارث کېدای سي.

د خپل مورث قاتل د ميراث څخه محروم وي

﴿۲۹۱۷﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْقَاتِلُ لَا يَرِثُ. رواه الترمذي وابن ماجة.

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: قاتل د مقتول د مال وارث نه دي. (ترمذي ابن ماجه)

تخريج: الترمذي في السنن ۴\۳۷۰، رقم: ۲۱۰۹، وابن ماجه ۲\۹۱۳، رقم: ۲۷۳۵.

تشريح: مطلب دادی چي کوم څوک خپل مورث په ناحقه قتل کړي نو هغه د مېراث څخه محروم دی په دې باره کي تفصيل د باب په شروع کي تېر سوی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

د انا شپږمه برخه ده

﴿۲۹۱۸﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَعَلَ لِلْجَدَّةِ السُّدُسَ إِذَا لَمْ تَكُنْ دُونَهَا أُمٌّ. رواه ابوداود.

د حضرت بريده ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د انا لپاره شپږمه برخه ټاکلې ده په دې شرط چي مور نه وي موجوده .(ابو داؤد)

تخريج: ابوداود في السنن ۳\۳۱۷، رقم: ۲۸۹۵.

تشريح: مطلب دادی که چيري د مړي مور ژوندۍ وي نو د هغې په وجه د مړي انا محرومه کيږي مګر که چيري د مړي مور ژوندۍ نه وي نو د هغه د مېراث څخه به انا ته شپږمه برخه ورکول کيږي دلته د جده څخه د مور مور او د پلار مور دواړي مراد دي .

ژوندی پيدا کېدونکی ماشوم وارث دی

﴿۲۹۱۹﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَهَلَّ الصَّبِيُّ صُلِّيَ عَلَيْهِ وَوُرِثَ. رواه ابن ماجة والدارمي .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :کوچنی (د پيدا کېدو څخه وروسته)که چغه ووهي (يا دهغه د خولې څخه يو اواز را ووځي وروسته مړ سي)نو په هغه جنازه کول پکار ده او هغه دي وارث جوړ کړل سي . (ابن ماجه دارمي) .

تخريج: ابن ماجه في السنن ۲\۹۱۹، رقم: ۲۷۵۰، والدارمي ۲\۴۸۵، رقم: ۳۱۲۶.

تشريح: د اواز کښلو څخه مراد د ژوند نښه ده ، مطلب دادی چي کوچنی د زېږېدني پر وخت د مور څخه نيم راووځي او په هغه کي د ژوند يو نښه پيدا سي په دې توګه چي د هغه د خولې څخه اواز راووځي يا ساه واخلي يا د هغه يو اندام وښوريږي او بيا مړ سي نو د هغه کوچني دې د جنازې لمونځ هم وکړل سي او د هغه په وارث ګرځولو سره د هغه ورثه دي هم وويشل سي .

اوس د حديث د دغه وضاحت په رڼا کي په دغه مسئله باندي هم پوه سئ که يو سړی مړ سي او د هغه وارث د مور په نس کي وي نو د هغه ميراث دي وساتل سي بيا که چيري هغه ژوندی پيدا سي نو هغه به وارث وي او د هغه ميراث به د هغه وارثانو ته منتقل کړل سي او که چيري هغه ژوندی پيدا نه سي نو بيا وارث نه دی او د هغه ميراث به نورو وارثانو ته ورکول کيږي .

Maktaba Tul Ishaat.com

د اسلام د ابتداء يو حکم

﴿۲۹۲۰﴾: وَعَنْ كَثِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ

حضرت کثير بن عبد الله رضی الله عنه د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَوْلَى الْقَوْمِ مِنْهُمْ وَحَلِيفُ الْقَوْمِ مِنْهُمْ وَابْنُ أُخْتِ الْقَوْمِ مِنْهُمْ. رواه الدارمي

د يوه قوم ازاد سوي غلام د قوم څخه دي (يعني که د غلام څوک عصبه نه وي نو دهغه د مال وارث دهغه ازادونکي دي) او د قوم حليف (قريب) هم د قوم څخه دي .(د احکم د اسلام په پېل کي وو وروسته منسوخ کړل سو) او د قوم خوريي د قوم څخه دي . (دارمي) .

تخريج: سنن الدارمي ۲\۳۱۷، رقم: ۲۵۲۸.

تشريح: په اول فصل کي د حضرت انس رضی الله عنه روايت تېر سوی دی او د هغه په تشريح کي د مولی وضاحت سوی دی .

او نه د يو قوم حليف د هغه قوم څخه دی : د دې مطلب دادی چي مخکي په عربو کي دا رواج وو چي دوو کسانو به په خپل مينځ کي د قسم او حلف په ذريعه اقرار وکړ چي موږ دواړه به د يو بل سره په غم او خوشحالي، مرګ او ژوند کي شريک يو ، د يوه وينه به د بل وينه وي د يوه صلح به د بل صلح وي او د يوه جګړه به د بل جګړه وي که په موږ کي پر يوه تاوان راسي نو دوهم به يې ادا کوي همدارنګه د يو بل په ميراث کي هم دا اقرار کوي چي زه به ستا وارث يم او ته به زما وارث يې ، د مېراث په اړه د اسلام په ابتدائي زمانه کي هم پر دې عمل کيدی مګر وروسته په قرآن کريم کي د وراثت يوه واضحه قاعده نازل سوه او وارثان او د هغوی برخي وټاکل سوې نو دغه پخوانی رواج هم ختم سو او د رسول الله ﷺ دغه ارشاد هم منسوخ سو .

خوريی د خپل ماما ذي رحم وارث وي

﴿۲۹۲۱﴾: وَعَنِ الْمِقْدَامِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا أَوْلَى

د حضرت مقدام رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زه د هر مؤمن لپاره د هغه د

Maktaba Tul Ishaat.com

بِكُلِّ مُؤْمِنٍ مِنْ نَفْسِهِ فَمَنْ تَرَكَ دَيْنًا أَوْ ضَيْعَةً فَإِلَينا وَمَنْ تَرَكَ مَالًا

ځان څخه زيات ګران يم نو څوک چي قرض يا اولاد پرېږدي او مړ سي زه د هغه کفيل يم او څوک چي مال پرېږدي

فَلِوَرَثَتِهِ وَأَنَا مَوْلَى مَنْ لَا مَوْلَى لَهُ أَرِثُ مَالَهُ وَأَفُكُّ عَانَهُ وَالْخَالُ مَوْلَى مَنْ لَا

نو هغه د هغه د وارثانو ... ي او زه د هغه سړي مولا يم چي د هغه هيڅوک مولا نه وي او د هغه د مال وارث يم (يعني د چا چي هيڅوک وارث نه وي د هغه وارث زه يم زه به د هغه مال په بيت المال کي جمعه کړم ځکه چي انبياء عليهم السلام په حقيقت کي د چا د مال وارثان نه وي) او د هغه قيدي د عذاب د قيد څخه خلاصونکي يم او ماما د هغه چا وارث دي چي د هغه نور څوک

مَوْلَى لَهُ يَرِثُ مَالَهُ وَيَفُكُّ عَانَهُ و في رواية وَأَنَا وَارِثُ مَنْ لَا وَارِثَ لَهُ أَعْقِلُ لَهُ

وارث نه وي هغه به د هغه مال بيا پيدا کوي او د هغه قيدي به خلاصوي او په يو بل روايت کي دا الفاظ دي چي نبي کريم ﷺ وفرمايل: زه د هغه چا وارث يم چي د هغه بل څوک وارث نه وي

وَأَرِثُهُ وَالْخَالُ وَارِثُ مَنْ لَا وَارِثَ لَهُ يَعْقِلُ عَنْهُ وَيَرِثُهُ .

زه به د هغه قصاص ادا کوم او د هغه وارث به جوړېږم ماما د هغه وارث دي چي د هغه بل هيڅوک وارث نه وي د هغه قصاص به ادا کوي او هغه به يې مال اخلي. (ابوداؤد).

تخريج: سنن ابي داود ۳\۳۲۰، رقم: ۲۹۰۰،

ښځه د چا ميراث تر لاسه کولای سي؟

﴿۲۹۲۲﴾: وَعَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحُوزُ الْمَرْأَةُ ثَلَاثَةَ مَوَارِيثَ عَتِيقَهَا وَلَقِيطَهَا وَوَلَدَهَا الَّذِي لَاعَنَتْ عَلَيْهِ .رواه الترمذي وابوداؤد وابن ماجة.

د حضرت واثله بن اسقع رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ښځه د درو سرو ميراث اخيستلای سي: ۱-يو خو د خپل ازاد سوي غلام يا مينزي. ۲-د لقيط (يعني د هغه يا

Maktaba Tul Ishaat.com

هغې کوچني چيري پروت وي او د هغه روزنه وکړي ۳-او هغه کوچنی چي د هغه په پيدائش لعان سي. (ترمذي ابو داؤد ابن ماجه).

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۳۷۳، رقم: ۲۱۱۵، وابوداود ۳\ ۳۲۵، رقم: ۲۹۰۶، وابن ماجه ۲\ ۹۱۶، رقم: ۲۷۴۲.

تشريح: د خپل ازاد سوي غلام څخه مراد دادی چي د مثال په توګه يو ښځه خپل غلام ازاد کړي او هغه ازاد سوی غلام په داسي حالت کي مړ سي چي د هغه نسبي عصبه نه وي نو څرنګه چي يو سړی په دغه صورت کي د خپل ازاد سوي غلام وارث کيږي همدارنګه دغه ښځه هم د خپل ازاد سوي غلام ميراث تر لاسه کولای سي.

د لقيط څخه مراد دادی چي د مثال په توګه يو ښځه په لاره کي يو پروت کوچنی پيدا کړي او د هغه روزنه وکړي او لوی يې کړي نو اوس دغه ښځه د هغه وارثه سوه چي د هغه لقيط د مړ کېدو څخه وروسته د هغه ميراث تر لاسه کړي، د حضرت اسحاق ابن راهو رحمة الله عليه دا مذهب دی مګر د نورو علماؤ مذهب دادی چي ملتقط (يعني د کوچني پورته کونکی) د ولاء حق نه لري، مطلب دادی چي کومه ښځه يو کوچنی پيدا کړي او لوی يې کړي نو د هغه نه وارثه کيږي ځکه چي رسول الله ﷺ د خپل ارشاد (لا ولاء لها الا ولاء العتاقة) په ذريعه د ليقط حق د ازادونکي سره مختص کړی دی، ددغه علماؤ په نزد دغه حکم دی چي ښځه د خپل لقيط وارثه وي دا منسوخ دی.

قاضي رحمة الله عليه چي ددغه حکم کوم مطلب بيان کړی دی د هغه سره سم دې ته د منسوخ ويلو ضرورت هم نه سته، قاضي رحمة الله عليه وايي چي ددغه جملې معنی داده چي د لقيط پرې ايښی مال او سامان د بيت المال حق دی مګر کومي ښځي چي لقيط پورته کړی دی او د هغه روزنه يې کړې ده نو هغه د نورو مسلمانانو په مقابله کي ددې زياته حقداره ده چي د بيت المال له طرفه هغه مال کوم چي لقيط پرې ايښی دی په هغه ښځي باندي مصرف کړل سي.

لعان دې ته وايي چي يو سړی پر خپل ښځي باندي زنا تهمت ولګوي يا کوم ماشوم چي پيدا سوی دی د هغه په باره کي دا ووايي چي دا زما کوچنی نه دی او هغوی په دغه وجه په خپلو کي پر يو بل لعنت او ملامتيا وکړي، ددې تفصيلي ذکر به په باب اللعان کي راسي انشاء الله، نو د کوم کوچني په پيدا کېدو کي چي لعان سوی وي د هغه کوچني نسب د پلار څخه ثابت نه دی او نه هغه کوچنی او پلار په خپلو کي د يو بل وارث کيدای سي ځکه چي د وراثت تعلق د نسب سره دی چي په دغه صورت کي نه سته البته د هغه کوچني نسب د مور څخه ثابتيږي ځکه

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه کوچنی او مور به خپلو کي د يو بل وارث وي ، د ولد الزنا هم دغه حکم دی .

د ولد الزنا حکم

﴿۲۹۲۳﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

حضرت عمرو بن شعيب رضي الله عنه د خپل پلار ه څخه او هغه د خپل پلار ه څخه روايت کوئ چي رسول

وَسَلَّمَ قَالَ أَيُّمَا رَجُلٍ عَاهَرَ بِحُرَّةٍ أَوْ أَمَةٍ فَالْوَلَدُ وَلَدُ زِنَا لَا يَرِثُ وَلَا يُورَثُ .

رواه الترمذي.

الله ﷺ وفرمایل : څوک چي ازادي ښځي یا مینزي سره زنا وکړي او د هغه د زنا د نطفي څخه کوچنی پیدا سي نو کوچني ته ولد زنا ویل کیږي نه هغه د چا وارث کیږي او نه د هغه میراث د چا کیږي . (ترمذي) .

تخريج: الترمذي في السنن ۴\ ۳۷۲، رقم: ۲۱۱۳.

تشريح: مطلب دادی چي د زنا په نتیجه کي پیدا کېدونکی کوچنی نه د زنا کونکي وارث وي او نه د هغه د قریبانو میراث به هغه ته ورکول کیږي ځکه چي وراثت د نسب په وجه وي او د ولد الزنا او د زنا کونکي په مینځ کي د نسب هیڅ وجود نه وي همدارنګه زنا کونکی به هم د خپل ولد الزنا وارث نه وي او نه د هغه قریبان به د هغه میراث تر لاسه کولای سي ، ددې برعکس د ولد الزنا مور به د هغه وارثه وي او ولد الزنا به د مور وارث وي .

د ازاد سوي غلام میراث

﴿۲۹۲۴﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ مَوْلًى لرسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَاتَ وَتَرَكَ

د حضرت بي بي عائشي رضي الله عنها څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ یو ازاد سوی غلام مړ سو او د

شَيْئًا وَلَمْ يَدَعْ حميما ولا وَلَدًا فَقَالَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْطُوا مِيرَاثَهُ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ قَرْيَتِهِ . رواه ابوداؤد والترمذي.

هغه هیڅ خپل پاته نسو چي وارثان سوي یې واي رسول الله ﷺ وفرمایل: د هغه مال په کلیوالو کي (مستحق) ته دي ورکول سي . (ابو داؤد ترمذي)

تخريج: ابوداود في السنن ۳\ ۳۲۲، رقم: ۲۹۰۲، والترمذي ۴\ ۳۶۸، رقم: ۲۱۰۶.

دلغاتو حل: حمیما : ای قریبا. (دوست).

تشریح د هغه ازاد سوي غلام وارث نه وو ځکه د هغه مېراث د بیت المال حق سو او د بیت المال مصرف د فقیرانو او مسکینانو دي ځکه رسول الله ﷺ د هغه مال د هغه د کلي یو اړ او مستحق سړي ته ورکول غوره وګڼل.

انبیاء علیهم السلام د چا وارثان نه وي

دا خبره مخکي واضح سوې ده که چیري د ازاد سوي غلام عصبات نسبي نه وي نو د هغه حق ولاء د هغه ازادونکي سړي ده یعني د هغه دمرګ څخه وروسته د هغه ازادونکی د هغه د میراث مالک کیږي ددغه قاعدې سره کله چي د رسول الله ﷺ ازاد سوی غلام مړ سو او د هغه نسبي وارث نه وو نو د هغه مېراث رسول الله ﷺ ته اخیستل پکار وه مګر انبیاء علیهم السلام د چا وارثان نه وي او نه څوک د انبیاء علیهم السلام وارثان وي ځکه د هغه ازاد سوي غلام مېراث رسول الله ﷺ خپله وانه خیستی بلکه د بیت المال په مصرف کي یې ورکړ.

اوس دا سوال پیدا کیږي چي انبیاء علیهم السلام د چا وارثان ولي نه دي او د هغوی مېراث ولي یو چا ته نه ورکول کیږي ؟ ددې جواب دادی چي انبیاء علیهم السلام د دنیا د بې ثباتۍ او د دنیا د مال او سامان سره د بې تعلقۍ او د دنیا د خواهشاتو څخه د پرهیز کولو نه یوازي دا چي تعلیم ورکوي بلکه خپل تعلیم یې خپله هم عملي کوی او د دنیا هیڅ یو شی د هغوی لپاره ارزښت نه درلودی، د هغوی پر حقیقت شناس نظر باندي د غفلت پرده نه وه ځکه د الله تعالی د حقیقي مالک او متصرف کېدو مشاوره او کامل یقین هغوی ته تر لاسه وو، د دنیا د مال او سامان د مستعار کېدو او په دنیا کي د انسان د مسافرانه حالت نقشه د هغوی په ذهن کي وه ځکه نو نه خو د هغوی د دنیا د مال او سامان سره څه مینه وه او نه د هغوی دا خواهش وو چي زموږ د قریبانو میراث موږ ته ترلاسه سي او نه به هغوی ته ددغه دنیا څخه د رخصت کېدو پر وخت د خپل مال او سامان د پرېښودو څه افسوس وو ځکه چي اول خو د انبیاء علیهم السلام سره د دنیا مال او سامان نه وو او که چیري یو لږ مال او سامان به وو نو د هغه سره به یې هیڅ مینه نه وه چي انبیاء علیهم السلام ددغه دنیا څخه د رخصتېدو وروسته که مال او سامان پرېږدي نو هغه به هم د چا وراثت نه وي او نه انبیاء علیهم السلام په خپل ژوند کي د خپل قریبانو د مېراث څخه برخه اخیستې ده، رسول الله ﷺ د ټولو انبیاؤ علیهم السلام شان په دغه الفاظو کي ظاهر کړ : انا معاشر الانبیاء لا نورث ما ترکنا صدقة : یعني زموږ د نبیانو په مال او سامان کي میراث نه جاري کیږي موږ چي څه پرېږدو هغه صدقه ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

د چا چي هیڅوک وارث نه وي ...

﴿۲۹۲۵﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ مَاتَ رَجُلٌ مِنْ خُزَاعَةَ فَأُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت بریده ﷛ څخه روایت دی چي د خزاعه د قبیلې یو سړی مړ سو د هغه میراث يې و

وَسَلَّمَ بِمِيرَاثِهِ فَقَالَ الْتَمِسُوا لَهُ وَارِثًا أَوْ ذَا رَحِمٍ فَلَمْ يَجِدُوا لَهُ وَارِثًا وَلَا ذَا

رسول الله ﷺ ته راوړ نو رسول الله ﷺ وفرمایل: د ده د وارث تلاش وکړئ نو يې هیڅوک

رَحِمٍ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْطُوهُ الْكُبْرَ مِنْ خُزَاعَةَ. رواه

ابوداؤد وفي رواية له انْظُرُوا أَكْبَرَ رَجُلٍ مِنْ خُزَاعَةَ.

وارث پیدا نسو نبي کریم ﷺ وفرمایل: د بنو خزاعه په قبیله کي چي کوم یو مشر وي دا مال و هغه ته ورکړي. (ابو داؤد)او د ابوداؤد په یوه بل روایت کي راغلي دي نبي کریم ﷺ وفرمایل: د بنو خزاعه په قبیله کي تر ټولو د مشر تلاش وکړئ.

تخريج: ابوداود في السنن ۳\ ۳۲۴،رقم: ۲۹۰۴.

تشريح: د دغه حدیث تشریح هم هغه ده کوم چي په پورتني حدیث کي سوې ده، د هغه سړي هیڅوک وارث نه وو ځکه د هغه ترکه به په بیت المال کي جمع کېدل، رسول الله ﷺ دا مناسب وګڼل چي د هغه ترکه دي د هغه قبیلې یو ډېر سپینږیري سړي ته ورکړل سي ځکه چي دا سي سړي د بیت المال مصرف هم دی او د هغه د قبیلې د یو فرد کېدو او د خپل سپین ږیرتوب په وجه تر ټولو زیات مستحق هم دی.

د مړي د پور ادا کول د هغه تر وصیت مخکي دي

﴿۲۹۲۶﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ إِنَّكُمْ تَقْرَءُونَ هَذِهِ الْآيَةَ { مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوصُونَ

حضرت علي ﷛ (یوه ورځ) خلکو ته يې وویل: تاسو دا ایت وایاست: من بعد وصية توصون

بِهَا أَوْ دَيْنٍ } وَإِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى بِالدَّيْنِ قَبْلَ الْوَصِيَّةِ

بها او دين (چي په دې کي مخکي تر قرض د وصیت حکم سوی دی) لیکن د رسول الله ﷺ دا

وَإِنَّ أَعْيَانَ بَنِي الْأُمِّ يَتَوَارَثُونَ دُونَ بَنِي الْعَلَّاتِ الرَّجُلُ يَرِثُ أَخَاهُ لِأَبِيهِ

Maktaba Tul Ishaat.com

معمول وو چي حقيقي ورونه به د پلاره وارثان وي نه مورني ورونه او دا چي سړی به د خپل

وَأُمِّهِ دُونَ أَخِيهِ لِأَبِيهِ. رواه الترمذي و ابن ماجة و في رواية الدارمي قال الاخوة من الام يتوارثون دون بني العلات الى آخره.

ورور وارث وي نه مورني ورونه. (ترمذي ابن ماجه) او د دارمي په يو. بل روايت كي راغلي دي چي حضرت علي ﷛ فرمايلي دي: د يو مور پلار ورونه (سكني ورونه) د يو بل وارثان دي نه هغه ورور چي فقط په پلار كي سره شريكان وي (يعني مورني ورونه) ترا خرد حديث پوري.

تخريج: الترمذي في السنن ۴\ ۳۶۲، رقم: ۲۰۹۴، وابن ماجه في السنن ۲\ ۹۱۵، رقم: ۲۷۳۹، والدارمي ۲\ ۴۶۴، رقم: ۲۹۸۴.

د لغاتو حل: بني العلات: وهم الاخوة لاب وامهاتهم شتى.

تشريح: په حديث شريف كي د ذكر سوي آيت كريمه خلاصه داده كه چيري مړي وصيت كړی وي نو د هغه د پوره كولو څخه وروسته، او كه چيري د هغه پر ذمه پور وي نو د هغه د ادا كولو څخه وروسته د هغه په وارثانو كي دي د هغه مال وويشل سي، په دغه آيت كريمه كي په ظاهره د وصيت تعميل د پور پر ادا كولو مقدم سوی دی، او حال دا چي د رسول الله ﷺ دا معمول وو چي د وصيت د تعميل څخه مخكي به يې د پور ادا كولو حكم وركوی، په دې باره كي حضرت علي ﷛ د خلكو څخه پوښتنه وكړه چي تاسو دغه آيت وایاست ايا ددې په معنی پوهيږئ كه يا؟ يعني په داسي ويلو سره حضرت علي ﷛ خلک خبردار كړل چي داسي مه ګڼئ چي د قرآن كريم دغه آيت او د رسول الله ﷺ په مينځ كي اختلاف دی يا دا چي په آيت كريمه كي وصيت مقدم سوی دی ځكه چي د وصيت تعميل د پور پر ادا كولو مقدم دی بلكه دا خبره بايد په ذهن كي وي چي په آيت كريمه كي د الفاظو په اعتبار د پور ادا كول كه څه هم وروسته ذكر سوي دي مګر په حقيقت كي او د حكم په اعتبار داسي ده لكه څرنګه چي رسول الله ﷺ د خپل حكم په ذريعه واضحه كړې ده، اوس پاته سوه دا خبره چي په آيت كريمه كي د وصيت ذكر ولي مخكي سوی دی؟ نو ددې مختصر جواب دادی چي د مړي د وصيت تعميل مشكل كار دی او په دې كي كوتاهي كيدای سي ځكه د وصيت ذكر مقدم كولو سره خبرداری وركړل سو چي د مړي د وصيت تعميل دي اسانه او غير ضروري نه ګڼل كيږي بلكه دا دي يو ارزښتناكه او ضروري شي په ګڼلو سره پوره كړل سي.

Maktaba Tul Ishaat.com

د ميراث د آيت شان نزول

﴿۲۹۲۷﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ جَاءَتْ امْرَأَةُ سَعْدِ بْنِ الرَّبِيعِ بِابْنَتَيْهَا مِنْ سَعْدِ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي د سعد بن ربيع ښځي خپلي دواړي لوڼي چي د سعد

بن الربيع إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ هَاتَانِ

رضي الله عنه د نطفې څخه وې د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضري کړې او عرض يې وکړ يا رسول الله! دا دواړي انجوني

ابْنَتَا سَعْدِ بْنِ الرَّبِيعِ قُتِلَ أَبُوهُمَا مَعَكَ فِي أُحُدٍ شَهِيدًا وَإِنَّ عَمَّهُمَا أَخَذَ

د سعد بن ربيع دي د دوي پلار د احد په غزا کي چي ستاسو ملګري وو شهيد سو او د دوی اکا د دوی مال (چي په ميراث کي دوي ته رسيدل) واخيستي

مَالَهُمَا وَلَمْ يَدَعْ لَهُمَا مَالًا وَلَا تُنْكَحَانِ إِلَّا وَلَهُمَا مَالٌ قَالَ يَقْضِي اللّٰهُ فِي

او د دوی دواړو لپاره يې هيڅ نه پرېښوده او اوس د مال نه درلودلو په خاطر د دوی سره څوک نکاح نه کوي نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: د دې معاملې فيصله به خداي تعالي کوي (يعني د

ذٰلِكَ فَنَزَلَتْ آيَةُ الْمِيرَاثِ فَبَعَثَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى عَمِّهِمَا

وحي په ذريعه به وسي) نو د ميراث ايت نازل سو (يوصيكم الله فی اولادکم) نبي کريم ﷺ سمدستي د انجونو اکا را وغوښت

فَقَالَ أَعْطِ لِابْنَتَيْ سَعْدٍ الثُّلُثَيْنِ وَاعْطِ أُمَّهُمَا الثُّمُنَ وَمَا بَقِيَ فَهُوَ لَكَ. رواه

او حکم يې ورته وکړ چي د سعد و لوڼو ته دوه پر درې ۲/۳ مال ورکړه او اتمه برخه د انجونو و مورته ورکړه او وروسته چي څو مره پاته سي هغه ستا دي.

احمد والترمذي و ابوداؤد وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب.

(ترمذي ابو داؤد احمد ابن ماجه) او په ترمذي کي دا حديث حسن غريب ګڼل سوي دي.

تخريج: احمد في المسند ۳\ ۳۵۲، والترمذي في السنن ۴\ ۳۶۱، رقم: ۲۰۹۲، وابوداود في السنن ۳\ ۳۱۶، رقم: ۲۸۹۲، وابن ماجه في السنن ۲\ ۹۰۸، رقم: ۲۷۲۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

تشریح: د رسول الله ﷺ د پیغمبرۍ او د اسلام د رڼا خپرېدو څخه مخکې د جاهلیت په زمانه کې دا طریقه رواج وه چې د مړي مېراث به یوازې هغه چا اخیستی کوم چې پوره نارینه، ځوان او د جنګ ډګر ته د تللو وړ وو، ښځو، کوچنیانو او کمزورو ته به مېراث نه ورکول کیدی، غریب، بې وزلي، معصوم او یتیم کوچنیان او د رحم وړ انجوني به په ژړا او ارمان کې پاته سوې او د هغوی د پروا کولو څخه پرته به ځوان، قوي او شتمن اکا او ورور راغلی او د مړي ټول مال به یې واخیستی، د ظلم او جبر دغه طریقه رواج وه چې رسول الله ﷺ د کونډو، یتیمانو، مسکینانو، انجونو او بې چاره خلکو د همدرد جوړېدو سره دغه دنیا ته تشریف راوړ او د اسلام نور یې د هر ظلم او جبر او د هرې بدۍ او هرې نا انصافۍ تیاره له منځه یوووړل، تر دې چې د مېراث په اړه د ښځو او انجونو سره د کیدونکې نا انصافۍ ختمولو وخت هم راغلی د ښځو په حق کې د دغه څرګند ظلم د خاتمې ابتداء داسې وسوه چې یو صحابي حضرت اوس ابن ثابت انصاري ﷜ وفات سو، د هغه په قریبانو کې یوه ښځه ام کمحه او درې انجوني (لوڼې) پاته سوې (په ځینو روایتو کې دادي چې دوې لوڼې او یو کوچنی زوی یې وو) حضرت اوس ﷜ د خپل مال او سامان د دوو کسانو لپاره وصیت کړی دی، هغه د جاهلیت د زمانې د رواجي طریقې سره سم د اوس ﷜ ټول سامان د هغه د اکا زوی (یا د ځینو روایتو سره سم د هغه دوو حقیقي وړونو) خالد او عرفطه ته ورکړل، چې د هغه نتیجه دا سوه چې د اوس ﷜ بې وزلې ښځه او د هغه کوچنۍ لوڼې په ژړا سوې او هغوی ته هیڅ هم ورنه کړل سول،

څرګنده ده چې د داسې بې وزلې او لا چاره غریب مسلمانانو همدرد او مرستیال د رسول الله ﷺ څخه پرته بل څوک کیدای سي، هغوی د پریشانۍ او بیرې په حالت کې د رسول الله ﷺ په دربار کې په منډه حاضر سول او وه یې ویل چې د خاوند د مال څخه ما ته څه را کړل سول او نه زما لوڼو ته څه ورکړل سول، څه چې وه هغه خالد او عرفطه ته ورکړل سول. اوس به موږ څه کوو، د دغه حالت په لېدو سره رسول الله ﷺ ته ډېر افسوس وسو مګر په سمدستي توګه رسول الله ﷺ هیڅ نه سوای کولای ځکه چې رسول الله ﷺ خود مختاره حاکم او د خدای ﷻ په خدایي کې شریک نه وو ځکه د خپل ځان څخه یې یو فیصله نه سوه کولای، مګر بیا هم رسول الله ﷺ د اوس ښځې ته په ډاډ ورکولو سره وفرمایل چې ته خپل کور ته بېرته ولاړه سه او په دې اړه تر څو چې د الله تعالی له خوا فیصله کیږي انتظار او صبر کوه، نو رسول الله ﷺ د الله ﷻ د حکم او فیصلې په انتظار کې وو چې دغه آیت کریمه نازل سو:

Maktaba Tul Ishaat.com

لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَاء نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ
وَالأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا،

ژباړه: د نارينوو لپاره هم د هغه شي برخه ده كوم چي مور او پلار او نژدې قريبان يې پرېږدي او د ښځو لپاره هم د هغه څخه برخه ده كوم چي مور او پلار او نژدې قريبان يې پرېږدي كه څه هم هغه شي لږ وي يا ډېر وي دا قطعي برخه ده.

د دغه آيت كريمه د نازلېدو څخه دا معلومه سوه چي د مېراث په اړه د ښځو او لوښو سره تر ننه چي كومه نا انصافي كېدل اوس هغه ختمه سوې ده او په مېراث كي يوازي د خلكو حق نه دى بلكه د ښځو حق هم دى مګر په هر حال آيت مجمل وو چي په هغه كي يوازي د ښځو حق ثابت سوى وو اوس دا وضاحت نه وو سوى چي په مېراث كي د خلكو څومره برخه ده او د ښځو څومره برخه ده ځكه چي د الله تعالى د حكم د نازلېدو څخه وروسته رسول الله ﷺ د اوس رضي الله عنه قريبانو ته وفرمايل چي الله تعالى په مېراث كي د ښځو حق هم تاكلى دى مګر تر اوسه پوري حقدار او د هغه برخه تاكل سوې نه ده ځكه نو تاسو د اوس رضي الله عنه مال وساتئ د هغه څخه هيڅ شى مه مصرف كوئ، ډېر ژر دا سي يو حكم نازلېدونكى دي چي په هغه كي به د برخو تاكنه وكړل سي نو د دغه پيښي ډېري ورځي نه وې تېري سوي چي هغه واقعه پېښه سوه كوم چي په پورتني حديث كي ذكر سوې ده چي د خرزج قبيلي يو ستر انصاري حضرت سعد ابن ربيع رضي الله عنه په دريم هجري كال كي د احد په غزا كي د دوولس زخمونو خوړلو څخه وروسته شهيد سو، د هغه د شهادت څخه وروسته د هغه ورور د جاهليت د زمانې د رواج سره سم د حضرت سعد رضي الله عنه پر ټول مال باندي قبضه وكړل او د هغه ښځه او دواړي لوڼي يې محرومي كړې نو د حضرت سعد رضي الله عنه ښځه د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضره سوه او د دغه نا انصافۍ پر خلاف يې درخواست وكړ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چي لږ صبر وكړه الله تعالى ډېر ژر يو آخري او قطعي فيصله كونكى دى، نو څو ورځي وروسته د دغه آيت كريمه د مېراث په اړه نازل سو:

يُوصِيكُمُ اللهُ فِي أَوْلاَدِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الأُنثَيَيْنِ...،

ژباړه: الله تعالى تاسو ته ستا د اولاد په باره كي حكم دركوي چي د هلك برخه د دوو انجونو برابر ده... الخ.

د دغه آخري فيصلې څخه وروسته كله چي د ټولو وارثانو برخي وټاكل سوې نو رسول الله ﷺ د سعد ابن ربيع ورور ته وفرمايل چي د الله تعالى د حكم سره سم د خپل ورور د مېراث څخه دوه

Maktaba Tul Ishaat.com

پر درې برخې انجونو ته ورکړه او اتمه برخه د هغوی مور ته ورکړه ، ددې څخه وروسته چې څه پاته سي هغه ته واخله یعني سعد رضي الله عنه چې څه پرې ایښې دي د هغه څلورویشت برخې جوړې کړه بیا د هغه څلورویشتو برخو څخه اته اته برخې دواړو انجونو ته ورکړه ، درې برخې د هغوی مور ته ورکړه او پاته پنځه برخې ته واخله .

د لور، ملسۍ او خور برخې

﴿۲۹۲۸﴾: وَعَنْ هُزَيْلِ بْنِ شُرَحْبِيلٍ قَالَ سُئِلَ أَبُو مُوسَى عَنْ بِنْتٍ وَابْنَةِ ابْنٍ

د حضرت هزیل بن شرحبیل رضي الله عنه څخه روایت دی چې د حضرت ابو موسی څخه پوښتنه وسوه یو سړی مړ سو او د هغه یوه لور یوه لمسۍ

وَأُخْتٍ فَقَالَ لِلْبِنْتِ النِّصْفُ وَلِلْأُخْتِ النِّصْفُ وَأْتِ ابْنَ مَسْعُودٍ فَسَيُتَابِعُنِي

او یوه خور وارثان پاته سوه نو مال به یې څنګه تقسیمیږي هغه ورته وویل: لور ته به یې نیمه او خور ته به یې نیمه (او لمسۍ ته به یې نه ورکوي) بیا ابو موسی رضي الله عنه وویل :تا سو و ابن مسعود ته ورسئ او د هغه څخه پوښتنه وکړئ

فَسُئِلَ ابْنُ مَسْعُودٍ وَأُخْبِرَ بِقَوْلِ أَبِي مُوسَى فَقَالَ لَقَدْ ضَلَلْتُ إِذًا وَمَا أَنَا مِنَ

چې هغه زما سره اتفاق کوي (که یا) نو ابن مسعود رضي الله عنه څخه هم دا مسئله وپوښتل او ابو موسی چې څه ویلي وه د هغه څخه هم اګاه سو ابن مسعود رضي الله عنه وویل :زه به ګمراه و شمېرل سم

الْمُهْتَدِينَ أَقْضِي فِيهَا بِمَا قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلَابْنَةِ النِّصْفُ

او ځان بیا د هدایت په لار بیایم که زه د دې فتوی سره موافقت وکړم زه خو به هغه فیصله ورکوم کومه چې رسول الله ﷺ ورکړې ده (یعني) لور ته نیمه

وَلِابْنَةِ ابْنِ السُّدُسُ تَكْمِلَةَ الثُّلُثَيْنِ وَمَا بَقِيَ فَلِلْأُخْتِ فَأَتَيْنَا أَبَا مُوسَى

لمسۍ ته شپږمه چې دوه پر دریمه کیږي (یعني د دوو لوڼو حق دوه پر دریمه دي نو کله چې یوې لور دوه یا د دوو څخه زیاته برخه ورکول کیږي نو لمسۍ ته شپږمه برخه په ورکولو سره دوه پر دریمه کیږي او پاته چې څومره جوړیږي هغه یوه په دریمه د خور ده بیا موږ یعني سوال کوونکي و ابو موسی رضي الله عنه ته راغلو

فَأَخْبَرْنَاهُ بِقَوْلِ ابْنِ مَسْعُودٍ فَقَالَ لَا تَسْأَلُونِي مَا دَامَ هٰذَا الْحَبْرُ فِيكُمْ.

رواه البخاري.

او د دې فیصلې څخه مو هغه اګاه کړ نو هغه وویل: تر څو پورې په تاسو کې چې یو لوی عالم موجود وی (یعني ابن مسعود رضي الله عنه) تر هغه وخته پورې تاسو زما څخه د هیڅ یوې مسئلې پوښتنه مه کوئ. (بخاري).

تخریج: البخاري في الصحیح (فتح الباري): ۱۲\۱۷، رقم: ۶۷۳۶.

تشریح: د حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه د جواب خلاصه داده چې د مړي د ټول میراث په شپږ برخو کولو سره داسې وویشل سي، یعني مور ته درې برخې، ملسي ته یوه برخه او خور ته دوې برخې ورکړئ.

د نیکه برخه

﴿۲۹۲۹﴾: وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت عمران بن حصین رضي الله عنه څخه روایت دی چې یو سړي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلی

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ ابْنَ ابْنِي مَاتَ فَمَا لِي فِي مِيرَاثِهِ قَالَ لَكَ السُّدُسُ فَلَمَّا

او ویې ویل چې زما د زوی زوی (لمسی) مړ سوی دی ایا د هغه په مال کې زما یو څه برخه سته؟ نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: د هغه په مال کې ستا شپږمه برخه جوړیږي کوم وخت چې هغه

وَلَّى دَعَاهُ فَقَالَ لَكَ سُدُسٌ آخَرُ فَلَمَّا وَلَّى دَعَاهُ قَالَ إِنَّ السُّدُسَ الْآخَرَ طُعْمَةٌ

ولاړی نو هغه یې را وغوښت او ورته یې وفرمایل: تا ته شپږمه برخه نوره رسیږي هغه ولاړی نبي کریم صلی الله علیه وسلم هغه بیا را وغوښت او ورته یې وفرمایل: دویمه شپږمه برخه به ستا لپاره وی د

لَكَ. رواه احمد والترمذي وابوداؤد وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح.

رزق په ډول به وي. (احمد ترمذي ابو داؤد) او په ترمذي کې دا حدیث حسن صحیح شمېرل سوی دی.

تخریج: احمد في المسند ۴\۴۲۸، رقم: ۲۸۹۶، والترمذي في السنن ۴\۴۱۹، رقم: ۲۰۹۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

تشريح: دغه آخري شپږمه برخه ستا رزق دی، ددې مطلب دادی چې اوله شپږمه برخه ستا د ذوي الفروض کېدو په وجه تا ته تر لاسه سوه او دغه دوهمه شپږمه برخه ستا د عصبه کېدو په حیثیت سره تا ته درکړل سوه همدارنګه هغه سړي ته د ټول میراث څخه دریمه برخه تر لاسه سوه مګر رسول الله ﷺ په یو وار هغه ته دریمه برخه نه ورکړل چې هغه دا ګمان ونه کړي چې په مېراث کي د نیکه برخه د ذي فرض کېدو په حیثیت سره دریمه برخه کیږي ، دا خو د حدیث وضاحت سو اوس د مسئلې پر نوعیت باندي فکر وکړئ، کله چې یو سړی وفات سي نو د هغه په وارثانو کي دوې لوڼې وې او یو نیکه وو نو د مړي د مېراث څخه د هغه دواړو لوڼو دوه پر درې برخي سوې او په پاته دریمه برخه کي نیم یعني د ټول مېراث شپږمه برخه نیکه ته د ذي فرض کېدو په حیثیت سره تر لاسه سوه او د ټول مېراث شپږمه برخه چې پاته سوه هغه هم د عصبه کېدو په وجه ورکړل سول .

دانا برخه

﴿۲۹۳۰﴾: وَعَنْ قَبِيصَةَ بْنِ ذُؤَيْبٍ قَالَ جَاءَتْ الْجَدَّةُ إِلَى أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ

د حضرت قبیصه بن ذویب رضي الله عنه څخه روایت دی چې د یو وفات سوی سړی انا (د پلار مور) او انا (د مور مور) د حضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه څخه د خپلي حصې په اړه پوښتنه وکړه هغه

تَسْأَلُهُ مِيرَاثَهَا فَقَالَ لَهَا مَا لَكِ فِي كِتَابِ اللَّهِ شَيْءٌ وَمَا لَكِ فِي سُنَّةِ رَسُولِ اللَّهِ

ورته وفرمایل : چې کتاب الله او سنة رسول (حدیث)کي ستا برخه نسته

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا فَارْجِعِي حَتَّى أَسْأَلَ النَّاسَ فَسَأَلَ فَقَالَ الْمُغِيرَةُ

اوس ته ولاړه سه زه به د خلکو څخه پوښتنه وکړم او وروسته به درته ووایم (یعني چې زما څو مره حدیثونه پیاد وي په هغه کي به پلار د مور او د مور د مور د حصې ذکر نسته او د خلکو څخه به پوښتنه وکړم چې د چا په دې اړه حدیثونه پیاد وی) حضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه د خلکو څخه پوښتنه وکړه نو مغیره رضي الله عنه بن شعبه ورته وویل :

بْنُ شُعْبَةَ حَضَرْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْطَاهَا السُّدُسَ فَقَالَ

زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر وم نبي کریم ﷺ د پلار مور ته شپږمه برخه ورکړې وه او حضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه پوښتنه وکړه

Maktaba Tul Ishaat.com

أَبُو بَكْرٍ هَلْ مَعَكَ غَيْرُكَ فَقَالَ مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ مِثْلَ مَا قَالَ الْمُغِيرَةُ

ستا سره بل څوک هم وو؟ (دا چي هغه دا اوريدلي وی) محمد بن مسلمه رضي الله عنه د مغيره بن شعبه رضي الله عنه د قول تائيد وکړ

فَأَنْفَذَهُ لَهَا أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ ثُمَّ جَاءَتِ الْجَدَّةُ الْأُخْرَى إِلَى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ

نو حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه د پلار مورته د شپږمه برخه ورکړه بيا د مور مور حضرت عمر رضي الله عنه ته راغله

تَسْأَلُهُ مِيرَاثَهَا فَقَالَ هو ذَلِكَ السُّدُسُ فَإِنِ اجْتَمَعْتُمَا فَهُوَ بَيْنَكُمَا وَأَيَّتُكُمَا

او خپل ميراث يې وغوښت هغه ورته وويل: دغه شپږمه برخه ستا ده که تاسو دوې ياست (د پلار مور او د مور مور) نو بيا هم دواړو ته شپږمه برخه ورکول کيږي او که په تاسو کي يوه وی

خَلَتْ بِهِ فَهُوَ لَهَا. رواه مالك واحمد والترمذي وابوداؤد والدارمي وابن ماجة.

نو هم شپږمه برخه به ورکول کيږي. (مالک احمد ترمذي ابو داؤد دارمي ابن ماجه).

تخريج: مالک في الموطا ۲\۵۱۳، رقم: ۴، واحمد في المسند ۴\۲۲۵، والترمذي ۴\۳۶۶، رقم: ۲۱۰۱، وابوداود ۳\۳۱۶، رقم: ۲۸۹۴، والدارمي ۲\۴۵۶، رقم: ۲۹۳۹، وابن ماجه ۲\۹۰۹، رقم: ۲۷۲۴.

تشريح: جده (انا) د پلار مورته هم وايي او د مور مورته هم وايي، د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په خدمت کي چي کومه ښځه حاضره سوې وه هغه د مړي انا (د مور مور) وه او د حضرت عمر رضي الله عنه په خدمت کي چي کومه ښځه حاضره سوې وي هغه د مړي انا (د پلار مور) وه لکه څرنګه چي په يو بل روايت کي دا وضاحت سوی دی.

د حديث د آخري جملې مطلب دادی چي د مړي په ميراث کي د انا (د پلار مور) شپږمه برخه وي که يوه وي يا ډيري وي او که يوه انا وي نو د هغه شپږمي برخي به يوازي حقداره وي او که ډيري وي نو هغه شپږمه برخه دي په خپلو کي وويشي، حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه هغه شپږمه برخه يوازي يوې انا ته د ورکولو حکم ځکه وکړه چي هغه ته دا معلومه نه وه چي د مړي دوهمه انا هم موجود ده مګر حضرت عمر رضي الله عنه ته چي دا معلومه سوه چي د مړي دوهمه انا هم سته نو هغه دا حکم وکړ چي په دغه شپږمه برخه کي دواړي اناګاني ګډون لري.

Maktaba Tul Ishaat.com

د پلار په موجود كېدو كي انا ته د شپږمي برخي وركولو يو واقعه

﴿۲۹۳۱﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ فِي الْجَدَّةِ مَعَ ابْنِهَا إِنَّهَا أَوَّلُ جَدَّةٍ أَطْعَمَهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُدُسًا مَعَ ابْنِهَا وَابْنُهَا حَيٌّ. رواه الترمذي والدارمي والترمذي ضعفه.

د حضرت ابن مسعود ﷛ څخه روايت دئ چي د هغه انا (د پلار مور) په نسبت چي د هغې زوی ژوندی وی وويل چي دا او اولني انا (د پلار مور) ده چي رسول الله ﷺ د زوی په موجودي كي شپږمه برخه وركړې وه. (ترمذي دارمي)

تخريج: الترمذي في السنن ۴\۳۶۷، رقم: ۲۱۰۲، والدارمي ۲\۴۵۵، رقم: ۲۹۳۷.

تشريح: د مسئلې صورت دادی چي يو سړی مړ سي او د هغه پلار او انا پاته وي نو رسول الله ﷺ د هغه د مېراث څخه انا ته شپږمه برخه وركړل سره ددې چي د هغه زوی يعني د مړي پلار موجود وو حالانكه د علماؤ مذهب دادی كه د مړي پلار موجود وي نو د هغه د مېراث څخه انا ته هيڅ نه وركول كيږي يعني انا د خپل زوی يعني د مړي د پلار په موجودتيا كي د مېراث څخه محرومه وي، په پورتني حديث باندي علماؤ ځكه عمل نه دی كړی چي دغه حديث ضعيف دی او د هغه څخه استدلال نه سي كيدای، د دليل په توګه صحيح اختيار كېدای سي، يا به دا وويل سي چي دا يو خاص صورت چي په هغه كي رسول الله ﷺ انا ته د هغې د زوي يعني د مړي د پلار په موجودتيا كي تبرعًا يعني د احسان له مخي برخه وركړې وه او د مېراث په توګه يې نه وه وركړې.

ديت د مقتول وارثانو ته وركول كيږي

﴿۲۹۳۲﴾: وَعَنِ الضَّحَّاكِ بْنِ سُفْيَانَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَتَبَ

د حضرت ضحاک بن سفيان ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ هغه ته وليكل:

إِلَيْهِ أَنْ وَرِّثْ امْرَأَةَ أَشْيَمَ الضِّبَابِيِّ مِنْ دِيَةِ زَوْجِهَا. رواه الترمذي وابوداؤد وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح.

Maktaba Tul Ishaat.com

د اشيم ضبابي ښځي ته د هغې د خاوند د قتل د ديت څخه ميراث ورکړه. (ترمذي ابو داؤد)او په ترمذي کي دا حديث حسن صحيح دی.

تخريج: الترمذي في السنن ۴\ ۳۷۱، رقم: ۲۱۱۰، وابوداود في السنن ۳\ ۳۳۹، رقم: ۲۹۲۷.

تشريح: اشيم ضبابي د رسول الله ﷺ په زمانه کي وژل سوی وو مگر دا قتل په قصد سره نه وو سوی بلکه په خطا سره سوی وو، د کوم سړي په خطا او غلطۍ سره چي قتل سوی وو پر هغه ديت واجب سو او کله چي هغه ديت ادا کړ نو رسول الله ﷺ ضحاک ته وليکل چي د مقتول يعني اشيم ضبابي د ديت په توگه چي کوم مال تر لاسه سوی دی د هغه څخه دي د هغه ښځي ته ميراث ورکړل سي.

په شرح السنه کي ليکل سوي دي چي دا حديث ددې دليل دی چي اول خو ديت د مقتول لپاره واجبيږي او بيا په ديت کي تر لاسه کېدونکی مال د مقتول د نور مال او سامان په ډول د هغه وارثانو ته نقل کيږي د اکثرو علماؤ دا قول دی.

نقل سوي دي چي امير المؤمنين حضرت عمر فاروق رضي الله عنه به دا فرمايل چي ښځه د خپل خاوند په ديت کي د تر لاسه کېدونکي مال وارثه نه ده، حضرت ضحاک رضي الله عنه د هغه په مخکي دغه حديث بيان کړ او دا يې ثابته کړه چي د خاوند په ديت کي په تر لاسه کېدونکي مال کي د هغه ښځي ته ميراث رسيږي.

موالي د يو بل وارث نه وي

﴿۲۹۳۳﴾: وَعَنْ تَمِيمٍ الدَّارِيِّ قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا

د حضرت تميم داري رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه د هغه سړي

السُّنَّةُ فِي الرَّجُلِ مِنْ أَهْلِ الشِّرْكِ يُسْلِمُ عَلَى يَدَيْ رَجُلٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ

په اړه څه حکم دی چي يو د مشرکانو د يو مسلمان په لاس مسلمان سي (يعني دا مسلمان د هغه مولی وارث کېدای سي او که نه؟)

فَقَالَ هُوَ أَوْلَى النَّاسِ بِمَحْيَاهُ وَمَمَاتِهِ. رواه الترمذي وابن ماجة والدارمي.

رسول الله ﷺ وفرمايل: دا سړی (يعني چي د چا په لاس مسلمان سوی دی)د هغه په ژوند او مرگ کي د هغه مولی دی (دا حکم د اسلام په ابتداء کي وو وروسته منسوخ سو). (ترمذي ابن ماجه دارمي)

Maktaba Tul Ishaat.com

تخريج: الترمذي في السنن ۴\ ۳۷۲، رقم: ۲۱۱۲، وابن ماجه في السنن ۲\ ۹۱۹، رقم: ۲۷۵۲، والدارمي ۲\ ۴۷۱، رقم: ۳۰۳۳.

تشريح: حضرت تميم داري ﷺ يو ستر او مشهور صحابي دی نوموړی مخکي عيسائي وو بيا الله تعالی هدايت ور په برخه کړ او په نهم هجري کال کي د اسلام په دولت مشرف سو، د اسلام قبلولو څخه وروسته د هغه ژوند د الله تعالی په بېره او عبادت کي تېر سو چي د شپې وېښېدلو په ډول عظيم وصف کي د امتيازي حيثيت خاوند سو، د شپې په يوه رکعت کي به يې ټول قرآن کريم ختم کوی او کله کله به يې د يوه آيت په ويلو سره سهار کوئ، يوه شپه يې د تهجد لمونځ ونه کړلای سو نو خپل ځان ته يې دا سزا ورکړه چي يو کال به پرله پسې نه بېده کيږي، حضرت تميم داري ﷺ ته يو تاريخي امتياز هم تر لاسه دی چي دی لومړنی سړی دی چي تر ټولو مخکي يې په مسجد کي څراغ بل کړی دی. رضي الله عنه.

د حديث شريف څخه معلومېږي چي کوم څوک د يو مسلمان په لاس اسلام قبول کړي نو هغه مسلمان د هغه نوي مسلمان مولی کيږي نو د اسلام په شروع کي دا حکم وو چي مولی به په خپلو کي د يو بل وارث وو وروسته بيا دا حکم منسوخ سو.

ځيني حضرات وايي چي د حديث الفاظ (هغه تر ټولو زيات حقدار دی) ددې مراد دادی چي پر مسلمان کونکي باندي دا حق تر ټولو زيات دی چي د هغه نوي مسلمان په ژوند کي د هغه مرسته او خيرخواهي وکړي او د هغه د مړېدو څخه وروسته د هغه د جنازې لمونځ وکړي.

ازاد سوی غلام د خپل بادار وارث دی که يا؟

﴿۲۹۳۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَجُلًا مَاتَ وَلَمْ يَدَعْ وَارِثًا إِلَّا غُلَامًا كَانَ

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي يو سړی مړ سو او هغه د يوه غلام څخه پرته چي

أَعْتَقَهُ فَقَالَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ لَهُ أَحَدٌ قَالُوا لَا إِلَّا غُلَامًا لَهُ كَانَ

هغه په خپله ازاد کړی وو بل هيڅ وارث يې نه درلود رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چي څوک (وارث) يې سته؟ يو چا وويل چي

أَعْتَقَهُ فَجَعَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِيرَاثَهُ لَهُ. رواه ابوداؤد والترمذي وابن ماجة.

Maktaba Tul Ishaat.com

د يوه ازاد سوي غلام څخه پرته بل څوک وارث يې نسته نبي كريم ﷺ د مړي د ميراث برخه هغه (غلام) ته ورکړه . (ابو داؤد ترمذي ابن ماجه) .

تخريج: ابوداود في السنن ٣\ ٣٢٤، رقم: ٢٩٠٥، والترمذي ۴\ ٣٦٨، رقم: ٢١٠٦، وابن ماجه في السنن ٢\ ٩١٥، رقم: ٢٧٤١.

تشريح: ازاد سوى غلام د خپل ازادونكي وارث نه وي ځكه ددغه حديث شريف مطلب دا بيانيږي چي رسول الله ﷺ ازاد سوي غلام ته د هغه ازادونكي ميراث د احسان له مخي ورکړی وو لكه څرنگه چي د بي بي عائشې رضي الله عنها په حديث كي تېر سول چي رسول الله ﷺ د يو لا وارثه مړي د مېراث په باره كي وفرمايل چي د هغه مېراث د هغه د كلي يو سړي ته ورکړئ ، هلته چي كوم وضاحت سوى وو هغه وضاحت دلته هم دى .

حضرت شريح او حضرت طاوس (رح) ددې حديث د ظاهري مفهوم په نظر كي نيولو سره وايي لكه څرنگه چي ازادونكى د خپل ازاد سوي غلام وارث دى همداسي ازاد سوى غلام د ازادونكى وارث كيداى سي.

دولاء مسئله

﴿۲۹۳۵﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَرِثُ الْوَلَاءَ مَنْ يَرِثُ الْمَالَ . رواه الترمذي وقال هذا حديث إسناده ليس بالقوي .

حضرت عمرو بن شعيب رضي الله عنه د خپل پلار څخه او هغه بيا د خپل پلار څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي د ولاء مالک وي هغه د مال وارث دى .(ترمذي دا حديث قوي نه دى) ولاء د يوه ازاد سوى غلام مال ته ويل كيږي) .

تخريج: الترمذي في السنن ۴\ ٣٧٣، رقم: ٢١١۴.

تشريح: د ازاد سوي غلام مال ته ولاء وايي د حديث مطلب دادى چي يو سړى د مثال په توګه د زيد پلار مړ سو او بيا د هغه وروسته د هغه د پلار ازاد سوى غلام مړ سو نو اوس دغه سړى يعني زيد به د هغه د مال وارث وي ځكه څرنگه چي هغه د خپل پلار د نور مال وارث سوى دى همدارنگه د خپل پلار د ولاء هم وارث دى مګر دا حكم يوازي د عصبه سره خاص دى يعني كوم عصبه چي وارث بنفسه د عصبه كېدو په حيثيت سره د مړي د مال وارث كيږي هغه عصبه به د

Maktaba Tul Ishaat.com

ولاء هم وارث کیږي، نو ازادونکې لور به د خپل پلار د ولاء وارثه نه وي که څه هم هغه د خپل پلار د مال وارثه ده مګر عصبه کیږي نه بلکه عصبه بنفسه خو یوازي نارینه کیږي ښځي عصبه بنفسه نه کیږي مګر ښځه د داسي ازاد سوي غلام د مال وارثه کیږي چي هغې خپله ازاد کړی وي یا د هغه ازاد سوي غلام ازاده کړې وي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د اسلام څخه مخکي تقسیم سوی میراث ...

﴿۲۹۳۶﴾: عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا

د حضرت عبد الله بن عمرو رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم میراث چي د

كَانَ مِنْ مِيرَاثٍ قُسِمَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَهُوَ عَلَى قِسْمَةِ الْجَاهِلِيَّةِ وَمَا كَانَ مِنْ

جاهلیت په زمانه کي تقسیم سوی دي هغه په جاهلیت کي ختم سو (یعني اوس په هغه میراث کي بدلون نسي کېدای) او کوم

مِيرَاثٍ أَدْرَكَهُ الْإِسْلَامُ فَهُوَ عَلَى قِسْمَةِ الْإِسْلَامِ. رواه ابن ماجة.

میراث چي په اسلام کي دی هغه به د اسلام په طریقه باندي ویشل کیږي. (ابن ماجه).

تخریج: سنن ابن ماجه ۲\۹۱۸، رقم: ۲۷۴۹.

تشریح: د دغه حدیث شریف مطلب دادی چي کوم مېراث د جاهلیت په زمانه کي ختم سوی وي اوس په هغه کي هیڅ نه کیږي چا ته چي څومره تر لاسه سوي وي د هغه به مالک وي، که چیري په هغه زمانه کي چا زیات مال تر لاسه کړی وي نو د هغه د بېرته ورکولو ضرورت نه سته او که چا ته لږ مال تر لاسه سوی وي نو هغه ته د پاته برخي د غوښتني حق نه وي، مګر د اسلام راوړلو څخه وروسته چي کوم مېراث ویشل کیږئ هغه به د اسلامي احکامو او قواعدو سره سم وېشل کیږي.

د عمه او وراره وارث کېدل

﴿۲۹۳۷﴾: وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ حَزْمٍ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَاهُ كَثِيرًا يَقُولُ كَانَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ يَقُولُ عَجَبًا لِلْعَمَّةِ تُورَثُ وَلَا تَرِثُ. رواه مالك.

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت محمد بن ابي بکر بن حزم رحمه الله څخه روایت دی چي هغه د خپل پلاره څخه په کثرت دا اورېدلي دي چي عمر بن خطاب رضي الله عنه به دا فرمایل: پر عمه تعجب دی چي د هغې وراره د هغې وارث وي او هغه د خپل وراره وارثه کېدای نسي. (مالک).

تخریج: الامام مالک في الموطا ۲\۵۱۷، رقم: ۹.

تشریح د حضرت عمر رضي الله عنه تعجب کول محض د عقل او قیاس پر بنیاد دی که چیري د حکم پر ځای راوړلو په نظر وکتل سي یا دا خبره په ذهن کي وي چي د دغه په حکمت او مصلحت الله تعالی پوهېږي نو د تعجب هیڅ خبره نه سته.

د حدیث مفهوم دادی که د یو سړي عمه مړه سي نو هغه د خپل عمه وارث کیدای سي د دې برعکس که هغه سړی مړ سي نو د هغه عمه د هغه سړي وارث کېدای نه سي، د حدیث دا مفهوم او د حضرت عمر رضي الله عنه دا تعجب د هغه علماؤ د مذهب مطابق دی چي د هغوی په نزد د ذوي الارحام مړي وارث نه وي حال دا چي عمه د ذوي الارحام نه کېدو په وجه د هغه علماؤ په نزد د خپل وراره وارثه کیدای سي چي ذوي الارحام په فرائضو کي د پورتني تفصیل سره سم وارث کیدای سي.

د فرضو زده کولو حکم

﴿۲۹۳۸﴾: وَعَنْ عُمَرَ قَالَ تَعَلَّمُوا الْفَرَائِضَ وَزَادَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ وَالطَّلَاقَ وَالْحَجَّ قَالَا فَإِنَّهُ مِنْ دِيْنِكُمْ. رواه الدارمي

د حضرت عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چي د فرضو (میراث) احکام زده کړئ او ابن مسعود رضي الله عنه په دې الفاظو دا خبره زیاته کړې ده او د طلاق او حج احکام او مسائل هم زده کړئ ځکه چي دا د دیني ضروریاتو څخه ګڼل کیږي. (دارمي).

تخریج: سنن الدارمي ۲\۴۴۲، رقم: ۲۸۵۶.

=========

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ الْوَصَـایَا (دوصیت بیان)

وصایا د وصیت جمع ده او خطایا د خطیه جمع ده ، وصیت دې ته وايي چي يو سړی په خپل ژوند کي خپلو وارثانو ته دا ووايي چي زما د مرګ څخه وروسته فلانی فلانی کار وکړئ مثلا زما له خوا مسجد جوړ کړئ ، څاه وکاږئ ، يا په مدرسه ، خانقاه او داسي نورو ځيانو کي دومره روپۍ ورکړئ ، يا فلاني سړي ته دومره روپۍ يا مال ورکړئ ، يا پر فقيرانو او مسکينانو باندي خوراک ، غله يا جامې وغيره وويشئ ، يا کوم فرضونه او واجبات مثلا لمونځ ، زکوة او داسي نور چي د هغه د غفلت په وجه قضاء سوي وي د هغه په باره کي خپلو وارثانو ته ووايي چي دا ادا کړئ يا د هغه کفاره ورکړئ ، همدارنګه په ځينو ځايو کي د وصيت لفظ د نصيحت په معنی هم استعماليږي .

د ظواهر علماء (يعني هغه علماء چي په هر صورت کي د قرآن او حديث پر ظاهري مفهوم باندي عمل کوي) په نزد وصيت کول واجب دی حال دا چي د نورو ټولو علماؤ په نزد وصيت کول مستحب دی او واجب نه دی ، د اسلام په ابتدائي زمانه کي (د ميراث د آيت نازلېدو څخه مخکي) وصيت واجب وو يعني په خپل اختيار سره د مور او پلار او نورو قريبانو لپاره د خپل مال او سامان څخه برخي ټاکل پر هر چا باندي واجب وه مګر کله چي د ميراث آيت نازل سو او الله تعالی د ټولو قريبانو برخي و ټاکلې نو دا حکم منسوخ سو ځکه د وارث لپاره وصيت کول صحيح نه دي البته د ميراث د آيت نازلېدو څخه وروسته هم په دريمه برخه مال کي د وصيت کولو اختيار پاته سو که يو سړی په خپل آخري وخت کي د الله تعالی په لار کي د مال خرڅ کولو سره د خپل ټول عمر د کوتاهيو مثلا بخل وغيره کفاره او مکافات کول غواړي نو دا سعادت تر لاسه کولای سي يا که چيري خپل يو قريب يا د ليري قريب يا خادم وغيره ته يو څه ورکول غواړي نو د دغه دريمي برخي څخه هغه ته په ورکولو سره خپل زړه خوشحاله کولای سي .

علماء کرام وايي که چيري پر يو سړي باندي پور يا بل څه وي يا د هغه سره د چا امانت پروت وي نو پر هغه لازم دي چي د هغه د ادا کولو او د امانت بېرته ورکولو وصيت وکړي او په دې باره کي يو وصيت نامه وليکي او پر هغه دي شاهدان هم وي .

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د وصيت ليكلو حكم

﴿۲۹۳۹﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ مَا حَقُّ امْرِئٍ مُسْلِمٍ لَهُ شَيْءٌ يُوصِي فِيهِ يَبِيتُ لَيْلَتَيْنِ إِلَّا وَوَصِيَّتُهُ مَكْتُوبَةٌ عِنْدَهُ. متفق عليه.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د كوم مسلمان معاملات يا تعلقات چي كومه خبره د وصيت قابله وی هغه ته پكار ده چي د دوو شپو د تېرېدو څخه مخكي هغه وليكي. (بخاري او مسلم)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵\۳۵۵، رقم: ۲۷۳۸، ومسلم ۳\۱۲۴۹، رقم: ۱\۱۶۲۷.

تشريح: مطلب دادی چي د كوم چا پر ذمه د يو چا حق وي يا د خلكو يو معامله هغه ته حواله وي نو هغه بايد د دوو شپو تېرولو څخه مخكي وصيت وليكي، د دوو شپو څخه مراد لږ وخت دی يعني كم وخت داسي تېرول نه دي پكار چي په هغه كي وصيت نه وي ليكلی ځكه چي د انسان په ژوند هيڅ باور نه سته، معلومه نه ده چي په كوم وخت كي د انسان د ژوند لړی پای ته ورسيږي او د وصيت نه ليكلو په نتيجه كي د وارثانو د ناخبرتيا په وجه د حق تلفي ګناه د دنيا څخه د هغه سره ولاړه سي.

ظواهر علماء د دغه حديث سره سم د وصيت د واجب كېدو قائل دي حالانكه دا حديث په عمومي توګه پر وصيت واجب كېدو باندي دلالت نه كوي البته د دې څخه دا ثابتيږي چي پر كوم چا باندي پور وي يا د هغه سره د چا امانت وي نو پر هغه لازم ده چي د هغه پور يا امانت په باره كي وصيت وكړي.

علماء كرام وايي چي په كومو معاملو كي وصيت كول لازم وي (د مثال په توګه پور، امانت يا داسي نورو شيانو كي) نو د هغه وصيت ژر تر ژره ليكل مستحب دي او دا ضروري ده چي د وصيت په ليكلو سره پر هغه باندي دوه شاهدان هم پيدا كړي.

د مال په دريمه برخه كي وصيت كيدای سي

﴿۲۹۴۰﴾: وَعَنْ سَعْدِ ابْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ مَرِضْتُ عَامَ الْفَتْحِ مَرَضًا أَشْفَيْتُ

د حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه څخه روايت دی چي زه د مكې د فتحي په كال داسي سخت

Maktaba Tul Ishaat.com

نا روغه سوم چي مرګ ته نژدې سوی وم

عَلَى الْمَوْتِ فَأَتَانِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُنِي فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ

رسول الله ﷺ ما ته راغلی نو ما عرض وکړ یا رسول الله ﷺ!

اِنَّ لِي مَالاً كَثِيْرًا وَ لَيْسَ يَرِثُنِيْ اِلاَّ ابْنَتِيْ اَفَاُوْصِيْ بِمَالٍ كُلِّهٖ قَالَ لاَ قُلْتُ

زما سره زيات مال دی او د يوې لور څخه پرته بل څوک زه وارث نلرم ايا زه د خپل ټول مال وصيت د هغې په حق کي وکړم؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: يا! ما عرض وکړ

فَثُلُثَيْ مَالِيْ قَالَ لاَ قُلْتُ فَالشَّطْرُ قَالَ لاَ قُلْتُ فَالثُّلُثُ قَالَ اَلثُّلُثُ وَالثُّلُثُ

د دوه پر دريمه مال وصيت وکړم؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: يا! ما عرض وکړ چي د نيم مال وصيت وکړم؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: يا! ما عرض وکړ چي د يو پر دريمه د مال وصيت وکړم؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: هو! د يو پر دريمي مال برخه هم

كَثِيْرٌ اِنَّكَ اَنْ تَذَرَ وَرَثَتَكَ اَغْنِيَاءَ خَيْرٌ مِّنْ اَنْ تَذَرَهُمْ عَالَةً يَتَكَفَّفُوْنَ

ډېره ده که ته خپل وارثان مالداره او خوشحاله پرېږدې نو دا د دې څخه بهتره ده چي هغوی مفلس پرېږدې او هغوی د خلکو په مخکي (د سوال لپاره) لاس غځوي او ته چي څه د خداي

النَّاسَ وَاِنَّكَ لَنْ تُنْفِقَ نَفَقَةً تَبْتَغِيْ بِهَا وَجْهَ اللّٰهِ اِلاَّ اُجِرْتَ بِهَا حَتَّى اللُّقْمَةَ

تَرْفَعُهَا اِلٰى فِيْ امْرَاَتِكَ. متفق عليه.

تعالي د رضا لپاره خرڅ کوې د هغې به اجر در کول سي تر دې چي تا ته به د هغې څخه نور زيات ثواب در کول کيږي تر دې چي ته د خپلي بي بي (ښځي) په خوله کي ګوله واچوې. بخاري او مسلم.

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵\ ۳۵۳، رقم: ۲۷۴۲، رقم: ۶۷۳۳، ومسلم في الصحيح ۳\ ۱۲۵۰، رقم: ۵\ ۱۶۲۸.

تشريح: زما وارث نسته: د حضرت سعد رضي الله عنه مراد دا وو چي په ذوي الفروض کي زما څوک وارث نه سته يا دا چي داسي وارثانو ته چي د هغوی په باره کي ما ته ېره وي چي هغوی به زما مال ضائع کړي پرته د يوې لور څخه بل څوک وارث مي نه سته، د حضرت سعد رضي الله عنه د دغه

Maktaba Tul Ishaat.com

جملې تاويل ځکه سوی دی چې د هغه څو عصبي وارثان وه.

دا حديث د يوې خوا ددې خبري دليل دی چې د مال جمع کول مباح دي او د بلي خوا ددې خبري دليل هم دی چې د وارثانو په حق کي د عدل او انصاف خيال ساتل پکار دي.

د ټولو علماؤ پر دې خبره اتفاق دی چې د کوم مړي وارث موجود وي نو د هغه وصيت د هغه د دريمي برخي څخه په زيات مال کي نه جاري کيږي البته که چيري هغه وارثان په خپل اجازه او خوښي سره دا وغواړي نو د دريمي برخي څخه په زيات کي بلکه په ټول مال کي وصيت جاري کيدای سي په شرط ددې چې ټول وارثان عاقل، بالغ او موجود وي، او د چا چي وارث نه وي نو په دغه صورت کي هم د اکثرو علماؤ دا مذهب دی چې د هغه وصيت هم د دريمي برخي څخه په زيات کي نه سي جاري کيدای البته امام ابوحنيفة رحمه الله او د هغه پيروان علماء په دغه صورت کي د دريمي برخي څخه په زيات کي هم وصيت جاري کول جائز ګرځوي او د امام احمد او حضرت اسحاق رحمة الله عليهما يو قول دا هم دی.

په دغه حديث شريف کي ددغه خبري ترغيب ورکړل سوی دی چې د قريبانو او عزيزانو سره سره دي ښه چلن وکړل سي د هغوی په حق کي دي همېشه د خېرخواهۍ جذبه وي او د وارثانو په اړه دي د شفقت او ميني طريقه اختيار کړل سي، ددې څخه پرته ددغه حديث څخه نوري يو څو خبري هم معلوميږي: اول دا چي خپل مال بل چا ته د ورکولو څخه افضل دا دی چي په خپلو قريبانو باندي خرڅ کړل سي، دوهم دا چي پر خپل کورنۍ باندي په خرڅ کولو سره ثواب تر لاسه کيږي په شرط ددې چې د الله تعالى رضا او خوښي مقصد وي، دريم دا که چيري په يو مباح کار کي د الله تعالى د رضا او خوښۍ نيت وکړل سي نو هغه مباح کار هم په طاعت او عبادت کي شمېرل کيږي، ښځه که څه هم د بدني او دنيوي لذت او راحت ذريعه ده او د خوشحالۍ پر وخت د هغې په خوله ګوله ورکول محض يو خوش طبعي ده چې د هغه د طاعت او عبادت او د اخرت د امورو سره هيڅ تعلق نه سته مګر ددې سربېره رسول الله ﷺ دا وښودل چي د ښځي په خوله ګوله ورکولو کي چي کله د الله تعالى د رضا او خوښۍ نيت وکړل سي نو په دې کي هم ثواب دی، ددې څخه پرته په نورو حالاتو کي په طريقه اولی ثواب تر لاسه کيږي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

﴿۲۹۶۱﴾: عَنْ سَعْدِ بْنِ اَبِيْ وَقَّاصٍ قَالَ عَادَنِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه څخه روايت دى چي زما د ناروغى په ورځو كي رسول الله ﷺ زما پوښتنه وكړه او رسول الله ﷺ زما څخه وپوښتل

وَأَنَا مَرِيضٌ فَقَالَ أَوْصَيْتَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ بِكَمْ قُلْتُ بِمَالِي كُلِّهِ فِي سَبِيلِ اللهِ

چي ايا ته د څه وصيت اراده لرې؟ ما عرض وكړ چي هو! نبي كريم ﷺ وفرمايل: د څومره مال؟ ما عرض وكړ د خداي تعالي په لار كي د ټول مال اراده لرم؟

قَالَ فَمَا تَرَكْتَ لِوَلَدِكَ قُلْتُ هُمْ أَغْنِيَاءُ بِخَيْرٍ قَالَ أَوْصِ بِالْعُشْرِ فَمَا زِلْتُ أُنَاقِصُهُ حَتَّى قَالَ أَوْصِ بِالثُّلُثِ وَالثُّلُثُ كَثِيرٌ. رواه الترمذي.

نبي كريم ﷺ وفرمايل: د خپل اولاد لپاره تا يو څه پرېښودل؟ ما عرض وكړ چي هغوى غنيان او خوشحاله دئ نبي كريم ﷺ وفرمايل: د لسمي حصې وصيت وكړه ما زيات ټينگار وكړ تر دې پوري چي نبي كريم ﷺ وفرمايل: د دريمي حصې مال وصيت وكړه او دا چي دريمه برخه هم ډېره ده. (ترمذي).

تخريج: الترمذي في السنن ۳\۳۰۵، رقم: ۹۷۵.

د وارث په حق كي وصيت صحيح نه دى

﴿۲۹۴۲﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ

د حضرت ابو امامه رضي الله عنه څخه روايت دى چي ما د حجة الوداع په خطبه كي د رسول الله ﷺ څخه

فِي خُطْبَتِهِ عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ إِنَّ اللهَ قَدْ أَعْطَى كُلَّ ذِي حَقٍّ حَقَّهُ فَلَا وَصِيَّةَ

دا اورېدلي دي خداي تعالي حق د هر چا حق ټاكلى دى (يعني خداي تعالي د ټولو وارثانو لپاره حصې ټاكلي دي) اوس د يو وارث په حق كي د وصيت ضرورت نشته

لِوَارِثٍ. رواه أبو داود وابن ماجه وزاد الترمذي: "الولد للفراش وللعاهر

.(ابو داؤد ابن ماجه) او په ترمذي كي دا الفاظ زيات كړى دى چي نبي كريم ﷺ وفرمايل: كوچني د صاحب فراش دي (چي په زنا نه وي پيدا سوى) او د زنا كاره لپاره حجر دى

الحجر وحسابهم على الله ويروى عن ابن عباس رضي الله عنهما عن النبي

(سنگسارول) او هغه به د میراث څخه محرومه وي او د هغوی حساب پر خدای تعالی دی او ابن عباس رضی الله عنه د نبي کریم ﷺ

ﷺ قال: "لا وصية لوارث إلا أن يشاء الورثة" منقطع هذا لفظ المصابيح

څخه دا روایت کړی دي چي نبي کریم ﷺ فرمایلي دی د وارث لپاره د وصیت ضرورت نسته خو دا چي وارث وغواړي د دې څخه وروسته نور الفاظ نسته او دا د مصابیح الفاظ وه

. وفي رواية الدارقطني: قال: "لا تجوز وصية لوارث إلا أن يشاء الورثة"

او په دارقطني کي دا الفاظ دي چي د وارث لپاره وصیت کول جائز نه دي خو دا چي وارث وغواړي

تخريج: ابوداود في السنن ۳\ ۲۹۰، رقم: ۲۸۷۰، والترمذي ۴\ ۳۷۶، رقم: ۲۱۲۰، وابن ماجه في السنن ۲\ ۹۰۵، رقم: ۲۷۱۳.

تشريح: الله تعالى هر حقدار ته د هغه حق ورکړی دئ: ددې مطلب دادئ چي الله تعالی د وارثانو لپاره خپل خپل برخي ټاکلي دي که هغه ذوي الفروض وي یا عصبه وي، اوس د هیڅ وارث په حق کي وصیت ضروري نه دی او که مړ کېدونکی سړی خپل وارث په حق کي وصیت وکړي چي هغه دي د نورو وارثانو څخه دومره برخه زیاته ورکړل سي نو په شرعي توګه ددې هیڅ اعتبار نه سته مګر که چیري ټول وارثان عاقل او بالغ وي او هغوی یو وارث ته په شوق او رضا سره د مړي د وصیت سره سم زیاته برخه ورکوي نو بیا په دې کي هیڅ پروا نه سته لکه څرنګه چي مخکي ښکاره سوي دي چي د مېراث د آیت نازلېدو څخه مخکي د ټولو قریبانو په حق کي وصیت کول واجب وو مګر د آیت کریمه د نازلېدو څخه وروسته د ټولو وارثانو برخي وټاکل سوې نو د وصیت واجب کېدل هم منسوخ سول.

فراش ښځي ته وایي مګر دلته په (الولد للفراش) کي د فراش څخه مراد صاحب د فراش یعني د ښځي مالک دی، د حدیث شریف دد غه جملې مطلب دادي که چیري یو سړی د یو ښځي سره زنا وکړي او د هغه په نتیجه کي کوچنی پیدا سي نو د کوچني نسب د زنا کونکي سره نه قائمیږي بلکه هغه صاحب فراش ته منسوب کیږي که هغه صاحب فراش د زنا کونکي ښځي خاوند وي یا د (مینزي کېدو په صورت کي) د هغې بادار وي یا هغه سړی وي چي په شبه کي په اخته کېدو سره یې د هغه ښځي سره کوروالي کړې وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

او د زنا کونکي لپاره ډبري دي : دغه جملې د زنا کونکي محرومي ته اشاره کوي لکه څرنګه چې زموږ په عامه اصطلاح کې د يو داسي سړي په باره کي چې هغه ته هيڅ نه ورکول کيږي داسي ويل کيږي چې هغه دي خاوري واخلي نو ددغه جملې مطلب دادی چې د زنا په نتيجه کي د پيدا کېدونکي کوچني نسب د زنا کونکي سره نه قائميږي ځکه نو هغه د ولد الزنا د ميراث څخه هيڅ نه سي تر لاسه کولای ، يا دا چې دلته د ډبرو څخه مراد سنګسارول دي چې زنا کونکی به سنګسار کيږي .

د هغه معامله الله ﷻ ته سپارل سوې ده : ددې مطلب دادی چې په بد کارۍ کي د اخته کېدونکو حساب او کتاب پر الله ﷻ دی چې هغه به هر يوه ته د هغه د عمل سره سم بدله ورکوي ، دغه جمله د يو بلي معنی سره زيات مناسبت لري هغه دا چې کوم د دنيا تعلق دی نو دلته موږ زنا کونکو ته سزا ورکوو په دې توګه چې پر هغه حد جاري کيږي ، اوس پاته سوه د آخرت معامله نو دا د الله ﷻ پر فرض او منشاء باندي موقوف دی که هغه وغواړي نو مؤاخذه به ئېني وکړي او که وه غواړي نو د خپل بې پايه رحم او کرم په برکت به يې وبخښي .

د ذکر سوي عبارت يو مطلب دا هم کيدای سي چې کوم څوک زنا وکړي يا په يو ګناه کي اخته وي او پر هغه يو حد قائم نه سي يعني په دنيا کي هغه ته سزا ور نه کړل سي نو د هغه معامله الله ﷻ ته حواله ده که چيري هغه وغواړي نو وه به يې بخښي او که وغواړي نو په عذاب کي به يې اخته کړي .

د بل چا لپاره په وصيت کولو سره وارثانو ته تاوان مه رسوئ

﴿۲۹۴۳﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّ الرَّجُلَ

د حضرت ابوهريره ﷛ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : سړی

لَيَعْمَلُ وَالْمَرْأَةُ بِطَاعَةِ اللّٰهِ سِتِّيْنَ سَنَةً ثُمَّ يَحْضُرُهُمَا الْمَوْتُ فَيُضَارَّانِ فِي

او ښځه د شپېتو کلو پوري د خداي تعالي عبادت او اطاعت کوي بيا چې د هغوی د مرګ وخت راسي نو هغوی وصيت کوئ وارثانو ته نقصان رسوئ (يعني د هغوی حق نه ورکوئ بلکه د نورو په حق کي وصيت کوئ يا و بل چاته خپل ټول حق و رکړئ)

الْوَصِيَّةِ فَتَجِبُ لَهُمَا النَّارُ ثُمَّ قَرَأَ عَلَيَّ اَبُوْ هُرَيْرَةَ { مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوْصٰى بِهَا

او په دې شکل خپل ځانونه د دوږخ مستحق ګرځوي او وروسته حضرت ابو هريره ﷛ دا ايت و

أَوْ دَيْنٍ غَيْرَ مُضَارٍّ وَصِيَّةً مِنَ اللَّهِ إِلَى قَوْلِهِ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ } . رواه احمد والترمذي وابوداؤد وابن ماجة.

لوست من بعد وصية يوصى بها او دين غير مضار څخه بيا تر و ذلک الفوز العظيم پورې .
(احمد ترمذي ابو داؤد ابن ماجه).

تخريج: احمد في المسند ۲\ ۲۷۸، وابوداود في السنن ۳\ ۲۸۸، رقم: ۲۸۶۷، والترمذي في السنن ۴\ ۳۷۵، رقم: ۲۱۱۷، وابن ماجه في السنن ۲\ ۹۰۲، رقم: ۲۷۰۴.

تشريح: دغه حديث شريف د بندګانو د حقوقو ارزښت بيانوي، کوم خلک چې خپل ټول ژوند د الله تعالى په عبادت کې تېروي مګر د بندګانو د حقوقو څخه پرهيز نه کوي نو هغه د خپل ټولو عباداتو سربېره د الله تعالى د ناراضۍ مورد ګرځي ، رسول الله ﷺ وفرمايل کوم خلک (که سړی يا ښځه) چې تر شپېته کالو پورې عبادت کوي مګر د خپل ژوند په آخري وخت کې دا ګناه پر خپل سر واخلي چې هغوی په خپل مال کې د دريمې برخې څخه زيات وصيت د يو چا په حق کې وکړي يا خپل ټول مال يو وارث ته په تحفه کې ورکړي او نورو وارثانو ته هيڅ تر لاسه نه سي او همدارنګه هغه خپل وارثانو ته تاوان ورسوي نو هغه د خپل دغه اوږده وخت د عباداتو سره خپل ځان د دوږخ د عذاب حقدار وګرځوی ځکه چې خپل وارثانو ته تاوان رسول د بندګانو په حقوقو کې د کوتاهۍ په وجه غير مناسب او ناجائز کار دی او د الله تعالى د حکم څخه مخ اړول او د هغه د ټاکل سوو هداياتو څخه تجاوز هم دی ، حضرت ابوهريره ﷺ د رسول الله ﷺ د ارشاد بيانولو څخه وروسته د تاکيد په توګه ذکر سوی آيت تلاوت کړي ځکه چې د دغه آيت څخه دا ثابتيږي چې مورث بايد د خپل مال د دريمې برخې څخه په زيات مال کې په وصيت کولو سره خپل وارثانو ته تاوان ونه رسوي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ (دريم فصل)

د جائز وصيت کوونکي لپاره زيرى

﴿۲۹۴۴﴾: عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ مَنْ مَاتَ عَلَى وَصِيَّةٍ مَاتَ عَلَى سَبِيلٍ وَسُنَّةٍ وَمَاتَ عَلَى تُقًى وَشَهَادَةٍ وَمَاتَ مَغْفُورًا لَهُ . رواه ابن ماجة .

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت جابر رضی اللہ عنہ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي وصيت وکړي او مړ سي هغه په صراط المستقيم او سنت طريقه باندي مړ سو او په تقوی او شهادت باندي مړ سو او په داسي حال کي مړ سو چي د هغه بخشش کول کيږي. (ابن ماجه).

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\۹۰۱، رقم: ۲۷۰۱.

كافر ته د نيک عمل ثواب نه رسيږي

﴿۲۹۴۵﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ الْعَاصَ بْنَ وَائِلٍ

حضرت عمر بن شعيب رضی اللہ عنہ د خپل پلار څخه روايت کوي چي عاص بن وائل دا وصيت وکړ

أَوْصَى أَنْ يُعْتِقَ عَنْهُ مِائَةُ رَقَبَةٍ فَأَعْتَقَ ابْنُهُ هِشَامٌ خَمْسِينَ رَقَبَةً فَأَرَادَ

چي د هغه له لوري دي سل غلامان ازاد کړل سي نو د هغه زوی هشام پنځوس غلامان ازاد کړل

ابْنُهُ عَمْرٌو أَنْ يُعْتِقَ عَنْهُ الْخَمْسِينَ الْبَاقِيَةَ فَقَالَ حَتَّى أَسْأَلَ رَسُولَ اللَّهِ

بيا د هغه دويم زوی اراده وکړه چي پاته پنځوس غلامان دي هم د خپل پلار له طرفه څخه ازاد کړي بيا هغه په خپل زړه کي سوچ وکړ چي د دي په اړه د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه کول پکار

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ

دي نو هغه د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وکړ يا رسول الله ﷺ!

أَبِي أَوْصَى بِعِتْقِ مِائَةِ رَقَبَةٍ وَإِنَّ هِشَامًا أَعْتَقَ عَنْهُ خَمْسِينَ وَبَقِيَتْ عَلَيْهِ

زما پلار د سلو غلامانو وصيت کړی وو هشام خو يوازي پنځوس غلامان ازاد کړل پنځوس غلامان باقي پاته سوه

خَمْسُونَ رَقَبَةً أَفَأُعْتِقُ عَنْهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ إِنَّهُ لَوْ كَانَ مُسْلِمًا

ايا هغوی زه ازاد کړم؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: که هغه مسلمان وای نو بيا تاسو د هغه له

فَأَعْتَقْتُمْ عَنْهُ أَوْ تَصَدَّقْتُمْ عَنْهُ أَوْ حَجَجْتُمْ عَنْهُ بَلَغَهُ ذَلِكَ. رواه ابوداؤد.

لوري غلامان ازادولای يا مو صدقه کولای يا مو حج کولای نو د هغه ثواب په مو پلار ته

Maktaba Tul Ishaat.com

رسېدلای (مګر هغه کافر دی) نو په دې وجه سره هغه ټول دده لپاره بې فائدې دي . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داود ۳\۳۰۲، رقم: ۲۸۸۳.

تشريح عاص ابن وائل د اسلام زمانه تر لاسه کړې وه مګر په بدبختۍ سره هغه د اسلام په دولت مشرف نه سو او د کفر په حالت کي مړ سو د هغه دوه زامن وه حضرت هشام ابن عاص او حضرت عمرو ابن عاص رضي الله عنهما چي الله تعالى دغه دواړو د هدايت پر لاره روان کړل او دواړه په اسلام مشرف سول او د رسول الله ﷺ د صحابي کېدو اعزازيې تر لاسه کړی .

د رسول الله ﷺ د جواب خلاصه داده چي ستاسو پلار عاص که چيري مسلمان وای او د اسلام په حالت کي د دنيا څخه رخصت سوی وای نو د هغه له طرفه چي کوم عبادت (نيکي) کېدی د هغه ثواب به هغه ته رسيدلای مګر هغه مسلمان نه سو او د کفر په حالت کي د دنيا څخه ولاړی نو اوس تاسو چي تاسو د هغه له طرفه يو عبادت يا نېک کار وکړئ نو هغه ته د عذاب څخه خلاصون نه سي تر لاسه کيدای بلکه دا يوازي د مسلمان لپاره ګټور دي .

دوارث حق خوړونکي لپاره وعيد

﴿۲۹۴۶﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَطَعَ مِنْ مِيرَاثِ وَارِثِهٖ قَطَعَ اللّٰهُ مِيرَاثَهٗ مِنَ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه ابن ماجة و رواه البيهقي في شعب الايمان عن ابي هريرة .

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي خپل وارث د ميراث څخه وباسي نو د قيامت په ورځ به خدای تعالي په جنت کي د هغه ميراث اخلي (جنت ته به يې نه پرېږدي) . (ابن ماجه او بيهقي په شعب الايمان کي د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت کړی دی).

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\۹۰۲، رقم: ۲۷۰۳. لم نجده في الشعب.

تشريح په قرآن کريم کي الله تعالى مؤمنانو ته د جنت د وارث کېدو وعده په دې توګه ورکړې ده چي : يرثون الفردوس: يعني هغوی (مؤمنان) به د جنت وارثان وي .

رسول الله ﷺ ددې مطابق وفرمايل چي کوم سړی په ناجائزه توګه خپل وارث د مېراث څخه محروم کړي نو الله تعالى به د قيامت په ورځ هغه د جنت د وراثت څخه محروم کړي ، مطلب دادی چي داسي سړی به په پيل کي د خلاصون تر لاسه کوونکو خلکو سره په جنت کي نه داخلېږي .

======

Maktaba Tul Ishaat.com

بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيمِ

كِتَــابُ النِّكَاحِ

د نــكاح بـيان

نکاح په لغت کي جمع کولو او يو ځای کولو ته وايي مګر د دغه لفظ اطلاق پر مجامعت کولو او د عقد پر معنی هم کيږي ځکه چي په مجامعت او عقد دواړو کي جمع کول او يو ځای کول تر لاسه کيږي .

په اصول فقه کي د نکاح دغه معنی يعني جمع کېدل په معنی د مجامعت کولو برقرار او ساتل سوی ده، مطلب دا چي په قرآن کريم او حديثو کي چي کله دغه لفظ راسي نو د هغه څخه بايد دغه لغوي معنی مراد واخيستل سي په شرط د دې چي يو قرينه نه وي کوم چي د دغه معنی خلاف پر بلي معنی دلالت کوي .

د فقهي علماؤ په اصطلاح کي نکاح هغه خاص عقد او معاهدې ته وايي چي د سړي او ښځي په مينځ کي وي او په هغه سره د دواړو په مينځ کي د زوجيت تعلق پيدا کيږي .

د نکاح ارزښت

نکاح يعني واده يوازي د دوو کسانو يو ټولنيز تړون، يو شخصي ضرورت، يو طبعي خواهش او يوازي يوه ذاتي معامله نه ده بلکه دا د انساني ټولني د وجود او بقاء يو بنيادي متن هم دی ، او په شرعي نقطه نظر سره د بنيادي ضرورت اندازه په دې سره لګول کيدای سي چي د حضرت آدم عليه السلام د وخت څخه تر شريعت محمدي ﷺ پوري هيڅ يو داسي شريعت نه دی تېر سوی چي هغه د نکاح څخه خالي وي ځکه علماء کرام وايي چي داسي هيڅ عبادت نه سته چي د حضرت آدم عليه السلام څخه تر اوسه پوري مشروع وي او په جنت کي هم پاته وي پرته د نکاح او ايمان څخه چي په هر شريعت کي د سړي او ښځي اجتماع د يو خاص معاهدې سره سم مشروع راغلې ده او د دغه معاهدې څخه پرته د سړي او ښځي يو تر بله اجماع هيڅکله هم شريعت او مذهب جائز نه ده ګرځولې، مګر دا خبره ده چي د دغه معاهدې صورتونه مختلف راغلي دي او د دې په شرطو او احکامو کي تغير او تبديل راغلی دی په دې باره کي اسلام چي کوم شرطونه ټاکلي دي او کوم احکام يې نافذ کړي دي او کوم قواعد يې وضع کړي دي په دغه باب کي د دغه

Maktaba Tul Ishaat.com

شیانو څخه شروع کیږي.

د نکاح ګټې او تاوانونه

د نکاح تر ټولو لویه ګټه د انساني نسل بقاء او د توالد او تناسل جاري پاته کېدل دي، او همدارنګه ځیني نوري ګټې هم سته چې په لاندي توګه دي:

۱. په نکاح کولو سره جنسي جوش کمیږي، دغه جنسي جوش د انساني د اخلاقي ژوند یو هلاکونکی پړاو وي چې د خپل سکون له کبله نه یوازي د مذهب او اخلاق بلکه د شرافت او انسانیت د ټولو پابندیو ماتولو څخه منع نه کوي، مګر کله چې په یو جائز طریقه سره سکون تر لاسه سي نو بیا د اعتدال پابند سي او ظاهره ده چې جائز طریقه یوازي نکاح کېدای سي.

۲. په نکاح کولو سره خپل کور جوړیږي د کور لرلو آرام تر لاسه کیږي او په کورني ژوند کي د سکون او اطمینان دولت په برخه کیږي او د کورني ژوند د دغه اطمینان او سکون په ذریعه انساني ژوند ته د فکر او عمل پر هر اړخ باندي مرسته تر لاسه کیږي.

۳. د نکاح په ذریعه کورنۍ زیاتیږي چې د هغه په وجه انسان خپل ځان ټینګ او غوره محسوس کوي او په ټولنه کي د خپل حقوقو او مفاداتو د تحفظ لپاره رُعب لري.

۴. په نکاح کولو سره نفس د مجاهدې عادي کیږي ځکه چې د کورنۍ د خبراخیستني او روزني په اړه پر له پسې کوښښ کول وي چې د دغه پر له پسې کوښښ نتیجه دا وي چې انسان د بې عملي او لا پرواهي د ژوند څخه لیري وي چې د هغه لپاره په دنیوي توګه ګټور وي او ددې په وجه هغه په دیني ژوند یعني عبادت او طاعت کي هم بېداره وي.

د نکاح په ذریعه نیک او صالح اولاد پیدا کیږي، څرګنده ده چې د یو سړي د ژوند تر ټولو لویه سرمایه د هغه نېک او صالح اولاد وي چې د هغه په وجه نه یوازي په دنیا کي اطمینان، سکون او د عزت دولت تر لاسه کوي بلکه په اخروي توګه سره هم د کامیابۍ او سعادت برخمن جوړیږي.

دا خو د نکاح ګټې وې او ځیني داسي شیان هم دي چې د نکاح په وجه د ځینو خلکو لپاره د تاوان او تکلیف سبب ګرځي چې هغو ته د نکاح آفات ویل کیږي چې په لاندي توګه دي:

۱. د حلال رزق د طلب څخه عاجزه کېدل، یعني د نکاح په وجه د کورنۍ اړتیاوي رامنځته کیږي او ډول ډول فکرونه پیدا کیږي ځکه نو په عامه توګه سره د حلال رزق په تر لاسه کولو کي هغه ذوق نه پاته کیږي کوم چې د یو مجرد او یوازي سړي په ژوند کي وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

۲. په حرامو کارو کي زياتوب ، يعني کله چي د ښځي د راتلو او د کوچنيانو د پيدا کېدو په وجه د ژوند اړتياوي زياتيږي نو ډېره واره د خپل ژوند وجود او معيار برقرار ساتلو لپاره د حرامو کارو څخه هم منع نه کوي چي د هغه نتيجه دا سي چي کرار کرار د ذهن او عمل څخه د حلال او حرام تميز هم ختم سي او حرام شيان اختيار کړل سي .

۳. د ښځو د حقوقو په ادا کولو کي کوتاهي کول، اسلام چي ښځو ته کوم لوړ حقوق ورکړي دي په هغه کي د ښځي سره د ښه چلن او حسن معاشرت يوه خاصه درجه ده مگر دا سي ډېر کم خلک دي چي د ښځو د حقوقو لحاظ ساتي بلکه په بدبختۍ سره زورکي گڼل کيږي ځکه د ښځو د حقوقو تر پښو لاندي کول او د هغوی سره بد چلن کول هم د يو ذاتي معاملې څخه زيات څه حيثيت نه لري حالانکه دا شی يوازي يو انساني او ټولنيزه بداخلاقي نه ده بلکه په شرعي توگه هم د لوی گناه خبره ده او په دې سره دين او دنيا دواړو ته تاوان رسيږي

۴. د ښځو پر بد مزاجي باندي صبر نه کول ، په عامه توگه سره سړی خپل ځان پر ښځه غوره گڼي ځکه د ښځي له خوا که يو لږ بد اخلاقي وسي نو د زغملو وړ نه وي او د صبر او تحمل لمن د لاس څخه سمدستي ووځي .

۵. د ښځي د ذات څخه تکليف پورته کول، ځيني ښځي دا سي وي چي د خپل بداخلاقۍ په وجه د خپلو خاوندانو لپاره د تکليف او پريشانۍ يو مستقل سبب گرځي چي د هغه په وجه کورني ژوند غير مطمئن او پريشانه گرځي .

۶. د ښځي او کوچنيانو په وجه د الله تعالی د حقوقو نه ادا کول، يعني دا سي خلک ډېر کم وي چي د خپل کورني ژوند د استحکام او د ښځي او کوچنيانو سره د ښه چلن سره سره خپل ديني ژوند هم په پوره توگه سره برقرار وساتي ، حال دا چي په عامه توگه دا سي وي چي د ښځي او کوچنيانو د مصروفياتو په بوختيا کي ديني ژوند کمزوری او بې عمله سي، چي د هغه نتيجه دا وي چي نه خو د عبادت او طاعت خيال پاته کيږي او نه د الله تعالی حقوق په پوره توگه سره ادا کيږي .

د نکاح د گټو او آفاتو په مخته اېښودو سره اوس په دې پوه سئ که چيري دغه دواړه مقابل وي يعني گټي او آفات برابر او مساوي وي نو په کوم شي سره چي د دين په کارو کي زياتي کيږي هغه ته دي ترجيح ورکړل سي مثلاً يوې خوا ته د نکاح دا گټه وي چي د دې په وجه جنسي جوش کميږي او بلي خوا ته د نکاح په کولو سره دغه ديني تاوان وي چي د ښځي پر بد اخلاقۍ به صبر ونه کړلای سي نو په دغه صورت کي دي نکاح کولو ته ترجيح ورکړل سي ځکه که چيري

Maktaba Tul Ishaat.com

نکاح نه وي نو په زنا کي به اخته سي او څرګنده ده چي د غه شی د ښځي پر بد اخلاقی باندي د صبر نه کولو څخه زیات د ديني تاوان سبب وي.

د نکاح احکام

۱. د حنفي مذهب سره سم نکاح کول په هغه صورت کي فرض کیږي کله چي جنسي جوش هغه درجې ته ورسيږي چي د نکاح نه کولو په صورت کي په زنا کي د اخته کېدو یقین وي او د ښځي پر مهر او د هغې پر نفقه باندي قدرت ترلاسه وي او دا بېره نه وي چي د ښځي سره د ښه چلن کولو پر ځای به د هغې سره د ظلم او زیاتی چلن وي.

۲. نکاح کول په هغه صورت کي واجبيږي کله چي د جنسي جوش غلبه وي مګر دومره غلبه نه وي چي په زنا کي د اخته کېدو یقین وي او د مهر او نفقې د ادا کولو قدرت وي او پر ښځه باندي د ظلم کولو بېره نه وي که پر یو سړي باندي د جنسي جوش غلبه وي مګر هغه د مهر او د ښځي د نفقې قدرت نه لري نو په داسي صورت کي که چیري هغه نکاح ونه کړي نو پر هغه به ګناه نه وي حال دا چي پر مهر او نفقې باندي د قادر کېدو په وجه د جنسي جوش په صورت کي په نکاح نه کولو سره ګناه کار کیږي.

۳. د اعتدال په حالت کي نکاح کول سنت مؤکده ده، د اعتدال د حالت څخه مراد دادی چي د جنسي جوش غلبه خو نه وي مګر د ښځي سره پر کوروالي کولو باندي قدرت ولري او پر مهر او نفقې باندي هم قادر وي نو په دغه صورت کي نکاح نه کونکی ګناه کار دی، او د زنا څخه د ساتني او د نسل د زیاتېدو په نیت سره نکاح کونکی په اجر او ثواب سره نازول کیږي.

۴. نکاح کول په هغه صورت کي مکروه ده کله چي پر ښځه باندي د ظلم کولو یقین وي، که یو چا ته دا یقین وي چي زه د خپل طبیعت او سختی په وجه د ښځي سره ښه چلن نه سم کولای بلکه پر هغې باندي زما له خوا ظلم کېدل یقیني دی نو په داسي صورت کي نکاح کول به پر هغه حرام وي.

د دغه وضاحت څخه څرګنده سوه چي شریعت د نکاح په باره کي د مختلفو حالاتو رعایت ساتلی دی چي په ځینو صورتو کي نکاح فرض وي په ځینو کي واجب او په ځینو کي سنت مؤکده وي، او په ځینو صورتو کي نکاح کول مکروه هم وي او په ځینو کي حرامه هم وي نو هر سړی باید چي پر هغه صورت باندي عمل وکړي کوم چي د هغه د حالت سره سم وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

د نکاح مستحبات

کله چي یو څوک نکاح کول غواړي که سړی وي یا ښځه نو هغه باید د نکاح د پیغام استولو څخه مخکي د یو بل حالات او عادتونه په ښه ډول معلوم کړي چي داسي نه وي وروسته یو داسي شی معلوم سي چي د طبیعت او مزاج د خلاف کېدو په وجه د ښځي او خاوند په مینځ کي د بدحالۍ او جنجال سبب جوړ سي.

دا مستحب دي چي په عمر، عزت، نسب او مال کي ښځه د خاوند څخه کمه وي او په اخلاقو، عاداتو، خوش طبعۍ او ادابو، حسن او جمال، او تقوا کي د خاوند څخه زیاته وي، د سړي لپاره دا هم سنت دي چي هغه د کومي ښځي سره نکاح کول غواړي نو هغه ښځه د نکاح کولو څخه مخکي ووینې په شرط ددې چي دا یقین وي که زه هغې ته پیغام ولېږم نو منظور به سي،

دا مستحب دي چي د نکاح اعلان وکړل سي او د نکاح مجلس په ډاګه جوړ کړل سي چي په هغه کي د دواړو خواوو قریبانو او ځیني علماء او صالح خلک هم ګډون وکړي، همدارنګه دا مستحب دي چي نکاح تړونکی نېک او صالح سړی وي او شاهدان عادل او پرهېزګاره وي.

ایجاب او قبول او د هغه د صحیح کېدو شرطونه

نکاح د ایجاب او قبول په ذریعه تر سره کیږي او ایجاب او قبول دواړه د ماضي په لفظ سره کېدل پکار دي (یعني داسي لفظ دي استعمال کړي چي د هغه څخه دا معلومه سي چي نکاح وسوه) د مثال په توګه ښځه داسي ووایي چي ما خپل ځان ستا په زوجیت کي ورکړی یا د ښځي سرپرست دا ووایي چي ما فلانۍ ښځه چي د هغې نوم فلانۍ ده تا ته په نکاح درکړل او د هغه په جواب کي سړی دا ووایي چي ما قبوله کړه، او یا ایجاب او قبول یو دي د ماضي په لفظ سره وي لکه ښځه چي دا سي ووایي چي زما سره نکاح وکړه یا د ښځي سرپرست سړي ته ووایي چي د فلانۍ ښځي سره چي د هغې نوم دادی نکاح وکړه او د هغه په جواب کي سړی ووایي چي ما نکاح وکړه یا ددې برعکس چي سړی ووایي ایا تا خپل ځان زما په زوجیت کي راکړ یا داسي ووایي چي ایا تا زه قبول کړم او د هغه په جواب کي ښځه ووایي چي (هو ما درکړل یا هو ما قبول کړې) پر ځای یوازي داسي ووایي چي هو در مي کړل یا هو قبول مي کړې، (یعني لفظ د ما ونه وایي) نو په دغه صورت کي هم نکاح کیږي البته د شاهدانو په مخکي یوازي په دغه ویلو سره چي موږ ښځه او خاوند یو نکاح نه کیږي.

لکه څرنګه چي په ایجاب او قبول کي د ماضي لفظ استعمالول ضروري دي همدارنګه دا

Maktaba Tul Ishaat.com

هم ضروري ده چي په ايجاب او قبول كي په يو خاصه توګه سره د نكاح او تزويج لفظ استعمال كړل سي مثلا داسي وويل سي چي ما ستا سره نكاح وكړه يا ستا سره مي تزويج وكړ، يا دنكاح او تزويج هم معنى الفاظ استعمال كړل سي چي د هغه څخه كنايتا دنكاح مفهوم معلوم سي نو دا هم جائز دي، په شرط ددې چي د هغه سره داسي وي چي د هغه په ذريعه د يو ذات كامل ملكيت في المال تر لاسه كيږي كه د هبې لفظ يا د صدقې لفظ يا دتمليک لفظ يا د بيع او شراء لفظ لكه چي ښځه ووايي چي ما ته د دومره روپو په عوض كي رانيولې او ددغه ټولو په جواب كي سړى ووايي چي ما قبوله كړې مگر ددې د صحيح كېدو يو شرط دا هم دى چي متكلم دي د لفظ څخه مراد نكاح اخلي كه چيري يو قرينه پر دې دلالت كوي او كه يو قرينه نه وي نو قبلونكى دي د متكلم د مراد تصديق وكړي چي شاهدان هم پوه سي چي د ددغه لفظ څخه مراد نكاح ده كه څه هم هغوى په يو قرينې سره پوه سوي وي يا په ښودلو سره پوه سوي وي.

د ايجاب او قبول پر وخت په عاقدينو (يعني نر او ښځه) كي د هر يوه لپاره د بل خبري اورېدل ضروري دي كه هغه يې خپله واوري يا د يو وكيل په ذريعه يې واوري او يا بالولاية يعني د هغه د ولي په ذريعه يې واوري.

د ايجاب او قبول پر وخت د دوو شاهدانو موجودتيا د نكاح د صحيح كېدو لپاره شرط دى او دوه شاهدان كه دوه نارينه وي يا يو نارينه او دوې ښځي وي، د شاهدانو ازاد كېدل ضروري دي د مينزي او غلام شاهدي معتبره نه ده همدارنگه د شاهدانو عاقل او مسلمان كېدل هم ضروري دي، د مسلمان شاهدي په هر حال كي كافي دي كه هغه پرهيزګاره وي يا فاسق او يا پر يې د قذف حد لګول سوى وي، د شاهدانو بينا كېدل يا د زوجينو قريب نه كېدل شرط نه دي، ړندو سړي شاهدي او د زوجينو د قريبانو شاهدي معتبره ده كه څه هم هغه په زوجينو كي د يوه زوى وي، د شاهدانو لپاره دا ضروري ده چي هغوى دواړه د ايجاب او قبول الفاظ يو ځاى واوري او په اورېدو سره په دې پوه سي چي نكاح كيږي كه څه هم هغوى د الفاظو په معنى پوه نه سي مثلا ايجاب او قبول په يو داسي ژبه وي چي هغوى نه په پوهيږي، كه دواړه شاهدان د ايجاب او قبول الفاظ يو ځاى نه واوري بلكه جلا جلا يې واوري نو نكاح به صحيح نه وي، كه يو څوک بل چا ته ووايي چي زما د فلانى نابالغي لور نكاح د فلاني سړي سره وكړه او هغه سړى د هغه انجلۍ نكاح د هغه د پلار يا بل چا په موجودتيا كي وكړي نو دا به جائز سي **مگر كه** چيري پلار موجود نه وي نو بيا د دوو خلكو يا يوه سړي او دوو ښځو د موجودتيا څخه پرته نكاح نه صحيح كيږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

ځوانانو ته د نکاح کولو حکم

﴿۲۹۴۷﴾: عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل :

يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ مَنِ اسْتَطَاعَ منكم الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ

اې ځوانانو ! په تاسو کي چي څوک د جماع د نفقې او ولوړتوان ولرئ نو هغه ته پکار ده چي نکاح وکړی ځکه چي نکاح کول پټونکی د نظر

وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ. متفق عليه

او پاکونکی د فرج دی او څوک چي یې توان و نه لري نو هغه دي روژې نیسي ځکه چي روژه نیول د انسان شهوت ختموي .(بخاري او مسلم) .

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۱۱۲، رقم: ۵۰۶۶، ومسلم ۲\۱۰۱۸، رقم: ۱\۱۴۰۰.

د لغاتو حل: وجاء: ای کسر لشهوته. (د شهوت ختمول).

تشريح: انسان ته د بالغ کېدو څخه وروسته زلمی ویل کیږي مګر د ځوانی په حد کي اختلاف دی د امام شافعي رحمه الله علیه په نزد د ځوانی حد دېرش کاله پوري دي ، امام ابو حنيفة رحمه الله علیه فرمايي چي يو انسان تر څلوېښت کاله پوري د ځوان ويلو مستحق دی .

د نکاح نه کولو څخه منع

﴿۲۹۴۸﴾: وَعَنْ سَعْدِ ابْنِ أَبِيْ وَقَّاصٍ قَالَ رَدَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى عُثْمَانَ بْنِ مَظْعُوْنٍ التَّبَتُّلَ وَلَوْ أَذِنَ لَهُ لَاخْتَصَيْنَا . متفق عليه.

د حضرت سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ عثمان بن مظعون رضی الله عنه ته د ښځو سره د تعلق د پرېښودلو اجازه ور نه کړه که نبي کريم ﷺ و هغه ته اجازت ورکړې وای نو موږ به ځان خصي کړي وای (بخاري او مسلم)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۱۱۷، رقم: ۵۰۷۳، ومسلم ۲\۱۰۲۰، رقم: ۶\۱۴۰۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

د لغاتو حل: التبتل: ای الانقطاع عن النساء: (د ښځو څخه بېلوالی).

تشریح: د تبتل معنی ده د ښځو سره انقطاع او نکاح نه کول، د نصارا (د حضرت عیسی علیه السلام د پیروانو) په نزد تبتل یو ښه او غوره کار دی ځکه د هغوی په نزد د دینداری آخري حد دادی چي انسان د ښځو څخه پرهيز وکړي او دنکاح وغيره څخه ځان وساتي ، لکه څرنګه چي په عيسائيت یا نورو مذهبو کي نکاح نه کول د ژوند د خوندونو څخه لیري کېدل د عبادت، نیکی او تقوا آخري حد ګڼل کیږي داسي خبره په اسلام کي بالکل نه سته بلکه اسلامي شریعت نکاح د انساني ژوند لپاره یو ضرورت ګرځولی او ددې ارزښت یې واضح کړی دی او ښوولي یې دي چي د ژوند د خوندونو څخه لیري کېدل او تکلیف زغمل عبادت نه دی بلکه رهبانیت دی چي هغه ته په دین فطرت کي هيڅ مقام تر لاسه نه دی ، مګر امام شافعي رحمه الله دا وايي چي بېله نکاح ژوند تېرول غوره دي مګر د امام شافعي رحمه الله دغه قول هم د نکاح په باره کي د اسلامي شریعت د بنیادي منشاء خلاف نه دی ځکه چي اول خو ددې تعلق یوازي د افضلیت سره دی او دوهم دا چي دغه افضلیت هم د نفس نکاح په باره کي نه دی بلکه یوازي د تخلي للعبادة (یعني د عبادت لپاره ځان یوازي کولو) په باره کي نه دی یعني د امام شافعي رحمه الله مقصد یوازي دا څرګندول دي چي په عبادت کي بوختیا د نکاح تر بوختیا غوره دي ، مثلا علي قاري رحمه الله په مرقات کي د امام شافعي رحمه الله د دلیل نقل کولو څخه وروسته د امام ابوحنیفة رحمه الله ډېر دلیلونه نقل کړي دي چي د هغو څخه ثابتیږي چي د تجرد (بېله نکاح اوسیدلو) په مقابله کي تاهل (نکاح کول) غوره دي .

په هر حال کله چي حضرت عثمان ابن مظعون رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه د تبتل اجازه غوښتل نو رسول الله ﷺ هغه ته د اجازې ورکولو څخه انکار وکړ ځکه اسلام د مسلمانانو په نزد د نکاح په ذریعه نسل خپرول خوښوي چي ددې په وجه په دنیا کي د الله تعالی حقیقي نوم اخیستونکي زیات سي او هغوی همېشه د کفر او باطل پر خلاف جهاد کوي، په دې اړه د حدیث راوي حضرت سعد ابن ابي وقاص رضي الله عنه دا وويل که چیري رسول الله ﷺ حضرت عثمان ابن مظعون رضي الله عنه ته د تبتل (یعني نکاح نه کولو) اجازه ورکړې وای نو موږ ټولو به ځانونه خصي کړي وای چي موږ ته د ښځو ضرورت نه وای او نه موږ ته د ښځو سره په یو خرابي کي د اخته کېدو بېره وای .

علامه طیبي رحمه الله وايي چي دلته مناسب دا وه چي حضرت سعد رضي الله عنه دا ویلي وای که چیري رسول الله ﷺ حضرت عثمان ابن مظعون رضي الله عنه ته د تبتل اجازه ورکړې وای نو موږ به هم

Maktaba Tul Ishaat.com

تبتل کولای ، مګر د حضرت سعد رضي الله عنه ددغه ویلو پر ځای دا وویل چي موږ به ټولو خپل ځان خصي کړي وای ، نو حضرت سعد رضي الله عنه دا خبره په اصل کي د مبالغې په توګه وکړه یعني ددې خبري څخه د هغه مقصد دا وو که چیري رسول الله ﷺ حضرت عثمان رضي الله عنه د تبتل اجازه ورکړې وای نو موږ به په تبتل کي دومره مبالغه او دومره سخت کوښښ کولای چي په پای کي به د خصي په ډول سوي وای ، یعني ددغه جملې څخه د حضرت سعد رضي الله عنه مراد حقیقتا خصي کېدل نه وه ځکه چي دغه کار (یعني د ځان خصي کول) جائز نه دي .

علامه نووي رحمة الله علیه فرمايي چي حضرت سعد رضي الله عنه دا خبره له دې کبله وکړه چي د هغه ګمان دا وو چي خصي کېدل جائز دي حالانکه د هغه ګمان د حقیقت او واقعت خلاف وو ځکه چي خصي کېدل د انسان لپاره حرام دي که څه هم د کم عمر وي یا د ډېر عمر وي، دلته د حیوانانو په باره کي په دې پوهېدل پکار دي چي د هر هغه حیوان خصي کول حرام دي کوم چي غیر ماکول (یعني د هغو غوښه نه خوړل کیږي) وي او کوم حیوانان چي غوښه ئې خوړل کیږي د هغو خصي کول په کم عمر کي جائز دي مګر په ډېر عمر کي حرام دي، د حیوانانو د خصي کولو په باره کي پورتنی تفصیل علامه نووي شافعي رحمة الله علیه لیکلي دی، حال دا چي د فقهي په کتابو کي او په مختار او هدایه کي د ډېر عمر او لږ عمر د تفصیل څخه پرته یوازي دا لیکل سوي دي چي د حیوان خصي کول جائز دي .

د دینداره ښځي سره نکاح کول غوره دي

﴿۲۹۴۹﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ لِأَرْبَعٍ لِمَالِهَا وَلِحَسَبِهَا وَجَمَالِهَا وَلِدِينِهَا فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّينِ تَرِبَتْ يَدَاكَ . متفق علیه.

د حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د ښځو سره په څلورو وجو نکاح کولای سي ۱- د مالداري په وجه . ۲- د حسب په وجه ۳- د ښائست په وجه . ۴- د مذهب په وجه . په دې کي چي چا د دین او مذهب په وجه نکاح وکړه هغه کامیاب سو او ستا لاس دي په خاورو ککړ سي (که د مال او حسب یا د ښائست په وجه نکاح وکړی) . (بخاري او مسلم).

تخریج : البخاري في الصحیح (فتح الباري) : ۹\ ۱۳۲، رقم: ۵۰۹۰، ومسلم ۲\ ۱۰۸۶، رقم: ۵۲\ ۱۴۶۶.

تشریح د حسب او نسب والا څخه مراد هغه ښځه ده چي نه یوازي په ذات کي شرف او لوړي لري بلکه هغه چي د کومي کورنۍ او قبیلې څخه وي هغه کورنۍ او قبیله هم د عزت او شرف

Maktaba Tul Ishaat.com

ښبنته وي ، د انسان دا فطري خواهش وي چي هغه د داسي ښځي سره واده وکړي چي د حیثیت او عزت والا کورنۍ او قبیلې څخه وي چي د هغه ښځي په وجه د خپل اولاد په نسب کي د شرف او لوړتیا امتیاز تر لاسه کړي.

په هر حال د حدیث خلاصه داده چي په عامه توګه سره خلک د ښځو سره د نکاح کولو په اړه د پورتنیو څلورو شیانو په خاصه توګه لحاظ ساتي چي ځیني خلک د شتمنو ښځو سره نکاح کول غواړي، ځیني د حسب او نسب ښځه کول خوښوي، د ډېرو خلکو دا خواهش وي چي یو ښکلې او ښائسته ښځه یې د ژوند ملګرې سي او ځیني خلک نېکي او دینداري ښځي ته ترجیح ورکوي ، نو د دین او مذهب سره تعلق لرونکي هر څوک باید چي د هغه دینداره ښځي سره نکاح کول خوښ کړي ځکه چي په دې کي دد نیا خیر هم دی او د آخرت سعادت هم دی.

ستاسو لاسونه دي په خاورو ولړل سي : دغه جملې د لفظي مفهوم په اعتبار د ذلت ، هلاکت او ښېرا لپاره د کنایې په توګه استعمالیږي مګر دلته دد غه جملې څخه ښېرا کول مراد نه دي بلکه دد ې مقصد د دینداره ښځو خپل مطلب ګرځولو ته ترغیب ورکول دي.

نیک بخته ښځې د دنیا غوره متاع دی

﴿۲۹۵۰﴾ : وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الدُّنْيَا كلها مَتَاعٌ وَخَيْرُ مَتَاعِ الدُّنْيَا الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ . رواه مسلم .

د حضرت عبد الله بن عمرو رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : دنیا ټوله متاع (د دنیا فائده) ده او د دنیا بهترین متاع نیکه ښځه ده . (مسلم)

تخریج: مسلم في الصحیح ۲ \ ۱۰۹۰، رقم: ۶۴ \ ۱۴۶۷.

تشریح: د متاع معنی ده هغه شی چي د هغه څخه لږ ګټه تر لاسه سي او بیا فناه سي ، نو دنیا ته د متاع ویلو مطلب دادی چي دنیا یو داسي شی دی چي د هغه ګټه تر لږ وخت پوري وي چي د هغه ګټه ژر فنا کېدونکې ده همدا رنګه ددین غوره متاع نیکه ښځه ده ، دد ې مطلب دادی چي په دغه دنیا کي د کومو شیانو څخه ګټه تر لاسه کیدای سي نو په هغو کي غوره شی نېکه ښځه ده ځکه چي نېکه ښځه د آخرت په کارونو کي مرستیاله او ګټوره ثابتیږي .

د قریشو د ښځو فضیلت

﴿۲۹۵۱﴾ : وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ نِسَاءٍ

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په اوښ سپرېدونکو ښځو

رَكِبْنَ الْإِبِلَ صَالِحُ نِسَاءِ قُرَيْشٍ أَحْنَاهُ عَلَى وَلَدٍ فِي صِغَرِهِ وَأَرْعَاهُ عَلَى زَوْجٍ فِي ذَاتِ يَدِهِ. متفق عليه.

(د عربو په ښځو) کي غوره ښځي د قریشو نېکي ښځي دي چي پر کوچنیانو ډېري مهرباني او د خپل خاوند د مال ساتونکي او امانت داري دي. (بخاري او مسلم).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۱۲۵، رقم: ۵۰۸۲، ومسلم ۴\۱۹۵۹، رقم: ۲۰۲\۲۵۲۷.

تشريح: پر اوښانو د سپرېدونکو ښځو څخه مراد د عربو ښځي دي ځکه چي د عربو ښځي په عامه توګه سره د اوښانو د سپرتیا عادي وي نو د حدیث مطلب دا سو چي په عربي ښځو کي غوره ښځي د قریشو نیکي ښځي دي.

د ښځو فتنه ډېره تاواني ده

﴿۲۹۵۲﴾: وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا تَرَكْتُ بَعْدِي فِتْنَةً أَضَرَّ عَلَى الرِّجَالِ مِنَ النِّسَاءِ. متفق عليه.

د حضرت اسامه بن زید رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: زه د ځان څخه وروسته د سړو لپاره د ښځو څخه زیاته ضرر رسوونکې بله فتنه نه پرېږدم. (بخاري او مسلم)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۱۳۷، رقم: ۵۰۹۶. ومسلم ۴\۲۰۹۷، رقم: ۹۷\۲۷۴۰.

تشريح: د نارینوو لپاره د ښځو فتنې ته تر ټولو زیاته تاواني ځکه ویل سوي دي چي اول خو د نارینوو طبیعت په عامه توګه ښځو ته مائل وي، دوهم دا چي نارینه په عامه توګه د ښځو د خواهشاتو زیات پابند وي چي د هغه نتیجه دا سي چي هغوی په حرامو کارو کي اخته سي او د ښځو په وجه په خپلو کي په جنګ، نفرت او عداوت کي اخته سي، د دې ښه مثال دا دی چي د ښځو بې ځایه ناز سړی دنیا ته راغب کوي او څرګنده ده چي د دنیا داري څخه زیات بل کوم شی تاوان رسونکی کیدای سي ځکه چي رسول الله ﷺ په دې باره کي فرمایلي دي: حب الدنیا راس کل خطیئة: یعني د دنیا مینه د ټولو خرابیو رېښه ده.

(د ځان څخه وروسته) د دغه ارشاد څخه دا خبره ثابته سوه چي د ښځو فتنه د رسول الله ﷺ په زمانه کي وه او د دې زیات ظهور د رسول الله ﷺ څخه وروسته وسو ځکه چي هغه وخت د حق

Maktaba Tul Ishaat.com

غلبه وه او د نیکۍ طاقت تړولي بدي تر پښنو لاندي کړي وي ، کله چي د رسول الله ﷺ څخه وروسته په کراره کراره د باطل قوت زياتېدی نو د بدۍ غلبه راغله .

د ښځو د فتنې څخه ځان وساتئ

﴿۲۹۵۳﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو سعيد خدري ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

الدُّنْيَا حُلْوَةٌ خَضِرَةٌ وَإِنَّ اللهَ مُسْتَخْلِفُكُمْ فِيهَا فَيَنْظُرُ كَيْفَ تَعْمَلُونَ فَاتَّقُوا

دنيا (ډېره) شيرينه او شنه يعني په نظر کي غوره شی دي او خداي تعالی ستاسو په دنيا کي پرېښونکی دی بيا هغه تاسو ته وخت درکوي چي تاسو څه کوئ ؟ نو

الدُّنْيَا وَاتَّقُوا النِّسَاءَ فَإِنَّ أَوَّلَ فِتْنَةِ بَنِي إِسْرَائِيلَ كَانَتْ فِي النِّسَاءِ . رواه مسلم

د دنيا او د ښځو څخه ځان و ساتئ ځکه چي بني اسرائيلو ته لومړنۍ فتنه د ښځو وه . (مسلم) .

تخريج: مسلم في الصحيح ۴\ ۲۰۹۸، رقم: ۹۹\ ۲۷۴۲.

تشريح: دنيا خوږه او شنه ده : ددې مطلب دا دی لکه څرنګه چي خوږ شی د طبيعت لپاره خوښ شی وي او څرنګه چي شين شی طبيعت ته ښه معلوميږي همدارنګه دنيا هم زړه ته خوږه او سترګو ته ډېره ښه معلوميږي .

الله ﷻ تاسو ددغه دنيا خليفه ګان کړي ياست ..الخ: ددې مطلب دا دی چي دغه دنيا په حقيقت کي د الله تعالی ملکيت دی هغه ددې حقيقي مالک او حاکم دی هغه تاسو پر دغه مځکه باندي خليفه ګرځولو سره د دې د تصرفاتو تاسو خپل وکيلان ګرځولي ياست نو الله تعالی هر وخت تاسو ويني چي تاسو په دغه مځکه کي د هغه د خلافت بار څرنګه پورته کوئ او د خپل ژوند په ذريعه د دنيا په تصرفاتو کي د وکالت حق څرنګه ادا کوئ ، يا ددې جملې معنی داده چي کوم خلک ستاسو څخه مخکي ددغه دنيا څخه تللي دي الله تعالی تاسو د هغه خليفه (وارث) ګرځولي ياست نو د هغوی سره چي څه وه هغه ټول يې تاسو ته درکړي دي او اوس هغه تاسو ته ګوري چي تاسو د خپل اسلافو د احوالو او کيفيت څخه څرنګه عبرت اخلي او د هغوی په مالو او مېراث کي څرنګه تصرف کوئ .

د دنيا څخه ځان وساتئ : ددې مطلب دا دی چي دنيا د مکر او فريب يو جال دی، ددغه جال

څخه تر خپل وس پوري ځان وساتئ داسي نه چي په دغه جا لکي په راتللو سره د دنيا پر ظاهري مال باندي خپله ديندار ي د لاسه ورکړئ ځکه چي د نيا ته ثبات نه سته دا يو فنا کېدونکی شی دی بيا د دغه فنا څخه وروسته سبا چي تاسو د همېشه ژوند لپاره څه کولای سي نو د دغه حلالو شيانو به حساب ورکول کيږي او د هغه پر حرامو شيانو به په عذاب کي سئ همدا رنګه د ښځو د مکر او فريب څخه هم ځان وساتئ ځکه چي د يو موټ خاورو دغه ښکلې مجسمه کله د نيکي ښځي په صورت کي د الله تعالی يو نعمت وي او کله د يو خرابي ښځي په شکل کي فتنه هم وي داسي نه چي د خرابو ښځو مکاري او بې ځايه ناز تاسو حرامو شيانو ته واړوي او د هغوی په وجه تاسو د تباهۍ او هلاکت په کنده کي ولويږي .

په بني اسرائيلو کي د تباهۍ سبب د ښځي فتنه وه

د تباهۍ د دروازې خلاصولو اول سبب او ذريعه ښځه جوړه سوې ده ، د دې تفصيل داسي دی چي د حضرت موسی عليه السلام په زمانه کي يو سړی (بلعم بن باعور) ډېر مستجاب الدعوات (يعني د دعاء قبلېدونکی) وو د هغه اسم اعظم په ياد وو چي د هغه په ذريعه به د هغه هره دعاء قبلېدل، کله چي حضرت موسی عليه السلام د جبارينو سره د جنګ لپاره د شام په سيمه کي د بني کنعان په يو سيمه کي تم سو نو د بلعم د قوم خلک بلعم ته راغلل او هغه ته يې وويل چي موسی عليه السلام د خپل پيروانو يو لوی لښکر راوستلو سره زموږ د قتل او د دغه سيمي څخه زموږ د ايستلو لپاره راغلی دی تاسو د هغه لپاره يو داسي ښېرا وکړئ چي هغه د دغه ځای څخه بېرته وتښتېږي . بلعم جواب ورکړه چي زه په هغه څه پوهېږم کوم چي تاسو نه په پوهېږئ زه د الله جل جلاله د پيغمبر او د هغه د منونکو په حق کي ښېرا څرنګه کولای سم، که زه د هغوی لپاره ښېرا وکړم نو زما دنيا او آخرت به دواړه تباه سي ، کله چي د هغه د قوم خلکو هغه ته ډېري زارۍ وکړې او پر ښېرا کولو باندي يې ډېر ټېنګار وکړ نو بلعم وويل چي ښه دی زه استخاره کوم چي څه حکم کيږي، بيا د هغه څخه وروسته به فيصله کوو ، د بلعم دا معمول وو چي هغه به بېله استخارې هيڅ يو کار نه کوی هغه چي استخاره وکړه نو په خوب کي هغه ته هدايت وسو چي د پيغمبر او مؤمنانو په حق کي هيڅکله ښېرا مه کوه ، بلعم د خپل خوب څخه خپل قوم خبر کړی او د ښېرا کولو څخه يې منع وکړه ، د قوم خلکو د فکر کولو څخه وروسته يو ه طريقه اختيار کړه چي هغه خلکو د ځان سره د قيمتي تحفو په راوړلو سره بلعم ته راغلل او بيا د هغه په وړاندي په ډېر زارۍ سول ژړا او فرياد يې وکړ او هغه يې دومره مجبور کړ چي په پای کي د هغوی په جال کي راغلی ، د هغه د ښېرا کولو په غرض پر خپل خره باندي سپور سو او کرجستان نامي غره ته ولاړی چي د هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

نژدې د حضرت موسى عليه السلام لښکر وو، په لاره کي څو واره خر ولوېدی مگر په وهلو وهلو به يې پورته کړی تر دې چي دا لړی اوږده سوه او بلعم هم خپل خر په وهلو وهلو پريشانه کړی،

نو الله تعالى په خپل قدرت كامله سره خره ته وينا ورکړه، خره وويل اې ناپوه بلعم! پر تا دي افسوس وي ايا ته دا نه وينې چي ته چيري ځې، ته زما د مخته تللو کوښښ کوې او ملائکي زما مخته په راتللو سره ما پر شا بيايي، بلعم د بصيرت په سترګو سره خر په خبرو کولو وليدی نو پر ځای ددې چي دا د خپل ارادې څخه منع سي مگر د خره په پرېښودو سره پر پښو غره ته وختی او هلته يې ښېرا شروع کړل، مگر دلته هم الله تعالى خپل شان وښودی چي کله به بلعم په خپله ښېرا کي د حضرت موسى عليه السلام او د هغه د لښکر نوم اخيستی نو د هغه د ژبي څخه به د بني اسرائيلو پر ځای د بلعم د قوم نوم راوتی، ددې په اورېدو سره د هغه د قوم خلکو وويل اې بلعم! دا څه کوې د بني اسرائيلو پر ځای زموږ په حق کي ښېرا کوې، بلعم وويل چي اوس زه څه وکړم دا الله تعالى زما د مقصد او ارادې څخه پرته زما د ژبي څخه ستاسو نوم پورته کوي تر دې چي د الله تعالى د عذاب په وجه د بلعم ژبه د هغه د خولې څخه په راوتلو سره پر سينه را ولوېدل، او بيا د بلعم عقل بالکل له منځه ولاړی او د ليوني په ډول يې ويل چي اوس زما دنيا او آخرت دواړه برباد سول، اوس موږ ته د بني اسرائيلو د تباهۍ لپاره يو بل جال تيارول پکار دي، بيا هغه مشوره ورکړه چي تاسو خپل ښځي ښه ښائسته او سنګار کړئ او د هغوی په لاسو کي د يو شي د ورکولو په بهانه ښځي د بني اسرائيلو لښکر ته واستوئ او هغوی ته وواياست که په بني اسرائيلو کي يو څوک تاسو خپل ځان ته راوبولي نو انکار مه کوئ، په ياد ولرئ که په بني اسرائيلو کي يو سړی هم د يوې ښځي سره په زنا کي اخته سو نو ستاسو ټول کوښښونه به کامياب سي، نو د بلعم قوم په دغه مشوره عمل وکړ او خپل ښځي يې ښکلي او سنګار کړې او د بني اسرائيلو لښکر ته يې واستولې، هغه ښځي چي لښکر ته ورسيدلې او په هغوی کي يوه ښځه چي د هغې نوم کسبي بنت صور وو د بني اسرائيلو د يو سردار زمزم بن شلوم مخته تېره سوه، نو هغه د ښځي پر ښکلا او جمال باندي زړه بايلی او د هغه د لاس په نيولو سره يې حضرت موسى عليه السلام ته بوتلل او هغه ته يې وويل چي تاسو دغه ښځه زما لپاره حرامه ګرځوئ، حضرت موسى عليه السلام ورته وويل چي هو، دغه ښځي ته بالکل مه ورځه،

نو زمزم وويل چي زه په دې باره کي ستاسو حکم بالکل نه منم نو هغه ښځه يې خپل خيمې ته بوتلل او هلته يې د هغې سره مخ تور کړی، نو ددې په سبب د الله تعالى حکم د قهر شکل اختيار کړ او د هغه سردار په عمل سره پر ټول لښکر باندي يو داسي وبا نازله سوه چي

Maktaba Tul Ishaat.com

سمدستي اوويا زره خلک هلاک سول، بلي خوا ته فحاص د حضرت هارون علیه السلام ملسی چي يو قوي او د حضرت موسی علیه السلام ساتونکی وو هغه ته دا معلومه سوه چي زموږ د يوه سردار بد عمل د الله تعالی قهر ته دعوت ورکړی دی نو سمدستي يې خپله وسله را واخيستل او د زمزم خيمې ته داخل سو او د سترګو په رپ کي يې د زمزم او د هغه ښځي کار خلاص کړی او بيا يې وويل چي الله تعالی ددغه سړي په وجه موږ ټول هلاک او تباه کړلو نو د هغه دواړو په قتلېدو سره هغه وباء چي د عذاب په صورت کي نازله سوې وه ختمه سوه.

نحوست په درو شيانو کي وي

﴿۲۹۵۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا الشُّؤْمُ

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: نحوست (سپيره توب)

فِي الْمَرْأَةِ وَالدَّارِ والفرس. متفق عليه و في رواية الشؤم في ثلاثة في المراة والمسكن والدابة.

په ښځه، په کور او په آس کي وي او په يوه روايت کي دا الفاظ دي نحوست په درو شيانو کي وي. (۱) په ښځه کي (۲) په کور کي (۳) په حيوان کي. (بخاري او مسلم)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۱۳۷، رقم: ۵۰۹۳، ومسلم ۴\۱۷۴۵، رقم: ۱۱۵\۲۲۲۵.

تشريح: لفظ د شوم د يمن ضد دی چي معنی يې د بې برکتۍ ده او دې ته نحوست هم وايي، په حديث شريف چي دا فرمايل سوي دي چي په دغه درو شيانو کي بې برکتي وي نو دهغه شيانو په تفصيل پوه سئ چي د نحوست څخه مراد څه شي دی؟

ځيني حضرات وايي د کور د نحوست څخه د کورتنګي او خراب همسايه مراد دی يعني کوم کور چي تنګ او تاريک وي او د هغه همسايه خراب وي نو هغه کور د تکليف او پريشانۍ سبب وي، د ښځي د نحوست څخه د مهر زياتوب د هغې بد اخلاقي او زبان درازي مراد دی يعني دکومي ښځي چي زيات مهر وټاکل سي هغه بد اخلاقه، زبان درازه او وچه وي نو داسي ښځه د راحت او سکون پر ځای د اذيت او تکليف ذريعه جوړيږي، همدارنګه د آس نحوست څخه د هغه شوخ کېدل، سست قدم اخيستل او پر هغه باندي د جهاد نه کول مراد دي، يعني کوم آس چي داسي وي چي د شوخۍ په وجه سړی پرېشانه کوي او سست تګ کوي او پر هغه باندي

Maktaba Tul Ishaat.com

په سپړېدو سره د جهاد نوبت هیڅکله نه وي راغلی نو هغه آس د خپل مالک لپاره هیڅ حقیقت نه لري.

ځیني علماء وایي چي په دغه درو شیانو کي د نحوست د اظهار کولو مقصد په اصل کي دا ښوول دي که چیري په یو شي کي نحوست کېدل څه حقیقت ولري نو په دغه درو شیانو کي به وي یعني د دغه تشریح څخه دا حقیقت واضح کیږي چي په یو شي کي نحوست کېدل څه معنی نه لري، دا ویل چي فلانی شی منحوس دی یا په فلاني شي کي نحوست دی دا یوازي د وهمي درجې شی دی چي د حقیقت سره یې هیڅ تعلق نه سته ځکه که چیري نحوست حقیقتا په یو شي کي وي نو هغه به په دغه درو شیانو کي خامخا وای ځکه چي دغه دري شیانو د نحوست وړ کېدای سي، دغه حدیث شریف داسي دی لکه څرنګه چي په یو بل روایت کي فرمایل سوي دي که یو شی د تقدیر د دائرې څخه د باندي وای نو هغه به بد نظر وای یعني د کائناتو هر حرکت او ذره ذره شی د تقدیر پابند دی ځکه په عالم کي یوازي هغه په ظهور کي راځي کوم چي د مخکي څخه مقدر سوي دي هیڅ شی د تقدیر څخه وتلی نه دي، که چیري یو شی د تقدیر د دائرې څخه وتلی وای نو هغه به بد نظر وای، نو څرنګه چي د دغه ارشاد مقصد دا ظاهرول نه دي چي بد نظر د تقدیر د دائرې څخه وتلی شی دی همدارنګه د ذکر سوو درو شیانو د نحوست ذکر کولو مقصد دا نه دی چي په دغه درو شیانو کي نحوست دی.

ځیني علماء وایي چي د دغه ارشاد په ذریعه په اصل کي د امت خلکو ته دا تعلیم ورکړل سو دی که د چا سره داسي سرای وي چي په هغه کي اوسیدل نه خوښوي یا د چا داسي ښځه وي چي د هغې سره محبت او کوروالي نه خوښوي یا د چا سره داسي آس وي چي هغه ته ښه نه معلومیږي نو په دغه درو صورتو کي د دغه شیانو پرېښودل پکار دي یعني سرای والا دي د هغه سرای څخه منتقل سي، ښځي والا دي هغه ښځي ته طلاق ورکړي او آس والا دي هغه آس خرڅ کړي.

د حدیث د دغه وضاحت په رڼا کي دا خبره هم څرګنده سوه چي دغه ارشاد (طیرة منهی عنها) یعني د بدفالۍ د اخیستلو د منع خلاف نه دی، مطلب دا چي په عامه توګه سره خلک وایي چي دغه مکان منحوس دی یا فلانۍ ښځه د فلاني آس منحوس دی نو دا خبره دلته مراد نه ده.

د نکاح لپاره د پیغلي ښځي ترجیح

﴿۲۹۵۵﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةٍ فَلَمَّا

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دی چي موږ په یوه غزا کي د رسول الله ﷺ سره وو، کله چي

Maktaba Tul Ishaat.com

قَفَلْنَا كُنَّا قَرِيبًا مِنَ الْمَدِينَةِ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي حَدِيثُ عَهْدٍ بِعُرْسٍ

موږ بیرته راغلو او مدینې منورې ته نژدې را ورسېدو نو ما عرض وکړ یا رسول الله ﷺ! ما

قَالَ أَتَزَوَّجْتَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ أَبِكْرًا أَمْ ثَيِّبًا قَالَ قُلْتُ بَلْ ثَيِّبًا قَالَ فَهَلَّا بِكْرًا

نوی واده کړی دی ایا زه وړاندې ولاړ سم؟ نبي کریم ﷺ راته وفرمایل: تا نکاح کړې ده؟ ما عرض وکړ هو! نبي کریم ﷺ را څخه پوښتنه وکړه د پېغلې سره که د کونډې سره؟ ما عرض وکړ چې د کونډې سره. نبي کریم ﷺ را ته وفرمایل: د پیغلې سره دې واده ولې نه کوی؟

تُلَاعِبُهَا وَتُلَاعِبُكَ قَالَ فَلَمَّا قَدِمْنَا ذَهَبْنَا لِنَدْخُلَ فَقَالَ أَمْهِلُوا حَتَّى نَدْخُلَ

چې ته د هغې سره او هغې ستا سره لوبې کړې وای (یعني په بې تکلفي سره به مو ژوند کولای) بیا چې موږ و مدینې منورې ته را ورسېدو نو موږ و خپلو کورو ته د تلو تلوار وکړ رسول الله ﷺ راته وفرمایل: و درېږئ موږ به

لَيْلًا أَيْ عِشَاءً لِكَيْ تَمْتَشِطَ الشَّعِثَةُ وَتَسْتَحِدَّ الْمُغِيبَةُ. متفق عليه.

د شپې په وخت کې و کورو ته نه ځو چې ښځې خپل ببر وربښتان ږمونځ کړي او د نامه لاندې وربښتان صفا کړي. (بخاري او مسلم).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۳۴۲، رقم: ۵۲۴۷، ومسلم ۲\۱۰۸۸، رقم: ۵۷\۱۴۶۶.

د لغاتو حل: الشعثة: اى المتفرقة شعر الراس (ببر سر). المغيبة: وهي التي غاب عنا زوجها فتستعمل الحديدة اى الموسى لحلق العانة.

تشریح تا د هغې سره لوبې کولای...الخ: ددې څخه په خپلو کې بې تکلفي، الفت او رغبت مراد دی. مطلب دا چې د پیغلې ښځې سره په نکاح کولو کې ژوند زیات په مینه او رغبت سره تېرېږي او بې تکلفي محسوس کېږي، ددې پر خلاف کونډه ښځه چې د دوهم سړي په نکاح کې راسي نو د هغې زړه د اول خاوند په یاد کې وي، دوهم دا که چیري دغه خاوند په کوروالي او نورو کارو کې د دوهم خاوند په ډول نه وو نو د هغې طبیعت موړ سي چې ددې نتیجه به دا سي چې هغه به دومره بې تکلفه او خوش مزاجه نه ثابتېږي لکه څرنګه چې یو پېغله ښځه وي.

د حدیث شریف د آخري جملې مطلب دا دی چې خپلو کورو ته تلوار مه کوئ بلکه لږ ځنډ وکړئ چې ستاسو ښځې د شپې راتلو څخه مخکې په خپل سنګار سره ستا سو د مجامعت لپاره ځان

تيار کړي چي کله تاسو د شپې هغوی ته ورسيږي نو تاسو ته به هيڅ ډول بي لطفي نه وي ، دلته دا اشکال پيدا کيږي چي په نورو حديثو کي د شپې په وخت کي راتلونکي مسافر د شپې په وخت کي د کور ننوتلو څخه منع سوي دي او دلته د شپې په وخت کي کور ته داخلېدل فرمايل سوي دي ؟ ددې جواب دادی چي کور ته راتلونکی مسافر ته د شپې په وخت کي کور ته د داخلېدو چي کومه منع سوې ده د هغې تعلق ددغه صورت سره دی چي کله ناڅاپه او بې خبره کور ته ولاړ سي، او که چيري کورنۍ ته د مخکي څخه خبر وي لکه څرنګه چي دلته وسول نو په دغه صورت کي د شپې په وخت کي خپل کور ته داخلېدل منع نه دي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

هغه درې کسان چي الله ﷻ يې خامخا مرسته کوي

﴿۲۹۵۶﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثَلَاثَةٌ حَقٌّ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : درې کسان چي د هغوی

عَلَى اللهِ عَوْنُهُمُ الْمُكَاتَبُ الَّذِي يُرِيدُ الْأَدَاءَ وَالنَّاكِحُ الَّذِي يُرِيدُ الْعَفَافَ

کومک پر الله ﷻ واجب دی (۱)يو خو مکاتب غلام چي د خپل کتابت د ادا کولو اراده لري.
(۲) هغه نکاح کونکي سړی چي د هغه مقصد د نکاح څخه د زنا د ځان ژغورل وي.

وَالْمُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللهِ . رواه الترمذي والنسائي وابن ماجة .

(۳) د خداي تعالي په لاره کي جنګېدونکي . (ترمذي نسائي ابن ماجه) .

تخريج: الترمذي في السنن ۴\ ۱۵۷، رقم: ۱۶۵۵، والنسائي ٦\ ٦١، رقم: ۳۲۱۸، وابن ماجه في السنن ۱۲ ۸۴۱- ۸۴۲، رقم: ۲۵۱۸.

تشريح مکاتب هغه غلام ته وايي چي د هغه بادار هغه ته دا ووايي که ته ما ته دومره روپۍ راکړې نو ته به ازاد سې همدارنګه د روپو هغه اندازه چي د هغه غلام بادار د ازادۍ لپاره ضروري ګرځولي دي هغه ته بدل کتابت ويل کيږي .

د ښځي د ولي لپاره هدايت

﴿۲۹۵۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَطَبَ إِلَيْكُمْ

Maktaba Tul Ishaat.com

مَنْ تَرْضَوْنَ دِينَهُ وَخُلُقَهُ فَزَوِّجُوهُ إِنْ لاَّ تَفْعَلُوهُ تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الْأَرْضِ وَفَسَادٌ عَرِيضٌ. رواه الترمذي.

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: که يو داسي سړی تاسو ته د نکاح پېغام را ورسوي چي د هغه د دين او اخلاقو څخه تاسو خوشحاله یاست نو د هغه پېغام و منئ نکاح ورسره وکړئ که يې ونه کړئ نو په مځکه کي به سخته فتنه او لوی فساد پيدا سي. (ترمذي).

تخريج: الترمذي في السنن ۳\ ۳۹۴، رقم: ۱۰۸۴.

تشريح: دغه حديث شريف په اصل کي د ښځو سرپرستانو او وليانو ته يو خطاب او د هغوی لپاره يو ضروري لارښوونه ده که چيري يو ديندازه او نېک سړی ستاسو د لور يا خور سره د نکاح کولو پيغام را واستوی نو د هغه پيغام ومنئ او د هغه سره يې نکاح وکړئ او که داسي ونه کړئ بلکه د داسي سړي پيغام رد کړئ او د يو شتمن سړي په انتظار کي یاست لکه څرنګه چي د اکثرو شتمنو خلکو عادت دی نو ددې نتيجه به داسي چي اکثره ښځي به بې خاوند او اکثره خلک به بېله ښځي پاته سي، له دې کبله به نه يوازي دا چي د زنا عام چلن به شروع سي بلکه د هغه ښځو سرپرست او ولي به په يو خراب پيغور او غيرت کي اخته سي بيا چي کله يو څوک هغه پيغور ورکوي نو هغوی په جنګ کوي، او په پای کي به دغه خرابي د جګړې او فتنې او فساد شکل وګرځي.

علامه طيبي رحمه الله وايي چي دغه حديث د امام مالک رحمه الله دليل دی چي هغه وايي د کفايت لحاظ دي يوازي د دين په صفت کي وکړل سي يعني د ده په نزد د نارينه او ښځي کفو (سيال) يوازي دين کيدای سي حال دا چي د علماؤ د اکثريت دا مذهب دی چي په دغه څلورو صفتو کي د يو بل د سيال کېدو لحاظ بايد وکړل سي ۱: دين، ۲: حريت، ۳: نسب، ۴: کسب، د يو مسلماني ښځي نکاح دي د کافر سره نه کيږي او نه دي د يو نيکي ښځي نکاح د يو فاسق سره کيږي . د ازادي ښځي نکاح دي د غلام سره نه کيږي ، د معلوم النسب نکاح دي د غير معلوم النسب ښځي سره نه کيږي او د يو تجار د لور نکاح دي د يو حرام او مکروه کسب والا سړي سره نه کيږي مګر په دې باره کي دا خبره بايد په ذهن کي وي که د يو ښځي ولي او خپله هغه ښځه د يو غير کفو سره پر نکاح کولو باندي راضي وي نو نکاح صحيح کيږي .

Maktaba Tul Ishaat.com

د مينه ناکه ښځې سره نکاح کوئ

﴿۲۹۵۸﴾: وَعَنْ مَّعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَزَوَّجُوا الْوَدُودَ الْوَلُودَ فَإِنِّي مُكَاثِرٌ بِكُمُ الْأُمَمَ. رواه ابوداؤد والنسائي.

د حضرت معقل بن يسار رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو د هغه ښځې سره نکاح کوئ چې د خاوند سره محبت کونکې او زيات کوچنيان راوړونکې وي ځکه چې زه به د نورو امتونو په مقابله کې ستاسو په کثرت فخر کوم.(ابو داؤد نسائي)

تخريج: ابوداود في السنن ۲\۵۴۲، رقم: ۲۰۵۰، والنسائي ۶\۶۵، رقم: ۳۲۲۷.

تشريح: په منکوحه ښځه کې ذکر سوي دوه صفتونه ځکه ذکر سوي دي که چيري د يو ښځې ډېر کوچنيان پيدا کيږي مګر هغه د خپل خاوند سره مينه کمه کوي نو په دغه صورت کې د خاوند رغبت هغې ته کم وي او که يو ښځه د خپل خاوند سره مينه زياته کوي مګر د هغې کوچنيان نه پيدا کيږي نو په دغه صورت کې مقصد نه تر سره کيږي او مقصد د امت محمديه ﷺ ډېر والی دی، څرګنده ده چې د زياتو کوچنيانو پيدا کېدو په صورت کې کيدای سي که د مسلمانو ښځو کوچنيان زيات وي نو د امت به زياتوب وي کوم چې د نبي کريم ﷺ په نزد غوره او مطلوب دی.

اوس دا سوال پيدا کيږي چې د نکاح څخه مخکې دا څنګه معلوميدای سي چې کومه ښځه په راتلونکې ژوند کې د دغه صفتو والا کيدای سي، نو ددې جواب دادی چې د يو کورنۍ عامه مشاهده ده چې د هغې د يوې ښځې لپاره د دغه صفتونو معيار جوړيدای سي نو د هغه په اکثرو انجونو کې دغه صفتونه پيدا کيدای سي چې د هغوی کورنۍ او قريبانو کې د دغه صفتونو مشاهده کيږي، په عامه توګه سره د قريبانو طبعي او صاف په يو بل کې سرايت کړی وي او په عادت او مزاج کې د يو کورنۍ هر فرد د بل سره يو ډول وي ځکه د يو کورنۍ د انجلۍ په باره کې د هغه د کورنۍ د عامي مشاهدي سره سم د دغه اوصافو اندازه لګول مشکل نه دي.

په هر حال د حديث څخه معلومه سوه چې د خاوند ډېره مينه کونکې او کوچنيان پيدا کونکې ښځې سره نکاح کول مستحب دي او دا ډېر کوچنيان کېدل غوره دي ځکه چې په دې سره د رسول الله ﷺ مقصد (يعني د امت د زياتوب فخر) تر لاسه کيږي.

يو احتمال دا هم دی چې دلته د نکاح کولو څخه مراد دا ښوول دي چې ستاسو په کومو

Maktaba Tul Ishaat.com

بيبيانو کي دغه اوصاف موجود وي نو د هغوی سره د زوجيت تعلق همېشه وساتئ او د دې هڅه وکړئ چي په خپلو کي تفرق او بېلوالي را نه سي.

د پيغلي سره نکاح کول غوره دي

﴿۲۹۵۹﴾: وَعَنْ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ سَالِمِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ عُوَيْمِ بْنِ سَاعِدَةَ

حضرت عبد الرحمن بن سالم بن عتبه بن عويم بن سعد يه انصاري ﷺ د خپل پلار څخه

الْأَنْصَارِيُّ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او هغه د خپل پلار څخه روايت کوی چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

عَلَيْكُمْ بِالْأَبْكَارِ فَإِنَّهُنَّ أَعْذَبُ أَفْوَاهًا وَأَنْتَقُ أَرْحَامًا وَأَرْضَى بِالْيَسِيرِ. رواه ابن ماجة مرسلا.

تاسو د پيغلو ښځو سره نکاح کوئ ځکه چي هغوی خوش زبانه ډېر کوچنيان راوړونکې او په لږ شي راضي کېدونکي وي. (ابن ماجه).

تخريج: ابن ماجه في السنن ۱/ ۵۹۸، رقم: ۱۸۶۱.

د لغاتو حل: وانتق: اى اكثر اولادا. (ډېر اولاد زېږوونکې)

تشريح د دغه حديث شريف په ذريعه د پېغلو ښځو خصوصياتو اشاره سوې ده چي په کونډو ښځو کي نه تر لاسه کيږي د مثال په توګه پېغله ښځه د زياتو کوچنيانو پيدا کولو وړ وي ځکه چي د هغې په رحم کي حرارت زيات وي نو د هغې رحم د نارينه د توليد ماده ډېر ژر قبلوي مګر دا محض د ظاهري اسبابو د درجې دی چي د الله تعالى د حکم څخه پرته څه ارزښت نه لري د پيغلو ښځو يو نفسياتي خصوصيت دا بيان سوی دی چي هغوی په لږ مال او سامان باندي هم راضي او خوشحاله وي د هغوی خاوند چي څه ورکوي هغه په رضا او شوق سره قبلوي او په هغه قانع کيږي ځکه چي هغه خو د کونډې ښځي په ډول بل خاوند نه دی ليدلی چي هغې د کموالي او زياتوب احساس وسي او هغه د خپل خاوند څخه د زيات مال او سامان غوښتنه وکړي.

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د نكاح یو خصوصیت

﴿۲۹۶۰﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ تَرَ لِلْمُتَحَابَّيْنِ مِثْلَ النِّكَاحِ.

د حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو به د نكاح څخه پرته بل داسي شی نه وو لېدلي چي د دوو كسانو په مینځ كي د دومري درجې محبت وكړي. (ابن ماجه)

تخريج: سنن ابن ماجه ۱\ ۵۹۳، رقم: ۱۸۴۷.

تشريح: مطلب دادی چي د نكاح په ذریعه د خاوند او ښځي په مینځ كي بېله یو قرابته بې پایه مینه او الفت پیدا كیږي دا دول هیڅ تعلق نه سته چي د دوو كسانو په مینځ كي چي د یو بل څخه بالكل پردي دد غه درجې مینه او الفت پیدا كړي.

د ازادو ښځو سره د نكاح فضیلت

﴿۲۹۶۱﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَرَادَ أَنْ يَلْقَى اللّٰهَ طَاهِرًا مُطَهَّرًا فَلْيَتَزَوَّجِ الْحَرَائِرَ.

د حضرت انس رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: كوم سړی چي د دې كار خواهش لري چي د خداي تعالي سره په پاكیزه حال كي ملاقات وكړي نو هغه له پكار ده چي ازادو ښځو سره نكاح وكړي.

تخريج: سنن ابن ماجه ۱\ ۵۹۸، رقم: ۱۸۶۲.

تشريح ددې وجه داده چي په عامه توګه سره ازادي ښځي د مینزو په نسبت زیاتي پاكي وي ځكه د هغوی پاكي د مباشرت په ذریعه د هغوی په خاوندانو كي سرایت كوي بیا دا چي ازاده ښځه خپل اولاد ته كوم ادب او تهذیب ښیي هغه د مینزي د وس خبره نه ده ځكه چي هغوی خپله د كم حیثیت والا دي نو د خپل اولاد ادب او تهذیب به څرنګه مزین كړي.

د ښې ښځي خصوصیت

﴿۲۹۶۲﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ يَقُولُ مَا اسْتَفَادَ

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت ابو امامه رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ و فرمایل : د خداي تعالي مؤمن بنده

الْمُؤْمِنُ بَعْدَ تَقْوَى اللّٰهِ خَيْرًا لَهُ مِنْ زَوْجَةٍ صَالِحَةٍ إِنْ أَمَرَهَا أَطَاعَتْهُ وَإِنْ

چي د خداي تعالي د تقوی څخه وروسته کوم شی چي د ټولو څخه زیات د ځان لپاره غوره کوي هغه نېکه ښځه ده (داسي ښځه) چي هغې ته د څه امر وکړي نو سمدستي عمل په وکړي

نَظَرَ إِلَيْهَا سَرَّتْهُ وَإِنْ أَقْسَمَ عَلَيْهَا أَبَرَّتْهُ وَإِنْ غَابَ عَنْهَا نَصَحَتْهُ فِي نَفْسِهَا وَمَالِهِ . روى ابن ماجة الاحاديث الثلثة.

هغې ته چي ګوري نو هغه زړه خوشحاله کوي او که هغې ته قسم ورکړي نو هغه قسم پوره کوي او که د هغې څخه غائب سي نو د خپلي پاکدامني او د هغه د مال ساتنه کوي. دا دري حدیثونه ابن ماجه بیان کړی دی.

تخریج: سنن ابن ماجه ۱۱ ۵۹٦، رقم: ۱۸۵۷.

تشریح: د الله تعالی د احکامو پر ځای راوړلو او د هغه د ممنوعاتو څخه ځان ساتني ته تقوا وايي، د حدیث شریف مطلب دادی چي د الله تعالی نیک او صالح بندګان د الله تعالی د احکام پر ځای راوړلو او د ممنوعاتو څخه د منع کېدو وروسته د خپل دیني او دنیوي خیر لپاره چي تر ټولو غوره شی خوښوي هغه نیکي او ښائسته ښځي دي.

د هغه تعمیل کوي : ددې تعلق د هغه شیانو سره دی چي د ګناه او معصیت باعث نه وي یعني هغه د خپل خاوند د هغه خبرو او احکامو تعمیل کوي کوم چي د شریعت خلاف او د الله تعالی د ناراضی سبب نه وي دا قید ځکه لګول سوی دی چي د شریعت دا حکم دی یعني د یو سړي د هیڅ داسي حکم تعمیل کول نه دی پکار کوم چي د الله تعالی د نافرمانۍ سره اړوند وي.

د هغه قسم پوره کوي : مطلب دادی چي هغه پر خپل خواهش باندي د خپل خاوند خواهش مقدم کوي مثلا کله چي د هغې خاوند هغې ته د یو داسي کار کولو قسم ورکړي چي د هغې د خواهش خلاف وي نو هغه د خپل خواهش په پرېښودو سره د خپل خاوند د قسم سره سم هغه کار کوي یا کله چي خاوند ورته د یو داسي کار نه کولو قسم ورکړي کوم چي د هغې د خواهش سره سم وي نو هغه د خپل خواهش پروا کولو څخه پرته د خپل خاوند د قسم مطابق هغه کار پرېږدي.

Maktaba Tul Ishaat.com

نکاح نیم دین دی

﴿۲۹۶۳﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَزَوَّجَ الْعَبْدُ فَقَدِ اسْتَكْمَلَ نِصْفَ الدِّيْنِ فَلْيَتَّقِ اللّٰهَ فِي النِّصْفِ الْبَاقِيْ.

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: چا چې نکاح وکړه نو خپل نیم دین یې پوره کړ اوس هغه ته پکار ده چې په پاته نیم دین کې ویره او تقوی پرهیزګاري اختیار کړي. (بیهقي)

تخریج: البیهقي في شعب الایمان ۴\۳۸۲، رقم: ۵۴۸۶.

تشریح: د انسان په بدن کې دوه شیان داسې دي چې په عامه توګه په دین کې د فساد او تاوان سبب ګرځي یعنې شرمګاه او نس چې د فتنې او فساد څخه خلاصون تر لاسه کوي نو اوس هغه ته پکار دي چې د نس د فتنې او فساد لیرې کولو لپاره د الله تعالی څخه وبیرېږي یعنې د حلال ګټې او حلال رزق په ذریعه خپل او د خپل کورنۍ نس ډک کړي چې د دین خیر پوره تر لاسه کړي

بابرکته نکاح

﴿۲۹۶۴﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَعْظَمَ النِّكَاحَ بَرَكَةً أَيْسَرُهُ مُؤْنَةً. رواهما البيهقي في شعب الإيمان.

بي بي عائشې رضی الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: برکتناکه نکاح هغه ده چې د محنت په لحاظ اسانه وي یعنې د هغې ولور کم وي او ښځه په زیاتو مصرفو خپل خاوند پرېشانه نه کړي بلکه څه چې په مینځ کې وي پر هغه قناعت او صبر وکړي. (بیهقي).

تخریج: البیهقي في شعب الایمان ۵\۲۵۴، رقم: ۶۵۶۶.

تشریح: د محنت د لحاظه اسانه نکاح: ددې څخه مراد هغه نکاح ده چې په هغه کې د ښځې مهر کم وي او ښځه زیات مال او اسباب او د حیثیت څخه زیات د ژوند ارتیاوو طلب کولو سره سړی پرېشانه نه کړي بلکه د خاوند له طرفه چې څه او څرنګه تر لاسه کړل سي پر هغه په رضا او شوق قانع وي.

=========

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ النَّظَرِ اِلَى الْمَخْطُوْبَةِ وَبَيَانِ الْعَوْرَاتِ

(د نسبت کړل سوي ښځي لیدل او د عورت پټولو بیان)

د مخطوبه څخه مراد هغه ښځه ده چي هغې ته د نکاح پیغام استول سوی وي . او د عورت څخه مراد دِ بدن هغه اندامونه دي چي د هغو د پټولو حکم ورکړل سوی دی .

د ښځي د لیدو مسئله

د امام ابوحنیفة، امام شافعي، امام احمد او اکثرو علماؤ رحمة الله علیهم په نزد د خپلي منسوبي ښځي سره تر نکاح کولو مخکي د هغې لېدل جائز دي که څه هم منسوبه ښځه ددې اجازه ورکړي او یا اجازه ور نه کړي . د امام مالک رحمه الله په نزد د خپل منسوبي ښځي سره د نکاح کولو څخه مخکي لېدل په هغه صورت کي جائز دي کله چي د هغې اجازه وي د هغې د اجازې څخه پرته لېدل جائز نه دي مگر د یو روایت سره سم د امام مالک رحمه الله په نزد د منسوبي ښځي لیدل بالکل منع دي .

په دې باره کي فقهي مسئله دا هم ده چي غوره او مناسب دادي چي سړی د خپل منسوبي ښځي د کتلو پر ځای یو بله تجربه کاره او باوري ښځه واستوي چي د هغه منسوبه ښځي په لېدو سره معلومات تر لاسه کړي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د نکاح څخه مخکي یو وار لیدل مستحب دي

﴿۲۹۶۵﴾ : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی یو سړی نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته راغلی او ویې ویل:

اِنِّي تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً مِنَ الْأَنْصَارِ قَالَ فَانْظُرْ إِلَيْهَا فَإِنَّ فِي أَعْيُنِ الْأَنْصَارِ شَيْئًا .

رواه مسلم .

زه د یوې انصاري ښځي سره نکاح کول غواړم رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل : یو وار هغه ووینه ځکه چي د انصارو د ښځو په سترگو کي یو څه خرابي وي . (مسلم)

تخریج : مسلم في الصحيح: ۲\ ۱۰۴۰، رقم: ۷۴- ۱۴۲۴.

Maktaba Tul Ishaat.com

تشریح د رسول الله ﷺ د لارښوونې مطلب دا وو چې د ځینو انصاریه ښځو په سترګو کې خرابي وي چې په هغه سره په طبیعت کې خړوالی پیدا کیږي ځکه نو مناسب دي چې ته د خپل منسوبه ښځي په لیدو سره دا اطمینان تر لاسه کړې چې د هغې په سترګو کې تاوان خو نه سته، علامه نووي رحمه الله د (في اعین انصار شیئا) په معنی کې دا بیان کړی دی چې د ځینو انصاري ښځو سترګې شنې یا خړې وي، په هر حال ددې څخه دا ثابته سوه چې د خیرخواهی سره سم د یو شي عیب او تاوان بیانول جائز دي.

ددغه حدیث شریف څخه دا هم معلومه سوه چې د نکاح د پیغام استولو څخه مخکې د خپل منسوبه ښځو کتل مستحب دي که چیري کتل یې ممکن نه وي نو بیا مستحب دادي چې یو باوري ښځه واستول سي چې د هغه ښځي په لیدو سره سړي ته د هغې حالات وښیي، دلته دا خبره هم باید په ذهن کې وي چې د خپل منسوبې ښځي یوازې مخ او د هغې لاسو ته کتل مباح دي که څه هم د جنسي هیجان څخه مامون نه وي ځکه چې د هغې لپاره دغه دواړه اندامونه د ستر په حکم کې نه دي.

د ښځي حال مه بیانوئ

(۲۹۶۶): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُبَاشِرُ الْمَرْأَةُ الْمَرْأَةَ فَتَنْعَتَهَا لِزَوْجِهَا كَأَنَّهُ يَنْظُرُ إِلَيْهَا. متفق علیه.

حضرت ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: هیڅ ښځه دي خپل بدن ښځي ته نه ښکاره کوي او دا چې بیا د هغې ښځي بدني ښکلا و خپل خاوند ته بیان کړي چې د یوې ښځي بدني ښکلا د نارینه په وړاندې بیانول داسي دي لکه چې د هغې ښځي دې ور وښودی. بخاري او مسلم.

تخریج: البخاري في الصحیح (فتح الباري): ۹\۳۳۸، رقم: ۵۲۴۰.

تشریح د یو ښځي د خپل بدن په لوڅولو سره د بلي ښځي د لوڅ بدن سره مس کول او بیا د هغه ښځي د بدن خصوصیات یعني د نرم والي وغیره بیان کول د خپل خاوند په مخکې یو ډېره بده خبره ده، رسول الله ﷺ ددې څخه ښځي منع کړي دي ځکه چې دا نه یوازې د بې شرعی او بد اخلاقی حرکت دی بلکه ددې څخه دا خطره هم ده چې د هغې خاوند د یو پردی ښځي د بدن د خصوصیاتو په اورېدو سره په نفساني هیجان او بدو خیالو کې اخته سي چې د فتنې او فساد

Maktaba Tul Ishaat.com

سبب جوړيږي .

د نارينوو او ښځو لپاره يو ځو لارښووني ۱

﴿۲۹۶۷﴾: وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَنْظُرُ

د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : يو سړی دي د يوه سړي

الرَّجُلُ إِلَى عَوْرَةِ الرَّجُلِ وَلَا الْمَرْأَةُ إِلَى عَوْرَةِ الْمَرْأَةِ وَلَا يُفْضِي الرَّجُلُ إِلَى

لڅ بدن ته نه ګوري او نه دي ښځه د بلي ښځي لڅ بدن ته ګوري او نه دي دوه نارينه په يوه جامه

الرَّجُلِ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ وَلَا تُفْضِي الْمَرْأَةُ إِلَى الْمَرْأَةِ فِي الثَّوْبِ الْوَاحِدِ. رواه مسلم

کي يو ځاي کيږي او نه دي دوې لڅي ښځي په يوه جامه کي يو ځاى کيږي (يعني په يو ځاي کي بيديږي). (مسلم)

تخريج: مسلم في الصحيح ۱\۲٦٦، رقم: ۷۴– ۳۳۸.

تشريح. شريعت چي د سړي او ښځي د بدن د کومو برخو يو بل ته د کتلو او مس کولو څخه منع کړي ده هغه ته ستر ويل کيږي او د بدن هغه برخي د عام نظرونو څخه پټول ضروري دي ، په دې باره کي چي کوم فقهي تفصيل دی هغه داسي دی :

د نارينه ستر د بدن هغه برخه ده چي د نامه څخه لاندي تر زنګنو پوري وي د هغه د بدن دغه برخي ته بېله ضرورته کتل نه خو د نارينه لپاره جائز دي او نه د ښځي لپاره مګر د هغه سړي ښځه يا مينزه يې کتلای سي ، د نارينه ددغه برخي څخه پرته نور ټول بدن ته کتل د نارينه لپاره هم جائز دی او د ښځي لپاره هم په شرط ددې چي ښځه د جنسي هيجان څخه خوندي وي ، که چيري ښځه د جنسي هيجان څخه خوندي نه وي نو بيا دي د هغه پردي نارينه د بدن هيڅ برخي ته نه ګوري . همدارنګه د ښځي ستر د هغې ستر د نامه څخه لاندي تر زنګنو پوري دی نو د ښځي د بدن دغه برخي ته بېله ضرورته کتل د ښځي لپاره هم جائز نه دي بلکه د ښځي ستر د پردي سړي په حق کي د هغې ټول بدن دی يعني د نارينه لپاره د هيڅ پردی ښځي د بدن هيڅ يو برخي ته کتل جائز نه دي مګر د يو روايت سره سم د ښځي مخ ، د هغې دواړه لاسونه او دواړي پښې د هغې په ستر کي داخلي نه دي ، مطلب دا چي د يو پر دې ښځي ددغه اندامو کتل د پردي سړي لپاره جائز دي په شرط ددې چي نارينه د جنسي هيجان څخه خوندي وي که چيري خوندي نه وي نو

Maktaba Tul Ishaat.com

بيا د هغه لپاره د دغه اندامو کتل هم جائز نه دي البته د يو خاص ضرورت په وخت کي ليدل جائز دي که څه هم د جنسي هيجان څخه خوندي وي مثلا شاهد په يو معامله کي د شاهدي پر وخت يا حکم په يو معامله کي د فيصلې کولو پر وخت د دغه اندامونه کتلای سي همدارنګه د ښځي هغه اندامونه يعني مخ، لاسونه او پښې مس کول د پردي سړي لپاره جائز نه دي که څه هم هغه د جنسي هيجان څخه مامون وي په شرط د دې چي ښځه ځوانه وي مګر که چيري ښځه د و مره عمر ته رسيدلې وي چي نفساني خواهش هغې ته بالکل نه راځي يا سړی د و مره سپين ږيری وي چي خپله هم پر نفس باندي واک ولري او د هغه ښځي د نفس څخه هم مطمئن وي نو په دغه صورت کي هغه اندامونه مس کول جائز دي.

نارينه د خپل ښځي د بدن هري برخي ته کتل جائز دي همدارنګه د هغه مينزي ټول بدن ته کتل هم جائز دي د کومي سره چي مجامعت حلال وي.

د ښځي ستر د هغې د محرم په حق کي د هغې شا، نس او تر نامه لاندي تر زنګنو پوري دی نو د هيڅ ښځي د بدن دغه برخي او اندامونه کتل او مس کول د هغې د محرم لپاره هم جائز نه دي که څه هم هغه د جنسي هيجان څخه خوندي وي ځکه چي د ښځي سر، مخ، پنډۍ، او سينه د هغې د محرم په حق کي ستر نه دی ځکه دغه اندامونه محرم ليدلای سي په شرط د دې چي د جنسي هيجان څخه خوندي وي.

د نارينه په حق کي د بل چا د مينزي ستر د هغه د محرم د ستر په ډول دی يعني ملا، نس او په څخه لاندي تر زنګنو پوري نو د بل چا د مينزي د بدن دغه برخي چي د هغه د ستر په حکم د کتلو او مس کولو په باره کي هغه تفصيل دی کوم چي د محرم د بدن د مستور برخو د [illegible] کولو دی.

[illegible] سړي ته په نفساني خواهش سره کتل يا هغه ته لاس وروړل حرام دي، يو ښځي [illegible] سره د نکاح کولو د ارادې پر وخت يا يو مينزي ته د هغې د رانيولو پر وخت د نفساني [illegible] د بيري سربېره کتل يا لاس وروړل جائز دي.

غلام د خپل بادار د ښځي په حق کي د پردي سړي په ډول دی يعني څرنګه چي د هغې لپاره د پردي سړي څخه پرده کول ضروري دي همدارنګه د غلام څخه هم پرده کول ضروري دي، همدارنګه نرښځی او نرګډی هم د نارينه په ډول دی، د فقهي علماء وايي چي پر پردۍ ښځي باندي نظر اچول حرام دي که څه هم دغه کتل د نفساني خواهشاتو لپاره وي يا د دې څخه پرته وي، دوه لوڅ نارينه دي په يوه جامه کي نه جمع کيږي، په دې باره کي علماء وايي چي د دوو

نارينوو په يوه جامه كي يو ځاى كېدل يا د دوو لوڅو ښځو په يوه جامه كي يو ځاى كېدل هم د عادت له مخي د بدى محل نه لري مگر د دې سربېره دا حرام او مكروه دى ځكه چي كول په هر حال كي د شرم او حياء خلاف كار دى.

د پردۍ ښځي سره د خلوت منع

﴿۲۹۶۸﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا لَا يَبِيتَنَّ رَجُلٌ عِنْدَ امْرَأَةٍ ثَيِّبٍ إِلَّا أَنْ يَكُونَ نَاكِحًا أَوْ ذَا مَحْرَمٍ . رواه مسلم .

حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: پوه سئ! هيڅ يو نارينه دي د يې ځواني واده سوي ښځي سره يوازي په يوه خونه كي شپه نه تېروي البته هغه سړى ور سره ته كېداى سي چي هغه د ښځي خاوند يا محرم وي. (مسلم)

تخريج: مسلم في الصحيح ۴\۱۷۱۰، ۱۷۱۰، رقم: ۲۱۷۱.

تشريح: دلته د شپې تېرولو څخه مراد په يوازيوالي كي يو ځاى كېدل دي. مطلب دا چي هيڅ سړى دي د پردۍ ثيب ښځي سره په يوازيوالي كي نه يو ځاى كيږي كه شپه وي او كه ورځ وي.

ثيب: هغه ښځي ته وايي چي د هغې سره جماع سوې وي يا خاوند يې كړى وي، مگر دلته د ثيب څخه مراد ځوانه ښځه ده كه هغه پېغله وي يا واده سوې وي.

د محرم څخه مراد هغه سړى دى چي د هغه سره نكاح كول په ابدي توگه ناجائز وي لكه زوى، ورور، زوم او داسي نور، كه څه هم د غه محرميت د شېدو وركولو په وجه وي.

﴿۲۹۶۹﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عقبه بن عامر رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

إِيَّاكُمْ وَالدُّخُولَ عَلَى النِّسَاءِ فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللهِ أَرَأَيْتَ الْحَمْوَ قَالَ الْحَمْوُ الْمَوْتُ . متفق عليه.

كله چي په يو ځاى كي ښځه وي هلته د ورتلو څخه ځان وساتئ يوه سړي پوښتنه وكړه ايا تاسو د لېور داخلېدل بد گڼئ نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: ((لېور)) خو مرگ دى (يعني يوه تباه كوونكي فتنه ده) (بخاري او مسلم).

Maktaba Tul Ishaat.com

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۴\۱۷۱۰، رقم: ۵۲۳۲، ومسلم ۱۴\۱۷۱۱، رقم: ۲۰\۲۱۷۲.

د لغاتو حل: الحَموَ: هم اقارب الزوج غير آبائه وابنائه. (د خاوند خپلوان پرته د پلرونو او اولادونو څخه)

تشريح حمو د خاوند قريبانو ته وايي لکه لېور او داسي نور، د خاوند پلار او د خاوند زوی په حمو کي داخل نه دی.

لېور خو مرګ دی: د دې مطلب دا دی چي څرنګه مرګ د انسان ظاهري او دنيوي ژوند تباه کوي همدارنګه د حمو په يوازيوالي کي غير محرم ښځي ته ورتلل د هغه ديني او اخلاقي ژوند تباه کوي ځکه په عامه توګه سره خلک د غير محرم ښځو سره د حمو ګډون کولو ته څه ارزښت نه ورکوي ځکه هغه ښځو ته هر وخت ځي او راځي او هغوی د ډيري ناستي او ولاړي په وجه د هغوی په يو خرابي کي اخته کېدل زيات مشکل نه دي د دې په وجه د فتنې را پورته کيږي او نفس په خرابيو کي اخته کيږي.

په دغه جمله کي (الحمو الموت) کي د مرګ لفظ ذکر کول په اصل کي د دغه محاورې پر بنياد دی چي عربو په نزد په عامه توګه سره د يو خطرناک شي څخه د بيرولو پر موقع استعماليږي لکه څرنګه چي عرب وايي چي زمری مرګ دی يا پاچا اور دی، د دغه جملو مطلب دا دی چي زمري ته نژدې کېدل د مرګ غېږي ته ورتلل دي يا د پاچا قرابت د اور د قرابت په ډول دی نو د دغه شيانو څخه بايد ځان وساتل سي.

علاج کوونکی د ښځي بدن کتلای سي

﴿۲۹۷۰﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ أُمَّ سَلَمَةَ اسْتَأْذَنَتْ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي ام سلمه رض د رسول الله ﷺ څخه د ويني کښلو اجازه

فِي الْحِجَامَةِ فَأَمَرَ أَبَا طَيْبَةَ أَنْ يَحْجُمَهَا قَالَ حَسِبْتُ أَنَّهُ قَالَ كَانَ أَخَاهَا مِنَ الرَّضَاعَةِ أَوْ غُلَامًا لَمْ يَحْتَلِمْ. رواه مسلم.

وغوښته نبي کريم ﷺ و ابو طيبه ته د ويني کښلو حکم ورکړ د جابر رضي الله عنه بيان دی چي ابو طيبه د ام سلمه رض رضاعي ورور وو يا هلک چي تر دغه وخته پوري بالغ سوی نه وو. (مسلم).

تخريج: مسلم في الصحيح: ۱۴\۱۷۳۰، رقم: ۷۲-۲۲۰۶.

تشريح د حضرت جابر رضي الله عنه د خپل ګمان اظهارول پر دې خبره دلالت کوي چي بي بي ام سلمه رضي الله عنها ته د ويني کښلو سخته اړتيا نه وه ځکه د ضرورت په وخت کي د پردي سړي لپاره

Maktaba Tul Ishaat.com

هم دا جائز دي چي هغه د يو ښځي وينه وکاږي ، د دې څخه معلومه سوه چي يو ډاکټر د علاج پر وخت د ښځي ټول بدن کتلای سي .

ناڅاپه نظر لوېدل

﴿۲۹۷۱﴾: وَعَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نَظَرِ الْفُجَاءَةِ فَأَمَرَنِي أَنْ أَصْرِفَ بَصَرِي . رواه مسلم .

د حضرت جرير بن عبد الله رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه يوې محرمي ښځي ته کتل په ناڅاپه ډول په باره کي پوښتنه وکړه نو نبي کريم ﷺ را ته وفرمايل : سترګي دي ژر واړوه . (مسلم)

تخريج: مسلم في الصحيح ۳\۱۶۹۹، رقم: ۴۵- ۲۱۵۹.

تشريح د دغه حکم مطلب دا دی که چيري پر يو پردۍ ښځه باندي نظر ولوېږي نو سمدستي دي خپل نظر راوګرځوي او بيا دي دوهم وار هغې ته نه ګوري ځکه چي اول نظر بېله قصد او ارادې څخه وي او هغه معاف دی مګر سمدستي نظر اړول واجب دي ځکه د اول نظر څخه وروسته هغه ښځي ته بيا کتل د ګناه خبره ده ، په قرآن کريم کي په دغه آيت کي هم دغه حکم دی : قل للمؤمنين يغضوا من ابصارهم: مؤمنانو ته ووايه چي خپل نظرونه کښته کړي .

مګر د ضرورت په وخت کي د مثال په توګه د نکاح يا بل څه لپاره د اول نظر څخه وروسته هم کتل جائز دي که د يو ښځي د بدن پر يو اندام باندي زخم يا بل څه وي يا د بدن يو برخه د يو ناروغۍ په وجه ډاکټر ته وښوول سي نو هغه دي بدن يوازي هغه برخه وښيي چيري چي زخم وي يا کوم ځای چي وينه کښل کيږي يا کومه برخه چي ضروري وي نو د بدن پاته برخه دي په جامه کي پټه وساتي .

د پرديۍ ښځي په لېدو او بد خيال پيدا کېدو سره خپل ښځي ته ځئ

﴿۲۹۷۲﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ الْمَرْأَةَ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ښځه

تُقْبِلُ فِيْ صُوْرَةِ شَيْطَانٍ وَتُدْبِرُ فِيْ صُوْرَةِ شَيْطَانٍ إِذَا أَحَدُكُمْ أَعْجَبَتْهُ الْمَرْأَةُ

د شيطان په شکل کي را ځي او د شيطان په شکل کي ځي کله چي په تاسو کي يو ه ته ښځه

Maktaba Tul Ishaat.com

فَوَقَعَتْ فِي قَلْبِهِ فَلْيَعْمِدْ إِلَى امْرَأَتِهِ فَلْيُوَاقِعْهَا فَإِنَّ ذَٰلِكَ يَرُدُّ مَا فِي نَفْسِهِ.

رواه مسلم.

ښائسته ښکاره سي او په زړه کي مو مينه راسي نو سمدستي و خپل کور ته ولاړ سئ او د خپلو ښځو سره همبستري کوئ ځکه چي جماع د زړه وسوسه ليري کوي. (مسلم)

تخريج: مسلم في الصحيح ۲\۱۰۲۱، رقم: ۹\۱۴۰۳.

تشريح ښځه د شيطان په شکل کي راځي ...الخ : دا په اصل کي د خرابو خيالو، خرابو وسوسو او په ګمراهۍ کي د اخته کېدو په اړه ښځي ته د شيطان سره د مشابهت ورکولو يو طرز دی. مطلب دادی چي څرنګه شيطان د انسانانو په زړه او دماغ کي د خرابو خيالاتو په اچولو سره ګمراه کوي همدارنګه د ښځي ښکلا د سړي نظر په خپل بند اچولو کي د زړه د خرابو خواهشاتو او بدو خيالاتو په ګمراهۍ کي اخته کوي، نو پردۍ ښځي ته کتل د فتنې او شر سبب ګرځي، ځکه نو علماؤ دا مسئله اخذ کړې ده چي ښځه بايد بېله ضرورته د کور څخه د باندي ونه وځي او که چيري د يو ضرورت لپاره د باندي وځي نو سنګار دي نه کوي، او سړی بايد چي پردۍ ښځي ته ونه ګوري او نه د هغې جامو ته نظر وکړي.

د دغه حديث شريف څخه دا مسئله هم اخيستل کيږي چي په دې کي څه پروا نه سته چي سړی خپله ښځه د کوروالي لپاره ورځي ځان ته راوبولي که څه هم ښځه په يو داسي کار کي بوخته وي چي د هغه پرېښودل ممکن نه وي ځکه ډېر واره پر سړي باندي د جنسي خواهش غلبه دومره وي چي په مباشرت کي زنډ کول د هغه د زړه، دماغ او بدن لپاره يو تکليف او ناروغۍ سبب کيږي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

دواده څخه وړاندي د ښځي ليدل مستحب دي

﴿۲۹۷۳﴾: عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِذَا خَطَبَ أَحَدُكُمُ الْمَرْأَةَ فَإِنِ اسْتَطَاعَ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى مَا يَدْعُوهُ إِلَى نِكَاحِهَا فَلْيَفْعَلْ. رواه ابوداؤد.

د حضرت جابر ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کي چي کوم سړی و

Maktaba Tul Ishaat.com

يوې ښځي ته د نكاح كولو پيغام وليږي نو هغه له پكار ده چي ممكنه وي يو وار دي يې و ګوري كه د نكاح اراده يې وي. (ابو داؤد).

تخريج: ابوداود في السنن ۲\ ۵٦۵، رقم: ۲۰۸۲.

تشريح لكه څرنګه چي مخكي ويل سوي دي چي خپل منسوبي ښځي ته د پيغام استولو څخه مخكي يو وار كتل مستحب دي ددې لپاره كه چيري هغه ښځه يې خوښه وه نو د هغې سره د نكاح وروسته به د هغه ښځي په وجه د بدكارۍ څخه وساتل سي كوم چي د نكاح اصل مقصد دى، دا خبره هم بايد په ذهن كي وي چي په يو ځاى كي دا فرمايل سوي دي چي د يوې ښځي سره د هغې د ښكلا او جمال په وجه نكاح نه سي كېداى نو ددغه حكم دا مقصد نه دى چي د ښكلا او جمال خيال دي نه ساتل كيږي بلكه ددې مقصد دادى كه د يو ښكلې ښځي په نكاح كولو كي يو ديني تاوان او فساد وي نو ددغه تاوان او كوتاهۍ څخه په صرف نظر كولو سره يوازي د هغې د ښكلا په وجه دي نكاح نه كيږي.

﴿۲۹۷۴﴾: وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ خَطَبْتُ امْرَأَةً فَقَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى

د حضرت مغيره بن شعبه رضي الله عنه څخه روايت دى چي ما د يوې ښځي سره د نكاح كولو اراده وكړه

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَظَرْتَ إِلَيْهَا قُلْتُ لَا قَالَ فَانْظُرْ إِلَيْهَا فَإِنَّهُ أَحْرَى أَنْ يُؤْدَمَ بَيْنَكُمَا. رواه احمد والترمذي والنسائي وابن ماجة والدارمي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم و ماته و فرمايل: تا هغه ليدلې ده؟ ما وويل: نه. نبي كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ته! هغه و ګوره ځكه چي دا كار به ستاسو د دواړو ترمينځ د دائمي محبت ذريعه وګرځي. (احمد ترمذي نسائي ابن ماجه دارمي).

تخريج: احمد في المسند ۴\ ۲۴٦، رقم: ۱۰۸۷، وابن ماجه ۵۹۹، رقم: ۱۸٦۵، والنسائي ٦\ ٦۹، رقم: ۳۲۳۵، والدارمي ۲\ ۱۸۰، رقم: ۲۱۷۲.

د لغاتو حل: يُودَم: اى بان يؤلف.

تشريح مطلب دا دى كه چيري ته د خپل منسوبي ښځي ته په يو وار كتلو سره د هغې سره نكاح وكړې نو په خپلو كي به د يو بل سره مينه او الفت ډېر زيات سي ځكه چي د منسوبي ښځي د لېدلو څخه وروسته په نكاح سي نو په عامه توګه سره يو پښېماني نه پيدا كيږي او نه پر خپل انتخاب باندي شرمندګي او پښيماني وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

د پردۍ ښځې په ليدو سره سمدستي د خپل ښځې څخه تسکين تر لاسه کړئ

﴿۲۹۷۵﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ رَأَى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امْرَأَةً

د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ يوه ښځه وليده

فَأَعْجَبَتْهُ فَأَتَى سَوْدَةَ وَهِيَ تَصْنَعُ طِيْبًا وَعِنْدَهَا نِسَاءٌ فَأَخْلَيْنَهُ فَقَضَى

چې ښه ورته ښکاره سوه نو نبي کريم ﷺ (سمدستي) بي بي سودې رض ته ورغی هغې په هغه وخت کي خوشبوئي تياروله او څو ښځې ورسره ناستي وی ښځې ولاړې سوی او د نبي کريم ﷺ لپاره يې ځای خالي کړ نبي کريم ﷺ

حَاجَتَهُ ثُمَّ قَالَ أَيُّمَا رَجُلٍ رَأَى امْرَأَةً تُعْجِبُهُ فَلْيَقُمْ إِلَى أَهْلِهِ فَإِنَّ مَعَهَا مِثْلَ الَّذِيْ مَعَهَا. رواه الدارمي

ضرورت رفع کړ او بيا يې وفرمايل: کوم سړي ته چې يوه ښځه ښه ښکاره سي نو هغه دي سمدستي خپل کور ته ولاړسي او د خپلي بي بي سره دي نزديکت وکړي ځکه چې د هغې سره هم هغه شی دی کوم چې د هغې ښځې سره وو. (دارمي).

تخريج: الدارمي ۱۹۶/۲ - ۱۹۷، رقم: ۲۲۱۵.

د لغاتو حل: فاخلينه: ای انفردن عنه.

تشريح: پر هغه ښځې باندي د رسول الله ﷺ نظر لوېدل يو ناڅاپه عمل وو چې هغه په اختيار کي نه وو او بيا د هغه ښځې د رسول الله ﷺ په نظر کي ښه راتلل د انساني طبيعت او جبلت غوښتنه وه چې يو فطري شی دی.

ښځه دي په پرده کي اوسي

﴿۲۹۷۶﴾: وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمَرْأَةُ عَوْرَةٌ فَإِذَا خَرَجَتْ اسْتَشْرَفَهَا الشَّيْطَانُ. رواه الترمذي.

د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ښځه په پرده کي د اوسېدلو شی دی کله چې هغه د باندي را وځي نو شيطان ور پسې سي (يعني د خلکو په نظر

کي يې راولي). (ترمذي).

تخريج: الترمذي في السنن ۳\ ۴۷۶، رقم: ۱۱۷۳.

تشريح المراة عورة (يعني ښځه ستر دی) يعني څرنګه چي ستر د عام نظرو څخه پټيږي همدارنګه ښځه هم يو داسي شی دی چي د پردي سړي د نظر څخه په پټېدو سره په پرده کي بايد و اوسيږي او څرنګه چي د ټولو په مخکي ستر خلاصول يو خراب کار ګڼل کيږئ همدارنګه د ښځي د خلکو مخته راتلل هم يو خراب کار دی.

پر پردۍ ښځي باندي د ناڅاپه نظر لوېدو وروسته دوهم وار کتل ناجائز دي

﴿۲۹۷۷﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَلِيٍّ يَا عَلِيُّ

د حضرت بريده رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ حضرت علي رضي الله عنه ته وفرمايل: اې علي!

لَا تُتْبِعِ النَّظْرَةَ النَّظْرَةَ فَإِنَّ لَكَ الْأُولَى وَلَيْسَتْ لَكَ الْآخِرَةُ. رواه احمد والترمذي وابوداؤد والدارمي.

که په ښځه دي ناڅاپه نظر ولګېدی نو اولنی نظر تا ته جائز دي دوباره ورته کتل جائز نه دی. (احمد ترمذي ابوداؤد دارمي)

تخريج: احمد في المسند ۵\ ۳۵۳، والترمذي في السنن ۵\ ۹۴، رقم: ۲۷۷۷، وابوداود في السنن ۲\ ۶۱۰، رقم: ۲۱۴۹، والدارمي ۲\ ۳۸۶، رقم: ۲۷۰۹.

د مينزي د نکاح وروسته

﴿۲۹۷۸﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

عمرو بن شعيب رضي الله عنه د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت کوي چي نبي کريم ﷺ

وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا زَوَّجَ أَحَدُكُمْ عَبْدَهُ أَمَتَهُ فَلَا يَنْظُرْ إِلَى عَوْرَتِهَا وفي رواية فَلَا

وفرمايل: کله چي په تاسو کي يو څوک د يوه سړي نکاح د خپلي مينزي سره وروتړئ نو بيا دي

يَنْظُرَنَّ إِلَى مَا دُونَ السُّرَّةِ وَفَوْقَ الرُّكْبَةِ. رواه ابوداؤد.

دی د خپلي مينزي و شرمګاه ته نه ګوري او په دويم روايت کي دا الفاظ دي چي بيا دي نو د

مینزي تر نامه لاندي او تر زنگون لوړ حصې ته نه گوري. (ابو داؤد).

تخریج: ابوداود في السنن ۴\ ۳۶۲. رقم: ۴۱۱۴.

تشریح کله چې د خپل غلام سره د نکاح کولو په صورت کي دا حکم دی نو بیا د بل چا د غلام سره د خپل مینزي د نکاح کولو په صورت کي د غه حکم په طریقه اولی دی. چې هغه مینزه د څان لپاره بالکل حرامه وګڼل سي نو د حدیث څخه دا ثابته سوه چي کله مینزه واده کړل سي نو بیا د هغې د بدن هغه برخو ته کتل حرام دي کوم چي د نامه څخه لاندي تر زنگنو پوري وي.

په دې اړه د امام ابو حنیفة رحمه الله مذهب دادی چي د واده کېدو څخه وروسته مینزه د خپل بادار په حق کي د پردي ښځي د مینزي په ډول کیږي او د بل چا د مینزي د بدن د ستر تفصیل او حکم تر دې مخکي د حضرت ابو سعید رضی الله عنه د روایت په تشریح کي تېر سوی دی مګر امام شافعي رحمه الله فرمایي چي د واده کېدو څخه وروسته د مینزي ستر د سړي د ستر په ډول دی. د دواړو حضراتو دلیلونه د فقهي په کتابو کي ذکر سوي دي.

ورون شرمګاه ده

﴿۲۹۷۹﴾: وَعَنْ جَرْهَدٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَمَا عَلِمْتَ اَنَّ الْفَخِذَ عَوْرَةٌ. رواه الترمذي و ابوداؤد.

د حضرت جرهد رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو ته معلومه نه ده چي ورون شرمګاه ده (یعني د پټولو شی دی). (ترمذي ابو داؤد)

تخریج: ابوداود في السنن ۴\ ۳۰۳. رقم: ۴۰۱۴. والترمذي في السنن ۵ \ ۱۰۲. رقم: ۲۷۹۵.

تشریح په اسد الغابة کي لیکل سوي دي چي یوه ورځ نبي کریم ﷺ په مسجد کي حضرت جرهد رضی الله عنه ته راغلی نو وه یې لېدل چي د هغه ورون ښکاره دی. رسول الله ﷺ ورته وفرمایل خپل ورون پټ کړه ځکه چي ورون ستر دی. دغه حدیث شریف د هغه علماؤ د مذهب خلاف دلیل دی کوم چي وایي چي ورون ستر نه دی. د امام مالک او امام احمد رحمة الله علیهما یو روایت دادی چي په ورون په ستر کي داخل نه دئ.

﴿۲۹۸۰﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ يَا عَلِيُّ لَا تُبْرِزْ اِلٰى فَخِذِكَ وَلَا تنظر الى فخذ حَيٍّ وَلَا مَيِّتٍ. رواه ابوداؤد وابن ماجة.

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اې علي ! خپل ورون مه ښکاره کوه او مه دې چا د ژوندو يا مړو ورون ته ګوره .(ابو داؤد ابن ماجه)

تخريج: ابو داود في السنن ۳\۵۰۱، رقم: ۳۱۴۰، وابن ماجه ۱\۴۶۹، رقم: ۱۴۶۰.

تشريح: د دغه حديث شريف څخه دا معلوميږي چي د ستر په حکم کي ژوندي او مړي دواړه يو ډول دي يعني څرنګه چي د ژوندي انسان ستر ته کتل حرام دي او د هغه پټول په شرعي توګه ضروري دي همدارنګه د مړي ستر ته کتل هم ممنوع دي .

﴿۲۹۸۱﴾: وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جَحْشٍ قَالَ مَرَّ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عَلٰى مَعْمَرٍ وَفَخِذَاهُ مَكْشُوْفَتَانِ قَالَ يَا مَعْمَرُ غَطِّ فَخِذَيْكَ فَإِنَّ الْفَخِذَيْنِ عَوْرَةٌ . في شرح السنة

د حضرت محمد بن جحش رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ و معمر رضي الله عنه ته نژدې تېر سو دغه وخت د هغه دواړه ورنونه معلومېدل نبي کريم ﷺ ورته وويل : اې معمره! خپل ورنونه پټ کړه ځکه چي ورنونه هم په شرمګاه کي شامل دي . (شرح السنة).

تخريج: شرح السنة ۹\۲۱، رقم: ۲۲۵۱.

بېله ضرورته په يوازي ځای کي ستر لوڅول ښه کار نه دی

﴿۲۹۸۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِيَّاكُمْ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : خپل ځانونه د لڅېدو څخه

وَالتَّعَرِّيَ فَإِنَّ مَعَكُمْ مَنْ لَا يُفَارِقُكُمْ إِلَّا عِنْدَ الْغَائِطِ وَحِيْنَ يُفْضِي الرَّجُلُ إِلٰى أَهْلِهِ فَاسْتَحْيُوْهُمْ وَأَكْرِمُوْهُمْ . رواه الترمذي .

وساتئ که څه هم يوازي ياست ځکه چي ستاسو سره دوې ملائکي دئ چي هغوی يوازي په بيت الخلاء د قضائي حاجت او په کوروالي کي ستا سو څخه جلا کيږي د هغوی څخه حيا وکړئ او د هغوی عزت وکړئ . (ترمذي) .

تخريج: الترمذي في السنن ۵\۱۰۴، رقم: ۲۸۰۰.

تشريح مطلب دا دی چي تاسو هر وخت خپل ستر پټوئ، نېک کارونه کوئ او د خرابو خبرو او فحش اعمالو څخه ځان وساتئ چي د دغه ملائکو په شان کي بې حيايي نه وي او د دوی په

Maktaba Tul Ishaat.com

تعظيم او تکريم کي کمي رانه سي ، ابن مالک رحمة الله عليه وايي چي د دغه حديث څخه معلومه سوه چي د يو ضرورت لپاره هم د مثال په توګه د کوروالي ، لويو او کوچنی بولو پر وخت هم ستر خلاصول جائز نه دي ځکه چي دا ډېره د بې شرعي او بې غيرتي خبره ده .

ښځه سړي ته کتلای سي که يا؟

﴿۲۹۸۳﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّهَا كَانَتْ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَيْمُونَةَ

د بي بي ام سلمه رض څخه روايت دی چي زه او بي بي ميمونه د نبي کريم ﷺ په خدمت کي

إِذْ أَقْبَلَ ابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ فَدَخَلَ عَلَيْهِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حاضري سوو په دې وخت کي ابن ام مکتوم رضي الله عنه چي په سترګو ړوند وو راغی رسول الله ﷺ

احْتَجِبَا مِنْهُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَلَيْسَ هُوَ أَعْمَى لَا يُبْصِرُنَا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ

موږ ته وفرمايل : د ده څخه پرده وکړئ ما عرض وکړيا رسول الله ﷺ ! دی خو ړوند دی (يعني موږ خو نه ويني) نو نبي کريم ﷺ وفرمايل :

ﷺ أَفَعَمْيَاوَانِ أَنْتُمَا أَلَسْتُمَا تُبْصِرَانِهِ. رواه احمد والترمذي وابوداؤد.

ايا تاسو هم ړندې ياست ؟ او دی نه وينئ ؟ (يعني تاسو خو دی وينئ که يا). احمد ترمذي ابو داؤد

تخريج: احمد في المسند ۶\۲۹۶، وابوداود في السنن ۴\۳۶۱، رقم: ۴۱۱۲، والترمذي في السنن ۵\ ۹۴، رقم: ۲۷۷۸.

تشريح: د دغه حديث شريف څخه دا معلوميږي چي څرنګه نارينه ته د پردۍ ښځي لېدل حرام دي همدارنګه ښځي ته هم د پردي سړي لېدل حرام دي مګر علماء کرام وايي چي دغه ارشاد پر تقوا باندي محمول دی او يا دا چي د رسول الله ﷺ مراد دا وو چي ښځه دي سړي ته د اختلاط په توګه نه ګوري يعني داسي بايد ونه سي چي دوه پردي سړی او ښځه يو ځای سي او د يو بل سره خبري وکړي او ښځي سړي ته په شوق او غوره سره وګوري نو په دې باره کي مسئله دا ده چي ښځه سړي ته کتلای سي مګر د نامه څخه لاندي تر زنګنو پوري کتل جائز نه دي ، د دغه مسئلې دليل د حضرت عائشې رضي الله عنها دا قول دئ چي حبشيانو د نېزو لوبي کولې او ما هغوی ته کتل. د بي بي عائشې رضي الله عنها حبشيانو ته کتل د نهم هجري کال خبره ده او د بي بي عائشې رضي الله عنها عمر شپاړلس کاله وو او د پردې حکم نازل سوی وو ، د دې څخه معلومه سوه چي د

Maktaba Tul Ishaat.com

ښځي پردي سړي ته کتل جائز دي پرته د هغه د بدن هغه برخو ته چي هغه په ستر کي داخلي دي مګر دا خبره هم باید په ذهن کي وي چي دغه اجازه په هغه صورت کي ده کله چي د جنسي خواهش څخه خوندي وي که د جنسي خواهش څخه خوندي نه وي نو بیا سړي ته کتل بالکل حرام دي.

په یوازیوالي کي هم ستر پټ ساتئ

﴿۲۹۸۴﴾: وَعَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى

حضرت بهز بن حکیم رضي الله عنه د خپل پلاره څخه او هغه بیا د خپل پلاره څخه روایت کوي چي رسول

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْفَظْ عَوْرَتَكَ إِلَّا مِنْ زَوْجَتِكَ أَوْ مَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ قُلْتُ يَا

الله ﷺ وفرمایل: د خپلي ښځي او مینزي څخه پرته خپله شرمګاه پټه ساتی ما عرض وکړ یا

رَسُولَ اللهِ أَفَرَأَيْتَ إِذَا كَانَ الرَّجُلُ خَالِيًا قَالَ فَاللهُ أَحَقُّ أَنْ يُسْتَحْيَا مِنْهُ.

رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة.

رسول الله ﷺ! که څه هم موږ یوازي یو؟ هغه وخت هم موږ خپل بدن پټ ساتو نبي کریم ﷺ وفرمایل: د خداي تعالی څخه شرم او حیا کول زیات مناسب دی. (ترمذي ابو داؤد ابن ماجه).

تخريج: ابوداود في السنن ۴\ ۳۰۴، رقم: ۴۰۱۷، والترمذي في السنن ۵\ ۱۰۲، رقم: ۲۷۹۴.

تشريح: د رسول الله ﷺ د جواب مطلب دادئ چي په خلوت کي که چیري یو څوک موجود نه وي نو هغه وخت هم خپل ستر لوڅول مناسب نه دي ځکه چي الله تعالی په هر صورت کي موجود وي چي د انسانانو څخه زیات ددې وړ دئ چي د هغه څخه شرم او حیاء وکړل سي، ددې څخه معلومه سوه چي په خلوت (یوازیوالي) کي هم د ستر پټول واجب دي مګر د یو ضرورت په وجه لوڅول جائز دي.

په حدیث کي چي د ستر پټولو کوم حکم سوی دی په هغه کي د ښځي او مینزي استثناء سوې ده چي د خپل ښځي یا مینزي په مخکي د خپل ستر لوڅول ضروري نه دي نو ددې څخه دا خبره واضحه سوه چي په د سړي او ښځي (نکاح سوو) لپاره د یو بل ستر ته کتل مباح دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

د پردۍ ښځې سره يوازې مه اوسئ

﴿۲۹۸۵﴾: وَعَنْ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ إِلَّا كَانَ ثَالِثَهُمَا الشَّيْطَانُ . رواه الترمذي

حضرت عمر رضی اللہ عنہ د نبي كريم ﷺ څخه روايت كوي چي كله يو سړى د يوې ښځي سره يوازې يو ځاى سي نو هلته دريم نفر شيطان وي (يعني د دواړو په فكرو كي بد خيالات را ګرځوي). (ترمذي)

تخريج: الترمذي في السنن معلقا ۳\ ۴۷۴، رقم: ۱۱۷۱.

تشريح كله چي دوه پردي سړى او ښځه يوازې يو ځاى سي نو هلته شيطان سمدستي را رسيږي چي د دواړو جنسي جذبات را پورته كوي تر دې چي پر هغوى د جنسي خواهش غلبه راسي او هغوى په بدكارۍ كي اخته سي، د حديث خلاصه داده چي تاسو د پردۍ ښځي سره په يوازيوالي كي د يو ځاى كېدو څخه ځان وساتئ.

﴿۲۹۸۶﴾: وَعَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَلِجُوا عَلَى الْمُغِيبَاتِ

د حضرت جابر رضی اللہ عنہ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هغو ښځو ته مه ورځئ چي د هغوى خاوندان په سفر كي وي

فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِي مِنْ أَحَدِكُمْ مَجْرَى الدَّمِ قُلْنَا وَمِنْكَ يا رسول الله

ځكه چي په داسي وختو كي شيطان دويني په شان په ټولو رګو كي ځغلي موږ عرض وكړ يا رسول الله ﷺ! ايا شيطان ستاسو په رګو كي هم ځغلي نبي

قَالَ وَمِنِّي وَلَكِنَّ اللهَ أَعَانَنِي عَلَيْهِ فَأَسْلَمُ . رواه الترمذي.

كريم ﷺ راته وفرمايل: هو! په ما كي هم مګر خداى تعالي زما كومك كړى دى او ما هغه تابع كړى دى. (ترمذي).

تخريج: الترمذي في السنن ۳\ ۴۷۵، رقم: ۱۱۷۲.

د لغاتو حل: المُغيبات: اى الاجنبيات التي غاب عنهن ازواجهن. (هغه ښځي چي خاوندان يې په سفر وي)

تشريح هسي خو هيڅ يو پردۍ او غير محرم ښځي ته په يوازيوالي كي ورتلل او د هغې سره اختلاط كول ممنوع دي مګر په دغه حديث كي د هغه ښځو چي د هغوى خاوندان په كور كي نه

Maktaba Tul Ishaat.com

وي په خاصه توګه ذکر سوی دی چي په عامه توګه سره د واده څخه وروسته د ښځو جنسي جذبات بېداره کیږي او پر هغوی د نفساني خواهش غلبه وي ځکه نو د هغوی د خاوندانو په نه موجودتیا کي هغوی ته د غیر محرم سړي ورتلل په خرابۍ کي د اخته کېدو ډېر زیات احتمال لري.

د (مجری الدم) ژباړه شیخ عبدالحق دهلوي رحمه الله د ویني د تللو ځای یعني رګ کړې ده لکه څرنګه چي دلته نقل سوي دي مګر ملا علي قاري رحمه الله ددې مفهوم دا بیان کړی دی چي (په تاسو کي کي شیطان داسي ځغلي) لکه څرنګه چي ستاسو په رګونو کي وینه ځغلي چي تاسو ته نه معلومیږي همدارنګه شیطان پر تاسو داسي مسلط سوی دی، سره ددې چي هغه پر تاسو باندي دومره تصرف لري مګر تاسو هغه نه وینئ، د نتیجې په اعتبار د دواړو یو مطلب دئ.

لفظ د اسلم د مضارع متکلم په صیغه سره نقل سوی دی او په ځینو روایتو کي د ماضي په صیغه سره هم نقل سوی دی او دواړه صحیح دي، د مضارع متکلم ژباړه هغه ده کوم چي دلته نقل سوې ده او که چیري د ماضي په صیغه سره وویل سي نو بیا ژباړه داسي ده چي (الله تعالی د شیطان په مقابله کي زما مرسته کړې ده) نو شیطان زما په حق کي مسلمان (یعني فرمانبردار او مغلوب) سوی دئ.

غلام د پردي سړي په ډول دی

﴿۲۹۸۷﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَى فَاطِمَةَ بِعَبْدٍ قَدْ وَهَبَهُ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د بي بي فاطمې رضي الله عنها کور ته د یوه غلام

لَهَا وَعَلَى فَاطِمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا ثَوْبٌ إِذَا قَنَّعَتْ بِهِ رَأْسَهَا لَمْ يَبْلُغْ رِجْلَيْهَا

سره تشریف راوړ کوم چي نبي کریم ﷺ و بي بي فاطمې ته ورکړی وو او بي بي فاطمې پر بدن باندي داسي جامه اچولې وه

وَإِذَا غَطَّتْ بِهِ رِجْلَيْهَا لَمْ يَبْلُغْ رَأْسَهَا فَلَمَّا رَأَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

که به یې سر پټ کړو نو پښې او که به یې پښې پټي کړې نو سر به یې معلومېدی کله یې چي رسول الله ﷺ ولیدی نو بي بي فاطمې رض د پټولو ډېر زیات کوښښ کوی نو نبي کریم ﷺ ورته

مَا تَلْقَى قَالَ إِنَّهُ لَيْسَ عَلَيْكِ بَأْسٌ إِنَّمَا هُوَ أَبُوكِ وَغُلَامُكِ. رواه ابوداؤد.

وفرمایل: هیڅ پروا نه لري (اې فاطمې!) یو دي پلار دی او بل دي غلام. (ابوداؤد).

Maktaba Tul Ishaat.com

تخريج: ابوداود في السنن ۴\۳۵۹، رقم: ۴۱۰۶.

د لغاتو حل: قنعت: اى سترت. (پټه سي)

تشريح د دغه حديث شريف څخه امام شافعي رحمه الله دا استدلال کړی دئ چي د هغه ښځي غلام د هغه محرم دئ يعني په پرده کي چي د محرم کوم حکم دی هغه د دغه غلام هم دی ، د امام ابو حنيفة رحمه الله په نزد غلام د خپل باداري په حق کي د پردي سرې په ډول دی نو د غلام د خپل باداري د بدن يوازي هغه برخي ته کتل جائز دي کوم ته چي د پردي سړي کتل جائز دي يعني مخ، لاسونه او پښې، د حنفيه له خوا د دغه حديث په باره کي د امام شافعي رحمه الله دا جواب ورکول کيږي چي امام شافعي رحمه الله کوم خبره کړې ده هغه د دغه حديث څخه نه ثابتيږي ځکه کيدای سي چي هغه غلام د بي بي فاطمې رضي الله عنها سره په هغه وخت کي نابالغه وه .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

نر ښځي هم په کور کي مه پرېږدئ

﴿۲۹۸۸﴾: عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ عِنْدَهَا وَفِي الْبَيْتِ

د حضرت ام سلمه رضي الله عنها څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د هغې سره تشريف درلود او په کور

مُخَنَّثٌ فَقَالَ لِعَبْدِ اللّٰهِ أَخِي أُمِّ سَلَمَةَ يَا عَبْدَ اللّٰهِ إِنْ فَتَحَ اللّٰهُ لَكُمْ غَدًا

کي يو نرښځو کي هم وو هغې نرښځو کي عبدالله بن ابي اميه (د ام سلمه ورور) ته وويل اې عبدالله! که سبا تاسو ته خدای تعالي

الطَّائِفَ فَإِنِّي أَدُلُّكَ عَلَى بِنْتِ غَيْلَانَ فَإِنَّهَا تُقْبِلُ بِأَرْبَعٍ وَتُدْبِرُ بِثَمَانٍ فَقَالَ

په طائف کي فتحه در کړه نو زه به د غيلان لور در ته وښيم هغه د څلورو سره راځي او د اتو سره ځي (يعني دومره غټه ده چي کوم وخت راځي نو د هغې په خېټه څلور وله وي او کوم وخت چي ځي نو د هغې په شا اته وله وي دا د غيلان دلور تعريف دی عربو به غټي ښځي خوښولې)

النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَدْخُلَنَّ هٰؤُلَاءِ عَلَيْكُمْ . متفق عليه.

(د دې په اوريدو سره) نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا نرښځو کي په کور کي مه پريږدئ. (بخاري او مسلم).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۸\۴۳، رقم: ۴۳۲۴.

Maktaba Tul Ishaat.com

تشریح لفظ د مخنث د نون په زیر سره هم ویل کیږي او د نون په زور سره هم حال دا چي مشهور په زیر سره دی، مخنث هغه سړي ته ویل کیږي چي په عاداتو او حرکاتو کي د ښځي مشابه وي چي زموږ په اصطلاح کي نرښځی ورته ویل کیږي، دغه مشابهت کله په خلقي توګه سره وي او کله په مصنوعي توګه سره اختیارېږي، په خلقي توګه چي کوم مشابهت وي په هغه کي څه ګناه نه سته مګر کوم مشابهت چي په مصنوعي توګه وي چي ځیني خلک د ښځو مشابهت اختیاروي او خپل جامه، عادات او کړني د ښځو سره مشابه ظاهروي نو دا ډېره خرابه او د ګناه خبره ده، داسي خلک د لعنت مستحق دي ځکه چي په حدیث شریف کي راغلي دي چي پر هغه ښځو دي د الله تعالی لعنت وي کوم چي دنارینوو مشابهت اختیاروي او پر هغه نارینوو دي د الله تعالی لعنت وي کوم چي د ښځو مشابهت اختیاروي.

په دغه حدیث کي چي د کوم مخنث ذکر سوی دی د هغه نوم هیئت وو او ځینو د هغه نوم ماطع لیکلي دی، د هغه په باره کي علماؤ لیکلي دي چي دی به مخکي د رسول الله ﷺ د بیبیانو کورو ته تلی ځکه چي د بیبیانو دا ګمان وو چي دی په خلقي توګه سره د نارینه د جذباتو څخه خالي دی او د هغه ښځو ته شوق او حاجت نه سته او نه د جنسي خواهش سره د هغه شوق سته بلکه هغه د غیر اولی الاربه څخه دی کوم چي په قرآن کریم کي د هغه ذکر دی، او ویل سوي دي چي د ښځو لپاره پرده کول د هغوی څخه واجب نه دي مګر کله چي رسول الله ﷺ دا خبره واورېدل چي په جنسي معاملاتو کي د هغه د شوق مظهر وو نو رسول الله ﷺ ته معلومه سوه چي مخنث د غیر اولی الاربه څخه نه دی بلکه د اولی الاربه څخه دی او نفساني خواهش ته شوق لري، نو رسول الله ﷺ سمدستي منع کړ چي اوس به دغه مخنث په کورو کي نه داخلیږي او ښځو ته دي نه ځي، فقهاؤ لیکلي دي چي د دغه ارشاد په رڼا کي نه یوازي دا چي د مخنث لپاره په کور کي د داخلېدو او ښځو ته د تللو څخه منع سوې ده بلکه د خصي او داسي نورو هم دا حکم دی او د پردې په اړه دوی د هغه خلکو په ډول دي چي د هغوی څخه پرده کول پر ښځو واجب دي.

په څلور سره ځي او په اته سره راځي: د دغه خبري څخه د هغه مخنث (نرښځي) مقصد د غیلان د لور چي د هغې نوم بادیه وو چاغ والی بیانول مقصد وو ځکه چي په عامه توګه سره د کوم سړي بدن چاغ وي نو د هغه پر نس څلور ګونجي وي چي د مخ څخه څلور معلومیږي او د شا څخه اته معلومیږي په دې توګه چي د هغه څلورو ګنجو سرونه د دواړو خواوو څخه ښکاره وي، مخنث چي دا خبره وکړه نو د هغه مقصد دا وو چي د غیلان لور چي کله راځي نو د هغې پر

Maktaba Tul Ishaat.com

نس څلور ګونجي وي او کله چي هغه په شا ګرځولو سره ځي نو د شا څخه اته ګونجي معلومیږي چي په اصل کي د نس د هغه څلور ګنجو هغه دواړه سرونه وي چي دواړه خواوو ته ښکاره وي، خلاصه دا چي د چاغو ښځو ته زيات مېلان لري ځکه هغه مخنث د غيلان د لور د چاغ والي ځرګندولو دا سي تعبير اختيار کړ.

د لوڅ ګرځېدو څخه منع

﴿۲۹۸۹﴾: وَعَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ قَالَ حَمَلْتُ حَجَرًا ثَقِيلاً فَبَيْنَا اَنَا اَمْشِيْ

د حضرت مسور بن مخرمه رضی الله عنه څخه روايت دی چي ما يو درونډ کاڼی پورته کړ او را روان سوم

سَقَطَ عَنِّيْ ثَوْبِيْ فَلَمْ اَسْتَطِعْ اَخْذَهُ فَرَاٰنِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

چي زما جامه وشکېدل او د بوج په وجه ما جامه پر بدن باندي نسوای ايښوولای رسول الله ﷺ

فَقَالَ لِيْ خُذْ عَلَيْكَ ثَوْبَكَ وَلاَ تَمْشُوْا عُرَاةً. رواه مسلم.

چي زه کله لوڅ وليدم نو يې وفرمايل: اول جامه واغونده او لوڅ مه ځئ. (مسلم).

تخريج: مسلم في الصحيح ۱\۲۶۸، رقم: ۷۸\۳۴۱.

د شرم او حياء انتهائي درجه

﴿۲۹۹۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا نَظَرْتُ اَوْ مَا رَاَيْتُ فَرْجَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَطُّ. رواه ابن ماجة.

د عائشې رضی الله عنها څخه روايت دی چي ما هيڅکله د نبي کريم ﷺ شرمګاه نه ده ليدلې. (ابن ماجه)

تخريج: سنن ابن ماجه ۱\۶۱۹، رقم: ۱۹۲۳.

تشريح: حرف د او په اصل کي د راوي شک ظاهروي چي په روايت کي د مانظرت الفاظ کي او که د مارايت الفاظ نقل سوي دي، په هر حال د دواړو معنی يوه ده په مفهوم او مطلب کي څه فرق نه سته.

په يوه روايت کي د بي بي عائشې رضي الله عنها دا الفاظ دي چي نه خو رسول الله ﷺ زما ستر ليدلی دی او نه ما د رسول الله ﷺ ستر ليدلی دی، د دغه دواړو روايتو څخه معلومه سوه

Maktaba Tul Ishaat.com

چي خاوند او ښځي د يو بل ستر ليدلای سي مگر د ژوند اداب او د شرم او حياء انتهائي درجه داده چي ښځه او خاوند هم د يو بل ستر ته و نه گوري.

ښځي ته په نظر لوېدو سره سمدستي نظر واړوئ

﴿۲۹۹۱﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَنْظُرُ إِلَى مَحَاسِنِ امْرَأَةٍ أَوَّلَ مَرَّةٍ ثُمَّ يَغُضُّ بَصَرَهُ إِلَّا أَحْدَثَ اللّٰهُ لَهُ عِبَادَةً يَجِدُ حَلَاوَتَهَا. رواه احمد.

د حضرت ابو امامه رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د کوم مسلمان بنده نظر چي د يوې ښځي په حسن و جمال ولگيږي نو هغه سمدستي مخ څيني واړوي نو هغه ته به خداي تعالي يو داسي خوږوالي ورکړی چي د هغې لطف به ورته حاصل سي. (احمد).

تخريج: الامام احمد في المسند ۵\ ۲۶۴.

تشريح: مطلب دادئ چي هغه سړي د خپل رب په فرمانبرداري کي يو حسن او ښکلا ته نظر سمدستي وگرځوی او په داسي کولو سره هغه خپل ذوق ته د تسکين ورکولو پر ځای د خپل پرودرگار د حکم په مخکي خپل نفس او خواهش تر پښو لاندي کړ ځکه الله تعالی به د هغه دغه فعل په يو داسي عبادت کي بدل کړي چي د هغه په وجه به هغه په خپل زړه او دماغ کي د الله تعالی د تعميل په نتيجه کي د تر لاسه کېدونکي خاص سکون او د زړه لذت محسوس کړي او دغه لذت په اصل کي د هغه تريخوالي بدله ده چي هغه د خپل نفس پر خواهش باندي په صبر کولو سره زغملی دی.

منع شي ته پر کتلو باندي وعيد

﴿۲۹۹۲﴾: وَعَنِ الْحَسَنِ مُرْسَلاً قَالَ بَلَغَنِيْ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَعَنَ اللّٰهُ النَّاظِرَ وَالْمَنْظُوْرَ إِلَيْهِ. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت حسن رضي الله عنه څخه مرسلا روايت دی وايي چي ما ته د اصحابو کرامو څخه دا معلومه سوې ده چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي: پر هغه سړی دي د خداي تعالي لعنت وي چي د بل شرمگاه ته گوري او پر هغه دي هم وي چي دده شرمگاه ته گوري. (بيهقي).

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ١٦\١٦٢، رقم: ٧٧٨٨.

تشريح مطلب دادی چي پر هغه چا دي د الله تعالى لعنت وي چي هغه شي ته په قصد او ارادې سره ګوري چي د هغه لېدل جائز نه دي ، هغه شی که يو انجلۍ وي يا د يو چا ستر وي يا بل منع شی وي، همدارنګه هغه څوک ددې مستحق ګرځول سوی دی څوک چي ولېدل سي مګر دا په هغه صورت کي کله چي هغه بېله غذره او بېله قصد خپل ځان ښوولی وي مثلاً يو ښځه په قصد سره خپل ځان يو پردي سړي ته وښيي نو په دغه صورت کي هغه هم په دغه لعنت کي داخله ده ، مګر که چيري يو ښځه يو پردي سړي داسي ولېدل چي ښځي ته د قصد او ارادې دخل نه وي نو هغه په دغه لعنت کي داخله نه ده.

===========

بَابُ الْوَلِيِّ فِي النِّكَاحِ وَاِسْتِيْذَانِ الْمَرْاَةِ

(د نکاح دولي او د ښځي څخه د اجازې اخيستلو بيان)

ولي په لغت کي سرپرست او کارساز ته وايي يعني هغه سړی چي د يو چا کار منتظم کوي مګر دلته د ولي څخه مراد هغه سړی دی چي د يو ښځي د نکاح متولي او سرپرست وي، په دې توګه چي د ښځي د نکاح اختيار هغه ته حاصل وي.

په دغه باب کي هغه حديثونه نقل سوي دي چي د هغو څخه دا معلوميږي چي د نکاح په باره کي ولي ته اجازه تر لاسه کېدل او د هغه رضا معلومول ضروري دي.

دلته دا ښوول هم ضروري دي چي ولايت (يعني د ولي کېدو حق) چا ته حاصل دی ، نو پوه سئ چي د نکاح په اړه د ولايت اختيار هغه قريب ته حاصل وي کوم چي **عصبه بنفسه** وي که عصبات بنفسه نه وي نو په هغوی کي به مقدم هغه وي کوم چي په وراثت کي مقدم وي يعني په دې باره کي د عصباتو ترتيب هغه دی کوم چي په وراثت کي دی که په عصبات بنفسه کي څوک نه وي نو د مور ولايت به حاصل وي يا د انا او بيا مور ته بيا ملسی ته او بيا ملسي زوی ته او که چيري په دوی کي هم څوک نه وي نو بيا نېکه (د مور پلار) ته به د ولايت حق وي او بيا حقيقي خور ته او بيا ميريزی خور ته بيا د مور اولاد ته . بيا د دغه ترتيب سره سم د هغوی اولاد ته او که په هغوی کي هم څوک نه وي نو بيا ذوي الاحارم ته د ولايت حق دی په ذوي الارحام کي تر ټولو مخکي امه ګانو ته د ولايت حق دی د هغوی څخه وروسته ماما او د هغوی څخه وروسته خاله ګانو ته او د هغوی څخه وروسته د اکا لوڼو ته او د هغوی څخه وروسته د ترتيب

Maktaba Tul Ishaat.com

سره سم د هغوی اولاد ته او که په دوی کي هم څوک نه وي نو د ولایت حق به مولي الموالات ته حاصل وي (د مولي الموالات معنی په باب الفرائض کي بیان سوې ده) ، که چیري په مولي الموالات کي هم څوک نه وي بیا د وخت د پاچا د ولایت حق دی . په شرط ددې چي هغه مسلمان وي او د هغه څخه وروسته د وخت د پاچا چي څوک نائب وي په شرط ددې چي د پاچا له خوا هغه ته دا اختیار ورکړل سوی وي د هغه څخه وروسته به د قاضي نائبانو ته د ولایت حق وي په شرط ددې چي د خپل نائب جوړولو اجازه او اختیار قاضي ته حاصل وي که قاضي ته دغه اجازه نه وي نو بیا یې هیڅوک هم ولي کېدای نه سي .

د ولایت د حق لپاره ازاد کېدل ، عاقل کېدل او مسلمان کېدل شرط دي نو هیڅ غلام د یو چا ولي کیدای نه سي او هیڅ نابالغ د چا ولي کیدای نه سي او همدارنګه لیونی او کافر هم د یو مسلمان ولي کیدای نه سي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د نکاح څخه مخکي د ښځي اجازه اخیستل

﴿۲۹۹۳﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُنْكَحُ

د حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : تر څو پوري چي د کونډې

الْأَيِّمُ حَتَّى تُسْتَأْمَرَ وَلَا تُنْكَحُ الْبِكْرُ حَتَّى تُسْتَأْذَنَ قَالُوا يَا رَسُوْلَ اللهِ وَكَيْفَ إِذْنُهَا قَالَ أَنْ تَسْكُتَ . متفق علیه .

ښځي څخه اجازت نه وي اخیستل سوی نو د هغې نکاح کول نسي کولای او همداسي چي د پیغلو ښځو څخه اجازت نه وي اخیستل سوی نو نکاح یې نه صحیح کېږي اصحابو کرامو عرض وکړ یا رسول الله! د پیغلو څخه به (چي شرمیږي) اجازت څنګه حاصل سی ؟نو نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل :د هغې اجازت دادي چي چپه خوله پاته سی .(یعني د اجازت دغو ښتلو څخه وروسته چپه خوله پاته سی). (بخاري او مسلم).

تخریج: البخاري في الصحیح (فتح الباري): ۱۲\ ۳۳۹ ، رقم: ۶۹۶۸ ، ومسلم ۲\ ۱۰۳۶ ، رقم: ۶۴ – ۱۴۱۹ .

د لغاتو حل: الایم: المراد به هنا الثیب البالغة. (بې خاونده).

تشریح ایم هغه ښځي ته ویل کیږي چي د هغې خاوند نه وي که هغه باکره (پېغله) وي او که

Maktaba Tul Ishaat.com

کونډه وي (چي خاوند يې مړ سوی وي يا طلاقه سوې وي) مگر دلته د ايم څخه مراد هغه بالغه ښځه ده چي د هغې خاوند مړ سوی وي يا طلاق ورکړل سوی وي.

د ښځي څخه د هغې د نکاح تر لاسه کولو په باره کي د باکرې او ثيب فرق سوی دی چي د ثيب په باره کي دا فرمايل سوي دي چي تر څو د هغې حکم تر لاسه نه کړل سي او د باکرې په باره کي دغه الفاظ دي چي تر څو پوري د هغې اجازه نه وي سوې نو دغه حکم او اجازه دا فرق څرګندوي چي ثيب (کونډه) ښځه د خپل نکاح په اړه زيات شرم او حياء نه کوي بلکه هغه په خپل الفاظو کي د خپل نکاح حکم کوي يا په اشاره سره د خپل خواهش اظهار کوي او په دې باره کي هغې ته څه شرم نه وي، ددې پر خلاف باکره (پېغله) زيات شرم او حياء کوي ځکه هغه په څرګندو الفاظو کي د نکاح حکم نه کوي او نه په واضحه اشاره سره د خپل خواهش اظهار کوي مگر کله چي د هغې د نکاح اجازه د هغې څخه واخيستل سي نو هغه په رضا سره اجازه ورکوي بلکه زيات وخت داسي کيږي چي د اجازې د طلب پر وخت د هغې په ژبه سره اجازه ورکول د شرم او حياء خلاف ګڼل کيږي او د خپل سکوت په ذريعه د خپل رضامندۍ اظهار کوي.

ددغه حديث څخه معلومه سوه چي د ښځي د حکم يا اجازې څخه پرته نکاح جائز نه ده مگر د فقهاؤ په نزد په دې باره کي تفصيل دادی د ټولو ښځو څلور ډولونه دي: اول ثيب بالغه يعني هغه کونډه ښځه چي بالغه وي، د داسي ښځي په باره کي د ټولو علماؤ په اتفاق سره دا قول دی چي د هغې نکاح د هغې د اجازې څخه پرته جائز نه ده په شرط ددې چي هغه عاقله وي يعني ليونۍ نه وي که عاقله نه وي نو د ولي په اجازې سره د هغې نکاح کيږي.

دوهم: باکره صغيره يعني هغه انجلۍ چي نابالغه وي د هغې په باره کي د ټولو علماؤ په [اتف]اق سره دا قول دی چي د هغې د نکاح لپاره د هغې د اجازې ضرورت نه سته بلکه د هغې ولي [د هغ]ې د اجازې څخه پرته هم نکاح کولای سي.

[د]ريم: ثيب صغيره يعني هغه کونډه چي بالغه نه وي د هغې په باره کي د حنفي علماؤ قول دادی چي د هغې نکاح د هغې د اجازې څخه پرته کيدای سي مگر شافعي علماء وايي چي د هغې نکاح د هغې د اجازې څخه پرته جائز نه ده.

څلورم: باکره بالغه: يعني هغه پېغله چي بالغه وي، د هغې په باره کي د حنفي علماء قول دادی چي د هغې نکاح د هغې د اجازې څخه پرته جائز نه ده مگر د شافعي علماؤ په نزد جائز ده.

ددغه تفصيل څخه دا خبره معلومه سوه چي د حنفي علماؤ په نزد د ولايت مدار پر صغر دی يعني د هغه په نزد ولي ته د ښځي د اجازې څخه پرته د نکاح کولو حق په هغه صورت کي حاصل

Maktaba Tul Ishaat.com

دی کله چي هغه د کم عمر یعني نابالغه وي که هغه باکره وي یا ثیبه (کونډه) وي، او د شافعي علماؤ په نزد د ولایت مدار پر بکارت دی یعني د هغوی په نزد ولي ته د ښځي د اجازې څخه پرته د نکاح کولو حق په هغه صورت کي حاصل وي کله چي هغه باکره وي که بالغه وي او که نابالغه وي، نو دغه حدیث شریف د حنفیه په نزد پر بالغه باندي محمول دی که هغه کونډه وي یا پیلغه وي او د رسول الله ﷺ دغه ارشاد (ولاتنکح البکر حتی تستاذن) یعني د پیغلي نکاح دي نه کیږي تر څو چي د هغې اجازه تر لاسه نه سي، دا د شوافع د قول خلاف یو واضح دلیل دی.

﴿۲۹۹۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْأَيِّمُ أَحَقُّ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کونډه ښځه (د خپلي

بِنَفْسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا وَالْبِكْرُ تُسْتَأْذَنُ فِي نَفْسِهَا وَإِذْنُهَا صُمَاتُهَا . و في رواية

نکاح په معامله کي) د خپل ولي څخه زیاته حقداره ده (یعني د نکاح د اجازت د ور کولو په معامله کي) او پیغله ښځه هم د دې حقداره ده چي د هغې څخه د نکاح کولو اجازت واخیستل سي او د هغې اجازت اخیستل چپه خوله پاته کېدل دي. او په دویم روایت کي دا الفاظ دي چي

الثَّيِّبُ أَحَقُّ بِنَفْسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا وَالْبِكْرُ تُسْتَأْمَرُ وَ إِذْنُهَا سُكُوتُهَا وَ فِي رِوَايَةٍ

کونډه ښځه د خپل ولي څخه په خپلو معاملاتو کي (نکاح وغیره) زیات حق لري او د پیغلي څخه دي هم اجازت واخیستل سي او د هغې اجازت ور کول چپه خوله پاته کېدل دي. او په یو

الثَّيِّبُ أَحَقُّ بِنَفْسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا وَالْبِكْرُ يَسْتَأْذِنُهَا أَبُوهَا فِي نَفْسِهَا وَإِذْنُهَا صُمَاتُهَا . رواه مسلم .

بل روایت کي دا الفاظ دي چي کونډه د ولي څخه زیاته حقداره ده او د پیغلي څخه دي هم اجازت واخیستل سی او د هغې څخه د اجازت حق و پلار ته حاصل دی او د هغې اجازت ورکول چپه خوله پاته کېدل دي. (مسلم).

تخریج: مسلم في الصحیح ۲\۱۰۳۷، رقم: ۶۶\۱۴۲۱.

تشریح د خپل ولي څخه زیات خپله اختیار لري: ددې مطلب دادی چي کونډه ښځه د خپل نکاح د اجازې ورکولو یا نه ورکولو په اړه خود مختاره ده او دا چي تر څو پوري په خپل ژبه سره

Maktaba Tul Ishaat.com

اجازه ونه کړي نو د هغې نکاح نه کیږي پر خلاف د پیغلې انجلۍ چې د هغې لپاره په ژبه سره اجازه ورکول ضروري نه دي بلکه د هغې سکوت (پټه خوله) په ذریعه هم د خپل اجازې اظهار کولای سي، په دې اړه نور تفصیل مخکې تېر سوی دی.

دلته یو څو روایتونه نقل سوي دي چې په هغو کې یوازې لږ لفظي اختلاف دی د مفهوم او معنی په اعتبار ټول روایتونه یو ډول دي.

کونډه خپل ناخوښه نکاح رد کولای سي

﴿۲۹۹۵﴾: وَعَنْ خَنْسَاءَ بِنْتِ خِذَامٍ أَنَّ أَبَاهَا زَوَّجَهَا وَهِيَ ثَيِّبٌ فَكَرِهَتْ ذٰلِكَ فَأَتَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَدَّ نِكَاحَهَا. رواه البخاري وفي رواية ابن ماجة نِكَاحَ أَبِيهَا.

د حضرت خنساء بنت خدام ﷺ څخه روایت دی چې هغه کونډه وه د هغې پلار د هغې نکاح د یو چا سره وکړه او دا د هغه د نکاح څخه خوشحاله نه وه نو دا د نبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضره سوه او د دې په اړه یې عرض وکړ نو نبي کریم ﷺ د هغه نکاح ور رد کړه او په ابن ماجه کې یو روایت دی چې د هغې د پلار تړل سوې نکاح.

تخریج: البخاري في الصحیح (فتح الباري): ۹\ ۱۹۴، رقم: ۵۱۳۸، وابن ماجه ۱\ ۶۰۲، رقم: ۱۸۷۳.

د رسول الله ﷺ سره د نکاح پر وخت د حضرت عائشې ﷺ عمر

﴿۲۹۹۶﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَزَوَّجَهَا وَهِيَ بِنْتُ سَبْعِ

د بي بي عائشې ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ د هغې سره نکاح وکړه کوم وخت چې د

سِنِينَ وَزُفَّتْ إِلَيْهِ وَهِيَ بِنْتُ تِسْعِ سِنِينَ وَلُعَبُهَا مَعَهَا وَمَاتَ عَنْهَا وَهِيَ بِنْتُ ثَمَانَ عَشْرَةَ. رواه مسلم.

هغې عمر اووه کاله وو کوم وخت چې هغه د نهو کالو سوه نو د رسول الله ﷺ و کور ته ولېږل سوه او د هغې سره د بازی شیان وه او کوم وخت چې رسول الله ﷺ ور څخه وفات سو هغه وخت د دې عمر د اتلسو کلو وو. (مسلم).

تخریج: مسلم في الصحیح ۲\ ۱۰۳۹، رقم: ۷۱- ۱۴۲۲.

تشریح دغه حدیث شریف د بي بي عائشې ﷺ ژوندي درې مهم اړخه او د رسول الله ﷺ سره د هغې د ملګرتیا وخت څرګندوي، د اوو کالو په عمر کي بي بي عائشه ﷺ د رسول الله ﷺ په زوجیت کي راغلل او د نهه کالو په عمر کي په رخصت کېدو سره د نبوت کورنۍ ته راغلل او د نهه کالو د ملګرتیا څخه وروسته یوازي د اتلس کالو په عمر وه چي رسول الله ﷺ د دنیا څخه تشریف یووړ.

د نهه کالو عمر د کوچنیوالي عمر وي دا وجه ده چي بي بي عائشې ﷺرسول الله ﷺ ته تشریف راوړ نو د هغې سره د لوبو شیانو یعني ناوکۍ وې چي په عامه توګه سره د کوچنیانو تر ټولو شیان محبوب شیان دي، په یوه حدیث کي راغلي دي چي رسول الله ﷺ هغه ناوکۍ ته وکتل نو پر هغه یې د ناخوښۍ اظهار ونه کړ، ددې څخه معلومه سوه چي د ناوکیو جوړول جائز دي او د کوچنیانو په ناوکیو لوبي کول مباح دي، ددې وجه علماؤ دا لیکلې ده چي په ناوکیو سره لوبي کول په اصل کي د کوچنیانو لپاره یو سبق هم دی چي په هغه سره د هغوی روزنه، ګنډل او د کور د اصطلاح او انتظام تربیت تر لاسه کیږي، او بیا په دې اړه یو احتمال دا هم دی چي دا واقعه د هجرت د ابتداء ده او تر هغه وخته پوري د عکس حرمت نازل سوی نه وو، ځیني علماء وایي چي بي بي عائشې رضي الله عنها د ځان سره ناوکۍ راوړې وې نو په هغو کي صورتونه جوړ سوي نه وه کوم چي په عکسونو کي وي او حرام دي بلکه په جامو کي په نغښتلو سره بېله د شکل او صورت څخه دا سي شیان جوړ سوي وه.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د کم عمره انجلۍ نکاح د ولي د اجازې پرته نه کیږي

﴿۲۹۹۷﴾: عَنْ أَبِي مُوسَى أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا نِكَاحَ إِلَّا بِوَلِيٍّ.

رواه احمد والترمذي وابوداؤد وابن ماجة والدارمي.

د حضرت ابو موسی ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د ولي (سرپرست)د اجازت څخه ماسوا نکاح نه صحیح کیږي. (احمد ترمذي ابوداؤد ابن ماجه دارمي)

تخریج: احمد في المسند ۴\ ۳۹۴، ابوداود في السنن ۲\ ۵۶۸. رقم: ۲۰۸۵، والترمذي في السنن ۳\ ۴۰۷، رقم: ۱۱۰۱، وابن ماجه في السنن ۱\ ۶۰۵، رقم: ۱۸۸۱، والدارمي ۲\ ۱۸۵، رقم: ۲۱۸۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

تشریح: د حنفیه په نزد ددغه حدیث تعلق د نابالغي او غیر عاقلي سره دی یعني د کم عمره انجونو او لیوني نکاح د هغه د ولي د اجازې څخه پرته نه کیږي ، امام شافعي او امام احمد رحمة الله علیهما د حدیث پر ظاهري الفاظو باندي عمل کړی دی هغوی وایي چي نکاح هغه وخت صحیح کیږي کله چي ولي عقد وکړي او د ښځو په عبارت سره نکاح نه منعقد کیږي .
علامه سیوطي رحمه الله وایي چي په دغه حدیث کي پر نابالغه او غیرعاقله باندي د محمول نه منلو بلکه د مطلق په صورت کي جمهور علماء د صحت پر نفي باندي د امام ابو حنیفة رحمه الله پر نفي کمال باندي محمول کړې ده .

﴿۲۹۹۸﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَيُّمَا امْرَأَةٍ

د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کومه ښځه چي خپله نکاح د

نَكَحَتْ نَفْسَهَا بِغَيْرِ إِذْنِ وَلِيِّهَا فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ فَنِكَاحُهَا

خپل ولي (سرپرست)د اجازت څخه ماسوا وکړي د هغې نکاح باطله ده د هغې نکاح

بَاطِلٌ فَإِنْ دخل بِهَا فَلَهَا الْمهر بِمَا استحل مِنْ فَرْجِهَا فَإِنْ اشْتَجَرُوا

باطله ده د هغې نکاح باطله ده بیا که د هغې خاوند د دې سره همبستري وکړي نو د هغې د شرمګاه څخه د فائدې د اخیستلو مهر پر خاوند واجب دی او که د یوې ښځي په ولایت

فَالسُّلْطَانُ وَلِيُّ مَنْ لَا وَلِيَّ لَهُ . رواه احمد والترمذي وابوداؤد وابن ماجة والدارمي .

(سرپرستي) کي اختلاف وي نو د هغې ښځي ولي باچا(د وخت)دی که څوک ولي ونه لري . (احمد ترمذي ابو داؤد ابن ماجه دارمي).

تخریج: احمد في المسند ۶\ ۶۶، وابوداود في السنن ۲\ ۵۶۶، رقم: ۲۰۸۳، والترمذي في السنن ۳\ ۴۰۷،رقم: ۱۱۰۲، وابن ماجه في السنن ۱\ ۶۰۵، رقم: ۱۸۷۹، والدارمي ۲\ ۱۸۵،رقم: ۲۱۸۴.

تشریح: د هغه نکاح باطله ده ، دا الفاظ رسول الله ﷺ درې واره وفرمایل، یعني ددې مطلب دادی چي د ولي د اجازې څخه پرته کېدونکي نکاح باندي خبردار دی، او ددې تاکید یې وکړ چي نکاح د ولي د اجازې او خوښي ته بنیادي درجه تر لاسه ده ، همدارنګه دغه حدیث او داسي

نور حديثونه د دغه ارشاد (الايم احق بنفسها من وليها) يعني د ايم نكاح دي نه كيږي تر څو چي هغه حكم تر لاسه نه كړلاى ، دا معارض او ټكر دي ځكه د حنيفه له خوا د دغه حديث تاويل دا كيږي چي دلته مراد دادى چي كومه ښځه د ولي د اجازې څخه پرته د غير سيال سره نكاح وكړي نو د هغې نكاح باطل ده يا دا چي د كم عمره انجلۍ يا د مينزي د مكاتبه د خپل ولي د اجازې څخه پرته نكاح وكړي نو د هغې نكاح به باطل وي .

ددې څخه پرته دا خبره هم بايد په ذهن كي وي چي دغه حديث او ددې څخه مخكي حديث دواړه په فني توګه سره ددې درجي نه دي چي دا د يو مذهب خلاف د دليل په توګه اختيار كړل سي ځكه د دغه دواړو حديثو په صحيح كېدو كي محدثينو كلام كړى دى .

د حديث د آخري جملې مطلب دادى چي كله د يو ښځي ولي په خپلو كي اختلاف او نزاع كوي او پر يو فيصله باندي نه متفق كيږي نو هغوى ټول كالعدم دي او په دغه صورت كي د ولايت حق د وخت پاچا ته دى كنه دا خو معلومه ده چي د ولي په موجودتيا كي پاچا ته د ولايت حق نه سته .

بېله شاهدانو نكاح نه صحيح كيږئ

﴿۲۹۹۹﴾ : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْبَغَايَا اللَّاتِي يُنْكِحْنَ أَنْفُسَهُنَّ بِغَيْرِ بَيِّنَةٍ . والاصح انه موقوف على ابن عباس .رواه الترمذي

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كه ښځي بېله شاهدانو نكاح وكړه نو هغوى زنا كوى د ترمذي بيان دى دا حديث په ابن عباس موقوف دى (يعني د هغه قول دى). (ترمذي)

تخريج: الترمذي في السنن ۳\۴۱۱، رقم: ۱۱۰۲.

تشريح د نكاح صحيح كېدو يو شرط دادى چي دوه شاهدان وتاكل سي ، ددغه حديث څخه دا ثابتيږي چي بېله شاهدانو نكاح نه صحيح كيږي د ټولو امامانو دا مذهب دى او د صحابه كرامو او تابعينو څخه هم دا نقل سوي دي .

د ښځي سكوت د هغې رضا ده

﴿۳۰۰۰﴾ : وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْيَتِيمَةُ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د پيغلو انجونو سره د

Maktaba Tul Ishaat.com

تُسْتَأْمَرُ فِي نَفْسِهَا فَإِنْ صَمَتَتْ فَهُوَ إِذْنُهَا وَإِنْ أَبَتْ فَلَا جَوَازَ عَلَيْهَا . رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي ورواه الدارمي عن ابي موسى .

نكاح په معامله كي اجازت واخلئ (كه د پوښتني كولو څخه وروسته) كه چپه خوله پاته سوه نو د دې د لوري څخه د اجازت ور كول گڼل كيږي او كه انكار يې وكړ نو په هغې باندي جبر كول پكار نه دی. (ترمذي ابو داؤد نسائي په دارمي كي د ابو موسى څخه).

تخريج: ابوداود في السنن ٢\ ٥٧٣، رقم: ٢٠٩٣، والترمذي في السنن ٣\ ٤١٧، رقم: ١١٠٩، والنسائي ٦\ ٨٧، رقم: ٣٢٧٠.

تشريح: د واده معامله د انساني ژوند يو لوی او ارزښتناک پړاو دی ، په دغه پړاو كي د زوجينو د خوښي د خواهش خلاف د مور او پلار او د ولي يو فيصله او په هغه كي د ادنا درجې كوتاهي او ناپوهي د زوجينو (ښځي او خاوند) ټول ژوند جهنم جوړوي ، ځكه شريعت هر بالغ ته كه سړی وي او كه ښځه دا حق وركړی دی چي هغه په دغه پړاو كي خپل خوښه او د خپل خوښي او ناخوښي پوره پوره اظهار وكړي ، په خاصه توگه د ښځو په باره كي د هغوی مور او پلار او ولي باندي زيات زور اچول سوی دی چي هغوی په دغه معامله كي د خپل ذاتي خوښي او ناخوښي مدار ونه گرځوي بلكه ښځي ته خپله د فكر كولو موقع وركړل سي او د هغې اجازه او خوښه دي اصله فيصله وگڼل سي او بيا د هغې د اجازې په باره كي دا اساني هم وركړل سوې ده كه ښځه د شرم او حياء په وجه د خپل اجازې او خوښي اظهار په ژبه نه سي كولای نو د هغې پټه خوله والی د هغې اجازه گڼل كيږي .

مگر دا خبره بايد په ذهن كي وي چي د ښځي سكوت د هغې د اجازې قائم مقام كېدل يوازي د هغه ولي په حق كي دی يعني ښځه كه د خپل ولي د اجازې پر وخت پټه خوله سي نو د هغې دغه پټه خوله والی د هغې اجازه گڼل كيږئ او كه د ولي څخه پرته بل څوک اجازه وغواړي نو په دغه صورت كي به د ښځي لپاره دا ضروري وي چي هغه په ژبه سره اجازه وركړي .

د غلام نكاح د بادار د اجازې پرته نه صحيح كيږي

﴿٣٠٠١﴾: وَعَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَيُّمَا عَبْدٍ تَزَوَّجَ بِغَيْرِ إِذْنِ سَيِّدِهٖ فَهُوَ عَاهِرٌ . رواه الترمذي وابوداؤد والدارمي .

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم غلام چي د خپل مالک د اجازې څخه پرته نکاح وکړي هغه زاني (زنا کاره) دی. (ترمذي ابو داؤد دارمي)

تخريج: ابو داود في السنن ۲\ ۵۶۳، رقم: ۲۰۷۸، والترمذي ۳\ ۴۱۹، رقم: ۱۱۱۱، والدارمي ۲\ ۲۰۳، رقم: ۲۲۳۳.

تشريح مطلب دادی چي د مملوک نکاح د مالک د اجازې څخه پرته نه صحیح کیږي که چیري یو مملوک د خپل مالک د اجازې څخه پرته نکاح وکړي او د هغه نکاح څخه وروسته د منکوحې سره کوروالي وکړي نو دا کار به حرام وي او هغه ته به زنا کار ویل کیږي. د امام شافعي او امام احمد رحمة الله علیهما دا مذهب دی چي د غلام نکاح د هغه د بادار د اجازې څخه پرته جائز نه ده او د نکاح څخه وروسته که بادار اجازه ورکړي نو بیا هم هغه عقد نه صحیح کیږي، د امام ابو حنیفة رحمه الله مذهب دادی چي د بادار د اجازې څخه پرته نکاح صحیح کیږي مګر د هغه نافذ کېدل یعني صحیح کېدل د بادار پر اجازه موقوف دی کله چي بادار اجازه ورکړي نو نکاح به صحیح سي لکه څرنګه چي د فضولي د نکاح حکم دی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

بالغه د خپل نکاح په اړه خودمختار ده

﴿۳۰۰۲﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ جَارِيَةً بِكْرًا أَتَتْ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَتْ أَنَّ أَبَاهَا زَوَّجَهَا وَهِيَ كَارِهَةٌ فَخَيَّرَهَا النَّبِيُّ ﷺ. رواه ابو داؤد.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چي یو پیغله انجلۍ د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضره سوه او عرض یې وکړ چي د هغې پلار دا په نکاح ورکړې ده او په دغه نکاح باندي دا راضي نه وه نو نبي کریم ﷺ هغې ته د نکاح د فسخ کولو اختیار ورکړ. (ابو داؤد).

تخريج: سنن ابي داود ۲\ ۵۷۶، رقم: ۲۰۹۶.

تشريح د دغه حدیث شریف څخه معلومه سوه چي ولي ته دا حق نه سته چي هغه د نکاح په اړه پر بنځه زور وکړي که څه هم هغه باکره وي او ولي پلار، نیکه یا بل څوک قریب وي، دا د حنفیه مذهب دی.

په دغه مسئله کي امام شافعي رحمه الله مخالف دی هغه فرمايي چي کومه بنځه پیغله نه وي که څه هم هغه نابالغه وي نو ولي ته د هغې د نکاح په باره کي پر هغې د زور کولو حق نه سته مګر

Maktaba Tul Ishaat.com

کو مه ښځه چي پېغله وي نو د نکاح کولو اختيار ولي ته حاصل دی .

د بالغي نکاح ولي ته کول مستحب دي

﴿۳۰۰۲﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُزَوِّجُ الْمَرْأَةُ الْمَرْأَةَ وَلَا تُزَوِّجُ الْمَرْأَةُ نَفْسَهَا فَإِنَّ الزَّانِيَةَ هِيَ الَّتِي تُزَوِّجُ نَفْسَهَا . رواه ابن ماجة.

د حضرت ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هيڅ يوه ښځه دي د يوې ښځي نکاح نه کوي او نه دي يوه ښځه په خپل اختيار سره نکاح کوي ځکه چي هره ښځه خپله نکاح کوي هغه زنا کاره ده .(ابن ماجه)

تخريج: سنن ابن ماجه ۱\۶۰۶، رقم: ۱۸۸۲.

تشريح: ښځه دي د ښځي نکاح نه کوي، د حنفيه په نزد د دغه منع تعلق يا خو د هغه ښځي سره دی چي هغې ته د ولايت حق حاصل نه وي يا د دغه نهي پر تنزيهي باندي محمول ده ، که څه هم بالغي ته دا اختيار حاصل دی چي هغه خپله نکاح د خپل ولي د اجازې څخه پرته خپله وکړي يا بل څوک خپل وکيل جوړ کړي مګر د هغې لپاره دا مستحب دي چي هغه د خپل نکاح په اړه خپل ولي ته ځان وسپاري که د يوې ښځي ولي موجود وي نو د هغه ښځي نکاح هغه ته سپارل مستحب دي او دا خبره هم مخکي بيان سوې ده که د يو چا ولي نه وي نو بيا د هغې ولي قاضي دی .

د دغه حديث شريف خلاصه داده چي غوره او مناسب خبره داده چي د کومي ښځي ولي موجود وي نو بله ښځه دي د هغې نکاح نه کوي بلکه هغه ولي دي د هغې نکاح وکړي او که چيري ولي نه وي نو بيا قاضي ته دا حق دی چي د هغې نکاح وکړي .

نه دي ښځه په خپله خپل نکاح کوي : د حنفيه په نزد د دغه منع مراد دادی چي هيڅ ښځه دي بېله شاهدانو او غير سيال سره خپله نکاح نه کوي ، او د امام شافعي رحمه الله په نزد مراد دادی چي هيڅ ښځه دي د خپل ولي څخه پرته خپله نکاح نه کوي همدارنګه د حديث د آخري جملې مطلب د حنفيه په نزد دادی چي کومه ښځه د هغه خاوند سره کوروالي وکړي چي هغې بېله شاهدانو او غير سيال سره نکاح کړې وي نو د هغې کوروالي به د زنا په حکم کي وي ، او د امام شافعي رحمه الله په نزد مطلب دادی چي کومه ښځه د خپل ولي څخه پرته نکاح وکړي نو هغه چي

Maktaba Tul Ishaat.com

کله د خپل خاوند سره کوروالي کوي نو هغه زنا کوي ، د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد څرنګه چي يو ښځي ته د بلي ښځي د عقد کولو ولايت حاصل نه دی همدا رنګه هيڅ يو ښځي ته د خپل عقد نکاح کولو اختيار نه سته د شوافع په نزد د ښځو په عقد سره نکاح نه صحيح کيږي .

پر پلار د اولاد حقوق

﴿۳۰۰۴﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ وَّابْنِ عَبَّاسٍ قَالَا قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه او ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل :

وَسَلَّمَ مَنْ وُلِدَ لَهُ وَلَدٌ فَلْيُحْسِنِ اسْمَهُ وَأَدَبَهُ فَإِذَا بَلَغَ فَلْيُزَوِّجْهُ فَإِنْ بَلَغَ وَلَمْ يُزَوِّجْهُ فَأَصَابَ إِثْمًا فَإِنَّمَا إِثْمُهُ عَلَى أَبِيهِ .

د کوم سړي چي بچی پيدا سي نو ښه نوم دي پر کښيږدي او ادب دي ور زده کړي کله چي هغه بالغ سي نو نکاح دي ورو کړي که د بالغ کېدو سره يې د هغه نکاح و نه کړه او هلک په ګناه کي مبتلا سو نو د هغه ګناه پر پلار ده . (بيهقي) .

تخريج: البيهقي في شعب الايمان باب في حقوق الاولاد والاهلين، رقم: ۸٦٦٦.

تشريح: د نيکي ټولني حقيقي بنياد هغه نوی ذهن دی چي د خپل مور او پلار او سرپرست د روزني په غېږ کي د اعمالو او کردار بنيادي روزنه ترلاسه کړي ، که چيري دغه روزنه نه وي نو د کائنات انساني هره طبقه به خطرناکو خرابيو څخه متاثره وي ځکه چي مخته په تللو سره دغه نوی ذهن د ټولني يو فعال جز ګرځي او د هغه يو يو فعل او عمل خپل اثرات پيدا کوي .

په نن زمانه کي د فحاشۍ او بې حيايۍ او د جنسي خواهشاتو تر ټولو لوی سبب دا دی چي کوم نسلونه مخته راځي هغوی د اعمالو او کردار او عقيدې ددغه بنيادي روزني څخه محروم وي کوم چي د مور او پلار په غېږ کي تر لاسه کېدل پکار دي ځکه دا حديث دغه ارزښتناکه نقطې ته خبردار کوی او مور او پلار د خپل فريضې څخه خبروي چي کله د هغوی کوچنی پيدا سي نو مخکي دي د هغه ښه نوم کښيږدي ځکه چي ښه نوم پر ټول ژوند باندي ښه اثرات مرتب کوي بيا چي کله هغه په هوش کي سي نو د هغه تعليم او روزني ته دي توجه ورکړي په دې توګه چي هغه ته دي د دين تعليم ورکړي ، د اسلامي احکامو او ادبونو څخه دي يې خبر کړي او هغه دي د ژوند د لوړو اصولو او ښو طريقو په غالب کي واچوي چي تر ټولو مخکي د

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه زړه او د ماغ د نیکۍ او بدۍ امتیاز و پیژني او بیا د هغه کردار د هغه پختګۍ حامل سي چي د ژوند پر هره لاره باندي هغه نیکۍ او خیر ته بوځي.

کله چي د تعلیم او روزني دغه مرحله تېره سي او هغه هلک بالغ سي نو ددې څخه وروسته د مور او پلار لویه فریضه داده چي د هغه هلک واده ته سمدستي متوجه سي چي د مجرد ژوند په وجه د جنسي جذباتو د مغلوبیت ښکار نه سي، ددغه فریضې د ارزښت ښوولو او ددې خبري د تاکید لپاره د زجر او تهدید په توګه دا فرمایل سوي دي ګڼه یو سړی د خپل بالغ هلک واده ونه کړي او هغه هلک د انجونو د بې لارۍ ښکار سي او په بدیو کي اخته سي نو د هغه ګناه به پر پلار وي په دې باره کي د غلام او مینزي هم دغه حکم دی کوم چي د زوی حکم دی.

د انجلۍ پر بالغ کېدو باندي د هغې نکاح وکړئ

﴿۳۰۰۵﴾: وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ وَأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ

د حضرت عمر بن خطاب رضی اللہ عنہ او د انس بن مالک رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي التَّوْرَاةِ مَكْتُوْبٌ مَنْ بَلَغَتِ ابْنَتُهُ اثْنَتَيْ عَشَرَةَ سَنَةً وَلَمْ

وفرمایل: په تورات کي لیکلي دي چي د کوم سړي لور چي د دولسو کلو سوه او هغې ته نکاح

يُزَوِّجْهَا فَأَصَابَتْ إِثْمًا فَإِثْمُ ذٰلِكَ عَلَيْهِ. رواهما البيهقي في "شعب الإيمان"

ور و نه کړي او د هغې څخه ګناه وسوه نو پلار به یې هم پکښي شریک وي. دواړه حدیثونه بیهقي په شعب الایمان کي روایت کړي دي.

تخریج: البیهقي في شعب الایمان، رقم: ۸۶۷۰.

=========

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ اَعْلاَنِ النِّكَاحِ وَالْخُطْبَةِ وَالشَّرْطِ

(د نكاح د اعلان، خطبې او شرط بيان)

د نكاح اعلان كول مسحب دی، فرمايل سوي دي چي د نكاح اعلان كوئ كه څه هم د دريا په وهلو سره وي، د دريا وهلو په اړه د علماؤ اختلافي اقوال دي ځيني حضرات وايي چي دريا وهل حرام دي يا مكروه دي او ځيني ورته مطلق مباح ويلي دي، صحيح خبره داده چي پر ځينو موقعو باندي لكه د اختر په ورځ، د يو معزز مسافر او مېلمه د راتلو پر وخت او د نكاح په وخت كي د دريا وهل مباح دي. او دده ځخه پرته په بل هيڅ وخت او موقع باندي دريا وهل روا نه دي

خطبة: علماء كرام وايي چي دغه لفظ د خ په پېښ سره صحيح دی او د خاء په زېر سره يې هم صحيح ورته ويلي دي، په دواړو كي فرق دادی چي د خُطبه معنی د نكاح د پيغام لېږلو هم كيدای سي مگر صحيح خبره داده چي دلته د خطبې ځخه مراد هغه خطبه ده كوم چي د نكاح پر وخت ويل كيږي.

د حنفيه په نزد د نكاح پر وخت خطبه ويل سنت ده او د شوافع په نزد هم سنت ده مگر د هغوی په نزد يوازي د عقد نكاح په وخت كي نه بلكه د هر عقد په وخت كي مثلا شراء، بيع او داسي نورو كي هم خطبه ويل سنت ده.

د واده مراسم او بدعتونه

د شرط ځخه مراد هغه شرطونه دي كوم چي په نكاح كي ذكر كيږي كه هغه فاسده وي يا صحيحه وي.

دا د مسلمانانو بدبختي ده چي د نكاح په ډول پاكه معامله هم د كافرانو د ناپاكه مراسمو او رواجونو ځخه خوندي نه ده بلكه حقيقت دادی چي د دغه هيواد غير شرعي مراسم چي په كوم كثرت سره د مسلمانانو د واده په اړه رواج سوي دي نو هغه د نكاح اسلامي او سنت طريقه بالكل له منځه وړې ده او اوس چي څومره مراسم رواج دي يا مخكي رواج وه د هغه ټولو احاطه كول هم ناممكن سوي دي بيا هم دلته ضروري ده چي د يو مراسمو او بدعتونو ذكر وكړل سي چي د هغو ځخه د ساتني هڅه وكړل سي.

حرام سازونه او د مزامير استعمال، غزلي ويل، او داسي نور ناروا كارونه كوي او د كور په اړه غير معمولي او د اسراف تر حد پوري ښائسته كول لكه دېوالونه په ټوكرانو پوښل، پر

آس سپرلي كول، د ورا په وړلو سره بېله ضرورته په ښار كي ګرځېدل ، زوم د ښار او كلي څخه زيارتو ته بېول او هلته نذرانه وركول او بيا په ورا كي ګډون كول د ډول او سورنا سره او د ښځو په محفل كي ګډون كول ، د اور د لوبي په ذريعه خپل مال ضائع كول دغه ټول شيان خراب او حرام دي .

همدارنګه هغه شيان هم حرام دي كوم چي د نكاح په مجلس كي مستور شيان ښكاره كول د زوم پر ريښمين ځاى باندي كښېنول، د سرو او سپينو زرو په لوښو كي خوراک كول د زوم او د خسرګني د حد څخه زيات تعريف او توصيف كول او د هغوى په بې ځايه خدمت كي داسي خبري بيانول چي هغه بالكل دروا غ وي .

همدارنګه دغه شيان هم حرام دي چي زوم ريښميني جامې واغوندي (د ريښمينو جامو اغوستل د واده څخه پرته هم د نارينوو لپاره حرام دي)، د زوم د سر څخه د لنګۍ ايستل كول او د ناوي پر سر ا يښودل ، د ناوي او زوم شاوخوا اووه واره ګرځېدل ، د پرديو ښځو لپاره زوم ته راتلل او هغه ته لاس وركول يا د هغه پزه او غوږ نېول او د هغه سره د بې حيايۍ خبري كول ، د زوم ګوتمي د شېدو په ذريعه په ښځه پرېولل ، په زوم باندي بوره او شېدې څښېل او د مصريو كند د ناوې پر سر ايښودل او زوم ته ويل چي دا په خوله پورته كړه ، او كله چي ناوې او زوم يو ځاى سي نو د ښځو د هغوى څخه چاپېره كېدل دا ټول شيان بدعت او حرام دي چي د شريعت او سنت سره هيڅ تعلق نه لري او د دغه كارو څخه ځان ساتل ډېر ضروري دي .

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ (لومړى فصل)

د نكاح پر وخت درياوهل جائز ده

﴿۳۰۰۶﴾: عَنِ الرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذِ بْنِ عَفْرَاءَ قَالَتْ جَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د بي بي ربيع ﷞ بنت معوذ بن عفراء څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ په هغه زمانه كي چي

وَسَلَّمَ فَدَخَلَ حِينَ بُنِيَ عَلَيَّ فَجَلَسَ عَلَى فِرَاشِي كَمَجْلِسِكَ مِنِّي فَجَعَلَتْ

زه د خپل خاوند كور ته د نكاح وروسته راغلم زموږ كور ته تشريف راوړ او زما پر بستره داسي كښېناستى لكه څرنګه چي ته زما پر بستره ناست يې (دا خبره ربيع و حضرت خالد بن

جُوَيْرِيَاتٌ لَنَا يَضْرِبْنَ بِالدُّفِّ وَيَنْدُبْنَ مَنْ قُتِلَ مِنْ آبَائِي يَوْمَ بَدْرٍ إِذْ قَالَتْ

Maktaba Tul Ishaat.com

ذکوان ته وکړه) په کور کي چي کومي انجوني موجودي وی هغوی دريې وهلې او زموږ په مشرانو کي چي کوم خلک د بدر په غزا کي شهيدان سوي وو د هغوی بنه والي يې بيانول پيل

إِحْدَاهُنَّ وَفِينَا نَبِيٌّ يَعْلَمُ مَا فِي غَدٍ فَقَالَ دَعِي هَذِهِ وَقُولِي بِالَّذِي كُنْتِ تَقُولِينَ. رواه البخاري

کړل په هغوی کي يوې انجلۍ دا هم وويل: چي په موږ کي داسي نبي دی چي د سبا خبره ورته معلومه ده. د دې په اورېدو سره نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: دا خبره پرېږده هغه څه وايه چي وړاندي دي ويل. (بخاري).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۲۰۲، رقم: ۵۱۴۷.

تشريح: عفراء د حضرت معوذ ﷺ د مور نوم دی، حضرت معوذ ﷺ د لوړي مرتبې صحابي دی چي د بدر په غزا کي د حق د جنډې د جنګ په ډګر کي پورته کولو سره يې د شهادت جام تر لاسه کړئ او د اسلام په تاريخ کي د هغه عظيم شخصيت دی چي د خپل ورور معاذ ﷺ په ملګرتيا کي يې د بدر په غزا کي ابو جهل لعين قتل کړی وو.

د کوچنيو انجو څخه د انصارو هغه کوچنۍ انجوني مراد دي چي کم عمره وي او د بلوغ حد ته رسيدلي نه وي.

اکمل الدين رحمة الله عليه وايي چي دا حديث ددې دليل دی چي د نکاح پر وخت او د واده د شپې تېرولو د اعلان لپاره دريا وهل جائز دي، او بيا ځيني علماء په دغه جواز کي ختنه (سنت کېدل)، اخترونه او د مسافر د راتګ او د خوشحالي په مراسمو کي د دوستانو اجتماع او ملګرتيا هم شامله کړې ده يعني دنکاح په ډول په دغه صورتو کي هم د دريا وهل جائز دي مګر دا خبره دي په ذهن کي وي چي د دريا څخه مراد هغه دريا ده چي د هغې سره شرنګ کونکي شيان نه وي ځکه چي د شرنګ لرونکي دريا وهل په اتفاق سره مکروه دي.

د حديث د آخري جملې مطلب دادی چي هغه وخت کوچنيو انجونو د خپلو پلرونو او نيکونو د ميړانې کارنامي او د حق په لاره کي د هغوی د قربان کېدو د شجاعت سندري ويلې نو په دغه وخت کي يوې کوچنۍ انجلۍ چي د عقائدو د نازکو اړخونو څخه ناخبره وه د رسول الله ﷺ په صفت کي دا وويل چي زموږ په مينځ کي هغه نبي موجود دی چي هغه په دې پوهيږي چي په سبا ورځ کي به څه کيږي، ددې په اورېدو سره رسول الله ﷺ هغه ددې څخه منع کړه ځکه په

Maktaba Tul Ishaat.com

دې کي رسول الله ﷺ ته د علم غيب نسبت وو او څرګنده ده چي رسول الله ﷺ دا څرنګه زغملای سي ځکه چي د عقائدو واضحه مسئله ده چي د غيب په خبرو د الله تعالى څخه پرته بل هيڅوک نه پوهيږي، مګر دا بېله خبره ده چي د غيب کومي خبري الله تعالى خپلو رسولانو ته منکشف کوي دغه حديث شريف د دې دليل هم دی چي په کومو اشعارو کي د شريعت او عقائدو خلاف خبره نه وي او فحش او درواغ پکښي شامل نه وي نو دهغو ويل او اورېدل جائز دي.

﴿۳۰۰۷﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ زَفَّتْ امْرَأَةً إِلَى رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ فَقَالَ نَبِيُّ اللَّهِ ﷺ مَا كَانَ مَعَكُمْ لَهْوٌ فَإِنَّ الْأَنْصَارَ يُعْجِبُهُمُ اللَّهْوُ. رواه البخاري

د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چي په انصارو کي د يوه سړي نکاح د يوې ښځي سره وسوه نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: چي ستاسو سره لوبه (درېي او غزلي ويل) نسته د انصارو خو غزلي ويل خوښ دي. (بخاري)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۲۲۵، رقم: ۵۱۶۲.

د شوال په مياشت کي نکاح کول مستحب دي

﴿۳۰۰۸﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ تَزَوَّجَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي شَوَّالٍ وَبَنَى بِي فِي شَوَّالٍ فَأَيُّ نِسَاءِ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ كَانَ أَحْظَى عِنْدَهُ مِنِّي. رواه مسلم

د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ زما سره په شوال کي نکاح وکړه او درې کاله وروسته په شوال کي يې زه کور ته راوستم بيا د رسول الله ﷺ په بي بي ګانو کي زما څخه زياته خوش نصيبه څوک ده (يعني د دوو اخترو په مينځ کي واده کول بايد بد ونه ګڼل سي). مسلم

تخريج: مسلم في الصحيح ۲\۱۰۳۹، رقم: ۷۳- ۱۴۲۳.

تشريح د دغه حديث شريف څخه معلومه سوه چي ځيني جاهل خلک د شوال په مياشت کي واده کول منحوس ګڼي دا بالکل غلطه خبره ده بلکه په دغه مياشت کي واده کول يا د ناوي خپل کور ته راوستل مستحب دي، په عربو کي هم د جاهليت د زمانې د خلکو دا عقيده وه چي د شوال په مياشت کي نکاح کول او د ناوي کور ته راوستل به يې بد ګڼل. د دغه غلطي عقيدې په رد کي بي بي عائشې رضي الله عنها دا خبره وکړه که چيري د شوال په مياشت کي په واده کولو کي منحوس

Maktaba Tul Ishaat.com

والى واى نو زما واده زما په اړه منحوس ولي نه سو حال دا چي د شوال په مياشت كي زما نكاح وسوه او د شوال په مياشت كي زه په رخصتېدو سره د رسول الله ﷺ كور ته راغلم او په دې خبره هر څوك خبر دي چي د رسول الله ﷺ په بيبيانو مباركانو كي كومه خوشبختي او مينه چي د بي بي عائشې ؓ په برخه سول هغه بل هيڅ بي بي ته حاصله نه وه .

د مهر ادا كولو تاكيد

﴿۳۰۰۹﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَقُّ الشُّرُوطِ أَنْ تُوفُوا بِهِ مَا اسْتَحْلَلْتُمْ بِهِ الْفُرُوجَ . متفق عليه

د حضرت عقبه بن عامر ؓ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په هغه شرطونو كي چي د هغې پوره كول ډېر ضروري دى يو شرط دادي چي د هغې په ذريعه تاسو د ځان لپاره د ښځو شرمګاوي حلال كړي دي (يعني مهر ولور) . (بخاري)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۲۱۷، رقم: ۵۱۵۱، ومسلم ۲\۱۰۳۵، رقم: ۶۳- ۱۴۱۸.

تشريح تر ټولو مهم شرط څخه مراد د هغې مهر دى او يا د ښځي ټول هغه حقوق مراد دي كوم چي د خاوند پر ذمه وي، دحديث خلاصه داده چي تاسو د خپلو ښځو مهر ادا كوئ د هغو د خوراک او څښاک مصرف وركوئ هغو ته د اوسيدو لپاره سراى او دژوند نور ضروريات د خپل توان سره سم پوره كوئ ، او د هغوى سره خپل ژوند داسي د ښه چلن او ميني محبت په اندازه سره تېروى كوم چي د يو باوقار او شريف انسان د شان سره سم وي .

اوس پاته سوه دا خبره چي دغه شيانو ته شرط ولي ويل سوي دي نو ددې واقعه داسي ده چي كله يو سړى د يو ښځي سره نكاح كوي نو د هغه د ذهن او تصور په هر اړخ كي دا قصد وي چي هغه كومه ښځه د خپل بي بي په جوړولو سره خپل كور ته راولي نو د هغې د ټولو حقوقو ادا كول به په پوره توګه سره كوي او بيا هغه د هغې حقوق د ادا كولو التزام هم كوي نو د هغه دغه قصد او بيا د هغه التزام پر دې خبره دلالت كوي چي هغه ددغه حقوقو د ادا كولو شرط كړى دى .

د بل منسوبي ښځي ته پيغام مه استوئ

﴿۳۰۱۰﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَخْطُبُ الرَّجُلُ عَلَى خِطْبَةِ أَخِيهِ حَتَّى يَنْكِحَ أَوْ يَتْرُكَ . متفق عليه.

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هیڅوک دي د بل سړی د نکاح پر پیغام خپل پیغام نه ورکوي تر څو پوري چي هغه نکاح و نه کړي یا یې د نکاح خیال پر مخ نه وي پرېښې. (بخاري او مسلم)

تخریج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۱۹۹، رقم: ۵۱۴۴، ومسلم ۲\۱۰۳۳، رقم: ۵۲- ۱۴۱۳.

تشریح د یو چا منسوبې ته د نکاح د پیغام استولو منع په هغه صورت کي ده کله چي د هغه دواړو د واده معامله تقریبا فیصله سوې وي یعني انجلۍ او هلک دواړه راضي سوي وي او مهر تاکل سوی وي نو په دغه صورت کي بل چا ته جائز نه دي چي هغه د خپل ځان لپاره د نکاح پیغام ور واستوي او که بل څوک د دغه ممانعت سربېره د یو چا منسوبې ته د نکاح پیغام واستوي او د هغه اول سړي د اجازې څخه پر ته نکاح وکړي نو دغه نکاح خو صحیح کیږي مګر دغه دوهم سړی (د اول سړي د منسوبې سره یې نکاح کړې ده) ګناه کار به وي.

ښځه دي د خپل خواهش پوره کولو لپاره د بلي ښځي د طلاق سبب نه جوړیږي

﴿۳۰۱۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَسْأَلُ الْمَرْأَةُ طَلَاقَ أُخْتِهَا لِتَسْتَفْرِغَ صَحْفَتَهَا وَلْتَنْكِحْ فَإِنَّ لَهَا مَا قُدِّرَ لَهَا . متفق عليه.

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل :هیڅ یوه ښځه دي د خپل (دیني) خور د طلاق خواهش نه کوي چي د هغې پیاله خالي کړي (یعني هغه بې. خاونده کړي) او په خپله د هغې د خاوند سره نکاح وکړي ځکه څه چي د هغې لپاره ټاکل سوي دي د هغې لپاره دي .بخاري او مسلم.

تخریج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۱\ ۴۹۴، رقم: ۶۶۰۱، ومسلم ۲\ ۱۰۳۳، رقم: ۵۲- ۱۴۱۲.

د لغاتو حل: صحفتها: اناء كالقصعة المبسوطة. (لکه کاسه یو لوښی).

تشریح د مثال په توګه زید واده کړی دی او خالده د هغه د ښځي نوم دی اوس زید د یو بلي ښځي مثلا زهره سره هم واده کول غواړي مګر زهره وایي چي زه ستا سره واده کوم مګر ته به خپلي ښځي خالدې ته طلاق ورکړې یا دا صورت وي چي زید دوه ودونه کړي دي چي د یوې نوم خالده او د بلي نوم زهره دی اوس زهره خپل خاوند زید ته وایي چي خپل دوهمي ښځي خالدې ته طلاق ورکړه ، ددې څخه رسول الله ﷺ منع فرمایلې ده چي هیڅ ښځه دي د دوهمي ښځي د طلاق لپاره خپل سړي ته نه وایي ځکه چي خپل خپل تقدیر د هري یوې سره دی نو د

Maktaba Tul Ishaat.com

دوهمي د بد غوښتني به څه ګټه وي.
د حديث په وضاحت کي که د اول صورت اعتبار وکړل سي نو د (لتنكح) معنى به هغه وي کوم چي په ژباړه کي تېره سوې ده او که چېري دوهم صورت مراد واخيستل سي نو بيا ددغه جملې معنى به دا وي چي (د هغه ښځي د طلاق ورکولو مقصد به دا وي) د هغه ښځه د بل چا سره نکاح وکړي.

د شغار (موخي) منع

﴿۳۰۱۲﴾: وَعَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ
نَهَى عَنِ الشِّغَارِ وَالشِّغَارُ أَنْ يُزَوِّجَ الرَّجُلُ ابْنَتَهُ عَلَى أَنْ يُزَوِّجَهُ الْآخَرُ
د شغار څخه منعه فرمايلې ده او شغار دادي چي يو سړی د خپلي لور نکاح د يو چا سره په دې
ابْنَتَهُ لَيْسَ بَيْنَهُمَا صَدَاقٌ. متفق عليه وفي رواية لمسلم قَالَ لَا شِغَارَ فِي الْإِسْلَامِ
شرط وکړي چي هغه به د خپلي لور نکاح د ده سره کوي او په دواړو کي به هيڅ مهر نه وي. (بخاري او مسلم) او د مسلم په يو بل روايت کي دي چي په اسلام کي شغار جائز نه دی.

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۱۶۲، رقم: ۵۱۱۲، ومسلم ۲\۱۰۳۵، رقم: ۶۰-۱۴۱۵.

تشريح: شغار (مُوخي) د دوو کسانو په مينځ کي د يو بل د لور سره د نکاح کولو د يو خاص صورت نوم دی لکه زيد د خپل لور نکاح د بکر سره په دې شرط وکړي چي هغه به د خپل لور نکاح د زيد سره کوي او د دوی دواړو په نکاح کي مهر نه وي بلکه د هغه دواړو په مينځ کي د يو بل د لور تبادله مهر وي، دا ډول نکاح د جاهليت په زمانه کي خلکو کول مګر اسلام ددې څخه منع فرمايلې ده.
په دې باره کي فقهي اختلاف دادی چي د امام شافعي رحمه الله په نزد داسي نکاح بالکل نه صحيح کيږي او د امام ابو حنيفة رحمه الله مذهب دادی که يو سړی داسي نکاح وکړي نو هغه نکاح صحيح کيږي مګر مهر مثل ورکول به لازم وي مګر حکم دادی چي دداسي نکاح کولو څخه ځان ساتل پکار دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

د متعه منع

﴿۳۰۱۳﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ مُتْعَةِ النِّسَاءِ يَوْمَ خَيْبَرَ وَعَنْ أَكْلِ لُحُومِ الْحُمُرِ الْإِنْسِيَّةِ. متفق علیه.

: حضرت علي رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د خیبر په ورځ د ښځو سره د متعه (عارضي نکاح) کولو څخه او د کورو د خرو د غوښو خوړلو څخه منعه کړې ده. (بخاري او مسلم)

تخریج: البخاري في الصحیح (فتح الباري): ۱۷\۴۸۱، رقم: ۴۲۱۶، ومسلم ۱۲\۱۰۲۷، رقم: ۲۹-۱۴۰۷.

تشریح: تر یو ټاکلي وخت پوري د ټاکلو روپو په عوض کي نکاح کولو ته متعه وایي ، د مثال په توګه یو سړی د یو ښځي سره داسي نکاح وکړي چي زه به تر فلاني وخت پوري د دومره روپو په عوض کي ستا څخه ګټه اخلم ، د نکاح دغه خاص طریقه یعني متعه د اسلام په شروع کي جائز وه مګر وروسته حرامه وګرځول سوه .

علماء کرام وایي چي د متعه په باره کي تحقیقي خبره داده چي متعه دوه واره حلاله ګرځول سوې ده او دوه واره حرامه ګرځول سوې ده ، په اول وار د خیبر د جنګ څخه مخکي په یو جهاد کي چي صحابه کرام د مجردوالي (نه واده کېدو) په وجه سخت پرېشانه سول تر دې چي ځینو کسانو د رسول الله ﷺ څخه د خصي کېدو اجازه وغوښتل نو رسول الله ﷺ د دوی لپاره متعه حلاله وګرځول ددې څخه وروسته د خیبر د جنګ په ورځ په اووم هجري کال کي رسول الله ﷺ متعه حرامه وګرځول او ددې څخه وروسته د مکې د فتح په ورځ په اتم هجري کال کي متعه جائز وګرځول سوه او بیا د هغه څخه وروسته د همېشه لپاره حرامه سوه ، د متعې د جواز فسخ کېدل د صحیح حدیثو څخه ثابت دي .

حضرت ابن عمر رضي الله عنه په خپل روایت کي دا ذکر کړي دي لکه څرنګه چي د اضطرار په حالت کي د مردار حیوان غوښه خوړلو اجازه وي همدارنګه د اسلام د شروع په زمانه کي د هغه چا لپاره چي د مجردوالي په وجه د جنسي خواهش په وجه د اضطرار حالت ته رسېدلی وي دا اجازه وه چي هغه متعه وکړي مګر وروسته د همېشه لپاره حرامه سوه ، د صحابه کرامو په اجتماعي توګه دا فیصله وکړه چي د متعه کومه نکاح سوې ده هغه دي باطل وګرځول سي .

ځکه نو په هره زمانه کي د ټولو اهل اسلام پر دې خبره اجماع او اتفاق دی چي متعه حرامه ده ، د ټولو صحابه کرامو، فقهاؤ او محدثینو په نزد د متعې حرام کېدل یو اتفاقي مسئله ده، په

Maktaba Tul Ishaat.com

صحابه کرامو کي یو اي ابن عباس رضی الله عنه مخکي د اضطرار په حالت کي متعه مباح گڼل مګر کله چي حضرت علي رضی الله عنه هغه ته سخت تهدید ورکړ او د متعې په ابدي حرمت یې هغه خبر کړنو ابن عباس رضی الله عنه د خپل قول څخه رجوع وکړه او هغه هم د حرمت قائل سو، د ابن عباس رضی الله عنه د خپل مباحت د قول څخه رجوع کول د حدیث او فقه په کتابو کي ذکر سوي دي.

هدایه چي د حنفي فقهي یو مشهور او د لوړي درجې کتاب دي د دې مصنف د خپل علم، فضل او فقهي د بصیرت په اعتبار د فقهاؤ په ډله کي تر ټولو د لوړي درجې خاوند دی مګر د متعه په اړه د هغه امام مالک رحمة الله علیه ته د متعې د جواز چي کوم نسبت کړی دی دا د هغه سخته علمي خطا ده، معلومه نه ده چي هغه دا خبره د کوم ځای څخه لیکلې ده چي امام مالک رحمة الله علیه د متعې د جائز کېدو قائل وو، حالانکه امام مالک رحمة الله علیه هم متعه داسي حرامه ګڼي لکه څرنګه چي د ټولو اهل اسلام پر دې اتفاق دی، نه یوازي ابن همام رحمة الله علیه په هدایه کي امام مالک رحمة الله علیه ته د جواز د نسبت قول ته غلط ویلي دي بلکه د هدایه څخه وروسته د فقهي چي څو مره لوی لوی کتابونه تالیف سویي دي تقریبا ټولو د هدایه د دغه غلطي بیانول لازم ګڼلي دي.

د متعې په باره کي د شیعه ګانو مذهب

لکه څرنګه چي مخکي تېر سول چي د ټولو مسلمانانو پر دې اجماع او اتفاق دی چي متعه حرامه ده مګر معلومه نه ده چي شیعه ګان ولي اوس هم دا جائز ګڼي، ډېره عجیبه خبره خو دا ده چي د شیعه ګانو په کتابو کي د دوی په صحیح حدیثو کي د امامانو څخه د متعې حرمت نقل سوی دی مګر د شیعه ګانو عمل دا دی چي هغوی نه یوازي د متعې پر حلال کېدو باندي ټېنګار کوي بلکه د هغه فضائل هم بیانوي او بیا دا هم وایي چي متعه په اصل کي حضرت عمر رضی الله عنه حرامه کړې ده حالانکه دا بالکل غلطه خبره ده، حضرت عمر رضی الله عنه ته د حرامولو څه اختیار وو مګر دا خبره ضروري ده لکه څرنګه چي هغه د نورو اسلامي احکامو په تبلیغ کي په ډېره سختي سره برخه اخستې ده همدارنګه هغه د متعې د حرمت په اعلان کي هم په ډېره سختي سره هڅه کړې ده د هغه آخري اعلان دا وو که چیري ما واورېدل چي یو چا متعه کړې ده نو زه به هغه ته د زنا سزا ورکړم د هغه د دغه اعلان نتیجه دا سوه چي کوم خلک تر اوسه د متعې د حرمت څخه ناخبره وه هغوی هم خبر سول، حضرت عمر رضی الله عنه یوازي دومره وکړل چي د رسول الله ﷺ د یو حکم تبلیغ یې وکړ او س که شیعه ګان دا وایي چي متعه حضرت عمر رضی الله عنه حرامه کړې ده نو د دې به د یو خندا کونکي الزام څخه زیات نور هیڅ اهمیت ونه لري.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۳۰۱۴﴾: وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْاَكْوَعِ قَالَ رَخَّصَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ أَوْطَاسٍ فِي الْمُتْعَةِ ثَلَاثًا ثُمَّ نَهَى عَنْهَا .رواه مسلم .

د سلمه بن اکوع رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د جنګ اوطاس په کال یوازي د درو ورځو لپاره د متعي (عارضي نکاح) اجازت ورکړی وو بیا یې منعه ځیني وفرمایل. (مسلم).

تخريج: مسلم في الصحيح ۲\۱۰۲۳، رقم: ۱۸- ۱۴۰۵.

تشریح اوطاس د یوې شېلې نوم دی چي مکې مکرمې ته نژدې طائف ته په لاره کي واقع ده او د هغه شاوخوا د هوازن قبیلې ښاخونه اباد وه او دې ته وادي حنین هم وایي.

د هجرت په اتم کال د رمضان المبارک په میاشت کي کله چي مکه مکرمه فتحه سوه او ټولو عربو باطل عناصرو د حق په مخکي کي خپل سر کښنته کړی نو په اوطاس کي اوسېدونکي د هوازن او ثقیف قبیلو ته ډېر غیرت راغلی او هغوی په پوره تیاري سره د اسلام مقابله کول وغوښتل، د هجرت په اتم کال د شوال په میاشت کي د دغه قبیلو د خلکو سره په اوطاس کي د رسول الله ﷺ په قیادت کي کي هغه جګړه وسوه چي غزوه حنین ورته ویل کیږئ او د غزوه اوطاس او غزون هوازن په نامه هم یادیږي، الله تعالی حق لوړ کړ او اسلامي لښکر ته یې فتح ورکړه په دغه غزا کي د غنیمت په توګه د مسلمانانو په لاس ډېر مال او سامان ورغلی، شلو ښنت زره اوښان، څلوښنت زره پسونه او تقریبا د څلوښنت زرو روپو سامان د مسلمانانو په لاس ورغلی او رسول الله ﷺ دغه ټول مال د اوطاس په مسلمانانو کي وویشی.

په هر حال د متعې حلال کېدل او حرام کېدل دوهم وار د اوطاس د جنګ په وخت کي سوی دی او دغه جنګ د مکې د فتح څخه سمدستي وروسته سوی دی ځکه په دغه وخت کي د متعې د تحلیل او تحریم نسبت د مکې د فتح ورځي ته منسوب سوی دی یعني ددې څخه مخکي د حدیث په تشریح کي دا بیان سوی دی چي د متعې تحلیل او تحریم دوهم وار د مکې د فتح په ورځ سوی دی او هلته د مکې د فتح د ورځي څخه مراد د مکې د فتح کال دی نو اوس به دا خبره داسي وي چي په دوهم وار د متعې د تحلیل او تحریم حکم د مکې د فتح په کال یعني په اتم هجري کال کي د اوطاس د جنګ په وخت کي سوی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د نکاح خطبه

﴿۳۰۱۵﴾: عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ عَلَّمَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ موږ ته را وښودی

اَلتَّشَهُّدُ فِي الصَّلٰوةِ وَالتَّشَهُّدُ فِي الْحَاجَةِ قَالَ اَلتَّشَهُّدُ فِي الصَّلٰوةِ التَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ

د لمونځ کولو تشهد او د حاجت او ضرورت په وخت کي تشهد په لمانځه کي خو د تشهد لوستل دادي: التحيات لله

وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ السَّلَامُ

والصلوة والطيبات السلام عليک ايهاالنبي ورحمة الله وبركاته السلام

عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِينَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا

علينا وعلى عباد الله الصالحين اشهد ان لا اله الا الله و اشهد ان محمدا

عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ وَالتَّشَهُّدُ فِي الْحَاجَةِ اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ نَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ

عبده ورسوله او د حاجت په وخت کي تشهد دادي: الحمدلله نستعينه و نستغفره

وَنَعُوذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا

و نعوذ بالله من شرور انفسنا من يهده الله فلا مضل له و من يضلله فلا

هَادِيَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ ثُمَّ يَقْرَأُ

هادي له و اشهد ان لا اله الا الله و اشهد ان محمدا عبده ورسوله او د دي څخه وروسته به نبي

ثَلَاثَ آيَاتٍ { يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ

کريم ﷺ دا دري آياتونه لوستل: (يا ايها الذين امنوا اتقوا الله حق تقاته و لا تموتن الا و انتم

Maktaba Tul Ishaat.com

مُسْلِمُونَ } { يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ

مسلمون ، يا ايها الناس اتقوا ربكم الذي خلقكم من نفس واحدة

وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي

و خلق منها زوجها و بث منهما رجالا كثيرا ونساءا واتقوا الله الذي

تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا } { يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا

تساء لون به و الارحام ان الله كان عليكم رقيبا ، يا ايهاالذين امنوا

اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَمَنْ

اتقواالله وقولو قولا سديدا يصلح لكم اعمالكم ويغفرلكم ذنوبكم و من

يُطِعْ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا } . رواه احمد والترمذي وابوداؤد

أيطع الله ورسوله فقد فاز فوزا عظيما).(احمد ترمذي ابو داؤد

والنسائي وابن ماجة والدارمي و في جامع الترمذي فسر الايات الثلث

نسائي، ابن ماجه او دارمي) او په جامع ترمذي كي د درو اياتو تفسير

سفيان الثوري و زاد ابن ماجة بعد قوله ان الحمد لله نحمده و بعد قوله

سفيان ثوري وكړ ابن ماجه په خپل روايت كي : ان الحمد لله ځخه وروسته د نحمده : لفظ

من شرور انفسنا ومن سيئات اعمالنا والدارمي بعد قوله عظيما ثم

زيات کړی دي او من شرور انفسنا ځخه وروسته يې و من سيئات اعمالنا الفاظ زيات کړی
دی او دارمي عظيما ځخه وروسته ليكلي دي چي

يتكلم بحاجته و روى في شرح السنة عن ابن مسعود في خطبة الحاجة

من النكاح وغيره .

د دې څخه وروسته دي د خپل حاجت بيان وكړي او په شرح السنة كي د ابن مسعود څخه دا تشهد د نكاح په خطبه كي نقل سوې دی.

تخريج: احمد في المسند ۱\ ۳۹۲، و ابوداود في السنن ۲\ ۵۹۱، رقم: ۲۱۱۸، والترمذي في السنن ۳\ ۴۱۳، رقم: ۱۱۰۵، والنسائي ۶\ ۸۹، رقم: ۳۲۷۷، وابن ماجه في السنن ۱\ ۶۰۹، رقم: ۱۸۹۲، والدارمي ۲\ ۱۹۱، رقم: ۲۲۰۲، وشرح السنة ۹\ ۴۹- ۵۰، رقم: ۲۲۶۸.

تشريح: د تشهد معنى ده د ايمان د شاهدۍ اظهار كول او زين العرب ويلي دي چي دلته د تشهد څخه مراد دادی چي په هغه كي دالله تعالى تعريف او د دواړو كلمو شهادت ذكر وي.

د حاجت او ضرورت څخه مراد نكاح ده او دحاجت او ضرورت پر وخت د ويونكي تشهد څخه مراد هغه خطبه ده چي د نكاح په وخت كي ويل كيږي ، دا خبره مخكي بيان سوې ده چي د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد يوازي په نكاح نه بلكه په ټولو عقدو كي خطبه ويل سنت ده.

په روايت كي چي دوهم آيت نقل سوی دی په هغه كي د (يا ايها الذين آمنوا) الفاظ هم دي او دغه آيت د مشكوة شريف په ټولو نسخو كي همداسي نقل سوی دی حالنكه په قرآن كريم كي دغه آيت داسي نه دی بلكه دا په اصل كي د سورة نساء د اول آيت يوه ټوټه ده چي:

وَاتَّقُواْ اللهَ الَّذِي تَسَاءلُونَ بِهِ وَالأَرْحَامَ إِنَّ اللهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا،

كېدای سي چي د قرآن كريم كوم مصحف چي د ابن مسعود رضي الله عنه سره وو په هغه كي دغه آيت همداسي وي .د حصن حصين څخه دا مفهوم اخيستل كيږي چي ابوداؤد په ذكر سوي خطبه كي د (و رسوله) د لفظ څخه وروسته دا لفاظ هم نقل كړي: (ارسله بالحق بشيرا ونذيرا بين يدي الساعة من يطع الله ورسوله فقد رشد ومن يعصهما فلا يضر الا نفسه ولا يضر الله شيئا).

كوم څوک چي د عقد كولو لپاره كښيني نو هغه دي مخكي دغه خطبه ووايي او ددې څخه وروسته دي ايجاب او قبول وكړي ، په ايجاب او قبول كي د هغه ټولو خبرو لحاظ دي وساتي كوم چي ضروري دي او د هغه ذكر په كتاب النكاح كي سوی دی.

د خطبې پرته نكاح بې بركته وي

﴿۳۰۱۶﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

خُطْبَةٍ لَيْسَ فِيهَا تَشَهُّدٌ فَهِيَ كَالْيَدِ الْجَذْمَاءِ . رواه الترمذي وقال هذا

حديث حسن غريب .

په کومه نکاح کي چي خطبه (يعني د خداي تعالي حمد وثنا) و نه ويل سي هغه داسي نکاح ده لکه پرېکړې لاس. (يعني بيکاره). (ترمذي کي دا حديث حسن غريب گڼل سوی دی) .

تخريج: الترمذي في السنن ۳\ ۴۱۴، رقم: ۱۱۰۶.

د لغاتو حل: الجذماء: اى المقطوعة.

تشريح: مطلب دادی چي څرنګه پرې کړی لاس بې ګټي وي چي د هغه ګټه نه سي اخيستل کيدای همدارنګه د خطبې څخه پرته نکاح هم بې ګټي ده چي د خير او برکت څخه خالي وي.
ملا علي قاري رحمة الله عليه په خپل تشريح کي لفظ د خطبه د خ په زېر سره ليکلی دی او د دې معنی يې د تزويج يعني د نکاح کولو بيان کړې ده حال دا چي مولانا شاه اسحاق دهلوي رحمة الله عليه ويلي دي چي موږ د خپلو استاذانو څخه دغه لفظ د خ په پيښ سره يعني خُطبه اوريدلی دی او د شيخ عبدالحق دهلوي رحمة الله عليه د کلام څخه هم دا فهمول کيږي .

﴿۲۰۱۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ أَمْرٍ ذِي بَالٍ لَا يُبْدَأُ فِيهِ بِالْحَمْدِ فَهُوَ أَقْطَعُ . رواه ابن ماجة.

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم مهم او شانداره کار چي د الله جل جلاله د حمد او ثنا څخه پرته پيل سي هغه کار بې برکته دی .(ابن ماجه)

تخريج: ابن ماجه في السنن ۱\ ۶۱۰، رقم: ۱۸۹۴.

د نکاح اعلان کول مستحب دی

﴿۲۰۱۸﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْلِنُوا هَذَا النِّكَاحَ وَاجْعَلُوهُ فِي الْمَسَاجِدِ وَاضْرِبُوا عَلَيْهِ بِالدُّفُوفِ. رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب .

د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د نکاح اعلان کوئ او نکاح په مسجدو کي تړئ او دف (دريه) ورباندي وهئ . (په ترمذي کي دا حديث غريب دی)

Maktaba Tul Ishaat.com

تخريج: الترمذي في السنن ۳\۳۹۸، رقم: ۱۰۸۹.

تشريح: د اعلان څخه مراد د شاهدانو موجودتيا ده چې نكاح د شاهدانو په مخكي وترړل سي نو دغه حكم د وجوب په توګه دى او كه چيري د اعلان څخه مراد تشهير وي چې نكاح په ښكاره توګه سره وكړل سي نو بيا دغه حكم د استحباب په توګه دى ، په مسجد كي نكاح كول مستحب دي همدارنګه د جمعې په ورځ نكاح كول هم مستحب دي ځكه چې په مسجد كي د جمعې په ورځ په نكاح كولو سره بركت ترلاسه كيږي.

﴿۳۰۱۹﴾: وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ حَاطِبِ الْجُمَحِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت محمد بن حاطب الجمحي ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل :

قَالَ فَصْلُ مَا بَيْنَ الْحَرَامِ وَالْحَلَالِ الصَّوْتُ وَالدُّفُّ فِي النِّكَاحِ. رواه احمد والترمذي والنسائي وابن ماجة.

د حلال او حرام مال په مينځ كي د اعلان كولو او درېې وهلو فرق دى(يعني د نكاح اعلان كول د حلال او حرام په مينځ كي فرق ظاهروي). (احمد ترمذي نسائي ابن ماجه).

تخريج: احمد في المسند ۳\ ۴۱۸، رقم: ۱۰۸۸، والنسائي ٦\ ۱۲۷، رقم: ۳۳٦۹، وابن ماجه في السنن ۱\ ٦۱۱، رقم: ۱۸۹٦.

تشريح: د آواز څخه مراد يا خو غزلي دي او يا د خلكو په مينځ كي د نكاح يادونه او اعلان كول دى، د حديث دا مطلب نه دى چې بېله آواز او دريا څخه نكاح نه كيږي ځكه چې نكاح د دو شاهدانو په مخكي هم كيږي بلكه د دغه حديث مقصد خلكو ته د دې ترغيب وركول دي چې د نكاح مجلس دي په ښكاره منعقد كړل سي او په خلكو كي دي د هغه تشهير وكړل سي او پاته سوه دا خبره چې د تشهير حد څه شي دى نو هغه دا دى چې په يو سراى كي نكاح وي نو په دوهم سراى كي يا په همسايګانو كي د هغه خبر ورسيږي ، د تشهير دا مطلب نه د يچى په كليو او ښارو كي د شور او غوغا په ذريعه نكاح وكړل سي.

په وادو كي د سندرو اجازه

﴿۳۰۲۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَتْ عِنْدِي جَارِيَةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ زَوَّجْتُهَا

د بي بي عائشي ﷺ څخه روايت دى چې زما سره يوه انصاري انجلۍ وه ما د هغې نكاح وكړه

Maktaba Tul Ishaat.com

فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَائِشَةَ أَلَا تُغَنِّيْنَ ؟ فَإِنَّ هٰذَا الْحَيَّ

نو رسول الله ﷺ وفرمايل : اې عائشې! ايا ته غزلي نه پر وايې ؟ د انصارو قوم خو

مِنَ الْأَنْصَارِ يُحِبُّوْنَ الْغِنَاءَ . رواه ابن حبان في صحيحه

غزلي ويل ډيري خوښوي .(صحيح ابن حبان)

تخريج: الاحسان في تقريب صحيح ابن حبان ۱۳\ ۱۸۵، رقم: ۵۸۷۵.

تشريح: دغه انجلۍ كومه چي د بي بي عائشې ﷺ سره وه او د هغې نكاح يې كړې وه يا خو د هغې په قريباتو كي وه لكه څرنګه چي په مخكي راتلونكي حديث كي معلوميږي، او يا يو يتيمه وه چي د هغې روزنه يې كړې وه.

د مشكوة په اصل كي نسخه كي د رواه څخه وروسته عبارت نه دی نقل سوی ، مطلب دا چي د مشكوة مؤلف ته ددغه روايت د اصل ماخذ علم نه وو او بيا وروسته نورو علماؤ پر حاشيه باندي دغه عبارت (ابن حبان في صحيحه) ليكلی دی .

﴿۳۰۲۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَنْكَحَتْ عَائِشَةُ ذَاتَ قَرَابَةٍ لَهَا مِنَ الْأَنْصَارِ

حضرت ابن عباس ﷛ څخه روايت دی چي بي بي عائشې رض د يوې شريكي انصاري ښځي

فَجَاءَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَهْدَيْتُمُ الْفَتَاةَ قَالُوْا نَعَمْ قَالَ

نكاح وتړله نو رسول الله ﷺ تشريف راوړ او وه يې وفرمايل :آيا انجوني مو ورليږلي دي ؟ عرض يې وكړ هو! نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل : .

أَرْسَلْتُمْ مَعَهَا مَنْ يُغَنِّيْ قَالَتْ لَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ

ورسره څوك غزلي والا هم ليږلي دي ؟ عرض يې وكړ يا !نو نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل : د

الْأَنْصَارَ قَوْمٌ فِيْهِمْ غَزَلٌ فَلَوْ بَعَثْتُمْ مَعَهَا مَنْ يَقُوْلُ أَتَيْنَاكُمْ أَتَيْنَاكُمْ

فَحَيَّانَا وَحَيَّاكُمْ . رواه ابن ماجة.

انصارو داسي قوم دئ چي دغزلو شوقيان دئ كاشكي چي تاسو د هغوی سره يو څوك ليږلي وای چي غزلي يې ويلي وای !موږ تاسو ته راغلي يو موږ تاسو ته راغلي يو خدای تعالي دي

Maktaba Tul Ishaat.com

تشريح: كه د يوې ښځې دوه وليان (سرپرستان) وي او دواړه د هغه ښځې نكاح په جلا جلا وختو كې د دوو خلكو سره وكړي په دې توګه چې اول يې د يوه سړي سره نكاح وكړي او بيا دوهم ولي يې د بل چا سره نكاح وكړ، نو د دوهم ولي نكاح به باطل وي او هغه ښځه به د هغه سړي وي د چا سره چې يې مخكې نكاح سوې وي مګر دا حكم په هغه صورت كې دى كله چې دواړه وليان د يوې درجې وي يعني دواړه په يو ډول قريبان وي او كه دواړه د يوې درجې نه وي نو بيا هغه ولي مقدم دى كوم چې زيات نژدې وي يعني نژدې قرابت ولري نو په دغه صورت كې هغه ښځه به د هغه سړي وي د چا سره چې نژدې قريب نكاح كړې وي كه څه هم هغه اول نكاح كړې وي يا وروسته يې كړې وي او كه چيرې د ښځې د يو ډول دوو وليانو د هغې نكاح په يوه وخت كې د دوو جلا جلا خلكو سره وكړه مثلاً يو ولي زيد دى د هغې نكاح يې وكړ او هم هغه وخت د هغې دوهم ولي بكر د هغې نكاح وكړه نو په دغه صورت كې په اتفاق سره د ټولو علماؤ مذهب دادى چې د دواړو نكاح باطله سوه.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ (دريم فصل)

متعه د اسلام په پيل كې جائزوه

﴿۳۰۲۳﴾: عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ كُنَّا نَغْزُو مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَيْسَ

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دى چې موږ په جهاد كې د رسول الله ﷺ سره تلو او

مَعَنَا نِسَاءٌ فَقُلْنَا اَلَا نَخْتَصِي فَنَهَانَا عَنْ ذٰلِكَ ثم رخص لنا ان نستمتع

زموږ سره به ښځې نه وې موږ عرض وكړ ايا موږ ځانونه خصيان كړو؟ نبي كريم ﷺ موږ د دې څخه منعه كړو او بيائې د متعې اجازت را كړ

فقال احدنا ينكح المراة بالثوب الى اجل قرء عبدالله { يَا اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُحَرِّمُوْا طَيِّبَاتِ مَا اَحَلَّ اللهُ لَكُمْ } . متفق عليه.

په موږ كې به ځينو خلكو د جامو په بدل كې متعه (عارضي نكاح) كوله د دې څخه وروسته حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه دا ايت ولوستي : يا ايها الذين .... لكم (اې مؤمنانو ! كوم پاك شيان چې الله تعالى در ته حلال كړي وي هغه مه حراموئ). (بخاري او مسلم).

Maktaba Tul Ishaat.com

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۸\ ۲۷۶، رقم: ۴۶۱۵، ومسلم ۲\ ۱۰۲۲، رقم: ۱۱- ۱۴۰۴.

تشريح دغه حديث شريف د متعې پر اجازې باندي دلالت کوي ، د اسلام په شروع کي د متعې اجازه وه مګر وروسته دغه اجازه منسوخ سول او اوس متعه کول حرام دي لکه څرنګه چي د راتلونکي حديث څخه معلوميږي او مخکي هم يو حديث تېر سوی دی چي دهغه څخه د متعې د اجازې منسوخ کېدل ثابت سوي دي.

د ابن مسعود رضي الله عنه ذکر سوی آيت ويل دې ته اشاره کوي چي ابن مسعود رضي الله عنه هم د ابن عباس رضي الله عنه په ډول د متعې د مباح کېدو قائل وو مګر د ابن عباس رضي الله عنه په باره کي دا ثابته سوې ده چي هغه ددې څخه رجوع کړې ده او هغه هم د متعې د حرام کېدو قائل سوی دی لکه څرنګه چي د راتلونکي حديث څخه معلوميږي اوس پاته سوه د ابن مسعود رضي الله عنه خبره، نو کيدای سي چي هغه هم ددې څخه رجوع کړې وي او د متعې د حرام کېدو قائل سوی وي او دا هم کيدای سي چي هغه ته د متعې د جواز د منسوخ کېدو حکم معلوم سوی نه وي او په دې وجه هغه د متعې د جواز قائل سوی وي.

﴿۳۰۲۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ إِنَّمَا كَانَتِ الْمُتْعَةُ فِي أَوَّلِ الْإِسْلَامِ كَانَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی د متعې جواز (جائز کېدل) د اسلام په پېل کي وو کله

الرَّجُلُ يَقْدَمُ الْبَلْدَةَ لَيْسَ لَهُ بِهَا مَعْرِفَةٌ فَيَتَزَوَّجُ الْمَرْأَةَ بِقَدْرِ مَا يَرَى أَنَّهُ

چي به يو څوک يو ښار ته ولاړ او هلته به يې د پېژندو څوک نه وه نو هلته به يې تر هغه مودې پوري واده وکړ تر څو پوري چي به هلته وو

يُقِيمُ فَتَحْفَظُ لَهُ مَتَاعَهُ وَتُصْلِحُ لَهُ شَيئَهُ حَتَّى إِذَا نَزَلَتِ الْآيَةُ إِلَّا عَلَى

هغې ښځي به د هغه د سامان حفاظت کوی او هغه ته به يې غذا برابروله تر دې پوري چي دا ايت کريمه نازل سو : الا علی

أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَكُلُّ فَرْجٍ سِوَاهُمَا فَهُوَ

حَرَامٌ. رواه الترمذي.

ازواجهم او ماملکت ايمانهم حضرت ابن عباس رضي الله عنه وايي چي د دې ايت د نازلېدو څخه

وروسته د نکاح سوی ښځو او مينځو څخه پرته نوري ټولي ښځي حرامي سوې. (ترمذي).

تخریج: سنن الترمذي ۳\۴۳۰، رقم: ۱۱۲۲

د لغاتو حل: شيه: اى طبيخه. (خواړه).

تشريح: د آيت كريمه خلاصه داده چي كوم خلک خپل شرمګاه د خپلو ښځو او مينځو څخه پرته د نورو ښځو څخه خوندي ساتي نو پر هغوى څه ملامتيا نه سته مګر كوم خلک چي پر خپلو ښځو او مينځو باندي قناعت نه كوي يا كوم خلک چي د نكاح په ذريعه په شرعي توګه سره د خپل جنسي خواهش د تسكين سامان نه برابروي بلكه پردى ښځو ته مائل كيږي نو هغوى په اصل كي د حلال څخه په تجاوز كولو سره حرام ته تجاوز كونكي دي چي د هغوى لپاره سخته ملامتيا ده.

علامه طيبي رحمه الله وايي چي ددغه ارشاد څخه د ابن عباس رضي الله عنه مقصد دا وو چي الله تعالى ددغه آيت په ذريعه د پرهيزګاره بندګانو تعريف دا بيان كړى دى چي هغوى د ټولو ښځو څخه خپل شرمګاه ساتنه كوي البته د خپلو ښځو او مينځو څخه پرهېز نه كوي بلكه د هغوى په ذريعه خپل خواهش پوره كوي او دا بالكل څرګنده خبره ده چي د متعې په صورت كي پر كومه ښځه باندي تسلط تر لاسه كيږي هغه نه خپل ښځه وي او نه مينزه وي ځكه چيري ښځه واى نو د هغې او د سړي په مينځ كي به د مېراث لړۍ خامخا واى او اتفاقي مسئله ده چي د متعه ښځي سره د مېراث هيڅ لړۍ نه قائميږي او هغه ښځه محض د څو ورځي په مزدوري باندي د خپل ځان هغه سړي ته حواله كوي ځكه نو هغه مينزه كيداې هم نه سي ددې څخه معلومه سوه چي كوم څوک د متعې په توګه د يو ښځي سره جنسي تسكين تر لاسه كوي نو هغه د هغه خلكو په ډله كي نه دى كوم چي د هغوى وصف په ذكر سوي آيت كي بيان سوى دى.

امام فخر الدين رازي رحمه الله هم په خپل تفسير كي دا ليكلي دي چي كوم څوک د يو ښځي سره متعه كوي نو هغه ښځه د هغه ماينه نه ګرځي او بيا دا واجبيږي چي هغه دده لپاره حلالة نه وي.

د شيعه ګانو په باره كي مخكي هم ښوول سوي دي چي د هغوى په نزد متعه جائز ده، دا ډېره د خندا خبره ده چي هغوى د ابن عباس رضي الله عنه پر قول په عمل كولو سره متعې ته جائز وايي، سره ددې چي د متعې د جواز په باره كي د ابن عباس رضي الله عنه د خپل قول څخه رجوع كول ثابت سوي دي او د حضرت علي رضي الله عنه مذهب او عقيده پريږدي او د هغه خلاف عمل كوي، په صحيح مسلم كي دا روايت موجود دى چي كله حضرت علي رضي الله عنه د اوريدل چي ابن عباس رضي الله عنه متعې ته جائز وايي نو هغه و فرمايل اې ابن عباس! داسي مه وايه ځكه چي ما خپله اوريدلي دي چي رسول

Maktaba Tul Ishaat.com

الله ﷺ د خيبر په ورځ متعه او په كورونو كي د خرو د غوښو خوړلو څخه منع فرمايلې ده.

په واده كي د سندرو اجازه

﴿۳۰۲۵﴾: وَعَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى قُرَظَةَ بْنِ كَعْبٍ وَأَبِي مَسْعُودٍ

د عامر بن سعد رضي الله عنه څخه روايت دى چي زه يوه واده ته ورغلم او قرظه بن كعب او ابو مسعود

الْأَنْصَارِيِّ فِي عُرْسٍ وَإِذَا جَوَارٍ يُغَنِّينَ فَقُلْتُ اى صاحبى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ

انصاري رضي الله عنه سره مي ملاقات وكړ څو انجونو غزلي ويلې ما وويل: اې د رسول الله ﷺ دوه

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ أَهْلِ بَدْرٍ يُفْعَلُ هَذَا عِنْدَكُمْ فَقَالَا اجْلِسْ إِنْ شِئْتَ فَاسْمَعْ

اصحابو ايا ستاسو په وړاندي بدروالا داسي كوي هغوى راته وويل: كښېنه كه دي زړه

مَعَنَا وَإِنْ شِئْتَ فَاذْهَبْ فانه قَدْ رُخِّصَ لَنَا فِي اللَّهْوِ عِنْدَ الْعُرْسِ. رواه النسائي

غواړي ته يې هم زموږ سره واوره او كه دي خوښه وي بيرته ولاړ سه ځكه چي رسول الله ﷺ د واده په ورځ موږ ته د دې اجازه راكړې ده. (نسائي)

تخريج: سنن النسائي ٦\١٣٥، رقم: ٣٣٨٣.

تشريح: د دې څخه معلوميږي چي په هغه زمانه كي هم د غزلو حرمت او كراهت مشهور وو، د اخترو، نكاح او داسي نورو شيانو تخصيص ځينو خلكو ته معلوم وو او ځينو ته معلوم نه وو، عامر ابن سعد رضي الله عنه هم د هغه خلكو څخه وو چي هغوى ته دا معلومه نه وه چي په اخترو، واده او داسي نورو كي غزلي جائز دي.

=========

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ الْمُحَرَّمَاتِ

(د هغو ښځو بيان چي نكاح ورسره حرامه وي)

د نكاح د صحيح كېدو يو شرط دا هم دى چي ښځه د محرماتو څخه نه وي، په دغه باب كي دا ښودل كيږي چي محرمات څوك دي چي د هغوى سره نكاح كول حرام دي، د محرماتو تفصيل د فقهي حنفي په مشهور او معتمد كتاب فتاوى عالمگيري كي په ډېره ښه توگه بيان سوى دى، ځكه نو مناسب ده چي د فتاوى عالمگيري هغه تفصيل دلته ذكر كړل سي

د محرمات تفصيل او ضروري مسئلې

د محرمو ښځو نهه ډولونه دي، يا دا چي د نكاح د حرام كېدو نهه سببه دي چي تفصيل يې په لاندي توگه دى :

اول سبب نسبي قرابت : كومي ښځي چي د نسبي قرابت په وجه حرامي دي هغه دا دي: مور، لور، خور، امه، خاله، وريره، خورزه، د دغه ښځو سره نكاح كول، جماع كول او داسي كار كول چي د جماع محرك او سبب جوړيږي لكه مچه اخيستل او داسي نور دا ټول كارونه د همېشه لپاره حرام دي .

د مور څخه خپل مور هم مراد ده او انا (د پلار مور او د مور مور) كه څه هم د لوړي درجې وي لكه د انا مور، د انا انا او داسي نور هم مراد دي .

د لور حكم خپل حقيقي لور، د خپل زوى لور او د لور لور او همدارنگه تر لاندي پوري ټولو ته شامل دى . همدارنگه خور كه حقيقي وي يا ميريزى وي او كه اخيافي وي ټولي حرامي دي .

د وريرې او خورزې څخه هم درې ډوله وريرې او خورزې مراد دي يعني د حقيقي ورور او خور اولاد ، د ميريزي ورور او خور اولاد او د اخيافي ورور او خور اولاد ، كه څه هم د لاندي درجې وي دا ټول په محرم كي داخل دي .

د عمه څخه هم درې ډوله عمه گاني مراد دي يعني حقيقي عمه ، ميريزى عمه او اخيافي عمه همدارنگه د عمه په حكم كي د پلار عمه او د نيكه عمه ، د مور عمه او د انا عمه هم مراد دي چي دا ټول په محرمات كي داخل دي مگر د عمه عمه حرامه ده كه يا ؟ په دې كي تفصيل دي د مثال په توگه د زيد عمه د هغه د پلار حقيقي خور وي يا ميريزى خور وي نو د داسي عمه عمه به د زيد لپاره حرامه نه وي .

Maktaba Tul Ishaat.com

د خاله څخه مراد حقيقي خاله، ميريزى خاله او اخيافي خاله، د خپل پلار خاله او د خپل مور خاله او ټولي خاله ګاني حرامي دي مګر د خاله د خاله په باره كي تفصيل دى مثلا د زيد خاله د هغه د مور حقيقي خور وي يا اخيافي خور وي نو د هغې خاله خاله به د زيد لپاره حرامه وي يعني د هغې سره د زيد نكاح نه سي كيداى او كه چيري د زيد خاله د هغه د مور ميريزى خور وي نو د داسي خاله خاله به حرامه نه وي بلكه د هغې سره د زيد نكاح جائز ده .

دوهم سبب د خسرګنۍ قرابت : هغه ښځي چي د خسرګنۍ د قرابت په وجه حرامي دي د هغو څلورو ډولونه دي ۱: خواښې (يعني د ښځي مور)، د ښځي انا او د هغه لوړي چي هر څومره درجې وي مثلا د پلار او مور انا او داسي نور ، ۲: د ښځي لور او د ښځي د زامنو اولاد او د هغه څخه دلاندي درجې ، د مثال په توګه د ښځي د ملسي اولاد او داسي نور ټول حرام دي په شرط د دې چي د ښځي سره يې جماع كړې وي كه څه هم هغه د ښځي لور د هغه سرې په روزنه كي وي يا نه وي ، حنفي علماء د ښځي د لوڼو د حرمت په باره كي خلوت صحيحه د جماع قائم مقام نه ګرځوي يعني د ښځي د لوڼو د حرمت ثابتولو لپاره دا ضروري دي چي سړى د نكاح څخه وروسته د ښځي سره جماع هم وكړي او كه يوازي خلوت صحيحه سوى وي (يعني د جماع كولو لپاره موقع په لاس ورغلې وي) مګر جماع يې نه وي كړې نو په دغه صورت كي د ښځي د لور (چي د بل خاوند د نطفې څخه وي) حرمت نه ثابتيږي ، ۳: مږور يعني د زوى ښځه، د ملسي ښځه او د كړوسي ښځه او د دې څخه لاندي چي هر څومره درجې وي، او د دغه ښځو سره د هغوى د خاوندانو يعني زامنو او ملسيانو غيره جماع كړې وي يا نه وي كړې په دواړو صورتو كي حرامي دي مګر يوازي په خولې ويونكى زوى حرام نه دى مثلا زيد د بكر د خولې ويلو زوى دى نو د زيد ښځه د بكر لپاره د محرماتو څخه نه ده كه زيد خپل ښځي ته طلاق وركړي يا هغه مړ سي نو بكر د هغه ښځې سره خپل نكاح كولايسي، ۴: ميره يعني د پلار ښځه او د نيكه ښځه او د دې څخه د لوړي درجې دا ټولي هم د همېشه لپاره حرامي دي نه د دوى سره نكاح كېداى سي او نه په يو بله طريقه جماع كېداى سي .

د خسرګنۍ د قرابت سره حرمت په هغه صورت كي ثابتيږي كله چي نكاح صحيح وي ، په فاسده نكاح سره حرمت نه ثابتيږي كه يو سړى د يوې ښځي سره زنا وكړي نو د زنا كونكي لپاره د هغه ښځي مور ، انار او د هغه ښځي لور، ملسۍ او كړوسى ټول به حرام سي او همدارنګه د هغې ښځي لپاره د زنا كونكي پلار، نيكه ، ورنيكه او د هغه ښځي زوى، ملسى او كړوسى ټول حرام دي .

Maktaba Tul Ishaat.com

كه يو سړى د يو ښځي سره جماع وكړي چي د هغه په وجه د هغه ښځي د تشو بولو او لويو بولو ځايونه يو سي نو د هغه ښځي مور به د جماع كونكي لپاره حرامه نه وي ځكه چي په دغه صورت كي نه سي ويل كيداى چي هغه ښځي د تشو بولو په ځاى كي جماع كړې ده مگر كه چيري د جماع څخه وروسته هغه ښځه حامله سي او دا هم معلومه سي چي دغه حمل د هغه سړي د نطفې څخه دى نو په دغه صورت كي د هغه مور به د هغه لپاره حرامه سي او څرنگه چي دغه حرمت په جماع كولو سره ثابتيږي همدارنگه (په شهوت سره) ښځي ته لاس ور وړل، مچه اخيستل او په شهوت سره د ښځي شرمگاه ته په كتلو سره هم ثابتيږي او دغه ذكر سوي صورتونه يعني لاس ور وړل، مچه اخيستل او داسي نور كه د نكاح په صورت كي وي او كه د ملكيت په صورت كي وي ، د حنفيه په نزد دا دواړه صورتونه يو دي او حنفي علماء دا هم وايي چي په دې باره كي شبه او غير شبه مساوي دي او په دې اړه په شهورت سره مباشرت (د سړي او ښځي په شهوت سره يو تر بل غاړه كېدل) هم د مچي اخيستلو په حكم كي دي همدارنگه د معانقه هم دغه حكم دى يعني په دغه ټولو صورتو كي حرمت ثابتيږي .

كه يوې ښځي په شهوت سره د سړي خاص اندام (ذكر) ته وكتل يا په شهوت سره يې لاس روړى يا مچه يې ځيني واخيستل نو په دغه صورت كي د هغه سره د مصاهرت حرمت ثابتيږي و نورو ټولو اندامو ته په كتلو سره او په لاس ور وړلو سره حرمت مصاهرت نه ثابتيږي مگر كه چيري دغه كتل او لاس ور وړل په شهوت سره وي نو بيا بېله اختلافه حرمت ثابتيږي ، د حرمت په اړه د ښځي د شرمگاه د دباندي برخي ليدلو اعتبار نه سته بلكه د ننه برخې په لېدلو سره حرمت ثابتيږي، علماء كرام وايي كه يو سړى د ښځي په ولاړه شرمگاه ووينى نو په دغه صورت كي حرمت نه ثابتيږي ځكه كله چي ښځه ولاړه وي نو د هغې د شرمگاه د ننه برخه نه معلوميږي بلكه د شرمگاه د ننه برخه هغه وخت معلوميږي كله چي ښځه په تكيه لگولو سره ناسته وي ، كه و سړى د يو ښځي د شرمگاه د ننه برخه داسي ووينى چي په مينځ كي نازكه پرده يا ښيښه وي و د شرمگاه د ننه برخه معلومه سول نو حرمت ثابتيږي مگر كه يو سړى په هنداره كي گوري ه هغه كي د يو ښځي شرمگاه په شهوت سره ووينى نو پر هغه سړي باندي نه د هغه ښځي ر حرامه كيږي او نه د هغې لور حرامه كيږي ځكه چي هغه شرمگاه نه ده لېدلې بلكه د هغه عكس يې ليدلى دى او كه چيري يو ښځه د اوبو د حوض پر غاړه يا پر پله باندي ناسته وي او يو سړى د هغې عكس په اوبو كي ووينى او بيا د هغه څخه وروسته په شهوت سره په اوبو كي د هغې د شرمگاه عكس ووينى نو په دغه صورت كي هم حرمت نه ثابتيږي مگر كه چيري ښځه په

Maktaba Tul Ishaat.com

اوبو کي وي او سړی د هغې شرمگاه ويني او بيا په شهوت سره هغه ويني نو حرمت ثابتيږي.

يوې ښځي ته په شهوت سره په لاس ور وړلو کي دا ضروري نه ده چي په قصد يې لاس ور وړی وي نو بيا حرمت ثابتيږي بلکه که چيري په قصد سره يې لاس ور وړی وي يا په هېره سره او يا په زور سره يا په غلطۍ سره يې لاس ور وړی وي او که د خوب په حالت کي يې لاس ور وړی وي په هر صورت کي حرمت ثابتيږي، که يو څوک د جماع کولو لپاره خپل ښځه د خوب څخه پورته کول وغواړي مگر په غلطۍ سره د هغه لاس پر لور ولگيدی او بيا په دا گمان سره چي دا زما ښځه ده او بيا يې په شهوت سره هغه مس کړل او هغه لور پېغله او د شهوت وړ وه نو په دغه صورت کي د هغه سړي لپاره د هغه انجلۍ مور يعني د هغه ښځه د همېشه لپاره حرامه کيږي.

که يو څوک په شهوت سره د ښځي هغه وېښتانو ته لاس ور وړي کوم چي د سر سره يو ځای وي نو حرمت ثابتيږي مگر ناطفي رحمه الله د دغه تفصيل څخه پرته د مطلق وېښتانو په مس کولو سره حرمت بيانوي، همدا رنگه که يو سړی د ښځي نوک ته په شهوت سره لاس ور وړي نو حرمت ثابتيږي.

دا چي ښوول سوي دي چي د ښځي په شهوت سره مس کول او لاس ور وړل حرمت ثابتوي نو په دې باره کي دا خبره بايد په ذهن کي وي چي ښځي ته په لاس ور وړلو سره په هغه صورت کي حرمت ثابتيږي کله چي د دواړو په مينځ کي يو شی حائل نه وي او که چيري يو ټوکر حائل وي او هغه دومره نازک وي چي د مس کونکي لاس د ښځي دبدن حرارت محسوس کړي مگر که چيري ټوکر داسي وي چي د مس کونکي لاس د ښځي دبدن حرارت محسوس نه کړي نو حرمت نه ثابتيږي که څه هم د هغه په وجه د سړي په خاص اندام (ذکر) کي حرکت وسي، همدا رنگه که يو سړی د ښځي د موزې لاندي برخه مس کړي نو حرمت ثابتيږي مگر که چيري پر موزو باندي پوست وي چي د هغه په وجه د ښځي د پښو حرارت مس کونکي ته محسوس نه سي نو حرمت نه ثابتيږي، که چيري يو سړی د ښځي څخه مچه واخلي په داسي حالت کي چي د دواړو په مينځ کي يو ټوکر حائل وي نو حرمت ثابتيږي په شرط د دې چي مچه اخيستونکي ته د ښځي د غاښو يا د شونډانو يخوالي محسوس سي.

د حرمت ثابتولو لپاره دا ضروري نه وي چي د مس کولو څخه وروسته تر ډېره وخته پوري مس کوي، علماء کرام وايي که يو چا په شهوت سره خپل ښځي ته لاس ور وړاندي کړی مگر هغه لاس د ښځي پر ځای د هغه د لور پر پزه ولگيدی او په هغه سره شهوت زيات سو نو د هغه انجلۍ مور يعني خپل ښځه به پر هغه سړي حرامه سي که څه هم هغه سمدستي خپل لاس ليري کړي.

Maktaba Tul Ishaat.com

د حرمت ثابتولو لپاره دا شرط دي چي کومي ښځي ته لاس ور وړل سي یا مچه ځیني واخیستل سي نو هغه به د شهوت وړ وي ، که یو سړی د یو داسي نابالغي انجلۍ سره جماع وکړي چي هغه د شهوت وړ نه ده نو حرمت نه ثابتیږي ددې پر خلاف که چیري ښځه دومره سپین سرې سي چي د شهوت وړ نه وي نو د هغه د حرمت په حکم کي داخله سوه او د سپین سرتوب په وجه د دغه حکم څخه وتلای نه سي حال دا چي نابالغه د حرمت په حکم کي داخله نه ده .

لکه څرنګه چي د حرمت ثابتېدو لپاره د ښځي د شهوت وړ کېدل دي همدارنګه د نارینه د شهوت وړ کېدل هم شرط دي که چیري د څلورو کالو کوچنی د خپل پلار د ښځي (یعني خپل میرې) سره جماع وکړي نو په دې وجه حرمت نه ثابتیږي مګر که چیري جماع کونکی داسي کوچنی وي چي په هغه عمر کي کوچنی جماع کولای سي نو د هغه هم هغه حکم دی چي کوم د بالغو دي او په دې باره کي علماؤ لیکلي دي چي د داسي کوچني پېژندل دادي چي هغه پر جماع کولو باندي قادر وي او ښځي ته یې شوق کیږي او ښځي د هغه څخه شرم کوي .

په ذکر سوو شیانو یعني مس کولو او کتلو کي د شهوت پور ته کېدل شرط دي یعني ښځي ته لاس ور وړل، مچه اخیستل او د شرمګاه دننه برخي ته د کتلو پر وخت که چیري شهوت پیدا سي نو حرمت ثابتیږي او که چیري شهوت پیدا نه سي مګر وروسته بیا شهوت پیدا سي نو حرمت نه ثابتیږي، د شهوت معیار د نارینه لپاره دادی چي هغه په خاص اندام (ذکر) کي حرکت راسي (یعني لک سي) او که چیري حرکت د مخکي څخه وي او په هغه کي زیاتوب راسي نو په دغه مسئله کي ټول صحیح دي او پر دې فتوا ده ، که چیري د یو چا په خاص اندام کي حرکت وو په داسي حالت کي چي هغه خپله ښځه ځان ته راوغوښتل او بیا په هغه دوران کي په یو ډول د هغه خاص اندام د هغه انجلۍ په ورنو کي داخل سو نو په دغه صورت کي که چیري د هغه خاص اندام په حرکت کي زیاتوب نه وي پیدا سوی نو د هغه انجلۍ مور یعني د هغه ښځه به د هغه لپاره حرامه نه وي ، د شهوت دغه معیار د هغه چا لپاره دی چي ځوان او پر جماع کولو باندي قادر وي او که چیري یو څوک سپین ږیری او یا پر جماع کولو قادر نه وي نو د هغه په باره کي د شهوت معیار دادی چي د خواهش پر وخت د هغه په زړه کي حرکت پیدا سي که چیري د مخکي څخه حرکت نه وو ، او که چیري په زړه کي د مخکي څخه حرکت موجود وي او د هغه په خواهش کي زیاتوب راسي . د ښځي لپاره او د هغه سړي لپاره چي د هغه خاص اندام پرې کړل سوی وي د شهوت معیار دادی چي په زړه کي خواهش پیدا سي او په لاس وروړلو یا بل څه سره جنسي خوند تر لاسه سي که چیري خواهش د مخکي څخه موجود نه وو ، او که چیري خواهش د

Maktaba Tul Ishaat.com

مخکي څخه موجود وو نو بیا کله چي په هغه کي زیاتوب راسي .

دا خبره دي په ذهن کي وي چي په سړي او ښځه کي په یوه کي د شهوت پیدا کېدل د حرمت ثابتولو لپاره کافي دي .

په لاس ور وړلو یا مچه اخیستلو سره چي کوم حرمت ثابتیږي په هغه کي دا شرط ضروري دي چي انزال نه وي ، که چیري په لاس ور وړلو یا شرمگاه ته په کتلو سره انزال وسي نو حرمت نه ثابتیږي ځکه چي په انزال کېدو سره به دا خبره ثابته سي چي لاس ور وړل او داسي نور کارونه د جماع سبب نه دي جوړ سوي ، که یو څوک د ښځي مقعد (د شا شرمگاه) ته وگوري نو په دې سره حرمت نه ثابتیږي همدارنگه که یو سړی د ښځي سره د شا له خوا بدکاري وکړي نو حرمت نه ثابتیږي همدارنگه که چیري د مړې سره جماع وکړي نو حرمت نه ثابتیږي .

که یو څوک د خپل ښځي سره د حرمت مصاهرت اقرار وکړي او د هغه اعتبار وکړل سي او د دواړو یعني ښځي او خاوند په مینځ کي بېلوالی وکړل سي او همدارنگه که چیري سړی د نکاح څخه مخکي د حرمت نسبت وکړي یعني خپل ښځي ته ووایي چي ما ستا سره د نکاح کولو څخه مخکي ستا د مور سره جماع کړې ده نو د هغه د خبري اعتبار به کېږي او په دواړو کي به جلاوالی راوستل کېږي ، مگر د هغه ښځي پوره مهر به واجب وي او عقر به واجب نه وي، او د دغه اقرار لپاره مداونت شرط نه دی یعني یوازي په یو وار اقرار کول کافي دي په وار وار د اقرار کولو ضرورت نه سته ځکه که چیري یو سړی د خپل اقرار څخه رجوع وکړي یعني په یو وار اقرار کولو څخه وروسته بیا انکار وکړي نو قاضي به د هغه انکار نه مني مگر که چیري هغه په حقیقت کي غلط اقرار کړی وي نو عند الله د هغه ښځه د هغه سره که څه هم په ظاهره قاضي د دوی په مینځ کي جلاوالی راولي .

که یو څوک دیوې ښځي په باره کي ووایي چي دا زما رضاعي مور ده (یعني دې وماته تی راکړی وي) او بیا څه وخت وروسته کله چي د هغه ښځي سره نکاح کول غواړي نو دا ووایي چي ما دروا غ ویلي دي دا زما رضاعي مور نه ده نو په دغه صورت کي د هغه لپاره د هغه ښځي سره نکاح کول به استحسانا جائز وي .

که یو څوک د یوې ښځي څخه مچه واخلي او بیا ووایي چي دا په شهوت سره نه وه ، یا ښځي ته لاس ور وړي یا د هغې شرمگاه ته وگوري او دا ووایي چي دا په شهوت سره نه وو نو د مچي اخیستلو په صورت کي به سمدستي د حرمت حکم ولگول سي تر څو چي دا یقین پیدا نه سي چي هغه په حقیقت سره په شهوت سره مچه نه وه اخیستې او په دوهم او دریم صورت کي د

Maktaba Tul Ishaat.com

حرمت حکم نه لګول کیږي بلکه کله چي دا یقین وسي چي دا په شهوت سره سوی دی نو د حرمت حکم به لګول کیږي ، په دې وجه کي فرق دادی چي مچه اخیستل په عامه توګه سره د شهوت پر وخت اخیستل کیږي او د مچي اخیستلو بنیاد پر شهوت وي پر خلاف د لاس وروړلو او لیدلو چي دغه دواړه کارونه بېله شهوت هم واقع کیږي مګر دا حکم په هغه صورت کي دی کله چي د شرمګاه څخه پرته یو بل اندام ته لاس وروړي او که چیري د یو ښځي شرمګاه ته لاس وروړي او بیا ووایي چي دا په شهوت سره نه وو نو په داسي صورت کي به دده د خبري اعتبار نه کیږي او که چیري یو سړی یو ښځي تر تیانو ونیسي او ووایي چي دا په شهوت سره نه وو نو د هغه ددغه خبري اعتبار به نه کیږي همدارنګه که د ښځي سره پر حیوان باندي سپور سي نو د هغه هم دا حکم دی مګر که چیري د ښځي پر شا په سپرېدو سره تر سند یا ویالې واوړي او دا ووایي چي هغه وخت زما شهوت نه وو نو د هغه د خبري اعتبار به کیږي .

یو سړی د خلکو په مخکي اقرار وکړي چي ما فلانۍ ښځه په شهوت سره مس کړې ده یا د هغې څخه مي مچه اخیستې ده او هغه خلکو ددغه خبري شاهدي ورکړي نو د هغوی شاهدي قبلیږي او حرمت ثابتیږي همدارنګه که چیري شاهد ووایي چي فلاني سړي فلانۍ ښځي ته په شهوت سره لاس ور وړلی دی یا مچه یې څیني اخیستې ده نو د هغوی شاهدي به منل کیږي ځکه چي شهوت یو داسي شی دی چي هغه معلومیږي ، د کومو خلکو په خاص اندام کي چي حرکت وي د هغوی په لېدو سره او د چا په خاص اندام کي چي حرکت نه وي د هغوی په باره کي په نورو نښو سره د شهوت معلومېدل ممکن دي .

قاضي علي سعدي رحمة الله عليه وایي که چیري په نشه کي بې هوشه سړی د خپل لور په نېولو سره هغه د خپل بدن سره ومونښلوي او مچه څیني واخلي او بیا یې د هغې سره د جماع کولو اراده وکړه مګر انجلۍ ورته وویل چي زه ستا لور یم نو ددې په اورېدو سره هغه سړی انجلۍ پرېښودل نو په دغه صورت کي هم د انجلۍ مور یعني د هغه سړي ښځه د هغه لپاره حرامه ده .

که د یو سړي څخه پوښتنه وسي چي تا د خپل خواښي سره څه کړي دي او هغه په جواب کي ووایي چي ما د هغې سره جماع کړې ده نو په دغه صورت کي حرمت ثابتیږي که څه هم پوښتنه کونکی په مسخرو کي پوښتنه وکړي او هغه سړی هم په مسخرو کي جواب ورکړي او بیا د هغه څخه وروسته که په لکاوو واره ووایي چي ما دا خبره دروغ کړې ده نو د هغه اعتبار نه کیږي .

که یو سړی د یوې داسي مینزي په باره کي چي د هغه په ملکیت کي وي دا ووایي چي ما ددغه مینزي سره جماع کړې ده نو هغه مینزه به د هغه د زوی لپاره حلاله نه وي او که چیري هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

د یو داسي مینزي په باره کي چي د هغه په ملکیت کي نه وي بلکه د بل چا مینزه وي دا ووایي چي ما ددې سره جماع کړې ده نو په دغه صورت کي به د هغه د زوی لپاره دغه مینزه جائز وي چي د خپل پلار د دغه خبري اعتبار ونه کړي او هغه مینزه په خپل ملکیت کي په اخیستو سره د هغې سره جماع وکړي او که چیري یو سړي ته د خپل پلار په مېراث کي یوه مینزه تر لاسه سي نو د هغې سره جماع کولای سي تر څو چي په یقین سره دا معلومه نه سي چي د هغه پلار د هغې سره جماع کړې ده.

که یو سړی د یوې ښځي سره په دې شرط واده وکړي چي هغه به باکره (پېغله) وي مګر د واده څخه وروسته کله چي د هغې سره د جماع کولو اراده وکړي نو معلومه سي چي هغه باکره نه ده او بیا د هغه ښځي څخه پوښتنه وکړي چي ستا د بکارت (پېغلتوب) پرده څرنګه زائله سوې ده (یعني ستا سره چا کوروالي کړې ده) ښځه په جواب کي ووایي چي ستا پلار، نو په دغه صورت کي که چیري هغه سړی د هغه د خبري اعتبار ونه کړي بلکه دا ووایي چي ته دروا غ وایې نو نکاح به باقي وي.

که یوه ښځه د خپل خاوند د زوی په باره کي ووایي چي ده زه په شهوت سره مس کړې یم نو زه د خپل خاوند ښځه نه سوم نو د ښځي د دغه خبري اعتبار نه کیږي بلکه د خاوند د زوی قول به معتبر وي.

یو څوک د خپل پلار د ښځي (میرې) څخه په شهوت سره په زور مچه واخیستل او خاوند وویل چي دا محض په شهوت سره نه وو نو د خاوند د خبري اعتبار به کیږي او دا به د هغه ښځه وي مګر که چیري خاوند دا خبره تسلیم کړي چي مچه اخیستل په شهوت سره وه نو بیا به په دواړو کي جلاوالی راوستل کیږي او پر خاوند به مهر واجب وي، مګر خاوند به هغه روپۍ چي هغه په مهر کي ادا کړي دي د هغه سړي څخه تر لاسه کوي د چا په وجه چي دغه صورت پیدا سوی دی په شرط ددې چي هغه د فتنې لپاره دا حرکت کړی وي او که چیري هغه دغه کار د فتنې په قصد سره نه وي کړی نو بیا د هیڅ تر لاسه کولو حق نه ستده، او که چیري په دغه مسئله کي د مچه اخیستلو پر ځای (پلار د زوی د ښځي سره یا زوی د پلار د ښځي سره) جماع وکړي نو په دغه صورت کي خاوند په مهر کي ورکړل سوی مال په هیڅ ډول نه سي تر لاسه کولای ځکه چي پر جماع کونکي باندي حد واجب دی او قاعده داده چي په شرعي حد سره هیڅ مال نه واجبیږي.

یو سړي د بل چا د مینزي سره نکاح وکړه او بیا ددې څخه مخکي چي د هغه خاوند جماع ورسره وکړي مینزي د خاوند د زوی څخه په شهوت سره مچه واخیستل، خاوند دعوه وکړه چي

زما ښځي زما د زوی څخه مچه په شهوت سره اخيستې ده مګر د مينزي بادار ووايي چي دا غلطه خبره ده نو په دغه صورت کي به نکاح ختم سي ځکه چي خاوند ددې خبري اقرار کړی دی چي زما ښځي په شهوت سره مچه اخيستې ده مګر پر خاوند باندي پوره مهر نه واجبيږي بلکه نيم مهر واجبيږي ځکه چي د هغه مينزي مالک د هغه خبره دروا غ کړې ده په دې باره کي د مينزي قول معتبر نه دی چي ما په شهوت سره مچه اخيستې وه.

که يوې ښځي په جنګ او جګړې کي د خپل ښکه خاص اندام ونيوی او بيا يې وويل چي ما په شهوت سره نه وو نيولی نو دهغې د خبري اعتبار کيږي.

د حرمت مصاهرت يا دحرمت رضاعت په وجه نکاح بالکل نه باطل کيږي او نه بالکل فاسد کيږي (چي د هغه په وجه جماع کول حرام کيږي) نو خاوند بايد چي طلاق ورکړي او که طلاق ور نه کړي نو قاضي دي دد واړو په مينځ کي د جلاوالي څخه مخکي که چيري د خاوند سره جماع وکړه نو پر هغه به حد نه واجبيږي که څه هم هغه جماع په شبه کي په اخته کېدو سره کړې وي يا ښله شبه يې کړې وي، که يو سړی د يوې ښځي سره بدکاري وکړي يا يو داسي کار يې وکړ چي په هغه سره حرمت ثابتيږي لکه لاس ور وړل او داسي نور او بيا يې توبه وکښل نو دا سړی به د هغه ښځې د لور محرم وي ځکه چي د هغه انجلۍ سره نکاح کول د هغه په حق کي د همېشه لپاره حرام دي او دا ددې خبري دليل دی چي محرميت د زنا څخه ثابتيږي لکه لاس ور وړل او داسي نور.

د مثال په توګه زيد د خالدې سره نکاح وکړه او د زيد زوی (چي د خالدې د نس څخه نه دی) د خالدې د لور سره (چي د خالدې د مخکي خاوند څخه ده) نکاح وکړه يا د خالدې د مور سره يې نکاح وکړه نو په دې کي څه پروا نه سته.

که يو سړي پر خپل خاص اندام باندي د يو ټوکر په پيچلو سره جماع وکړي نو دا کتل کيږي که چيري هغه ټوکر نازک وي او د سړي خاص اندام يې د حرارت محسوس کولو څخه نه منع کوی نو د هغه ښځه به د جماع څخه وروسته د مخکي خاوند لپاره (چي هغه ورته طلاق مغلظه ورکړی وو) حلاله کيږي او که داسي وه چي د هغه ټوکر په وجه د هغه سړي خاص اندام ته حرارت نه محسوس کېدی نو هغه ښځه به د خپل خاوند لپاره حلاله نه وي.

دريم سبب د شېدو قرابت: يعني هغه ښځي چي د رضاعت (تي رودلو) په وجه حرامي وي، ټول هغه قرابتونه چي د نسبي او خسرګنۍ کېدو په وجه حرام دي د رضاعت په وجه هم حرام دي، که چيري يو ښځي يو کوچني ته د هغه د تي رودلو په عمر کي شېدې ورکړې نو په هغه دواړو

کي به د مور او زوی تعلق پیدا سي نو د تي رودونکي ښځي خاوند به د تي رودونکي کوچني رضاعي پلار وي چي د هغه په وجه د رضاعي مور او پلار ټول قریبان به د هغه کوچني لپاره حرام وي کوم چي د حقیقي مور او پلار د قرابت په وجه حرام وي.

د تي رودلو په عمر کي مطلقا د تي رودلو سره حرمت ثابتیږي که زیات تی یې رودلی وي او که لږ، او د کم تي رودلو آخري حد دادی چي د شېدو نس ته مطلق رسیدل په یقین سره معلوم سي.

د تي رودلو عمر د امام ابوحنیفة رحمه الله د قول سره سم تر دېرشو میاشتو پوري دی او د صاحبینو د قول سره سم تر دوو کالو پوري دی.

که یو کوچنی د تي رودلو په عمر کي د تي رودلو څخه بند سي او بیا څه وخت وروسته د هغه د تي رودلو په عمر کي تی وخوري نو دا به د رضاعت په حکم کي داخل وي ځکه چي تی رودل د کوچني د تي رودلو په وخت کي واقع کیږي او د تي رودلو د وخت تېرېدو څخه وروسته په تي رودلو سره رضاعت نه ثابتیږي.

د علماؤ پر دې خبره اتفاق دی چي د تي رودلو د مزدوري په اړه د تي رودني وخت دوه کاله منل سوی دی که یو سړی خپل ښځي ته طلاق ورکړي او هغه طلاقه سوې ښځه د هغه کوچني څخه دوه کاله عمر څخه وروسته د تي رودلو د مزدورۍ غوښتنه د کوچني د پلار (یعني خپل پخواني خاوند) څخه نه سي کولای مګر هغه طلاقي سوي ښځي چي په دوه کاله کي کوچني ته تی ورکړی دی د هغه د مزدورۍ پر ورکولو باندي مجبور کیدای سي.

د رضاعت حرمت څرنګه چي د رضاعي مور په قریبانو کي ثابتیږي همدارنګه د رضاعي پلار په قریبانو کي هم ثابتیږي او د رضاعي پلار څخه مراد د تي ورکونکي ښځي هغه خاوند دی چي د هغه سره د جماع په وجه یې شیدې پیدا سوي وي.

پر رضیع (یعني تي رودونکي) باندي د هغه د رضاعي مور او پلار او د هغه د رضاعي مور او پلار د اصول (یعني د هغوی پلار، نیکه او داسي نور) او د هغوی فروع (یعني د هغوی اولاد) که هغه نسبي وي یا رضاعي وي ټول حرام دي تر دې چي د هغه تي رودلو څخه مخکي د هغه د رضاعي مور چي کوم اولاد سوی وي یا د هغه د تي رودلو څخه وروسته چي کوم اولاد وي او هغه اولاد که څه هم د هغه رضاعي پلار څخه وي یا د رضاعي مور څخه او یا د بل خاوند څخه وي یا د هغه رضاعي مور د یو بل سړي کوچني ته تی ورکړي او یا د هغه رضاعي پلار د یو بلي ښځي څخه کوچنی پیدا سو نو دا ټول د رضیع وروڼه او خوندي او د هغه د وروڼو او خویندو اولاد هغه وریرونه، وریرې به وي، همدارنګه د رضاعي پلار ورور به د هغه اکا وي او

د رضاعي پلار خور به د هغه عمه وي د رضاعي مور ورور به د هغه ماما وي او د رضاعي مور خور به د هغه خاله وي او همدارنګه د رضاعي مور انا به د هغه انا وي.

لکه څرنګه چې په رضاعت کې د نسبي قرابت حرمت ثابتيږي کوم چې لوړ بيان سول همدارنګه په رضاعت کي حرمت مصاهرت يعني د خسرګنۍ د قرابت حرمت هم ثابتيږي، د رضاعي پلار ښځه د رضيع (يعني تي رودونکي) باندي حرامه ده او د رضيع ښځه د هغه پر رضاعي پلار حرامه ده او همدارنګه نور هم قياس کړئ.

مګر دوه صورتونه مستثنى دي اول خو دا که چيري يو سړی دا وغواړي چې د خپل نسبي زوی د خور سره نکاح وکړي نو دا د هغه لپاره جائز نه دي مګر په رضاعت کي جائز دي ځکه چې د يو سړی د نسبي زوی خور که د هغه د نطفي څخه نه وي نو هغه به د هغه حقيقي لور وي او که د هغه د نطفي څخه نه وي نو بيا ربيبه (يعني د هغه ميريزی لور) به وي حال دا چې د رضاعت په قرابت کي دغه دواړي خبري مفقود دي که چيري په نسبي قرابت کي هم په دغه دواړو خبرو کي يوه خبره موجود سي نو نکاح صحيح کيږي مثلاً د يو داسي مينزي کوچنی پيدا سو چې د دوو خلکو مشترکه مملوکه ده او هغه دواړه شريکان پر هغه کوچني باندي خپل خپل دعوا کوي تر دې چې د هغه کوچني نسب د هغه دواړو څخه ثابت سو او بلي خوا ته د دغه دواړو سره د خپل خپل ښځي څخه يوه يوه لور ده نو اوس په دغه دواړو کي هر يو ته دا جائز دي چې هغه د دوهم شريک د لور سره خپل نکاح وکړي ځکه چې په دغه صورت کي د دغه دواړو په خبرو کي يوه خبره هم نه موجود کيږي سره د دې چې په هغوی کي کوم د دوهم د لور سره نکاح کړې ده يعني هغه د خپل نسبي زوی د لور سره نکاح کړې ده.

دوهمه مسئله داده چې د هيچا لپاره دا جائز نه دي چې هغه د خپل نسبي ورور د مور سره نکاح وکړي او د رضاعت په قرابت کي دا جائز وي ځکه چې په نسبي قرابت کي يا خو به دا صورت وي چې هغه دواړه به اخيافي وړونه وي همدارنګه د دواړو مور به يوه وي يا به دا صورت وي چې هغه دواړه به ميريزي وړونه وي نو د داسي ورور مور به د خپل پلار ښځه وي حال دا چې د رضاعت په قرابت کي دغه دواړي خبري مفقود وي (يعني نه سته).

د تي شريک ورور د خور سره (يعني چا چې د هغه د مور تی رودلی وي د هغه د خور سره) نکاح کول جائز دي لکه څرنګه چې په نسبي قرابت کي جائز دي مثلاً د زيد يو ميرېزی ورور دی چې د هغه نوم بکر دی او د بکر يوه اخيافي خور ده (يعني د دواړو مور يوه ده مګر پلار يې جلا دی) نو بکر د دغه خيافي خور سره نکاح کول د زيد لپاره جائز دي چې د بکر ميريزی ورور دی.

د تي رودلو شريک ورور مور (يعني چا چي د هغه د مور تی رودلی وي د هغه مور) د محرماتو ځخه نه ده ، همدارنګه د خپل رضاعي ورور انا سره هم نکاح کول جائز دي د رضاعي زوی د عمه د هغه د خور مور، د هغه خورزه او د هغه د عمه د لور سره هم نکاح کول جائز دي همدارنګه ښځي ته د خپل رضاعي خور د پلار ، دخپل رضاعي زوی د ورور او د خپل رضاعي ملسي د پلار او د رضاعي زوی د نيکه او ماما سره نکاح کول جائز دي حال دا چي په نسبي قرابت کي دا ټول محرمات دي چي د هغوی سره نکاح جائز نه دي .

که يو سړی خپل ښځي ته چي د هغې شيدې يې اېله کړي وي طلاق ورکړي بيا هغه طلاقه سوې ښځه د عدې تېرولو ځخه وروسته د يو بل سړي سره نکاح وکړي او د هغه دوهم خاوند سره جماع وکړي نو په دې باره کي د علماؤ پر دې اتفاق دی چي د هغې د دوهم خاوند دنطفې ځخه چي د هغې کوچنی وسي نو د هغه د شېدو سبب به هم دوهم خاوند ګرځول کيږي د هغه شېدو سره د اول خاوند هيڅ تعلق نه پاته کيږي مګر که چيري د دوهم خاوند ځخه حامله سوې نه وي نو د هغې د شېدو سبب به اول خاوند ګڼل کيږي مګر که چيري دا صورت وي چي د هغه دوهم خاوند ځخه حامله سوه مګر تر اوسه يې کوچنی نه دی پيدا سوی نو امام ابو حنيفة رحمة الله عليه وايي چي تر ځو پوري د دوهم خاوند کوچنی پيدا نه سي هغه شېدې د اول خاوند ګڼل کيږي .

يو سړی د يوې ښځي سره نکاح وکړي مګر د هغې ځخه يې هيڅ اولاد پيدا نه سو بيا (ېله ولادته) د هغې شېدې را اېله سوې او هغې شيدې يو بل کوچني ته ورکړې نو هغه به د هغه ښځي ګڼل کيږي د هغې د خاوند به د هغه شېدو سره هيڅ تعلق نه وي په دغه صورت کي هغه تی رودونکی کوچنی او د هغه سړي د اولاد په مينځ کي چي د دوهمي ښځي ځخه وي د رضاعت حرمت نه ثابتيږي .

يو ځوک د يوې ښځي سره زنا وکړي او دهغه په نتيجه کي د هغې کوچنی پيدا سو او بيا هغه ښځي يو بلي انجلۍ ته تی ورکړی نو د هغه زنا کونکي د هغه د پلار نيکه او د هغه اولاد ته د هغه تي رودونکي انجلۍ سره نکاح کول جائز نه دي مګر د زنا کونکي اکا او د هغه ما ما نکاح ورکولای سي لکه ځرنګه چي د زنا کولو په نتيجه کي د پيدا کېدونکي انجلۍ سره د زنا کونکي اکا او مامانکاح کولای سي ، يو سړی په غلطۍ سره د يو ښځي سره جماع وکړي چي په هغه سره حامله سوه او بيا هغې يو کوچني ته تی ورکړی نو دغه کوچنی به د هغه جماع کونکي رضاعي ورور وي ، پر دغه مسئله باندي دا قياس کول پکار دي چي په کومو صورتو کي د کوچني نسب د جماع کونکي ځخه ثابتيږي نو په هغه صورتو کي د رضاعت قرابت هم د هغه

څخه ثابتيږي او په کومو صورتو کي چي د کوچني نسب د جماع کونکي څخه نه ثابتيږي نو په هغه صورتو کي به د رضاعت قرابت د تي ورکونکي ښځي څخه ثابتيږي.

يو سړی د يوې ښځي سره نکاح وکړي او د هغه ښځي کوچنی پيدا سو ښځي خپل کوچني ته تی ورکړی او وروسته يې شېدې وچي سوې، څه وخت وروسته يې بيا شېدې پيدا سوې او هغې يو بل هلک ته هغه تی ورکړی نو اوس د هغه هلک لپاره د هغه سړي د اولاد سره نکاح کول جائز دي چي د هغه تي ورکونکي ښځي څخه پرته د يو بلي ښځي د د نس څخه وي.

د يوې پيغلي انجلۍ شېدې راغلې او هغې خپل تی يو کوچني ته ورکړی نو دا به د هغه کوچني رضاعي مور وي او د رضاعت ټول احکام به د دواړو په حق کي ثابت وي، که يو سړی د يو پيغلي انجلۍ سره نکاح وکړي او د جماع څخه مخکي هغې ته طلاق ورکړي نو د هغه سړي لپاره به د هغه تي خوړونکي انجلۍ سره نکاح کول جائز وي او که چيري د جماع څخه وروسته طلاق ورکړي نو د هغه انجلۍ سره نکاح کول جائز نه دي.

که چيري د يو داسي انجلۍ شېدې راغلې چي د هغې عمر د نهه کلو څخه کم وو او بيا هغې يو هلک ته تی ورکړی نو د دواړو په مينځ کي د رضاعت حرمت نه ثابتيږي ځکه چي د رضاعت حرمت په هغه صورت کي ثابتيږي کله چي تی د نهه کالو يا دنهه کالو څخه په زيات عمر کي ورکړل سي همدارنګه که چيري د پيغلۍ انجلۍ په تيانو کي ژړي او به را غلې نو د هغه په څښلو سره هم د رضاعت حرمت نه ثابتيږي.

که يوې ښځي د يو کوچني په خوله کي خپل تی دننه کړ مګر هغه کوچني ته د هغې د تيانو رودل معلوم نه سول نو په دغه صورت کي د شک په وجه د رضاعت د حرمت حکم نه نافذ کيږي البته د احتياط تقاضا داده چي حرمت ثابت کړل سي.

د يوې ښځي د تي څخه ژړي نری او به د کوچني خولې ته ورسيدلې نو د رضاعت حرمت به ثابت سي او دا به ويل کيږي چي دا شيدې دي رنګ يې بدل سوی دی.

که يو څوک د تيانو څخه شيدې راوباسي او هغه په يو کوچني باندي وڅښي نو په دې سره د رضاعت حرمت نه ثابتيږي او د حرمت ثابت کېدو لپاره د ژوندۍ او مړې ښځي د شېدو يو ډول حکم دی، که چيري دوو کوچنيانو د يو څاروي شيدې وڅښلې نو په هغه سره د رضاعت حرمت نه ثابتيږي.

د رضاعت حکم په دارالاسلام او او دار الحرب دواړو کي يو ډول دی که يو کافري ښځي په دارالحرب کي يو کافر کوچني ته تی ورکړی او بيا هغه مسلمان سو يا هغوی د دار الحرب

Maktaba Tul Ishaat.com

څخه دار الاسلام ته راغلل نو پر هغوی د رضاعت ټول احکام جاري کیږي .

لکه څرنګه چي د ښځي د تي څخه د شېدو په څښلو سره رضاعت ثابتیږي همدارنګه د کوچني په خوله کي د شېدو په اچولو سره یا په پزه کي په لوښلو سره هم د رضاعت حرمت ثابتیږي البته په غوږو کي په څڅولو سره او د خاص اندام په سوري کي په اچولو سره او په مقعد کي او د نس په زخم کي په اچولو سره د رضاعت حرمت نه ثابتیږي که څه هم شېدې د هغه زخمونو په ذریعه دماغ او نس ته ورسیږي مګر د امام محمد رحمة الله علیه په نزد په حقنه (پیچکاری) په استعمالولو سره حرمت ثابتیږي .

که د خوراک په یو شي کي شیدې ګډې سي او هغه پر اور باندي په ګرمولو سره خوراک ځیني جوړ سي چي د هغه په وجه د شیدو حقیقت بدل سي نو د هغه په خوړلو سره حرمت نه ثابتیږي که څه هم شیدې غالبي وي یا مغلوبي وي او که چیري د خوراک سره یو ځای سوې شېدې پر اور پخې نه سي نو په دغه صورت کي هم د هغه په خوړلو سره حرمت نه ثابتیږي ځکه چي په هغه شي کي شیدې غالب نه وي او که چیري شیدې غالب وي نو د امام ابوحنیفة رحمة الله علیه په نزد حرمت نه ثابتیږي ځکه چي بهیدونکی شی د وچ شي سره مخلوط سو نو بهیدونکي شی د هغه وچ شي تابع سو او د مشروباتو د ډول څخه ووتی یعني د څښلو وړ نه سو ځکه علماء کرام وايي چي په کوم شي کي شیدې ګډې سوي وي او هغه غالبي نه وي او هغه شی د بهېدو وړ وي نو د هغه په څښلو سره حرمت ثابتیږي .

که د ښځي شیدې د پسو د شېدو سره ګډې سي او د ښځي شیدې غالبي وي نو د هغه په څښلو حرمت ثابتیږي همدارنګه که چیري ښځي په خپلو شیدو کي ډوډۍ خشته کړه او ډوډۍ شیدې جاذب کړې او هغه ډوډۍ یې په یو کوچني وخوړل که چیري په هغه کي د شېدو ذریعه موجود وي نو حرمت به ثابت سي مګر د خوند د موجودتیا شرط په هغه صورت کي دی کله چي د هغه په ګوله ګوله سره وخوړل سي او که په یو وار په وڅښل سي نو بیا به هم حرمت ثابت سي .

که د ښځي شېدې او د یو حیوان شیدې ګډې سي نو په هغه کي د غالب اعتبار دی یعني که چیري د ښځي شیدې غالبي سي نو د هغه په څښلو سره حرمت ثابتیږي او که او به یا بل شی غالب سي نو حرمت نه ثابتیږي همدارنګه که چیري د ښځي شېدې په یو بهېدونکي شي کي ګډې سي نو غالب ته اعتبار وي او د غالب څخه مراد دادی چي د هغه رنګ، بوی، او خوند درې سره شیان په هغو کي یو شی محسوس سي او که چیري دوه شیان برابر وي نو د حرمت ثابت کېدل به ضروري سي ځکه چي شیدې مغلوب نه وي .

Maktaba Tul Ishaat.com

که د دوو ښځو شېدې یو ځای سوي وي نو د امام ابوحنیفة او امام ابویوسف رحمة الله علیهما په نزد د هغه ښځي څخه د رضاعت حرمت ثابتیږي د کومي چي شېدې زیاتي او غالبي وي مگر امام محمد رحمه الله وایي چي په هغه صورت کي د ښځو څخه حرمت ثابتیږي ، د امام ابوحنیفة رحمه الله یو قول دا هم دی او دا قول زیات صحیح او احتیاط ته نژدې دی که چیري د دواړو ښځو شیدې مساوي وي نو بیا په اتفاق سره (یعني د درو سره امامانو) مسئله داده چي د دواړو ښځو سره د رضاعت حرمت ثابتیږي .

که یو ښځي د خپل شېدو څخه مستې، شلومبې یا بل شی جوړ کړی او په یو کوچني یې وخوړی نو په دې سره حرمت نه ثابتیږي ځکه چي پر دې د رضاعت اطلاق نه کیږي .

د کلي یوې ښځي یو کوچني ته تی ورکړی مگر وروسته د هیچا په یاد نه سول چي هغه تی ورکونکې ښځه څوک وه بیا د هغه کلي یو سړي د هغه انجلۍ سره نکاح وکړه نو دا نکاح به جائز وي ،

د ښځو لپاره ضروري ده چي بېله ضرورته یو کوچني ته خپل تی ور نه کړي او که چیري یو کوچني ته تی ورکړی نو باید په یاد یې ولري یاد ځان سره یې ولیکي (د ښځو عادت وي چي هغوی بېله ضرورته د نورو کوچنیانو په خوله کي خپل تی ورکوي او هغوی ته شېدې ورکوي او بیا وروسته یې په یاد هم نه وي چي کوم کوچنی ته ما تی ورکړی دی) په دې وجه د حرمت رضاعت د احکامو څرگنده خلاف ورزي کیږي نو په دې باره کي باید احتیاط وسي .

که تی مخکي ورکړل سوی وي او که وروسته ورکړل سي د رضاعت حرمت په هر صورت کي ثابتیږي په مخکي او وروسته کي څه فرق نه سته ، که یو سړی د یو تي رودونکي انجلۍ سره نکاح وکړه او بیا د هغه سړي (یعني خاوند) نسبي یا رضاعي مور یا خور هغه انجلۍ ته خپل تی ورکړی نو دا انجلۍ به د هغه سړي لپاره حرامه سي او پر هغه به نیم مهر واجب وي مگر د هغه نیم مهر په توگه چي کومي روپۍ ادا کوي هغه به د مرضعه (تي ورکونکي) څخه اخلي په شرط ددې چي هغې تی محض د شرارت (یعني نکاح ختمولو لپاره) ورکړی وي او که چیري د هغې د شرارت نیت نه وي (بلکه هغه انجلۍ د لوږي څخه ژړېدل او هغه ښځي د همدردۍ څخه تی ورکړی) نو بیا به د خاوند څخه د هغه روپو مطالبه نه سي کیدای .

یو سړي د دوو تي رودونکو انجونو سره نکاح وکړه ، وروسته یو پردۍ ښځه راغلل او هغه دواړو انجونو ته یې یو ځای پر له پسې تی ورکړی نو هغه دواړي انجوني به د سړي لپاره حرامي سي او بیا ددې څخه وروسته هغه چي په دواړو کي کومه یوه خوښه کړي د هغې سره

Maktaba Tul Ishaat.com

نکاح کولای سي او که درې انجوني وي او هغه ښځي درو سره ته پر یو ځای تی ورکړی وي نو هغه درې سره به حرامي سي او ددې څخه وروسته په هغه درو کي چي کومه یوه دده خوښه وي د هغې سره دي نکاح وکړي او که چیري درو سره ته یې یو په بل پسې تی ورکړی وي نو اولي دوې خو به حرامي سي او دریمه به د هغه ښځه وي ، او که چیري اول یې دوو انجونو ته تی ورکړی وي او د هغه څخه وروسته یې دریمي ته ورکړی وي نو بیا هم دا حکم دی او که چیري مخکي یې یوې انجلۍ ته تی ورکړی وي او ورسته یې دوو انجونو ته یو ځای تی ورکړی وي نو درې سره به حرامي سي او په هغوی کي به د هري انجلۍ نیم مهر پر واجب سي چي هغه به یې د تي ورکونکي څخه اخلي په شرط ددې چي د هغې د شرارت نیت وي او که چیري څلور انجوني وي او هغه ښځي څلور سره انجونو ته پر یو ځای یا یو په بل پسې تی ورکړی وي نو څلور سره به حرامه سي او که مخکي یې یوې ته او بیا درو ته تی ورکړی وي نو بیاهم دا حکم دی ،

که یو سړی د یوې لوی ښځي سره او د یوې تي رودونکي انجلۍ سره نکاح وکي او بیا لویه ښځه کوچنۍ انجلۍ ته خپل تی ورکړي نو دواړي به حرامه سي او س که چیري هغه د لوی ښځي سره جماع نه وي کړې نو هغې ته به مهر نه ورکول کیږي او کوچنۍ انجلۍ ته به نیم مهر ورکول واجب وي چي هغه به یې د لوی ښځي څخه اخلي په شرط ددې چي د هغې د شرارت نیت وي او که چیري د هغې د شرارت نه وي نو بیا د هغې څخه هیڅ نه اخستل کیږي که څه هم دغه لوی ښځي ته معلومه وي دغه انجلۍ زما د خاوند ښځه ده .

د رضاعت ثبوت د دوو خبرو څخه په یوې خبري کیږي یو اقرار (یعني یو ښځه خپله اقرار وکړي چي ما فلاني ته تی ورکړی دی) او دوهم شاهدي (یعني شاهد دا شاهدي ورکړي چي فلانۍ ښځي فلاني ته خپل تی ورکړی دی) او د رضاعت په اړه شاهدي یا خو د دوو کسانو معتبره وي یا د یوه سړي او دوو ښځو په شرط ددې چي هغوی عادل وي .

(د رضاعت په وجه چي د ښځي او سړي په مینځ کي) کوم جلاوالی کیږي هغه د قاضي د حکم په ذریعه کیدای سي او کله چي دوه عادل خلک یا یو سړی او دوې ښځي د رضاعت شاهدي ورکړي او د هغه پر بنیاد قاضي د هغو دواړو په مینځ کي جلاوالی راولي نو ښځي ته به هیڅ نه ورکول کیږي په شرط ددې چي د هغې سره یې جماع نه وي کړې او که چیري جماع یې ورسره کړې وي نو مهر مثل او مهر متعین څخه چي کوم مقدار کم وي هغه مهر به پر خاوند واجب وي او نفقه او سکنه (یعني د خوراک او اوسیدو لپاره د سرای انتظام) به واجب نه وي .

که چیري دوو عادل خلکو یا یو سړي او دوو ښځو د نکاح کېدو څخه وروسته د واده سوي

Maktaba Tul Ishaat.com

ښځي په مخكي دا شاهدي وركړه (او هغوى وويل چي د خاوند سره ستا رضاعت ثابت دى) نو هغه ښځي ته د خاوند سره اوسيدل جائز نه دي ځكه چي دا شاهدي صحيح ده په دې توګه چي څرنګه چي شهادت د قاضي په مخكي وركړى وي نو رضاعت به ثابت سوى واى او هغه به د دواړو په مينځ كي جلاوالى كړى واى همدارنګه كله چي دغه شاهدي د ښځو په مخكي وسي نو ددې حكم به هم هغه وي او كه د رضاعت دغه خبر يوازي يوه سړى وركړى او د هغه ښځي په زړه كي دا خبره پيدا سي چي دغه سړى ريښتيا وايي نو د خاوند څخه پرهيز كول غوره دى مګر واجب نه دى.

يو سړي د يوې ښځي سره نكاح وكړي او د هغه څخه وروسته يو بله ښځه راغلل او دواړو ته يې وويل چي ما تاسو دواړو ته تى دركړى دى نو ددغه مسئلې څلور و صورتونه دي:

١. كه دواړو (ښځي او خاوند) په هغه ښځي باور وكړ نو نكاح به فاسد سي او ښځي ته به هيڅ مهر نه وركول كيږي په شرط ددې چي د هغې سره جماع نه وي سوې.
٢. كه ښځه او خاوند د هغه ښځي باور ونه كړي نو نكاح به بحال وي مګر كه هغه ښځه عادله وي نو بيا د احتياط له مخي خاوند بايد خپل ښځه پريږدي، اوس كه چيري هغه خپل ښځه پرېښودل نو غوره داده چي خاوند نيم مهر وركړي او د ښځي لپاره غوره داده چي هغه هيڅ شى وانه خلي په شرط ددې چي پرېښودل د جماع څخه مخكي وي او كه چيري د پرېښودو څخه مخكي جماع سوې وي نو د سړي لپاره غوره دادي چي د هغې پوره مهر هم وركړي او د عدې تر وخت پوري د هغې نفقه او سكنه هم وركړي او د ښځي لپاره غوره داده چي په مهر مثل او تاكل سوي مهر كي چي كوم مقدار كم وي هغه دي واخلي او نفقه او سكنه دي نه اخلي او كه چيري خاوند ښځه نه پرېښودل نو ښځي ته د خاوند سره اوسېدل جائز دي همدارنګه كه دوو ښځو يا يو سړي او يوې ښځي يا دوو غير عادل خلكو يا يوه غير عادل سړي او دوو ښځو د رضاعت شاهدي وكړه نو د هغه به هم هغه حكم وي يعني خاوند ته غوره داده چي هغه خپل ښځه پريږدي.
٣. كه خاوند د هغه ښځي باور وكړي او ښځي يې باور ونه كړي نو نكاح به فاسد سي او مهر وركول به واجب سي.
٤. كه ښځه د هغه ښځي اعتبار وكړي مګر خاوند د هغې باور ونه كړي نو نكاح به پر خپل حال وي مګر د ښځي لپاره دا ضروري دي چي هغه خاوند ته قسم وركړي (چي په حقيقت كي د هغه ښځي خبري صحيح نه ده) كه سړي د قسم اخيستلو څخه انكار وكړي نو د دواړو په

Maktaba Tul Ishaat.com

مینځ کي به جلا والی را وستل کیږي .

یو سړي د یوې ښځي سره نکاح وکړي او بیا ووایي چي دا زما رضاعي خور ده یا هغې ته یو بل ډول د رضاعت نسبت وکړي او ددې څخه وروسته هغه ووایي چي ما ته وهم سوی وو ما چي څه ویلي دي هغه غلط دي نو استحسانا د دواړو په مینځ کي به جلا والی نه را وستل کیږي په شرط ددې چي هغه پر خپل دوهمي خبري باندي قائم وي او که چیري هغه پر خپل اولي خبري قائم وي او دا ووایي چي ما څه ویلي دي هغه صحیح دي نو په دغه صورت کي به د دواړو په مینځ کي جلاوالی کیږي ، ددې څخه وروسته که هغه د خپل خبري څخه انکار وکړي نو د هغه به څه ګټه نه وي او که چیري ښځه د خپل خاوند د خبري تصدیق وکړي نو هغې ته به هیڅ نه ورکول کیږي (په شرط ددې چي د هغې سره جماع نه وي سوې) او که ښځه د خپل خاوند تکذیب وکړي نو پر سړي باندي د هغې نیم مهر واجبیږي (په شرط ددې چي د هغې سره جماع نه وي سوي) او که چیري د هغې سره جماع سوې وي او هغه د خپل خاوند د خبري تصدیق ونه کړي نو پر سړي باندي د هغې ټول واجب دي مګر په نفقه او سکنه کي هیڅ نه واجبیږي .

که یو ځوک د یوې ښځي په باره کي د هغې سره د نکاح کولو مخکي دا ووایي چي دا زما رضاعي خور ده یا رضاعي مور ده او بیا وروسته ووایي چي ما ته وهم سوی وو یا زما څخه خطا سوې وه (یعني ما چي مخکي څه ویلي دي هغه غلط دي) نو هغه سړي ته به د هغه ښځي سره نکاح کول جائز وي او که چیري پر خپل پخوانۍ خبره قائم نوي یعني وروسته هم وایي چي ما مخکي څه ویلي دي هغه صحیح دي نو په دغه صورت کي به د هغه ښځي سره د هغه نکاح کول جائز نه وي او که ددې سربېره نکاح وکړي نو د دواړو په مینځ کي به جلا والی کیږي او که چیري هغه د خپل پخواني اقرار څخه انکار وکړي یعني دا ووایي چي ما دا اقرار نه وو کړی چي دا زما رضاعي مور ده یا خور ده مګر دوو کسانو ددې خبري شاهدي ورکړه چي ده اقرار کړی دي نو بیا په دغه صورت کي هم د هغوی په مینځ کي جلا والی را وستل کیږي .

که یوه ښځه د یو سړي په باره کي اقرار وکړي چي دی زما رضاعي پلار یا رضاعي ورور دی مګر سړي د هغه څخه انکار وکړ او ددې څخه وروسته بیا ښځي هم د خپل قول تردید وکړ او هغې وویل چي زه غلطه سوې وم نو بیا د سړي د هغه ښځي سره نکاح جائز کیږي او همدارنګه که سړي د هغه ښځي سره نکاح وکړي مخکي تر دې چي هغه ښځي د خپل قول تردید وکړي نو نکاح به صحیح وي .

که یو سړی د یوې ښځي سره (چي د هغه په نکاح کي وي) د خپل نسبي قرابت اقرار وکړي

Maktaba Tul Ishaat.com

یعني داسي ووایي چي دا زما ښځه زما حقیقي مور ده یا حقیقي خور ده یا حقیقي لور ده او د هغې ښځي نسب چا ته معلوم نه وي او هغه سړی دا صلاحیت ولري (یعني د هغه په اړه دا کیدای سي چي هغه ښځه د هغه لور یا مور وي) نو د هغه سړي څخه به دوهم وار پوښتنه کیږي اوس که چیري هغه دا ووایي چي زه خطاوتلی وم یا ما غلطي وکړه یا زما څخه هېره سوې وه نو استحسانا د هغوی نکاح به باقي وي او که چیري پر دوهم وار پوښتنه کولو باندي هغه ووایي چي ما څه ویلي دي هغه صحیح دي نو بیا په دواړو کي جلاوالی راوستل کیږي او که چیري سړی دا صلاحیت نه لري (یعني د هغه دواړو په عمر کي دومره فرق وي چي هغه ددې خبري امکان نه لري) چي هغه ښځه د کم عمر وي او هغه ښځه د هغه حقیقي مور یا د هغه حقیقي خور سي نو نسبت به ثابت نه وي او د هغه دواړو په مینځ کي به جلاوالی نه سي راوستل کېدای او که چیري سړی د خپل ښځي په باره کي ووایي چي دا زما حقیقي لور ده او بیا وروسته د خپلي خبري تردید ونه کړي بلکه پر هغه ټینګار کوي حالنکه خلکو ته د هغه د لور نسب معلوم دی (یعني خلکو ته دا معلومه ده چي دا د هغه لور نه ده بلکه د بل چا لور ده) نو د دوی دواړو په مینځ کي به جلاوالی نه سي راوستل کیدای او همدارنګه که چیري هغه ووایي چي دا زما حقیقي مور ده حالنکه خلکو ته د هغې نسب معلوم وي (یعني خلکو ته معلومه وي چي دا د هغه مور نه ده) نو په دغه صورت کي هم د دواړو په مینځ کي جلاوالی نه سي راوستل کیدای.

څلورم سبب جمع کول : یعني هغه ښځي چي د نورو ښځو سره په جمع کېدو سره د محرماتو څخه کیږي او د هغوی دوه ډولونه دي ۱: پردۍ ښځي جمع کول، ۲: ذوات الارحام جمع کول.

د اول قسم یعني د پردیو ښځو جمع کولو مطلب دادی چي (شریعت د څومره نکاحو اجازه ورکړې ده) د هغو څخه زیاتي نکاوي کول ، شریعت ازاد سړي ته په یوه وخت کي د څلورو نکاحو اجازه او غلام ته د په یوه وخت کي د دوو نکاح اجازه ورکړې ده ، نو د ازاد سړي لپاره دا جائز نه دي چي هغه په یوه وخت کي د څلورو څخه زیاتي ښځي وکړي او د غلام لپاره دا جائز نه دي چي هغه په یوه وخت کي د وو څخه زیاتي ښځي وکړي ، د ازاد سړي لپاره دا جائز دي چي هغه په یوه وخت کي څومره چي غواړي (بېله نکاح) مینزي وساتي د شمېر یو قید نه سته مګر غلام ته (بېله نکاح) د مینځو ساتل جائز نه دي که څه هم د هغه بادار اجازه ورکړي ، د ازاد سړي لپاره دا جائز دي چي په یوه وخت کي د څلورو ښځو سره نکاح وکړي او هغه څلور ښځي که ازادي وي او که مینزي وي او که ازادي او مینزي ګډي وي.

که یو سړی د پنځه ښځو سره په یوه عقد کي نکاح وکړي نو د ټولو ښځو نکاح باطل ده،

Maktaba Tul Ishaat.com

همدارنګه که یو غلام د درو ښځو سره نکاح وکړي نو د درو سره یو په بل پسې د نکاح کولو په صورت کې به اولې دوې نکاوې صحیح سي او دریمه به باطله سي او که په درې سره په یوه عقد کې په نکاح کړي نو ټولې نکاوې به باطل سي.

که یو حربي کافر د پنځه کافرو ښځو سره نکاح وکړي او بیا هغه ټول (یعني خاوند او پنځه ښځې) مسلمانان سي نو دا پنځه نکاوې چې یو په بل پسې سوې دي اول څلور ښځې به جائز وې او پنځمې ښځې ته به طلاق ورکوي او که پنځه سره نکاوې په یوه عقد سوې وې نو ټولې به باطله سي او هغه ټولو ته به طلاق ورکوي.

که یو سړی اول د یوې ښځې سره نکاح وکړي او بیا د څلورو نورو ښځو سره نکاح وکړي نو یوازې د اولې ښځې نکاح به صحیح وي او د نورو څلورو نکاح به صحیح نه وي.

که یوې ښځې په یوه عقد کې د دوو خلکو سره نکاح وکړه او په هغوی کې د یوه سړي په نکاح کې له مخکې څخه څلور ښځې وي نو د هغې نکاح به ددغه دوهم سړي سره صحیح وي (چې د هغه په نکاح کې څلور ښځې نه وي) او که چیري د دواړو خلکو په نکاح کې له مخکې څخه څلور څلور ښځې وي یا په هغوی کې د یوه په نکاح کې هم څلور ښځې نه وي نو دا نکاح په د هیڅ یوه سره هم صحیح نه وي.

د جمع کولو دوهم ډول یعني د ذات الارحام د جمع کولو مطلب دادی چې داسي دوې ښځې په یوه وخت کې په خپل نکاح کې وساتل سي چې په خپلو کې ذي رحم او نسبي قرابت ولري نو دوې خویندې په یوه وخت کې په خپل نکاح کې حرامې دي همدارنګه دوې خویندې د مینځو په جوړولو سره او د هغوی سره جماع کول هم حرام دي (یعني که دوې خویندې د یو چا په ملکیت کې وي نو د دواړو سره جماع نه سي کولای) ددې تفصیل مختته راځي، که هغه دواړې نسبي خویندې وي یا رضاعي خویندې وي.

په دې باره کې اصل دادی چې داسي دوې ښځې چې د یوې بلې قریبه وي او داسي قرابت وي که په هغوی کې یوه د سړي په نکاح کې راسي نو په خپلو کې به د هغوی نکاح صحیح نه وي که څه هم هغه قرابت حقیقي وي یا رضاعي وي نو داسي دوې ښځې په یوه وخت کې په خپل نکاح کې ساتل جائز نه دي همدارنګه یوه انجلۍ او د هغې حقیقي یا رضاعي خاله یا دا ډول نور ښځې په یوه وخت کې په خپل نکاح کې راوستل جائز نه دي مګر که چیري یوه ښځه او د مخکې خاوند لور (چې د هغې د نس څخه نه وي) په یوه وخت کې په نکاح کول جائز دي ځکه که چیري هغه ښځه د سړي سي نو د هغې خاوند به د هغه پردی، سره د هغه نکاح کول جائز وي

Maktaba Tul Ishaat.com

دديږ برعکس كه چيري هغه انجلۍ پر سړي فرض سي نو د هغه لپاره به هغه ښځه يعني د پلار د ښځي سره نكاح كول جائز نه وي ، همدارنگه يوه ښځه او د هغې مينزه په يوه وخت كي په خپل نكاح كي راوستل جائز دي په شرط دديږ چي مخكي يې د هغه مينزي سره نكاح كړې وي .

كه يو سړى دوې خويندي په يوه عقد كي په نكاح كړي نو نكاح به باطل وي او دواړي به د خاوند څخه جلا كيږي او بيا كه چيري جلاوالى د دخول (يعني كوروالي) څخه مخكي وي نو هغه دواړو ته به د مهر په توگه هيڅ نه وركول كيږي او كه چيري جلاوالى د جماع څخه وروسته وي نو مهر مثل او مهر متعين كي چي كوم مقدار كم وي هغه به په دواړو كي هري يوې ته وركول كيږي، كه يو سړى د دوو خويندو سره په دوو عقدو كي يعني يو په بل پسې نكاح وكړي نو كومه چي يې وروسته كړې وي نو هغه به فاسد وي او د خاوند لپاره به ضروري وي چي د هغې څخه جلاوالى اختيار كړي كه خپله جلاوالى اختيار نه كړي او قاضي په دې خبري سي نو قاضي دي د دوى په مينځ كي جلاوالى راولي او بيا كه چيري دغه جلاوالى د جماع څخه مخكي وي نو د جلاوالي په احكامو (يعني مهر، عدت او داسي نورو) كي به هيڅ حكم نافذ نه وي او كه چيري د جماع څخه وروسته جلاوالى راسي نو په مهر مثل او تاكل سوي مهر كي چي كوم مقدار كم وي هغه به وركول كيږي او پر هغې به عدت تېرول واجب وي او كه چيري كوچنى پيدا سي نو د هغه نسب به ثابت وي او هغه سړي ته به د خپل ښځي څخه تر هغه وخته پوري جلا پاييدل وي تر څو چي د هغې د خور عدت پوره نه سي او كه چيري يو سړى د دوو خويندو سره په دوو عقدو كي نكاح وكړي مگر دا معلومه نه وي چي د كومي خور سره يې مخكي او د كومي سره يې وروسته نكاح كړې ده نو په داسي صورت كي به خاوند ته حكم وركول كيږي چي دې بيان وكړي كه چيري هغه بيان وكړي نو د هغه د بيان سره سم به عمل وكړل سي او بيا قاضي به د دواړو په مينځ كي جلاوالى وكړي او د جلاوالي څخه وروسته هغه دواړو ته به نيم مهر وركول كيږي په شرط دديږ چي د دواړو مهر مساوي وي او كه مهر مساوي نه وي نو په هغوى كي هري يوې ته به د مهر څلورمه برخه وركول كيږي او كه چيري د عقد پر وخت مهر تاكل سوى نه وي نو د نيم مهر پر ځاى به يوه جوړه جامې دواړو ته وركول كيږي او كه چيري جلاوالى د جماع څخه وروسته سوى وي نو هري يوې ته به د هغې مهر پوره وركول كيږي .

ابو جعفر هندواني رحمة الله عليه وايي چي د ذكر سوي مسئلې دا حكم هغه وخت دى كله چي د دواړو څخه هره يوه دا دعوه وكړي چي مخكي يې زما سره نكاح سوې ده او شاهد د يوې هم نه وي نو دواړو ته به نيم مهر وركول كيږي مگر كه چيري دواړي دا ووايي چي موږ ته هيڅ معلوم

Maktaba Tul Ishaat.com

نه دي چي په موږ کي يې د کومي يوې سره مخکي نکاح کړې ده نو د هغوی په باره کي به هيڅ فيصله نه کيږي تر څو چي دواړي پر يوه خبره په متفق کېدو سره صلح ونه کړي او د دواړو د صلح صورت به دا وي چي هغه دواړي قاضي ته ورسي او ورته ووايي چي زموږ دواړو مهر زموږ پر خاوند واجب دی او زموږ په دغه غوښتنه کي يو دريم دعوه کونکی ګډ نه دی (يعني زموږ پر خاوند چي کوم مهر واجب دی په هغه کي زموږ د دواړو څخه پرته د بلي دريمي ښځي حق نه سته) نو موږ دواړي پر دې خبره صلح او اتفاق کوو چي نيم مهر واخلو ددې څخه وروسته به قاضي فيصله کوي که په هغه دواړو کي هري يوې د خپل نکاح مخکي کېدو باندي شاهد وړاندي کړی نو پر سړي باندي به نيم مهر واجب وي چي ددواړو په مينځ کي به وويشل سي پر دغه حکم د ټولو علماؤ اتفاق دی او د دواړو خويندو په باره کي چي کوم احکام بيان سوي دي هغه به داسي په ټولو ښځو کي جاري کيږي چي د هغوی جمع (يعني هغوی په يوه وخت کي په نکاح کول) حرام وي، او که چيري دغه سړی (يعني چاچي د دوو خوېندو سره په يوه عقد کي نکاح کړې وه او دا نکاح د باطل کېدو په وجه د دواړو خويندو او د هغه په مينځ کي جلاوالی کړی دی)د هغه دواړو خويندو څخه د جلاوالي وروسته بيا په هغه دواړو کي د يوې سره نکاح کول غواړي نو نکاح کولای سي په شرط ددې چي جلاوالی د جماع څخه مخکي سوی وي او که چيري جلاوالی د جماع څخه وروسته سوی وي نو په دغه صورت کي د دواړو خويندو د عدت تېرېدو څخه مخکي نکاح کول به جائز نه وي او که چيري يوه په عده کي وي او د دوهمي عده پوره سوې وي نو د هغه خور سره نکاح کول جائز دي کومه چي په عده کي وي او د دوهمي سره تر هغه وخته پوري نکاح کول جائز نه دي تر څو چي د هغې عده پوره نه سي ، او که چيري د جلاوالي څخه مخکي په هغه دواړو کي د يوې سره جماع سوې وي نو بيا د هغه خور سره نکاح کول جائز دي چي د هغې سره جماع سوې وي او (که چيري د هغه خور سره نکاح کول غواړي چي د هغې سره جماع نه وي سوې) نو د هغې سره به تر هغه وخته پوري نکاح کول جائز نه وي تر څو چي د هغې خور عدت پوره نه سي مګر که چيري د هغې عدت پوره سي د کومي سره چي يې جماع کړې ده نو بيا په هغه دواړو کي چي د کومي سره غواړي نکاح کولای سي.

لکه څرنګه چي په يوه وخت کي د دوو خويندو سره نکاح کول جائز نه دي همدارنګه په يوه وخت کي د دوو مينځو خويندو څخه جنسي خوند اخيستل هم جائز نه دي (يعني که چيري د يو سړي په ملکيت کي په يوه وخت کي دوې خويندي د مينزي په توګه وي نو د هغوی دواړو څخه د يوې څخه جنسي خوند نه سي اخيستلای بلکه په هغوی کي د يوې سره جماع او داسي نور

Maktaba Tul Ishaat.com

كارونه كولای سي ځكه چي په هغه دواړو كي د يوې شخه د جنسي خوندي اخيستلو شخه وروسته دوهمه خور حرامه كيږي او د دوهمي خور شخه تر هغه وخته جنسي خوند اخيستلای سي كله چي اوله خور پر ځان حرامه كړي همدارنګه كه چيري يو سړی يوه مينزه رانيسي او د هغې سره جماع وكړي بيا د هغه شخه وروسته د هغې خور رانيسي نو اوس يوازي د اولي سره جماع كولای سي د دوهمي سره جماع تر هغه وخته پوري حرامه ده تر شو چي اوله پر ځان حرامه نه كړي او د حرامولو صورت دادی چي يا خو د هغې د يو چا سره نكاح وكړي يا د خپل ملكيت شخه يې خلاصه كړي او يا خرڅه يې كړي ، يا صدقه يې كړي يا يې مكاتبه كړي .

په دې اړه بايد دا خبره په ذهن كي وي چي د ځينو برخو ازادول د ټولو برخو د ازادولو مترادف دی، د مثال په توګه يو شوک خپل مينزي ته ووايي چي ما ستا نيمه برخه يا څلورمه برخه ازاده كړه نو دا به د ټولي د ازادلو مترادف وي او د هغې سره جماع كول به ناجائز وي همدارنګه د هغې د ځينو برخو د خپل ملكيت شخه ايستل به د ټولي د ملكيت شخه د ايستلو مترادف (هم معنی) وي ، كه يوازي دا وويل سي چي اوله پر ما حرامه ده نو دد غه ويلو په وجه د دوهمي سره جماع كول جائز نه دي لكه څرنګه چي د حيض، نفاس، احرام او روژې په وجه دوهمه نه حلاله كيږي (يعني څرنګه چي يوه خور د حيض، نفاس او داسي نورو حالتو كي حرامه وي نو محض په دې وجه د هغه دوهمه خور نه حلاله كيږي ، همدارنګه يوازي دومره ويل چي اوله زما لپاره حرامه ده د دوهمي د حلالولو لپاره كافي نه دي) .

كه يو سړی د هغه دواړو خويندو سره جماع وكړي كوم د مينزي په توګه د هغه په ملكيت كي دي نو ددې شخه وروسته په هغه دواړو كي د يوې سره هم جماع نه سي كولای تر شو چي د پورتنۍ طريقې سره سم دوهمه پر ځان حرامه نه كړي .

كه يو سړی په هغه دواړو خويندو كي چي په يوه وخت كي يې په ملكيت كي وي يوه خرڅه كړي مګر هغه د يو عيب په وجه بېرته وركړي يا په تحفه كي يې وركړي مګر د خپل تحفې ختمولو سره هغه يې بېرته واخيستل يا د هغې نكاح يې وكړه مګر د هغې خاوند هغې ته طلاق وركړی او د هغې عدت هم پوره سوه نو په دغه صورتو كي هغه سړی په دوی كي د يوې سره هم جماع نه كوي تر شو چي دوهمه خور پر ځان حرامه نه كړي .

يو سړي د يوې مينزي سره نكاح وكړه او د هغې سره يې د جماع كولو شخه مخكي د هغې خور رانيول نو د هغه لپاره د رانيول سوي مينزي شخه جنسي خوند اخيستل جائز نه دي ځكه چي فراش (يعني د زوجيت حق) د نفس نكاح شخه نه ثابتيږي ځكه كه هغه رانيول سوې مينزي

Maktaba Tul Ishaat.com

سره نكاح وكړي نو دا به ويل كيږي چي هغه په فراش (يعني د زوجيت په حق) كي دوې خويندي جمع كړې او دا حرام دي.

كه يو سړى د خپل مينزي سره نكاح وكړي او د هغه څخه وروسته د هغې د خور سره نكاح وكړي نو دا نكاح به صحيح وي او كله چي نكاح صحيح ده نو اوس به د هغه مينزي سره جماع نه كوي كه څه هم تر اوسه يې د منكوحې سره جماع نه وي كړې او د هغه منكوحې سره دي تر هغه وخته پوري جماع نه كوي تر څو چي خپله مينزه پر ځان حرامه نه كړي كوم چي د هغې سره جماع نه ده سوې نو بيا منكوحه سره جماع كولاى سي.

كه يو سړى د خپلي مينزي سره د جماع كولو وروسته د هغې د خور سره نكاح وكړي مگر هغه نكاح په يو وجه فاسده سوه نو محض په نكاح سره هغه مينزه نه حرامه كيږي مگر كه چيري د نكاح څخه وروسته د منكوحې سره جماع وكړي نو د مينزي سره جماع كول حرام دي.

كه دوو خويندو يو سړي ته وويل چي موږ د دومره مهر په عوض كي ستا سره نكاح وكړه او دغه الفاظ د دواړو دژبي څخه يو ځاى ادا سي او هغه سړي په دوى كي د يوې سره نكاح قبوله كړه نو دا نكاح به جائز سي او كه چيري مخكي خپله هغه سړى هغه دواړو خويندو ته دا ووايي چي ما په تاسو كي د هري يوې سره د زرو روپو په عوض كي نكاح وكړه او په هغوى كي يې يوه قبوله كړي او دوهمه انكار وكړي نو د دواړو نكاح به باطله سي.

امام محمد رحمة الله عليه فرمايي كه يو سړى د نكاح كولو لپاره يو څوك خپل وكيل جوړ كړي او بيا يو بل سړى يې هم د نكاح لپاره وكيل جوړ كړى د دې څخه وروسته هغه دواړو د يوې ښځي سره د هغه سړي نكاح د هغه ښځو د اجازې څخه پرته وكړه او بيا وروسته معلومه سوه چي هغه دواړي ښځي رضاعي خويندي دي او د هغه دواړو وكيلانو دژبي څخه د نكاح الفاظ يو ځاى ادا سوي وه نو په دغه صورت كي د دواړو ښځو نكاح باطل ده همدارنگه كه چيري دغه دواړي نكاوي د هغه ښځو په اجازه سره وي يا د يوې په اجازه سره او د يوې د اجازې څخه پرته وي نو بيا هم دغه حكم دى.

د مثال په توگه زيد د دوو خويندو سره نكاح وكړه حالنكه په هغوى كي يوه خور د بل سړي په نكاح كي وه يا د يو دوهم خاوند د طلاق وركولو په وجه د عدت په ورځي كي وه نو په دغه صورت كي د زيد نكاح يوازي د دوهمي خور سره صحيح ده.

كه يو سړى خپلي ښځي ته طلاق رجعي يا يو طلاق بائن يا درې طلاقه وركړي يا د نكاح د فاسد كېدو په وجه نكاح منسوخ سي يا په شبه كي د اخته كېدو په وجه د يوې ښځي سره يې

Maktaba Tul Ishaat.com

جماع وکړه مقصد دا چي په دغه کي د کوم صورت پیدا کېدو په وجه چي هغه ښځه د عدې په ورځو کي وي نو دُ هغې د عدې په وخت کي د هغې د خور سره هغه سړی نکاح نه سي کولای او ځرنګه چي د هغې د عدې په وخت کي د هغې د خور سره نکاح کول جائز نه دي همدارنګه د هغې د هیڅ یو قریبي ښځي سره نکاح کول جائز نه دي کوم چي د ذوي الارحام څخه وي ، او د دواړو پر یوخت د یوه سړي سره نکاح کول حرام وي . او همدارنګه د عدې په وخت کي د هغې څخه پرته د نورو ځلورو ښځو سره نکاح هم حلال نه دي .

که یو سړی خپله مینزه چي ام ولد (یعني د هغه د کوچني مورووه) ازاده کړه نو ترڅو چي د هغې عده پوره نه سي د هغې د خور سره واده کول جائز نه دي البته د امام ابوحنیفة رحمه الله په نزد د هغې د عدې په زمانه کي د هغې څخه پرته د نورو ځلورو ښځو سره نکاح کول جائز دي ، د امام ابویوسف او امام محمد رحمة الله علیهما په نزد د هغې د عدې په وخت کي د هغې د خور سره هم نکاح کېدای سي .

که یو خاوند ووایي چي زما طلاقي سوي ښځي ویلي دي چي د هغې د عدې ورځي پوره سوي دي نو زه د هغې د خور سره نکاح کولای سم نو په دغه صورت کي به کتل کیږي چي د طلاق ورکولو څومره وخت سوی دی که چیري د طلاق ورکولو لږ وخت سوی وي چي په هغه کي د عدې پوره کېدو امکان نه وي نو د خاوند قول به معتبر نه وي همدارنګه د هغه د طلاقي سوي ښځي دا ویل چي زما عده پوره سوې ده د اعتبار وړ به نه وي مګر که چیري هغه یو داسي صورت بیان کړي چي په هغه کي د عدې پوره کېدو احتمال وي لکه هغه داسي ووایي چي د طلاق په دوهمه ورځ زما حمل چي د هغه اندامونه پوره وه ساقط سوی دی نو په دغه صورت کي د هغې قول معتبر دی او که چیري د طلاق دومره وخت تېر سوی وي چي په هغه کي د عدې پوره کېدو امکان وي نو که چیري ښځه د خپل خاوند د قول تصدیق وکړي یا ښځه په دغه مجلس کي موجود نه وي نو د خاوند قول به معتبر وي او د هغه لپاره به په یوه وخت کي د ځلورو ښځو سره نکاح کول یا د پخوانۍ ښځي د خور سره نکاح کول جائز وي ، حنفي علماء وایي چي په دغه صورت کي که چیري ښځه خاوند دروا غجن کړي نو د خاوند قول به معتبر وي .

د یو سړي ښځه په مرتد کېدو سره د ارالحرب ته ولاړه سي نو د خاوند لپاره د هغې د عدې پوره کېدو څخه مخکي د هغې د خور سره نکاح کول جائز دي لکه ځرنګه چي د هغې د مړې کېدو په صورت کي د هغې د خور سره نکاح کول جائز دي ، بیا که چیري هغه مرتده ښځه په مسلمانه کېدو سره د دارالحرب څخه بېرته راسي او د هغې خاوند د هغې د خور سره نکاح کړې وي نو د

Maktaba Tul Ishaat.com

هغې د خور نکاح به فاسده نه وي او که چیري د هغې د خور سره د نکاح کېدو څخه مخکي راسي نو د امام ابو حنیفة رحمه الله په نزد په دغه صورت کي هم هغه سړی د هغې د خور سره نکاح کولای سي مګر صاحبین وايي چي هغه سړی په دغه صورت کي د هغې د خور سره نکاح نه سي کولای.

د داسي دوو ښځو په یوه وخت کي په نکاح کول جائز نه دي چي هغوی د یوې بلي عمه یا د یوې بلي خاله وي، ددې صورت دادی چي د مثال په توګه زید د عمر د مور سره او عمر چي د زید د مور سره نکاح وکړه او د هغه دوې لوڼي پیدا سوې نو په هغوی کي هره یوه انجلۍ به د دوهمي انجلۍ عمه وي یا دا چي د مثال په توګه زید د عمر د لور سره او عمر د زید د لور سره نکاح وکړه او د هغوی لوڼي پیدا سوې نو په هغوی کي به هره یوه انجلۍ د بلي خاله وي او هغه دواړي په یوه وخت کي په خپل نکاح کول جائز نه دي.

که یو سړی د داسي دوو ښځو سره نکاح وکړي چي په هغوی کي یوه ددغه سړي لپاره حرامه وي که هغه د محرم کېدو په وجه یا د واده کېدو په وجه یاد بت پرست کېدو په وجه او دوهمه ښځه داسي وي چي د هغې سره د هغه سړي نکاح کول جائز وي نو په داسي صورت کي د هغه ښځي سره نکاح کول به صحیح وي کوم چي د هغه لپاره حلاله وي او ټاکل سوی ټول مهر به ښځي ته ورکول کیږي چي د هغې سره نکاح صحیح سوې ده، دغه صلح د امام ابو حنیفة رحمه الله د قول سره سم ده او که چیري هغه سړی د نکاح څخه وروسته د هغه ښځي سره جماع وکړي چي د هغه سره نکاح کول د هغه لپاره حلال نه وي نو هغه ښځي ته به مهر مثل ورکول کیږي او ټاکل سوی ټول مهر به هغه ښځي ته ورکول کیږي د کوم سره چي نکاح کول صحیح وه.

پنځم سبب مملوکه کېدل: یعني هغه مینزي چي د هغوی سره نکاح کول حرام دي، کله چي د مخکي څخه ازاده ښځه په نکاح کي وي همدارنګه ازادي ښځي او مینزي یو ځای په نکاح کول هم حرام دي، مدبره (یعني هغه مینزه چي هغې ته بادار ووایي چي زما د مرګ څخه وروسته ته ازاده یې) او ام ولد (یعني هغه مینزه چي د هغې د نس څخه د بادار کوچنی پیدا سوی وي) هم دا حکم دی.

که یو سړی په خپل عقد کي یوه ازاده ښځه او یوه مینزه په نکاح کړي نو د ازادي ښځي نکاح به صحیح وي او د مینزي نکاح په باطل سي په شرط ددې چي هغه ازاده ښځه داسي وي چي د هغې سره نکاح کول د هغه لپاره جائز وي که چیري هغه ازاده ښځه داسي وي چي د هغې سره نکاح کول د هغه لپاره جائز نه وي لکه د هغه عمه یا خاله نو بیا د مینزي نکاح به باطل نه وي

Maktaba Tul Ishaat.com

او كه چيري يو سړی اول د مينزي سره نكاح وكړي او بيا د ازادي ښځي سره نكاح وكړي نو د دواړو نكاح به صحيح وي .

كه يو سړی خپلي ښځي ته چي ازاده ښځه وي طلاق بائن يا درې طلاقه وركړي او هغه تر اوسه د عدې په ورځو كي وي او دغه سړي د يو مينزي سره نكاح وكړي نو په دغه صورت كي د امام ابوحنيفة رحمة الله عليه قول دادی چي د مينزي نكاح به جائز نه وي او امام ابويوسف او امام محمد رحمة الله عليهما وايي چي جائز ده ، او كه چيري يو سړی د خپل ښځي د طلاق رجعي د عدې په وخت كي د يو مينزي سره نكاح وكړي نو په دې باره كي اتفاقي مسئله داده چي د هغه نكاح به جائز نه وي .

كه يو سړی د مينزي او هغه ازادي ښځي سره نكاح وكړي چي د نكاح فاسد يا جماع بشبه د عدې ورځي تېروي نو د مينزي نكاح به صحيح سي .

كه يو سړی د خپل منكوحه مينزي د طلاق رجعي د عدې په وخت كي د يو بلي ازادي ښځي سره نكاح وكړي او بيا هغه منكوحه مينزه ته رجوع وكړي (يعني خپل وركړی طلاق بېرته واخلي) نو دا به جائز وي .

يو غلام د خپل بادار د اجازې څخه پرته د يو ازادي ښځي سره نكاح وكړي او د هغې سره يې جماع هم وكړه او بيا د بادار د اجازې څخه پرته يې د يو مينزي سره هم نكاح وكړه او ددې څخه وروسته د هغه بادار هغه ته د دواړو سره د نكاح كولو اجازه وركړه نو په دغه صورت كي د ازادي ښځي نكاح به صحيح او د مينزي نكاح به باطل سي .

كه يو سړی د يو بل سړي د مينزي سره د هغه د اجازې څخه پرته نكاح وكړي مگر د هغې سره يې جماع نه وي كړې او بيا د يو ازادي ښځي سره هم نكاح وكړي او ددې څخه وروسته د مينزي بادار د نكاح اجازه وركړي نو په دغه صورت كي هم د مينزي نكاح نه صحيح كيږي او كه چيري يو سړی د يوې مينزي سره د هغې د بادار د اجازې څخه پرته نكاح وكړي او بيا يې د يو ازادي انجلۍ سره هم نكاح وكړه او ددې څخه وروسته د مينزي بادار د مينزي د نكاح اجازهوركړه نو د انجلۍ نكاح به صحيح وي .

د مثال په توگه د زيد يوه بالغه لور او يوه بالغه مينزه ده ، زيد يو سړي ته وويل چي ما دغه دواړي د دومره مهر په عوض كي تا ته په نكاح دركړې ، هغه سړي د مينزي نكاح قبوله كړه نو دا نكاح به باطل وي او كه چيري ددې څخه وروسته هغه سړي د ازادي نكاح قبوله كړه نو دا نكاح به جائز وي .

Maktaba Tul Ishaat.com

كه يو سړی د ازادي ښځي سره د نكاح توان ولري مگر ددې سربېره يې د مينزي سره نكاح وكړه او هغه مينزه كه مسلمانه وي يا اهل كتاب وي (يعني يهودي يا عيسائي وي) نو نكاح به صحيح وي مگر دا خبره دي په ذهن كي وي چي د ازادي ښځي سره د نكاح كولو د قدرت سربېره د مينزي سره نكاح كول مكروه دي.

كه يو سړی د څلورو مينځو او پنځو ازادو ښځو سره نكاح وكړي نو يوازي د مينځو نكاح به صحيح وي.

شپږم سبب د بل چا د حق تعلق : يعني د هغه ښځو سره نكاح كول حرام دي چي د هغوی د يو بل سړي سره حق متعلق وي او كومي ښځي چي د چا په نكاح كي وي يا د چا په عده كي وي، عده كه د طلاق په وجه وي يا د مرګ او يا د نكاح فاسده په وجه كي چي په هغه كي جماع سوې وي يا شبه د نكاح نو د داسي ښځو سره نكاح كول جائز نه دي.

كه يو سړی په ناخبرتيا كي د بل چا د منكوحې سره نكاح وكړي او د هغې سره جماع وكړي نو اوس كله چي په هغوی كي جلاوالی راسي نو پر ښځي باندي عده واجب ده او كه چيري هغه خبر وو چي دا د بل سړي ښځه ده نو د جلاوالي څخه وروسته پر هغه ښځه باندي عده تېرول واجب نه دي او د هغې د خاوند لپاره د عدې په زمانه كي د هغې سره جماع كول ناجائز نه وي او كه چيري د هغې خاوند هغې ته طلاق وركړي نو د عدې په زمانه كي د هغې سره نكاح كول جائز دي په شرط ددې چي د عدې څخه پرته بل يو مانع موجود نه وي.

د كومي ښځي چي د زنا حمل وي د هغې سره نكاح كول جائز دي مگر تر څو چي ولادت ونه سي خاوند ته د هغې سره جماع كول جائز نه دي او اسباب جماع (يعني مچه اخيستل، لاس وروړل) هم جائز نه دي، او كه چيري هغه د هغه ښځي سره چي د زنا حمل يې وي هغه سړی نكاح وكړي چي د هغې سره يې زنا كړې ده نو د هغه نكاح به صحيح وي او هغه د ولادت څخه مخكي هم د ښځي سره جماع كولای سي او هغه ښځه به د نفقي مستحقه وي.

يو سړی د يوې ښځي سره نكاح وكړي او څه وخت وروسته د ښځي حمل ساقط سي چي د هغه اندامونه ظاهر سوي وه اوس د حمل د اسقاط كه چيري د نكاح څخه څلور مياشتي يا ددې څخه زيات وخت وروسته سوی وي نو نكاح به جائز وي او كه چيري د څلورو مياشتو څخه په كم وخت كي اسقاط سوی وي نو نكاح به جائز نه وي ځكه د حمل اندامونه د څلورو مياشتو څخه په كم كي نه ظاهرېږي.

او داسي حامله ښځه چي د هغې په باره كي دا معلومه سي چي د هغې حمل د فلاني سړي د

Maktaba Tul Ishaat.com

جائز نطفې څخه دی نو په اتفاق سره دا مسئله ده چې د هغې سره نکاح کول جائز نه دي، امام ابویوسف رحمه الله د امام ابوحنیفة رحمه الله څخه دا قول نقل کړی دی که چیري یو داسي ښځه وي چې د حربي کافر څخه حامله سوې وي او په هجرت کولو سره یا په مینزه جوړولو سره دارالاسلام ته راوستل سوي وي نو د هغې سره نکاح کول جائز دي مګر تر څو چې د هغې ولادت ونه سي نو د هغې سره جماع کول جائز نه دي.

امام طحاوي رحمه الله پر دغه قول باندي باور کړی دی مګر امام محمد رحمه الله د امام ابوحنیفة رحمه الله یو قول نقل کړی دی چې په دغه صورت کي به نکاح جائز نه وي او پر دې باندي امام کرخي رحمه الله باور کړی دی او دا قول زیات صحیح او د باور وړ دی.

که یو څوک د خپل ام ولد د مینزي نکاح د یو چا سره وکړي په داسي حال کي چې هغه د خپل بادار څخه حامله سوې وي نو دا نکاح به باطل وي مګر که چیري هغه حامله نه وي نو بیا نکاح به صحیح وي.

یو څوک د خپلي مینزي سره جماع وکړي او د هغه څخه وروسته یې یو چا ته په نکاح وکړي نو نکاح به جائز وي مګر د بادار لپاره دا مستحب دي چې هغه د خپل نطفې د ساتني لپاره استبراء وکړي (یعني د حیض راتلو څخه وروسته د خاوند سره جماع وکړي) او کله چې دا نکاح جائز سوه نو د خاوند لپاره (د استبراء د انتظا رکولو څخه پرته) د هغې سره جماع کول جائز دي دا د امام ابوحنیفة او امام ابویوسف رحمة الله علیهما قول دی، او امام محمد رحمه الله فرمایي چې زه دا نه خوښوم چې د هغې خاوند د استبراء څخه پرته د هغې سره جماع وکړي، فقیه ابواللیث رحمه الله وایي چې په دې اړه د امام محمد رحمه الله قول پر احتیاط مبني دی او موږ پر دغه قول عمل کوو مګر په دغه مسئله کي د امامانو د اختلاف قول په هغه صورت کي دی کله چې بادار د مینزي نکاح د استبراء کولو څخه پرته کړې وي او که چیري د نکاح څخه مخکي استبراء سوي وي نو په دغه صورت کي د ټولو په اتفاق سره خاوند بېله استبراء کولو د هغې سره جماع کول جائز دي.

یو سړي یوه ښځه پر زنا کولو ولیدل او بیا وروسته یې د هغې سره نکاح وکړه نو د امام ابوحنیفة او امام ابویوسف رحمة الله علیهما په نزد د استبراء کولو څخه مخکي هم د هغې سره جماع کول جائز دي مګر د امام محمد رحمه الله قول په دغه صورت کي دا دی چې زه دا نه خوښوم چې د هغې سره د استبراء کولو څخه پرته جماع وکړل سي او که چیري یو سړی د خپل مینزي سره نکاح وکړي نود حنفیه په نزد دا جائز کیږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

که یوه ښځه په بند سره د دارالحرب څخه دارالاسلام ته راوستل سوه او د هغې خاوند ورسره نه وي نو پر هغې به عده واجب نه وي او د هغې سره د هر سړي نکاح کیدای سي، همدارنګه که یوه ښځه په مسلمانه کېدو سره د دارالحرب څخه په هجرت کولو دارالاسلام ته راسي نو د امام ابو حنیفة رحمه الله د قول سره سم پر هغې عده واجب نه ده مګر د صاحبینو په نزد پر هغې عده واجب ده (تر څو چي د هغې عده پوره نه سي) د هغې سره نکاح کول جائز نه دي مګر په دې باره کي هیڅ اختلاف نه سته چي د هغې سره جماع کول به تر هغه وخته پوري جائز نه وي تر څو چي د یو حیض راتلو په وجه استبراء ونه سي.

اووم سبب د مذهب اختلاف : یعني هغه ښځي چي د مشرک کېدو په وجه د هغوی سره نکاح کول حرام دي لکه د اور عبادت کونکي او د بُتانو عبادت کونکو ښځو سره نکاح کول جائز نه دي که څه هم هغه ازادي وي یا مینزي وي، او د بُت عبادت کونکو په حکم کي هغه ښځي هم داخلي دي چي هغوی د لمر او ستورو عبادت کوي یا د خپلو خوښ کړو عکسونو عبادت کوي یا د یوناني حکیمانو د نظر سره سم د خدای د بې کار (معطل کېدو) عقیده ولري، یا په دهریت کي اخته وي او یا د باطنیه او اباحیه ډلو سره تعلق لري (باطنیه ډله هغه ډلي ته وايي چي د قرآن کریم د باطني معنی عقیده لري او اباحیه ډله هغه ډلي ته وايي چي د هغوی په نزد د دنیا هر کار که ښه وي که بد کول جائز دي) همدارنګه د هر هغه مذهب منونکي ښځي هم په دغه حکم کي داخلي دي چي د هغه اختیارول د کفر سبب وي همدارنګه د خپل هغه مینزي سره چي هغه د اور عبادت کونکې وي جماع کول هم ناجائز دي.

مسلمان د کتابیه (یعني یهودي او عیسائي) ښځو سره چي په دارالحرب کي اوسیږي او د ذمي کافري (یعني د مسلمانانو په هیواد کي په محصول ورکولو سره اوسیدونکو) ښځو سره واده کول جائز دي که څه هم هغه ازادي وي یا مینزي وي، مګر غوره خبره داده چي د هغو سره هم واده ونه کړل سي او نه د هغوی ذبح سوی حیوان بېله ضرورته وخوړل سي که یو مسلمان د یو یهودی یا عیسائی ښځي سره واده وکړي نو هغه ته به دا اختیار وي چي هغه خپله ښځه د هغې د عبادت خانې څخه راوګرځوي او نه هغه په خپل کور کي شراب جوړولو ته نه پرېږدي مګر مسلمان خاوند ته به دا اختیار نه وي چي هغه عیسائي یا یهودي ښځه د حیض او نفاس او د جنابت په وجه پر غسل کولو باندي مجبوره کړي.

که یو مسلمان په دارالحرب کي د یو کتابیه ښځي سره نکاح وکړي نو د هغه نکاح به جائز وي مګر مکروه به وي او بیا د دغه نکاح څخه وروسته دواړه ښځه او خاوند دارالاسلام ته راسي

نو په دارالحرب كي كړې نكاح به باقي وي مګر كه چيري دا صورت وي چي خاوند دارالاسلام ته راسي او ښځه هلته پريږدي نو د هيواد د بدلېدو په وجه به په دواړو كي جلاوالي راسي.

كوم خلك چي د يو آسماني مذهب پيروان وي او د هغوی لپاره آسماني كتاب هم وي لكه د حضرت ابراهيم او حضرت شعيب عليهما السلام صحيفې او د حضرت داؤد عليه السلام زبور او داسي نور نو هغه خلک په اهل كتاب كي شمېرل كيږي او د هغوی د ښځو سره د مسلمانانو نكاح كول جائز دي او د هغوی ذبح سوی حيوان خوړل هم د هغوی لپاره حلال دی او كه چيري په مور او پلار كي يو كتابي يعني يهودي يا عيسائي وي او دوهم د اور عبادت كونكی وي نو هغه سړی به په اهل كتاب كي شمېرل كيږي.

يو مسلمان د يوې كتابيه ښځي سره واده وكړي او بيا هغه ښځه د اور عبادت كونكې سوه نو هغه به د خپل مسلمان خاوند لپاره حرامه وي او د دواړو واده به كالعدم وګڼل سي، او كه چيري د يهودي ښځي سره واده وكړي او هغه عيسائي سوه يا دعيسائي ښځي سره يې واده وكړی مګر وروسته هغه يهوديه سوه نو په دغه صورت كي به نكاح باقي وي، په دې باره كي دا اصل په ذهن كي ساتل پكار دي چي د مذهب بدلولو په وخت كي دا كتل كيږي چي په خاوند او ښځه كي د خپل مذهب په پرېښودو سره بل مذهب قبول كړی دی كه چيري هغه يو داسي مذهب وي چي د هغه په وجه دوی نوی واده وكړي نود هغه مذهب په وجه د هغوی دواړو واده جائز نه سي (مثلاد اور عبادت كونكي او داسي نور) او كه چيري هغه مذهب داسي وي چي د هغه د پيروانو او مسلمانانو په مينځ كي واده كول جائز نه وي نو په خاوند او ښځه كي چي كوم يو په خپل مذهب پرېښودو سره هغه مذهب قبول كړي نو واده به كالعدم سي.

اوس پاته سوه دا خبره كه چيري مسلمان خاوند او يهودي يا عيسائي ښځي كي يو څوک مجوسيت (د اور عبادت) اختيار كړي او د هغه په وجه د دواړو نكاح فاسد سي نو ددې څخه وروسته به څه حكم وي نو په دې باره كي مسئله داده كه چيري د واده د فاسد كېدو سبب ښځه جوړه سوې وي يعني ښځي مجوسيت اختيار كړی وي نو د دواړو په مينځ كي به جلاوالی راوستل كيږي او هغې ته به مهر نه وركول كيږي په شرط ددې چي هغې د جماع څخه مخكي خپل مذهب بدل كړی وي او كه چيري هغې د جماع كولو څخه وروسته مجوسيت اختيار كړی وی نو بيا هغې ته به پوره مهر وركول كيږي او كه چيري د واده د فاسد كېدو سبب سړی وي يعني خاوند خپل مذهب پرېږدي او مجوسيت اختيار كړي او په خاوند او ښځه كي جلاوالی وسي نو هغه ښځي ته به د ټاكل سوي مهر نيم وركول كيږي په شرط ددې چي د دغه صورت د

Maktaba Tul Ishaat.com

جماع څخه مخکي واقع سوی وي او که چیري مهر تاکل سوی نه وي نو یوه جوړه جامې به ورکول کیږي او که چیري د جماع څخه وروسته داسي وسول نو بیا به هغه ښځي ته پوره مهر ورکول واجب وي.

کوم مسلمان چي مرتد سي نو د هغه نکاح د یو مرتدي ښځي سره جائز ده او د یو کافري یا مسلماني سره د هغه نکاح جائز نه ده، همدارنگه که چیري یوه مسلمانه ښځه مرتده سي نو د هغې نکاح به د هیچا سره جائز نه وي.

د یوې مسلماني ښځي وادہ نه د مشرک سره جائز دی او نه د کتابي یعني یهودي او عیسائي سره، د بت عبادت کونکي او اُور عبادت کونکي ښځي وادہ د مشرک او کافر سره صحیح کیږي مگر د مرتد سره نه صحیح کیږي، د ذمي کافرانو وادہ په خپلو کي د یو بل سره جائز دی که څه هم د هغوی مذهبونه مختلف وي.

د مسلمان لپاره د مسلماني ښځي په موجودتیا کي د کتابیه (یهودي او عیسائي ښځي) سره او د خپل کتابیه ښځي په موجودتیا کي د مسلماني ښځي سره عقد ثاني جائز دی او د نوبت (یعني د شپې په وار ورکولو کي) د دواړو حقوق برابر دي.

اتم سبب مالک کېدل: یعني هغه ښځي چي د مالک کېدو په وجه د خپل مملوک (غلام) لپاره حرامي دي، د هیڅ یو ښځي لپاره دا جائز نه دي چي هغه دخپل غلام سره نکاح وکړي همدارنگه هغې ته د هغه غلام سره هم نکاح کول جائز نه دي چي د هغې او بل سړي په مینځ کي مشترک وي، که د نکاح څخه وروسته په خاوند او ښځه کي یو هم د یو بل د ټول یا لږ مالک سي نو نکاح به باطل سي.

که یو سړی د خپلي مینزي سره نکاح وکړي یا د هغه مینزي سره نکاح وکړي چي د هغې د یو برخي مالک وي نو نکاح به صحیح نه وي مگر په دې باره کي ددغه خبري لحاظ ساتل ضروري دي چي زموږ په زمانه کي د مینځو او غلامانو د رانیولو او پلورلو رواج بالکل نه سته او په نن زمانه کي هغه شرطونه او قیدونه تر لاسه کیږي چي د هغه په موجودتیا کي د مینزي سره جماع کول جائز وي ځکه ځیني علماء وایي که چیري د مینزي ساتلو رواج وي نو د هغې سره جماع کول نه دي پکار بلکه د هغه مینزي سره نکاح کول پکار دي که چیري په حقیقت کي مینزه نه وي بلکه ازاده ښځه وي نو دنکاح په وجه د هغې سره جماع کول به جائز وي.

که یو ازاد سړی خپله ښځه (چي د یو چا مینزي وي) په شرط خیار سره رانیسي نو په دغه صورت کي د هغه نکاح باطل نه ده دا د امام ابو حنیفة رحمه الله قول دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

نهم سبب طلاق : یعني هغه ښځي چي د طلاق په وجه حرامي کیږي ، که یو سړی خپل ښځي ته چي ازاده وي درې طلاقه ورکړي نو ددې ځخه وروسته د هغې سره نکاح نه جائز کیږي مگر که چیري هغه ښځه (د خپل عدې پوره کولو ځخه وروسته د یو بل سړي سره نکاح وکړي او په دواړو کي کوروالي وسي نواو بیا هغه سړي ته طلاق ورکړي نو د عدې تېرولو ځخه وروسته د مخکني خاوند لپاره د هغه ښځي په نکاح کول جائز کیږي، او که چیري یو سړی د یو مینزي سره نکاح وکړي او بیا هغې ته دوه طلاقه ورکړي نو ددې ځخه وروسته د هغې سره نکاح کول جائز نه دي او ځرنگه چي د هغې سره نکاح کول جائز نه دي همدارنگه د هغې سره جماع کول هم صحیح نه دي .

یو ځوک د یو چا د مینزي سره نکاح وکړي او بیا دوه طلاقه ورکړي ددې ځخه وروسته هغه مینزه رانیول او ازاده یې کړه اوس که چیري د هغې سره نکاح کول غواړي نو په هغه صورت کي به جائز وي چي هغه د یو بل سړي په نکاح کي راسي او هغه سړی جماع ورسره وکړي او بیا هغه سړی طلاق ورکړي او کله چي د عدې ورځي تېري سي نو هغه سړی (یعني اول خاوند) د هغې سره نکاح کولای سي .

یو ځو اړوند ضروري مسئلې

تر دغه ځایه د محرمات (یعني هغه ښځو چي د هغوی سره نکاح کول حرام دي) بحث پوره سو ، اوس ضروري ده چي ددغه باب سره اړوند یو ځو ضروري مسئلې ذکر سي.

نکاح متعه باطل ده او کله چي د یو ښځي سره داسي نکاح (متعه) جائز نه ده نو د هغې سره جماع کول هم جائز نه دي او نه پر هغې طلاق واقع کیږي او نه پر هغې د ایلاء او ظهار احکام نافذ کیږي همدارنگه د هغوی په مینځ کي د وراثت هیڅ لړی نه ستته .

د نکاح متعه صورت دادی چي یو سړی د یو داسي ښځي سره چي مواضع (یعني د بل چا د زوجیت یا عدې وغیره) ځخه خالي وي ، دا ووایي چي ته د دومره روپو په عوض کي تر لسو ورځو پوري خپل نفس ما متمتع یعني برخمن کړه او ځرنگه چي نکاح متعه ناجائز ده همدارنگه موقت نکاح هم ناجائز ده که ځه هم په موقت نکاح کي د لږیا ډېر وخت تاکل وي یا تاکل نه وي په هر صورت کي ناجائز ده مگر که چیري ددواړه د یو داسي وخت تاکل وکړي چي دومره اوږد وي چي تر هغه وخته پوري د دواړو ژوندي پاته کېدل ناممکن وي مثلا دا ووایي چي موږ د زرو کالو لپاره نکاح کوو نو په دغه صورت کي د نکاح موقت حکم نه جاري کیږي بلکه نکاح به

Maktaba Tul Ishaat.com

صحیح وي او د وخت شرط به باطل وي لکه څرنګه چي د نکاح پر وخت کي د قیامت راتلل، د دجال خروج او یا د عیسی علیه السلام د نزول تر وخته پوري د وخت بیانولو پوري نکاح صحیح کیږي او د وخت شرط باطلیږي همدارنګه که چیري د نکاح په وخت کي د وخت تاکنه ونه کړي مګر په زړه کي وخت تاکل سوی وي یعني د نکاح کونکي دا فکر وي چي هغه به تر یوه کاله پوري د ځان سره ساتم او بیا به یې پرېږدم نو په دغه صورت کي هم نکاح صحیح کیږي او که چیري یو سړی د یو ښځي سره په دې شرط نکاح وکړي چي د یوې میاشتي وروسته به طلاق ورکوم نو نکاح صحیح کیږي همدارنګه که چیري یو سړی د نکاح پر وخت د ښځي سره دا شرط کښیږدي چي زه به د ورځي ستا سره یم او د شپې به نه یم نو دا نکاح هم صحیح کیږي.

که سړي او ښځي دواړو احرام تړلی وي نو دهغوی لپاره د احرام په حالت کي نکاح کول جائز دي همدارنګه که چیري یو ولي (سرپرست) احرام تړلی نو د احرام په حالت کي د ښځي نکاح تړلای سي.

یوې ښځي (د قاضي په عدالت کي) د یو سړي د مثال په توګه د زید په باره کي دعوه وکړه چي هغه زما سره نکاح کړې ده او د ثبوت په توګه یې دوه شاهدان هم وړاندي کړل او قاضي فیصله وکړه چي زید د هغه ښځي خاوند دی حالنکه په حقیقت کي زید د هغه ښځي سره نکاح نه وي کړې نو د هغه ښځي لپاره دا جائز دي چي هغه د زید سره و اوسیږي او د زید لپاره دا جائز دي که چیري هغه ښځه د جماع خواهش وکړي نو جماع دي ورسره وکړي دا د امام ابوحنیفة رحمة الله علیه قول دی او د امام ابویوسف رحمة الله علیه اول قول هم دی مګر د هغه دوهم قول ددې خلاف دی او د امام محمد رحمة الله علیه د قول سره سم دی، د امام محمد رحمة الله علیه قول دا دی چي په دغه صورت کي د سړي لپاره د هغه ښځي سره جماع کول جائز نه دي، په ذکر سوي مسئله کي د قاضي فیصله به د عقد نکاح په حکم کي وي (یعني دا به ګڼل کیږي چي قاضي د دوی نکاح کړې ده) ځکه ښځي ته د خپل سړي د اوسیدو او د هغې په خواهش سره زید ته د هغې سره جماع کول هم جائز دي مګر شرط دا دی چي هغه وخت په ښځه کي د نکاح صلاحیت وي (یعني داسي یو مانع موجود نه وي چي هغه د زید ښځه جوړېدو مانع وي) که چیري دا صورت وي چي د قاضي د فیصلې پر وخت هغه د بل چا په نکاح کي وي یا د اول خاوند د طلاق ورکولو په وجه د عدې په ورځو کي وي یا هغه سړی یعني زید هغې ته درې طلاقه ورکړي وي نو بیا د قاضي فیصله به نه جاري کیږي او هغه ښځه به د زید ښځه نه جوړیږي همدارنګه د اکثرو علماؤ په نزد د قاضي د فیصلې د جاري کېدو یو شرط دا هم دی چي د هغه فیصلې پر وخت شاهد هم موجود وي او که چیري

Maktaba Tul Ishaat.com

خپله زید د یو ښځي په باره کي دعوه وکړي چي ما ددغه ښځي سره نکاح کړې ده او د خپل دعوې په ثبوت کي شاهد هم وړاندي کړي نو ددې به هم هغه حکم وي کوم ذکر سو .

همدارنګه که چیري یو ښځه د قاضي په عدالت کي دعوه وکړي چي زما خاوند ما ته طلاق راکړی دی او هغه د درواغو شاهد هم وړاندي کړي نو قاضي به د طلاق فیصله جاري کوي سره ددې چي هغه ښځه پوهیږي چي ما درواغ ویلي دي نو د قاضي دغه فیصله به د طلاق په حکم کي وي او پر هغه ښځي به طلاق واقع سي ، ددې څخه وروسته هغه ښځي د عدې تېرولو څخه وروسته د بل سړي سره نکاح کولای سي او د شاهد لپاره هم د هغه ښځي سره نکاح کول جائز دي او هغه ښځه به د خپل اول خاوند یعني زید لپاره حرامه سي مګر امام ابویوسف رحمه الله وايي چي په دغه صورت کي هغه ښځه به د اول خاوند یعني زید لپاره حلاله نه وي یعني د هغه سره نکاح نه سي کولای او نه د هغه دوهم خاوند سره نکاح کول به جائز وي ، د امام محمد رحمه الله دا قول دی چي تر څو پوري دوهم سړی (چي د هغه سره یې نکاح کړې وي) د هغه سره جماع ونه کړي د اول خاوند لپاره به حلاله وي او که چیري دوهم سړی د هغې سره جماع وکړي نو بیا تر څو چي د هغې عدې پوره نه سي د عدت واجب کېدو په وجه به د اول خاوند لپاره حرامه وي یعني د امام محمد رحمه الله په نزد د وهم سړي سره د هغې نکاح بالکل جائز نه ده .

د مثال په توګه زید د یو خالدې په باره کي دعوه وکړه چي هغې زما سره نکاح کړې ده مګر خالدې انکار وکړ ، ددې څخه وروسته زید د خالدې سره صلح کول وغوښتل او هغې ته یې وویل که ته اقرار وکړې نو زه به تا ته سل روپۍ درکړم ، خالدې اقرار وکړ نو اوس پر زید باندي دغه مال یعني خالدې ته سل روپۍ ورکول واجب دي او د خالدې دغه اقرار به د نکاح عقد ګڼل کیږي، که چیري خالدې دغه اقرار د شاهدانو په مخکي کړی وي نو نکاح به صحیح سي او د خالدې لپاره به د زید سره اوسیدل عند الله صحیح ګڼل کیږي (یعني په دغه صورت کي هغوی دواړه به نه یوازي په دنیاوي او قانوني توګه سره ښځه او خاوند ګڼل کیږي بلکه په دې وجه به پر هغوی ګناه هم نه وي) مګر که چیري خالدې د اقرار پر وخت شاهد وړاندي نه کړ نو نکاح نه منعقد کیږي او نه به د خالدي لپاره د زید سره اوسیدل جائز وي .

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د ښځي د عمه او خاله سره نكاح

﴿۳۰۲۶﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُجْمَعُ بَيْنَ الْمَرْأَةِ وَعَمَّتِهَا وَلَا بَيْنَ الْمَرْأَةِ وَخَالَتِهَا . متفق عليه.

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د خپلي ښځي د عمه او خاله سره (د خپلي ښځي په موجودګي کي) نكاح نسي کېدای . (بخاري او مسلم)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۱۶۰، رقم: ۵۱۰۹، ومسلم ۲\۱۰۲۸، رقم: ۳۳-۱۴۰۸.

تشريح: د عمه او خاله څخه عموميت مراد دی يعني که حقيقي (سکه) عمه او خاله وي لکه ښځي د پلار او مور خور، او که مجازي وي لکه د هغه ښځي د نيکه يا ورنيکه او انا خور، په حديث کي د عمه د ورېرې او د خاله د خورزې تخصيص اتفاقي دی چي کېدای سي يو چا په دې اړه پوښتنه کړې وي ځکه رسول الله ﷺ يوازې د هغه دوو يادونه وکړه کنه نو د دغه دواړو څخه پرته نوري هم داسي ښځي سته چي د هغوی په يو وخت کي په نكاح کول حرام دي ، په تېرو مخونو کي د دې تفصيل تېر سوی دی .

د رضاعت ذکر

﴿۳۰۲۷﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعَةِ مَا يَحْرُمُ مِنَ الْوِلَادَةِ . رواه البخاري.

د بي بي عائشي رضي الله عنها څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي د نسب په خاطر حرام وي هغه په رضاعت (تی رودل) کي هم حرام وی (يعني د چا سره چي نكاح د نسب په خاطر حرامه وی همداسي په تی رودلو سره هم حرامېږي).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۲۳۸، رقم: ۵۲۳۹.

تشريح: يعني کوم قرابت چي د نسب په وجه د يو بل لپاره حرام دی هغه قرابت د تي ورکولو لپاره هم د يو بل لپاره حرام دی د مثال په توګه څرنګه چي نسبي يعني حقيقي خور د خپل ورور لپاره حرامه ده همدارنګه رضاعي خور هم حرامه ده مګر ځيني داسي مسائل دي چي د دغه

Maktaba Tul Ishaat.com

کليې څخه مستثنی دی لکه په ځينو صورتو کي نسبي قرابت او د رضاعي قرابت په مينځ کي فرق وي چي د هغه تفصيل په تېرو مخونو کي تېر سوی دی.

علامه نووي رحمه الله فرمايي چي دده خبري دليل دی چي که څه هم په رضاعت سره نکاح حرامېږي او نظر، خلوت او مسافرت حلالېږي (يعني د مثال په توګه د رضاعي مور او زوی په مينځ کي نکاح حرامېږي او يو بل ته نظر کول، د يو بل سره په يوازيوالي کي ناسته او ولاړه او د يو بل سره يوازي سفر کول جائز دي) مګر په رضاعي قرابت سره د قرابت ټول احکام نه جاري کېږي، په رضاعي قرابت کي نه خو د يو بل وارث کېږي نه پر يو بل باندي نفقه واجبېږي نه د يو بل په ملکيت کي په راتلو سره ازادي تر لاسه کولای سي، او که چيري تی ورکونکی خپل تي رودونکی قتل کړي نو د هغه پر ذمه د هغه قصاص هم نه ساقط کېږئ په دغه ټولو صورتو کي هغه دواړه رضاعي قريبان بالکل د پردي خلکو په ډول دي.

﴿۳۰۲۸﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ جَاءَ عَمِّيْ مِنَ الرَّضَاعَةِ فَاسْتَأْذَنَ عَلَيَّ فَأَبَيْتُ أَنْ

د بي بي عائشي رضي الله عنها څخه روايت دی زما د شودو د رودلو اکا راغی ما ورته وويل تر څو پوري

آذَنَ لَهُ حَتَّى أَسْأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى

چي ما د نبي کريم ﷺ څخه پوښتنه نه يې کړې تا ته د ننه راتلو اجازت نه درکوم رسول الله ﷺ

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ إِنَّهُ عَمُّكِ فَأْذَنِي لَهُ قَالَتْ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ

تشريف راوړ نو ما ځيني پوښتنه وکړه نبي کريم ﷺ راته وفرمايل: دا خو ستا اکا دی د راتلو اجازت به دي ورکړی وای ما عرض وکړ يا رسول الله!

إِنَّمَا أَرْضَعَتْنِي الْمَرْأَةُ وَلَمْ يُرْضِعْنِي الرَّجُلُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

ما ته خو يوې ښځي شيدې را کړي دي سړی خو را باندي نه دي چښلي نبي کريم ﷺ ورته

وَسَلَّمَ إِنَّهُ عَمُّكِ فَلْيَلِجْ عَلَيْكِ وَذَلِكَ بَعْدَ أَنْ ضُرِبَ عَلَيْنَا الْحِجَابُ. متفق عليه

وفرمايل هغه ستا اکا دي هغه ته د ننه راتلو اجازت ورکوه دا واقعه د هغه وخت ده چي د پردې احکام نافذ سوي وه. (بخاري او مسلم).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۳۳۸، رقم: ۵۲۳۹، ومسلم ۲\۱۰۷۰، رقم: ۷\۱۴۴۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

تشریح بي بي عائشې ﷺ چي د کوم رضاعي اکا ذکر کړی دی د هغه نوم افلح وو او بي بي عائشې د کومي ښځي تی رودلی وو د هغې خاوند ابوالقیس وو هغه او ابوالقیس وروڼه وه د دغه قرابت سره هغه دبي بي عائشې ﷺ اکا سو .

ما ته خو ښځي تی راکړی دی ...الخ: ددې څخه د بي بي عائشې ﷺ مطلب دا وو چي ما ته خو ښځي تی راکړی دی ځکه نو زما د رضاعت تعلق یوازي د ښځي سره قائم سوی دی نه د سړي سره ، یعني بي بي عائشې رضي الله عنها دا ګڼل چي د یو ښځي تی خوړل د هغه د خاوند د قرابت سره تعلق نه لري نو رسول الله ﷺ د بي بي عائشې ﷺ د دغه ګمان تصحیح وکړل چي د یو ښځي په تي رودلو سره لکه څرنګه چي د هغه ښځي سره او د هغه د خاوند د قریبانو سره هم رضاعي تعلق قائمیږئ او څرنګه چي د رضاعي مور، خور او رضاعي خاله او د هغې لور رضاعي خور وي همدارنګه د هغه د خاوند ورو ر هم رضاعي اکا وي او رضاعي اکا د حقیقي اکا په ډول دی ځکه افلح ستا کور ته راتلای سي د هغه څخه شرم او پرده نه سته .

ددې څخه معلومه سوه چي څرنګه د تي رودونکي د قریبانو سره د رضاعت حرمت ثابتیږئ همدارنګه د هغه د خاوند د قریبانو سره هم د رضاعت حرمت ثابتیږي .

د رضعي ورېرې سره نکاح حرامه ده

﴿۳۰۲۹﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ اَنَّهُ قَالَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ هَلْ لَكَ فِيْ بِنْتِ عَمِّكَ حَمْزَةَ فَاِنَّهَا

د حضرت علي ﷺ څخه روایت دی چي ما عرض وکړیا رسول الله ! ایا تاسو د خپل اکا حمزه ﷺ د لور سره نکاح نه کوې ؟

اَجْمَلُ فَتَاةٍ فِيْ قُرَيْشٍ فَقَالَ لَهُ اَمَا عَلِمْتَ اَنَّ حَمْزَةَ اَخِيْ مِنَ الرَّضَاعَةِ وَاِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ مِنَ الرَّضَاعَةِ مَا حَرَّمَ مِنَ النَّسَبِ . رواه مسلم .

هغه د قریشو یو ښائسته انجلۍ ده نبي کریم ﷺ وفرمایل : اې علي ! تا ته معلومه نه ده چي حمزه ﷺ زما رضعي ورور دی او خداي تعالي چي کوم شیان د نسب په وجه حرام کړی دي هغه یې د رضاعت د لحاظه هم حرام کړی دي . (مسلم) .

تخریج: مسلم في الصحیح ۲\۱۰۷۱، رقم: ۱۱\۱۴۴۶.

تشریح حمزه د ابولهب په ډول د رسول الله ﷺ سکه اکا وو ، مګر د رسول الله ﷺ د تي رودلو شریک ورور هم وو، ددې صورت دا وو چي د ابولهب سره یوه مینزه وه چي د هغې نوم ثوبیه وو

Maktaba Tul Ishaat.com

، ثوبیه مخکې حضرت حمزه رضي الله عنه ته تی ورکړی دي بیا څلور کاله وروسته یې رسول الله ﷺ ته هم تی ورکړی دی دا هغه ثوبیه ده چي ابولهب د رسول الله ﷺ د پیدا کېدو په خوشحالۍ کې هغه ازاده کړه ، ویل کیږي چي د رسول الله ﷺ پر زیږېدو باندي ابولهب د خپل خوشحالۍ اظهار کړی وو د هغه په وجه د دوشنبې په ورځ د الله تعالی له طرفه د ابولهب په عذاب کي کمي کیږي ځکه چي رسول الله ﷺ د دوشنبې په ورځ پیدا سوی وو .

رسول الله ﷺ ته څلورو ښځو تی ورکړی دی ۱: د رسول الله ﷺ مور مبارکه، ۲: بي بي حلیمه رضي الله عنها ، ۳: ثوبیه، ۴: او ام یمن چي د رسول الله ﷺ د پلار محترم مینزه وه .

د رضاعت مقدار

﴿۲۰۳۰﴾: وَعَنْ اُمِّ الْفَضْلِ قَالَتْ اِنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تُحَرِّمُ

د حضرت ام فضل رضي الله عنها څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : نکاح نه حراموي

الرَّضْعَةُ اَوِ الرَّضْعَتَانِ وَفِيْ رِوَايَةِ عَائِشَةَ قَالَ لَا تُحَرِّمُ الْمَصَّةُ وَالْمَصَّتَانِ وَ

یو یا دوه واره تی رودل د بي بي عائشې رض په روایت کي دا الفاظ دي چي یو یا دوه واره د تی

فِيْ اُخْرٰى لِاُمِّ الْفَضْلِ قَالَ لَا تُحَرِّمُ الْاِمْلَاجَةُ وَالْاِمْلَاجَتَانِ. هذه روايات لمسلم

رودل نکاح نه حراموي د ام فضل رضي الله عنها په روایت کي دی د ښځي په تی باندي یو یا دوه واره

وهلو سره نکاح نه حراموي دا دري واړه روایو ته د مسلم دی .

تخریج: مسلم في الصحيح ۲\۱۰۴۷، رقم: ۲۱\۱۴۵۱.

تشریح: په څرګنده خو د دغه روایتو څخه دا معلومیږي چي په یو وار یا دوه واره تي ورکولو سره نکاح نه حرامیږي مګر په دري واره یا تر دې زیات تی ورکولو سره حرمت ثابتیږي ، ځیني علماء پر دې باندي په عمل کولو سره فتوا ورکړې ده مګر حنفیه او اکثر علماء په نزد مسئله داده چي په مطلق تي ورکولو سره د رضاعت حرمت ثابتیږي که څه هم هغه مقدار د اعتبار څخه کم وي یا زیات وي په شرط د دې چي د کوچني د حلق څخه شیدې نس ته ورسیږي او هغه شی هم د رضاعت په وخت کي وي او د رضاعت وخت د اکثرو علماؤ په ګډون صاحبین یعني امام ابویوسف او امام محمد رحمة الله علیهما په نزد دوه کاله دی مګر د امام ابوحنیفة په نزد د رضاعت وخت دوه نیم کاله دی مګر په حنفي مذهب کي د صاحبینو پر قول فتوا ده .

Maktaba Tul Ishaat.com

كوم علماء چي دا وايي چي د مطلق تي په ورکولو سره حرمت ثابتيږي د هغوی دليل د قرآن كريم دغه آيت كريمه دی : وامهاتكم اللاتي ارضعنكم: او پر تاسو باندي ستاسو رضاعي مندي حرامي دي .

چي هغه د قرآن كريم يو مطلق حكم مقيد كړي ځكه د ذكر سوي روايت ددې دليل نه سي كيدای چي حرمت رضاعت په هغه صورت كي ثابت سي كله چي كوچني ته درې واره يا تر دې زيات تی ورکړل سي ، ددغه حضراتو يو دليل د بي بي عائشې ﷺ هغه روايت دی چي په هغه كي د مطلق تي وركولو سره حرمت ثابتېدل ددغه الفاظو په ذريعه بيان سوي دي : يحرم من الرضاعة ما يحرم من الولادة.: يعني په تي وركولو سره هغه قرابت حراميږي كوم چي د زېږېدني په وجه حراميږي .

د رضاعت د حرمت په اړه امام شافعي رحمه الله فرمايي كه چيري كوچني تر پنځه واره كم تی وخوري نو د رضاعت حرمت نه ثابتيږي د هغه دليل په راتلونكو كي حديثو كي دی .

﴿۳۰۳۱﴾: وَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ فِيمَا أُنْزِلَ مِنَ الْقُرْآنِ عَشْرُ رَضَعَاتٍ

د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چي په قرانكريم كي دا حكم نازل سوی دی چي په لس واره

مَعْلُومَاتٍ يُحَرِّمْنَ ثُمَّ نُسِخْنَ بِخَمْسٍ مَعْلُومَاتٍ فَتُوُفِّيَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

شيدو رودلو سره چي كله د هغې د چښلو پوره يقين وي نو نكاح حراميږي بيا دا حكم منسوخ سو او پنځه واره د شيدو رودلو حكم نازل سو د دې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفات سو

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهِيَ فِيمَا يُقْرَأُ مِنَ الْقُرْآنِ . رواه مسلم .

او د دې ايت شريف په قرانكريم كي تلاوت كېدی . (مسلم) .

تخريج: مسلم في الصحيح: ۱۲\۱۰۷۵، رقم: ۲۴- ۱۴۵۲.

تشريح: مخكي دا حكم وو چي يو كوچني به د يو ښځي لس واره تی ورودی نو د هغه دواړو په مينځ كي به د رضاعت حرمت ثابتېدی مګر وروسته نه يوازي دا چي دغه حكم منسوخ سو بلكه ددغه آيت تلاوت هم منسوخ سو چي په هغه كي دغه حكم وو او دغه آيت نازل سو چي پنځه واره تی رودل نكاح حراموي او بيا ددغه آيت تلاوت هم د ټولو صحابه كرامو په نزد منسوخ مګر د بي بي عائشې رضي الله عنها په قرائت كي ددې تلاوت منسوخ نه سو تر دې چي اوس

Maktaba Tul Ishaat.com

امام شافعي رحمة الله عليه وايي چي ددغه آيت حکم خو پاته دی چي رضاعت حرمت په پنځه واره تی رودلو سره ثابتيږي او دديې تلاوت منسوخ سوی دی مګر د امام ابوحنيفة رحمة الله عليه او نور علماء کرامو په نزد ددغه آيت هم منسوخ سوی دی او دديې حکم هم د ددغه مطلق آيت کريمه: (وامهاتکم اللاتي ارضعنکم) په ذريعه منسوخ سو.

د رضاعت د مدت وروسته په شېدو رودلو سره حرمت نه ثابتيږي

﴿۳۰۳۲﴾: وَعَنْهَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيْهَا وَعِنْدَهَا رَجُلٌ فَكَأَنَّهُ كَرِهَ ذَالِكَ فَقَالَتْ اِنَّهُ أَخِي فَقَالَ انْظُرْنَ مَنْ إِخْوَانُكُنَّ فَإِنَّمَا الرَّضَاعَةُ مِنَ الْمَجَاعَةِ. متفق عليه.

د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی يوه ورځ رسول الله ﷺ په خپله تشريف راوړ هغه وخت د هغې سره يو سړی ناست وو نبي کريم ﷺ خو دا خبره ښه ونه ګڼله ما عرض وکړ دا زما رضعي ورور دی نبي کريم ﷺ وفرمايل: فکر وکړه ستا ورور څوک کېدای سي؟ د شيدو د چښلو اعتبار د لوړي په وخت دی (يعني د شيدو د چښلو احکام هغه وخت جاري کېدای سي چي کله لوږي د غذا په وخت کي يې شيدې چښلي وي او شيدې يې غذا وي). (بخاري او مسلم).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۱۴۶، رقم: ۵۱۰۲، ومسلم ۲\۱۰۷۸، رقم: ۳۲\۱۴۵۵.

تشريح: د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دا وو چي د تي ورکولو احکام په هغه صورت کي کيږئ کله چي تی په د خوراک په توګه ورکول سوی وي او په هغه سره لوږه ختمه سوې وي دا خبره د تي رودلو په ورځو کي وي او د تي رودلو وخت د اکثرو علماؤ په نزد دوه کاله د امام ابوحنيفة رحمة الله عليه په نزد دوه نيم کاله عمر دی په دغه وخت کي د کوچني د غذائي ضرورت او خواهش دار د ښځي پر تي وي تر څو چي هغه تی نه خوري د هغه لوږه نه ختميږي نو د حديث خلاصه دا سوه چي په لوی عمر کي د رضاعت د وخت ختمېدو څخه وروسته د يو ښځي په تي رودلو سره د رضاعت حرمت نه ثابتيږي او هغه وخت چي د بي بي عائشې رضي الله عنها سره سړی ناست وو او بي بي عائشې رضي الله عنها ورته د تي رودلو ورور ويلي وه هغه په اصل کي په لوی عمر کي تی رودلی وو او په لوی عمر کي په تي رودلو سره د رضاعت حرمت نه ثابتيږئ ځکه رسول الله ﷺ ته د هغه د بي بي عائشې رضي الله عنها سره ناسته ناخوښه سوه.

Maktaba Tul Ishaat.com

د رضاعت د ثبوت لپاره شاهدي

﴿۲۰۳۳﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ الْحَارِثِ أَنَّهُ تَزَوَّجَ ابْنَةً لِأَبِي إِهَابِ بْنِ عَزِيزٍ فَأَتَتْهُ

د حضرت عقبه بن حارث رضی الله عنه څخه روایت دی چي هغه د ابو اهاب بن عزیز د لور سره نکاح وکړه

امْرَأَةٌ فَقَالَتْ إِنِّي قَدْ أَرْضَعْتُ عُقْبَةَ وَالَّتِي تَزَوَّجَ بِهَا فَقَالَ لَهَا عُقْبَةُ مَا أَعْلَمُ

بیا یوه ښځه راغله او ویې ویل: چي عقبه او د ابو اهاب ولور ته ما تی ورکړی دي عقبه هغې ته وویل: زما په یاد نه دی چي

أَنَّكِ قَدْ أَرْضَعْتِنِي وَلَا أَخْبَرْتِنِي فَأَرْسَلَ إِلَى آلِ أَبِي إِهَابٍ فَسَأَلَهُمْ فَقَالُوا مَا

تا ماته شیدې را کړی دي او نه دي پخوا ما ته د دې خبر را کړی دی بیا عقبه یو سړی د ابو اهاب کورنۍ ته د حال د معلومولو لپاره ولېږی

عَلِمْنَا أَرْضَعَتْ صَاحِبَتَنَا فَرَكِبَ إِلَى النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمَدِينَةِ

هغوی موږ ته وویل: دا معلومه نه ده چي دې انجلۍ ته دې ښځې تی ورکړی دی عقبه رضی الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته مدینې منورې ته ورغی او واقعه يې ورته بیان کړه

فَسَأَلَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ وَقَدْ قِيلَ فَفَارَقَهَا عُقْبَةُ وَنَكَحَتْ زَوْجًا غَيْرَهُ. رواه البخاري.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: ته دا څنګه (په خپله نکاح کي ساتلای سی ؟) کله چي دا خبره وسوه نو عقبه هغه ښځه د ځانه څخه جلا کړه او هغې د بل سړی سره نکاح وکړه. (بخاري).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۲۵۱/۵، رقم: ۲۶۴۰.

تشريح امام احمد رحمه الله د دغه حدیث څخه استدلال کړی دی چي د رضاعت په ثبوت کي د یوې ښځي شاهدي قبلیږي مګر د امام ابو حنیفة رحمه الله او اکثرو علماؤ په نزد د تي رودلو د ثبوت لپاره د دوو نارینوو یا یوه نارینه او دوو ښځو چي عادل وي شاهدي قبلیږي ځکه دا حضرت د دغه حدیث په باره کي دا وایي چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه ارشاد د تقوا او احتیاط پر بنیاد دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د احتیاط له کبله دا مناسب ونه ګڼل چي عقبه رضی الله عنه هغه انجلۍ په نکاح کړي.

Maktaba Tul Ishaat.com

د دار الحرب د بندي ښځي سره نکاح

﴿۳۰۳۴﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ
د حضرت ابو سعيد خدري ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د حنين په جګړه کي (يو
حُنَيْنٍ بَعَثَ جَيْشًا إِلَى أَوْطَاسَ فَلَقُوا عَدُوًّا فَقَاتَلُوهُمْ فَظَهَرُوا عَلَيْهِمْ
اسلامي) لښکر اوطاس لور ته ولېږی هغه د دښمن سره وجنګېدی او ور باندي غالب سوه او
وَأَصَابُوا لَهُمْ سَبَايَا فَكَأَنَّ نَاسًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ ﷺ تَحَرَّجُوا مِنْ
غلامان او مينزي يې و نيولې د رسول الله ﷺ اصحابو کرامو په دې خيال چي د دې مينځو
غِشْيَانِهِنَّ مِنْ أَجْلِ أَزْوَاجِهِنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ فِي ذَٰلِكَ
مشرک خاوندان سته نو هغوی د مينځو سره کوروالي و نه کړه په دې اړه دا ايت نازل سو:
{وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ} أَيْ فَهُنَّ لَكُمْ حَلَالٌ إِذَا انْقَضَتْ عِدَّتُهُنَّ. رواه مسلم.

والمحصنت.....ايمانكم. (په تاسو هغه ښځۍ حرامي نه دي چي د هغو تاسو مالکان ياست او تاسو په جګړه کي نيولي دی) يعني کله چي د مينځو د عدت ورځي پوره سي نو هغوی ستاسو لپاره حلالي دي. (مسلم).

تخريج: مسلم في الصحيح: ۱۰۷۹\۲، رقم: ۱۴۵۶\۳۳.

تشريح: مسئله دا ده چي کومه ښځه د يو سړي په نکاح کي وي نو بل چا ته نه د هغې سره جماع کول صحيح دي او نه هغه په خپل تصرف کي راوستل جائز دي مګر د کافرانو هغه ښځي چي د جنګ څخه وروسته د دارالحرب څخه راوستل سي او د هغوی خاوندان په دارالحرب کي پاته سوي وي نو د هغه ښځو د عدې تېرېدو څخه وروسته په خپل تصرف کي راوستل جائز دي او دلته د عدت څخه مراد استبراء دی يعني که چيري هغه ښځي حامله وي نو کله چي د هغې اولاد پيدا سي او که هغې ته حيض راځي نو کله چي هغې ته حيض راسي نو بيا کله چي يوه مياشت تېره سي بيا د هغې سره جماع کول جائز دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

په دې اړه علامه طيبي رحمه الله وايي چي ابن عباس رضي الله عنه د دغه آيت كريمه سره سم دا مسئله اخذ كړې ده چي كله يو خاوند والا مينزه پلورل كيږئ نو د هغې نكاح ماتيږي او كوم څوک چي هغه رانيسي نو د هغه لپاره استبراء څخه وروسته د هغې سره جماع كول جائز كيږي يعني ابن عباس رضي الله عنه دغه آيت كريمه پر عموميت باندي محمول كړى دى حال دا چي د نورو ټولو علماؤ په اتفاق سره مذهب دادى چي د هغې نكاح نه ماتيږي د دوى په نزد دغه آيت كريمه د هر خاوند والا مينزي په باره كي نه دى نازل سوى بلكه دا يوازي د هغه مينځو په اړه نازل سوى دى چي د دارالحرب څخه په نيولو سره راوستل سوي وي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

هغه ښځي چي په يو وخت كي په نكاح كول منع دي

﴿۳۰۳۵﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى أَنْ تُنْكَحَ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله صلى الله عليه وسلم د دې څخه منعه فرمايلې ده چي

الْمَرْأَةُ عَلَى عَمَّتِهَا أَوِ الْعَمَّةُ عَلَى ابْنَةِ أَخِيهَا أَوِ الْمَرْأَةُ عَلَى خَالَتِهَا أَوِ الْخَالَةُ عَلَى

عمه د وريرې سره يا د وريرې سره خاله نكاح جمع كړل سي او د خاله سره يې د خورزې جمع كولو څخه (يعني خاله او خورزه يو ځاى په نكاح ساتلو څخه) او دا چي

بِنْتِ أُخْتِهَا وَلَا تُنْكَحُ الصُّغْرَى عَلَى الْكُبْرَى وَلَا الْكُبْرَى عَلَى الصُّغْرَى. رواه الترمذي وابوداؤد والدارمي والنسائي و روايته الى قوله بنت اختها.

د كشرې د دوستي په موجودوالي كي د مشرې سره د دوستى او د مشرې په موجودوالي كي د كشرې سره نكاح نسي كولاى. (ترمذي ابو داؤد دارمي نسائي).

تخريج: ابوداود في السنن ۲\۵۵۳، رقم: ۲۰۶۵، والترمذي في السنن ۳\۴۳۳، رقم: ۱۱۲۶، والنسائي ۶\۹۸، رقم: ۳۲۹۶، والدارمي ۲\۱۸۳، رقم: ۲۱۷۸.

تشريح: د حديث د دوهمي برخي يعني (لا تنكح الصغرى على الكبرى...الخ) دا په اصل كي د حديث د اولي برخي يعني (ان تنكح المراة على عمتها...الخ) باندي د حكم د تائيد په توګه دى نو د لوى قريب څخه عمه او خاله مراد دي او د كوچني عمر د قرابت څخه وريره او خورزه

مراد دي.

د حديث خلاصه داده که چيري خاله په نکاح کي وي نو د هغې په موجودتيا کي د هغې د خورزې سره يا مخکي خورزه په نکاح کي وي نو د هغې په موجودتيا کي د هغې د خاله سره يا همدا رنګه د مخکي څخه عمه په نکاح کي وي نو د هغې په موجودتيا کي د هغې د وريرې سره يا وريره په نکاح کي وي نو د هغې په موجودتيا کي د هغې د عمه سره نکاح کول ناجائز دي مګر که چيري په هغوی کي يوې ته طلاق ورکړي او د هغې د عدې ورځي تيري سي نو بيا د بلي سره نکاح کولای سي يا په هغوی کي د يوې د مړ کېدو ورسته د بلي سره نکاح کول صحيح دي.

د پلار د مايني سره نکاح کول حرام دي

﴿۲۰۳۶﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ مَرَّ بِي خَالِي أَبُو بُرْدَةَ بْنُ نِيَارٍ وَمَعَهُ لِوَاءٌ

د حضرت براء بن عازب رضي الله عنه څخه روايت دی چي زما ماما ابو برده بن نيار زما سره تېر سو د هغه په لاس کي بيرغ يا نشان وو

فَقُلْتُ أَيْنَ تذهب قَالَ بَعَثَنِي النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى رَجُلٍ تَزَوَّجَ

ما ځيني پوښتنه وکړه چي ته چيري ځې؟ هغه را ته وويل يو سړي د خپل پلار د ښځي سره

امْرَأَةَ أَبِيهِ آتِيَهُ بِرَأْسِهِ. رواه الترمذي وابوداؤد و في رواية له وللنسائي وابن ماجة والدارمي فامرني ان اضرب عنقه واخذ ماله وفي هذه الرواية قال عمي بدل خالي.

نکاح کړېده رسول الله ﷺ ما ته د هغه د سر پرې کېدو امر را کړی دی. (ترمذي ابو داؤد) او د ابو داؤد نسائي ابن ماجه او دارمي په روايتو کي دا الفاظ دي رسول الله ﷺ ما ته حکم را کړی دي چي زه د هغه غاړه ووهم او د هغه مال راوړم او په دې روايت کي د ((خالي)) پر ځاي ((عمي)) دی.

تخريج: سنن الترمذي ۳\۶۴۳، رقم: ۱۳۶۲، وابوداود ۴\۶۰۲، رقم: ۴۴۵۶.

تشريح رسول الله ﷺ حضرت ابوبرده رضي الله عنه د خپل پلار د ښځي سره د نکاح کونکي د غاړې وهلو لپاره واستوی نو د هغه په لاس يې د نبښي په توګه بېرغ ورکړی و چي خلک د هغه نښې په

Maktaba Tul Ishaat.com

لېدو سره پوه سي چي د غه سړی ذکر سوی خدمت لپاره د رسول الله ﷺ له خوا را استول سوی دی.
علامه طيبي رحمة الله عليه وايي چي رسول الله ﷺ ابوبرده رضي الله عنه ته د کوم سړي د غاړي وهلو حکم ورکړی وو هغه د خپل پلار د ښځي سره د نکاح په کولو سره د شريعت اسلام د يو ظاهري حکم محض خلاف ورزي نه وه کړي بلکه د هغه عقيده دا هم وه چي د پلار د ښځي سره نکاح کول حلال دي لکه څرنګه چي د جاهليت د زماني يعني کفارو داسي عقيده وه نو د اسلامي شريعت دا فيصله ده چي کوم څوک د يو حرام شي د حلال کېدو عقيده ولري نو هغه کافر کيږي او د داسي سړي قتل کول او د هغه مال او سامان ضبط کول جائز دي.

﴿۳۰۲۷﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَا يُحَرِّمُ مِنَ الرِّضَاعِ إِلَّا مَا فَتَقَ الْأَمْعَاءَ فِي الثَّدْيِ وَكَانَ قَبْلَ الْفِطَامِ. رواه الترمذي.

د بي بي ام سلمه رضي الله عنها څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په رضاعت کي يوازي هغه رضاعت نکاح حراموي چي کوچنی د شېدو د پرېښېدو څخه وړاندي (د شيدو رودلو په وخت کي) شيدې وڅېښي (هغه وخت چي شيدې د هغه غذا وي). (ترمذي)

تخريج: الترمذي في السنن ۳\۴۵۸، رقم: ۱۱۵۲.

د لغاتو حل: ما فتق الامعاء: اى الذي شق امعاء الصبي كالطعام.

تشريح: کولمې خلاصي کړي: ددې مطلب دادی چي هغه شيدې د کوچني نس داسي موړ کړي لکه څرنګه چي د يو وړي سړي نس په خوراک سره مړيږي، او دغه خبره د تي رودلو په وخت کي وي او د تي رودلو وخت دوه کاله يا دوه نيم کاله پوري دی، ددغه ارشاد مطلب دادی چي په لوی عمر کي يعني د دوو يا دوه نيمو کالو څخه وروسته د تي په رودلو سره د رضاعت حرمت نه ثابتيږي بلکه د کوچنيوالي په عمر کي يعني د وو کالو يا دوه نيمو کالو په عمر کي د تي په رودلو سره د رضاعت حرمت ثابتيږي.

د سينې څخه د څېښلو په وجه: ددغه الفاظ مقصد محض د تي خوړلو صورت او واقعه بيانوي دي چي ښځي د خپل سينې څخه په کوچني باندي شيدې څېښي کنه نو د رضاعت د حرمت ثابتولو لپاره د سينې څخه څېښل شرط نه دي يعني دا ضروري نه دي چي د رضاعت حرمت دي په هغه صورت کي ثابت سي کله چي کوچنی د ښځي د سينې د تي څخه شيدې وڅېښي بلکه که چيري ښځي د خپل سيني شيدې په څېښلي وي او که په بل شي لکه قاشوقه او

داسي بل شي كي يې شېدې په څېښلي وي او كه په بله ذريعه سره يې شيدې د كوچني نس ته رسولي وي په هر صورت د رضاعت حرمت ثابتيږي.

هغه شيدې د تي پرېكولو څخه مخكي څېښلي وي: دا جمله په اصل كي د مخكني عبارت د تاكيد په توګه ده مطلب دا دی چي په شريعت كي د كوچني د تي پرېكولو كوم وخت ټاكلی دی يعني دوه كاله يا دوه نيم كاله عمر ددې څخه مخكي چي كوم كوچني شيدې وڅېښي نو د رضاعت د حرمت په اړه به د هغه اعتبار وي.

فقهاؤ ليكلي دي چي د رضاعت د وخت په باره كي د ټاكلي سوي وخت څخه مخكي د تي پرېكولو اعتبار نه كيږي كه يو كوچنی د وخت څخه مخكي يعني د دوو كالو يا دوه نيم كالو د عمر څخه مخكي د تي څخه پرې سوی وي او ددې څخه وروسته په هغه ټاكلي وخت يعني دوه كاله يا دوه نيم كاله په عمر كي د ننه يو ښځي هغه ته تی وركړی نو د رضاعت حرمت ثابتيږي، په دې باره كي په ضمني توګه په دغه مسئله پوهېدل هم ضروري دي چي يو كوچني ته د ټاكلي وخت يعني دوه كاله يا دوه نيم كاله د عمر څخه وروسته تی وركول جائز نه دی ځكه چي تی د انسان يو جز دی او د انسان د جز څخه بې ضرورته ګټه اخيستل حرام دي او دا ظاهره ده چي د رضاعت د وخت څخه وروسته ضرورت ختم سي په دې توګه د انسان تی د دواء په توګه استعمالول هم جائز نه دي.

دا خبره هم بايد په ذهن كي وي چي طبيبانو ثابته كړې ده چي د لور شيدې سترګو ته ګټه رسوي، علماؤ په دې باره كي اختلاف كړی دی ځيني حضرات وايي كه څه هم په طبي توګه سره دا خبره صحيح وي مګر په شرعي توګه جائز نه ده، حال دا چي ځيني علماء وايي چي دا جائز دي په شرط ددې چي دغه ګمان غالب وي چي د خپل لور د شېدو په سترګو كي اچولو سره د سترګو ناروغي ختميږي.

د رضاعت حق ادا كول

﴿۳۰۳۸﴾: وَعَنْ حَجَّاجِ بْنِ حَجَّاجٍ الْأَسْلَمِيِّ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا يُذْهِبُ عَنِّي مَذَمَّةَ الرَّضَاعِ فَقَالَ غُرَّةٌ عَبْدٌ أَوْ أَمَةٌ. رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي والدارمي.

حضرت حجاج بن حجاج اسلمي رضي الله عنه د خپل پلار څخه روايت كوي چي هغه د رسول الله ﷺ

ښخه پوښتنه وکړه یا رسول الله! هغه کوم شی دی چي د شیدو د چښلو حق ادا کوي؟ نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: شیدو رودونکي ته غلام یا مینزه ورکول په دې سره د هغې د رضاعت د خدمت حق ادا کیږي .(ترمذي ابوداؤد نسائي دارمي).

تخریج: ابوداود في السنن ۲\ ۵۵۳، رقم: ۲۰۶۴، والترمذي في السنن ۳\ ۴۵۹، رقم: ۱۱۵۳، والنسائي ۶\۱۰۸، رقم: ۳۳۲۹، والدارمي ۲\۲۰۹، رقم: ۲۲۵۴.

د لغاتو حل: مذمة: ای حق الارضاع (د تی رودلو حق).

تشریح: د پوښتنه کونکي مطلب دا وو چي هغه کوم شی دی چي زه یې تي ورکونکي ته ورکړم چي د هغه په وجه زه د تي ورکونکي د هغه حق ښخه خلاص سم کوم چي د تي ورکولو په وجه د هغې پر ما دی؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل که ته هغه ښځي ته کومي چي تا ته تی درکړی دی یو غلام یا مینزه ورکړې نو د هغې د تي درکولو حق به ادا سي یعني خلاصه دا سوه چي تی ورکونکې ښځه یو لوی خدمت تر سره کوي ځکه نو د هغې هم خدمت کول پکار دي چي هغه خادم د هغې خدمت وکړي او د خدمت بدل خدمت سي.

د رسول الله ﷺ د رضعي مور تعظیم او تکریم

﴿۳۰۳۹﴾: وَعَنْ اَبِي الطُّفَيْلِ الْغَنَوِيِّ قَالَ كُنْتُ جَالِسًا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابو طفیل غنوي رضی الله عنه ښخه روایت دی چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر وم

وَسَلَّمَ إِذْ أَقْبَلَتْ امْرَأَةٌ فَبَسَطَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رِدَاءَهُ حَتّٰى قَعَدَتْ

یوه ښځه (یعني بي بي حلیمه رض د نبي کریم ﷺ دایي) راغله نبي کریم ﷺ ورته خپل پټو هوار کړ او هغه په پټو باندي کښېنستل

عَلَيْهِ فَلَمَّا ذَهَبَتْ قِيلَ هٰذِهِ اَرْضَعَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه ابوداؤد

نو هغو خلکو ته (چي د نبي کریم ﷺ په دې احترام حیران وه) وښودل سوه کله چي هغه ولاړه چي دې ښځي و نبي کریم ﷺ ته شیدې ورکړي وې (د سینې شیدې ورکړی وی). (ابو داؤد).

تخریج: ابوداود في السنن ۵\ ۳۵۳، رقم: ۵۱۴۴.

Maktaba Tul Ishaat.com

تر څلورو زياتي ښځي ناجائز دي

﴿۳۰۴۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ غَيْلاَنَ بْنَ سَلَمَةَ الثَّقَفِيَّ أَسْلَمَ وَلَهُ عَشْرُ نِسْوَةٍ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَأَسْلَمْنَ مَعَهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمْسِكْ أَرْبَعًا وَفَارِقْ سَائِرَهُنَّ. رواه أحمد والترمذي وابن ماجه

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چي غيلان د سلمه ثقفي زوی مسلمان سو د جاهليت په زمانه کي د هغه په نکاح کي لس ښځي وی هغه هم مسلماني سوې نبي کريم ﷺ هغه ته وفرمايل: په دې کي څلور ښځي وساته او نوري د ځانه څخه جلا کړه. (احمد ترمذي ابن ماجه)

تخريج: احمد في المسند ۲\ ۴۴، والترمذي في السنن ۳\ ۴۳۵، رقم: ۱۲۸، وابن ماجه في السنن ۱\ ۶۲۸، رقم: ۱۹۵۳.

تشريح: ددغه حديث شريف څخه معلومه سوه چي د کفر په حالت کي کوم واده کيږي هغه معتبر وي . که چيري کافر ښځه او خاوند اسلام راوړي نو هغوی ته د نکاح د تجديد حکم نه سي ورکول کېدای په شرط ددې چي د هغوی په نکاح کي داسي قرابت نه وي کوم چي اسلامي شريعت منع حرام کړي دي او ددغه حديث څخه دا هم معلومه سوه چي د څلورو څخه زياتي ښځي په يو وخت کي په نکاح کول هم جائز نه دي .

﴿۳۰۴۱﴾: وَعَنْ نَوْفَلِ بْنِ مُعَاوِيَةَ قَالَ أَسْلَمْتُ وَتَحْتِيْ خَمْسُ نِسْوَةٍ فَسَأَلْتُ

د حضرت نوفل بن معاويه رضي الله عنه څخه روايت دی کوم وخت چي زه مسلمان سوم زما پنځه ښځي

النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ فَارِقْ وَاحِدَةً وَأَمْسِكْ أَرْبَعًا فَعَمَدْتُ إِلٰى

وی ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه نو نبي کريم ﷺ را ته وفرمايل: يوه ښځه د ځانه څخه

أَقْدَمِهِنَّ صُحْبَةً عِنْدِيْ عَاقِرٍ مُنْذُ سِتِّيْنَ سَنَةً فَفَارَقْتُهَا . رواه في شرح السنة

جلا کړه او نوري څلور وساته نو ما د ټولو څخه اولني ښځه چي تر شپېتو کالو پوري وچه وه ما د ځانه جلا کړه (شرح السنة) .

تخريج: البغوي في شرح السنة ۹\ ۹۰، ۹۱، رقم: ۲۲۸۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

د دوو خوېندو سره په يو وار نکاح کول منع دي

﴿۳۰۴۲﴾: وَعَنِ الضَّحَّاكِ ابْنِ فَيْرُوزَ الدَّيْلَمِيِّ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللهِ إِنِّي أَسْلَمْتُ وَتَحْتِي أُخْتَانِ قَالَ اخْتَرْ أَيَّتَهُمَا شِئْتَ. رواه الترمذي وابوداؤد وابن ماجة.

حضرت ضحاک بن فیروز دیلمي رضی الله عنه د خپل پلار څخه روایت کوي چي هغه پوښتنه وکړه چي یا رسول الله ﷺ! ما اسلام قبول کړی دی او زما په نکاح کي دوې خوندي دی نبي کریم ﷺ ور ته وفرمایل: په دواړو کي یوه خوښه کړه (او بله د ځان څخه جلا کړه). (ترمذي ابو داؤد ابن ماجه).

تخریج: ابوداود في السنن ۲\ ۶۷۸، رقم: ۲۲۴۳، والترمذي في السنن ۳\ ۴۳۶، رقم: ۱۱۳۰، وابن ماجه في السنن ۱\ ۶۲۷، رقم: ۱۹۵۱.

تشریح: مظهر رحمه الله وایي چي د امام شافعي، امام مالک او امام احمد رحمة الله علیهم مذهب دادی که چیري یو سړی په داسي حال کي اسلام قبول کړي چي د هغه په نکاح کي دوې خویندي وي او هغه دواړي خویندي هم د هغه سره اسلام قبول کړي نو د هغه لپاره به دا جائز وي چي هغه په دواړو کي یوه په خپل نکاح کي وساتي که اول منکوحه وي او که دوهمه منکوحه وي مګر د امام ابوحنیفة رحمه الله مذهب دادی که چیري هغه سړي دواړي خویندو سره یو ځای عقد کړی وي نو په دغه صورت کي د هغه لپاره د دواړو څخه یوه په خپل نکاح کي ساتل جائز دي مګر که چیري هغه د واړو سره یو په بل پسې عقد کړی وي نو په هغوی کي د هغه ښځي په نکاح کي ساتل جائز دي کوم چي یې مخکي په نکاح کړي وي او د کومي ښځي سره چي یې وروسته نکاح کړې وي هغه په هیڅ صورت کي هم په خپل نکاح کي ساتل جائز نه دي.

په کافر ښځي او خاوند کي که یو اسلام قبول کړي نو نکاح قائمه ده که یا؟

﴿۳۰۴۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَسْلَمَتِ امْرَأَةٌ فَتَزَوَّجَتْ فَجَاءَ زَوْجُهَا إِلَى

د ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی یوه ښځه مسلمانه سوه او هغې نکاح وکړه او د هغې اولنی خاوند

النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنِّي قَدْ أَسْلَمْتُ وَعَلِمَتْ بِإِسْلَامِي

Maktaba Tul Ishaat.com

د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سو او عرض يې وكړ: يا رسول الله! زه مسلمان سوى يم او زما ښځي ته زما د مسلمان کېدو خبر نه وو معلوم (او بيا هغې د دويم سړي سره نكاح وكړه)

فَانْتَزَعَهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ زَوْجِهَا الآخَرِ وَرَدَّهَا إِلٰى زَوْجِهَا

نبي كريم ﷺ هغه ښځه د دويم خاوند څخه جلا كړه او اولني خاوند ته يې حواله كړه.

الأَوَّلِ وَفِيْ رِوَايَةٍ أَنَّهُ قَالَ إِنَّهَا أَسْلَمَتْ مَعِيَ فَرَدَّهَا عَلَيْهِ. رواه أبو داود.

په يو بل روايت كي دي چي هغې زما سره اسلام قبول وكړ، نو هغه يې بېرته ده ته وركړه (ابوداؤد)

وَرُوِيَ فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ أَنَّ جَمَاعَةً مِّنَ النِّسَاءِ رَدَّهُنَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

او په شرح السنة كي ليكلي دي چي نبي كريم ﷺ ډيري ښځي د هغوى خاوندانو ته وسپارلې

وَسَلَّمَ بِالنِّكَاحِ الأَوَّلِ عَلٰى أَزْوَاجِهِنَّ عِنْدَ اجْتِمَاعِ الإِسْلاَمَيْنِ بَعْدَ اخْتِلاَفِ الدِّيْنِ وَالدَّارِ مِنْهُنَّ بِنْتُ الْوَلِيْدِ بْنِ مُغِيْرَةَ كَانَتْ تَحْتَ صَفْوَانَ بْنِ أُمَيَّةَ

كله چي دواړه مسلمان سوي وه په دې ښځو كي يوه د وليد بن مغيره لور وه چي د صفوان بن اميه ښځه وه دا ښځه

فَأَسْلَمَتْ يَوْمَ الْفَتْحِ وَهَرَبَ زَوْجُهَا مِنَ الإِسْلاَمِ فَبَعَثَ إِلَيْهِ ابْنَ عَمِّهِ وَهْبَ

د مكې د فتحي په ورځ مسلمانه سوه او د هغې خاوند د اسلام څخه تېښته وكړه نبي كريم ﷺ د هغې خاوند ته د هغه د اكا زوى وهب بن عمير ولېږى

بْنَ عُمَيْرٍ بِرِدَاءِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَانًا لِصَفْوَانَ فَلَمَّا قَدِمَ

او د نبي په ډول يې خپل پټو وركړ او هغه ته يې د امن اطلاع وركړه كوم وخت چي

جَعَلَ لَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسْيِيْرَ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ حَتّٰى أَسْلَمَ

صفوان په خدمت نبوي كي شامل سو نو هغه ته يې څلور مياشتي امان وركړ چي هغه په ابادیو

فَاسْتَقَرَّتْ عِنْدَهُ وَأَسْلَمَتْ أُمُّ حَكِيْمٍ بِنْتُ الْحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ امْرَأَةُ عِكْرِمَةَ

Maktaba Tul Ishaat.com

کي وګرځي او د مسلمانانو حالت وګوري تر دې چي صفوان مسلمان سو نو ښځه ورسره پاته

بْنِ أَبِي جَهْلٍ يَوْمَ الْفَتْحِ بِمَكَّةَ وَهَرَبَ زَوْجُهَا مِنَ الْإِسْلَامِ حَتَّى قَدِمَ الْيَمَنَ

سوه دويمه ښځه د حارث بن هشام لور ام حکيم وه چي د عکرمه (د ابو جهل د زوی) ښځه وه دا هم د مکې د فتحي په ورځ مسلمانه سوې ده او د دې خاوند د اسلام څخه وتښتېد اخير عکرمه چي يمن ته ورسيدي

فَارْتَحَلَتْ أُمُّ حَكِيمٍ حَتَّى قَدِمَتْ عَلَيْهِ الْيَمَنَ فَدَعَتْهُ إِلَى الْإِسْلَامِ فَأَسْلَمَ فَثَبَتَا عَلَى نِكَاحِهِمَا. رواه مالك عن ابن شهاب مرسلا

نو ام حکيم و هغه ته ورغله او هغه ته يې د اسلام هدايت وکړ هغه مسلمان سو او د دواړو نکاح برقرار ه پاته سوه. (دا حديث مالک د ابن شهاب څخه مرسلا ذکر کړی دی).

تخريج: ابوداود في السنن ۲\ ۶۷۴، رقم: ۲۲۳۹، ومالک في الموطا ۲\ ۵۴۳، رقم: ۴۴، والبغوي في شرح السنة ۹\ ۹۳، رقم: ۲۲۹۰.

تشريح: که په غير مسلم خاوند او ښځه کي يو مسلمان سي او دوهم مسلمان نه وي نو د واړو نکاح به باقي وي که يا ؟ په دې باره کي مظهر رحمه الله وايي چي امام شافعي او امام احمد رحمة الله عليهما فرمايي چي په دغه صورت کي که چيري هغه دوهم (چا چي اسلام نه وي قبول کړی که ښځه وي او که خاوند) د عدې تېرولو څخه مخکي اسلام قبول کړي نو د هغوی نکاح به باقي وي که څه هم د دواړو پخواني مذهب يو وي د مثال په توګه دواړه عيسايان يا يهوديان يا د بتانو عبادت کونکي وي او که د دواړو مذهب يو ډول نه وي د مثال په توګه د يوه مذهب بت پرستي وي او دوهم عيسائي يا يهودي وي همدارنګه که دواړه په دارالاسلام کي اوسيدونکي وي يا په دارالحرب کي او که په دوی کي يو په دارالاسلام کي وي او بل په دارالحرب کي اوسيږي.

امام ابو حنيفة رحمه الله فرمايي چي په دغه صورت کي په دواړو کي جلاوالی د درو وجو څخه په يو وجه کيدای سي اول دا چي د عدې ورځي پوره سي، دوهم دا چي په دواړو کي چا چي اسلام قبول کړی وي هغه اسلام نه قبلونکي ته د اسلام دعوت ورکړی وي او هغه د اسلام قبلولو څخه انکار وکړي، دريم دا چي په دواړو کي يو دار الاسلام ته په منتقل کېدو سره دار الحرب ته ولاړ سي يا د درالحرب په پرېښودو سره دارالاسلام ته راسي او د امام ابو حنيفة رحمه الله په نزد په دواړو کي د يوه اسلام قبلول که د مجامعت څخه مخکي سوي يا وروسته په دواړو صورتو کي يو ډول حکم دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

محرمات څوک دي؟

﴿۳۰۴۴﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ حُرِمَ مِنَ النَّسَبِ سَبْعٌ وَمِنَ الصِّهْرِ سَبْعٌ ثُمَّ قَرَأَ حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمُ الآية. رواه البخاري

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چي د نسب د نکاح په وجه د اوو قسمو ښځو سره نکاح کول حرامه ده او د نکاح په ذریعه چي کومه رشته او قرابت قائم وي د هغه سره هم د اوو ښځو نکاح کول حرامه ده بیا هغه دا ایت ولوست حرمت علیکم امهاتکم الایة (بخاري).

تخریج: البخاري في الصحیح (فتح الباري): ۹\۱۵۳، رقم: ۵۱۰۵.

تشریح: د نسب له مخي چي کوم اووه قرابت والا ښځي حرامي سوي دي هغه دادي ۱: مور، ۲: لور، ۳: خور، ۴: د پلار خور، ۵: د مور خور، ۶: خورزه.

مصاهرت هغه قرابت ته وایي چي د نکاح په ذریعه قائم وي چي خسرګنی هم ورته ویل کیږي، د مصاهرت په وجه چي کومي اووه ښځي حرامي ګرځول سوي دي په هغوی کي څلور د همېشه لپاره حرامي دي چي د هغوی سره په هیڅ حال او هیڅ وخت کي نکاح کول جائز نه دي او هغه دادي ۱: د ښځي مور یعني خواښې، ۲: د زوی او ملسي ښځي یعني مږور، که څه هم د لاندي درجې وي لکه کړوسي او کوسي او داسي نورو ښځي، ۳: د پلار او نیکه ښځي که څه هم پورته درجې وي لکه د ورنیکه او ترنیکه ښځي، ۴: د خپل هغه ښځي لور چي د هغې سره یې جماع کړې وي، د خسرګنی هغه قرابت چي د همېشه لپاره حرام نه وي درې دي : ۱: د ښځي خور، ۲: د ښځي عمه، ۳: د ښځي خاله.

حضرت ابن عباس رضي الله عنه د دغه خبري د دلیل په توګه د قرآن کریم آیت تلاوت کړ په دغه آیت کي نسبي قرابت د هغه اوو ښځو ذکر دی کومي چي حرامي ګرځول سوي دي او د خسرګنی په وجه چي کومي ښځي حرامي دي په هغوی کي د اکثرو ذکر په دغه آیت کریمه کي دی :

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ وَأَخَوَاتُكُمْ وَعَمَّاتُكُمْ وَخَالَاتُكُمْ وَبَنَاتُ الأَخِ وَبَنَاتُ الأُخْتِ وَأُمَّهَاتُكُمُ اللاَّتِي أَرْضَعْنَكُمْ وَأَخَوَاتُكُم مِّنَ الرَّضَاعَةِ وَأُمَّهَاتُ نِسَآئِكُمْ وَرَبَائِبُكُمُ اللاَّتِي فِي حُجُورِكُم مِّن نِّسَآئِكُمُ اللاَّتِي دَخَلْتُم بِهِنَّ فَإِن لَّمْ تَكُونُوا دَخَلْتُم بِهِنَّ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ

Maktaba Tul Ishaat.com

وَحَلَائِلُ أَبْنَائِكُمُ الَّذِينَ مِنْ أَصْلَابِكُمْ وَأَن تَجْمَعُواْ بَيْنَ الأُخْتَيْنِ إَلاَّ مَا قَدْ سَلَفَ إِنَّ اللهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ۲۳ : سورة النساء.

ژباړه: حرامي كړل سوي دي پر تاسو باندي ميندي ستاسو او لوڼي ستاسو او ستاسو خويندي او ستاسو عمه ګاني او ستاسو خاله ګاني او ستاسو وريړې او ستاسو خورزې او ستاسو هغه ميندي چي تاسو ته يې تی درکړی وي او ستاسو د تي شريکي خويندي او ستاسو د ښځو ميندي او ستاسو د ښځو هغه لوڼي چي د هغوی د مخکني خاوند څخه دي او ستاسو په روزنه كي دي او ستاسو د هغه ښځو څخه چي د هغوی سره تاسو نكاح كړې ده او كه تاسو د هغوی سره جماع نه وي كړې نو ستاسو لپاره په دې كي ګناه نه سته چي تاسو د هغوی دلوڼو سره نكاح وكړئ او ستاسو د هغه زامنو ښځي (هم حرامي دي) چي ستاسو د نسل څخه وي او دا هم حرامي دي چي تاسو دوې خويندي يو ځای په خپل نكاح كي وساتئ مګر څه چي سوي دي (هغه معاف دي) بېشكه الله تعالى ډېر بخښونكى او رحمت والا دی.

د خپلي ښځي د لور سره نكاح منع ده

﴿۳۰۴۵﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

حضرت عمرو بن شعيب رضی الله عنه د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت كوي چي رسول

وَسَلَّمَ قَالَ أَيُّمَا رَجُلٍ نَكَحَ امْرَأَةً فَدَخَلَ بِهَا فَلَا يَحِلُّ لَهُ نِكَاحُ ابْنَتِهَا وَإِنْ

الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د يوې ښځي سره نكاح وكړي بيا د هغې سره كوروالي وكړي نو هغه لپاره د هغې دلور سره نكاح كول حرامه ده (يعني د هغې د لور سره چي د هغې د نكاح كولو څخه مخكي د بل خاوند څخه وي) او كه يې

لَمْ يَدخل بِهَا فَلْيَنْكِحْ ابْنَتَهَا وَأَيُّمَا رَجُلٍ نَكَحَ امْرَأَةً فَلَا يَحِلُّ لَهُ ان ينكح

د هغې سره كوروالي نه وي كړې نو د هغې د وفات يا طلاق وروسته د هغې د لور سره نكاح كول جائز ده او څوک چي د يوې ښځي سره نكاح وكړي نو د هغې د مور سره نكاح كول حرامه

أُمَّهَا دَخَلَ بِهَا أَوْ لَمْ يَدْخُلْ. رواه الترمذي وقال هذا حديث لا يصح من

ده كه څه هم د هغې سره يې صحبت كړی وي يا يې نه وي كړی. (ترمذي) او په ترمذي كي دا

قبل اسناده انما رواه ابن لهيعة والمثنى ابن الصباح عن عمرو بن شعيب وهما يضعفان في الحديث

حديث د اسناد د اعتباره مستند نه دی د ابن لهيعه او مثنى بن صباح عمرو بن شعيب څخه روايت کړی دی په حديث شريف کي دواړه راويان ضعيفه دي.

تخريج: سنن الترمذي ۳\۴۳۵، رقم: ۱۱۱۷.

تشريح: په حديث شريف کي د خپلي ښځي د لور سره د نکاح د عدم جواز حکم بيان سوی دی هغه د قرآن کريم ددغه آيت کريمه څخه ثابت دی:

وَرَبَائِبُكُمُ اللاَّتِي فِي حُجُورِكُم مِّن نِّسَآئِكُمُ اللاَّتِي دَخَلْتُم بِهِنَّ فَإِن لَّمْ تَكُونُواْ دَخَلْتُم بِهِنَّ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ.

ژباړه: او حرامي دي پر تاسو باندي ستاسو د ښځو هغه لوڼي کومي چي د هغوی څخه د مخکي خاوند څخه دي او ستاسو په روزنه کي دي او ستاسو د هغه ښځو څخه دي چي هغوی سره تاسو جماع کړې وي او که تاسو د هغوی سره جماع نه وي کړې نو په دې کي څه ګناه نه سته چي تاسو اد هغوی لوڼو سره نکاح وکړئ.

او د ښځي مور يعني خواښي سره د نکاح د عدم جواز چي کوم مطلق حکم بيان سوی دی هغه د قرآن کريم ددغه آيت څخه ثابت دی: (وامهات نسائكم) يعني پر تاسو حرامي دي ستاسو د ښځو ميندي.

=========

بَابُ الْمُبَاشِرَةِ (د کوروالی بيان)

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د مباشرت په اړه د يهودو يو غلط خيال

(۳۰۴۶): عَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَتِ الْيَهُودُ تَقُولُ إِذَا أَتَى الرَّجُلُ اِمْرَأَتَهُ مِنْ دُبُرِهَا فِيْ قُبُلِهَا كَانَ الْوَلَدُ أَحْوَلَ فَنَزَلَتْ { نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى

Maktaba Tul Ishaat.com

شِئْتُمْ ﴾. متفق علیه

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دی چي یهودیانو به ویله څوک چي د ښځي د شا په طرف کي د شرمګاه مخکني برخه یعني فرج کي جماع وکړی نو د هغې کوچنی چیک پیدا کیږی په دې خبره دا ایت نازل سو نساؤکم .... انی شئتم. (ستاسو ښځي ستاسو پټي دی تا سو ته اختیار دی (چي هغوی د شرمګاه په مخکنۍ برخه کي) څنګه چي غواړئ ورسره کوروالي وکړئ). (بخاري او مسلم).

تخریج: البخاري في الصحیح (فتح الباري): ۸\۱۸۹، رقم: ۴۵۲۸، ومسلم ۲\۱۰۵۸، رقم: ۱۱۷\۱۴۳۵.

تشریح: یهودو به ویل که چیري یو سړی د ښځي سره داسي جماع وکړي چي د هغې د شا له خوا څخه په دربدو سره یا په پروته د هغې په مخکني ځای یعني شرمګاه کي خپل خاص اندام داخل کړي نو په دې وجه به کوچنی چیک پیدا کیږي د هغوی د دغه غلط خیال د تردید لپاره دغه آیت کریمه نازل سو چي ستاسو ښځي ستاسو کښت دی لکه څرنګه چي ستاسو په کښت کي ستاسو لپاره فصل پیدا کیږي همدارنګه ستاسو د ښځو په ذریعه ستاسو اولاد پیدا کیږي ځکه نو تاسو خپل کښت په راتلو کي خودمختاره یاست څرنګه چي غواړئ ورځئ که په پروته وي، که په ناسته او که په ولاړه که دمخ د خوا څخه وي او د شا له خوا څخه څرنګه چي ستاسو زړه غواړي د هغوی سره جماع کوئ په هیڅ صورت کي تاوان نه سته مګر شرط دادی چي جماع په هر صورت کي د ښځي په مخکنۍ برخي (یعني د تشو بولو په ځای کي) کول پکار دي ځکه چي په کوم اعتبار سره ښځي ته کښت ویل سوي دي د هغه اطلاق د ښځي پر مخکنۍ شرمګاه کیدای سي نه د شا پر شرمګاه (یعني د لویو بولو ځای) باندي ددې اطلاق نه سي کیدای په دې توګه چي د شا شرمګاه د اولاد پیداکېدو ځای نه دی بلکه د ډکو بولو ځای دی ځکه نو دا خبره باید په ذهن کي وي چي د شا له خوا بدفعلي کول یوازي په اسلام کي نه بلکه په هر دین کي حرام دي.

د عزل مسئله

﴿۳۰۴۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ كُنَّا نَعْزِلُ وَالْقُرْآنُ يَنْزِلُ متفق علیه و زاد مسلم فَبَلَغَ ذَالِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَنْهَنَا.

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دی چې موږ به عزل (د عزل صورت دادی چې کوروالي د ښځې سره وسي کله چې مني خالي وځي نو ذکر را ایستل او مني د باندي خارجول) کوئ او قرانکریم به نازلېدی. (بخاري او مسلم) او د مسلم په یوه روایت کې دا الفاظ دي چې نبي کریم ﷺ ته دا (زموږ عزل کول) معلوم وه او نبي کریم ﷺ موږ د دې څخه نه یو منعه کړی.

تخریج: البخاري في الصحیح (فتح الباري): ۹\۳۰۵، رقم: ۵۲۰۸، ومسلم ۲\۱۰۶۵، رقم: ۱۳۶- ۱۴۴۰.

تشریح: د عزل مطلب دادی چې د ښځې سره داسي جماع (کوروالي) وکړل سي چې کله نارینه انزال کیږي نو هغه خپل خپل خاص اندام (ذکر) د ښځې د شرمگاه څخه راوباسي او مني دباندي اخراج کړي په داسي کولو سره مني دننه نه رسیږي ځکه د حامله کېدو څخه وژغورل سي.

علامه ابن همام رحمه الله فرمایي چې اکثر علماء کرام ددې قائل دي چې عزل جائز دی او ځیني حضرات چې په هغو کي صحابه کرام هغه شامل دي دې ته ناجائز وایي مگر صحیح خبره داده چې عزل کول جائز دي او په درمختار کي هم دا لیکلي دي که یو سړی د یو خاص حکمت یا عذر په وجه عزل کول غواړي نو هغه ته اجازه دې مگر دا باید په خیال کي وي چې د خپل مینزي سره عزل کول د هغې د اجازې څخه پرته هم جائز دي مگر د خپل ازادي منکوحې سره د هغې د اجازې څخه وروسته عزل جائز دي، د امام شافعي رحمه الله په باره کي سید دا لیکلي دي چې د هغه په نزد هم د خپل ازادي منکوحې (نکاح سوي ښځې) سره د هغې د اجازې څخه وروسته عزل کول جائز دي مگر مینزه که مملوکه وي یا منکوحه وي د هغې د اجازې څخه پرته عزل کول جائز دي او امام نووي رحمه الله دا لیکلي دي چې زموږ شوافع په نزد عزل کول مکروه دی ځکه چې دنسل د قطع کولو سبب دی.

(۳۰۴۸): وَعَنْهُ قَالَ أَنَّ رَجُلًا أَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دی چې یو سړی د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او

لِي جَارِيَةً هِيَ خَادِمَتُنَا وَأَنَا أَطُوفُ عَلَيْهَا وَأَكْرَهُ أَنْ تَحْمِلَ فَقَالَ اعْزِلْ عَنْهَا

عرض یې وکړ زما سره یوه مینزه ده چې زموږ خدمت کوي زه د هغې سره کوروالي کوم مگر زه دا نه خوښوم چې هغه حامله سي نبي کریم ﷺ وفرمایل: که ته غواړې نو عزل کوه

إِنْ شِئْتَ فَإِنَّهُ سَيَأْتِيهَا مَا قُدِّرَ لَهَا فَلَبِثَ الرَّجُلُ ثُمَّ أَتَاهُ فَقَالَ إِنَّ الْجَارِيَةَ

Maktaba Tul Ishaat.com

او کوم شی چي په تقدیر کي وي هغه به ضرور پیدا کیږي هغه سړی ولاړی او تر ډیرو ورځو پوري را نغلی بیا هغه حاضر سو عرض یې وکړ چي

قَدْ حَبِلَتْ فَقَالَ قَدْ أَخْبَرْتُكَ أَنَّهُ سَيَأْتِيهَا مَا قُدِّرَ لَهَا . رواه مسلم .

هغه ښځه حامله سوې ده نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: ما پخوا لا خبر کړی یې چي کوم شی مقرر وي هغه به ضرور پیدا کیږي . (مسلم) .

تخريج: مسلم في الصحيح ۲\۱۰۶۴، رقم: ۱۳۴- ۱۴۳۹.

تشريح: علامه نووي رحمه الله وايي چي دا حديث ددې خبري دليل دی چي د عزل کولو سربېره که چيري حمل وسي نو نسب يې ثابت وي او علامه ابن همام رحمه الله هم په دې باره کي ويلي دي که يو سړی د خپل ښځي په اجازه سره يا هغې د اجازې څخه پرته عزل وکړي او ددې سربېره د هغه ښځي حمل وسي نو ايا د هغه سړي لپاره د هغه حمل څخه انکار کول جائز دي که يا ؟ په دې مسئله کي تفصيل دی چي د علماؤ قول دادی که چيري يو سړی د عزل کولو څخه وروسته دخول نه وي کړی يا دخول يې کړی وي مګر د هغه څخه مخکي يې بولي کړي وي نو په دغه صورت کي د هغه لپاره د حمل څخه انکار کول جائز دي او که چيري هغه دوهم وار د دخول څخه مخکي بولي نه وي کړی نو بيا د هغه لپاره د حمل څخه انکار کول جائز نه دي ځکه چي په دغه صورت کي ددې خبري قوي احتمال کيدای سي چي د هغه په ذکر (د نارينه خاص اندام) کي د مني يو څاڅکی پاته سوی وي او هغه اوس د دخول په صورت کي د ښځي رحم ته تللی وي نو په دغه صورت کي د امام ابو حنيفة رحمه الله مذهب دادی که چيري يو سړی (د جماع څخه د فارغه کېدو وروسته) د بولو کولو څخه مخکي د جنابت غسل وکړي او د هغه څخه وروسته چي بولي وکړي او د مني يو څاڅکی راووځي نو په دغه صورت کي پر هغه واجب دي چي دوهم وار غسل وکړي .

﴿۳۰۴۹﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

د ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چي د بني مصطلق په جګړه کي موږ د نبي کريم ﷺ

وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ بَنِي الْمُصْطَلِقِ فَأَصَبْنَا سَبْيًا مِنْ سَبْيِ الْعَرَبِ فَاشْتَهَيْنَا

سره ولاړو او د عربو يو څو مينزي زموږ په لاس کي راغلې زموږ ښځو ته خواهش وسو او جره

Maktaba Tul Ishaat.com

النِّسَاءَ وَاشْتَدَّتْ عَلَيْنَا الْعُزْبَةُ وَأَحْبَبْنَا الْعَزْلَ فَأَرَدْنَا أَنْ نَعْزِلَ وَقُلْنَا نَعْزِلُ

والي زموږ لپاره يو مشكل سو خو د ښځو سره مو په دې خيال جماع و نكړه چي حاملداره سي اخير مو د عزل اراده وكړه وروسته مو سوچ وكړ

وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ أَظْهُرِنَا قَبْلَ أَنْ نَسْأَلَهُ فَسَأَلْنَاهُ عَنْ

چي كله رسول الله ﷺ دلته تشريف راوړى نو د هغه ﷺ څخه د پوښتني كولو پرته عزل كول مناسب نه دى موږ چي كله د نبي كريم ﷺ څخه پوښتنه وكړه

ذٰلِكَ فَقَالَ مَا عَلَيْكُمْ أَنْ لَا تَفْعَلُوا مَا مِنْ نَسَمَةٍ كَائِنَةٍ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ إِلَّا وَهِيَ كَائِنَةٌ . متفق عليه.

نو يې راته وفرمايل :د عزل په پرېښولو كي ستاسو څه نقصان نسته ځكه چي كوم نفس (بشر) د قيامته پوري پيدا كيدونكي دى هغه به ضرور پيدا كيږي . (بخاري او مسلم) .

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۷\۴۲۸، رقم: ۴۱۳۸، ومسلم ۲\۱۰۶۱، رقم: ۱۲۵\۱۴۳۸.

د لغاتو حل: العُزبة: اى قلة الجماع. (لږ كوروالي).

تشريح: امام نووي رحمة الله عليه فرمايي چي د سبيا من سبي العرب څخه دا خبره ثابتيږئ چي پر عربو باندي رق (غلامي) جاري كيږي كله چي هغوى مشركان وي يعني څرنګه چي غير عرب مشركان او كافران په جنګ كي نيولو څخه وروسته غلامان او مينزي جوړېداى سي همدارنګه هغه مشركان او كافران چي د هغوى تعلق د عربو د نسل سره وي په يو جنګ كي د بنديانو په توګه په لاس راسي نو هغوى هم د مسلمانو په حق كي مينزي او غلامان كيږي ځكه چي دلته د كومو مينځو او غلامانو په لاس راتلل ذكر سوي دي د هغوي تعلق د بني المصطلق سره وو چي د خزاعه قبيلې يو ښاخ دى او د خزاعه قبيلې والا د عربو څخه دي ، د امام شافعي او امام مالك رحمة الله عليهما مذهب دادى مګر امام ابوحنيفة رحمة الله عليه فرمايي چي عربو ته الله تعالى يو خاص شرف وركړى دى د هغه سره سم د هغوى په افرادو كي غلامي نه جاري كيږي يعني هغوى مينزي او غلامان نه سي جوړېداى ، د امام شافعي رحمة الله عليه پخوانى قول هم دادى .

ما عليكم ان لا تفعلوا : دلته حرف د ان د الف په زور سره يعني اَن هم صحيح دي او د الف په زېر سره يعني اِن هم صحيح دى، د دغه جملې امام نووي رحمة الله عليه دا بيان كړې ده كه چيري تاسو عزل نه

Maktaba Tul Ishaat.com

کوئ نو په دې کې څه تاوان نه سته ځکه کله چې دا خبره فيصله ده چې الله تعالی کوم نفس پيدا کول مقدر کړي دي نو هغه به خامخا پيدا کيږي ځکه که تاسو عزل کوئ يا يې نه کوئ پر پيدا کېدونکي نفس باندې د هغه هيڅ اثر نه لويږي که چيري هغه د غه دنيا ته راځي نو تاسو په لک واره عزل وکړئ د کوچني بندېدو په لکاوو طريقې وکړئ مگر هغه به دنيا ته راځي او که چيري د هغه پيدا کېدل مقدر نه وي نو بيا که تاسو عزل وکړئ نو ستاسو هيڅ تاوان نه سته ، خلاصه دا چې ستاسو عزل کول هيڅ گټور شی نه دی په دې اعتبار دا حديث د عزل د عدم جواز ته اشاره کوي .

ځيني حضرات وايي چې په (ان لا تفعلوا) کې حرف د لا زائد دی په دغه صورت کې به د دغه جملې معنی دا وي چې په عزل کولو کې څه بدوالی نه سته په دې اعتبار به دغه حديث د عزل د جائز کېدو دليل وي .

﴿۳۰۵۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللهِ ﷺ عَنِ الْعَزْلِ فَقَالَ مَا مِنْ كُلِّ الْمَاءِ يَكُونُ الْوَلَدُ وَإِذَا أَرَادَ اللهُ خَلْقَ شَيْءٍ لَمْ يَمْنَعْهُ شَيْءٌ . رواه مسلم .

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چې د رسول الله ﷺ څخه د عزل په باره کې پوښتنه وسوه نو نبي کريم ﷺ وفرمايل : د منيو د ټولو اوبو څخه کوچنی نه پيدا کيږي (بلکه د دې لپاره يوه قطره هم کافي ده) او کله چې الله تعالی د يو شی د پيدا کولو اراده وکړي نو هيڅ شی هغه نسي منعه کولای . (مسلم) .

تخريج: مسلم في الصحيح: ۲\ ۱۰۶۴، رقم: ۱۳۳- ۱۴۳۸.

تشريح: دلته دا اشکال پيدا کيږي چې په سوال او جواب کې څه مطابقت نه سته حالنکه د حديث پر حقيقي مفهوم باندې که نظر وکړل سي نو د دغه اشکال پيدا کېدو هيڅ محال نه پاته کيږي ځکه د سوال مقصد دا وو چې د عزل کولو اجازه تر لاسه سي چې د ښځي سره د ولادت کېدو بېره پاته نه سي ، د سوال د دغه حقيقي مفهوم سره سم رسول الله ﷺ جواب ورکړ چې تاسو خلک خو دا گڼئ چې د سړي مني د ښځي په رحم کې لوېدل د ښځي په نزد د ولادت کېدو سبب دی او عزل کول د ولادت نه کېدو سبب دی بلکه حقيقت دا دی چې د مني د هر څاڅکي څخه کوچنی جوړيږي اکثر داسي کيږي چې د سړي مني د ښځي رحم ته ورسيږي مگر د هغه څخه کوچنی نه جوړيږي او ځيني وختونه داسي کيږي چې خلک عزل کوي مگر د دې سربېره ښځه حامله سي د دې څخه معلومه سوه چې د ښځي حامله کېدل د سړي د مني پر لوېدو باندې

موقوف نه دي بلکه د الله تعالی پر اراده باندي موقوف دي همدارنګه د ښځي څخه حامله کېدل هم د الله تعالی پر اراده باندي موقوف دي پر عزل باندي موقوف نه دي مګر دا خبره ضروري ده چي الله تعالی د توالد او تناسل یو نظام تاکلی دی چي د سړي د نطفې څخه د کوچني تولید کیږي ځکه کیدای سي چي د عزل کولو په صورت کي هم د نطفې یو برخه بېله اختیاره د ښځي رحم ته ولاړه سي او د هغه څخه کوچنی جوړ سي بلکه په دې کي هم څه شک نه سته که چیري د یو کوچني پیدا کېدل په تقدیر کي وي نو الله تعالی پر دې قدرت حاصل دی چي هغه کوچنی بېله نطفې څخه پیدا کړي.

په ظاهره خو دغه حدیث شریف د عزل پر جائز کېدو باندي دلالت کوي مګر د دې حقیقي مفهوم دې ته اشاره کوي چي عزل کول غوره کار نه دی بلکه مکروه دی، په دغه مسئله کي د حنفیه او نورو علماؤ چي کوم فقهي مذهب دی د هغه بیان د حضرت جابر ﷜ د روایت په تشریح کي تېر سوی دی.

﴿۳۰۵۱﴾: وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ أَنَّ رَجُلًا جَاءَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

د حضرت سعد بن ابي وقاص ﷜ څخه روایت دی چي یو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي أَعْزِلُ عَنِ امْرَأَتِي فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

حاضر سو او عرض یې وکړ چي زه د خپلي بي بي سره عزل کوم نبي کریم ﷺ ور څخه پوښتنه

وَسَلَّمَ لِمَ تَفْعَلُ ذَلِكَ فَقَالَ الرَّجُلُ أُشْفِقُ عَلَى وَلَدِهَا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ كَانَ ذَلِكَ ضَارًّا ضَرَّ فَارِسَ وَالرُّومَ . رواه مسلم .

وکړه چي عزل ولي کوی ؟ هغه وویل د خپل شېر خوار کوچني په وجه عزل کوم دا چي حمل و نسي او کوچني ته په شېدو رودلو کي تاوان پېښ نسي. نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل : که په دې (یعني د حمل په ورځو کي) شیدو ور کولو کي تاوان وای نو د روم او فارس خلکو ته به یې خامخا تاوان رسولای (ځکه چي هغوی په دې عادت دي). (مسلم).

تخريج: مسلم في الصحيح: ۱۲\۱۰۶۷، رقم: ۱۴۳- ۱۴۴۳.

تشريح: د خلکو دا خیال وو چي د رضاعت په وخت کي جماع کول او بیا په حمل کېدو سره د ښځي په شېدو کي خرابي پیدا کیږي ځکه د هغه شېدو په څښلو سره تي رودونکي کوچني ته

Maktaba Tul Ishaat.com

تاوان رسيږي ددې څخه پرته په داسي حالت کي د ښځي شيدې هم کميږي د دغه بيري له کبله هغه سړي د رسول الله ﷺ څخه د عزل اجازه وغوښتل او د هغه په جواب کي رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چي د رضاعت په وخت کي جماع کول او حمل کېدل که چيري د تي رودونکي کوچني لپاره تاواني واى نو د روم او فارس خلکو ته به يې خامخا تاوان رسولى واى ځکه چي هغوى ددې عادي دي او کله چي د هغوى دغه عادت د هغوى لپاره تاوان کونکى نه دى نو معلومه سوه چي د رضاعت په وخت کي حمل کېدل تاوان رسونکى نه دى نو د عزل کولو څه ګټه نه سته او د حمل کېدو د بيري په وجه عزل مه کوه يعني د رسول الله ﷺ دغه ارشاد د عزل پر کراهت او ناخوښي باندي دلالت کوي .

﴿۳۰۵۲﴾ : وَعَنْ جُذَامَةَ بِنْتِ وَهَبٍ قَالَتْ حَضَرْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د بي بي جذامه بنت وهب رض څخه روايت دى چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضره سوم

وَسَلَّمَ فِي أُنَاسٍ وَهُوَ يَقُولُ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ أَنْهَى عَنِ الْغِيلَةِ فَنَظَرْتُ فِي الرُّومِ

نو نبي کريم ﷺ د خلکو يوې ډلى ته مخاطب سو چي ما اراده کړې وه چي خلک به د (غيله)، (غيله په دوو معنى ده ۱- يو خو داد چي د کوچني د شيدو رودلو په وخت کي د هغه د مور سره جماع کول او ۲- دا چي د حمل په وخت کي و کوچني ته تى ورکول چي دا به عربو بد ګڼل او ويل به يې دې باندي و کوچني ته تاوان رسوى)، څخه منعه کړم مګر کله چي ما وليدل

وَفَارِسَ فَإِذَا هُمْ يُغِيلُونَ أَوْلَادَهُمْ فَلَا يَضُرُّ أَوْلَادَهُمْ ذَلِكَ شَيْئًا ثُمَّ سَأَلُوهُ

چي د روم او فارس خلکو به د حمل په وخت کي غيله کوله او د غيلې په وجه و کوچني ته تاوان نه رسېدئ نو بيا ما خپله اراده پرېښودل وروسته خلکو د نبي کريم ﷺ څخه د عزل په اړه

عَنِ الْعَزْلِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَلِكَ الْوَأْدُ الْخَفِيُّ وَهِيَ

{ وَإِذَا الْمَوْءُودَةُ سُئِلَتْ } . رواه مسلم .

پوښتنه وکړه نو نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : عزل کول د کوچني د ښخولو پټ شکل دى او د دې ايت په مفهوم کي داخل دى واذا الموءودة سئلت (يعني کومه کوچنۍ چي ژوندى ښخ کړل سي او د هغې څخه به پوښتنه وسي) . (مسلم) .

Maktaba Tul Ishaat.com

تخريج: مسلم في الصحيح ۲\۱۰۶۷، رقم: ۱۴۱- ۱۴۴۲

د لغاتو حل: الغِيلة: اى الارضاع حال الحمل. (د حمل په وخت کي تى ورکول).

تشريح: د غيله معنى ده د حمل په حالت کي کوچني ته تى ورکول، په نهايه کي ليکلي دي چي د غيله مطلب دادى چي يو سړى د رضاعت په ورځو کي د خپل ښځي سره جماع وکړي، عربو د غيلې څخه پرهيز کوى او دا گمان يې کوى چي په دغه صورت کي تي رودونکي کوچني ته تاوان رسيږي ځکه رسول الله ﷺ دا اراده وکړه چي خلک د رضاعت په ورځو کي خپل ښځي ته د ورتلو څخه منع کړي مگر کله چي رسول الله ﷺ وليدل چي د روم او فارس خلک داسي کوي او د هغوى اولاد ته څه تاوان نه رسيږي نو رسول الله ﷺ د ممانعت اراده پرېښودل.

د (وادٌ) معنى ده د ژوندي ښخول، د جاهليت په زمانه کي به عربو د مفلسۍ د بيري څخه او د پېغور له کبله خپله لوښي ژوندۍ ښخولې، په ذکر سوي آيت کريمه کي دې ته اشاره ده چي د قيامت په ورځ به د الله تعالى له لوري د هغه مور او پلار څخه پوښتنه کيږي چي په خپل لاس به يې خپل لوښي ژوندۍ ښخولې، رسول الله ﷺ عزل هم په (واد خفي) يعني د ژونديو په ښخولو سره تعبير کړ همدارنگه دغه حديث شريف د هغه حضراتو دليل دى چي عزل ته جائز نه وايي او وم حضرات چي عزل جائز گڼي هغوى دا وايي چي يا خو دغه حديث شريف منسوخ دى او يا سول الله ﷺ دا خبره د تهديد او خبرتيا په توگه فرمايلې ده يا دا چي د دغه ارشاد په ذريعه دې ته اشاره سوې ده چي عزل نه کول غوره دي.

د دغه حضراتو تائيد د دغه روايت څخه هم کيږي چي يوه ورځ د رسول الله ﷺ يو مجلس جوړ سوى وو، په حاضرينو کي حضرت علي، حضرت زبير او د حضرت سعد رضي الله عنهم څخه علاوه نور جليل القدر صحابه کرام لکه حضرت امير المؤمنين حضرت عمر فاروق رضي الله عنه هم موجود وو، د عزل په باره کي بحث کېدى، د صحابه کرامو رايه دا وه چي په دې کي څه پروا نه سته مگر يو صحابي دا وويل چي خلک خو دا وايي چي عزل کول موءودة صغرى (يعني د ژونديو ښخول) دي يعني څرنگه چي خپل اولاد ژوندي ښخول موءودة کبرى دى همدارنگه عزل کول موءودة صغرى دى، حضرت علي رضي الله عنه د دې په جواب کي وفرمايل چي تر څو پوري په کوچني کي ساه را نه سي د موءودة اطلاق نه پر کيږي يعني د ساه راتللو څخه وروسته که چيري د حمل اسقاط وکړل سي يا کوچنى د ژوندي پيدا کېدو څخه وروسته ژوندى ښخ کړل سي نو دې ته به موءودة ويل کيږي، د حضرت علي رضي الله عنه د دغه جواب په اورېدو سره حضرت عمر رضي الله عنه وفرمايل: اې علي! الله تعالى دي ستاسو عمر اوږد کړي تا ريښتا وويل، فقهي مسئله

Maktaba Tul Ishaat.com

دا ده چي تر څو پوري په کوچني کي ساه را نه سي د هغه د حمل اسقاط جائز دي او د حمل څخه يو سل او شل ۱۲۰ ورځو کي په حمل کي ساه راځي ، يعني د حمل څخه وروسته په يو سل او شلو ورځو کي د ننه د حمل اسقاط جائز دی او د دې څخه وروسته جائز نه دی .

ځيني حضرات وايي چي د غه ارشاد مبارک د عزل پر حرام کېدو باندي دلالت نه کوي البته پر مکروه کېدو باندي دلالت کوي په دې معنی چي عزل کول د واد حقيقي (يعني په حقيقت کي د ژونديو ښخولو) په حکم کي داخل نه دی ځکه چي د واد حقيقي مطلب دادی چي د يو نفس هلاکول حال دا چي په عزل کي دا صورت نه وي البته عزل کول د واد حقيقي مشابه دی ځکه دې ته پټ ژوندي ښخول ويل سوي دي چي دې ته اشاره کوي چي د عزل په ذريعه د خپل مني ضائع کول دي او دا خبره څرګنده ده چي مني الله تعالی د کوچني پيدا کېدو لپاره تيار کړي دي ځکه دغه کار (يعني عزل کول) د خپل کوچني د هلاکولو يا د هغه ژوندي ښخولو مشابه دي .

علامه ابن همام رحمة الله عليه وايي چي د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه په باره کي دا صحيح روايت نقل سوی دی چي هغه وفرمايل : عزل موءودة صغری دی او د حضرت ابو امامه رضي الله عنه په باره کي نقل سوي دي چي د هغه څخه د عزل په باره کي پوښتنه وسوه نو هغه وفرمايل چي ما د هيڅ مسلمان په باره کي د عزل کولو نه دي اوريدلي ، معلومه سوه چي عزل غوره کار نه دی.

همدارنګه د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دي چي حضرت عمر فاروق رضي الله عنه به ځيني خلک پر عزل کولو باندي وهل او د حضرت عثمان غني رضي الله عنه په باره کي دا نقل سوي دي چي هغه به د عزل کولو څخه منع کول ، د دغه ټولو رواياتو څخه د عزل منع ثابتيږي مګر علماء کرام وايي چي دا منع د نهي تنزيهي په توګه ده .

ښځي ته د راز خبرو ښوولو څخه منع

﴿۳۰۵۳﴾ : وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان اعظم

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : د قيامت په ورځ به

الامانة عند الله يوم القيامة وفي رواية إِنَّ مِنْ أَشَرِّ النَّاسِ عِنْدَ اللهِ مَنْزِلَةً

د خدای تعالي په نظر هغه سړی ډېر خراب وي چي د خپلي بي بي سره کوروالي وکړي او د

يَوْمَ الْقِيَامَةِ الرَّجُلَ يُفْضِي إِلَى امْرَأَتِهِ وَتُفْضِي إِلَيْهِ ثُمَّ يَنْشُرُ سِرَّهَا . رواه مسلم

Maktaba Tul Ishaat.com

هغې پټ راز نورو ته څرګند کړي (يعني کومې خبري چې تر پر دې شاته سوې وي يا کوم افعال او حرکات چې کړي وي د هغو بيان کوي) (مسلم)

تخريج: مسلم في الصحيح: ۲\۱۰۶۱، رقم: ۱۳۴- ۱۴۳۷.

تشريح علامه طيبي رحمة الله عليه د (ان اعظم الامانة...) په باره کې وايي چې ددې مطلب دادی چې هغه لوی امانت چې په هغه کې د خيانت کونکې څخه به د قيامت په ورځ سخته پوښتنه کيږي د ښځې او خاوند په مينځ کې جنسي معاملاتو سره متعلق خبري دي يعني د ښځې او خاوند په مينځ کې جنسي افعال او د راز خبري لوی امانت دی چې د هغه ساتنه د هر خاوند او ښځې ذمه داري ده کوم خاوند او ښځه چې ددغه امانت ساتنه ونه کړي په دې توګه چې هغه د خپل ښځې سره د کوروالۍ وروسته د هغې راز څرګند کړي نو د هغه څخه به د قيامت په ورځ سخته پوښتنه کيږي او د اشرف رحمة الله عليه د قول سره سم ددغه ارشاد معنی داده چې د قيامت په ورځ به د الله تعالی په نزد تر ټولو په لوی امانت کې خيانت د هغه سړي خيانت وي چې هغه د خپل ښځې سره کوروالي وکړي او بيا د هغې راز څرګند کړي ، د راز څرګندولو څخه مراد دادی چې د هغه او ښځې په مينځ کې د راز کومې خبري سوي وي او د جنسي اړيکو سره اړوند کوم کارونه سوي دي هغه خلکو ته وايي ، لکه څرنګه چې د بې حياء خلکو عادت دی چې د خپل ښځې يو عيب بيانوي يا دا چې د خپلو ښځو هغه ښه والی او صفت بيانوي کوم چې د هغه پټ ساتل شرعا او اخلاقا واجب وي .

ابن مالک رحمة الله عليه وايي چې ددغه ارشاد مطلب دادی چې ښځه او خاوند هر يو د بل د افعالو او اقوالو امين دی په دوی کې چې کوم يو د يو بل هغه افعال او اقوال ظاهروي د کوم چې ظاهرول دوهم نه خوښوي نو هغه ته به خيانت کونکی ويل کيږي .

په هر حال د حديث شريف خلاصه داده چې د ښځې او خاوند په مينځ کې د جنسي معاملاتو او ذاتي چارو سره اړوند چې کومې خبري يا کارونه وي هغه د بل په مخکې کې بيانول يا د يو بل عيبونه څرګندول يوازې په اخلاقي توګه نه بلکه په شرعي توګه هم په آخرت کې د مؤاخذې موجب دی .

دلته يوه عبرتناکه واقعه بيانول د ګټې څخه خالي نه ده چې يو وخت يو عالم او پوه سړي خپل ښځې ته د طلاق ورکولو اراده وکړه خلکو پوښتنه ځيني وکړه چې داسي ولې کوې؟ هغه وويل زه د خپل ښځې عيبونه ولې ذکر کړم (يعني که چيري زه د طلاق وجه بيان کړم نو دا د هغې

عیب څرګندول سول چي زه تاسو د طلاق وجه بیان کړم او زه دا نه خوښوم تر څو چي هغه زما ښځه ده د هغې عیب بیان کړم بیا چي کله هغه طلاق ورکړی نو بیا خلکو پوښتنه ځیني وکړه چي تا خپل ښځي ته ولي طلاق ورکړ نو هغه وویل چي زه د یو پردی ښځي عیبونه ولي ښکاره کړم یعني که چیري زه د طلاق وجه بیان کړم نو ددې مطلب دادی چي زه د پردی ښځي عیبونه تاسو ته بیانوم او زه دا بالکل مناسب نه ګڼم.

ځیني علماء وایي چي د ښځي او خاوند لپاره د یو بل د خبرو څرګندول په هغه صورت کي وي کله چي د هغه ګټه او مقصد نه وي مګر که چیري یو ګټه یا یوه معقوله وجه وي نو بیا دا ممانعت نه سته د مثال په توګه د ښځي دا دعوه وي چي د هغې خاوند د هغې د جنسي خواهش د پوره کولو اهل نه دی یا ښځه دا شکایت وکړي چي د هغې خاوند د هغې سره د لاپرواهۍ چلن کوي نو په دغه صورت کي د ښځي لپاره د هغه شیانو ذکر کول به ناخوښه نه وي لکه څرنګه چي الله تعالی په خپله فرمایي:

لاَ يُحِبُّ اللّٰهُ الْجَهْرَ بِالسُّوَءِ مِنَ الْقَوْلِ إِلاَّ مَن ظُلِمَ

ژباړه: الله جل جلاله دا نه خوښوي چي یو خرابه خبره په ډاګه بیانه سي مګر که چیري پر چا باندي ظلم سوی وي (نو هغه په ډاګه هم بیانولای سي).

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

په حیض کي د کورو الۍ منع

﴿۳۰۵۴﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أُوحِيَ إِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنّٰى شِئْتُمْ} أَقْبِلْ وَأَدْبِرْ وَاتَّقِ الدُّبُرَ وَالْحَيْضَةَ. رواه الترمذي وابن ماجة والدارمي.

د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چي پر رسول الله صلی الله علیه وسلم باندي دا ایت نازل سو نسائکم .... حرثکم. (یعني ښځي ستاسو کښت دی څنګه چي غواړی د هغوی سره کوروالي وکړئ) (که د مخکني لور څخه دخول کوئ یا د وروسته طرفه څخه) البته د لویو بولو د ځای د دخول څخه ځان وژغورئ او د حیض په وخت کي ور سره جماع مه کوئ. (ترمذي ابن ماجه دارمي).

تخریج: سنن الترمذي۵\ ۲۰۰، رقم: ۲۹۸۰، وابن ماجه ۱\ ٦۲۰، رقم: ۱۹۲۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

تشريح لفظ د أَقبَلَ (يعني كه د مخ له خوا مخكنئ شرمګاه ته راسي) او أدبَرَ (يعني كه د شا له خوا مخكنئ شرمګاه ته راسي) دغه دواړه لفظونه د آيت كريمه (فاتوا حرثكم ...) په تفسير او بيان كي دي يعني ددغه دواړو الفاظو په ذريعه دا وضاحت سوى دى چي د آيت كريمه مطلب دادى كه څوک وغواړي دمخ له خوا راسي يا د شا له خوا مګر دخول به په هر صورت كي په مخكنئ شرمګاه كي وي او بدفعلي يعني د شا په شرمګاه كي دخول حرام دى همدارنګه دحيض په حالت كي هم په مخكنئ شرمګاه كي دخول حرام دى.

﴿۳۰۵۵﴾: وَعَنْ خُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ لَا يَسْتَحِي مِنَ الْحَقِّ لَا تَأْتُوا النِّسَاءَ فِي أَدْبَارِهِنَّ. رواه احمد والترمذي وابن ماجة والدارمي.

د حضرت خزيمه بن ثابت رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالي د حق خبره كولو څخه نه شرميږي تاسو د ښځو سره د لويو بولو په ځاي كي كوروالي مه كوئ. (احمد ترمذي ابن ماجه دارمي)

تخريج: احمد في المسند ۵\ ۲۱۳، والترمذي ۳\ ۴۶۸، رقم: ۱۱۶۴، وابن ماجه ۱\ ۶۱۹، رقم: ۱۹۲۴، والدارمي ۲\۱۹۶، رقم: ۲۲۱۳.

تشريح حياء هغه تغير ته وايي چي د عيبجن كېدو او بد ويلو د بيري څخه په انسان كي واقع كيږي او د الله تعالى په ذات كي د تغير واقع كېدل محال دي ځكه نو دلته د حياء څخه حقيقي حياء مراده نه ده بلكه مجازي حياء يعني ترک كول مراد دي كوم چي د حياء مقصد دى، همدارنګه د (ان الله لا يستحي ...) مطلب به دا وي چي الله تعالى د حق خبري كولو او د هغه د اظهار څخه ترک كوي نو په حديث كي دا خبره د وروستني مضمون (د ښځي سره د بدفعلئ كولو ممانعت) د تمهيد او مقدمې په توګه ذكر كول ددغه بدفعلئ د پر خرابي او د هغه پر حرام كېدو باندي خبرداري وركول دي چي دا خبره دومره ناخوښه او مكروه ده چي ددې پر ژبه راوړل او ددې ذكر كول هم د شرم او حياء خلاف كار دى كه څه هم د هغه ذكر كول د هغه د منع كېدو په وجه وي مګر دا يو شرعي مسئله ده او د شرعي مسئلې د بيانولو څخه پرته بله چاره نه سته ځكه نو واورئ چي د ښځو سره (د هغوى د شا په شرمګاه كي) بد فعلي كول حرام دي ځكه نو ددې څخه پرهيز وكړئ، ددې څخه معلومه سوه چي د ښځو سره بد فعلي كول حرام دي نو د خلكو سره

دغه فعل كول په طريقه اولى حرام دي.

علامه طيبي رحمة الله عليه فرمايي چي دلته مناسب دا وه چي رسول الله ﷺ دا فرمايلي واى چي زه د حق خبري بيانولو څخه حياء نه كوم مګر رسول الله ﷺ دا خبره الله تعالى ته منسوبه كړې ده او ددې څخه د رسول الله ﷺ مقصد د حكم ارزښت څرګندول او ددغه بدفعلۍ خرابي د مبالغې په توګه بيانول دي نو دا ددې خبري دليل دى چي د خپلو ښځو او مينځو سره بدفعلي كول حرام دي كوم خلک چي دا جائز ګڼي هغوى په سخته ګمراهي كي اخته دي.

علامه طيبي رحمة الله عليه وايي كه چيري يو سړى د يو پردۍ ښځي سره بدفعلي وكړي نو هغه به د زنا په حكم كي وي مګر ددې په بدله كي به نه سنګسار كيږي او نه به پر هغه حد جاري كيږي البته يو څه سزا به خامخا وركول كيږي.

علامه نووي رحمة الله عليه وايي كه چيري يو سړى د خپل غلام سره بدفعلي وكړي نو هغه به د پردي سره د بدفعلي كونكي په حكم كي وي او امام ابوحنيفة رحمة الله عليه فرمايي چي پر دغه بد فعلي باندي فاعل او مفعول (يعني دواړه بدفعليَ كونكي) د سزا وړ دي او دواړو ته د هغوى د حال مناسب سزا دي وركړل سي مګر كه چيري مفعول (د چا سره چي بدفعلي سوې وي) كوچنى وي يا ليونى وي يا په زور بدفعلي ورسره سوې وي نو هغه ته به سزا نه وركول كيږي.

د ښځي سره د شاله خوا كوروالي كونكى ملعون دى

﴿۳۰۵۶﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَلْعُونٌ مَنْ أَتَى امْرَأَتَهُ فِي دُبُرِهَا. رواه احمد وابو داؤد.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي په مقعد (كونه) كي د ښځي سره بد كار كوي هغه لعنتي دى. (احمد ابو داؤد)

تخريج: احمد في المسند ۲\۴۴۴، وابوداود في السنن ۲\۶۱۸، رقم: ۲۱۶۲.

﴿۳۰۵۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ الَّذِيْ يَأْتِيْ امْرَأَتَهُ فِيْ دُبُرِهَا لَا يَنْظُرُ اللهُ اِلَيْهِ. رواه في شرح السنة.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د خپلي ښځي

Maktaba Tul Ishaat.com

سره په مقعد (کونه) کي جماع کوی خداي تعالي هغه ته د شفقت او د رحمت په سترګه نه ګوری. (شرح السنة).

تخريج: البغوي في شرح السنة ۹\۱۰۷، رقم: ۲۲۹۷.

﴿۳۰۵۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَنْظُرُ اللَّهُ إِلَى رَجُلٍ أَتَى رَجُلًا أَوْ امْرَأَةً فِي الدُّبُرِ. رواه الترمذي.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: خداي تعالي هغه سړي ته په د رحمت او شفقت نه ګوری چي د نريا ښځي سره په مقعد (کونه) کي جماع کوی. (ترمذي).

تخريج: الترمذي في السنن ۳\۴۶۹، رقم: ۱۱۶۵.

د غيله منع

﴿۳۰۵۹﴾: وَعَنْ اَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيْدٍ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ سِرًّا فَإِنَّ الْغَيْلَ يُدْرِكُ الْفَارِسَ فَيُدَعْثِرُهُ عَنْ فَرَسِهِ. رواه ابوداؤد

د بي بي اسماء بنت يزيد رض څخه روايت دی چي ما د رسول الله رضي الله عنه څخه اورېدلي دي چي تاسي خپل اولادونه په پټه سره مه قتلوئ (يعني غيله مه کوئ) ځکه چي غيله سپور کمزوره کوي او هغه د آس څخه غورځوي يعني د رضاعت په حالت کي استقرار د حمل سره کوچنی کمزوره کيږي او په ځوانئ کي دا کمزوري خپل اثر ښيي. (ابو داؤد).

تخريج: ابوداود في السنن ۴\۲۱۱، رقم: ۳۸۸۱.

د لغاتو حل: الغَيل: وهو لبن يحصل عند الاغالة، اى ضرره واثره.

تشريح: خپل اولادونه په پټه سره مه قتلوئ: ددې مطلب دادی چي د غيلې په ذريعه په هلاکت کي مه اچوئ او دا مخکي ښوول سوې ده چي د حمل په حالت کي تی ورکول يا د رضاعت په وخت کي جماع کولو ته غيله وايي نو د حديث خلاصه دا سوه چي د غيلې په وجه د کوچني په مزاج کي خرابي پيدا کيږي او د هغه قوه کمزورې کيږي او د دغه خرابۍ او ضعف اثر د هغه د

Maktaba Tul Ishaat.com

بالغ کېدو څخه وروسته معلومیږي چي دهغه نتیجه دا سي چي هغه کوچنی د لوی کېدو څخه وروسته کله چي د جنګ ډګر ته ولاړ سي نو د دښمن په مقابله کي سست او کمزوری وي او د آس څخه لویږي او دا شی د هغه په حق کي داسي دی لکه هغه چي د مقابلې څخه مخکي قتل کړل سوی وي نو غیله مه کوئ چي د غیله په وجه د خپل کوچني د قتل سبب ګرځي .

دلته دا اشکال پیدا کیږي چي ددغه حدیث څخه معلومه چي پر کوچني باندي د غیلې اثر لویږي حال دا چي ددې څخه مخکي په ځینو حدیثو کي راغلي دي چي غیله پر کوچني اثر نه اچوي، ددې جواب طیبي رحمه الله دا ورکړی دی چي په تېرو حدیثو کي پر کوچني د غیلې د اثر لوېدو نفي د جاهلیت د زمانې د هغه عقیدې د تردید لپاره وه چي خلکو حقیقي غیله مؤثر ګڼل او ددغه حدیث په ذریعه د غیلې د اثر کېدو چي کوم اثبات سوی دی هغه ددې لپاره چي غیله في الجمله سبب جوړیږي او مؤثر حقیقي د الله تعالی رضا او دهغه حکم دی، یا داسي به ووایو چي په دغه حدیث کي د غیلې کومه منع سوې ده هغه د نهي تنزیهي په توګه ده او د رسول الله ﷺ ارشاد (لقد هممت . .) پر تحریم باندي محمول دی همدارنګه په دواړو حدیثو کي څه تضاد نه پاته کیږي ددې څخه پرته دا هم ویل کیدای سي چي د غیلې په اړه د رسول الله ﷺ له خوا ممانعت او عدم ممانعت د دواړو بنیاد د رسول الله ﷺ پر اجتهاد وو یعني کله چي رسول الله ﷺ ولیدل چي د عربو خلک غیله کوي او د هغوی کوچنیان ضعیف او کمزوري کیږي نو رسول الله ﷺ د غیلې څخه منع وکړل مګر وروسته چي رسول الله ﷺ د روم او فارس خلک ولیدل چي د هغوی په نزد د غیلې په وجه کوچني ته څه تاوان نه رسیږي نو رسول الله ﷺ د غیلې څخه منع وکړه ، د بي بي جدامه رضي الله عنها روایت ددې خبري تائید کوي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ (دریم فصل)

د عزل مشروط جواز

﴿۳۰۶۰﴾: عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُعْزَلَ عَنِ الْحُرَّةِ إِلَّا بِإِذْنِهَا . رواه ابن ماجة .

د حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د یوې ازادي ښځي سره د جماع په وخت کي د ښځي د اجازت څخه بغیر د عزل څخه منعه کړېده . (ابن ماجه)

تخریج: سنن ابن ماجه ۱/ ۶۲۰، رقم: ۱۹۲۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

تشريح: که چيري د ازادي ښځي سره د جماع پر وخت عزل وکړل سي نو د هغې څخه اجازه اخيستل ضروري دي ، د هغې د اجازې اخيستلو پرته عزل نه کيږي ځکه د عزل په وجه نه يوازي دا چي کوچنی نه کيږي بلکه د ښځي په جنسي لذت کي هم کمي کيږي او ددغه دواړو شيانو سره د ازادي ښځي حق متعلق دی ، که چيري ښځه د کوچني پيدا کېدل غواړي نو سړي ته دا اختيار نه سته چي هغه د ښځي دغه خواهش پوره نه کړي همدارنګه که چيري ښځه د عزل په وجه په خپل جنسي لذت کي کمي محسوس کړي نو دا هم د هغې سره بې انصافي ده ځکه ضروري ده چي د عزل لپاره د ښځي اجازه واخيستل سي که چيري هغه اجازه ورکړي نو عزل دي وکړي او که نه نو عزل دي نه کوي ، دغه حديث شريف د ازادي ښځي د اجازې په شرط سره او د مينزي د اجازې څخه پرته هم د عزل په جائز کېدو دلالت کوي لکه څرنګه چي د حنفيه مذهب دی .

==========

بَابُ خيار المْملكوكيْن

(مينزي ته د ازادۍ وروسته اختيار ورکول)

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

مينزه د ازادۍ وروسته نکاح فسخ کولای سي

﴿۳۰۶۱﴾: عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهَا

حضرت عروه رضي الله عنه د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ هغې ته وفرمايل :

فِيْ بَرِيْرَةَ خُذِيْهَا فَاعْتِقِيْهَا وَكَانَ زَوْجُهَا عَبْدًا فَخَيَّرَهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاخْتَارَتْ نَفْسَهَا وَلَوْ كَانَ حُرًّا لَمْ يُخَيِّرْهَا . متفق عليه .

د بريره په معامله کي چي ته دا واخله ازاده يې کړه د بريرې رض خاوند يو غلام وو کوم وخت چي هغه ازاده کړل سوه نو رسول الله ﷺ و هغې ته اختيارات ورکړه (يعني د خپل خاوند په نکاح کي پاته کيږي يا ځان ازادوې) بريرې رض ازادي خوښه کړه او د خاوند څخه جلا سوه که د هغې خاوند ازاد وای نو نبي کريم ﷺ هغې ته اختيار نه ورکوی .(بخاري او مسلم) .

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵\ ۱۹۰، رقم: ۲۵۶۳، ومسلم ۲\ ۱۱۴۲، رقم: ۸\ ۱۵۰۴.

Maktaba Tul Ishaat.com

تشریح: د بریره رضي الله عنها ذکر سوې واقعې د په کتاب البیوع کې په تفصیل سره ذکر سوې ده ، دغه مینزه د یهودي په ملکیت کې وه بیا بي بي عائشې رضي الله عنها په رانیولو سره ازاده کړې وه ، د بریره رضي الله عنها د رانیولو پر وخت رسول الله ﷺ بي بي عائشې رضي الله عنها ته وفرمایل چې مخکې یې د مالک څخه رانیسه بیا یې ازاده کړه ، د رسول الله ﷺ د قول سره سم حضرت عائشې رضي الله عنها هغه رانیول او بیا یې ازاده کړه ، د بریره رضي الله عنها خاوند یو غلام وو ځکه رسول الله ﷺ بریره ته دا اختیار کړی وو چې د ازاد کېدو څخه وروسته که ته غواړې نو د خپل خاوند په نکاح کې اوسه او که د هغه په نکاح کې اوسېدل نه غواړې نو د هغه څخه جلا سه ، ددغه اختیار سره سم بریرې جلاوالی اختیار کړ او د خپل خاوند سره یې تعلق قطع کړ ، د حدیث آخري جمله (ولو کان حرا ...) او که چیري د هغې خاوند ازاد وي..الخ، دا په ظاهره د عروه خپل قول معلومیږي او د امام مالک ، امام شافعي او امام مالک رحمة الله علیهم مذهب هم دادی چې د مینزې د ازادولو څخه وروسته په خپل نکاح کې ساتل یا د فسخ کولو اختیار په هغه صورت کې دی کله چې د هغې خاوند غلام وي چې هغه د ازادېدو څخه وروسته د یو غلام په نکاح کې پاته کېدل پیغور محسوس نه کړي، که چیري د هغې خاوند غلام نه وي نو بیا هغې ته دغه اختیار نه سته ، مګر امام ابو حنیفة رحمة الله علیه فرمایي چې هغې ته په هر صورت کې اختیار دی که د هغې غلام ازاد وي یا غلام ، د دواړو خواوو د علماؤ دلیلونه د فقهي په کتابو کې ذکر سوي دي. او که چیري ښځه او خاوند دواړه یو ځای ازاد سي نو د ټولو علماؤ په اتفاق سره دا مذهب دی چې په دغه صورت کې ښځې ته اختیار نه سته همدارنګه که چیري خاوند ازاد سي نو هغه ته د خپل نکاح باقي ساتلو د فسخ کولو اختیار نه سته که څه هم د هغه ښځه ازاده وي یا مینزه وي .

﴿۳۰۶۲﴾ : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ زَوْجُ بَرِيرَةَ عَبْدًا اَسْوَدَ يُقَالُ لَهُ مُغِيثٌ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چې د بریرې رضي الله عنها خاوند یو تور رنګه غلام وو او مغیث

كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْهِ يَطُوفُ خَلْفَهَا فِيْ سِكَكِ الْمَدِيْنَةِ يَبْكِي وَدُمُوعُهُ تَسِيلُ عَلَى

نو مېدی لکه هغه چې زه اوس هم وینم چې هغه د مدینې منورې په کوڅو کې په بریرې پسې ګرځېدی او د سترګو څخه یې اوښکې څڅېدلې او پر

لِحْيَتِهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلعَبَّاسِ يَا عَبَّاسُ أَلَا تَعْجَبُ مِنْ

Maktaba Tul Ishaat.com

ږیره یې پرېوتلې (یوه ورځ) رسول الله ﷺ وفرمایل: اې عباس! ایا تا ته په دې تعجب نه دې چي مغیث رضي الله عنه د بریرې رضي الله عنها سره څومره مینه کوله

حُبِّ مُغِيثٍ بَرِيرَةَ وَمِنْ بُغْضِ بَرِيرَةَ مُغِيثًا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

او بریرې رضي الله عنها د هغه څخه څومره نفرت کوی بیا نبي کریم ﷺ بریرې ته وفرمایل: اې بریرې!

وَسَلَّمَ لَوْ رَاجَعْتِيهِ فقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ تَأْمُرُنِي قَالَ إِنَّمَا أَشْفَعُ قَالَتْ لَا حَاجَةَ لِي فِيهِ. رواه البخاري.

کاشکي تا رجوع کړې وای یعني د مغیث سره دي د دویم وار لپاره نکاح کړې وای! بریرې رض عرض وکړ یا رسول الله! ایا تاسو ما ته حکم را کوئ؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل: زه سفارش کوم بریرې رضي الله عنها عرض وکړ زه ده ته ضرورت نه لرم یعني زه د ده سره نکاح کول نه غواړم). (بخاري).

تخریج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹/۴۰۸، رقم: ۵۲۸۳.

تشریح: د ځینو روایتو څخه دا معلومیږي چي مغیث رضي الله عنه یعني د بریره رضي الله عنها خاوند ازاد وو ځکه که چیري د دغه حدیث د اولي جملې دا وضاحت وکړل سي چي مغیث یو تور غلام وو یا دا چي مغیث مخکي غلام وو او بیا ازاد کړل سو، نو په دغه صورت کي د روایتو په مینځ کي هیڅ تضاد نه پاته کیږي.

ددغه حدیث شریف څخه معلومه سوه چي یو مشر او حاکم د چا په حق کي د جائز کار سفارش کول ښه خبره ده، ددغه حدیث څخه دا هم ثابته سوه چي د خپل مشر او حاکم سفارش قبلول واجب نه دي او نه د هغه د سفارش نه منلو په وجه مشر او حاکم ته د مؤاخذې کولو حق سته او ددغه حدیث څخه دا هم معلومه سوه چي د یو چا سره د هغه د بد شکلي او بد اخلاقۍ په وجه تعلق نه ساتل جائز دي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

مملوک ښځه او خاوند ازادول

﴿۳۰۶۳﴾: عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا أَرَادَتْ أَنْ تَعْتِقَ مَمْلُوكَيْنِ لَهَا زَوْجٌ فَسَأَلَتِ النَّبِيَّ ﷺ فَأَمَرَهَا أَنْ تَبْدَأَ بِالرَّجُلِ قَبْلَ الْمَرْأَةِ. رواه ابوداؤد والنسائي.

Maktaba Tul Ishaat.com

د بي بي عائشې ﷺ څخه روايت دی چې هغې د دوو غلامانو چې يو ښځه او بل يې خاوند وه د ازادولو اراده وکړه د نبي کريم ﷺ څخه يې پوښتنه وکړه نبي کريم ﷺ ورته امر وکړ چې اول سړی ازاد کړه بيا ښځه (چې ښځې ته د نکاح د فسخ کولو اختيار پاته نسي). (ابو داؤد نسائي).

تخريج: ابوداود في السنن ۲\۶۷۳، رقم: ۲۲۳۷، والنسائي ۶\۱۶۱، رقم: ۳۴۴۶.

تشريح: که چيري بي بي عائشې ﷺ مخکي ښځه ازاده کړې وي نو هغه د ازادولو څخه وروسته به د يو غلام په نکاح کي وه، په دغه صورت کي به هغې ته دا اختيار وو که چيري هغې غوښتلای نو خپل نکاح به يې باقي ساتلای او که هغې ته د خاوند سره اوسيدل خوښ نه وه نو نکاح به يې فسخ کړې وای، (لکه څرنګه چې د درو سره امامانو مذهب دی او د هغه تفصيل تېر سوی دی) نو رسول الله ﷺ بي بي عائشې ﷺ ته مخکي د سړي د ازادولو حکم ورکړ چې ښځې ته اختيار پاته نه سي او د سړي زړه مات نه سي مګر صحيح خبره داده چې رسول الله ﷺ اول د سړي د ازادولو حکم ځکه ورکړ چې سړی د ښځې په نسبت زيات کامل او افضل وي نو هغه مقدم کول پکار دي يا دا چې رسول الله ﷺ دا خبره محسوس کړه چې سړی خو مينزه ښځه زغملای سي مګر که ښځه د يو غلام په نکاح کي وي نو هغه ځيني بېزاره وي او هر وخت په ذهني اذيت کي اخته وي ځکه رسول الله ﷺ اول د سړي د ازادولو حکم وکړ چې د هغه ښځه د خپل خاوند له خوا په بې بيزارۍ کي اخته نه سي.

مينزي ته د نکاح اختيار

﴿۳۰۶۴﴾: وَعَنْهَا أَنَّ بَرِيرَةَ عَتَقَتْ وَهِيَ عِنْدَ مُغِيثٍ فَخَيَّرَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ لَهَا إِنْ قَرِبَكِ فَلَا خِيَارَ لَكِ. رواه ابو داؤد.

د بي بي عائشې ﷺ څخه روايت دی چې بريره ﷺ په داسي حال کي ازاده سوه چې هغه د مغيث په نکاح کي وه نبي کريم ﷺ هغې ته د نکاح د ساتلو يا نه ساتلو اختيارات ورکړه او ورته يې وفرمايل: که ستا خاوند ستا سره جماع وکړي نو بيا تاته د نکاح د فسخ کولو اختيار نه پاته کيږي. ابو داؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۲\۶۷۳، رقم: ۲۲۳۶.

د لغاتو حل: قَرِبَک: ای جامعک.

تشريح: په هدايه کي ليکل سوي دي که چيري يو مينزه د خپل بادار په رضا سره خپله نکاح وکړي يا د هغې بادار د هغې نکاح په رضا سره يا د رضا څخه پرته وکړي او بيا هغه مينزه ازاده

Maktaba Tul Ishaat.com

سي نو هغې ته د خپل نكاح باقي ساتلو يا فسخ كولو اختيار سته كه څه هم د هغې خاوند ازاد وي يا غلام وي، كه چيري مينزه د خپل بادار د رضا او اجازې څخه پرته خپل نكاح وكړي او بيا بادار هغه ازاده كړي نو د ازادېدو سره د هغې نكاح صحيح كيږي مگر د هغې اختيار به نه وي ، ائمه ثلاثه (دري امامان) دا وايي كه چيري مينزه د يو ازاد سړي په نكاح كي وي نو د ازادېدو څخه وروسته هغه مينزي ته د خپل نكاح د باقي ساتلو يا فسخ كولو اختيار نه پاته كيږي .

علامه ابن همام رحمة الله عليه وايي چي د امام ابو حنيفة او ائمة ثلاثه په مينځ كي ددغه اختلاف بنياد دادی چي د بريره د خاوند په باره كي متعارض روايتونه نقل سوي دي ، په بخاري او مسلم كي د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه دا ثابته ده چي بريره ته په داسي حال كي اختيار وركړل سوی وو چي دهغې خاوند غلام وو مگر په بخاري او مسلم كي دا هم نقل سوي دي چي كله بريره ازاده سوه نو د هغې خاوند يو ازاد سړی وو .

همدا رنگه روايت سنن اربعه يعني ابوداؤد ، ترمذي، نسائي او ابن ماجه هم نقل كړی دی او ترمذي دغه روايت ته صحيح ويلي دي ، نو ائمه ثلاثه اول روايت ته ترجيح وركړې ده او امام ابو حنيفة رحمة الله عليه دوهم روايت ته ترجيح وركړه ده ، ملا علي قاري د ابن همام دغه قول په مرقات كي په تفصيل سره ليكلی دی ، دلته د اوږدوالي د بيري څخه د هغه خلاصه نقل سوې ده .

وهذا الباب خال عن الفصل الثالث

په دغه باب كي دريم فصل نه سته.

==========

بَابُ الصَّدَاقِ (د مهر بيان)

مهر د زوجيت د حق تر لاسه كولو هغه معاوضې ته وايي چي ښځي ته د هغې د خاوند له خوا وركول كيږي، د مهر نه وركولو نيت نه كول د نكاح صحيح كېدو يو شرط دی يعني كه چيري يو څوك د نكاح پر وخت دا نيت وكړي چي مهر به نه وركول كيږي نو د هغه نكاح نه صحيح كيږي، دنكاح پر وخت د مهر ذكر كول د نكاح صحيح كېدو لپاره شرط نه دی كه چيري د مهر ذكر ونه سي نو نكاح صحيح كيږي او پر خاوند باندي مهر مثل واجبيږي .

د مهر اندازه : شريعت د مهر لپاره يو خاص اندازه واجب كړې ده او نه د هغه زيات حد ټاكل سوی دی بلكه هغه يې د خاوند پر حيثيت او توان باندي موقوف كړی دی ، كوم څوك چي د

Maktaba Tul Ishaat.com

خو مره مهر ورکولو توان لري هغه دي وټاکل سي البته د مهر کم از کم یو حد ټاکل سوی دی چي سړی دي د هغه څخه کم مهر نه ټاکي ، د حنیفه په مذهب کي د مهر کم مقدار لس درهمه دي که یو سړی تر دې کم مهر وټاکي نو د هغه مهر به صحیح نه وي .

د امام مالک رحمة الله علیه په نزد د مهر آخري حد څلورمه د دینار دی او امام شافعي او امام احمد رحمة الله علیهما فرمایي چي کوم شی د ثمن یعني قیمت صلاحیت لري په هغه سره مهر ټاکل جائز دي.

د ازاج مطهراتو او مبارکو لوڼو مهر : د ام المؤمنین بي بي ام حبیبه رضي الله عنها څخه پرته د ټولو ازواجو مطهراتو او د بي بي فاطمې رضي الله عنها څخه پرته د ټولو مبارکانو لوڼو مهر پنځه سوه درهمه وو ، پنځه سوه درهمه د سپینو زرو مقدار (۱۵۷۵) ماشې یعني یو کیلو ۵۳۰ گرامه کیږي ، د نن سبا د نرخ مطابق د یو کیلو ۵۳۰ گرامو سپینو زرو قیمت تقریبا ۷۱۸ روپۍ کیږي ، د ام المؤمنین ام حبیبې رضي الله عنها مهر څلور زره درهم یا څلور سوه دیناره وو ، څلور زره درهمه دوولس زره شپږ سوه ماشه یعني دوولس کیلو ۲۴۷ گرام سپین زر په اندازه کیږي ، او د سپینو زرو د موجوده نرخ مطابق اووه زره درې سوه اته څلوېښت (۷۳۴۸) کیږي .

د حضرت فاطمې زهراء رضي الله عنها مهر څلور سوه مثقاله نقده وو څلور سوه مثقاله ۱۸۰۰ ماشه یعني ۷۵۰ گرامه سپین زر په اندازه کیږي او د سپینو زرو موجوده نرخ ۱۰۵۰ روپۍ کیږي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د مهر کم از کم مقدار

﴿۳۰۶۵﴾ : عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَتْهُ امْرَأَةٌ

د حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه څخه روایت دی چي یوه ښځه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کي حاضره

فَقَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنِّي وَهَبْتُ نَفْسِي لَكَ فَقَامَتْ طَوِيلًا فَقَامَ رَجُلٌ فَقَالَ

سوه او عرض یې وکړ یا رسول الله! زه خپل ځان وتاسو ته هبه کوم په دې ویلو سره هغه د جواب لپاره تر ډیره و دریده یو سړی را ولاړ سو او عرض یې وکړ

يَا رَسُوْلَ اللهِ زَوِّجْنِيهَا إِنْ لَمْ تَكُنْ لَكَ فِيهَا حَاجَةٌ فَقَالَ هَلْ عِنْدَكَ مِنْ

یا رسول الله! که ستاسو دې ته ضرورت نه وي نو نکاح یې زما سره وکړه نبي کریم صلی الله علیه وسلم ور څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

پوښتنه وکړه چي ايا ستا سره يې د ولورېو څه شى سته ؟

شَيْءٍ تُصْدِقُهَا قَالَ مَا عِنْدِي إِلَّا إِزَارِي هٰذَا قَالَ فَالْتَمِسْ وَلَوْ خَاتَمًا مِنْ

هغه عرض وکړ چي د دې لونګ څخه پرته (چي ما پر ځان اچولي دى) نور هيڅ را سره نسته نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : ولاړ سه يو شى پيدا کړه که څه هم هغه د اوسپني ګوتمۍ وي

حَدِيدٍ فَالْتَمَسَ فَلَمْ يَجِدْ شَيْئًا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ

د هغې پلټنه يې وکړه مګر هغه هيڅ شى يې پيدا نکړ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ايا

مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ شَيْءٌ قَالَ نَعَمْ سُورَةُ كَذَا وَسُورَةُ كَذَا فَقَالَ قَدْ زَوَّجْتُكَهَا

تا ته د قرانکريم څخه هم يو شى ياد نه دي ؟ هغه عرض وکړ چي فلاني فلاني سورتونه مي په ياد دي نو نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل څه چي دي د قرانکريم څخه په ياد دي د هغه په بدله کي

بِمَا مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ، و في رواية قال انطلق فقد زوجتكها فعلمها من القرآن .متفق عليه.

مي ستا نكاح د دې ښځي سره وکړه او په يوه بل روايت کي راځي چي نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل ما ستا نكاح د دې سره وکړه ته دې ته قرانکريم ورزده کړه . (بخاري او مسلم) .

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۱۹۰- ۱۹۱، رقم: ۵۱۳۵، ومسلم ۲\۱۰۴۰، رقم: ۷۶\۱۴۲۵.

تشريح: د رسول الله ﷺ په مبارک ژوند کي دا حکم وو که چيري يو ښځي به خپل ځان رسول الله ﷺ ته هبه کوى او رسول الله ﷺ به د هغې هبه قبوله کړه نو هغه ښځه به د رسول الله ﷺ لپاره حلاله وه او پر رسول الله ﷺ به د هغې مهر نه واجب کېدى، دا د بل چا لپاره نه بلکه يوازي د رسول الله ﷺ لپاره جائز وه ، اوس دا جائز نه دي بلکه دا د رسول الله ﷺ د خاصيتو څخه وو يعني يوازي د رسول الله ﷺ لپاره جائز وو، د قرآن کريم دغه آيت کريمه پر دې دلالت کوي :

وَامْرَأَةً مُؤْمِنَةً إِن وَهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ إِنْ أَرَادَ النَّبِيُّ أَن يَسْتَنكِحَهَا خَالِصَةً لَّكَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ،

ژباړه: او که چيري يو مؤمنه ښځه خپل ځان پيغمبر (ﷺ) ته هبه کړي (يعني د مهر اخيستلو څخه پرته د هغه په نكاح کي راتلل غواړي) او پيغمبر ﷺ هم د هغې سره نكاح کول غواړي نو هغه ښځه حلاله ده مګر اې محمد ! (ﷺ) دا اجازه يوازي تا ته ده ټولو مسلمانانو ته نه ده .

Maktaba Tul Ishaat.com

په دې باره کې فقهي تفصيل دادی چې د امام شافعي رحمه الله په نزد د مهر څخه ماسوا د هبې د لفظ په ذريعه د نکاح جواز يوازې د رسول الله ﷺ لپاره وو او دا د بل چا لپاره جائز نه دي حال دا چې حنفي مذهب دادی چې د هبې د لفظ په ذريعه د دواړو (خاوند او ښځې) په مينځ کې نکاح صحيح کيږي او پر هغه سړي مهر مثل واجبيږي، که څه هم هغه ښځه د مهر ذکر ونه کړي يا د مهر نفي وکړي، د حنفي مذهب سره سم د ذکر سوي آيت الفاظ (خالصة لک ...) په معنى کې د خپل ځان د هبه کونکي ښځي د مهر واجب کېدو څخه پرته حلالېدل يوازې د رسول الله ﷺ لپاره دي.

ولو خاتما من حديد (که څه هم هغه د اوسپني ګوتمۍ وي) ددې څخه دا معلومه سوه چې په هر ډول مال سره مهر ټاکل جائز دي که څه هم هغه شی د هر څومره لږ قيمت وي، په شرط ددې چې ښځه او سړی دواړه پر هغه راضي وي، د امام شافعي او امام احمد رحمة الله عليهما دا مذهب دی، په دې باره کې د امام ابوحنيفة او امام مالک رحمة الله عليهما مذهب د باب په شروع کې ذکر سوی دی، د حنفيه حضراتو دليل د حضرت جابر رضي الله عنه هغه روايت دی کوم چې دارقطني او بيهقي نقل کړی دی: قال رسول الله: لا تنكحوا النساء الا الاكفاء ولا يزوجهن الا الاولياء ولامهر دون عشرة دراهم.

ژباړه: رسول الله ﷺ فرمايلي دي د ښځو نکاح دې د هغوی د سيالانو سره وکړل سي او د ښځو نکاح دې د هغوی ولي (سرپرست) کوي او د لس درهمو څخه د کم مهر اعتبار نه سته.

د حنفي مذهب تائيد په دارقطني او بيهقي کې د حضرت علي رضي الله عنه څخه د دغه ارشاد څخه هم کيږي: (لا صداق اقل من عشرة دراهم): حضرت علي رضي الله عنه وفرمايل د لسو درهمو څخه کم مهر معتبر نه دی.

د حضرت سهيل رضي الله عنه دغه روايت حنفيه حضراتو پر مهر معجل باندې محمول کړی دی ځکه چې د رسول الله ﷺ دا معمول وو چې خپلو بيبيانو مبارکانو ته به يې د هغوی د ټاکل مهر يو څه برخه سمدستي يعني د جماع کولو څخه مخکي ورکول ځکه رسول الله ﷺ هغه صحابي ته هم دا حکم وکړ چې تا ته کوم شی تر لاسه سي که څه هم هغه د اوسپني ګوتمۍ وي هغه راوړه چې د نکاح څخه وروسته هغه ښځې ته د مهر په توګه ورکړل سي، له دې څخه ځينو علماؤ دا مسئله اخذ کړې ده چې د نکاح څخه وروسته د خپل ښځې سره تر هغه وخته پورې جماع کول نه دي پکار تر څو چې د هغې د مهر څخه يو څه برخه ورکړل سوې نه وي، د حضرت ابن عباس، حضرت زهري او حضرت قتاده رضي الله عنهم دا مذهب وو، د هغوی دليل دادی چې کله

Maktaba Tul Ishaat.com

حضرت علي رضي الله عنه د بي بي فاطمې رضي الله عنها سره نکاح وکړه نو رسول الله ﷺ هغه بي بي فاطمې ته تر هغه وخته پورې د ورتللو څخه منع کړ تر څو چې هغه بي بي فاطمې رضي الله عنها ته د هغې د مهر څخه يو څه ور نه کړي ، حضرت علي رضي الله عنه وويل اې د الله رسوله ! دا وخت خو زما سره هيڅ نه سته ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ته فاطمې ته خپل زغره ورکړه ، نو هغه خپل زغره ورکړه او ددې څخه وروسته هغې ته ورغلی، دا خو معلومه ده چې د بي بي فاطمې رضي الله عنها مهر څلور سوه مثقاله سپين زر وه او رسول الله ﷺ حضرت علي رضي الله عنه ته د ټاکلي سوي مهر څخه د يوې زغرې په اندازه ورکولو حکم ورکړی وو نو د دغه حضراتو په نزد د مهر ټاکلو څخه سمدستي (يعني د جماع کولو څخه مخکې) يو څه ورکول واجب دي حال دا چې د حنفيه حضراتو په نزد دا مستحب دي او واجب نه دي .

د حديث د آخري الفاظو څخه په ځرګنده دا معلوميږي چې رسول الله ﷺ د قرآن کريم تعليم مهر وټاکی ، ځيني امامان دا جائز ګڼي حال دا چې د امام ابو حنيفة رحمه الله په نزد جائز نه دي ، هغه وايي چې په دغه صورت کې (يعني د قرآن کريم د تعليم په مهر ګرځولو سره) نکاح خو صحيح کيږي مګر پر خاوند باندې مهر مثل واجبيږي او کوم چې ددغه روايت تعلق دی نو په ارشاد مبارک کې (مجامعک ...) کې حرف د با د بدل لپاره نه دی بلکه د سببيت د اظهار لپاره دی يعني ددغه جملې معنی داده چې په قرآن کريم تا ته چې څه په ياد وي د هغه په سبب ما ستا نکاح ددغه ښځې سره وکړه يعني تا ته د قرآن کريم په يادول ددغه ښځي سره سوي وه نو د اسلام قبوليت د هغوی د نکاح سبب وو او هغه مهر نه وو ګرځول سوی .

ته هغې ته د قرآن کريم ښوونه کوه : دا حکم د وجوب په توګه نه وو بلکه د استحباب په توګه وو نو دا ددې خبرې دليل نه دی چې رسول الله ﷺ د قرآن کريم تعليم مهر ګرځولی وو .

د ازواج مطهراتو د مهر مقدار

﴿۳۰۶۶﴾ : وَعَنْ أَبِي سَلَمَةَ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ كَمْ كَانَ صَدَاقُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى

د حضرت ابو سلمه رضي الله عنه څخه روايت دی چې ما د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه پوښتنه وکړه چې د

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ كَانَ صَدَاقُهُ لِأَزْوَاجِهِ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ أُوقِيَّةً وَنَشٌّ قَالَتْ

رسول الله ﷺ مهر څومره وو ؟ هغې راته وويل : د نبي کريم ﷺ مهر د خپلو بي بي ګانو لپاره دولس اوقيه او يو نش وو بيا بي بي عائشې رضي الله عنها وويل :

Maktaba Tul Ishaat.com

أَتَدْرِي مَا النَّشُّ قُلْتُ لَا قَالَتْ نِصْفُ أُوقِيَّةٍ فَتِلْكَ خَمْسُ مِائَةِ دِرْهَمٍ. رواه مسلم و نش بالرفع في شرح السنة في جميع الاصول .

په نش پوهېږې (چي څه ته وايي؟) ما ورته وويل چي يا نو هغې راته وويل :نيم اوقيه او ټول چي يو ځای سي نو پنځه سوه درهمه سوه . (مسلم) د شرح السنه او د اصول په ټولو كتابو كي ((نش)) په پېښ (رفع) سره دی .

تخريج: مسلم في الصحيح ۲\۱۰۴۲، رقم:۷۸\۱۴۲۶.

تشريح: پنځه سوه درهمه د اوسني وزن او اوسني حيثيت تفصيل د باب په شروع كي بيان سوی دی د دغه حديث څخه شوافع دا استدلال كوي چي پنځه سوه درهمه مهر تاكل مستحب دي. دلته يو شک پيدا كيږي چي بي بي عائشې رضي الله عنها د رسول الله ﷺ د ټولو بيبيانو مباركو د مهر شمېر پنځه سوه درهم ښوولی دی حالنكه د بي بي ام حبيبه ﷺ مهر څلور زره درهم يا څلور سوه ديناره وو او بي بي ام حبيبه ﷺ هم د رسول الله ﷺ بي بي مباركه وه، ددې جواب دادی چي بي بي عائشې ﷺ د ټولو بيبيانو مباركانو د مهر شمېر ښوولی دی چي د هغوی مهر خپله رسول الله ﷺ ټاكلی وو حال دا چي د ام حبيبه ﷺ مهر د حبشې پاچا نجاشي ټاكلی وو .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د ډېر مهر منع

﴿۳۰۶۷﴾: عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ أَلَا لَا تُغَالُوا صَدُقَةَ النِّسَاءِ فَإِنَّهَا لَوْ

د حضرت عمر بن خطاب ﷺ څخه روايت دی چي هغه وويل: پوه سئ !د ښځو د روند مهر مه

كَانَتْ مَكْرُمَةً فِي الدُّنْيَا وَتَقْوَى عِنْدَ اللهِ لَكَانَ أَوْلَاكُمْ بِهَا نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ

ټاكئ كه ډېر مهر د بزرګئ او عظمت وجه وي او د خداي تعالی په نېزد د پرهېزګاری موجب وي نو رسول الله ﷺ د دې زيات مستحق وو

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا عَلِمْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَكَحَ شَيْئًا مِنْ نِسَائِهِ

او ماته معلومه ده چي نبي كريم ﷺ د خپلو بي بي گانو او لور مهر

Maktaba Tul Ishaat.com

وَلَا أَنْكَحَ شَيْئًا مِنْ بَنَاتِهِ عَلَى أَكْثَرَ مِنْ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ أُوقِيَّةً . رواه احمد والترمذي وابوداؤد والنسائي وابن ماجة والدارمي.

دولس اوقيه څخه زيات نه دى ابښي. (احمد ترمذي ابو داؤد نسائي ابن ماجه دارمي)

تخريج: احمد في المسند١\ ٤٠- ٤١، وابوداود في السنن ٢\ ٥٨٢، رقم: ٢١٠٦، والترمذي في السنن ٣\ ٤٢٣، رقم: ١١١٤، والنسائي ٦\ ١١٧، رقم: ٣٣٤٩، وابن ماجه في السنن ١\ ٦٠٧.

تشريح: دلته د تقوا څخه مراد زياته تقوا ده، (ان كرمكم عند الله اتقاكم) يعني د الله تعالى په نزد په تاسو كي تر ټولو د لوى مرتبې والا هغه دى چي تر ټولو زيات متقي كېدو په وجه د الله تعالى په نزد د امتياز وركونكي بزرگۍ او فضيلت مستحق گرځي. خلاصه دا چي د زيات مهر په وجه نه يوازي دا چي په دنيا كي عظمت او بزرگي نه ترلاسه كيږي بلكه د دې په وجه په آخرت كي هم د الله تعالى په نزد د بزرگۍ او فضيلت درجه نه ترلاسه كيږي او كله چي د دې په وجه نه د دنيا فائده سته او نه د دين گټه نو بيا دغه بې معنى شى ولي اختيار كړل سي، د بيبيانو مباركانو د مهر په اړه درې روايتونه دي چي په ظاهره متضاد معلوميږي يو خو د بي بي عائشې رضي الله عنها روايت دى، دوهم روايت دا دى چي په هغه كس دوولس اوقيه يعني څلورسوه اتيا درهمه مقدار ذكر سوى دى او يو روايت مخته راځي چي په هغه كي د ام حبيبه رضي الله عنها د مهر مقدار څلور زره درهمه ذكر سوى دى، په دغه درو سره روايتو كي د بي بي ام حبيبه رضي الله عنها مهر والا روايت مستثنى گڼل پكار دي، ځكه چي د هغې مهر رسول الله ﷺ نه وو تاكلى بلكه د حبشه پاچا نجاشي تاكلى وو او نجاشي پاچا هم دومره زيات مهر محض د رسول الله ﷺ د تعظيم او تكريم سره سم تاكلى وو.

اوس پاته سو د بي بي عائشې رضي الله عنها او حضرت عمر رضي الله عنه روايتونه نو د هغوى دواړو په مينځ كي هم په حقيقت كي هيڅ تضاد نه سته ځكه چي بي بي عائشې رضي الله عنها د مهر د اصل مقدار په وضاحت كولو سره په اوقيه سره كسر يعني د نيم اوقيه ذكر هم كړى دى او حضرت عمر رضي الله عنه يوازي د اوقيه ذكر وكړ او كسر يې پرېښودى. د دې څخه پرته دا احتمال هم دى چي حضرت عمر رضي الله عنه دوولس اوقيه څخه د زيات نفي د خپل علم سره سم كړى دى يعني حضرت عمر رضي الله عنه ته به يوازي د دوولس اوقيه علم وو او بي بي عائشې رضي الله عنها چي يونش زيات (نيم اوقيه) ذكر كړى دى هغه به د حضرت عمر رضي الله عنه په علم كي نه وي راغلى.

Maktaba Tul Ishaat.com

دا خبره بايد په ذهن كي وي چي حضرت عمر رضي الله عنه دلته يوازي غوره او افضل بيان كړى دى يعني د هغه د ارشاد مطلب به دا وي چي زيات غوره دادي چي مهر كم وټاكل سي چي د هغه سنت اندازه دوولس اوقيه دي او كوم چي د جواز تعلق دى نو دا ښوول سوي دي چي تر دې زيات مهر ټاكل هم جائز دي.

د مهر لږ برخه سمدستي وركول غوره دي

﴿۳۰۶۸﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَعْطَى فِي صَدَاقِ امْرَأَتِه مِلْءَ كَفَّيْهِ سَوِيقًا أَوْ تَمْرًا فَقَدِ اسْتَحَلَّ. رواه ابوداؤد.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: كوم سړى چي د خپلي بي بي په مهر كي دواړه ډك لاسونه ستوان يا خرماوي وركړي نو هغه خپله بي بي په ځان حلاله كړه. ابو داؤد

تخريج: ابوداود في السنن ۲\۵۸۵، رقم: ۲۱۱۰.

﴿۳۰۶۹﴾: وَعَنْ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ أَنَّ امْرَأَةً مِنْ بَنِي فَزَارَةَ تَزَوَّجَتْ عَلَى نَعْلَيْنِ فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَضِيتِ مِنْ نَفْسِكِ وَمَالِكِ بِنَعْلَيْنِ قَالَتْ نَعَمْ فَأَجَازَهُ. رواه الترمذي.

د حضرت عامر بن ربيعه رضي الله عنه څخه روايت دى چي د بني فزاره د قبيلې يوې ښځي په يوه جوړه څپلي سره د يوه سړي سره نكاح وكړه رسول الله صلى الله عليه وسلم و هغې ته وفرمايل: ايا تا خپل ځان يوازي د دوو څپليو په بدله كي حواله كړ او په دې راضي سوې هغې وويل: چي هو نو نبي كريم صلى الله عليه وسلم د هغې د نكاح د باقي پاته كېدو اجازت وركړ. (ترمذي).

تخريج: الترمذي في السنن ۳\۴۲۰، رقم: ۱۱۱۳.

تشريح د تعارض د دفع له كبله دا حديث به هم پر مهر معجل باندي محمول سي مگر ددې وضاحت دا مناسب دى چي كله هغه ښځي د خپل مهر مثل د مطالبې حق تر لاسه سو مگر كله چي هغه په يوه جوړه څپليو راضي سوه نو هغه د خپل مهر مثل څخه د يوې جوړې څخه زيات حق څخه خلاصه سوه نو رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه مهر جائز وگرځوى او په دغه صورت كي د هغه په جائز كېدو كي اختلاف نه سته ځكه دا حديث د امام شافعي رحمه الله د مذهب دليل نه سي كيداى او دا حديث هم ضعيف دى.

Maktaba Tul Ishaat.com

د مهر مثل واجب کېدو يو صورت

﴿۲۰۷۰﴾: وَعَنْ عَلْقَمَةَ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ رَجُلٍ تَزَوَّجَ امْرَأَةً وَلَمْ

حضرت علقمه رضي الله عنه د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت کوي چې د هغه څخه دا مسئله و پوښتل سوه چې يوه سړي د يوې ښځې سره نکاح وکړه

يَفْرِضْ لَهَا شَيْئًا وَلَمْ يَدْخُلْ بِهَا حَتَّى مَاتَ فَقَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ لَهَا مِثْلُ

چې نه يې مهر مقرر کړی دي او نه يې ورسره جماع کړې ده چې مړ سو ابن مسعود رضي الله عنه وويل:

صَدَاقِ نِسَائِهَا لَا وَكْسَ وَلَا شَطَطَ وَعَلَيْهَا الْعِدَّةُ وَلَهَا الْمِيرَاثُ فَقَامَ مَعْقِلُ

د هغه په قوم کې چې د ښځو کوم مهر تاکل سوی دی هغو مره مهر دي ورکړي نه کم نه زيات پر دې عده تېرول واجب ده او په ميراث کې هم ورسره شريکېږي په دې اورېدو سره معقل بن

بْنُ سِنَانٍ الْأَشْجَعِيُّ فَقَالَ قَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بِرْوَعَ

سنان اشجعي رضي الله عنه و درېدئ او اعلان يې وکړ چې زموږ د قبيلې د يوې ښځې بروع بنت واشق

بِنْتِ وَاشِقٍ امْرَأَةٍ مِنَّا بِمِثْلِ مَا قَضَيْتَ فَفَرِحَ بِهَا ابْنُ مَسْعُودٍ . رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي والدارمي .

په معامله کې رسول الله ﷺ دا حکم ورکړی وو په دې اورېدو سره ابن مسعود رضي الله عنه ډېر خوشحاله سو (چې زما فيصله د نبي کريم ﷺ د فيصلې سره موافقه وَختَه).

تخريج: ابوداود في السنن ۲\ ۵۸۹، رقم: ۲۱۱۵، والترمذي في السنن ۳\ ۴۵۰، رقم: ۱۱۴۵، والنسائي ۶\ ۱۲۱، رقم: ۳۳۵۵. والدارمي ۲\ ۲۰۷، رقم: ۲۲۴۶.

تشريح: حضرت ابن مسعود رضي الله عنه ته الله تعالى علم ، فضل، ذهانت، ذکاوت او د ديني فراست لوی دولت ورکړی وو ، يو مشکل مسئله به يې د خپل بې پايه قوت او اجتهاد په ذريعه همداسي حل کوله چې هغه به د قرآن او حديث بالکل سمه وه دلته دا مسئله هم د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه وپوښتل سوه نو تر يوې مياشتي پوري د قرآن او حديث په رڼا کې پر دې فکر کولو بيا په خپل قوت اجتهاد سره د هغه شرعي فيصله يې وکړه نو يو صحابي حضرت معقل

Maktaba Tul Ishaat.com

رضي الله عنه ته على الاعلان دا شهادت ورکړ چي د ابن مسعود ﷺ دغه فيصله د رسول الله ﷺ د حکم عين مطابق ده ځکه چي رسول الله ﷺ هم په دا ډول يو مسئله کي داسي فيصله کړي وه نو حضرت ابن مسعود ﷺ خپله پر دغه خبره باندي د ډېري زياتي خوشحالۍ اظهار وکړ چي الله تعالى زما رهبري وکړه او زما دغه فيصله د رسول الله ﷺ د حکم مطابق سوه.

په ذکر سوې مسئله کي د حضرت علي ﷺ او د صحابه کرامو د يو ډلي دا مذهب وو چي په دغه صورت کي ښځه د عدم دخول په وجه د مهر نه حقداره کيږي مګر که چيري پر هغې عده واجب وي او هغې ته به د خاوند مېراث هم حاصليږي، په دې باره کي د امام شافعي رحمة الله عليه دوه قوله دي يو خو د حضرت علي ﷺ موافق دی او دوهم قول د ابن مسعود ﷺ مطابق ده، د امام ابو حنيفة او امام احمد مذهب هغه دی کوم چي ابن مسعود ﷺ بيا کړ.

مهر مثل څه ته وايي ؟ مهر مثل د ښځي هغه مهر ته وايي چي د هغې د پلار د کورنۍ د هغه ښځو وي چي په دغه خبرو کي د هغو په مثل وي ، عمر، جمال، مال، ښار، زمانه، عقل، ديندارې، بکارت، ثيبيت، علم او ادب او اخلاق او داسي نور.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د ام حبيبې نکاح او مهر

﴿۳۰۷۱﴾: عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ أَنَّهَا كَانَتْ تَحْتَ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ جَحْشٍ فَمَاتَ بِأَرْضِ

د بي بي ام حبيبې ﷺ څخه روايت دی چي زه د عبد الله بن جحش په نکاح کي وم چي زما خاوند

الْحَبَشَةِ فَزَوَّجَهَا النَّجَاشِيُّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَمْهَرَهَا عَنْهُ أَرْبَعَةَ

په حبشه کي مړ سو د حبشې باچا زما نکاح د نبي کريم ﷺ سره په څلور زره مهر باندي وکړه

آلَافٍ وفي رواية أَرْبَعَةَ آلَافِ دِرْهَمٍ وَبَعَثَ بِهَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ شُرَحْبِيلَ ابْنِ حَسَنَةَ . رواه ابو داؤد والنسائي .

او په يوه روايت کي د څلورو زرو درهمو الفاظ سته او هغه يې د نبي کريم ﷺ په خدمت کي د شرحبيل بن حسنه په نګرانۍ کي ولېږه . (ابو داؤد نسائي).

تخريج: سنن ابي داود ۲\۵۸۳، رقم: ۲۱۰۷، والنسائي ۶\۱۱۹، رقم: ۳۳۵۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

تشریح: د ام حبیبه رضي الله عنها د اول خاوند نوم د مشکوة په ټولو نسخو کي عبدالله ابن حجش لیکل سوی دی حالانکه د هغه صحیح نوم عبیدالله ابن حجش دی ، په سنن ابوداؤد او اصول وغیره کي همداسي لیکل سوي دي .

د ام حبیبه ﷺ اصلي نوم رمله وو چي د ابوسفیان لور او د حضرت معاویه خور وه ، مخکي د هغې واده د عبیدالله ابن حجش سره سوی وو ، عبیدالله اسلام قبول کړی وو او د ام حبیبه سره د مکې څخه په هجرت کولو حبشې ته راغلی وو بیا هلته په رسیدو سره مرتد سو یعني د اسلام په پرېښودو سره عیسائي سو او هلته مړ سو . ام حبیبه ﷺ پر اسلام باندي ثابته قدمه پاته سوه بیا رسول الله ﷺ عمرو ابن امیه ضمري د حبشې پاچا اصحمه ته چي د هغه لقب نجاشي وو په دغه حکم ورکولو سره ولیږی چي هغه ام حبیبه ته د رسول الله ﷺ د نکاح پیغام ورکړي .

نجاشي د رسول الله ﷺ ددغه حکم په اورېدو سره خپله یوه مینزه ابرهه د ام حبیبه په خدمت کي واستول ، ابرهه هغې ته وویل چي زه پاچا تا ته را استولې یم او ویلي یې دي چي ما ته د رسول الله ﷺ دا حکم سوی دی چي ستا سره د رسول الله ﷺ نکاح وکړم ، ام حبیبه دغه پیغام په خوشحالۍ سره قبول کړ او سمدستي یې یو سړی حضرت خالد بن سعید ﷺ ته واستوی او هغه یې خپل وکیل وټاکی چي د هغه د پلار د اکا زوی وو او ورسره ابرهه ته ددغه زیري اورولو په عوض کي دوې جوړې جامې او د سپینو زرو یوه ګوتمۍ هم ورکړه ، بیا چي ماښام سو نو نجاشي حضرت جعفر ابن ابوطالب ﷺ او هغه ټولو مسلمانانو ته چي هغه وخت حبشه کي موجود وه د جمع کېدو حکم ورکړ کله چي هغوي ټول جمع سول نو نجاشي دا خطبه وویل : الحمد لله الملک القدوس السلام المؤمن المهین العزیز الجبار اشهد ان لا اله الا الله وان محمدا عبده ورسوله ارسله بالهدی ودین الحق لیظهره علی الدین کله ولوکره المشرکین . او بیا یې دغه الفاظ وویل : ددې څخه وروسته ما هغه شی قبول کړ کوم چي رسول الله ﷺ فرمایلی دي او ما څلور زره دیناره مهر وټاکی ددې څخه وروسته هغوی هغه څلور زره دیناره د خلکو په مخکي وړاندي کړل ، ددې څخه وروسته حضرت خالد ابن سعید ﷺ دا خطبه وویل : الحمد لله و احمده واستعینه واستغفره واشهد ان لا اله الا الله وحده لا شریک له وان محمدا عبده ورسوله ارسله بالهدی ودین الحق لیظهره الدین کله ولو کره المشرکین .، بیا یې دغه الفاظ وویل : ددې څخه وروسته ما هغه شی قبول کړ کوم چي رسول الله ﷺ فرمایلی دی او ما د ابوسفیان لور ام حبیبه سره د رسول الله ﷺ نکاح وکړه ، الله تعالی دي رسول الله ﷺ ته دا نکاح مبارکه کړي ، ددغه ایجاب او قبول څخه وروسته د مهر هغه څلور زره دیناره حضرت

خالد ابن سعيد رضي الله عنه ته ورکړل سول چي هغه يې د ځان سره وساتي بيا چي خلکو د ولاړېدو اراده وکړه نو نجاشي وويل اوس لا تاسو خلک ناست اوسئ ځکه چي د نکاح پر وخت ډوډۍ خوړل د انبياؤ سنت دي نو هغوی ډوډۍ را وغوښتل او ټولو خلکو په ډوډۍ خوړلو سره خپلو کورو ته ولاړل، دا د اووم هجري کال واقعه ده هغه وخت د ام حبيبه رضي الله عنها پلار ابو سفيان مشرک وو، او د رسول الله ﷺ سخت دښمن وو بيا وروسته يې اسلام قبول کړی دی.

د اسلام قبلول د مهر قائم قام دی

﴿۳۰۷۲﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ تَزَوَّجَ أَبُو طَلْحَةَ أُمَّ سُلَيْمٍ فَكَانَ صِدَاقُ مَا بَيْنَهُمَا

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي ابو طلحه رضي الله عنه په دې شرط د ام سليم سره نکاح وکړه چي

الْإِسْلَامَ أَسْلَمَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ قَبْلَ أَبِي طَلْحَةَ فَخَطَبَهَا فَقَالَتْ إِنِّي قَدْ أَسْلَمْتُ

اسلام قبلول به يې مهر وي ام سليم د ابو طلحه رضي الله عنه څخه وړاندي مسلمانه سوې وه بيا يې ابو طلحه ته پيغام ورولېږئ چي ما اسلام قبول کړی دی

فَإِنْ أَسْلَمْتَ نَكَحْتُكَ فَأَسْلَمَ فَكَانَ صِدَاقَ مَا بَيْنَهُمَا. رواه النسائي.

که ته هم مسلمان سوې نو زه به ستا سره نکاح کوم نو ابو طلحه اسلام قبول کړ او اسلام قبلول يې مهر سو. (نسائي).

تخريج: سنن النسائي ۶\ ۱۱۴، رقم: ۳۳۴۰.

تشريح: أم سليم رضي الله عنها د ملحان لور او د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه مور ده، اول د هغې واده د مالک ابن نضر سره سوی وو چي د هغه څخه حضرت انس رضي الله عنه پيدا سو، مالک د اسلام په دولت مشرف سوی نه وو او هغه د شرک په حالت کي ووژل سو بيا ام سليم اسلام قبول کړی او ابو طلحه رضي الله عنه چي هغه وخت مشرک وو هغې ته د نکاح پيغام واستوی او نکاح يې ورسره وسوه.

د حديث الفاظ (او اسلام قبلول يې مهر وټاکل) ددې وضاحت د حنفيه حضراتو د مذهب سره سم دادی چي ام سليم د ابو طلحه سره نکاح په مهر سره وسوه مگر ام سليم د خپلي وعدې سره سم د ابو طلحه رضي الله عنه د اسلام راوړلو يوه وجه خپل مهر وټاکی يعني د ابو طلحه اسلام قبلول د هغوی په مينځ کي د نکاح سبب سو نه دا چي د اسلام قبوليت مهر وو، مگر نور امامان د حديث پر ظاهري معنی باندي په محمول کولو سره وايي چي د ابو طلحه اسلام قبلول د هغه مهر وو.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ الْوَلِيْمَةِ

(دواده د ډوډۍ کولو بيان)

وليمه هغه خوراک ته وايي چي په نکاح کي خوړل کيږي، وليمه د التيام څخه مشتق دی چي د هغه معنی د اجتماع ده ، دغه خوراک ته وليمه ځکه وايي چي په هغه اجتماع کي د زوجينو په مراسمو کي تر سره کيږي .

دوليمې شرعي حيثيت او وخت

د اکثرو علماؤ د قول سره سم وليمه سنت ده او ځيني علماء ورته مستحب وايي او د ځينو په نزد واجب ده، همدارنګه د وليمې د وخت په باره کي هم اختلافي قولونه دي ځيني علماء وايي چي د وليمې اصل وخت د دخول (يعني د واده د شپې) څخه وروسته دی، ځيني حضرات وايي چي وليمه د نکاح پر وخت خوړل پکار دي او ځيني علماء وايي چي د نکاح پر وخت هم خوړل پکار دي او د نکاح څخه وروسته هم .

د دوو ورځو څخه تر زيات وخت پوري د وليمې په باره کي هم د علماؤ مختلف قولونه دي ډله دې ته مکروه وايي يعني د علماء د دغه ډلي په نزد تر دوو ورځو پوري خوړل کيدای سي تر دې زيات خوړل مکروه دي ، د امام مالک رحمة الله عليه په نزد تر يوې هفتې پوري خوړل مستحب دي مګر په دې باره کي صحيح خبره داده چي دا د خاوند پر توان او حثيثت پوري اړه لري که هغه يوازي پر يوه وخت اکتفاء وکړي او که تر څو ورځو پوري د خوراک ورکولو توان لري نو تر څو ورځو پوري دي يې ورکړي .

مېلمستيا ډولونه : په مجمع البحار کي ليکلي دي چي د مېلمستيا اته ډولونه دي ۱: وليمه، ۱: خُرس، ۲: اعذار، ۴: وکيره، ۵: نقيعه، ۶: وضيمه، ۷: عقيقه، ۸: مادبه .

وليمه هغه مېلمستيا ته وايي چي د واده پر موقع تر سره کيږئ ، خرس هغه مېلمستيا ته وايي چي د کوچني د پيدا کېدو په خوشحالي کي وکړل سي ، اعذار هغه مېلمستيا ته وايي چي د ختنه (سنت کېدو) په وخت کي وکړل سي، وکيره هغه مېلمستيا ته وايي چي د سرای جوړولو په خوشحالۍ کي وکړل سي، نقيعه هغه مېلمستيا ته وايي چي د مسافر د راتلو په خوشحالۍ کي وکړل سي، عقيقه هغه مېلمستيا ته وايي چي د کوچني د نوم ايښودو په خوشحالۍ کي وکړل سي، او مادبه هغه مېلمستيا ته وايي چي بېله يو خاص وجه وکړل سي ، د مېلمستيا دغه ټول

Maktaba Tul Ishaat.com

ډولونه مستحب دي البته د وليمې په باره کې ځينې علماء وايي چې واجب ده.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د وليمې کولو حکم

﴿۳۰۷۳﴾: عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى عَلَى عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ د عبدالرحمن بن عوف په جامو د ژړوالي

عَوْفٍ أَثَرَ صُفْرَةٍ فَقَالَ مَا هٰذَا قَالَ إِنِّي تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً عَلَى وَزْنِ نَوَاةٍ مِنْ ذَهَبٍ قَالَ بَارَكَ اللّٰهُ لَكَ أَوْلِمْ وَلَوْ بِشَاةٍ. متفق عليه.

نښه وليده پوښتنه يې ځينې وکړه چې دا څه دي؟ هغه ورته وويل: يو نوا (پنځه درهمه) په سرو زرو باندې مې د يوې ښځې سره نکاح وکړه نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: خداي تعالى دې در باندې مبارک کړي ته وليمه وکړه که څه هم يو پسه وي. بخاري او مسلم.

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۳۰۴، رقم: ۵۱۴۸، ومسلم ۲\۱۰۴۲، رقم: ۷۹- ۱۴۲۷.

د لغاتو حل: اثر صُفرة (اي من الزعفران). د زعفران ژړ رنګ.

تشريح: د حضرت عبدالرحمن رضي الله عنه پر جامو باندې يا د هغه پر بدن باندې د زعفرانو په ليدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل چې دا څه دي؟ ددې مطلب دا هم کيدای سي چې رسول الله ﷺ د هغه د لګېدو سبب پوښتلی وي او دا هم کېدای سي چې رسول الله ﷺ نارينه د خلوق (يو ډول خوشبويي چې د زعفران څخه جوړېږئ) د استعمال څخه منع کړې وي، ځکه رسول الله ﷺ د دغه الفاظو په ذريعه هغه ته خبردار ورکړ چې دا د نارينوو لپاره منع ده نو بيا تا ولې استعمال کړې ده. نو عبدالرحمن رضي الله عنه جواب ورکړ چې ما په قصد سره نه دي استعمال کړي بلکه د ناوې سره د اختلاط په وجه بېله زما قصد او علمه هغه لګيدلي دي.

قاضي رحمه الله وايي لکه څرنګه چې نش شل درهمه او اوقيه د څلوېښت درهمو برابر وزن ته وايي همدارنګه نواة د پنځه درهمه وزن ته وايي، نو د يوه نواة سرو زرو مطلب دادی چې ما ددغه ښځې مهر د پنځه درهمه په اندازه يعني شپاړلس ماشې سره زر ټاکلي دي، ځينې حضرات وايي چې د نواة څخه نواة تمر يعني د خرما هډوکي مراد دي او په ظاهره دا صحيح معلومېږي په دغه صورت کې به د حضرت عبدالرحمن رضي الله عنه مطلب دا وي چې ما د خرما د

Maktaba Tul Ishaat.com

هڅو کي په اندازه د سرو زرو مهر ټاکلی دی.

ته ولیمه وکړه که څه هم هغه یو پسه وي، دغه ډول عبادت د کم مقدار بیانولو لپاره هم استعمالیږي او ډیر هم ځیني مراد کیږي، یعني د رسول الله ﷺ مقصد دا بیانول وه چي که څه هم زیات مصرف وي مګر بیا هم ولیمه وکړه او د تکثیر د مراد اخیستو وجه داده چي په هغه زمانه کي پسه د یو ډیر لږ اندازې لپاره ذکر کول د قیاس څخه لیري معلومیدی ځکه چي د حدیثو څخه معلومیږي چي په هغه زمانه کي د مسلمانانو مالي او اقتصادي حالت ډیر کمزوری وو خلکو به د ستوان او دا ډول نورو معمولي شیانو په ذریعه د ولیمې سنت پوره کوی بیا دا چي خپله د عبدالرحمن ابن عوف رضي الله عنه مالي حیثیت هغه وخت دومره زیات نه وو چي رسول الله ﷺ هغه ته د پسه په ډول د کم شی صورت بیان کړی وي.

د رسول الله ﷺ تر ټولو لویه ولیمه

﴿۳۰۷۴﴾: وَعَنْهُ قَالَ مَا أَوْلَمَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى احد مِنْ نِسَائِهِ مَا أَوْلَمَ عَلَى زَيْنَبَ أَوْلَمَ بِشَاةٍ. متفق عليه

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د خپلي یوې بي بي په نکاح کي هم دومره ولیمه نه وه کړې څومره چي یې د بي بي زینب رضي الله عنها په نکاح کي کړې وه نو نبي کریم ﷺ د هغې په نکاح کي د یو پسه ولیمه کړې وه. (بخاري او مسلم).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۲۳۲، رقم: ۵۱۶۸، ومسلم ۲\۱۰۴۹، رقم: ۹۰\۱۴۲۸.

تشريح: د دې څخه په مخکي حدیث کي دا ښوول سوي دي چي د پسه ذکر د تکثیر لپاره دی نو د حدیث څخه د دې تائید کیږي چي داسي ولیمه چي په هغه کي یو پسه استعمال کړل سوی وي د یو لوی او ډیر مصرف والا ولیمې حیثیت لري.

﴿۳۰۷۵﴾: وَعَنْهُ قَالَ أَوْلَمَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ بَنَى بِزَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ فَأَشْبَعَ النَّاسَ خُبْزًا وَلَحْمًا. رواه البخاري.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ بي بي زینب بنت جحش د نکاح کولو وروسته کور ته راوسته نو نبي کریم ﷺ ولیمه وکړه او د خلکو نسونه یې په غوښو او ډوډۍ سره ماړه کړه. (بخاري)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۸\۵۲۸، رقم: ۴۷۹۴.

د بنځي ازادول د هغې مهر كيداى سي كه يا؟

﴿۳۰۷۶﴾: وَعَنْهُ قَالَ اِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْتَقَ صَفِيَّةَ وَتَزَوَّجَهَا وَجَعَلَ عِتْقَهَا صَدَاقَهَا وَأَوْلَمَ عَلَيْهَا بِحَيْسٍ. متفق عليه.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ ته بي بي صفيه د خيبر په غزا كي په لاس راغلې وه هغه يې ازاده كړه او وروسته يې ور سره نكاح وكړه او د هغې مهر يې د هغې ازادي وكرځوله او د حيس (خرماوي پنير او غوړيو) وليمه يې وكړه. (بخاري او مسلم).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۲۳۲، رقم: ۵۱۶۹، ومسلم ۲\۱۰۴۳، رقم: ۸۴- ۱۳۶۵.

د لغاتو حل: حَيس: طعام يتخذ في التمر والاقط والسمن. (يو ډول خوراک).

تشريح: بي بي صفيه رضي الله عنها د حيي ابن اخطب لور وه چي په خيبر كي د بنو قريظه او بنو نضير سردار وو، كله چي د خيبر د يهوديانو سره د مسلمانانو جنګ وسو او الله تعالى مسلمانانو ته فتح وركړه نو صفيه هم د مينزي په توګه د رسول الله ﷺ په ملكيت كي راغلل مګر رسول الله ﷺ هغه ازاده كړه او بيا په خپل زوجيت كي ه راوستو سره يې هغه د دين او دنيا تر ټولو لوى سعادت سره مشرفه كړه.

په دغه مسئله كي د عالمانو اختلافي قولونه دي كه چيري يو سړى خپل مينزه ازاده كړي او دهغې سره نكاح وكړي او د هغې ازادي د هغې مهر وټاكي نو دا جائز دي كه يا؟ د صحابه كرامو يو ډله او ځيني علماء د دغه حديث د ظاهري مفهوم سره د دې د جواز قائل دي حال دا چي د صحابه كرامو او علماؤ يو ډله دې ته جائز نه وايي او د حنفيه حضراتو مذهب هم دادى، د هغوى له خوا د دغه حديث تاويل دا حديث كيږي چي د رسول الله ﷺ له خوا د بي بي صفيې رضي الله عنها ازادي د هغې مهر ټاكل يو استثنائي صورت دى چي يوازي د رسول الله ﷺ د ذات مبارك سره خاص دى نو دا د رسول الله ﷺ د خصائصو څخه وو او بل چا ته دا جائز نه دي.

د هدايه په تشريح كي ليكلي دي كه چيري يو سړى خپل مينزه ازاده كړي او د هغې ازادي د هغې مهر وټاكي په دې توګه چي هغې ته داسي ووايي چي ما ته په دې شرط ازاده كړې چي ته به زما سره د ازادۍ په عوض كي نكاح كوې او بيا مينزه دا خبره ومني نو دغه ازادول به صحيح سي يعني هغه به ازاده سي البته د نكاح په اړه به هغه خود مختاره وي تر دې كه چيري هغه سړى

Maktaba Tul Ishaat.com

دهغې سره نكاح وكړي نو د هغه لپاره به د هغې مهر مثل واجب وي .

حيس د يو خوراک نوم دى چې دحلوا په ډول دى او د خرما، غوړو او اقط (كروت) څخه جوړيږي چې د پيروي په ډول دى او د مستو څخه جوړيږي .

د حضرت صفيه ﷺ وليمه

﴿۳۰۷۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ أَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ خَيْبَرَ وَالْمَدِينَةِ

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ (د خيبر د غزا څخه وروسته) د خيبر او

ثَلَاثَ لَيَالٍ يُبْنَى عَلَيْهِ بِصَفِيَّةَ فَدَعَوْتُ الْمُسْلِمِينَ إِلَى وَلِيمَتِهِ وَمَا كَانَ فِيهَا

مدينې په مينځ كې درې ورځې قيام وكړ او د بي بي صفيې ﷺ سره يې تر نكاح كولو وروسته

مِنْ خُبْزٍ وَلَا لَحْمٍ وَمَا كَانَ فِيهَا إِلَّا أَنْ أَمَرَ بِالْأَنْطَاعِ فَبُسِطَتْ فَأَلْقَى عَلَيْهَا

التَّمْرَ وَالْأَقِطَ وَالسَّمْنَ . رواه البخاري.

ملته شپه تېره كړه او (سهارته) د وليمې لپاره يې مسلمانان را وبولل او په وليمه كې نه غوښه وه نه ډوډۍ بلكه نبي كريم ﷺ سترخان را وړ او حكم يې وكړ چې سترخوان هوار كړي كله چې سترخوان هوار سو نو پر هغه باندې د خرما پنير او غوړي كښېښودل سوه . (بخاري او مسلم) .

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۷\۴۷۹، رقم: ۴۲۱۳.

د لغاتو حل: الانطاع: جمع النطع وهو المتخذ من الاديم. (سترخوان)

تشريح: په ذكر سوې حديث كې د بي بي صفيې رضي الله عنها په وليمه كې چې د كوم حيس ذكر سوى دى د هغه تفصيل په دغه حديث شريف كې بيان سوى دى چې د حيس اجزاء خرما، اقط (كُرت) او غوړي وي .

د حضرت ام سلمه (رض) وليمه

﴿۳۰۷۸﴾: وَعَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ شَيْبَةَ قَالَتْ أَوْلَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى بَعْضِ نِسَائِهِ بِمُدَّيْنِ مِنْ شَعِيرٍ . رواه البخاري.

د بي بي صفي ﷺ بنت شيبه څخه روايت دى چې نبي كريم ﷺ د خپلې يوې بي بي وليمه په دوه

Maktaba Tul Ishaat.com

سپره او ربشو سره وکړه. (بخاري)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۲۳۸، رقم: ۵۱۷۲.

دوليمې بلنه قبلول پکار ده

﴿۳۰۷۹﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ إِلَى الْوَلِيمَةِ فَلْيَأْتِهَا. متفق عليه و في رواية لمسلم فليجب عرسا كان او نحوه.

د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د وليمې دعوت وکړي هغه قبلول پکار ده او د مسلم په يوه روايت کي دا الفاظ دي د وليمې دعوت دي قبول کړي که واده وي يا دا ډول بل يو دعوت وي. (بخاري او مسلم).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۲۴۰، رقم: ۵۱۷۳، ومسلم ۲\۱۰۵۲، رقم: ۹۶\۱۴۲۹.

تشريح: د بل ډول دعوت څخه مراد ختنه (سنت کېدل) او د عقيقي يا نوري مېلمستياوي مراد دي، ددې څخه معلومه سوه چي په دغه روايتو کي د وليمې څخه مراد يوازي هغه خوراک دی چي د واده په وخت کي خوړل کيږي.

ځيني حضرات وايي چي د واده د مېلمستيا بلنه قبلول واجب دي که يو څوک بېله عذره دا بلنه قبوله نه کړي نو هغه ګناه کار دی ځکه د رسول الله ﷺ ارشاد دی: من ترک الدعوة فقد عصى الله ورسوله: يعني څوک چي مېلمستيا قبوله نه کړي هغه د الله او د هغه د رسول نافرماني وکړه.

ځيني علماء وايي چي واجب نه ده بلکه مستحب ده مګر دا خبره بايد په ذهن کي وي چي د قبلولو څخه مراد مېلمستيا ته تلل دي يعني که چيري يو څوک واده ته وبلل سي نود هغه لپاره ورتلل د ځينو علماؤ په نزد واجب دي او د ځينو علماؤ په نزد مستحب دي، اوس پاته سوه دا خبره چي په خوراک کي ګډون وکړي نو په دې باره کي په اتفاق سره دا مسئله ده که چيري د يو چا روژه نه وي نو په خوراک کي ګډون کول مستحب دی، د دواده د خوراک څخه پرته د نورو مېلمستياوو قبلول مستحب دي.

طيبي او ابن مالک (رح) هم دا ويلي دي چي د مېلمستيا قبلولو وجوب يا استحباب په

Maktaba Tul Ishaat.com

ځینو صورتو کي ساقط کېږي مثلا دا شبه کېدل چي په مېلمستیا کي کوم خوراک ورکول کېږي هغه به د حلال مال څخه نه وي یا په هغه مېلمستیا کي د شتمنو کسانو تخصیص وي یا په هغه مېلمستیا کي یو داسي سړی وي چي د هغه څخه د تاوان رسیدو بېره وي یا هغه دده ورڅه نه وي چي د هغه سره کښېني، نو په دغه صورت کي که چیري یو سړی مېلمستیا قبوله نه کړي نو څه پروا نه لري ، همدارنګه که چیري یو سړی مېلمستیا ته یوازي دده لپاره وبلل سي چي د هغه څخه کار واخلي او هغه ته یو تاوان رسیږي نو په داسي صورت کي مېلمستیا نه قبلول غوره دي ، همدارنګه که چیري یو څوک یو سړی دده لپاره مېلمستیا ته ته راوبولي چي هغه د خلکو په باطل ارادو یا غیر شرعي کارو کي مرسته وکړي یا په یو مېلمستیا کي منع شیان لکه شراب او داسي نور وي یا هلته غزلي او سروز او نور غیر شرعي کارونه وي یا په کوم ځای کي چي مېلمستیا وي هغه د وربښمو فرش اوارسوی وي نو په داسي مېلمستیا کي ګډون کول باید ونه سي دا خبره باید په ذهن کي وي چي نن سبا مجلسو د ذکر سوو شیانو څخه خالي نه وي که ټول شیان نه وي نو په هغه کي ځیني مجلسو داسي وي ، ځکه د صوفیانو قول دی چي عزلت (یعني کونج نشیني) حلاله سوې ده بلکه دا ویل زیات مناسب دي چي نن سبا کونج نشیني واجب سوې ده نو کوم سړی چي د احتیاط سره سم کونج نشیني اختیارول غواړي او په یو مجلس یا مېلمستیا کي ګډون مناسب نه ګڼي نو د هغه لپاره نه ورتلل غوره دي .

۳۰۸﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ إِلَى طَعَامٍ فَلْيُجِبْ فَإِنْ شَاءَ طَعِمَ وَإِنْ شَاءَ تَرَكَ . رواه مسلم .

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوک چي د ډوډۍ لپاره وبلل سي هغه ته پکار ده چي دعوت قبول کړي او هلته دي ولاړ سي که یې خوري او که یې نه خوري (خپله خوښه یې ده). (مسلم) .

تخریج : مسلم في الصحیح ۱۲\۱۰۵۴، رقم: ۱۴۳۰\۱۰۵.

تشریح : د دغه حدیث څخه معلومه سوه چي د مېلمستیا قبلولو مطلب بلونکي ته ورتلل دي او دا واجب یا سنت دی مګر په خوراک کي ګډون کول سنت دي په شرط دده روژاتي نه وي .

ابن مالک رحمه الله وایي چي په دغه حدیث شریف کي د دعوت قبلولو چي کوم حکم ورکړل سوی دی هغه د وجوب په توګه دی مګر دده تعلق هم د هغه چا سره دی چي هغه ته یو عذر نه وي او

كه چيري يو څوک معذور وي مثلا د مېلمستيا ځاى دومره ليري وي چي هلته ورتلل تكليفي وي نو په دغه صورت كي د هغه مېلمستيا په نه قبلولو كي څه پروا نه سته .

په وليمه كي يوازي شتمن خلک را بلل بد كار دى

﴿۳۰۸۱﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَرُّ الطَّعَامِ طعام الْوَلِيمَةِ يُدْعَى لَهَا الْأَغْنِيَاءُ وَيُتْرَكُ الْفُقَرَاءُ وَمَنْ تَرَكَ الدَّعْوَةَ فَقَدْ عَصَى اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ . متفق عليه .

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د وليمې هغه طعام خراب طعام دي چي په هغه كي دولتمند خلک و بلل سي او فقيران و نه غوښتل سي او چا چي د دعوت څخه انكار وكړ هغه د خداي جل جلاله او د رسول الله ﷺ نافرماني وكړه . (بخاري او مسلم) .

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\ ۲۴۴، رقم: ۵۱۷۷، ومسلم ۲\ ۱۰۵۴، رقم: ۱۰۷\ ۱۴۳۲.

تشريح شر الطعام : يعني د خراب خوراک مطلب دادى چي كوم نور د پر خراب خوراكونه دي په هغو يو دا هم دى ، دا ځكه ويل سوي دي چي ځيني خوراكونه تر دې هم زيات خراب دي او دا فرمايل سوي دي (شر الناس من اكل وحده) يعني خراب سړى هغه دى چي هغه يوازي خوراک وكړي، او دا هم مراد دى چي په خرابو خلكو كي يو خراب سړى هغه هم دى چي يوازي خوراک كوي .

د دغه حديث مقصد د وليمې د خوراک خرابي بيانول دي ځكه چي نه يوازي د وليمې كولو حكم وركړل سوى دى بلكه د هغه قبلولو تاكيد هم سوى دى او كوم څوک چي د وليمې دعوت قبول نه كړي نو هغه گناه كار دى ، د حديث مراد دادى چي كومه وليمه داسي وي چي په هغه كي يوازي شتمن خلک راوبلل سي او مسكينان پرېښودل سي نو هغه يو خرابه وليمه ده ، هغه وخت د ځينو خلكو دا عادت وو چي هغوى به خپل وليمې ته يوازي شتمن خلک را بلل چي هغوى ته به يې ښه ښه خوراكونه وركول او مسكينان به يې پرېښودل ، نو رسول الله ﷺ د دغه ارشاد په ذريعه د دغه خراب عادت څخه منع وفرمايل .

د دعوت نه قبلولو په وجه د الله تعالى نافرماني داسي كيږي چي د الله تعالى رسول د دعوت قبلولو حكم وركړى دى چا چي دعوت قبول نه كړ هغه د الله تعالى د رسول نافرماني وكړه نو هغه د الله تعالى د حكم نافرماني وكړه .

كوم حضرات چي مېلمستيا قبلولو ته واجب وايي هغوى د دغه حديث د خپل قول دليل

Maktaba Tul Ishaat.com

ګرځولی دی، حال دا چي جمهور علماء دا حديث پر تاكيد او استحباب باندي محمول كړی دی.

نابلل سوي كس ته خوراك وركول.....

﴿۳۰۸۲﴾: وَعَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ كَانَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ يُكْنَى أَبَا

د حضرت ابو مسعود انصاري رضي الله عنه څخه روايت دی چي يو انصاري سړی چي د هغه كنيت ابو

شُعَيْبٍ وَكَانَ لَهُ غُلَامٌ لَحَّامٌ فَقَالَ اصْنَعْ لِي طَعَامًا يَكْفِي خَمْسَةً لَعَلِّي أَدْعُو

شعيب وو ده يو غلام وو چي غوښه به يې خرڅوله يوه ورځ هغه خپل غلام ته وويل: د پنځو كسانو غذا تياره كړه شايد چي زه

النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَامِسَ خَمْسَةٍ فَصَنَعَ لَهُ طُعَيِّمًا ثُمَّ أَتَاهُ فَدَعَاهُ

رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دعوت وركړم غلام يو څه (لږ) غذا تياره كړه بيا هغه سړی د نبي كريم صلى الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر سو او د ډوډۍ بلنه يې وركړه

فَتَبِعَهُمْ رَجُلٌ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَبَا شُعَيْبٍ إِنَّ رَجُلًا تَبِعَنَا

يو بل كس هم د نبي كريم صلى الله عليه وسلم سره ملګري سو نبي كريم صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: اې ابو شعيبه! يو بل سړی هم زموږ سره ملګري سوی دی

فَإِنْ شِئْتَ أَذِنْتَ لَهُ وَإِنْ شِئْتَ تَرَكْتَهُ قَالَ لَا بَلْ أَذِنْتُ لَهُ. متفق عليه.

كه دي خوښه وي ده ته اجازه وكړه او كه دي خوښه وي پرې يې ږده ابو شعيب رضي الله عنه ورته وويل زه ده ته هم اجازت وركوم. (بخاري او مسلم).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۵۸۳، رقم: ۵۴۶۱، ومسلم ۳\۱۶۰۸، رقم: ۱۳۸- ۲۰۳۶.

تشريح: دا حديث ددې خبري دليل دی چي د هيچا لپاره دا جائز نه ده چي هغه د يو چا مېلمستيا ته بېله بلني ولاړ سي او همدا رنګه د مېلمه لپاره هم جائز نه ده چي هغه بېله بلني يو بل سړی د ځان سره بوځي مګر كه چيري كوربه ددې خبري اجازه وركړې وي يا داسي مېلمستيا وي چي هلته عامه اجازه وي يا مېلمه په دې پوهيږي كه چيري زه بل څوك د ځان سره بوځم نو د كوربه د خوښۍ خلاف به نه وي نو په دغه صورت كي بلنه وركړل سوی سړی بل څوك د ځان سره بېولای سي.

Maktaba Tul Ishaat.com

د دغه حديث شريف څخه نوري څو خبري هم معلوميږي : اول دا چي د كوربه د اجازې څخه پرته د هغه په كور كي داخلېدل جائز نه دي ، دوهم دا چي كه چيري يو سړی د يو څو خاصو كسانو دعوت وكړي او د هغوی سره يو بل سړی هم يو ځای سي نو د هغه مېلمنو لپاره دا مستحب دي چي هغوی د كوربه څخه د هغه سړي اجازه وغواړي ، دريم دا چي د بل چا په باره كي د كوربه لپاره دا مستحب دي چي هغه پر دسترخوان باندي د ناستي څخه منع نه كړي مگر دا چي د هغه په وجه مېلمنو ته د تاوان يا تكليف رسيدو بېره وي او كه چيري هغه په خوراك كي د گډون څخه پرته جواب كړي نو په نرمۍ سره دي هغه جواب كړي مگر غوره داده چي د هغه خوراك څخه يو څه هغه ته وركړي په شرط د دې چي هغه يې وړ وي.

په شرح السنه كي ليكلي دي چي دا حديث پر دې دلالت كوي چي يو نابلل سوي سړي ته د مېلمستيا په خوراك كي گډون كول جائز نه دي ، ځيني علماء كرام وايي چي كله يو سړی د چا مېلمستيا وكړي او هغه د خوراك په اېښودو سره هغه د خوراك مالک وگرځوی نو اوس هغه مېلمه مختار دی چي هغه خوراک په خپله خوري يا بل چا ته يې وركوي او يا په وړلو سره يې خپل كور ته يوسي مگر كه چيري داسي صورت وي چي كوربه د سترخوان په غوړلو سره پر هغه خوراک كښېږدي چي دذې نښه ده چي هغه مېلمه يې د هغه خوراک مالک نه وي جوړ كړی بلكه هغه ته يې د دې اجازه وركړې وي چي هغه دلته په كښېنستلو سره خوراک وكړي او څه چي پاته سي هغه به د كوربه وي نو اوس د مېلمه لپاره دا ضروري ده چي هغه پر دسترخوان باندي په ناستي سره خوراک وكړي ، نه دا چي هغه خوراک كور ته يوسي او يا د هغه څخه بل چا ته څه وركړي.

ځيني علماؤ دې ته ښه ويلي دي چي كله پر يو دسترخوان باندي خلک د خوراک كولو لپاره كښيني نو هغوی پر دسترخوان باندي موجود شيان په خپلو كي يو بل ته وركوي مگر كه چيري هغه خلک پر دوو دسترخوانو باندي ناست وي نو د يوه دسترخوان خلک د دوهم دسترخوان خلكو ته د خپل دسترخوان څخه شيان وركول جائز نه دي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د حضرت صفيه (رض) وليمه

﴿۳۰۸۳﴾: عَنْ اَنَسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَوْلَمَ عَلٰى صَفِيَّةَ بِنْتِ حُيَيٍّ بِسَوِيقٍ وَتَمْرٍ . رواه احمد والترمذي وابو داؤد وابن ماجة .

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي نبي کريم ﷺ د بي بي صفيې رض وليمه يې د ستوانو او خرماؤ سره کړې وه .(احمد ترمذي ابو داؤد ابن ماجه)

تخريج: احمد في المسند ۳\ ۱۱۰، وابوداود في السنن ۴\ ۱۲۶، رقم: ۳۷۴۴، والترمذي في السنن ۳\ ۴۰۳، رقم: ۱۰۹۵، وابن ماجه في السنن ۱\ ۶۱۵، رقم: ۱۹۰۹.

تشريح: د بي بي صفيې رضي الله عنها د وليمې په باره کي چي کوم حديث تېر سوی دی په هغه کي د وليمې خوراک حيس ذکر سوی دی حال دا چي دلته د ستوانو او خرماوو ذکر دی، په دواړو روايتو کي به مطابقت داسي وي چي د بي بي صفيې رضي الله عنها په وليمه کي دواړه شيان موجود وه حيس هم وو او ستوان او خرماوي هم وې، راويانو چي څه ليدلي هغه يې ذکر کړي دي .

د دنيوي زيب او زينت څخه د رسول الله ﷺ پرهېز

﴿۳۰۸۴﴾: وَعَنْ سَفِيْنَةَ أَنَّ رَجُلًا ضَافَ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ فَصَنَعَ لَهُ طَعَامًا

د حضرت سفينه رضي الله عنه څخه روايت دی چي حضرت علي رضي الله عنه ته يو ميلمه راغلی حضرت علي رضي الله عنه د هغه لپاره غذا تياره کړه

فَقَالَتْ فَاطِمَةُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا لَوْ دَعَوْنَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

بي بي فاطمې رضي الله عنها وويل :که موږ و نبي کريم ﷺ ته دعوت ورکړو

فَأَكَلَ مَعَنَا فَدَعَوْهُ فَجَاءَ فَوَضَعَ يَدَيْهِ عَلَى عِضَادَتَيِ الْبَابِ فَرَاَى الْقِرَامَ قَدْ

او دوی د زموږ سره وخوري نو دا به بهتره وي نو نبي کريم ﷺ تشريف راوړ او د دروازې په دواړو اړخو يې لاس کېښېښودی او و درېد نبي کريم ﷺ په کور کي د ننه

ضُرِبَ فِيْ نَاحِيَةِ الْبَيْتِ فَرَجَعَ قَالَتْ فَاطِمَةُ فَتَبِعْتُهُ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَارَدَّكَ

په کونج کي يوه پرده وهل سوې وليدل نو واپس يې تشريف يوړ بي بي فاطمه رضي الله عنها وايي زه هم په نبي کريم ﷺ پسي روانه سوم او عرض مي وکړ يا رسول الله! تاسو بيرته ولي تشريف يووړ

قَالَ إِنَّهُ لَيْسَ لِيْ أَوْ لِنَبِيٍّ أَنْ يَدْخُلَ بَيْتًا مُزَوَّقًا . رواه احمد وابن ماجة .

نبي کريم ﷺ راته وفرمايل: ما او هيڅ يو نبي ته د زينت والا په کور کي داخلېدل مناسب نه دی . (ابن ماجه احمد) .

Maktaba Tul Ishaat.com

تخريج: احمد في المسند ۵\۲۲۰۱۵، رقم: ۳۳۶۰.

د لغاتو حل: القِرام: وهو ثوب رقيق من صوف فيه الوان العهون و رقوم و نقوش. (يو ډول ټوكر).

تشريح قرام نازكي او نقش لرونكي پردې ته وايي، ځيني حضرات وايي چي د بي بي فاطمې ﷞ په كور كي چي كومه پرده وه هغه نقش لرونكې نه وه مگر هغه پردې ديوال داسي ښائسته كړى وو لكه څرنگه چي د واده د ناوي او زوم كټ په پردو سره ښائسته كيږي او دا د شتمو خلكو د خپل شتمنۍ او وجاهت بې ځايه اظهار كولو طريقه ده ځكه رسول الله ﷺ د هغه پردې په لېدو سره بېرته ولاړى په دې سره رسول الله ﷺ دا تنبيه وفرمايل چي دېوالونه په داسي پردو سره ښائسته كول مناسب نه دي ځكه چي دا د نيا زينت دى چي د آخرت لپاره تاوان كونكى هم كېداى سي.

بېله بلني مېلمستيا ته ورتلل بد كار دى

﴿۳۰۸۵﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبد الله بن عمر ﵄ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

مَنْ دُعِيَ فَلَمْ يُجِبْ فَقَدْ عَصَى اللهَ وَرَسُولَهُ وَمَنْ دَخَلَ عَلَى غَيْرِ دَعْوَةٍ دَخَلَ سَارِقًا وَخَرَجَ مُغِيرًا. رواه ابوداؤد.

چا ته چي د خوراک بلنه وسي او هغه دعوت قبول نه كړي نو هغه دخداي تعالي او دهغه د رسول الله ﷺ نافرماني وكړه او څوک چي بېله اجازې د چا و ډوډۍ ته ورسي نو هغه د غلو پشان راغى او د مال د غلا كولو څخه وروسته بير ته ولاړى. (ابو داؤد).

تخريج: ابوداود في السنن ۴\۱۲۵، رقم: ۲۷۴۱.

تشريح مېلمستيا ته بېله بلني تلونكي سړي ته په غله سره ځكه تشبيه وركړل سوې ده چي څرنگه يو غل په پټه په يو كور كي داخليږي همدارنگه بېله بلني سړى هم د غله په ډول راځي نو څرنگه چي غل د چا په كور كي د ننوتلو په وجه گناه كار دى همدارنگه بېله بلني سړى هم د خپل دغه غير اخلاقي او بد كار په وجه گناه كار دى، رسول الله ﷺ د دغه حديث په ذريعه د خپل اُمت خلكو ته د ژوند د اخلاقو دوه بنيادي درسونه وركړي دي چي د انسان د ټولني لوى او انساني وقار ضامن دى اول خو دا چي د يو چا بلنه بېله عذره نه قبلول د نفس پر تكبر او پر عدم الفت باندي دلالت كوي، دوهم دا چي بېله بلني د يو چا كور ته ورتلل د نفس پر حرص او خپل عزت د لاسه وركولو باندي دلالت كوي.

كه دوه كسان په يو وار بلنه وركړي نو اول د چا بلنه قبلول پكار دي؟

﴿۳۰۸۶﴾: وَعَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ إِذَا اجْتَمَعَ الدَّاعِيَانِ فَأَجِبْ أَقْرَبَهُمَا بَابًا وَإِنْ سَبَقَ أَحَدُهُمَا فَأَجِبِ الَّذِي سَبَقَ. رواه احمد وابوداؤد

په صحابه كرامو رض كي د يو سړي بيان دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كه دوو نفرو دعوت دركړی نو د هغه دعوت قبول كړه چي د چا دروازه در نژدې وي او كه په هغوی كي هر يوه اول درته وويل نو د هغه دعوت قبول كړه. (احمد ابوداؤد).

تخريج: احمد في المسند ۵\۴۰۸، وابوداود في السنن ۴\۱۳۳، رقم: ۳۷۵۶.

تشريح: دا حكم د هغه صورت سره اړوند دی كله چي په يوه وخت كي د دوو مېلمستياوو كېدو په وجه يا په يو بل وجه د دواړو په دعوت كي ګډون كول ممكن نه وي مګر كه چيري د دواړو په مېلمستيا كي ګډون كول ممكن وي نو بيا دا حكم دی چي د دواړو په بلنه كي ګډون وكړي او دا حكم د دوو همسايګانو د بلني په باره كي هم دی، كه چيري په يوه وخت كي دوه همسايګان مېلمستيا وكړي نو د هغه همسايه بلني ته به ترجيح وركول كيږي كوم چي دېر نژدې وي او كه چيري د همسايګانو څخه پرته د ښار او كلي نور دوه خلك په يوه وخت كي بلنه وكړي نو په دغه صورت كي د وهمه وجه مثلا شناخت، اصلاح، او د حقوقو سره سم ترجيح وركول كيږي يعني په هغه دواړو كي به د هغه سړي بلني ته ترجيح وركوي كوم چي د بل څخه نژدې قريب وي يا د هغه دوهم څخه زيات نيك او صالح وي او يا د حقوقو په اعتبار هغه دوهم دېر نژدې وي.
ددغه حديث شريف څخه يوه نكته دا معلومه سوه كه چيري يو د يو معلم سره د هغه دوه شاګرد په يوه وخت كي د سبق زده كولو لپاره راسي، يا يو حاكم ته دوه خلك د مسئلې پوښتلو لپاره راسي نو مخكي دي هغه چا ته سبق ووايي يا مسئله دي وروښيي كوم چي مخكي راغلی وي.

د نامه لپاره تر دېرو ورځو پوري د وليمي كولو وعيد

﴿۳۰۸۷﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامُ أَوَّلِ يَوْمٍ حَقٌّ وَطَعَامُ يَوْمِ الثَّانِي سُنَّةٌ وَطَعَامُ يَوْمِ الثَّالِثِ سُمْعَةٌ وَمَنْ سَمَّعَ سَمَّعَ اللَّهُ بِهِ. رواه الترمذي.

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د اولي ورځي طعام حق دی يعني ضروري دی او د دويمي ورځي سنت دی او د دريمي ورځي مشهورتيا ده الله تعالي به (دقيامت په ورځ) هغه مشهور او رسوا کړی. (ترمذي).

تخريج: الترمذي في السنن ۳\۴۰۳، رقم: ۱۰۹۷.

تشريح: مطلب دادی چي په واده کي په اوله ورځ خلک خوراک ته رابلل او د خلکو بلنه قبلول سنت مؤکده دي او کوم علماء چي د وليمې بلني ته واجب وايي د هغوی په نزد د حق څخه مراد واجب دی، او په دوهمه ورځ خلک رابلل سنت او مستحب دي، د دوو ورځو څخه وروسته که چيري هغه يو چا ته بلنه ورکړي نو پوهېدل پکار دي چي اوس د هغه په بلنه کي د نامه جذبه پيدا سوې ده يعني هغه په دريمه ورځ خلک د خوراک لپاره ځکه را بولي چي شهرت يې زيات سي او خلک يې تعريف وکړي د هغه په باره کي دا تنبيه فرمايل سوې ده چي کوم څوک د نامه لپاره په دريمه ورځ هم خلک د خوراک لپاره را بولي او ددې خواهش لرونکی وي چي خلک د هغه د سخاوت تعريف وکړي چي د هغه د فخر اظهار وکړل سي نو د داسي سړي په اړه به الله تعالی د حشر په ميدان کي دا اعلان وکړي چي وګورئ! دا سړی درواغجن دی، محض د ښوولو لپاره يې خلکو ته خوراک ورکوئ نو هغه سړی به د ټول مخلوق په مخکي سخت رسوا او ذليل سي.

علامه طيبي رحمه الله وايي کوم بنده ته چي الله تعالی يو نعمت ورکړي (د مثال په توګه هغه نکاح وکړي) نو پر هغه لازمه ده چي د هغه شکر ادا کړي او د نکاح شکر دادی چي وليمې په مېلمستيا کي د خلکو په رابللو سره هغوی ته خوراک ورکړي او دا شکر ادا کول مثلا بلنه کول په اوله ورځ خو ضروري وي او په دوهمه ورځ مستحب وي که په اوله ورځ کوتاهي سوې وي نو په دوهمه ورځ به د هغه کمي پوره سي ځکه چي سنت واجب پوره کوي او په دريمه ورځ بلنه کول محض د ښووني او نامه لپاره وي يعني په دريمه ورځ مېلمستيا کول نه يوازي دا چي ګټه يې نه سته بلکه د نامه په وجه د آخرت تاوان هم دی، همدارنګه کومو خلکو ته چي بلنه ورکړل سي د هغوی په باره کي دا مسئله ده چي د اولي ورځي بلنه قبلول د هغوی لپاره واجب دي، د دوهمي ورځي بلنه قبلول مستحب دي او د دريمي ورځي بلنه قبلول مکروه بلکه حرام دي.

ددغه حديث شريف څخه د مالکيه ددغه مذهب ترديد کيږي چي تر اوو ورځو پوري د وليمې مېلمستيا کول مستحب دي.

د فخر كوونكو بلنه منع ده

﴿۳۰۸۸﴾: وَعَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى

حضرت عكرمه رحمه الله د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ د ددو مقابله

عَنْ طَعَامِ الْمُتَبَارِيَيْنِ أَنْ يُؤْكَلَ . رواه ابو داؤد وقال محي السنة والصحيح انه عن عكرمة عن النبي صلى الله عليه وسلم مرسلا .

كونكو او فخر كونكو د ډوډۍ خوړلو څخه منعه كړې ده (يعني د داسي دوو سړو د طعام خوړلو څخه يې منعه كړېده چي په خپل مينځو كي مقابله كوي). (ابوداؤد)محي السنه وفرمايل: صحيح دا ده چي عكرمه رحمه الله د رسول الله ﷺ څخه مرسلا بيان كړې دى .

تخريج: ابوداود في السنن ۴\۱۳۲ ، رقم: ۲۷۵۴.

تشريح: متبارىين هغه دوو خلكو ته وايي چي د زيات خوراك پخولو او خوړولو كي مقابله وكړي او په هغوى كي د هر يوه دا هڅه وي چي هغه د دوهم په ضد كي زيات خوراك تيار كړي او زيات تو خلكو ته بلنه وركړي چي هغه لوړ او بل سړى كم سي ، يعني د دغه مقابلې څخه د دواړو مقصد فخر او نوم كول وي د داسي خلكو په باره كي دا حكم سوى دى چي د هغوى بلنه دي نه قبليږي او د هغوي په خوراك كي دي ګډون نه كيږي .

نن سبا په دې اړه احتياط نه كيږي مګر د پخوانۍ زمانې د بزرګانو دا حال وو كه چيري هغوى ته به د يو چا د مېلمستيا په باره كي دا شك وسو چي د هغه د مېلمستيا مقصد نوم او فخر دى نو د هغه په مېلمستيا كي د ګډون كولو څخه به يې پرهيز كوى .

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ (دريم فصل)

﴿۳۰۸۹﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْمُتَبَارِيَانِ

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د فخر كونكو دي نه

لاَ يُجَابَانِ وَلاَ يُؤْكَلُ طَعَامُهُمَا. قَالَ الإِمَامُ أَحْمَدُ يَعْنِي الْمُتَعَارِضَيْنِ بِالضِّيَافَةِ فَخْرًا وَرِيَاءً .

Maktaba Tul Ishaat.com

دعوت قبلوي او نه دي د هغوی طعام خوري امام احمد رح وايي د مقابله کونکو څخه مراد هغه خلک دي چې د فخر او ريا په ډول په دعوت کي مقابله کوي. (بيهقي).

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۵\۱۲۹، رقم: ۶۰۶۸.

د فاسق بلنه مه قبلوئ

﴿۳۰۹۰﴾: وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ إِجَابَةِ طَعَامِ الْفَاسِقِيْنَ.

د حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د ټولو فاسقانو خلکو د دعوت قبلولو څخه منعه فرمايلې ده. (بيهقي)

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۵\۶۶، رقم: ۵۸۰۳

تشريح: د فاسق څخه مراد مطلق فاسق دی که څه هم هغه په هر ډول فسق کي اخته وي، د فاسق د مېلمستيا قبلولو د منع سبب دا دی چي اکثر فاسقان د خپل مزاج په اعتبار ظالم هم وي او دا مسئله هم ده چي ظالم د خلکو مال په ظلم اخلي د هغه په مېلمستيا کي ګډون کول حرام دی ، ددې څخه علاوه د فاسق مېلمستيا قبلول د هغه خوشحاله کول او د هغه عزت کول چي دا شرعا ناجائز کار دی.

د يو پرهېزګار د خوراک پلټنه مه کوئ

﴿۳۰۹۱﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمْ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي په تاسو کي يو

عَلٰى أَخِيْهِ الْمُسْلِمِ فَلْيَأْكُلْ مِنْ طَعَامِهِ وَلَا يَسْأَلْ وَيَشْرَبْ مِنْ شَرَابِهِ وَلَا

مسلمان ورور ته ورسئ نو د هغه سره خوراک او چيښاک وکړئ خو دا پوښتنه دي نه کوي چي

يَسْأَلْ، روى الأحاديث الثلاثة البيهقي في "شعب الإيمان" وقال: هذا إن صح فلأن الظاهر أن المسلم لا يطعمه ولا يسقيه إلا ما هو حلال عنده.

هغه خوراک او چيښاک د کوم ځايه څخه او څنګه راځي دا درې حديثونه بيهقي په ((شعب

الايمان)) كي روايت كړې دی.

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۵\ ۶۷ رقم: ۵۸۰۱

تشريح د مسلمان څخه كامل يعني متقي او پرهيزګار مسلمان مراد دی، په دې باره كي ويل سوي دي كه چيري يو سړی هغه ته د خوراک كولو لپاره ورسي نو د هغه د خوراک د جائز او ناجائز كېدو تحقيق دي نه كوي بلكه څه چي مخته راسي هغه دي بېله شكه او شبهې وخوري ځكه چي اول خو د هغه د پرهېزګار كېدو په وجه د هغه په باره كي دا ګمان كول پكار دي چي هغه ناجائز او حرام مال په چا نه خوري، دوهم دا كه چيري د هغه خوراک د جائز او ناجائز كېدو تحقيق كوي نو هغه ته به تكليف ورسيږي چي دا مناسب كار نه دی مګر كه چيري دا يقين وي چي كوم شی هغه په خوراک كي راوړی دی د هغه يو برخه په حرامه ذريعه تر لاسه سوې ده يا د هغه اكثر خوراک حرام دی نو بيا دي هغه نه خوري.

==========

بَابُ الْقَسَمِ

(د ښځو په منځ كي دوختونو وېشلو بيان)

كه د يو چا تر يوې زياتي ښځي وي نو د هغه ښځو سره د شپې تېرولو لپاره د نوبت (وار) تاكل واجب دي يعني هغه ښځو ته وار په وار ورتلل پكار دي، په دې باره كي د يو څو خبرو بايد خيال وساتل سي:

۱. كله چي وار و تاكل سي نو د يوې ښځي په وار كي د دوهمي ښځي سره شپه تېرول جائز نه دي مثلاً كومه شپه چي كومي ښځي ته ورتلل وي په هغه شپه كي دي بلي ښځي ته نه ورځي.

۲. په يوه شپه كي د دوو ښځو سره شپه تېرول جائز نه دي مګر كه چيري دواړي ښځي هغه ته اجازه وركړي او هغه خپله هم ددې لپاره تيار وي نو بيا جائز دي، د رسول الله ﷺ په باره كي نقل سوي دي چي هغه ﷺ په يوه شپه كي د ډېرو بيبيانو مباركانو سره جماع كړې ده، نو دا د هغه وخت خبره ده كله چي وار تاكل واجب سوي نه وه، يا دا چي په دې باره كي رسول الله ﷺ ته د بيبيانو اجازه تر لاسه سوې وه، حنفيه حضرات وايي چي د وار تاكل پر رسول الله ﷺ واجب نه وه بلكه رسول الله ﷺ په خپل كرم او مهربانۍ سره خپل هري بي بي ته وار تاكلی وو.

Maktaba Tul Ishaat.com

۳. د سفر په حالت کي ښځو ته د وار تاکلو حق نه سته او نه د يو ښځي د وار لحاظ ساتل ضروري دي بلکه دده په انحصار د خاوند پر خوښي دی چي هغه د کومي ښځي سره غواړي د ځان سره په سفر کي بيولای سي ، که څه هم غوره دادي چي خاوند خپلو ښځو په مينځ کي قرعه اندازي (پچه) واچوي او د کومي ښځي په نامه چي پچه راووځي هغه دي په سفر کي د ځان سره بوځي .

۴. د مقيم په باره کي د وار تعلق د شپې سره دی او ورځ د شپې تابع ده ، مګر کوم سړی چي د شپې په خپل کاروبار کي اخته وي د مثال په توګه چوکيداري يا بل کار کوي او د هغه په وجه شپه په کور کي نه سي تېرولای نو د هغه په حق کي د وار تعلق د ورځي سره دی .

په درمختار کي دا ليکلي دي چي د کوم سړی زياتي ښځي وي نو پر هغه باندي د ښځو سره په شپه کي د اوسيدو او د هغوی د خوراک په باره کي برابري کول واجب دي ، د هغوی سره د جماع کولو يا نه کولو او په مينه کي برابري کول واجب نه دي بلکه مستحب دي .

د يوې ښځي سره د جماع په باره کي د هغې پر خاوند دا حق دی چي هغه به په يوار جماع کولو سره ساقط کيږي د جماع کولو په باره کي خاوند خودمختار دی چي کله وغواړي وه يې کړي مګر کله کله جماع کول پر هغه دياتًا واجب وي او د ايلاء د وخت په اندازه (يعني تر څلور مياشتو پوري) جماع نه کول د خاوند لپاره مناسب نه دي مګر که چيري د يو ښځي په خوښه تر دومره وخت پوري جماع نه کوي نو بيا څه پروا نه لري مګر د هري ښځي سره يوه يوه شپه او يوه يوه ورځ تېرول پکار دي مګر برابري کول په شپه کي ضروري دي که چيري يو څوک خپل يوې ښځي ته د ماښام څخه وروسته سمدستي ورغلی او دوهمي ښځي ته د ماخستن څخه وروسته ورغلی نو د هغه دغه کار د برابری خلاف دی او د هغه په باره کي به دا ويل کيږي چي د وار حکم يې پرې اينبی دی ، د يوې ښځي سره د هغه د وار څخه علاوه (يعني د بلي ښځي وار کي) دي جماع نه کوي ، همدارنګه د يوې ښځي سره د هغې د وار څخه علاوه په بله شپه کي دي نه ورځي مګر که چيري هغه ښځه ناروغه وي نو د هغې د پوښتني او علاج لپاره ورتللای سي بلکه که چيري د هغې ناروغي سخته وي نو د هغې د وار څخه علاوه هم د هغې سره تر هغه وخته پوري پاته کېدل جائز دي تر څو چي هغه روغه سي يا وفات سي مګر دا په هغه صورت کي جائز دي کله چي د هغې سره بل څوک خدمت کونکی نه وي او که چيري خاوند په کور کي د ناروغی په حالت کي وي نو هغه دي خپله هره ښځه د هغې په وار کي خپل ځان ته رابولي .

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د رسول الله ﷺ د ازواج مطهراتو شمېر

﴿۳۰۹۲﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُبِضَ عَنْ تِسْعِ نِسْوَةٍ وَّكَانَ يَقْسِمُ مِنْهُنَّ لِثَمَانٍ. متفق عليه

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي کوم وخت رسول الله ﷺ وفات سو نو هغه وخت د نبي کريم ﷺ په نکاح کي نهه بيبياني وې او په هغوی کي د اتو وار تاکل سوی وو (ځکه چي نهمي بي بي سودې رضي الله عنها د خپل وار ورځ بي بي عائشې رضي الله عنها ته ورکړې وه). (بخاري او مسلم).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۱۱۲ رقم: ۵۰۶۷. ومسلم ۲\۱۰۸۶، رقم: ۵۱\۱۴۶۵.

تشريح: د رسول الله ﷺ يوولس بيبياني مباركاني وې مگر دوې بيبياني بي بي خديجه رضي الله عنها او بي بي زينب بنت خزاعه رضي الله عنها د رسول الله ﷺ په ژوند مبارک کي وفات سوي دي ځکه دلته يوازي د هغه بيبيانو ذکر کيږي کوم چي د رسول الله ﷺ د وفات پر وخت د رسول الله ﷺ په نکاح کي وې او د هغوی نومونه دادي:

۱. حضرت عائشة رضي الله عنها
۲. حضرت حفصه رضي الله عنها
۳. حضرت ام حبيبه رضي الله عنها
۴. حضرت سوده رضي الله عنها
۵. حضرت ام سلمه رضي الله عنها
۶. حضرت صفيه رضي الله عنها
۷. حضرت ميمونه رضي الله عنها
۸. حضرت زينب رضي الله عنها
۹. حضرت جويره رضي الله عنها

په دغه نهه بيبيانو مبارکانو کي د اتو وار تاکل سوی وو او د نهمي بي بي سوده رضي الله عنها لپاره وار تاکل سوی نه وو ځکه چي هغې د خپلي ناروغۍ په وجه خپل وار بي بي عائشې رضي الله عنها ته ورکړی وو، نو رسول الله ﷺ د هغې په وار کي د بي بي عائشې رضي الله عنها سره وو لکه څرنگه چي د راتلونکي حديث څخه به معلوم سي.

Maktaba Tul Ishaat.com

يوه ښځه خپل وار خپل بني ته ورکولای سي

﴿۳۰۹۳﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ اَنَّ سَوْدَةَ لَمَّا كَبِرَتْ قَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَدْ جَعَلْتُ

د بي بي عائشې ﷞څخه روايت دی کوم وخت چي بي بي سوده رض د ډېر وخت سوه نو هغې ووېل : يا رسول الله!

يَوْمِي مِنْكَ لِعَائِشَةَ فَكَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْسِمُ لِعَائِشَةَ يَوْمَيْنِ يَوْمَهَا وَيَوْمَ سَوْدَةَ. متفق عليه.

ما د خپل وار ورځ بي بي عائشې ﷞ته ورکړه نو د دې څخه وروسته نبي کريم ﷺ دوې ورځي د بي بي عائشې ﷞سره وو يوه ورځ د بي بي سودې ﷞او بله خپله ورځ. (بخاري او مسلم).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹۴\ ۲۱۲ رقم: ۵۲۱۲. ومسلم ۲\ ۱۰۸۵، رقم: ۴۷- ۱۴۶۳.

تشريح: د بي بي سوده ﷞ د پلار نوم زمعه او د مور نوم يې سموس وو، مخکي ددې واده د حضرت سکران سره سوی وو، دوی دواړو د رسول الله ﷺ د پيغمبرۍ په اولو ورځو کي اسلام راوړی وو او په هجرت سره حبشې ته تللي وه کله چي د هغې خاوند حضرت سکران ﷜ وفات سو نو رسول الله ﷺ د بي بي خديجې ﷞ د وفات څخه وروسته د هغې سره نکاح وکړه، د بي بي عائشې ﷞سره د رسول الله ﷺ نکاح د بي بي سوده رضي الله عنها د نکاح څخه وروسته سوې ده، د حضرت عمر ﷜ يا حضرت معاويه ﷜ په زمانه کي بي بي سوده ﷞وفات سوه او په مدينه منوره کي دفن کړل سوه. رضي الله عنها.

که يو ښځه خپل ټاکل سوی وار خپل بني ته ورکړي نو دا جائز دي په شرط ددې چي په هغه کي د خاوند له خوا زور نه وي او د خپل وار بلي ښځي ته ورکونکي لپاره هم دا جائز دي چي کله هغه وغواړي خپل وار بېرته واخلي.

﴿۳۰۹۴﴾: وَعَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَسْأَلُ فِي مَرَضِهِ

د بي بي عائشې ﷞څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به په خپلي ناروغي کي چي په هغه کي

الَّذِي مَاتَ فِيهِ أَيْنَ أَنَا غَدًا أَيْنَ أَنَا غَدًا يُرِيدُ يَوْمَ عَائِشَةَ فَأَذِنَ لَهُ أَزْوَاجُهُ

وفات سو پوښتنه کوله سبا به زه د چا په کور کي يم سبا به زه د کومي بي بي سره يم او د نبي

Maktaba Tul Ishaat.com

كريم ﷺ خواهش دا وو چې د بي بي عائشې ﷺ د نمبر ورځ معلومه سي د نبي كريم ﷺ د

يَكُونُ حَيْثُ شَاءَ فَكَانَ فِي بَيْتِ عَائِشَةَ حَتَّى مَاتَ عِنْدَهَا. رواه البخاري.

خواهش او رغبت په محسوسولو سره بيبيانو اجازت ورکړ چې کوم ځاي مو خوښه وي هلته قيام وکړئ نو د فات تر وخته پوري نبي كريم ﷺ د بي بي عائشې ﷺ سره وو. (بخاري).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۳۱۷ رقم: ۵۲۱۷.

تشريح: (يريد يوم عائشة) دا د مخكنى جملې وضاحت دى يعني د رسول الله ﷺ هره ورځ دا پوښتنه كول د بيبيانو مباركانو څخه د اجازې غوښتلو لپاره وو چې ټولي بيبياني د بي بي عائشې ﷺ سره د اوسيدو اجازه ورکړي، نو دغه جمله (فاذن له ازواجه) يعني بيبيانو رسول الله ﷺ ته اجازه ورکړه دا پر دې خبره دلالت كوي.

د ښځې په سفر بېولو لپاره قرعه اندازي كول

﴿۳۰۹۵﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ سَفَرًا أَقْرَعَ بَيْنَ نِسَائِهِ فَأَيَّتُهُنَّ خَرَجَ سَهْمُهَا خَرَجَ بِهَا مَعَهُ. متفق عليه.

د بي بي عائشې ﷺ څخه روايت دى چې كله به رسول الله ﷺ د سفر اراده كوله نو د خپلو بيبيانو په منځ كي به يې قرعه اندازي كوله او د كومي بي بي نوم چې په قرعه كي را ووتِ نو هغه به يې د ځان سره په سفر كي بېول. (بخاري او مسلم).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵\۲۹۳، رقم: ۲۶۸۸، ومسلم ۴\۲۱۲۹، رقم: ۵۶- ۲۷۷۰.

﴿۳۰۹۶﴾: وَعَنْ أَبِي قِلَابَةَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ مِنَ السُّنَّةِ إِذَا تَزَوَّجَ الرَّجُلُ الْبِكْرَ عَلَى الثَّيِّبِ أَقَامَ عِنْدَهَا سَبْعًا وَقَسَمَ وَإِذَا تَزَوَّجَ الثَّيِّبَ أَقَامَ عِنْدَهَا ثَلَاثًا

د حضرت ابو قلابه ﷺ څخه روايت دى چې د انس ﷺ بيان دى چې د سنتو څخه يو دا دى چې كله يو سړى په كونده ښځه باندي

د پيغلي سره نكاح وكړي نو اووه ورځي دې د پيغلي سره وي او بيا دې وار و ټاكي او كله چې د انجلي څخه وروسته د يوې كونډې سره واده وكړي نو درې ورځي دې د هغې سره وي

Maktaba Tul Ishaat.com

ثُمَّ قَسَمَ قَالَ أَبُو قِلَابَةَ وَلَوْ شِئْتُ لَقُلْتُ إِنَّ أَنَسًا رَفَعَهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . متفق عليه .

بيا دي وار مقرر كړي ابو قلابه رضي الله عنه وايي زړه مي غواړي چي دا ووايم چي د انس رضي الله عنه دا حديث د نبي كريم ﷺ د لوري مرفوع كړى دى . (بخاري او مسلم) .

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\ ۳۱۴، رقم: ۵۲۱۴، ومسلم ۱۲\ ۱۰۸۴، رقم ۴۴\ ۱۴۶۱.

تشريح: امام شافعي رحمة الله عليه په دغه حديث شريف باندي په عمل كولو سره ويلي دي كه چيري د يو سړى په نكاح كي ډيري ښځي وي يا يوه ښځه وي او هغه د يو بلي ښځي سره نكاح وكړي ، كه چيري هغه ښځه پېغله وي نو د هغې سره دي تر اوو شپو پوري او سيږي او كه چيري هغه كونډه يا طلاقه سوې وي نو د هغې سره دي تر درو شپو پوري او سيږي او بيا تر دې وروسته دي د نوي او زړې ښځو په مينځ كي وار وټاكي او هري يوې ته دي مساوي يوه يوه شپه ورځي، مګر د امام ابو حنيفة رحمة الله عليه په نزد په دې باره كي په پېغلي، كونډي، نوي او زړې كي څه فرق نه سته په دې اعتبار ټولي برابري دي ، هغه په دغه دواړو حديثو باندي عمل كړى دى كوم چي د دغه باب په دوهم فصل كي راځي او په هغه كي دا ډول فرق نه دى بيان سوى ، د امام ابو حنيفة رحمة الله عليه په نزد د دغه حديث معنى داده كه چيري يو سړى د خپل يوې يا ډيرو ښځو په موجودتيا كي د يو پېغلي ښځي سره نكاح وكړي نو د هغې سره دي تر اوو شپو پوري وي او بيا دي د مخكنيو ښځو سره د هري يوې سره اووه اووه شپو پوري وي او كه چيري د كونډي سره نكاح وكړي نو د هغې سره دي تر درو شپو پوري وي او بيا دي د مخكنيو ښځو كي د هري يوې سره درې درې شپې وكړي. د روايت په پاى كي د حضرت ابو قلابه رضي الله عنه مطلب دادى كه چيري ما غوښتلاى نو دغه حديث ته به مي مرفوع ويلي واى يعني دا به مي ويلي واى چي دا حديث حضرت انس رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه نقل كړى دى ځكه چي د صحابي دا ويل چي دا سنت دي د مرفوع په حكم كي دى .

﴿۳۰۹۷﴾: وَعَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو بكر بن عبدالرحمن رضي الله عنه څخه روايت دى چي كله رسول الله ﷺ

حِينَ تَزَوَّجَ أُمَّ سَلَمَةَ واصبحت عنده قال لها ليس بك على اهلك هوان ان

د ام سلمه رضي الله عنها سره نكاح وكړه نو په دويمه ورځ سهار يي هغې ته وويل ستا د پاره دا خبره د ذلت نه ده

Maktaba Tul Ishaat.com

شئت سبعت عندك و سبعت عندهن وان شئت ثلثت عندك ودرت قالت ثلث وفي رواية انه قال لها لِلْبِكْرِ سَبْعٌ وَلِلثَّيِّبِ ثَلَاثٌ . رواه مسلم .

چي زه درې شپې ستا سره یم که ته غواړې نو زه به اووه ورځي ستا سره یم او اووه ورځي به د نورو بيبيانو سره یم او که ستا خوښه وي نو درې ورځي به ستا سره یم او بيا به وار وتاکم ام سلمې رض وويل : تاسو درې ورځي زما سره و اوسيږئ او په يو بل روايت کي دي د پيغلو لپاره اووه ورځي دي او کونډو دپاره درې ورځي . (مسلم) .

تخريج: مسلم في الصحيح ۱۰۸۳\۲، رقم: ۴۱- ۱۴۶۰.

تشريح: په دې کي څه ذلت نه سته : ددې مطلب دادی چي زه به ستا سره درې شپې یم نو ددې په وجه به ستا پر قبيله او کورنۍ د حقارت او ذلت داغ نه وي ځکه چي زما ستا سره تر درو شپو پوري پاته کېدل ستا سره د صحبت او بې شوقۍ په وجه نه دي بلکه د شرعي حکم په وجه دي ، ددغه الفاظو په ذريعه رسول الله ﷺ د هغه عذر تمهيد بيان کړی دی چي د هغه په وجه د واده په اولو ورځو کي د بي بي ام سلمه ﷺ سره د شپې تېرولو لپاره يوازي پر درو شپو باندي اکتفاء وسول او هغه عذر دغه شرعي حکم دی که چيري د خپل اول ښځي په موجودتيا کي د بلي ښځي سره نکاح وکړل سي نو د هغه نوي ښځي سره به پرله پسې تر اووه ورځو پوري شپه تېرول په هغه صورت کي جائز وي کله چي هغه پيغله وي مگر ددې څخه وروسته د مخکنيو ښځو سره هم د هري يوې سره تر اووه شپو پوري تېرول پکار دي چي د دوار په اعتبار د چا سره بې انصافي ونه سي او که چيري هغه نوې ښځه کونډه يا طلاقه سوې وي نو بيا د هغې سره به درې شپې تېرول کيږي مگر د هغه څخه وروسته به د مخکنيو ښځو سره هم د هري يوې سره درې درې شپې تېرول دي ، نو رسول الله ﷺ د بي بي ام سلمه په وړاندي ددغه مسئلې په وضاحت کولو سره وفرمايل که ته غواړې نو زه ستا سره هم تر اوو شپو پوري پاته کېدای سم مگر دغه حق د پيغلي انجلۍ لپاره دی او ته ثيبه (کونډه) يې، او بيا دا چي وروسته به زه د خپلو ټولو بيبيانو سره تر اووه اووه شپو پوري يم ځکه نو غوره داده چي د کونډي په حق کي کوم حکم دی د هغه سره سم زه ستا سره درې شپې تېري کړم او بيا وروسته د هري بي بي سره درې درې شپې تېرولو سره ستاسو د ټولو په مينځ کي وار وټاکم. نو بي بي ام سلمه د شريعت سره سم دا خبره ومنل او رسول الله ﷺ د هغې سره تر درو شپو پوري وو .

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

يو ځوک د خپل ټولو ښځو سره په يو ډول مينه کولو مجبور نه دی

﴿۳۰۹۸﴾: عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقْسِمُ بَيْنَ نِسَائِهِ

د عائشې ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د خپلو بيبيانو په مينځ کي وار ټاکلی وو

فَيَعْدِلُ وَيَقُولُ اللّٰهُمَّ هٰذِهِ قِسْمَتِي فِيمَا أَمْلِكُ فَلَا تَلُمْنِي فِيمَا تَمْلِكُ وَلَا أَمْلِكُ. رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي وابن ماجة والدارمي.

او د عدل او انصاف څخه به يې کار اخيستی او فرمايل به يې اې الله! ما دا وارونه ټاکلي دي دا زما تقسيم دي په هغه شی کي چي په هغه کي زه مالک يم او د کوم شي چي ته مالک يې زه يې مالک نه يم ما په هغه شي باندي ملامت نه کړې. (ترمذي ابوداؤد نسائي ابن ماجه دارمي)

تخريج: سنن الترمذي ۳\ ۴۴۶، رقم: ۱۱۴۰، وابوداود ۲\ ۶۰۱، رقم: ۲۱۳۴، والنسائي ۷\ ۶۴، رقم: ۳۹۴۳، وابن ماجه ۱\ ۶۳۳، رقم: ۱۹۷۱، والدارمي ۲\ ۱۹۳، رقم: ۲۲۰۷.

تشريح: د دعاء مطلب دادی چي خپلو ښځو ته د ورتللو او د هغوی د نفقې برابرولو زه مالک يم نو په دغه شيانو کي عدل او انصاف کول زما ذمه داري ده چي زه يې پوره کړم او د يوې ښځي سره نا انصافي او د هغې حق تلف نه کړم مګر د ميني او محبت معامله د زړه سره وي چي پر هغه باندي زما اختيار نه ستهٔ زه په هغه کي برابري نه سم کولای ځکه که چيري د يوې بي بي سره زما زيات مينه او د بلي سره کمي مينه وي نو په دې کي به زما د مقصد او ارادې دخل نه وي او زما څخه مؤاخذه مه کوې.

د حديث شريف څخه معلومه سوه چي د چا تر يوې زياتي ښځي وي نو پر هغه دا لازم دي چي د هغه ښځو سره په شپه تېرولو او نفقي ورکولو کي د عدل او انصاف څخه کار واخلي او په دغه شيانو کي د هغوی په مينځ کي داسي مساوات وکړي چي يوې ښځي ته هم د فرق شکايت نه وي مګر د ميني، محبت، مباشرت او جماع په باره کي عدل او برابري لازم نه ده ځکه چي دغه شيان د زړه او طبيعت سره متعلق دي چي پر هغه باندي د هيڅ انسان اختيار نه وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

د ښځو په منځ کي پر انصاف نه کولو وعيد

﴿۳۰۹۹﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا كَانَ عِنْدَ الرَّجُلِ امْرَأَتَانِ فَلَمْ يَعْدِلْ بَيْنَهُمَا جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَشِقُّهُ سَاقِطٌ. رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي وابن ماجة والدارمي.

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د چا چي دوې ښځي وي او د هغوی په مينځ کي عدل او انصاف ونه کړي نو د قيامت په ورځ به هغه داسي راځي چي نيم بدن به يې غورځېدلي وي. (ترمذي ابوداؤد نسائي ابن ماجه دارمي)

تخريج: سنن الترمذي ۳\ ۴۴۷، رقم: ۱۱۴۱، وابوداود ۲\ ۶۰۰، رقم: ۲۱۳۳، والنسائي ۷\ ۶۳، رقم: ۳۹۴۲، وابن ماجه ۱\ ۶۳۳، رقم: ۱۹۶۹، والدارمي ۲\ ۱۹۳، رقم: ۲۲۰۶.

تشريح: د چا چي ډيري ښځي وي که دوې وي يا درې او يا څلور وي او هغه د دوی په مينځ کي عدل او انصاف نه کوي نو د هغه پر دغه بې انصافۍ باندي ذکر سوې سزا بيان سوې ده، نو په وار ورکولو کي برابري کول په دې اعتبار واجب دي چي د شپې څومره برخه د يوې ښځي سره تېروي هغومره برخه به د بلي سره هم تېروي مثلاً که چيري يوې ښځي ته د ماښام څخه وروسته ورځي نو بلي ته به هم د ماښام څخه وروسته ورځي که چيري هغې ته د ماخستن څخه وروسته ورځي نو دا به د عدل او انصاف خلاف کار دی مګر د صحبت په باره کي برابري کول واجب نه دي، دلته دا خبره هم په ذهن کي ساتل پکار دي چي په دغه حکم کي باکره، ثيبه، نوې، زړه، مسلمانه، کتابيه او ټولي ښځي برابري دي او د ټولو حقوق يو ډول دی البته د ازادي ښځي په نسبت د مينځي، مکاتبې، مدبره او ام ولد لپاره نيم وار دی يعني که چيري د يو سړي په نکاح کي يوه ازاده ښځه وي او يوه مينزه وي نو د مينزي سره به يوه شپه تېروي او د ازادي ښځي سره دوې شپې تېروي د مينزي لپاره وار ټاکل واجب نه دي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د نبي کريم ﷺ په نهه بي بيانو کي د يوې وار ټاکلی نه وو

﴿۳۱۰۰﴾: عَنْ عَطَاءٍ قَالَ حَضَرْنَا مَعَ ابْنِ عَبَّاسٍ جَنَازَةَ مَيْمُونَةَ بِسَرِفَ

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت عطاء رضي الله عنه څخه روايت دی چي موږ د ابن عباس رضي الله عنه سره په سَرَف په ځاي کي د بي بي ميموني رضي الله عنها په جنازه کي شريک سو

فَقَالَ هَذِهِ زَوْجَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا رَفَعْتُمْ نَعْشَهَا فَلَا تُزَعْزِعُوهَا

ابن عباس رضي الله عنه وويل چي دا د رسول الله ﷺ د بي بي جنازه ده کله چي دا پورته کړئ نو زيات

وَلَا تُزَلْزِلُوهَا وَارْفُقُوا بِهَا فَإِنَّهُ كَانَ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حرکت مه ورکوئ او کرار ځئ د رسول الله ﷺ په نکاح کي نهه بيبياني وې نبي کريم ﷺ په

تِسْعُ نِسْوَةٍ كَانَ يَقْسِمُ مِنْهُنَّ لِثَمَانٍ وَلَا يَقْسِمُ لِوَاحِدَةٍ قَالَ عَطَاءٌ الَّتِي كَانَ

هغوی کي د اتو لپاره وار مقرر کړی وو او د يوې بي بي واري نه وو حضرت عطاء رضي الله عنه فرمايي

رسول الله صلى الله عليه وسلم لا يقسم لها بلغنا أنها صفية و كَانَتْ آخِرَهُنَّ

چي د کومي بي بي چي واري مقرر نه وو موږ ته معلومه سوې ده چي هغه بي بي صفيه رض وه
چي هغه د نبي کريم ﷺ په بيبيانو کي ترټولو په اخير کي په نکاح سوې وه

مَوْتًا مَاتَتْ بِالْمَدِينَةِ . متفق عليه، وَقَالَ رَزِينٌ قَالَ غَيْرُ عَطَاءٍ هِيَ سَوْدَةُ

او په مدينه کي وفات سوه . (بخاري او مسلم) د رزين بيان دی چي هغه بي بي چي د هغې واري
مقرر نه وو هغه بي بي سوده رضي الله عنها وه

وَهُوَ أَصَحُّ وَ وَهَبَتْ يَوْمَهَا لِعَائِشَةَ حِينَ أَرَادَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

کوم وخت چي رسول الله ﷺ هغې ته د طلاق ورکولو اراده وکړه نو هغې خپله ورځ و بي بي
عائشي رضي الله عنها ته ورکړه

طَلَاقَهَا فَقَالَتْ لَهُ : أَمْسِكْنِي قَدْ وَهَبْتُ يَوْمِي لِعَائِشَةَ لَعَلِّي أَكُونُ مِنْ
نِسَائِكَ فِي الْجَنَّةِ .

او دا د هغې الفاظ دي ((تاسو ما په خپله نکاح کي و ساتئ زه خپله ورځ بي بي عائشي رض ته
ورکوم د دې لپاره چي په جنت کي ستاسو د بيبيانو سره شامله سم)) .

Maktaba Tul Ishaat.com

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۱۱۲، رقم: ۵۰۶۷، ومسلم ۲\۱۰۸۶، رقم: ۵۱- ۱۴۶۵.

تشريح: بي بي ميمونه رضي الله عنها د رسول الله ﷺ زوجه مباركه وه او د حضرت ابن عباس رضي الله عنه خاله وه ، د هغې د پلار نوم حارث او د مور نوم يې هنده وو او خپله ددې نوم بره وو مګر رسول الله ﷺ دهغې نوم ميمونه کښېښودی، دا مخکې د مسعود ابن عمر په نکاح کې وه او د رسول الله ﷺ سره يې د هجرت په شپږم کال د ذي قعده په مياشت کې د سرف په ځای کې چې د مکې مکرمې څخه پر اته مېله فاصله باندې واقع دی د هغې نکاح وسوه ، دلته د واده شپه تېره سوه او اتفاقي خبره داده چې په دغه ځای کې ددې وفات هم وسو او دلته دفن سوه .

د کومې بي بي مبارکې لپاره چې وار نه وو تيا کل سوی هغه بي بي صفيه رضي الله عنها وه او يا بي بي سوده رضي الله عنها، په دې باره کې په ظاهره دوه متضاد روايتونه دي مګر تحقيقي خبره داده چې هغه بي بي سوده رضي الله عنها وه ، بلکه خطابي رحمة الله عليه د عطاء د دغه قول چې هغه بي بي صفيه وه په دې باره کې دا ويلي دي چې دا د يو راوي غلطي ده يعني عطاء خو دلته د بي بي سوده ويلي دي مګر د يو راوي په غلطۍ سره بي بي صفيه نقل سوي دي .

وکانت اخرهن موتا ماتت بالمدينة: او د رسول الله ﷺ په بيبيانو کې بي بي صفيه رضي الله عنها تر ټولو په آخر کې په مدينه منوره کې وفات سوې ده، ددې تر وضاحت کولو مخکې په دې پوه سئ چې د رسول الله ﷺ په بيبيانو مبارکانو کومه بي بي کله وفات سوې ده ، صاحب د مواهب ليکلي دي چې بي بي صفيه د هجرت په پنځوسم کال د رمضان په مياشت کې وفات سوې ده او ځيني علماء وايي چې د حضرت معاويه رضي الله عنه په زمانه کې په دوپنځوسم ياپنځه پنځوسم هجري کال کې وفات سوې ده او په بقيع کې دفن سوې ده ، بي بي ميمونه رضي الله عنها په ۵۱ هجري کال کې وفات سوه او د ځينو علماؤ د قول سره سم په ۶۶ هجري يا ۶۳ هجري کال کې وفات سوې ده حال دا چې ځيني علماء وايي چې په ۵۸ هجري کال کې وفات سوې ده ، بي بي سوده په ۵۴ هجري کال کې او بي بي حفصه په ۵۰ هجري کال کې وفات سوې ده او د ځينو علماؤ قول دادی چې په ۴۱ هجري کال کې وفات سوي دي، بي بي سلمه په ۵۹ هجري کال ، بي بي ام حبيبه په ۴۴ يا د ځينو علماؤ د قول سره سم په ۴۳ هجري کال کې، بي بي زينب بنت حجش په ۳۰ هجري کال يا د ځينو علماؤ د قول سره سم په ۲۱ هجري کال کې او بي بي جويره په ۵۰ هجري کال کې وفات سوې ده ، بي بي خديجه رضي الله عنها د هجرت څخه مخکې په مکه مکرمه کې وفات سوې ده او بي بي زينب بنت خزيمه هم د رسول الله ﷺ د وفات څخه مخکې وفات سوې ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

كله چي دغه تفصيل ته وكتل سي نو معلوميږي چي دا ويل چي بي بي صفيه رضي الله عنها تر ټولو په آخر كي په مدينه منوره كي وفات سوې ده صحيح نه دى او كه چيري لفظ د كانت د ضمير مرجع بي بي ميمونه وګرځول سي نو هم خبره نه صحيح كيږئ ځكه چي د ځينو علماؤ د قول سره سم د بي بي ميمونې د وفات كال ۶۶ هجري يا ۶۳ هجري كال صحيح ګڼل كيږي نو په بيبيانو مباركانو كي تر ټولو په اخر كي وفات كېدل خو به ثابت سي مګر دا خبره خپله ددې عبارت د مخكني جملې (ماتت بالمدينة) يعني هغه په مدينه كي وفات سوې ده مطابق نه وي ځكه چي په دې باره كي حديث وضاحت كړى دى چي هغه په صرف نامي ځاى كي وفات سوې ده نو ددغه عبارت صحيح مفهوم متعين كول ډېر مشكل دى ، الله تعالى ښه پوهيږي چي په دغه عبارت كي كوم مفهوم پټ دى او ددې صحيح مطلب څه شي دى .

===========

بَابُ عِشْرَةِ النِّسَاءِ وَمَا لِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِّنَ الْحُقُوْقِ

(د ښځو د حقوقو بيان)

په دغه باب كي هغه حديثونه نقل كيږي چي د ښځو سره د صحبت او اختلاط او ښه چلن او دهري ښځي د حقوقو په باره كي منقول دي ، په عنوان كي د هري ښځئ د حقوق ويلو پر ځاى د ښځو حقوق ويل په ظاهره مناسب دي مګر په دې كي نكته داده چي دلته د ښځو جنس مراد نه دى بلكه د ښځو اقسام مراد دي يعني د كومو ښځو سره چي نكاح كيږي هغه پر څو ډوله وي ځيني باكره (پيغلي) وي ځيني ثيبه (كونډه) وي او ځيني خوش اخلاقه وي او ځيني بد اخلاقه وي همدارنګه ځيني ښځي شتمني وي او ځيني غريباني وي او داسي نور...
دلته د ښځو اقسام مراد وه ځكه نو په عنوان كي د هري ښځي حقوق وويل سول.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړى فصل)

د ښځي كوروالى په بده لهجه نه سي سميدلاى

﴿۳۱۰۱﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَوْصُوا

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د ښځو سره نيكي كوئ

بِالنِّسَاءِ خَيْرًا فَإِنَّهُنَّ خُلِقْنَ مِنْ ضِلَعٍ وَإِنَّ أَعْوَجَ شَيْءٍ فِي الضِّلَعِ أَعْلَاهُ فَإِنْ

Maktaba Tul Ishaat.com

(نرمي) ځکه چي دوی د کږې پوښتۍ څخه پیدا سوی دي چي کوږ شی دی او په پوښتۍ کي تر ټولو زیات کوږ پورته برخه ده که تاسو د هغې د سیده کولو کوښښ کوئ نو پوښتۍ به ماته

ذَهَبْتَ تُقِيمُهُ كَسَرْتَهُ وَإِنْ تَرَكْتَهُ لَمْ يَزَلْ أَعْوَجَ فَاسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ. متفق عليه

سي او که یې په خپل حال پرېږدئ نو د هغې کوږوالي به لیري نسي نو زما وصیت قبول کړئ د ښځو سره د ښه کولو په باره کي. (بخاري او مسلم).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۲۵۳، رقم: ۵۱۸۶، ومسلم ۲\۱۰۹۱، رقم: ۶۰ – ۱۴۶۸

تشريح په دغه حدیث شریف کي د ښځي د خلقت او طبیعت په باره کي دوې بنیادي نکتې بیان سوي دي اول دا چي د ښځو اصل او بنیاد بي بي حواء ده (چي زموږ د ټولو انسانانو مور ده) چي د حضرت آدم عليه السلام د لوړي پوښتۍ څخه پیدا سوې ده چي ډېره زیاته کږه وي، نو د ښځو په اصل خلقت کي کوږوالی دی چي ځوک یې سمولای نه سي، دوهم دا چي څرنګه چي د پښتۍ حال دی که یو څوک د هغه سیده کول وغواړي نو نه سیده کیږي بلکه ماتیږي او که چیري یو څوک دا پر خپل حال پرېږدي نو همېشه به کږه وي بالکل همدارنګه د ښځو حال دی چي د هغوی اصل خلقت د اعمالو او اخلاقو کوږوالی دی ځکه که یو سړی وغواړي چي د هغوی دغه کوږوالی سم کړي نو په دې کي به کامیاب نه سي بلکه هغه به ماته کړي (د ماتولو څخه مراد طلاق ورکول دي لکه څرنګه چي د راتلونکي حدیث څخه معلومیږي) نو د ښځو څخه ګټه اخیستل او د هغوی پر کار راتلل په هغه صورت کي ممکن دي چي د هغوی خلقي کوږوالي د ماتولو څخه وژغورل سي.

نو د حدیث خلاصه دا سوه چي د ښځو د اصلاح او صحیح کېدو معامله ډېره پېچیده او نازکه ده د هغوی پر غلطۍ او کوتاهي باندي د سختۍ او غضب پر ځای په یخ زړه سره فکر کول پکار دي او د دغه بنیادي نکتې لحاظ ساتل پکار دي چي د هغوی د کوږوالي د صحیح کولو لپاره که د سختۍ څخه کار واخیستل سي نو د هغه انجام به ماتول یعني د طلاق په صورت کي ظاهر سي او یوازي د هغه ښځو د تباهۍ نه بلکه د خپل ژوند لپاره به هم د تاوان او اضطراب باعث وي ځکه د خپلو ښځو سره ښه چلن کوئ او د هغوی پر کوږوالي باندي صبر کوئ او دا توقع مه کوئ چي هغوی به په ټولو خبرو کي ستاسو د رضا او خوښۍ سره سم عمل کوي مګر ددې دا مطلب هم نه دی چي هغه کوږوالي دي د ورځني کورني ژوند او ټولنیزو کارو څخه په تېرېدو د ګناه او معصیت حد ته ورسیږي بلکه د هغوی پر کوږوالي باندي صبر کول او د هغه

څخه سترګي پټول هغه وخت مناسب دي تر څو چي يو ګناه لازمه نه سي که چيري ګناه لازمه سي نو بيا غفلت کول او سترګي پټول بالکل مناسب نه دي .

﴿۳۱۰۲﴾ : وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْمَرْأَةَ خُلِقَتْ

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چي ښځه د پوښتۍ څخه

مِنْ ضِلَعٍ لَنْ تَسْتَقِيمَ لَكَ عَلَى طَرِيقَةٍ فَإِنِ اسْتَمْتَعْتَ بِهَا اسْتَمْتَعْتَ بِهَا

پيدا سوې ده هغه هيڅکله ستا لپاره په يوه سيده حالت کي نسي پاته کېدای که ته د هغې څخه فائده پورته کول غواړې نو په دغه حالت کي ور څخه فائده حاصله کړه

وَبِهَا عِوَجٌ وَإِنْ ذَهَبْتَ تُقِيمُهَا كَسَرْتَهَا وَكَسْرُهَا طَلَاقُهَا . رواه مسلم .

او که يې ته سيده کول غواړې نو ماته به يې کړې او د هغې ماتول طلاق ورکول دي . (مسلم) .

تخريج : مسلم في الصحيح ۲\۱۰۹۱، رقم: ۵۹- ۱۴۶۸.

تشريح : هيڅکله به سيده نه سي پاته کېدای : ددې مطلب دادی که چيري ته وغواړې چي يو ښځه پر خپل حالت باندي همېشه قائمه وي نو دا ناممکن نه ده ځکه چي د هغې په خلقت کي کوږوالی دی د هغه حالت بدليږي کله د شکر د لاري په پرېښودو سره ناشکري اختيار کړي او کله د فرمانبرداری پر لاره په تلو کي د نافرمانۍ لار اختيار کړي چي د قناعت په لاس ورکولو سره د طمع او حرص په جال کي ومونښلي ، مقصد دا چي همدارنګه د هغې د مزاج او عمل نوري تبديلۍ دي .

د ښځو سره ښه چلن کوئ

﴿۳۱۰۳﴾ : وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَفْرَكْ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً إِنْ كَرِهَ مِنْهَا خُلُقًا رَضِيَ مِنْهَا آخَرَ . رواه مسلم .

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هيڅکله دي يو مسلمان د يوې مسلماني ښځي سره بغض او عناد نه کوي ځکه چي يو عادت که خراب وي نو بل عادت يې ښه دی . (مسلم) .

تخريج : مسلم في الصحيح ۲\۱۰۹۱، رقم: ۶۱- ۱۴۶۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

تشریح: د حدیث د آخري برخي مطلب دادی چي د یو انسان ټول افعالو او خاصیتونه خراب نه وي که چیري د هغه یو څه کارونه او خصلتونه خراب وي نو ځیني ښه عادتونه هم لري نو هر مسلمان باید د خپل ښځي پر هغه کارو او اخلاقو نظر ولري کوم چي د هغه په نظر کي غوره دي او کوم کارونه او اخلاق چي خراب دي پر هغه دي صبر کوي، یا ددغه ارشاد مقصد ددې ترغیب ورکول دي چي د ښځو سره ښه چلن کوئ د هغوی سره په یو ځای والي کي د خوشحالۍ او مسرت ژوند تیروئ او که چیري د هغوی له خوا یو داسي کوتاهي یا غلطي وسي یا په هغوی کي یو داسي خراب عادت وي چي د هغه څخه تکلیف رسیږي نو پر هغه باندي صبر کوئ.

دغه حدیث شریف یو لوی نکتې ته اشاره کوي چي بې عیبه یار او د خپل طبیعت سره سم ملګری په لاس نه راځي که چیري یو سړی بې عیبه یار لټول شروع کړي نو هغه به همېشه بې یاره پاته سي ځکه چي داسي هیڅ انسان نه سته چي په هغه کي یو عیب او یو ناخوښه خبره نه وي، همدارنګه هیڅ انسان په خاصه توګه مسلمان د ښه خصلتو او عادتو څخه بالکل خالي نه وي نو عقل غوښتنه داده چي د هغه ښه خصلتونه په نظر کي ولري او د خرابو عادتو څخه یې سترګي پټي کړي.

کوږوالی هري ښځي ته په میراث کي تر لاسه دی

﴿۳۱۰۴﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْلَا بَنُو إِسْرَائِيلَ لَمْ يَخْنَزْ اللَّحْمُ وَلَوْلَا حَوَّاءُ لَمْ تَخُنْ أُنْثَى زَوْجَهَا الدَّهْرَ. متفق علیه.

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: که بني اسرائیل نه وای نو غوښه به نه خرابېدلای او که بي بي حوا نه وای نو ښځي به د خپل خاوند سره هیڅکله خیانت نه کولای (بني اسرائیل د شیانو د جمعه کېدو څخه منعه سوي وه حکم یوازي داوو چي د ضرورت موافق به یې شیان اخیستل او خوړل به یې دا چي دوی د دې حکم نافرماني وکړه او خدای ﷻ هغوی ته د دې سزا ورکړه چي کوم شی به هغوی ساتئ هغه به خرابیدئ). (بخاري او مسلم).

تخریج: البخاري في الصحیح (فتح الباري): ۶\۴۳۰، رقم: ۳۳۹۹، ومسلم ۲\۱۰۹۲، رقم: ۶۳- ۱۴۷۰.

د لغاتو حل: لم یخنز: ای تغیر وانتن، یشیر الی ان خنز اللحم شئ عوقب به بنو اسرائیل.

تشریح: د حضرت موسی علیه السلام په وخت کي د بني اسرائیلو لپاره په ځنګل کي د الله تعالی له خوا د من او سلوا نعمت نازلیدی او هغوی ته دا حکم وو چي هغوی ته څومره اړتیا وي هغومره

Maktaba Tul Ishaat.com

دي دي اخلي د ضرورت څخه زيات دي نه ذخيره کوي مګر بني اسرائيلو پر ځای دده چي د خپل کم فطرتی او د الله تعالی د نافرمانی څخه منع سي په دغه وخت کي د الله تعالی د حکم نافرماني وکړه او د هغه څخه نعمت څخه يې د خپل اړتيا څخه زيات ذخيره کول شروع کړل مګر داسي وسول چي کله به هغوی ذخيره کول نو هغه غوښه به خرابه سوه د غوښو دغه خرابېدل د هغوی د بد کار يعني پر الله تعالی باندي د باور نه کولو او محض د حرص او طمع په وجه د ذخيره کولو د سزا په توګه وو، دده څخه وروسته د همېشه لپاره د غوښو خرابېدل لازم وګرځېدل، په دې باره کي رسول الله ﷺ وفرمايل که چيري بني اسرائيل په دغه خراب عادت کي اخته نه وای او هغوی ته سزا نه وای ورکړل سوې نو غوښه به نه خرابېدل بلکه تر څو چي خلکو غوښتلای هغه به يې د خپل ضرورت سره سم ساتلای.

دلته د خيانت څخه مراد د امانت ضد معنی مراد نه ده بلکه د خيانت څخه کوږوالي مراد دی، د بي بي حواء کوږوالی داوو چي هغې حضرت آدم علیه السلام ته د جنت د هغه درختي خوړلو ترغيب ورکړ د کوم څخه چي الله تعالی منع کړې وه، رسول الله ﷺ وفرمايل کومه بې لاري چي د بي بي حواء څخه سوې ده هغه د هري ښځي جز ګرځول سوی دی، که چيري بي بي حواء دغه بې لاري نه وای کړې نو په هيڅ ښځه کي به د بې لاری تخم نه وای او هغې به د خپل خاوند سره هيڅکله د بې لاری چلن نه کولای.

د ښځي د وهلو منع

﴿۳۱۰۵﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ زَمْعَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن زمعه رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

لَا يَجْلِدُ أَحَدُكُمُ امْرَأَتَهُ جَلْدَ الْعَبْدِ ثُمَّ يُجَامِعُهَا فِي آخِرِ الْيَوْمِ و في رواية

په تاسو کي دي څوک خپله ښځه داسي نه وهي څنګه چي (په بې دردي سره) غلام وهي او بيا دي د ورځي په اخيري برخه د هغې سره کوروالي وکړي (يعني دا مناسبه نه ده چي هغې ته وهل هم ورکړي او بيا په هغه ورځ ورسره جماع هم وکړي) او په يو بل روايت کي دي

يَعْمِدُ أَحَدُكُمْ فَيَجْلِدُ امْرَأَتَهُ جَلْدَ الْعَبْدِ فَلَعَلَّهُ يُضَاجِعُهَا فِي آخِرِ يَوْمِهِ ثُمَّ

په تاسو کي چي يو سړی اراده وکړي او خپله ښځه ووهي داسي لکه څنګه چي غلام وهي او شايد هغه په هغه ورځ د هغې سره هم بستر هم سي (دا مناسبه نه ده) بيا

Maktaba Tul Ishaat.com

وَعَظَهُمْ فِي ضَحِكِهِمْ مِنَ الضَّرْطَةِ فَقَالَ لِمَ يَضْحَكُ أَحَدُكُمْ مِمَّا يَفْعَلُ . متفق عليه.

نبي كريم ﷺ د باد د خارجېدو (ګوز) پسې خندېدونکي ته په نصيحت کولو سره وفرمايل: په تاسو کي يو سړی په داسي خبره باندي ولي خاندي چي هغه په خپله هم دا کار کوي. بخاري او مسلم

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۸\ ۷۰۵، رقم: ۴۹۴۲، ومسلم في الموضع السابق.

تشريح: او بيا د ورځي په آخري برخه کي د هغې سره جماع کوي: ددې په ذريعه رسول الله ﷺ يوه لويه نفسياني نکته بيان کړل چي کوم ځوک د خپل ښځي ځخه جنسي خوند تر لاسه کوي د هغه لپاره دا خبره ځرنګه مناسب کيدای سي چي يوې خوا ته د هغې سره داسي بې کيفه معامله کوي او بلي خوا ته د هغې سره دومره وحشيانه چلن وکړي ، که ځه هم د خپلي ښځي پرله پسې نافرماني او سرکښي باندي د وهلو اجازه ده مګر داسي نه ده چي د غلامانو په ډول هغه ووهل سي ، دا يوازي يو غير شرعي کار نه دی بلکه يو غير انساني او غير اخلاقي کار هم دی ، ددې ځخه معلومه سوه چي د خپل ښځي سره مينه، اتفاق او ښه چلن کول پکار دي .

د حديث د آخري خبرو مطلب دادی چي د انسان پر يو داسي عجيبه خبره باندي خندل خو ښه خبره ده مګر کله چي يو شی په خپل ځان کي موجود وي او بيا هغه د بل چا ځخه وسي نو پر هغه باندي د خندا ځه خبره ده ، ددې ځخه معلومه سوه که د يو سړي باد پرې سي نو د هغه ځخه دي ځان ناخبره وښيي تر ځو هغه سړی شرمنده نه سي .

دلته يوه عبرتناکه واقعه د بيانولو وړ ده چي يو ډېر لوی عالم تېر سوی دی چي نوم يې عاصم وو ، هغه کوڼ وو مګر هغه د دنيا په نظر کي خپل ځان کوڼ کړی وو ، ددې تفصيل دادی چي يوه ورځ يوه ښځه د مسئلې پوښتلو لپاره هغه ته راغلې وه ، په دغه دوران کي د هغې باد خارج سو ، عاصم فکر وکړ چي دا ښځه ده اوس به ډېره شرمندګي محسوس کړي نو د هغې د شرمندګۍ ليري کولو لپاره هغه وويل لږ په زوره خبري کوي ته ځه وايې ؟ يعني هغه دا ظاهره کړه چي زه کوڼ يم په لوړ آواز سره خبري اورم ، هغه ښځه ډېره خوشحاله سوه او شرمندګي يې ليري سوه مګر عاصم د خپل دغه خبري ظاهرولو لپاره خپل ځان د همېشه لپاره کوڼ کړی .

علامه طيبي رحمة الله عليه وايي چي په دغه حديث کي دا تنبيه پټه ده چي هر عقلمند انسان کله د بل مسلمان وررور د عيب ويلو اراده وکړي نو په خپل زړه کي دي فکر وکړي چي دغه عيب يا دا

Maktaba Tul Ishaat.com

ډول بل عیب په ما کي هم موجود دی که یا؟ که هغه خپل ځان د یو عیب څخه خالي پیدا نه کړي نو د هغه لپاره د هغه مسلمان وړور د عیب ویلو پر ځای دا غوره دي چي د خپل ځان د عیب پر پاکولو باندي توجه وکړي ، یو هوښیار سړي څومره ښه ویلي دي چي زه اکثر خلک وینم چي هغوی د نورو عیبونو ته ګوري مګر خپله په هغوی کي چي کوم عیب وي د هغه څخه ړانده وي.

د خپلي ښځي سره ښه چلن کوئ

﴿۳۱۰۶﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ كُنْتُ أَلْعَبُ بِالْبَنَاتِ عِنْدَ النَّبِيِّ

د بي بي عائشي رضي الله عنها څخه روایت دی چي ما به د رسول الله ﷺ کره (په ګوډیانو سره) لوبي کولې

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ لِي صَوَاحِبُ يَلْعَبْنَ مَعِي فَكَانَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا

او زما همځولو به هم زما سره لوبي کولې بیا چي نبي کریم ﷺ به راغلی نو زما همزولي به د

دَخَلَ يَتَقَمَّعْنَ مِنْهُ فَيُسَرِّبُهُنَّ إِلَيَّ فَيَلْعَبْنَ مَعِي . متفق عليه.

شرم په وجه پټي سوې نو نبي کریم ﷺ به هغوی وما ته را لېږلې او هغوی به زما سره لوبي کولې . (بخاري او مسلم).

تخریج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۰\۵۲۶، رقم: ۶۱۳۰، ومسلم ۴\۱۸۹۰، رقم: ۸۱- ۲۴۴۰.

د لغاتو حل: يَنقَمِعن: ای يتغيبن، ويستترن حياء. فيسربهن: ای يرسلهن الى سربا سربا.

تشریح: په دغه حدیث شریف کي ددې خبري بیان دی چي د خپل ښځي سره په خندا او خوشحالي او سیدل د هغې د جائز جذباتو او شوق لحاظ ساتل د خوشحاله ژوند یو دروازه ده چي د هغه څخه پرته هیڅ انسان ته خوشحالي او اطمینان نه په برخه کیږي، په ناوکیو باندي د بازۍ کولو حکم او تفصیل د باب الولي په بحث کي تېر سوی دی.

﴿۳۱۰۷﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ وَاللّٰهِ لَقَدْ رَأَيْتُ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُومُ عَلَى

د بي بي عائشي رضي الله عنها څخه روایت دی چي ما نبي کریم ﷺ ولیدی او ښه مي په یاد دي چي هغه

بَابِ حُجْرَتِي وَالْحَبَشَةُ يَلْعَبُونَ بالحراب فِي الْمَسْجِدِ و رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

زما دحجرې د دروازې سره ولاړ دی او د حبشي خلکو په یوه مسجد کي په نېزو سره لوبي کولې (جنګي مشق به یې کوئ) او نبي کریم ﷺ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتُرُنِي بِرِدَائِهِ لِأَنْظُرَ إِلَى لَعِبِهِمْ بين اذنه وعاتقه ثُمَّ يَقُومُ

په خپل پټو سره پرده وکړه د دې لپاره چې زه هم د هغوی لوبه ووینم نو زه د نبي کریم ﷺ تر شا ودرېدم او د نبي کریم ﷺ د غوږ او اوږې په مینځ کې مې لوبه کتله نبي کریم ﷺ تر هغه وخت

مِنْ أَجْلِي حَتَّى أَكُونَ أَنَا الَّتِي أَنْصَرِفُ فَاقْدِرُوا قَدْرَ الْجَارِيَةِ الْحَدِيثَةِ السِّنِّ

الْحَرِيصَةِ عَلَى اللَّهْوِ . متفق عليه .

پورې زما په خاطر ولاړ وو تر څو پورې چې زه ولاړه وم د دې څخه اندازه ولګوئ چې د یوې کم عمره انجلۍ چې د لوبې د تماشې (لیدنې) شوق یې در لودې تر هغه وخته پورې نبي کریم ﷺ ور سره ولاړ وو . (بخاري او مسلم) .

تخریج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۳۳۶، رقم: ۵۲۳۶، ومسلم ۲\۶۰۹، رقم: ۱۸- ۸۹۲

تشریح: د مسجد څخه مراد د مسجد غولی دی چې د مسجد سره پیوست یو پوټکی غوندې ځای وو، یعني حبیشانو په مسجد کې خپل لوبه نه ښودل بلکه د مسجد سره پیوست په غولي کې یې د خپل لوبې څرګند ونه کول، او که چیرې مسجد مراد واخیستل سي یعني دا وویل سي چې د هغوی لوبه په مسجد کې دننه وه نو په دې کې هم څه قباحت نه سته ځکه چې د هغوی د برچو لوبه ښوول د جهاد یو تمرین وو، نو د غشي ویشتلو په ډول د هغوی دغه لوبه هم د عبادت په ډول وه همدارنګه د هغوی لوبه کول هم خوښه وه، په ظاهره دا معلومیږي چې دغه واقعه د پردې د واجب کېدو څخه مخکې ده.

رسول الله ﷺ د عائشې ﷺ خوښي او ناخوښي څرنګه پېژندل؟

﴿۳۱۰۸﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَأَعْلَمُ إِذَا

د بي بي عائشې ﷺ څخه روایت دی چې یوه ورځ رسول الله ﷺ وفرمایل: زه پوهېږم چې ته کله

كُنْتِ عَنِّي رَاضِيَةً وَإِذَا كُنْتِ عَلَيَّ غَضْبَى فَقُلْتُ مِنْ أَيْنَ تَعْرِفُ ذٰلِكَ فَقَالَ إِذَا

زما څخه خوشحاله یې او کله زما څخه ناراضه یې ما عرض وکړ تاسو ته څنګه معلومه سي؟ نبي کریم ﷺ را ته وفرمایل: کله چې

كُنْتِ عَنِّي رَاضِيَةً فَإِنَّكِ تَقُولِينَ لَا وَرَبِّ مُحَمَّدٍ وَإِذَا كُنْتِ عَلَيَّ غَضْبَى قُلْتِ لَا

Maktaba Tul Ishaat.com

ته زما څخه خوشحاله او راضي يې نو داسي وايې د محمد ﷺ په پروردګار دي مي قسم وي دا خبره داسي نه ده او چي ناراضه يې نو داسي وايې چي

وَرَبِّ إِبْرَاهِيمَ قَالَتْ قُلْتُ أَجَلْ وَاللّٰهِ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا أَهْجُرُ إِلَّا اسْمَكَ .

متفق عليه.

د ابراهيم علیه السلام په پروردګار دي مي قسم وي دا خبره داسي نه ده بي بي عائشه رضی الله عنها وايي ما عرض وکړ يا رسول الله! دا خبره صحيح ده زه يوازي ستاسو نوم پرېږدم. (بخاري او مسلم).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۳۲۵، رقم: ۵۲۲۸، ومسلم ۴\۱۸۹۰، رقم: ۸۰- ۲۴۳۹

تشريح: مګر زه يوازي ستاسو نوم پرېږدم: ددې مطلب دادی چي د غصې په حالت کي زما عقل سلب سي که څه هم زه ستا نوم نه اخلم مګر زما په زړه کي ستا لپاره د ميني کوم درياب چي ځپې وهي د هغه په څپو کي د ذرې په اندازه کمي هم نه کيږي بلکه زما زړه ستا په مينه کي مستغرق وي.

ښځي ته د کوروالۍ څخه انکار کول نه دي پکار

﴿۳۱۰۹﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

وَسَلَّمَ إِذَا دَعَا الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ إِلَى فِرَاشِهِ فَأَبَتْ فَبَاتَ غَضْبَانَ لَعَنَتْهَا

کله چي يو سړی خپله بي بي د کوروالي لپاره وبولي او هغه انکار وکړي او خاوند د هغې د انکاره څخه ټوله شپه په قهر وي نو تر سهاره پوري

الْمَلَائِكَةُ حَتَّى تُصْبِحَ متفق عليه و في رواية لهما قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا

ملائکې پر هغې ښځي باندي لعنت وايي. (بخاري او مسلم) او د بخاري او مسلم په دويم روايت کي راغلي دي چي نبي کريم ﷺ وفرمايل: زما دي په هغه ذات باندي قسم وي چي زما

مِنْ رَجُلٍ يَدْعُو امْرَأَتَهُ إِلَى فِرَاشِهِ فَتَأْبَى عَلَيْهِ إِلَّا كَانَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ

سَاخِطًا عَلَيْهَا حَتَّى يَرْضَى عَنْهَا .

روح د هغه په لاس کي ده څوک چي خپله ښځه د خوب ځاي ته وبولي (يعني د کوروالي لپاره)

Maktaba Tul Ishaat.com

او هغه انکار وکړي نو هغه ذات چې په اسمان کې دي (الله جل جلاله) تر هغه وخته ځیني ناراضه دی تر څو یې چې خاوند ناراضه وي .

تخریج: البخاري في الصحیح (فتح الباري): ٦\ ٣١٤، رقم: ٣٢٣٧، ومسلم ٢\ ١٠٦٠، رقم: ١٢٢- ١٤٣٦

تشریح: دا وعید په هغه صورت کې دی کله چې یو ښځه د یو شرعي عذر نه کېدو په وجه د خاوند بسترې ته د ورتللو څخه انکار وکړي ، ځیني حضرات وایي چې حیض یو داسي عذر نه دی چې د هغه په موجودتیا کې ښځې ته د خاوند بسترې ته د ورتللو څخه د انکار حق وي ځکه چې د جمهورو علماؤ په نزد خاوند ته په دغه حالت کې هم د جامو سربېره د خوند اخیستلو یعني د بدن سره یو ځای کېدلو ، مچه اخیستلو او داسي نور جائز دي او د ځینو علماؤ په نزد د شرمګاه څخه پرته د ټول بدن څخه خوند اخیستل جائز دي .

تر سهار پوري : د غالب ګمان په اعتبار دا فرمایل سوي دي یعني اکثر دغه صورت په شپه کې پېښیږي ځکه تر سهار پوري ذکر سوي دي که چیري د خاوند له خوا خواهش او د ښځې له خوا انکار د ورځې وو او د هغه په وجه خاوند ټوله ورځ ناراضه وي نو ملائکې تر ماښام پوري هغه ښځه لعنت وایي .

هغه چې په آسمان کې دي : ددې مطلب دادی چې هغه ذات چې د هغه حکم په آسمانو کې جاري دی یا هغه ذات چې د هغه په آسمانو کې عبادت کیږي او ددې څخه مراد د الله تعالی ذات دی، الله تعالی د ځمکې او د ځمکې د ټول مخلوق معبود هم دی او د آسمان د ټول مخلوق معبود هم دی لکه چې الله تعالی فرمایي : وهو الذي في السماء اله وفي الارض اله : او هغه (الله تعالی) هغه ذات دی چې په آسمان کې هم معبود دی او په ځمکه کې هم معبود دی .

مګر په حدیث شریف کې یوازې د آسمان معبود ځکه ویل سوي دي چې د ځمکې په نسبت آسمان زیات شرف لري او یوازې د آسمان ذکر د مقصد لپاره کافي دی او دا اهم احتمال دی چې د دغه جملې څخه ملائکې مراد وي .

ددغه حدیث شریف څخه معلومه سوه چې د خاوند ناراضګي د الله تعالی د ناراضګۍ سبب دی او کله چې د جنسي جذباتو د پوره کولو لپاره د خاوند د ناراضګۍ دا ارزښت دی نو بیا په دیني معامله کې د خاوند د ناراضګۍ به څومره اهمیت وي .

ښځه دي د خپلې بنې سره بد چلن نه کوي

﴿۳۱۱۰﴾: وَعَنْ أَسْمَاءَ أَنَّ امْرَأَةً قَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ لِي ضَرَّةً فَهَلْ عَلَيَّ

Maktaba Tul Ishaat.com

جُنَاحٌ إِنْ تَشَبَّعْتُ مِنْ زَوْجِي غَيْرَ الَّذِي يُعْطِينِي الْمُتَشَبِّعُ بِمَا لَمْ يُعْطَ كَلَابِسِ ثَوْبَيْ زُورٍ. متفق عليه

د بي بي اسماء ﷺ څخه روايت دی يوې ښځي رسول الله ﷺ ته عرض وکړ يا رسول الله!زما يوه بن ده که زه د هغې په مخکي د داسي شيانو ذکر وکړم چي زما خاوند ماته نه وي راکړي نو ايا دا کار گناه لري ؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل : د نه ورکول سوي شی اظهار داسي دی لکه چا چي د دوکې لباس اغوستي وي (يعني دا سي لباس چي په حقيقت کي يوه جامه وي مگر دوه تر ستر کو کيږي څو مره گناه چي دغه لري هغو مره گناه د دې هم ده). (بخاري او مسلم).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۳۱۷، رقم: ۵۲۱۹، ومسلم ۳\۱۶۸۱، رقم: ۱۲۷- ۲۱۳۰

د لغاتو حل: تشبعت: ای تزينت وتکثرت باكثر مما عندی واظهرت لخسرتي انه يعطيني اكثر مما يعطيها ادخالا للغيظ عليها وتحصيلا للضرر بها. (مرقاة)

تشريح: د دوو جامو څخه مراد څادر او لونگ دی ، او د درواغو د جامې اغوستونکي څخه هغه سړي مراد دی چي د يو چا څخه غوښتل سوي يا د چا امانت جامې واغوندي او دا ظاهره کړي چي هغه جامې د هغه دي، يا هغه سړی مراد دی چي د زاهدانو او بزرگانو لباس واغوندي حالنکه د هغه د زهد او بزرگۍ سره هيڅ نسبت نه وي ، ځيني علماء وايي چي په حديث کي د هغه سړي سره تشبيه ورکړل سوې ده چي داسي قميص يې اغوستی وي چي د هغه د لستوڼو لاندي دوه نور لستوڼي وي چي ليدونکي دا فکر وکړي چي هغه دوې جامې اغوستي دي او ځيني حضرات وايي چي په عربو کي يو سړی وو چي محض ددې لپاره به يې دوې جامې اغوستلې چي خلک هغه ته د عزت او احترام په نظر وگوري او که هغه په درواغو شاهدي ورکړي نو څوک دهغه شاهدي درواغ ونه گڼي نو په حديث کي د هغه سړي سره تشبيه ورکړل سوې ده .

د ايلاء مطلب

﴿۳۱۱۱﴾: وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ آلَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ ايلاء وکړه

مِنْ نِسَائِهِ شهرا وَكَانَتْ انْفَكَّتْ رِجْلُهُ فَأَقَامَ فِي مَشْرُبَةٍ تِسْعًا وَعِشْرِينَ

Maktaba Tul Ishaat.com

د خپلو بيبيانو سره د يوې مياشتې (چې هغوی ته به نه ورځي) د نبي کريم ﷺ پښه له بنده ختلې وه او نبي کريم ﷺ تر نهه ويشت ورځو پورې په بالاخانه کې وو

لَيْلَةً ثُمَّ نَزَلَ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ آلَيْتَ شَهْرًا فَقَالَ إِنَّ الشَّهْرَ يَكُونُ تِسْعًا وَعِشْرِينَ. رواه البخاري.

کله چې يې لاندې تشريف راوړ نو خلکو پوښتنه پر وکړه چې يا رسول الله! تاسو خو د يوې مياشتې ايلاء کړې وه او تر اوسه پورې نهه ويشت ورځې کيږي نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: مياشت نهه ويشت ورځې هم وي. (بخاري).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۳۰۰/۹، رقم: ۵۲۰۱.

د لغاتو حل: آلى: اى حلف (قسم کول)

تشريح: د ايلاء لغوي معنی د قسم اخيستلو ده او د شريعت په اصطلاح کې ايلاء دې ته وايي چې يو سړی پر دې باندې قسم واخلي چې زه به څلور مياشتې يا د دې څخه زيات وخت پورې خپل ښځې ته نه ورځم يعنې د هغې سره به جماع نه کوم، که چيرې قسم پوره سي يعنې هغه سړی د خپل قسم سره سم تر څلور مياشتو پورې يا تر دې زيات وخت پورې خپل ښځې ته ور نه سي نو طلاق بائن واقع کيږي او که چيرې هغه قسم پوره نه کړي يعنې د هغه وخت د پوره کېدو څخه مخکې خپل ښځې ته ورسي نو ايلاء ساقط کيږئ او که چيرې د يو سړی په نکاح کې د يو چا مينزه وي يعنې که چيرې د هغه ښځه ازاده نه وي بلکه د يو چا مينزه وي او د هغې سره ايلاء وکړي نو د هغې کم او کم وخت د څلورو مياشتو پر ځای دوې مياشتې دي او که چيرې يو سړی د ازادې ښځې په حق کې د څلورو مياشتو څخه کم او د مينزې په حق کې د دوو مياشتو څخه د کم وخت لپاره قسم واخلي نو دغه ايلاء ته به شرعي ايلاء نه ويل کيږي، په حديث کې رسول الله ﷺ ته چې د کومې ايلاء نسبت سوی دی هغه شرعي ايلاء نه ده بلکه ايلاء لغوي ده يعنې رسول الله ﷺ دا قسم اخيستی وو چې زه به خپلو بيبيانو ته تر يوې مياشتې پورې نه ورځم، د هغه سبب دا وو چې د رسول الله ﷺ بيبيانو د زياتې نفقې غوښتنه کړې وه په هغه سره رسول الله ﷺ ته سخته ناخوښي وسول او رسول الله ﷺ په قسم سره دا عهد وکړ چې زه به دغه بيبيانو ته تر يوې مياشتې پورې نه ورځم، په هغه ورځو کې دا پېښه رامنځته سوه چې رسول الله ﷺ د آس څخه راولويدی چې د هغه په وجه د رسول الله ﷺ په پښه مبارکه کې برېښ راغلی، بيا رسول

الله ﷺ تر یوې میاشتي پورې په بالاخانه کي وو او لاندي نه راغلی مګر هغه میاشت غالبا د یو کم دیرش ورځو وه ځکه رسول الله ﷺ پر نهه ویشت ورځو باندي اکتفاء وکړه او لاندي راغلی.

د رسول الله ﷺ د ایلاء واقعه

﴿۳۱۱۲﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ دَخَلَ أَبُو بَكْرٍ يَسْتَأْذِنُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چي حضرت ابو بکر رضي الله عنه تشریف راوړ او د رسول الله ﷺ په خدمت کي د حاضرېدو اجازه یې وغوښتل

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَجَدَ النَّاسَ جُلُوسًا بِبَابِهِ لَمْ يُؤْذَنْ لِأَحَدٍ مِنْهُمْ قَالَ فَأُذِنَ

هغه ولیدل چي په دروازه کي خلک سره ټول دي او هیچا ته د حاضرېدو اجازه ورنه کړل سوه

لِأَبِي بَكْرٍ فَدَخَلَ ثُمَّ أَقْبَلَ عُمَرُ فَاسْتَأْذَنَ فَأُذِنَ لَهُ فَوَجَدَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ

یوازي ابو بکر صدیق رضي الله عنه ته اجازت ورکړل سو وروسته حضرت عمر رضي الله عنه راغلی او اجازه یې وغوښتل او هغه ته اجازت ورکړل سو ابوبکر رضي الله عنه ولیدل چي نبي کریم ﷺ تشریف فرما دی

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسًا حَوْلَهُ نِسَاؤُهُ وَاجِمًا سَاكِتًا قَالَ فَقَالَ لَأَقُولَنَّ شَيْئًا

او د نبي کریم ﷺ په خدمت کي بیبیاني شاوخوا ناستي وی نبي کریم ﷺ دغه وخت فکرمند او خاموش ناست وو د راوي بیان دی چي حضرت عمر رضي الله عنه په خپل زړه کي وویل چي زه به یوه

أُضْحِكُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ لَوْ رَأَيْتَ بِنْتَ خَارِجَةَ

داسي خبره وکړم چي نبي کریم ﷺ پرې وخاندي. اخیر حضرت عمر رضي الله عنه عرض وکړ یا رسول الله! که د خارجه لور (زما ښځه)

سَأَلَتْنِي النَّفَقَةَ فَقُمْتُ إِلَيْهَا فَوَجَأْتُ عُنُقَهَا فَضَحِكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

زما څخه زیاته نفقه وغواړي نو زه به را ولاړ سم او د هغې څټ به وېپچم رسول الله ﷺ وخندل

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ هُنَّ حَوْلِي كَمَا تَرَى يَسْأَلْنَنِي النَّفَقَةَ فَقَامَ أَبُو بَكْرٍ إِلَى

او ویې فرمایل: دا بیبیګاني چي زما شاوخوا ناستي دي زما څخه زیات خرڅ غواړي په دې

Maktaba Tul Ishaat.com

اوربدو سره حضرت ابو بکر رضی اللہ عنہ ودربدی او

عَائِشَةَ يَجَأُ عُنُقَهَا وَقَامَ عُمَرُ إِلَى حَفْصَةَ يَجَأُ عُنُقَهَا كِلَاهُمَا يَقُولُ تَسْأَلِين

بي بي عائشه رضی اللہ عنہا يې تر ستوني ونيول او حضرت عمر رضی اللہ عنہ ولاړ سو او خپله لور حفصه رضی اللہ عنہا يې تر ستوني ونيول (ابوبكر رضی اللہ عنہ او عمر رضی اللہ عنہ) وويل: تاسو د رسول الله ﷺ څخه هغه شی غواړې

رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا لَيْسَ عِنْدَهُ فَقُلْنَ وَاللَّهِ لَا نَسْأَلُ رَسُولَ

چي دده سره نسته د نبي كريم ﷺ بيبيانو وويل: قسم په خداي چي موږ به د رسول الله ﷺ څخه هيڅكله داسي شی نه غواړو

اللَّهِ ﷺ شَيْئًا أَبَدًا لَيْسَ عِنْدَهُ ثُمَّ اعْتَزَلَهُنَّ شَهْرًا أَوْ تِسْعًا وَعِشْرِينَ ثُمَّ

چي د هغه سره نه وي د دې څخه وروسته نبي كريم ﷺ د خپلو بيبيانو څخه جلاوالي اختيار كړ (يعني ايلاء يې وكړه) تر نويشت ورځو پوري بيا

نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ { يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ حَتَّى بَلَغَ لِلْمُحْسِنَاتِ مِنْكُنَّ

دا ايت نازل سو : ياايهاالنبي قل لازواجک.........تر للمحسنات منكن

أَجْرًا عَظِيمًا } قَالَ فَبَدَأَ بِعَائِشَةَ فَقَالَ يَا عَائِشَةُ إِنِّي أُرِيدُ أَنْ أَعْرِضَ عَلَيْكِ

اجرا عظيما. د دې ايت تر نازلېدو وروسته نبي كريم ﷺ تر ټولو وړاندي بي بي عائشې رضی اللہ عنہا ته ورغلی او هغې ته يې وفرمايل: اې عائشې! زه وتاته يوه خبره وړاندي كوم

أَمْرًا أُحِبُّ أَنْ لَا تَعْجَلِي فِيهِ حَتَّى تَسْتَشِيرِي أَبَوَيْكِ قَالَتْ وَمَا هُوَ يَا رَسُولَ

او اميد لرم چي ته به (په فيصله كولو كي) په دې كار كي تلوار نه كوې او په دې معامله كي به د خپل پلار او مور سره مشوره كوې بي بي عائشې رضی اللہ عنہا ورته وفرمايل يا رسول الله!

اللَّهِ فَتَلَا عَلَيْهَا الْآيَةَ قَالَتْ أَفِيكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَسْتَشِيرُ أَبَوَيَّ بَلْ أَخْتَارُ اللَّهَ

راته ووايه هغه څه خبره ده؟ نبي كريم ﷺ ورته دغه ايت ولوستی (چي د هغه په اورېدو سره) بي بي عائشې رضی اللہ عنہا وويل: يا رسول الله! ايا ستا په هكله زه د خپل پلار او مور سره مشوره وكړم ما الله تعالي

Maktaba Tul Ishaat.com

وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الآخِرَةَ وَأَسْأَلُكَ أَنْ لَا تُخْبِرَ امْرَأَةً مِنْ نِسَائِكَ بِالَّذِي قُلْتُ

او دهغه رسول الله ﷺ او د اخرت کور ته ترجیح ورکړېده او زه امید لرم چي په دې خبره چي ما

قَالَ لَا تَسْأَلُنِي امْرَأَةٌ مِنْهُنَّ إِلَّا أَخْبَرْتُهَا إِنَّ اللَّهَ لَمْ يَبْعَثْنِي مُعَنِّتًا وَلَا

تاسو ته عرض کړل تاسو د دې ذکر بلي بي بي ته مه کوئ نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: هغه بیبیاني چي کومه یوه زما څخه پوښتنه وکړي زه به هغې ته هم وایم ځکه چي الله ﷻ زه د دې

مُتَعَنِّتًا وَلَكِنْ بَعَثَنِي مُعَلِّمًا مُيَسِّرًا. رواه مسلم.

لپاره نه یم را لېږلی چي چاته تکلیف ورسوم بلکه د دې لپاره یې را لېږلي یم چي د خداي تعالي و مخلوق ته د دین احکام ور وښودم او اساني وکړم. (مسلم).

تخریج: مسلم في الصحیح ۱۱۰۲\۲، رقم: ۱۴۷۸\۲۹

د لغاتو حل: واجما: ای حزینا (غمجن). فوجات: ای ضربت (ما ووهل).

تشریح: حضرت عمر رضی الله عنه رسول الله ﷺ په داسي حال کي ولیدی ...الخ: د ددې څخه دا څرګندیږي چي دغه واقعه د پردې واجب کېدو څخه مخکي ده ځکه که چیري پرده واجب سوې وای نو نه به حضرت عمر رضی الله عنه بالاخانې ته د ښځو مخته ورتلی او نه به ښځي د هغوی مخته وای.

چي په هغه سره نبي کریم ﷺ وخندل: ددې څخه د حضرت عمر رضی الله عنه مقصد دا وو چي زه یو داسي په زړه پوري خبره وکړم چي په هغه سره د رسول الله ﷺ خفګان ختم سي او رسول الله ﷺ خوشحاله سي، ددې څخه معلومه سوه چي دا مستحب دي که چیري یو څوک خپل قریب او ملګري غمجن ووینې نو د هغه په مخکي دي یو داسي خبره وکړي چي په هغه سره هغه وخاندي او خوشحاله سي او خپله هم په هغه خبره کي په ګډون کولو سره خپل غم هیر کړي، نقل سوي دي چي رسول الله ﷺ به کله خپل یو صحابي غمجن ولیدی نو هغه به یې د خوش طبعۍ او ټوکو په ذریعه خوشحاله کوی.

په حدیث شریف کي چي د کوم آیت ذکر سوی دی هغه پوره آیت داسي دی:

يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِأَزْوَاجِكَ إِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا ۲۸ وَإِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الآخِرَةَ فَإِنَّ اللَّهَ أَعَدَّ لِلْمُحْسِنَاتِ مِنكُنَّ أَجْرًا عَظِيمًا

۲۹. سورة الاحزاب

Maktaba Tul Ishaat.com

ژباړه : اې پیغمبره ! خپلو بیبیانو ته ووایه چي (ما فقر اختیار کړی دی) که تاسو (زما پر فقر باندي راضي نه یاست بلکه) د دنیا ژوند او د هغه زیب او زینت غواړئ نو زه به تاسو ته څه مال درکړم او په ښه ډول به مو رخصت کړم (یعني د همېشه لپاره به ستاسو څخه جلاوالی اختیار کړم) او که تاسو (زما پر فقر راضي یاست او دا) غواړئ چي تاسو ته د الله تعالی او د هغه د رسول رضا تر لاسه سي او جنت ستاسو د اوسېدو ځای سي نو په تاسو کي څوک نیکي کونکي دي د هغوی لپاره الله تعالی اجر عظیم تیار کړی دی (یعني ستاسو د دغه سختۍ په عوض کي چي تاسو زما د فقر او فاقې د ژوند ملګرتیا په جوړېدو کي پر ځان وړئ الله تعالی به تاسو ته بې اندازې اجر او ثواب درکړي).

د دغه آیت کریمه د نازلېدو څخه وروسته رسول الله ﷺ په خپلو بیبیانو کي تر ټولو مخکي د بي بي عائشې ﷞ سره رابطه وکړه او هغه یې په اسماني هدایت خبره کړه چي زه ستا مخکي کوم هدایت او ضابطه ایښودونکی یم زه غواړم چي ته په هغه باره کي یو فیصله کولو څخه مخکي د خپل پلار او مور سره مشوره وکړې او دا حکم یې ځکه ورکړ چي بي بي عائشه رضي الله عنها که څه هم تر ټولو زیاته هوښیاره او عقلمنده وه مګر په هر حال د کم عمر وه ، رسول الله ﷺ ته دا بېره وه چي عائشه رضي الله عنها د کم عمرۍ په جذباتو کي رانه سي او د دنیا د عیش او عشرت له کبله زما په پرېښودو سره د آخرت د ابدي سعاتونو څخه مخ وانه ړوي چي د هغه نتیجه به دا وي چي په دې سره به یوازي عائشې ﷞ تاوان نه وي بلکه مور او پلار ته به یې سخت اذیت او تکلیف ورسېږي مګر که چیري په دې باره کي د مور او پلار سره مشوره وکړي نو هغوی به هغه صلاح ورکړي چي د هغه د دین او دنیا دواړو د خیر او غوره والي سره سمه وي ، مګر دا د بي بي عائشې ﷞ د فطري سعادت خبره وه چي هغې د خپل مور او پلار د مشورې څخه پرته خپله فیصله دا وکړه چي زه د دنیا آرام ژوند باندي د آخرت همېشنۍ سعادتونو ته ترجیح ورکوم او الله ﷻ او د هغه د رسول رضا او منشاء اختیاروم.

بي بي عائشې ﷞ چي رسول الله ﷺ ته دا خواست وکړ چي ما تاسو ته کوم جواب درکړی دی هغه تاسو خپل بي بي ته مه وایاست د هغې دا خیال وو چي کېدای سي هیڅ یو بي بي د رسول الله ﷺ پر فقر باندي په راضي کېدو سره د آرام ورکونکي ژوند لپاره د رسول الله ﷺ څخه جلا سي ځکه هغې فکر وکړ که چیري یو بي بي ته زما د دغه ایمان او یقین څخه ډکي فیصلي خبر وسي نو کیدای سي هغو ته هم لارښوونه تر لاسه سي او هغه هم داسي فیصله وکړي مګر که چیري زما د دغه فیصلې څخه بې خبره وي نو کېدای سي چي یوه بي بي د دنیا عیش او آرام ته د

Maktaba Tul Ishaat.com

رسول الله ﷺ پر ملګرتيا باندي ترجيح ورکړي ځکه نو ښه به دا وي چي يوه بي بي د رسول الله ﷺ د نکاح څخه ونه وځي ، د بي بي عائشې رضي الله عنها د دغه خواهش محرک د رسول الله ﷺ د هغې زياته مينه وه چي په هغه کي بله ښځه ګډه دل يې نه خوښول مګر په هر حال د رسول الله ﷺ په نظر کي د ټولو بيبيانو مبارکانو خير او نيکي يو ډول حيثيت درلودئ ، رسول الله ﷺ دا ښرنګه زغملای سول چي يوه بي بي دي د آخرت په سعادتونو سره ونازول سي او نوري بيبياني دي د دنيا په اختيارولو سره د تباهۍ پر لار رواني سي، رسول الله ﷺ د بي بي د دغه درخواست قبلولو څخه انکار وکړ او هغې ته يې واضحه کړه که زما څخه يو بي بي پوښتنه وکړي نو زه به يې هغې ته وايم ځکه چي د هغې خير په دې کي پټ دی ،

او که چيري زه ورته ونه وايم نو ددې مطلب به دا وي چي ما د هغې سره د شفقت رويه اختيار نه کړه او هغه لار مي ورته ونه ښوول چي دهغې د راحت او د هغې خير او فلاح لپاره ضروري ده حالانکه الله تعالی زه ددې لپاره پيغمبر نه يم را استولی چي زه په خلکو کي بدخواهي وکړم يا يو څوک په تکليف او غم کي اخته کړم زه دغه دنيا ته ددې لپاره را استول سم چي د انساني کائناتو هر فرد ته د دنيا او اخرت د خبرو تعليم ورکړم او هر انسان ته د هغه ديني او دنيوي معاملاتو کي د آساني او سهولت لاره وښيم .

(۳۱۱۳): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أَغَارُ عَلَى اللَّائِي وَهَبْنَ أَنْفُسَهُنَّ لِرَسُولِ

د بي بي عائشې ﷺ څخه روايت دی چي ما به هغي ښځي ته په ذليله سترګه کتل کومي چي خپل ځان و نبي کريم ﷺ ته هبه کوی

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقلت اتَهَبُ الْمَرْأَةُ نَفْسَهَا فَلَمَّا أَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ

يعني خپل ځان به يې د نبي کريم ﷺ په خوښه کي پرېښودی يوه ورځ ما عرض وکړ ايا يوه ښځه خپل ځان هبه کولای سي ؟ (يعني دومره ذليله کيدای سي) بيا چي دا ايت نازل سو :

{ تُرْجِي مَنْ تَشَاءُ مِنْهُنَّ وَتُؤْوِي إِلَيْكَ مَنْ تَشَاءُ وَمَنِ ابْتَغَيْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ

ترجي من تشاء..... جناح عليک . (يعني د هغو ښځو څخه چي ته غواړې اې محمده! هغه جلا کړه او کومه چي غواړې هغه د ځان سره وساته او کومي ښځي چي تا جلا کړې دي که د هغوی څخه ته هم څوک وبلې

Maktaba Tul Ishaat.com

فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْكَ قُلْتُ مَا أَرَى رَبَّكَ إِلَّا يُسَارِعُ فِي هَوَاكَ . متفق عليه ، و حديث جابر اتقوالله في النساء ذكر في قصة حجة الوداع .

نو په تا څه ګناه نسته) نو ما (بي بي عائشه رض وايي) نبي كريم ﷺ ته عرض وكړ زه وينم چي ستاسو پروردګار ستاسو رضامندي او خواهش ژر پوره كوي او وروسته د دې ايت حكم منسوخ سو او د جابر ﷺ په حديث كي چي د ښځو په باره كي چي دالله تعالى څخه ووېرېږئ د حجة الوداع په واقعه كي بيانيږي .

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۸\ ۵۲۴، رقم: ۴۷۸۸، ومسلم ۲\ ۱۰۸۵، رقم: ۴۹\ ۱۴۶۴

تشريح: كومو ښځو چي به خپل ځان رسول الله ﷺ ته هبه كوى نو هغوى ته بي بي عائشې رضي الله عنها ځكه په ښه نظر نه كتل چي د ښځي خپل ځان بل چا ته هبه كول د ښځي د عزت او شرف خلاف دي او د دې حرص د حياء پر قلت باندي دلالت كوي كه څه هم كومو ښځو چي رسول الله ﷺ ته خپل ځانونه هبه كول د هغه ښځو لپاره دا د هغوى د عزت باعث وو چي هغه يې خپل خوشبختي ګڼل .

يوه ښځه خپل ځان هبه كولاى سي، بي بي عائشې رضي الله عنها دا خبره د هغه ښځو د هبه كولو په مخالفت كي كول، د دې څخه د هغې مطلب دا وو چي د يو ښځي لپاره مناسب نه دي چي هغه خپل ځان يو پردي سړي ته هبه كړي ، په يوه روايت كي د بي بي عائشې رضي الله عنها دا الفاظ هم نقل سوي دي چي ايا ښځه خپل ځان په هبه كولو سره شرم او حياء نه محسوس كوي.

د ذكر سوي آيت كريمه مطلب يا خو دا دى چي رسول الله ﷺ په خپلو بيبيانو كي چي كومي غواړي خپل هم بستري دي يې جوړ كړي او كومي چي غواړي د ځان څخه دي يې جلا كړي ، يا دا مطلب دى چي رسول الله ﷺ د كومو بيبيانو څخه غواړي په خپل نكاح كي وساتي او كومي چي غواړي د خپل نكاح څخه يې جلا كړي ، يعني طلاق وركړي، يا دا مطلب دى چي رسول الله ﷺ د خپل امت په ښځو كي د كومو سره چي غواړي نكاح دي وكړي او د كومو سره چي غواړي نكاح دي نه كوي .

امام نووي رحمه الله وايي چي د غه آيت كريمه په اصل كي د دغه آيت (لا يحل لک النساء من بعد) لپاره ناسخ دى ځكه چي د رسول الله ﷺ تر وفات پوري د رسول الله ﷺ لپاره د ازواج مطهرات څخه علاوه نوري ښځي هم مباح وې .

Maktaba Tul Ishaat.com

مشهور مفسر امام بغوي رحمه الله وايي چي (په حديث كي د ذكر سوي آيت په باره كي) تر ټولو صحيح قول دادی چي دغه آيت كريمه په اصل كي د رسول الله ﷺ د بيبيانو مباركانو په باره كي نازل سوی وو ، د هغه تفصيل دادی چي د خپلو بيبيانو كي وار تاكل مخكي پر رسول الله ﷺ باندي هم ، اجب وه مګر كله چي دغه آيت كريمه نازل سو نو دا وجوب د رسول الله ﷺ په حق كي ساقط سو او رسول الله ﷺ ته اختيار تر لاسه سو چي خپل بيبياني رسول الله ﷺ د وار څخه جلا كړي او د هغوی څخه چي كومه يو ځان ته رابولي نو رسول الله ﷺ داسي كولای سي، په دې كي څه ګناه نه ستته ، الله تعالی د امت پر نورو خلكو باندي د رسول الله ﷺ د فضيلت او غوره والي په ظاهرولو سره د خپلو ښځو لپاره د وار ټاكلو حكم باندي عمل نه كول د رسول الله ﷺ لپاره مباح كړي وه چي د كومي بي بي په باره كي د رسول الله ﷺ خواهش وي رسول الله ﷺ د هغې د وار څخه پرته هغې ته ورتلای سي او كه چيري رسول الله ﷺ خپل يو بي بي د هغې په وار كي د ځان سره كول نه غواړي نو رسول الله ﷺ ته ددې هم اجازه ده .

ما اری بک ...الخ : ددې معنی داده چي زما ګمان دادی چي تاسو (د كوم شي خواهش كوئ ستاسو پروردګار هغه ژر پوره كوي، علامه نووي رحمه الله وايي چي ددې خبري څخه د بي بي عائشې رضي الله عنها مراد دا وو چي الله تعالی د ځينو احكامو پابندي د رسول الله ﷺ په حق كي نرمه كړې ده او رسول الله ﷺ ته په هغه د عمل نه كولو اساني وركړل سوې ده ځكه په ذكر سوې معامله كي هم رسول الله ﷺ ته د خپل خوښي سره سم د عمل كولو اختيار وركړل سوی دی.

اوس دا سوال پيدا كيږي چي هغه كومه ښځه وه چي هغې خپل ځان رسول الله ﷺ ته هبه كړی وو، ځيني علماء وايي چي هغه بي بي ميمونه رضي الله عنها وه او ځيني وايي چي بي بي ام شريک وه ، ځيني حضرات وايي چي هغه بي بي زينب بنت خزيمه وه او ځيني وايي چي بي بي خوله بنت حكيم وه ، مګر د دغه حديث د ظاهري مفهوم څخه دا ثابتيږي چي هغه يوه ښځه نه وه بلكه ډيري ښځي وې .

و حديث جابر اتقوا الله في النساء، ذكر في قصة حجة الوداع، او د حضرت جابر رضي الله عنه حديث (اتقوا الله....) د حجة الوداع په بيان كي نقل سوی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د رسول الله ﷺ د خپلو بيبيانو سره ښه چلن

﴿۳۱۱۴﴾: عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا أَنَّهَا كَانَتْ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې (په يوه سفر کي) زه د رسول الله ﷺ سره وم (په دې

فِي سَفَرٍ قَالَتْ فَسَابَقْتُهُ فَسَبَقْتُهُ عَلَى رِجْلَيَّ فَلَمَّا حَمَلْتُ اللَّحْمَ سَابَقْتُهُ فَسَبَقَنِي قَالَ هٰذِهٖ بِتِلْكَ السَّبْقَةِ . رواه ابوداؤد .

موقع) زما او د رسول الله ﷺ په مينځ کي د ځغاستي مقابله وسوه زه د نبي کريم ﷺ تر مخه سوم بيا ډېر وخت وروسته چې زه غټه سوم نو بيا د ځغاستي مقابله وسوه نو په دې وار رسول الله ﷺ زما څخه مخته سو نو نبي کريم ﷺ وفرمايل :دا د هغه ځغاستي بدله ده . (چې په هغه کي ته زما څخه مخته سوې وې). (ابوداؤد) .

تخريج: ابوداود في السنن ۳\ ۶۵، رقم: ۲۵۷۸

د لغاتو حل: حملت اللحم: اى سمنت (چاغه سوم)

تشريح: په خپلو ښځو سره: دلته ددې خبري تاکيد کول مقصد دی چې زه پر سپرلۍ باندي په ناستي سره نه وم ځغستلی بلکه پر خپل پښو مي ځغستل، طيبي رحمه الله وايي چې د دغه جملې څخه تاکيد مقصد دی لکه يو څوک چې ووايي چې ما په خپل لاس سره وليکل يا ما په خپل سترګو وليدل .

دغه روايت د خپلو ښځو سره د رسول الله ﷺ د ښه ژوند يو مثال دی، ددې څخه واضحه کيږي چې رسول الله ﷺ د خپلو بيبيانو مبارکانو سره د خوشحالۍ ژوند تېروي او د خپلو بيبيانو په باره کي ډېر مهربان او ورين تندی وو، په دغه روايت کي د امت لپاره هم دا سبق دی چې په خپل ژوند کي د رسول الله ﷺ د ښه ژوند پيروي وکړل سي او د خپلو بيبيانو سره په ورين تندي او خوشحالۍ سره ژوند وکړل سي .

قاضي خان رحمه الله وايي چې سياق (يعني د ځغاستي او داسي نورو شيانو مقابله) په څلورو شيانو کي جائز ده : په اوښ کي، په غاتره کي، په غشي ويشتلو کي او پر پښو په ځغاسته کي، او دا مقابله که چيري په شرط سره وي نو په هغه صورت کي به جائز وي کله چې د

Maktaba Tul Ishaat.com

دوارو څخه یوازي د یوې خوا څخه شرط وي مثلاً د زید او بکر په مینځ کي مقابله وسوه او زید بکر ته وویل که چیري ما وګټل نو زه به دومره روپۍ یا فلانی شی غواړم او که چیري مقابله تا وګټل نو تا ته به هیڅ نه درکول کیږئ او که چیري دواړو خواوو ته دا شرط وي یعني دواړو د یو بل سره شرط لګولی وي چي په موږ دواړو کي کوم یو مقابله وګټي هغه ته به دومره روپۍ یا فلانی شی ورکول کیږي نو دا حرام دی ځکه چي دا خمار دی مګر که چیري دواړو خواوو یو محلل (یعني د دواړو شرط حلالونکی یو دریم سړی) په خپلو کي شامل کړي نو په دغه صورت کي به شرط جائز وي د محلل د شامل کېدو صورت دا وي چي مثلاً زید او بکر په خپلو کي دا شرط ولګوي چي زموږ په مقابله کي چي کوم مخکي سي نو دومره روپۍ یا فلانی شی به هغه ته ورکول کیږي او په خپل مقابله کي یو دریم سړی مثلاً خالد هم شامل کړي او دا فیصله وسي که دغه دریم سړی یعني خالد مقابله وګټل نو هغه ته به هیڅ نه ورکول کیږي نو دا صورت جائز دی او حلال دی مګر د جائز کېدو مطلب دا دی چي د هغه په نتیجه کي ګټونکی ته چي کوم شی ورکول کیږي هغه به حلال او طیب وي نه دا چي هغه په شرعي توګه سره استحقاق لري ځکه چي د شریعت په نظر کي ګټونکی محض د هغه مقابلې سره یا پر هغه روپو باندي څه قانوني حق نه لري، دمقابلې انعام جائز دي مګر د یو فرد یا اداري له خوا که چیري د انعام په توګه یا د یو شي په ټاکلو سره مقابله کونکو ته وویل سي چي په تاسو کي کوم سړی مقابله وګټي هغه ته به دغه روپۍ یا دغه شی ورکول کیږي فقهاؤ دې ته جائز ویلي دي.

د خپلي کورنۍ سره ښه چلن کونکی غوره انسان دی

﴿۳۱۱۵﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ

د بي بي عائشې ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په تاسو کي بهتره سړی هغه

لِأَهْلِهِ وَأَنَا خَيْرُكُمْ لِأَهْلِي وَإِذَا مَاتَ صَاحِبُكُمْ فَدَعُوهُ. رواه الترمذي والدارمي وابن ماجة عن ابن عباس الى قوله لاهلي.

دی چي د خپل اهل او عیال (عزیزانو خپلوانو او خادمانو) سره بهترین چلن وکړي او په ښه اخلاقو سره ور سره مخامخ کیږي او زه په خپل اهل و عیال کي په تاسو کي تر ټولو ښه یم په تاسو کي چي کوم سړی مړ سي نو بیا هغه پرېږدی (یعني په بدي یې د هغه ذکر مه کوئ). (ترمذي) او په دارمي او ابن ماجه کي د حضرت ابن عباس څخه تر ((اهله)) پوري روایت را غلی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

تخریج: الترمذي في السنن ۵\٦٦٦، رقم: ۳۸۹۵، والدارمي ۲\۲۱۲، رقم: ۲۲٦۰

تشریح: د حدیث د اولي برخي معنی داده چي الله جل جلاله او د هغه د مخلوق په نزد غوره سړی هغه دی چي د خپل ښځي، اولاد، قریبانو او تر ځان لاندي کسانو سره ښه چلن کوي ځکه چي د هغه نیک چلن کول د هغه پر خوش اخلاقی او خوش طبعی باندي دلالت کوي.

او کله چي ستاسو صاحب مړ سي ...الخ: ددې مطلب دادی چي کله ستاسو یو قریب یا ملګری مړ سي نو د هغه د بدی ذکر کول پریږدي، یعني ددغه جملې په ذریعه دا تعلیم ورکول مقصد دي چي کوم خلک د دنیا څخه تللي دي د هغوي غیبت مه کوئ لکه څرنګه چي په یوه روایت کي ددې خبري تعلیم ورکړل سوی دی چي خپل مړه خلک په نیکی سره یادوی یعني یوازي د هغوی نیکی بیانوي د هغوی د بدیو یادونه مه کوئ.

ځیني علماؤ ددغه جملې څخه دا مراد اخیستی دی چي کله یو سړی مړ سي نو د هغه پر مینه او د هغه پر مرګ باندي ژړا کول پریږدئ او وس په وسئ چي د هغه سره ستا بدني تعلق نه سته.

ځیني حضرات وایي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم په دغه جمله کي د صاحب څخه خپل ذات مبارک مراد اخیستی دی، ددې مطلب امت ته دا تلقین ورکول دي چي کله زه ددغه دنیا څخه رخصت سم نو تاسو د افسوس، تحیر او اضطرار اظهار مه کوئ ځکه چي الله تعالی ستاسو کار جوړونکی دی، کوم ذات چي زما ژوند ستاسو د هدایت او سعادت ذریعه جوړ کړی وو هغه ذات به زما څخه وروسته هم تاسو پر دغه هدایت او سعادت قایم ولري.

ځیني حضرت ددغه جملې معنی دا بیانوي چي کله زه ددغه دنیا څخه رخصت سم نو تاسو پریږدئ په دې معنی چي زما کورنی، زما صحابه، او زما د شریعت پیروان یعني علماء او اولیاؤ ته په تکلیف رسولو سره ما ته د تکلیف رسولو سبب مه جوړیږئ ځکه که چیري تاسو هغوی ته تکلیف رسوئ نو د هغوی په تکلیف رسولو سره به ما ته تکلیف رسیږي.

فرمانبرداره ښځي ته د جنت زیری

﴿۳۱۱٦﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ اَلْمَرْاَۃُ اِذَا صَلَّتْ

حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کومه ښځه چي پنځه وخته

خَمْسَهَا وَصَامَتْ شَهْرَهَا وَاَحْصَنَتْ فَرْجَهَا وَاَطَاعَتْ بَعْلَهَا فَلْتَدْخُلْ مِنْ اَيِّ اَبْوَابِ الْجَنَّةِ شَاءَتْ. رواه ابونعیم في الحلیة.

Maktaba Tul Ishaat.com

لمونځ كوي د روژې د مياشتي روژه نيسي خپل شرمګاه وساتي د خپل خاوند اطاعت كوي هغې ته اختيار دي د جنت كومي دروازې څخه چي يې خوښه وي داخله دي سي. (ابو نعيم)

تخريج: ابو نعيم في الحلية ٦\٣٠٨،

كه چيري غير الله ته سجده كول جائز واى نو...

﴿٣١١٧﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ كُنْتُ آمِرًا أَحَدًا أَنْ يَسْجُدَ لِأَحَدٍ لَأَمَرْتُ الْمَرْأَةَ أَنْ تَسْجُدَ لِزَوْجِهَا. رواه الترمذي

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كه ما يو چا ته د سجدې كولو امر وركولاى نو ښځي ته په مي حكم كړى واى چي و خپل خاوند ته دي سجده كوي. (ترمذي)

تخريج: الترمذي في السنن ٣\٤٦٥، رقم: ١١٥٩

تشريح: مطلب دادى چي د الله جل جلاله څخه علاوه بل چا ته سجده كول صحيح نه دي كه چيري د الله جل جلاله څخه پرته بل چا ته سجده كول صحيح واى نو ما به ښځو ته دا حكم وركړى واى چي هغه دي خپل خاوند ته سجده كوي ځكه چي پر ښځه باندي د خاوند ډېر زيات حقوق دي چي د هغه د شكر ادا كولو څخه عاجزه ده، په ارشاد مبارك كي د دې خبري ارزښت او تاكيد بيان سوى دى چي پر ښځه باندي د خپل خاوند اطاعت او فرمانبرداري واجب ده.

د خاوند د رضا اهميت

﴿٣١١٨﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّمَا امْرَأَةٍ مَاتَتْ وَزَوْجُهَا عَنْهَا رَاضٍ دَخَلَتِ الْجَنَّةَ. رواه الترمذي.

د بي بي ام سلمه رضي الله عنها څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كومه ښځه چي په دې حال كي وفات سي چي د هغې خاوند د هغې څخه راضي او خوشحاله وي نو هغه و جنت ته داخله سوه. (ترمذي)

تخريج: الترمذي في السنن ٣\٤٦٦، رقم: ١١٦١

تشريح: كوم خاوند چي عالم او متقي وي د هغه د رضامندۍ او خوشحالۍ دا اجر بيان سوى دى د فاسق او جاهل خاوند د رضا او خوشحالۍ به څه اعتبار نه وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

د خاوند اطاعت وکړئ

﴿۳۱۱۹﴾: وَ عَنْ طَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا الرَّجُلُ دَعَا زَوْجَتَهُ لِحَاجَتِهِ فَلْتَأْتِهِ وَإِنْ كَانَتْ عَلَى التَّنُّورِ. رواه الترمذي.

د حضرت طلق بن علي رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چي یو خاوند خپله ښځه د کوروالي لپاره را وبولي نو ښځي ته د هغه د حکم منل پکار دي که څه هم هغه پر تنور وي. (یعني په ډوډۍ یا د خوراک په شي باندي مصروفه وي نو هغه دي پرېږدي او د خپل خاوند حاجت دي پوره کړي). (ترمذي)

تخریج: الترمذي في السنن ۳\۴۶۵، رقم: ۱۱۶۰

تشریح: که څه هم هغه پر تنور وي: ددې مطلب دادی چي که څه هم ښځه په یو ډېر ضروري کار کي بوخته وي او د یو شي د تاوان احتمال هم وي نو بیا هم د خاوند اطاعت دي وکړل سي او د هغه په بلنه سمدستي هغه ته رسیدل پکار دي مثلاً ښځه د نغري سره وي او ډوډۍ یې پر تبخي اچولې وي په دغه حالت کي یې خاوند د جماع لپاره راوبولي نو ددې خبري پروا کولو څخه پرته چي د ډوډۍ او اوړو تاوان به وسي د خاوند د حکم پوره کولو لپاره هغه ته دي سمدستي وسي.

خاوند ته تکلیف مه ورکوئ

﴿۳۱۲۰﴾: وَعَنْ مُعَاذٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تُؤْذِي امْرَأَةٌ زَوْجَهَا

د حضرت معاذ رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چي یوه ښځه و خپل خاوند ته په

فِي الدُّنْيَا إِلَّا قَالَتْ زَوْجَتُهُ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ لَا تُؤْذِيهِ قَاتَلَكِ اللهُ فَإِنَّمَا هُوَ

دنیا کي تکلیف ورکوي نو هغې ته په جنت کي غټو سترګو والا حوره وایي خداي دي تا تباه کړي ته خپل خاوند ته تکلیف مه ورکوه دی خو

عِنْدَكِ دَخِيلٌ يُوشِكُ أَنْ يُفَارِقَكِ إِلَيْنَا. رواه الترمذي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث غريب.

ستا مېلمه دی چي ژر به ستا څخه جلا سي او موږ ته به جنت ته راسي. (ترمذي ابن ماجه) او په ترمذي کي دا حدیث غریب شمېرل سوي دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

تخريج: الترمذي في السنن ٣\٤٧٦، رقم: ١١٧٤، وابن ماجه في السنن ١\٦٤٩، رقم: ٢٠١٤

تشريح: په يو بل روايت كي داسي ويل سوي دي چي (لعن الملائكة لعاصية الزوج) يعني ملائكي پر هغه ښځو باندي لعنت وايي كوم چي د خپل خاوند نافرماني كوي، ددغه دواړو روايتونو څخه يوې خوا ته د خاوند د نافرمانۍ يا هغه ته د تكليف رسولو سخته بدي ثابتيږي او بلي خوا دا هم واضحه سوه چي په دنيا كي انسان څه كوي هغه د ملاء اعلى يعني د آسمان د اوسيدونكو په علم كي راځي.

پر خاوند د ښځي حق

﴿٣١٢١﴾: وَعَنْ حَكِيمِ بْنِ مُعَاوِيَةَ الْقُشَيْرِيِّ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قُلْتُ يَارَسُولَ اللهِ

د حكيم بن معاويه قشيري رضي الله عنه د خپل پلاره څخه نقل كوي چي ما عرض وكړ يا رسول الله! د

ما حَقُّ زَوْجَةِ أَحَدِنَا عَلَيْهِ قَالَ اَنْ تُطْعِمَهَا إِذَا طَعِمْتَ وَتَكْسُوهَا إِذَا اكْتَسَيْتَ

ښځي پر خاوند څه حق دى؟ نبي كريم ﷺ راته وفرمايل: كله چي ته څه خورې و هغې ته يې هم وركوه او چي څه اغوندې نو په هغې يې هم اغونده

وَلَا تَضْرِبُ الْوَجْهَ وَلَا تُقَبِّحْ وَلَا تَهْجُرْ إِلَّا فِي الْبَيْتِ. رواه احمد وابن ماجة

هغه پر مخ مه وهه بدو رد مه ورته وايه او د هغې څخه جلاوالي مه اختياروه خو په كور كي د ننه (يعني په كور كي د ښځي سره ناخوښي او ناراضگي وي نو د هغې سره په كور كي جلاوالي اختياروه). (احمد ابوداؤد ابن ماجه)

تخريج: احمد في المسند ٤\٤٤٦، رقم: ٢١٤٢، وابن ماجه في السنن ١\٥٩٣، رقم: ١٨٥٠

تشريح: په خاصه توګه پر مخ باندي د نه وهلو حكم ځكه وركړل سوى دى چي په ټولو اندامو كي مخ افضل دى، ددې څخه دا مفهوم اخيستل كيږي چي د يو معقول وجه له كبله مثلاً د فواحش پر كولو باندي يا د فرضو پر پرېښودو باندي د مخ څخه پرته پر بل ځاى باندي وهل خو جائز دي مګر پر مخ باندي وهل په هيڅ صورت كي جائز نه دي.

خاوند خپله ښځه تاديباً وهلاى سي كه يا؟

په دې كي شک نه سته چي ښځه او خاوند د انسانيت له نظره د يو مرتبې حامل دي او د اسلام په نظر كي ښځه هم د هغه شرف او مرتبې حامله ده كوم چي سړى يې حامل دى مګر په دې

Maktaba Tul Ishaat.com

کي هم څه شک نه سته چي کله يو سړی او يوه ښځه د ازواج په قرابت کي په منسلک کېدو سره د يو بل د ژوند ملګري جوړ سي نو د دغه دواړو په شرعي او معاشرتي حيثيت کي لږ فرق راځي او هغه دا چي خاوند ته په قدرتي توګه سره يو خاص غوره والی تر لاسه کيږي چي د هغه تعلق د انساني شرف او مرتبې په فرق او امتياز سره نه وي بلکه د هغوي د يو بل تر مينځ د غوښتنو او د يو بل د حقوقو د ادا کولو سره وي ، خاوند د خپل دغه خاص غوره والي په وجه ښځه په هغه معاملاتو کي د خپل حکم پابند جوړولو اختيار لري چي د هغه شريعت هغه ته دا حق ورکړی دی يا د هغې تعلق د شرعي فرائضو او واجباتو په ادا کولو کي وي که چيري يوه ښځه په خپلو معاملاتو کي د خپل خاوند د حکم پابندي نه کوي او د خاوند د وينا پر هغې اثر نه کوي يعني د هغه نصيحت او تنبيه نه قبلوي او خاوند ته يقين وسي اوس بېله سختۍ کار نه کيږي نو هغه ته به د ښځي د وهلو اجازه وي مګر په دې باره کي دا خيال ساتل پکار دي چي د ښځي داسي نافرماني چي پر هغه باندي وهل کېدای سي يوازي په هغه کارو کي معتبر دي چي د هغه شريعت وضاحت کړی دی ، په فتاوی قاضي خان کي ليکلي دي چي خاوند خپل ښځه پر څلورو خبرو باندي وهلای سي :

۱. د خاوند د خواهش او حکم سربېره زينت او ښکلا نه کوي .
۲. خاوند د جماع خواهشمند وي مګر ښځه د يو عذر (لکه حيض او داسي نورو) نه کېدو سربېره انکار وکړي .
۳. اسلامي فرضونه مثلا لمونځ پريږدي ، د جنابت او ناپاکۍ څخه وروسته د ښځي غسل نه کول هم د فرضو د ترک په حکم کي دی، يعني که چيري ښځه د ناپاکۍ او حيض د غسل څخه انکار کوي نو خاوند هغه وهلای سي .
۴. کله چي ښځه د خپل خاوند د اجازې او خوښۍ څخه پرته د کور څخه ووځي .

د حديث د آخري جملې مطلب دادی که چيري د ښځي د يو نافرمانۍ يا د هغې پر يو خبره باندي د ناراضګۍ په وجه د هغې څخه په جلا والی اختيارولو کي حکمت وي نو د همېشه لپاره د جلا والي اختيارولو پر ځای دا غوره ده چي پر خپل بستره باندي د هغې څخه جلا والی اختيار کړي يعني د هغې سره پرېوتل پريږدي او د شپې په کور کي ورسره مه اوسه چي هغه ستا داسي کول په خپل حق کي د سزا ګڼلو سره سمه سي ، او د همېشه جلا والي يعني طلاق نوبت رانه سي ، په قرآن کريم کي داسي فرمايل سوي دي :

Maktaba Tul Ishaat.com

وَاللاَّتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ.

ژباړه: او کومې ښځې چې داسې وي چې تاسو ته د هغوی د نافرمانۍ احتمال وي نو هغوی ته اول په ژبه سره نصيحت وکړئ او بيا هغوی د پرېوتلو په ځايو کې يوازې پرېږدي (يعني د هغوی سره مه بيدېږئ) او بيا په اعتدال سره هغوی وهئ.

بدزبانه ښځې ته طلاق ورکړئ

﴿۳۱۲۲﴾: وَعَنْ لَقِيطِ بْنِ صَبْرَةَ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ لِي امْرَأَةً فِي لِسَانِهَا

د لقيط بن صبره رضي الله عنه څخه روايت دی چې ما عرض وکړ يا رسول الله! زما ښځه بد زبانه ده

شَيْءٌ يَعْنِي الْبَذَاءَ قَالَ طَلِّقْهَا قُلْتُ إِنَّ لِي مِنْهَا وَلَدًا وَلَهَا صُحْبَةٌ قَالَ فَمُرْهَا

نبي کريم ﷺ راته ووېل: طلاق ورکړه ما عرض وکړ د هغې د نس څخه زما اولاد پيدا سوی دی او پخوانۍ اړيکې ورسره لرم نبي کريم ﷺ راته ووېل (نصيحت ورته وکړه)

يَقُولُ عِظْهَا فَإِنْ يَكُ فِيهَا خَيْرٌ فَسَتَقْبَلُ وَلَا تَضْرِبَنَّ ظَعِينَتَكَ ضَرْبَكَ أُمَيَّتَكَ. رواه ابوداؤد.

که په هغې کې يو څه نيکي هم وي نو ستا نصيحت به قبول کړي او هغه داسې مه وهه لکه څوک چې خپله مينزه وهي يعني زياته يې مه وهه. (ابوداؤد).

تخريج: ابوداود في السنن ۱\۹۷، رقم: ۱۴۲

تشريح: (يقول عظها) دا الفاظ د راوي چې د هغه په ذريعه دا وضاحت کول مقصد دی چې دغه ارشاد (فمرها) يعني بيا هغې ته حکم کوه، ددې څخه د رسول الله ﷺ مراد دا وو چې هغې ته نصيحت کوه.

د حديث په آخري جملې کې دې ته اشاره ده چې مخکې خپل ښځې ته په ژبه سره نصيحت کولو هڅه وکړئ که چيرې په ژبه سره نصيحت اثر نه پر کوې نو بيا يې ووهئ، مګر په بې رحمۍ سره يې مه وهئ بلکه په معمولي او لږ ډول يې وهئ.

د ښځو د وهلو څخه منع

﴿۳۱۲۳﴾: وَعَنْ إِيَاسِ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت اِياس بن عبدالله ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

لَا تَضْرِبُوا إِمَاءَ اللهِ فَجَاءَ عُمَرُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ

خپلي بيبياني مه وهئ (د دې حکم څخه وروسته)حضرت عمر ﷛ د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وکړ (يا رسول الله!)

ذَئِرْنَ النِّسَاءُ عَلَى أَزْوَاجِهِنَّ فَرَخَّصَ فِي ضَرْبِهِنَّ فَأَطَافَ بِآلِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى

ښځي په خپلو خاوندانو باندي غالبه سوي دی او جرئت يې زيات سوی دی (په دې اوربدو سره)نبي کريم ﷺ د ښځو د وهلو اجازت ورکړ. د دې څخه وروسته ډيري ښځي د نبي کريم ﷺ

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِسَاءٌ كَثِيرٌ يَشْكُونَ أَزْوَاجَهُنَّ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

بيبيانو ته را ټولي سوې او د خپلو خاوندانو شکايتونه يې ورته وکړل (يعني دا چي هغوی وهي او بد و رد ورته وايي) (د دې شکايت په اوربدو سره) رسول الله ﷺ وفرمايل :

وَسَلَّمَ لَقَدْ طَافَ بِآلِ مُحَمَّدٍ نِسَاءٌ كَثِيرٌ يَشْكُونَ أَزْوَاجَهُنَّ لَيْسَ أُولَئِكَ

بِخِيَارِكُمْ . رواه ابوداؤد وابن ماجة والدارمي .

د محمد (ﷺ) بيبيانو ته ډيري ښځي د خپلو خاوندانو څخه په شکايت راغلي دي دغه کسان په تاسو کي ښه نه دي (کوم چي د خپلو ښځو سره د اندازې زياته سختي کوي). (ابوداؤد ابن ماجه دارمي).

تخريج: ابوداود في السنن ٢\٦٠٨، رقم: ٢١٤٦، وابن ماجه في السنن ١\ ٦٣٨، رقم: ١٩٨٥، والدارمي ٢\ ١٩٨، رقم: ٢٢١٩

د لغاتو حل: ذئرن: ای اجتران ونشزن وغلبن (غالبي سوې)

تشريح: د حديث د آخري الفاظو مطلب دادی چي کوم خلک خپل ښځي ډيري وهي يا مطلق يې وهي نو په تاسو کي غوره خلک نه دي بلکه غوره خلک هغه دي چي خپل ښځي نه وهي د هغوی پر تکليف ورکولو باندي صبر او تحمل کوي او دومره زياتي يې نه وهي چي د هغوی د شکايت باعث وي د ادب په توګه يې لږ وهي .

په شرح السنه کي ليکلي دي چي د دغه روايت څخه معلوميږي که چيري يو ښځه د خپل

Maktaba Tul Ishaat.com

خاوند د نکاح د حقوقو د ادا کولو څخه انکار کوي نو د هغې وهل مباح دي مګر زيات وهل يې ښه نه دي ، په تېرو مخونو کې د حضرت حکيم ابن معاويه رضي الله عنه روايت تېر سوی دی او د هغه په تشريح کې چې کوم آيت کې راغلی دی د هغه څخه دا معلوميږي چې د تاديب لپاره د خپل ښځې د وهلو اجازه ورکړل سوې ده حال دا چې د دغه روايت څخه د هغه منع ثابتيږي يعني په دواړو کې په ظاهره تضاد او تعارض معلوميږي نو دا تضاد او تعارض د امام شافعي رحمه الله څخه نقل سوي دي چې په دغه تطبيق سره تضاد ختم کيدای سي چې رسول الله ﷺ د دغه آيت د نازليدو څخه مخکې د ښځود وهلو څخه منع کړې وي بيا چې کله ښځې پر خاوندانو غالبې سوې او د هغوی جرئت زيات سو نو رسول الله ﷺ د وهلو اجازه ورکړه او د رسول الله ﷺ د حکم په توثيق کې دغه آيت نازل سو مګر ددې څخه وروسته چې د ښځو له خوا دا شکايت وسو چې د هغوی خاوندان هغوی ډېر وهي نو رسول الله ﷺ اعلان وکړ چې که څه هم د ښځو وهل مباح دي مګر د هغو پر بديو صبر کول او هغوی نه وهل غوره او افضل دي .

د ښځې د خاوند پر خلاف د پارولو منع

﴿۳۱۲۴﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ مِنَّا مَنْ خَبَّبَ امْرَأَةً عَلَى زَوْجِهَا أَوْ عَبْدًا عَلَى سَيِّدِهِ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه سړی زموږ د ډلې څخه نه دی کوم چې و يوې ښځې ته بد چلن ورزده کړي يا يو غلام و خپل مالک ته بې لارې کړي. (ابوداؤد)

تخريج: ابوداود في السنن ۲\۳۶۵، رقم: ۵۱۷۰

د لغاتو حل: خبب: اى خدع وافسد

تشريح: يوه ښځه د هغې د خاوند پر خلاف يا يو غلام او مينزه د هغو د بادار پر خلاف ګمراه کول يو ډېر بد کار دی ، د دغه حديث شريف مطلب دا دی چې هغه سړی زموږ د پيروانو څخه نه دی چې د يو ښځې زړه د هغې د خاوند څخه اړوي مثلاً د ښځې په مخکې د هغې د خاوند خرابي بيانوي يا د هغې په مخکې د يو پردي سړي ښه والی بيان کړي يا هغه وهڅوي چې خپل خاوند څخه د زيات مال او سامان غوښتنه وکړي يا د خپل خاوند خدمت او پيروي مه کوه همدارنګه يو غلام او مزدوري وهڅوي چې ته د خپل بادار د لور په پرېښودو سره ولاړ سه يا د هغه په

Maktaba Tul Ishaat.com

خدمت کي کوتاهي وکړه ، همدارنګه د ښځي خلاف خاوند یا مینزه د هغې د مالک خلاف یا مالک د هغه د غلام یا مینزي پر خلاف هڅول هم په دغه حکم کي داخل دي .

د کمال ایمان دلیل

﴿۳۱۲۵﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ أَكْمَلِ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا وَأَلْطَفُهُمْ بِأَهْلِهِ. رواه الترمذي

د بي بي عائشي ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کامل مؤمن هغه مسلمان دی چي د هغه اخلاق ښه وي او په خپل اهل و اولاد باندي مهربانه وي . (ترمذي)

تخریج: الترمذي في السنن ۵\۱۰-۱۱، رقم: ۲۶۱۲

تشریح: خوش اخلاقه او پر خپل کورنۍ باندي ډېر مهربان مسلمان ته کامل مؤمن ځکه ویل سوي دي چي د ایمان کمال خوش اخلاقي او د مخلوق په خاصه توګه د خپل کورنۍ په حق کي سرتر پایه مهربانه او خوش اخلاقه وي .

﴿۳۱۲۶﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا وَخِيَارُكُمْ خِيَارُكُمْ لِنِسَائِهِمْ . رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن صحيح و رواه ابوداؤد الى قوله خلقا .

د حضرت ابو هریره ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : په مسلمانانو کي کامل مؤمن هغه دی چي د هغه اخلاق ښه وي او په تاسو کي بهتره سړی هغه دی چي د خپلي ښځي سره په ښه چلن مخته کیږئ (یعني ښه چلن ور سره کوي) او په ترمذي کي دا حدیث صحیح حسن دی او په ابوداؤد کي تر ((خلقا)) پوري روایت سوی دی .

تخریج: ابوداود في السنن ۵\۶۰، رقم: ۴۶۸۲، والترمذي في السنن ۳\۴۶۶، رقم: ۱۱۶۲

د حضرت عائشي ﷺ سره د رسول الله ﷺ یوه واقعه

﴿۳۱۲۷﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَدِمَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ غَزْوَةِ

د بي بي عائشي ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ دتبوک د غزا

Maktaba Tul Ishaat.com

تَبُوكَ أَوْ حنين وَفِي سَهْوَتِهَا سِتْرٌ فَهَبَّتْ رِيحٌ فَكَشَفَتْ نَاحِيَةَ السِّتْرِ عَنْ

یا د حنین د غزا څخه راغلی نو په کور کي یې په لویه تاخچه کي یوه لویه پرده ولیده

بَنَاتٍ لِعَائِشَةَ لُعَبٍ فَقَالَ مَا هٰذَا يَا عَائِشَةُ قَالَتْ بَنَاتِي وَرَأَى بَيْنَهُنَّ فَرَسًا لَهُ

چي د هغې یوه څوکه په هوا سره خلاصه سوه او په هغه کې د بي بي عائشي رضي الله عنها ناوکیاني په نظر راغلې نو رسول الله ﷺ ورڅخه پوښتنه وکړه اې عائشې ! دا څه شي دي؟ بي بي عائشې رضي الله عنها ورته وویل چي دا زما ناوکیاني دي په دې ناوکیانو کي نبي کريم ﷺ یو آس هم ولیدی

جَنَاحَانِ مِنْ رِقَاعٍ فَقَالَ مَا هٰذَا الَّذِي أَرَى وَسْطَهُنَّ قَالَتْ فَرَسٌ قَالَ وَمَا

چي هغه د تو کر دوه وزره درلودل نبي کريم ﷺ ورڅخه پوښتنه وکړه د دې ناوکیانو په مینځ کي څه شي دي ؟ بي بي عائشې رضي الله عنها ورته وويل چي دا آس دی نبي کريم ﷺ ورڅخه

الَّذِي عَلَيْهِ قَالَتْ جَنَاحَانِ قَالَ فَرَسٌ لَهُ جَنَاحَانِ قَالَتْ أَمَا سَمِعْتَ أَنَّ

پوښتنه وکړه او د ده دا وزر څنګه دی ؟ بي بي عائشې رضي الله عنها ورته وويل ايا تاسو نه دي اورېدلي

لِسُلَيْمَانَ خَيْلًا لَهَا أَجْنِحَةٌ قَالَتْ فَضَحِكَ حَتَّى رَأَيْتُ نَوَاجِذَهُ. رواه ابوداؤد.

چي د حضرت سليمان عليه السلام آس وزرونه درلودل بي بي عائشه رض وايي په دې اورېدو سره رسول الله ﷺ په خندا سو تر دې چي ما د هغوی اخيري غاښونه وليدل . (ابو داؤد).

تخريج: ابوداود في السنن ۵\۲۲۷، رقم: ۴۹۳۲

تشريح: (تبوک یا حنین) دلته حرف د یا د راوي شک ظاهروي یعني راوي ته په یقین سره معلومه نه ده چي بي بي عائشې رضي الله عنها د تبوک د غزا ذکر کړی وو که د حنین د غزا .

تبوک د یو ځای نوم دی چي د مدینې منورې څخه ۴۶۵ مېله فاصله باندي د دمشق او مدینې په درمياني لاره باندي واقع دی ، په نهم هجري کال کي نبي کريم ﷺ دلته لښکر راوستلی وو مګر دښمن ته د مقابلې همت پاته نه سو ځکه نو جګړه ونه سوه .

حنین د یو شیلې نوم دی چي د مکې مکرمې څخه شمال مشرق ته د طائف پر لار واقع ده ، دغه شیلي ته وادي اوطاس هم ویل کیږي، په اتم هجري کال کي د مکې د فتح څخه څو ورځي وروسته مشهوره د حنين غزا دلته سوې ده ، د کوچنيو انجونو په ناوکيو سره د بازۍ کولو

Maktaba Tul Ishaat.com

شرعي حكم او دهغه تفصيل د باب الولي په غسن كي تېر سوى دى.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ (دريم فصل)

غير الله ته سجده كول جائز نه دي

﴿۳۱۲۸﴾: عَنْ قَيْسِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ أَتَيْتُ الْحِيرَةَ فَرَأَيْتُهُمْ يَسْجُدُونَ

د حضرت قيس بن سعيد رضي الله عنه څخه روايت دى چي زه و حيرې (ديو ځاي نوم دى) ته ولاړم ما وليدل چي د هغه ځاي خلكو و خپل مشر ته سجده كوله

لِمَرْزُبَانٍ لَهُمْ فَقُلْتُ لِرَسُولِ اللّٰهِ أَحَقُّ أَنْ يُسْجَدَ لَهُ فَأَتَيْتُ رسول الله صَلَّى

ما په زړه كي وويل رسول الله ﷺ خو د دې زيات مستحق دى چي سجده ورته وسي نو زه د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سوم

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ إِنِّي أَتَيْتُ الْحِيرَةَ فَرَأَيْتُهُمْ يَسْجُدُونَ لِمَرْزُبَانٍ لَهُمْ

او ومي ويل: زه حيرې ته تللي وم هلته مي وليدل چي د هغه ځاى خلكو خپل سردار ته سجده كوله

فَأَنْتَ أَحَقُّ أَنْ يُسْجَدَ لَكَ فقَالَ أَرَأَيْتَ لَوْ مَرَرْتَ بِقَبْرِي أَكُنْتَ تَسْجُدُ لَهُ

تر ده خو ته ډېر زيات حقداره يې چي سجده درته وكړل سي نبي كريم ﷺ راته وفرمايل: كه ته زما و قبر ته ورسېږې نو ايا ته به زما قبر ته سجده كوې؟

فَقُلْتُ لَا فقَالَ فَلَا تَفْعَلُوا لَوْ كُنْتُ امر أَحَدًا أَنْ يَسْجُدَ لِأَحَدٍ لَأَمَرْتُ

ما عرض وكړ يا! نبي كريم ﷺ راته وفرمايل: داسي مه كوه كه ما چاته د سجدې حكم

النِّسَاءَ أَنْ يَسْجُدْنَ لِأَزْوَاجِهِنَّ لِمَا جَعَلَ اللّٰهُ لَهُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ حَقٍّ. رواه ابوداؤد و رواه احمد عن معاذ بن جبل.

وركولاى نو ښځو ته به مي حكم وركړى واى چي خپلو خاوندانو ته دي سجده كوي ځكه چي الله جل جلاله په ښځو باندي د خاوندانو حق ټاكلي دى. (ابوداؤد او احمد د معاد بن جبل څخه).

تخريج: سنن ابي داود ۲\۶۰۴، رقم: ۲۱۴۰

Maktaba Tul Ishaat.com

تشریح: حضرت قیس ابن سعد رضي الله عنه چي په حیره کي خلک خپل سردار ته پر سجده کولو باندي ولېدل نو د هغه په زړه کي دا خیال پیدا سو چي دا خلک د خپل سردار د عظمت او مرتبې سره سم هغو ته سجده کوي نو په انساني کائناتو کي د رسول الله ﷺ څخه زیات بل څوک د عظمت او مرتبې خاوند کېدای سي نو رسول الله ﷺ ته دي ولي سجده ونه کړل سي ، د هغه دغه خیال د رسول الله ﷺ په خدمت کي د عرض کولو صورت اختیار کړ چي هلته دغه عرض په ډېر نرم انداز کي رد کړل سو او دا واضحه کړل سوه چي د انسان تندی دومره مقدس دی چي هغه یوازي د خپل خالق په مخکي پر سجده کېږي د مخلوق په مخ کي کښته کېدای نه سي که څه هم هغه مخلوق هر څومره د عظمت او فضیلت والا وي ځکه چي الله تعالی فرمایي :

لاَ تَسْجُدُوا لِلشَّمْسِ وَلاَ لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوا لِلّٰهِ الَّذِي خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ:

ژباړه: مه لمر ته سجده کوئ او مه سپوږمۍ ته سجده کوئ بلکه یوازي الله تعالی ته سجده کوئ چي هغه د هغوی پیدا کونکی دی که چیري تاسو د الله جل جلاله عبادت کوئ.

نافرمانه ښځي ته سزا

﴿۳۱۲۹﴾: وَعَنْ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يُسْأَلُ الرَّجُلُ فِيمَا ضَرَبَ امْرَأَتَهُ عليه . رواه ابوداؤد وابن ماجة .

د حضرت عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کوم سړی چي خپله ښځه وهي نو د هغه د وهلو وجه به نه ځیني معلوموئ. (ابوداؤد ابن ماجه)

تخریج: سنن ابي داود ۲\۶۰۹، رقم: ۲۱۴۷، وابن ماجه ۱\۶۳۹، رقم: ۱۹۸۶

تشریح: د مؤاخذې وړ نه دی: ددې مطلب دادی چي د خپل ښځي په وهلو باندي څه ګناه نه لازمېږي چي د هغه څخه په دنیا او آخرت کي پوښتنه وسي په شرط ددې چي د ښځي وهلو کوم شرطونه دي د هغو خیال وساتل سي او د حد څخه تجاوز ونه کړل سي .

د (علیه) ضمیر ما ته راجع دی او د ما څخه مراد نافرماني ده کوم چي په دغه آیت کریمه کي مذکور ده (واللاتي تخافون نشوزهن ...) نو دغه جمله (پر هغه څه ووهئ) یعني کله چي یو سړی خپل ښځه پر نافرماني وهي نو هغه ګناه کار نه دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

ښځه دي د خاوند د اجازې پرته نفل روژه نه نيسي

﴿۳۱۳۰﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ جَاءَتْ امْرَأَةٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دی چې مونږ د رسول الله ﷺ په خدمت کې ناست وو

وَنَحْنُ عِنْدَهُ فَقَالَتْ زَوْجِي صَفْوَانَ بْنَ الْمُعَطَّلِ يَضْرِبُنِي إِذَا صَلَّيْتُ

يوه ښځه حاضره سوه او عرض يې وکړ زما خاوند صفوان بن معطل کوم وخت چې زه لمونځ

وَيُفَطِّرُنِي إِذَا صُمْتُ وَلَا يُصَلِّي الْفَجْرِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ قَالَ وَصَفْوَانُ عِنْدَهُ

کوم ما وهي او کله چې روژه نيسم نو روژه را باندې ماتوی او د سهار لمونځ په داسې وخت کې کوي چې لمر را خيژي د راوي بيان دی دغه وخت صفوان هم د نبي کريم ﷺ سره موجود وو

قَالَ فَسَأَلَهُ عَمَّا قَالَتْ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَمَّا قَوْلُهَا يَضْرِبُنِي إِذَا صَلَّيْتُ فَإِنَّهَا

نبي کريم ﷺ د هغه څخه حقيقي احوال و پوښتی هغه عرض وکړ يا رسول الله! د دې دا ويل چې کله زه لمونځ کوم نو زه دا وهم وجه يې داده چې

تَقْرَأُ بِسُورَتَيْنِ وَقَدْ نَهَيْتُهَا قَالَ فَقَالَ له رسول الله ﷺ لَوْ كَانَتْ سُورَةً

دا په لمانځه کې دوه اوږده سورته وايي او زه يې د دې څخه منعه کوم راوي وايي په دې اورېدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل: د سورة

وَاحِدَةً لَكَفَتْ النَّاسَ قَالَ وَأَمَّا قَوْلُهَا يُفَطِّرُنِي إِذَا صُمْتُ فَإِنَّهَا تَنْطَلِقُ تَصُومُ

فاتحې څخه وروسته يو سورت ويل هم مناسب دی بيا صفوان رضي الله عنه عرض وکړ د دې دا قول چې روژه نيسي او زه يې ورباندې ماتوم

وَأَنَا رَجُلٌ شَابٌّ فَلَا أَصْبِرُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَصُومُ

وجه يې داده چې کوم وخت نفلي روژې پيل کړي نو مسلسل روژه نيسي او روژه نه پرېږدي او زه يو ځوان يم صبر نسم کولای نو نبي کريم ﷺ ورته وويل: هيڅ يوه ښځه دې روژې نه نيسي

امْرَأَةٌ إِلَّا بِإِذْنِ زَوْجِهَا وَأَمَّا قَوْلُهَا إِنِّي لَا أُصَلِّي حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ فَإِنَّا أَهْلُ

Maktaba Tul Ishaat.com

د خپل خاوند د اجازې څخه ماسېوا نفلي د دې څخه وروسته صفوان رضي الله عنه عرض وکړ او د دې
دا بیان چې زه دلمر ختو په وخت کې لمونځ کوم د دې وجه داده چې موږ

بَيْتٍ قَدْ عُرِفَ لَنَا ذَاكَ لَا نَكَادُ نَسْتَيْقِظُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ قَالَ فَإِذَا
اسْتَيْقَظْتَ يَا صَفْوَانُ فَصَلِّ. رواه ابوداؤد وابن ماجة

د شپې کارکوو او زموږ د خلکو دا عادت سوی دی چې د لمر ختو په وخت کې بیداریږو نبي
کریم ﷺ وفرمایل کوم وخت چې دې سترګې وغړیږي لمونځ کوه .(ابوداؤد ابن ماجه) .

تخريج: سنن ابي داود ۲\۸۲۷، رقم: ۲۴۵۹، وابن ماجه ۱\۵۶۰، رقم: ۱۷۶۲، باختصار

تشريح: صفوان یو کنبت ګر سړی وو هغه به د شپې تر ډېره وخته پورې خپل مځکه او باغونه
اوبه کول او بیا به هلته بېده سو او هلته به دخوب څخه راوېښونکی څوک به نه وو ځکه نو د هغه
سترګې به ډېر وخت وروسته ولغړېدلې ، له دې کبله هغه معذور وو نو رسول الله ﷺ د هغه د
عذر په وجه هغه ته حکم وکړ که ستا سترګې پر وخت ونه لغړېدې نو کله چې بېدار سې اول خپل
لمونځ وکړه او د هغه څخه وروسته په خپل کار کې بوخت سه .

په سخت حکم کې هم د خاوند اطاعت وکړئ

﴿۳۱۳۱﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِي نَفَرٍ مِنَ

د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ د انصارو او مهاجرینو په مینځ کې

الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ فَجَاءَ بَعِيرٌ فَسَجَدَ لَهُ فَقَالَ أَصْحَابُهُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ

تشریف درلود په دې وخت کې یو اوښ راغی او نبي کریم ﷺ ته یې سجده وکړه اصحابو
کرامو عرض وکړ یا رسول الله !

تَسْجُدُ لَكَ الْبَهَائِمُ وَالشَّجَرُ فَنَحْنُ أَحَقُّ أَنْ نَسْجُدَ لَكَ فَقَالَ اعْبُدُوا

تاسو ته چارپایان او درختې سجده کوي بیا خو موږ ته اول پکار ده چې تا سو ته سجده وکړو
نبي کریم ﷺ وویل : د خپل رب عبادت کوئ

رَبَّكُمْ وَأَكْرِمُوا أَخَاكُمْ وَلَوْ كُنْتُ آمِرًا أَحَدًا أَنْ يَسْجُدَ لِأَحَدٍ لَأَمَرْتُ الْمَرْأَةَ

Maktaba Tul Ishaat.com

او د خپل ورور عزت كوئ (يعني زما عزت كوئ نه سجده كول) كه ما چاته د سجدې كولو حكم وركولاى نو ښځي ته به مي حكم كړى واى چي

أَنْ تَسْجُدَ لِزَوْجِهَا وَلَوْ أَمَرَهَا أَنْ تَنْقُلَ مِنْ جَبَلٍ أَصْفَرَ إِلَى جَبَلٍ أَسْوَدَ وَمِنْ

خپلو خاوندانو ته سجده كوئ (نه بزرگ يا پير ته) او خاوند چي ښځي ته دا حكم وركړى چي د هغه ژړ غره څخه ډبري

جَبَلٍ أَسْوَدَ إِلَى جَبَلٍ أَبْيَضَ كَانَ يَنْبَغِي لَهَا أَنْ تَفْعَلَهُ. رواه احمد.

هغه بل تور غر ته وړى او د هغه ځايه څخه يې بيا و هغه بل سپين غر ته يوسي نو ښځي ته همداسي كول پكار ده .(احمد).

تخريج: الامام احمد في المسند ٦\٧٦

تشريح: د خپل رب عبادت كوئ : ددې مطلب دادى چي سجده په اصل كي عبادت دى او د عبادت وړ يوازي الله تعالى دى ، د الله تعالى څخه علاوه هيڅوک كه څه هم هغه نبي وي د چا معبود نه سي جوړېداى تاسو ما په خپل مسجود جوړولو سره ما د خداى ﷻ په خدايي كي گډول غواړئ حالنكه خداى ﷻ زه په نبي جوړولو سره ستاسو لپاره له دې كبله نه يم راليږلى چي زه پر تاسو باندي د خپل عبادت په كولو سره تاسو په شرک كي اخته كړم بلكه زه خو دغه دنيا ته ددې لپاره راغلى يم چي تاسو د شرک د تيارو څخه په را ايستلو سره د الله ﷻ د بندگى پر لاره روان كړم او تاسو ته دا ښوونه وكړم چي ستاسو دغه مقدس تندى يوازي د الله ﷻ په مخكي كښته سئ، رسول الله ﷺ ددغه ارشاد په ذريعه د قرآن كريم دغه آيت كريمه ته اشاره كړې ده :

مَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُؤْتِيَهُ اللهُ الْكِتَابَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُولَ لِلنَّاسِ كُونُواْ عِبَادًا لِّي مِن دُونِ اللهِ وَلَكِن كُونُواْ رَبَّانِيِّينَ .

ژباړه : هيچا ته مناسب نه دي چي الله ﷻ هغه ته كتاب ، د دين فهم او نبوت وركړي او هغه دي خلكو ته ووايي چي الله پريږدئ او زما بندگان جوړ سئ بلكه (هغه بايد داسي ووايي چي اې خلكو !) تاسو الله والا جوړ سئ.

او كوم چي د اوښ رسول الله ﷺ ته د سجدې كولو سوال دى نو په دې كي څه تردد نه سته ځكه چي د اوښ سجده كول د عادت او قانون خلاف د يو عجيبه خبري په توگه وو چي اوښ ته د

الله تعالی له خوا د مسخر کېدو په سبب واقع سوی وو او ظاهره ده چي د الله تعالی په حکم او فعل کي د رسول الله ﷺ هیڅ دخل نه وو او بیا دا چي اوښ معذور محض وو ځکه څرنګه چي الله تعالی ملائکو ته دا حکم کړی وو چي هغوی حضرت آدم علیه السلام ته سجده وکړي او ملائکو حضرت آدم علیه السلام ته سجده کول په دې وجه د اشکال محل نه سي کېدای چي هغوی د الله تعالی د حکم پر ځای راوړلو باندي مجبور دي همدارنګه اوښ ته هم د الله تعالی له خوا دا حکم ورکړل سو چي هغه رسول الله ﷺ ته سجده وکړي او هغه دغه حکم پر منلو باندي مجبور وو.

او د خپل ورور یعني زما تعظیم کوئ: ددې مطلب دادی چي زما د ذات او زما د منصب ستاسو د عقیدې او میني دومره تقاضا باید وي چي تاسو په خپل زړه کي زما مینه ولرئ او په ظاهر او باطن کي زما پیروي وکړئ.

د غرونو د رنګونو مقصد د هغه غرونو د درمیاني فاصلې زیات لیري والي بیانول دي ځکه چي داسي غرونه یو بل ته نژدې نه وي، نو ددغه جملې مطلب دا سو که چیري دوه غرونه د یو بل څخه لیري واقع وي او خاوند خپل ښځي ته حکم ورکړي چي د یوه غره ډبري پورته کړي او دوهم غره ته یې یوسي نو ښځي ته ددغه سخت حکم پوره کول هم پکار دي، خلاصه دا که چیري خاوند ښځي ته د دومره سخت کار حکم ورکړي نو ښځه باید چي د هغه حکم پر ځای کړي.

د کومي ښځي خاوند چي ناراض وي د هغې لمونځ په پوره توګه نه قبلیږي

﴿۳۱۳۲﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةٌ لَا تُقْبَلُ

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د درو کسانو لمونځ نه صحیح

لَهُمْ صَلَاةٌ وَلَا تَصْعَدُ لَهُمْ حَسَنَةٌ اَلْعَبْدُ الْآبِقُ حَتّٰى يَرْجِعَ إِلٰى مَوَالِيهِ فَيَضَعَ

کیږي او نه د هغو څه نیکي د اسمان پر لور ځي (۱)- یو تښتېدلي غلام چي تر څو هغه بیرته راسي او خپل ځان و خپل خاوند ته حواله نه کړي

يَدَهُ فِي أَيْدِيهِمْ وَالْمَرْأَةُ السَّاخِطُ عَلَيْهَا زَوْجُهَا وَالسَّكْرَانُ حَتّٰى يَصْحُوَ. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

(۲)- هغه ښځه ده چي خپل خاوند ځیني ناراضه وي. (۳)- هغه نشه کونکي چي تر څو پوري.

Maktaba Tul Ishaat.com

په هوش كي نه وي راغلى . (بيهقي په شعب الايمان كي) .

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ٦\٤١٧، رقم: ٨٧٢٧

تشريح: (مالكانو) دلته د جمع په صيغه كي مالک او د هغه اولاد ته اشاره ده چي غلام ته يوازي د خپل مالک نه بلكه د هغه د اولاد وفاداري كول هم ضروري دي .
په يو بل روايت كي د زوجها لفظ څخه وروسته حتى يرضاعنها الفاظ هم نقل سوي دي يعني د كومي ښځي خاوند چي د هغې څخه ناراضه وي د هغې لمونځ تر هغه وخته پوري په پوره توګه نه قبليږي او د هغې هيڅ يو نيكي پورته نه ځي تر څو چي د هغې خاوند هغې څخه خوشحاله نه سي ، په دغه روايت كي دا الفاظ ځكه نقل نه سول چي دا مفهوم خپله واضح دى او مراد دادى چي يا خو د هغې خاوند د هغې څخه راضي سي او يا هغې ته طلاق وركړي .

د غوره ښځي پېژندنه

﴿۳۱۳۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قِيلَ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسوه چي كومه

النِّسَاءِ خَيْرٌ قَالَ الَّتِي تَسُرُّهُ إِذَا نَظَرَ وَتُطِيعُهُ إِذَا أَمَرَ وَلَا تُخَالِفُهُ فِي نَفْسِهَا وَلَا مَالِهَا بِمَا يَكْرَهُ . رواه النسائي و البيهقي في شعب الايمان .

ښځه بهترينه ده نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل : هغه ښځه چي كوم وخت د هغې خاوند وهغې ته وګوري نو هغه يې خوشحاله كړي او كله چي خاوند ورته څه حكم وكړي نو د هغه اطاعت وكړي او په خپل ځان او د خاوند په مال كي داسي كار ونه كړي چي په هغه باندي خاوند خفه كيږي . (نسائي بيهقي).

تخريج: سنن النسائي ٦\٦٨، رقم: ۳۲۳۱، البيهقي في شعب الايمان ٦\٤١٩، رقم ٨٧٣٧.

تشريح: په دغه روايت كي د يو ښه ښځي پيژندل دا ښوول سوي دي چي كله د هغې خاوند هغې ته وګوري يعني د هغې خوش اخلاقي او خوش طبعي ويني نو هغه خوشحاله سي او كه چيري هغه ښځه په صورت او سيرت دواړو كي ښه وي نو بيا نور على نور دى، او د ښځي يوه پيژندنه دا هم ښودل سوې ده چي هغه په خپل ذات او خپل مال كي داسي خبره نه كوي چي د هغې د خاوند په نظر كي ناخوښه وي .

Maktaba Tul Ishaat.com

دلته د خپل مال څخه د ښځي مال هم مراد کيدای سي يعني د کوم مال چي په حقيقت کي هغه خپله مالکه وي نو هغه مال هم د خاوند د خوښي خلاف نه مصرف کوي او ددې څخه هغه مال هم مراد کيدای سي چي خپله د هغې ملکيت نه وي بلکه په حقيقت کي د هغې خاوند د هغه مالک وي البته د ښځي په واک او تصرف کي وي نو په دغه صورت کي هم دا مطلب دی چي د هغې خاوند هغې ته مال او سامان ورکړي نو هغه د ځان سره په امانت ساتي په هغه کي خيانت نه کوي او نه د خاوند خوښي خلاف هغه مصرف کوي.

﴿۳۱۳۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: اَرْبَعٌ مَنْ اُعْطِيهِن،

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: څلور شيان داسي دي چي چا ته ورکړل سي نو

فَقَد اعطِيَ خَيْرُ الدُّنيَا وَالاٰخِرَةِ: قَلْبٌ شَاكِرٌ، وَلِسَانٌ ذَاكِر، وَبَدَن عَلَى البَلَاءِ صَابِرٌ، وَزَوجَةٌ لَاتَبغِيهِ خَونا فِي نَفسِهَا وَلَامَالِه. رواه البيهقي في شعب الايمان

د دنيا او آخرت ښېګڼه ورکړل سوه، شکر کوونکی زړه، ذکر کوونکې ژبه، پر ستونزو صبر کوونکی بدن او داسي ښځه چي سرکښي نه کوي، نه په خپل ځان کي او نه دده په مال کي. بيهقي په شعب الايمان.

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۴\ ۱۰۴، رقم: ۴۴۲۹.

==========

بَابُ الْخُلْعِ وَالطَّلَاقِ (د خلعي او طلاق بيان)

د خلع مطلب: خُلع د خاء په پېښ سره او د خاء په زور سره اسم دی، د خلع لغوي معنی د يو شي کښل دي او په عامه توګه سره دا لفظ د بدن څخه اغوستی شی مثلا جامې، څپلۍ او داسي نورو د کښلو په معنی کي استعماليږي مګر د شريعت په اصطلاح کي ددغه لفظ معنی داده چي د نکاح د ملکيت د مال په عوض کي د خلع په لفظ سره زائل کول، يا د نکاح د ملکيت ختمولو لپاره د خلع په لفظ سره د خپل ښځي څخه مال اخيستل، ددغه شرعي اصطلاح وضاحت دادی که چيري په ښځه او خاوند کي اختلاف راسي او په دواړو کي هيڅ ډول روغه نه سي

كيداى او سړى طلاق هم نه وركوي نو ښځي ته جائز دي چي د څه مال په وركولو سره يا د خپل مهر په وركولو سره خلاصون تر لاسه كړي، مثلا خپل سړي ته ووايي چي دومره روپۍ واخله او خلع وكړه يعني ما پرېږده ، يا داسي ووايي چي كوم مهر ستا پر ذمه دى د هغه په عوض كي ما پرېږده ، ددې په جواب كي سړى ووايي چي ما پرې ښودلې نو په دې سره پر ښځه باندي يو طلاق بائن واقع كيږي او په دواړو كي به جلاوالى وسي.

مظهر رحمة الله عليه وايي چي په دې باره كي د علماؤ اختلافي قولونه دي كه چيري يو سړى ښځي ته ووايي چي ما د دومره مال په عوض كي ستا سره خلع وكړه او ښځه ووايي چي ما قبوله كړه او بيا په ښځه او خاوند كي جلاوالى واقع سي نو آيا دا طلاق دى كه فسخ دى؟ د امام ابوحنيفة او امام مالک رحمة الله عليهما مذهب دادى چي دا طلاق بائن دى ، او د امام شافعي رحمة الله عليه صحيح قول هم دادى مګر د امام محمد رحمة الله عليه مذهب دادى چي دا فسخ دى او د امام شافعي رحمة الله عليه يو قول دا هم دى.

كه چيري د ښځي او خاوند په مينځ كي د اختلاف په وجه د خاوند زياتي او سركښي وي او خاوند ددغه زياتۍ او سركښۍ په وجه د ښځي څخه خلع غواړي نو په دغه صورت كي د خاوند لپاره دا مكروه دي چي هغه د خلع د معاوضې په توګه يو شى واخلي او كه چيري د ښځي او خاوند د اختلاف بنياد د ښځي نافرماني او سركښي وي يعني د ښځي د نافرمانۍ او بد اخلاقۍ په وجه د خلع نوبت راغلى وي نو په دغه صورت كي د خاوند لپاره دا مكروه دى چي د هغې څخه د خلع په عوض كي دومره روپۍ واخلي كوم چي هغه د ښځي په مهر كي وركړي وي او تر هغه هم زيات وي.

د طلاق معنى : د طلاق لغوي معنى خلاصول او پرېښودل دي، مګر د شريعت په اصطلاح كي د ښځي په نكاح سره عائد كېدونكو پابنديو څخه ازادولو ته طلاق ويل كيږي، د طلاق ډولونه او احكام به مخته راسي انشاء الله.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړى فصل)

د ناخوښه خاوند څخه طلاق تر لاسه كيداى سي

﴿۳۱۳۵﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ امْرَأَةَ ثَابِتِ بْنِ قَيْسٍ أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دى چي د ثابت بن قيس رضي الله عنه ښځه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په

Maktaba Tul Ishaat.com

وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ ثَابِتُ بْنُ قَيْسٍ مَا أَعْتِبُ عَلَيْهِ فِي خُلُقٍ وَلَا دِينٍ

خدمت کي حاضره سوه او عرض يې وکړ: يا رسول الله! د ثابت بن قيس رضي الله عنه ما ته غصه نه راځي او نه د هغه په اخلاقو او دين کي ما ته څه عيب په نظر راځي

وَلٰكِنِّي أَكْرَهُ الْكُفْرَ فِي الْإِسْلَامِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ أَتَرُدِّينَ عَلَيْهِ حَدِيقَتَهُ

مګر زه د هغه په نعمتو کي ناشکري نه خوښوم (يعني زما ورسره محبت نسته) په دې پوښتني نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: ايا ته هغه باغ چي هغه يې په مهر کي در کړی دی ورکولای سې؟

قَالَتْ نَعَمْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ اقْبَلِ الْحَدِيقَةَ وَطَلِّقْهَا تَطْلِيقَةً. رواه البخاري

هغې ورته وويل: هو! نبي کريم ﷺ ثابت را وغوښت او ورته يې وفرمايل: ته خپل باغ د هغې څخه بيرته واخله او هغې ته يو طلاق ورکړه. (بخاري).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ٩\٣٩٥، رقم: ٥٢٧٣.

تشريح: د ثابت ابن قيس رضي الله عنه د ښځي مطلب دا وو چي زه د خپل خاوند څخه جلاوالی له دې کبله نه غواړم چي هغه بد اخلاقه دی يا د هغه عادتونه زما خوښ نه دي يا دا چي د هغه په دين کي تاوان دی بلکه له دې کبله چي زما د هغه سره مينه نه سته او هغه په طبعي توګه زما خوښ نه دی مګر په هر حال هغه زما خاوند دی او زما سره دا ېېره ده چي زما له خوا داسي يو حرکت ونه سي چي د اسلامي حکم خلاف وي د مثال په توګه زما څخه نافرماني ونه سي يا د هغه د خوښي خلاف يو کار را څخه ونه سي نو په دغه صورت کي به د نعمت کفران يا ګناه وي چي زه يې نه خوښوم ځکه زه د هغه څخه جلاوالی اختياروم،

ويل کيږي چي ثابت ابن قيس رضي الله عنه ډېر بد صورته او لنډی وو، او د هغه ښځه چي حبيبه يا جميله نومېدل ډېره ښائسته وه ځکه د دواړو جوړه ډېره نابرابره وه او د هغه ښځي هغه نه خوښوی نو رسول الله ﷺ د هغوی د خوښي سره سم حضرت ثابت رضي الله عنه ته دا حکم ورکړ چي هغه خپل ښځي ته يو طلاق ورکړي، ددې څخه معلومه سوه چي د طلاق ورکونکي په حق کي دا غوره او افضل دي چي هغه يو طلاق ورکړي که چيري رجوع کول وي نو رجوع به وکړي او ددې څخه دا خبره هم ثابته سوه چي خلع طلاق دی او فسخ نه دی، د هدايه صاحب په دې باره کي د رسول الله ﷺ څخه يو حديث هم نقل کړی دی چي (الخلع تطليقة بائنة) يعني خلع طلاق بائن دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

په حيض کي د طلاق څخه منع

﴿۳۱۳۶﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ طَلَّقَ امْرَأَةً وَهِيَ حَائِضٌ فَذَكَرَ عُمَرُ

د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي هغه خپلي ښځي ته د حيض په حالت کي طلاق ورکړ حضرت عمر رضي الله عنه د دې ذکر

لِرَسُولِ اللّٰهِ ﷺ فَتَغَيَّظَ فِيهِ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ ثُمَّ قَالَ لِيُرَاجِعْهَا ثُمَّ يُمْسِكُهَا

نبي کريم ﷺ ته وکړ نبي کريم ﷺ په دې واقعه باندي ډير خفه سو او ويې فرمايل: عبد الله دي خپله ښځه بيرته واخلي او هغه ته پکار دي چي خپله ښځه د خپل ځان سره وساتي

حَتَّى تَطْهُرَ ثُمَّ تَحِيضَ فَتَطْهُرَ فَإِنْ بَدَا لَهُ أَنْ يُطَلِّقَهَا فَلْيُطَلِّقْهَا طَاهِرًا قَبْلَ

تر دې پوري چي هغه پاکه سي د دې څخه وروسته که طلاق ضروري وي نو د پاکۍ په حالت کي دي طلاق ورکړي او په دې دوران کي دي

أَنْ يَمَسَّهَا فَتِلْكَ الْعِدَّةُ الَّتِي أَمَرَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ ان تطلق لها النساء وفي

لاس نه وروړي او دا هغه عدت دی چي خداي ﷻ د هغه حکم په قرانکريم کي فرمايلی دی چي په دې کي دي طلاق ورکړل سي.

رواية مُرْهُ فَلْيُرَاجِعْهَا ثُمَّ لِيُطَلِّقْهَا طَاهِرًا أَوْ حَامِلًا. متفق عليه.

او په دويم روايت کي دا الفاظ دي چي نبي کريم ﷺ و حضرت عمر رضي الله عنه ته وفرمايل: عبد الله ته امر ورکړه چي بيرته رجوع وکړي او بيا چي هغه پاکه سي يا د حمل په حالت کي دي طلاق ورکړي. (بخاري او مسلم)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۸\ ۶۵۳، رقم: ۴۹۰۸، ومسلم ۲\ ۱۰۹۳، رقم: ۱\ ۱۴۷۱

تشريح: (فتغيط فيه) يعني رسول الله ﷺ د دغه واقعې څخه ډېر په غصه سو، دا د دې خبري دليل دی چي د حيض په حالت کي طلاق ورکول حرام دي که چيري دا حرام نه وای نو رسول الله ﷺ به نه په غصه کېدی او د حيض په حالت کي طلاق ورکول ځکه حرام دي چي کيدای سي طلاق ورکونکي د حيض په حالت کي محض د کراهت په وجه طلاق ورکړی وي او هغه مصلحت

د هغه د طلاق ورکولو وجه نه وي چي د هغه په وجه طلاق ورکول حرام دي ، مګر که چيري يو څوک د حيض په حالت کي طلاق ورکړي نو طلاق به واقع سي ، همدا وجه ده چي رسول الله ﷺ عبد الله ته د رجوع کولو حکم ورکړ او دا بالکل ظاهره خبره ده چي رجوع کول د طلاق وروسته وي.

دلته يو سوال پيدا کيږي چي په ذکر سوي صورت کي دوهم طهر (يعني د دوهم حيض څخه وروسته د پاکۍ حالت) پوري د طلاق په مؤخذ کولو کي څه حکمت دی ؟ صحيح خبره دا ده که چيري حکم دا وي چي په کوم حيض کي طلاق ورکړل سوی دی او بيا رجوع سوې ده نو د هغه حيض د تېريدو څخه وروسته د پاکۍ په حالت کي دي طلاق ورکړل سي مګر ددې برعکس تر دوهم طهر پوري مؤخذ کړل سو په دې باره کي علماء وايي چي ددې څو وجي دي اول خو دا چي رجوع کول يوازي د طلاق په غرض سره نه وي نو طلاق ورکول تر يو داسي وخت پوري زنډول پکار دي چي په هغه کي يوې خوا ته طلاق ورکول حلال او بلي خوا ته د طلاق پر فيصله د فکر کولو موقع هم ورکړل سي او کيدای سي يو داسي حل پيدا سي چي د طلاق ورکولو بالکل نوبت را نه سي او ظاهره ده چي ددغه دواړو حکمتونو رعايت په دوهم طهر کي کيدای سي.

دوهم دا چي تر دومره وخت پوري د طلاق ورکول زنډول په اصل کي د طلاق ورکونکي ددغه بد کار (يعني د حيض په حالت کي د طلاق ورکولو) سزا ده.

دريم دا چي د کوم حيض په حالت کي طلاق ورکړل سوی دی هغه او د هغه څخه وروسته طهر دواړه د يو شي په حکم کي دي که چيري په اول طهر کي ورکړل سوی وي نو د حيض په حالت کي ورکړه ده مګر دا خبره دي په فکر کي وي چي ددغه درو وجهو څخه دا خبره راسخ کيږي چي تر دوهم طهر پوري طلاق څخه منع کېدل واجب نه دي بلکه غوره دي.

دطلاق ډولونه : په دې خبره پوه سئ چي د وخت او محل په اعتبار د نفس طلاق درې ډولونه دي ۱: احسن، ۲: حسن، او حسن ته سني هم وايي، ۳: بدعي.

د طلاق احسن صورت دادی چي طلاق هم په داسي طهر (يعني د پاکۍ په حالت) کي ورکړل سي چي په هغه کي يې جماع نه وي کړې او بيا هغه په هغه حالت پريږدي (يعني بيا هغې ته طلاق ورنه کړي او نه د هغې سره جماع وکړي تر دې چي د هغې عده پوره سي، د طلاق دغه اول ډول تر ټولو غوره دی.

د طلاق حسن صورت دادی چي يو طلاق رجعي په داسي طهر کي ورکړل سي چي په هغه کي جماع نه وي سوې په شرط ددې چي ښځه مدخول بها وي او که چيري ښځه مدخول بها نه وي نو د هغې لپاره يو طلاق حسن دی او هغې ته د حيض په حالت کي هم طلاق ورکول کېدای

Maktaba Tul Ishaat.com

سي ، او د آئسه، صغیره او حامله ښځو لپاره طلاق حسن دادی چي هغوی (تر درو میاشتو پوري) په هره میاشت کي یو طلاق ورکړل سي او دغه ښځو ته د جماع څخه وروسته هم طلاق ورکول جائز دي، د طلاق دغه دوهم ډول هم غوره دی.

د طلاق بدعي صورت دادی چي مدخول بها ښځي ته په یوه طهر کي په یو وار درې طلاق ورکړي یا داسي دوه طلاقه ورکړي چي په هغه کي د رجعت امکان نه وي یا هغې ته په هغه طهر کي طلاق ورکړي په کوم کي چي جماع کړې وي همدارنګه که چیري یو سړی د حیض په حالت کي طلاق ورکړي نو دا حکم د طلاق بدعي په حکم کي دی او که چیري هغه ښځه چي هغې ته د حیض په حالت کي طلاق ورکړل سوی دی مدخول بها وي نو د صحیح روایت سره سم هغې ته رجوع کول واجب دي مګر ځیني علماء رجوع کولو ته مستحب وایي بیا که چیري هغه پاکه سي او د هغه څخه وروسته دوهم حیض ورته راسي او بیا د هغه څخه هم پاکه سي نو طلاق ورکول که چیري ضروري وي نو هغې ته په دوهم طهر کي دي طلاق ورکړل سي ، د طلاق دغه درې سره ډولونه د شریعت په نظر کي ناخوښه دي که څه هم طلاق واقع کیږي مګر طلاق ورکونکی به ګناه کاروي.

د واقع کېدو په اعتبار د طلاق دوه ډولونه دي ۱: رجعي، ۲: بائن، د طلاق رجعي صورت دادی چي طلاق ورکونکی یو وار یا دوه واره په واضح الفاظو کي داسي ووایي چي (انت طالق یا طلقتک) یا داسي ووایي چي ته دي طلاقه یې یا ما تا ته طلاق درکړی، همدارنګه د طلاق په ورکولو سره طلاق ورکونکی د عدې په ورځو کي بېله نکاح رجوع کولای سي یعني که چیري هغه داسي ووایي چي ما تا ته رجوع وکړه یا هغې ته لاس وروړي یا مس یې کړي یا د هغې سره جماع وکړي نو په دې سره رجوع کیږي او دنوي نکاح ضرورت نه سته ، د طلاق بائن صورت دادی چي د طلاق په واضح الفاظو پر ځای په داسي الفاظو طلاق ورکړل سي کوم چي صراحتا د طلاق لپاره نه استعمالیږي مګر کنایتًا هغه د طلاق مفهوم ادا کوي ، پرته ددغه درو الفاظو د کنایه څخه کوم چي فقهاؤ د طلاق لپاره ګرځولي دي ، د طلاق بائن حکم دادی چي ښځه د نکاح څخه ووځي نو د نکاح د نوي کولو څخه پرته هغه ښځه خپل بي بي ګرځول حرام دي.

د حکم او نتیجې په اعتبار هم د طلاق دوه ډولونه دي ۱: مغلظه، ۲: مخففه، د طلاق مغلظه صورت دادی چي په یو وار درې طلاق ورکړل سي مثلا داسي ووایي چي ما درې طلاقه درکړل یا جلا جلا درې طلاقه ورکړل سي مثلا داسي ووایي چي ما طلاقه کړې، ما طلاقه کړې، ما طلاقه کړې، ددغه طلاق څخه وروسته طلاق ورکونکی هغه ښځه دوهم وار په خپل نکاح کي

بېله حلاله نه سي راوستلای ، د حلاله صورت دادی چي هغه ښځه د عدې تېرولو څخه وروسته د يو بل سړي سره نکاح وکړي او هغه دوهم سړی د هغې سره په جماع کولو هغې ته طلاق ورکړي او بيا چي د هغې عده پوره سي نو مخکنی خاوند د هغې سره نکاح وکړي .

د طلاق مخففه صورت دادی چي په يو وار يا جلا جلا دوه طلاقه ورکړي يا يو طلاق ورکړي ، بيا که چيري دغه دواړه طلاقه يا يو طلاق په واضح الفاظو سره وي نو په عده کي دننه رجوع کولای سي او د نکاح نوي کولو ضرورت نه سته او که چيري الفاظ په کنايه سره وي نو د نکاح د نوي کولو څخه وروسته هغه خپل ښځه جوړولای سي د حلاله ضرورت نه سته .

د کومو خلکو ورکړی طلاق واقع کيږي او د کومو خلکو نه واقع کيږي

د هر عاقل او بالغ سړی ورکړی طلاق واقع کيږي که هغه ازاد وي يا غلام وي او که هغه په خپل خوښه سره طلاق ورکړی وي او که د چا په زور سره يا د نشې په حالت کي يې ورکړی وي .

همدارنګه که چيري عاقل او بالغ سړی ګونګی وي او هغه د اشارې په ذريعه طلاق ورکړي نو د هغه طلاق هم واقع کيږي او د هلک او ليوني ورکړی طلاق نه واقع کيږي همدارنګه که چيري بېده سړی طلاق ورکړی او د کښېنستو څخه وروسته ووايي چي ما تا ته په خوب کي طلاق درکړی دی نو د هغه طلاق هم نه واقع کيږي که چيري يو مالک د خپل غلام ښځي ته طلاق ورکړي نو د هغه طلاق هم نه واقع کيږي .

په طلاق کي اصل اعتبار د ښځي دی ، د ازادي ښځي لپاره درې طلاقه دي که چيري هغه د يو غلام په نکاح کي وي ، همدارنګه د مينزي لپاره دوه طلاقه وي که چيري هغه د يو ازاد سړي په نکاح کي وي .

د اختيار مسئله

﴿۳۱۳۷﴾ : وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ خَيَّرَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاخْتَرْنَا اللّٰهَ وَرَسُولَهُ فَلَمْ يَعُدَّ ذٰلِكَ عَلَيْنَا شَيْئًا . متفق عليه .

د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ موږ ته د دنيا او اخرت اختيار را کړ او په دې اختيار را کولو کي په موږ کي هيڅ شی واقع نه سو (يعني هيڅ ډول طلاق واقع نه سو) او د دې صورت دادی چي که څوک و خپلي ښځي ته ووايي چي تا ته اختيار دی ما قبلوې يا د خپل نفس اختيار لرې نو په دې سره ښځه نه طلاقيږي . (بخاري او مسلم) .

Maktaba Tul Ishaat.com

تخریج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۳۶۷، رقم: ۵۲۶۲، ومسلم ۲\۱۱۰۳، رقم: ۲۴- ۱۴۷۷

تشریح: ددغه حدیث شریف څخه معلومه سوه که چیري یو څوک خپل ښځي ته ووایي چي خپل ځان اختیار کړه یا ما اختیار کړه او بیا ښځه خاوند اختیار کړي نو په دغه صورت کي طلاق نه واقع کیږي، د امام ابوحنیفة او امام شافعي رحمة الله علیهما دا مذهب دی مګر که چیري ښځه خپل ځان اختیار کړي نو په دغه صورت کي د امام شافعي او امام احمد رحمة لله علیهما په نزد طلاق رجعي او د امام ابوحنیفة رحمه الله په نزد طلاق بائن او د امام مالک رحمه الله په نزد دری طلاقه واقع کیږي.

نقل سوي دي چي په صحابه کرامو کي امیرالمؤمنین حضرت علي رضي الله عنه ددې قائل وو چي ښځي ته د خاوند په محض اختیار ورکولو سره طلاق رجعي واقع کیږي که څه هم هغه خپل خاوند اختیار کړي.

حضرت زید ابن ثابت رضي الله عنه ددې قائل وو چي طلاق بائن واقع کیږي، بي بي عائشې رضي الله عنها ددغه دواړو قولونو په رد کي ددغه حدیث په بیانولو سره دا واضحه کړې ده چي خاوند په محض اختیار ورکولو سره هیڅ طلاق نه واقع کیږي.

یو شی پر ځان باندي حرامولو سره کفاره لازمیږي

﴿۳۱۳۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ فِي الْحَرَامِ يُكَفِّرُ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ }. متفق عليه.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چي کوم سړی په ځان باندي یو شی حرام کړی نو پر هغه باندي کفاره ده او ستاسو لپاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم پیروي کول څومره ښه ده. (بخاري او مسلم).

تخریج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۸\۶۵۶، رقم: ۴۹۱۱، ومسلم ۲\۱۱۰۰، رقم: ۱۸\۱۴۷۳

د لغاتو حل: في الحرام: ای في التحريم.

تشریح: مطلب دادی که چیري یو سړی پر ځان باندي یو شی حرام کړي که هغه شی دده خپل یا د بل چا شی وي نو پر هغه د قسم کفاره لازمیږي او هغه شی نه حرامیږي، ابن عباس رضي الله عنه ددې قائل وو او د حنفیه حضراتو مذهب هم دادی که چیري یو سړی یو شی پر ځان حرام کړي که څه هم هغه شی په خپله حرام وي یا دبل چا په ملکیت کي وي مثلاً داسي ووایي چي پر ما شراب حرام دي یا د فلاني مور پر ما حرامه ده نو دا د قسم په توګه دی په شرط ددې که چیري هغه د یو

Maktaba Tul Ishaat.com

حرام شي په باره کي دا ويلي وي چي دا شی پر ما حرام دی او هغه وخوري يا يې استعمال کړي نو هغه حانث يعني قسم ماتونکی سو او پر هغه باندي هغه کفاره لازميږي کوم چي پر قسم ماتونکي باندي لازميږي مګر که چيري هغه شی صدقه کړي يا يې يو چا ته هبه کړي نو بيا نه حانث کيږي او پر هغه هيڅ کفاره نه لازميږي.

حضرت ابن عباس رضي الله عنه د خپل خبري په تائيد کي دغه آيت کريمه (لقد کان لکم ...) وواييه او دې ته يې اشاره وکړه چي کله رسول الله ﷺ پر ځان باندي عسل حرام کړل نو د دغه آيت کريمه (يا ايها النبي لم تحرم ما احل الله لک) په ذريعه رسول الله ﷺ ته د کفارې ورکولو حکم ورکړل سو (چي تفصيلي ذکر به يې مخته راسي) نو پر تاسو د رسول الله ﷺ پيروي لازمه ده که تاسو يو شی پر ځان حرام کړی او بيا د هغه شي په استعمالولو سره حانث سئ نو کفاره ادا کړئ.

که يو څوک داسي وواييي چي ټول حلال شيان پر ما حرام دي نو د داسي قول په باره کي فتوا داده چي په داسي ويلو سره د هغه پر ښځي باندي طلاق واقع کيږي که څه هم هغه د طلاق نيت نه وي کړی او که چيري خپل ښځي ته داسي وواييي چي ته پر ما حرامه يې نو دا به ايلاء سي په شرط د دې چي هغه په حقيقت کي د حرام کولو نيت کړی وي يا يو نيت يې نه وي کړی او که چيري هغه د دغه ويلو په وخت کي چي ته پر ما حرامه يې د دروا غو نيت کړی وي نو دا ويل به لغو وي يعني په دغه ويلو سره به عند الله هيڅ نه کيږي مګر دا معامله که حاکم ته ورسيږي نو حاکم به د ايلاء حکم جاري کوي او که چيري د دغه ويلو پر وخت هغه د طلاق نيت کړی وي نو طلاق بائن واقع کيږي او که چيري د درو طلاقو نيت يې کړی وي نو درې طلاقه واقع کيږي او فتوا پر دې ده، که چيري د طلاق نيت يې نه وي کړی نو بيا هم طلاق بائن واقع کيږي.

﴿۳۱۳۹﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَمْكُثُ عِنْدَ زَيْنَبَ

د عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به بي بي زينب بن حجش (خپله بي بي) ته ورتلی

بِنْتِ جَحْشٍ وَشَرِبَ عِنْدَهَا عَسَلًا فَتَوَاصَيْتُ أَنَا وَحَفْصَةُ أَنَّ أَيَّتَنَا دَخَلَ

او هلته به يې شات خوړل (بي بي عائشه رضي الله عنها وايي) چي ما او بي بي حفصې رضي الله عنها په خپلو منځو کي مشوره وکړه چي په موږ کي چي و کومي يوې ته تشريف راوړي نو هغه وخت به

عَلَيْهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلْتَقُلْ إِنِّي أَجِدُ مِنْكَ رِيحَ مَغَافِيرَ أَكَلْتَ

Maktaba Tul Ishaat.com

رسول الله ﷺ ته وواېو چې ستا د خولې څخه د مغافيرو (يو قسم ميوه چې د شاتو سره مشابه ده) بوی راځي ايا تاسو مغافير خوړلی دي؟

مَغَافِيرَ فَدَخَلَ عَلَى إِحْدَاهُمَا فَقَالَتْ له ذٰلِكَ فَقَالَ لَا بَاس شَرِبْتُ عَسَلًا

نو نبي کريم ﷺ په هغوی کې يوې ته تشريف راوړ او هغې د نبي کريم ﷺ څخه دغه عرض وکړ نبي کريم ﷺ ورته وويل: هيڅ خبره نه ده د بي بي زينبې ﷺ کره مې شات خوړلی دي

عِنْدَ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ فَلَنْ أَعُودَ لَهُ وَقَدْ حَلَفْتُ لَا تُخْبِرِي بِذٰلِكَ أَحَدًا

او بيا به هيڅکله زه شات نه خورم خو ته د دې څخه څوک مه خبروه چې ما د شاتو د خوړلو څخه قسم اخيستي دی.

يَبْتَغِي مَرْضَاتَ اَزْوَاجِهِ فَنَزَلَتْ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللّٰهُ لَكَ تَبْتَغِي مَرْضَاتَ اَزْوَاجِكَ الاية. متفق عليه.

چې په بيبيانو کې د دې څخه و چاته تکليف و نه رسيږي. په دې خبره باندې دا ايت نازل سو: يا ايها النبي ....ازواجک. (اې نبي! ته په ځان باندې ولې هغه شيان حراموې چې د هغې خوراک تاته حلال دی). (بخاري او مسلم).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۸\۶۵۶، رقم: ۴۹۱۲، ومسلم ۱۲\۱۱۰۰، رقم: ۲۰- ۱۴۷۴

د لغاتو حل: مغافير: وهو ثمرة العِصاه كالعرفظ والقشر. (يو ډول ميوه)

تشريح: د بي بي زينب بنت حجش ﷺ سره به پاته کېدی: دا د هغې د نوبت (وار) ذکر نه دی بلکه د دې څخه مراد دادی چې رسول الله ﷺ به خپلو بيبيانو ته د ګښت کولو لپاره ورتلی او د بي بي زينب کور ته به يې تشريف راوړ نو هغه وخت به د هغې سره پاته کېدی.

مغافير د يو درختي د ميوې نوم دی چې د سرېښو مشابه وي او د هغه بوی خراب دی او يو ډول د عسلو د بوی سره مشابهت لري.

د دغه حديث شريف خلاصه داده چې د رسول الله ﷺ عسل ډېر خوښ وه کله چې به رسول الله ﷺ د ګښت (ګرځېدو) پر وخت بي بي زينب ﷺ ته راغلی نو هغې به رسول الله ﷺ ته عسل ورکول، په دې وجه رسول الله ﷺ به د بي بي زينب ﷺ سره لږ زيات پاته کيدی، دا خبره بي بي

Maktaba Tul Ishaat.com

عائشې ﷺ ته سخته سوه نو هغې د رسول الله ﷺ د يو بلي بي بي حفصې ﷺ سره چي بي بي عائشې ﷺ ته ډېره نژدې وه او په اکثرو معاملو کي به يې د هغې سره اتفاق کوی د ذکر سوي خبري کولو په باره کي يې مشوره سره وکړه چي رسول الله ﷺ د بي بي زينب ﷺ سره پاته کېدل او عسل خوړل پرېږدي نو همداسي وسول لکه څرنګه چي ذکر سول مګر الله تعالی ته دا خبره خوښه نه سوه چي رسول الله ﷺ يو حلال شی د خپلو بيبيانو د خوښۍ لپاره پر ځان حرام کړي نو ذکر سوی آيت کريمه نازل سو .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د بېله ضرورته طلاق غوښتونکي ښځي لپاره وعيد

﴿۳۱۴۰﴾: وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّمَا امْرَأَةٍ سَأَلَتْ زَوْجَهَا طَلَاقًا مِنْ غَيْرِ بَأْسٍ فَحَرَامٌ عَلَيْهَا رَائِحَةُ الْجَنَّةِ . رواه احمد والترمذي وابوداؤد وابن ماجة والدارمي .

د حضرت ثوبان ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کومه ښځه چي بېله کومي وجي د خپل خاوند څخه طلاق غواړي په هغې باندي د جنت بوی حرام دی . (احمد ترمذي ابو داؤد ابن ماجه دارمي)

تخريج: احمد في المسند ۵\ ۲۷۷، وابوداود في السنن ۲\ ۶۶۷، رقم: ۲۲۲۶، والترمذي في السنن ۳\ ۴۹۳، رقم: ۱۱۸۷، وابن ماجه في السنن ۱\ ۶۶۲، رقم: ۲۰۵۵، والدارمي ۲\ ۲۱۶، رقم: ۲۲۷۰

طلاق ښه شی نه دی

﴿۳۱۴۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَبْغَضُ الْحَلَالِ إِلَى اللّٰهِ تَعَالَى الطَّلَاقُ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په حلالو شيانو کي تر ټولو بد شی د الله تعالی په نزد طلاق دی . (ابوداؤد)

تخريج: ابوداود في السنن ۲\ ۶۳۱، رقم: ۲۱۷۸

Maktaba Tul Ishaat.com

تشريح: مطلب دادی که څه هم طلاق حلال او مباح دی مګر د الله تعالی په نزد مبغوض او مکروه دی، داسي ډېر شيان دي چي هغه مباح خو دي مګر مکروه ګڼل کيږي د مثال په توګه فرض لمونځ بېله عذره په کور کي کول، يا پر غضب وهل سوي ځکه باندي لمونځ کول که څه هم دا مباح دي مګر مکروه دي.

د نکاح څخه مخکي د طلاق ورکولو مسئله

﴿۳۱۴۲﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا طَلَاقَ قَبْلَ نِكَاحٍ

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د نکاح تر مخه طلاق نسته او

وَّلَا عِتَاقَ إِلَّا بَعْدَ مِلْكٍ وَّلَا وِصَالَ فِيْ صِيَامٍ وَّلَا يُتْمَ بَعْدَ احْتِلَامٍ وَلَا رِضَاعَ بَعْدَ فِطَامٍ وَّلَا صَمْتَ يَوْمٍ إِلَى اللَّيْلِ. رواه في شرح السنة

نه د مالک کېدو ترمخه غلام ازادولای سي او (په يو مخ)روژې نيول جائز نه دي او د بالغ کېدو څخه وروسته څوک يتيم نه پاته کيږي او د شيدو د رودلو د مودې څخه وروسته څوک په رضاعت کي نه شامليږي او تر ولمه ورځ چپه خوله پاته کېدل هم جائز نه دي. (شرح السنة).

تخريج: البغوي في شرح السنة ۹/ ۱۹۸، رقم: ۲۳۵۰.

تشريح: په دغه روايت کي د يو څو اصولي خبرو ذکر سوی دی، فرمايل سوي دي که يو سړی د نکاح څخه مخکي طلاق ورکړي نو هغه طلاق نه واقع کيږي ځکه چي طلاق په اصل کي د نکاح جز دی که چيري د نکاح وجود پيدا سي نو پر هغه د طلاق اثر هم مرتب کيږي او کله چي نکاح بالکل سوې نه وي نو د طلاق هم څه حقيقت نه وي.

همدارنګه ويل سوي دي چي غلام تر څو پوري په خپل ملکيت کي را نه سي د هغه ازادول هيڅ معنی نه لري او که چيري يو سړی داسي يو غلام ازاد کړي چي تر اوسه د هغه مالک نه وي نو هغه غلام به ازاد نه وي، په دې اعتبار دغه حديث د امام شافعي او د امام احمد رحمة الله عليهما د مذهب دليل دی، د امام ابو حنيفة رحمه الله مذهب دادی که چيري يو سړی د نکاح څخه مخکي د طلاق نيت وکړي نو صحيح دی مثلاً زيد يو پردی ښځي ته ووايي که ما ستا سره نکاح وکړه نو ته پر ما طلاقه يې، يا داسي ووايي چي زه د کومي ښځي سره نکاح وکړم هغه طلاقه ده، نو په دغه صورت کي که چيري زيد د هغه ښځي سره نکاح وکړي نو د نکاح په وخت کي هغه طلاقه کيږي، همدارنګه که چيري يو څوک ووايي که زه د هغه غلام مالک سم يا داسي ووايي

Maktaba Tul Ishaat.com

چي زه د کوم غلام مالک سم هغه ازاد دی نو په دغه صورت کي هغه غلام د هغه په ملکيت کي په راتلو سره ازاديږي .

ددغه حديث شريف د حنفيه حضراتو په نزد دا مطلب نه دی چي د هغه پر طلاق باندي هيڅ اثر نه مرتب کيږي بلکه مطلب دادی چي په کوم وخت کي هغه طلاق ورکړی دی په هغه وخت کي طلاق واقع کيږي همدارنګه ددغه حديث د طلاق د تعليق نفي نه کيږي ، يوه خبره يې دا وفرمايل چي تړوله ورځ چپ اوسېدل ناجائز او لا حصل وي ددغه ممانعت وجه داده چي په تېرو امتونو کي چپ اوسېدل په عبادت کي شمېرل کېدل او تړوله ورځ چپ اوسېدل د الله تعالی د تقرب ذريعه ګڼل کېدل ، رسول الله ﷺ دا وضاحت وفرمايه چي زما د امت لپاره دا صحيح نه دي چي ددې په وجه هيڅ ثواب نه تر لاسه کيږي مګر خپل ژبه د لا يعني (بې ګټو) خبرو کي د بوختيا پر ځای دا غوره ده چي خپله ژبه هر وخت پټه وساتي .

﴿۳۱۴۳﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ

حضرت عمرو بن شعيب رضي الله عنه د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت کوي چي رسول

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا نَذْرَ لِابْنِ آدَمَ فِيمَا لَا يَمْلِكُ وَلَا عِتْقَ فِيمَا لَا يَمْلِكُ

الله ﷺ وفرمايل : د انسان فکر په هغه شي کي درست نه دي چي د هغه مالک نه وي او د هغه شي ازادول هم صحيح نه دي کوم چي د هغه مالک نه وي

وَلَا طَلَاقَ فِيمَا لَا يَمْلِكُ . رواه الترمذي و زاد ابوداؤد ولا بيع الا فيما يملك

او نه د هغې ښځي طلاق صحيح کيږي کوم چي د هغې سره يې نکاح نه وي کړې . (ترمذي ابوداؤد) او د ابوداؤد په يو بل روايت کي راغلي دي د هغه شی بيع صحيح نه ده چي د هغه مالک نه وي .

تخريج: ابوداود في السنن ۲\۶۴۰، رقم: ۲۱۹۰، والترمذي في السنن ۳\۴۸۶، رقم: ۱۱۸۱

تشريح: د نذر نه صحيح کېدو مطلب دادی که چيري يو سړی ووايي چي زه د الله تعالی د رضا لپاره نذر منم حالنکه د نذر منلو پر وخت هغه غلام د هغه په ملکيت کي نه وي نو دا به صحيح نه وي او که چيري ددې څخه وروسته د هغه غلام مالک سي نو هغه غلام به نه ازاديږي د طلاق او ازادولو په باره کي د مخکني حديث په تشريح کي وضاحت سوی دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

د طلاق بت مسئله

﴿۳۱۴۴﴾: وَعَنْ رُكَانَةَ بْنِ عَبْدِ يَزِيدَ اَنَّهُ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ سُهَيمَةَ الْبَتَّةَ فَأَخْبَرَ

د حضرت رکانه بن عبد يزيد رضی الله عنه څخه روايت دی چې هغه خپلې ښځې سهيمه رضی الله عنها ته طلاق بائن ورکړ وروسته يې په دغه اړه

بذالك النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ وَاللّٰهِ مَا أَرَدْتُ إِلَّا وَاحِدَةً فَقَالَ

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته اطلاع ورکړه او عرض يې وکړ چې قسم په خداي ما د يوه طلاق اراده کړې وه رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمايل:

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللّٰهِ مَا أَرَدْتَ إِلَّا وَاحِدَةً فَقَالَ رُكَانَةُ وَاللّٰهِ

قسم په خداي تا د يوه طلاق اراده کړې وه ؟ رکانه وويل : قسم په خداي

مَا أَرَدْتُ إِلَّا وَاحِدَةً فَرَدَّهَا إِلَيْهِ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَطَلَّقَهَا

ما د يوه طلاق اراده کړې وه رسول الله صلی الله علیه وسلم و هغه ته خپله ښځه بيرته ورکړه وروسته رکانه رضی الله عنه

الثَّانِيَةَ فِي زَمَانِ عُمَرَ وَالثَّالِثَةَ فِي زَمَانِ عُثْمَانَ . رواه ابوداؤد والترمذي وابن ماجة والدارمي الا انهم لم يذكروا والثانية والثالثة .

خپلې ښځې ته دويم طلاق د حضرت عمر رضی الله عنه په خلافت کې ورکړ او دريم طلاق يې د حضرت عثمان رضی الله عنه په خلافت کې ورکړ (ابوداؤد ترمذي ابن ماجه) خو ابن ماجه د دويم او دريم طلاق ذکر نه دی کړی ..

تخريج: ابوداود في السنن ۲\ ۶۵۵، رقم: ۲۲۰۶، والترمذي ۳\ ۴۸۰، رقم: ۱۱۷۷، وابن ماجه في السنن ۱\ ۶۶۱، رقم: ۲۰۵۱، والدارمي ۲\ ۲۱۶، رقم: ۲۲۷۲

تشريح: د طلاق بته مطلب دا دئ چې حضرت رکانه په دغه الفاظو سره طلاق ورکړ (انت طالق البتة) يعني تا ته دي طلاق البته وي، لفظ د البته د بته اسم دی چې معنی يې ده پرې کول، قطع کول نو د طلاق بته مفهوم دا سو چې داسي طلاق چې د نکاح تعلق بالکل نه پاته کوي او ښځي د نکاح څخه په قطعي توګه باسي، ددې مطلب د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد دا دی چې رسول الله

Maktaba Tul Ishaat.com

ﷺ رکانه ته د رجوع کولو حکم ورکړ یعني رکانه د رجوع کولو ددغه حکم په وجه (راجعتها الی نکاحي) یعني ما هغه په خپل نکاح کي بېرته واخیستل، ددغه الفاظو په ذریعه هغه ښځه په خپل نکاح کي بېرته واخیستل.

امام شافعي رحمة الله علیه دا مطلب ځکه اخیستی دی چي د هغه په نزد طلاق بته یو رجعي طلاق دی مګر که چیري ددې په ذریعه د دوو یا درو طلاقو نیت یې کړی وي نو بیا به دنیت سره سم دوه یا درې طلاقه واقع کیږي او د امام ابو حنیفة رحمة الله علیه په نزد په دغه لفظ سره په طلاق ورکولو سره یو طلاق بائن واقع کیږي که د یوه طلاق نیت یې کړی وي یا د وو طلاقو یا بالکل هیڅ نیت یې نه وي کړی ځکه د هغه په نزد ددغه جملې معنی داده چي رسول الله ﷺ هغه ښځه د نوي نکاح په ذریعه رکانه ته بېرته ورکړه.

د نکاح او طلاق الفاظ په خندا او مخسرو کي هم ثابتیږي

﴿۳۱۴۵﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثَلَاثٌ

د حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: درې داسي شیان دي چي

جِدُّهُنَّ جِدٌّ وَهَزْلُهُنَّ جِدٌّ النِّكَاحُ وَالطَّلَاقُ وَالرَّجْعَةُ . رواه الترمذي وابوداؤد وقال الترمذي هذا حديث غريب .

د ارادې سره واقع کیږي او په خندا (مسخرو) کي هم واقع کیږي. (۱): نکاح (۲): طلاق (۳): رجعت (یعني په یوه یا دوو طلاق ورکول څخه وروسته رجوع کول). (ترمذي ابوداؤد) او په ترمذي کي دا حدیث حسن غریب ګڼل سوی دی.

تخريج: ابوداود في السنن ۲\۶۴۳، رقم: ۲۱۹۴، والترمذي في السنن ۳\۴۹۰، رقم: ۱۱۸۴

تشريح: د جد معنی ده په یو کار کي سعي او کوښښ کول، مګر دلته دا معنی مراد ده چي کوم لفظ د کومي معنی لپاره وضع سوی وي هغه په ژبه سره د ادا کولو پر وخت هغه معنی ځیني مراد سي د مثال په توګه لفظ د نکحت چي کله په ژبه سره ادا کړل سي نو ددې معنی نکاح اخیستل کیږئ یا کله چي لفظ د طلقت په ژبه سره ادا کړل سي نو ددې معنی د یوه طلاق ورکول دي او د لفظ هزل معنی ده چي په ژبه سره څه ادا کړل سي هغه معنی مراد نه وي.

نو د حدیث شریف مطلب دادی چي کوم شیان داسي وي چي په ژبه سره په ادا کولو سره واقع کیږي که څه هم د هغه معنی مراد وي یا مراد نه وي که د دوو پردي سړي او ښځي په مینځ

Maktaba Tul Ishaat.com

کي په خندا خندا کي د دوو شاهدانو په مخکي ایجاب او قبول وسي نو نکاح کیږي او هغوی دواړه به خاوند او ښځه وي او که یو څوک په خندا او مسخرو کي طلاق ورکړي نو طلاق واقع کیږي همدارنګه د طلاق رجعي څخه وروسته په خندا کي په رجوع کولو سره هم رجعت ثابتیږي او ددغه درو شیانو څخه علاوه نور شیان د مثال په توګه بیع ، شراء او داسي په خندا او مسخرو کي نه واقع کیږي .

په زوره طلاق واقع کیږي که یا؟

﴿۳۱۴۶﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا طَلَاقَ وَلَا عَتَاقَ فِي اِغْلَاقٍ . رواه ابوداؤد وابن ماجة قيل معنى الاغلاق الاكراه

د بي بي عائشي ﷺ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوریدلي دي د زور په حالت کي نه طلاق واقع کیږي او نه ازادي (یعني که په زوره سره یو چا ښځي ته طلاق ورکړي یا یو غلام یې ازاد کړي نو طلاق او ازادي نه صحیح کیږي). (ابوداؤد ابن ماجه) او د اغلاق څخه مراد زور دی .

تخریج: ابوداود في السنن ۲\ ۶۴۲، رقم: ۲۱۹۳، وابن ماجه ۱\ ۶۶۰، رقم: ۲۰۴۶

تشریح: د اکراه معنی ده زور کول ، نو ددغه حدیث شریف مطلب دا سو که چیري په یو چا په زوره طلاق ورکړل سي یا د هغه غلام ازاد سي نو نه طلاق واقع کیږي او نه د هغه غلام ازاد وي. دغه حدیث د امام شافعي، امام مالک او ا مام احمد رحمة الله علیهم د مذهب دلیل دی ځکه چي ددغه درو سره امامانو په نزد دغه دواړه شیان د زور په حالت کي نه واقع کیږي او د امام ابوحنیفة رحمة الله علیه مذهب دادی چي واقع کیږي هغه دا پر هزل قیاس کړی دی (چي بیان یې په مخکني حدیث کي تیر سو) امام ابوحنیفة رحمة الله علیه چي د خپل مذهب په دلیل کي څه وړاندي کړي دي هغه د فقهي په کتابو کي مذکور دي .

دلته دا ښوول ضروري دي چي د امام ابوحنیفة رحمة الله علیه د مذهب سره سم د زور په حالت کي چي د کومو شیانو حکم ثابتیږي هغه یوولس دي : ۱: نکاح، ۲: طلاق، ۳: رجعت، ۴: ایلاء، ۵: فئ یعني د ایلاء څخه رجوع کوي، ۶: ظهار، ۷: عتاق ، ۸: عفو قصاص یعني د قصاص معافول، ۹: قسم ، ۱۰: نذر، ۱۱: د اسلام قبلول.

Maktaba Tul Ishaat.com

د ليوني طلاق نه واقع كيږي

﴿۳۱۴۷﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ طَلَاقٍ جَائِزٌ إِلَّا طَلَاقَ الْمَعْتُوهِ وَالْمَغْلُوبِ عَلَى عَقْلِهِ . رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب وعطاء بن عجلان الراوي ضعيف ذاهب الحديث .

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر طلاق وركول واقع كيږي خو د بې عقل او مغلوب العقل طلاق نه واقع كيږي . (ترمذي كي د احديث غريب ګڼل كيږي) او عطاء بن عجلان راوي ضعيف دی او حافظه يې خرابه ده .

تخريج: الترمذي في السنن ۳\۴۹۶، رقم: ۱۱۹۱

تشريح: د امام ابو حنيفة رحمه الله مذهب ددغه حديث مطابق دی ځكه چي د هغه په نزد د ليوني طلاق نه واقع كيږئ دلته په حديث كي د معتوه څخه مراد ليونی دی يعني هغه سړی چي كله مسلوب العقل وي او كله يې عقل پر ځای وي، په قاموس كي ليكلي دي چي د عته معنی د كم عقل كېدل، مدهوش كېدل دي او په صراح كي ليكلي دي چي معتوه بې عقل سړي ته هم وايي، د فقهي په كتابو كي ددې معنی دا بيان سوې ده، په دې اعتبار د حديث دغه جمله (والمغلوب على عقله) دا د معتوه لفظ عطف تفسيري دی يعني په دغه جمله كي د معتوه وضاحت كول مقصد دی ځكه په ځينو روايتو كي المغلوب بېله واو نقل سوی دی .

ددغه تفصيل څخه ثابته سوه چي كله د معتوه طلاق نه واقع كيږي نو د ليوني سړی چي بالكل عقل او شعور نه لري د هغه طلاق په طريقه اولی نه واقع كيږي، زين العرب رحمه الله وايي چي معتوه ناقص العقل او مغلوب العقل ته وايي مګر ليونی، بيده سړی، مدهوش او داسي ناروغ چي د هغه عقل د هغه د مرضی په وجه تللی وي هغه هم ددغه لفظ په مفهوم كي داخل دي يعني ددغه ټولو طلاق هم نه واقع كيږي .

د معتوه لفظ په باره كي ابن همام رحمه الله د ځينو علماؤ دا قول نقل كړی دی چي معتوه هغه سړي ته وايي چي ناقص العقل او ناپوه وي او د بې عقلۍ او ناپوهۍ خبري كول مګر نه ټوك وهي نه چا ته بښكنځل كوي پر خلاف د ليوني چي هغه خلك وهي او بښكنځل كوي .

د امام ترمذي رحمه الله د قول سره سم ددغه حديث راوي كه څه هم ضعيف دی مګر ددې تائيد د هغه روايت څخه كيږي كوم چي د حضرت علي رضي الله عنه څخه نقل سوی دی چي (كل طلاق جائز الا

Maktaba Tul Ishaat.com

طلاق المعتوه) یعني هر طلاق واقع کیږي مګر د معتوه سړی طلاق نه واقع کیږي.

درې مرفوع القلم کسان

﴿۳۱۴۸﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رُفِعَ الْقَلَمُ

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د درو کسانو څخه قلم پورته

عَنْ ثَلَاثَةٍ عَنِ النَّائِمِ حَتّٰى يَسْتَيْقِظَ وَعَنِ الصَّبِيِّ حَتّٰى يبلغ وَعَنِ الْمَعْتُوهِ

سوی دی (یعني د هغوی قول او فعل د مواخذې څخه پاک دی). (۱): یو خو بیده دي تر څو پوري چي بیداره سوی نه وي. (۲): هغه کوچنی دی تر څو پوري چي بالغ سوی نه وی (۳): بې

حَتّٰى يَعْقِلَ. رواه الترمذي وابوداؤد و رواه الدارمي عن عائشة وابن ماجة عنهما

عقل تر څو پوري چي په هوش نه وي را غلی. (ترمذي ابو داؤد دارمي) د بي بي عائشې رض او د ابن ماجه دواړو څخه روایت سوی دی.

تخریج: ابوداود في السنن ۴\ ۵۶۰، رقم: ۴۴۰۳، والترمذي في السنن ۴\ ۲۴، رقم: ۱۴۳۲

مینزي ته دوه طلاقه دي

﴿۳۱۴۹﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ طَلَاقُ الْأَمَةِ تَطْلِيقَتَانِ وَعِدَّتُهَا حَيْضَتَانِ. رواه الترمذي وابوداؤد وابن ماجة والدارمي

د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ فرمایلي دی: د مینزي لپاره دوه طلاقه دي او عدت یې دوه حیضه دی او د دریم طلاق ضرورت نسته. ترمذي ابوداؤد ابن ماجه دارمي

تخریج: ابوداود في السنن ۲\ ۶۳۹، رقم: ۲۱۸۹، والترمذي في السنن ۳\ ۴۸۸، رقم: ۱۱۸۲، وابن ماجه في السنن ۱\ ۶۷۲، رقم: ۲۰۸۰، والدارمي ۲\ ۲۲۴، رقم: ۲۲۹۴

تشریح: مطلب دادی چي څرنګه چي ازادي ښځي عده درې حیضه ده او که چیري هغې ته حیض نه راځي نو د هغې عده درې میاشتي ده همدارنګه د مینزي عده دوه حیضه ده او که چیري هغې ته حیض نه راځي نو د هغې عده به یوه نیمه میاشت وي.

همدارنګه دغه حدیث شریف پر دې دلالت کوي چي په طلاق او عده کي د ښځي اعتبار وي نه د سړي، که چیري ښځه ازاده وي نو د هغې طلاق به درې وي او د هغې د عدې وخت به

درېږ حيضه وي كه څه هم هغه د يو غلام په نكاح كي وي او كه ښځه مينزه وي نو د هغې طلاق به دوه وي او د هغې د عدې وخت به دوه حيضه وي كه څه هم د هغې خاوند ازاد سړى وي، د حنفيه مذهب هم دادى مګر د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد په طلاق او عده کي د سړي اعتبار دى كه چيري سړى ازاد وي نو د هغه د ښځي طلاق به درې وي او د هغې د عدې وخت به درې حيضه وي كه څه هم د هغه ښځه مينزه وي او كه چيري سړى غلام وي نو د هغه د ښځي طلاقه به دوه وي او د هغې د عدې وخت به دوه حيضه وي كه څه هم د هغه ښځه ازاده وي.

د دغه حديث شريف څخه معلومه سوه چي د عدې د وخت تعلق د حيض سره دى نه د طهر سره لكه څرنګه چي د حنفيه مذهب دى، يعني دا حديث ددې دليل سو چي د عدې د وخت په باره كي چي په قرآن كريم كي (ثلاثة قروء) فرمايل سوي دي نو د هغه څخه درې حيضه مراد دي او درې طهره مراد نه دي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د خپل خاوند څخه د طلاق يا خلع غوښتونكو ښځو وعيد

﴿۳۱۵۰﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمُنْتَزِعَاتُ وَالْمُخْتَلِعَاتُ هُنَّ الْمُنَافِقَاتُ. رواه النسائي.

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د خپلو خاوندانو نافرماني ښځي او د خلعي (خلع د شرعي په اصطلاح كي د دېته ويل كيږي چي د مال په مقابل كي د خپلي ښځي څخه جلاوالي اختيار كړي كه خاوند مال واخلي نو د ښځي سره يې خلعه وكړه نو ښځه په طلاق بائن سره طلاقيږي) مطالبه كونكي ښځي منافقي دي. (نسائي).

تخريج: سنن النسائي ۱۶۸/۶، رقم: ۳۴۶۱

د لغاتو حل: المُنتَزِعات: اى الناشزات التي ينتزعن انفسهن عن ازواجهن. (نافرمانه). المُختَلِعات: اى التي يطلبن الخلع والطلاق (هغه چي خلع او طلاق غواړي).

تشريح: مطلب دادى چي كومي ښځي بېله سببه د خپلو خاوندانو څخه طلاق غواړي يا د هغوى څخه خلع غواړي نو هغوى منافقي دي، د منافق مطلب دادى چي هغوى په ظاهره د اسلام د احكامو فرمانبرداره دي مګر په باطني توګه ګناه كاره دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

د ښځو د ټول مال په عوض كي خلع مكروه ده

﴿۳۱۵۱﴾: وَعَنْ نَافِعٍ عَنْ مَوْلَاةٍ لِصَفِيَّةَ بِنْتِ أَبِي عُبَيْدٍ أَنَّهَا اخْتَلَعَتْ مِنْ زَوْجِهَا بِكُلِّ شَيْءٍ لَهَا فَلَمْ يُنْكِرْ ذَلِكَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ. رواه مالك.

حضرت نافع رضي الله عنه د صفيه بنت ابو عبيد رضي الله عنه د ازادي سوي مينزي څخه نقل كوي چي صفيې رض د خپل ټول مال په وركولو سره د خپل خاوند څخه د خلعي مطالبه وكړه او عبدالله بن عمر رضي الله عنه د هغې څخه انكار ونكړ. (مالک).

تخريج: الامام مالک في الموطا ۲\۵۶۵، رقم: ۳۲

تشريح حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنه ځكه ددې څخه انكار ونه كړ چي خلع په هر حال جائزوه كه څه هم داسي (يعني د ښځي د ټول مال په عوض كي) خلع كول مكروه دي.

په يو وار درې طلاقه وركول حرام دي

﴿۳۱۵۲﴾: وَعَنْ مَحْمُودِ بْنِ لَبِيدٍ قَالَ أُخْبِرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت محمود بن لبيد رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ خبر كړل سو چي يوه سړي

عَنْ رَجُلٍ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ ثَلَاثَ تَطْلِيقَاتٍ جَمِيعًا فَقَامَ غَضْبَانًا ثُمَّ قَالَ أَيُلْعَبُ

خپلي ښځي ته درې طلاقه په يوه ځاي وركړى دي نبي كريم ﷺ په قهر سو او ودرېدى او ويې فرمايل: د خداي تعالي د كتاب سره ټوكي كيږي

بِكِتَابِ اللهِ وَأَنَا بَيْنَ أَظْهُرِكُمْ حَتَّى قَامَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَلَا أَقْتُلُهُ. رواه النسائي

او حال دا چي زه ستا سو سره موجود يم په دې اورېدو سره په صحابه كرامو كي يو كس و درېدى او وه يې ويل: يا رسول الله! ايا زه دغه سړى قتل نه كړم؟ (نسائي).

تخريج: سنن النسائي ۶\۱۴۲، رقم: ۳۴۰۱.

تشريح: د الله تعالى د كتاب څخه د قرآن كريم دغه آيت (الطلاق مرتان ..... آيت الله هزوا) مراد دى، په دغه آيت كي يوې خوا ته دا حكم بيان سوى دى چي پر يوه ځاى درې طلاقه باندي

Maktaba Tul Ishaat.com

ورنه کړل سي بلکه په جلا توګه سره ورکول پکار دي، بلي خوا ته د (ولا تتخذوا ...) په ذریعه دا خبرتیا ورکړل سوې ده چي د الله تعالی احکام د لهو او لعب په ډول بې وقعته مه ګڼئ، رسول الله ﷺ د دغه آیت کریمه ته اشاره وفرمایل چي په جلا توګه د طلاق ورکولو پر ځای پر یوه ځای د درو طلاقو ورکول د الله تعالی د حکم او منشاء خلاف ورزي ده او دا خلاف ورزي د الله تعالی په احکامو پوري خندا کول دي ځکه چي کوم څوک د الله تعالی د حکم خلاف ورزي وکړي هغه په حقیقت کي په خپل عمل سره دا ثابته کړه چي د هغه په نظر کي د الله تعالی د حکم هیڅ حیثیت نه سته چي په هغه عمل کول او عمل نه کول دواړه ورته برابر وي.

د امام ابوحنیفة رحمه الله په نزد درې طلاق پر یوه ځای ورکول بدعت او حرام دی او د دغه حدیث څخه هم دا ثابتیږي ځکه رسول الله ﷺ به د یو سړی پر هغه فعل باندي په غصه کیدی چي د ګناه باعث به وو د امام شافعي رحمه الله په نزد درې طلاقه په یوه ځای ورکول حرام نه دي بلکه ښه کار نه دی.

علماء کرام وایي چي درې طلاقه په یو وار نه ورکولو کي ګټه داده چي یو طلاق یا دوه طلاقه څخه وروسته کیدای سي الله تعالی د خاوند زړه هغه ښځي ته مائل کړي او د هغه په فیصله کي یو تبدیلي راسي چي هغه بېرته رجوع وکړي او د دواړو په مینځ کي د جلا والی نوبت نه راسي.

د علماؤ په دې باره کي مختلف قولونه نقل سوي دي که چیري یو سړی خپل ښځي ته دا ووایي چي انت طالق یعني پر تا دي درې طلاقه وي، نو ایا د هغه پر ښځه به یو طلاق واقع سي که درې طلاقه واقع کیږي، امام ابوحنیفة، امام مالک، امام شافعي او امام احمد او جمهور علماء وایي چي درې طلاقه واقع کیږي حال دا چي طاوس او ځیني اهل ظاهر دا وایي چي یو طلاق واقع کیږي.

د یو صحابي دا ویل چي زه هغه سړی قتل نه کړم، دا په دې وجه وو چي رسول الله ﷺ هغه سړي ته په کتاب الله باندي ټوکي کونکی ویلي وه چي کفر دی که چیري یو مسلمان د کفر په حد کي داخل سي نو د هغه سزا قتل ده حالانکه هغه صحابي په دې پوه نه سو چي رسول الله ﷺ د هغه سړي په باره کي کوم الفاظ فرمایلي دي هغه د زجر او توبیخ په وجه دي او د هغه حقیقي معنی مراد نه ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۳۱۵۳﴾: وَعَنْ مَالِكٍ بَلَغَهُ اَنَّ رَجُلاً قَالَ لِعَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ إِنِّيْ طَلَّقْتُ

د حضرت مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چي هغه ته معلومه سوې ده چي يوه سړی عبد الله ابن عباس رضي الله عنه ته وويل: چي ما و خپلي ښځي ته په يوه وار

امْرَأَتِيْ مِائَةَ تَطْلِيقَةٍ فَمَاذَا تَرٰى عَلَيَّ؟ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ طُلِّقَتْ مِنْكَ بِثَلاَثٍ

سل طلاقه ور کړی دی تا سو زما په هکله څه حکم کوی؟ ابن عباس رضي الله عنه ورته وويل: په درې واره طلاق ويلو سره ستا طلاقونه واقع سوه او ستا ښځه ستا څخه جلا سوه

وَسَبْعٌ وَتِسْعُوْنَ اتَّخَذْتَ بِهَا آيَاتِ اللهِ هُزُوًا. رواه في الموطأ

او پاته اووه نيوي طلاقو سره دي د خداي جل جلاله د اياتونو سره ټوکي وکړې. (مؤطا).

تخريج: الامام مالک في الموطا ۲\۵۵۰، رقم: ۱.

تشريح: په مخکني حديث کي چي د کوم آيت (الطلاق مرتان...) ذکر سوی دی حضرت ابن عباس رضي الله عنه دې ته اشاره کړې ده چي تا په داسي کولو سره د الله جل جلاله د حکم خلاف ورزې کړې ده

د الله جل جلاله په نزد طلاق بد شی دی

﴿۳۱۵۴﴾: وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

يَا مُعَاذُ مَا خَلَقَ اللهُ شَيْئًا عَلٰى وَجْهِ الْأَرْضِ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنَ الْعِتَاقِ وَلاَ خَلَقَ

اې معاذه! الله تعالي چي څومره شيان د ځمکي پر مخ پيدا کړی دي نو په هغوی کي تر ټولو

اللهُ شَيْئًا عَلٰى وَجْهِ الْأَرْضِ أَبْغَضَ إِلَيْهِ مِنَ الطَّلاَقِ. رواه الدار قطني

خوښ شی الله جل جلاله ته د مينزي يا غلام ازادول دي او تر ټولو بد شی د الله جل جلاله په نزد طلاق دی. (دار قطني)

تخريج: سنن الدار قطني ۴\۳۵، رقم: ۹۴.

تشريح: غلام او مينزه ازادول د الله تعالى په نزد تر ټولو غوره ځکه دی چي ددې په وجه يو انسان ته د هغه پيدائشي او فطري حق رسيږي هغه ته د يو داسي مخلوق د غلامۍ څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

خلاصون په برخه کيږئ چي د انسان کېدو د حيثيت سره د هغه د مرتبې برابر دي او هغه د خپل پروردګار عبادت او طاعت ته فارغ سي او د هغه مالک د خپل دغه قرباني په وجه د دوږخ د اور څخه خلاصون تر لاسه کوي.

د خراب طلاق څخه مراد دادی چي د الله تعالى په نزد هغه طلاق ډېر خراب دی چي د يو حاجت او ضرورت څخه پرته محض د خپل نفس د خوشحاله کولو لپاره ورکړل سي، علامه ابن همام رحمة الله عليه وايي چي په ځينو حالاتو کي طلاق ورکول مستحب هم دی د مثال په توګه ښځه لمونځ نه کوي او بد کاره وي نو هغې ته طلاق ورکول غوره دی.

په فتاوی قاضي خان کي ليکلي دي که چيري د يو چا ښځه لمونځ نه کوي نو هغه د دې وړ ده چي هغې ته طلاق ورکړل سي که څه هم د هغه سړي سره دومره مال نه وي چي د هغې مهر ادا کړي.

د ابو حفص بخاري رحمة الله عليه دا قول نقل سوی دی که چيري يو بنده په داسي حال کي د الله تعالى ملاقات وکړي (يعني مړ سي) چي د هغه پر غاړه د هغه د ښځي مهر وي نو هغه زما په نزد د هغه څخه زيات غوره دی چي هغه د يو داسي ښځي سره صحبت وکړي کوم چي لمونځ نه کوي. دغه حديث شريف پر دې دلالت کوي چي نکاح کول د عبادت لپاره د کونج اختيارولو څخه غوره دی.

بَابُ الْمُطَلَّقَةِ ثَلاَثًا

(د هغي ښځي بيان چي درې طلاقه ورکړل سوي وي)

کومي ښځي ته چي درې طلاقه ورکړل سي د هغې حکم په دغه باب کي بيان سوی دی، چي کله يو سړی خپل ښځي ته درې طلاقه ورکړي او بيا هغه خپل ښځه بېرته کول غواړي نو دا صورت ممکن دی کله چي هغه ښځه دوهم سړي سره نکاح وکړي او د هغه سره کوروالي وکړي بيا هغه سړی طلاق ورکړي او هغه ښځه د خپل عدې د پوره کولو څخه وروسته د اول خاوند سره نکاح وکړي، د دغه مرحلو څخه د تېرېدو وروسته به هغه ښځه خپل اول خاوند ته حلاله وي.

د مشکوة په ځينو نسخو کي د باب المطلقة ثلاثا پر ځای دا عبارت هم ليکل سوی دی چي (وفيه ذکر الظهار والايلاء) يعني په دغه باب کي د ظهار او ايلاء ذکر هم سوی دی، د ظهار او ايلاء معنی او د هغه مسائل به انشاء الله تعالى مخته راسي.

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د حلالې صحيح كېدل ...

﴿۳۱۵۵﴾: عَنْ عَائِشَةَ قالت جَاءَتْ امْرَأَةُ رِفَاعَةَ الْقُرَظِيِّ إِلَى رَسُولِ اللّهِ صَلَّى

د بي بي عائشې ﷺ څخه روايت دی چي د رفاعه قرظي ښځه د رسول الله ﷺ په خدمت كي

اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ اِنِّي كُنْتُ عِنْدَ رِفَاعَةَ فَطَلَّقَنِي فَبَتَّ طَلَاقِي فَتَزَوَّجْتُ

حاضره سوه او عرض يې وكړ زه د رفاعه په نكاح كي وم او هغه ما ته درې طلاقه راكړه وروسته مي نكاح وكړه

بَعْدَهُ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ الزَّبِيرِ وَ مَا مَعَهُ اِلاَّ مِثْلُ هُدْبَةِ الثَّوْبِ فَقَالَ

د عبدالرحمن بن زبير ﷺ سره او د هغه سره (مخصوصه عضوه) نسته خو د زړېدلي ټوكر په شان رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:

اَتُرِيدِينَ اَنْ تَرْجِعِي اِلَى رِفَاعَةَ قَالَتْ نَعَمْ قَالَ لَا حَتَّى تَذُوقِي عُسَيْلَتَهُ وَيَذُوقَ عُسَيْلَتَكِ. متفق عليه

ايا ته د دويم وار لپاره اراده لرې چي د رفاعه په نكاح كي راسې؟ هغې ورته وويل : هو! وروسته نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل : ته تر هغه وخته پوري د رفاعه سره نكاح نسې كولاي تر څو چي ته د عبدالرحمن څخه خوند وانخلې او عبدالرحمن ستا څخه خوند وا نخلي. (بخاري او مسلم).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵\۲۴۹، رقم: ۲۶۳۹، ومسلم ۲\۱۰۵۵، رقم: ۱۱۱\۱۴۳۳

تشريح: د حديث د آخري جملې مطلب دا دی چي تر څو پوري ستا دوهم خاوند ستا سره جماع ونه كړي (او بيا د هغه د طلاق څخه وروسته د عدې ورځي پوره نه سي) ته خپل مخكني خاوند يعني رفاعه ﷺ سره نكاح نه سې كولای، دا حديث مشهور دی او پر دې خبره دلالت كوي چي حلاله يعني د مخكني خاوند لپاره د حلال كېدو لپاره د بل چا سره محض نكاح كول كافي نه دي بلكه د هغه سره جماع كول هم ضروري دي البته په جماع كي يوازي دخول كافي دی انزال شرط نه دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

پر محلل او محلل له باندي لعنت

﴿۳۱۵۶﴾: عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ لَعَنَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُحَلِّلَ وَالْمُحَلَّلَ لَهُ. رواه الدارمي ورواه ابن ماجه عن علي وابن عباس وعقبة بن عامر.

د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ په حلالونکي او چي ورته حلاليږي دواړو باندي لعنت ويلي دی (يعني که يو سړی خپلي ښځي ته درې طلاقه ورکړي بيا هغه و بل سړی ته ووايي چي ته د دې سره نکاح وکړه او زما دپاره يې حلاله کړه نبي كريم ﷺ پر دې دواړو باندي لعنت ويلي دی). (دارمي او ابن ماجه د حضرت علي رضي الله عنه حضرت ابن عباس رضي الله عنه او حضرت عقبه بن عامر رضي الله عنه څخه روايت نقل کړی دی).

تخريج: سنن الدارمي ۲\۲۱۱، رقم: ۲۲۵۸.

تشريح: د مثال په توګه دوه کسان دي چي د يوه نوم زيد دی او د بل نوم بكر دی، زيد خپل ښځي خالدې ته درې طلاقه ورکړي دي او د هغې د عدې ورځي پوره سوي دي اوس زيد غواړي چي خالده بېرته په خپل زوجيت کي راولي نو دوهم سړی د خالدې سره په دې شرط نکاح كوي چي د جماع څخه وروسته به خالدې ته طلاق ورکړي تر څو چي خالده د مخکني خاوند زيد سره بېرته نکاح وکړي او د خالدې اول خاوند ته محلل له ويل كيږي.

په حديث کي ددغه دواړو په باره کي ويل سوي دي چي رسول الله ﷺ پر هغوی لعنت ويلی دي پر حلاله کونکي باندي د لعنت ويلو وجه داده چي هغه په ژبه سره د تحليل د شرط اظهار او اقرار کولو څخه وروسته او محض د جلاوالي اختيارولو په قصد سره د هغه ښځي سره نکاح وکړه حال دا چي نکاح ددې لپاره مشروع سوې ده چي ددې په ذريعه سړی او ښځه د همېشه لپاره د يو بل د ژوند ملګري وي نو په دغه صورت کي نه يوازي دا چي د نکاح پر اصل مقصد باندي رد واقع كيږي بلکه د ښځي عزت او حرمت هم مجروح كيږي ځکه په يو حديث کي هغه ته د مستعار ميږي سره تشبيه ورکړل سوې ده.

پر محلل له يعني اول خاوند باندي د لعنت ويلو وجه داده چي ددغه صورت حال او ددغه

Maktaba Tul Ishaat.com

نکاح اصل باعث هغه جوړ سوی دی مګر دا خبره دي په ذهن کي وي چي د حديث څخه دا معلوميږي چي په دغه صورت کي عقد نکاح باطل کيږي بلکه د حديث د الفاظو څخه دا ثابتيږي چي عقد صحيح کيږي ځکه چي په حديث کي نکاح کونکي ته محلل ويل سوي دي او دا ظاهره خبره ده چي يو محلل په هغه صورت کي وي کله چي عقد صحيح وي په عقد فاسد سره نه محلل کيږي نو ثابته سوه چي په دغه ارشاد کي د لعنت د حقيقي مفهوم مراد نه دی بلکه دلته مراد د محلل او د محلل له بدوالی ظاهرول دي او دا واضح کول دي چي دا يو بد کار دی چي يو سليم الطبع انسان يې نه سي زغملای.

د حلاله د مکروه تحريمي کېدو صورت : د هدايه او د فقه د نورو کتابو څخه معلوميږي که چيري حلاله په ژبه سره مشروط کړل سوې وي يعني محلل هغه ښځي ته چي د هغې خاوند ورته دري طلاقه ورکړي دي دا ووايي چي زه ستا سره له دې کبله نکاح کوم چي تا د هغه خاوند لپاره چي تا ته يې طلاق درکړی دی حلاله کړم (يعني زه يوازي د دې لپاره ستا سره نکاح کوم چي زه د جماع څخه وروسته تا طلاقه کړم او د اول خاوند لپاره ستا دوهم وار نکاح کول حلال سي) يا ښځه محلل ته دا ووايي چي زه ستا دد ې لپاره نکاح کوم چي زه د خپل اول خاوند لپاره حلاله سم نو په دغه صورت کي به حلاله مکروه تحريمي وي مګر که چيري په ژبه سره دا و نه ويل سي مګر په نيت کي دا خبره وي نو بيا محلل به نه د مؤاخذې وړ وي او نه به د لعنت وړ وي ځکه چي په دغه صورت کي به دا ويل کيږي چي د هغه مقصد په اصل کي د حالاتو اصلاح ده.

ابن همام رحمة الله عليه ويلي دي که چيري هغه ښځه کومي ته چي دري طلاقه ورکړل سوي دي د غير کفو (يعني غير سيال) سره د خپل ولي د اجازې څخه پرته نکاح وکړي او بيا د هغه سره جماع هم وکړي نو په دغه صورت کي به هغه ښځه د اول خاوند لپاره حلاله نه وي او فتوا پر همدې باندي ده.

د ايلاء مسئله

﴿۳۱۵۷﴾: وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ قَالَ أَدْرَكْتُ بِضْعَةَ عَشَرَ مِنْ أَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّهُمْ يَقُوْلُ يُوْقَفُ الْمُؤْلِيْ. رواه في شرح السنة

د حضرت سليمان بن يسار رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په صحابه وو کي تر لسو

Maktaba Tul Ishaat.com

كسانو زيات ليدلي دي چي د هغوی بيان دی چي ايلاء كونكي ته دي مهلت وركړل سي (يعني چاچي دا قسم كړی وي چي تر څلورو مياشتو پوري يا د دې څخه زيات د خپلي بي بي سره كوروالي ونه كړي نو د ميعاد تر تېرېدو وروسته و هغه ته وخت وركړل سي يا خو به خپله بي بي بيرته اخلي او كفاره دي اداء كړي يا دي طلاق وركړي) . (شرح السنة) .

تخريج: البغوي في شرح السنة ٩\٢٣٧، رقم: ٢٣٧٣.

تشريح: ايلاء دې ته وايي چي يو سړی دا قسم وكړي چي زه به څلور مياشتي يا تر دې زيات د خپل ښځي سره جماع نه كوم كه چيري هغه د خپل ښځي سره جماع ونه كړي تر دې چي څلور مياشتي تېري سوې نو په دغه صورت كي د اكثرو صحابه كرامو د قول سره سم د هغه سړي پر ښځه د محض څلورو مياشتو تېرېدو څخه وروسته طلاق نه واقع كيږي بلكه ايلاء كونكي به ودرول سي يعني قاضي او حاكم به هغه بندي كوي او هغه ته به دا وايي چي يا خو خپلي ښځي ته رجوع وكړه يعني د هغې سره جماع وكړه او د خپل قسم نه پوره كولو كفاره وركړه او يا خپلي ښځي ته طلاق وركړه، د امام مالك ، امام شافعي او امام احمد رحمة الله عليهم دا مذهب دی او امام شافعي رحمة الله عليه وايي كه چيري هغه سړی د حاكم او قاضي پر دغه خبره عمل ونه كړي يعني نه ښځي ته رجوع كوي او نه طلاق وركوي نو حاكم او قاضي ته اختيار دی چي د هغه ښځي ته يو طلاق وركړي .

د امام ابو حنيفة رحمة الله عليه مذهب دادی چي په دغه صورت كي كه چيري هغه سړی په څلور مياشتو كي دننه د خپل ښځي سره جماع وكړي نو د هغه ايلاء به ساقط سي مگر پر هغه به د قسم نه پوره كولو كفاره لازميږي او كه چيري هغه جماع ونه كړي تر دې چي څلور مياشتي تېري سي نو د هغه ښځه به په يوه طلاق بائن طلاقه سي ، د ايلاء نور مسائل او تفصيل د فقهي په كتابو كي كتلای سئ .

د ظهار حكم

﴿٣١٥٨﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَلَمَةَ أَنَّ سَلْمَانَ بْنَ صَخْرٍ وَيُقَالُ لَهُ سَلَمَةُ بْنُ صَخْرٍ

د حضرت ابو سلمه رضي الله عنه څخه روايت دی چي سليمان بن صخر خپله ښځه د ځان لپاره د خپلي

الْبَيَاضِيُّ جَعَلَ امْرَأَتَهُ عَلَيْهِ كَظَهْرِ أُمِّهِ حَتّٰى يَمْضِيَ رَمَضَانُ فَلَمَّا مَضٰى نِصْفٌ

مور د شا په شان وگرځوله (مثلا دا يې ورته وويل چي ته ما ته د خپلي مور د شا په شان يې) تر

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه وخته پوري ترڅو چي روژه ختمه نسي وروسته روژه نه وه تیره سوی چي

مِنْ رَمَضَانَ وَقَعَ عَلَيْهَا لَيْلًا فَأَتَى رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ

سلیمان د خپلي ښځي سره کوروالي وکړه وروسته هغه د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او واقعه یې ورته بیان کړه

ذٰلِكَ لَهُ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ أَعْتِقْ رَقَبَةً قَالَ لَا أَجِدُهَا قَالَ فَصُمْ شَهْرَيْنِ

رسول الله ﷺ ورته حکم ورکړ چي ته یو غلام ازاد کړه هغه عرض وکړ چي زه د غلام د ازادېدو وس نه لرم نبي کریم ﷺ ورته وویل نو بیا دوې میاشتي مسلسل روژې و نیسه

مُتَتَابِعَيْنِ قَالَ لَا أَسْتَطِيعُ قَالَ أَطْعِمْ سِتِّينَ مِسْكِينًا قَالَ لَا أَجِدُ فَقَالَ

هغه وویل چي د روژو د نیولو هم طاقت نه لرم، نبي کریم ﷺ ورته وویل: په شپېتو مسکینانو باندي ډوډۍ وخوره عرض یې وکړ چي د دې هم را سره ګنجائش نسته نو رسول الله ﷺ

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِفَرْوَةَ بْنِ عَمْرٍو أَعْطِهِ ذٰلِكَ الْعَرَقَ وَهُوَ مِكْتَلٌ

فروه بن عمر رضی اللہ عنہ ته حکم وکړ چي د خرماؤ یوه کڅوړه هغه ته ورکړه (چي هغه یوه سړی راوړې

يَأْخُذُ خَمْسَةَ عَشَرَ صَاعًا أَوْ سِتَّةَ عَشَرَ صَاعًا لِيُطْعِمَ سِتِّينَ مِسْكِينًا. رواه

وه) او په هغه کي تر پنځلسو صاعو او شپاړلسو کاسو پوري خرماوي وې چي ورکړي دي شپېتو مسکینانو ته. (ترمذي او ابو داؤد)

الترمذي و روى ابوداؤد وابن ماجة والدارمي عن سليمان بن يسار عن سلمة بن صخر نحوه قال كنت امرءا اصيب من النساء ما لا يصيب غيري و في روايتهما اعني اباداؤد والدارمي فاطعم وسقا من تمر بين ستين مسكينا.

ابن ماجه او دارمي د سلیمان بن یسار څخه او هغه د سلمه بن صخر څخه هم په دې شان روایت

کړې دی هغه وویل چې د ښځو سره زما تعلق د نورو ښځه زیات دی او د ابوداؤد او دارمي په روایت کې بیان دی چې د خرماؤ یو وسق شپېتو مسکینانو ته ورکړه.

تخريج: الترمذي في السنن ۳/ ۵۰۳، رقم: ۱۲۰۰

تشريح: په دغه حدیث شریف کې د ظهار حکم بیان سوی دی، ظهار دې ته وایي چې یو سړی خپل ښځې ته یا د هغې د بدن یو داسي اندام ته چې د هغه په ویلو سره ټول بدن مراد کیږي یا د هغې د بدن یو داسي اندام ته چې غیر متعین وي محرمات ابدیه (یعني د مور، خور، عمه او داسي نور) د بدن د یو داسي اندام سره تشبیه ورکړي چې هغه ته کتل حلال نه وي لکه یو څوک خپل ښځې ته ووایي چې ته پر ما زما د مور د شا په ډول حرامه یې، یا ستا د بدن نیمه برخه زما د مور د شا (ملا) یا نس په ډول ده یا زما د مور د ورون په ډول ده یا زما د خور یا زما د عمه د ملا په ډول ده، په همداسي ویلو سره د هغه ښځې سره جماع کول یا داسي فعل کول چې د جماع سبب جوړیږي لکه لاس وروړل، مچه اخیستل او داسي نور تر هغه وخته پوري حرام دي تر څو چې د ظهار کفاره ادا نه کړل سي او که چیري یو څوک د ظهار د کفارې ادا کولو څخه مخکې جماع وکړي نو پر هغه باندي د مخکنۍ کفارې څخه علاوه نور څه نه واجبیږي مګر هغه باید چې د الله تعالی څخه بخښنه وغواړي او بیا تر څو چې کفاره ادا نه کړي دوهم وار د هغې سره جماع و نه کړي.

دا خبره باید په ذهن کې وي چې ظهار یوازي د ښځې او مینزي سره کیږي او ښځه که ازاده وي یا مینزه وي همدارنګه مسلمانه وي یا کتابیه یعني عیسائي یا یهودي وي، د ظهار نور مسائل د فقهي په کتابو کې کتلای سئ.

علامه طیبي رحمة الله علیه وایي چې د حدیث الفاظ (حتی یمضي رمضان) یعني تر څو چې رمضان ختم سي؛ دلته ظهار موقت صحیح کیږي او قاضي خان رحمة الله علیه ویلي دي چې کله یو سړی موقت ظهار کوي نو هغه تر هغه وخته پوري ظهار کونکی وي او کله چې هغه ټاکل سوی وخت تېر سي نو ظهار باطل کیږي.

علامه ابن همام رحمة الله علیه وایي که چیري یو سړی ظهار وکړي او د یو ورځې د مثال په توګه د جمعې د ورځې استثناء وکړي نو دا نه صحیح کیږي او که چیري د یوې ورځې یا یوې میاشتي لپاره ظهار وکړي نو تر هغه وخته پوري قید لګول صحیح دي او بیا د هغه وخت تېرېدو څخه وروسته ظهار نه پاته کیږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

اطعم ستين مسكينا : يعني شپېتو مسكينانو ته ډوډۍ وركړه ، ددې څخه دوې خبرې مراد دي يا خو شپېته مسكينانو ته دوه وخته په ماړه نس خوراك وركول دي او يا په هغوى كي هر يوه ته د صدقه فطر په اندازه غله يا د هغه قيمت وركول دي او څرنګه چي د كفارې ادا كولو لپاره د غلام ازادولو په صورت كي د جماع څخه مخكي يو غلام ازادول ضروري دي يا د كفارې ادا كولو لپاره دوې مياشتي د روژې نېولو په صورت كي د جماع څخه مخكي دوې مياشتي پرله پسې روژې نيول ضروري دي همدارنګه مسكينانو ته خوراك وركول هم د جماع كولو څخه مخكي ضروري دی.

د حديث دغه جمله (شپېته مسكينانو ته خوراك وركړه) په دې باره كي دا يو تردد پيدا كيدای سي چي رسول الله ﷺ شپېتو مسكينانو ته د خوراك وركولو لپاره چي سلمه ابن صخر رضي الله عنه كومي خرماوي وركړې د هغو مقدار خپله د روايت د وضاحت سره سم پنځلس يا شپاړلس صاع وو ، ددې څخه معلومه سوه چي هر مسكين ته يو صاع وركول واجب نه دي حال دا چي د فقهي په كتابو كي دا ليكلي دي كه چيري خرماوي وركړل سي نو د صدقه فطر د اندازې برابر يعني يو يو صاع دي وركړل سي.

د حديث د جملې او د فقهي په حكم كي اختلاف واقع سو مګر د دغه جملې كه چيري دا ترجمه وكړل سي چي هغه خرماوي د شپېته مسكينانو په خوړلو كي صرف كړې نو بيا څه تعارض نه پاته كيږي ځكه چي په داسي ويلو سره به د ارشاد مطلب دا وي چي په دغه خرماوو كي د خپل طرف څخه د نورو خرماوو په يو ځای كولو سره پر شپېته مسكينانو باندي وويشه.

د دغه څخه علاوه د ابوداؤد او دارمي د يو بل روايت دا الفاظ چي شپېته مسكينانو ته يو وسق خرماوي وركړه ، دا هم ددې دليل دی چي د دغه جملې څخه دا مراد نه دی چي يوازې دغه خرماوي شپېته مسكينانو ته وركړه بلكه مراد دادی چي په دغه خرماوو كي د خپل طرف څخه هم د خرما په يو ځای كولو سره د يو وسق په اندازه پوره كړه او بيا هر مسكين ته يو يو صاع خرماوي وركړه ، واضحه دي وي چي يو وسق د شپېته صاع په اندازه دی.

د ظهار كفاره

﴿۳۱۵۹﴾ : وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ عَنْ سَلَمَةَ بْنِ صَخْرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت سليمان بن يسار رضي الله عنه څخه او هغه د سلمه بن صخر څخه روايت كوي چي رسول الله

Maktaba Tul Ishaat.com

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمُظَاهِرِ يُوَاقِعُ قَبْلَ أَنْ يُكَفِّرَ قَالَ كَفَّارَةٌ وَاحِدَةٌ . رواه الترمذي وابن ماجة .

ﷺ د ظهار کونکي په اړه فرمايلي دی : که هغه دکفاره ورکولو څخه ترمخه د ښځي سره صحبت وکړي نو په هغه باندي يوه کفاره واجب ده . (ترمذي ابن ماجه) .

تخريج: الترمذي في السنن ٣\٥٠٢، رقم: ١١٩٨، وابن ماجه في السنن ١\٦٦٦، رقم: ٢٠٦٤

تشريح: د اکثرو علماؤ دا مذهب دی که چيري يو سړی ظهار وکړي او بيا د کفارې ادا کولو څخه مخکي جماع وکړي نو پر هغه هم يوه کفاره واجبيږي مګر ځيني علماء وايي چي د کفارې ادا کولو څخه مخکي د جماع کولو په صورت کي دوې کفارې واجبيږي .

که يو سړی د خپلو ډېرو ښځو سره ظهار وکړي يعني هغوی ټولو ته داسي ووايي چي تاسو پر ما باندي زما د مور د ملا په ډول حرامي ياست نو په دغه صورت کي په اتفاق سره د ټولو علماء دادي چي دغه سړی به د هغه ټولو سره ظهار کونکی سي البته په دې باره کي اختلافي قولونه دي چي پر هغه به يوه کفاره واجبه وي که زياتي ؟ د امام اعظم ابو حنيفة او امام شافعي رحمة الله عليهما په نزد پر هغه څو کفارې واجبيږي يعني په هغه ښځو کي چي د کومي سره د جماع اراده وکړي مخکي به کفاره ادا کول واجب وي، د حسن ، زهري ، ثوري او نورو حضراتو هم دا قول دی ، امام مالک او امام احمد رحمة الله عليهما فرمايي چي پر هغه يوه کفاره واجب ده يعني هغه دي اول يوه کفاره ادا کړي او د هغه څخه وروسته د ښځي سره جماع کول ورته جائز دي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ (دريم فصل)

﴿٣١٦٠﴾: عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَجُلًا ظَاهَرَ مِنِ امْرَأَتِهِ فَغَشِيَهَا

حضرت عکرمه رضي الله عنه د ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت کوي چي يوه سړي د خپلي ښځي سره ظهار وکړ او بيا د کفارې د ورکولو څخه وړاندي يې د هغې سره صحبت وکړ

قَبْلَ أَنْ يُكَفِّرَ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ مَا حَمَلَكَ

او وروسته د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او واقعه يې ورته بيان کړه نبي کريم ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com

ورته و فرمايل ته په دا کار کولو باندي څه شي اماده کړې ؟

عَلَى ذٰلِكَ قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ رَأَيْتُ بَيَاضَ حِجْلَيْهَا فِي الْقَمَرِ فَلَمْ أَمْلِكْ نَفْسِي

هغه عرض وکړ يا رسول الله ! د سپوږمۍ په رڼا کي د هغې سپين پايزېب زما په نظر راغلی او زه يې په جماع کولو مجبور کړم

أَنْ وَقَعْتُ عَلَيْهَا فَضَحِكَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَمَرَهُ أَلَّا يَقْرَبَهَا

په دې اوربدو سره نبي کريم ﷺ وخندل بيا يې حکم ورکړ تر څو پوري چي دي کفاره نه وي ادا

حَتّٰى يُكَفِّرَ . رواه ابن ماجة و روى الترمذي نحوه وقال هذا حديث حسن صحيح غريب و روى ابوداؤد والنسائي ونحوه مسندا ومرسلا وقال النسائي المرسل اولى بالصواب من المسند .

کړې هغې ته نژدې مه ورځه .(ابن ماجه) ترمذي ويلي چي دا حديث حسن صحيح غريب دی . او ابو داؤد دا مسندا او مرسلا روايت کړی او ويلي يې دی چي مرسل بهتر دی د مسند څخه په حقوالي کي .

تخريج: سنن ابن ماجه ١\ ٦٦٦، رقم: ٢٠٦٥، والترمذي ٣\ ٥٠٣، رقم: ١١٩٩، وابوداود ٣\ ٦٦٦، رقم: ٢٢٢١، والنسائي ٦\ ١٦٧، رقم: ٣٤٥٧.

د لغاتو حل: حَجليها : اى خلخالها (پازېب)

===========

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ فِيْ وُجُوْبِ كَوْنِ الرَّقَبَةِ الْمصتقة كفارة مؤمنة

(په كفاره ظهار كي چي كوم غلام آزاد كړل سي، د هغه مؤمن كېدل ضروري دي كه يا؟)

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

كفاره ظهار

﴿۳۱۶۱﴾: عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ الْحَكَمِ قَالَ أَتَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت معاويه بن حكم رضي الله عنه څخه روايت دی چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سوم

فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ جَارِيَةً كَانَتْ لِي تَرْعَى غَنَمًا لِي فَجِئْتُهَا وَقَدْ فُقِدَتْ

او عرض مي وكړ يا رسول الله! زما يوه مينزه ده چي پسونه پيايي يوه ورځ زه و هغې ته ورغلم

شَاةٌ مِنَ الْغَنَمِ فَسَأَلْتُهَا عَنْهَا فَقَالَتْ أَكَلَهَا الذِّئْبُ فَأَسِفْتُ عَلَيْهَا وَكُنْتُ

نو يو پسه پكښي كم وو ما د هغې څخه د دې پوښتنه وكړه نو هغې را ته وويل چي شرموښ خوړلي دی ما ته په دې خبره غصه راغله او زه هم

مِنْ بَنِي آدَمَ فَلَطَمْتُ وَجْهَهَا وَعَلَيَّ رَقَبَةٌ أَفَأُعْتِقُهَا فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى

انسان يم (چي غصه كېږم) نو هغه مي پر مخ په چپلاخه ووهله او پر ما باندي د كفارې په ډول يو غلام ازادول واجب دی ايا زه د غه مينزه ازاده كړم؟ نبي كريم ﷺ مينزه را وغوښتل

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيْنَ اللّٰهُ فَقَالَتْ فِي السَّمَاءِ فَقَالَ مَنْ أَنَا فَقَالَتْ أَنْتَ رَسُولُ

او پوښتنه يې ځيني وكړه چي الله تعالي چيري دی؟ هغې وويل چي په اسمان كي. بيا نبي كريم ﷺ ورڅخه پوښتنه وكړه چي زه څوك يم؟ هغې ورته وويل ته د الله تعالي رسول يې

اللّٰهِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْتِقْهَا رواه مالك. و في رواية

رسول الله ﷺ وفرمايل: دا ازاده كړه. (مالک) او د مسلم په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي

مسلم قَالَ كَانَتْ لِي جَارِيَةٌ تَرْعَى غَنَمًا لِي قِبَلَ أُحُدٍ وَالْجَوَّانِيَّةِ فَاطَّلَعْتُ ذَاتَ

معاويه وويل زما يوه مينزه ده چي د احد په جوانيه ځای کي زما پسونه څروي يوه ورځ ما

يَوْمٍ فَإِذَا الذِّيبُ قَدْ ذَهَبَ بِشَاةٍ مِنْ غَنَمِنَا وَأَنَا رَجُلٌ مِنْ بَنِي آدَمَ آسَفُ كَمَا

خپل پسونه وليدل چي شرموښ يو څيني خوړلي وو او زه يو انسان يم (د بشريت په تقاضا سره) ماته هم داسي غصه راځي

يَأْسَفُونَ لكن صَكَكْتُهَا صَكَّةً فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَظَّمَ

څنګه چي نورو ته ما د هغې وهل وغوښتل مګر يوازي په يوه چپلاخه باندي مي اکتفاء وکړه بيا زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم او قصه مي ورته بيان کړه

ذَلِكَ عَلَيَّ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَفَلَا أُعْتِقُهَا قَالَ ائْتِنِي بِهَا فَأَتَيْتُهُ بِهَا فَقَالَ لَهَا

نو رسول الله ﷺ زما په هکله دا کار لوی وبلي ما عرض وکړ يا رسول الله! ايا زه دغه مينزه ازاده کړم؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: هغه مينزه دلته راوله نو ما هغه راوستل نو نبي کريم ﷺ د

أَيْنَ اللهُ قَالَتْ فِي السَّمَاءِ قَالَ مَنْ أَنَا قَالَتْ أَنْتَ رَسُولُ اللهِ قَالَ أَعْتِقْهَا فَإِنَّهَا مُؤْمِنَةٌ.

هغې څخه پوښتنه وکړه چي خداي تعالي چيري دی؟ هغې وويل په اسمان کي بيا نبي کريم ﷺ ور څخه پوښتنه وکړه زه څوک يم؟ هغې عرض وکړ تاسو د خداي تعالی رسول ياست نبي کريم ﷺ وفرمايل: ازاده يې کړه دا مسلمانه ده.

تخريج: مالک في الموطا ٢\٦٦٧، رقم: ٨، ومسلم ١\٣٨١، رقم: ٣٣\٥٣٧

تخريج: والجوانية: موضع قريب من احد. (يو چا ته نژدې). صککتها: ای لطمتها لطمة (چپلاخه وهل)

تشريح: په دغه باب کي ددغه حديث شريف په ذکر کولو سره د مصنف مقصد دا ظاهرول دي چي په ظهار کي د کفارې په توګه چي کوم برده (غلام يا مينځه) ازاد کړل سي د هغوی مسلمان کېدل ضروري دي، د امام شافعي رحمه الله مذهب دادی مګر په حنفي مذهب کي دا ضروري نه دي ځکه حنفيه دا حديث پر افضليت محمول کوي مګر د هغوی په نزد ددغه حديث څخه مراد

Maktaba Tul Ishaat.com

یوازي دا ظاهرول دي چي د ظهار په کفاره کي ازادېدونکې برده که مسلمان وي نو دا غوره او افضل دي

الله تعالی چیري دی؟ : ددغه الفاظو په ذریعه د رسول الله ﷺ مقصد د الله تعالی د ځای په باره کي سوال نه وو ځکه چي الله تعالی د مکان او زمان د قید څخه پاک دی بلکه دلته د رسول الله ﷺ مقصد دا پوښتنه کول وو چي وښیاست د الله تعالی حکم په کوم ځای کي جاري او ساري دی او د هغه پاچاهي او قدرت چیري ظاهر دی او ددغه سوال ضرورت دا وو چي هغه وخت د عربو کفارو به بُتان د عبادت وړ ګڼل او جاهلو خلکو به د هغه بُتانو څخه علاوه بل معبود نه ګڼی نو رسول الله ﷺ دا معلومول وغوښتل چي ایا دا مینزه مؤحده ده که مشرکه ده، یعني د رسول الله ﷺ مقصد په اصل کي د هغه بې شمېره معبودانو نفي کول وه کوم چي پر مځکه موجود وه نه دا چي په آسمان کي د الله تعالی د مکان ثابتول وه، هغه مینزي چي ذکر سوی جواب ورکړ نو رسول الله ﷺ ته معلومه سوه چي هغه مؤحده (توحید منونکې) ده او مشرکه نه ده.

د مالک رحمة الله عليه په روایت کي د حضرت معاویه رضي الله عنه څخه دا نقل سوي دي چي د یو بُرده ازادول په یو سبب سره واجب دي نو ایا زه هغه مینزه ازاده کړم چي هغه کفاره هم اداسي کوم چي واجب ده او د هغې د وهلو د وجي څخه چي ما ته پښیماني ده هغه هم ختمه سي، مګر مسلم چي کوم روایت نقل کړی دی د هغه د الفاظو څخه دا معلومېږي چي حضرت معاویه رضي الله عنه هغه مینزه محض ددې لپاره ازادول غوښتل چي هغه په غصه کي وهلې وه.

د دواړو روایتونو په مفهوم کي په ظاهره اختلاف معلومېږي مګر که چیري فکر وکړل سي نو په دواړو کي هیڅ اختلاف هم نه سته ځکه چي د مالک رحمة الله عليه په روایت کي دا مفهوم په صراحت سره بیان سوی دی چي په یو بل سبب سره پر ما باندي د بُرده ازادول واجب دي مګر د وهلو په وجه هم د هغې ازادول زما لپاره ضروري دي که زه هغه ازاده کړم نو ایا د هغه دواړو وجهو تقاضا به پوره سي، ددې پر خلاف د مسلم په روایت کي مطلق دي چي د هغه مطلب دادی چي پر دغه دواړو خبرو باندي محمول کیدای سي نو دا به وویل سي چي د مسلم د روایت مطلق مفهوم د مالک د روایت پر مقید مفهوم باندي محمول دی مګر د مسلم د روایت د الفاظو مطلب هم هغه دی کوم چي د مالک د روایت د الفاظو مطلب دی که چیري زه هغه مینزه ازاده کړم نو ایا دواړه سببه به پوره سي که یا،

د ظهار د کفارې مسائل

د حنفي مذهب سره سم د ظهار په کفاره کي تر ټولو اوله درجه د بُرده (مینزي یا غلام) د ازادولو ده ، بُرده که مسلمان وي یا غیر مسلمان ، ښځه وي که سړی وي کوچنی وي یا لوی او که څه هم کوڼ یا ړوند وي مګر دومره کوڼ وي که هغه په لوړ آواز سره مخاطب کړل سي نو هغه یې اوري او که چیري داسي برده وي چي د هغه یو لاس او یوه پښه پرې سوي دي نو د هغه ازادول به هم صحیح وي په شرط د دې چي دغه دواړه اندامونه د مختلف خواوو څخه پرې سوي وي مثلا که چیري راسته لاس پرې سوی وي نو چپه پښه به پرې سوی وي همدارنګه د هغه مکاتب ازادول هم صحیح دي چي هغه د خپل کتابت په بدل کي هیڅ نه وي ادا کړی .

کوم برده چي کونګی وي یا داسي کوڼ وي چي هغه بالکل هیڅ هم نه اوري نو د هغه په ازادولو سره د ظهار کفاره نه ادا کیږي همدارنګه د کوم برده چي دواړه لاسونه پرې سوي وي یا دواړې پښې یا د دواړو پښو بټې ګوتي پرې سوي دي یا یو لاس او یوه پښه د یوې خوا څخه پرې سوي وي مثلا راسته لاس یې هم پرې سوی وي او راسته پښه یې هم پرې سوی وي نو د داسي برده ازادول کافي نه دي ، داسي برده چي لیونی وي یعني پر هغه باندي همېشه لیوتوب خپور وي یا مدبر او ام ولد وي یا داسي مکاتب وي چي هغه د کتابت په بدله کي څه ادا کړي وي نو د هغوی په ازادولو سره د ظهار کفاره نه ادا کیږي .

دوهمه درجه د پرله پسې روژو نیولو ده یعني که چیري ظهار کونکي ته برده تر لاسه نه سي نو بیا هغه ته پرله پسې دوې میاشتي روژې نیول پکار دي په دې توګه چي هغه په دواړو میاشتو کي نه د رمضان روژه راسي او نه هغه ورځي راسي چي په هغه کي روژې نیول منع دي لکه د اخترو ورځي ، ایام تشریق او تر څو پوري چي روژې ختم نه سي (یعني تر څو چي دوې میاشتي پرله پسې روژې ختم نه سي) تر هغه پوري د ښځي سره صحبت نه کوي که چیري د روژو ختمېدو څخه مخکي د هغه ښځي سره (د کومي سره چي یې ظهار کړی دی) صحبت وکړي نو اوس به ټولي روژې بېرته د سره نیسي که څه هم د ورځي یې د هغې سره صحبت کړی وي یا په شپه کي ، او که څه هم په قصد سره یې کړی وي یا په هېره د ټولو یو حکم دی همدارنګه که د یو عذر په وجه یې روژه ماته کړې وي یا بېله عذره یې روژه ماته کړې وي .

دریمه درجه شپېته مسکینانو ته خوراک ورکول دي یعني که چیري یو سړی د ذکر سوو شرطو سره د روژې طاقت نه لري نو بیا هغه دي شپېتو مسکینانو ته دوه وخته ډوډۍ ورکړي یا هغوی ته دي اومه غله ورکړي ، د اومې غلې صورت دادی چي هر مسکین ته نیم صاع (پاو کم

Maktaba Tul Ishaat.com

دوه سېره) غنم يا يو صاع يعني درې نيم سېره اوربشي يا خرماوي يا دهغه قيمت ورکړي همدارنګه که چيري د يوه شي د ورکولو پر ځای دوه شيان ورکړل سي نو دا هم جائز دي .

په کفاره کي اباحت جائز دی : د اباحت مطلب دادی چي د خوراک په پخولو سره د فقير په مخکي کښېښودل سي چي د هغه څخه ځومره خوړل وغواړي وه يې خوري ، دا اباحت د کفاراتو په فديه کي جائز دی مګر په واجب صدقاتو لکه زکوة او داسي نورو کي جائز نه دی ځکه چي واجب صدقې يعني زکوة وغيره کي فقير د مالک کول ضروري دي ،

ددغه وضاحت څخه وروسته اوس په دې پوه سئ چي د ظهار په کفاره کي شپېته مسکينانو ته دوه وخته په ماړه نس خوراک ورکول کيږئ که څه هم هغه خوراک په يوه ورځ کي دوه وخته وي يعني په غرمه او په شپه کي په وخوړل سي ، همدارنګه په خوړولو کي د نس مړېدو اعتبار دی که څه هم په هر ځومره لږ خوراک باندي د هغه نس موړ سي ، او کوم چي د خوراک د نوعيت سوال دی نو د هغه انحصار د ورکونکي پر حيثيت او توان باندي دی چي هغه ځرنګه خوراک ورکولای سي ور دي يې کړي که په خوراک کي د اوربشو ډوډۍ وي نو د هغه سره کتغ ضروري دی البته د غنمو د ډوډۍ سره کتغ ضروري نه دی ، که چيري دوه وخته شپېته مسکينانو ته د خوراک ورکولو پر ځای يوه فقير ته تر شپېته ورځو پوري دواړه وخته خوراک ورکړل سي نو دا هم جائز دي مګر يو فقير ته په يوه ورځ د شپېته فقيرانو خوراک ورکول جائز نه دي په په دغه صورت کي به يوازي د يوې ورځي ادا سي .

که چيري ظهار کونکی د خوراک ورکولو په مينځ کي جماع وکړي نو په دغه صورت کي که څه هم هغه ګناه کار دی مګر د سره خوراک ورکول پکار نه دي که چيري پر يو سړی باندي د دوو ظهارو دوې کفارې واجب وي او هغه شپېتو فقيرانو ته نيم صاع غنم د کفارې په اعتبار سره يو يو صاع ورکړي نو د دواړو ظهارو کفاره به ادا نه سي بلکه د يوه ظهار کفاره به ادا سي مګر که چيري پر يو سړی باندي يوه کفاره د ظهار او يوه کفاره د روژې ماتولو واجب وي او هغه هر فقير ته يو يو صاع غنم ورکړي نو دا به جائز وي او دواړي کفارې به ادا سي .

========

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ اللِّعَانِ (د لعان بيان)

د لعان معنى او تعريف : د لعان او ملاعنة معنى پر يو بل باندي لعنت ويل دي مګر د شريعت په اصطلاح كي لعان دې ته وايي چي خاوند پر خپل ښځه باندي د زنا تهمت ولګوي يا كوم كوچنى چي پيدا سوى دى د هغه په باره كي دا ووايي چي دا زما نه دى او ښځه ددې په جواب كي خاوند ته ووايي چي ته پر ما باندي تهمت لګوې نو هغه ښځه قاضي او حاكم ته فرياد وكړي ، قاضي د خاوند په را غوښتلو سره د الزام ثابتولو لپاره ورته ووايي كه چيري خاوند د شاهدانو په ذريعه دا ثابته كړي نو قاضي به پر هغه ښځي د زنا حد جاري كړي او كه چيري خاوند د څلورو شاهدانو په ذريعه الزام ثابت نه كړي نو قاضي به خاوند ته دا ووايي چي داسي ووايه چي زه د الله ﷻ په شاهد كولو سره وايم چي ما د زنا كوم نسبت دې ته كړيدى زه په هغه كي رښتونى يم ، ښځي ته په اشاره كولو سره څلور واره به خاوند داسي وايي بيا په پنځم وار اشاره كولو سره به دا وايي چي ما دغه ښځي ته د زنا كوم نسبت كړى دى كه زه په هغه كي دروغجن يم نو پر ما دي د الله ﷻ لعنت وي .

كله چي خاوند پنځه واره داسي ووايي نو بيا ښځه سړي ته په اشاره كولو سره څلور واره داسي ووايي چي زه د الله ﷻ په شاهد ګرځولو سره وايم چي ده ما ته د زنا كوم نسبت كړى دى په هغه كي دى دروغجن دى بيا په پنځم وار سړي ته په اشاره كولو سره داسي ووايي چي دغه سړي ما ته د زنا كوم نسبت كړى دى كه په هغه كي دى رښتونى وي نو پر ما دي د الله ﷻ لعنت وي.

كله چي دواړه داسي ملاعنت وكړي نو حاكم به دواړو كي جلاوالى راولي او يو طلاق بائن به واقع كيږي او هغه ښځه به د هغه سړي لپاره همېشه حرامه سي كه ددې څخه وروسته سړى خپل ځان دروغجن وښيي يعني دا اقرار وكړي چي ما پر ښځه باندي د دروغو تهمت لګولى وو نو په دغه صورت كي به پر هغه د تهمت حد جاري كيږي او د ښځي سره نكاح كول به هغه ته صحيح سي مګر امام ابويوسف رحمه الله وايي كه چيري سړى خپل ځان دروغجن و ښيي نو بيا هم ښځه د هغه لپاره همېشه حرامه ده .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د لعان يو واقعه

﴿۳۱۶۲﴾: عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدِ السَّاعِدِيِّ قَالَ أَنَّ عُوَيْمِرَ الْعَجْلَانِيَّ قَالَ

د حضرت سهل رضي الله عنه بن سعد ساعدي څخه روايت دی چې عويمر عجلاني د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر سو او عرض يې وکړ

يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اَرَاَيْتَ رَجُلاً وَجَدَ مَعَ امْرَأَتِهٖ رَجُلًا أَيَقْتُلُهُ فَيَقْتُلُوْنَهُ أَمْ كَيْفَ

يا رسول الله! تاسو د هغه سړي په باره کې څه حکم ورکوئ چې د خپلې ښځې سره يو نا ولده سړی و نيسي ايا هغه وژني ؟ نو د مقتول وارثان به څوک وژني ؟ يا په يو داسي صورت کې څه

يَفْعَلُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أُنْزِلَ فِيْكَ وَفِيْ صَاحِبَتِكَ

کول پکار دي ؟ نبي کريم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمايل : الله جل جلاله ستا او ستا د ښځې په باره کې حکم نازل

فَاذْهَبْ فَأْتِ بِهَا قَالَ سَهْلٌ فَتَلَاعَنَا فِي المسجد وَأَنَا مَعَ النَّاسِ عِنْدَ رَسُوْلِ

کړی دی ته ولاړ سه خپله ښځه راوله د سعد بن سهل بيان دی زموږ په مينځ کې د ښځې خاوند دواړو په جماعت کې لعان وکړ

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا فَرَغَا قَالَ عُوَيْمِرٌ كَذَبْتُ عَلَيْهَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ

کوم وخت چې لعان وسو نو عويمر وويل : که زه دا ښځه د ځانه سره وساتم نو ګويا ما په دې

فَإِنْ جَاءَتْ بِهٖ أَسْحَمَ أَدْعَجَ الْعَيْنَيْنِ عَظِيمَ الْأَلْيَتَيْنِ خَدَلَّجَ السَّاقَيْنِ فَلَا

باندې د دروغو تور لګولی دی د دې څخه وروسته هغه و خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړه بيا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: که دا ښځه داسي بچی (اولاد) راوړي چې د هغه رنګ تور او سترګي يې توري وي د سترګو مردګي يې لوی وي او د دواړو پنډيو غوښه يې ډکه وي

أَحْسِبُ عُوَيْمِرًا إِلَّا قَدْ صَدَقَ عَلَيْهَا وَإِنْ جَاءَتْ بِهٖ أُحَيْمِرَ كَأَنَّهٗ وَحَرَةٌ فَلَا

نو عويمر رېښتني دی او د زنا تور لګول صحيح دي او که داسي بچی راوړي چې د هغه رنګ

Maktaba Tul Ishaat.com

سور بخن وي نو عويمر دروا غجن دی

أَحْسِبُ عُوَيْمِرًا إِلَّا قَدْ كَذَبَ عَلَيْهَا فَجَاءَتْ بِهِ عَلَى النَّعْتِ الَّذِي نَعَتَ رَسُولُ

نو ښځي هغسی بچی راوړ چي د هغه صفت رسول الله ﷺ بيان کړی وو او د عويمر بيان رېښتني

اللَّهِ ﷺ مِنْ تَصْدِيقِ عُوَيْمِرٍ فَكَانَ بَعْدُ يُنْسَبُ إِلَى أُمِّهِ. متفق عليه.

ثابت سو د دې څخه وروسته هغه کوچنی د خپلي مور ولور ته منسوب سو. (بخاري او مسلم)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۸\۴۴۹، رقم: ۴۷۴۵، ومسلم ۲\۱۱۲۹، رقم: ۱۴۹۲

د لغاتو حل: اسحَم: ای اسود: (تور). ادعج: السواد في العين. (تور سترګی). وحرة: دويبة حمراء تلتزق بالارض.

تشريح: که يو څوک يو پردی سړی د خپل ښځي سره پر زنا کولو باندي ووېني او هغه سړی مړ کړي نو په دې باره کي د علماؤ اختلافي قولونه دي چي هغه سړی د خپل ښځي سره پر زنا کولو باندي ووېني نو د اسلامي قانون سره سم د قصاص يعني د مرګ د سزا وړ دی که يا ؟ د جمهورو علماؤ قول دادی چي د مرګ سزا دي ورکړل سي مګر که چيري هغه سړی د دې په ثبوت کي چي مقتول د هغه ښځي سره زنا کړې ده څلور شاهدان وړاندي کړي يا خپله د مقتول وارثان د دې خبري اقرار وکړي نو په دغه صورت کي هغه ته د مرګ سزا نه سي ورکول کيدای، بيا هم دا خبره دي په ذهن کي وي چي د څلورو شاهدانو نه وړاندي کولو ياد مقتول د وارثانو د اقرار نه کولو په صورت کي هغه ته د مرګ سزا ورکړل سي نو د واقعې په اعتبار که چيري هغه رېښتونی وي نو د الله تعالی په نزد به ګناه کار نه ګڼل کيږي.

الله تعالی وحي نازل کړي دي : د دې مطلب دادی چي په دغه مسئله کي دغه آياتونه نازل سوي دي :

وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُن لَّهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ أَرْبَعُ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ وَالْخَامِسَةُ أَنَّ لَعْنَتَ اللَّهِ عَلَيْهِ إِن كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ.... الخ.

سورة النور

ژباړه : او کوم کسان چي پر خپلو ښځو باندي د زنا تهمت ولګوي او د هغوی سره شاهد نه وي نو د هغوی شاهدي داده چي هغه څلور واره د الله ﷻ په قسم کولو سره ووايي چي پر ما دي د

Maktaba Tul Ishaat.com

الله جل جلاله لعنت وي که چيري زه درواغجن يم ...

د ځينو مفسرينو د قول سره سم دغه آيت کريمه په نهم هجري کال کي د شعبان په مياشت کي نازل سوی دی، ابن مالک رحمة الله عليه وايي چي د دغه حديث شريف څخه په ظاهره دا معلوميږي چي د لعان په باره کي ذکر سوی آيت د حضرت عويمر رضي الله عنه پر واقعه باندي نازل سوی دی او په اسلام کي تر ټولو اول لعان د هغه له خوا سوی وو، ځيني علماء وايي چي دغه آيت کريمه د يو بل صحابي حضرت هلال ابن اميه رضي الله عنه په باره کي نازل سوی دی او په دغه حکم کي تر ټولو مخکي هلال رضي الله عنه لعان کړی دی، مخته به د ابن عباس رضي الله عنه روايت راسي چي د هغه دا ثابتيږي، نو په دغه صورت کي به د ارشاد (ستاسو په باره کي وحي نازل سوي دي) مطلب دا وي چي ستاسو د معاملې په ډول يوه معامله کي وحي نازل سوي دي.

ځيني حضرات وايي چي دا احتمال هم کيدای سي چي دغه آيت د دواړو په باره کي نازل سوی وي چي د هغه صورت به دا سي وي چي مخکي په هغوی کي يو چا د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه په خپل باره کي پوښتنه کړې وي بيا وروسته دوهمه قضيه وړاندي سوې وي او هغه هم د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه کړې وي تر دې چي د هغه دواړو په باره کي دغه آيت کريمه نازل سو، مګر په هغه دواړو کي حضرت هلال عليه السلام اول لعان کړی دی.

ما پر هغې د درواغو تهمت لګولی دی: دا حضرت عويمر رضي الله عنه د درو طلاقو سبب بيان کړ چي د دغه صورت څخه وروسته که چيري زه دغه ښځه په خپل نکاح کي وساتم او طلاق ورنه کړم نو د دې څخه دا لازميږي چي ما دغه ښځي ته د زنا نسبت په درواغو کړی دی ځکه د هغې په نکاح کي د ساتلو مطلب به دا وي چي ما څه ويلي دي هغه ټول درواغ دي او دا ښځه د بدکارۍ د ګناه څخه پاکه ده.

د لعان په صورت کي د خاوند او ښځي په مينځ کي د تفريق مسئله

﴿۳۱۶۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَاعَنَ بَيْنَ رَجُلٍ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم د يو سړي او ښځي په منځ کي لعان وکړ

وَامْرَأَتِهِ فَانْتَفَى مِنْ وَلَدِهَا فَفَرَّقَ بَيْنَهُمَا وَأَلْحَقَ الْوَلَدَ بِالْمَرْأَةِ. متفق عليه

بيا يې د سړي او ښځي په مينځ کي جلا والي راوست او بچی يې د ښځي ولور ته منسوب کړ.

(بخاري او مسلم)

Maktaba Tul Ishaat.com

وَفِي حَدِيثِهِ لَهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَظَهُ وَذَكَّرَهُ وَأَخْبَرَهُ

او په بخاري او مسلم کي يو بل روايت د ابن عمر رضي الله عنه څخه راغلې دی رسول الله ﷺ و هغه سړی ته نصيحت وکړ او د اخرت عذاب يې وریاد کړ

أَنَّ عَذَابَ الدُّنْيَا أَهْوَنُ مِنْ عَذَابِ الْآخِرَةِ ثُمَّ دَعَاهَا فَوَعَظَهَا وَذَكَّرَهَا

او پوه يې کړ چي د دنیا عذاب د اخرت د عذاب څخه ډېر اسانه دی (د دې لپاره چي هغه درواغ ونه وايي) بیا يې هغه ښځه را وغوښتل او هغې ته يې هم نصيحت وکړ او د اخرت عذاب يې

وَأَخْبَرَهَا أَنَّ عَذَابَ الدُّنْيَا أَهْوَنُ مِنْ عَذَابِ الْآخِرَةِ.

وریاد کړ او پوه يې کړه چي د دنیا عذاب د اخرت د عذاب څخه اسانه دی.

تخریج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۴۶۰، رقم: ۵۳۱۵، ومسلم ۲\۱۱۳۲، رقم: ۸\۱۴۹۴

تشریح: جلاوالی يې راوست: ددې مطلب دادی چي د لعان په صورت کي د ښځي او خاوند په مېنځ کي جلاوالی د حاکم او قاضي په حکم سره کیږي نه محض په لعان سره، د امام ابو حنیفة رحمه الله مذهب دادی او د هغه یو دلیل دا هم دی که چیري په نفس لعان سره جلاوالی واقع کیدای نو بیا به درې طلاقه ولي ورکول کیدای لکه څرنګه چي په ذکر سوي حدیث کي تېر سول چي حضرت عویمر رضي الله عنه د لعان څخه وروسته خپل ښځي ته درې طلاقه ورکړل.

د دنیا د عذاب څخه حد یعني شرعي سزا مراد ده، ددې وضاحت دادی که چیري یو سړی پر یو ښځه باندي (که خپل ښځه يې وي یا پردۍ ښځه وي) د زنا تهمت ولګوي او د هغه تهمت درواغ ثابت سي نو د شرعي قانون سره سم به پر هغه حد جاري کیږي یعني هغه به پر یو پاکي ښځي باندي د زنا د درواغو تهمت لګولو په سزا کي اتیا دُرې وهل کیږي او که چیري هغه سړی رېښتونی ثابت سي یعني دا خبره ثبوت ته ورسیږي چي هغه ښځي بدکاري کړې ده نو بیا پر هغه ښځي به حد جاري کیږي چي د واده کېدو په صورت کي به هغه سنګسار کیږي او د واده نه کېدو په صورت کي دا امکان کیدای سي که یو سړی د غلط فهمۍ په وجه یا د یو خاص جذبې په وجه پر ښځه باندي تهمت لګولی وي او بیا هغه ته دا یقین وسي چي ما پر ښځه کوم الزام لګولی دی هغه بې بنیاده دی مګر اوس ددې بیري څخه چي پر یو پاکي ښځي باندي د درواغو تهمت لګولی دی یا دا چي په حقیقت کي ښځي بدکاري کړې وي مګر ددې بیري څخه چي زه به

Maktaba Tul Ishaat.com

سنګسار کړل سم یا سل دُرې به ووهل سم د خپل هغه ګناه اعتراف او اقرار نه کوي بلکه ملاعنت ته تیاریږي نو رسول الله ﷺ د دغه امکاني صورت خلاف د دواړو په متنبه کولو سره وفرمایل چې د آخرت د عذاب په مقابله کې د دنیا عذاب ډېر اسانه او معمولي دی، څرنګه چې صورت حال وي او ریښتیا خبره وي د هغه اقرار وکړه او د دغه دنیا آسانه عذاب اختیار کړه او د آخرت د سخت عذاب څخه ځان وساته.

د لعان کونکو محاسبه په اخرت کې کیږي

﴿۳۱۶۴﴾: وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِلْمُتَلَاعِنَيْنِ حِسَابُكُمَا

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ لعان کوونکو ته وفرمایل: ستاسو

عَلَى اللَّهِ أَحَدُكُمَا كَاذِبٌ لَا سَبِيلَ لَكَ عَلَيْهَا قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَالِي قَالَ لَا

حساب به د خداي جل جلاله سره وي په تاسو کې خامخا یو دروغجن دی او س ستا د دې ښځې سره هیڅ اړیکي نسته (دا ښځه پر تا باندي د همېش لپاره حرامه ده) هغه سړی ورته وویل: زما مال (زما ورکول سوی مهر) نبي کريم ﷺ ورته وفرمایل:

مَالَ لَكَ إِنْ كُنْتَ صَدَقْتَ عَلَيْهَا فَهُوَ بِمَا اسْتَحْلَلْتَ مِنْ فَرْجِهَا وَإِنْ كُنْتَ

ستا مال و تا ته نسي درکول کیدای که ته په دعوه کې ریښتني یې نو ستا مال د هغې د شرمګاه د حلالولو په بدله کې ولاړی

كَذَبْتَ عَلَيْهَا فَذَاكَ أَبْعَدُ وَأَبْعَدُ لَكَ مِنْهَا. متفق عليه.

او که ستا دعوه د دروغو وي نو د مهر بیرته اخیستل ستا څخه ډېر لیري دي. بخاري او مسلم

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۴۹۶، رقم: ۵۳۵۰، ومسلم ۲\۱۱۳۱، رقم: ۵\۱۴۹۳

تشريح: ستا حساب به د الله جل جلاله سره وي: مطلب دادی چې په دغه دنیا کې خو موږ ستاسو دغه تنازعه د لعان په صورت کې ختمه کړې ده مګر ستاسو دواړو حقیقي محاسبه به په آخرت کې وي هلته به ستاسو د معاملې تحقیق کیږي او څوک چې دروغجن وي هغه ته به الله تعالی سزا ورکوي.

نو هغه مال د هغه بدله سوه...الخ: د دې خبري دلیل چې لعان کونکی دي مهر بیرته نه

Maktaba Tul Ishaat.com

اخلي ، په شرط ددې چي د هغې سره يې دخول کړی وي په دې باره کي د ټولو علماؤ په اتفاق سره دا مذهب دی البته د عدم دخول په باره کي اختلاف دی ، امام ابوحنيفة، امام شافعي او امام مالک رحمة الله عليهم وايي که چيري لعان کونکی د هغه ښځي سره دخول نه وي کړی نو په دغه صورت کي هغه ښځه د نيم مهر حقداره ده .

د لعان د آيت شان نزول

﴿۳۱۶۵﴾ : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ هِلَالَ بْنَ أُمَيَّةَ قَذَفَ امْرَأَتَهُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي هلال بن اميه د رسول الله ﷺ په حضور کي په

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَرِيكِ ابْنِ سَحْمَاءَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبَيِّنَةَ

خپلي ښځي او شريک بن سحماء باندي د زنا تور ولګوی نبي کريم ﷺ وفرمايل : شاهدان

أَوْ حَدًّا فِي ظَهْرِكَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِذَا رَأَى أَحَدُنَا عَلَى امْرَأَتِهِ رَجُلًا يَنْطَلِقُ

راوله کنه په تا باندي به شرعي حد قائم سی هلال عرض وکړ يا رسول الله! کله چي په موږ کي يو سړی د خپلي ښځي سره يو څوک ويني نو ايا هغه به په شاهدانو پسي ګرځي ؟

يَلْتَمِسُ الْبَيِّنَةَ فَجَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْبَيِّنَةَ وَإِلَّا حَدٌّ فِي

نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : شاهدان راوله کنې ستا په شا باندي به شرعي حد قائم کړل سي

ظَهْرِكَ فَقَالَ هِلَالٌ وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ إِنِّي لَصَادِقٌ فَلَيُنْزِلَنَّ اللّٰهُ مَا يُبَرِّئُ

هلال عرض وکړ په هغه ذات دې مي قسم وي چي تاسو يې په حق سره را ليږلي ياست زه رېښتني يم نو ضرور به خدای تعالی احکام نازل کړي چي په هغه سره به خلاصه سي

ظَهْرِي مِنَ الْحَدِّ فَنَزَلَ جِبْرِيلُ وَأَنْزَلَ عَلَيْهِ {وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ

زما ملا له حده نو د جبرئيل عليه السلام په واسطه دا ايت نازل سو : والذين يرمون ازواجهم

فَقَرَأَ حَتَّى بَلَغَ إِنْ كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ} فَجَاءَ هِلَالٌ فَشَهِدَ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ

تر (ان كان من الصادقين) پوري. د دې څخه وروسته هلال حاضر سو او شاهدي يې ورکړه يعني لعان يې وکړ نبي کريم ﷺ به د هغه شهادت اوريدی او فرمايل به يې :

Maktaba Tul Ishaat.com

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ أَنَّ أَحَدَكُمَا كَاذِبٌ فَهَلْ مِنْكُمَا تَائِبٌ ثُمَّ

خداي تعالي ته معلومه ده چي په تاسو كي خامخا يو دروغجن دی په تاسو كي به هغه څوك وي چي توبه وباسي بيا

قَامَتْ فَشَهِدَتْ فَلَمَّا كَانَتْ عِنْدَ الْخَامِسَةِ وَقَّفُوهَا وَقَالُوا إِنَّهَا مُوجِبَةٌ ابْنُ

هغه ښځه را ولاړه سوه هغې هم لعان وكړ يعني څلور واره يې د خپل ذات شاهدي وركړه په پنځم وار چي يې شاهدي وركوله نو اصحابو كرامو رض هغه منعه كړه ستا اخيري شاهدي وركول واجب كونكي دی (يعني د ښځي او خاوند په مينځ كي جدائي يا د اخرت عذاب). د

عَبَّاسٍ فَتَلَكَّأَتْ وَنَكَصَتْ حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهَا تَرْجِعُ ثُمَّ قَالَتْ لَا أَفْضَحُ قَوْمِي

ابن عباس رضي الله عنه بيان دی چي په دې اوږدو سره ښځه لږ ايساره سوه سوچ يې وكړ په هغې باندي زموږ خيال راغلی چي رجوع به وكړي او په پنځم وار به قسم و نه خوري

سَائِرَ الْيَوْمِ فَمَضَتْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبْصِرُوهَا فَإِنْ جَاءَتْ

مگر بيا هغې وويل زه خپل قوم د ټول عمر لپاره نه ذليله كوم نو پنځمه شاهدي يې هم پوره كړه د دې څخه وروسته نبي كريم ﷺ و فرمايل: كه دا ښځه تورو ستركو لرونكي

بِهِ أَكْحَلَ الْعَيْنَيْنِ سَابِغَ الْأَلْيَتَيْنِ خَدَلَّجَ السَّاقَيْنِ فَهُوَ لِشَرِيكِ ابْنِ

او درانه كوناټي او غټو پنډيو لرونكي كوچنی راوړي نو هغه به د شريک بن سحماء زوی وي

سَحْمَاءَ فَجَاءَتْ بِهِ كَذَلِكَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْلَا مَا مَضَى

نو هغسي بچی يې راوړ او نبي كريم ﷺ وفرمايل: كه د خداي تعالي په كتاب كي د لعان كوونكي دا حكم نه وي (نو تاسو به ليدلي وای چي)

مِنْ كِتَابِ اللّٰهِ لَكَانَ لِي وَلَهَا شَأْنٌ. رواه البخاري.

ما به دې ښځي ته كومه سزا وركولای. (بخاري).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۸\ ۴۴۹، رقم: ۴۷۴۷

Maktaba Tul Ishaat.com

د لغاتو حل: خدلج الساقين: الغليظ الممتليء الساق. (پنډې پنډې)

تشريح: د دغه حديث شريف څخه دا ثابتيږي چي تر ټولو مخکي حضرت بلال رضي الله عنه لعان کړی دی او په دغه وخت کي د لعان په باره کي ذکر سوی آيت کريمه نازل سوی دی او په دې باره کي حقيقي تفصيل هغه دی کوم چي د حضرت سهل رضي الله عنه د روايت په تشريح کي بيان سوی دی.

بيله شکه الله تعالی پوهيږي ..الخ: دلته دا معلوميږي چي رسول الله ﷺ دا خبره د هغه دواړو د لعان څخه د فارغه کېدو وروسته فرمايلې ده او مطلب دادی چي کوم څوک په دروا‌غو خبره کوي يا پر چا باندي د درواغو تهمت لګوي نو پر هغه لازم دي چي هغه توبه وکړي، ځيني حضرات وايي چي رسول الله ﷺ دا خبره د لعان څخه مخکي هغه دواړو ته د درواغو د عواقبو څخه د بېرېدو لپاره فرمايلې ده.

په دغه حديث شريف کي د دې خبري دليل هم دی چي حاکم او قاضي دي په يو معامله کي د خپل ګمان او خيال په وجه حکم نه ورکوي بلکه هغه حکم دي ورکوي چي د هغه دلائل او شواهد تقاضا وکړي.

د زنا تهمت د څلورو شاهدانو په ذريعه ثابتيږي

﴿۳۱۶۶﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ لَوْ وَجَدْتُ مَعَ أَهْلِي رَجُلًا

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي سعد بن عباده رضي الله عنه وويل: که زه د خپلي ښځي سره

لَمْ أَمَسَّهُ حَتَّى آتِيَ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَمْ

يو ناولده سړی ووينم نو تر څو پوري چي ما څلور شاهدان نه وي راټول کړي نو هغه ته به لاس ورنه وړم رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: هو!

قَالَ كَلَّا وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ إِنْ كُنْتُ لَأُعَاجِلُهُ بِالسَّيْفِ قَبْلَ ذٰلِكَ قَالَ

سعد رضي الله عنه وويل: هيڅکله نه: په هغه ذات دي مي قسم وي چي ته يې په حقه سره رالېږلی يې شايد زه د شاهدانو د راټولو څخه وړاندي په توره باندي د هغه خاتمه کوم

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْمَعُوا إِلَى مَا يَقُولُ سَيِّدُكُمْ إِنَّهُ لَغَيُورٌ وَأَنَا أَغْيَرُ مِنْهُ وَاللهُ أَغْيَرُ مِنِّي. رواه مسلم.

Maktaba Tul Ishaat.com

رسول الله ﷺ وفرمایل : واورئ ستاسو مشر څه وايي ؟ البته هغه غیرتمند دی او زه د ده څخه زیات غیرتمند یم او الله تعالی زما څخه زیات غیرت مند دی . (مسلم).

تخریج: مسلم في الصحیح ۲\۱۱۳۵، رقم: ۱۶\۱۴۹۸

تشریح: د رسول الله ﷺ د جواب په اورېدو سره حضرت سعد رضي الله عنه چي څه وویل په هغه سره د رسول الله ﷺ د قول تردید کول مقصد نه وو او نه د رسول الله ﷺ د حکم مخالفت مقصد وو هغه د خپل دغه خبري په ذریعه په اصل کي د خپل طبعیت او مزاج په باره کي وښوول چي زما حال دادی او زما د غصې او غیرت حال دادی که زه د خپل ښځي سره پردی سړی ووینم نو سمدستي به یې قتل کړم ، حال دا چي په دې باره کي د شریعت حکم دادی چي تر څو پوري څلور شاهدان پیدا نه سي نو هغه ته هیڅ مه وایاست نو په دغه صورت کي زما لپاره کومه لاره ده ؟ رسول الله ﷺ د حضرت سعد رضي الله عنه د خبري په اورېدو سره خلک هغه ته متوجه کړل چي واورئ ستاسو سردار څه وایي ، یعني په دې سره د حضرت سعد رضي الله عنه صفت او تعریف کول مقصد وو او دې ته اشاره کول دي چي په طبیعت او مزاج کي دومره غیرت د بزرګانو صفت او د سردارانو عادت دی که څه هم په دې باره کي د شریعت حکم بل دی چي په هغه عمل کول د غیرت پر تقاضا باندي تر عمل کولو زیات ضروري دی .

خلاصه دا چي رسول الله ﷺ د دغه ارشاد په ذریعه د حضرت سعد رضي الله عنه د خبري تائید ونه کړ بلکه رسول الله ﷺ د هغه عذر بیان کړ چي حضرت سعد رضي الله عنه کومه خبره کړې ده د هغه څخه په ظاهره زما د حکم مخالفت معلومیږي هغه په اصل کي د هغه د غیر معمولي غیرت په وجه د هغه د ژبي څخه وتلې ده .

حضرت مظهر رحمه الله وايي چي د حضرت سعد رضي الله عنه رسول الله ﷺ ته جواب ورکول د رسول الله ﷺ د مخالفت یا د ارشاد نه قبلولو په توګه نه وو بلکه په حقیقت کي د هغه د خواهش د اظهار په توګه وو که چیري غیرتمند سړی یو پردی سړی د خپل ښځي سره ویني نو هغه ته دي د وژلو اجازه ورکړل سي کله چي رسول الله ﷺ د دغه اجازې ورکولو څخه په یو بلیغ انداز کي انکار وکړ نو هغه پټه خوله سو .

غیرت د یو انسان د ننه کیفیت او حالت هغه تغیر ته وايي چي په خپل اهل کي د یو ناخوښه شي پر لیدو باندي پیدا کیږي ، ظاهره ده چي د الله تعالی د غیرت نسبت د دې معنی د اعتبار څخه محال او ناممکن دی نو د الله تعالی د غیرتمند کېدو معنی داده چي هغه بندګان د ګناهو څخه منع کونکی دی چي د هغه د قربت او مقبولیت څخه لیري نه سي.

Maktaba Tul Ishaat.com

د الله جل جلاله څخه زيات هيڅوک غيرتمند نسته

﴿۳۱۶۷﴾: وَعَنِ الْمُغِيرَةِ قَالَ قَالَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ لَوْ رَأَيْتُ رَجُلًا مَعَ امْرَأَتِي

د حضرت مغيره رضی الله عنه څخه روايت دی چي سعد بن عباده رضی الله عنه وويل: که زه يو نا ولده سړی د

لَضَرَبْتُهُ بِالسَّيْفِ غَيْرَ مُصْفَحٍ فَبَلَغَ ذَلِكَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ

خپلي ښځي سره ووينم نو زه به يې په توره باندي قتل کړم په دې الفاظ اوريدو سره رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل:

أَتَعْجَبُونَ مِنْ غَيْرَةِ سَعْدٍ وَاللَّهِ لَأَنَا أَغْيَرُ مِنْهُ وَاللَّهُ أَغْيَرُ مِنِّي وَمِنْ أَجْلِ غَيْرَةِ

ايا تاسو د سعد په غيرت باندي تعجب کوئ؟ قسم په خداي چي زه دده څخه زيات غيرتمند يم او الله تعالي زما څخه زيات غيرتمند دی او د الله تعالی د غيرت په وجه

اللَّهِ حَرَّمَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَلَا أَحَدَ أَحَبُّ إِلَيْهِ الْعُذْرُ مِنَ

گناهونه حرام سوی دي هغه گناوي چي ظاهري وي او که پټي وي د خداي تعالی څخه زيات ثوک عذر نه خوښوي

اللَّهِ مِنْ أَجْلِ ذَلِكَ بَعَثَ الْمُبَشِّرِينَ وَالْمُنْذِرِينَ وَلَا أَحَدَ أَحَبُّ إِلَيْهِ الْمِدْحَةُ

په دې وجه الله جل جلاله بيرونکي او زيري ورکونکي (پيغمبران) را ليږلي دي دخداي جل جلاله څخه

مِنَ اللَّهِ وَمِنْ أَجْلِ ذَلِكَ وَعَدَ اللَّهُ الْجَنَّةَ. متفق عليه.

زيات هيڅوک تعريف نه خوښوي په دې وجه الله جل جلاله د جنت وعده کوي. (بخاري او مسلم).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۳\۳۹۹، رقم: ۷۴۱۶، ومسلم ۲\۱۱۳۶، رقم ۱۷\۱۴۹۹

تشريح: او الله تعالی د خپل غيرت په وجه گناهونه حرام کړي دي: دغه جمله په اصل کي د الله تعالی د غيرت د وضاحت لپاره ده چي د الله تعالی د غيرت معنی داده چي هغه خلک د حرامو کارو څخه منع کړي دي او د حرامو کارو پر کولو باندي يې عذاب ټاکلی دی.

د غيرت مطلب دادی چي سړی هغه خبره ناخوښه کړي او په هغه ناراضه سي چي څوک د هغه په ملکيت کي تصرف وکړي.

Maktaba Tul Ishaat.com

د غیرت مشهوري معناوي دادي چي سړی په هغه شي باندي په غصه سي چي د هغه د ښځي سره بدکاري وکړي یا هغه ته په بد نظر سره وګوري نو د الله تعالی غیرت دادی چي پر هغه چا باندي په غصه سي کوم چي ګناه کونکی وي.

امام نووي رحمه الله وايي عذر د الله تعالی څخه زيات د هیچا نه دی خوښ، دلته د عذر د اعذار یعني د عذر د ازالې په معنی دی، مطلب دادی چي څرنګه الله تعالی عذر ختمول خوښوي همدارنګه یو بل عذر ختمول نه خوښوي ځکه الله تعالی دنیا ته پیغمبران او رسولان را استولي دي چي د هغه له خوا د حجت پوره والی وسي او بندګانو ته د عذر کولو موقع تر لاسه نه سي لکه څرنګه چي الله تعالی فرمايي:

لِئَلاَّ يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللّٰهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ

ژباړه: ددې لپاره چي خلکو ته د الله تعالی په وړاندي د پیغمبرانو څخه وروسته عذر پاته نه سي.

تعریف د الله تعالی څخه زيات هیڅوک نه خوښوي: ددې مطلب دادی چي تعریف کول څومره چي الله تعالی خوښوي هغومره بل څوک يې نه خوښوي ځکه الله تعالی خپل تعریف په خپله هم فرمايلی دی او د خپل محبوب بندګانو تعریف يې هم کړی دی او د هغه خلکو په جنت کي د داخلېدو دعوه يې هم کړې ده چي د هغه حمد او تعریف بیانوي او د هغه په احکامو باندي عمل کوي.

د الله جل جلاله د غیرت تقاضا څه شی ده؟

﴿۳۱۶۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ يَغَارُ وَإِنَّ الْمُؤْمِنَ يَغَارُ وَغَيْرَةُ اللّٰهِ أَنْ لاَّ يَأْتِيَ الْمُؤْمِنُ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ . متفق علیه

د حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: الله جل جلاله غیرت مند دی او مسلمان هم غیرتمند دی او د الله جل جلاله غیرت دادی چي مسلمان بنده هغه کار ونکړی کوم چي الله جل جلاله حرام کړی دی. (بخاري او مسلم).

تخریج: البخاري في الصحیح (فتح الباري): ۹\۳۱۹، رقم: ۵۲۲۳، ومسلم ۴\ ۲۱۱۴، رقم: ۳۶\۲۷۶۱

د کوچني د نسبت څخه انکار مه کوئ

﴿۳۱۶۹﴾: وَعَنْهُ أَنَّ أَعْرَابِيًّا أَتَى رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي يو صحرائي د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر

امْرَأَتِي وَلَدَتْ غُلَامًا أَسْوَدَ وَإِنِّي أَنْكَرْتُهُ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

سو او عرض يې وکړ يا رسول الله! زما ښځي تور کوچنی راوړی دی او ما د هغه څخه انکار کړی دی (يعني دا کوچنی زما د نطفې څخه نه دی) رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:

وَسَلَّمَ هَلْ لَكَ مِنْ إِبِلٍ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَمَا أَلْوَانُهَا قَالَ حُمْرٌ قَالَ هَلْ فِيهَا مِنْ

ايا ستا سره اوښان سته؟ هغه عرض وکړ هو! نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: د هغو رنګونه څنګه دي؟ هغه عرض وکړ چي سره دي. رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ايا په هغو کي

أَوْرَقَ قَالَ إِنَّ فِيهَا لَوُرْقًا قَالَ فَأَنَّى تُرَى ذٰلِكَ جَاءَهَا قَالَ عِرْقٌ نَزَعَهَا قَالَ

خاکي اوښان هم سته؟ هغه وويل: خاکي هم پکښي سته نبي کريم ﷺ وفرمايل: خاکي اوښان د کوم ځايه څخه پيدا سوه؟ (يعني د سرو اوښانو بچۍ خاکي څنګه سوه؟) هغه عرض وکړ يو رګ دی چي دا يې خاکي رنګه جوړ کړه نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل:

فَلَعَلَّ هٰذَا عِرْقٌ نَزَعَهُ وَلَمْ يُرَخِّصْ لَهُ فِي الْاِنْتِفَاءِ مِنْهُ. متفق عليه.

شايد دې رګ ستا په کوچني کي تور رنګ پيدا کړې وي رسول الله ﷺ هغه پوه کړ چي هغه دي د خپل کوچني څخه انکار نه کوي. (بخاري او مسلم).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۲۹۶\۱۳، رقم: ۷۳۱۴، رقم: ۱۸\۱۵۰۰

تشريح: علامه طيبي رحمه الله وايي چي ددغه حديث شريف څخه معلومه سوه چي د محض معمولي او کمزوري نښي په وجه د خپل کوچني څخه انکار کول يعني دا ويل چي دا زما کوچنی نه دی منع دي بلکه په دغه صورت کي د ټينګو دلائلو او وجهو کېدل ضروري دي مثلا د ښځي سره يې صحبت نه وي کړی او ددې سربېره ولادت وسي يا صحبت يې کړی وي مګر د صحبت څخه وروسته د شپږو مياشتو څخه په کم وخت کي کوچنی پيدا سوی وي نو په دغه صورتو کي د هغه کوچني څخه انکار کول جائز دي.

د زنا په نتيجه کي د پيدا کېدونکي ماشوم نسب د زاني څخه نه ثابتيږي

﴿۳۱۷۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ عُتْبَةُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ عَهِدَ إِلَى أَخِيهِ سَعْدِ بْنِ

Maktaba Tul Ishaat.com

د بي بي عائشي ﷝ څخه روايت دی چي عتبه بن ابي وقاص ﷛ خپل ورور سعد بن ابي وقاص ﷛ ته وصيت وکړ چي

أَبِي وَقَّاصٍ اَنَّ ابْنَ وَلِيدَةِ زَمْعَةَ مِنِّي فَاقْبِضْهُ اِلَيْكَ فَلَمَّا كَانَ عَامَ الْفَتْحِ

د زمعه د مينزي زوی زما د نطفي څخه دی ته هغه واخله د مکې د فتحي په کال هغه کوچنی

أَخَذَهُ سَعْدُ فَقَالَ اِنَّهُ ابْنُ أَخِي وَقَالَ عَبْدُ بْنُ زَمْعَةَ اَخِي فَتَسَاوَقَا إِلَى

رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ سَعْدٌ يَا رَسُولَ اللّٰهِ اِنَّ أَخِي كَانَ عَهِدَ

واخيستی او وه يې ويل چي هغه زما د ورور زوی دی او عبد بن زمعه ﷛ وويل: چي دا کوچنی زما ورور دی دواړو خپله معامله نبي کريم ﷺ ته راوړه، سعيد وويل يا رسول الله!

إِلَيَّ فِيهِ وَقَالَ عَبْدُ بْنُ زَمْعَةَ أَخِي وَابْنُ وَلِيدَةِ أَبِي وُلِدَ عَلَى فِرَاشِهِ فَقَالَ

زما ورور ماته دا وصيت کړې وو چي دا زما کوچنی دی او عبد بن زمعه وويل چي دا کوچنی زما ورور دی او زما د پلار د مينزي زوی دی زما د پلار پر بستره پيدا سوی دی رسول الله ﷺ

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُوَ لَكَ يَا عَبْدُ بْنَ زَمْعَةَ الْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ

وفرمايل: اې عبد بن زمعه! ته د دې کوچني وارث يې کوچنی د هغه دي چي د چا پر بستره چي

وَلِلْعَاهِرِ الْحَجَرُ ثُمَّ قَالَ لِسَوْدَةَ بِنْتِ زَمْعَةَ احْتَجِبِي مِنْهُ لِمَا رَأَى مِنْ شَبَهِهِ

پيدا سي او زنا کاره لپاره حجر دي يعني هغه د کوچني څخه محروم دی بيا رسول الله ﷺ خپلي بي بي سودې رض ته وويل: چي هغه د زمعه لور وه د دې کوچني څخه پرده کوه ځکه چي په

بِعُتْبَةَ فَمَا رَآهَا حَتَّى لَقِيَ اللّٰهَ و في رواية هُوَ اَخُوكَ يَا عَبْدُ بْنَ زَمْعَةَ مِنْ أَجْلِ أَنَّهُ وُلِدَ عَلَى فِرَاشِ أَبِيهِ. متفق عليه.

دې دي د عتبه سره مشابهت پيدا کيږي نو بي بي سودې ﷝ د هغه کوچني څخه تو نه عمر پرده کوله او هيڅ کله يې ونه ليدی تر هغو چي وفات سو. او په يو ـ روايت کي دا الفاظ دي چي نبي کريم ﷺ وفرمايل: اې عبد بن زمعه! دا ستا ورور دی ځکه چي ستا د پلار پر بستره پيدا

Maktaba Tul Ishaat.com

سوی دی. (بخاري او مسلم).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵\ ۳۷۱، رقم: ۲۷۴۵، ومسلم ۲\ ۱۰۸۰، رقم: ۳۶\ ۱۴۵۷

تشريح: په دغه حديث شريف كي چي كوم نومونه ذكر سوي دي مخكي د هغو په باره كي دا بنوول ضروري دي چي د واقعې په پوهېدو كي اساني راسي ، عتبه د حضرت سعد ابن ابي وقاص رضي الله عنه حقيقي (سكه) ورور دی ، الله تعالى حضرت سعد رضي الله عنه د اسلام په دولت مشرف كړی وو او يو جليل القدر صحابي دی، مگر عتبه د كفر د تيارو څخه ونه تلای سو تر دې چي د كفر په حالت كي مړ سو او دا هغه بدبخت دی چي د احد د غزا په وخت كي يې د رسول الله ﷺ مبارك غاښ شهيد كړی وو، زمعه د بي بي سوده رضي الله عنها د پلار نوم دی او عبد د زمعه زوی يعني د بي بي سوده سكه ورور دی ، بي بي سوده رضي الله عنها د رسول الله ﷺ بي بي مباركه ده.

اوس حديث ته راسئ ، عتبه د زمعه د مينزي سره زنا وكړه چي د هغه په نتيجه كي هلك پيدا سو ، د جاهليت په زمانه كي دا رواج وو چي د زناكونكي په دعوه به د ولد الزنا نسب د هغه زناكونكي څخه ثابتيدی ځكه عتبه د هغه پخواني رواج سره سم د هغه كوچني په باره كي دعوه وكړه چي دا زما دی او خپل ورور حضرت سعد رضي الله عنه ته يې وصيت وكړی چي ته دغه هلك په خپل تحويل كي په اخيستو سره د هغه روزنه وكړه نو حضرت سعد رضي الله عنه د مكې د فتح په كال د خپل ورور د وصيت سره سم هغه هلك په خپل تحويل كي واخيستی او دا اعلان يې وكړی چي دا زما وراره دی ، بلي خوا ته د زمعه زوی عبد دا دعوه وكړه چي دا زما ورور دی ځكه چي زما د پلار د مينزي څخه پيدا دی ، مقصد دا چي د دواړو په مينځ كي د تنازعې يو صورت پيدا سو نو د دواړو دغه معامله د رسول الله ﷺ په خدمت كي وړاندي سوه ، رسول الله ﷺ عبد ابن زمعه ته وويل چي دا ستا ورور دی ځكه چي د كوچني نسب د صاحب فراش څخه ثابتيږي او زنا كونكی ددې څخه محروم وي.

الولد للفراش وللعاهر الحجر (كوچنی صاحب فراش ته منسوب وي او د زنا كونكي لپاره محرومي ده) ددغه جملې تفصيلي وضاحت د باب الوصايا په اول باب كي د حضرت ابو امامه رضي الله عنه د روايت په تشريح كي تېر سوی دی.

ام المؤمنين بي بي سوده رضي الله عنها د رسول الله ﷺ دغه حكم چي ته ددغه كوچني څخه پرده كوه ددې مطلب دا وو كه څه هم دغه كوچنی د شرعي حكم سره سم ستا ورور سو په دې توگه چي دده نسب ستا د پلار زمعه څخه ثابت دی او دا هم پر خپل ځای صحيح دی چي په شرعي معاملاتو

Maktaba Tul Ishaat.com

كي د مشابهت او قيافه او قرائنو اعتبار نه سته مگر هغه هلک د عتبه مشابه وو او د عتبه د دعوې په وجه هغه د عتبه د نطفې څخه کېدل تر يو حده د حقيقت سره سم دی ځکه د احتياط تقاضا داده چي ته د هغه څخه پرده وکړې.

د دوهم روايت آخري الفاظ (انه ولد على فراش ابيه) يعني ددې لپاره چي هغه کوچنی د هغه د پلار پر بستره پيدا سوی دی، دا په اصل کي د راوي خپل قول دی يعني راوي ددغه الفاظو په ذريعه دا واضح کړه چي رسول الله ﷺ د عبد ابن زمعه په حق کي دا حکم چي دا هلک ستا ورور دی ځکه ورکړی وو چي هغه د هغه د پلار پر بستره پيدا سوی وو او د هغه پر بستره باندي د پيدا کېدو مطلب دادی چي د حمل استقرار او د کوچني د ولادت په زمانه کي هغه مينزه د زمعه په ملکيت کي وه او د هغه تر تصرف لاندي وه او هغه کوچنی د هغه په کور کي پيدا سوی دی.

د نسب په اثبات کي د قيافه شناس قول معتبر دی که يا؟

﴿۳۱۷۱﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ

د بي بي عائشي رضي الله عنها څخه روايت دی يوه ورځ نبي کريم ﷺ په خوشحالي خوشحالي زما کره

مَسْرُورًا فَقَالَ اَیْ عَائِشَةُ اَلَمْ تَرَيْ أَنَّ مُجَزِّزًا الْمُدْلِجِيَّ دَخَلَ فَلَمَّا رَأَى

راغلی او ويې فرمايل: اې عائشې! نن مجزز مدلجي (قيافه شناس) چي اسامه او زيد وليدل

أُسَامَةَ وَزَيْدًا وَعَلَيْهِمَا قَطِيفَةٌ قَدْ غَطَّيَا رُءُوسَهُمَا وَبَدَتْ أَقْدَامُهُمَا فَقَالَ إِنَّ هَذِهِ الْأَقْدَامَ بَعْضُهَا مِنْ بَعْضٍ. متفق عليه.

چي يو شی یې اغوستي او بيده وو او پښې یې ښکارېدې نو هغه وويل: چي دا پښې ځيني د ځينو څخه دي (يعني په دې پښو کي نسبتي شرکت دی) عربو به ويله چي د اسامه رنګ د زيد د رنګه څخه مختلف دی نو په دې وجه هغه د زيد زوی نه دی نو د قيافه شناسه په دې ويلو سره د دې ترديد وسو او نبي کريم ﷺ په دې ډېر خوشحاله سو د زيد بن حارثه رضي الله عنه يعني د اسامه پلار د نبي کريم ﷺ متبني (جوړ سوی زوی) وو. (بخاري او مسلم)

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۲\۵۶. رقم: ۶۷۷۱، ومسلم ۲\۱۰۸۲، رقم: ۳۸\۱۴۵۹

تشريح حضرت زيد ابن حارثه رضي الله عنه چي د رسول الله ﷺ متبني وو (يعني خپل زوی کړی یې

Maktaba Tul Ishaat.com

وو) ډېر سپين و سور او ښائسته وو ، حال دا چي د هغه زوی حضرت اسامه رضي الله عنه تور وو او د خپل مور په رنګ وو ، د هغه مور چي ام ايمن نوميدل يوه مينزه او توره وه ، د پلار او زوی د رنګ د فرق په وجه به منافقانو د حضرت اسامه رضي الله عنه په نسب کي عيب وايه او دليل به يې دا ورکوی چي د داسي ښائسته پلار زوی دومره تور څرنګه کيدای سي ، رسول الله ﷺ به د منافقانو پر دغه خبره خفه کېدی نو په دغه دوران کي دغه واقعه پېښه سوه .

مجزز مدلجي د عربو يو مشهور قيافه پيژندونکی او په خپل فن کي ډېر رسيدلی وو هغه به د سړي د صورت په لېدو سره د هغه حالات، کوائف او صفتونه معلومول ، هغه مسجد نبوي ته راغلی او د حضرت زيد او اسامه رضي الله عنهما پښې يې وليدلې هغه د خپل علم قيافه له مخي دا فيصله وکړه چي دغه پښې د کومو دوو کسانو دي دا دواړه په خپلو کي پلار او زوی کيدای سي ، رسول الله ﷺ په دې خبره ډېر خوشحاله سو ځکه چي د عربو په نزد د قيافه شناس قول معتبر وو او د هغه فيصلې ته به يې د سند درجه ورکول نو رسول الله ﷺ ته اطمينان وسو اچي اوس د اسامه رضي الله عنه نسب د سند څخه ثابت سوی دی او منافقان به هم د هغه د نسب په باره کي د پيغور کولو جرئت نه کوي.

مګر دا خبره بايد په ذهن کي وي چي د حديث څخه دا لازميږي چي د شرعي احکامو او نسب کي د قيافه پيژندونکي قول معتبر دی ، د امام ابوحنيفة رحمة الله عليه مذهب دادی البته امام شافعي، امام مالک او امام احمد رحمة الله عليهم د قيافه پيژندونکي قول معتبر ګڼي تر دې چي د هغوی په مذهب کي دا مسئله ده که يو مينزه د دوو خلکو په ملکيت کي وي او دهغې څخه کوچنی پيدا سي او هغه دواړه کسان د کوچني د نسب دعوه وکړي يعني هر يو دا وايي چي دا زما زوی دی نو په دغه صورت کي به هغه دواړه قيافه پيژندونکي ته رجوع کوي او هغه قيافه پيژندونکي چي د خپل علم پر بنياد څه فيصله وکړي هغه به قبلوي ، د امام اعظم ابوحنيفة رحمة الله عليه په نزد په دغه صورت کي هغه کوچنی د شرعي حکم په اعتبار د دواړو دی که څه هم د واقعت په اعتبار هغه د يوه وي او هغه مينزه به د دواړو ام ولد وي .

د خپل پلار څخه د انکار کونکي وعيد

﴿۳۱۷۲﴾ : وَعَنْ سَعْدِ بْنِ اَبِيْ وَقَّاصٍ وَاَبِيْ بَكْرَةَ قَالَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ ادَّعَى إِلَى غَيْرِ أَبِيهِ وَهُوَ يَعْلَمُ فَالْجَنَّةُ عَلَيْهِ حَرَامٌ . متفق عليه

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه او ابي بكره رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كوم سړى چي د خپل پلار څخه پرته بل سړى ته ځان منسوبه كوي او هغه د دې حقيقت څخه خبر وي چي دى د پلار څخه دى نو په هغه جنت حرام دى . (بخاري او مسلم).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ١٢\ ٥٤، رقم: ٦٧٦٦، ومسلم ١\ ٨٠، رقم: ١١٥\ ٦٣

تشريح: پر هغه جنت حرام دى : ددې مطلب دادى كه چيري يو سړى د خبرتيا سربېره د خپل پلار پر ځاى د بل سړى څخه خپل نسبت ثابتوي او هغه دې خبري ته بد نه وايي بلكه د هغه دا عقيده وي چي په خپل نسب كي داسي كول حلال دي نو د يو حرام شى د حلال كېدو عقيده درلودلو په وجه هغه د كفر حد ته ورسيدى او كله چي هغه د كفر حد ته ورسيدى او په همدغه حال كي مړ سو نو د هغه نتيجه به دا وي چي پر هغه به د جنت دروازې د همېشه لپاره بندي وي او كه چيري هغه سړى دا عقيده نه لري يعني د خپل پلار پر ځاى دوهم سړي ته نسبت كول حلال نه ګڼي بلكه حرام يې ګڼي نو په دغه صورت كي به پر هغه د جنت دحراموالي مطلب دا وي چي تر هغه وخته پوري به پر هغه د جنت دروازې بندي وي تر څو چي هغه دخپل ګناه سزا ونه ځكي، او يا دا به ويل كيږي چي د رسول الله ﷺ دغه ارشاد چي پر هغه جنت حرام دى دا د زجر او توبيخ په توګه دى چي د هغه مقصد خلك ددغه بدى څخه منع كول دي .

﴿٣١٧٣﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَرْغَبُوا عَنْ آبَائِكُمْ فَمَنْ رَغِبَ عَنْ أَبِيهِ فَقَدْ كَفَرَ. متفق عليه و قد ذكر حديث عائشة ما من احد اغير من الله في باب صلوة الخسوف .

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د خپلو پلرو څخه انكار مه كوئ (يعني د هغو د نسب څخه ځانونه مه بېګانه كوئ) ځكه چي كوم سړى د خپل نسب څخه انكار وكړ هغه د نعمت ناشكري وكړه.(بخاري او مسلم) او د بي بي عائشې رضي الله عنها حديث ما من احد الخ صلوة خسوف كي بيان سوې دى .

تخريج: ابوداود في السنن ٢\ ٦٩٥، رقم: ٢٢٦٣، والنسائي ٦\ ١٧٩، رقم: ١٤٨١، والدارمي ٢\ ٢٠٤، رقم: ٢٢٣٨

تشريح: د جاهليت په زمانه كي دا يو عامه خرابي وه چي خلكو به د خپل اصلي پلار څخه د خپل نسب په انكار كولو سره بل سړى به يې خپل پلار ګرځوى ، رسول الله ﷺ ددې څخه منع وكړه .

Maktaba Tul Ishaat.com

په دې باره کې مسئله داده چې په قصد سره د خپل پلار پر ځای د بل سړي سره خپل نسب قائمول حرام دي که یو سړی د پردي سړي سره خپل نسب قائمول مباح وګڼي او دا عقیده ولري نو هغه کافر کیږي ځکه چې د داسې شي د حلال او مباح کېدو عقیده درلودل چې ټول امت حرام ګرځولی وي کفر دی ، په دغه صورت کې د حدیث الفاظ (فقد کفر) دا پر خپل حقیقي معنی محمول وي او که چیرې یو شوک ددې د مباح کېدو عقیده و نه لري نو په دغه صورت کې به د کفر دوې معناوې وي یو خو دا چې هغه سړی د کفارو د فعل مشابهت اختیار کړی دوهم دا چې هغه د نعمت کفران (ناشکري) وکړه. د بي بي عائشې ﷺ حدیث (ما من احد اغیر من الله) په باب صلوة الخسوف کې نقل سوی دی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د خپل کوچني څخه انکار کوونکی د الله ﷻ د دېدار څخه محروم دی

﴿۳۱۷۴﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَمَّا نَزَلَتْ

د حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې د لعان د ایت په نازلېدو هغه د رسول الله ﷺ څخه دا

آيَةُ الْمُلَاعَنَةِ أَيُّمَا امْرَأَةٍ أَدْخَلَتْ عَلَى قَوْمٍ مَّنْ لَيْسَ مِنْهُمْ فَلَيْسَتْ مِنَ اللهِ

اورېدلي وه چې کومه ښځه چې په یو قوم کې هغه بچی شامل کړي چې هغه د هغو څخه نه وي (یعني په زنا یې کوچنی راوړي وي او هغه یې و خپل خاوند ته منسوب کړې وي) هغه ښځه

فِي شَيْءٍ وَلَنْ يُدْخِلَهَا اللهُ جَنَّتَهُ وَأَيُّمَا رَجُلٍ جَحَدَ وَلَدَهُ وَهُوَ يَنْظُرُ إِلَيْهِ

قابل اعتبار نه ده خدای تعالی به هغه په جنت کې داخله نه کړي او کوم سړی چې د خپل زوی څخه انکار وکړي حال دا چې پوهیږي چې دا زما زوی دی خدای تعالی به د هغه څخه پرده

احْتَجَبَ اللهُ مِنْهُ وَفَضَحَهُ عَلَى رُؤُوسِ الْخَلَائِقِ فِي الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ. رواه أبو داود والنسائي والدارمي

وکړي (یعني هغه ته به د خدای تعالی دیدار نصیب نسي) او خدای تعالی به هغه په اولینو او اخیرنیو خلکو کې رسوا کړي. (ابوداؤد نسائي دارمي).

Maktaba Tul Ishaat.com

تخريج: ابوداود في السنن ۲\ ۶۹۵، رقم: ۲۲۶۳، والنسائي ۶\ ۱۷۹، رقم: ۱۴۸۱، والدارمي ۲\ ۲۰۴، رقم: ۲۲۳۸

تشريح: د حديث خلاصه داده چي نه بايد ښځه په بدكارۍ كولو سره خپل حرام كوچنى خاوند ته منسوب كړي او نه بايد سړى داسي وكړي چي هغه د خبرتيا سربېره د خپل كوچنى څخه انكار وكړي او پر ښځي باندي د زنا تهمت لګوي.

بدكاره ښځي ته طلاق وركول غوره دي

﴿۳۱۷۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دى چي يو سړى د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سو

فَقَالَ إِنَّ لِي امْرَأَةً لاَ تَرُدُّ يَدَ لاَمِسٍ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَلِّقْهَا

او عرض يې وكړ يا رسول الله! زما ښځه د هيچا څخه مخ نه اړوي (يعني كوم سړى چي ور سره جماع كوي د هغه څخه انكار نه كوي)

قَالَ إِنِّي أُحِبُّهَا قَالَ فَأَمْسِكْهَا إِذًا . رواه أبو داود والنسائي وقال النسائي: رفعه أحد الرواة إلى ابن عباس وأحدهم لم يرفعه قال: وهذا الحديث ليس بثابت.

نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: هغې ته طلاق وركړه هغه عرض وكړ زما ور سره زياته مينه ده نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: نو د هغې ساتنه كوه او د ځان سره يې ساته. (ابوداؤد نسائي) نسائي وايي په راويانو كي يو راوي خو د ابن عباس رضي الله عنه ته مرفوع كوي او دويم نه كوي نسائي وايي دا حديث ثابت نه دى.

تخريج: ابوداود في السنن ۲\ ۵۴۱، رقم: ۲۰۴۹، والنسائي ۶\ ۱۷۰، رقم: ۳۴۶۵

د لغاتو حل: يد لامس: اى لاتمنع نفسها عمن يقصدها بفاحشة..

تشريح: دا حديث شريف پر دې خبره دلالت كوي چي بدكاري ښځي ته طلاق وركول غوره دي ځكه رسول الله ﷺ د طلاق وركولو حكم اول وركړ او د ساتني حكم يې وروسته وركړ مګر كه چيري په يو وجه طلاق وركول اسان نه وي مثلا د هغې سره يې دومره زياته مينه وي چي هغه د

Maktaba Tul Ishaat.com

ځان څخه جلا کول ممکن نه وي یا د هغې په نس کي يې کوچنی وي چي د مور جلا والی نه سي زغملای یا د هغه ښځي پر ده باندي پور یا مهر واجب وي چي د هغه پر ادا کولو قادر نه وي نو په داسي صورت کي جائز دي چي هغې ته طلاق ور نه کړي مګر دا شرط دی چي هغه د بدکارۍ څخه منع کړي او که چیري هغه نه سي منع کولای نو بیا د طلاق نه ورکولو په صورت کي به ګناه کار وي.

د نسب د اثبات په اړه یو هدایت

﴿۳۱۷۶﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

حضرت عمرو بن شعیب رضی الله عنه د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار ه څخه روایت کوي چي رسول

وَسَلَّمَ قَضَى أَنَّ كُلَّ مُسْتَلْحَقٍ اسْتُلْحِقَ بَعْدَ أَبِيهِ الَّذِي يُدْعَى لَهُ ادَّعَاهُ وَرَثَتُهُ

الله ﷺ د هغه کوچني په نسبت چي هغه د پلار د مرګ څخه وروسته د هغه په وارثانو کي شامل

فَقَضَى أَنَّ مَنْ كَانَ مِنْ أَمَةٍ يَمْلِكُهَا يَوْمَ أَصَابَهَا فَقَدْ لَحِقَ بِمَنْ اسْتَلْحَقَهُ

کړ د دې حکم د ورکولو اراده یې وکړه چي کوم کوچنی د داسي مینزي څخه پیدا وي چي د هغه پلار په هغه ورځ د هغې مینزي مالک وي چي په کومه ورځ یې ورسره صحبت کړې وي نو هغه کوچنی د هغه په نسب کي شامل سو

وَلَيْسَ لَهُ مِمَّا قُسِمَ قَبْلَهُ مِنَ الْمِيرَاثِ شَيْءٌ وَمَا أَدْرَكَ مِنْ مِيرَاثٍ لَمْ

او د هغه وارث سو او د هغه د پیدا کېدو تر مخه چي کوم مال تقسیم سوې وي په هغه کي د هغه

يُقْسَمْ فَلَهُ نَصِيبُهُ وَلَا يَلْحَقُ إِذَا كَانَ أَبُوهُ الَّذِي يُدْعَى لَهُ أَنْكَرَهُ وَإِنْ كَانَ مِنْ

هیڅ برخه نسته او که میراث د هغه د پیدا کېدو څخه وروسته بیا پیدا سي او تقسیم سوې نه وي نو په هغه کي د هغه برخه نسته او هغه کوچنی چي د هغه پلار د هغه څخه انکار کړې وي د هغه

أَمَةٍ لَمْ يَمْلِكْهَا أَوْ مِنْ حُرَّةٍ عَاهَرَ بِهَا فَإِنَّهُ لَا يَلْحَقُ بِهِ وَلَا يَرِثُ وَإِنْ كَانَ الَّذِي

په نسب کي شاملېدای نسي که څه هم هغه کوچنی د هغې مینزي څخه وي چي د هغې سره یې په هغه ورځ صحبت کړې وي په کومه ورځ چي د هغې مالک سوې نه وو که د ازادي ښځي سره

يُدْعَى لَهُ الذي هُوَ ادَّعَاهُ فَهُوَ وَلَدُ زِنْيَةٍ مِنْ حُرَّةٍ كَانَ أَوْ أَمَةٍ. رواه ابوداؤد

يې زنا کړې وي هغه کوچنی نه د هغه په نسب کي شامليداى سي او نه يې هم وارث کېداى سي که څه هم پلار يې د هغه کوچني دعوا کړې وي چي دا د هغه کوچنی دی هغه کوچنی که د مينزي څخه وي که د ازاداي ښځي څخه وي حرامي به وي. (ابوداؤد).

تخريج: ابوداود في السنن ۲\۶۹۶، رقم: ۲۲۶۵

تشريح: خطابي رحمة الله عليه وايي چي دا هغه احکام دي کوم چي د اسلام د شروع په زمانه کي رسول الله ﷺ جاري کړي وه ، په هغه زمانه کي د خلکو بدکاري مينزي وي چي زنا به يې کول او د هغوی مالکانو به هم د هغوی سره کوروالي کول او بيا چي به د هغوی څخه کوچنی پيدا سو نو مالک به د هغه دعوه کول او زنا کونکي به هم دعوه کول، د داسي جګړو په شرعي توګه سره د ختمولو لپاره رسول الله ﷺ پورتني احکام جاري کړل، په دې باره کي چي رسول الله ﷺ کومه شرعي قاعده وټاکل او د هغې ذکر په حديث شريف کي سوی دی د هغه وضاحت دادی چي د مثال په توګه زيد وفات سو او د هغه څخه وروسته د زيد وارثان به دا دعوه کولای سي او د هغه کوچني نسب به د زيد سره په قائمولو سره د هغه د ميراث حقدار کيدای سي مګر دا په هغه صورت کي وي کله چي هغه هلک د يو داسي مينزي د نس څخه وي چي د زيد په ملکيت کي پاته سوې وي او زيد دهغې سره په جائز طريقه جماع کړې وي يا هغه د يو داسي ازادي ښځي دنس څخه وي چي د زيد په نکاح کي پاته سوې وي او خپله زيد هم په خپل ژوند کي دا اقرار کړی وي چي دا زما زوی دی.

لکه څرنګه چي په حديث کي وضاحت دی چي دغه هلک به د هغه وارثانو په حق کي برخه لرونکی وي کومو چي دغه دعوه کړې وي او که ځيني وارثان دعوه کوي نو يوازي دهغه ځينو وارثانو په حق کي به برخه لرونکی وي او دا کوچنی به يوازي په هغه ميراث کي برخمن وي کوم چي تر او سه ويشل سوی نه وي او کوم ميراث چي د دغه دعوې څخه مخکي ويشل سوی وي په هغه کي به هيڅ برخه نه ورکول کيږي او که چيري دا صورت وي چي زيد په خپل ژوند کي د هغه کوچني دنسب څخه انکار کړی وي يعني دا يې ويلي وي چي دا زما زوی نه دی نو بيا د هغه د مرګ څخه وروسته که چيري دهغه وارثان د هغه کوچني په ځان کي ګډول غواړي نو داسي نه سي کيدلای او نه به هغه کوچني ته د ميراث څخه برخه ورکول کيدای سي.

او که چيري هغه کوچنی د يو داسي مينزي د نس څخه وي چي د زيد په ملکيت کي نه وي

Maktaba Tul Ishaat.com

یا د یو داسي ازادي ښځي د نس څخه وي چي هغه دزید په نکاح کي نه وه یعني هغه کوچنی د زنا په نتیجه کي پیدا سوی وي نو په دغه صورت کي هم هغه د زید په وارثانو کي نه سي ګڼډلای او نه به هغه ته د زید په مېراث کي برخه ورکول کیږي بلکه که چیري زید په خپل ژوند کي داوغواړي چي د هغه سره د خپل نسب په یو ځای کولو سره هغه په خپلو وارثانو کي شامل کړي نو هغه هم داسي نه سي کولای ځکه چي د ولد الزنا نسب د زناکونکي سره نه قائمیږي او نه هغه د زناکونکي وارث وي.

غیرت په ځینو صورتو کي خوښ او په ځینو کي ناخوښه دی

﴿۳۱۷۷﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَتِيكٍ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مِنَ

د حضرت جابر بن عتیک رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د غیرت یو قسم چي

الْغَيْرَةِ مَا يُحِبُّ اللهُ وَمِنْهَا مَا يُبْغِضُ اللهُ فَأَمَّا الَّتِي يُحِبُّهَا اللهُ فَالْغَيْرَةُ فِي

خدای تعالی یې خوښوي او د غیرت یو قسم چي الله جل جلاله یې نه خوښوي کوم چي الله جل جلاله یې خوښوي هغه غیرت دی چي

الرِّيبَةِ وَأَمَّا الَّتِي يُبْغِضُهَا اللهُ فَالْغَيْرَةُ فِي غَيْرِ رِيبَةٍ وَإِنَّ مِنَ الْخُيَلَاءِ مَا

د شک او شبې په ځای وي (لکه په ښځي یا په مینزي باندي شک او شبه وي چي د دې اړیکي د بل سړي سره دي). او هغه غیرت چي الله جل جلاله یې نه خوښوي هغه غیرت دی چي د شک او شبهې په ځای نه وي (یعني ځاني ګمان یې وي او د شک څه قرینه نه وي) او ځیني لویي

يُبْغِضُ اللهُ وَمِنْهَا مَا يُحِبُّ اللهُ فَأَمَّا الْخُيَلَاءُ الَّتِي يُحِبُّ اللهُ فَاخْتِيَالُ

(تکبر) ښودل داسي دي چي د الله جل جلاله خوښ نه دي، او ځیني هغه ده چي خدای تعالی یې خوښوي کومه لویي چي خدای تعالی خوښوي هغه داده چي

الرَّجُلِ عِنْدَ الْقِتَالِ وَاخْتِيَالُهُ عِنْدَ الصَّدَقَةِ وَأَمَّا الَّتِي يُبْغِضُ اللهُ فَاخْتِيَالُهُ

فِي الْفَخْرِ وفي رواية فِي الْبَغْيِ. رواه احمد وابوداؤد والنسائي.

د غزا په وخت یا دصدقې د ورکولو په وخت کي سړی ښکاره کړي او کومه چي د خدای تعالی

Maktaba Tul Ishaat.com

بد ایسي نو هغه په نسب باندي فخر کول دي او په یو بل روایت کي دا الفاظ دي چي تکبر د الله جل جلاله خوښ نه دی هغه په ظلم کي تکبر کول دي . (احمد ابوداؤد نسائي) .

تخریج: احمد في المسند ۵\ ۴۴۵، وابوداود في السنن ۱۳\ ۱۱۴، رقم ۲۶۵۹، والنسائي ۵\ ۷۸، رقم: ۲۵۵۷.

تشریح پر خپل نسب باندي فخر او تکبر کول دادی چي یو سړی د لوړ او اعلی نسب او د ښه کورنۍ څخه وي او هغه دا وایي چي ما ته په نسب کي لوړوالی او امتیاز حاصل دی او زما پلار او نیکه د لوړي کورنۍ کېدو په وجه بزرګ او افضل دی ، دا یو داسي تکبر دی چي الله تعالی ته ناخوښه دی ځکه چي د الله تعالی په نزد غوره والی، فوقیت او بزرګي هغه سړي ته تر لاسه وي کوم چي د دین په اعتبار تر ټولو غوره وي ، الله تعالی فرمایي :

إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ

ژباړه : بېله شکه د الله تعالی په نزد په تاسو کي زیات بزرګ او د لوړي مرتبې سړی هغه څوک دی چي په تاسو کي زیات متقي (پرهیزګاره) وي .

د مشکوة شریف په یوه نسخه کي په دغه روایت کي د (في الفخر) پر ځای د (في الفقر) الفاظ دي یعني کوم تکبر چي د الله تعالی خوښ دی هغه د فقر تکبر دی، مطلب دا چي د الله تعالی دا خبره خوښه نه ده چي یو سړی دي د فقر په حالت کي پر خپل قناعت او خپل صبر باندي تکبر وکړي ، علماء کرام وایي چي دا تکبر تر هغه تکبر بد دی کوم چي پر خپل غناء او مال باندي کېږي مګر د فقیر تکبر په هغه صورت کي خراب او د الله تعالی په نزد ناخوښه دی کله چي هغه د فقر په مقابله کي وکړل سي مګر که چیري هغه تکبر د شتمنو او خانانو په مقابله کي وکړي نو دا ښه او غوره دی ځکه چي داسي تکبر ته خو صدقه ویل کېږي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د ولد الزنا نسب

﴿۳۱۷۸﴾: عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَامَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا

حضرت عمرو بن شعیب رضي الله عنه د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار ه څخه روایت کوي چي یو سړی و درېدی او عرض یې وکړ یا

رَسُولَ اللهِ إِنَّ فُلَانًا ابْنِي عَاهَرْتُ بِأُمِّهِ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ

رسول الله! فلانی زما زوي دی ما د هغه د مور سره د جاهلیت په زمانه کي زنا کړې وه نبي کریم

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا دَعْوَةَ فِي الْإِسْلَامِ ذَهَبَ أَمْرُ الْجَاهِلِيَّةِ الْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ وَلِلْعَاهِرِ الْحَجَرُ. رواه ابوداؤد

ﷺ ورته وفرمايل: د جاهليت د زمانې خبري تيري سوې په اسلام کي د هغه دعوا نه چليږي کوچنی د صاحب فراش (د بسترې د خاوند دی يعني د چا په بستره دي پيدا سوې وي) او د زنا کاره لپاره په کاڼو سنګسارول دي. (ابوداؤد).

تخريج: سنن ابي داود ۲\۷۰۶، رقم: ۲۲۷۴.

د لغاتو حل: لا دعوة: ای لا دعوی نسب.

تشريح: د صاحب فراش څخه هغه سړی مراد دی چي د ولد الزنا د مور خاوند يا مالک وي، مطلب دا چي کومه ښځه د چا په نکاح کي وي (يا د مينزي کېدو په صورت کي) د يو چا په ملکيت کي وي نو د هغه د زنا په نتيجه کي چي کوم کوچنی پيدا سي د هغه نسب د هغه د خاوند يا مالک څخه ثابتيږي او که چيري هغه ښځه د يو چا په نکاح يا ملک کي نه وي نو بيا به کوچنی مور ته منسوب وي، په هر صورت د زنا کونکي به د هغه کوچني سره هيڅ نسبي تعلق نه وي.

هغه څلور ښځي چي د هغو څخه لعان نه کيږي

﴿۳۱۷۹﴾: وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَرْبَعٌ مِنَ النِّسَاءِ لَا مُلَاعَنَةَ بَيْنَهُنَّ النَّصْرَانِيَّةُ تَحْتَ الْمُسْلِمِ وَالْيَهُودِيَّةُ تَحْتَ الْمُسْلِمِ وَالْحُرَّةُ تَحْتَ الْمَمْلُوكِ وَالْمَمْلُوكَةُ تَحْتَ الْحُرِّ. رواه ابن ماجة

د حضرت عمرو بن شعيب رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څلور ښځي دي چي په هغوی باندي لعان نسته: (۱): يوه نصراني ښځه ده چي د يوه مسلمان په نکاح کي وي. (۲): بله يهودي ښځه ده چي د يوه مسلمان په نکاح کي وي. (۳): بله هغه ازاده ښځه ده چي د يوه غلام په نکاح کي وي. (۴): هغه مينزه ده چي د يوه ازاد په نکاح کي وي. (ابن ماجه)

تخريج: سنن ابن ماجه ۱\۶۷۰، رقم: ۲۰۷۱

تشريح: مطلب دادی که چیري یو عیسائي یا یهودي ښځه د یو مسلمان په نکاح کي وي او د هغې خاوند پر هغې باندي د زنا تهمت ولګوي او هغه يې رد وکړي نو په دغه صورت کي د دواړو په مینځ کي لعان نه کیږي همدارنګه که چیري یو ازاده ښځه د یو غلام په نکاح کي وي یا یو مینزه د ازاد سړي په نکاح کي وي نو د هغوی په مینځ کي لعان نه کیږي او ددې وجه داده چي لعان په اصل کي شاهدي ده ځکه د لعان په صورت کي د سړي او ښځي دواړو د شهادت وړ کېدل ضروري دي حال دا چي مملوک او کافر د شهادت وړ نه دي یعني په هیڅ معامله کي د دوی شاهدي معتبره نه ده نو د دوی په مینځ کي د لعان هیڅ صورت نه سته.

رسول الله ﷺ تر خپل امکان پوري د لعان څخه ځان ساتئ

﴿۳۱۸۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ رَجُلًا حِينَ أَمَرَ الْمُتَلَاعِنَيْنِ أَنْ يَتَلَاعَنَا أَنْ يَضَعَ يَدَهُ عِنْدَ الْخَامِسَةِ عَلَى فِيهِ وَقَالَ إِنَّهَا مُوجِبَةٌ. رواه النسائي.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چي د دوو کسانو لعان کېدی رسول الله ﷺ یو سړي ته امر وکړ کله چي دا خلک په پنځم وار شاهدي ورکوي نو ته د هغوی په خوله لاس کښېږده ځکه چي د پنځم وار شهادت واجب کېدونکي دی (یعني جلاوالي په مینځ کي راولي). (نسائي).

تخريج: سنن النسائي ٦\١٧٥، رقم: ٣٤٧٢.

تشريح: کیدای سي یو خاوند پر خپل ښځه باندي د زنا تهمت لګولی وي او ښځي به د هغه تردید کړی وي نو رسول الله ﷺ هغوی ته حکم ورکړ او هغه وخت یو بل سړي ته يې دا حکم ورکړ چي د پنځمي شاهدي پر وار د لعان کونکي پر خوله لاس کښېږده چي هغه د پنځمي شاهدۍ په ورکولو سره لعان پوره نه کړي.

ددغه حکم مقصد دا وو چي د هغه پر خوله لاس کښېښودل سي نو هغه ته به احساس وسي او کوم چي ریښتیا خبره وي د هغه په اقرار کولو سره به د پنځمي شاهدۍ څخه منع سي او کله چي پنځمه شاهدي پوره نه سي نو لعان نه واقع کیږي، دا حدیث ددې دلیل دی چي رسول الله ﷺ تر خپل وس پوري د لعان څخه د منع کولو هڅه کول او دا يې غوښتل چي کومه ریښتیا خبره وي ښځه او خاوند دي د هغه اقرار وکړي او ددغه دنیا د آسانه عذاب یعني د زنا یا تهمت د حد په اختیارولو سره د آخرت د سخت عذاب څخه وساتل سي.

شیطان د خاوند او ښځي په مینځ کي د بدګماني پیدا کولو هڅه کوي

﴿۳۱۸۱﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ مِنْ عِنْدِهَا

د بي بي عائشي ﷝ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ یوه شپه (یعني د شعبان په پنځلسمه

لَيْلًا قَالَتْ فَغِرْتُ عَلَيْهِ فَجَاءَ فَرَأَى مَا أَصْنَعُ فَقَالَ مَا لَكِ يَا عَائِشَةُ أَغِرْتِ

شپه) زما څخه ولاړ شو او ولاړی د بي بي عائشي رض بیان دی په دې باندي ما ته غیرت راغلی (لږ وخت وروسته) رسول الله ﷺ بیرته تشریف راوړ او زه چي په کوم خلجان (تردد) کي مبتلا وم نبي کریم ﷺ هغه ملاحظه کړ (یعني محسوس یې کړ او ویې لیدل) او وې فرمایل:

فَقُلْتُ وَمَا لِي لَا يَغَارُ مِثْلِي عَلَى مِثْلِكَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

اې عائشي! په تا څه وسوسه ایا تا په ما باندي غیرت وکړ؟ ما عرض وکړ په ما څه وسوه چي زما ستاسو په ډول سړی باندي غیرت ونه کړم. نبي کریم ﷺ راته وفرمایل: هو،

لَقَدْ جَاءَكِ شَيْطَانُكِ قَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَمَعِيَ شَيْطَانٌ قَالَ نَعَمْ قلت وَمَعَكَ

تا ته شیطان راغلی دی او ته یې په وسوسه کي اچولې یې بي بي عائشه ﷝وایي چي ما عرض وکړ یا رسول الله! ایا زما سره شیطان سته؟ نبي کریم ﷺ راته وفرمایل: هو. ما وویل:

يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ نَعَمْ وَلَكِنْ أَعَانَنِي اللّٰهُ عَلَيْهِ حَتَّى أَسْلَمَ. رواه مسلم.

او ستاسو سره (یا رسول الله!) نبي کریم ﷺ راته وفرمایل: زما سره هم شیطان سته مګر الله ﷻ ماته په هغه باندي کومک را کړې دی. او زه یې د هغه څخه ساتلي یم. (مسلم).

تخریج: صحیح مسلم ۴\۲۱۶۸، رقم: ۷۰- ۲۸۱۵

تشریح: یو وخت د شعبان پر پنځلسمه شپه رسول الله ﷺ په آرامه د بي بي عائشي رضي الله عنها څخه په پورته کېدو سره جنت البقیع ته ولاړی چي هلته د مړو لپاره دعاء او مغفرت وکړي مګر بي بي عائشي ﷝ دا فکر وکړ چي رسول الله ﷺ زما څخه په ولاړېدو خپل یو بلي بي بي ته ورغلی دی، دا د شیطان چم وو چي هغه یې په دغه شک کي اخته کړه په دې وجه هغې ته ډېر غیرت راغلی د هغې د زړه کیفیت متغیر سو او بیا هغې ولېدل چي د رسول الله ﷺ منزل د یو بلي بي بي ځای نه دی بلکه جنت البقیع دی چیري چي رسول الله ﷺ د دغه دنیا څخه د تلونکو

Maktaba Tul Ishaat.com

مسلمانانو په دعاء او مغفرت کي بوخت دی ، یقیني خبره ده چي کوم شک او شبهې بي بي عائشه ﷺ په دومره بېره کي اخته کړه چي هغه د رسول الله ﷺ د ستنېدو څخه مخکي کور ته ورسیږي نو د هغه ځای څخه په منډه بېرته راغلل کله چي په کور کي داخله سوه نو یو خو د منډو په وجه او یو څه د پښیمانۍ په وجه زړه یې درېدی او ساه یې ژر ژر اخیستل ، د هغه وروسته رسول الله ﷺ کور ته راغلی او د بي بي عائشې ﷺ دا کیفیت یې ولیدی چي ساه یې ژر ژر کښل او بېره پر خپره سوې ده ، ورته وه یې فرمایل ولي دومره بېره در باندي راغلې ده چي تا یوازي په دې وجه غیرت وکړ چي زه همدا سي ولي ولاړم ، ددې په جواب کي چي بي بي عائشې رضي الله عنها څه وویل هغه په اصل کي د ښځو د فطري جذباتو ترجماني وه هغې وویل دا ناممکنه ده چي زما په ډول ښځه دي پر تاسو غوندي سړي باندي غیرت ونه کړي مګر که څه هم ما ته ستاسو ډېر محبت تر لاسه دی مګر زما بني هم څو دي او بیا تاسو په ټول ظاهري او باطني کمال سره متصف یاست نو په دغه صورت کي زه ولي په شک او غیرت کي اخته نه سم .

==========

بَابُ الْعِدَّةِ (د عدې بیان)

د عدت معنی : د عدت لغوي معنی د شمېرلو ده او د شریعت په اصطلاح کي عدت دې ته وایي چي کله یو سړی خپل ښځي ته طلاق ورکړي یا د خلع او ایلاء په ذریعه نکاح یا د نکاح په ډول شی (مثلا نکاح فاسد) مات سي په شرط ددې چي په نکاح کي جماع یا خلوت صحیحه سوی وي یا خاوند مړ سي نو هغه تر ټاکلي وخت پوري (چي د هغه تفصیل به مخته راسي) په کور کي پاته کیږي تر څو چي هغه وخت ختم نه سي تر هغه پوري ښځه چیري نه ځي او نه د بل چا سره نکاح کوي کله چي دغه وخت پوره سي نو چیري چي غواړي تللای سي او د چا سره چي وغواړي نکاح کولای سي .

د عدت وخت : کله چي ازادي ښځي ته د هغې خاوند طلاق ورکړی وي یا نکاح فسخ سوې وي او هغې ته حیض راځي نو د هغې د عدې وخت درې حیضه دی یعني هغه به تر درو حیضو راتلو پوري د خاوند په کور کي (چیري چي طلاق ورکړل سوی دی) ناسته وي او د هغه کور څخه د باندي به نه ځي او نه به د چا سره نکاح کوي ، همدارنګه د کومي ځي سره چي په شبه کي جماع سوې وي د هغې د عدت وخت هم درې حیضه دی یعني یو څوک چي د بل ښځي سره د

خپل ښځي په ګنګلو سره په خطا کي جماع وکړي نو هغه ښځه به هم تر درو حیضو راتلو پوري په عده کي وي تر څو چي عده ختمه نه سي تر هغه وخته به د خاوند سره جماع نه کوي ، د کومي ښځي سره چي بې قاعدې یعني فاسده نکاح سوې وي لکه موقت نکاح او بیا جلاوالی وکړل سي یا د جلاوالي څخه مخکي خاوند مړ سوی وي نو د هغې د عدت وخت هم درې حیضه دی ، کله چي ام ولد ازاده سي یاد هغې بادار مړ سي نو د هغې عدت هم درې حیضه دی.

که یوې ښځي ته د کم عمرۍ په وجه یا د وچي کېدو په وجه او یا د سپین سرتوب په وجه حیض نه راځي نو د عدې عده درې میاشتي ده .

د کومي ازادي ښځي خاوند چي مړ سي نو د هغې عدت څلور میاشتي او لس ورځي دی که څه هم د هغه ښځي سره بې جماع سوې وي یا نه وي سوې او که څه هم هغه مسلمانه ښځه وي یا د مسلمان سړي په نکاح کي یهودي یا نصراني وي او که څه هم هغه بالغه وي یا نابالغه ، او که څه هم د هغې خاوند ازاد وي یا غلام وي او که څه هم په دغه وخت کي هغې ته حیض راځي یا نه راځي .

د حاملې ښځي عدت د حمل وضع دی، که څه هم هغه ښځي ته خاوند طلاق ورکړی وي یا د هغې خاوند مړ سوی وي او که څه هم هغه ښځه ازاده وي یا مینزه وي ، د ولادت په کېدو سره د هغې عده پوره کیږي که څه هم د خاوند د طلاق ورکولو یاد خاوند د مړو کېدو څخه وروسته ولادت وسي تر دې چي په مبسوط نامي کتاب کي لیکلي دي که چیري د حاملې ښځي خاوند مړ سي او هغه ته غسل ورکول کیږي یا کفن ورکول کیږي که چیري د هغه ښځي ولادت وسو (یعني کوچنی یې پیدا سو) نو د هغې عده پوره سوه .

کومه ښځه چي ازاده نه وي یعني د یو چا مینزه وي او د هغې خاوند طلاق ورکړي نو د هغې عدت هغه حیض دی په شرط ددې چي هغې ته حیض راځي او که چیري هغې ته حیض نه راځي نو بیا د هغې عده یوه نیمه میاشت ده او که چیري دهغې خاوند مړ سي نو د هغې عده دوې میاشتي او پنځه ورځي ده که څه هم هغې ته حیض راځي یا نه راځي .

د عدت د شروع وخت : د طلاق په صورت کي د عدت شروع د طلاق څخه وروسته وي یعني د طلاق څخه وروسته چي درې حیضه راسي نو هغه به شمېرل کیږي که یو چا د حیض په حالت کي ښځي ته طلاق ورکړی وي نو هغه حیض نه شمېرل کیږي بلکه د هغه حیض څخه وروسته د درو حیضو اعتبار دی ، او په وفات کي د عدت شمېر د خاوند د وفات څخه وروسته وي که ښځي ته د طلاق یا د وفات خبر ونه سي تر دې چي د عدت وخت تېر سي نو د هغې عده پوره سوه ، د عدې په باره کي نور مسائل د فقهي په کتابو کي تر لاسه کولای سئ .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د عدت په ورځو کي پر خاوند نفقه واجب ده که یا؟

﴿۳۱۸۲﴾: عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ أَنَّ أَبَا عَمْرِو بْنَ حَفْصٍ طَلَّقَهَا

د حضرت ابو سلمه رضی الله عنه څخه روایت دی چي فاطمه بنت قیس رضی الله عنها دا بیان وکړ چي ابو عمرو بن حفص رضی الله عنه: د هغې خاوند و هغې ته طلاق ورکړ

الْبَتَّةَ وَهُوَ غَائِبٌ فَأَرْسَلَ إِلَيْهَا وَكِيلُهُ لِلشَّعِيرِ فَسَخِطَتْهُ فَقَالَ وَاللهِ مَا لَكِ

او ابو عمرو (یعني د هغې خاوند) د هغې سره موجود نه وو د هغه ځایه څخه یې طلاق را ولېږی بیا د ابو عمرو وکیل فاطمې رض ته څه اوربشي را ولېږلې فاطمه په هغه باندي ډېره خفه سوه وکیل و فاطمې ته وویل قسم په خدای چي

عَلَيْنَا مِنْ شَيْءٍ فَجَاءَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَتْ ذٰلِكَ لَهُ

ستا پر موږ باندي حق نسته یعني ستا نفقه پر موږ باندي واجب نه ده موږ چي څه درکوو هغه د احسان په ډول درکوو د دې څخه وروسته فاطمه د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضره سوه او

فَقَالَ لَيْسَ لَكِ نَفَقَةٌ فَأَمَرَهَا أَنْ تَعْتَدَّ فِي بَيْتِ أُمِّ شَرِيكٍ ثُمَّ قَالَ تِلْكِ امْرَأَةٌ

واقعه یې ورته بیان کړه نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: ستا نفقه په خاوند باندي واجب نه ده بیا نبي کریم ﷺ و فاطمې رضی الله عنها ته وفرمایل چي ته د ام شریک په کور کي د عدت ورځي تیري کړه بیا نبي کریم ﷺ وفرمایل: ام شریک یوه داسي ښځه ده چي د

يَغْشَاهَا أَصْحَابِي اعْتَدِّي عِنْدَ ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ فَإِنَّهُ رَجُلٌ أَعْمَى تَضَعِينَ

هغې په کور کي زما اصحاب (د ام شریک خپلوان) ځي او راځي په دې وجه ته د ابن مکتوم کره د عدت ورځي تیري کړه هغه یو ړوند سړی دی هلته در سره د اغوستلو کالي هم واخله

ثِيَابَكِ فَإِذَا حَلَلْتِ فَآذِنِينِي قَالَتْ فَلَمَّا حَلَلْتُ ذَكَرْتُ لَهُ أَنَّ مُعَاوِيَةَ بْنَ أَبِي

چي کله حلاله سې (د عدت ورځي دي ختمي سي) نو ما خبر کړه د فاطمې رض بیان دی کله چي زما د عدت ورځي تیري سوې نو ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ معاویه بن ابو سفیان

Maktaba Tul Ishaat.com

سُفْيَانَ وَأَبَا جَهْمٍ خَطَبَانِي فَقَالَ أَمَّا أَبُو جَهْمٍ فَلَا يَضَعُ عَصَاهُ عَنْ عَاتِقِهِ

او ابو جهم ما ته د نکاح پیغام را ولیږی نبي کریم ﷺ وفرمایل: ابو جهم خو یو داسي سړی دی چي هیڅ وخت یې لرګی د اوږې څخه نه کښته کیږي (یعني ډېر سخت مزاجه سړی دی)

وَأَمَّا مُعَاوِيَةُ فَصُعْلُوكٌ لَا مَالَ لَهُ انْكِحِي أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ فَكَرِهْتُهُ ثُمَّ قَالَ

او معاویه یو مفلس سړی دی د هغه سره هیڅ نسته ته د اسامه بن زید رضي الله عنه سره نکاح وکړه د فاطمې رض بیان دی ما د رسول الله ﷺ دغه مشوره خوښه نکړه د اسامه سره مي د نکاح تجویز

انْكِحِي أُسَامَةَ فَنَكَحْتُهُ فَجَعَلَ اللّٰهُ فِيهِ خَيْرًا وَاغْتَبَطْتُ وفي رواية عنها قال

زړه ته نه تلئ نبي کریم ﷺ راته وفرمایل: ته د اسامه سره نکاح وکړه نو ما د اسامه سره نکاح وکړه الله ﷻ زما په دې نکاح کي برکت واچوی او وروسته په ما باندي ښځو غبطه کول، په یو

فاما ابو جهم فرجل ضراب للنساء رواه مسلم وفي رواية عنها ان زوجها طلقها ثلاثا فاتت النبي ﷺ فقال لا نَفَقَةَ لَكِ إِلَّا أَنْ تَكُونِي حَامِلًا.

روایت کي د فاطمې رضي الله عنها څخه دا الفاظ منقول دی د فاطمې رضي الله عنها خاوند درې طلاقه ورکړه نو هغه د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضره سوه نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: (د خاوند د لوري څخه) ستا لپاره نفقه نسته البته که حمل داره یې نو ستا نفقه پر خاوند باندي واجب ده. مسلم

تخريج: مسلم في الصحيح ۲\ ۱۱۱۴، رقم: ۳۶- ۱۴۸۰.

تخريج: فسخطته: اى ما رضيت به.

تشريح: هلته جامې در سره واخله: ددې مطلب دادی چي ابن ام مکتوم رضي الله عنه ړوند دی ځکه نو هلته به تاته د پردې ضرورت نه وي او که دا ترجمه وکړل سي چي هلته ته خپل جامې اېږده نو بیا به مطلب دا وي چي هلته تر څو پوري ته په عده کي یې د زینت او ښکلا جامې مه اغونده، یا ددې جملې په ذریعه په کنایه سره دا اظهار کول مقصد دي چي د عدې په ورځو کي د کور څخه وتل جائز نه دي.

امام نووي رحمه الله وايي چي ددغه حديث څخه ځينو علماؤ دا استدلال کړی دی چي د ښځي پردي سړي ته کتل جائز دي په شرط ددې چي هغه پردی سړی هغې ته ونه ګوري مګر دا

استدلال کمزوری او ضعيف دی ، صحيح خبره هغه ده کوم چي د اکثرو علماؤ قول دی چي څرنګه د پردي سړي ښځي ته کتل حرام دي همدارنګه د پردۍ ښځي پردي سړي ته کتل هم حرام دي ځکه څرنګه چي الله تعالی د نارينوو په باره کي دا حکم کړی دی چي :

قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ ...الاية

ژباړه : (اې محمد ! ﷺ) ته مسلمانو نارينوو ته ووايه چي خپل نظرونه کښته کړئ ...

همدارنګه الله تعالی د ښځو په باره کي هم دا حکم ورکړی دی چي :

وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ ... الاية

ژباړه : او مسلمانو ښځو ته هم ووايه چي هغوی خپل نظرونه کښته وساتي ...

په دې باره کي د حضرت ابن ام مکتوم رضي الله عنه په اړه د ام المؤمنين بي بي ام سلمه رضي الله عنها هغه روايت هم يو لوی دليل دی چي په هغه کي بي بي سلمه رضي الله عنها بيان کړی دی چي يو وار هغه او بي بي ميمونه رضي الله عنهما د رسول الله ﷺ سره وې چي ناڅاپه حضرت ابن ام مکتوم رضي الله عنه راغلی نو رسول الله ﷺ هغه دواړو ته وفرمايل چي پرده وکړئ ، بي بي ام سلمه رضي الله عنها وويل : دی خو ړوند دی موږ نه ويني چي موږ د هغه څخه پرده وکړو، رسول الله ﷺ وفرمايل : (افعميا وان انتما الستما تبصرانه) ايا تاسو هم ړندې ياست ايا تاسو هغه نه وينئ.

د بي بي فاطمې رضي الله عنها د دغه روايت څخه په هيڅ ډول دا نه ثابتيږي چي رسول الله ﷺ ابن ام مکتوم رضي الله عنه ته کتل د بي بي فاطمې لپاره جائز ګرځولي دي ، بلکه د رسول الله ﷺ مقصد يوازي دا ظاهرول وو چي ته به ابن ام مکتوم رضي الله عنه سره په امن او حفاظت سره اوسيږې ځکه چي د هغه سره به تا هيڅوک نه ويني ، او کوم چي د بي بي فاطمې رضي الله عنها سوال دی نو هغې ته خپله د کتاب الله دا حکم معلوم وو چي پردي سړي ته کتل منع دي ځکه هغې ته دا ممکن نه وه چي هغه دي ابن ام مکتوم ته وګوري .

په هر حال د بي بي فاطمې رضي الله عنها د دغه روايت څخه ځيني علماء د ښځو لپاره د پردي سړي ته کتلو چي کوم جواز ثابت کړی دی د هغه په باره کي د اکثرو جمهورو علماؤ له خوا دا جواب ورکول کيږي .

اوس پاته سوه د امام اعظم ابو حنيفة رحمه الله د فقهي مذهب خبره، نو دا په ذهن کي راوستل پکار دي چي د هغه په نزد پردي سړي ته د هغه د نامه څخه لاندي تر زنګنو پوري برخي څخه پرته کتل د ښځي لپاره جائز دي په شرط د دې چي هغه د جنسي ترغيب څخه محفوظ او خوندي

Maktaba Tul Ishaat.com

وي كه چيري د جنسي ترغيب څخه مامون نه وي نو بيا د پردي سړي پوره بدن ته كتل د هغې لپاره حرام دي.

ابو جهم رضي الله عنه خپل كوتک د اوږو څخه نه كښته كوي: د دې څخه د ابو جهم رضي الله عنه سخت مزاجۍ ته اشاره ده چي ابو جهم رضي الله عنه ډېر سخت سړی دی هغه ښځي وهي او د هغه سره ستا گزاره مشكل ده نو د دې څخه معلومه سوه چي يو چا ته د يو ښځي يا يو سړي يو عيب معلوم وي نو د كوزدې پر وخت د هغه اظهار كول جائز دي چي د واده څخه وروسته هغه دواړه په يو تكليف او پريشانۍ كي اخته نه سي.

بي بي فاطمې رضي الله عنها د حضرت اسامه رضي الله عنه انتخاب ځكه ناخوښه كړی چي اول خو هغه د رسول الله ﷺ د غلام زوی وو، دوهم د هغه رنګ تور وو، حال دا چي فاطمه رضي الله عنها قريشي وه او ښكلې وه مګر حضرت اسامه رضي الله عنه د رسول الله ﷺ ډېر محبوب وو، د رسول الله ﷺ په دربار كي يو خاص فضيلت او تقرب ورته حاصل وو ځكه رسول الله ﷺ دوهم وار د هغه سفارش وكړ نو د دې څخه وروسته د فاطمې انكار كول مناسب ونه ګڼل او د رسول الله ﷺ د حكم سره سم ئې حضرت اسامه رضي الله عنه سره نكاح وكړه او د هغه نتيجه دا سوه چي الله تعالی د هغوی په نكاح كي خير او بركت وركړ او هغه ته د اسامه رضي الله عنه په زوجيت كي ارام او سكون په برخه سو.

په دې باره كي د علماؤ اختلافي قولونه دي چي كله ښځي ته طلاق بائن وركړل سي او هغه حامله نه وي نو د عدې پوره كولو پوري د هغې نفقه او د اوسيدو ځای د خاوند پر ذمه دی كه يا؟ د امام اعظم ابو حنيفة رحمه الله او نورو علماؤ په نزد پر خاوند باندي د هغې نفقه او د اوسيدو ځای واجب دی، سكنی (د اوسېدو ځای) په دغه آيت كريمه سره ثابت دی:

أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم مِّن وُجْدِكُمْ

ژباړه: تاسو هغه (طلاق سوي ښځي) ته خپل وس سره سم د اوسېدو ځای وركړئ چيري چي تاسو اوسيږئ.

او د نفقې په اعتبار واجب دی چي هغه ښځه د هغه خاوند په وجه د ټولو پابنديو سره په عده كي ناسته وي، حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د دې قائل وو بلكه هغه د دغه حديث په باره كي فرمايل چي موږ د يوې ښځي (فاطمه بنت قيس) په وينا چي رسول الله ﷺ ما ته وفرمايل چي ستا نفقه او د اوسيدو ځای ستا د خاوند پر ذمه نه سته، موږ د الله جل جلاله كتاب او د رسول الله ﷺ سنت نه سو پرېښودلای چي د هغه څخه نفقه او سكنی واجب كېدل ثابت دي كيدای سي چي

Maktaba Tul Ishaat.com

فاطمې ته اشتباه سوې وي يا هغې ته د رسول الله ﷺ اصل ارشاد ياد نه وي ، ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي د ښځي نفقه او سکنى د خاوند پر ذمه ده مګر ابن مالک رحمة الله عليه وايي چي دا واقعه د صحابه کرامو په وړاندې پيښه سوې وه (او په هغه صحابه کرامو کي هيچا د فاطمې د قول ترديد نه دى کړى ځکه دا په منزله د اجماع سو) .

امام احمد رحمة الله عليه وايي چي د هغه ښځي لپاره نه نفقه واجب ده او نه سکنى، او هغه د دغه حديث څخه استدلال کړى دى چي امام مالک، امام شافعي او نور علماء وايي چي دغه آيت (اسکنوهن ..الخ) په موجب د هغه ښځي لپاره سکنى واجب ده او نفقه واجب نه ده مګر که چيري ښځي ته د حمل په حالت کي طلاق ورکړل سوى وي نو د دغه حديث سره سم د هغې لپاره نفقه واجب ده .

﴿۳۱۸۳﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ إِنَّ فَاطِمَةَ كَانَتْ فِي مَكَانٍ وَحْشٍ فَخِيفَ عَلَى

د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روايت دى چي فاطمه بنت قيس چي په کوم کور کي اوسېده هغه خرابه (زړه آبادي) وه او هلته هر وخت خطره وه

نَاحِيَتِهَا فَلِذَلِكَ رخص لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تعني في النقلة و في

په دې وجه رسول الله ﷺ و هغې ته اجازت ورکړ چي هغه د عدت په ورځو کي د هغه ځايه څخه

رواية قالت ما لفاطمة الا نتقي الله تعني في قولها لا سكنى و لا نفقة .رواه البخاري

ولاړه سي او په يو بل روايت کي دا الفاظ دي چي بي بي عائشې رض و فاطمې رض ته وويل : چي ته د الله جل جلاله څخه نه بېرېږې چي دا وايي چي کومې ښځي ته درې طلاقه ورکړل سي د هغې لپاره نه خو د اوسېدو لپاره کور سته او نه نفقه (يعني ته دا قول و نبي کريم ﷺ ته منسوبوې د خدايه څخه نه بېرېږې چي دا نبي کريم ﷺ داسي ويلي دي). (بخاري

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۴۷۷، رقم: ۵۳۲۴

تشريح: د حديث د اولو الفاظو مطلب دادى چي فاطمه بنت قيس رضي الله عنها په کوم ځاى کي اوسېدل هغه په يو وران ځاى کي وو چي هلته هر وخت د غلو بېره وه ځکه رسول الله ﷺ هغې ته د هغه سراى څخه د ابن ام مکتوم رضي الله عنه سراى ته د ورتلو ويلي وه ، د دغه بيان څخه د بي بي عائشې رضي الله عنها مقصد دا اګاه کول وو چي فاطمه د خپل عدې په ورځو کي د خپل خاوند د کور

Maktaba Tul Ishaat.com

په پرېښودو سره د بل په کور کي ناسته وي او څوک دا ونه وايي چي د درو طلاقو ښځي لپاره سکنی نه سته . او هغه چي چيري غواړي په عده کي دي کښيني بلکه فاطمه د خپل خاوند د سراى په پرېښودو سره د يو بل سړي په سرا يکی د عدې تېرولو سبب دغه دی کوم چي بيان سو د دوهم روايت د الفاظو مطلب دادی چي فاطمه بنت قيس د رسول الله ﷺ څخه دا نقل کړي دي چي کومي ښځي ته طلاق بائن ورکړل سوی وي د هغې لپاره نه نفقه سته او نه سکنی (د اوسېدو ځای)، بي بي عائشې رضي الله عنها د هغې ددغه خبري رد وکړ او وه يې ويل چي فاطمه دا قول رسول الله ﷺ ته په منسوب کولو سره د الله ﷻ څخه نه بيرېږي رسول الله ﷺ به هيڅکله داسي نه وي ويلي بلکه فاطمې ته به غلط فهمي سوې وي .

په دغه مسئله کي د بي بي عائشې رضي الله عنها هم هغه مذهب دی کوم چي د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه دی او دا حديث د امام اعظم ابو حنيفة رحمه الله د مذهب تاکيد کونکی هم دی چي طلاق بائن والا ښځي لپاره سکنی هم سته او نفقه هم سته .

﴿۳۱۸۴﴾: وَعَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ قَالَ اِنَّمَا نُقِلَتْ فَاطِمَةُ لِطُوْلِ لِسَانِهَا عَلٰى اَحْمَائِهَا . رواه في شرح السنة .

د حضرت سعيد بن مسيب رضي الله عنه څخه روايت دی چي فاطمه بن قيس رضي الله عنها د عدت په ورځو کي په دې وجه د خاوند د کور څخه وايستل سوه چي د خاوند د قريبانو سره به يې ژبه چلول . (شرح السنة)

تخريج: البغوي في شرح السنة ۹\ ۲۹۴، رقم: ۲۳۸۴

تشريح: د عدې په وخت کي د خپل خاوند د کور څخه د فاطمې د تللو يو سبب خو هغه وو کوم چي په مخکي حديث کي تېر سوی دی يعني د هغې کور په يو وران ځای کي وو او دوهم سبب دادی کوم چي په دغه حديث کي ذکر سوی دی .

د عدت په زمانه کي د ضرورت لپاره د کور څخه وتل جائز دي که يا؟

﴿۳۱۸۵﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ طُلِّقَتْ خَالَتِي ثَلَاثًا فَأَرَادَتْ أَنْ تَجُدَّ نَخْلَهَا

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي زما خاله ته درې طلاقه ورکول سوه هغې اراده وکړه

فَزَجَرَهَا رَجُلٌ أَنْ تَخْرُجَ فَأَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ بَلٰى فَجُدِّي

Maktaba Tul Ishaat.com

نَخْلَكِ فَإِنَّه عَسَى أَنْ تَصَدَّقِي أَوْ تَفْعَلِي مَعْرُوفًا . رواه مسلم .

چي د كوره څخه د باندي ولاړه سي او خپل خرماوي ووهي يو سړي د هغې د وتلو مخه و نيول او د رسول الله ﷺ په خدمت كي يې حاضره كړه او واقعه يې ورته بيان كړه نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: ولاړه سه او خپلي د خرماؤ درختي ووهه شايد ته د دې خرماؤ څخه صدقه وكړې يا د دې په ذريعه يو بل احسان وكړې .(مسلم) .

تخريج: مسلم في الصحيح ١١٢١/٢، رقم: ٥٥- ١٤٨٣

د لغاتو حل: تَجُد : اى تقطع تمر نخلها.

تشريح: د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دا وو كه چيري هغه خرماوي دومره وي چي پر هغه زكوة واجبيږي نو ته به د هغه زكوة ادا كوې او كه چيري د نصاب په اندازه نه وي نو ته به د هغه په ذريعه احسان او نيک چلن وكړې په دې توګه چي خپلو همسايګانو او مسكينانو ته به هغه د صدقې په توګه وركوې يا خلكو ته به يې د تحفې په توګه استوې ، د دې څخه معلومه سوه كه چيري هغې صدقه نه كولاى نو د هغې لپاره به د كور څخه وتل جائز نه واى .

امام نووي رحمه الله وايي چي په دغه حديث كي د دې خبري دليل دى چي كومه ښځه د طلاق بائن په صورت كي ناسته وي نو د هغې ته د خپل يو ضرورت په وجه د كور څخه وتل جائز دي ، په دغه مسئله كي چي د حنفيه كوم مذهب دى هغه به د بي بي ام عطيه په روايت كي راسي .

د حاملې ښځي عدت

﴿٣١٨٦﴾: وَعَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ أَنَّ سُبَيْعَةَ الْأَسْلَمِيَّةَ نُفِسَتْ بَعْدَ وَفَاةِ

د حضرت مسور بن مخرمه رضي الله عنه څخه روايت دى چي سبيعه اسلميه د خپل خاوند تر مرګ وروسته

زَوْجِهَا بِلَيَالٍ فَجَاءَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَأْذَنَتْهُ أَنْ تَنْكِحَ فَأَذِنَ لَهَا فَنَكَحَتْ . رواه البخاري.

كوچنى راوړ بيا هغه د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضره سوه او د نكاح كولو اجازت يې وغوښت نبي كريم ﷺ ورته اجازه وركړه او هغې نكاح وكړه .(بخاري).

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ٦٥٣/٨، رقم: ٤٩٠٩،

تشريح: سبيعه اسلميه د خپل خاوند د وفات پر وخت حامله وه د خاوند د وفات څخه ثو

Maktaba Tul Ishaat.com

وروستي د هغې کوچنی پیدا سو نو رسول الله ﷺ هغې ته د دوهمي نکاح کولو اجازه ورکړه. علماء کرام وايي که چیري د خاوند د وفات یا د طلاق څخه وروسته د ښځي اولاد وسي نو هغه د عدې څخه وځي او د هغې لپاره دوهمه نکاح کول جائز دي که څه هم ولادت د طلاق یا وفات څخه لږ وروسته وي.

د عدت په زمانه کي د سترګو تورولو منع

﴿۳۱۸۷﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ جَاءَتْ امْرَأَةٌ إِلَى النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د بي بي ام سلمه رضي الله عنها څخه روایت دی چي یوه ښځه د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضره سوه او

فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ ابْنَتِي تُوُفِّيَ عَنْهَا زَوْجُهَا وَقَدْ اشْتَكَتْ عَيْنَهَا

عرض يې وکړ یا رسول الله! زما د لور خاوند مړ سو او د هغې سترګي خوږېږي ایا زه د هغې

أَفَتَكْحُلُهَا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا كُلَّ ذَلِكَ

سترګي توري کړم؟ نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: یا! څو واره هغې ښځي داسي پوښتنه کوله

يَقُولُ لَا ثُمَّ قَالَ إِنَّمَا هِيَ أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ وَعَشْرٌ وَقَدْ كَانَتْ إِحْدَاكُنَّ فِي الْجَاهِلِيَّةِ تَرْمِي بِالْبَعْرَةِ عَلَى رَأْسِ الْحَوْلِ. متفق عليه

او نبي کریم ﷺ هر وار د یا جواب ورکوی بیا نبي کریم ﷺ وفرمایل: د عدت تېرول څلور میاشتي او لس ورځي دی او د جاهلت په زمانه کي به یو کال په عدت کي اوسېدلاست او پچه به مو ویشتل په تېرېدو د کال. بخاري او مسلم.

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\ ۴۸۴، رقم: ۵۳۳۶، ومسلم ۲\ ۱۱۲۴، رقم: ۱۴۸۸

تشريح: دا حديث په ظاهره د امام احمد رحمه الله دليل دی د هغه په نزد هغه ښځي ته رانجه په سترګو کي اچول جائز نه دي د کومي چي خاوند مړ سوی وي او هغه په عده کي ناسته وي که څه هم د سترګو خوږېدو په وجه هغې ته د رانجو استعمالولو ضرورت وي او که د ښکلا او زينت لپاره وي، د امام ابوحنيفة او امام مالک رحمة الله عليهما په نزد د مجبورۍ په حالت کي رانجه استعمالول جائز دي او امام شافعي رحمه الله هم د سترګو خوږېدو په صورت کي اجازه ورکوي مګر په دې شرط چي د شپې يې ولګوي او د ورځي يې پريولي.

Maktaba Tul Ishaat.com

ددغه حديث په باره كي حنفي علماء وايي كه چيري هغه ښځي د زينت او ښكلا لپاره رانجه لګولي واى مګر بهانه يې كړې وه چي ستر ګي يې خوږ دي او رسول الله ﷺ ته به ددې خبري علم وو ځكه نو رسول الله ﷺ د رانجو لګولو اجازه نه وركړه.

د حديث د آخري جملې وضاحت دادى چي د جاهليت په زمانه كي دا رواج وو چي د كومي ښځي خاوند به مړ سو نو هغه به يو كوچنى او تاريكه خونه كي كښېنستل او ډيري خرابي جامې به يې اغوستلې، د زينت او ښكلا هيڅ شي به يې نه استعمالوى خوشبويي به يې نه لګول غرض دا چي تر يوه كاله به په دغه حالت كي اوسېدل بيا كله چي به كال ختم سو په هغه ورځ به هغې ته خر، پسه يا يو بل حيوان راوستل سو چي په هغه سره به يې خپل شرمګاه ومووږل او د هغه ځخه وروسته به د هغه خوني ځخه راوتل بيا هغې ته په لاس كي يو ځو پچي وركول كېدى چي هغې به غورځولې او په هغو سره به يې د عدې ځخه راووتل رسول الله ﷺ دغه رواج ته اشاره وفرمايل چي د پخوا په نسبت اوس د عدې وخت ډېر لږ دى يعني ځلور مياشتي او لس ورځي او په دې كي خرابي او پريشاني هم نه سته نو بيا دومره اضطراب ولي وي.

د عدت په زمانه كي دوېر كولو حكم

﴿۳۱۸۸﴾: وَعَنْ اُمِّ حَبِيْبَةَ وَ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ عَنْ رَّسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د بي بي ام حبيبه ﷺ او زينب بنت جحش رض ځخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هيڅ

وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ تُحِدَّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثٍ إِلَّا عَلَى زَوْجٍ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا. متفق عليه

يو مسلمانه ښځه چي پر الله ﷻ او په آخرت باندي ايمان لرى په يو مړى باندي د درو ورځو ځخه زيات وير نه كوي ماسوا د خاوند د وير ځخه چي هغه تر ځلورو مياشتو او لسو ورځو پوري كولاى سي.

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\ ۴۸۴، رقم: ۵۳۳۴، ومسلم ۲\ ۱۱۲۳، رقم: ۵۸- ۱۴۸۶

تشريح: د وير كولو مطلب دادى چي ښكلا او سنګار كول پرېږدي او د رانجو، خوشبويي او داسي نورو شيانو ځخه دي ځان وساتي، دغه ماتم پر يو مړي باندي تر درو ورځو زيات جائز نه دى مګر د خپل خاوند پر وفات ځلور مياشتي او لس ورځي يعني د عدې تر پوره كېدو پوري ماتم كول واجب دى.

Maktaba Tul Ishaat.com

پاته سوه دا خبره چي څلور مياشتي او لس ورځي يعني د عدې د وخت شروع کله ده ؟ نو د جمهورو علماؤ په نزد د دغه وخت شروع د خاوند د مرګ څخه وروسته وي مګر حضرت علي رضي الله عنه ددې قائل دی چي د عدې شروع د هغه وخت څخه وي کله چي ښځه د خاوند د مرګ خبره سي ، که چيري د يو ښځي خاوند په سفر يا بل ځای کي وفات سوی وي او هغه ښځه خبره نه وي تر دې چي څلور مياشتي او لس ورځي تيري سوي وي نو د جمهورو علماؤ په نزد عده پوره سوه حال دا چي د حضرت علي رضي الله عنه د قول مطابق د هغې عده نه پوره کيږي بلکه د هغې د خبرېدو د وخت څخه څلور مياشتي او لس ورځي به په عده کي ناسته وي .

﴿۳۱۸۹﴾ : وَعَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تُحِدُّ امْرَأَةٌ

د بي بي ام عطيه رضي الله عنها څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هيڅ ښځه دې پر مړي باندي

عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثٍ إِلَّا عَلَى زَوْجٍ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا وَلَا تَلْبَسْ ثَوْبًا مَصْبُوغًا

تر درو ورځو زيات وير نه کوي خو د خاوند د وير څخه ما سوا چي هغه تر څلورو مياشتو او لسو ورځو پوري کولای سي په دې ورځو کي دې نه رنګينه جامه اغوندي

إِلَّا ثَوْبَ عَصْبٍ وَلَا تَكْتَحِلُ وَلَا تَمَسُّ طِيبًا إِلَّا إِذَا طَهُرَتْ نُبْذَةً مِنْ قُسْطٍ أَوْ أَظْفَارٍ متفق عليه و زاد ابوداؤد وَلَا تَخْتَضِبُ .

مګر هغه څادر چي د هغې په سوت رنګ سوی جوړ سوی وي هغه استعمالولای سي او نه دې په دې ورځو کي خوشبوئي او نه رانجه لګوي خو کله چي د حيض څخه پاکه سي نو هغه وخت د قسط او اظفار معمولي خوشبوئي لګولای سي. (بخاري او مسلم) او د ابو داؤد په يوه روايت کي دا الفاظ دي په دغه ورځو کي دي ورېښتان هم په نکريزو نه سره کوي .

تخريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري)؛ ۹\ ۴۹۲، رقم: ۵۳۴۲، ومسلم ۲\ ۱۱۲۷، رقم: ۶۶- ۹۳۸، وابوداود في السنن ۲\ ۷۲۵، رقم: ۲۳۰۲

د لغاتو حل: عصب: نوع من البرود . قُسط، اظفار: نوع من الطيب (يو ډول خوشبويي)

تشريح: د رنګينو جامو څخه مراد هغه جامه ده چي د کسم، زعفران او داسي نورو شيانو په رنګ سره رنګ سوې وي او په عامه توګه د زينت او ښکلا په توګه اغوستل کيږي ، په کافي نامي کتاب کي ليکلي دي که چيري ښځه د رنګينو جامو څخه پرته نوري جامې نه لري نو هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

هم اغوستلای سي ځکه چي د هغې د ستر پټول ضروري دي مګر شرط دادی چي هغه رنګيني جامې د ښکلا او زينت لپاره استعمال نه سي .

عصب په هغه زمانه کي يو خاص ډول ځادر ته ويل کېدل چي داسي به جوړ سوی وو چي مخکي د سوت په جمع کولو سره به يو ځای تړل کېدی بيا به يې هغه په کسم کي رنګ کړی او د هغه څخه وروسته به يې اوبدی نو هغه به سور ځادر سو ، چي په هغه کي به سپيني ليکي هم وې ځکه چي د سوت په تړلو سره د رنګ کولو په وجه هغه برخه به سپينه پاته سوه کوم چي به تړل سوې وه .

د دې څخه هم معلومه سوه چي د عدې والا ښځي لپاره د رنګينو جامو اغوستلو منع د هغه جامو سره اړه ده چي د اوبدلو څخه وروسته رنګ سوي وي نو د هغه اغوستل هم صحيح دي .

علامه ابن همام حنفي رحمة الله عليه وايي چي زموږ د حنفي علماؤ په نزد د عدې والا ښځي لپاره عصب اغوستل هم صحيح نه دي د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد د عدې والا ښځي لپاره عصب اغوستل جائز دي که څه هم هغه غټ وي يا مهين وي حال دا چي امام مالک رحمة الله عليه د مهين عصب اغوستلو څخه منع کړې ده او د غټ عصب څخه منع نه کوي .

د رانجو استعمالولو په باره کي چي د امامانو کوم اختلافي قولونه دي هغه مخکي د بي بي ام سلمه د روايت په تشريح کي تېر سوی دي ، علامه ابن همام رحمة الله عليه وايي چي د حنفي مذهب سره سم عدې والا ښځي ته د مجبوری په حالت کي رانجه استعمالول جائز دي او داغسي جائز نه دي .

قسط او اظفار : دا دواړه يو ډول خوشبويي ده ، قسط عود ته وايي چي په عامه توګه سره ښځو او کوچنيانو ته دود کيږي ، کرماني رحمة الله عليه وايي چي قسط عود هندي ته وايي .

اظفار : يو ډول عطر دي ، دغه دواړه ډوله خوشبويي په هغه زمانه کي په عامه توګه عربو ښځو د حيض څخه د پاکېدو پر وخت د بدبويي ليري کولو لپاره په شرمګاه کي استعمالول، رسول الله صلى الله عليه وسلم عدې والا ښځي د خوشبويي د استعمال څخه منع کړي دي مګر حائضې ته د حيض څخه د پاکېدو په وخت کي د بدبويي ليري کولو لپاره د دغه دواړو خوشبويي د استعمالولو اجازه يې ورکړې ده .

دا حديث پر دې خبره دلالت کوي چي د کومي ښځي خاوند مړ سوی وي پر هغې باندي د عدې په وخت کي ماتم کول واجب دي پر دې باندي د ټولو علماؤ اجماع او اتفاق دی البته د ماتم په تفصيل کي اختلاف دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

امام شافعي او جمهور علماء (رح) وايي چي د خاوند د وفات څخه وروسته پر هر عدې والا ښځي باندي ماتم كول واجب دي كه څه هم هغه مدخول بها وي يا غير مدخول بها وي ، او كه څه هم لويه وي يا كوچنى وي ، پيغله وي يا كونډه وي ازاده وي يا مينزه ، مسلمانه وي يا كافره .

امام اعظم ابو حنيفة رحمه الله وايي چي پر اووه ډوله ښځو باندي ماتم واجب نه دى چي د هغه تفصيل د درمختار مطابق دادى : ۱: كافره، ۲: ليونۍ، ۳: صغيره، ۴: معتده عتق يعني هغه ام ولد چي د خپل بادار له خوا د ازاد كېدو يا د خپل بادار د مړ كېدو پر وخت په عده كي ناسته وي ۵: هغه ښځه چي د نكاح فاسد په وجه په عده كي ناسته وي ، ۶: هغه ښځه چي د وطي بشبه په عده كي ناسته وي ، يعني هغه ښځه چي يو پردي سړي په غلط فهمۍ كي جماع ورسره كړې وي او د هغه په وجه په عده كي ناسته وي ، ۷: هغه ښځه چي د طلاق رجعي په عده كي ناسته وي .

لكه څرنګه چي په حديث كي فرمايل سوي دي چي د خپل خاوند څخه علاوه د بل چا پر مرګ باندي ښځي ته تر درو ورځو زيات ماتم كول جائز نه دى او تر دور ورځو پوري هم يوازي مباح دى واجب نه دى كه په دغه درو ورځو كي د هغې خاوند هغه د ماتم كولو څخه منع كړي نو هغه ته دا حق دى ځكه چي د ښځي د سنګار او ښكلا تعلق د خاوند د حق سره دى كه په دغه درو ورځو كي هم د خاوند دا خواهش وي چي ښځه دي ماتم پرېږدي او ښكلا او سنګار دي وكړي او ښځه د خاوند خبره ونه مني نو ددغه ښځي وهل د خاوند لپاره جائز دي ځكه چي په ماتم كولو كي د خاوند حق فوت كيږي .

د ماتم (غم كولو) احكام او مسائل

كومي ښځي ته چي طلاق رجعي وركړل سوى وي د هغې عده يوازي دومره ده چي هغه تر ټاكلي وخت پوري د كور څخه د باندي ونه وځي او نه د بل چا سره نكاح وكړي ، د هغې لپاره سنګار كول صحيح دى او كومي ښځي ته چي مكلفه او مسلمانه وي درې طلاقه وركړل سوي وي يا يو طلاق بائن يا په يو بله طريقه نكاح يې ماته سوې وي يا خاوند يې مړ سوى وي نو په دغه ټولو صورتو كي د هغې لپاره دا حكم دى چي تر څو پوري په عده كي وي تر هغه دې د كور څخه نه وځي نه دي خپله بله نكاح كوي او نه دي سنګار او ښكلا كوي دا ټولي خبري پر هغې حرامي دي ، دغه سنګار نه كولو او خيرني اوسيدو ته ماتم ويل كيږي .

تر څو چي عده ختم نه سي تر هغه وخته خوشبويي لګول ، زيورات استعمالول، رانجه لګول، خوله سره كول، په سر كي تېل اچول، سر ږمونځ كول، نكريزي لګول، ښه جامې

اغوستل، ريښميني او رنګ داره جامې اغوستل دا ټول منع دي ، مګر د مجبورۍ په حالت کي که په دغه شيانو کي يو شی اختيار کړل سي نو څه پروا نه سته مثلا په سر کي د درد کېدو په وجه د تېلو استعمالولو ضرورت وي نو بېله خوشبويي تېل استعمالول صحيح دي همدارنګه د دوائي په توګه رانجه استعمالول هم صحيح دي .

د کومي ښځي چي نکاح نه وي سوې بلکه بې قاعدې نکاح سوې وي او هغه فسخ سوه يا خاوند يې مړ سو نو پر داسي ښځي باندي ماتم کول واجب نه دي ، همدارنګه کومه ښځه چي د عتق (يعني ازادۍ) په عده کي وي (لکه ام ولد چي بادار يې ازاده کړي او هغه په عدې کي ناسته وي) نو پر هغې باندي ماتم کول واجب نه دي .

کومه ښځه چي په عدې کي ناسته وي هغې ته د نکاح پيغام استول جائز نه دي مګر د نکاح کنايه يعني داسي ويل چي زه د هغه ښځي سره د نکاح خواهش لرم يا د هغې سره د نکاح کولو اراده لرم دا جائز دي مګر دا هم په هغه صورت کي جائز دي کله چي هغه ښځه د وفات په عده کي ناسته وي که چيري د طلاق په عده ناسته وي نو دا هم جائز نه دي .

کومه ښځه چي د طلاق په عده کي ناسته کي وي هغې ته په هيڅ وخت کي هم د کور څخه د باندي وتل جائز نه دي مګر کومه ښځه چي د وفات په عده کي ناسته وي هغې ته د ورځي وتل جائز دي او د شپې تر لږ وخت پوري وتلای سي مګر شپه به د خپل کور څخه پرته په بل ځای کي نه تېروي ، مينزه د خپل بادار د کار لپاره دباندي وتلای سي .

د عدې والا ښځي ته د خپل عدې ورځي په هغه سرای کي تېرول پکار دي چي په هغه کي د هغې طلاق يا د خاوند مرګ په وخت کي اوسيږي مګر که چيري هغه د سرای څخه په زور وايستل سي يا په هغه سرای کي د خپل مال او سامان د ضائع کېدو بېره وي يا د هغه سرای د نړېدو بېره وي يا د هغه سرای د کرايه پر ادا کولو باندي قادره نه وي نو په دغه صورتو کي په بل ځای کي عده تېرول جائز دي .

همدارنګه په دې کي پروا نه سته چي ښځه د خاوند په يو سرای کي اوسيږي که څه هم هغه د طلاق بائن په عده کي ناسته وي په شرط ددې چي د دواړو په مينځ کي پرده حائله وي مګر که چيري خاوند فاسق او د باور وړ نه وي يا ځای تنګ وي نو ښځه دي د هغه سرای څخه نقل سي که څه هم د خاوند نقل کېدل غوره دي ، او که چيري د ښځي او خاوند په يوه ځای کي د اوسيدو په صورت کي دواړه خاوند او ښځه د ځان سره يو بله داسي باوري ښځه وساتي چي د دواړو پر جلا ساتلو باندي قادره وي نو دا به ډېره ښه وي .

Maktaba Tul Ishaat.com

که یو څوک خپل ښځه د ځان سره په سفر کي بوځي او بیاد سفر په دوران کي هغې ته طلاق بائن یا درې طلاقه ورکړي، یا سړی مړ سي او د ښځي ښار یعني د هغې د وطن د هغه ځای څخه چیري طلاق یا وفات واقع سوی وي د شرعي سفر (یعني د درو ورځو د سفر) څخه پر کم مسافت باندي واقع وي نو هغه دي خپل ښار ته بېرته راسي او که چیري د هغه ځای څخه چیري طلاق یا وفات واقع سوی وي د هغه ښار د شرعي سفر په اندازه یا تر دې زیات فاصله وي او هغه منزل مقصود د هغه مسافت څخه پر کمه فاصله وي نو خپل ښار ته د بیرته راتلو پر ځای منزل مقصود ته دي ولاړه سي او په دغه دواړو صورتو کي که د هغې ولي ورسره وي یا نه وي مگر غوره داده چي هغه ښځه خپل ښار ته بېرته راسي چي د خاوند په کور کي عده تېره کړي او که چیري هغه ښځه د طلاق یا وفات په وخت کي په یو ښار کي وي نو هلته د عدې تېرولو څخه پرته دي نه وځي او که چیري ووځي نو د یو محرم کېدل ورسره ضروري دي مگر صاحبین وایي که چیري د هغې یو محرم ورسره وي نو بیا د عدې څخه مخکي هم د هغه ښار څخه وتلای سي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي　　(دوهم فصل)

په عدت کي د یوه ځای څخه بل ځای ته نقل کېدل جائز نه دي

﴿۳۱۹۰﴾: عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ كَعْبٍ أَنَّ الْفُرَيْعَةَ بِنْتَ مَالِكِ بْنِ سِنَانٍ وَهِيَ أُخْتُ

د بي بي زینب بنت کعب رضي الله عنها څخه روایت دی چي ماته فریعه بنت مالک بن سنان چي د

أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَخْبَرَتْهَا أَنَّهَا جَاءَتْ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ابو سعید خدري رضي الله عنه خورده خبر راکړی دی چي هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کي د دې خبري

تَسْأَلُهُ أَنْ تَرْجِعَ إِلَى أَهْلِهَا فِي بَنِي خُدْرَةَ فَإِنَّ زَوْجَهَا خَرَجَ فِي طَلَبِ أَعْبُدٍ لَهُ

د پوښتني لپاره حاضره سوه چي د هغې خاوند د تښتېدلو غلامانو په لټه پسي وتلی وو

أَبَقُوا فَقَتَلُوهُ قَالَتْ فَسَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَرْجِعَ إِلَى

نو غلامانو هغه ووژه او س هغې ته د خپل خاوند په کور کي د عدت ورځي تېرول پکار دي مگر

أَهْلِي فَإِنَّ زَوْجِي لَمْ يَتْرُكْنِي فِي منزل يَمْلِكُهُ وَلَا نَفَقَةٍ فقَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه غواړي چې خپلې قبيلې حدره ته ولاړه سي او هلته د عدت ورځې تيري کړي د فريعې بنت مالک بيان دی هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضره سوه او عرض يې وکړ چي ايا هغه د عدت ورځي د خپلو قريبانو کره تيري کړي ؟ ځکه چي د هغې خاوند خپل ذاتي کور نه دی پرېښي او نه ورسره نفقه سته رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :

نَعَمْ فَانْصَرَفْتُ حَتَّى إِذَا كُنْتُ فِي الْحُجْرَةِ أَوْ فِي المسجد دعاني فقال ﷺ

هو ! (ته د خپل کور والاؤ کره تللای سې) فريعه وايي زه و خپل کور ته ولاړم کوم وخت چي زه صحن يا مسجد نبوي ته ورسېدم نو نبي کريم ﷺ زه واپس راوغوښتم او را ته يې وفرمايل: ته

امْكُثِي فِي بَيْتِكِ حَتَّى يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ قَالَتْ فَاعْتَدَدْتُ فِيهِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا . رواه مالك و الترمذي وابوداؤد والنسائي وابن ماجة والدارمي .

خپل و هغه کور ته ولاړه سه کوم چي ستا د خاوند څخه پاته سوی دی . تر څو پوري چي ستا عده پوره کيږي فريعه وايي زه د څلورو مياشتو او لسو ورځو پوري په هغه ځای کي پاته سوم . (مالک ترمذي ابوداؤد نسائي ابن ماجه دارمي) .

تخريج: مالک في الموطا ۲\ ۵۹۱، رقم: ۸۷، وابوداود في السنن ۲\ ۷۲۳، رقم: ۲۳۰۰، والترمذي في السنن ۳\ ۵۰۸، رقم: ۱۲۰۴، والنسائي ٦\ ۲۰۰، رقم: ۳۴۳۰، وابن ماجه في السنن ۱\ ٦۵۴، رقم: ۲۰۳۱، والدارمي ۲\ ۲۲۱، رقم: ۲۲۸۷.

تشريح: د دغه حديث شريف څخه معلومه سوه چي عدې والا ښځي ته بېله ضرورته د يوه ځای څخه بل ځای ته تلل صحيح نه دي، په شرح السنه کي ليکلي دي چي په دې باره کي د علماؤ اختلاف دی چي کومه ښځه د خاوند د مړ کېدو په وجه په عده کي ناسته وي د هغې لپاره سکنی (يعني د خاوند په سرای کي عده تېرول) ضروري دي که يا، په دې باره کي د امام شافعي رحمة الله عليه دوه قوله دي او په هغو کي صحيح قول دادی چي د هغې لپاره سکنی ضروري ده ، حضرت عمر فاروق، حضرت عثمان ، حضرت عبدالله ابن مسعود او عبدالله ابن عمر رضي الله عنهم هم د دې قائل وه د هغوی له خوا هم دا حديث د دليل په توګه وړاندي کيږي او رسول الله ﷺ مخکي خو فريعه ته د سرای د منتقل کولو اجازه ورکړې وه مګر بيا رسول الله ﷺ هغه د منتقل کېدو څخه منع کړه او دا حکم يې وکړ چي هغه دي د خاوند په سرای کي د عدې ورځي تېري کړي ، د دې څخه ثابته سوه چي فريعه ته اول د رسول الله ﷺ اجازه ورکول د (امکثي في بيتک ...) په

Maktaba Tul Ishaat.com

ذریعه منسوخ سو .

د امام شافعي رحمة الله عليه دوهم قول دادی چي د خاوند د مړ کېدو په وجه د عدې والا ښځي لپاره سکنی ضروري نه ده بلکه هغه چي چیري غواړي په عده کي کښېنستلای سي او دا قول د حضرت علي، حضرت ابن عباس او بي بي عائشې رضي الله عنهم هم دی ، ددغه قول دلیل چي رسول الله ﷺ فریعه ته د سرای د منتقل کېدو اجازه ورکړې وه بیا وروسته رسول الله ﷺ په خپل سرای کي د عدې تېرولو چي کوم حکم ورکړی وو هغه د استحباب په توګه وو ، په دغه مسئله کي د امام ابو حنیفة رحمة الله عليه مذهب به په باب النفقات کي په تفصیل سره بیان سي .

په عدت کي سنګار کول نه دي پکار

﴿۳۱۹۱﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د بي بي ام سلمه رضي الله عنها څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ زموږ کور ته راغلی

حِينَ تُوُفِّيَ أَبُو سَلَمَةَ وَقَدْ جَعَلْتُ عَلَيَّ صَبِرًا فَقَالَ مَا هٰذَا يَا أُمَّ سَلَمَةَ قُلْتُ إِنَّمَا

کوم وخت چي زما خاوند ابو سلمه رضي الله عنه وفات سو . ما هغه وخت په خپل مخ باندي مصبر لګولي وو نبي کریم ﷺ پوښتنه وکړه :ام سلمه ! دا څه دي ؟ ما عرض وکړ دا

هُوَ صَبِرٌ لَيْسَ فِيهِ طِيبٌ فَقَالَ إِنَّهُ يَشُبُّ الْوَجْهَ فَلَا تَجْعَلِيهِ إِلَّا بِاللَّيْلِ

مصبر دی چي هیڅ یو قسم خوشبوئي پکښي نسته نبي کریم ﷺ وفرمایل : مصبر مخ روښانه کوي کهیې په دې وجه ته لګوې نو د شپې یې لګوه

وَتَنْزِعِيهِ بِالنَّهَارِ وَلَا تَمْتَشِطِي بِالطِّيبِ وَلَا بِالْحِنَّاءِ فَإِنَّهُ خِضَابٌ قُلْتُ بِأَيِّ

او د ورځي یې مینزه خوشبوئي مه لګوه او مه په نکروځو باندي لاسونه سره کوه ځکه چي د

شَيْءٍ أَمْتَشِطُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ بِالسِّدْرِ تغلفين بِهِ رَأْسَكِ . رواه ابوداؤد والنسائي

نکروځو رنګ سور وي ما عرض وکړ یا رسول الله! نو بیا یې په څه شي باندي سره کوم نبي کریم ﷺ وفرمایل: د بیرو پاڼي په سر دومره اچوه چي هغه ستا سر پټ کړي . ابو داؤد ، نسائي

تخريج: ابوداود في السنن ٢\ ٧٢٧، رقم: ٢٣٠٥، والنسائي ٦\ ٢٠٤، رقم: ٣٤٣٩

د لغاتو حل: صَبِرا: دواء مر (يو ډول ترخه درمل).

تشريح: د خوشبويي لرونكو تېلو په باره كي د علماء اتفاق او اجماع ده چي عدې والا ښځه دي دا نه استعمالوي البته د بېله خوشبويي والا تېلو په باره كي اختلاف دی ، امام اعظم ابوحنيفة او امام شافعي رحمة الله عليهما د بېله خوشبويي والا تېلو څخه هم منع كوي البته د ضرورت او مجبورۍ په حالت كي د هغه اجازه ده او امام مالک، امام احمد او علماء ظواهر د عدې والا ښځي لپاره د داسي تېلو استعمال جائز ګڼي چي په هغه كي خوشبويي نه وي .

﴿٣١٩٢﴾: وَعَنْهَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ الْمُتَوَفَّى عَنْهَا زَوْجُهَا

د بي بي ام سلمه ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د كومي ښځي خاوند چي مړ

لَا تَلْبَسُ الْمُعَصْفَرَ مِنَ الثِّيَابِ وَلَا الْمُمَشَّقَةَ وَلَا الْحُلِيَّ وَلَا تَخْتَضِبُ وَلَا تَكْتَحِلُ . رواه ابوداؤد والنسائي .

سي هغه دي د کسم (يو قسم ګل چي سور رنګ ځيني جوړيږي) رنګه جامې اغوندي او نه دي د ګيرو (يو ډول ژړ خاوره ژړ رنګ) (بلكه د هر ډول شوخ رنګه جامه) نه دي زېور اچوي نه دي نكريځي لګوي او نه رانجه .(ابوداؤد نسائي).

تخريج: ابوداود في السنن ٢\ ٧٢٧، رقم: ٢٣٠٤، والنسائي ٦\ ٢٠٣، رقم: ٣٤٣٧.

تشريح: كه توري او خړي جامې واغوندي نو په دې كي څه پروا نه سته، همدا رنګه په كسم سره رنګ سوي جامې چي د رنګ كېدو يې زيات وخت كيږي او خوشبويي و نه لري اغوستل هم صحيح دي ، په هدايه كي ليكلي دي چي عدې والا ښځي ته د يو عذر په وجه د مثال په توګه خارش، سپږي يا يو ناروغۍ په وجه د ريښمو جامې اغوستل هم جائز دي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د مطلقه د عدت په اړه يو بحث

﴿٣١٩٣﴾: عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ أَنَّ الْأَحْوَصَ هَلَكَ بِالشَّامِ حِينَ دَخَلَتْ

د حضرت سليمان بن يسار رحمه الله څخه روايت دی چي احوص په شام كي هغه وفات سو چي د

Maktaba Tul Ishaat.com

امْرَأَتُهُ فِي الدَّمِ مِنَ الْحَيْضَةِ الثَّالِثَةِ وَقَدْ كَانَ طَلَّقَهَا فَكَتَبَ مُعَاوِيَةُ بْنُ أَبِي

هغه ښځه د عدت په وخت کي وه او د عدت اخيري ورځ يعني د دريم حيض ورځي پوره سوې او احوص و هغې ته د خپل مرګ څخه وړاندي طلاق ورکړې وو معاويه بن ابو سفيان د دې د

سُفْيَانَ إِلَى زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ يَسْأَلُهُ عَنْ ذَلِكَ فَكَتَبَ إِلَيْهِ زَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ إِنَّهَا إِذَا

مسئلې د پوښتني لپاره و زيد بن ثابت رضي الله عنه ته خط وليکی (يعني د دې خبري د پوښتني لپاره يې پوښتنه وکړه چي ايا په دې صورت کي ښځه د خپل خاوند په ميراث کي پاته کېداى سي؟ او که يا ؟) زيد بن ثابت په جواب کي وليکل کله چي

دَخَلَتْ فِي الدَّمِ مِنَ الْحَيْضَةِ الثَّالِثَةِ فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ وَبَرِئَ مِنْهَا لَا يَرِثُهَا وَلَا تَرِثُهُ. رواه مالك.

ښځه د دريم حيض ورځي تېروي نو د هغې اړيکي د خاوند څخه قطعه سوې (يعني خاوند ور څخه جلا سو)اوس نه خاوند د هغې د مال وارث کېداى سي او نه ښځه د خاوند د مال وارث کېداى سي . (مالک).

تخريج: الامام مالک في الموطا ۲\ ۵۷۷، رقم: ۵٦.

تشريح: د مسئلې صورت دا وو چي احوص رضي الله عنه خپلې ښځي ته طلاق ورکړ او هغه تر درېي حيضه راتلو پوري په عده کي کښېنستل لکه څرنګه چي د طلاق د عدې حکم دی اوس د هغې عده پوره سوې نه وه چي دريم حيض شروع سوی وو چي احوص وفات سو ، په دغه صورت کي هغې ته څلور مياشتي او لس ورځو پوري د وفات په عده کي کښېنستل پکار وه نو معاويه رضي الله عنه د زيد ابن ثابت رضي الله عنه څخه دا مسئله وپوښتل چي په دغه صورت کي ښځه دخاوند وارثه کيږي که يا ؟ حضرت زيد رضي الله عنه معاويه رضي الله عنه ته وليکل چي کله دريم حيض شروع سوی دی نو محض د دريم حيض د ويني په لېدو سره د هغې تعلق قطع سو او د زوجيت د پابندۍ څخه ازاده سوه څکه چي په دغه صورت کي د طلاق عده يا خو په دې اعتبار چي د هغې د عدې زياته برخه تېره سوې ده يا په دې اعتبار چي دريم حيض يې شروع سوی دی پوره سوي دي ، په دغه صورت کي د وفات عده ساقط سول ، نو څرنګه چي د طلاق د عدې پر پوره کېدو باندي که چيري يو سړی ژوندي وي نو د هغه ښځي وارث کېداى نه سي همدارنګه اوس په دغه مسئله کي کله چي سړی

مړ سوی دی نو ښځه به د هغه وارثه نه وي.

د دې څخه معلومه سوه چي د حضرت معاويه رضی الله عنه مقصد دا معلومول وو چي هغه ښځه به د احرص رضی الله عنه وارثه وي که يا؟ حال دا چي دا احتمال هم دی چي د حضرت معاويه مقصد د عدې په باره کي معلومول وو چي ايا دا ښځه د خپل طلاق عده جاري وساتي يعني دريم حيض چي شروع سوی دی د هغه څخه په پاکېدو سره د عدې څخه ووځي يا اوس د وفات په عده کي کښيني.

ملا علي قاري رحمة الله عليه وايي چي په دې باره کي طيبي شافعي رحمة الله عليه ليکلي دي چي د دې څخه صريحا دا ثابتيږي چي الله تعالی په قرآن کريم کي د طلاقي سوي ښځي د عدې په باره کي چي کوم حکم ورکړی دی چي:

وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوءٍ

ژباړه: او طلاقي سوي ښځي دي خپل ځان تر درو حيضو ختمېدو پوري منع وساتي.

نو دلته د قروء څخه مراد طهر دی، يعني د طيبي رحمة الله عليه مقصد دا واضح کول دي چي دغه حديث د شوافعو دليل دی ځکه چي د هغوی په نزد د طلاقي سوي ښځي عده درې حيضه نه ده بلکه درې طهره ده حالانکه د طيبي رحمة الله عليه دا خبره چي د دغه حديث څخه د شوافعو مذهب ثابتيږي تېښتګه خبره نه ده ځکه چي اول خو دا د يو صحابي يعني حضرت زيد ابن ثابت رضی الله عنه مذهب دی، دوهم دا چي خپله حضرت زيد رضی الله عنه څخه د دې پر خلاف هم منقول دي د هغه څخه دا نقل سوي دي چي (عدة الامة حيضتان) يعني د مينزي عده دوه حيضه ده، او بيا د دې څخه علاوه دا بالکل نه معلوميږئ چي حضرت معاويه د حضرت زيد په قول عمل کړی دی که يا.

د حنيفه په نزد د ثلثة قروء څخه مراد درې حيضه دي، د خلفاء راشدينو او اکثرو صحابه کرامو هم دا قول دی، او د ديارلسو صحابه کرامو څخه منقول دي چي هغوی به دا ويل چي ښځه تر څو پوري چي د دريم حيض څخه پاکه نه سي سړي ته (يعني چا چي طلاق ورکړی دي) د هغه زيات حق ساتل دي مطلب دا که چيري د دريم حيض څخه د پاکېدو وروسته د عدې وخت پوره کيږئ او د هغه ښځي سره د سړي پوره انقطاع کيږي نو د دې څخه دا خبره ثابتيږي چي د قروء څخه حيض مراد دی، ملا علي قاري رحمة الله عليه په خپل کتاب کي په دې باره کي تفصيلي بحث کړی دی او د حنفيه حضراتو ډېر دلائل يې ليکلي دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

د مطلقې د عدت مسئله

﴿۳۱۹۴﴾: وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ قَالَ قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ أَيُّمَا امْرَأَةٍ

د حضرت سعيد بن مسيب رحمه الله څخه روايت دی چې عمر بن خطاب رضي الله عنه وفرمايل: کومې ښځې

طُلِّقَتْ فَحَاضَتْ حَيْضَةً أَوْ حَيْضَتَيْنِ ثُمَّ رَفَعَتْهَا حَيْضَتُهَا فَإِنَّهَا تَنْتَظِرُ

ته چې طلاق ورکړل سي او د هغې د دوو حيضو موده پوره سوې وي او وروسته يې حيض بند سي

تِسْعَةَ أَشْهُرٍ فَإِنْ بَانَ بِهَا حَمْلٌ فَذَلِكَ وَإِلَّا اعْتَدَّتْ بَعْدَ التِّسْعَةِ أَشْهُرٍ ثَلَاثَةَ أَشْهُرٍ ثُمَّ حَلَّتْ. رواه مالك

نو هغه دې د نهو مياشتو انتظار وکړي که حمل ظاهر سي نو خير کنې د نهو مياشتو وروسته دې بيا د درو مياشتو عدت تيري کړي او د دې څخه وروسته بيا د عدت څخه وځي. مالک

تخريج: الامام مالک في الموطا ۲\۵۸۲، رقم: ۷۰.

د لغاتو حل: رُفعتها: ای رفعت عنها. (له هغې څخه يې پورته کړ).

==========

بَابُ الْاِسْتِبْرَاءِ (د پاکۍ طلب کولو بيان)

په شريعت کي د استبراء مطلب دادی چې د مينزي د رحم د حمل څخه پاکي طلب کول، دد ې فقهي تفصيل دادی چې کله د يو سړي په ملکيت کي يو مينزه راسي که هغه رانيولې وي يا په يو وصيت کي تر لاسه سوې وي يا يو چا په تحفه کي ورکړې وي او يا په ميراث کي تر لاسه سوې وي نو هغه سړی ته د هغه مينزي سره تر هغه وخته پوري جماع کول يا مس کول يا مچه اخيستل وغيره حرام دي تر څو چې استبراء ونه کړي. يعني د هغه په قبضه کي د راتلو څخه وروسته يو حيض ورته را نه سي که هغې ته حيض راځي يا د حيض نه راتلو په صورت کي پر هغې د يوې مياشتي وخت تېر نه سي يا د حامله کېدو په صورت کي ولادت ونه سي او دا استبراء په هر حال کي کول ضروري دي که هغه پيغله وي يا هغه يې د يو ښځي څخه رانيولې وي يا هغه د يو محرم يا نابالغ کوچني د مال څخه د وراثت په ذريعه تر لاسه سوې وي که څه هم په

دغه صورتو كي د قياس تقاضا داده چي استراء واجب كېدل نه دي پكار ځكه چي په استبراء كي حكمت دادى چي په دغه طريقه سره د رحم پاكېدل معلوم سي چي د هغه د نطفې سره د بل چا نطفې اختلاف نه وي كړى او ظاهره ده چي په دغه صورت كي د يو چا د نطفې احتمال نه سته مګر دا صريح نص دى چي رسول الله ﷺ د اوطاس پر موقع د حاصليدونكو مينځو په باره كي داوفرمايل چي خبردار! د حامله مينزي سره تر هغه وخته پوري صحبت مه كوئ تر څو چي د هغې ولادت ونه سي او د غير حامله مينزي سره تر هغه وخته پوري صحبت مه كوئ تر څو چي د هغې يو حيض را نه سي او ظاهره ده چي په هغه ميځو كي به پيغلي هم وې او داسي مينزي به هم وې چي د پيغلو په ډول د نطفې د اختلاط احتمال يې نه وي ځكه د قياس په نظر اندازه كولو سره په دغه صورتو كي استبراء واجب وګرځول سوه.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ　　(لومړى فصل)

د استبراء پرته د مينزي سره جماع كول...

﴿۳۱۹۵﴾: عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِامْرَأَةٍ مُجِحٍّ

د حضرت ابو درداء رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د يوې مينزي سره نژدې تير سو چي هغه د كوچني د پيدا كېدو په درد كي وه

فَسَأَلَ عَنْهَا فَقَالُوا اَمَةٌ لِفُلَانٍ قَالَ أَيُلِمُّ بِهَا قَالُوا نَعَمْ قَالَ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ

پوښتنه يې وكړه چي دا د چا ښځه ده؟ عرض وكړل سو چي دا د فلاني مينزه ده. نبي كريم ﷺ پوښتنه وكړه ايا هغه سړي د دې سره صحبت كوي؟ خلكو وويل: هو. نبي كريم ﷺ وفرمايل: ما اراده كړې وه چي

أَلْعَنَهُ لَعْنًا يَدْخُلُ مَعَهُ فِي قَبْرِهِ كَيْفَ يَسْتَخْدِمُهُ وَهُوَ لَا يَحِلُّ لَهُ ام كَيْفَ يورثه وَهُوَ لَا يَحِلُّ لَهُ. رواه مسلم

پر هغه سړي لعنت ولېږم چي د هغه سره و قبر ته ولاړ سي هغه به څنګه خپل زوى ته د خدمت كولو لپاره وايي لكه څنګه چي د زوى څخه د خدمت كار اخيستل جائز نه دي يا زوى غلامول صحيح نه دي يا څنګه به هغه دې خپل وارث كوي دا چي هغه د ده زوى نه وي (يعني د مينزي

Maktaba Tul Ishaat.com

سره د هغې د حمل په ورځو کي جماع کول او هغه پاکېدو ته نه پرېښودل يو داسي خراب کار دی چي پر هغه لعنت ويل صحيح دی په داسي حال کي چي هغه حمل د بل سړي وي يعني هغه په داسي حالت کي رانيسي چي هغه حامله وي). مسلم

تخريج: مسلم في الصحيح ۲\۱۰۶۵، رقم: ۱۳۹- ۱۴۴۱.

د لغاتو حل: مُجِح: اى حامل تقرب ولادتها. (هغه حامله ښځه چي ولادت يې نژدې وي).

تشريح: رسول الله ﷺ پر هغه سړي باندي د لعنت اراده ځکه وکړه چي د يو مينزي سره جماع کړې وه چي د حمل په حالت کي د هغه په ملکيت کي راغلې وه نو هغه استبراء ترک کړه حالنکه هغه فرض وه.

هغه به څرنګه خپل زوی ته د خدمت لپاره وايي..الخ: رسول الله ﷺ ددغه ارشاد په ذريعه د استبراء پر پرېښودونکي باندي د لعنت سبب ته اشاره فرمايلې ده، خلاصه دا چي کله يو سړی د خپل مينزي سره بېله استبراء صحبت وکړي او بيا د هغې څخه کوچنی پيدا سي نو د هغه کوچني په باره کي به دا احتمال وي چي هغه ددغه سړي د نطفي څخه کوم چي د هغه د ملکيت څخه په وتلو سره دا مينزه بېله استبراء د صحبت کونکي په ملکي کي راغلې ده نو په دغه صورت کي که چيري هغه سړی چا چي بېله استبراء د هغه مينزي سره جماع کړې ده د هغه کوچني نسب اقرار وکړي يعني دا ووايي چي دا زما زوی دی (حال دا چي په حقيقت کي د هغه د نطفي څخه نه وي) نو هغه کوچنی به د هغه وارث وي، همدارنګه به د يو بل چا کوچنی خپل وارث ګرځول لازم سي چي حرام دي په دې سره به هغه د لعنت مستحق وي يا به دا صورت وي چي هغه به د هغه کوچني د نسب څخه انکار وکړي يعني دا به ووايي چي دا کوچنی زما د نطفي څخه نه دی حال دا چي دا احتمال هم کيدای سي چي هغه کوچنی د هغه د نطفې څخه وي نو په دغه صورت کي به هغه کوچني غلام وي (حال دا چي د هغه احتمال مطابق په حقيقت کي هغه کوچنی به د هغه زوی نه وي) همدارنګه پر خپل کوچني باندي غلامي کول او خپل نسب منقطع کول لازميږي او دا هم د لعنت مستحق کوونکی صورت دی نو ثابته سوه چي استبراء ډېره ضروري ده.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

﴿۳۱۹۶﴾: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَفَعَهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي سَبَايَا أَوْطَاسَ لَا تُوطَأُ حَامِلٌ حَتَّى تَضَعَ وَلَا غَيْرُ ذَاتِ حَمْلٍ حَتَّى تَحِيضَ

Maktaba Tul Ishaat.com

حَيْضَةً . رواه احمد وابوداؤد والدارمي .

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د هغو بنديانو په هکله چي د اوطاس په غزا کي نيول سوي وه دا حکم جاري کړ چي د حاملو ښځو سره تر هغه وخته چي د هغې کوچنی پيدا سوی نه وي جماع نسي کولای او د غير حاملې سره تر هغه وخته پوري جماع نسي کولای تر څو چي د هغې يو حيض پوره نسي .(احمد ابوداؤد دارمي) .

تخريج: احمد في المسند ۳\۶۲، رقم: ۲۱۵۷، والدارمي ۲\۲۲۴، رقم: ۲۲۹۵.

تشريح: که چيري يو غير حاملې ته د هغې د کم عمرۍ په وجه يا د زيات عمر کېدو په وجه حيض نه راځي نو د هغې استبراء داده چي تر يوې مياشتي پوري هغې ته د ورتللو څخه پرهيز وکړي کله چي يوه مياشت تېره سي بيا دي د هغې سره جماع وکړي، دغه صورت په حديث کي ځکه ذکر نه سو چي دا قليل الوجود او نادر صورت دی.

که چيري مينزه د حيض په حالت کي د يو چا په ملکيت کي راسي نو په استبراء کي به د هغه حيض اعتبار نه وي بلکه د بل پوره حيض اعتبار به کيږي .

دا حديث ددې دليل دی چي دمينزي لپاره د نوي ملکيت لپاره استبراء واجبوي د څلورو امامانو دا مذهب دی او دا حديث پر دې دلالت کوي چي د دارالحرب څخه يو کافره د مينزه په توګه ونيول سي نو د هغې اولنی نکاح ختميږي مګر په دې باره کي د حديث ظاهر مفهوم مطلق دی که څه هم د هغوی خاوندان د هغوی سره نه وي ، د امام شافعي او امام مالک رحمة الله عليهما دا مذهب دی حال دا چي امام ابوحنيفة رحمه الله وايي که چيري ښځه او خاوند دواړه يو ځای ونيول سي نو په دغه صورت کي د هغوی نکاح باقي ده .

﴿۳۱۹۷﴾: وَعَنْ رُوَيْفِعِ بْنِ ثَابِتٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت رويفع بن ثابت انصاري رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل

وَسَلَّمَ يَوْمَ حُنَيْنٍ لَا يَحِلُّ لِامْرِئٍ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ يَسْقِيَ مَاءَهُ

د حنين په غزا کي :کوم سړی چي پر الله جل جلاله او د آخرت پر ورځ ايمان لري د هغه لپاره دا خبره جائز نه ده چي هغه خپلي اوبه (مني)

زَرْعَ غَيْرِهِ يَعْنِي إِتْيَانَ الْحَبَالَى وَلَا يَحِلُّ لِامْرِئٍ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ

Maktaba Tul Ishaat.com

د بل په کښت کي واچوي (يعني کومه ښځه چي د بل د نطفې څخه حامله سوې وي د هغې سره جماع و کړي) او کوم سړی چي پر الله ﷻ او د آخرت پر ورځ ايمان لري د هغه لپاره دا هم جائز

أَنْ يَقَعَ عَلَى امْرَأَةٍ مِنَ السَّبْيِ حَتَّى يَسْتَبْرِئَهَا وَلَا يَحِلُّ لِامْرِئٍ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ

نه ده چي هغه په جګړه کي د نيول سوي مينزي سره تر هغه وخته پوري جماع و کړي تر څو چي هغه پاکه سوې نه وي او کوم سړي چي پر الله ﷻ

وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ يَبِيعَ مَغْنَمًا حَتَّى يُقْسَمَ. رواه ابوداؤد رواه الترمذي الى قوله زرع غيره

او د آخرت په ورځ ايمان لري د هغه لپاره دا جائز نه ده چي د غنيمت مال تر تقسيم وړاندي خرڅ کړي. (ابوداؤد) خو ترمذي (زرع غيره) پوري روايت کړې دی.

تخريج: ابوداود في السنن ۲\۶۱۵، رقم: ۲۱۵۸، ومسلم ۳\۱۳۳۸، رقم ۷- ۱۷۱۴.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د غير حائضې مينزي د استبراء مدت

﴿۳۱۹۸﴾: عَنْ مَالِكٍ قَالَ بَلَغَنِي أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْمُرُ

د حضرت مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د مينځو د پاکولو حکم ورکوی

بِاسْتِبْرَاءِ الْإِمَاءِ بِحَيْضَةٍ إِنْ كَانَتْ مِمَّنْ تَحِيضُ وَثَلَاثَةِ أَشْهُرٍ إِنْ كَانَتْ مِمَّنْ لَا تَحِيضُ وَيَنْهَى عَنْ سَقْيِ مَاءِ الْغَيْرِ.

يعني که هغه به د حيض والا ښځه وه نو تر يوه حيض راتلو پوري او چاته چي به حيض نه راتلی نو هغه به تر درو مياشتو مودې پوري انتظار کيدی او نبي کريم ﷺ د بل په اوبو کي د اوبو د يو ځای کولو څخه (يعني د دويم سړي د حاملې سره د جماع کولو څخه) منعه فرمايلې ده. (رزين).

تخريج: رواه رزين.

تشريح: د حديث په آخري جمله کي د حامله مينزي د استبراء حکم دی که چيري يو مينزه د حمل

Maktaba Tul Ishaat.com

په حالت کي په ملکيت کي راسي نو د هغې سره دي تر هغه وخته پوري جماع نه کوي تر څو چي هغه د ولادت څخه فارغه نه سي کوم چي د هغې په رحم کي د بل سړي د نطفې څخه دي تر څو د هغه سره د خپل نطفې او نسب اختلاط و نه سي.

د غير حائضه مينزي په باره کي د جمهورو علماؤ مذهب دادی چي کومي مينزي ته حيض نه راځي د هغې استبراء داده چي د هغې سره هغه وخت جماع و کړل سي کله چي په خپل ملکيت کي د راتلو وروسته پر هغې پوره يوه مياشت يا تر دې زيات وخت تېر سي او ځيني حضرات ددغه حديث سره سم وايي چي د غير حائضه مينزي استبراء داده چي د هغې سره هغه وخت جماع وکړل سي کله چي په خپل ملکيت کي د راتلو څخه وروسته پر هغې درې مياشتي يا تر دې زيات وخت تېر سي.

د پيغلي مينزي لپاره استبراء واجب ده که يا؟

﴿۳۱۹۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ قَالَ إِذَا وُهِبَتِ الْوَلِيدَةُ الَّتِيْ تُوْطَأُ أَوْ بِيْعَتْ أَوْ أُعْتِقَتْ فَلْتَسْتَبْرِئْ رَحِمَهَا بِحَيْضَةٍ وَلَا تَسْتَبْرِئُ الْعَذْرَاءُ. رواهما رزين

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي هر کله يوه مينزه چي د هغې سره جماع کيدلای سي هغه يو چا ته هبه کړه سي يا و پلورل سي يا آزاده کړل سي نو هغې ته پکار ده چي خپل رحم په يو حيض سره پاک کړي او پيغلي انجلۍ مينزي ته د پاکولو ضرورت نسته. رزين.

تخريج: رواه رزين.

تشريح: په دغه حديث شريف باندي ابن شريح رحمه الله عمل کړی دی هغه وايي چي د پيغلي مينزي لپاره استبراء واجب نه ده حال دا چي د جمهورو علماؤ مذهب دادی چي د هغې لپاره هم استبراء واجب ده ځکه چي رسول الله ﷺ د اوطاس په غزا کي د نيول سوو مينځو په باره کي د استبراء حکم عام ورکړی دی چي په هغه کي د پيغلو استثناء نه سته.

د أم ولد عدت : د هدايه صاحب ليکلي دي که چيري د أم ولد بادار مړ سي يا هغه يې ازاده کړي نو د هغې د عدې وخت درې حيضه دی او که چيري هغې ته حيض نه راځي نو د هغې عده به درې مياشتي وي.

علامه ابن همام رحمه الله وايي چي دا حکم په هغه صورت کي دی کله چي ام ولد حامله نه وي او نه د بل سړي په نکاح کي وي او نه د چا په عده کي وي که چيري هغه حامله وي نو بيا

Maktaba Tul Ishaat.com

دهغې عده د حمل تر وضع پوري ده او که چيري هغه د بل چا په نکاح کي وي يا د يو چا په عده کي وي نو په دغه صورتو کي د هغې سره د جنسي اختلاط هيڅ سوال نه پيدا کيږي ځکه د بادار د ازادولو په وجه يا د بادار د مړ کېدو په وجه پر هغې عده واجب نه وي دا د حنفيه مذهب دی، د امام شافعي او امام مالک رحمة الله عليهما مذهب دادی چي د بادار له خوا د ازاد کېدو يا د بادار د مړ کېدو په صورت کي د ام ولد عده يو حيض دی په حنفيه کي د امام محمد رحمة الله عليه هم دا قول دی.

==========

بَابُ النَّفَقَاتِ وَحَقِّ الْمَمْلُوْكِ

(د نفقې او غلامانو او مينځو د حقوقو بيان)

نفقات د نفقه جمع ده او نفقه هغه شي ته وايي چي مصرف کيږي، او د شريعت په اصطلاح کي خوراک، جامې او د اوسيدو ځای ته نفقه وايي.

د نفقې څو ډولونه او نوعيتونه دي لکه د ښځي نفقه، د اولاد نفقه او د قريبانو نفقه ځکه د نفقې د دغه انواعو په اعتبار په عنوان کي نفقات يعني د جمع صيغه استعمال سوې ده او دلته د نفقې څخه دغه عام مفهوم مراد دی که هغه واجب وي يا غير واجب وي.

د ښځي د نفقې احکام او مسائل: پر سړي باندي خپل ښځي ته نفقه يعني خوراک، څښناک، جامې او د اوسيدو ځای ورکول واجب دي که څه هم سړی په عمر کي د خپل ښځي څخه کوچنی وي او که څه هم ښځه مسلمانه وي يا کافره وي که بالغه وي يا داسي نابالغه وي چي د هغې سره جماع نه کيږي مگر د نفقې د واجب کېدو شرط دادی چي هغه ښځي خپل ځان د خاوند په کور کي خاوند ته سپارلی وي او که چيري سپارلی يې نه وي نو د هغه وجه يا خو د هغې يو حق وي چي د هغه د ادا کولو څخه انکار کوي يا خپله خاوند د سپارلو غوښتنه نه کوي.

غوره داده چي خاوند خپل ښځه د دسترخوان ملگرې کړي او دواړه يو ځای اوسيږي او د حيثيت سره سم څه چي پيدا سي په هغه دواړه گزاره وکړي او څرنگه چي د شريفو کورنيو قاعده ده چي خاوند په هر حال کي کسب او کار کوي او ښځه د کور د انتظام ذمه داره سي، خاوند چي څه گټي د هغه سره سم سامان کور ته راوړي او ښځه هغه سامان د کور په اړتياوو کي مصرف کوي او که چيري په يو وجه د خاوند او ښځي داسي اوسيدل ممکن نه وي او ښځي قاضي ته دا

Maktaba Tul Ishaat.com

خواست وکړي چي زما لپاره دي زما پر خاوند نفقه وټاکل سي نو د قاضي له خوا د ښځي لپاره میاشتنۍ نفقه ټاکل کیږي او هغه ټاکل سوی مقدار دي هغې ته حواله کیږي همدارنګه په یوه کال کي دوه واره جامې ورکول ټاکل کیږي او هغه ټاکل سوي جامې په شپږو میاشتو کي هغې ته حواله کیږي که چیري قاضي د ښځي لپاره میاشتنۍ نفقه وټاکي نو خاوند دي هغې ته میاشتنۍ نفقه ورکوي او که چیري خاوند میاشتنۍ نفقه نه ورکوي او ښځه یې هره ورځ غواړي نو د مابنام په وخت کي ښځي ته د غوښتني کولو اختیار وي.

د نفقې د ټاکلو په باره کي باید د هغه اندازي لحاظ وساتل سي کوم چي د ښځي لپاره کافي دي او بېله اسرافه او تنګۍ خپل ګزاره وکړلای سي، پاته سوه د معیار خبره نو په دې کي د ښځي او خاوند دواړو د حالت او حیثیت اعتبار دی که دواړه په مالي توګه د ښه حالت او کیفیت خاوندان وي نو د هغه حیثیت نفقه به هم واجب وي او که دواړه غریبان او مفلس وي نو نفقه به هم په هغه اعتبار واجب وي او که چیري دا صورت وي چي خاوند شتمن وي او ښځه مفلسه وي یا خاوند مفلس وي او ښځه شتمنه وي نو بیا به د درمیانه درجې نفقه واجب وي یعني هغه نفقه به ورکول کیږي چي د شتمنۍ د درجې څخه کمه وي او د غریبۍ د درجې څخه زیاته وي او ځیني حضرات وایي چي په هر صورت د خاوند د حالت اعتبار کیږي هغه چي د کوم حیثیت او حالت خاوند وي د هغه سره سم به نفقه ټاکل کیږي که څه هم ښځه هر ډول وي.

که د ښځي او خاوند په مینځ کي د شتمنۍ او غریبۍ په باره کي اختلاف پیدا سي یعني خاوند وایي چي زه غریب یم ځکه نو د غریبۍ نفقه به درکوم او ښځه وایي چي ته شمتن یې ځکه زه به د شتمنۍ نفقه اخلم او بیا دا معامله د قاضي عدالت ته ورسیږي او ښځه خپل دعوه وړاندي کړي نو د شاهدانو په اعتبار کولو سره د ښځي لپاره به د شتمنۍ نفقه ټاکل کیږي او که ښځي شاهدان پیدا نه کړل نو بیا د خاوند اعتبار کیږي.

که چیري د ښځي سره یو خادم یا خادمه هم وي او خاوند شتمن وي نو د ښځي د نفقې سره د هغه خادم یا خادمي نفقه به هم پر خاوند واجب وي او که غریب وي نو د هغه خادم یا خادمي نفقه به پر خاوند لازم نه وي.

که قاضي د خاوند د غریبۍ په وجه د ښځي لپاره د غریبۍ نفقه وټاکل او بیا خاوند شتمن سو او ښځي د شتمنۍ د نفقې دعوه وکړه نو د هغې لپاره به د شتمنۍ نفقه ټاکل کیږي.

کومه ښځه چي د خاوند د وفات په عده کي وي هغې ته نفقه نه ورکول کیږي که څه هم حامله وي یا غیر حامله وي، همدارنګه کومه ښځه چي نافرمانه سي یعني د خاوند د اجازې

Maktaba Tul Ishaat.com

څخه پرته يا په يو بل وجه د خاوند د كور څخه ووځي نو د هغې نفقه هم پر خاوند واجب نه ده او كومه ښځه چې د پور يا بل شي د نه ادا كولو په وجه په بندي خانه كې اچول سوې وي يا د خپل پلار ګنی په كور كې داسې ناروغه سي چې د واده څخه وروسته د خاوند كور ته نه وي استول سوې يا يو غصب كونكي تښتولې وي يا هغه دومره كم عمره وي چې د هغې سره جماع نه كيږي يا بېله خاونده حج ته تللې وي نو د هغې د حضر نفقه به پر خاوند باندې واجب وي او د سفر مصرف او د سپرلۍ كرايه وغيره به پر خاوند واجب نه وي كه چيري ښځه په خپل پلار ګنۍ كې ناروغه سي او د نكاح څخه وروسته ناروغه د خاوند كور ته استول سوې وي نو د هغې نفقه به هم پر خاوند باندې واجب نه وي البته كومه ښځه چې د خاوند كور ته د تللو څخه وروسته ناروغه سي نو د هغې نفقه به پر خاوند واجب وي.

خاوند بايد د ښځې لپاره د اوسيدو ځاى د شرعي مقاصدو د لحاظ ساتلو سره د خپل حيثيت او استطاعت سره سم برابر كړي او هغه بايد داسې سراى وي چې د سړي د كورنۍ او د ښځې د كورنۍ څخه خالي وي او كه چيري ښځه د خپل كورنۍ سره اوسيدل غواړي نو بيا داسې سراى وركول واجب نه دي.

كه د خاوند په كور كې څو خوني وي نو يوه خونه ښځې ته په خالي كولو سره هغې ته وركول كافي دي ښځې ته به د دوهمې خونې د غوښتنې حق نه وي.

كه خاوند غواړي چې په كور كې د ښځې سره د هغې قريبان د راتلو څخه منع كړي نو خاوند ته دا حق سته چې هغه منع كړي، مګر كه چيري د ښځې هغه قريبان وي چې هغه محرم وي نو هغوى ښځې ته د راتلو څخه يا د هغې سره د خبرو كولو څخه د منع كولو حق نه سته همدارنګه خاوند ته دا حق هم نه سته چې هغه په مياشت كې يو وار ښځه د خپل مور او پلار كور ته د ورتلو څخه يا د هغې مور او پلار كور ته د راتلو څخه منع كړي (يعني په هفته كې تر يو وار زيات تللو او راتللو څخه يې منع كولاى سي) او د مور او پلار څخه علاوه نورو قريبانو ته په كال كې يو وار د ښځې د تللو څخه د منع كولو حق نه سته يعني په كال كې يو وار څخه زيات پر هغوى پابندي لګولاى سي.

كومه ښځه چې د طلاق په عده كې وي نو هغه د خاوند څخه د نفقې، د اوسيدو لپاره د ځاى د تر لاسه كولو مستحقه ده كه څه هم طلاق رجعي وي يا بائن يا مغلظه وي او كه څه هم ښځه حامله وي يا غير حامله وي همدارنګه كومه ښځه چې د داسې جلاوالي په عده كې وي چې د يو معصيت په وجه نه بلكه د يو شرعي حق په وجه واقع سوى وي نو د هغې نفقه او د

Maktaba Tul Ishaat.com

اوسیدو ځای به هم د خاوند پر ذمه وي مثلا یو ام ولد یا مدبره د یو چا په نکاح کي وي او بیا د خیار عتق په وجه جلاوالی راغلی یا د یوې نابالغي نکاح د هغې یو سرپرست کړې وه او بیا هغې د بالغ کېدو څخه وروسته د خیار بلوغ په وجه د هغه خاوند څخه جلاوالی اختیار کړ نو په دغه صورتو کي هم ښځه د نفقې او د اوسیدو د ځای حقداره ده ، که چیري ښځه د یو داسي جلاوالي په عده کي وي چي د یو معصیت په وجه واقع سوی وي نو د هغې نفقه او د اوسیدو ځای د خاوند پر ذمه نه دی مثلا ښځه (نعوذباالله) مرتده سوه یا هغې د خپل خاوند د زوی سره داسي بد فعل وکړ چي په هغه سره پر خاوند حرامه سوه لکه د هغه سره کورؤالي وکړي یا هغه يې په شهوت سره مس کړی یا مچه يې ځیني واخیستل او د هغه په وجه د ښځي او خاوند په مینځ کي جلاوالی واقع سو او هغه په عده کي کښېنستل نو په دغه صورتو کي به هغه د خاوند څخه د خوراک او اوسیدو د ځای د غوښتلو حقداره نه وي .

که یوې ښځي ته درې طلاقه ورکړل سوي وي او هغه په عده کي کښېنستل مګر بیا د عدې په وخت کي (نعوذباالله) مرتده سوه نو د هغې د نفقې او اوسیدو د ځای حق به ساقط سي او که چیري ښځه د خپل عدې په وخت کي د خاوند د زوی یا د خاوند د پلار سره ناجائز تعلق قائم کړي نو د نفقې او سکنی مستحقه به وي په شرط ددې چي هغه عده د طلاق رجعي نه وي بلکه د طلاق بائن یا طلاق مغلظه وي .

د اولاد د نفقې احکام او مسائل : د نابالغ اولاد (چي د هغوی په ذاتي ملکیت کي هیڅ هم مال او سامان نه وي) مصرف د پلار پر ذمه دي که څه هم پلار غریب او مفلسه وي .

که چیري یو کوچنی تی روي او د هغه مور د هغه د پلار په نکاح کي وي او هغه کوچنی د بلي ښځي تی روي او د هغه مور هغه تی ورکول نه غواړي نو د هغه مور به پر تي ورکولو باندي نه سي مجبوره کېدای مګر که چیري کوچنی د بلي ښځي تی نه روي یا د مور څخه پرته بل تی ورکونکې ښځه نه وي نو په دغه صورت کي به هغه پر تي ورکولو باندي مجبوره کیږي .

که چیري مور د تي ورکولو څخه انکار وکړي او بله تی ورکونکي ښځه وي نو دا حکم دی چي پلار دی تی ورکونکې وتاکي چي کوچني ته تی ورکوي اوس که چیري د هغه کوچني په ذاتي ملکیت کي مال موجود وي نو هغه تی ورکونکي ته به د کوچني مال څخه روپۍ ورکول کیږي او که چیري د کوچني په ذاتي ملکیت کي مال موجود نه وي نو بیا د تي ورکولو مزدوري به د پلار پر ذمه وي .

Maktaba Tul Ishaat.com

که پلار د کوچنی مور د تي ورکولو لپاره په اجاره و ټاکي او هغه دده په نکاح کي وي یا د طلاق رجعي په عده کي وي نو دا جائز نه دي مګر که چیري هغه مور د طلاق بائن یا د طلاق مغلظ په عده کي وي نو بیا د هغې د تي ورکولو پر مزدوري باندي ساتل جائز دي بلکه په دغه صورت کي هغه مور د بلي ښځي په نسبت د زیاتي مزدوري مطالبه دي نه کوي کنه نو دا به د هغې بې عقلي وي.

که یو سړی خپل منکوحه یا معتده ښځه د خپل کوچني لپاره د تي ورکولو په مزدوري و ټاکي چي هغه کوچنی د بلي ښځي څخه وي نو دا اجاره جائز ده.

که د یو چا بالغه غریبه لور وي یا بالغ زوی یې ګوډ او شل وي نو د هغه مصرف هم د پلار پر ذمه دی او فتوا پر دې باندي ده، ځیني حضرات وایي چي د هغوی د مصرف دوې برخې د پلار پر ذمه ده او یوه برخه د مور پر ذمه ده.

د مور او پلار د نفقې احکام او مسائل : اصول یعني پلار، نیکه، ورنیکه او داسي نور که چیري محتاج وي نو د هغوی د مصرف ذمه داري پر اولاد ده په شرط ددې چي اولاد شتمن او مالداره وي، د شتمن او مالدار کېدو مطلب دادی چي هغوی په مالي توګه ددې حیثیت ولري چي هغو ته د صدقې او زکوۃ اخیستل حرام وي که چیري په شتمنو کي لور او زوی دواړه وي نو د هغو د نفقې ذمه داري به پر دواړو باندي په مساوي توګه وي.

د محتاج سړي د نفقې د واجب کېدو په باره کي د قرب او جزئې اعتبار دی نه د ارث مثلاً که د یو محتاج سړي لور او ملسی دواړه شتمن وي نو د هغه نفقه به پر لور واجب وي سره ددې چي د هغه سړي میراث دواړو ته رسیږي همدارنګه که د یو محتاج سړي ملسی او ورور دواړه شتمن وي نو د هغه نفقه به پر ملسي واجب وي که څه هم د هغه سړي د میراث مستحق به یوازي ورور وي.

د ذوي الارحامو د نفقې احکام او مسائل : پر هر شتمن سړي باندي د هر ذي رحم نفقه واجب ده په شرط ددې چي هغه ذي رحم محتاج یا نابالغ وي او یا غریبه ښځه وي یا ګوډ، شل، ړوند او طالب د علم وي یا د جهل او ناپوهي یا بل یو عذر په وجه د ګټي وړ نه وي، که چیري شتمن خلک ددغه کسانو مصرف ونه کړي نو هغه دي پر د هغو پر مصرف مجبور کړل سي، د ذي رحم قریبانو نفقه د میراث د مقدار په اعتبار واجبیږي.

د میراث د مقدار مطلب دادی چي کوم څوک د خپل غریبي په وجه د خپل ذي رحم قریبانو څخه د نفقې تر لاسه کولو مستحق دی که هغه تصور کړل سي او د هغه میراث د هغه په هغه ذي رحم وارثانو کي وویشل سي نو د کوم وارث په برخه کي چي کوم مقدار راسي هغه مقدار به د

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه د نفقې په توګه پر هغه ذي رحم واجب وي ، د مثال په توګه زید یو غریب او مفلس سړی دی د هغه په قریبانو کي یوازي درې خویندي دي یعني یوه حقیقي خور ، یوه میریزی او یوه اخیافي خور ده په دغه درو خویندو باندي د زېد نفقه واجب ده چي هغه درې سره به یې داسي پوره کوي چي د زید پوره نفقه به پر پنځه برخو ویشي او بیا درې پر پنځه برخه به د حقیقي خور پر ذمه وي او یوه پر پنځه برخه به د میریزی خور پر ذمه وي او یو پر پنځه برخه به د اخیافي خور پر ذمه وي ، د مېراث وېش بالکل داسي دی لکه څرنګه چي د زید د ترکې څخه د دغه خویندو د برخو مېراث تقسیم کیږي .

په دې باره کي د مېراث د مقدار په حقیقت کي هر وخت متعین او معلوم کېدل شرط نه دی بلکه محض د وراثت اهل کېدل شرط دي که چیري د زید یو ماما وي او یو د اکا زوی یې وي او هغوی دواړه شتمن وي نو د زید نفقه به د هغه پر ماما واجب وي .

د پلار د ښځي نفقه د هغه پر زوی واجب ده او د مړور نفقه پر خسر واجب ده په شرط د دې چي هغه هلک (یعني زوی) یې نابالغ وي یا ګوډ ، شل او معذور وي .

کوم څوک چي غریب وي پر هغه د چا نفقه واجب نه ده که څه هم د هغه مور او پلار یا ذي رحم قریبان وي مګر د ښځي او اولاد نفقه پر هغه په هر حال کي واجب ده .

د دین او مذهب د اختلاف په صورت کي پر یو بل باندي نفقه واجب نه ده مګر ښځه ، مور او پلار ، نیکه ، انا ، اولاد او د اولاد اولاد که نارینه وي که ښځینه دا خلک د دغه حکم څخه مستثنی دي د دغه کسانو نفقه د دین او مذهب د اختلاف سربېره واجب ده .

د غریب لپاره دا جائز ده چي هغه د خپل نفقې لپاره د خپل زوی مال مصرف کړي مګر د عقار (یعني غیر منقوله شیان لکه مځکي، باغ او داسي نورو) شیانو د خرڅولو اختیار ورته نه سته همدارنګه که چیري پر هغه زوی باندي د پلار د نفقې څخه پرته پور وي نو د هغه لپاره د زوی د منقوله شیانو د خرڅولو اختیار به ورته نه وي او مور ته د خپل زوی د مال د خرڅولو اختیار نه سته او د صاحبینو په نزد پلار ته هم د منقوله شیانو د خرڅولو اختیار نه سته .

د مینزي او غلام د نفقې احکام او مسائل : پر بادار باندي د خپل غلام او مینزي د مصرف پوره کول ضروري دي که هغوی یې په ملکیت کي پوره وي لکه خالص غلام او یا نیم وي لکه مدبر او ام ولد او که څه هم هغه کم عمره وي یا د لوی عمر والا وي .

که یو څوک د خپلو غلامانو د کفالت څخه انکار وکړي نو هغه غلام په دې کي مختار دی چي محنت او مزدوري وکړي او څه چي وګټي د هغه څخه خپل مصرف پوره کړي او که چیري د

Maktaba Tul Ishaat.com

هغوی لپاره د مزدورۍ کار نه وي او هغوی په کټلو سره خپل مصرف نه سي پوره کولای نو بیا د قاضي له خوا بادار مجبور کېدای سي چي هغه غلامان خرڅ کړي.
که یو څوک یو حیوان رانیسي نو پر هغه باندي د حیوان د خوراک او څښاک بندوبست کول واجب دي که چیري هغه د حیوان د خوراک او څښاک څخه انکار وکړي نو هغه به په قانوني توګه سره د هغه حیوان پر خرڅولو مجبوره کیدای نه سي مګر دیانتا او په اخلاقي توګه سره هغه ته حکم ورکول کیدای سي چي هغه حیوان خرڅ کړي یا د هغه د خوراک او څښاک بندوبست وکړي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د ښځي او اولاد نفقه پر خاوند واجب ده

﴿۳۲۰۰﴾: عَنْ عَائِشَةَ قالت أَنَّ هِنْدَ بِنْتَ عُتْبَةَ قَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ أَبَا

د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چي د عتبه لور هنده د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضره سوه او عرض یې وکړ یا رسول الله! (زما خاوند)

سُفْيَانَ رَجُلٌ شَحِيحٌ وَلَيْسَ يُعْطِينِي مَا يَكْفِينِي وَوَلَدِي إِلَّا مَا أَخَذْتُ مِنْهُ

ابو سفیان ډېر بخیل سړی دی ما ته دومره نه راکوي چي زما او زما د زوی د نفقې د اخراجاتو کافي سي که زه د هغه د مال څخه د ضرورت په اندازه یو څه وکاږم

وَهُوَ لَا يَعْلَمُ فَقَالَ خُذِي مَا يَكْفِيكِ وَوَلَدَكِ بِالْمَعْرُوفِ. متفق علیه.

په داسي ډول چي هغه خبر نسي نو اخراجات پوره کیږي؟ (نو ایا دا صورت جائز دی؟) نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: د هغه د مال څخه د ضرورت په اندازه اخله او خپل او د خپل زوی د شرعي حقوقو په اندازه یې خرڅوه. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۹\۵۹۷، رقم: ۵۳۶۴، ومسلم ۳\۱۳۳۸، رقم: ۷-۱۷۱۴.

تشریح: د دغه حدیث څخه معلومه سوه چي د ضرورت په اندازه نفقه واجب ده د ټولو علماؤ پر دې اجماع او اتفاق دی، امام نووي رحمه الله وایي چي د دغه حدیث څخه څو مسئلې ثابتیږي ۱: پر سړي باندي د ښځي او نابالغ اولاد (چي د هغه په ذاتي ملکیت کي مال نه وي) نفقه واجب ده، ۲: نفقه د ضرورت او اړتیا په اندازه واجب ده، ۳: د فتوا ورکولو پر وخت یا د یو شرعي

Maktaba Tul Ishaat.com

حکم د جاري کولو پر وخت د پردۍ ښځي خبري اورېدل جائز دي، ۴: د يو چا په باره کي يو داسي خبره بيانول چي هغه يې واوري نو ناخوښي به محسوس کړي دا جائز دي په شرط ددې چي دا بيانول د يو مسئلې د پوښتلو يا فتوا ورکولو په قصد وي، ۵: که پر يو چا باندي يو مالي مطالبه وي او هغه يې نه ادا کوي نو مطالبې والا ته جائز دي چي د هغه سړي د اجازې څخه پرته د هغه د مال څخه د خپل مطالبې په اندازه مال واخلي، ۶: ښځه هم د خپل خاوند د مال په ذريعه پر خپل اولاد باندي مصرف کولو او د هغوی د کفالت کولو ذمه داره ده، ۷: ښځي ته د خپل ضرورت موافق د کور څخه د باندي وتل جائز دي که څه هم خاوند هغې ته صريحا اجازه ورکړې وي يا ښځي ته د هغه د رضا علم وي، ۸: قاضي ته اختيار دی که هغه په يو معامله کي مناسب وګڼي نو محض د خپل علم او معلوماتو په وجه حکم جاري کړي لکه څرنګه چي ددغه حديث څخه معلومه سوه چي رسول الله ﷺ د بي بي هند څخه شاهد ونه غوښتي بلکه د خپل معلومات په وجه يې حکم ورکړ.

د الله ﷻ ورکړی دولت بايد اول پر خپله کورنۍ مصرف کړل سي

﴿۳۲۰۱﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَعْطَى اللّٰهُ أَحَدَكُمْ خَيْرًا فَلْيَبْدَأْ بِنَفْسِهِ وَأَهْلِ بَيْتِه. رواه مسلم.

د حضرت جابر بن سمره رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي الله ﷻ په تاسو کي يو چا ته مال ورکړ نو هغه ته پکار ده چي اول هغه په خپل ځان خرڅ کړي او په خپل کورنۍ (يعني په ښځي او کوچنيانو). (مسلم).

تخريج: صحيح مسلم ۳\۱۴۵۳، رقم: ۱۰- ۱۸۲۲.

د غلام نفقه پر مالک واجب ده

﴿۳۲۰۲﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْمَمْلُوكِ طَعَامُهُ وَكِسْوَتُهُ وَلَا يُكَلَّفُ مِنَ الْعَمَلِ إِلَّا مَا يُطِيقُ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په مالک باندي د غلام ډوډۍ جامه فرض ده او د غلام څخه دي دومره کار اخلي چي هغه يې توان او طاقت ولري. (مسلم)

Maktaba Tul Ishaat.com

تخریج: صحیح مسلم ۳\ ۱۲۸۴، رقم: ۴۱- ۱۶۶۲.

تشریح: په دغه حدیث کي د غلام په باره کي دوې لاربنوونې دي یو خو دا چي د غلام نفقه د هغه پر مالک واجب ده ځکه مالک باید چي د هغه خپل غلام ته د هغه د اړتیا په اندازه او د خپل ښار د عام رواج مطابق ډوډۍ او جامې ورکړي یعني په هغه ښار کي چي په عامه توګه غلام ته په کومه اندازه او د کوم معیار ډوډۍ او جامې ورکول کیږي د هغه سره سم دي یې هغه ته هم ورکوي، دوهم هدایت دادی چي خپل غلام ته دي د یو داسي کار حکم نه کوي چي هغه یې نه سي کولای او د هغه د توان او طاقت څخه وتلی وي یا د هغه په وجه د هغه بدن ته تاوان رسیږي د دغه هدایت په ذریعه دا احساس ورکړل سوی دی چي انسان د خپل غلام په باره کي دا حقیقت باید په ذهن کي ولري چي څرنګه مالک حقیقي یعني الله تعالی پر خپلو بندګانو باندي د هغوی د طاقت او توان څخه زیات د هیڅ عمل او کار بار نه دی اچولی او هغوی یې د هغه کار پابند کړي دي چي د هغوی د فکر او عمل مطابق وي همدارنګه بندګانو ته هم چي مالک مجازي دي دا پکار دي چي هغوی پر خپل غلام باندي چي د هغوی په ډول انسان دی د هغه د توان او طاقت څخه زیات د کار کولو بار نه واچوي.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه دغه حدیث مرفوع نقل سوی دی چي د غلام په باره کي د مالک لپاره درې شیان ضروري دي ۱: کله چي غلام لمونځ کوي نو هغه ته دي د تلوار کولو حکم نه ورکوي، ۲: کله چي هغه خوراک کوي نو هغه دي د خپل یو کار نه وایي، ۳: هغه ته دي دومره خوراک ورکوي چي د هغه نس په ښه ډول موړ سي.

د غلام سره د ښه چلن حکم

﴿۳۲۰۲﴾: وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِخْوَانُكُمْ

د حضرت ابوذر رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ستاسو غلامان ستاسو

جَعَلَهُمُ اللّٰهُ تَحْتَ أَيْدِيكُمْ فَمَنْ جَعَلَ اللّٰهُ أَخَاهُ تَحْتَ يَدِيهِ فَلْيُطْعِمْهُ مِمَّا

ورونه دي چي الله جل جلاله ستاسو تر لاس لاندي کړي دي کوم سړی چي الله جل جلاله د یوه ورور او خادم مالک کړي نو هغه ته پکار ده چي په خپل غلام باندي هغه څه وخوري کوم چي یې

يَأْكُلُ وَلْيُلْبِسْهُ مِمَّا يَلْبَسُ وَلَا يُكَلِّفُهُ مِنَ الْعَمَلِ مَا يَغْلِبُهُ فَإِنْ كَلَّفَهُ مَا يَغْلِبُهُ

Maktaba Tul Ishaat.com

فَلْيُعِنْهُ عَلَيْهِ . متفق عليه .

مالک خوري او هغه جامه به وراغوندي کومه چي خپله يې اغوندي او د هغه څخه دي دومره کار نه اخلي کوم چي د هغه په توان کي نه وي او که داسي څه کار د هغه څخه اخلي چي د هغه په توان کي نه وي نو په هغه کي دي ورسره خپله کومک وکړي . (بخاري او مسلم)

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۴۶۵، رقم: ۶۰۵۰، ومسلم ۳\۱۲۸۲، رقم: ۳۸- ۱۶۶۱.

تشريح: امام نووي رحمه الله وايي چي د دغه حديث په ذريعه مالک ته دا حکم ورکول دي چي هغه دي خپل غلام ته هغه څه ورکوي کوم چي په خپله يې خوري او هغه دي په اغوندي کوم چي په خپله اغوندي دا د وجوب په توګه نه بلکه د استحباب په توګه دي، پر مالک باندي د هغه غلام د حيثيت سره سم نفقه واجب ده کوم چي په عام رواج کي وي که څه هم هغه د مالک د خوراک او جامو برابر وي يا د هغه څخه کم او زيات وي تر دې که چيري مالک د خپل زهد او تقوا په وجه يا د خپل بخل په وجه په خپل خوراک او جامو کي داسي تنګي کوي چي هغه د خلکو د معيار خلاف وي نو داسي تنګي د غلام په حق کي جائز نه ده .

د حديث د آخري جملې مطلب دادی چي کوم کار د غلام لپاره مشکل وي او د هغه په پوره کولو کي تکليف وي نو د هغه کار په پوره کولو کي د غلام مرسته کوه که په خپله مرسته ورسره وکړي او يا بل څوک د مرستي کولو لپاره وټاکي ، د ځينو بزرګانو په باره کي نقل سوي دي چي هغوی به پر مېچن باندي په اوړه کولو کي د خپلو مينځو مرسته کول په دې توګه چي د هغه مينځو سره به يې په ګډه ميچن کول .

د غلام روزي منع کول ګناه ده

﴿۳۲۰۴﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو جَاءَهُ قَهْرَمَانٌ لَهُ فَقَالَ لَهُ أَعْطَيْتَ

د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي هغه ته قهرمان را غلی نو هغه ځيني پوښتنه وکړه چي ده و خپلو غلامانو ته د خوراک سامان ورکړی دی

الرَّقِيقَ قُوتَهُمْ قَالَ لَا قَالَ فَانْطَلِقْ فَأَعْطِهِمْ فَإِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

هغه عرض وکړ يا هغه ورته وويل بيرته ولاړ سه د هغوی د خوراک سامان فورًا ورکړه دا چي

وَسَلَّمَ قَالَ كَفٰى بِالرَّجلِ إِثْمًا أَنْ يَحْبِسَ عَمَّنْ يَمْلِكُ قُوتَهُ و في رواية كفى

Maktaba Tul Ishaat.com

بالمرء اثما ان یضیع من یقوت . رواه مسلم .

رسول الله ﷺ فرمایلي دی چي د انسان لپاره دا ګناه کافي ده چي د چا روزي د هغه په لاس کي وي چي هغه د هغه روزي ضائع کړي . (مسلم)

تخریج: صحیح مسلم ۲\ ۶۹۲، رقم: ۴۰- ۹۹۶.

د لغاتو حل: قهرمان: ای وکیل، وهو الخازن والوکیل الحافظ لما تحت یده والقائم بامور الرجل.

د خپل خادم او مزدور سره په خوراک کولو کي شرم مه کوئ

﴿۳۲۰۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَنَعَ

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کله چي په تاسو کي یو

لِأَحَدِكُمْ خَادِمُهُ طَعَامَهُ ثُمَّ جَاءَهُ بِهِ وَقَدْ وَلِيَ حَرَّهُ وَدُخَانَهُ فَلْيُقْعِدْهُ مَعَهُ

غلام یو خوراک تیار کړي او مالک ته یې راوړي نو په کومه ګرمي او دود چي هغه خوراک تیار کړې وي نو د هغه غوښتنه داده چي خپل مالک یې د ځانه سره کښېنوي

فَلْيَأْكُلْ فَإِنْ كَانَ الطَّعَامُ مَشْفُوهًا قَلِيلًا فَلْيَضَعْ فِي يَدِهِ مِنْهُ أُكْلَةً أَوْ أُكْلَتَيْنِ .

رواه مسلم .

او د ځان سره یې په وخوري او که خوراک لږ وي او خوړونکي زیات وي نو یو یا دوه نوړئ دي د هغه په لاس کي کښېږدي . (مسلم) .

تخریج: صحیح مسلم ۳\ ۱۲۸۴، رقم: ۴۲- ۱۶۶۳.

د لغاتو حل: مشفوها: ای کثیرا اکلوه. أکلة: اللقمة: (ګوله، مړی).

تشریح: د دغه حدیث شریف خلاصه داده چي یو سړي دي د خپلو خادمانو او مزدورانو سره پر یوه دسترخوان باندي په خوراک کولو کي پیغور نه محسوس کوي ځکه چي خادم او مزدور هم د یو انسان او مسلمان کېدو په حیثیت سره د هغه ورور دی ، او بیا په دې کي دا حکمت دئ چي پر یوه دسترخوان باندي چي څومره زیات خلک یو ځای خوراک کوي نو په هغه کي هغومره برکت وي ، په یوه روایت کي فرمایل سوي دي چي خوراک هغه دی چي په هغه کي زیات لاسونه لوېږي ، دا خبره باید په ذهن کي وي چي په حدیث کي د خادم او مزدور د ځان سره پر

Maktaba Tul Ishaat.com

دسترخوان کښېښنول یا د هغه خوراک څخه د لږیا ډېر ورکولو حکم د استحباب په توګه دی.

غلام ته دوه چنده ثواب

﴿۳۲۰۶﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا نَصَحَ لِسَيِّدِهِ وَأَحْسَنَ عِبَادَةَ اللّٰهِ فَلَهُ أَجْرُهُ مَرَّتَيْنِ. متفق علیه.

د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چي یو غلام په ښه طور سره د خپل مالک خدمت وکړي او د الله جل جلاله عبادت هم په ښه ډول سره کوي نو د هغه لپاره دوه چنده ثواب دی. (بخاري او مسلم)

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۵\۱۷۵، رقم: ۲۵۴۶، ومسلم ۳\۱۲۸۴، رقم: ۴۶- ۱۶۶۷.

تشریح: هغه ته د دوه برابر ثواب تر لاسه کېدو صورت دا وي چي یو ثواب خو د خپل بادار د خدمت په وجه وي او یو ثواب د الله تعالی د عبادت په وجه تر لاسه کیږي، د دې څخه معلومه سوه چي د خپل بادار خیرخواهي یعني د هغه خدمت کول هم عبادت دی بلکه په حقیقت کي هغه هم د الله تعالی عبادت دی ځکه چي د عبادت مطلب دی د الله تعالی د حکم فرمانبرداري کول او د الله تعالی حکم دادی چي د خپل بادار خدمت او خیرخواهي دي وکړل سي ځکه کوم غلام چي د خپل بادار خدمت کوي نو هغه په حقیقت کي د الله تعالی د حکم فرمانبرداري کوي لکه څرنګه چي د مور او پلار خدمت او فرمانبرداري کونکي ته ثواب ورکول کیږي چي هغه د مور او پلار د خدمت او طاعت په ذریعه د الله تعالی د حکم فرمانبرداري کوي، ځیني حضرات د دغه حدیث تاویل دا کوي چي غلام ته د هغه پر هر عمل باندي دوه برابر ثواب ورکول کیږي.

د غلام لپاره غوره خبره څه شي ده؟

﴿۳۲۰۷﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِعِمَّا لِلْمَمْلُوْكِ أَنْ يُتَوَفَّاهُ اللّٰهُ بِحُسْنِ عِبَادَةِ رَبِّهِ وَطَاعَةِ سَيِّدِهِ نِعِمَّا لَهُ. متفق علیه.

د حضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د غلام لپاره تر ټولو څخه بهترینه خبره دا ده چي هغه د الله جل جلاله په عبادت او د خپل مالک په خدمت کي وفات سي. (بخاري او مسلم)

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۵\۱۷۵، رقم: ۲۵۴۹، ومسلم ۳\۱۲۸۵، رقم: ۴۶- ۱۶۶۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

د تښتېدلي غلام لمونځ نه قبلیږي

﴿۳۲۰۸﴾: وَعَنْ جَرِيرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَبَقَ الْعَبْدُ

د حضرت جریر رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چي یو غلام وتښتي نو د

لَمْ تُقْبَلْ لَهُ صَلَاةٌ وفي رواية عنه قَالَ أَيُّمَا عَبْدٍ أَبَقَ فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ الذِّمَّةُ

هغه لمونځ نه قبلیږي او د جریر رضي الله عنه په یو بل روایت کي دا الفاظ دی کوم غلام چي وتښتي نو د هغه څخه د اسلام ذمه داري ختمه سوه

وفي رواية قَالَ أَيُّمَا عَبْدٍ أَبَقَ مِنْ مَوَالِيهِ فَقَدْ كَفَرَ حَتَّى يَرْجِعَ إِلَيْهِمْ . رواه مسلم

او د جریر رضي الله عنه په بل روایت کي دا الفاظ دي کوم غلام چي د خپل مالکانو څخه وتښتي تر څو پوري چي بیرته رانسي هغه کافر سو. (مسلم).

تخریج: صحیح مسلم ۱\۸۳، رقم: ۱۲۴- ۷۰.

تشریح: د هغه څخه د اسلام ذمه داري ختمه سوه: ددې مطلب دادی چي کله غلام په تښتېدو سره دارالحرب ته ولاړ سي او مرتد سي نو د هغه څخه د اسلام ذمه داري ختمه سوه او د هغه د مسلمان په حیثیت سره چي دهغه او د اسلام په مینځ کي کوم عهد او امان وو او د هغه په وجه اسلامي قانون د هغه د سر او مال ضامن وو هغه قطع سو نو د هغه قتل کول جائز سول مګر که چیري هغه د خپلو مالکانو څخه په تښتېدو سره دار الحرب ته نه وي تللی بلکه د مسلمانانو په یو ښار کي وي او مرتد سوی نه وي نو د هغه قتلول جائز نه دي په دغه صورت کي ددغه جملې (د هغه ذمه ختمه سوه) مطلب به دا وي چي د تښتېدو په جرم کي به اسلامي قانون د هغه هیڅ مدافعت نه کوي.

هغه کافر سو: ددې مطلب دادی که چیري هغه تښتېدل حلال وګڼي یعني هغه په دې عقیده سره وتښتېږي چي د مالک څخه تښتېدل څه ګناه نه لري بلکه دا جائز دي نو هغه کافر سو او که چیري هغه تښتېدل حلال ونه ګڼي بیا ددغه جملې مطلب به دا وي چي هغه کفر ته نژدې سو یعني د هغه په کفر کي د داخلېدو بیره ده یا هغه د کافرانو په ډول عمل وکړ یا دا چي هغه د خپل مالک ناشکري وکړه.

پر غلام د زنا تهمت لګولو مسئله

﴿۳۲۰۹﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ قَذَفَ مَمْلُوكَهُ وَهُوَ بَرِيءٌ مِمَّا قَالَ جُلِدَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَّا أَنْ يَكُونَ كَمَا قَالَ. متفق عليه.

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د ابو قاسم ﷺ څخه دا اورېدلي دي ثوک چي په خپل غلام باندي د زنا تهمت ولګوي او غلام د هغه څخه پاک وي نو د قيامت په ورځ به يې مالک په درو ووهل سي که چيري تهمت ويل بې ځايه نه وو نو داسي به نه کيږي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۲\۱۸۵، رقم: ۶۸۵۸، ومسلم ۳\۱۲۸۲.

تشريح: مطلب دا دی که چيري يو سړی پر خپل غلام باندي د زنا تهمت په دروا غو ولګوي نو د هغه په سزا کي که څه هم هغه ته په دنيا کي سزا نه ورکول کيږي مګر په آخرت کي به د ټول مخلوق په مخکي داسي ذليل کړل سي چي په دُرو به ووهل سي ، ددې څخه معلومه سوه چي د غلام د عزت دومره خيال ساتل پکار دي لکه څرنګه چي د يو ازاد سړي د عزت او حرمت خيال ساتل کيږي او هغه خلک ډېر ناپوهان دي چي خپلو مزدورانو او غلامانو ته بې ځايه ښکنځل کوي او د آخرت د عذاب څخه نه بيريږي.

د غلام بېله خطا وهلو کفاره

﴿۳۲۱۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ ضَرَبَ غُلَامًا لَهُ حَدًّا لَمْ يَأْتِهِ أَوْ لَطَمَهُ فَإِنَّ كَفَّارَتَهُ أَنْ يُعْتِقَهُ. رواه مسلم

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي ثوک چي خپل غلام بې ګناه ووهي يا په مخ باندي چکه ورکړي نو د هغه کار کفاره داده چي ازاد يې کړي. (مسلم)

تخريج: صحيح مسلم ۳\۱۲۷۹، رقم: ۳۰-۱۶۵۷.

تشريح: بېله وجه د هر چا په چپلاخه وهل حرام دي مګر دلته په خاصه توګه د غلام ذکر سوی دی چي د هغه پر بې ګناه وهلو باندي په چپلاخه وهلو سره تاوان دادی چي هغه غلام ازاد کړي.

﴿۳۲۱۱﴾: وَعَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ كُنْتُ أَضْرِبُ غُلَامًا لِي فَسَمِعْتُ

د حضرت ابو مسعود انصاري رضی الله عنه څخه روايت دی چي ما خپل غلام وواهه نو ما ترشا دا اواز

مِنْ خَلْفِي صَوْتًا اعْلَمْ أَبَا مَسْعُودٍ لَلّٰهُ أَقْدَرُ عَلَيْكَ مِنْكَ عَلَيْهِ فَالْتَفَتُّ فَإِذَا هُوَ

وا وريدی ابو مسعوده ! اګاه سه ! الله جل جلاله پر تا باندي د دې څخه زيات قدرت لري څومره چي
ته پر دغه غلام باندي قدرت لرې ما چي ترشا وکتل نو

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ هُوَ حُرٌّ لِوَجْهِ اللّٰهِ فَقَالَ

أَمَا لَوْ لَمْ تَفْعَلْ لَلَفَحَتْكَ النَّارُ أَوْ لَمَسَّتْكَ النَّارُ . رواه مسلم .

رسول الله صلی الله علیه وسلم وو ما عرض وکړ يا رسول الله! دی د خداي جل جلاله لپاره ازاد دی نو نبي کريم صلی الله علیه وسلم
راته وفرمايل :که تا دی ازاد کړی نه وای نو د دوږخ اور به ته سوځلی وای . (مسلم) .

تخريج: صحيح مسلم ۳\ ۱۲۸۱، رقم: ۳۵- ۱۶۵۹.

تشريح: د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ارشاد مطلب دا وو چي تا د خپل غلام په وهلو سره يوه لويه ګناه کړې ده ، دا ښه سو چي تا هغه ازاد کړی او د هغه ګناه د بار څخه دي ځان خلاص کړی کنه نو تا هغه ناحقه وهلی دی که ده ستا کوتاهي معاف کړې نه وای نو دده د نه ازادولو په صورت کي به ته په دوږخ کي اچول سوی وای .

امام نووي رحمه الله وايي چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم ددغه ارشاد په ذريعه په اصل کي د خپل مملوک سره د نرمۍ کولو او د هغه سره د حلم معاملې کولو ترغيب ورکړل سوی دی او په دې باره کي مسئله داده چي کوم غلام ووهل سي د هغه ازادول واجب نه دي بلکه مستحب دي او هغه هم په دې اميد چي ازادول په ناحقه د وهلو د ګناه کفاره سي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د اولاد پر ګټه د پلار حق دی

﴿۳۲۱۲﴾: عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى

حضرت عمرو بن شعيب رضی الله عنه د خپل پلاره او هغه د خپل پلاره څخه روايت کوي چي يو سړی د

Maktaba Tul Ishaat.com

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لِي مَالًا وَإِنَّ وَالِدِي يَحْتَاجُ الى مَالِي قَالَ أَنْتَ وَمَالُكَ

نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وکړ زما سره مال دی او زما پلار زما د مال

لِوَالِدِكَ إِنَّ أَوْلَادَكُمْ مِنْ أَطْيَبِ كَسْبِكُمْ كُلُوا مِنْ كَسْبِ أَوْلَادِكُمْ . رواه ابوداؤد وابن ماجة .

محتاجه دی رسول الله ﷺ ورته فرمايل: ته او ستا مال دواړه ستا د پلار دي بېشکه چي ستاسو اولاد ستاسو بهترينه ګټه ده د خپل اولاد ګټه خورئ. (ابو داؤد ابن ماجه).

تخريج: سنن ابي داود ۳\۸۰۱، رقم: ۳۵۳۰، وابن ماجه ۲\۷۶۹، رقم: ۲۲۹۲.

تشريح: ته او ستا مال دواړه ستا د پلار دي: ددې مطلب دادی چي څرنګه پر تا باندي د خپل پلار خدمت او فرمانبرداري واجب ده همدا رنګه پر تا باندي دا هم واجب دي چي خپل مال پر خپل پلار باندي مصرف کړې او د هغه د ژوند اړتياوي پوره کړې او ستا د پلار لپاره دا جائز ده چي هغه ستا په مال کي تصرف وکړي.

دا حديث ددې خبري دليل دی چي د پلار نفقه پر زوی واجب ده، ددغه حديث په ضمن کي دا مسئله هم بيانيږي که د يو چا پلار د زوی د مال څخه يو شی پټ کړي (غلا يې کړي) يا د هغه د مينزي سره جماع وکړي نو پر هغه باندي حد نه جاري کيږي.

ستاسو اولاد ستاسو تر ټولو لويه ګټه ده: ددې مطلب دادی چي انسان د محنت او تکليف کولو سره چي څه ګټي په هغه کي تر ټولو حلاله او غوره ګټه د هغه اولاد دي، اولاد چي څه وګټي هغه د پلار لپاره حلال دي او هغه د پلار په حق کي د خپل ګټي په ډول ده، اولاد ته د پلار ګټه په دې اعتبار ويل سوي دي چي په اصل کي اولاد د پلار په ذريعه او د هغه د تکليف او فعل په نتيجه کي په وجود راځي.

د مربي په حق کي د يتيم د مال حکم

﴿۳۲۱۳﴾: وَعَنْهُ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت عمرو بن شعيب ﷺ د خپل پلار او هغه د خپل پلار څخه روايت کوي يو سړی د نبي

فَقَالَ إِنِّي فَقِيرٌ لَيْسَ لِي شَيْءٌ وَلِي يَتِيمٌ فَقَالَ كُلْ مِنْ مَالِ يَتِيمِكَ غَيْرَ

Maktaba Tul Ishaat.com

کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض یې وکړ یا رسول الله! زه مفلس او فقیر یم زما سره هیڅ هم نسته او زما په ذمه باندي یو یتیم کوچنی دی (ایا زه د هغه د مال څخه یې خورم) نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: د یتیم د مال څخه یې خوره مګر فضول خرڅي مه کوه او مه په

مُسْرِفٍ وَلَا مُبَادِرٍ وَلَا مُتَأَثِّلٍ. رواه بوداؤد والنسائي وابن ماجة.

خرڅولو کي د تلوار څخه کار اخله او مه یې د ځان لپاره مال جمعه کوه. (ابوداؤد نسائي ابن ماجه

تخریج: سنن ابي داود ۳\ ۲۹۲، رقم: ۲۸۷۲، والنسائي ۶\ ۲۵۶، رقم: ۳۶۷۰، وابن ماجه ۲\ ۹۰۷، رقم: ۲۷۱۸.

د لغاتو حل: مُبادر: ای مستعجل. (تلواري) مُتاثل: ای غیر جامع مالا في مال الیتیم.

تشریح: د یتیم کوچني د مال څخه د یتیم روزونکي ته د خپل اړتیاوو پوره کولو اجازه رسول الله ﷺ په درو خبرو سره مشروط کړه اول شرط دا چي د هغه د مال څخه یوازي دومره واخیستل سي چي د ژوند د اړتیاوو په اندازه وي، اسراف او د خپل ضرورت او حاجت څخه زیات مصرف کولو سره د هغه یتیم مال دي نه ضائع کیږي، دوهم شرط دا چي د هغه د مال څخه څه اخیستل کیږي نو هغه دي د ضرورت په وخت کي واخیستل سي د دې بیړي څخه چي کله یتیم بالغ سي نو خپل ټول مال به په خپل قبضه کي واخلي د ضرورت څخه مخکي دي هیڅ شی نه اخلي، دریم شرط دا چي د خپلي اړتیا په نامه د هغه د مال په اخیستلو سره دي د ځان سره نه جمع کوي.

په هر حال د حدیث څخه دا معلومه سوه چي د یتیم د روزونکي لپاره دا جائز دي که چیري هغه غریب وي نو د هغه یتیم د مال څخه دي د خپل ضرورت او اړتیا په اندازه په خپل ځان مصرف کړي مګر کوم مربي چي شتمن وي هغه ته دا جائز نه دي، دا مسئله د قرآن کریم څخه هم ثابته ده.

د غلامانو د حق ادا کولو تاکید

﴿۳۲۱۴﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ يَقُوْلُ فِيْ مَرَضِهِ اَلصَّلَاةَ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ. رواه البیهقي في شعب الإیمان وروى أحمد وأبو داود عن علي نحوه.

د بي بي ام سلمه رضي الله عنها څخه روایت دی چي نبي کریم ﷺ د خپلي ناروغي په حالت کي وفرمایل: د

Maktaba Tul Ishaat.com

لمانځه ډېر زيات خيال ساتئ او د هغو غلامانو او مينځو چې ستاسو په قبضه کې دي. (بيهقي په شعب الايمان کې) خو احمد او ابو داؤد د حضرت علي رضي الله عنه څخه هم په دغه شان نقل کړې دی.

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ٦\ ٣٦٩، رقم: ٨٥٥٣.

تشريح: د لمانځه ډېر زيات خيال ساتئ: ددې مطلب دادی چې پر لمانځه باندې همېشتوب اختيار کړئ هيڅ يو لمونځ بېله يو شرعي عذره مه قضاء کوئ او د لمانځه چې کوم حقوق او اداب دي هغه پوره پوره ادا کوئ.

د مينزي او غلام حق دادی چې د هغوی مالک هغوی ته په ماړه نس خوراک ورکړي د حيثيت سره سم هغوی ته جامې ورکړي د ناحق وهلو او بد رد ويلو څخه پرهېز وکړي، همدارنګه د حيوانانو د حق ادا کولو هم دغه حکم دی چې د کوم چا په ملکيت کې حيوان وي د هغه د خوراک او څښناک بندوبست دې کوي او د هغوی د ناحقه وهلو څخه دې ځان ساتي، علماء کرام وايي چې د قيامت په ورځ به د ذمي او حيوان خصومت د مسلمانانو د خصومت (دښمنۍ) څخه سخت وي.

د غلام سره د بد چلن کونکو وعيد

﴿۳۲۱۵﴾: وَعَنْ أَبِي بَكْر الصديق عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ سَيِّئُ الْمَلَكَةِ. رواه الترمذي وابن ماجة.

د حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: څوک چې د خپلو ماتحت سره بد چلن کوي هغه په جنت کې نه داخلېږي. (ترمذي ابن ماجه)

تخريج: سنن الترمذي ٤\ ٢٩٥، رقم: ١٩٤٦، وابن ماجه ٢\ ١٢١٧، رقم: ٣٦٩١.

د غلام سره ښه چلن کول د خير او برکت باعث دی

﴿۳۲۱۶﴾: وَعَنْ رَّافِعِ بْنِ مَكِيْثٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ حُسْنُ الْمَلَكَةِ يُمْنٌ وَسُوءُ الْخُلُقِ شُومٌ. رواه ابوداؤد و لم ار في غير المصابيح ما زاد عليه فيه من قوله والصدقة تمنع ميتة السوء والبر زيادة في العمر.

د حضرت رافع بن مکيث رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: د غلامانو سره ښه

Maktaba Tul Ishaat.com

چلن او نيكي د خير او بركت باعث ده او د غلامانو سره بد اخلاقي د بې بركتى عامل دى.
(ابوداؤد) او په مصابيح كي د دې حديث سره دا الفاظ هم ليكلي دي چي په بل كتاب كي زما
ترنظرنه دي تير سوى او صدقه كول انسان د بد مرګ څخه ساتي او نيكي كول عمر زياتوي.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۳۶۱، والمصابيح ۲\۴۷۸، رقم: ۲۵۱۴.

تشريح: اكثر داسي كيږي چي كله مالك د خپل غلام سره نيكي او ښه چلن كوي نو هغوى د خپل مالك ډېر تابعدار او خير خواه كيږي او كوم كار چي هغه ته سپاري هغه يې په پوره شوق او ايمانداري سره تر سره كوي او دا شيان د خير او بركت باعث كيږي د دې برعكس كه چيري يو څوک د خپل غلام سره بد چلن كوي نو د هغه په زړه كي د مالک له خوا د بغض او نفرت جذبات پيدا كيږي او آخر هغوى د خپل مالک د سر او مال د هلاكت او تاوان څخه هم منع نه كوي.

د خراب مرګ څخه يا خو ناڅاپه مرګ مراد دى او يا د توحيد او د حق څخه په غفلت سره مړ كېدل مراد دي، ناڅاپه مرګ ځكه خراب مرګ دى چي انسان ناڅاپه د مرګ غېږ ته ولاړ سي نه د حقوق الله او نه د حقوق العباد كي د كوتاهيو د كمۍ پوره كولو موقع تر لاسه كړي او نه د توبه كولو مهلت ور په برخه سي.

د نيكۍ څخه مراد د مخلوق سره ښه چلن او نيكي كول دي او د خالق طاعت او عبادت هم مراد كېداى سي د نيكۍ په وجه د عمر زياتېدل حقيقتا هم ممكن دي په دې توګه چي الله تعالى د يو چا عمر معلق كړي چي د دغه بنده عمر دومره كاله دى مګر كه چيري هغه نيكي كوي يعني د خپل پروردګار طاعت او عبادت او د مخلوق سره ښه چلن او خيرخواهي كي بوخت وي نو د هغه په عمر كي به هغومره كاله زياتوب وسي نو د نيكۍ كولو په صورت كي به د هغه عمر هغومره زيات سي.

دا وضاحت د عمر د زياتوب د حقيقي مفهوم په صورت كي دى او د معنوي مفهوم وضاحت يې دادى چي د نيكۍ په وجه په عمر كي خير او بركت تر لاسه كيږي يا نيكۍ كونكي ته د هغه د مرګ څخه وروسته خلک يې په نيكۍ سره يادوي نو په معنوي توګه سره دا هم د عمر زياتېدل دي.

د روايت په آخر كي د مشكوة مصنف چي كوم اعتراض كړى دى هغه د ميرک رحمة الله عليه د تحقيق سره سم د شيخ جزري رحمة الله عليه پر دغه قول باندي ختميږي چي دغه روايت صاحب مصابيح څرنګه نقل كړى دى بالكل همداسي امام احمد رحمة الله عليه هم روايت كړى دى.

Maktaba Tul Ishaat.com

كه غلام د خداى روى دركړي نو خپل لاس ودروئ

﴿۳۲۱۷﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا ضَرَبَ

د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چي په تاسو كي يو

أَحَدُكُمْ خَادِمَهُ فَذَكَرَ اللّٰهَ فَارْفَعُوا أَيْدِيَكُمْ. رواه الترمذي و البيهقي في شعب الايمان لكن عنده فليمسك بدل فارفعوا ايديكم.

څوک خپل غلام وهي او هغه و تاته خداي تعالي وسيله کړي يا د خداي تعالي په نوم باندي معافي وغواړي نو خپل لاس څيني پورته کړئ او د غلام وهل پرېږدئ .(ترمذي د بيهقي په نيزد)فارفعوا ايديكم پر ځاي : فليمسک راغلي دى .

تخريج: سنن الترمذي ۴\۲۹۷، رقم: ۱۹۵۰، البيهقي في شعب الايمن ۶\۳۷۷، رقم: ۸۵۸۴.

تشريح: علامه طيبي رحمة الله عليه وايي چي د (ته خپل لاس منع کړه) ددې تعلق د هغه صورت سره دى کله چي يو څوک خپل غلام د ادب لپاره وهي او که چيري پر هغه حد جاري کوي يعني د شراب څښنلو يا پريو چا باندي د درواغو تهمت ويلو په سزا کي هغه وهل کيږي نو بيا دي لاس نه منع کوي بلکه حد دي پوره کړي .

کم عمره کوچنى د مور څخه مه بېلوئ

﴿۳۲۱۸﴾: وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ

د حضرت ابو ايوب رضي الله عنه څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ اوريدلي دي څوک چي د مور او

مَنْ فَرَّقَ بَيْنَ وَالِدَةٍ وَوَلَدِهَا فَرَّقَ اللّٰهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَحِبَّتِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه الترمذي والدارمي

زوى په مينځ کي جلاوالي راولي (يعني د مينزي زوى خرڅ يا هبه کړي او د هغې څخه يې جلا کړي)نو الله جل جلاله به د قيامت په ورځ د هغه او د هغه د قريبانو په مينځ کي جلاوالي راولي .(ترمذي دارمي).

تخريج: سنن الترمذي ۳\۵۸۰، رقم: ۱۲۸۳، والدارمي ۲\۲۹۹، رقم: ۲۴۷۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

تشريح: د مور او زوی څخه مراد مينزه او د هغې زوی دی ، همدارنګه د جلاوالي مطلب دادی چي يو څوک يو مينزه خرڅه کړي يا هغه يو چا ته تحفه کړي او کوچنی د ځان سره وساتي يا کوچنی خرڅ کړي يا يې تحفه کړي او د هغه مور د ځان سره وساتي ، که يو څوک مور او زوی د يو بل څخه جلا کړي نو د قيامت په ورځ به هغه په موقف کي چيري چي ټول مخلوق سره د خپلو قريبانو جمع وي او خلک به خپل پروردګار ته د يو بل شفاعت کوي نو الله تعالی به هغه سړی او د هغه قريبان مثلا مور، پلار يا د اولاد وغيره په مينځ کي جلاوالی راولي.

علماء کرام وايي چي په دغه حديث کي يوازي د مور او زوی ذکر محض اتفاقي دی کنه نو هر کم عمره غلام او د هغه ذي رحم قريبان لکه مور، پلار، نيکه، انا، ورور، خور يا داسي نورو په مينځ کي د جلاوالي دا حکم دی، د حنفيه په نزد د دوو وړونو د يو بل څخه جلا کول جائز دي. د ذکر سوي وضاحت څخه دا خبره ثابته سوه چي د کوچني په بندي کولو سره د لوی استثناء وسوه يعني که لوی عمر والا غلام د هغه د مور يا د هغه پلار يا بل قريب څخه جلا کړل سي نو جائز دي اوس سوال دا پيدا کيږي چي د لوی تعريف څه شي دی ؟ نو په دې باره کي د علماؤ اختلافي قولونه دي چي کوم غلام ته د کم عمر والا ويل کيږي د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد اووه کاله يا ته کاله عمر والا ته لوی ويل کيږي حال دا چي د امام ابوحنيفة رحمة الله عليه مذهب دادی چي څوک بالغ سي هغه ته لوی ويل کيږي او د امام ابوحنيفة رحمة الله عليه او امام محمد رحمة الله عليه په نزد کوچنی او د هغه قريب د يو بل څخه په جلا کولو سره خرڅول مکروه دي حال دا چي امام ابويوسف رحمة الله عليه وايي که د هغه دواړو يعني کوچني او د هغه په قريبانو کي د ولادت قرابت وي نو په دغه صورت کي د هغه دواړو په جلا کولو سره خرڅول جائز نه دي او د هغوی قول دا هم دی چي د ولادت د قرابت د استثناء څخه پرته د ټولو قريبانو په باره کي دا حکم دی.

﴿۳۲۱۹﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ وَهَبَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غُلَامَيْنِ

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم و ماته دوه غلامان راکړل چي په خپلو

أَخَوَيْنِ فَبِعْتُ أَحَدَهُمَا فَقَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَلِيُّ مَا

کي وړونه وه ما په هغوی کي يو خرڅ کړ بيا نبي کريم صلی الله عليه وسلم زما څخه پوښتنه وکړه اې علي! ستا

فَعَلَ غُلَامُكَ فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ رُدَّهُ رُدَّهُ. رواه الترمذي وابن ماجة.

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه دويم غلام څه سو؟ نو ما ورته واقعه بيان کړه نو نبي کريم ﷺ راته وفرمايل: اې علي ! هغه بيرته را وله. (ترمذي ابن ماجه).

تخريج: سنن الترمذي ۳\ ۵۸۰، رقم: ۱۲۸۴. وابن ماجه ۲\ ۷۵۵، رقم: ۲۲۴۹.

تشريح: هغه بېرته راوله: مطلب دادی چي تا کومه بيع کړې ده هغه فسخ کړه او هغه غلام ځان ته راوله چي د دواړو په مينځ کي جلاوالی واقع نه سي د دغه جملې په دوه واره ويلو کي دې ته اشاره ده چي کوم حکم درکول سوی دی هغه د وجوب په توګه دی او بيع مکروه تحريمي ده د دغه حديث څخه معلومه سوه چي د يو بل د جلاوالي حکم يوازي د مور او زامنو سره خاص نه دی.

﴿۳۲۲۰﴾: وَعَنْهُ أَنَّهُ فَرَّقَ بَيْنَ جَارِيَةٍ وَّوَلَدِهَا فَنَهَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذٰلِكَ فَرَدَّ الْبَيْعَ. رواه أبو داود منقطعا

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی چي هغه د يوې منيځي او د هغې د کوچني په مينځ کي جلاوالي راوستی يعني په دواړو کي يې يو خرڅ کړ رسول الله ﷺ د دې څخه منعه وکړه نو هغه بيع يې بيرته فسخ کړه. (ابوداؤد).

تخريج: سنن ابي داود ۳\ ۱۴۴، رقم: ۲۶۹۶.

تشريح: ذکر سوي حديثونه د امام ابويوسف رحمه الله عليه د مذهب دليل دی چي کوچنی غلام او د هغه مور يا د هغه پلار د يو بل څخه جلا کول او خرڅول نا جائز دي.

پر غلام باندي د احسان کولو اجر

﴿۳۲۲۱﴾: وَعَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ يسر الله حتفه وَأَدْخَلَهُ جَنَّتَهُ رِفْقٌ بِالضَّعِيفِ وَشَفَقَةٌ عَلَى الْوَالِدَيْنِ وَإِحْسَانٌ إِلَى الْمَمْلُوكِ. رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: که په چا کي دا درې خبري پيدا سوې نو الله جل جلاله به پر هغه باندي مرګ اسانه کړي او هغه به خپل جنت ته داخل کړي (۱): يو د کمزور او نادار سره نرمي کول. (۲): پر مور او پلار باندي شفقت کول. (۳): د غلامانو سره احسان کول. (ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی).

Maktaba Tul Ishaat.com

تخریج: سنن الترمذي ۴\۵٦٦، رقم: ۲۴۹۴.

تشریح: د ضعیف او کمزوري څخه هر هغه څوک مراد دی چې هغه د بدن په اعتبار ضعیف او کمزوری وي یا په مالي حیثیت سره کمزوری وي.

د احسان کولو مطلب دادی چې پر مالک باندي د هغه د غلام څه چې واجب وي تر هغه زیات د هغه سره ښه چلن وکړي.

لمونځ گزار غلام مه وهئ

﴿۳۲۲۲﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهَبَ لِعَلِيٍّ

د حضرت ابو امامه رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ و حضرت علي رضی الله عنه ته یو غلام هبه کړ

غُلَامًا فَقَالَ لَا تَضْرِبْهُ فَإِنِّي نُهِيتُ عَنْ ضَرْبِ أَهْلِ الصَّلَاةِ وَقَدْ رَأَيْتُهُ يُصَلِّي.

چې دی به نه وهې ځکه چې زه د لمونځ کونکي د وهلو څخه منعه سوی یم او ما دا غلام په لمونځ کولو باندي لیدلی دی.

هذا لفظ المصابيح وفي المجتبى للدارقطني أَنَّ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ نَهَانَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ضَرْبِ الْمُصَلِّيْنَ.

(او په مصابیح کي دا الفاظ دي) مگر په مجتبي دار قطني کي د عمر رضی الله عنه څخه نقل سوی دي چې هغه وویل چې نبي کریم ﷺ موږ د لمونځ کونکي د وهلو څخه منعه کړی یو.

تخریج: المصابیح ۲\۴۸۰، رقم: ۲۵۲۰.

تشریح: د لمونځ کونکو د وهلو څخه منع د الله تعالی په نزد د هغوی د شرف او فضیلت په وجه او د مخلوق په مینځ کي د هغوی د عزت او وقار د لحاظ ساتلو په وجه دي.

علامه طیبي رحمه الله دلته دا نکته بیان کړې ده چې کله الله تعالی په دنیا کي د لمونځ کونکو د وهلو څخه منع فرمایلې ده نو د هغه د بې پایه فضل او کرم څخه امید دی چې هغه به په آخرت کي هغوي په عذاب کي په اخته کولو سره ذلیل او خوار نه کړي انشاء الله.

د مملوک د خطاوو معاف کولو حکم

﴿۳۲۲۳﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چي يو سړی د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر

فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ كَمْ نَعْفُو عَنِ الْخَادِمِ فَسكت ثُمَّ أَعَادَ عَلَيْهِ الْكَلَامَ

سو او عرض يې وکړ يا رسول الله! موږ د خپلو غلامانو غلطياني تر کومه اندازې پوري ور

فَصَمَتَ فَلَمَّا كَانَت الثَّالِثَة قَالَ اعْفُوا عَنْهُ فِي كُلِّ يَوْمٍ سَبْعِينَ مَرَّةً. رواه ابوداؤد و رواه الترمذي عن عبد الله بن عمرو.

معاف کړو ؟ په دې اوريدو سره نبي کريم ﷺ خاموشه سو هغه سړی د دويم وار لپاره پوښتنه څيني وکړه مګر نبي کريم ﷺ بيا هم جواب ورنکړ په دريم ور يې پوښتنه وکړه نو نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : د خپل غلام غلطي هره ورځ اويا واره ور معافوه .(ابو داؤد ترمذي)

تخريج: سنن ابي داود ۵\۳۶۲، رقم: ۵۱۶۴.

تشريح: د اوويا واره څخه دا خاص عدد مراد نه دی بلکه د عربو په نزد د يو شي زياتوب او کثرت بيانولو لپاره په عامه توګه د اوويا عدد ذکر کيږي ، د رسول الله ﷺ مقصد هم دا واضح کول دي چي د هغوی خطاوي زيات معاف کړل سي .

د سوال کونکي پر پوښتنه باندي د رسول الله ﷺ پټه خوله کېدل د سوال د نزاکت په وجه وو چي عفو خو مطلقا مستحب او غوره ده نه دا چي د هغه په يو خاص عدد سره مقيد کول او دا هم ممکن ده چي رسول الله ﷺ د وحي په انتظار کي پټه خوله سوی وي .

د مملوک په اړه يو هدايت

﴿۳۲۲۴﴾ : وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَاءَمَكُمْ

د حضرت ابو ذر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ستاسو په غلامانو کي چي

مِنْ مَمْلُوكِيكُمْ فَأَطْعِمُوا مِمَّا تَأْكُلُونَ وَاكْسُوهُ مِمَّا تكسون وَمَنْ لَا يُلَائِمُكُمْ

کوم غلام ستاسو د طبيعت کار کوي نو په هغه باندي هغه څه خوری کوم چي تاسو يې خورئ او هغه کالي ورباندي اغوندئ کوم چي تاسو يې اغوندئ او کوم غلام چي ستاسو د طبيعت کار نه کوي نو هغه ته تکليف مه ورکوئ

مِنْهُمْ فَبِيعُوهُ وَلَا تُعَذِّبُوا خَلْقَ اللّٰهِ . رواه احمد و ابوداؤد.

Maktaba Tul Ishaat.com

بلکه خرڅ يې کړئ د خداي تعالي و مخلوق ته تکليف ورکول صحيح کار نه دی .احمد ابو داؤد

تخريج: الامام احمد في مسنده ١٦٨\٥، وابوداود ٣٥٩\٥، رقم: ٥١٥٧.

د حيوانانو سره د ښه چلن کولو حکم

﴿٣٢٢٥﴾: وَعَنْ سَهْلِ ابْنِ الْحَنْظَلِيَّةِ قَالَ مَرَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت سهل بن حنظليه رضي الله عنه څخه روايت دی رسول الله ﷺ يو اوښ وليدی چي د هغه شا د

بِبَعِيرٍ قَدْ لَحِقَ ظَهْرُهُ بِبَطْنِهِ فَقَالَ اتَّقُوا اللّٰهَ فِي هَذِهِ الْبَهَائِمِ الْمُعْجَمَةِ فَارْكَبُوهَا صَالِحَةً واتركوها صالحة . رواه ابوداؤد .

نس سره مبنتې وه (يعني ډېر وږي او تږي وو کار ورڅخه زيات اخيستل کېدی چي د هغه له وجي زيات کمزوره سوی وو) نبي کريم ﷺ وفرمايل: په دې بې زبانه حيوان باندي رحم کوئ او دخدايه څخه و ببرېږئ په دوی باندي په هغه حالت کي سپرېږئ چي د سپرتيا قابله وي او پرېږدئ يې چي زيات ستړی نه وي . (ابوداؤد) .

تخريج: سنن ابي داود ٤٩\٣، رقم: ٢٥٤٨.

تشريح: په بې زبانه حيوانانو رحم کوئ او د خدايه څخه و بيرېږئ : ددې مطلب دادی چي هغوی پر وينا کولو باندي قادر نه دي چي د خپل لوږي او تندي حال خپل مالک ته بيان کړي ځکه د هغوی د واښو او اوبو په ورکولو کي کوتاهي مه کوئ ، دا ددې خبري دليل دی چي د حيوانانو خوراک او اوبه د هغوی پر مالکانو واجب دي .

پر هغوی باندي په داسي حالت کي سپرتيا مه کوئ : ددغه جملې په ذريعه د خوراک او څښاک د ورکولو ترغيب دی چي د هغوی په خوراک او څښاک کي کوتاهي مه کوئ تر څو هغوی قوي او د سپرتيا وړ سي او کله چي ستړي کېدو ته نژدې سي نو هغوی پرېږدئ کله چي واښه او اوبه وڅښي او طاقت پکښي راسي نو د هغه څخه وروسته پر هغوی سپرتيا کوئ يا بار باندي وړئ ځکه چي په داسي کولو سره حيوانان غټيږي .

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د یتیم د مال په اړه د الله ﷻ قول

﴿۳۲۲۶﴾: عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا نزل قوله تعالى { وَلَا تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی کوم وخت چې الله ﷻ دا فرمان نازل کړ ولاتقربوا مال

إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ }وَ قوله تعالى { إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَى

اليتيم الا بالتي هي احسن (د یتیم و مال ته مه نژدې کیږئ مګر په هغه طریقه سره چې هغه نېکه وي) او د الله ﷻ دا قول : ان الذين.......ظلما : (کوم خلک چې د یتیمانو مال په ظلم سره

ظُلْمًا } الْآيَةَ انْطَلَقَ مَنْ كَانَ عِنْدَهُ يَتِيمٌ فَعَزَلَ طَعَامَهُ مِنْ طَعَامِهِ وَشَرَابَهُ

خوري) نو د کومو خلکو تر نګرانۍ لاندې چې کوم کوچنیان وه هغوی سخت احتیاط شروع کړی د هغوی خوراکي مواد یې د خپلو خوراکي موادو څخه جلا کړه او خپل د څښلو شیان یې

مِنْ شَرَابِهِ فاذا فضل مِنْ طَعَامِ اليتيم وشرابه شي حبس لَهُ حَتَّى يَأْكُلَهُ أَوْ

د هغوی د څښلو د شیانو څخه جلا کړه او کومه خوراکه چې به د یتیمانو څخه پاته سوه نو هغه به یې د دویم وار لپاره په یتیمانو خوړل او یا به یې

يَفْسُدَ فَاشْتَدَّ ذَلِكَ عَلَيْهِمْ فَذَكَرُوا ذَلِكَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

خیرات کړه دا خبره د یتیمانو د سرپرستانو لپاره تکلیف سوه نو هغوی و رسول الله ﷺ ته د دې

فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ {وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْيَتَامَى قُلْ إِصْلَاحٌ لَهُمْ خَيْرٌ وَإِنْ

ذکر وکړ نو په دې معامله الله ﷻ دا حکم نازل کړ: ویسئلونک .....فاخوانکم. (اې محمده! ستا څخه خلک د یتیمانو مسئلې پوښتي د هغوی په اړه ورته ووایه چې د هغوی مال جلا په دیانت سره اېښودل بهتره ده او که تاسو د هغوی مال د خپلو سره یوځای کوئ نو هغوی ستاسو

تُخَالِطُوهُمْ فَإِخْوَانُكُمْ } فَخَلَطُوا طَعَامَهُمْ بِطَعَامِهِمْ وَشَرَابَهُمْ بِشَرَابِهِمْ . رواه ابوداؤد والنسائي .

Maktaba Tul Ishaat.com

وړونه دي د دواړو د مال په يو ځاى کېدو سره که په ديانت سره خرڅ سي نو په دې کي څه حرج نسته.) د دې ايت په نازلېدو خلکو د يتيمانو خوراک چيښاک د خپل خوراک او چيښاک سره يو ځاى کړ. (ابوداؤد نسائي).

تخريج: سنن ابي داود ۳\۲۹۱، رقم: ۲۸۷۱، والنسائي ۲۵۶\۶، رقم: ۳۶۷۱.

تشريح: په حديث شريف کي ذکر سوى دوهم آيت کريمه دادى:

إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَى ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا. سورة النساء

ژباړه: ښېله شکه کوم خلک چي د يتيمانو مال په ظلم سره خوري هغوى په اصل کي په خپل نس کي د دوږخ اور اچوي او هغوى به ډېر ژر په تاوده اور کي داخل سي.

په حديث شريف کي ذکر سوى آخري آيت کريمه داسي دى:

وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْيَتَامَى قُلْ إِصْلَاحٌ لَّهُمْ خَيْرٌ وَإِنْ تُخَالِطُوهُمْ فَإِخْوَانُكُمْ وَاللَّهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَأَعْنَتَكُمْ. سورة البقرة

ژباړه: او پوښتنه کوي ستا څخه د يتيمانو (د جلا کولو) په باره کي نو هغوى ته ووايه چي د هغوى د مصلحت رعايت کول زيات غوره دي که تاسو د هغوى سره مصرف شامل کړئ او هغه کوچنيان ستاسو (ديني) وړونه دي او الله تعالى مصلحت ضائع کونکي او د مصلحت رعايت کونکي جلا جلا پيژني او که الله تعالى غوښتلاى نو د سخت قانون په ټاکلو سره به يې تاسو په مصيبت کي اچولي واست.

د حديث خلاصه داده چي د يتيمانو د مال په باره کي د قرآن کريم د ذکر سوي هدايت سره سم د يتيمانو روزونکو او څارنکو سخت احتياط کول شروع کړل او د يتيمانو مال يې د خپل مال او سامان څخه د جلاکولو په وجه نه يوازي دا چي د ذمه دارو په مشکلاتو کي زياتوب وسو بلکه د يتيمانو د مال تاوان هم شروع سو نو د هغه روزونکو پر وينا الله تعالى دا اجازه ورکړه چي د يتيمانو روزونکي د يتيمانو مال او سامان د خپل مال او سامان سره يو ځاى کولاى سي.

والله يعلم المفسد ...الخ: د دغه آيت کريمه په ذريعه دې ته اشاره ده چي د هغوى مال د خپل مال سره ګډ کړئ مګر په هر حال د هغوى خير خواه او همدرد اوسئ خپل نيت مه خرابوئ د هغوى مال ته په چم سره تاوان مه رسوئ ځکه چي الله تعالى د مصلحت رعايت کونکي او نه رعايت کونکي ډېر ښه پېژني که يو روزونکى په بدنيتۍ او بدخواهۍ سره د يتيم په مال کي تصرف وکړي نو هغه ته به سخته سزا ورکړل سي.

Maktaba Tul Ishaat.com

نقل سوي دي چې د امام محمد رحمة الله عليه يو شاګرد وفات سو نو د هغه د كتابو په پلورلو سره د هغه د كفن او ښخولو بندوبست وكړل سي ، خلكو وويل چې ستا سو شاګرد خو د دې وصيت نه وو كړى نو تاسو داسي ولي وكړل ؟ امام محمد رحمة الله عليه په جواب كي دغه آيت كريمه ووايه : والله يعلم المفسد من المصلح ...الخ .

د پلار او زوى او دوو وړونو په مېنځ كي بېلوالى مه راولئ

﴿۳۲۲۷﴾: وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ لَعَنَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ فَرَّقَ بَيْنَ الْوَالِدِ وَوَلَدِهِ وَبَيْنَ الْأَخِ وَبَيْنَ أَخِيهِ . رواه ابن ماجة والدار قطني .

د ابو موسى رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په هغه سړي باندي لعنت ويلې دى چې د پلار او د زوى په مېنځ كي جلاوالي راولي او يا دوه وړونه سره جلا كوي . (ابن ماجه دار قطنى)

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\۷۵۶، رقم: ۲۲۵۰، والدار قطني ۳\۶۷، رقم: ۲۵۵.

تشريح: د جلاوالي راويستلو څخه مراد په دواړو كي د يو خرڅول يا تحفه كول او يا داسي نور دي په شرط د دې چې يو زوى يا ورور كم عمره وي ، د دې تفصيل د ابويوب رضي الله عنه د روايت په تشريح كي تېر سوى دى ، او يا د جلاوالي مطلب دا هم كېداى سي چې د يوه پلار او زوى يا دوو وړونو په مېنځ كي ناراضګي پيدا كړل سي .

﴿۳۲۲۸﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُتِيَ بِالسَّبْيِ أَعْطَى أَهْلَ الْبَيْتِ جَمِيعًا كَرَاهِيَةَ أَنْ يُفَرِّقَ بَيْنَهُمْ . رواه ابن ماجة

د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دى چې كله رسول الله صلى الله عليه وسلم ته به د يو كور قيديان راوستل سول نو هغوى ټول به يې و يوه سړي ته سپارل د دې لپاره چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم د هغوى په مېنځ كي جلاوالي راوستل بد ګڼل . (ابن ماجه)

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\۷۵۵، رقم: ۲۲۴۸.

بد خلك څوك دي؟

﴿۳۲۲۹﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَلَا أُنَبِّئُكُمْ

Maktaba Tul Ishaat.com

بِشَرَارِكُمْ ؟ اَلَّذِيْ يَأْكُلُ وَحْدَهُ وَيَجْلِدُ عَبْدَهُ وَيَمْنَعُ رِفْدَهُ. رواه رزين

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا زه تاسو د هغو خلكو څخه اګاه كړم چي په تاسو كي ډېر بد دي ؟ دا هغه خلک دي چي په ځان يې خوري او غلامان وهي او چاته خيرات نه وركوي . (رزين) .

تخريج: رواه رزين.

د لغاتو حل: رِفدَه: اى عطيته عن مستحقها. (وركړه)

تشريح: په دغه حديث كي د يو څو د اسي شيانو ذكر سوی دی كوم چي ناخوښه او خراب دي او دغه شيان چي د كومو خلكو عادت وي هغه خلک خراب او ناخوښه وي، د ټولو څخه په جلا كېدو خوراک كول خراب كار دی خلاصه دا چي كوم خلک بد او بخيل دي هغوی خراب دي .

په جامع صغير كي ابن عساكر د حضرت معاويه رضي الله عنه څخه دا روايت نقل كړی دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا زه تاسو ته دا ونه ښيم چي په خلكو كي څوک خراب دي ؟ خراب سړی هغه دی چي خوراک يوازي كوي ، چا ته په بخښني او وركړي سره ګټه نه رسوي ، يوازي سفر كوي او خپل غلام په ناحقه وهي ، او ايا زه تاسو ته دا ونه ښيم چي تر هغه خراب سړی څوک دی ؟ تر هغه خراب سړی هغه دی چي د هغه د شر او فتنې څخه خلک بيرېږي او د هغه څخه د هيڅ خير اميد نه لري، او ايا زه تاسو ته تر هغه هم بد سړی ونه ښيم ؟ تر هغه بد سړی هغه دی چي خپل آخرت د دنيا په عوض كي خرڅ كړي ، او ايا زه تاسو ته دا ونه ښيم چي تر دغه هم زيات خراب سړی څوک دی ؟ تر دغه هم زيات خراب سړی هغه دی چي د دين په ذريعه دنيا ګټي .

غلامان د خپل اولاد او ورور په ډول وساتئ

﴿۳۲۳۰﴾: وَعَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا

د حضرت ابو بكر صديق رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

يَدْخُلُ الْجَنَّةَ سَيِّئُ الْمَلَكَةِ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ أَلَيْسَ أَخْبَرْتَنَا أَنَّ هٰذِهِ الْأُمَّةَ

څوک چي دخپل مملوک(غلام او مينزه) سره بد چلن كوي هغه په جنت كي نه دا خلېږي اصحابو كرامو عرض وكړ يا رسول الله! ايا تاسو و موږ ته نه دي فرمايلي چي ستاسو په دې

أَكْثَرُ الْأُمَمِ مَمْلُوكِينَ وَيَتَامَى قَالَ نَعَمْ فَأَكْرِمُوهُمْ كَكَرَامَةِ أَوْلَادِكُمْ

Maktaba Tul Ishaat.com

امت کي به تر ټولو امتو زيات غلامان او يتيمان وي ؟(ايا د دومره کثرت په حالت کي د هر يوه سره په ښو سره چلن کول ممکن دی؟) نبي کريم ﷺ وفرمايل: هو ! تاسو د هغوی سره داسي چلن کوئ څنګه چي يې د خپلو اولادو سره کوئ

وَأَطْعِمُوهُمْ مِمَّا تَأْكُلُونَ قَالُوا فَمَا تَنْفَعُنَا فِي الدُّنْيَا قَالَ فَرَسٌ تَرْتَبِطُهُ تُقَاتِلُ

په هغوی باندي هغه څه خوروئ څه چي خپله خوروئ اصحابو کرامو عرض وکړ موږ ته په دنيا کي خير رسونکي کوم شی دی؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : هغه آس چي تاسو د ښمن د

عَلَيْهِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَمَمْلُوكٌ يَكْفِيكَ فَإِذَا صَلَّى فَهُوَ أَخُوكَ . رواه ابن ماجة .

جګړې لپاره د ځانو سره تړلی وي او هغه غلام چي تا ته د لمانځه او عبادت لپاره وخت درکړي او ستا کارونه و سر ته رسوي او کله چي ستاسو غلام لمونځ کوي نو هغه ستاسو ورور دی . (ابن ماجه) .

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\ ۱۲۱۷، رقم: ۳۶۹۱.

تشريح: په امت کي به مينځي، غلامان او يتيمان ډېر زيات وي: ددې سبب دادی چي کله جهاد ډېر سي نو کفار به ډېر بنديان کيږي او د جهاد په کثرت سره به مسلمانان هم شهيدان کيږي او کله چي مسلمانان شهيدان کيږي نو د هغوی ماشومان به يتيمان سي .

==========

بَابُ بُلُوْغِ الصَّغِيْرِ وَ حِضَانَتِهِ فِي الصِّغْرِ

(د نابالغه کوچنيانو د بلوغ او په وړکتوب کي د هغوی د روزني بيان)

په دغه باب کي دا بيان کيږي چي د هلک او انجلۍ د بالغ کېدو نښه او حد څه شي دی، او دا چي د کوچني روزنه د چا پر ذمه ده ؟

د بلوغ نښه او حد : د هلک د بالغ کېدو نښه داده چي هغه ته احتلام وسي او په هغه کي د ښځي د حامله کېدو صلاحيت پيدا سي او انزال کيږي، همدارنګه د انجلۍ د بالغ کېدو نښه داده چي هغې ته مياشتنۍ ناروغۍ (حيض) رائحي احتلام ورته کيږي او د هغې حمل کيدای سي، که چيري دا نښي نه وي نو بيا کله چي د هلک او انجلۍ دواړو عمر پنځلس کاله سي نو

Maktaba Tul Ishaat.com

هغوی د بالغ په حکم کي داخل دي، فتوا پر همدغه قول ده ، د هلک د بالغ کېدو کمه وخت دوولس کاله دی او د انجلۍ د بالغ کېدو کم وخت نهه کاله دی.
که هلک او انجلۍ بالغ کېدو ته نژدې وي او هغوی دا ووايي چي موږ بالغ سوي يو نو د هغوی د وارو خبره به صحيح ګڼل کيږي او هغوی دواړه به د بالغ په حکم کي وي.
د کوچني د روزني حق د چا دی ؟ د کوچني د روزني حق تر ټولو زيات پر مور دی که هغه د قائم کېدو په حالت کي وي يا هغې ته طلاق ورکړل سوی وي مګر که چيري مور مرتده يا بدکاره وي نو بيا به د هغې تر ټولو زيات حق نه وي ، که چيري مور د طلاق څخه وروسته د کوچني د روزني څخه انکار وکړي نو صحيح خبره داده چي هغه به نه مجبوره کيږي ځکه کيدای سي چي هغه عاجزه وي، مګر د هغه کوچني ذي رحم قريب چي د مور څخه علاوه نه وي نو د کوچني د ضائع کېدو د ساتني لپاره مور پر روزنه کولو باندي مجبوره کيدای سي ، که چيري مور (د خاوند د وفات يا طلاق څخه وروسته) د هغه کوچني د غير محرم سره واده وکړي نو بيا د هغه کوچني روزنه تر ټولو زيات د هغې حق نه دی او که چيري هغه د يو محرم سره واده وکړي مثلاً د کوچني د اکا سره يې نکاح کړې وي نو په دغه صورت کي د هغه حق نه ساقط کيږي همدارنګه که چيري مور مخکي د يو غير محرم سره نکاح وکړي او د هغه په وجه د هغه حق ساقط سو مګر بيا مور د يو محرم سره واده وکړ نو اوس به هغه ته د روزني تر ټولو زيات حق د مور وي.
که د کوچني مور د روزني حق نه لري په دې وجه چي هغې د غير محرم سره واده کړی وي يا مرتده سوې وي يا مړه سوې وي نو بيا د هغه کوچني د روزني حق تر ټولو زيات د انا (د مور د مور) وي که چيري انا نه وي نو د هغه څخه پورته درجې والا ته به حق وي ، د انا څخه وروسته د روزني تر ټولو زيات حق انا (د پلار مور) ته دی که چيري انا هم نه وي نو د روزني تر ټولو زيات حق به د هغه کوچني حقيقي خور او د هغه څخه وروسته د اخيافي خور او د هغه څخه وروسته به د ميريزي خور وي او که چيري په هغوی کي هم څوک نه وي يا د روزني اهليت نه وي نو بيا د کوچني د روزني تر ټولو زيات حق د کوچني د خاله او د هغه څخه وروسته د کوچني د عمه دی او خورزه به د ورېرې او ورېره به د خاله څخه غوره وي.
د روزني د حق په باره کي چي د کومو قريبانو ذکر سوی دی د هغوی ازاد کېدل شرط دي نو مينزي او ام ولد د روزني هيڅ حق نه سته مګر ذميه د مسلماني په حکم کي ده چي ذميه ته هم د روزني حق حاصل دی په شرط د دې چي د دين د پوهي عمر ته نه وي رسيدلی که چيري داسي هيڅ يو ښځه نه وي چي هغې ته د روزني حق حاصل وي نو بيا د هغه کوچني روزنه به د عصباتو

Maktaba Tul Ishaat.com

حق وي او د هغوی روزنه به پر هغوی وي کوم چي مېراث تر لاسه کوي، مګر انجلۍ به د يو داسي عصبه په روزنه کي نه ورکول کيږي چي هغه غير محرم وي لکه د اکا زوی يا فاسق او بې پروا وي.

د روزني د حق وخت: د روزني د حق وخت نهه کاله يا اووه کاله عمر تاکل سوی دی او په قدوري کي ليکلي دي چي کله چي کوچني يوازي خوراک او څښناک کول شروع کړي، جامې اغوندي او خپله استنجاء کوي نو د روزني حق ختميږي، ددې څخه وروسته د هغه پلار هغه کوچنی په خپل ساتنه کي اخيستلای سي او د انجلۍ په صورت کي مور يا انا تر هغه وخته پوري د روزني حقدار وي تر څو چي هغه انجلۍ ته حيض را نه سي او د امام محمد رحمه الله په نزد د انجلۍ د شهوت وړ کېدو پوري مور او انا ته د روزني حق دی لکه څرنګه چي مور، انا او داسي نورو ښځو د حق په باره کي دا شرط دی چي کله انجلۍ د سړي وړ سي نو هغه د دوی د روزني څخه وځي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د بلوغ عمر پنځلس کاله دی

﴿۳۲۳۱﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ عُرِضْتُ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي زه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وړاندي سوم

عَامَ أُحُدٍ وَأَنَا ابْنُ أَرْبَعَ عَشْرَةَ سَنَةً فَرَدَّنِيْ ثُمَّ عُرِضْتُ عَلَيْهِ عَامَ الْخَنْدَقِ

د احد د غزا په کال کي او زما عمر څوارلس کاله وو. هغوی زه بېرته ولېږم بيا د خندق په غزا

وَأَنَا ابْنُ خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً فَأَجَازَنِيْ فَقَالَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِالْعَزِيْزِ هٰذَا فَرْقٌ مَا بَيْنَ الْمُقَاتَلَةِ وَالذُّرِّيَّةِ. متفق عليه

کي چي عمر مي پنځلس کاله وو د دويم وار وړاندي سوم نو نبي کريم صلی الله علیه وسلم و ماته اجازه را کړه عمر بن عبدالعزيز رحمه الله وايي دا عمر (يعني د پنځلسو کلو عمر) د فوجي خدمت او کوچنيوالي تر مينځ فرق کونکي دی. (بخاري او مسلم).

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\۲۷۶، رقم: ۲۶۶۴، ومسلم ۳\۱۴۹۰، رقم: ۹۱- ۱۸۶۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

تشریح: کله چي حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمة الله علیه دا حدیث واوریدی نو مذکوره جمله یې وویل، ددې څخه د هغه مراد دا وو چي کله هلک د پنځلس کالو عمر ته ورسیږي او کوم چي د پنځلس کالو عمر ته ونه رسیږي هغه به په نابالغو هلکانو کي شمېرل کیږي، ددې څخه معلومه سوه چي د بالغ کېدو عمر پنځلس کاله دی.

د حضرت حمزه د لور روزنه

﴿۳۲۳۲﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ صَالَحَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ

د حضرت براء بن عازب رضي الله عنه څخه روایت دی چي د حدیبې په کال کي نبي کریم صلی الله علیه وسلم په درو خبرو

الْحُدَيْبِيَةِ عَلَى ثَلَاثَةِ أَشْيَاءٍ عَلَى أَنَّ مَنْ أَتَاهُ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ رَدَّهُ إِلَيْهِمْ وَمَنْ

باندي معاهده وکړې وه: (۱): یو خو دا چي په مشرکانو کي کوم سړی نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته راغلی نو هغه بیرته دوی ته واپس کوي.

أَتَاهُمْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ لَمْ يَرُدُّوْهُ وَعَلَى أَنْ يَّدْخُلَهَا مِنْ قَابِلٍ وَّيُقِيْمَ بِهَا ثَلَاثَةَ

(۲): دویم دا چي په مسلمانانو کي کوم سړی و مشرکانو ته ولاړسي نو مشرکان به هغه و مسلمانانو ته نه سپاري. (۳): دریم دا چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم په راتلونکي کال کي چي مکې معظمې ته راسي نو یوازي به تر درو

أَيَّامٍ فَلَمَّا دَخَلَهَا وَمَضَى الْأَجَلُ خَرَجَ فَتَبِعَتْهُ ابْنَةُ حَمْزَةَ تُنَادِيْ يَا عَمِّ يَا

ورځو پوري په مکه کي قیام کوي کله چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم و مکې ته تشریف راوړ نو د درو ورځو وروسته یې د بیرته تلو اراده وکړه نو د حضرت حمزه رضي الله عنه لور په اکا اکا نعرو و هلو په نبي کریم

عَمِّ فَتَنَاوَلَهَا عَلِيٌّ فَأَخَذَ بِيَدِهَا فَاخْتَصَمَ فِيْهَا عَلِيٌّ وَزَيْدٌ وَجَعْفَرٌ قَالَ عَلِيٌّ

صلی الله علیه وسلم پسي راوځغستل حضرت علي زید او حضرت جعفر (رض) په مینځ کي د دې کوچني د روزني پر سر سره جګړې سوې حضرت علي رضي الله عنه وویل

أَنَا أَخَذْتُهَا وَهِيَ بِنْتُ عَمِّيْ وَقَالَ جَعْفَرٌ بِنْتُ عَمِّيْ وَخَالَتُهَا تَحْتِيْ وَقَالَ زَيْدٌ

ما دا کوچنۍ اخیستې دی او بل دا چي دا زما د اکا زوې دی جعفر رضي الله عنه وویل چي دا کوچنۍ زما

Maktaba Tul Ishaat.com

د اکا زوی دی او د دې خاله زما په نکاح کې ده زید ﷺ وویل چې

بِنْتُ أَخِيْ فَقَضٰى بِهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِخَالَتِهَا وَقَالَ اَلْخَالَةُ

دا کوچنۍ زما د ورور لور ده نبي کریم ﷺ د دې جګړې پرېکړه په داسې وکړه چې د حضرت حمزه ﷺ لور يې د هغې و خالې ته وسپارل او ويې فرمایل: خاله

بِمَنْزِلَةِ الْأُمِّ وَقَالَ لِعَلِيٍّ أَنْتَ مِنِّيْ وَأَنَا مِنْكَ وَقَالَ لِجَعْفَرٍ أَشْبَهْتَ خَلْقِيْ وَخُلُقِيْ وَقَالَ لِزَيْدٍ أَنْتَ أَخُوْنَا وَمَوْلَانَا. متفق عليه.

د مور په شان ده او حضرت علي ﷺ ته يې وفرمایل: ته زما څخه يې او زه ستا څخه یم او زید ته يې وفرمایل: ته زموږ ورور يې او زموږ محبوب پالل سوی يې. (بخاري او مسلم).

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷/ ۴۹۹، رقم: ۴۲۵۱، ومسلم ۳/ ۱۴۰۹، رقم: ۹۰- ۱۷۸۳.

تشریح: حدیبیه د مکې څخه پر پنځلس میله فاصله باندې جدې ته د یو ځای نوم دی، په شپږم هجري کال کې رسول الله ﷺ د خپلو صحابه کرامو په ملګرتیا کې د عمرې کولو لپاره د مدینې څخه مکې ته روان سو کله چې حدیبیه ته ورسیدی نو د مکې کفارو هلته وګرځول او مکې ته يې نه پرېښودل او بیا په دغه ځای کې د رسول الله ﷺ او د مکې د کفارو په مینځ کې د یوې معاهدې د درو بنیادي نکتو ذکر په حدیث شریف کې سوی دی، دا د حدیبې صلح ډېره مشهوره واقعه او د دې تفصیلي بیان به په کتاب الجهاد کې راسي.

حضرت حمزه ﷺ د رسول الله ﷺ اکا او رضاعي ورور دی ځکه چې رسول الله ﷺ او حضرت حمزه ﷺ د ابولهب د مینزي ثوبیه تی رودلی دی، ددغه رضاعت په وجه د حضرت حمزه ﷺ لور رسول الله ﷺ ته په اکا وویل.

حضرت جعفر د رسول الله ﷺ د اکا زوی یعني د ابوطالب زوی او د حضرت علي ﷺ ورور وو او په عمر کې د حضرت علي ﷺ څخه لس کاله مشر وو.

حضرت زید ابن ثابت ﷺ یو غلام وو چې رسول الله ﷺ ازاد کړی وو او خپل زوی يې ګرځولی وو، د هغه سره د رسول الله ﷺ ډېره مینه وه رسول الله ﷺ د نورو صحابه کرامو په ډول د حضرت حمزه او حضرت زید رضي الله عنهما په مینځ کې ورورولي قائمه کړې وه ځکه حضرت زید د حضرت حمزه ﷺ لور ته وریره وویل.

Maktaba Tul Ishaat.com

حضرت علي رضي الله عنه چي د حضرت حمزه رضي الله عنه لور مديني ته راوستل نو د هغې د روزني په باره کي د ذکر سوو درو سره حضراتو په مينځ کي تنازعه پيدا سوه ، په هغوی کي هر يوه دا دعوه کول چي ددغه کوچني د روزني تر ټولو زيات حق زما دی او هر سړي دا غوښتل چي دا زما په روزنه کي وي نو رسول الله ﷺ ددغه تنازعې فيصله داسي وفرمايل چي هغه کوچنۍ يې د هغه خاله ته ورکړی چي د حضرت جعفر رضي الله عنه په نکاح کي وه او د هغه درو سره حضراتو د داډ او زړه خوشحاله کولو لپاره يې ذکر سوي الفاظ وفرمايل چي هغوی خفه نه سي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د يو ماشوم د روزني تر ټولو زياته حقداره مور ده

﴿۳۲۲۳﴾: عَنْ عَمْرِو بْنُ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ

حضرت عمرو بن شعيب رضي الله عنه د خپل پلار څخه او هغه بيا د خپل پلار ه څخه روايت کوي چي

امْرَأَةً قَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ ابْنِي هٰذَا كَانَ بَطْنِي لَهُ وِعَاءً وَثَدْيِي لَهُ سِقَاءً

يوې ښځي وويل: يا رسول الله! زما د زوي په موده کي زما نس د ده لوښي وو او زما تيان د ده ژی وو

وَحِجْرِي لَهُ حِوَاءً وَإِنَّ أَبَاهُ طَلَّقَنِي وَأَرَادَ أَنْ يَنْزِعَهُ مِنِّي فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْتِ أَحَقُّ بِهِ مَا لَمْ تَنْكِحِي . رواه احمد وابوداؤد .

او زما غېږه د ده ځانګوه اوس د ده پلار و ماته طلاق راکړی دی او دا کوچنی زما څخه په زور اخيستل غواړي رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : تر څو پوري چي ته بله نکاح و نکړې نو د کوچني د روزني ته زياته حقداره يې .(احمد ابو داؤد) .

تخريج: الامام احمد في مسنده ۱۲\۱۸۲، وابوداود ۱۲\۷۰۷، رقم: ۲۲۷۶.

تشريح: ددغه حديث څخه وروسته چي کوم حديث راځي په هغه کي دا ذکر سوي دي چي رسول الله ﷺ هلک ته اختيار ورکړی وو که چيري هغه غواړي نو د خپل مور سره دي واوسيږي او که غواړي د خپل پلار سره دي سي، همدارنګه د دواړو حديثو په مفهوم کي په ظاهره اختلاف معلوميږي، علامه طيبي رحمه الله وايي چي په دغه حديث کي د کوم هلک ذکر سوی دی کيدای سي چي هغه کم عمره وو او د تميز عمر ته نه وو رسيدلی ځکه رسول الله ﷺ د هغه د

روزني تر ټولو زيات حق مور ته ورکړ ، حال دا چي په راتلونکي حديث کي چي د کوم هلک ذکر سوی دی کيدای سي چي هغه د تميز عمر ته رسيدلی وي ځکه رسول الله ﷺ هغه ته دا حق ورکړ چي هغه د خپل اختيار په وجه د هر يوه سره چي غواړي او سيدلای سي او د هغه سره ولاړ سي ،

تر څو چي ته د چا سره نکاح ونه کړې : په دې باره کي دا حديث مطلق دی مگر علماؤ دا مسئله د غير محرم سره مقيد کړې ده يعني که طلاقه سوې مور يا بل څوک د يو داسي سړي سره واده وکړي چي د هلک غير محرم وي نو هغې ته د هغه کوچني د روزني حق نه رسيږي او که چيرې د يو داسي سړي سره واده وکړي چي د هلک محرم وي لکه د هغه اکا سره نکاح وکړي نو په دغه صورت کي هغې ته د روزني حق سته ځکه چي هغه محرم به د هلک په حق کي يقينا شفيق او مهربان وي .

د روزني وروسته کوچني ته اختيار ورکول

﴿۳۲۳۴﴾ : وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيَّرَ غُلَامًا بَيْنَ أَبِيهِ وَأُمِّهِ . رواه الترمذي.

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ و يوه هلک ته د دې اختيار ورکړ که هغه د مور سره او سيږي او که د پلار سره . (ترمذي)

تخريج: سنن الترمذي ۳\۶۳۸، رقم: ۱۳۵۷.

تشريح: لکه څرنگه چي په مخکني حديث کي ښوول سوي دي چي کيدای سي دغه هلک د تميز عمر ته رسيدلي وي يعني بالغ سوی وي ځکه هغه ته دا اختيار ورکړل سوی دی چي هغه د پلار سره غواړي يا د مور سره او سيدل غواړي ، نو ددې تعلق د حضانة يعني د روزني د مسئلې سره اړه نه لري حال دا چي په اول حديث کي چي د کوم هلک ذکر سوی دی د هغه تعلق د حضانة د مسئلې سره متعلق دی ځکه چي رسول الله ﷺ حضانة يعني د روزني په باره کي مور مقدمه کړل.

د حنفيه حضراتو په نزد دا مسئله ده چي د روزني په وخت کي هلک ته دا اختيار نه سته که هغه غواړي نو د خپل مور سره دي وي او که غواړي د پلار سره دي وي حال دا چي د امام شافعي رحمه الله په نزد هلک ته د روزني په باره کي هم دا اختيار حاصل دی .

﴿۳۲۳۵﴾ : وَعَنْهُ قَالَ جَاءَتْ امْرَأَةٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي يو ښځه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضره سوه

Maktaba Tul Ishaat.com

إِنَّ زَوْجِي يُرِيدُ أَنْ يَذْهَبَ بِابْنِي وَقَدْ سَقَانِي وَنَفَعَنِي فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ

او عرض يې وکړ يا رسول الله! زما خاوند غواړي چي زما زوي بوځي حالانکه هغه اوس د دې قابله دی چي په ما اوبه و څيښي او نفعه راته ورسوي. رسول الله ﷺ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذَا أَبُوكَ وَهَذِهِ أُمُّكَ فَخُذْ بِيَدِ أَيِّهِمَا شِئْتَ فَأَخَذَ بِيَدِ أُمِّهِ فَانْطَلَقَتْ بِهِ. رواه ابوداؤد والنسائي والدارمي.

هلک ته وفرمايل: دا ستا پلار دی او دا ستا مور ده په دوی کي چي ستا کوم يو خوښ وي نو د هغه لاس و نيسه هلک د مور لاس و نيوي او د هغې سره ولاړ. (ابوداؤد نسائي دارمي).

تخريج: سنن ابي داود ۲\۷۰۸، رقم: ۲۲۷۷، والنسائي ۶\۱۸۵، رقم: ۳۴۹۶، والدارمي ۲\۲۲۳، رقم: ۲۲۹۳.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

﴿۳۲۳۶﴾: عَنْ هِلَالِ بْنِ أُسَامَةَ عَنْ أَبِي مَيْمُونَةَ سُلَيْمَانَ مَوْلًى لِأَهْلِ الْمَدِينَةِ

حضرت هلال بن اسامه رضي الله عنه د ميمونې رضي الله عنها څخه روايت کوي کوم وخت چي سليمان د مدينې

قَالَ بَيْنَمَا أَنَا جَالِسٌ مَعَ أَبِي هُرَيْرَةَ جَاءَتْهُ امْرَأَةٌ فَارِسِيَّةٌ مَعَهَا ابْنٌ لَهَا وَقَدْ

حاکم وو او زه د ابو هريره رضي الله عنه سره ناست وم نو هغه ته يوه ښځه راغله چي د فارس (ايران) اوسېدونکې وه او د هغې سره خپل زوی وو

طَلَّقَهَا زَوْجُهَا فَادَّعَيَاهُ فَرَطَنَتْ لَهُ تَقُولُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ زَوْجِي يُرِيدُ أَنْ يَذْهَبَ

د هغې خاوند طلاق ورکړی وو او د ښځي او خاوند تر مينځ جګړه وه ښځي په فارسي باندي و ابوهريره رضي الله عنه ته وويل اې ابو هريره! زما خاوند زما د زوی بېول غواړي

بِابْنِي فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ اسْتَهِمَا عَلَيْهِ رَطَنَ لَهَا بِذَلِكَ فَجَاءَ زَوْجُهَا وَقَالَ مَنْ

ابوهريره رضي الله عنه ورته وفرمايل: تا سو په دې هلک باندي پچه وکړي ابو هريره رضي الله عنه و هغې ته دا الفاظ په فارسي وويل وروسته د هغې خاوند راغلی او هغه وويل

يُحَاقُّنِي فِي ابْنِي فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ اللَّهُمَّ إِنِّي لَا أَقُولُ هَذَا إِلَّا أَنِّي كُنتُ قَاعِدًا

زما د زوي په اړه ثوک زما سره جګړه کوي ابو هريره رضي الله عنه وويل يا الله! زه چي څه وايم د خپله ځانه څخه نه وايم واقعه داده چي يوه ورځ زه

مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَتْهُ امْرَأَةٌ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ

د نبي کريم ﷺ په خدمت کي ناست وم يوه ښځه راغله او هغې وويل يا رسول الله! زما دا

زَوْجِي يُرِيدُ أَنْ يَذْهَبَ بِابْنِي وَقَدْ نَفَعَنِي وَسَقَانِي مِنْ بِئْرِ أَبِي عِنَبَةَ وعند

خاوند زما زوي را څخه په زوره بيايي حالانکه دی و ماته نفعه رسوي او د ابو عتبه د څاه څخه راته اوبه راوړي او د

النسائي مِنْ عَذْبِ الْمَاءِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَهِمَا عَلَيْهِ

نسائي په يو روايت کي دا الفاظ دي چي په ما خوږي اوبه څيښي نو رسول الله ﷺ وفرمايل: چي دواړه ورباندي پچه اچونه وکړئ

فَقَالَ زَوْجُهَا مَنْ يُحَاقُّنِي فِي وَلَدِي فَقَالَ رسول الله ﷺ هَذَا أَبُوكَ وَهَذِهِ

نو خاوند يې وويل چي ثوک سته چي زما په زوي کي دي را سره جګړه و کړي؟ نو رسول الله ﷺ هغه هلک ته و فرمايل: دا ستا پلار دي او دا

أُمُّكَ فَخُذْ بِيَدِ أَيِّهِمَا شِئْتَ فَأَخَذَ بِيَدِ أُمِّهِ. رواه ابوداؤد والنسائي والدارمي

ستا مور ده په دوی کي چي دي کوم يو خوښ وي د هغه لاس و نيسه هلک د مور لاس و نيوي. ابوداؤد، نسائي، دارمي).

تخريج: سنن ابي داود ۲\ ۷۰۸، رقم: ۲۲۷۷، والنسائي ٦\ ۱۸۵، رقم: ۳۴۹٦، والدارمي ۲\ ۲۲۳، رقم: ۲۲۹۳.

د لغاتو حل: فرطنت: كلام لايفهمه الجمهور والمعنى انها تكلمت. استهما: اى اقترعي انت وابوه. يُحاقني: اى من ينازعني: څوک چي زما سره جګړه کوي.

تشريح: حضرت ابوهريره رضي الله عنه د هغې ښځي سره په فارسي ژبه خبري و کړې، ددې څخه معلومه

سوه چي ځينو صحابه کرامو د عجمو سره تعلق درلودی او د هغوی سره د اوسیدو په وجه د هغوی ژبه يې زده کړې وه.

په دغه حديث کي چي د کوم هلک ذکر سوی دی هغه هم بالغ وو او بالغ ته دا حق سته چي هغه د چا سره غواړي د هغه سره اوسيدلای سي ځکه رسول الله ﷺ هغه ته دا حق ورکړ او هغه د مور سره اوسيدل اختيار کړل.

د هلک د بالغ کېدو دليل دادی چي هغه د ښار څخه ليري اوبه راوړلې که چيري هغه نابالغ وای نو نه يوازي دا چي هغه به د خپل کم عمرۍ په وجه د ښار څخه د باندي دومره ليري نه تللای بلکه د هغه مور به هم ددې بيري څخه چي هغه د خپل ناپوهۍ په وجه په څاه کي ونه لوېږي هغه د دومره ليري اوبو راوړلو لپاره نه استولای.

==========

Maktaba Tul Ishaat.com